بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلنَّحْوُ فِي الْكَلَامِ كَالْمِلْحِ فِي الطَّعَامِ

دُرُوْسُ الْكَافِيَه

مع اَلْعُيُوْنُ الصَّافِيَه شرح مُبْنِي الْكَافِيَه

پښتو



افادات

حضرت العلامه مولانا حافظ محمد ابراهیم فانی مد ظله العالی

مدرس دار العلوم حقانیه اکوره ختک

مرتبین مولوی محمد سلیم سواتی

احمد عبيد درويش الحنفي النقشبندي الافغاني الكندهاري مسئول مكتبه ديوبند في الكندهار

مكتبه ديوبند
في الكندهار
تيليكرام چينل

فون نمبر: 0093702260800
واتسف/ واتسب نمبر: 0093702260800
تيليكرام / تيليجرام: 0093702260800

كه غواړى چې په زرهاوو ديني كتابونه لكه تفاسير، احاديث،فقه، نحو، صرف، منطق، عقائد اونور داسى كتابونه متون شرحى په څلورو ژبو لكه: عربي، فارسي، اردو، پښتو ترلاسه كړى نو ددرويش سره پر تيليكرام تماس ونيسى

داحمد کتاب

النحو في الكلام كالملح في الطعام

دُرُوسُ الكافيه

پښتو شرح

كَافِيَه اِبنِ حَاجِب

افادات

حضرت العلامہ مولانا حافظ محمد ابراهیم فانی مدظلہ العالی

مدرس دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک

مرتب : مولوی محمد سلیم سواتی

مكتبة عمرية

....

الاشتهار قابل الاعتبار

زموږ يو کتاب جديد مکتبه رشيديه پشاور زموږ
له اذن پرته چاپ کړی د فتوح الشام په نامه، نو موږ د
معاقبة بالمثل په اساس د دوی دوه کتابونه چاپ
کړل که دوی تجاوز بند کړ نو موږ به يې هم بند کړو
او که يې وغځاوه نو موږ به يې هم وغځوو..

د يادولو ده چې:

د فلان او فلان نامه ته نه بلکې خپرندويې اداري
ته مسؤليت راجع دی.

....

رائے گرامی

دَ شیخ طریقت اَوْ شریعت جامع المنقول والمعقول مفتی اعظم وشیخ الحدیث دارالعلوم حقانیه اکوړه ختک، حضرت العلامه مولانا مفتی محمّد فرید صاحب، نقشبندی مدظله العالی۔

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

الحمد لله وسلام علی عباده الذین اصطفٰی، امّا بعد۔

پس دا تقریر دَ کافیے په پښتو کښے، چه تالیف دَ مولانا محمّد ابراهیم فانی "ما یوخو ځایه اوکاته۔ ښه اَوْ نوی خبرے ئے په کښے جمع کړی دی۔ اَللّٰه تعالیٰ دِ دا تقریر قبول کړی اَوْ فائده مند دِ اوګرځوی۔ آمین۔

محمّد فرید عفی عنهٗ

۲۷، شوال ۱۴۱۵ھ

تقریظ

د شیخ الحدیث حضرت علامه مولانا سمیع الحق صاحب مدظله العالی مهتمم دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک، مدیر اعلی میاشتنۍ "الحق" او اهم او معزز غړے د پاکستان د سنیټ۔

الحمد لحضرة الجلالة والصلوٰة والسلام علی خاتم الرسالة۔

اما بعد! علم نحو په علوم آلیه کښے یو اهم او عظیم الشان علم دے، چه عموماً اساتذه یئے خپلو شاګردانو ته د علم نحو څو کتاب په ابتداء کښے ذکر کوی، د غه شان کافیه ابن حاجبؒ د علم نحو مشهور او مغلق ترین متن دے۔ د دے د اهمیت اندازه د دے خبرے نه لګیدلے شی، چه د زمانو راهیسے دا کتاب په درس نظامی کښے شامل راروان دے او په هر دور کښے د علم نحو ماهرانو استاذانو د دے شروح لیکلی دی، جامعه دارالعلوم حقانیه چه د ټولے جنوبی ایشیا یو عظیمه علمی اداره ده او خپل منضبط علمی او جهادی کردار له کبله په شرق او غرب کښے مشهوره ده۔ دا کتاب په دغه اداره کښے شامل نصاب دے او مستفیدین دا کتاب ډیر په شوق سره او ذوق سره وائی۔

د نحو خو کالو راهیسے کافیه ابن حاجبؒ ګران قدر فاضل مولانا حافظ محمد ابراهیم فانی تدریس ده۔ دوئ ډیر په محنت سره او مشقت سره دا کتاب درسوی په دغه وجه باندے اکثر شاګردانو د دوئ درسی افادات په احاطه د تحریر کښے راوستل او دوئ په خپله هم د ځان سره خاص خاص نکات لیکل، چنانچه د دوئ شاګرد مولوی محمد سلیم سواتی هغه هم په باقاعده ګئ سره دا درسونه روزانه لیکل، چه کله پوره شول، بیا یئے خپل استاذ فانی صاحب ته دا خواست اوکړو چه، دا افادات چاپ کول غواړی، ځکه چه د دے افاداتو فوټو سټیټونه په ډیر زیات تعداد کښے خرڅیږی، نو که چرته دے له کتابی شکل ورکړے شی، نو د دے افاده به عامه شی۔ بیا فانی صاحب هغوئ ته خپل لیکلی شوی نکات ورکړل، بیا مولوی محمد سلیم سواتی هغه نکات خپل لیکلی شوی درسونه او درسونو ته د نورو طالبانو چه د فانی صاحب درسونه

اېښې دی، هغه نقل یې راغونډ کړل او هغه له یې ترتیب ورکړو، دغه شان یو عظیم الشان شرح یې د طالبانو د پاره تیاره کړه، په دې لوې او دروند کار باندې زه خپل کړلن او قابل احترام فاضل او شاګرد ته د زړه د اخلاصه مبارکبادی ورکوم، زه د دې شرح په اړه د پوره یقین خوشحاله شوم، ځکه چې په ځائے ځائے دې مطالعه لوکړه، د خپلو ذکار رنګو او مختلف النحو مصروفیاتو له کبله ما د دې شرحې تفصیلی مطالعه اونه کړے شوه خو چې سرسری نظر مې ورباندې واچولو نو ډېر خوښه شوم او د دې خصوصیات او مزایا مې هم د دې شرحې معلوم کړل چې هغه په دا ډول دی:-

۱. دا شرح د پښتو ژبې په آسانه لهجه کښې ده، چې هر هغه طالب علم چې په پښتو ژبه قدرت لري، هغه ورباندې پوهېږي، څونکه دلته په دار العلوم حقانیه کښې زیات تعداد د پښتنو طالب علمانو دے - په دې وجه د نانئ صاحب دا درسونه په پښتو ژبه منضبط کړے شول -

۲. په دې شرح کښې د کافیې د متن لوې عبارت دا سے ترجمه کړے شوې ده، چې هغه د متن په ټولو محتویاتو باندې حاوي دی او په هغه ترجمه سره د تمام هغو اعتراضاتو جواب موندلے شي، کوم چې په هغه متعلقه مسئله باندې وارد دي -

۳. د موقع او د مقام په مناسبت سره نانئ صاحب د خپل مزاج مطابق د مسئلې د وضاحت د پاره بهترین اشعار هم راوړي دی او د طالبانو د تنشیط د لګهالو د پاره یې په کښې خوندور لطیفې هم ذکر کړي دی، لو ګویا دا کتاب د کافیې د شرح سره سره د خوږو اشعارو او لطائفو و ظرائفو یو مزیدار ګلدسته هم ده -

۴. په دې شرح کښې نانئ صاحب بعض دا سې ضوابط هم ذکر کړي دي، چې په هغې سره مغلق مقامات لوی ګرانې مسئلې حل کیږي، لکه ضابطه د عدل شوه او دغه شان بعض نورې ضابطې، او په بعض مقاماتو کښې یې توجیهات د حصر هم په منطقي انداز سره ذکر کړي دی او دغه شان د بعضو مسائلو اقسام یې د نقشو په مدد سره ښکاره کړي دی -

دا ټولو هغه خصوصیات او مزایا دی، چې ما په سرسري نظر سره معلوم کړل، د دې نه علاوه دا شرح په ډېرو فوائدو مشتمله ده، چې هغه پس د تفصیلی مطالعه نه معلومېږي -

په آخر کښې زه د خپل شاګرد عزیز المرتبت زیرک او قابل فاضل مولانا محمد ابراهیم نانئ صاحب زید علمه وعم نفعه د پاره دعا کوم، چې الله د دوئ علمي صلاحیتونه نور هم په ترقی کړي، او د دوئ علمي مستقبل دې د دې نه هم زیات روښانه کړي - آمین.

(حضرت مولانا) سمیع الحق (مدظلهٔ)

۲۷ رشوال المکرم ۱۴۱۵ھ

دار العلوم حقانیه، اکوړه خټک

تأثرات

شیخ التفسیر والحدیث حضرت العلامه مولانا قاضی
فضل الله جان صاحب مدظله، مهتمم جامعة الامام
ولی الله الدهلوی او ممبر د قامی اسمبلی پاکستان۔

محترم جناب مولانا محمد ابراهیم فانی د استاذ مکرم رئیس المتکلمین استاذ الحدیث والتفسیر حضرت الشیخ مولانا عبدالحلیم صاحب نور الله مرقده خلف الرشید او په خپله هم یو صاحب طرز ادیب منبه لیکوال باذوقه شاعر تجربه کار مدرس او جید عالم دے، په حوالی کښې یې څو علمی و ادبی شاهکارونه منظر عام ته راغلی دی۔

حاضر کتاب د علم نحو مشهور کتاب کافیه ابن حاجب باندې د مولانا محمد ابراهیم فانی تقریبی او د امالی مجموعه ده۔ د مدرس په کتاب تقریر فی الحقیقة د طویلې مطالعې او د تحقیق نچوړ وی، چه د مقام اکثر متعلقات یې په کښې بحث کړی وی، چونکه حضرت مولانا صاحب د بېنښې ذوق مالک دے، لهذا په خپل هر درس او کتاب کښې د بے ځایه او تطویل نه او د نقصانی او مخل ایجاز او اختصار او اختصار نه ځان بچ ساتی۔ حاضر کتاب کښې هم د چاشنی یقیناً ظاهره ده۔

موجوده اېهتی دور په هر مېدان کښې د طویلو قاعدو او مباحثو په ځائے د نېغ په نېغه زده کړے دور دے، چه ورته طریقه بلا واسطه (Direct Method) ولے څو دغه طریقه سره علمی استحکام نه پیدا کیږی او یو فرد چه په کوم مېدان کښې وی، باید چه هغه مېدان یو تحقیقی فرد جوړ شی او د صلاحیت فن ته په مکمل ځان وقف کولو پیدا کیږی۔

مولانا محمد ابراهیم فانی کله هم د شوق نه دے کښے چه د تدریس د پاره یې ورته ستر کتابونه حواله شی خو چه کوم ورته ورکړے شی، مکمل انهماک سره د هغې تدریس شروع کړی او د خصوصیت خالص د الله په مهربانئ کیږی، ځکه چه نن زمانه کښې توله د علو غلو او د تعلی په سېلاب لاهو ده۔

دَ اَللّٰه په دربار کښې لاس په دُعا یم چې اَللّٰه تعالیٰ دِ دَ حضرت مولانا صاحب په عِلم اَو عمل کښې مزیدې ترقئ نصیب کړی اَوْ دَ هغوئ به په دې کتاب اَوْ نورو کتابونو دَ اَللّٰه اُمّت ته اَوْ خصوصاً طالبانو ته ډیرې فائدې ورکوی، زمونږ اَوْ دَ هغوئ لوئې ستړې دِ دَ خپلې رضا ذریعې اوګرځوی. آمین.

قَاضِی فضلُ اللّٰه
جامعة الامام ولی اللّٰه الدهلوی
لاهور . صوابی
۲۶ مارچ ۱۹۹۵ء، دَ اِتوار ورځ

تأثرات

دَ شیخ القرآن الدکتور السید مولانا
شیر علی شاه المدنی دامت برکاتهم (الدکتوراه
بمرتبة الشرف الاولی من الجامعة الاسلامیة
بالمدینة المنورة وشیخ الحدیث بجامعة منبع العلم
میران شاه، وزیرستان، پاکستان وسابق استاذ
تفسیر وحدیث دارالعلوم حقانیه، اکوړه خټک، نوښهره.

الحمد لله وکفیٰ وسلامٌ علیٰ عباده الذین اصطفیٰ ، اَمّا بعد ۔

عزیزم مولوی محمّد سلیم سواتی صاحب (سلمه الله تعالیٰ) قابلِ صد تحسین وآفرین دے چه هغه دَ یو ممتاز ماهر اُستاذ محترم حضرت مولانا محمّد ابراهیم صاحب فانی (بارک الله فی حیاته العالیة) دَ "کافیې" دَ درس په موقعه دَ تعلیقاتو ملفوظے په دائیے کمال طریقه منضبط کړلے چه دَ درس نورو ملګرو به دَ دۀ نوشتونه نقل کړلے، یا به یے دَ هغه نه تصویرونه لګول ،دَ ډیرو ملګرو مسلسل اِصرار دا وو چه، دا نادر تعلیقات او جوهری ارشادات چاپ شی چه دَ کافیې دَ شائقانو له پاره یو قیمتی مشعلِ راه او عِلمی سرمایه وی ۔

محترم مولوی محمّد سلیم سواتی صاحب دَ ملګرو په اِصرار دا خپل قلمی تحریرات خپل مشفق اُستاذ ته دَ مناسب ترمیم وتکمیل دَ پاره وړاندې کړل، محترم فانی صاحب دامت برکاتهم دَ خپل ذهین وفطین، محنتی شاګرد دَ عِلمی قابلیّت قدر شناسی او تشجیع اوکړه او په خپلو درسی تقاریرو یے نظرِ ثانی اوکړه ،ما دَ دے تقریراتو یو څو پاڼے مطالعه کړے، دَ هغے په رڼا کښے زما دا تأثر دے، چه بے شکه دَ محترم محمّد سلیم سواتی صاحب دا مخلصانه عِلمی جد وجهد نه یواځے دَ عِلمِ نحو په سلسله کښے دَ یو عِلمی بیش کش اِضافه ده ،بلکه دَ خپل دروند مشفق اُستاذ دَ پاره یو لویه صدقه جاریه ده او دَ قرآن پاک او دَ مبارکو حدیثونو دَ تعلیماتو په لړ کښے یو عظیم خدمت دے، ځکه چه دَ عِلمِ نحو ایجاد هم دَ دغے غرض دَ پاره دے، چه دَ قرآن پاک دَ تلاوت په وخت

د نقد پہ پورہ خیال اوساتلے شی۔

حضرت حسن بصری رحمۃ اللہ علیہ بہ فرماتیل چہ:۔

تَعَلَّمُوْا وَتُعَلِّمُوْا اللّٰہَ!

اَلْعِلْمَ لِلْاَدْیَانِ،

وَالطِّبَّ لِلْاَبْدَانِ،

وَالنَّحْوَ لِتَقْوِیْمِ اللِّسَانِ۔

یقیناً د قرآن پاک اَوْ د مبارکو حدیثونو د رده کولو د پارہ د دیرو علومونه دہ کول ضروری دی، لیکن پہ ټولو کښې د علم نحو زده کول ډیر ضروری دی۔

حسن بصری بہ ویل، من لحن فی القرآن فقد کذب علی اللّٰہ لأن اللّٰہ سبحانہ وتعالی قال: (لا یأتیہ الباطل من بین یدیہ ولا من خلفہ تنزیل من حکیم حمید) واللحن اکبر من الباطل۔

اللّٰہ تعالیٰ د دے تالیف تہ قبولیت نصیبہ کړی اَوْ د شاګرد اَوْ اُستاذ د پارہ د باقیات الصالحات لوکوځی اَوْ د طالبانو د پارہ د علمی استعداد د ازدیاد باعث اوګرځی۔

وَلِلّٰہِ الحمد اولاً وآخراً وھو المستعان وعلیہ التکلان وصلی اللّٰہ تعالیٰ علی اشرف رسلہ وخاتم انبیائہ وعلی آلہ واصحابہ اجمعین الطیبین الطاھرین۔

———— ※ ————

سید شیر علی شاہ المدنی

خادم الحدیث واھلہ بجامعۃ منبع العلوم

میران شاہ، وزیرستان[1]

---

[1] حالاً شیخ الحدیث۔ دار العلوم حقانیہ اکوړہ خټک۔

تأثرات

د حضرت مولانا حافظ محمد انوار الحق صاحب
ایم اے ابن استاذ العلماء شیخ الحدیث حضرت مولانا عبد الحق قدس
سرهٔ بانی دار العلوم حقانیه اکوړه خټک استاذ حدیث او نائب مهتمم دار العلوم
حقانیه اکوړه خټک، نوښهره۔

نن ورځو دا بهتره ده چه د دار العلوم حقانیه د جید او قابل مدرس برادر مکرم مولانا محمد ابراهیم فانی د دروسو د کافیې چه صفوی د کافیې د درسونو په دوران کښې ورکړی دی، د هغې مجموعه ده، چه ورته یې په شوق د درس کښې یو هوښیار او عقل مند طالب علم مولوی محمد سلیم سواتی په دوران د درس کښې ډېره محنت سره تحریر کړل او اوس دا درسونه د افادهٔ عام د پاره پیش کیږی۔

مولانا محمد ابراهیم فانی د دار العلوم حقانیه د سابق صدر المدرسین د محقق وقت حضرت مولانا عبد العلیم صاحب نور الله مرقده د فرزند نه علاوه په خپله هم د بے پناه خوبیانو او د صلاحیتونو مالک دے۔ د ډېرے زمانے راهسې په دار العلوم حقانیه کښې د اهمو کتابونو د تدریس سره بهترین ادیب، شاعر لیکونکے هم دے او ورته د تصنیف او د تالیف ملکه هم حاصله ده، د تدریس د اوږدے سلسلے سبب نه په دلیل مسلسل سبقونه په اطمینان بخش طریقه سره لولوی او د طالب علمانو په تشفی لولو کښې ماهر دے۔

د نحو معرکة الآراء او جامع مانع کتاب د کافیې شروح او تعلیقات په بے شمیره تعداد کښې لیکلی شوی دی۔ د کافیې د متن د هرے شرحے سره د علم نحو د دے اهم کتاب نوی نوی نکتے ښکاره شوی دی او د هغه شان د هرے شرحے د اهمیت او افادیت نه انکار ناممکن شی۔ د علامه ابن حاجب د محققانه او په لامتناهی اسرارو او نکات باندې مبنی تصنیف د کافیې چه څومره هم تشریحات او توضیحات اوکړے شی، بیا هم د دے مصرعے مصداق به وی، چه:-

حق تو یہ ہے کہ حق ادا نہ ہوا

دے کافیے کتاب تہ اللہ تعالیٰ داشان قبولیت ورکړے دے، چہ پہ عالم اسلام کښے اکثر د عربۍ شعبہ زده کوونکی د دے کتاب نہ صرف نظر نہ شی کولے، بلکہ پہ برصغیر پاک او هند کښے تقریباً پہ ټولو دینی مدارسو کښے د دے درس او تدریس تہ خاص توجہ ورکولے شی او بیا صوبہ سرحد کښے پښتانہ طالب علمان د دې پہ زمانے نہ خوشحالہ دا کتاب مسلسل والی او مکمل متن سرہ د دے شروح هم ضبط کوی۔ د پښتنو طالب علمانو د ذوق او شوق د خاطره د حافظ محمد ابراهیم فانی صاحب "د دروس" مجموعہ بہ بهره ناکہ مند ثابتہ شی۔ ماتہ د څو صفحاتو د مطالعے نہ معلومہ شوه، چہ دوئ د نحوی مسائل یئے انتهائی عام فهم سلیس او د هر ذهن د طالب علم د پاره د مفید کیدلو پہ انداز کښے د اهم اعتراضاتو او جوابونو سره بیان کړی دی، چہ د هغے نہ د کافیے طالب علمان او استاذان دواړه طبقے استفاده کولے شی۔

زه د عا کوم چہ رب ذوالمنن دِ د کران ورور مولانا محمد ابراهیم فانی صاحب دا علمی کاوشونہ د قبولیت سره همکنار کړی او شائقین د علوم دینیہ تہ دِ د دے تالیف نہ کماحقہٗ فائده ورکړی۔

حافظ محمد انوار الحق عفی عنہٗ

خادم دار العلوم حقانیہ

اکوړه خټک۔

څو خبرې!

الحمد لله رب العالمين والصلوٰة والسلام على رسوله محمد وآله واصحابه اجمعين ومن تبعهم الى يوم الدين۔

نه گلم نه برگ سبزم نه درخت سایه دارم
متحیرم که دهقان بچه کار کشت مارا

ګرانو او مینه ناکو لوستونکو! دا موجوده د پښتو د کافیې شرح چه ستاسو په لاس کښې ده، دا زما د هغه درسونو مجموعه ده، کوم چه زما شاګرد "مولوی محمد سلیم سواتی" د کافیې د درس په دوران کښې لیکلی دی، د هغوئ دا خواهش وو چه دا چاپ شی او زما نه یې هم څه تعلیقات او غوښتل، ولې زما زړهٔ نهٔ وو چه، دا دې چاپ شی، ځکه چه په دې کښې څهٔ نوې خبره نشته، خو د هغوئ د اصرار په ځکښې او هغه شان د نورو دوستانو د بار بار وینا په وجه زما انکار د شکر بدل ثابت شو، لوغاړه م ورته کېښوده، خو ما ته معلومه وه چه وخت ملاو نهٔ شو چه ما ورباندې پوره نظر اچولے وے، په دې وجه که چرته څهٔ غلطی وغیره وی، د هغې بخښنه غواړم۔

په آخر کښې د خپلې کم علمۍ او کم فهمۍ د اعتراف او ضمن سره سره د قارئینو او کتونکو نه د دعا خواستګار یم۔

طلب کوونکے د دعا
خادم العلم والعلماء العبد الجانی
محمد ابراهیم فانی
(رحالانړوالي)
مدرس دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک نوښهره
۱۲ اپریل ۱۹۹۵ء

بسم الله الرحمن الرحیم

فهرست

سریزه

اَلحمدُ لِلّٰہِ رَبِّ العٰلمین، وَالصَّلوٰۃ وَ السّلام علٰی سیّد الانبیاء وَالمُرسلین وَعلٰی آلہٖ وَ اَصحابہٖ الطیّبین الطاهرین من یومنا هذا الیٰ یوم الدِّین !

پس دَ حمد و ثنا نه بنده محمّد سلیم ابن فیض الرحمٰن سواتی دَ دے شرحے دَ لوستونکو په خدمت کښے عرض گزار دے، چه دَ لیکتین بنده اَؤ دَ یو طالب العلم دَ لاسونه په مادی دور کښے دَ کافیے په شان مغلق اَؤ دَ سخت کتاب دَ شرحے دَ ترتیب، دَ ضبط اَؤ دَ تصحیح غوندے عظیم کار وجود ته راتلل دا محض دَ الله تعالیٰ فضل و کرم دے، "این سعادت بزور بازو نیست" نه دے شکر گزار یم، ولے چه دَ حضرت الاستاذ نور هم ډیر لائق شاګردان وو، لیکن دَ هغوی دَ دومره اِعتماد وو، چه زما غوندے دَ یو کم علمه بنده اِنتخاب یے اوکړو، شاعر صحیح ویلی دی :-

؎ داد اورا قابلیت شرط نیست بلکه شرط قابلیت داد اوست

بیا خاص کر په تمامو فنونو کښے دَ علم النحو اَهمیت لوټلو طلبو ته معلوم دے، چه په عجم کښے قرآن کریم اَؤ دَ احادیثو په مطلب اَؤ مقصد ځان پوهه کول دَ پاره دا علم لوی زبردست معاون دے اَؤ په بنیادی اُصولو (Fundamentle principles) مشتمل دے اَؤ دغه شان دَ کافیے اَهمیت هم طلبو ته معلوم دے، چه دَ دے کتاب عبارت مختصر دے اَؤ مقاصد یے ډیر دی، خو حقیقت نه ښکاری، ځکه چه په کافیه باندے ډیرے زیاتے اَؤ غټے غټے شرحے لیکلے شوی دی، خو اُستاذ صاحب، چه ما ته په کوم انداز درس کړے دے، دَ هغه خوندونه په وخت دَ مطالعه کښے لوستونکو ته معلوم شی۔

دَ اُستاذ درس

په سن ۱۹۹۲ء کښے حضرت الاستاذ حافظ محمّد اِبراهیم فانی صاحب، موږ ته دَ کافیے درس راکولو، هغوی په درس کښے داسے انداز اِختیار کړلو، چه یو طرف ته دَ کافیے متن حل شو اَؤ بل طرف ته داسے باریکے اَؤ ناآشنا نکتے ویلے، چه ټول شاګردان یے خوشحاله کړل، چه کله به دَ مقام سره مناسب شعر یا لطائف لګیدل، نو هغوی به بیانول اَؤ دَ طلبو ذهن نشین به یے کړو له۔

دَ اُستاذ اِشارات اَؤ زما تقریر

حضرت الاستاذ هم اشارات لیکلی وو اَؤ ما هم تقریر اَؤ

دروس منضبط کړی وو اؤ د دې نه مخکښې لوړو تلامذؤ هم دا دروس منضبط کړی وو، چه هرکله ما خپل تقریر ولیکلو نو بیا مې حضرت الاستاذ ته د نظر ثانۍ د پاره پیش کړو، هغوی ورباندې نظر واچولو اؤ د بنده د تسلۍ د پاره یې پورې تقریظ ولیکلو، چه هغه دا دې :-

"په نامه د لوی خدائ"

الحمد لله رب العلمین والصلوٰة والسلام علی رسوله محمد واٰله واصحابه اجمعین.

رضینا قسمة الجبار فینا　　لنا علم وللجهال مال

اما بعد! عرض دا دې، چه بنده محمد ابراهیم فانی، د خپل محترم شاګرد محمد سلیم سواتی حفظه الله. د لاسو لیکلې شوې تقریر ځائ په ځائ وکتلو. دا تقریر هغوی د بنده د کافیې د درسونو نه ډیر په محنت اؤ کوشش سره تیار کړې دې، هغوی په ټولو درسونو کښې شرکت اوکړو، اؤ د آورېدو سره سم یې د قلم په قید کښې راوستل، د دې په مطالعې سره به طالبانو اؤ شائقینو ته د هغوی د شوق اندازه اولګي، بنده په خپله د طالبانو د استعداد اؤ بیا د کتاب د اهمیت مطابق په درس کښې داسې انداز اختیار کړو، چه لوستونکي طالبان د کافیې د متن په خوند پوهه شی اؤ مزه ترینه واخلی محترم محمد سلیم سواتی د دې په لیکلو لوړه وخت صرف کړې دې اؤ د ظاهری حسن اؤ د دوی سنګار یې هم پوره پوره خیال ساتلې دې، چه لوستونکو ته به په وخت د مطالعه کښې معلومه شی. بناءً علی د پښتو د شعر لوجوت اؤ پوخ ښه خوندور ذوق هم لری، نو په دې تقریر کښې یې ځائ په ځائ ښه ښه اشعار هم لیکلی دی، چه هغه تشنه ګانو کار ورکوی، په آخر کښې زه دا دعا کوم چه الله تعالی د زموږ ټولو ته علم، عمل اؤ استقامت نصیب کړی، اؤ محترم شاګرد مولوی محمد سلیم سواتی چه کوم محنت کړې دې، دا دې د ټولو شائقینو د پاره سامان د راحت اؤ د نفع اوګرځوی. آمین. ورسره ورسره د کتونکو اؤ مستفیدینو نه دا سوال اؤ درخواست کوم چه بنده حقیر سره د خپلو ژوندو اؤ مړو استاذانو په خپلو دعاګانو کښې نه هیروی. والسلام.

خادم العلم والعلماء محمد ابراهیم فانی، دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک نوښار.
خاص مقام زروبي، ضلع صوابۍ.　　نومبر ۱۹۹۳ء

زما مشوره اؤ د استاذ صاحب د چاپ کولو نه انکار

هرکله چه زما د تقریر نه به سوو لو فوټو سټېټونه اوویستل اؤ به

پښتنو طلباؤ کښې ډیر په تیزئ سره وخلپیدو وجه دا ده چه حضرت الاستاذ تمام دروس په آسانه پښتو کښې ښیلی وو او مونږ ما هم په هغه طرز باندې د مات کوډ قلم په قید کښې راوستلی وو، نو ما استاذ صاحب ته د دې دروسو د چاپ کولو مشوره ورکړه، لوم‌غوری د چاپ کولو نه انکار اوکړو او وے فرمائیل چه د دې کتاب ډیرې شرحے موجودے دی، زما د دې دروسو به څه اهمیت وی، ځکه چه زه خو درویزه کوم او وے خندل چه زه چری یم، د مختلفو شرحونه رم درویزه کوی کوی ده او بیا د خپل والد صاحب متکلم عصر علامه عبد الحلیم صاحب (مرحوم) صدر المدرسین دارالعلوم حقانیه چه په صدر صاحب سره مشهور وو، د هغوئ واقعه ذکر کړه چه ما د خپل والد صاحب ته عرض اوکړو چه تاسو هم څه شرح اوليکئ، نو هغوئ وخندل او وے فرمائیل چه اسلافو او زمونږ استاذانو څه پرېښې دی چه زه یې اولیکم بلکه اوس خو خلق چاپ قلمی او قلمی چاپ کوی، نوے څه تحقیق نشته، نو ستاذ صاحب وویل چه زه هم د خپل والد صاحب دا خبره درته ذکر کړم خو ما ورباندې ډیر اصرار وکړو، هغوئ دے ته غاړه کښېښوده، او دا عذر یے هم پیش کړو چه په دې باندې ډیر خرچ راځی او دا زه نه شم ادا کولے، لیکن ما ورته اووے چه، خیر دے خرچ تاسو برداشت کوئ او نور لوازمات مثلاً ترتیب، تصحیح او حاشیے وغیره به زما په ذمه شی، نو حضرت الاستاذ څه قدر مائله شو او آخر دا چه بنده د سن ۱۹۹۴ په آخر کښې په دې شرح کوټے پورے کړے او سن ۱۹۹۵ په اول کښې د الله تعالی په فضل وکرم سره دا شرح د ترتیب په مراحلو کښې هم په دے طریقه سر سر ته ورسیده چه ما خپل تقریر او د استاذ صاحب اشارات د یو بل سره اول کړل او دا شرح تر نه وجود ته راغله، لکه شاعر والی چه :-

ھ مېږے وی بېل بېل چه شی ټول ورله په اتفاق
بالنگ پړے د خوبانو د عنوان بنړلے شی

خبره ښکاره ده چه دا یو وزن او یو بوج دے او ممکنه هم نه وه چه د استاذ محترم د خلے مبارکے تمام کلمات دې د قلم په قید کښې بند کړے شی، خو بیا دے سلسله کښې غټه خوبی دا وه چه محترم موصوف فانی صاحب د طالبانو استعداد او بیا د کتاب د اهمیت مطابق په درس کښې داسے انداز اختیار کړی چه لوستونکی یے د کافیے د متن په حل او خوند پوهه کړل، مونږ به ټول دروس د فصاحت په تار کښې داسے پیړل چه مستفیدونه به په خپله معلوم شی.

د اُستاذ صاحب قابلیت، خولې او لباس

محترم فانی صاحب ته الله پاک د هر قسمه ملکه ورکړې ده. یو خو دیوبندی معتقد، محقق او مدقق عالم دے او په عالمی سیاست کښې هم پوجوت نظر دے بل ارخ

ته د خلوېښتو ټلو د شعرو شاعرۍ په فن کښې د صدفه راوتلي يو تازه ګوهر کڼلې شي او د ېر کتابونه يې ليکلي دي چه هغه منظر عام ته راغلي دي، خو په ټولو تصنيفاتو کښې د اوچتې پايې داضبط شوي افادات يو ګلدسته ده، چه په نوم د 'دروس کافيه' باندې شائع ده. داحقيقت دې الله پاک د بد رنګ تاريخ د تيرونه محفوظ وساتي، ولې چه د ديني طبقې او د اسلامي منهج په استاذانو کښې به داسې څوک وي چه هغوي به د بناغلي نوم نه وي اورېدلې. نه پوهېږم چه د اکوړي د مدرسې بخت وېخ دے او که د بناغلي د قسمت ستورے اوچت دے، چه د غه ديني اداره پرې روښانه او ښادابه ده. د بناغلي د سادګۍ او تقوي ښېښته د هغوي د کلام لباس او خولې نه کېدے شي. ځکه چه الله پاک ورته يو قلندري هار په غاړه کړے دے. لکه رحمان بابا وائي:-

> قلندر که په ربښتيا و قلندر ي که
> خان سلطان او قلندر دے واړه يو دي

يا لکه بنلغني په خپل مشهور کتاب "نالهٔ زار" (چه دا د هغوي د ار دو د شاعرۍ اولنۍ مجموعه ده) کښې فقيري جامه څه په ډېر ښکلي اغوستي ده:-

> هم کو دعوئ خودستائی کا نہیں فانی مگر
> ملتے ہیں دنیا میں ہم جیسے قلندر خال خال

د شرحې اجمالي خصوصيات

په کوم طرز چه حضرت الاستاذ د دې دروس افادات کړي وو، هم په هغه طرز بنده تمام دروسونه نمبر وار مرتب کړي دي او په کومو ځايونو کښې چه بنده څه اشکال محسوس کړے دے، هلته مې د نورو شروحاتو نه حاشيې رانقل کړي دي او په کوم ځائے کښې چه شعر مناسب وو نو هلته مې شعر ليکلي دے او کله به استاذ محترم د مقام سره مناسب لطائف ذکر کول د هغې مې هم پوره پوره خيال ساتلے دے، په کوم مقام کښې چه بعض ضوابط ذکر شوي دي، هلته د نقشو او شکلونو هم بنده انتخاب کړے دے. د غه شان د فهرست په جوړولو باندې بنده خپل کوشش صرف کړے دے. د بار د دې چه مستفيدينو ته ټول مضامين د کافيې اجمالي طور سره معلوم شي.

خوشخبري

د دې شرحې په اردو او فارسۍ کښې ترجمه به انشاء الله ډېر زر چاپ شي، اردو دان طبقه او فارسۍ باندې پوهېدونکي حضرات به ډېر زر مستفيد شي.

د عجز اظهار

ماچه هر څومره محنت او کوشش کړے دے او يا مې ځان ته په سر يزه کښې څه نسبت ونه کړي دي، نو دا ټول د الله تعالی د توفيق سپارنه ده:-

> هر بلبل به دې ثنا کړي که نه کړي شي
> د خپل ځان صفت په خپله بکار نه دے

چونکه زهٔ د ہیځ نه دے او نااهله یم او بیا د طالب علمۍ په دوران کښې دا یے علمیه ذریعه سر ته رسول ډیر ګران کار دے، لو زهٔ دا اُمید لرم چه لوستونکی به ماته بدرنګ نظر نهٔ کوی او په آخر کښې زه دا دُعا غواړم چه دا کوشش دِ الله مقبول اوکړی او دَ لو ر مدقالق پوره کولو لو توفیق راکړی او تمامو لوستونکو ته دا منت او زاری کوم چه بنده دِ سره دَ خپل مور او پلار او اُستاذ صاحب دِ سره دَ خپل اهل وعیاله په خپلو دُعا کالو کښې نهٔ هیره وی۔ والسلام

وقانا الله من شرِّ الحاسدین آمین یا ربّ العالمین۔

محمّد سَلیم سواتی عفی عنه
دارالعلوم حقّانیه، اکوړه خټک (نوښار)
خاص مقام: سنګوټه (سوات)
۲۰ مارچ ۱۹۹۵ء۔

درس ۱

حالات د مصنف د کافیے

علامہ ابن حاجبؒ

په اوومه صدی هجری کښې چه کوم اشخاص په فقه مالکی لغت او په تجوید کښې ډیر نوم او شهرت پیدا کړی، په هغوی کښې یوه لویه هستی ابن حاجبؒ هم وه، د ده اصل نوم "عثمان" لقب "جمال الدین" او کنیت "ابو عمرو" دے، د پلار نوم ئے عمر دے، پس پوره نوم ئے جمال الدین ابو عمر عثمان بن عمر شو. اسم محضه هغه نوم ته وائی، چه والدینو د پیدائش نه پس خپل بچی او ماشوم له کیښودی۔

لقب دے ته وائی، چه د یو صفت په وجه باندے ئے خلق یادوی، لکه صدیق او فاروق وغیره، او عرف دے ته وائی چه په عوامو کښې په خاص نوم سره مشهور شی او کنیت هغه ته وائی چه مصدر کړے شی په اب یا ابن سره، لکه ابوبکر، ابن عمر، ابوحنیفه وغیره، دے مشهور په ابن حاجب سره وو، ابن حاجب ورته ځکه وائی چه حاجب دربان ته وائی. یعنی خاص د بادشاه دربان او د ده پلار د بادشاه وقت دربان وو، د دربار دا عهده د حضرت امیر معاویه په دور حکومت کښې شروع شوی وه. ابن حاجبؒ د مصر په یو کلی "اسنا" کښې په کال ۵۷۰ھ په آخری ورځو کښې پیدا شوے وو، د ده تعلق د کرد قبیلے سره وو، شیخ عزالدین عبدالسلامؒ د ده شیخ وو او د والد صاحب ئے دوست وو، چه کله د سه استاذ په جیل کښې وو، د هغه نه ئے ډیره استفاده اوکړه او داخبره بعضے تذکره نګارو کړی ده، چه د ده یو عجیب خصوصیت دا وو، چه مصر کښې رو ږوند حافظ القرآن په خپل وخت کښې ابن حاجبؒ وو، د ابتدائی تعلیم د حاصلولو نه پس ابن حاجبؒ قاهرے ته لاړو او هلته ئے د فقه مالکی، او د تجوید علوم حاصل کړل او دغه شان د قانون د علم حصول ئے هم اوکړو

دَ ابو منصور انباری نه یې دَ فقه اَوْ دَ قالون اَوْ دَ إمام شاطبیؒ نه یې دَ قرآة اَوْ دَ تجوید علم حاصل کړو، دَ دې نه پس دَ تدریس دَ پاره 'دمشق' ته لاړو، چه هلته یې په جامع مسجد 'اموی' کښې په زاویه مالکی کښې دَ فقه مالکی تدریس کولو، وفات یې په ۲۶ رشوال ۶۴۶ھ په ورځ دَ زیارت 'باندِ اُوشو۔ چه کله دے دمشق نه قاهرې ته لاړ اَوْ بیا دَ قاهرې نه سکندریې ته راغلو۔ دَ ابن حاجبؒ دَ تصنیفاتو تعداد تقریباً نهه دے، هغه لوی جامع العلوم عالم وو، لیکن شهرت یې دَ حیثیته دَ نحوی نه ډیر دے۔ ۱: کافیه، دا عظیم الشان متن دے چا ویلی دی چه کافیه کافی است. باقی درد سر، دا دَ علامه جار الله زمخشری چه هغه دَ صرف، نحو، معالی اعجاز القرآن اَوْ دَ تفسیر لوئے عالم وو، دَ کتاب چه نوم یې مفصل دے، دَ هغې تخلیص دے، دے چونکه دَ بیت الله شریف په ګاونډ پاتې کیدو په دې وجه ورته جار الله وائی. په اعجاز القرآن کښې یکتا وو. په دې وجه علامه انور شاه کشمیری فرمائی چه 'لا یعرف إعجاز القرآن الا لا عرجان، احدهما فی الزمخشر و ثانیهما فی الجرجان یعنی دویم شیخ عبد القاهر جرجانی دے۔ ۲: شافیه ده. دا په صرف کښې علامه ابن حاجبؒ لیکلی ده۔ دا دواړه ډیر مشهور متون دی. چا ویلی دی:۔

؎ کافیه باشافیه تلخیص کنز حسامی — این پنج یاد کن که شوی مولوی نظامی

۳: ایضاح، دا کافیې شرح ده۔ ۴: المقصد الجلیل في علم الخلیل. دا یې په علم عروض کښې لیکلے دے، دَ دې کتاب پنځه شرحې لیکلی شوی دی۔ ۵: یوه رساله چه په هغې کښې یې اسمائے مؤنثه په نظم کښې خوندي کړي دي۔ ۶: اصول فقه مالکی کښې یو اهم کتاب لیکلے دے۔ ۷: په فروعو د فقه مالکی کښې یو مختصر کتاب لیکلے دے۔ ۸: دَ عشر په باره کښې یوه رساله لیکلی ده۔ ۹: الامالی، دا په قرآن مجید اَوْ په متنبی باندې دَ مقالاتو مجموعه ده. خو په دې ټولو تصنیفاتو کښې شهرتِ دوام کافیې ته حاصل دے، په هر دور کښې علماؤ دَ دې کتاب قدر کړے دے اَوْ دې وجې نه علامه نظام الدین دا کتاب په درس نظامی کښې شامل کړے دے، دَ دې دَ عظمت اندازه دَ دې نه لګولے شي چه په ډیرو ژبو کښې دَ دې ډیرې زیاتې شرحې لیکلی شوي دي اَوْ لا لیکلے کیږي، په ټولو کښې زیاته اَوْ مشهوره شرح هغه دَ مولانا عبد الرحمن جامی رحمه الله شرح ده، چه په شرح جامی باندې مشهوره ده اَوْ دَ شرح جامی بیا دا خصوصیت دے چه په دغه باندې بیا ډیرې زیاتې حاشیې لیکلی شوي دي۔

درس ۲: نن به څلور خبرې ذکر کوؤ، موجد دَ علم نحو، چه علم نحو چا ایجاد

کړی ده، دریمه وجه تسمیه دَ علم نحو، دریمه وجه سبب دَ ایجاد دَ علم نحو، څلورم معنی لغوی اَوْ اصطلاحی دَ علم نحو، علم نحو چا ایجاد کړی ده. په دے کښے درے اقوال دی اَوّلنے قول دا دے، چه دَ دے علم موجد حضرت علی کرم الله وجهه دے، دویم قول دا دے چه دَ دے علم موجد حضرت عمرؓ دے اَوْ دریم قول دا دے چه موجد دَ دے علم ابوالاسود دئلی دے وجه تسمیه دَ علم نحو دا ده، چه هرکله دَ حضرت علیؓ اَوْ دَ حضرت ابوالاسود دئلیؒ په کوششونو سره علم نحو ایجاد شو لو حضرت علیؓ اُوفرمائیل "مَا اَحسن هذا النحو نحوت" یعنی څومره ښه دے دا قصد په مَا چه تا ارادہ کړی وه، لو دَ هغه وخت نه دَ دے لوم نحو کښیښودے شو. دَ علم نحو دَ ایجاد سبب؟ دَ دے دَ ایجاد دَ پاره مختلف اسباب ذکر شوی دی، تقریباً نهه اسباب دی لیکن په هغے کښے دوه چه مشهور اسباب دی هغه دا دی:- اَوّله واقعه دا ده چه دَ حضرت عمرؓ په دور خلافت کښے یو اعرابی راغے اَوْ هغه دَ یو اُستاذ نه قرآن زده کولو، پس دا آیت ئے لوستو چه "اِنَّ اللهَ بَرِیْءٌ مِنَ المشرکین ورسولِهٖ" لو هغه دَ ورسولُهٗ په ځائے بانډ ورسولِهٖ اُووے، معنیٰ ئے دا شوه چه په تحقیق سره الله بیزار دے دَ مشرکانو نه اَوْ دَ خپل رسول نه (نعوذ بالله) لو اعرابی اُووے چه الله دَ خپل رسول نه بیزار دے، لو نو هم دَ هغه نه بیزاریم. حضرت عمرؓ اعرابی را اوغوښتو اَوْ دا آیت ئے ورته صحیح کړو چه آیت دا دے "اِنَّ اللهَ بَرِیْءٌ مِنَ المُشْرِکِیْنَ وَرَسُوْلُهٗ" اَوْ بیا ئے دا اعلان اوکړو چه کوم سړے صحیح قرآن نه شی لوستے، لو هغه دِ قرآن بل چاته نه ښائی اَوْ بیا ئے حضرت ابوالاسود ته حکم اوکړو، چه ته دا یے حکم جاری کړه چه په هغے سره خلق دَ قرآن دَ اعرابی غلطیو نه بچ شی. دا یو عمومی واقعه وه. دریمه واقعه دا ده چه، یوه ورځ حضرت علیؓ ډیر پریشان ناست وو، چا ترے تپوس اوکړو چه، ته دَ ولے پریشان اَوْ زهیر یے؟ هغه فرمائیل چه، په دے وجه خفه یم، چه خلق قرآن وائی، لیکن په وینا کښے غلطئ کوی په دے وجه ئے حضرت ابوالاسود دئلی را اوغوښتو اَوْ حکم ورته ئے دَ علم نحو قاعدے اوښودلے چه "کل فاعل مرفوع. کل مفعول منصوب او کل مضاف الیه مجرور" ورزدفیه وتتبع. یعنی په دے کښے ئے زیاتے اوکړو اَوْ تلاش ئے جاری اوساته. څلورم بحث دَ علم نحو لغوی اَوْ اِصطلاحی تعریف.

لغوی تحقیق: دَ نحو لغوی معنے ډیرے دی، لیکن دلته به موږ هغه ذکر کړو چه کومے مشهورے دی. ۱: په معنیٰ دَ قصد اَوْ ارادے. ۲: په معنیٰ دَ ظرف اَوْ دَ جانب. ۳: په معنیٰ دَ تبیلی. ۴: په معنیٰ دَ اَندازے. ۵: په معنیٰ دَ حذف اَوْ دَ ترک. ۶: په معنیٰ دَ قسم. ۷: په معنیٰ دَ مثل. ۸: په معنیٰ دَ صیانت اَوْ دَ حفاظت. ۹: په معنیٰ دَ

طریق او د لاری۔ ۱۰: په معنیٰ د تصریف۔ ۱۱: په معنیٰ د فصاحت۔ ۱۲: په معنیٰ د د اعراض. په دے کښے اوّلنی اوه (۷) معنے په دے قطعه کښے راغلی دی۔ نحوْنا نحوَك یا حبیبي؛ نحوًا نحوالفٍ من رقیبي؛ وجدنا هُم مراضاً نحوَ قلبي؛ تمنّوا منك نحوًا من نبیب۔ ترجمه:- موږ قصد اوکړو په جانب د قبیلے ستا اے حبیبه۔ موږ په برابر دل په اندازه د یو زر رقیبانو۔ دوی موږ اوموندل مریضان په مثل د زړهٔ زما۔ چه دوی تمنا لرله د تانه د یو قسم د کښیمِشو او د کشکولے. په دے قطعه کښے نحو په اووه (۷) معنو باندے مستعمله ده او نحو په معنیٰ د صیانت سره لکه، اذا جاء النحویون یوم القیمة فقال الله تعالیٰ فی حقهم الی الملئکة یا ملئکتی انحواهم عن النار فانهم نحوا کلامی عن الخطاء. دلته کښے نحو په معنیٰ د صیانت راغلی ده، احسن نحوت فی الکلام دلته کښے په معنیٰ د فصاحت راغلی ده، نحو مستوی. نیغه لاره. دلته په معنیٰ د لارے ده. نحوت النظر الیه دلته کښے په معنیٰ د صرف اوکرځولو ده، دغه شان په معنیٰ د اعراض هُم راځی، زموږ استاذ حضرت شیخ القرآن شاه منصور باباؒ به فرمائیل چه، درصرف صرف کردی عمر عزیز یارا۔ درنحو نحو گشتی نه شناختی خدارا۔

۳. اصطلاحی تحقیق: د علم نحو اصطلاحی دریے تعریفه دی. اوّلنی تعریف په کښے ډیر مشهور دے. علم باصول یعرف بها احوال اواخر الکلم الثلث من حیث الاعراب والبناء وکیفیة ترکیب بعضها مع بعض۔ دویم تعریف علم باصول یعرف بها احوال الترکیب العربیه من الاعراب والبناء دریم تعریف علمٌ بالقوانین یعرف بها صحة الکلام وفساده۔ اوّلنے تعریف چه کوم مشهور دے. دغه تشریح دا ده:- چه په هر تعریف کښے لابدی وی د جنس او فصل نه۔ پس علم باصول دا جنس دے، تمام علوم به دے کښے داخل شی. یعرف بها احوال. دا اوّلنے فصل دے، په دے سره تر نه خارج شو هغه علوم چه په هغے کښے د ذات او د معلن نه بحث کیږی، لکه علم صرف او منطق شو. اواخر الکلم الثلث دویم فصل دے، په دے سره احتراز د هغه علومو نه راغے په هغے کښے بحث کیږی. د اوائل او د اوساطونه، لکه علم لغت شو. یا د احوالو د مکلفین نه. لکه علم فقه شو. من حیث الاعراب والبناء، دا دریم فصل دے. په دے سره تر نه اووتل هغه علوم چه هغے کښے د وزن او د قافیے نه بحث کیږی، لکه علم عروض او قوافی۔ وکیفیة ترکیب بعضها مع بعض دا څلورم فصل دے، په دے سره تر نه احتراز راغے، د هغه علومو نه چه په هغے کښے د کیفیة د ترکیب نه بحث نه کیږی، لکه مفردات شو، چه علم هیئة علم ابجد وهندسه یا حساب دے۔

درس ۳: په تعریف د علم نحو باندې اعتراض واردیږي، چه ته وائې چه یعرف بها احوال اواخر الکلم الثلاث من حیث الاعراب والبناء، نو دې سره خو دا لازمیږي چه چا ته قواعد کلیه د نحو یاد وي لیکن بیا هم هغه په اعراب کښې خطا کیږي نو جواب دا دے چه دلته کښې مضاف مقدر دے چه یعرف باستحضارها الخ یعنی د دغو قواعد کلیه واستحضار سره بیا کوم د غلطۍ نه۔

موضوع: د علم نحو موضوع د کلمه او کلام دے په دې باندې سوال واردیږي چه کلمه او کلام دوه څیزونه، او تعدد د موضوع مستلزم دے تعدد د علومو لره او دلته کښې علم نحو یو علم دے. جواب دا دے چه تعدد په دوه قسمه دے یو تعدد لفظي او بل تعدد معنوي. تعدد لفظي دے ته وائي چه په ظاهر دوه لفظه وي او معنا ئې یو وي، نو په هغه کښې تعدد د علومو نه راځي لکه قاعد او جالس شو د دواړو معنیٰ یو ده. او تعدد معنوي هغه ته وائي چه دوه لفظه وي او د دواړو معنې جدا جدا وي، لکه قائم او قاعد، په دې سره تعدد د علومو راځي، دلته په کلمه او کلام کښې تعدد د قسم اول د تبیلے نه دے، یعنی دا تعدد لفظي دے ځکه چه د دواړو مفهوم یو دے، دویم جواب دا دے چه کوم تعدد سره تعدد د علومو راځي، دا هغه تعدد دے چه هغې لره جهت مشترکه او جهت د وحدت نه وي. جهت مشترکه یا جهت د وحدت هغه دے، چه دا امور کثیره ورته تعبیر په یو شي سره اوکړے شي نو دلته کښې د کلمه او کلام نه تعبیر په یو شي سره کیدے شي چه، هغه لفظ موضوع للمعنی دے او د دې د پاره نظیر لکه د علم اصول فقه د پاره موضوع ادله اربعه دي، نو دلته کښې کوم شکوک او والي، سوال: چه دلته کښې خو تعدد د موضوع دے او دا مستلزم دے، د تعدد د علومو لره نو جواب دا دے چه دلته ادله اربعة اگرچه امور متعدد دي لیکن جهة د وحدت ویلے شته چه تعبیر تري کولے شي په امر مثبت للاحکام سره، بل سوال دا دے چه هر کله د علم نحو موضوع کلمه او کلام اوگرځیدل نو کلمه ئې ولي مقدم کړې په کلام باندې سره د دې نه چه کلام مفید دے او کلمه غیر مفید ده. جواب دا دے چه کلمه جزء دے، د کلام نه لفظا او معنیٰ دواړه او جزء مقدم وي په کل باندې[1].

غرض او غایه د علم نحو

اول خو فرق خه دے، په مابین د غرض او د غایه کښې. نو هر کله چه یو سړے تصور د یو فائدے اوکړي د یو کار او هغه فائده باعث اوګرځي په هغه فاعل باندې د پاره د صدور د هغه فعل هغې ته غرض والي، غرض په لغت کښې هدف ته والي او غایه دے ته والي چه پس د صدور د فعل نه هغه فائده .... متصوره فعلیه نه راځي، هغې ته غایه والي، غایه انجام ته والي۔

ر

---

[1] یا دا چه کلمه په منزله د مفرد ده او کلام مرکب دے او مفرد مقدم وي په مرکب باندې نو کلمه ځکه مقدم ده په کلام. ۱۲ م س.

غرض اَوْ غایه دَ علم نحو دا دہ چې صیانة الذهن عن الخطاء اللفظي في الکلام العرب: لو په خطاء لفظي سره تړنه غایه دَ علم منطق او نه چې هغه دَ خطاء لفظي نه صیانت نه راولي، بلکه دَ خطاء فکري نه صیانت راولي، دلته کښې سوال واردیږي، چې تلفظ خو ذهن نه کوي، بلکه لسان یې کوي، لو په کار دہ چې داسې یې وئیلي وے، چې صیانة اللسان دَ دې نه دوه جوابه دي. اول جواب دا دے چې تکلم په اصل کښې ذهن کوي اَوْ لسان ترجمان دَ ذهن دے، لکه یو شاعر وائي: انما جعل اللسان علی الفؤاد دلیلاً. دویم جواب دا دے، چې دلته کښې تقدیر دَ عبارت دے. هغه دا چې صیانة مبیّن الذهن. اَوْ مبیّن دَ ذهن هغه لسان دی.

درس ۴: بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

دلته کښې څو مباحث دي. چې دَ هغې نه بحث ضروري دے. ۱: اوّل بحث دے په ایراد دَ بسم الله کښې چې بسم الله یې ولې راوړی دہ. ۲: بحث دے په حرف باء کښې. چې باء یې په شروع کښې ولې راوړه. ۳: دویم بحث دے په معنیٰ دَ باء کښې چې دَ باء څه معنیٰ دہ. ۴: څلورم بحث په بیان دَ کسرې دَ باء کښې دے، چې باء مکسوره ولې دہ. ۵: اَوْ پنځم بحث دے په متعلق دَ باء کښې. چې دَ باء متعلق څه شے دے؟
اوله بحث "بسم الله یې ولې راوړه. دَ دې وجوهات دا دي:-
۱: چې موافقت راشي دَ کتاب الله سره، ځکه چې قرآن پاک په ابتداء کښې هم بسم الله لیکلی شوی دہ (راغلي دہ) ۲: چې عمل راشي په حدیث دَ نبي علیه السّلام باندې. چې کل امرٍ ذي بالٍ لم یبدأ ببسم الله فهو اقطع یا ابتر. یعني هغه عمل بې برکته اَوْ مقطوع الخیر وي. ۳: چې موافقت راشي، دَ کتابونو دَ سلف صالحینو سره. ځکه چې سلف صالحینو خپلو کتابونو لیکلي دي، هغوي په ابتداء کښې بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ لیکلي دہ. نکته:- لو سَلَف دے په فتح دَ لام سره اَوْ بل سَلْف دے په سکون دَ لام. سَلَف بفتح اللام نیک پیشوا اَوْ نیو مشرانو ته وائي اَوْ سلف بسکون اللام بدا اَوْ ناکاره مشرانو ته وائي، همدغه رنګ خَلَف بفتح اللام نیک اولاد ته وائي لو خَلْف بسکون اللام ناکاره اولاد ته وئیلي شي. ۴: چې موافقت راشي دَ مکتوبانو دَ انبیاء علیهم السلام سره. ۵: چې موافقت راشي، دَ مکتوبانو دَ نبي علیه السلام سره. ۶: چې موافقت راشي، دَ مکتوب دَ سلیمان علیه السلام سره چې هغه خط لیکلے ؤ ملکه بلقیس ته، لو ورته یې لیکلي وو چې، اِنَّهٗ من سلیمان وانه بسم الله الرحمٰن الرحیم.
۷: چې موافقت راشي دَ آدم علیه السلام دَ اوّلني وحی سره، ځکه چې په آدم علیه السلام اوّله وحي نازله شوه لو هغه مصدر کړے شوې وه په بسم الله باندې. ۸: بسم الله ذکر کیږي په او اکو دَ کتبو کښې دَ پاره دَ هغه فضائلو چې کوم دَ بسم الله په باره کښې راغلي دي، حدیث شریف کښې نبي علیه السلام فرمائیلي چې،

بسم الله الرحمن الرحیم اووایه، نو د هغهٔ لوئ صغیره گناهونه به معاف کړے شی او یوه ذره به هم په کښے باقی پاتے نه شی ۔ ۹: د پاره د دفع د وسوسے د شیطان ځکه چه مقام د تصنیف محل د خطرات وی او دا د لوئی ثواب کار دے چه طلبو ته فائده ورکوی، نو شیطان دا کوشش کوی چه مصنف له په دے کښے مختلف وسوسے واچوی، چه دے دا تصنیف اونه کړے شی ۔ ۱۰: د پاره د حصول د تیمن او د برکت، چه په تصنیف کښے برکت راشی ۔ "دویم بحث" چه لفظ د با یے ولے مختار کړو۔ حرف با یے مختار کړو نو په دے وجه باندې چه موافقت راشی د کتاب الله او د حدیث پاک سره ۔ په قرآن پاک کښے راغلی دی، چه اقرأ باسم ربك الذی خلق" او د هغه شان په بل ځائے کښے راغلی دی چه" بسم الله مجرٖها ومرسٰها" او په حدیث شریف کښے راغلی دی "بسم الله ولجنا بسم الله خرجنا" نو موافقت راغے، د کتاب الله او د حدیث سره ۔ "دریم بحث" چه د با د خه معنیٰ ده ؟ ۔ په معنیٰ د با کښے د جمهورو او صاحب کشاف اختلاف دے، جمهور وائی ۔ چه په کار کښے شروع کونکے محتاج وی استعانت ته، لهذا با، د پاره د استعانت ده نو تقدیر د عبارة به داسے شی چه" استعین یا مستعینا بسم الله الرحمن الرحیم"، او د صاحب کشاف علامه جار الله زمخشری په نیزد دا با، په معنیٰ د ملابست سره ده او مراد ترے نه تبرک دے، نو تقدیر د عبارة به داسے شی چه" اتبرك یا متبرکا بسم الله الرحمن الرحیم"، نو په دے کښے د لحاظ ادب هم راغے او بل رد په کفارو هم راغے "مغوبه" باسم اللات والعزی" وئیل ۔ یعنی هغوی به تبرك نعوذ بالله، په نوم د لات او د عزی باندې حاصلولو ۔ "څلورم بحث" چه دا با، دلته کښے ولے مکسوره ده، تفصیل یے په شکل د سوال او جواب کښے دے. سوال دا وارد یږی چه با حرف مفرد دے او اصل په حروفو مفرده وو کښے فتحه ده لکه واو مفرده یا همزه وغیره او بله هم وجه دا ده چه" لان الفتحة اخت السکون فی الخفة" نو با مفتوح راوړل پکار وو. جواب د با دوه حیثیة دی، یو حیثیة یے د حرفیة دے او بل حیثیة یے د جریت دے، جریت یے دا تقاضا کوله، چه کسره ورکړے شی، ځکه چه موافقت راشی په مابین د اثر او د مؤثر کښے، او بله وجه دا چه، "الکسرة اخت السکون فی المخرج" اصل سکون دے او دا قاعده ده چه" الساکن اذا حُرِّكَ حُرِّكَ بالکسر" نو د پاره د حصول د حرکت او د خفت با ته کسره ورکړے شوه ۔

درس ۵: "پنځم بحث" د بسم الله په متعلق کښے دے. د بسم الله په متعلق کښے بحث د دوؤ جهتو نه دے، یو د دے جهته نه چه متعلق یے خاص دے او که عام او بل د دے جهت نه چه متعلق یے اسم دے او که فعل او که مقدم دے، که مؤخر په متعلق د دے کښے چه خاص دے او که عام ۔ دوه مذهبه دی. بعض وائی چه متعلق د دے خاص دے چه ابتدائی یا ابتدأ دے،

اَوْ بعض والئ چه عام دے یعنی هَر هغه فعل یا شبه فعل چه په هغه کښې صلاحیت دَ دِے خبرے وی ، چه هغه متعلق دَ دِے واقع شي . دویم ² جهت چه متعلق دَ دِے اِسم دے ، که فعل مقدم دے که موٴخر ، نو په دِے کښې هُم دوه مذهبه دے . یو دَ کوفیانو مذهب دے اَوْ بل دَ بصریانو . دَ کوفیانو په نزد باندِ متعلق دَ دِے اِسم دے اَوْ مقدم دے ، ځکه چه جار مجرور واقع بخرے وے ، په محل دَ خبر کښې او اصل په خبر کښې افراد دے ، یعنی خبر قسم دے ، دَ مرفوعاتو نه اَوْ مرفوعات قسم دِے دَ اسم نه اَوْ اسم قسم دے دَ کلمے نه اَوْ دَ کلمے په مفهوم کښې افراد ماُخوذ دے . پس اسم نو دے مکر مفرد اَوْ مقدم به په دِے وجه وی چه هَر متعلق عامل وی په خپل متعلق کښې او عامل مقدم وی په خپل معمول باندِ . په دے وجه باندِ دَ 'بسم الله' متعلق به مقدم وی ، نو دَ هغوی په نزد تقدیر دَ عبارة به داسے شي چه ابتدائی کائنة بسم الله الرحمٰن الرحیم دا جمله اسمیه ده اَوْ جمله اسمیه دلالت کوی په دوام اَوْ په ثبوت باندِ . نو په دِے کښې به هُم دوام اَوْ ثبوت راشي .

دَ بصریانو په نزد باندِ دَ 'بسم الله' متعلق فعل دے اَوْ موٴخر دے . فعل په دِے وجه باندِ دَ جار مجرور شدید احتیاج وی ، خپل متعلق ته اَوْ چه دَ کوم یو څیز بات احتیاج وی ، نو دَ هغې دَ پاره دَ قوی څیز ضرورت دے ، نو په عواملو کښې قوی عامل فعل دے ، په دِے وجه دَ دِے متعلق به فعل وی ، اَوْ موٴخر به وی ، ځکه چه څنګه تقدیر دَ 'ما حقه التاخیر' فائده کوی - حصر اَوْ اختصاص ¹ . لکه په ' ایاك نعبد و ایاك نستعین ' کښې دا په اَصل کښې 'نعبدك و نستعینك' وو ، بیا چه هَر کله مونږ ضمیر په فعل باندِ مقدم کړو نو ضمیر منفصل جوړ شو ، نو 'ایاك نعبد و ایاك نستعین' شو ، نو اوس په کښې دا معنیٰ راوُته چه 'خاص تا لره عبادت کوو اَوْ خاص تا نه امداد غواړو' نو دا به جمله فعلیه شي - تقدیر دَ عبارت به داسے شي چه 'بسم الله الرحمٰن الرحیم ابتدأ' دا جمله فعلیه ده اَوْ جمله فعلیه دلالت کوی په حدوث اَوْ تجدد باندِ نو مونږ په نزد باندِ غوره اَوْ مختار مذهب دَ بصریانو دے ² دلته کښې سوال وارديږی چه په حدیث شریف کښې خو راغلی دی ' کل امر ذی بال بسم الله الخ ' نو دلته دلته کښې خو بیا هم په نامه دَ الله شروع اُوته شوه ، بلکه مخکښې تو نه با اَوْ اسم دی . جواب دا دے ، چه با دَ پاره دَ استعانت یا دَ پاره دَ تبرك راغله اَوْ اِسم یې دَ دِے دَ پاره ذکر کړو ، چې دَ ذکر دَ الله نه تطهیر دَ لسان راشي ، ځکه چه انسان په لسان باندِ قسما قسم خبرے کوی ، مثلاً غیبت اَوْ مزاح .

---

¹ . هغه رنګ تاخیر دَ ما حقه التقدیم هم فائده کوی ، حصر اَوْ اختصاص لره . م . س

² . لیکن مونږ به لحاظ دَ دواړو مسلکو یعنی په فقه کښې به دَ کوفیانو په مذهب عمل کوو ، ځکه چه امام ابوحنیفه رح دَ کوفے وو اَوْ په صرف و نحو کښې به دَ بصریانو په مذهب عمل کوو ، دا خبره استاذ صاحب دَ درس په حالت کښې دَ خوش طبعے په شکل اوکړه . م . س

وغیره، لو د پاره د تطهیر د لسان یې د الله د ذکر نه مخکښې اسم ذکر کړو، لکه چه یو شاعر وییلی دی

ہزار بار بشویم دہن بمشک گلاب ہنوز نام تو گفتن کمال بی ادبیست

دا توجیهه تصوفانه توجیهه ده او د علم نحو په اعتبار یې ...... دا توجیهه شی چه اسم یې د الله نه مخکښې راوړلو یعنی "ذکر کړو" چه فرق حاصل شی. په مابین د یمین او تیمن کښې - **سوال** چه بسم الله خو په خپله امر ذی بال دے، لو د دے د شروع نه مخکښې بیا "بسم الله" ویل پکار دی، بیا د هغې د پاره ویل پکار دی، وهلم جراً - **جواب** دا دے چه په دے صورت کښې تسلسل لازمیږی، او تسلسل باطل دے - **معنوی تحقیق** د بسم الله، معنی د "بسم الله" دا ده چه په "بسم الله" کښې لفظ د الله راغلی او دا اسم ذات دے - تعریف یې دا دے چه "اسم لذات الواجب الوجود المستجمع لجمیع لصفات الکمال المنزه عن صفات الزوال یعنی داهغه ذات دے، چه وجود یې واجب دے - پس د دې خبرې نه پوهه کړه چه په اصطلاح د منطقیانو کښې شے په درې قسمه دے. اول واجب دے، دویم ممکن دے او دریم ممتنع دے، واجب هغه ته وائی چه وجود یې ضروری وی لکه وجود د باری تعالی شو - ممتنع هغه ته وائی چه عدم یې ضروری وی، لکه شریك الباری ممتنع او دریم ممکن هغه ته وائی چه نه یې وجود ضروری وی او نه عدم، لکه داسلسله د ممکناتو شو، مثلاً انسان، حیوانات او دا عالم - لفظ د الله مشتق دے که جامد په دې کښې اختلاف دے بعض وائی چه، مشتق دے، خو بیا په مشتق منه کښې اختلاف دے، چه د چا نه مشتق دے او په نزد د سیبویه نحوی باندې جامد دے - هغه وائی چه څنګه ذات د الله تعالی "لم یلد ولم یولد" دے، لو دغه شان هغه اسم چه "دال" دے، په ذات د هغه باندې هغه هم د چا نه مشتق نه دے - دلته کښې "الله" ذات یې مقدم کړو، په "رحمان" او په "رحیم" باندې ځکه چه "رحمان" او "رحیم" صفات دی او ذات مقدم وی په صفاتو باندې لو دا **سوال** وارد نه شو چه ترقی د ادنیٰ کیږی اعلیٰ ته او دلته کښې ذات مقدم شو په صفاتو باندې، لو **جواب** مونږ اوکړو چه دلته کښې لحاظ د تقدم ذاتی کړے شوے دے - ذات او د صفاتو دا مسئله د متعلقاتو د علم کلام نه ده - "الرحمن الرحیم" دا دواړه صیغې د صفت مشبه دی او مأخوذ دی، د رحمة نه رحمت وائی - رقة القلب ته، بیا په دې باندې سوال وارد یږی، بیا خو د دې اطلاق په الله تعالی نه دے صحیح جواب دا دے چه، دلته تجرید شوے دے، یعنی رحمة صرف د رقة نه اخستے شوے دے - "رحمن" یعنی مهربانه دے، په دنیا کښې په مومن او په کافر دواړو باندې او "رحیم" یعنی مهربانه دے په آخرت کښې صرف په مومنانو په کفارو، چونکه په "رحمان" کښې عموم دو او زیادة د حروفو - په دې وجه یې مقدم کړو په "رحیم" باندې - په "الرحمن الرحیم" باندې درې واړه اعرابات صحیح کیږی، که مرفوع شی، لو مبتدا به ورله محذوفه مقدره شی، چه "هو" دے، او که منصوب شو اعنی فعل فاعل به ورله مقدر شی او

که مجرور شی نو دا به صفتونه اوګرځي د پاره د الله او هغه خو مجرور دے نو دا به هم مجرور شي۔

درس ۶ : وجوه عدم بدء الرسالة بتصدير الحمد!

عموماً مصنفین پس د ذکر د 'بسم الله' نه 'الحمد لله' ذکر کوي او دلته کښې مصنف پس د ذکر د تسمیې نه تحمید ذکر نه کړو نو دا سوال راځي چه مصنف ولے مصدر نه کړو رساله خپله په تحمید سره لهٰذا ده مخالفت اوکړو د کتاب الله سنت رسول او د کتب د سلف صالحینو نه، نو د دے سوال ډیر جوابونه دي۔ "اول جواب" دا دے چه 'کل امر ذي بال الحدیث' دا متکلم فیه دے، یعني بعض والي چه صحیح دے او بعض محدثین وائي چه ضعیف دے۔ "دویم جواب" دا دے چه دا یو امر استحبابي دے، یعني حمد ذکر کول څه لازمي او وجوبي امر نه دے۔ "دریم جواب" دا دے چه مراد په حمد سره ذکر د صفات د الله دے او هغه حاصل شو په ذکر د 'بسم الله' سره۔ "څلورم جواب" دا دے چه مصنف دوه کتابه لیکلي دي، یو په علم الاعراب کښې دے او بل په علم الالفاظ کښې دے، دا په حقیقت کښې د یو کتاب دوه حصے دي، نو د علم الالفاظ په سر کښې یې تحمید راوړے دے، نو دغه اکتفاء په هغه باندې کړي ده، په دے وجه یې 'الحمد لله' دوباره ذکر نه کړو۔ "پنځم جواب" دا دے چه کافیه متن دے، او متن د متونو په اختصار سره وي۔ "شپږم جواب" دا دے چه د قرآن پاک دوه ترتیبه دي، یو ترتیب نزولي او بل ترتیب جمعي۔ په اعتبار د ترتیب نزولي سره د قرآن پاک شروع د اقرا نه ده، په هغې کښې حمد نشته او په ترتیب جمعي کښې په ابتدا کښې حمد دے، نو مصنف د ترتیب جمعي لحاظ نه دے کړے، بلکه د ترتیب نزولي خیال یې ساتلے دے۔ "اووم جواب" دا دے چه مصنف مصدر نه کړه رساله خپله په حمد سره هضماً للنفس، یعني د کسر نفسي د وجې نه سوال څه وجه ده چه مصنف کسر نفسي اختیار کړه۔ جواب دا دے چه مصنف خیال وکړو چه نه دے زما کتاب په شان د کتابونو د سلف صالحینو چه هغوي کتابونه مصدر کړي دي په حمد سره، نو که زه یې هم مصدر کړم په حمد سره، نو بیا به مساوات راشي زما د کتاب د هغوي د کتابونو سره او حالانکه زما کتاب د هغوي د کتابونو په شان نه دے۔ سوال چه ذکر د حمد خو عبادت دے او کسر نفسي په کولو د عبادت سره راځي نه په ترک سره۔ جواب دا دے چه یو عدم تصدیر دے مطلقاً او بل عدم تصدیر دے، په دے ثاني سره چه حمد جز د کتاب نه اوګرځي، نو حمد اګر که مصنف جز د کتاب نه نه دے ګرځولے، لیکن زباني خو به یې ویلي وي ځکه چه عالم او فاضل دے۔ سوال 'کل امر ذي بال لم یبدأ بحمد لله فهو اقطع'، په دے حدیث خو عمل رانغے، بلکه د دے نه مخالفت راغے۔ جواب شروع په حمد باندې عامه ده، کتابةً وي او که قولاً وي، نو دلته کښې مصنف که کتابةً نه دے ذکر کړے، لیکن قولاً به یې ذکر کړے وي۔ سوال چه تاته څه پته ده چه مصنف حمد کتابةً نه دے ذکر کړے نو

قولاً بهٔ یئ ذکر کړے وی ـ **جواب** په حدیث شریف کښې راغلی دی ـ 'ظنوا المؤمنین خیرا' لو تمطلق مومن په باره کښې د خیر د گمان خبره راغلی ده' نو دے خو عالِم او مصنف وو ـ **سوال**. چه حمد یئ قولاً ذکر کړو' نو 'بسم الله' بهٔ یئ هم قولاً ذکر کړی وه ـ **جواب** نکته تا زلره وی' قاریو نه وی' 'بسم الله' خو عموماً د کتابونو په سر کښې ذکر کیږی' که چرته نه یئ وه ذکر کړی' نو دِے له بهٔ موبږ نکتے او وجوهات لټول او د 'بسم الله' په باره کښې خو مستقل حدیث هم منقول دے ـ الا من کتب منکم کتابا فلیکتب فی ابتدائه بسم الله الرحمٰن الرحیم ۔

درس ٭: الـــکلمة !

سوال: اشتغال د مصنفؒ په تعریف د کلمے باندې د اشتغال بما لا یعنی دے، ځکه چه د علم نحو موضوع کلمه او کلام دے او په علم کښې بحث کیږی د هغه علم د موضوع د عوارضو ذاتیونه' نو مصنفؒ له پکار ده چه د کلمے په عوارض باندې یئ بحث شروع کړے وے' لیکن دهٔ د کلمے په ذات او په تعریف شروع وکړه ـ **جواب**. اشتغال د مصنفؒ بما لا یعنی نهٔ دے' بلکه بما یعنی دے په تعریف د کلمے باندې، ځکه چه د یو شی احوال موقوف وی' د هغه شی په معرفت باندې اولاً ـ نو اولاً یئ تعریف د کلمے شروع کړو' ځکه چه دا موقوف علیه دے او موقوف علیه مقدم وی په موقوف باندې ـ
سوال. چه هر کله موضوع د علم نحو کلمه او کلام او گرځیدل' نو څهٔ وجه ده چه کلمه یئ مقدم کړه په کلام باندې' سره د دے نه چه کلمه غیر مفید ده او کلام مفید دے ـ **جواب**. کلمه جزء دے او کلام کل دے او جز مقدم وی په کل باندې طبعاً' نو کلمه یئ مقدم کړه په کلام باندې وضعاً. د پاره د دِے چه موافقت راشی په مابین د وضع او د طبعه کښې ـ **سوال**. کلمه څنګه جزء دے د کلام نه ؟ ـ **جواب**. مراد دے چه مفهوم اجمالی د کلمے دا جزء دے' د مفهوم تفصیلی د کلام نه، د کلمے د تقدیم دریمه وجه دا ده چه' کلمه مفرد ده او کلام مرکب دے' مفرد مقدم دے په مرکب باندې ـ طبعاً، نو په دِے وجه یئ مقدم کړه په کلام باندې. د پاره د دِے چه موافقت راشی د وضع او د طبع په مابین کښې ـ

تقسیم د تعریف تعریف په درے قسمه دے. یو تعریف حدی[1]، بل تعریف رسمی[2] او دریم تعریف لفظی[3]. "تعریف حدی" دِے ته وائی چه' تعریف د یو شی او شی' په تمامو ذاتیاتو سره. لکه تعریف د انسان اوشی په حیوان ناطق سره ـ "تعریف رسمی" چه تعریف د شی په عرضیاتو او په رسمیاتو سره اوشی' لکه د انسان تعریف اوشی په 'مستقیم القامة. بادی البشرة عریض الاظفار ضاحك بالطبع' سره ـ "تعریف لفظی" چه د یو غیر مشهور لفظ تعریف اوشی په مشهور لفظ سره' لکه تعریف د غضنفر اوشی په اسد سره ـ دلته کښې موبږ د کلمه نحویه تعریف کوؤ ـ دا نحویه قید مو په دِے وجه باندې کښېنودو' ځکه چه کلمه په څلور[4] قسمه ده ـ یو[1] کلمه شرعیه

لله " لا اله الا الله محمد رسول الله "۔ دریم کلمه شرعیه، لکه عرب وائی، کلمة الشاعر اے قصیدة الشاعر۔ دریم کلمه عرفیه، دا مطلق لفظ ته وائی چه موضوع وی لو که مهمل۔ څلورمه کلمه نحویه، چه د دے تعریف اوس دلته کښے ذکر کیږی۔ اوس دلته کښے بحث دے، په کلمه او کلام کښے د حیثیت د اشتقاق او د عدم اشتقاق نه، نو په دے کښے اختلاف دے، په مابین د جمهور نحاتو او د بعض نحاتو کښے۔ جمهور نحاة وائی چه "هما اسمان موضوعان برأسهما" ځکه چه بنا د اشتقاق په تکلفاتو بعیده باندے ده، او بعض نحاة وائی چه کلمه او کلام دا مشتق دی او "اسمین برأسهما" نه دی، ځکه چه بنا د اشتقاق په رعایت د تناسب سره ده په مابین د مشتق او مشتق منه کښے او دوئ مشتق دی د "کَلْمٌ" بسکون اللام نه۔ سوال. چه بنا د اشتقاق په تناسب ده، په مابین د مشتق او مشتق منه کښے، نو مناسبت خو په دوه[1] قسمه دے، یو[1] مناسبت لفظی او بل مناسبت معنوی، نو دلته د کلم او د کلمے او کلام په مابین مناسبت لفظی شته، چه د دریواړو ماده یو ده، خو د دوی په مابین کښے مناسبت معنوی نشته۔ ځکه چه کَلْمٌ خو جَرح ته وائی، او کلمه لفظ وضع لمعنی مفرد ته وائی او کلام ما تضمن کلمتین بالاسناد ته وائی، نو د دوی په مابین کښے مناسبت معنوی راغلے۔ جواب. مناسبت معنوی په دریم[2] قسمه دے، یو[1] هغه دے چه مناسبت وی په معنیٰ مطابقی کښے او بل[2] هغه دے چه مناسبت وی، په معنیٰ تضمنی کښے او دریم[3] هغه دے چه مناسبت وی په معنیٰ التزامی کښے، نو دلته اګرچه په دے مقام کښے مناسبت نشته په معنیٰ مطابقی او تضمنی کښے، لیکن په معنیٰ التزامی کښے مطابقت شته لو هغه دا چه څنګه جرح لره اثر دے، په مجروح کښے، نو دغه شان بعضے د کلماتو نه هم لره اثر دے په نفوسو کښے، لکه کلمات د غم او د حزن یا کنځل وغیره، دغه شان حزنیه اشعار لکه چه حضرت علی رض فرمائی چه: جراحات السنان لها التیام ؂ ولا یلتام ملجرح اللسان "۔ یعنی د نیزو زخمونو لره جوړیدل او یو ځائے کیدل شته خو د ژبے زخم لره رغیدل نشته۔ عرب وائی: "جرح الکلام اشد من جرح السهام" یعنی د خبرو زخم دا سخت دے د نیزو د زخم نه یا لکه زما دا شعر چه :-

[1] د زخمونو د نیزو علاج به اوشی ؂ خو د ژبے د پرهر څه دوا نشته (فانی)

سوال دا مناسبت خو په کلام کښے متصور کیدے شی، خو په کلمه کښے نه شی کیدے، ځکه چه کلام مفید د فائدے تامی دے او کلمه نه دا۔ جواب. چه کلام کښے متصور کیږی، نو په کلمه کښے به هم

---

[1]. نمونها استاذ محترم حافظ محمد ابراهیم فانی صاحب تر ډیره ملکے صاحب دی، که ادیب یے ګڼړے، نو دا یے ادیب دے په څلورو ژبو کښے د خپلو لفظی ملغلرو نظمونه غزلیات او مرثیات پیرلی دی او دا شعر هم د یو غزل تکړه دے۔ ۱۲ (م . س).

منصوص کیږی، ځکه چه کلمه جزء دے د کلام نه - بیا سوال واردیږی چه په ټولو کلماتو کښے خو دا تاثیر نشته، بلکه بعض کلماتو کښے دے، نو په ټولو باندې څنګه اطلاق کیدے شی - جواب دادے چه د مشتق او مشتق منه په مابین کښے معمولی مناسبت هم کافی دے۔

درس ۸ زده کړه! داخبره چه په الکلمة کښے لام دے، بحث د امو ثلاثه وو نه - الف لام کلم په کسرې د لام سره او حروف یاء، چونکه کلم معروض دے او الف لام ورته عارض دے - معروض په منزله د ذات دے او عارض په منزله د صفت دے او ذات مقدم وی په صفت باندې - په دے وجه باندې مونږ به د ټولو نه مخکښے بحث د کلم کوو، چه موافقت راشی په مابین د وضع او د طبع کښے، نو په کلم کښے اختلاف دے د حیثیت د جنسیت او د جمعیة نه، په مابین د جمهورو نحاتو کښے او په مابین د بعضو نحاتو کښے - جمهور نحاة والی چه، دا جنس دے او بعض نحاة والی چه، دا جمعه ده - سوال چه اشتغال په بحث د کلم کښے دا اشتغال بمالا یعنی دے، بحث د کلمة نه په کار وو - جواب دادے چه کلم اسم جنس دے، او کلمة ورله فرد جنس دے، لکه تمر اسم جنس او تمرة فرد جنس - پس اشتغال په اسم جنس کښے دا اشتغال دے په فرد جنس کښے - د جمهورو نحاتو د پاره څلور دلائل دی "اول دلیل" دا دے چه، په قرآن پاک کښے راغلی دی: "الیه یصعد الکلم الطیب" - نو دلته کښے د دلیل موافقت د مدعی سره دا دے چه، "الطیبُ" صفت واقع شوے دے، د پاره د کلم - الکلم موصوف دے او قاعده داده چه په مابین د موصوف او د صفت کښے مطابقة ضروری دے، نو چه هر کله د الکلم د پاره صفت مفرد واقع شو، نو دے نه معلومه شوه، چه الکلم مفرد دے، نو ځکه چه که چرے جمع وے، نو بیا خو صفت الطیبات پکار وو- "فائده":- د جنس اطلاق په مفرد تثنیه جمع باندې علی السویه دے - "دوئم دلیل" دادے چه دا تمیز د عدد اوسط واقع کیږی او عدد اوسط نه وی، مګر مفرد لکه "احدعشر کلما" - "دریم دلیل" دا دے چه کلم جمع نه ده، ځکه چه په اوزان د جمع کښے دا وزن نشته - "څلورم دلیل" دا دے چه د دے تصغیر بنفسه راځی، چه کلیم دے - که چرے دا جمع وے، نو اول به مفرد ته نقل شوے وو او پس د هغے نه به د دے تصغیر راتلو، ځکه چه د جمع بالذات تصغیر نه راځی، د بعض نحاتو د پاره صرف یو دلیل دے او هغه دا دے چه په عرف او استعمال کښے اطلاق د دے په ثلاثه او په مافوق د ثلاثه باندې کیږی او دا دلیل دے د پاره د جمعیت د کلم - اوس بعض نحاة د جمهورو نحاتو د دلائلو نه جوابونه ورکوی - د اول دلیل جواب دا دے چه دلته کښے د "الطیبُ" د پاره موصوف محذوف دے چه هغه بعض دے، یعنی الیه یصعد بعض الکلم الطیب، بیا په هغوی دا سوال وارد شو چه تاسو په آیات کښے تاویل ولے کوئ؟ - جواب یے داورکړو چه مونږ تاویل د وجے د ضرورت نه کوو، ځکه چه ټول کلمات خو الله تعالیٰ ته

نه خيژي، بلکه بعض کلمات چه هغه صالح کلمات دي، هغه خيژي او تاويل خوروا دے، لکه چه په دے آيت کښې چه "ان رحمة الله قريب من المحسنين"، اى احسان الله". د جمهورو نحاتو د دوئم دليل نه جواب داکوي، چه تاسو وايئ چه، کلمو تميز واقع کيږي، د عدد اوسط او تميز د عدد اوسط نه وي، مکي مزد وي، نو موږ وايو چه دلته کښې تا مقدره ده، په اصل کښې دے "احد عشر کلمة". د دريم دليل نه ئے جواب نه دے کړے او د څلورم دليل نه دا جواب ورکوي چه تصغير د کلم کليم نه دے، بلکه کليمة دے. په دے جواب کښې ورته جمهور والا چه تاسو تاويل کړے دے، په آيت کښې او تاويل ځي، صرف (..... اړول) د معنىٰ د لفظ د ظاهر نه غير ظاهر ته، نو صيرورة د معنىٰ د لفظ د ظاهر نه غير ظاهر ته دا په وخت د ضرورت شديده کښې کيږي، "ولاضرورة هٰهنا". د دوئم او د څلورم جواب نه ورته جواب ورکوي چه "احد عشر کلمة"، او تصغير د دے "کليمة" دے. دا محض تحکم دے، يعني دا دعوىٰ بلا دليله ده او جمهور نحاة د هغوي د اصل دليل نه دا جواب ورکوي چه "هغوي دليل وو چه اطلاق د دے په ثلاثة يا مافوق د ثلاثه باندې کيږي، چه دا اطلاق په اعتبار د استعمال سره دے او خبره زموږ په اصل وضع کښې ده، په اصل وضع کښې د دے اطلاق په يو لوځ په ثلاثه و مافوق برابر دے، نو معلومه شوه چه کلم جنس دے، جمع نه ده.

درس نمبر ۹:-

هر کله چه مونږ فارغ شو د بيان د معروض نه، نو اوس به شروع کوو، په عارض کښې چه الف لام دی، الف لام په **لغت** کښې مطلق د الف لام ته والي او بعضے علماء والي، چه الف لام په لغت کښې تعيين ته والي او په **اِصطلاح** کښې "کلمة تملي بها کلمة اخرىٰ". يعني داهغه کلمه ده، چه په دے باندې بله کلمه بنا استکيږي، بيا الف لام په دوه قسمه دے، يو اسمي دے او بل حرفي. الف لام اسمي هغه ته والي، چه داخليږي په اِسم فاعل او اِسم مفعول باندې بالاتفاق او په صفت مشبه باندې په سبيلي د اختلاف يعني په دے کښې اختلاف دے، چه په صفت مشبه باندې کوم الف لام داخل دے، د اسمي دے او که حرفي، په اِسم فاعل او اِسم مفعول باندې چه کوم الف لام داخل وي، نو دا اِسمي دي، ځکه چه دا په معنىٰ د الذي او اللتي موصول سره دي او موصولات قسم دے، د اِسم نه په دے وجه دا اِسمي دي او الف لام حرفي بيا په دوه قسمه دي، يو زائد او بل غير زائد. زائد هغه ته والي، چه په اسقاط د هغے سره نقصان په اصل معنىٰ د کلمے کښې نه راځي او غير زائد هغه ته والي چه په اسقاط د هغے سره نقصان په اصل معنىٰ د کلمے کښې راځي.

---

۱. پس د تعريف نه لازم شو، په موږ باندې تقسيم د الف لام، ځکه استاذ صاحب اووئيل چه الف لام په دوه قسمه دي، يعني الولامي دوه قسمه الف لام حرفي په خلاف د اِسمي نه دي، دا بيا په کور خپل کښې په دوه قسمه دي ۲ - (م ع).

د زائد مثال دا دے لکه دا قول د حضرت علی رضی الله عنه: "ولقد امرّ علی اللئیم یسبّنی". دلته کښې اللئیم موصوف او یسبّنی صفت په اللئیم کښې الف لام زائد دی، تعریفی نه دی، ځکه که چرے دا تعریفی شی نو اللئیم به معرفه شی او جمله صفت د معرفه نه واقع کیږی، ځکه چه جمله نکره وی او نکره صفت د معرفه نه شی راتلے ځکه چه په مابین د موصوف او صفت کښې مطابقت ضروری دے۔ پس د دے الف لام زائد په دوه قسمه دے، یو لازم، بل غیر لازم، بیا هر واحد د دے نه په دوه دوه قسمه دے، یو عوضی، بل غیر عوضی، نو دا اقسام څلور شو۔ مثال د الف لام حرفی زائد لازم عوضی، لکه لفظ د "الله" شو، په دے کښې الف لام زائد دی، ځکه تعریف حاصل شوے دے په علمیة سره او لازم دی د وجه د احاطے د علمیة نه په دوی باندے او عوضی دی، ځکه چه عوض د همزه نه راغلے دے، ځکه چه په اصل کښې "اله" وو او د مثال د الف لام حرفی زائد لازم غیر عوضی لکه "النجم، للسحق الثریا" چه دلته الف لام حرفی دی، زائد دی او لازم دی، د وجه د احاطے د علمیت نه په دوی باندے او غیر عوضی دی، ځکه چه دا د چا عوض کښې نه دی راغلی او مثال د الف لام حرفی زائد غیر لازم عوضی، لکه "یا ایها الناس" شو۔ دلته کښې الف لام حرفی دی، ځکه چه په اسم فاعل یا اسم مفعول نه دی داخل او زائد دی، ځکه چه تعریف حاصل شوے دے په حروف ندا سره او غیر لازم دی، د وجه د عدم احاطے د علمیت نه په ده باندے او عوضی دی، ځکه چه دا عوض راغلے د همزه نه چه اناس دے۔ مثال د الف لام حرفی زائد غیر عوضی، لکه دا قول شو چه "فیا الغلامان الذان فرّا" په یا الغلامان کښې الف لام حرفی دی، ځکه چه په اسم فاعل یا اسم مفعول نه دے داخل شوی او زائد دی، چه تعریف حاصل شوے دے په حرف ندا سره او غیر لازم دی د وجه د عدم احاطے د علمیت نه او غیر عوضی دی، ځکه چه د چا نه عوض نه دی راغلی۔

درس نمبر ۱۰: الف لام حرفی غیر زائد په څلور قسمه دی، جنسی، استغراقی، عهد خارجی، عهد ذهنی۔ الف لام جنسی چه اشاره کیږی په دے سره ماهیت د یو شی ته قطع نظر د افرادو نه، ولکه الرجل خیر من المرأة۔ دلته الف لام په الرجل کښې جنسی دی، په دے سره اشاره شوی ده ماهیت د رجل ته چه هغه "نوع مذکر من بنی آدم یتجاوز من حد الصغر الی حد الکبر". الف لام استغراقی تعریف یے دا دے چه استغراقی د استغراق نه مشتق دے او استغراق وائی احاطے ته، دا هغه الف دے، چه په دے سره اشاره کیږی ماهیت د شی ته۔ په ضمن د تحقق د جمیع افرادو کښې لکه قول د الله تعالی "ان الانسان لفی خسر" الف لام عهد خارجی دے ته وائی، چه په دے سره اشاره کیږی ماهیت د شی ته۔ په ضمن د تحقق د فرد واحد کښې چه هغه فرد به معهود وی، په

یه کوم ځائے دا د: فمضیت ثم قلت لایعنینی۔ لیکن مقصد زمونږ په اوّله کڅه کښے دے۔ ۳۔ س۔

چه مونږ فارغ شو د تفصیل د الف لام حرفی زائد نه پس شروع مو کړه په تقسیم د الف لام حرفی غیر زائد کښے۔ ۱۲۔ م۔ س۔

ذهن د متکلم او مخاطب دواړو کښې، لکه "نعصی فرعون الرسول" او الف لام عهد ذهنی دیته وائی چې په دې سره اشاره کیږی ماهیت د شی ته په ضمن د تحقق د فرد واحد کښې چې هغه به معهود فی ذهن المتکلم وی لکه "اخاف ان یاکله الذئب" په الذئب کښې الف لام عهدی دې، ځکه چې په دې سره ماهیت د ذئب ته اشاره شوې ده، په ضمن د تحقق د یو فرد کښې او هغه فرد معلوم دے، په ذهن د متکلم. فقط چې هغه حضرت یعقوب علیه السلام دے. پس د تطبیق نه پس هر واحد د اقسامو باندې یو یو اعتراض وارد یږی.

سوال. چې الرجل خیر من المرأة کښې الف لام استغراقی، عهد خارجی، عهد ذهنی ولے نه صحیح کیږی.

جواب. استغراقی ځکه نه صحیح کیږی چې هغه کښې لحاظ د جمیع افراد کړے شوے وی او ټول افراد د رجل خوخښونه دی د افرادو د مرئے نه، ځکه چې په نساؤ کښې داسې داسې دی چې بهترے دی د سړو نه، لکه بی بی فاطمه، حضرت عائشه، حضرت رابعه بصری وغیره. الف لام عهد خارجی هم نه دی صحیح، ځکه چې هغه سبق معهود غواړی او دلته کښې معهود نشته او الف لام عهد ذهنی هم نه صحیح کیږی ځکه چې هغه قوة د نکرے کښې دی او الرجل مبتدا ده او مبتدا معرفه وی. کہ چیرے په دې کښې دا الف لام عهد ذهنی شی، نو لازمیږی نکارت د مبتدا[1]. سوال. په "ان الانسان لفی خسر" کښې جنس عهد خارجی، عهد ذهنی ولے نه صحیح کیږی. جواب. چې په جنسی کښې اشاره کیږی ماهیت د شی ته، قطع د نظر د لحاظ د افرادو نه، نو دلته کښې نسبت د خسران به ماهیت د انسان ته اوشی، حالانکه د خسران نسبت افرادو ته کیږی، ماهیت ته نه کیږی او الف لام عهد خارجی هم نه صحیح کیږی، ځکه چې هغه سبق معهود غواړی او دلته کښې معهود نشته او دویم وجه دا ده چې دلته کښې استثناء راغلی ده او استثناء د متعدد نه کیږی لو چې الف لام عهد خارجی سره اشاره کیږی واحد ته او د واحد نه استثناء نه راځی او الف لام عهد ذهنی هم نه صحیح کیږی، ځکه چې الانسان اسم د "انّ" دے او اسم حقیقتاً مبتدا وی او الف لام عهد ذهنی په قوة د نکره کښې دی، نو لازمیږی نکارت د مبتدا او دا باطل دے. سوال. په "فعصیٰ فرعون الرسول" کښې دا الف لام جنسی او استغراقی یا عهد ذهنی ولے نه صحیح کیږی. جواب. که چیرے جنسی شی نو معنیٰ به دا شی چې فرعون د معنی[2] د ماهیت نه انکار کړے وو او نافرمانی یې کړې وه، او که استغراقی شی، نو معنیٰ به دا شی چې فرعون د ټولو افرادو د پیغمبرانو نه انکار او نافرمانی کړې وه، حالانکه د هغه زمانه خو مختصره زمانه وه ټول پیغمبران د هغه په زمانه کښې نه وو راغلی، نو دلته کښې

---

[1] او نکارت د مبتدا بغیر تخصیصه باطل دے. (م-س).

[2] نافرمانی د ماهیت نه غیر متصور ده، بلکه د افرادو نه کیږی. ۱۲. (م-س).

دَ الرسول نه هغه معهود رسول مُراد دے، چه په ذهن دَ متکلم اَوْ دَ مخاطب کښے دے چه هغه موسیٰ علیه السلام دے، نو دا الف لام عهد خارجي دی اَوْ الف لام عهد ذهني هُم نهٔ جوړیږی.... .... حٔکه چه په هغه کښے خو معهود فی ذهن المتکلم وی، فقط۔[1]

درس سال: په څلورم مثال چه "اخاف ان یاکله الذئب" دے، باند **سوال** واردیږی چه دلته کښے الف لام جنسی استغراقی اَوْ عهد خارجي ولے نهٔ صحیح کیږی. **جواب** داد ے چه جنسی شیٔ نو بیانیهٔ لازم شیٔ، صدور د اُکل دَ جنس ماهیت دَ ذئب نه اَوْ صدور د اُکل دَ افرادو نه کیږی. نهٔ دَ ماهیت نه اَوْ استغراقی هُم نهٔ صحیح کیږی، حٔکه چه په هغه صورت کښے به لازم شی، صدور د اُکل په لحم دَ حضرت یوسف علیه السلام دَ جمیع افرادو دَ شرمخالونه، اَوْ عقلاً دا خبره محاله ده چه جمیع شیٔ تمام افراد دَ شرمخالو په لحم دَ حضرت یوسف علیه السلام باندې اَوْ الف لام عهد خارجي هُم نهٔ صحیح کیږی، حٔکه چه هغه سبق معهود غواړی اَوْ دلته کښے لیے یو معهود پرشته، چه هغه دَ یو پیغمبر غوښه اوخوری، حٔکه چه پرشته دے قدرت دَ یو شی لوْ، دَ اشیاء دَ دُنیا نه په اُکل دَ پیغمبر باندې به خارج کښے.


درسِ تحقیق. په تاء کښے دے - تاء په څلور معنو باندې راځی. ۱: تانیث دَ پاره لکه قائمة. ۲: دَ تذکیر دَ پاره لکه ثلٰثة. ۳: دَ نقل دَ وصفیت نه علمیت دَ پاره لکه کافیة. ۴: دَ مبالغې دَ پاره لکه علامة. ۵: تاءِ عوض، لکه عدة، (دا بدل دَ واؤ نه راغلی ده). ۶: دَ پاره دَ فرق په مابین دَ جنس اَوْ فردِ جنس کښے، لکه تمرٌ اَوْ تمرةٌ. ۷: دَ پاره دَ وحدة لکه تمرة خو من مرادة. ۸: دَ پاره دَ غائب لکه ضَرَبَتْ. ۹: دَ پاره دَ مخاطب لکه ضَرَبْتَ. ۱۰: دَ پاره دَ متکلم، لکه ضَرَبْتُ. **سوال.** چه په الکلمة کښے دا الف لام کوم قسم دے؟ اِسمی هُم نهٔ صحیح کیږی، حٔکه چه الف لام اسمی په اِسم فاعل اَوْ اِسم مفعول باندې داخلیږی اَوْ کلمه خو نهٔ دَ اِسم فاعل صیغه ده اَوْ نهٔ دَ اِسم مفعول. اَوْ که الف لام حرفی زائد واخلے، نو دا هم نهٔ صحیح کیږی، حٔکه چه لازمیږی نکارة دَ مبتدا اَوْ که غیر زائد کښے الف لام جنسی واخلے، نو هُم نهٔ صحیح کیږی، حٔکه چه په آخر دَ الکلمة کښے "ة" دَ پاره دَ وحدت راغلی ده اَوْ په مابین دَ جنس اَوْ دَ وحدت کښے منافات دے اَوْ الف لام استغراقی هُم نهٔ صحیح کیږی، حٔکه چه لازمیږی تعریف دَ افرادو حالانکه تعریف دَ ماهیت کیږی نهٔ دَ افرادو اَوْ الف لام عهد خارجي هُم نهٔ صحیح کیږی، حٔکه چه هغه غواړی سبق معهود اَوْ الف لام عهد ذهني هم نهٔ صحیح کیږی، حٔکه چه لازمیږی په دغه وخت کښے نکارت دَ مبتدا، حٔکه چه الف لام عهد ذهني په قوت دَ نکرې کښے دے؟ - **جواب** دا دے چه په

---

[1] اَوْ دا خو متکلم اَوْ مخاطب دواړو ته معلوم دے. دَ متکلم نه مراد "اللّٰه تعالیٰ" دے اَوْ مخاطب "نبی ﷺ" دے. ۲۱۲/۳

الکلمة کښې الف لام غیر زائد جنسي دے، که ته وائې چه دَ الکلمة په آخر کښې تا راغلې ده او دا دَ پاره دَ وحدة ده او منافاة دے، په مابین دَ جنسیت او دَ وحدت کښې، نو موږ وایو چه نشته دے منافات په مابین دَ جنسیت او دَ وحدت کښې ځکه چه وحدت په څلور قسمه دے[۱] وحدت جنسي، وحدت نوعي، وحدت صنفي او وحدت فردي او دلته کښې منافات په مابین دَ وحدت نوعي، وحدت صنفي او وحدت فردي کښې دے او نه په مابین دَ وحدت جنسي او جنس کښې۔ او دلته کښې دا تا راغلې ده دَ پاره دَ وحدت جنسي۔

دَوېم **احتمال**[۲] دا دے چه دلته په الکلمة کښې الف لام عهد خارجي دی، که ته وائې چه سبق معهود نه وي او دلته کښې معهود نشته، نو **جواب** دا دے چه دلته کښې معهود شته دے او هغه هغه کلمه ده چه جاري ده په السنة ودَ نحاتو باندې۔ **سوال** په دغه صورت کښې خو لازميږي۔ تعریف دَ فرد او تعریف خو دَ ماهیت کیږي نه دَ فرد۔ **جواب** دا دے چه الکلمة اګر که په اعتبار دَ معنی لغوي سره یو فرد دے لیکن په اعتبار دَ معنی اصطلاحي سره دا جنس دے او دَ دے لاندې مختلف انواع دی چه اسم دے، فعل دے او حرف دے۔



---

۱. وحدة جنسي هغې ته وائې چه دے شامل وي تمامو افرادو دَ جنس لره لکه مثال ئې حیوان دے په (نور به ئې راشي)..

۲. دوهم جواب۔ م.س۔

درس ۱۲

لفظ هرکله چه مونږ فارغ شو دَ بیان دَ کلمې اَوْ دَ متعلقاتو دَ هغې نه، نو اوس به مونږ بحث کوو، دَ لفظ[1] نه - لوئیس زده کړه دا خبره چه لفظ په **لغت** کښې مطلق رمې ته وائي - برابره خبره ده چه دَ فم نه وي که دَ غیرِ فم نه وي، لفظ وي اَوْ که غیرِ لفظ وي. مثال دَ هغه چه دَ فم نه وي اَوْ لفظ وي، لکه زيدٌ قائمٌ، اي قلت هٰذا القول. مثال دَ هغې چه دَ فم نه وي اَوْ غیرِ لفظ، لکه اكلت التمرة ولفظت النواة. مثال دَ هغې چه دَ غیرِ فم نه وي اَوْ لفظ نه وي، لکه لفظت الرحى الدقيق، اَوْ چه دَ غیرِ فم نه وي اَوْ لفظ وي، دا محال دے - دَ دې دَ پاره څه مثال نشته - **سوال** چه الکلمة مبتدا ده اَوْ لفظ ورله خبر دے، نو دلته کښې حمل دَ مصدر وصف راغې په ذات اَوْ دا ناجائز دے -

جواب دا دے چه لفظ یا ابتداءً په معنیٰ دَ مایتلفظ به الانسان سره دے اَوْ یا پس دَ جعل دَ دې نه په معنیٰ دَ ملفوظ سره دے اَوْ که مجرّد کښې ابتداءً وي، نو بیا په مابین دَ دوی[2] کښې علاقه دَ سببیت اَوْ مسببیت شي اَوْ که مجرّد په معنیٰ دَ ملفوظ شي، نو بیا به دَ دوی په مابین کښې علاقه دَ خاص اَوْ عام شي -

اِصطلاحي تحقيق دَ لفظ

دَ لفظ دوه اِصطلاحي تعريفه دي. یو عام دے، اَوْ بل خاص دے. عام تعريف خو يې دا دے چه مايتلفظ به الانسان دے اَوْ خاص تعريف يې دا دے چه صوت يخرج من فم الانسان معتمداً على المخارج. يعني داسې آواز دے چه اوځي دَ خلې دَ انسان نه اَوْ اعتماد يې کړے وي په مخارجو باندې دا تعريف شامل دے صرف الفاظو دَ انسان لره، اَوْ دَ نورو حيواناتو الفاظ اَوْ اصوات ترې نه خارج شو. **سوال** ستا دا تعريف مانع نهٔ شو دَ دخول دَ غير نه اَوْ داخل شو په کښې لسان "ثُرِيه" ځکه چه په هغې باندې هم تلفظ کيږي. **جواب** په مايتلفظ به الانسان کښې باء دَ استعانت دَ پاره نهٔ ده، بلکه دا باء يا دَ پاره دَ تعديت ده اَوْ يا زائده ده. تقدير دَ عبارت به داسې شي 'مايتلفظ الانسان'. يا باء په معنیٰ دَ علٰي سره ده اَوْ تقدير دَ عبارت به داسې شي چه 'مايتلفظ عليه الانسان' - **سوال** ستا دا تعريف مستلزم دے دور لره اَوْ دور وائي توقف دَ شي وته په نفس خپل باندې - دَ جهة ولحده[2] نه يا دلته کښې لازميږي.

(حاشیه دَ بل مخ نه) ... نسبت سره الانسان، بقر، فرس، ونه - وحدت نوعي دے ته وائي چه دے دَ يو نوع تمامو افرادو ته شامل وي، که الانسان په نسبت سره زيد، عمر، بکر وته - وحدت صنفي دے ته وائي چه يو علاقه افرادو ته شامل وي، لکه افراد النسانيه دَ يو ښار - وحدت نوعي دے ته وائي چه يو خاص فرد ته شامل وي - م - س.

[1] يعني په مابين دَ مبتدا اَوْ خبر کښې به علاقه دَ سببيت اَوْ مسببيت راشي بناء په احتمال اَوَّل سره اَوْ هر چه (نور په بل مخ) ...

[2] لکه آ موقوف دے په با اَوْ با موقوف دے ده په آ - پس آ موقوف دے په آ باندې - ۱۲ - م - س.

اخذ د محدود په حد کښې، اَو دا باطل دے دور یا اخذ د محدود په حد کښې په دے طریقې سره چه په تعریف د لفظ کښې، تا اُوئیل چه مایتلفظ به الانسان، نو په تعریف کښې یتلفظ راغلے دے اَو د یتلفظ ماده لفظ دے نو معنیٰ به دا شی چه اللفظ لفظ لَو دا نهٔ دے مکرد دو جواب دور به هله لازمیده، چه جهة واحده اَو دلته کښې خو جهت واحده دے، بلکه مختلف جهتونه دی چه په جانب د معرف کښې کوم لفظ دے هغه نه مُراد لفظ لغوی دے اَو په تعریف کښې کوم لفظ راغلے دے، د هغه نه مراد لفظ اصطلاحی دے، نو جهتین مختلف شو، لیس دور لازم نهٔ شو، دویم جواب دا دے چه یتلفظ په معنیٰ د ینطق سره دے اُوس د لفظ په تعریف کښې څو قیودات لګولے د پاره د دفع د اعتراضاتو ما یتلفظ به الانسان عام دے حقیقی وی که حکمی، موضوع وی که مهمل، مفرد وی که مرکب، په جمیع احیان کښې وی که په بعض احیان کښې وی، بنوعه وی که بشخصیه وی۔ **فوائد** د قیودو دادی چه د حقیقی وی که حکمی قید منویه دے وجه ولګوؤ چه **سوال** وارد بدو، چه ستا تعریف جامع نهٔ شو افراد ولره اَو خارج شو، ترے نه الفاظ منویه، یعنی هغه الفاظ چه په نیت کښې مراد وی لکه زید ضرب، زید مبتدا، ضرب فعل ضمیر په کښې مستتر دے چه هُوَ دے، هغه د دے فاعل، نو په زید اَو ضرب باندې خو تلفظ اوشو، ولے په هُوَ نهٔ دے شوے **جواب** منویه دسره قید ولګوؤ چه مایتلفظ به الانسان عام دے حقیقتاً وی اَو که حکماً، نو په هُوَ باندې تلفظ حکماً راغلے دے، بیا پرے **سوال** راځی چه: دا حکمی ولے دے؟ **جواب** دا دے چه دا د قبیلې د حرف اَو صوت نه نهٔ دے، نو بیا پرے **سوال** راځی چه هر کله دا د قبیلې د حرف اَو صوت نه نهٔ شو، نو دے ته مے معنیٰ نه وائے؟ **جواب** دا دے چه د معنیٰ د پاره لفظ وی اَو د دے لفظ نشته، په دے جواب **اعتراض** راځی چه د دے د پاره ولے لفظ نشته؟ دا هُوَ چه دے؟ **جواب** دا دے چه دا استعمال د منفصل راغلے دے، د پاره د متصل۔

درس ۱۳: **سوال** چه منوی هر کله د قبیلې د حرف اَو صوت نه نهٔ شو، نو څهٔ دلیل دے په دے باندې، چه دا لفظ حکمی دے۔ **جواب** دلیل په دے باندې استعمال د فاعلو دے، هغه په دے طور سره چه فاعل جاری کړی دی، په دۀ احکام د لفظ حقیقی چه دا مسند الیه واقع کیږي، مبدل منه واقع کیږي، حال د دۀ نه راځی، تاکید یے راځی، لکه اسکن انت وزوجك الجنة وغیره۔ **سوال** ستا دا تعریف جامع نه شو، افرادو لره اَو خارج شو ترے نه الفاظ مهمله، ځکه چه ظاهر متبادر د الفاظو نه الفاظ موضوعه دی؟ **جواب** موږ په تعریف کښې قید لګولے وو، چه موضوعه که مهمله! **سوال** ظاهر متبادر د الفاظو نه

(پاتے د بل مخ نه)... احتمال ثالث دے، یعنی پس د جعل نه په معنیٰ د ملفوظ نو په دے صورت کښې به په مابین د مبتدا چه الکلمة دۀ اَو په مابین د خبر چه لفظ دے کښې علاقه د خاص اَو عام شی۔ ۱۲ (محمد سلیم سواتی)

الفاظ مرکبه دی ځکه چه دا مفید دی، د پاره د فائدے، نو مفرد پرے هغه خارج شو. جواب. الفاظ عام دی، مفرد دی که مرکب **سوال** چه په "مایتلفظ به الانسان" سره تر کلمات الله لکه قرآن مجید شو، د هغې الفاظ خارج شو او دغه شان کلمات الملٰئکه، لکه دا قول د حضرت جبرئیل علیه السلام:-

ان فی الجنه نهر من لبن لعلی و حسین و حسن

لکه دا قول د یو جنی شو:-

قبر حرب بمکان قفر لیس قرب قبر حرب قبر

یا دا قول د جنات "تعا کماتم افرانقعوا"- جواب. مونږ په تعریف کښے دلیل وو، چه په جمیع احیانو کښے وی که په بعض احیانو کښے، که بالفعل وی که یا بالقوه **سوال** د تعریف د لفظ نه هغه الفاظ او وتل چه محذوف وی، په حذف جوازی سره، نو مونږ **جواب** کوو چه په جمیع احیانو کښے وی که په بعض احیانو کښے وی، نو په دوئ باندے اکر که په جمیع احیانو کښے تلفظ نه کیږی، لیکن په بعض احیانو کښے ورباندے تلفظ کیږی.

سوال چه ستا د تعریف نه هغه محذوفات خارج شول چه حذف ئے واجب، په حذف وجوبی سره.

جواب مونږ په تعریف کښے دا قید لګولے وو، چه بنوعه وی که بشخصه وی، نو محذوفات په حذف وجوبی سره، په دوئ باندے اکر که تلفظ نه کیږی بشخصه، لیکن بنوعه ورباندے کیږی، ځکه چه د دوئ خود نوع د الفاظو نه دی. **سوال** دلته په مصنف باندے دا سوال واردیږی، چه د ده د پاره مناسب وو، دا خبره چه په تعریف د لفظ کښے ئے یو قید زائد راوړے وے د پاره د دے چه هغې سره د وال اربعه د تعریف د لفظ نه خارج شوی وے، چه هغه خطوط عقود، نصب او اشارات دی.- د دے اعتراض **جواب** ملا جامی ورکړے، هغه فرمائی چه اخراج د شی سبق دخول غواړی، چه یو شی داخل نه وی، نو هغه به څنګه خارجیږی، نو دلته هم دوال اربعه په تعریف د لفظ کښے داخل نه دی، نو څنګه به ئے خارجوے. **سوال** کافیه خو ماخوذه د مفصل[2] نه او صاحب د مفصل تعریف د لفظ دا سے کړے دے چه "الکلمة لفظة" او ابن حاجب[3] په ځائے د لفظة کښے لفظ راوړے دے، نو ده ولے د صاحب د مفصل نه مخالفت اوکړو. **جواب** صاحب مفصل د وحدة قصد کړے دے په کلمه کښے.- او ابن حاجب د وحدة قصد نه دے کړے، نو فائده د اختلاف به دا شی چه عبدالله په حین د علمیت کښے مرکب دے، په نزد د صاحب مفصل او مفرد دے، په نزد ابن حاجب باندے.- بیا پرے **سوال** واردیږی چه لفظة د ولے ونه وے، چه موافقت راغلے وے، د

---

[1] یا جواب دا دے چه تلفظ پرے ابتداءً شوے وی یا ثانیاً پس کلمات الله وغیره بقول ملفوظ شو په کښے ۱۲۰(م.س)

[2] مفصل د علامه زمخشری تصنیف دے ۲ م.س)

صاحب دَ منفصل سره اَو بل دا چه موافقت به راشي په مابين دَ مبتدا اَو خبر کښې. **جواب** په مبتدا اَو خبر کښې مطابقت مشروط دے په څو شرطونو سره. اَوّل دا چه خبر دَ مشتق وی، جامد دِ نه وی. دَوَیم دا چه مبتدا اَو خبر دِ دواړه اسمونه ظاهرين وی. دَرِیَم دا چه په خبر کښې دِ ضمير وی، چه راجع وی مبتدا ته. ۴: خبر دِ صفت خاصه دَ مؤنث نه وی. ۵: خبر دِ داسے نه وی چه مذکر اَو مؤنث په کښې برابر وی. ۶: خبر دِ اسم تفضيل مستعمل په من سره نه وی. ۷: دا چه خبر په وزن دَ **فعيل** په معنیٰ دَ مفعول سره نه وی اَو اَتم ۸ دا چه خبر په وزن دَ **فعول** په معنیٰ دَ فاعل سره نه وی، لو دلته کښې په الکلمة لفظ کښې اول شرط منتفی دے، لو ده حُکم لفظ دارو. **سوال** دا پوره ذکر شوی شرطونه خو دَ پاره دَ وجوب دَ مطابقت دی، لو دلته کښې وجوباً که مطابقت دَ انتفاء دَ شرط دَ وجه نه نشته، لیکن احسن اَو بهتر خو دا دے چه الکلمة لفظية وَیلے وے. **جواب** بناء دَ متن په اختصار ده. دَوَیم **جواب** دا چه خير الكلام ما قل ودلّ.

درس ۱۴

وُضِعَ دا صيغه دَ فعل ماضی مجهول ده اَو قاعده دا ده چه هر کله دَ یو مشتق وضاحت اَو تشریح مطلوب وی، لو اَوّل دَ هغے دَ مشتق منه اَو دَ مصدر تحقيق اوکړی، دَ پاره دَ دے چه معرفت تفصيلی حاصل شی، لو به هغه سره بيا دَ مشتق وضاحت اُوشی، لو دلته کښې دَ وضع دَ پاره مشتق منه الوضع ده، لو مونږ به دَ دِے نه بحث شروع کړو، پس نو گورو دا خبره چه وضع په **لغت** کښې ښودن اَو کېښودو ته وائی اَو عربی تعريف ئے دا دے جعل الشیء فی حيز الشیء یعنی کېښودل دَ یو شی په مکان دَ هغه شی کښې. **اِصطلاحی** تعريف ئے دا دے چه تخصيص شيٍ بشيٍ بحيث متى اطلق او احس الشيئ الاول فهم منه الشيئ الثانی بعد العلم بالوضع بفهم جديد لا بفهم سابق. تخصيص دَ یو شی دے په بل شی پورے په دِے شان سره چه کله اطلاق وشی په شئ اَوّل باندِ اطلاق صحيحه يا احساس وشی دَ شی اَوّل لو فهم کیږی به دَ دِے نه شئ ثانی، پس دَ علم نه په وضعه باندِ بے دَ فهم سابقه نه. **سوال** تخصيص شيٍ بشيٍ به خالی نه وی يا به دَ شی اَوّل نه مراد لفظ شی اَو دَ دوَیم شی نه به مراد معنیٰ شی، لو مطلب به دا شی چه، تخصيص دَ لفظ په معنیٰ پورے بيا خو تِرِ نه مشترکات خارج شو ځکه چه مشترک تخصيص دَ لفظ په یو معنیٰ پورے نه وی راغلے، بلکه دَ یو لفظ دَ پاره ډیر معنے وی، لکه لفظ دَ عين مثلاً چه دَ عين کثيری معنے دی، يا به دَ شی اَوّل نه مراد معنیٰ

---

۱. تشریح په معنیٰ دَ مجروح سره. (م. س) ۲. لکه صبورٌ په معنیٰ دَ صابر سره. (م. س)

شئ اَؤ دَ شئ ثاني نه مراد لفظ شئ، نو مطلب به دا شي چه **تخصيص** دَ معنىٰ په لفظ پورے، نو بيا خو ترِنه مرادفات خارج شو، ځکه چه مرادف خو دِے ته وائي چه دَ ډيرو الفاظو دَ پاره يو معنىٰ راغلي وي، لکه قعود او جلوس. **جواب** تخصيص په معنىٰ دَ جعل سره دے اَؤ يا په معنىٰ دَ وجود سره دے، نو اوس سوال نه پيدا کيږي. **سوال** اطلاق دَ ولے مقيد کړو په قيد صحيحه سره. **جواب** دا دَ پاره دَ دفع دَ **سوال** چه ستا دا تعريف جامع نه شو، خپلو افرادو له اَؤ خارج شو ترِنه حروف، ځکه چه په حروفو کله اطلاق وشي نو بغير دَ ضم دَ ضميمه نه معنىٰ په فهم کښے نه راځي، نو مونږ **جواب** اوکړو چه مراد دَ اطلاق نه اِطلاق صحيحه دے اَؤ دَ حرف اطلاق بغير دَ ضم دَ ضميمه نه صحيح نه دے اَؤ يا دا چه مراد په اطلاق سره هغه اطلاق دے چه په محاوراتو کښے استعماليږي اَؤ په محاوراتو کښے استعمال دَ حرف بغير دَ ضم دَ ضميمه نه نه کيږي. **سوال** په تعريف دَ وضع کښے دَ قيد دَ بعد العلم بالوضع، ولے اولګولو؟ **جواب** دا دَ پاره دَ دفعے دَ سوال. **سوال**. هغه دا چه ډير ځله اطلاق په يو شي باندِ اوشي او نه پوهه دَ شي ثاني، چه معنىٰ ده هغه رانه شي. مثلاً يو جاهل باللغة ته چه څوک خبره اوکړي شي نو هغه ته خالي هيئت اَؤ صوت دَ لفظ حس شي، ليکن معنىٰ يے نه فهم کيږي؟ نو مونږ **جواب** اوکړو چه مراد په فهم سره پس دَ علم نه دے په وضع باندِ. **سوال** په تعريف دَ وضع کښے دِ قيد دَ بے دَ فهم سابقه ولے کښېښودو. **جواب** دا دے چه دا دَ پاره دَ دفع دَ سوال. **سوال** دا وارديږي چه ستا دَ تعريف نه اطلاق ثاني خارج شو، ځکه چه فهم دَ معنىٰ خو په اطلاق اوّل سره راغلے وي، لکه ته اَؤوائے جاءني زيدٌ زيدٌ، نو دلته کښے زيد ثاني ترِنه خارج شو. **جواب** دا دے چه بے دَ فهم سابقه نه مراد فهم جديد دے په او اَحِس باندِ. **سوال** وارديږي چه اَؤ دَ پاره دَ تشکيک راځي اَؤ دا خو مقام دَ تعريف دے اَؤ مقام دَ تعريف محل دَ تشکيک نه وي، بلکه تعريف يقين پيدا کوي اَؤ دا منافي دے دَ شک سره. **جواب** اَؤ په دوه قسمه دے. يو راځي دَ پاره دَ تنويع اَؤ بل راځي دَ پاره دَ تشکيک دلته کښے ترِنه اَوّل مراد دے.

درس ۱۵:


دَ دے نه پس [illegible] دا خبره چه وضع په دوه قسمه ده. يو وضع نوعي بله وضع شخصي. وضع نوعي هغه ده چه په جانب دَ لفظ کښے لحاظ دَ مفهوم کلي کړے شوے وي اَؤ وضع شخصي هغه ته وائي چه په جانب دَ لفظ کښے لحاظ دَ مفهوم کلي نه وي. وضع نوعي په دوه قسمه ده، يو وضع نوعي ده په حقائقو کښے او بله وضع نوعي ده په مجازاتو کښے. وضع شخصي هم په دوه قسمه ده، يو عامه ده، بله خاصه ده. عامه هغه ده چه په جانب دَ معنىٰ کښے لحاظ دَ مفهوم کلي وي اَؤ خاصه هغه ته وائي چه په جانب دَ معنىٰ کښے لحاظ دَ مفهوم کلي نه وي. د هغه شان موضوع له هم په

دوه قسمه دي. يو عام دے او بل خاص دے. موضوع لهٔ عام هغه دے چه دلالت کوي په کثير بما هو کثير باندې او موضوع له خاص هغه دے، چه کثير بما هو واحد او يا واحد بما هو واحد باندې دلالت کوي، پس د دې نه مجموعه څلور اقسام حاصل شول، يو وضع عامه موضوع له عام هغه دے چه وضع د لفظ شوي وي د پاره د کثير بما هو کثير په لحاظ د مفهوم کلي سره، لکه جموع د ضمائرو او د اسمائے اشاراتو او وضع عامه موضوع له خاص. چه وضع د لفظ شوي وي د پاره د کثير بما هو واحد په لحاظ د مفهوم کلي سره، لکه مفردات د ضمائرو او د اسمائے اشاراتو او وضع خاصه موضوع له خاص چه وضع د لفظ شوے وي د پاره د واحد بما هو واحد بے د لحاظ د مفهوم کلي نه، لکه لفظ د زيد شو، يعني دلالت په ذات د زيد شو د زيد. دلته کښې وضع هم خاصه ده او موضوع له هم خاص دے او وضعه خاصه موضوع له عام چه وضع د لفظ شوے وي د پاره د کثير بما هو کثير بے د لحاظ د مفهوم کلي نه. دلته وضع خاصه ده، ځکه چه لحاظ د مفهوم نهٔ دے راغلے او موضوع له عام دے ځکه چه کثير بما هو کثير دے او دا قسم مجرد احتمال عقلي دے، مثال ورله نشته. ؎

درس ۱۶

لِمَعْنًى معنىٰ د عنى يعنى نه وتے دے په معنىٰ د قصد سره راځي **او په اصطلاح** کښې ما يتعلق به القصد عن الغير يا ما يقصد بالشيئ ته وائي، يعني چه په شي د څه نه قصد شي. **سوال** چه معنىٰ به يا مصدر ميمي وائے او يا به ئے صيغه د ظرف وائے که صيغه د مصدر ميمي شي، نو معنىٰ به ئے دا شي چه کلمه داسي لفظ دے، چه وضع شوے دے د پاره د قصد کولو او که چرته صيغه د ظرف شي، نو معنىٰ به ئے دا شي، چه کلمه داسي لفظ دے چه وضع شوے دے د پاره د ځائے يا د زمانے د قصد او دا دواړه معنے غير صحيح دي. **جواب** دا صيغه د ظرف ده او په معنىٰ د مفعول باندې ده، بيا به باندې **سوال** وارديږي چه په مابين د ظرف او د مفعول کښې څه علاقه ده؟ **جواب** دا دے چه دا دواړه د متعلقاتو د فعل نه دي او

؎



دویم احتمال دا دے چه دا صیغه دَ مصدر ده اَؤ په معنیٰ دَ مفعول باندِ ده. بیا مد باندِ **سوال** راغۍ چه دَ دوئ په مابین کښے څهٔ علاقه ده؟ **جواب** دا دے چه دَ دوئ په مابین کښے دوه علاقے دی. یو دَ مشتق مشتق منه دعے دَ کلیت اَؤ دَ جزئیت دریم احتمال دا دے، چه خودَ معنی صیغه دَ اسم مفعول ده، ځکه چه دا په اصل کښے معنوی په وزن دَ مفعول وه، په معنویٌ کښے واؤ اَؤ یا جمع شو. واؤ معنوٌ په یاء باندِ بدل کړو، اَؤ یاء په یاء کښے مدغم شوه، بیا داضمه دَ نون دَ یاء دَ مناسبت نه په کسرے بدله شوه، نو معنیٌ شو، نو بیا دا کسره خلاف القیاس په فتح باندِ بدله کړے شوه، بیا دا یوه یاء دَ پاره دَ تخفیف خلاف القیاس حذف کړے شوه، نو معنیٰ شوه. **سوال** ذکر دَ معنے پس دَ وضع نه مستدرک (یعنی بے فائدے دے) ځکه چه دَ وضع په مفهوم کښے معنیٰ موجوده ده.

جواب په وضع کښے تجرید کړے شوے دے اَؤ تجرید خالی کول دَ لفظ دے، دَ دخیل بعض معنیٰ نه، مثلاً په دے آیت شریف کښے "سبحان الذی اسرے بعبده لیلاً من المسجد الحرام" اسریٰ السیر فی اللیل" یعنی دَ شپے سفر ته وائی، نو په دے کښے دَ ذکر دَ شپے راغلے دے، لیکن چه هر کله وروسته ئے ذکر دَ لیلاً راغے، نو په دے کښے تجرید اوکړے شو، چه اوس اسریٰ صرف په معنیٰ دَ تللو اَؤ دَ سیر کولو سره دے. بیا **سوال** واردیږی چه دَ لفظ راوړلو ته هم ضرورت نشته، ځکه چه دَ وضع په مفهوم کښے لفظ موجود دے. په تخصیص شئ بشئ کښے دَ یو شی نه لفظ مراد دے اَؤ دَ بل نه معنیٰ، نو چه څنګه په تجرید سره تا معنیٰ دَ وضع نه خارجه کړه، نو دغه رنګه لفظ هم خارج کړه. **جواب** دا دے چه په وضع کښے تجرید ثانیاً شوے دے، چه لفظ هم تر ته خارج شو.

سوال بیا دَ لفظ ذکر کولو ته څهٔ ضرورت دے؟ **جواب** په تعریف کښے لابدی وی دَ جنس اَؤ دَ فصل نه، نو لفظ ئے ذکر کړو، دا په منزله دَ جنس دے، تمام الفاظ په دے کښے داخل شو، په وضع فصل سره تر نه الفاظ مهمله خارج شو، په لمعنیٌ فصل سره تر حروف هجاء خارج شو چه هغه وضع شوی دی دَ پاره دَ ترکیب. **سوال** چه هر کله وضع دَ حروف هجاء دَ پاره دَ ترکیب راغلی ده، نو دا دَ دے معنیٰ شوه، ځکه دَ دے نه قصد هم دغه ترکیب دے. **جواب** دا تر نه خارج شو، ځکه چه موږ وئیلی وو چه کله په دے اطلاق اوشی، نو معنیٰ به تر نه فهم کیږی اَؤ په حروف هجاء باندِ چه کله اطلاق اوشی، نو دا معنیٰ تر نه فهم کیږی، چه وضع دَ دوئ دَ پاره دَ ترکیب راغلی ده. **سوال** ستا دا تعریف دَ معنیٰ جامع نه شو افرادو خپلو له، لَکه خارج شو تر نه هغه الفاظ[1] چه وضع شوی وی، دَ پاره دَ الفاظو، لکه اِسم. مثلاً وضع دے دَ پاره دَ زیدٌ اَؤ فعل، مثلاً وضع

---

[1] دَ نحویٌ. دَ قاعدے مطابق واؤ په یاء بدل شو. م.س.

وې د پاره دَ ضرب اَوْ حرف وضع دے، دَ پاره دَ مِنْ۔ **جواب** دلته دَ معنیٰ نه مراد مایتعلق بهٖ القصد عن الغیر یا مایقصد به الشئ دے، نو په دے کښې قصد عام دے چه لفظی وی اَوْ که معنی.

درس نمبر ۱:- سوال تعریف دَ کلمے جامع نه شو، خپلو افرادو لره، ځکه چه واړه چه کلمه هغه لفظ دے چه وضع شوی وی دَ پاره دَ معنیٰ مفرد، نو دَ دے نه هغه الفاظ خارج شو چه وی مفرد لیکن په معنیٰ مرکب باندِ دلالت کوی، لکه جمله اَوْ کلام شو۔ **جواب** مثلاً لکه زیدٌ قائمٌ دا جمله یا کلام دے، نو دے لره دوه اعتباره دی. یو اعتبار دَ نسبت دَ دے دے خپل نفس ته اَوْ دویم اعتبار دَ نسبت دَ دے دے هغه لفظ ته چه دال دے په دے باندِ، نو که چرته لعتبار دَ دے خپل نفس ته واخلے، بیا خو مرکب دے اَوْ چه اعتبار ئے هغه لفظ ته واخلے چه دال دے، په دے باندِ، نو بیا مفرد دے. دویم **جواب** دَ اصل سوال دا دے، چه دا خبره مرینه نه منو، چه بعض الفاظ وضع شوی دی په مقابله دَ الفاظو کښې، برابره خبره ده چه مفرد وی اَوْ که مرکب، بلکه دا وضع شوی دی دَ پاره دَ مفهوم کلی۔ په دے جواب باندِ **سوال** واردیږی، چه ستا دا قاعده منقوضه شوه، په ضمائرو باندِ اَوْ اسمائے اشاراتو باندِ، ځکه چه دوئ وضع شوی نه دی، دَ پاره دَ مفهوم کلی، بلکه دوئ دلالت کوی په جزئیاتو متعددو متعینه باندِ۔ **جواب** په ضمائرو اَوْ په اسمائے اِشاراتو کښې دوه مذهبه دی. یو دَ متقدمینو اَوْ بل دَ متاخرینو ----------

دَ متقدمینو مذهب دا دے چه ضمائر اَوْ اسمائے اِشارات وضع شوی دی دَ پاره دَ مفهوم کلی، لیکن په شرط دَ استعمال، دَ دے په جزئیاتو کښې اَوْ دَ متاخرینو په نزد باندِ وضع دَ دوئ دَ پاره دَ جزئیاتو متعدده وه ده، لیکن سره دَ لحاظ دَ مفهوم کلی نه، نو دلته کښې جواب دَ مصنف بنا دے په منصب دَ متقدمینو باندِ. ځکه چه دا راجح اَوْ قوی دے۔ **مفردٌ** مفرد بهٔ **لغت** کښې فرد اَوْ تنها ته وئیلے شی اَوْ دا په دوه معنو باندِ استعمالیږی، یو په معنیٰ دَ هغه راځی، چه راغلے دی، په مقابله دَ تثنیه اَوْ دَ جمع کښې اَوْ بل په مقابله دَ مضاف اَوْ دَ مشبهه مضاف کښې راځی. دریم په مقابله دَ جمله کښې راځی اَوْ څلورم په معنیٰ دَ هغه باندِ چه جزء دَ لفظ دلالت نه کوی، په جزء دَ معنیٰ باندِ، لیکن دلته دا څلورمه معنیٰ مراد ده.[1]

---

[1]. استاذ صیب چه دا څلورم قسم دَ مفرد ذکر کړو، په دے کښې اشاره ده. دے خبرے ته چه دا قسم مفرد مقابل دَ مرکب دے اَوْ مرکب هغه ته وائی چه قصد کړے شی په جزء دَ لفظ دَ دا سره دلالت په جزء دَ معنیٰ مقصود باندِ، پس لابدی شوه په مرکب کښې دَ معرفت دَ امورِ خمسهٔ ته ۔ [1] چه لفظ لره جزء وی۔ [2] چه معنیٰ لره هم جزء وی۔ [3] جزء دَ لفظ دِ دال وی په جزء دَ معنیٰ باندِ۔ [4]: جزء دَ معنیٰ دِ جزء دَ معنیٰ (...بل رُخ) ...

په **مُفرد** کښې په اعتبار دَ اعراب سره درېٔ وجې دي آوَ هغه ټولې صحيح دي. مرفوع هُم صحيح دے منصوب آوُ مجرور هُم صحيح دي که چرته مفردٌ مرفوع شي، نو دا به دَ لفظ دَ پاره صفت شي آوُ که چرې مفردٍ مجرور شي، نو دا به دَ معنى دَ پاره صفت شي، ځکه چه هغه هُم مجرور دے نو دے به هُم مجرور شي.......... **سوال** په مابين دَ موصوف آوُ صفت کښې مطابقت ضروري دے آوُ دلته کښې مطابقت نشته، په مابين دَ معنىً آوُ دَ مفرد کښې، ځکه چه معنىً مجرور نه دے. **جواب** دا دے چه معنىً تقديراً مجرور دے آوُ لفظاً مجرور نه دے آوُ که چرے دا منصوب شي، يعني مفرداً نو بيا به حال واقع شي، دَ وضع دَ ضمير نه آوُ يا به منصوب شي بنا بر مفعوليت آوُ اعني فعل به دے لره مقدر راوړو باسو.

درس نمبر ۱۸:- اوس په دے درېٔ واړو اعرابو کښې تفصيل دا مقام دا دے چه مفردٌ مرفوع شي بنا بر صفت دَ پاره دَ لفظٌ آوُ عبارت داسے شي چه الکلمة لفظٌ مفردٌ.

سوال څهٔ نکته ده په دے خبره کښې چه وضع لمعنى صفت آوَل دے دَ پاره دَ لفظٌ دا يې ولے مقدم کړو په مفرد باندې آوُ بيا څهٔ نکته ده په دے کښې چه بې صفت يې جُمله راوړلو آوُ بل مفرد.

جواب مصنف رحمه الله وضع لمعنى صفت مقدم کړو په مفردٌ باندې، دَ پاره دَ اشارت. دے خبرے ته چه وضع مقدم وي په افراد آوُ ترکيب باندې طبعاً، نو وضع لمعنىً يې مقدم کړو په مفرد، چه

(باقی دَ بل مخ نه)...

مقصود ے وي. ۵: دلالت دَ جزء دَ لفظ وي په دغه جزء دَ معنىً مقصود ے باندې هُم مقصود وي لکه رامي الحجارة تشبه دَ رامي معنىً ذات من له الرمي دے آوُ دَ الحجارة معنىً ذات من له الصعوبة دے، پس هرکله چه يو په اموړ خمسه کښې منتفي شي، دا به نه وي بلکه مفرد. مفرد دے شوالکي چه نه شي قصد کيدے په جزء دَ لفظ دَ هغې سره دلالت په جزء دَ معنى مقصود ے باندې.

فائده ۱۵:- معلومه دې شي تاته دا خبره چه په انتفاء دَ يو دَ اموړ خمسه مذکوره سره به مفرد کښې پنځه صورتونه جوړيږي، يو دا چه لفظ لره جزء نه وي، اصلاً لکه همزه دَ استفهام. دويم دا چه لفظ لره جزء وي لیکن معنىٰ لره جزء نه وي، لکه لفظ دَ فتح شوې. دريم دا چه لفظ لره جزء وي آوُ معنىٰ لره هُم جزء وي لیکن جزء دَ لفظ يې دال نه وي په جزء دَ معنى باندې، لکه لفظ دَ زيد شوې چه ز په حيوان دلالت نه کوي ي په ناطق دلالت نه کوي آوُ د په تشخص دلالت نه کوي. څلورم دا چه لفظ لره هُم جزء وي آوُ معنىٰ لره يې هُم جزء وي آوُ جزء دَ لفظ يې دال وي، په جزء دَ معنىٰ باندې لیکن دغه جزء دَ معنىٰ جزء دَ معنىٰ مقصود ے نه وي، لکه عبدالله علماً شوې. پنځم دا چه لفظ لره جزء وي آوُ معنىٰ لره هُم جزء وي آوُ جزء دَ لفظ يې دال وي، په جزء دَ معنىٰ باندې آوُ دغه جزء دَ معنىٰ مقصود ے وي لیکن دلالت پورے مقصود نه کوي، لکه حيوان ناطق علماً شوې دَ پاره دَ يو شخص انساني-۱۲. (محمد سليم حقاني)

موافقت دَ وضع دَ طبع سره راشي اَوْ وضع لمعنیً ئې جُملہ راوړله په په دې کښې اشارت دے. دې خبرے ته چه وضع متقدم ده په طبع بانذې په دې وجه ئې صیغه دَ ماضی راوړله.[1]

سوال چه هَر کله مفردً صفت شي دَ پاره دَ لفظ نو په دغه وخت کښې فصل راځي، په اجنبي سره په مابین دَ موصوف اَوْ دَ صفت کښې. **جواب** وضع لمعنیً فصل په اجنبي سره نهٔ دے، ځکه چه دا دَ متعلقاتو دَ شي نهٔ دے اَوْ دَ مفردً دَ رفع دَ پاره بله وجه دا ده، چه دا خبر دے دَ پاره دَ مبتدأ محذوف، چه هغه هُوَ دے، ای هُوَ مفردٌ اَوْ کهٔ چرے دا موږ منصوب اووایو نو دا به حال واقع شي دَ معنے نهٔ بیا. **سوال** وارد یږي چه منصوب وئیل ئې نهٔ دي صحیح، ځکه چه دا مخالف دے دَ رسم الخط نه، ځکه چه دَ دے په آخر کښې الف نهٔ دے راغلے اَوْ حالانکه دلته کښې دَ منصوب په صورت کښې لیکل به کار وو، لکه ضربت زیداً کښې دَ زید په آخر کښې 'الف' راغلے دے، نو چه هر کله دَ دے په آخر کښې 'الف' رانغے، دَ دے نه پته اولګیده، چه دا منصوب نه دے.

جواب دا دے چه مخالفت به دَ رسم الخط نه هله راتلو چه دلته کښې نصب یقیني وے، دلته کښې نصب احتمالی دے. دوئیمه وجه دا ده چه الف دَ لیکلو دَ پاره څو شروط دي:

اَوَّل دا چه دا نصب دې یقیني اَوْ متعین وي. دوئیم دا چه هغه کلمه دې مضاف نهٔ وي.

۳: معرف باللام دې نهٔ وي. ۴: تاءِ تانیث دې په کښې نهٔ وي. ۵: هغه الف دې بدل دَ یاء نه نهٔ وي، لکه رضیً ——— دلته کښې شرط اَوَّل منتفي دے، په دې وجه ئې 'الف' نهٔ دے لیکلے. **سوال** چه مفرداً حال دَ لمعنیً نه نو شي واقع کیږي، ځکه چه حال وئیلے کیږي. مایبیّن هیئة الفاعل او المفعول به اوکلیهما ته. یعنی ذوالحال یا فاعل وي اَوْ یا مفعول وي او لمعنیً نه فاعل دے اَوْ نه مفعول. **جواب**. مفعول په دوه قسمه دے، یو مفعول بالذات اَوْ بل مفعول بالواسطة، نو لمعنی اګرکه مفعول بالذات نهٔ دے، لیکن مفعول بالواسطه دے ځکه چه دا جار مجرور دے اَوْ جار مجرور بالواسطه مفعول وي. بیا وروستو **سوال** وارد یږي چه دلته کښې دَ حال مقدم کول به کار وو، په ذوالحال بانذې، ځکه چه ذوالحال نکره ده اَوْ چه کله ذوالحال نکره وي، نو واجب دے تقدیم دَ حال په ذوالحال بانذې. **جواب** تقدیم دَ حال په ذوالحال بانذې په هغه وخت کښې واجب دے، چه ذوالحال مجرور نهٔ وي اَوْ کهٔ چرته ذوالحال مجرور وي، نو بیا لازم نهٔ دے ځکه چه په هغه وخت کښې بیا تقدیم دَ مجرور راځي په جار بانذې اَوْ دا ناجائز دے اَوْ یا مفرداً بنا بر نصب حال دے دَ ضمیر نه چه په وضع کښې دے.

---

[1] یعنی ماضی ځکه مقدمه وي. ۱۲. م.س.

سوال په مابين د حال او د ذوالحال کښې مقارنت ضروري دے او دلته کښې مقارنت نشته دے ځکه چه وضع مقدمه ده په افراد او په ترکيب باندې. **جواب** مقارنت په دوه قسمه دے، يو مقارنت ذاتي، بل مقارنت زماني، دلته اګرکه مقارنت ذاتي نشته دے ليکن مقارنت زماني خو شته او دومره مقارنت کافي دے د پاره د صحت د حاليه. د مثال په طور لکه د لاس حرکت مقدم وي، د قلم په حرکت باندې. ليکن چه کله لاس حرکت اوکړي، نو قلم هم ورسره يو ځائے حرکت اوکړي. دوهمه وجه دا ده چه مفرد مجرور شي، دا به صفت واقع شي د پاره د معنٰی، هغه مجرور دے دا به هم مجرور شي. **سوال** معنٰی خو مجرور نه دے بلکه منصوب دے. **جواب**. دا اګرکه ظاهراً مجرور نه دے، ليکن تقديراً مجرور دے. **سوال** مفرد صفت د پاره د معنٰی نه صحيح کيږي ځکه چه په دغه وخت کښې به دا توهم پيدا شي، چه ګنې افراد او ترکيب دا مقدم دي په وضع باندې او هغه دا سے چه اتصاف د يو موصوف په يو صفت باندې يا مقيد کول د يو شي په يو قيد سره چه د هغې تعلق د معنٰی مصدري سره وي، نو د هغې نه دا معلوميږي چه هغه قيد يا هغه صفت به مقدم وي په معنٰی مصدري باندې، لکه جاني زيدٌ راکباً. يا مررت برجل عالم، نو دلته کښې زيد مقيد دے، په قيد د رکوب سره، يا رجل متصف دے په قيد د علم سره، نو رکوب په اولني مثال کښې او علم په دويم مثال کښې دا مقدم دے، په مجيئة او په مرور باندې نو دغه شان دلته کښې هم بنا په دې قاعده باندې افراد او ترکيب به مقدم اوګرځي، په وضع باندې او حالانکه وضع مقدم ده. **جواب** دا بنا دے په اعتبار د ما يؤول اليه باندې يعنې په اعتبار د مآل او د انجام باندې، لکه په حديث شريف کښې راغلي دي، مَنْ قَتَلَ قَتِيلًا فَلَهُ سَلَبُهُ. [1]

درس نمبر ۱۹:- سوال تعريف د کلمے جامع نه شو افرادو خپلو له او خارج شو ترې نه بعض اسماء. چه الرَّجُلُ. بصريٌّ او قائمةٌ دي ځکه چه جزء د لفظ دلالت کوي، په جزء د معنٰی باندې او مفرد دے په دې دليل سره، چه تعريف ئې راغلے دے، په اعراب واحده سره. **جواب** د دوي په خروج کښې څه ضرر نشته دے، ځکه چه د دوي معنٰی مفرده نه ده او هر چه ډا خبره چه تعريف د دوي راغلے دے په اعراب واحده باندې، نو دا د يو کلمے د بيلے کلمے سره د وجه د شدة امتزاج نه، يعنې د دوي په مابين کښې شدة اتصال او امتزاج دے او دلته کښې جزء د لفظ دلالت کوي په جزء د معنٰی باندې، په دې شان سره چه

---

[1] مسئله صاحب په دې متعلق کښې بالکل مثال طلباؤ ته وئيلے وو هغه دا چه د افراد تعلق د وضع سره دے نو دا په لحاظ د ماليؤل سره مقدم دے په وضع باندې لکه مثال ئې دا دے چه يو طالب ته مولانا صاحب وئيل دا په اعتبار د ما يؤول اليه باندې. (م.س)

الرجل کښې الف لام ځان له کلمه ده، او رجل ځان له کلمه ده. دواړه ځان ځان له په معنیٰ باندې دلالت کوي او په قائمةٌ کښې قائم ځان له کلمه ده مستقله او "ة" ځان له بېل په معنیٰ دلالت کوي او په بصريٌّ کښې بصر ځان له کلمه ده چه مشهور ښار دے او "ي" نسبتيه په کښې داخلي ده چه په خپله معنیٰ باندې دلالت کوي، نو دا خارج شو د تعريف نه. **سوال** تعريف د کلمے مانع نه شو د دخول د غير نه او داخل شو په کښې عبدالله په حين د علميت کښې ځکه چه دا خو په حين د علميت کښې مفرد دے ځکه چه جزء د لفظ دلالت نه کوي په جزء د معنیٰ مقصود باندې لیکن تعريف ئې راغلے دے په اعرابین سره او دا دليل د ترکيب دے. **جواب** دا دے که چرته دا په تعريف د کلمے کښې داخل شو نو څه ضرر نشته دے ځکه چه دا کلمه واحده ده په حين د علميت کښې او هر چه دے تعريف د دے په لعرابين سره، نو معتبر په اعلام منقوله کښې اوضاع سابقه دي، چه هر کله الرجل او امثال د دې د تعريف نه خارج کړے شو او عبدالله په حين د علميت کښې داخل کړے شو په تعريف د کلمے کښې، نو اوس **سوال** وارد شو چه مناسب دا وو چه الرجل ئې داخل کړے وے په تعريف د کلمے کښې او عبدالله ئې خارج کړے وے د تعريف د کلمے نه، ځکه چه نحويان د الفاظو نه بحث کوي او په اعتبار د لفظ سره الرجل وغيره مفرد دي او په اعتبار د لفظ سره عبدالله مرکب دے. **جواب** دا دے چه نحويان بحث کوي د الفاظو نه، لیکن سره د لحاظ د معنے نه، يعنې د افراد او د ترکيب د معنے لحاظ به هم ساتي، نو چه هر کله ئې په تعريف د کلمے کښې د افراد اعتبار اوکړو او عبدالله په حين د علميت کښې په اعتبار د معنے سره مفرد وو نو په دې وجه ئې دے داخل کړو په تعريف کښې او هر چه الرجل او امثال د دې، نو دا مرکب وو په اعتبار د معنے سره، نو ځکه ئې خارج کړل. **سوال** کافيه مأخوذ ده د مفصل نه او په مفصل کښې صاحب د مفصل وائي چه "الكلمة هي اللفظة الدالة" يعنې هغه په تعريف د کلمے کښې دلالت معتبر کړے دے، نو ابن حاجب ولے په تعريف د کلمے کښې دلالت رانه وړو؟.

جواب دا دے چه مصنف دلته په تعريف د کلمے کښې وضع ذکر کړې ده او وضع مستلزم د دلالت سره، نو ذکر د دلالت ته، پس د وضع نه هيڅ ضرورت نشته. **سوال** صاحب د مفصل چه کله دلالت ذکر کړو، نو د وضع ذکر کولو ته هم ضرورت نه وو، ځکه چه څنګه وضع مستلزم ده دلالت لره، نو د غه شان دلالت هم مستلزم دے وضع لره. **جواب** وضع خو مستلزم ده دلالت لره لیکن دلالت نه دے مستلزم وضع لره، لکه په صورة د دلالت طبعي او عقلي کښې چه دلالت خو شته، لیکن وضع په کښې نشته. اوس په تعريف د کلمے باندې يو عمومي **اعتراض** واردېږي، هغه دا چه کلمه به خالي نه وي يا به معلومه وي يا به مجهوله وي، که چرے واوه

وی، نو تعریف نه یې ضرورت نشته، ځکه چه لازمیږی، تحصیل دَ حاصل اَوْ دا محال دے۔ که چرے دا اُوګڼے چه مجهوله ده، نو بیا لازمیږی طلب اَوْ "تعریف" دَ مجهول مطلق اَوْ دا هُم محال دے۔ **جواب** دا دے چه کلمه نهٔ من کل الوجوه معلومه ده اَوْ نهٔ من کل الوجوه مجهوله ده، بلکه من جمله معلومه ده چه من جمله معلومه شوه، نو طلب دَ مجهول مطلق (النغو) اَوْ من جمله مجهوله ده چه من جمله مجهوله شوه نو په تعریف سره یې تحصیل دَ حاصل (النخ)۔ اُوس ده کوه دا خبره چه چه هر یو تعریف کښے لابدی وی دَ جنس اَوْ دَ فصل نه، نو په تعریف دَ کلمے کښے لفظٌ جنس دے، تمام الفاظ ته شامل دے، چه مفرد دے که مرکب دے، موضوع دے که مهمل دے وضع اَوْ وضع وړلره اول فصل دے چه په دے سره ترِ نه مهملات اووتل اَوْ دَرِیم فصل لمعنیً چه خارج شوترے هغه په دے سره حروف هجاء اَوْ دَرِیم فصل مفرد دے چه خارج شو په دے سره مرکبات۔

درس نمبر ۲۰

ترکیب الکلمة لفظ وضع لمعنی مفرد!

علی الوجوه الثلاثه۔ الترکیب علی تقدیر مفردٌ۔ الکلمة مبتدا، لفظ موصوف وضع صیغه دَ فعل ماضی مجهول ضمیر په کښے مستتر هغه یې نائب فاعل چه راجع دے لفظ و ته، لام حرف جار معنیً مجرور، جار سره دَ خپل مجرور نه دا متعلق شو په وضع پورے فعل سره دَ نائب فاعل اَوْ دَ متعلق نه دا شبهه جمله صفت اول شو دَ پاره دَ لفظ اَوْ مفردٌ۔ دا صفت ثانی موصوف سره دَ صفتین نه دا خبر شو دَ پاره دَ مبتدا مبتدا سره دَ خبر نه جمله اسمیه اَوْ یا دَ الکلمة مبتدا وضع لمعنیً حسب سابق۔ صفت اوّل مفردٌ دا خبر شو دَ مبتدا محذوف چه "هُوَ" دے، هُوَ مبتدا لفظ خبر مبتدا سره دَ خبر نه جمله اِسمیه صفت ثانی شو دَ پاره دَ لفظ مبتدا سره دَ خبر نه جمله اِسمیه شوه۔ **الترکیب علی تقدیر مفرداً**۔ الکلمة مبتدا لفظٌ موصوف وضع فعل ماضی مجهول ضمیر په کښے مستتر چه هغه یې نائب فاعل، لام حرف جار معنیً ذوالحال، اَوْ مفرداً یې حال۔ ذوالحال سره دَ حال نه دا مجرور شو دَ جار، جار سره مجرور په متعلق شو په وضع پورے۔ فعل سره دَ نائب فاعل اَوْ متعلق نه دا صفت شو دَ پاره دَ لفظ موصوف سره دَ صفت نه دا خبر شو دَ الکلمة دَ پاره۔ مبتدا سره دَ خبر نه جُملہ اِسمیه اَوْ یا دا چه الکلمة مبتدا لفظ موصوف وضع فعل ماضی مجهول ضمیر په کښے مستتر هغه ذوالحال اَوْ مفرداً وړلره حال ذوالحال سره دَ حال نه دا نائب فاعل شو اَوْ لام حرف جار معنیً مجرور۔ جار سره دَ مجرور نه متعلق شو په وضع پورے۔ فعل سره دَ نائب فاعل اَوْ متعلق نه دا شبه جُمله صفت شو دَ پاره دَ لفظ موصوف سره دَ صفت نه دا خبر شو، دَ مبتدا۔ مبتدا سره دَ خبر نه جُمله اِسمیه۔

اَوْ يا دا چه مفرداً دا مفعول دے دَ پاره دَ فعل محذوفه چه اعنی دے ۔ فعل سره دَ فاعل اَوْ مفعول به نه دا صفت ثانى شو دَ پاره دَ لفظ ۔ موصوف سره دَ صفتين نه دا خبر شو دَ مبتدا نه ۔ **التركيب** على تقدير مفرد ۔ الكلمة مبتدا، لفظٌ موصوف وضع فعل ماضى مجهول ضمير په كښې مستتر هغه ئے نائب فاعل لام جار معنىً موصوف اَوْ مفرد صفت ، موصوف سره دَ صفت نه مجرور دَ جار سره دَ مجرور نه متعلق شو په وضع پورے ، باقى تركيب حسب مامرَّ ۔

درس نمبر ۲۱

وهى اِسمٌ وفعلٌ وحرفٌ ۔ ترجمه ۔ اَوْ دا كلمه په اعتبار دَ مفهوم خپل سره منقسمه ده اقسام ثلاثه ته چه هغه اسم فعل اَوْ حرف دے ۔ په دے مقام كښې دَ څو الفاظو پيژندل ضرورى دى چه هغه تقسيم ، مقسم ، قِسم اَوْ قسيم دى ، نو تقسيم په لغت كښې احداث الكثرة فى الوحدة ته وائى اَوْ په اِصطلاح كښې ضم دَ قيودو مختلفو دے يو امر مشترك ته دَ پاره دَ دے چه حاصل شى په ضم كولو دَ هر قيد سره قسم على حدة ، يعنى قسم آخر ———— قسم وئيلے شى امر مشترك ته سره دَ قيد نه ———— قسيم وئيلے شى امر مشترك ته سره دَ قيد نه په نسبت سره بل ته ———— مقسم امر مشترك ته وائى ، مثال ئے دا دے شى ، چه كلمه دا يو امر مشترك دے ، چه ضم دَ قيد دَ عدم استقلال ورسره راشى ، نو يو قسم ترے نه پيدا شو ، چه هغه حرف دے ، چه قيد دَ استقلال اَوْ دَ اقتران ورسره ضم كړے شى ، بل قسم ترے پيدا شو ، چه هغه فعل دے اَوْ بيا چه قيد دَ استقلال اَوْ دَ عدم اقتران ضم كړے شى ، نو دريم قسم ترے پيدا شو چه هغه اِسم دے ، نسبت په مابين دَ قسم اَوْ مقسم كښې دَ عموم خصوص مطلق دے ، ځكه چه مقسم په خپلو ټولو اقسامو باندِ حمل كيږى ، په كلى طور سره ۔ دا سے مونږ وئيلے شو ، چه الاسم كلمةٌ ۔ الفعل كلمة ۔ الحرف كلمة يا ورسره كل اولګو ، نو په كل اسم كلمة ۔ الخ ، نو خلاصه دا شوه چه قسم خاص مطلق اَوْ مقسم عام مطلق دے اَوْ نسبت په مابين دَ قسيمونو كښې دَ تباين دے ، يعنى دواړه په يو بل باندِ نهٔ حمل كيږى ، لكه حرف په فعل باندِ نهٔ حمل كيږى ، اسم په فعل نهٔ حمل كيږى ، اسم په حرف اَوْ حرف په اسم نهٔ حمل كيږى ۔ **سوال** ضمير چه كله دا ئر شى په مابين دَ مرجع اَوْ دَ خبر كښې ، نو رعايت دَ خبر اولىٰ وى ، نو په كار ده چه دا سے ئے وئيلے وے چه وهو اسم وفعل وحرف **جواب** . هى مبتدا ده لَوْ دَ دے دَ پاره خبر محذوف دے . چه هغه منقسمٌ دے . اے وهى منقسمة الى ثلاثة اقسام منحصرة فيها . **سوال** . هر كله چه خبر دَ هى منقسمة شوه ، نو دا اسمٌ وفعل وحرف ولے مرفوع دى ۔ **جواب** هر واحد دَ اِسم فعل اَوْ حرف نه خبر دے اَوْ مبتدا دَ هر واحد محذوفه ده ، اے احدها اِسم وثانيها فعل وثالثها حرفٌ ۔

سوال. دا ضمیر به خالی نه وی یا به یې راجع کوی لفظ د کلمې ته اَو یا مفهوم د کلمې ته، که لفظ ته یې راجع کوے نو مطابقت خو به راشی، په مابین د راجع اَو د مرجع کښې[1]. لیکن تقسیم د دے وارو اقسامو ته نه صحیح کیږی[2]. اَو صرف د اِسم حمل به لفظاً صحیح شی اَو که راجع کړے یې مفهوم د کلمې ته، نو تقسیم خو به صحیح شی، خو مطابقت نه راځی، په مابین د راجع اَو د مرجع کښې، ځکه چه مفهوم مذکر دے اَو هی ضمیر د مؤنث دے. **جواب**. دا هی ضمیر لفظ د کلمې ته راجع دے اَو تقسیم په اعتبار د مفهوم سره دے. **سوال**. وهی اسم وفعل وحرف کښې به یا ربط مقدم کوے، په عطف باندې اَو یا به عطف مقدم کوے په ربط. که چرته کښې ربط مقدم کوے په عطف باندې، نو حمل د خاص راځی په عام باندې اَو دا ناجائز دے اَو بله دا چه حصر د کلمې راځی، فقط په یو قسم کښې یعنی الکلمة اسم. اَو که چرته عطف مقدم کوے په ربط باندې، نو دوه نقصانه لازمیږی، یو خو حمل د امور متباینه و راځی په شی واحد باندې. بل دا چه دا مجموعه اِسم فعل اَو حرف به څو واحد شی. **جواب**. دلته عطف مقدم دے په ربط باندې اَو که ته دا وائې چه دوه نقصانه لازمیږی، نو **جواب** دا دے چه یو تقسیم د کل دے خپلو اجزاو ته اَو بل تقسیم د کلی دے، خپلو جزئیاتو اَو افرادو ته. مثال تقسیم د کل خپلو اجزاؤ ته، لکه السکنجبین خل وماء وعسل. یا مثال د چائے واخله چه د دے اجزاء اوبه، پی، بانړے اَو چینی دی اَو مثال د تقسیم د کلی خپلو جزئیاتو ته، لکه اِنسان چه د ده جزئیات اَو افراد زید عمر اَو بکر وغیره هم دی اَو دلته کښې نحویانو مراد تقسیم د کلی دے خپلو جزئیاتو ته، نو اوس هغه استحالات لازم نه شو، نو دلته کښې عطف د انواعو راغے، په انواعو باندې نه د اجزاؤ په اجزاؤ باندې، نو موښږ د اقسام د پاره یو حکم ولګوو[3] چه هغه اِسم اَو فعل اَو حرف دی. **سوال**. مصنف ولے مخالفت وکړو د اِستعمال مشهور نه. هغه دا چه په اِستعمال مشهور

---

[1] ځکه چه هی ضمیر د مؤنث دے اَو کلمه هم مؤنثه ده. ۱۲ (م. س)

[2] تقسیم یې ځکه نه صحیح کیږی چه تقسیم په اعتبار د مفهوم سره کیږی نه په اعتبار د لفظ سره. ۱۲ (م. س).

[3] دلته نحویانو اُستاذ محترم فانی صاحب د طلباؤ د خوش طبعی په طوریو لطیفه ویلې وه، هغه دا چه د خلقو دا خیال دے چه د لیلة القدر په شپه باندې الله تعالیٰ خامخا یو سوال قبلوی. نو یو سړی وو چه د هغه مدعیٰ دے ته سوالونه وو، یو دا چه د هغه په سر به همیشه درد وو، بل دا چه د پلار به یې په خپله درد وو لو دریم دا چه د مور یې کوسره وه، چه کله لیلة القدر شپه راغله، نو هغه دا درې واړه سوالونه په یو حکم سره ضم کړل اَو دا یې اُووئیل چه اے خدایا! زما دا د سر درد اَو زما پلار د خیټې درد اَو زما د مور دا کوسر لرے کړے. یعنی عطف یې مقدم کړو په ربط باندې. (م. س):

کښې د تقسیم په مقام کښې د واو په ځائے او استعمالیږي، نو په کار وه چه دا سې یې ویلي وے وهي اسم او فعل او حرف. جواب[1]. په کوم ځائے کښې چه تقسیم بنا وي په مجرد احتمال باندې، نو هلته او راوړلے شي او دلته په دې مقام کښې تقسیم بنا نه دے په مجرد احتمال باندې بلکه بنا دے په یقین باندې چه د کلمې درے اقسام دي.

درس نمبر ۲۲

لانها اما ان تدل علی معنی فی نفسها[2]: ترجمه:- ځکه دا کلمه موضوعه داله علی المعنی یا به د بعض مثالونو د دې نه دلالت وي په معنی باندې هغه معنی چه معتبره فی نفسه وي او محتاجه نه وي په معنی حاصله کښې ضم د ضمیمې وته. **سوال**. په لانها سره مصنفؒ اشاره کړې دلیل ته او دلیل راځي د پاره د مدعی او دلته کښې د مدعی ذکر نه دے.

جواب. مدعی عامه ده ملفوظه وي که مقدره، دلته کښې مدعی اګرکه ملفوظه نه ده، لیکن مقدره ده او هغه دا ده وهي منحصرة فی ثلاثة اقسام. **سوال**. منحصرة دے ولې مدعی مقدره راوړسته؟ **جواب**. مصنفؒ اول د کلمې تعریف اوکړو او بیا یې تقسیم اوکړو، نو بیا ورله بکار وه دا خبره چه دا حصر د کلمې په درې[3] اقسامو کښې ولې دے، لیکن چه هرکله ده سکوت اختیار کړو او دا محل د بیان وو، نو سکوت په محل د بیان کښې بیان دے[3]. **سوال**. غرض ستا انحصار د کلمې دے په اقسام ثلاثه کښې او ستا دلیل د مدعی سره مطابق نه دے ځکه چه په وجه د حصر کښې تا دلالت ذکر کړو او په تعریف د کلمې کښې دې دلالت نه دے ذکر کړے؟.

جواب. په تعریف د کلمې کښې وضع راغلې ده او وضع مستلزم ده، دلالت لره.

سوال په اعتبار د ترکیب سره چه لانها کښې ها ضمیر راجع دے کلمې ته چه هغه اسم دے د پاره د انّ او ان تدل په تاویل[4] د مصدر سره دا خبر دے د پاره د انّ او قاعده دا ده چه خبر د انّ دا محمول وي په اسم د انّ باندې او دلته کښې دا حمل نه صحیح کیږي، ځکه

---

[1]. یعنی تقسیم په دوه قسمه دے، یو تقسیم احتمالي دے، بل تقسیم یقیني دے، په اول قسم کښې لفظ د او مستعملیږي نه په ثاني کښې او دلته کښې دا د قبیلې د قسم ثاني نه دے. (م.س).

[2]. ربط:- هرکله چه مصنفؒ فارغ شو د تعریف د کلمې نه او بیا یې منقسمه کړه اقسامو ثلاثه ته، نو اوس درته وجه د حصر ذکر کوي، نو وے ویل چه لانها الخ. (م.س).

[3]. لکه د مثال په طور ځانته او ویلے شي چه چا ځائے او خښنا هغه سکوت اختیار کړو، نو دا سکوت دلالت په بیان د خښنو باندې کوي. (م.س).

[4]. ان مصدریه چه کله په فعل داخلیږي نو فعل په تاویل د مصدر سره کړي، نو اسم د انّ چه کلمه ده ذات دے او خبر د انّ مصدر صرف وصف دے.

چه حمل دَ صرف وصف راځي په ذات باندِ اَوحمل دَ صرف وصف په ذات ناجائز دے -

جواب. دَ دے سوال دوه جوابه دی - یو ضعیف دے اَو بل قوی دے، جواب ضعیف چه مونږ تقدیر راؤباسو، په جانب دَ اسم کښے هغه به دا ہے شی چه لان من صفتها اما ان تدل، نو حمل دَ وصف راغے په وصف باندِ. لیکن دا جواب ضعیف دے، ځکه چه نقصان په جانب دَ خبر کښے دے اَو تقدیر په جانب کښے دَ اسم را لویا ہے، دا خو په منزله دَ نزع دَ سرا ویل شوه، مکښے دَ روایت دَ اولبو نه - دویم **جواب** دا دے چه تقدیر دَ عبارت دا دے، لانها اما من صفتها ان تدل - **سوال** من صفتها دَ وِلے مقدم کړو؟ **جواب** ځکه چه انحصار دَ دلیل رانه شی په دلالت اَو په عدمِ دلالت کښے -

درس نمبر ۲۳ :-

في نفسها کښے ها ضمیر راجع دے کلمے ته، نو سوال واردیږی چه في راځی دَ پاره دَ ظرفیة اَو مدخول دَ في ظرف وی، لکه الماء في الکوز، نو الکوز دا ظرف دے، ځکه چه دا مدخول دَ في دے اَو ظرف په دوه قسمه دے، یو ظرف زمان اَو بل ظرف مکان اَو دَ دلته کښے ظرفیة دَ کلمے نه صحیح کیږی ځکه چه دا نه ظرف مکان دے نه زمان - **جواب** ظرف په دوه قسمه دے یو ظرف حقیقي اَو بل ظرف مجازي، نو کلمه اگر که ظرف حقیقي نه دے لیکن ظرف مجازي دے اَو هغه په دے شان لکه چه ځنګه ظرف احاطه کړے وی، په خپل مظروف باندِ نو په دے احاطه کښے دے، محتاج نه وی شی آخر ته، نو دغه شان دا کلمه هُم محتاجه نه ده په دلالت خپل کښے ضم دَ ضمیمے ته اَو دَ دویم **جواب** دا دے چه دلته دا في دَ پاره دَ ظرفیة نه ده، بلکه اعتباریه ده لکه په دے قول دَ عربو کښے في اعتباریه راغلی ده - الدار في نفسها حکمها کذا. ای الدار باعتبار نفسها. في نفسها جار مجرور دے اَو دَ جار مجرور دَ پاره لابدی وی دَ متعلق نه اَو متعلق مستقر کولے شی په کلام دَ عربو کښے - په ظرف سره اَو ظرف په دوه قسمه دے، یو ظرف لغو دے، بل ظرف مستقر دے - ظرف لغو ویلے شی ته وائی چه متعلق ئے په کلام مذکور وی اَو دے ته لغو په دے وجه باندِ ویلے شی، ځکه چه دے جزء نه واقع کیږی دَ کلام نه اَو که جزء واقع دے، نو هغه متعلق دَ ده واقع کیږی ئے **سوال** که في نفسها دَ ان تدل سره متعلق کړو، نو معنیٰ نه صحیح کیږی، ځکه چه دَ ان تدل دَ پاره صله بار راځی نه في. اَو که چرے په معنیٰ پورے ئے متعلق کړو، نو هُم نه صحیح کیږی، ځکه چه مراد دَ معنے نه معنیٰ اِصطلاحی ده اَو هغه جامد ده اَو دَ جامد سره

۞ اَو ظرف مستقر ویے ته وائی چه متعلق ئے په کلام کښے ذکر نه وی بلکه مقدّر وی - ادرس که چرے في نفسها ظرف لغو شی نو دا یا متعلق وی په ان تدل پورے اَو یا به متعلق وی په معنیٰ پورے، نو سوال پورے وارد یږی کما ذکره استاذنا. رم .

تعلق دَ جار مجرور نه راځي، لکه زيدٌ سره چه څنګه تعلق دَ جار مجرور نهٔ دے صحيح۔

جواب متعلق دَ فی نفسها هغه ظرف مستقر دے، چه هغه ثابتٌ يا حاصلٌ دے اَوْ هغه بهٔ دَ معنے دَ پاره صفت اوګرځولې شي۔ اى على معنىً كائنٍ في نفسها يا حاصلٌ في نفسها۔

اولا يا بهٔ دَ بعض صفالتو دَ کلمے نه عدم دلالت وى په معنىٰ خپله باندِ۔

سوال .'لا' په دوه قسمه دے يو لا يدل مطلقاً اَوْ بل لا يدل علىٰ معنىً فى نفسها بَلْ يدل علىٰ معنىً فى غيرها۔ کهٔ چرے دواړه قسمين دلته کښے مراد شي، نو مهمل په کښے داخليږي، ځکه چه هغه هُم په خپله معنىٰ باندِ دلالت نه کوي، لکه دَيز وغيره۔ **جواب**. دلته دواړه معنے نه دى معتبرے، بلکه دويمه معنىٰ معتبره ده، چه هغه بل يدل علىٰ معنىً فى غيرها ده۔

الثاني الحرف دويم حرف دے. **سوال** الثاني صفت دے اَوْ دَ هر يو صفت دَ پاره لا بدى وى دَ موصوف نه، نو دَ الثانى دَ پاره چه معنىٰ موصوف الكلمة اووږي نو بيا مطابقت نشته، په مابين دَ موصوف اَوْ دَ صفت کښے اَوْ دوئ کښے مطابقت ضروري دے، په اِعتبار دَ تذکير اَوْ تانيث سره۔ **جواب** دَ دِے دَ پاره موصوف القسم دے اَوْ هغه مذکر دے۔ پس مطابقت راغے په مابين دَ موصوف اَوْ دَ صفت کښے۔ اى القسم الثاني۔ په الحروف کښے الف لام عهد خارجي دى اَوْ دَ دِے دَ پاره معهود هغه حرف دے چه مخکښے په تقسيم کښے ذکر شوے دے۔

حرف په **لغت** کښے طرف ته والى، لکه دَ عربو مقوله ده. جلست حرف الوادى. اى طرف الوادى. دَ پښتو يو شعر دے، شاعر والى چه :-

؎ لکه حرف يُو په طرف کښے واقع شوے بيلتانهٔ رانه اوړلے استقلال دے

سوال. ته وائے حرف په لغت کښے طرف ته والى اَوْ دے په طرف واقع کيږي، ځکه ورته حرف والى، حالانکه ډير حروف موږ وينو چه هغه په وسط يا په اَوّل کښے واقع کيږي، لکه سرت من البصرة الى الكوفة. مِنْ او الى په وسط کښے راغلى دى. سره دَ دِے نه چه حروف دى.

جواب. مراد دَ وقوع نه په طرف کښے دا دے، چه دوئ واقع کيږي، په مقابله دَ استقلال کښے۔

سوال. حرف خو غير مستقل دے، نو غير مستقل څنګه واقع کيږي په مقابله دَ مستقل کښے۔

جواب. مراد دَ غير مستقل واقع کيدل په مقابله دَ مستقل کښے دا دے چه غير مستقل په کلام کښے غير عمده واقع کيږي اَوْ مستقل عمده واقع کيږي، لکه اسم وفعل شو۔ **سوال**. څهٔ وجه ده، چه مصنفؒ په مقام دَ تقسيم کښے حرف مؤخر کړو اَوْ په مقام دَ حصر کښے ئے مقدم راوړو۔

جواب. په مقام دَ تقسيم کښے مصنفؒ لحاظ دَ وجود کړے دے اَوْ په مقام دَ حصر کښے ئے لحاظ دَ عدم وجود کړے دے، په دِے شان سره چه په اِسم اَوْ فعل کښے اِستقلال موجود دے اَوْ په

حرف کښې اِستقلال نِشته دے، نو اِسم او فعل ئې مقدم کړل په حرف باندې، ځکه چه وجود اشرف دے د عدم نه لو په مقارنۀ حصر کښې لحاظ د عدم په بېړے شان سره اوکړو چه عدم مقدم وی په ممکناتو کښې په وجود باندې۔

درس نمبر ۲۴

والاول اما ان يقترن باحد الازمنة الثلاثة

ترجمه :- اَؤ قسم د قسمونو د کلمے نه چه دلالت کوی، په معنیٰ باندې هغه معنیٰ چه کائنه فی نفسه وی، یا به د بعضو صناو د هغې نه اقتران د معنیٰ تضمنی وی، وضعاً په فهم کښې د لفظ داله نه په یو زمانو ثلثه د مخصوصه پورے اَؤ نه وی معنیٰ د دے عین زمانه اَؤ اقتران ئې لغظاً وی، په یو د ازمنه ثلاثه پورے چه هغه مخصوصه وی[1]. **سوال**. الاول صفت دے اَؤ د هر یو صفت د پاره لابدی ده، د موصوف نه۔ کۀ د دے د پاره موصوف الکلمة راوباسو، نو بیا مطابقت نۀ راځی، په مابین د موصوف اَؤ صفت کښې۔ **جواب**. د دے د پاره موصوف القسم دے یعنی القسم الاول۔

سوال. ضمیر د يقترن به یا راجع کوے، اَوّل ته اَؤ یا معنیٰ ته۔ کۀ چرے اَوّل ته ئې راجع کوے، نو دا صحیح نۀ دے، ځکه چه اقتران صفت دے، د پاره د معنیٰ اَؤ اَوّل نه مراد کلمه ده اَؤ کلمه لفظ دے اَؤ اقتران د لفظ صفت نۀ شی کېدے اَؤ کۀ چرے معنیٰ ته ئې راجع کوے، نو لازمیږی اضمار قبل الذکر اَؤ دا مستکره دے په نزد د هر یو باندې۔ **جواب**. ضمیر راجع دے معنیٰ ته اَؤ کۀ ته وائے چه اضمار قبل الذکر لازمیږی، نو زۀ وایم چه نه لازمیږی ځکه چه ذکر په دوه[2] قسمه دے، یو حقیقتاً دے لو بل حکماً، نو دلته کښې معنیٰ اگرچه حقیقتاً ذکر نۀ ده، لیکن حکماً ذکر ده، ځکه چه د اَوّل نه مراد مدلول د اَوّل دے اَؤ مدلول د اَوّل نه دے مگر معنیٰ۔ زۀ کوم دا خبره چه دلته کښې به هم تقدیر د عبارة جوړ وو، ځکه هغه اعتراض دے، چه کوم به لانها اما ان تدل الخ. وارد یږی، نو په دے ځائے کښې هم وارد یږی چه اما ان يقترن کښې حمل د صرف وصف په ذات راځی او دا باطل دے، نو تقدیر به داسې شی، اما من صفتها ان يقترن الخ۔ **سوال**. دلته اقتران د زمانے په زمانے پورے راغے، ځکه چه فعل په خپله هم دلالت په زمانه کوی۔ **جواب**. دا دے چه مراد په معنیٰ تضمنی ده، چه هغه حدوث دے، نو مطلب به داسې ــ ــ ــ ــ ــ شی چه اقتران د معنیٰ حدثی د دے فعل لغظاً وی په زمانے پورے۔ **سوال**. ستا دا تعریف جامع نۀ شو، خپلو افرادو لره اَؤ مانع نۀ شو د دخول د غیرو نه۔ هغه چه عدم جامعیت دے، هغه دا چه افعال منسلخه عن الزمان، بے نه خارج شو اَؤ هغه چه عدماً

---

[1] دا شوهو قیودات چه زمونږ استاذ محترم الکلولی تو ضحوی به دوے مقام کښې ذکر شیل چه په دیجه سره به اعتراضات دفع کوي۔ ...

مانعیت دے، هغه داچه اسمائے افعال په کښے داخل شو. **جواب**. هلته په معنیٰ کښے موبن داقید لګولے وو چه وضعاً په فهم کیږی لو افعال منسلخه عن الزمان ترِ نه خارج نهٔ شو، ځکه چه اِعتبار اصل وضع لره دے، او هر چه افعال منسلخه عن الزمان دی په اِستعمال کښے د دوئ انسلاخ د زمانے نه راغلے دے، نهٔ په اصل وضع کښے او اسمائے افعال ترِ نه خارج شو، ځکه چه دوئ په اصل وضع کښے د زمانے سره مقترن نهٔ دی. **سوال**. تعریف ستا مانع نهٔ شو د دخول د غیر نه، ځکه چه داخل شو په دے کښے مصادر، ځکه چه په دوئ کښے هم اقتران شته، د زمانے سره وجوداً. **جواب**. موبن ورسره قید لګولے دے، چه وضعاً په فهم کیږی او په مصادرو کښے اقتران په وجود کښے شته، خو وضعاً په فهم کښے نشته. **سوال**. تعریف دِ بیا مانع نهٔ شو د دخول د غیر نه او داخل شو، په کښے ضاربٌ په دے ترکیب چه چه زیدٌ ضاربٌ امس، چه ضاربٌ دا صیغه د اسم فاعل ده، اقتران ئے د زمانے سره راغلے دے. **جواب**. موبن په معنیٰ کښے دا قید لګولے وو، چه د لفظِ داله نه او دلته کښے دلالت د ضاربٌ په زمانه باندِ، دا د وجه د اَمرِ خارجی نه راغلے دے، چه امس دے. **سوال**. ستا دا تعریف مانع نهٔ شو د دخول د غیر نه او داخل شو په کښے لفظ د ماضی، ځکه چه د دے اقتران هم په زمانے پورے راغلے دے، حالانکه دا خو اسم دے. **جواب**. موبن په معنیٰ کښے دا قید لګولے وو، چه نه وی معنیٰ د دے عین زمانه. **سوال**. ستا دا تعریف مانع نهٔ شو د دخول د غیر نه او داخل شو په کښے صبوحٌ او غبوقٌ. صبوحٌ د سحر په وخت کښے شراب څښکلو ته والی او غبوقٌ په ماښام کښے شراب څښکلو ته والی، نو دا اسمار دی او د دوئ اقتران په زمانے پورے راغلے دے. **جواب**. موبن وئیلی وو، چه اقتران ئے راغلے وی په یو د ازمنه ثلاثه پورے، چه خصوصه وی او دلته په مطلق زمانه پورے اقتران راغلے دے. دویم **جواب**. دا دے چه فعل هغه دے، چه هغه دلالت کوی، په اِعتبار د ما دے او د هیئت سره په زمانه باندِ، لکه ضرب، دا په زمانه ماضی باندِ دلالت کوی او چه کله دِ ورلره هیئت بدل کړو او یضرِبُ دِ ترِ نه جوړ کړو، نو دا د ماضی نه مضارع شوه، نو اوس به دا په مضارع باندِ دلالت کوی، نو چه هر کله فعل دِے نه والی چه په اعتبار د ما دے او د هیئت سره به دلالت کوی په زمانه باند، نو صبوحٌ غبوقٌ په کښے داخل نهٔ شو. **سوال**. ستا دا تعریف جامع نهٔ شو، خپلو افرادو لره او خارج شو ترِ نه فعل مضارع، ځکه چه مضارع په دوؤ زمانو دلالت کوی، چه حال او استقبال دے او تا خو وئیلی دی، چه اما ان یقترن باحد الازمنة الثلثة. **جواب**. د یو زمانے سره اقتران دا ادنیٰ مرتبه ده او د زیاتو لره څهٔ حد نشته دے. **سوال**. الازمنة الثلاثة کښے الثلاثة اسم عدد دے او ...مروف د اسمائے عدد په حقیقت کښے تمیز وی او په عدد اول کښے قاعده دا ده چه هغه خلاف

القیاس وی (یعنی مذکر د پاره مؤنث او مؤنث د پاره مذکر لوبکار دا وه چه وئیلې وے، الا زمن الثلثة "بغیر د تا ء نه"۔ **جواب**۔ تذکیر د تمیز یا تانیث دلته په اعتبار د مفرد سره دے او مفرد دلته کښې زمان دے چه هغه مذکر دے۔ دویم **جواب** دا دے چه دا د تبیلې د تمیز او میز نه خارج شوی دی، بلکه دا د تبیلې د صفت او د موصوف نه کو ځېدلے دے او چونکه په صفت او موصوف کښې مطابقت ضروری دے، په دے وجه بانډې الازمنة الثلاثة ذکو کړو۔

درس نمبر ۲۵

الثانی الاسم

قسم ثانی د کلمے نه چه دلالت کوی په معنیٰ فی نفسها بانډې او مقترن نه وی په یو د ازمنه ثلثه پورې (مخصوصه) نو هغه اسم دے.

الثانی صفت دے، د دے د پاره لا بُدی ده د موصوف نه او موصوف د دے د پاره القسم دے، او کلمه نه ده، ځکه چه بیا مطابقت نه راځی په مابین د موصوف او د صفت کښې. کما مرّ فی الاول، دلته په اسم کښې درے تحقیقات دی. اول تحقیق هغه اختلاف دے، د دے په ماده کښې ـــ دویم تحقیق تعین د مذهب راجح ـــ دریم تحقیق وجه د مناسبت په مابین د معنیٰ لغوی او اصطلاحی کښې۔ بوجه تحقیق اختلاف دے په ماده د اسم کښې، په مابین د کوفیینو او د بصریینو کښې، د کوفیانو په نزد اسم په حقیقت کښې د وسم نه مشتق دے او دا مثال واوی دے. د دے معنیٰ د علامه، تعلیل په کښې داسے کوی چه په وسم کښې واو حذف کړے شو او د هغې په بدل کښې همزه راوړے شوه، اسم شو او د بصریانو په نزد بانډې اصل د اسم سِمُوٌ دے، ناقص واوی دے دا په معنیٰ د عُلُو بانډې راځی، ومنه السماء ـــ دریم تحقیق چه په دے دواړو مذهبونو کښې کوم یو مذهب راجح دے، نو تعین د مذهب راجح دا دے چه د بصریانو مذهب راجح دے، ځکه چه قاعده داده چه د کومو یو څیزونو اصل معلومونے (یعنی د یو صیغے اصل معلومونے) نو بیا به د هغې تصغیر راوړے او یا جمع، نو تاسو تصغیر سُمَیٌّ راځی، ځکه چه دا په اصل کښې سمیوٌ دے، واو او یاء یو ځائے راغلل، واو موبږ په یاء بانډې بدل کړو، د که حفه د یو جنس نه راغلله، یاء په یاء کښې مدغم شوه، نو سُمَیٌّ شو او د اسم جمع اسماء راځی، که د کوفیانو د مذهب مطابق اسم په اصل کښې وسمٌ شی، نو بکار داده چه د دے تصغیر وُسَیمٌ شی او جمع د اوسام راشی. حالانکه داسے نه ده، نو مذهب د بصریینو راجح شو ـــ دریم تحقیق په بیان د مناسبت کښې دے، په مابین د معنیٰ لغوی او د معنیٰ اصطلاحی کښې. هغه دا دے چه سموٌ په معنیٰ د علو او د اوچت طلب سره راځی او اسم هم اسم په دے وجه وئیلے شی چه دا هم عالی او اوچت دے په نسبت د نورو خوېنو تګینو بانډې چه هغه فعل او حرف دی او اسم عالی په دے وجه بانډې دے چه د نوع د اسم

کلام جوړیږي، یعني اسم هم مسند واقع کیږي او هم مسند الیه او د فعل او د حرف د نوع کلام نه جوړیږي۔

الاول الفعل او قسم اول د کلمې نه چه دلالت کوي په معنی فی نفسها باندې او مقترن وي په یو د ازمنهٔ ثلاثه مخصوصه لوړه هغه فعل دے۔ فعل په **لغت** کښې حدث ته وائي او فعل **اصطلاحي** مشتمل دے په اجزاء ثلاثه باندې، چه یو جزء ترې نه حدث دے، په دې وجه باندې د فعل نوم او تسمیه په فعل سره راغله، ماتسمیه د کل نشوه په اسم د جزء سره یا تسمیه د دال شوه په اسم د مدلول سره او یا تسمیه مشتمل ده په اسم د مشتمل سره۔

وقد علم بذالك حد كل واحد منها او په تحقیق سره معلوم شو په دې دلیل د حصر سره تعریف د هر واحد د دې اقسام ثلثه۔ په دې مقام کښې درې تحقیقه دي، یو په واؤ کښې، بل په ذالك کښې او دریم په حد کښې پس اول تحقیق په واؤ کښې دا دے۔ **سوال**۔ دا واؤ به خالي نه وي یا به ئې عاطفه وائې یا حالیه او یا مستانفه او درې واړه صحیح نه دي، که واو عاطفه شي نو معطوف علیه ورله نشته که حالیه شي نو ذوالحال نشته او که مستانفه شي نو مخکښې ذکر د سوال نشته چه دا ورله جواب اوګرځي۔ **جواب**۔ دلته درې واړه صحیح دي که واو عاطفه نو د دې د پاره به معطوف علیه مقدر شي، چه ' قد تبین بوجه الحصر انحصار الکلمة فی الاقسام الثلاثة وقد علم بذالك حد كل واحد منها ' او واؤ حالیه هم صحیح دے او ذوالحال به ورله مقدر شي، هغه دا دے چه افاد وجه الحصر انحصار الکلمة فی الاقسام الثلثة وقد علم بذالك حد كل واحد منها. او واؤ مستانفه هم صحیح دے د هغې د پاره به سوال مقدر شي، او دا به د هغه سوال مقدر جواب شي۔ هغه دا دے چه علم بوجه الحصر انحصار الکلمة فی الاقسام الثلاثة فهل علم بذالك حد كل واحد منها' نو جواب ئې دا دے چه وقد علم بذالك الخ او پس په دې عبارت سره مصنف اشاره کړې ده، ذهن متوسط ته، ځکه چه ذهن په درې قسمه دے۔ یو ذهن ذکي، دویم ذهن متوسط او دریم ذهن غبي۔ پس په وجه د حصر سره مصنف اشاره اوکړه تعریفاتو د دې اقسامو نځنځ پاره د اذهانو ذکیه۔ او په قد علم سره تنبیه ورکړه اذهانو متوسطه وته په تعریفاتو د اقسام ثلاثه باندې او په تفصیل سره ئې تعریفونه اوکړه په تعریفاتو د اقسام ثلاثه د پاره د اذهانو غبیه، نو مصنف د لولو طالبانو خیال اوساتلو یعني ذهن ذکي ته اشاره کافي ده او د ذهن متوسط د پاره تنبیه کافي ده او د ذهن غبي د پا۔

تسریح ضروری وه، ځکه چه په اِشاره یا تنبیه باندِ ذهن غبی نهٔ پوهیږی۔

درس نمبر ۲۶: دوَیم بحث دا دے، په ذالك کښې اِسمِ اشاره دهٔ اَو دَ دے دَ پاره مشارٌ الیه "لانهما اما ان تدل الخ" دے۔ **سوال** ۔ چه هرکله ذالك اِسم اشاره دهٔ اَو دَ دے دَ پلوه مشارٌ الیه "لانهما اما ان تدل" دے، نو په مابین دَ مشارٌ الیه اَو دَ اِسمِ اِشاره کښې مطابقت نهٔ راځی ځکه چه ذالك دَ مذکر دَ پاره راځی اَو "لانهما اما ان تدل" دا جمله دهٔ اَو جمله مؤنث وی۔ **جواب** ۔ مشارٌ الیه دلته دلیل دَ حصر دے، چه هغه اگرکه دلته لفظاً ذکر نه دے، لیکن دَ وجه دَ حصر نه مستفاد دے اَو دلیل مذکر دے، نو مطابقت صحیح شو۔ **سوال** ۔ په ذالك سره اِشاره کیږی محسوس مشاهد بالبصر ته اَو دلیل دَ حصر خو یو معقول شی دے، نو معقول ته څنګه په ذالك سره اشاره کیږی؟ **جواب** ۔ دلته تنزیل دَ معقول راغلی دے، په منزله دَ محسوس باندې۔ پس اِشاره ورته صحیح اوګرځیده۔ **سوال** ۔ ذالك راځی دَ پاره دَ مشارٌ الیه بعید اَو دلته کښې خو دلیل دَ حصر قریب دے۔ **جواب** ۔ په ذالك سره اشاره دلته قریب ته دَ وجه دَ عظمت اَو اِحترام نه شوی ده، لکه "ذالك الکتاب" قرآن پاك خو اِنسان ته ډیر قریب دے، خو دَ عظمت اَو دَ اِحترام دَ وجه نه ورته په ذالك سره اشاره راغلی ده۔ دریَم تحقیق دا دے چه حد په لُغت کښې منع ته وائی اَو په اِصطلاح دَ منطقیانو کښې تعریف الشئ بالذاتیات ته وائیٔ[1]۔ اوس دلته سوال پیدا کیږی، چه ذاتیات دَ شی مجهول وی اَو دلته کښې په تعریف دَ اِسم کښې عدم اقتران راغلی دے اَو په تعریف دَ حرف کښې عدم اقتران اَو عدم استقلال دواړه راغلی دی، نو یو عدمی شے به دَ بل شی دَ پاره څنګه ذاتی وګرځی؟ **جواب** ۔ دلته ذکر مخاص دے، مُراد تری نه عام دے، چه هغه تعریف دے اَو تعریف حد اَو رسم دواړو ته شامل دے، نو تقدیر به داسے شی "وقد علم بذالك تعریف کل واحد منها" اَو یا دا چه دلته کښې دَ حد نه مُراد مطلق تعریف جامعه مانعه دے۔

درس نمبر ۲۷

الکلام ما تضمن الکلمتین بالاسناد په دے عبارت سره مصنفؒ دَ علم نحوه موضوع دریَم جز بیانوی، یعنی جزئی کلمه وه، چه هرکله مصنفؒ دَ هغے دَ تعریف اقسامو اَو دَ وجه دَ حصر نه فارغ شو، نو وسے وئیل چه "الکلام الخ"۔ کلام په لُغت کښې ما یتکلم به ته وائی اَو په اِصطلاح کښې دَ نحویانو کښې ما تضمن کلمتین بالاسناد ته وائی۔ معنیٰ دَ دے تعریف دا ده، چه کلام دا هغه لفظ دے چه متضمن وی، په اعتبار دَ عروض دَ هیئت اجتماعی سره، هر واحد دَ کلمتین لره کلمتین عام دی، حقیقتاً وی، که حُکماً لفظاً وی، که تقدیراً۔

---

[1] لکه دَ اِنسان تعریف، چه حیوان ناطق سره وشی، ځکه دا ذاتیات دَ اِنسان وائی۔ (دم۔س)

هیئے تضمن چه حاصل وی په سبب د اسناد سره او اسناد نسبت د مدلول د کلمے دے کلمے آخری وته په دے شان سره چه ورکوی مخاطب ته فائده تامه۔ **سوال**. کلمه او کلام دواړه جزئین د موضوع د علم نحو دی، نو چه هر کله د کلمے نه فارغ شو، نو کلام به ئے په عطف سره ذکر کړے وو او داسے به ئے وئیلے ووچه والکلام۔ **جواب**. حرف عطف ئے ځکه ذکر نه کړو چه په دے کښے اشاره ده استقلال د کلام ته او که چرے حرف عطف ئے ذکر کړے وے، نو بیا به کلام معطوف او کلمه معطوف علیه وه او معطوف تابع وی د معطوف علیه، نو بیا به دا وهم پیدا کیدو چه کلمه اصل ده او کلام فرع ده، حالانکه کلام اصل دے۔ **سوال**. دلته دا 'ما' خو نه عبارة دے که د اسم نه ئے عبارة اخلی، نو اسم مفرد دے او کلام خو مرکب دے او بل دا چه حمل د عام راځی په خاص باندے که چرے 'ما' عبارت شی د لفظ نه، نو په دے صورت کښے 'نعم' داخلیږی په تعریف کښے، په دے ترکیب کښے چه څوک سوال اوکړی 'اقام زیدٌ'، او ته په جواب کښے اووائے چه 'نعم'! نو دلته کښے به 'نعم' باندے تعریف د کلام صادقیږی او حال دا دے چه 'نعم' خو کلام نه دے او که چرے 'ما' عبارة اخلے د کلمے نه نو حمل د خاص راځی په عام باندے او بل دا چه کلمه به متضمنه وکوځی د پاره د کلمتینو او که چرے 'ما' عبارة شی د کلام نه، نو لازمیږی لغو د محدود په حد کښے او که 'ما' عبارة شی د شی نه، نو داخلیږی په کښے زیدٌ قائمٌ چه منقوش علی الجدار یا مکتوب فی القرطاس وی۔ **جواب**. دلته 'ما' عبارة دے د لفظ نه او که ته وائے چه 'نعم' په کښے داخلیږی په تفصیل د 'ما' سبق سره، نو مونږ وایو چه نه داخلیږی ځکه چه 'نعم' متضمن کلمتین لره نه دے بلکه قائمٌ مقام دے کلمتین لره۔ اوس لفظ عام دے، مفرد وی که مرکب، موضوع وی که مهمل، مرکب کلامی وی که غیر کلامی وی۔

درس نمبر ۲۸ :-

مونږ په تعریف د کلام کښے عروض د هیئتِ اجتماعی قید لګولے وو په دے سره دفع د سوال کوو۔ **سوال**. په دے وارد یږی چه ته خو وائے چه کلام هغه ته وائی چه متضمن وی کلمتین لره، نو مثلاً زیدٌ قائمٌ کلام دے، نو د دے د پاره متضمن څه شے دے او که ته دا وائے چه په خپله تضمن دے، نو په دے صورت کښے لازمیږی اتحاد په مابین د متضمِن او د متضمَن کښے۔ **جواب**. مونږ په معنیٰ کښے دا قید لګولے وو چه متضمن وی په اعتبار د عروض د هیئتِ اجتماعی سره، نو زیدٌ قائمٌ متضمِن دے او هر واحد د کلمتین نه متضمَن دے۔ د مثال په طور لکه کټ، نو یعنی سریرلا په اعتبار د عروض د هیئتِ اجتماعی سره متضمِن دے او ورسئ یعنی پړے، لښے، بازوګان دا متضمَن دی۔ **سوال**. تعریف د کلام جامع نه شو، ځکه افرادو لره او خارج شو ترے نه دا تراکیب چه، 'زیدٌ قام ابوه'، 'زیدٌ قائمٌ ابوه' او 'زیدٌ ابوه قائمٌ'، ځکه چه ۱۰

متضمن كلمتين لره نه دي، بلكه كلماتو لره دي. **جواب**. مونږ به معنیٰ كښې دا قيد لګولے وؤ چه كلمتين عام دي، حقيقتاً وي او كه حكماً، نو دلته كښې اګركه حقيقتاً تضمن د كلمتين نه دے، لېكن حكماً كلمتين دي په اعتبار د تاويل سره، لو تقديرېږي په دا سې شي، چه زيدٌ قائمٌ الابُ.

سوال. دا خو بيا د ټے كلمے اګر ځېدے؟ **جواب** دا دے چه الاب، مضاف اليه دے او مضاف اليه خارج وي، د مضاف نه او قيد وي د پاره د مضاف [1]. **سوال**. تعريف ستا جامع نه شو، خپلو افرادو لره او خارج شو ترې نه دا تركيبين جس مهمل او ديز مقلوب زيدٌ. ځكه چه دا د الفاظو موضوعه نه مركب نه دے، بلكه بعض په دې كښې مهمل دي، لكه جسق لفظ مهمل دے او په ديز مقلوب زيدٌ كښې ديز لفظ مهمل دے. **جواب**. كلمتين عام دي، حقيقتاً وي كه حكماً، نو دا تركيبين حكماً مؤل دي په تاويل سره، چه په جسق كښې مونږ تعبير به هذا اللفظ مهمل سره او په ديز مقلوب زيدٌ كښې به هذا اللفظ مقلوبُ زيدٍ سره كوو.

سوال. تعريف د كلام ستا جامع نه شو، خپلو افرادو لره او خارج شو ترې نه دا تركيب ان جاءني زيدٌ فاكرمته، ځكه چه دا كلمتين نه دي، بلكه جملتين دي. **جواب**. كلمتين عام دي، حقيقتاً وي كه حكماً، نو دلته كښې اګركه حقيقتاً كلمتين نه دي، لېكن حكماً دي، په دې طور سره چه كلام په حقيقت دلته جزا ده او شرط قيد دے د پاره د جزا، لو تقديرېږي دا سې شي چه اكرمته لمجيئه. **سوال**. تعريف دے جامع نه شو، خپلو افرادو لره او خارج شو ترې نه دا قسم تركيبين، چه اضرب، لاتضرب. ځكه چه دلته كښې تضمن د كلمتينو نشته، بلكه كلمه واحده ده. **جواب**. مونږ په كلمتين كښې دويم تعميم كړے وؤ چه كلمتين عام دي، لفظاً وي كه تقديراً، نو دلته كښې اګركه لفظاً كلمتين نه دي، لېكن تقديراً كلمتين دي، ځكه چه په دې كښې ضمير د انت مستتر دے.

د بالاسناد لفظي تحقيق

بالاسناد جار مجرور دي او د جار مجرور د پاره اعراب محلي وي، نو د بالاسناد اعراب محلي نصب دے، بناپر مفعول مطلق. **سوال**. ته وائې چه د بالاسناد اعراب محلي نصب دے، بناپر مفعول مطلق، نو دا نه دے صحيح، ځكه چه مفعول مطلق خو هغه ته وائي چه فعل په هغه باندې مشتمل وي. د قبيلې د اشتمال د كل نه په جزء باندې، لكه ضربت ضرباً، نو په ضرباً باندې ضربت مشتمل دے، چه دا يې فعل دے او دلته دا سې شي، چه هغه مشتمل وګرځي، بالاسنا

---

[1] لو دلته الاب مضاف اليه دے چه دا خارج دے د مضاف نه او قيد دے د پاره د مضاف او لو دا د كلماتو نه شو بلكه كلمتين وګرځېدل ۱۲-

وه د قبیلې د اشتمال د کل نه په جز باندې. **جواب**. دا بالاسناد په حقیقت کښې صفت واقع شوې دے د پاره د تضمنا او هغه چونکه منصوب دے، نو دا هم منصوب شو. **سوال**. دا وارد بري چه بالاسناد جار مجرور دے او د جار مجرور د پاره لابدی وی د متعلق نه، نو د دے پاره متعلق به یا تضمن وائے او یا تضمنا. که تضمنا سره یې متعلق کوے، نو په دغه صورت کښې تقدیم د صفت راځي په موصوف باندې او دا ناجائز دے، ځکه چه صفت تابع وی او موصوف متبوع او متبوع دا مقدم وی په تابع باندې او که د تضمن سره یې متعلق کوے، نو اتحاد راځي په مابین د موصوف او د صفت کښې لفظاً او په مابین د موصوف او د صفت کښې تغائر پکار وی. ۹

جواب. دا نه متعلق دے په التضمن پورې او نه په تضمنا پورې حتی چه تقدیم د صفت راشي په موصوف باندې او یا اتحاد راشي، په مابین د موصوف او صفت کښې، بلکه دا ظرف مستقر دے، او متعلق د دې مقدر دے چه حاصلاً دے، نو عبارت به داسې شي، چه ما تضمن کلمتین تضمنا حاصلاً بالاسناد او دا باء به سببیه اوګرځي. **سوال**. مص کلمه او کلام ذکر کړل او جمله یې ذکر نه کړه، حالانکه پکار وو چه په دې مقام کښې یې جمله هم ذکر کړې وے. **جواب**. جمله یې ذکر نه کړه بنا په مذهب محقق باندې، ځکه چه په نزد محققین باندې جمله او کلام دواړه مترادفین دی، نو چه کله د کلام تحقیق او شو نو ګویا د جملې تحقیق هم او شو او د بعض مذهب دا دے چه په جمله او په کلام کښې فرق دے، یعني جمله عامه ده او کلام خاص دے، نحویان د جملې تعریف داسې کوي چه ما تضمن الاسناد الاصلي او برابره خبره ده که هغه اسناد (نسبت) مقصود لذاته وي او که نه وي لیکن کلام ما تضمن الاسناد الاصلي ته وائي، خو دا اسناد به مقصود لذاته وي، نو په دې وجه باندې د کلام او د جملې په مابین کښې نسبت د عموم خصوص مطلق شو، پس کل کلام جملة ولا بنعکس. مصنفٌ تعریف د کلام اوکړو او په هر تعریف کښې لابدی وی د جنس او د فصل نه او په تعریف د کلام کښې (ما) عبارت دے د لفظ نه. دا جنس دے تمام الفاظ په کښې داخل شو، مفردات، مرکبات، موضوعات، مهملات. تضمن کلمتین فصل اول دے. په دې سره ترې نه مفردات او مهملات وغیره خارج شو او په بالاسناد سره چه دا فصل ثاني دے. ما سوا د کلام نه نور ټول خیزونه خارج (یعني په دې سره ترې نه مرکبات غیر کلامیه خارج شول).

درس نمبر ٢٩

ولایتاتی ذالك الافی اسمین او اسم وفعل

ترجمه: او نه حاصلیږي دا کلام چه عام دے مفهوماً، مګر په ضمن د دوو اسمینو کښې په دوه شان سره، چه یو به مسند الیه وی او بل

په مسند وي يا په ضمن د اِسم او فعل کښې په دې شان سره چه اِسم مسند اليه واقع شي او فعل مسند. ځکه چه په کلام کښې لابدي ده نو اسناد نه او په اسناد کښې لابدي ده د مسند او مسند اليه نو او دا نه حاصليږي مګر په تحقق اِسمينو کښې او يا په اِسم او فعل کښې او دلته کښې ظرفيه راغلې ده، د خاص د پاره د عام او دا جائز دے لکه څنګه چه ظرفيه د عام د پاره د خاص روا ده۔ **سوال**. تا اووے چه ولايتاتّى، نو نسبت د اتيان د او کړو، کلامه او د الست سا نه دے صحيح، ځکه چه نسبت د اتيان ذوي الروح ته کيږي او کلام د نحوي ذوي الروح نه دے۔ **جواب**. ولايتاتى دا په معنىٰ د لا يحصل سره نه دے۔

سوال. ذالك اِسم اشاره دے او د دې د پاره لابدي ده د مشار اليه نه، نو د دې مشار اليه اسناد دے او که تضمن؟ **جواب**. د ذالك د پاره مشار اليه کلام دے او دا ثابت دے په دوو قرينو سره، اوله قرينه دا ده چه ذالك راځي د پاره د مشار اليه بعيد او کلام هم په نسبت سره په دې عبارت کښې د اسناد او تضمن نه بعيد دے۔ دويمه قرينه دا ده چه طريقه د مصنفينو دا ده چه اول تعريف د شي او کړي او بيا يې تقسيم او کړي، نو دلته هم مصنف تعريف د کلام او کړو او س يې تقسيم کوي، نو د دې نه معلومه شوه چه مشار اليه د ذالك کلام دے۔

سوال. څه وجه ده چه مصنف په تقسيم د کلام کښې اداة د حصر ذکر کړو چه اِلّا دے او په تقسيم د کلمه کښې يې ذکر نه کړو۔ **جواب**: په تقسيم د کلمه کښې احتمالات عقليه نه وو او په کلام کښې احتمالات عقليه موجود وو، نو په اِلّا سره يې هغه احتمالات چه کوم صحيح وو، هغې ته اشاره او کړه ځکه چه احتمالات په تقسيم د کلام کښې شپږ دي، درې احتماله متوافقين او درې متخالفين، لکه په دې قول د شاعر په شعر کښې:-

اسم و اسم، فعل و فعل، حرف و حرف — متوافقين

اسم و فعل، اسم و حرف، فعل و حرف — متخالفين

په دې کښې اِسم و اسم او اِسم و فعل صحيح دي او باقي نور احتمالات غير صحيح دي ځکه چه اِسم و اسم او اِسم و فعل مسند اليه او مسند واقع کيږي [1]. چه د دوي نه کلام جوړيږي او دا نور نه صحيح کيږي ځکه فعل اګر که مسند واقع کيږي خو مسند اليه نه واقع کيږي او حرف خو نه مسند واقع کيږي او نه مسند اليه۔ **سوال**. في راځي د پاره د ظرفيه، نو دلته کښې لازميږي

---

[1] وجه يې دا ده چه کلام اسناد ته ضرورت لري او اسناد حاصليږي د مسند او مسند اليه نه. پس اِسم مسند او مسند اليه دواړه واقع کيږي، او فعل فقط مسند واقع کيږي اګر چه صلاحيت په کښې د وقوع د مسند اليه شته لکن واضع اللغة فعل د دې د پاره وضع کړے دے چه د دې نه په کلام کښې مسند وي فقط او حرف نه مسند واقع کيږي (فوائد بل ګنج)...

ظرفیة د شي د پاره د خپل نفس، ځکه چه کلام منونه دے، مګر یا دوه اسمونه او یا یو اسم او یو فعل اوتل **جواب** . دلته فی په معنی د من سره دے، نو عبارت به داسے شي "ولا یتأتی ذالك الامن او اسم وفعل" او په دے دویم جواب سره به دا اعتراض هم دفعه شي چه في راځي د پاره د ظرفیة او دلته کښے خو اسمین یا اسم وفعل ظرف نه صحیح کیږي، ځکه چه ظرف په دوه قسمه دے، یو ظرفِ زمان دے او دویم ظرف مکان دے، نو اسمین یا اسم وفعل نه ظرفِ زمان دے او نه ظرفِ مکان دویم. **جواب** دا دے چه دلته کښے ظرفیة د خاص راغلے دے، د پاره د عام او دا جائز دے، لکه څنګه چه ظرفیة د عام د پاره د خاص جائز دے، ظرفیة د عام د پاره د خاص لکه الانسان فی حیوان. دلته کښے ظرفیة د عام راغلے دے، د پاره د خاص، یعني حیوان ظرف دے، د پاره د انسان، حیوان عام دے او انسان خاص دے او دا به په هغه صورت کښے وي چه خاص د عام د افرادو او جزئیاتو نه وي، نو انسان د حیوان د افرادو او جزئیاتو نه دے او چه ظرفیة د خاص راغلے وي، د پاره د عام، لکه "الحیوان فی الانسان" دلته کښے ظرفیة د خاص راغلے دے د پاره د عام، خاص انسان دے او عام حیوان دے او دا په هغه صورت کښے چه د عام ذاتي وي د پاره د خاص او حیوان چه عام دے د ذاتي، دے د پاره د خاص چه انسان دے، ځکه چه تعریف د انسان دا دے "حیوان ناطق"، نو حیوان د انسان ذاتي دے. پس دلته اګر که ظرف حقیقي نه دے، لیکن دا ظرف مجازي دے، په دے شان سره، لکه څنګه چه ظروف مشتملوي په خپل مظروف باندې، نو دغه رنګے دا کلام چه عام دے، مفهوماً مشتمل دے په خاص باندې چه اسمین دي او یا اسم او فعل دي. **سوال** . ته خو وایے چه کلام هغه دے چه مرکب وي، د دوو اسمونو نه نو به درته اوښایم، چه دوه اسمه به وي، لیکن کلام به نه وي، لکه "غلام زید" دا دوه اسمه دي او هم کلام نه دے. **جواب** . مونږ دا خبره کړي ده چه په کلام کښے لابُدی ده، د اسناد نه او په غلام زید کښے اسناد نشته. **سوال** . ته وایے چه کلام به یا مرکب وي د اسم او فعل نه. نو به درته اوښایم چه اسم او فعل به وي او بیا به هم کلام نه وي، لکه ضربك ضرب فعل دے او "ك" ضمیر اسم دے، بیا هم دے ته کلام نه ویلے کیږي، لیکن دا په هغه وخت کښے چه په ضرب کښے ضمیر د فاعل مستتر اونه وایے. **جواب** . په کلام کښے لابدی ده، د اسناد نه او د اسناد د پاره لابدی ده، د مسند او مسند الیه نه. دلته کښے اګر که فعل مسند دے، لیکن (ك) مسند الیه نه دے، ځکه چه دا مفعول دے (او مفعول فضله وي). **سوال** . ته خو وائے چه کلام مرکب د دوو اسمونو او یا د

(پاسنے د تبل ترخ نه)... او نه مسند الیه، نو دغه دوه احتمالات به کښے معتبر شول. ۱۲ (م.س).

اِسم اَوْ فعل نه، نو زمونږ به دغه اُو بنایو چه کلام به وی اَوْ مرکب به وی د حرف اَوْ اسم نه لکه یازید.

جواب. یاحرف ندا قائم مقام د اَدعُوْ دے اَوْ اَدعو فعل دے، نو ترکیب د کلام د حرف اَوْ اسم نه نه دے جوړ شوے بلکه د اِسم اَوْ د فعل نه راغلے. **سوال**. یاحرف ندا ده اَوْ حرف خو غیر مستقل دے نو غیر مستقل د مستقل قائم مقام څنګه شو۱؟ **جواب**. دغه شان سماع د عربو نه راغلی ده اَوْ قیاس لره په دے کښے دخل نشته را.

درس نمبر ۳۰

الاسم مادل علٰی معنی فی نفسه غیر مقترن باحد الازمنة الثلثة

ترجمه:- قسم اَوَّل د اقسامو د کلمے نه چه هغه اسم دے دا هغه کلمه ده چه دلالت کوی په معنی

بانډے، هغه معنی چه حاصله اَوْ ثابته وی، په ذات د دے کلمے کښے اَوْ دا معنی منظور الیه بالذات وی اَوْ هغه معنی چه محتاجه نه وی، په دلالت خپل کښے، ضم د کلمے اُخری ورته اَوْ هغه معنی چه مقترنه نه وی، په یو د ازمنه ثلاثه و مخصوصه پورے په اعتبار د اصل وضع سره (یا هغه معنی چه معتبره وی، په اعتبار د نفس خپل سره) رابطه ئے د ماقبل سره دا ده، هرکله چه مصنف رح فارغ شو د بیان د تعریف اَوْ تقسیم اَوْ د وجه د حصر د کلمے نه اَوْ د بیان د تعریف اَوْ تقسیم د کلام نه نو شروع ئے وکړه په بیان د تعریفاتو د اقسامو د کلمے کښے اَوْ د اقسامو د انواعو پیژندګلو تعریف اَوْ متعلقاتو کښے۲.

الاسم کښے الف لام عهد خارجی دی اَوْ د دے د پاره معهود هغه اِسم دے چه نکره ده. ځکه چه د نحوانو قاعده دا ده چه یو شے ذکر شی نکره اَوْ بیا ذکر شی معرفه، نو ثانی عین اُولیٰ وی. **سوال**. مصنف رح بحث د اقسامو د کلمے نه شروع کړو اَوْ د کلام د اقسامو نه ئے بحث شروع نه کړو.

جواب. اقسام د کلمے، د اقسامو د کلام نه زیات دی اَوْ په دے سره احکام متعلق هم زیات دی، برخلاف د کلام نه چه د دے خو اَوَّل اقسام نشته، اَوْ که شته دے نو هغه پورے بیا تعلق د احکام کثیره نشته. په دے وجه ئے د کلمے په اقسامو باندے شروع اوکړه، دوئمه وجه دا ده چه کلمه مفرده ده اَوْ کلام مرکب دے نو ظهور اَوْ خفا په مفرد کښے دا مستلزم ده، ظهور اَوْ خفا د مرکب لره، تحقیق په حرف 'ما' کښے. حرف 'ما' په دوه قسمه دے. یو حرفی دے اَوْ بل اِسمی. حرفی

ل. یعنی یاحرف ندا قائم مقام د اَدعوه، نو د دے تعلق د سماع سره دے، حتیٰ چه ستا اعتراض وارد شی. (م.س).


۲. یا ئے رابطه داسے کړی ده. هرکله چه مصنف رح فارغ شو د بیان د جزو ثانی د موضوع نه، چه کلام وو، پس شروع ئے وکړه په بیان د تعریفاتو د اقسامو د کلمے اَوْ د اقسامو د انواعو کښے اَوْ د دے په متعلقاتو کښے. (م.س).

بیا په دریٔ قسمه دے، ما نافیه، ما زائده اؤ ما مصدریه۔ اؤکهٔ چرته په دے مقام کښے ما نافیه مراد شی، لازمیږی فساد په کښے۔ مطلب بهٔ دا شی چه اِسم دا هغه دے چه دلالت نهٔ کوی اؤ کهٔ ما زائده مراد شی، نو په هر تعریف کښے لابدی دی، د جنس اؤ د فصل نه۔ بیا بهٔ دا ما په منزله د جنس ونهٔ ګرځی، نو لازم بهٔ شی تعریف په غیرد جنس نه اؤکهٔ چرے دا ما مصدریه مراد شی، نو دا هم نهٔ دی صحیح، ځکه چه دا ما خپل مدخول لره ګرځوی (چه هغه فعل دے) په تاویل د مصدر سره، نو په دے صورت کښے بهٔ حمل د صرف وصف راشی په ذات باندِ اؤ ما ناجائز دے۔ بیا ما اِسمی په څلور قسمه دے، ما اِستفهامیه، ما شرطیه، ما موصوله اؤ ما موصوفه۔ ما استفهامیه کهٔ چرته دلته مراد شی، نو دا نهٔ صحیح کیږی، ځکه چه دا مقام د تعریف دے اؤ مقام د تعریف دا محل د اِستفهام نهٔ دے، ځکه چه اِستفهام هغه ته وائی چه د متکلم په هغه ځائے کښے شک وی اؤ تعریف فائده کوی اؤ شک د یقین سره منافی دے، نو ما اِستفهامیه صحیح نهٔ شو اؤ ما اِستفهامیه شرطیه هم درست نهٔ دے، ځکه چه شرط جزاء غواړی اؤ دلته کښے جزا نشته۔ باقی پاتے شو ما موصوله اؤ ما موصوفه، نو دا دواړه صحیح کیږی، کهٔ ما موصوله شی، نو بیا الاسم بهٔ معرّف شی لؤ ما دل علی معنیً بهٔ معرّف شی، دا ځکه چه اصل په معرف کښے تعریف دے اؤ ما موصوله هم معرفه ده اؤ کهٔ چرته کښے ما موصوفه شی، نو الاسم بهٔ مبتدا شی لؤ ما دل بهٔ ورله خبر شی، ځکه چه اصل په خبر کښے تنکیر دے اؤ ما موصوفه هم نکره ده۔ په دے سره مونږ ته یو خاص فائده هم حاصله شوه، هغه دا چه شارح ملاجامیؒ کله وائی چه دا ما موصوله ده اؤ کله وائی چه دا موصوفه ده، نو چه کله معنی دا تحقیق لوکړو اؤ فرق موبیان کړو، چه کله ما موصوله شی، نو لحاظ د معرف مو وکړو اؤ کله چه موصوفه شی، نو لحاظ د خبر مو وکړو، اوس بهٔ د طالب په ذهن کښے شبهه نهٔ راځی اؤ نهٔ بهٔ یئے ذهن مشوش شی[1]۔

سوال۔ دا ما به یا عبارت وائی د شی نه یا بهٔ یئے عبارت وایئے د لفظ نه اؤ یا د اِسم نه اؤ یا د کلے نه، والکل باطل۔ کهٔ چرے ما عبارة شی د شی نه، نو تعریف د اِسم مانع نهٔ ګرځی، د دخول د غیر

---

[1]. دلته د حرف ما تقسیم ته اِشاره دشوه۔ پس مناسب ده دا خبره چه شکل جوړه شی۔ ۱۲ (م۔س)۔



نه اؤ داخليږي په کښې دوال اربعه، ځکه چه هغه هُم په دے معنیٰ د اسم دلالت کوي اؤ کهٔ عبارت شي د لفظ نه، نو بيا هُم تعريف مانع کرځي، د دخول د غونه اؤ داخليږي په کښې مرکبات اؤ کهٔ ما عبارت آخلی د اسم نه، نو أخذ د محدود راځي، په حد کښې اؤ دا ناجائز دے اؤ کهٔ عبارت یے د کلمے نه آخلے، نو مطابقت نه راځي په مابين د راجع لوٴ مرجع کښے، ځکه چه کلمة مؤنث ده اؤ (ه) ضمير د مذکر دے اؤ مطابقت ضروری دے په مابين د راجع اؤ د مرجع کښے۔ **جواب**۔ دا ما عبارت دے د کلمے نه اؤ کهٔ ته دا وائے چه مطابقت الخ، په مابين د راجع اؤ د مرجع کښے، نو مونږ وايو چه تذکير د ضمير په اعتبار د تعبير سره دے، يعنی په اعتبار د موصول سره دے، چه هغه مَا دے، اؤس هر کله چه مَا عبارت وګرځيدو د کلمے نه، نو دَلّ بهٔ په معنیٰ د دلت سره شي چه الاسم کلمة دلت۔

درس نمبر ۳۱ :- في نفسه جار مجرور دے اؤ په جار مجرور کښے لا بدی ده چه د متعلق نه، نو دَ دے متعلق به يا ظرف لغو وي، نو هغه دلّ دے، بيا په دے کښے دوه احتماله دي، يا بهٔ دا في په معنیٰ د بار سره آخلو يا به ئے په معنیٰ څپله باندِ آخلو اؤ کهٔ متعلق یے ظرف مستقر شي چه هغه کائن دے، په دے کښے هُم دوه احتماله دي۔ يا بهٔ کائن حال واقع شي د معنے نه اؤ يا بهٔ دا صفت واقع شي د پاره د معنے، نو کل څلور احتماله شو، په دے څلورو احتمالو کښے په دے کښے دريم احتماله نهٔ دي صحيح اؤ نور احتمال صحيح دے چه هر کله في نفسه د ظرف لغو سره متعلق شي، نو په دے کښے دويم احتمال چه في په معنیٰ د با شي، دا ځکه نهٔ دے صحيح چه دا مجاز دے اؤ صيرورة مجاز ته بے د ضرورت داعيه نه ناروا دے۔ بيا د دے دريم دے وايو احتمالاتو د عدم صحت عمومی وجه دا ده، هر چه دے ظرف لغو، نو جار مجرور د څپل متعلق د پاره قيد وي، نو دا بهٔ قيد ګرځي، د پاره د دلّ اؤ هر چه دے ظرف مستقر چه کائن حال واقع شي د معنے نه، نو قاعده دا ده چه حال قيد وي، د پاره د عامل د ذوالحال اؤ عامل دلته کښے دلّ دے، لنو

نو عمومی وجه د عدم صحت د دے وارو احتمالاتو دا ده چه په صورت د ظرف لغو کښے برابره خبره ده، کهٔ في په معنیٰ د با سره وي، اؤ کهٔ په څپله معنیٰ ثابته وي، نو دا بهٔ متعلق شي په دلّ پورے اؤ قاعده دا ده چه هر متعلق بهٔ قيد وي، د پاره د څپل متعلق، نو پس دا في بهٔ قيد اوګرځي، د پاره د دلّ، چونکه دلّ خو مقيد نه دے، نو مترجم بهٔ دا توهم کوي، چه دلالت مقيد په اسم کښے قوي دے په خلاف د فعل اؤ حرف نه۔ حالانکه لفس دلالت په دريم وارو کښے مساوی دے اؤ هر چه احتمال ثالث دے، يعنی ظرف مستقر په هغه صورت کښے چه کائن حال واقع شي، د پاره د معنے اؤ قاعده دا ده چه حال قيد وي، د پاره د عامل د ذوالحال، نو ذوالحال دلته معنیٰ ده اؤ عامل د ذوالحال دلّ دے، نو مترجم دا توهم کوي چه دلالت د اسم قوي دے په نسبت د فعل اؤ حرف وته، حالانکه دا سے نه ده۔ پس معلومه شوه چه في نفسه متعلق دے په کائن مقدر پورے اؤ کائن صفت دے د پاره د معنے۔ ۱۲

متوهم به دا وهم کوی چه دلالت د اِسم دا قوی دے، د دلالت د فعل اَوْ د حرف نه، حالانکه په نفس دلالت کښے ټول برابر دی را. **سوال**. په نفسه کښے دا " ه " ضمیر به یا راجع کوے اسم ته یا کلمے ته یا معنیٰ ته هر واحد د دے نه نه صحیح کیږی، که اِسم ته ئے راجع کوے، نو معنیٰ به دا اوګرځی، چه الاسم مادلّ علےٰ معنیً فی نفس الاسم، نو په دے سره خلور نقصانات لازمیږی. یو دا چه اخذ د محدود راځی په حد کښے. دوئیم دا چه ظرفیة د اِسم راځی د پاره د خپل نفس. دریم دا چه مخالفت راځی د تصریح د مصنف نه چه هغه په خپل کتاب ایضاح کښے کړی ده، چه ضمیر ئے راجع کړے دے معنیٰ ته. څلورم دا چه لازمیږی فساد په معنیٰ د حرف کښے اَوْ که چرته کلمے ته ئے راجع کړو نو دغه نقصانه لازمیږی، یو دا چه په مابین د راجع اَوْ مرجع کښے مطابقت نه راځی. دوئیم دا چه مخالفت راځی د تصریح د مصنف نه چه هغه ضمیر راجع کړے دے معنیٰ ته. دریم دا چه ظرفیة د کلمے لازمیږی اَوْ که دا ضمیر موَنث راجع کړو معنیٰ ته، نو ظرفیة د شی لازمیږی د پاره د خپل نفس. **جواب**. دا دے چه " ه " ضمیر راجع دے کلمے ته. که ته وائے چه په مابین د راجع اَوْ مرجع کښے مطابقت نشته، نو زه وایم چه تذکیر د ضمیر په اِعتبار د تعبیر سره دے، چه هغه ماموصوله دے. بیا که ته وائے چه مخالفت لازمیږی د تصریح د مصنف نه، نو مونږ وایو چه مخالفت نه راځی، ځکه چه کینونت د کلمے په معنیٰ یا د معنیٰ په معنیٰ کښے د دواړو مطلب اَوْ مال یو دے، چه هغه اِستقلال بالمفهومة دے اَوْ که وائے چه ظرفیة د کلمے لازمیږی، نو زه وایم چه ظرف په دوه قسمه دے. یو ظرف حقیقی، بل ظرف مجازی تشبیهی. ظرف حقیقی، ظرف زمان یا ظرف مکان ته وائی را. نو دلته کښے اګر که کلمه ظرف حقیقی نه ده، لیکن ظرف تشبیهی ده، په دے شان سره چه څنګه ظرف اِحاطه کړے وی، په خپل مظروف باندِ اَوْ په دے اِحاطه کښے دے محتاج نه وی، نو دغه شان کلمے د اِسم هم اِحاطه کړی ده، په خپله معنیٰ باندِ اَوْ په دلالت کښے چاته محتاجه نه ده، نو دا تشبیهاً ظرف شو اَوْ که ضمیر راجع شی معنیٰ ته، نو دا هم صحیح کیږی، که ته وائے چه ظرفیة د شی لازمیږی، خپل نفس ته، نو مونږ وایو چه دا نه لازمیږی، ځکه چه دا فی اِعتباریه ده، ظرفیة نه ده، که څوک اُووائی چه د فی اِعتباریه د پاره دلیل نشته، که هسے تحکم دے، یعنی دعوه بلا دلیله ده، نو جواب دا دے چه دلیل ورله دا قول د عربو دے چه " الدار فی نفسها حکمها کذا " یعنی " الدار باعتبار نفسها ". دلته کښے فی اِعتباریه ده. **سوال**. حرف خو هم دغه شان دلالت کوی، په خپله معنیٰ باندِ. **جواب**. مونږ په معنیٰ کښے د قید لګلے وو چه دغه معنیٰ منظور الیه بالذات وی، نو دا معنیٰ منظور الیه بالذات ده اَوْ بله منظور نه ده. سا بواسطه

را ظرف مجازی تشبیهی هغے ته وائی چه د تشبیه یا د علاقه په وجه ظرفیة د یو شی را ... ی، د پاره د شی آخر. ۱۲.

دلته کښې زمونږه مراد هغه معنیٰ ده، چه منظور الیه بالذات وی او حرف چه دلالت کوی په خپله معنیٰ باندې، لو دا منظور الیه بالواسطه ده، لکه چه څنګه ممکنات موجوده فی الخارج په دوه قسمه دی - یو قائم بالذات چه هغې ته جوهر وائی او بل قائم بالغیر چه هغې ته عرض وائی، لو دغه شان معنیٰ هم په دوه قسمه ده، یو معنیٰ قائم بالذات او بل معنیٰ قائم بالغیر. معنیٰ قائم بالذات، معنیٰ اسمی شوه او معنیٰ قائم بالغیر، معنیٰ حرفی شوه. په غیر مقترنٍ کښې درې واړه اعرابات صحیح دی، په غیرُ مرفوع شی، لو دا به خبر شی د پاره د مبتداء محذوف، چه هُوَ دے، أی هو غیر مقترن او که غیرَ منصوب شی، لو دا به حال واقع شی د معنے د پاره او که غیرِ مجرور شی، لو دا به صفت شی د پاره د معنے (صفت ثانی) په اعتبار د اصل وضع قید دے په دے وجه کښېنود، چه دفع د څو اعتراضاتو لپاره شی.

سوال. ستا دا تعریف جامع او مانع نهٔ دے، خپلو افرادو لره - داخل شو په کښې افعال منسلخه عن الزمان، ځکه چه دوئ په زمانه دلالت نهٔ کوی، یعنی مقترن نهٔ دی ورسره او دغه رنګې خارج شو ترینه اسماءِ افعال، ځکه چه دوئ مقترن دی د زمانے سره. **جواب**. مراد په اقتران سره اقتران دے، په اصل وضع کښې، لو په افعال منسلخه کښې په اعتبار د اصل وضع سره اقتران دے د زمانے سره او په اسماءِ افعال کښې په اصل وضع کښې اقتران نشته دے، د زمانے سره او اعتبار اصل وضع لره دے، نهٔ استعمال لره! **سوال**. ستا دا تعریف مانع نهٔ شو، د دخول د غیر نه او داخله شوه، په کښې مضارع، ځکه چه دا په دوؤ زمانو پورے مقترن ده. **جواب**. مراد په زمانے سره مطلق اقتران دے، په زمانے پورے بالیو خبره ده چه یوه زمانه وی که زیاتے وی.

سوال. ستا دا تعریف جامع نهٔ شو، خپلو افرادو لره او خارج شو ترینه اسم فاعل او اسم مفعول ځکه چه د دوئ هم اقتران په زمانے پورے شته. **جواب**. مراد په اقتران سره اقتران دے، په اصل وضع کښې او په اصل وضع کښې دوئ مقترن نهٔ دی! **سوال**. ته وائے چه په اسم کښې احتیاج نشته دے. نهٔ به دلته اومنایم چه اسم به دی او احتیاج به په کښې وی، لکه ظروف لازم الاضافت چه قبلُ او بعدُ وغیره دی، چه دوئ محتاج دی مضاف الیه ته. **جواب**. په دوئ کښې په اصل وضع کښې احتیاج نشته، بلکه په استعمال کښې دے او خبره زمونږ په اصل وضع کښې ده، نهٔ په استعمال کښې!

درس نمبر ۳۲:- په تعریف د اسم باندې یو عمومی **سوال** واردیږی چه تا تعریف د اسم ولې مقدم کړو؟ په فعل او په حرف باندې، دا خو ترجیح بلا مرجح ده. اول **جواب** تعریف د اسم ئے مقدم کړو، په فعل او په حرف باندې د پاره د دے چه موافقت راشی په مابین د اجمال او د تفصیل کښې، ځکه چه په اجمال کښې ئے اسم مقدم کړے وو، لو په تفصیل کښې ئے هم مقدم کړو! دویم **جواب** اسم ئے مقدم کړو، د وجې د شرافت او اصالت نه، ځکه چه اسم اشرف دے ...

نسبت سره فعل اَوْ حرف ته، ځکه چه اِسم په ترکیب دَ کلام کښې محتاج نهٔ دے فعل ته اَوْ حرف ته دَ سره جز نه واقع کیږی دَ کلام نه (یعنی نهٔ مسند اَوْ نهٔ مسند الیه) اَوْ فعل خو مسند راځی لیکن مسند الیه نه راځی اَوْ غیر محتاج اَشرف وی په نسبت سره محتاج ته اَوْ وجه دَ اصالت یې دا ده، چه اَصل په الفاظو کښې اعراب دے اَوْ اَصل په اسماء کښې هُم اعراب دے - نو ده کښې دا خبره چه په هَر تعریف کښې لابُدی ده، دَ جنس اَوْ دَ فصل نه، دلته کښې ما جنس دے، تمام کلمات په کښې داخل شو - دلّ علیٰ معنیٰ فی نفسه، دا فصل اَوّل شو په دِے سره ترینه حرف خارج شو اَوْ غیر مقترن الخ - دا فصل ثانی شو په دِے سره ترینه فعل خارج شو! **سوال**. مراد بهٔ دَ معنی نه یا معنیٰ مطابقی اخلے اَوْ یا معنیٰ تضمنی، کهٔ معنیٰ مطابقی اخلے لو معنیٰ مطابقی دَ فعل غیر مستقله ده، نو به دلّ علیٰ معنیٰ فی نفسه سره چه ځنګه حرف خارج شو، دارنګے فعل هُم خارج شو لو بیا به غیر مقترن سره اخراج دَ فعل دا خو نه دے، مګر اخراج دَ مخرج دے اَوْ دا باطل دے اَوْ کهٔ دَ معنی نه معنیٰ تضمنی مُراد اَخلے، لو بیا ترینه بعض اَفراد دَ اِسم خارجیږی، هغه اَفراد دَ اِسم چه هغه بسیط دی اَوْ دَ هغوئ دَ پاره جز نهٔ وی، چه معنیٰ تضمنی په کښې متحقق شی، لکه مصدر شو - **جواب**. مراد دَ معنی نه مطلق معنیٰ ده - برابره خبره ده چه هغه معنیٰ مطابقی وی اَوْ کهٔ تضمنی وی -

ومن خواصه دخول اللام

ترجمه:- اَوْ بعض دَ هغه امورو نه چه موجود یږی په اِسم کښې نه په غیر کښې - هغه امور چه کثیر دی، په نفس الامر کښې - هغه بعض چه معظم اَوْ مکبر دی، یو دَ هغې نه دخول دَ لام تعریفی دے، په اَوّل دَ اِسم کښې په دِے عبارت دَ مصنفؒ بانډے دا **سوال** واردیږی چه مقصود دَ علم نحو نه معرفت دے، دَ اَحوالو دَ کلمے اَوْ دَ کلام دَ حیثیت دَ اعراب اَوْ دَ بنا نه، لو اشتغال دَ مصنفؒ په تعریف دَ کلمے اَوْ دَ کلام بانډے یې اشتغال بمالا یعنی نه دے، ځکه چه دا موقوف علیه دی، دَ پاره دَ مقصود، لیکن اشتغال دَ مصنفؒ په خواصو دَ اِسم بانډے دا بمالا یعنی اَوْ بے مقصد دے، ځکه چه خواص دَ اِسم دا نه په خپله مقصود بالذات دی، دَ علم نحو نه اَوْ نه موقوف علیه دی، دَ پاره دَ مقصود - **جواب**. دَ اِسم دَ پاره دوه وجوده دی، یو وجودِ ذهنی دے اَوْ دوئم وجودِ خارجی - وجودِ ذهنی خو حاصل شو، په تعریف سره اَوْ هَر چه دے وجودِ خارجی نو هغې ته یې اِشاره اوکړه، په ذکر دَ خواصو سره، دَ پاره دَ مزید وضاحت اَوْ زیادتِ وضاحت - دا مستلزم دے، زیادتِ بصیرت لره، لو په دِے وجه بانډے مصنفؒ اوویل چه بعض دَ خواصو دَ اِسم نه (و من خواصه) دا ما سیاتی امور دی - نو کړه دا خبره چه مصنفؒ دلته کښې پنځهٔ خواص ذکر کړی دی اَوْ وجه دَ حصر په پنځو کښې دا ده، چه دا خواص به خالی نهٔ وی، یا به اَمر لفظی وی اَوْ یا به

امرِ معنوی وی که امر لفظی وی، لو بیا به خالی نه وی، یا به په اوّل د کلمې کښې وی یا یا به په آخر د کلمې کښې وی، که چرې په اوّل د کلمې کښې وی، لو دا شو الف لام او که چرې په آخر د کلمې کښې وی، لو بیا به خالی نه وی یا به نفسِ حرکت وی او یا به تابع د حرکت وی، که نفس حرکت وی، لو دا جر شو او که تابع د حرکت وی، لو دا تنوین شو او که چرې امرِ معنوی وی، لو بیا به خالی نه وی یا به په ضم د مرکب تام سره وی، او یا به نه وی، که چرې وی ضم د مرکب تام سره وی، لو دا اسناد شو او که چرې په ضم د مرکب سره نه وی، لو دا اضافت شو. **سوال** دا راځی چه مصنف دلته کښې پنځه خواص ذکر کړه او صیغه یې د جمع کثرة راوړه، چه د هغې اطلاق په عشره یا مافوق د عشره باندې کیږی، لو دا دلیل د مصنف صیغې د جمع مکسر یا جمع کثرت لره صحیح نه شو. **جواب.** مصنف اتیان کړے دے په جمع مکسر سره په دې کښې اشاره ده دې خبرې ته، چه خواص د اسم په نفس الامر کښې کثیر دی. **سوال** بنا د متن لو په اختصار باندې ده، لو بیکار وو چه مصنف وخواصه ویلې دے لو د من راوړلو ته حاجت نه وو. **جواب.** مصنف من ذکر کړو د پاره د فائدے او هغه دا چه دا من تبعیضیه دے، په دې سره یې بعض خواصو د اسم ته اشاره اوکړه! **سوال.** دا پنځه خواص یې ولې په خصوصیت سره ذکر کړه؟ **جواب.** دا پنځه واړه په دې کثیرو خواصو کښې معظم او مکبر وو، لو ځکه مصنف په خصوصیت سره ذکر کړل.

درس نمبر ۳۳: زده کړه دا خبره چه خواص جمع د خاصة ده او خاصه دې ته وائي چه مالوجد فیه ولایوجد فی غیره یا ما یختص بحقیقة واحدة، لکه ضحک شو د پاره د انسان. **سوال.** بعض د اسماء نه داسې دی، چه په هغوی باندې الف لام نه داخلیږی، اسماء اشارات شو یا ضمائر او خواصه خو دې ته وائي چه مالوجد فیه ولایوجد فی غیره. **جواب.** دا دے چه خاصه په دوه قسمه ده، یوه خاصه شامله ده او دویمه غیر شامله ده. خاصه شامله هغه ته وائي چه بیادِ ذی الخاصه په تمام افرادو کښې په هر وخت کښې موجود وی، لکه کتابت بالقوه شو د پاره د انسان. غیر شامله هغه ته وائي چه خاصه د ذی الخاصه په تمام افرادو کښې نه وی موجود، لکه کتابت بالفعل شو د پاره د انسان، لو دلته کښې مراد د خاصې نه خاصه غیر شامله ده، چه دا شامله نه ده د ذی الخاصه تمامو افرادو لره، چه هغه اسم دے، بلکه بعضو افرادو لره شامله ده، یا مراد د خاصې نه دلته کښې مطلق خاصه ده، چه شامله وی او که غیر شامله. غیر شامله لکه الف لام شو او شامله لکه تنوین وغیره شو.

سوال. نه خو وائي چه د خواصو د اسم نه دخول د لام دے، یعنی لام سره د اسم نه په بل چا نه داخلیږی، نو به دلته ایجابیه چه للمزید په فعل داخل شوے وی، لکه امر شو یا لام تاکید.

جواب. مراد په لام سره لام تعریفي دے. **سوال.** مصنف ولې دخول الالف واللام للتعریف

اَوْنَهٔ وئيل۔ **جواب**. په ال د تعريف کښې اختلاف دے په نزد د سيبويه باندِ ال د تعريف صرف لام دے اَوْ اضافه ورسره د همزې وصلي اوشوه، د پاره د دې چه ابتداء بالساکن رانهٔ شي، ځکه چه دا لام ساکن دے اَوْ ابتداء بالساکن محاله ده اَوْ دے په اَوّل د کلمې کښې راځي اَوْ ال د تعريف صرف لام ځکه دے، چه تعريف ضد دے، د تنکير اَوْ د تنکير د پاره تنوين راځي، چه هغه درحقيقت نون ساکنه دے بل مذهب د خليل دے، د هغه په نزد باندِ الف اَوْ لام دواړه ال د تعريف دے، ځکه چه ځنګه هل راځي، د پاره د استفهام، چه دا دوه حرفه دي، نو ال د تعريف هم دا دوه حرفه شو، بيا په مذهب د خليل باندِ دا اِعتراض راځي، چه هر کله ال د تعريف دا دواړه شو، نو بيا دا همزه په درج د کلام کښې ولې ساقطيږي؟ نو د هغه د طرفه جواب دا دے، چه په دغه صورت کښې لام قائم مقام د دې اوګرځيږي او په نزد د مبرد باندِ ال د تعريف همزه ده فقط، لکه څنګه د استفهام د پاره همزه راځي، نو دغه شان د تعريف د پاره هم راځي اَوْ زيات کړے شو د دې سره لام ساکن د پاره د دې چه فرق راشي په مابين د همزې د اِستفهام اَوْ همزې د تعريف کښې، چونکه دلته په نزد د مصنفؒ مختار مذهب د سيبويه دے، نو ځکه يې دخول اللام اووے، نو په دې سره اِختلاف اَوْ مذهب مختار دواړو ته اشاره راغله۔ **سوال**. چه ځنګه لام د پاره د تعريف راځي، نو دغه شان ميم هُم د پاره د تعريف راځي، لکه په دې قول کښې "اليس من مبرّامصيام في مسفر، يعني "اليس من البرّ الصيام في السفر". نو تاولې ميم ذکر نهٔ کړو؟ **جواب**. ميم يې ذکر نهٔ کړو يا د عدم شهرت نه يا دا چه دا نادر لُغت دے اَوْ يا دا چه داخل دے په لام کښې يعني بدل راغلے دے د لام نه! **سوال**. الف لام تعريفي ولې د خواصو د اسم نه اوګرځېدل؟ **جواب**. الف لام وضع شوي دي د پاره د تعين د معنې مستقلې چه په هغې باندِ لفظ دلالت کوي مطابقةً۔ پس هر چه دے حرف۔ هغه خو په معنىٰ مستقل بالمفهومية باندِ دلالت نهٔ کوي، يعني په حرف کښې اِستقلال نشته، په دې وجه په حرف الف لام نهٔ داخليږي اَوْ هر چه دے فعل، نو په فعل کښې اګرچه اِستقلال شته، يعني دلالت کوي، په معنىٰ مستقل بالمفهومية باندِ اَوْ الف لام هُم وضع شوي دي، د پاره د معنىٰ مستقل بالمفهومية، خو معنىٰ مطابقي د فعل غير مستقل ده اَوْ معنىٰ تضمني يې مستقل ده۔ ولې مراد دلته کښې اِستقلال دے، په معنىٰ مطابقي کښې چه هغه د فعل په معنىٰ مطابقي کښې نشته، په دې وجه الف لام تعريفي د خواصو د اِسم نه اوګرځېدل۔ دوېمه دا ده، چه الف لام تعريفي وضع شوي دي د پاره د تعين د ذات اَوْ فعل اَوْ حرف دا ذات نهٔ دي، يعني دوئ دواړه په ذات دلالت نهٔ کوي۔ پس متعين شو دخول د دوئ په اِسم باندِ۔

درس نمبر ۳

والجرُّ

ترجمه:- او بعضے د خواصو معظمو مکبرو د اسم نه جر دے۔ لفظاً وی که تقدیراً او یا دا معنیٰ چه بعضے د خواصو معظمهٔ مکبرو د اسم نه کبدل د اسم دی مجرور؛ دلته کښے والجرُّ مجرور هم ویلے شی او په دغه صورت کښے به دے عطف او کړے شی، په اللام باندے او دغه مجرور دے حکماً چه مضاف الیه دے او مضاف الیه مجرور وی، نو دا به هم مجرور شی او په دغه وخت کښے به ترینه معنیٰ اصطلاحی مُرادوی او چه کله یے الجرُّ مرفوع اُووایو، نو په دغه صورت کښے به دا عطف او کړے شی، په دخول باندے او دغه مرفوع دے، نو دے به هم مرفوع شی، نو په دغه صورت کښے به معنیٰ مصدری ترے مرادشی۔ **سوال**. جر یے د اسم سره ولے خاص کړو؟ **جواب**. جر اثر د حرفِ جر دے او حرفِ جر خاص دے په اسم پورے، نو جر یے هم خاص کړو د اسم پورے، د پاره د دے چه مخالفت رانهٔ شی په مابین د اثر او مؤثر کښے! **سوال**. حرفِ جر یے ولے خاص کړو په اسم پورے؟ **جواب**. حرفِ جر وضع شوے دے د پاره د افضاءِ معنیٰ د فعل یا د شبه فعل خپل مدخول ته او حرف نه مفضی واقع کیږی او نهٔ مفضی الیه لو مَر چه دے فعل، هغه خو مفضی واقع کیږی، خو مفضی الیه نهٔ واقع کیږی!

سوال---- دا قاعده ستا منقوضه شوه په غلام زید سره، چه دلته کښے مجرور دے، سره د دے نه دلته حرفِ جر نشته۔ **جواب**. موږ ویلی دی چه حرف جر عام دے۔ لفظاً وی که تقدیراً نو په غلام زید کښے لام جاره مقدر دے، چه دا په اصل کښے غلام لزید دے۔

سوال. دا قاعده ستا منقوضه شوه په اضافت لفظی سره، په نزد د هغه د چا چه معنوی والی چه په اضافت لفظی کښے حرفِ جار نشته، نهٔ لفظاً، نهٔ تقدیراً۔ موږ والو به **جواب** کړو چه اضافت معنوی اصل دے او اضافت لفظی فرعه دے، نو چه کله په اصل کښے موږ حرفِ جر اومنو، په فرعه کښے خو به هم منل غواړی۔ گنے بیا به مخالفت واقع شی، په اصل او فرع کښے او دا ناجائز دے۔

والتنوینُ

ترجمه:- او بعض خواصو معظمو مکبرو د اسم نه هغه لحوق د تنوینات اربعه دے، سیوا د تنوین ترنم نه په آخر د اسم پورے او یا دا چه بعضے د خواصو معظمه مکبره د اسم نه هغه منوَّنُ کبدل د اسم دی۔ **تنوین په لغت** کښے ماخوذ دے، د دے قول د عربو نه چه نوَّنْتُهٗ اے ادخلت علیه النون۔ په فارسی کښے نون کردن ته والی او په **اصطلاح** کښے دا هغه نون ساکن دے چه ملحق کیږی

په آخر د کلمې پورې اړه دے تابع وی، د حرکت د آخر د کلمې. التنوین مجرور هم وئیلے شی او التنوین مرفوع هم وئیلے شی، لکه څنګه چې په الجرّ کښې دوه احتمالاته وو، که التنوین مجرور یې اووایو، نو دے به عطف شی په اللام باندې او په دغه وخت کښې به یې معنیٰ اصطلاحی مراد شی او که مرفوع یې اُووایو، نو دا به عطف شی په دخول باندې، په دغه صورت کښې به یې معنیٰ مصدری مراد شی، چې هغه منون دے. **سوال**. په التنوین کښې به الف لام یا جنسی وایئ او یا استغراقی یا عهد خارجی، والکل باطل، ځکه که چرے جنسی وائے، نو معنیٰ به دا شی چې جنس تنوین دا خاصه د اِسم ده او حال دا سے نهٔ دے، ځکه چې تنوین ترنم څنګه په اِسم داخلیږی، نو دغه رنګے په فعل او حرف هم داخلیږی، ځکه چې دا راځی، د پاره د تحسین، د صوت او تحسین د صوت، لکه څنګه چې په اِسم کښې راځی، نو دغه رنګے په فعل کښې او حرف کښې هم راځی. مثال د تنوین ترنم چې په فعل کښې راغلے وی، لکه په دے مصرعه کښې:-
ع   وقولی ان اصبت لقدً اصابن. نو دلته کښې په اصابَ فعل باندې تنوین راغلے دے او مثال د تنوین چې داخل شوے وی په حرف باندې، لکه "وکان قدن"، نو دلته کښې قد حرف دے او تنوین ورباندې داخل شوے دے او الف لام استغراقی هم نهٔ صحیح کیږی، ځکه چې بیا به معنیٰ دا شی، چې هر یو فرد د افرادو د تنوین نه دا خاص دے په اِسم پورے، حالانکه دا سے نه ده ځکه چې بعض د افرادو د تنوین نه تنوین ترنم دے او دا خاص نهٔ دے په اِسم پورے، دے چې څنګه په اِسم کښې راځی، نو دغه رنګے په فعل او حرف کښې هم راځی، لکه چې مثالونه یې تیر شول او که نه [illegible] الف لام عهد خارجی شی، نو هم نهٔ صحیح کیږی، ځکه چې هغه سبق معهود غواړی او دلته کښې معهود نشته. **جواب**. دلته د الف لام نه الف لام عهد خارجی مراد دی او که ته وایئ چې، دا سبق معهود غواړی او دلته کښې معهود نشته، نو جواب دا دے، چې معهود دلته کښې په الف لام سره هغه تنوینات اربعه دی، سیوا د تنوین ترنم نه. هغه تنوینات اربعه دا دی:-
تنوین تمکن، تنوین تنکیر، تنوین عوضی او تنوین مقابله.[1] **سوال**. دا تنوینات اربعه ولے خاص دی په اِسم پورے؟ **جواب**. هرچه دے تنوین تمکن نو دا راځی د پاره د انصراف، انصراف او عدم انصراف دا په اِسم کښې راځی، په فعل او حرف کښې نهٔ راځی او هرچه دے تنوین تنکیر

---

[1] لکه په دے قول کښې شاعر په خپل شعر کښې وائی چه:-
تنوین پنج قسم شد اے یار من بگیر   اول تمکن است و عوض ثالثش تنکیر
دیگر مقابله اوست ترنم برادرم   این پنج یاد کن که شوی شاه بینظیر

نو دا راځي د باره د نکارت اَو نکارت اَو عدم نکارت په اِسم کښې راځي، په بل ځنګ کښې نۀ راځي، بَل هَم چه دے تنوین عوضی، دا ځکه خاص دے په دے پورے چه دا راځي عوض د مضاف الیه نه اَو اضافت خود خواصو معظمه مکبّره و د اِسم نه دے اَو هَرچه دے تنوین مقابله دا ځکه خاص دے په اِسم پورے چه دا راځي په مقابله د نون د جمع سالم مذکر کښې، لکه جمع مذکر مسلمون کښې د نون مقابله مسلماتٌ کښې تنوین دے اَو تثنیه اَو جمع، تذکیر اَو تانیث په اِسم کښې راځي، په وجه دا خاص شو په اِسم پورے۔ **سوال**. تثنیت اَو جمعیت، خو په اَفعالو کښې هَم راځي، لکه ضربا چه صیغه د تثنیه ده اَو ضربوا صیغه د جمع ده یا لکه یضربان یا یضربون شو اَو اضربا یا اضربوا شو۔ **جواب**. دا تثنیه اَو جمع د فعل نه ده، بلکه د فاعل تثنیه اَو جمع شوے دے اَو فاعل خو نۀ دے مګر اِسم دے۔

درس نمبر ۳۵

والاضافة والاسناد الیه

ترجمه:- اَو بعض د خواصو معظمه و مکبره اِسم اِسم نه هغه کېدل د اِسم دی، مضاف اَو مضاف الیه په تقدیر د حرف جر سره اَو بعض د خواصو معظمه مکبرو د اِسم نه کېدل د اِسم دی، مسند الیه۔

سوال. ظاهر متبادر د کلام نه دا خبره ده چه والاضافة والاسناد الیه دا عطف دے په مدخول د دخول باندې چه اللام دے، نۀ په نفس دخول باندې، ځکه که چرے دا عطف شي، په نفس دخول باندې، نو لازم به شي فصل په اَجنبي سره، په مابین د معطوف علیه اَو د معطوف کښې دا صحیح نۀ دے۔ **جواب**. والاضافة والاسناد الیه دا دواړه عطف دی په نفس دخول باندې نۀ، په مدخول د دخول باندې اَو دا دواړه مرفوع دی، ځکه که چرے دا عطف شي، په مدخول د دخول باندې، عبارت به داسے شي چه، ومن خواصه دخول اللام و دخول الاضافة و دخول الاسناد الیه، اَو ظاهره ده چه، په دغه صورت کښې لازمیږي فساد په معنیٰ کښې، ځکه چه ظاهر متبادر معنیٰ د دخول یا ایراد د شي دے، په اَوَّل د کلمے کښې یا لحوق د شي دے، په آخِر د کلمے پورے اَو هَرچه دے اضافت، نو دا یو اَمر معنوی دے اَو دے قابل نۀ دے د دخول یا د لحوق په کلمے پورے اَو دغه رنګ اسناد قس علیٰ هٰذا، ځکه چه اضافت دا نسبت دے په مابین د مضاف الیه اَو د مضاف کښې اَو اسناد دا نسبت دے په مابین د مسند اَو مسند الیه کښې۔ اَوس که نۀ وایې چه په دغه صورت کښې فصل راځي ا.... اجنبي سره، په مابین د معطوف علیه اَو معطوف کښې یعنې ځکه وخت چه د دۀ عطف راشي، په نفس دخول باندې نو مونږ وایو چه فصل نۀ راځي په اَجنبي سره، په مابین د معطوف علیه

اَوْ معطوف کښې، ځکه چې مضاف الیه دا د متمماتو اَوْ متعلقاتو د مضاف نۀ دے اَوْ فصل په متمماتو اَوْ متعلقاتو د شي سره دا فصل په اَجنبي سره نۀ دے۔ **سوال**۔ مضاف ولې د خواصو د اِسم نه اوګرځېدو؟ **جواب**۔ چونکه لازم د مضاف چه هغه تخفیف، تخصیص اَوْ تعریف دے، دا خاص په اِسم پورې دے، نو مضاف هُم د خواصو د اِسم نه اوګرځېدو، ځکه چه فائده د اضافت، دا په دوه قسمه ده، یو لفظي اَوْ بل معنوي ده۔ هرچه ده لفظي، نو هغه سقوط د تنوین اَوْ قائم مقام د تنوین دے، د جانبه د مضاف اَوْ هرچه ده فائده معنوي، نو هغه تخصیص د مضاف دے، چه مضاف الیه نکره وي اَوْ تعریف د مضاف دے، چه مضاف الیه معرفه وي اَوْ دا ټول خاص دي په اِسم پورې، نو مضاف ځکه خاصه د اِسم وګرځېدله۔
سوال۔ مضاف الیه ولې د خواصو د اِسم نه اوګرځېدو؟ **جواب**۔ مضاف الیه دا مدخول د حرفِ جر دے۔ اَوْ حرفِ جر داخلیږي په اِسم باندې[۱] نو په دې وجه باندې مضاف الیه د خواصو د اِسم نه دے۔ **سوال**۔ ستا دا قاعده منقوضه شوه په دې قول د باري تعالیٰ سره چه {یوم ینفع الصادقین صدقهم} په دې شان سره چه تۀ ځو وائې، چه د مضاف الیه واقع کېدل، دا د خواصو د اِسم نه دے، نو دلته کښې یوم مضاف دے اَوْ مضاف الیه فعل دے، چه ینفع دے۔
جواب۔ دا مؤول دے، په تاویل د اِسم سره، چه هغه نفع دے، یعنی یوم نفع الصادقین دے۔ **سوال**۔ ستا دا قاعده منقوضه شوه په دې قول سره چه مررت بزید، په دې شان سره چه مررت فعل دے اَوْ مضاف واقع شوے دے اَوْ تۀ ځو وائې، چه مضاف د خواصو د اِسم نه دے۔ **جواب**۔ مونږ په ترجمه کښې دا خبره کړې ده، چه په تقدیر د حرفِ جر سره اَوْ دلته کښې تقدیر د حرفِ جر نۀ دے راغلے، بلکه لفظاً موجود دے چه با ده۔
سوال۔ خواص خو عوارض دي اَوْ مضاف الیه ذات دے، نو شمول د مضاف الیه د خواصو د اِسم نه نۀ صحیح کېږي۔ **جواب**۔ مراد په مضاف الیه سره کون المضاف الیه من خواص الاسم، نو په دغه معنیٰ مضاف الیه ذات نۀ شو۔

والاسناد الیه ترجمه د عبارت روسته ذکر شوې ده اَوْ کوم سوال د عطف وارد ېږي په والاضافه باندې هغه په دې هُم راځي چه ځکه ځکښې ذکر شۀ اَوْ چه کوم جواب مونږ هلته کښې کړے وو هغه جواب دلته کښې هُم دے۔

---

[۱] ای کون الاسم۔ یعنی کېدل د اِسم دي، مضاف اَوْ مضاف الیه په تقدیر د حرفِ جر سره، نو په دې معنیٰ باندې دا مصدر وګرځېد اَوْ مصدر ظرف وصف دے۔ (م ۳۰)۔

سوال. مسند الیه ولے د خواصو اسم نه دے؟ **جواب.** په مسند الیه کښې لابدی ده د استقلال نه اؤ هرکله په دهٔ کښې لا بدی شوه د استقلال نه، نو په حرف کښې خو اصلاً استقلال نشته اؤ هرچه دے فعل، نو په دهٔ کښې اګرچه استقلال شته اؤ په معنیٰ مستقله دلالت کوی، خو دا واضِعٌ وَضَعَ کړے دے، د پاره د مسند ابداً، نوکهٔ چرته مونږ اوس دے مسند الیه واقع کړو، نو مخالفت به راشی د وضع نه- **سوال.** اسناد نسبت دے په مابین د مسند اؤ مسند الیه کښې، نو پکار دا دهٔ چه څنګه مسند الیه د خواصو د اسم نه دے، نو مسند دې هم د خواصو د اسم نه اوګرځی، حالانکه مسند چه اسم راځی، نو دغه رنګ فعل هم راځی- **جواب.** مراد په والاسناد الیه سره کون الاسم مسنداً الیه دے فقط

سوال. دا قاعده ستا منقوضه شوه، په دے قول باری تعالیٰ سره چه، وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ اٰمِنُوْا، په دے شان سره چه ته وئیلے چه مسند الیه د خواصو د اسم نه دے اؤ دلته کښې خو اٰمِنُوْا فعل دے اؤ مسند الیه واقع شوے دے- **جواب.** دا مئول دے، په تاویل د لفظ سره اؤ لفظ اسم دے- **سوال.** دا قاعده ستا منقوضه شوه، په دے ترکیب سره چه مِن حرف جر، په دے شان چه دلته من حرف دے اؤ سره د دے نه مسند الیه واقع شوے دے لو ته خو وائے چه مسند الیه واقع کیدل د خواصو اسم نه دی- **جواب.** دا مئول دے په تاویل د لفظ سره، نو تقدیر د عبارت به دا دے شی، چه لفظ مِنْ حرفٌ جرٍ

سوال. ته وائے چه حرف مسند الیه نه واقع کیږی، نو بهٔ دلته اوښایو چه معنیٰ د حرف به وی لو مسند الیه به راغلے وی، لکه وائی معنیٰ مِنْ الابتداءُ- **جواب** دا دے چه مراد په معنیٰ سره هغه معنیٰ حرف په هغه باندې دلالت کوی اؤ دلته کښې من په الابتداءُ باندې دلالت نهٔ کوی-

سوال. خواص عوارض دی اؤ مسند الیه ذات دے، نو شمیرل ستا مسند الیه لره د خواصو د اسم نه غیر صحیح دے- **جواب.** دا دے چه مراد په الاسناد الیه سره کون الاسم مسنداً الیه اؤ دا معنیٰ مصدریه ده لو مصدر ذات نهٔ دے-

درس نمبر ۳۶

وَهُوَ مُعْرَبٌ وَمَبْنِيٌّ ترجمه:- اؤ دا اسم په اعتبار د مفهوم خپل سره منقسم دے منقسمین ته، چه یو معرب دے اؤ بل مبنی دے اؤ یا

دا چه دا اسم په اعتبار د مفهوم خپل سره معرب اؤ مبنی دے، چه عطف مقدم شی په ربط باندې لو دا به د قبیلے د انواعو نه شی، په انواعو باندې نه د قبیلے د عطف د اجزاؤ نه په اجزاء باندې- ربط بیځ دا دے، هرکله چه مصنفؒ فارغ شو، د بیان د تعریف د اسم اؤ د خواص د اسم نه، نو شروع

ئے اوکړهٔ په بیان د تقسیم د اِسم کښے اَو دے وئیل چه وهو معربٌ ومبنیٌ. نه کړو داخبره چه په دے مقام کښے لابدی دهٔ د معرفة، د اُمورِ ثلاثهٔ نه. اولٔ امروجه د تسمیه چه معرب ته معرب اَو مبنی ته مبنی ولے وائی؟ دوئیم امروجه د حصر اَو دریم امروجه د تقدیم د معرب په مبنی باندے. اَوّل امروجه د تسمیه د معرب دا دهٔ چه اعرب الرجل عن حجته. ای اظهرها، نو معرب دا صیغه د ظرف شوه. معنیٰ ئے دا شوه چه محل د اظهار اَو دے معرب مصطلح ته په دے وجه وائی چه دا محل د اظهار د معانیٔ متقضیه و د اعراب دے چه هغه فاعلیة مفعولیة اَو اِضافة دے...... اَو یا دا معرب د عرب نه وتے دے اَو عرب په معنیٰ د فساد باندے راځی، چه کله باب انفعال ته منتقل شو نو همزه به کښے د باره د سلب د مأخذ اوګرځیدهٔ، اِعراب شهٔ، نو معنیٰ دا اوګرځیدهٔ سلب د فساد اَو دے معرب ته په دے معنیٰ معرب ځکه وائی، چه دے مزیل د فساد دے چه هغه التباس د بعض معانیو دے سره د بعضو نه اَو هرچه دهٔ وجه د تسمیه د مبنی په مبنی سره هغه دا چه مبنی مأخوذ دے، د بنا نه اَو بناء بُنیاد ته وائی اَو دے مبنی مصطلح ته مبنی په دے معنے سره ځکه وائی چه ځنګه بُنیاد برقراره وی، په خپل ځائے دا، نو دغه رنګے مبنی هم دے اَو یا دا چه بناء په معنیٰ د امن سره دهٔ، نو دے مبنی ته مبنی په دے معنے سره وائی، ځکه چه دا په امن کښے وی، د تغیر نه ــــ دوئیم امروجه د حصر کیدو د اِسم په معرب اَو په مبنی کښے دا دهٔ چه دا اِسم به خالی نهٔ وی یا به مرکب وی سره د غیر نه اَو یا به نه وی، که چرے نهٔ وی، نو دا مبنی لکه اِسمائے معدوده، لکه زید عمر اَو بکر وغیره اَو که چرے مرکب وی سره د غیر نه، نو بیا به خالی نهٔ وی، یا به سره د عامله وی اَو یا به سره د عامله نهٔ وی، که چرے سره د عامله نهٔ وی، نو بیا مبنی اَو که سره د عامله وی، نو بیا به خالی نهٔ وی یا به ئے مشابهت راغلے وی، د مبنی اَو که نهٔ وی، نو دا یو قسم معرب وګرځید ــــ دریم امروجه د تقدیم د معرب په مبنی باندے دا دهٔ، چه معرب اَصل دے، په نسبت سره مبنی وته، ځکه چه اَصل په اسماء کښے اعراب دے اَو اعراب اَصل په اسماؤ کښے ځکه دے، چه وضع د الفاظو د باره د اظهار د مافی الضمیر دهٔ اَو دا معنیٰ موجوده دهٔ په معرب کښے، نو معرب اَصل شو اَو اَصل مقدم وی. سوال. هو معربٌ ومبنیٌ کښے به یا ربط...... مقدم وائے، په عطف باندے اَو یا به عطف مقدم وایے، په ربط باندے. که چرے...... ربط مقدم وائے په عطف باندے، نو محل د

---

۱. که عبدالرحمٰن بابا وئیلی دی چه :-

۲. لکه ونه مستقیم په خپل مقام یم — که خزان راباندے راشی که بهار

خاص راځي په عام باندې او که چېرې عطف مقدم وايې په ربط باندې، نو حمل د امور متعددو متباینه لازمیږي، په شي واحد باندې. جواب. دلته نه عطف مقدم دے په ربط او نه ربط مقدم دے په عطف باندې، بلکه هو مبتداء ده او معرب او مبني ورله خبر دي. اوس که څوک دا اوواني چه دلته خو بیا حمل د امورو متعددو راغے په شي واحد باندې، نو جواب دا دے چه دلته هو مبتداء ده او خبر یې محذوف دے، چه قسمان دے، نو عبارت به دا سے او گرځي: وهو قسمان او د معرب د پاره به مبتداء محذوفه شي، چه هغه احدهما ده او د مبني د پاره به هم مبتداء محذوفه شي، چه هغه ثانیهما ده. سوال. هو قسمان مبتداء او خبر دي، او په مابین د مبتداء او خبر کښې مطابقت ضروري دے او دلته کښې خو مبتداء مفرده ده، چه هو دے او خبر تثنیه ده چه قسمان دے، نو مطابقت راغلو په مابین د مبتداء او خبر کښې. جواب. دا مؤول دے، په تاویل د قسمٌ قسمٌ سره، یا دا چه هو معرب ومبني کښې عطف مقدم دے، په ربط باندې او معنی به دا سے شي چه د اسم په اعتبار د مفهوم خپل سره معرب او مبني دے. که نه وایې چه حمل د امور متعدده متباینه لازمیږي، نو زه وایم په جواب کښې، چه حمل د امورو متعددو متباینه په شي واحد باندې نه لازمیږي، ځکه چه دلته کښې عطف د انواعو راغلے دے، لکه وایې منطقیان چه الحیوان: اِنسانٌ وفرسٌ، ولټ، دا عطف راغے په انواعو باندې. نه د اجزاء په اجزاء باندې او یا دا چه هو معربٌ و مبني کښې دا واؤ په معنی د او سره دے، نو معنی به دا سے شي، چه هو معرب او مبني. یعنی دا اِسم په اعتبار د مفهوم خپل سره معرب دے او یا مبني دے، نو په دغه صورت کښې به تقدیم د ربط راشي په عطف باندې۔

درس نمبر ۳۷

فالمعرب المرکب الذی لم یشبه مبنيّ الاصل. دلته دا فا تفسیریه راغلې ده او په دې سره مصنفؒ تفسیر د معرب بیانوي. ترجمه د دې عبارت دا ده، چه اِسم معرب دا هغه اِسم دے چه دے مرکب وي سره د غیر نه برابره خبره ده، چه که غیر په ده کښې عامل وي یا مرکب وي، په دا سے ترکیب سره چه دے سبب وي، د پاره د تحقیق د عامل هم، اِسم چه دې مشابهه نه وي، د مبني اَصل سره "هغه مبني چه اَصل وي په بناء کښې" په هغه مشابهت سره چه مؤثر وي په منع د اعراب کښې زده کړه دا خبره چه دلته کښې لا بدي ده، د معرفت د څو امورو نه چه هغه امور خمسه دي. مشابهت، مجانست، مماثلت، مشاکلت او مناسبت او دا ځکه چه دلته کښې

مصنفؒ لفظ دَ لوړ لپاره راوړے دے، لونمناسب دی، چه دِے سره کومرقریب المعنی الفاظ دی، هغه هُم ذکر شی. پس مشابهت[1] وئیلے شی، اشتراک دَ شیئونو ته په وصف خاصه کښے، لکه اِشتراک دَ رجل شجاع شو دَ اَسد سره، په وصف دَ شجاع کښے اَوُ مجانست[2] وئیلے شی، اشتراک دَ شیئینو ته په جنس کښے، لکه اِشتراک دَ اِنسان اَوُ دَ فرس شو په حیوانیت کښے، ځکه چه حیوان دَ دواړو دَ پاره جنس دے اَوُ مماثلت[3] وئیلے شی اِشتراک دَ شیئونو ته په نوع کښے، لکه اِشتراک دَ زیداَوُ عُمر شو په اِنسانیت کښے، ځکه چه اِنسان دَ دواړو دَ پاره نوع دهٔ اَوُ مشاکلت وئیلے شی اِشتراک دَ شیئونو ته په شکل کښے، لکه اِشتراک دَ هغه اَمد چه منقوش وی، په جدار یا په قرطاس دَ هغه هیکل مخصوصه سره اَوُ مناسبت عامّ دے. برابره خبره دهٔ، چه اِشتراک دَ شیئونو وی په وصف کښے یا په جنس کښے یا په نوع کښے یا په شکل کښے. **سوال.** معرب دلته صفت دے اَوُ دَ هر صفت دَ پاره لابدی دهٔ، دَ موصوف نه، نو دَ دِے دَ پاره موصوف څه شے دے؟ **جواب.** چونکه دا بحث دَ اِسم دے، نو دَ دِے دَ پاره موصوف هُم اِسم دے، فلا یرد ما یرد. **سوال.** تقسیم دَ اِسم معرب ته نه صحیح کیږی، ځکه چه قسم خاص وی اَوُ دلته معرب چه قسم واقع شوے دے، نو دا عام دے، ولے چه معرب څنګه اِسم واقع کیږی، نو دغسے فعل هُم واقع کیږی، چه هغه فعل مضارع دهٔ.

جواب. دلته کښے مُراد دَ معرب نه اِسم معرب دے، نهٔ مطلق معرب اَوُ الف لام په المعرب کښے عهدی دی اَوُ معهود په دِے سره اِسم[1] دے. **سوال.** ستا دا تعریف دَ معرب مانع اَوُنه ګرځید، دَ دخول دَ غیرنه اَوُ داخل شو په کښے ضرب، په دِے ترکیب کښے چه ضرب زیدٌ په دِے شان سره، چه دَ ضرب ترکیب سره دَ غیرنه راغلے دے، چه زیدٌ دے اَوُ مشابهه هُم نه دے، دَ مبنی اصل سره، بلکه په خپله مبنی دے. **جواب.** دلته دَ المرکب دَ پاره موصوف محذوف دے چه هغه الاسم دے، نو تقدیر دَ عبارت به داسے شی چه فالاسم المعرب الاسم المرکب، اَوُ شک نشته چه ضرب فعل دے اَوُ اِسم نهٔ دے، نو دے داخل نهٔ شو په تعریف دَ معرب کښے. **سوال.** راوړل ستا مرکب لره په تعریف دَ معرب کښے نه دی صحیح، ځکه چه معرب قسم دے، دَ اِسم نه اَوُ اِسم قسم دے، دَ کلمے نه اَوُ دَ کلمے په مفهوم کښے افراد ملحوظ دے اَوُ افراد منافی دے، دَ ترکیب سره.

جواب. مرکب په دوه[2] معنیو سره راځی، یو په معنیٰ دَ مجموع المضمومین اَوُ بل په معنیٰ

---

[1] اَوُ معرب قسم دے، دَ اِسم نه، نو دا خاص وګرځید، په خلاف دَ مطلق معرب. ۲۰ (م-س).

دَ مضموم مع الغير لَوْ مُراد دلته كښې معنىٰ ثالث دَه، چه هغه مضموم مع الغير دَه، نه معنىٰ اوله - په دې جواب باندِ **سوال** وارِدېږي چه، دا خو اخذ دَ مشترک دے، په تعريف كښې او اخذ دَ مشترک په تعريفاتو كښې ناروا دے - **جواب**. اَخذ دَ مشترک په تعريفاتو كښې په هغه وخت كښې ناروا دے، چه چرته كښې قرينه صارفه داله په تعين دَ معنىٰ مُراد باندِ نه وي، او دلته قرينه داله بشته، هغه دا چه كلمه تعديه دَ مركب په علىٰ سره راشي (يعني صله چه كلمه علىٰ راشي) نو په دغه وخت كښې به ترېنه نه معنىٰ ثالث مضموم مع الغير مراد وي، او چه كلمه صله دَ مركب مِنْ راشي، نو په دغه وخت كښې ترېنه معنىٰ اوله مجموع المضمومين مُراد وي لكه دلته علىٰ راغلے دے يا جواب دا دے، چه قرينه دلته كښې حاليه ده، په تعين دَ معنىٰ مُراد باندِ، چه هغه بحث دَ اِسم دے - **سوال**. غلامُ په غلام زيد كښې مركب دے، سره دَ غيرنه او سره دَ دې نه دا معرب نه دے، بلكه مبنى دے - **جواب**. مركب موږ په معنىٰ كښې وئيلي وو چه مركب وي، سره دَ غيرنه او دا غير به دِي كښې عامل وي او دلته خو غلام مركب دے، سره دَ غيرنه، خو دا غير په كښې عامل نه دے - [1]

درس نمبر ۳۸:- سوال. تعريف دَ معرب ستا جامع نه شو، خيلو افرادو لره او خارج شو ترېنه مبتداء او خبر، ځكه چه ظاهر متبادر مراد دَ تركيب نه تركيب دے، سره دَ عامل لفظي نه او په مبتداء او په خبر كښې عامل معنوي دے او جمع دَ عامل لفظي سره دَ عامل معنوي نه نا محاله ده - **جواب**. دا دے چه موږ په معنىٰ كښې دا وئيلي چه تركيب يې راغلے وي دَ غيرنه - برابره خبره ده چه دا غير به دَه كښې عامل وي يا سبب وي دَ پاره دَ تحقق دَ عامل، نو دلته مبتداء لَوْ خبر دا مسند اليه او مسند دي او دا مشتمل دي په اسناد باندِ او اسناد سبب دے دَ پاره دَ تحقق دَ عامل - **سوال**. ستا دا تعريف مانع او نه گرځېدو، دَ دخول دَ غيرنه او دا خو په كښې مبنيات چه هغه زيد دے يا بهيانږ كښې او دَ اسماءُ اشاراتو، مضمراتو او موصولاتو نه علاوه چه كوم مبنيات دي، هغه په كښې هم داخل شول، ځكه چه دَ هغوي مشابهت دَ مبنى اَصل سره نشته، البته مناسب ورسره دي **جواب**. مراد په عدم مشابهت سره عدم مناسبت دے، په دې جواب باندِ **سوال** وارِدېږي چه دا خو اَخذ دَ مجاز راغلے په تعريف

---

[1] . په دې مقام كښې نعيم استاذ دَ لطيفې په طور يو صفت بيان كړې دے، هغه دا چه استاذ صاحب وفرمائيل چه زما والد مرحوم يو ورځ زما نه پرس اوكړو، چه بچيه هداية النحو مرفوعه ده كه منصوبه ده، كه مجروره ده، نو ما دلته په جواب كښې اووئے چه بچه في المحل خو صحيح نه ده، ځكه چه عامل ورسره نشته - ۲ (م.س).

کیږي ځکه چه لم یشبه تا په معنیٰ دَ لم یناسب سره واخستو اَوْ اخذ دَ مجاز په تعریفاتو کښې ناروا دے۔ **جواب.** اخذ دَ مجاز په تعریف کښې ناروا دے۔ په هغه وخت کښې ناروا دے چه چرته یوه قرینه نهٔ وی اَوْ دلته کښې قرینه موجود ده، ځکه چه په تعریف دَ مبنی کښې مصنف قید دَ مناسبت معتبر کړے دے اَوْ معرب اَوْ مبنی دواړه متقابلین دی اَوْ قاعده دا ده چه اعتبار دَ یو قید وجوداً په یو دَ متقابلینو کښې دا مستلزم دے، اعتبار دَ هغه قید لره عدماً په متقابل آخر کښې، نو چه هر کله اِعتبار دَ قید مناسبت او شو په مبنی کښې نو دَ عدم مناسبت به اُوشی په معرب کښې۔ **سوال.** ستا دا تعریف جامع نهٔ شو خپلو افرادو لره اَوْ خارج شو ترې نه غیر منصرف، ځکه چه دَ دهٔ[1] مشابهت راغلے دے، دَ مبنی اصل سره په وجود دَ فرعیتونو کښې په دے شان سره، لکه چه څنګه فعل ماضی محتاجه ده، نورو څیزونو ته، چه هغه فاعل اَوْ مشتق منه دے، نو دغه شان غیر منصرف هم محتاج دے سببونو ته، نو چه هر کله یې مشابهت راغلے دَ مبنی اَصل سره، نو بکار دا ده چه دے مبنی اوګرځی اَوْ سره دَ دے نه چه دا معرب دے۔ **جواب.** مراد په مشابهت سره هغه مشابهت دے، چه مؤثر وی په منع دَ اعراب کښې اَوْ دلته کښې مشابهت دَ غیر منصرف دَ ماضی سره ضعیف دے اَوْ دا مؤثر نهٔ دے، په منع دَ اعراب کښې بلکه په دے سره صرف دغومره کار اُوشو، چه جر اَوْ تنوین یې منع کړل۔ **سوال.** ستا دا تعریف جامع نه شو خپلو افرادو لره اَوْ خارج شو ترې نه اِسم فاعل چه، دے مشابه دے دَ مضارع سره چه اصل یې بناء ده چه هغه ماضی ده[2]۔ **جواب.** دَ مبنی الاصل دوه معنے دی، یو هغه چه اصل یې بناء وی، بل هغه چه اصل وی په بناء کښې اَوْ دلته کښې دا دویمه معنیٰ مراد ده، چه اَصل وی په بناء کښې۔ لکه دَ مثال په طور چه یو ناوی په خپله ښائسته وی اَوْ بله هغه ناوی وی چه پخپله ښائسته نهٔ وی اَوْ مور اَوْ نیا یې ښائسته وی، نو معتبر خپل حسن دَ ناوی دے نه دَ مور اَوْ یا دَ نیا، لکه چه وئیلی دی رحمان بابا۔

- هغه ناوی چه په خپله ښائسته نه وی
- څوک به یې څهٔ کاندِ ښائست دَ مور اَوْ نیا

نو دغه رنګې دلته کښې هم خپل بناء والے معتبر دے، نه دا چه اصل یې بناء وی۔

درس نمبر ۳۹:- هر کله چه دَ مبنی الاصل دَ پاره دوه معنے دی، یو هغه چه اصل وی په بناء کښې اَوْ یو هغه چه اصل یې بناء وی اَوْ مراد دلته کښې اوله معنیٰ ده۔ **پس سوال** وارد شو چه دلته کښې اضافت دَ شئ راغلے خپل نفس ته اَوْ اضافت دَ شئ خپل نفس ته

---

[1] یعنی دَ فعل مضارع اصل بناء ده چه هغه ماضی ده۔ ۱۲۔ (م۔ س)۔

دا باطل دے، ځکه چه لابدی دی په اضافت کښې دَ مغایرت نه اَوْ دلته په اضافت دَ شی کښې خپل نفس ته، په دے کښې تغایر نشته۔ **جواب**۔ دا اضافت بیانی دے اَوْ اضافت بیانیه دے ته وائی چه مضاف الیه بیان وی دَ پاره دَ مضاف، نو معنیٰ به دا اوګرځی چه لم یشبه مبنی الاصل ای مبنیا هو اصل البناء۔ زده کړه دا خبره چه دلته کښې په مابین دَ مبنی اَوْ دَ اصل کښې نسبت[1] دَ عموم خصوص من وجه دے اَوْ موږ به منطق کښې دا خبره کړې وه چه نسبتونه په مابین دَ دوؤ کلمتینو کښې څلور دی۔ تساوی[1]، تباین[2]، عموم خصوص[3] مطلق، عموم خصوص من[4] وجه نه۔ دا ته کښې دَ دوئ په مابین کښې نسبت دَ عموم خصوص من وجه دے اَوْ دا په نزد دَ منطقیانو باندې یو ماده دَ اجتماع غواړی اَوْ دُوه[2] مادے دَ افتراق (لکه په حیوان اَوْ ابیض کښې چه کوم نسبت دے) ماده دَ اجتماع دا ده، لکه مثلاً سپین چرګ حیوان هم دے ابیض هم دے، یو ماده دَ افتراق چه حیوان وی اَوْ ابیض نه وی، لکه تور چرګ۔ حیوان دے اَوْ ابیض نه دے اَوْ بله معنیٰ دَ افتراق چه ابیض وی، حیوان نه وی، لکه سپینه ګټه ابیض دے اَوْ دا حیوان نه دے، نو هم دغه شان به مبنی اصل کښې ماده دَ اجتماع، لکه فعل ماضی امر حاضر اَوْ جمله حروف چه دا مبنی هم دی اَوْ اَصل هم دی اَوْ په نزد صاحب دَ مفصل جمله من حیث هی دا هم مبنی اَصل ده، خو په نزد دَ جمهورو دا مبنی اصل نه ده اَوْ ماده دَ افتراق په جانب دَ مبنی کښې چه مبنی وی اَوْ اَصل نه وی، لکه اسمائے معدوده اَوْ دویمه ماده دَ افتراق به جانب دَ اصل کښې چه اصل وی اَوْ مبنی نه وی، لکه مضارع۔ اوس نو نه کړو دا خبره، چه په هر یو تعریف کښې لابدی وی دَ جنس اَوْ دَ فصل نه، نو

---

[1]. نسبت دَ تساوے دے ته وائی چه هر واحد دَ کلیین نه صادقیږی په کل افرادو دَ آخر باندې، لکه انسان اَوْ ناطق[2] اَوْ علامه دَ متساوینو صدق دَ موجبتینو کلیتینو دے، دَ جانبینو نه، لکه کل انسان ناطق وکل ناطق انسان۔ نسبت دَ تباین دے ته وائی چه نه صادقیږی، هر واحد دَ دوئ نه په یو فرد دَ آخر باندې، لکه انسان اَوْ حجر، شهٔ علامه دَ متباینتو صدق دَ سالبتینو کلیتینو دے، دَ جانبینو نه، لکه لا شیء من الانسان بحجر، ولا شیء من الحجر بانسان۔ نسبت دَ عموم خصوص مطلق هغه دے چه احدهما صادقیږی، په کل افرادو دَ آخر باندې اَوْ آخر نه صادقیږی په کل افرادو دَ ده باندې بلکه په بعضو صادقیږی اَوْ په بعض نه صادقیږی، لکه حیوان اَوْ انسان نو چه دا دوه مادے غواړی، یو اجتماعی اَوْ بله افتراقی لکه ته ګوراے چه هر انسان حیوان دے، نو ماده دَ اجتماع شوه یا نه اوګورئ چه بعض دَ حیوان نه انسان نه دے، دا ماده افتراقی شوه لو نسبت[4] دَ عموم خصوص من وجه دے ته وائی چه هر واحد دَ دوئ صادقیږی په بعض افرادو دَ آخر باندې اَوْ په بعض نه صادقیږی لکه حیوان اَوْ ابیض شو چه تفصیل یې استاذ صاحب کړے دے۔ (م۔ س)۔

په تعریف د معرب کښې جنس او فصل هغه دا دی، چه الف لام په المرکب کښې په منزله
د جنس دے، داخل شو په کښې هغه اسمائے معدوده مفرده او مرکبه (چه سره
د خبر نه وي) یعنی اسمائے معدوده مضافه او هغه اسماء، چه مشابهت ئې رانغلے
وي، د مبنی اصل سره او یا ئې مناسبت رانغلے وي، مناسبالو ستو سره، په نزد صاحب
مفصل بانډې د مبنی اصل سره. بیا مرکب په کښې فصل اول شو، په دے
سره ترینه اسمائے معدوده خارج شو چه مفرد وي لکه څرنګه موږ د ترکیب دا معنی اوکړله چه
مرکب وي سره د غیر نه او دا غیر به د هغه عامل یا سبب وي د پاره د تحقق د عامل، لو خارج
شو ترینه به دے سره هغه اسمائے معدوده چه مضافه وي او هرګله چه ئې اولم یشبه مبنی
الاصل او ویل، لو په دے سره ترینه خارج شو هغه اسماء چه مشابهه وي د مبنی الاصل
سره یا هغه اسماء چه متحقق وي، سره د دے نه عامل او مناسب وي د مبنی الاصل سره په
نزد د مناسبالو ستو سره. سوال. کافیه ماخوذ ده د مفصل نه او صاحب مفصل په
تعریف د معرب کښې ترکیب نه دے ذکر کړے، لو تا ولے په تعریف کښې ترکیب ذکر کړو؟ دا خو
مخالفت د اصل نه رانغلو. جواب. په نزد د صاحب مفصل بانډې په معرب کښې ترکیب نه دے
معتبر او په نزد د صاحب د کافیه بانډې په معرب کښې اعتبار د ترکیب شوے دے.

درس نمبر ۲۰: - مصنف ولے عدول اوکړو د تعریف د جمهورو مخالفت ئې
هغوئ وائي چه: "المعرب ما يختلف آخره باختلاف العوامل" لو هغوئ چه کوم تعریف د معرب
اوکړو، مصنف هغه حکم اوګرځولو. جواب. مصنف عدول اوکړو د تعریف د معرب د جمهورو
ئے مخالفت ئې په دے وجه چه تعریف د هغوئ مستلزم دے دور لره او دور باطل دے، ځکه چه دور وائي
لو توقف د شي ته په خپل نفس بانډې، لکه ته اووائے چه آ موقوف دے په ب بانډې او ب موقوف دے په
آ بانډې، لو آ موقوف شو په آ بانډې، لو دا توقف د شي شو په خپل نفس بانډې، په دے مثال کښې دور په
دے طریقه سره راځي چه معرفت د اختلاف د آخر دا موقوف دے په معرب بانډې که چرے معرب ئې
موقوف کړو په اختلاف د آخر بانډې لو لازمیږي دور، خو بعض وائي چه دا تعریف چه کوم جمهورو کړے
دے دا جائز دے، ځکه چه دا تعریف بالاشئ دے او تعریف بالاشئ جائز دے. لیکن حقه په جواب
کښې دا خبره ده، چه مصنف عدول اوکړو د تعریف د جمهور مخالفت ئې ځکه چه مقصود په تعریف د
معرب سره کېدل د ده دی وسیله ګرځوته او تعریف د جمهور دا مستلزم دے، تقدم د شي لره په
خپل نفس بانډې، لکه چه ته اووائے زید في قام زید معرب ای مختلف آخره باختلاف العوامل. لانه
مما يختلف آخره باختلاف العوامل. وکل ما يختلف آخره باختلاف العوامل فهو معرب. فزيد

فی قام زیدٌ معرب ۔ دلته کښه صغریٰ عین نتیجه ده اؤ حال دا دے چه صغریٰ مقدمه وی په نتیجه باندې نو تقدم د شی راغے په خپل نفس باندې اؤ تقدم د شی په خپل نفس باندې جائز نه دے[1] نه ئې کړو داخبره چه دلته کښې لا بُدی ده ، د معرفت د امورِ خمسه نه ۔ تعریف[1] د معرب ، حُکم د معرب[2] تعریف د اعراب ، انواع اؤ اقسام د اعراب ، عامل د اعراب ۔ پس تعریف د معرب خو ئې ذکر کړو ، اوس دلته حُکم د معرب ...... ذکر کوی ، لو وَ ئے بنیل چه :۔

وحکمه ان یختلف آخره باختلاف العوامل چه دا مېن تعریف د جمهورو دے ۔

ترجمه :۔ بعض د جمله احکامو د معرب نه اؤ اثر ثابت[2] نه په معرب باندې چه ناشی وی د عمل نه اؤ ثابت وی په معرب کښې هغه دا دے چه ، مختلف کیږی به آخر د معرب د دے حیثیت نه چه دا آخر د معرب دے په سبب د دخول د جنس عواملو مختلفو سره په ده باندې ، بالذات هسے لخلاف چه هغه ثابت وی ، په عمل کښې په دے شان ، چه عمل د بعضو مخالف وی د بعضو نه ۔

سوال . اضافت د حُکم معرب ته (یعنی هغه ضمیر چه راجع دے معرب ته) نهٔ صحیح کیږی ، ځکه چه ظاهر د اضافت نه مراد ، اضافت استغراقی دے ، لو چه کله اضافت استغراقی شو نو معنیٰ به ئې دا اوکرځی چه هر لیوقرد د افرادو د احکامو د معرب نه هغه به ان یختلف آخره الخ وی ، حالانکه دا سے نهٔ ده ، ځکه چه معرب د دے نه علاوه نور هم احکام لری ۔ **جواب** . دلته کښې اضافت استغراقی نهٔ دے ، بلکه اضافت عهدی مراد دے اؤ معهود په دے سره بعض احکام د معرب دی ، لو عبارت به ئې داسے شی چه من جملة احکام المعرب ۔ من به تبعیضیه شی اؤ چونکه من تبعیضیه داخلیږی ، په جمع باندې ، لو په دے وجه باندې حُکم مونث په معنیٰ د جمع واخستو اؤ جمله احکامو لویئل ۔ **سوال** . اضافت ستا د حُکم معرب ته نهٔ دے صحیح ، ځکه چه حُکم په اِصطلاح د منطقیانو کښې اسناد امرٍ الیٰ آخر ایجاباً او سلباً ته وائی اؤ نیل په معنیٰ د اهل شرع کښې خطاب الله تعالیٰ الی المکلفین ته وائی ۔ پس که چرے دلته اوله معنیٰ د منطقیانو واخلو ، دا نهٔ ده صحیح ، ځکه چه اسناد راځی په مرکب کښې اؤ معرب قسم دے د اِسم نه اؤ اِسم قسم دے ، د کلمے نه اؤ کلمه مفرد ده اؤ که چرته د حُکم نه معنیٰ د اهل شرع واخلو ، چه هغه خطاب الله تعالیٰ الخ دے ، لو په دے معنیٰ سره هم اضافت د حکم معرب ته نهٔ دے صحیح ، ځکه چه د خطاب د الله تعالیٰ اهل

---

[1]. دا ولاندې مقدمه بنا ده په قیاس اقترانی شکل اول باندې چه هر کله امر دغسے شو اؤ حد اوسط ترے اوغورځولے شو لو صغریٰ عین نتیجه شو اؤ دا مقدمه وی په نتیجه باندې لو معلومه شو ، چه تعریف د جمهورو مستلزم دے د دَور ، لو مصنف ځکه اختیار نه کړو ۔ [2]. یعنی د اثر مرتبه نه په معرب باندې ۔ ۲ . (م ۔ س) ۔

انسان اؤ ذوی العقول دی اؤ معرب خو د ذوی العقول نه نهٔ دے۔ **جواب** . دلته کښے د حکوم نه معنیٰ نهٔ د منطقیانو مراد دهٔ، چه اسناد امر الخ دهٔ اؤ نهٔ د اهل شرع چه خطاب الله دهٔ، بلکه دلته کښے د حکوم نه معنیٰ لغوی مراد دهٔ، چه هغه اثر مرتبه کیږی[1] **سوال** . اضافت د حکوم ستا معرّف ته نهٔ دے صحیح، ځکه چه اضافت د حکم مؤثر ته کیږی اؤ مؤثر خو عامل دے اؤ معرب اثر دے. **جواب** . دلته په عبارت کښے تقدیر دے، په دوؤ طریقو سره چه هغه والحکم فیه یا والحکم له ان یختلف آخره دے۔

درس نمبر ۱۴:- **سوال** . تا اووئیل چه حکم د معرب دا دے چه مختلف کیږی، آخر دهٔ، نو ستا دا خبره منقوضه شوه، په فاعل اؤ په مفعول باندې، ځکه چه دوئ سره د دے نه چه معرب دی اؤ آخر ئے نهٔ بدلیږی، بلکه فاعل همیشه مرفوع وی اؤ مفعول همیشه منصوب وی. **جواب**....... دلته کښے تید د حیث معتبر دے، یعنی معرب د دے حیثیت نه چه معرب دے اؤ فاعل اؤ مفعول دا د حیثیت د فاعلیت اؤ مفعولیت نه مرفوع اؤ منصوب دی همیشه. **سوال** . حکم د معرب ستا منقوض شو، په مثل د حرکت د غلامیٔ سره، ځکه چه دا اختلاف په آخر د معرب کښے دے اؤ حکم نهٔ دے. **جواب** . دلته کښے هم قید د حیث معتبر دے، چه مراد په حکم سره حکم د آخر د معرب دے، په دے حیثیت سره، چه دا آخر د معرب دے، اؤ دلته په غلامیٔ کښے د حیثیت د آخر د معرب نه نهٔ دے، بلکه د دے حیثیت نهٔ دے چه ما قبل دے، د یا د متکلم نه۔ **سوال** . ظاهر متبادر د لختلاف نه مراد اختلاف ذاتی دے، اؤ دا اختلاف ذاتی موجود دیږی، په معرب بالحروف کښے، نو معرب بالحرکة خارج شو د تعریف د معرب نه۔ **جواب** . اختلاف عام دے، که ذاتاً وی اؤ که وصفاً یا صفتةً وی، نو په معرب بالحرکة کښے، اګر که اختلاف ذاتاً نشته، لیکن صفةً شته، نو اختلاف ذاتی مثال، لکه معرب بالحروف شو، چه په هغه کښے یو حرف بدل شوے وی، په بل حرف سره اؤ د اختلاف وصفی مثال، لکه معرب بالحرکة شو، چه یو حرکت بدل شوے وی، په بل حرکت سره۔ **سوال** . هر کله چه تا تعمیم اوکړو په اختلاف کښے اؤ تا اووئیل چه اختلاف عام دے، ذاتاً وی که وصفاً نو د اختلاف ذاتی دا حکم ستا منقوض شو، په تثنیه اؤ په جمع سره، په حالت نصبی اؤ جری کښے، ځکه چه دا دواړه معرب بالحروف دی اؤ سره د دے نه په دوئ کښے اختلاف نهٔ دے راغلی ذاتاً، لکه ته ولګے رأیتُ مسلمین حالت نصبی د تثنیئ مررتُ بمسلمین حالت جری د تثنیئ، نو په

---

[1] . لکه موږ په معنیٰ کښے وئیلی دی چه بعض د احکامو د معرب نه اؤ د اثر مرتبه نه په معرب باندې۔ (م۔س)۔

حالت نصبي او جري دواړو کښې یو راغلے دے، لکه رأيت مسلمين حالت نصبي د جمع مررتُ بمسلمين حالت جري د جمع په دواړو کښې یو راغلے دے۔ **جواب**. اختلاف ذاتي عام دے حقیقتاً وي او که حکماً، لو دلته کښې اګر که اختلاف ذاتي حقیقتاً نشته، لیکن حکماً شته، ځکه چه یا یه سبب د داخلیدو د عامل ناصب سره علامه د نصب او ګرځیده حکماً۔

سوال. تا په اختلاف کښې تعمیم اوکړو او اُوویلے چه اختلاف عام دے، ذاتاً وي که وصفاً، لو د اختلاف وصفي دا حکم ستا منقوض شو په دے ترکیبو سره چه جاء ني زيدٌ رأيتُ زيداً مررتُ بزيدٍ. په دے مثالونو چه ته خو وائے اختلاف وصفي هغه ته وائي چه یو حرکت په بل سره بدل شوے وي (یعني معرب بالحرکة وي) لو په دے ترکیبو کښې اختلاف وصفي دے او آخر د دے چه لوڼ دے نه دے مختلف شوے، آخر د دے په اختلاف د عواملو سره۔ **جواب**. دلته په دے ترکیبو کښې آخر د کلمے هغه لوڼ نه دے، بلکه هغه دال دے او په شکه د هغه حرکت بدل شوے دے۔ **سوال**. ستا دا حکم د اختلاف وصفي منقوض شو په غیر منصرف سره، ځکه چه په حالت نصبي جري کښې هغه مفتوح (منصوب) وي، حالانکه دا خو معرب بالحرکة دے، لو په کار دا ده چه اختلاف وصفي په کښې راغلے وي، لکه په دے ترکیب کښې چه رأيتُ احمدَ او مررتُ باحمدَ، لو احمد په دواړو صورتونو کښې منصوب دے۔ **جواب**. اختلاف وصفي عام دے، حقیقتاً وي که حکماً، دلته کښې اختلاف وصفي اګر که حقیقتاً نشته، لیکن حکماً شته، ځکه چه فتحه په سبب د داخلیدو د عامل جار سره دا علامه د جر ګرځیده حکماً۔

العوامل دلته عوامل جمع د عامل ده، لو سوال پیدا کیدے شي. **سوال**. چه هر کله مصنف صیغه د جمع راوړه، لو د دے نه دا معلومیږي چه آخر د معرب به مختلف کیږي په سبب د دخول د عوامل مختلفه و کثیره و سره۔ که چرته یو عامل یا دوه عامله ورباندې راشي، لو آخر د معرب به نه مختلف کیږي، ځکه چه عوامل جمع ده او د جمع اطلاق په ثلاثه یا ما فوق د ثلاثه باندې کیږي، والامر ليس كذالك۔

جواب. عوامل جمع ده، لیکن داخل شوي دي په دے باندې الف لام جنسي او هر کله چه په جمع باندې الف لام جنسي داخل شي، لو باطل شي جمعیت او ..... مراد شي ترې نه جنس، لو معنیٰ دا شوه چه، جنس عوامل او د جنس اطلاق په مفرد او په جمع على السويه دے، که څوک اووائي چه بالعکس ولے نه کیږي، یعني جمعیت دے، جنسیت باطل کړي۔

جواب. دا ځکه چه اعتبار لاحق لره دے نه سابق لره۔


درس نمبر ۲۴: **سوال**: په اعتبار د حکم سره معرب مالغ اونه ګرځېدو دخول د عوامله آو داخل شو په کښې مبنی، چه هغه من حروف استفهام دے، په دې ترکیب کښې 'جاءنی زیدٌ منٌ رأیتُ زیداً منا، مررتُ بزیدٍ منی'. لودلته کښې من حروف استفهام دے اوّ آخر د دهٔ مختلف شوے دے، په سبب د دخول د عواملو مختلفو سره. **جواب**. مراد په اختلاف سره هغه اختلاف دے، چه حاصل شوے وے، په سبب د دخول د عواملو مختلفو سره، په دهٔ باندِ بالذات اوّ دلته کښې عوامل داخل شوی دی بالذات په زید باندِ مستفهم عنه دے، نهٔ په استفهام باندِ چه مَنْ دے اوّ د مَنْ آخر چه مختلف شوے دے، لو دا په تبع د زیدٌ کښې دے. **سوال**. په اعتبار د حکم د معرب سره معرب جامع اونه ګرځېد وځېلو افرادو لو اوّ خارج شو، ځکه زیداً په دې ترکیبو کښې چه إنّ ضارب زیداً و الی ضربتُ زیداً، انّ زیداً مضروبٌ په دې شان سره چه عوامل مختلفه په دهٔ باندِ راغلی دی اوّ آخر د دهٔ مختلف شوے نه دے، بلکه په ټولو ترکیبو لو کښې منصوب واقع شوے دے. **جواب**. مراد په اختلاف سره اختلاف دے، په جمیلیه کښې نهٔ په اسمیت فعلیت اوّ حرفیت کښې په دې شان سره، چه عمل د بعضو مختلف وی، د بعضو نه اوّ دلته کښې د ټولو عمل یو دے، لو په دې وجه باندِ زیداً په دے دواړو ترکیبو لو کښې منصوب واقع شوے دے.

لفظاً اوّ تقديراً دا اختلاف عام دے، ذاتی وی که صفتی وی، لفظی وی که تقدیری وی، حقیقی وی که حکمی وی، د حیثیت د ترکیب نه.

سوال. وارد یږی، په لفظاً اوّ تقدیراً باندِ، چه دا لفظاً اوّ تقدیراً به یا منصوب وایئ بنا په تمیز باندِ اوّ یا به دا منصوب وایئ، بنا په مفعول مطلق باندِ اوّ دا دواړه نهٔ دی صحیح. هرچه اوّل دے لو تمیز د نسبت نه یا فاعل وی اوّ یا مفعول وی اوّ دلته کښې فاعل د فعل چه مختلف دے هغه آخره دے اوّ هرچه دویم دے، لو مفعول مطلق هغه ته وائی چه مشتمل وی فعل په هغه باندِ د قبیلے د اشتمال د کل نه په جزء باندِ اوّ دلته کښې لفظاً اوّ تقدیراً باندِ فعل چه مختلف دے، مشتمل نهٔ دے، د قبیلے د اشتمال د کل نه په جزء باندِ، لو دا دواړه صورتونه نهٔ صحیح کیږی.

جواب. دا دواړه صورتونه صحیح دی. لفظاً اوّ تقدیراً دا تمیز واقع شوی دی، که ته دا وایئ، چه تمیز د نسبت نه، دا یا فعل وی اوّ یا مفعول اوّ دلته کښې خو فاعل د فعل آخره دے، لو نهٔ وایئم چه بناء په دکولو د عبارت اصل ته دا فعل واقع شوے دے، لو اصل عبارت به داسے شی؟ ان یختلف لفظ آخره او تقدیر آخره اوّ که چرے مفعول مطلق شی، لو هم صحیح دے. که ته وایئ چه په مفعول مطلق کښې لازمی ده. دا خبره چه فعل دِ مشتمل وی په دهٔ باندِ د قبیلے د اشتمال د کل نه په جزء باندِ، لکه ضربتُ ضرباً کښې ضرباً مفعول مطلق دے اوّ فعل

چه حریث هغه مشتمل دے، په دې باندې، د قبیلې د اشتمال د کل نه په جزء باندې او د دلالت کېږي لفظاً او تقدیراً. که چرې معنی مفعول مطلق او کوځو، نو مختلف چه فعل دے، هغه مشتمل نه دے، په دې باندې، نو جواب داسې چې، ملته د لفظاً او تقدیراً د پاره مضاف مقدر دے چه هغه مفعول مطلق دے او دا لفظاً او تقدیراً د هغې قائم مقام دی. اصل عبارت به داسې شي چه ان مختلف آخره اختلاف لفظ او اختلاف تقدیر. **سوال.** چه هر کله لفظ او تقدیر مضاف الیه دی، نو دوی له منصوب ولې دی؟ **جواب.** هر کله چه دوئ قائم مقام د مفعول او کوځو د او قائم مقام لره حکم د اصل وي [۱]، نو په دې وجه یې دا منصوب اوویل. اختلاف ذاتي [۲]، لکه په معرب بالحرف کښې او اختلاف صفتي [۳]، لکه په معرب بالحرکة کښې، اختلاف لفظي چه ملفوظ وي او اختلاف تقدیري چه غیر ملفوظ وي، اختلاف حقیقي چه بعض احوال تالع د بعضو نه وي. اختلاف حکمي چه بعض احوال تالع د بعضو وي.



مثال[۱] د ذاتي لفظي حقیقي، لکه اسماء ستة مکبره شو، په دوئ کښې اعراب بالحروف دے، چه جاءني ابوك رأیت اباك مررت بابیك. مثال[۲] د ذاتي لفظي حکمي، لکه تثنیه او جمع شوله، په حالت نصبي او جري کښې. رأیت المسلمین، مررت بمسلمین. مثال[۳] د ذاتي تقدیري حقیقي، لکه اسماء ستة مکبره مضافه، لکه جاءني ابو القوم، رأیت ابا القوم، مررت بابي القوم. مثال[۴] د ذاتي تقدیري حکمي، لکه جاءني مسلمي القوم، رأیت مسلمي القوم، مررت بمسلمي القوم. مثال[۵] د صفتي

---

[۱]. یعني چه کوم حکم د اصل وي، نو هغه به د قائم مقام وي، نو دا د خپله د اصله شه. ۱۲ (م-س).

[۲]. اختلاف ذاتي هغه ته وائي چه په ذات د کلمې کښې اختلاف راغلی دے. ۱۲ (م-س).

[۳]. اختلاف صفتي هغه ته وائي چه په وصف د کلمې کښې اختلاف راغلی وي، مثالونه یې اُستاد صاحب ذکر کړي دي. (م-س).

لفظی حقیقی، لکه جاءنی زیدٌ، رأیت زیداً او مررت بزیدٍ۔ مثال ۶ د صفتی لفظی حکمی، لکه د غیر منصرف اعراب شو چه جاءنی احمد، رأیتُ احمد، مررت باحمدَ۔ مثال ۷ د صفتی تقدیری حقیقی، لکه اِسم مقصور، جاءنی فتیٰ، رأیت فتیٰ، مررت بفتیٰ۔ مثال ۸ د صفتی تقدیری حکمی، لکه جاءنی موسیٰ، رأیت موسیٰ، او مررت بموسیٰ۔

درس نمبر ۴۳

الاعراب ما اختلف آخره به لیدل علی المعانی المعتورة علیه !!!

ترجمه:- اعراب (د اِسم) دا هغه حرف او حرکت یا هغه شے دے چه مختلف کیږی آخر د معرب په سبب قریبه د دے حرکت

او یا د دے شی سره، د پاره د دے چه دا اختلاف د اعراب او یا وضع د اعراب دلالت اوکړی په معانیو باندې۔ هغه معانی چه واردیږی په درپے (یعنی پرله پسے) په طریقے د بدلیت سره په دے معرب باندې، چه هغه معانی فاعلیت او مفعولیت او اضافت دی، ربط یې دا دے هر کله چه مصنف رح فارغ شو د امورینو په امور خمسه کښې، چه هغه تعریف د معرب او حکم د معرب دے، نو شروع یې اوکړه په امر ثالث کښې چه هغه تعریف د اعراب دے (امور خمسه موږ وړاندې وویل) چه هغه تعریف د معرب، حکم د معرب، تعریف د اعراب، انواع د اعراب او تعریف د عامل، نو مصنف فرمائیلی چه "الاعراب ما اختلف آخره به لیدل علی المعانی المعتورة علیه" په الاعراب کښې الف لام عهدی دی۔ مراد ترے نه اعراب د اِسم دے او ما موصوله هم صحیح کیږی او موصوفه هم، او س دلته **سوال** واردیږی چه "ما" د څه نه عبارت دے، یا به د حرف نه وائیے یا د حرکت نه یا د دواړو نه، یا د شی نه او ما لحول نه صحیح کیږی، ځکه چه که چرے عبارت اوګرځی د حرف نه، نو خارج شو ترے نه اعراب بالحرکت او که عبارت شی د حرکت، نو خارج شو ترے نه اعراب بالحرف او که عبارت شی د دواړو نه، نو داخلیږی به کښې حروف عامله او که چرے عبارت شی د شی نه، نو بیا به کښې داخلیږی حروف عامله او معنیٰ مقتضی د اعراب ځکه په هغے سره هم آخر د معرب مختلف کیږی۔ **جواب**۔ دلته "ما" عبارت دے د دواړو نه، که ته وائے چه حروف عامله به کښې داخلیږی، نو دا به کښې نه داخلیږی ځکه چه وروستو "به" کښې با سببیه ده او مراد د دے نه سبب قریبه دے او حروف عامله دا سبب قریبه نه دے، بلکه سبب بعید دے یا به جواب کښې دا ووایو چه دلته کښې "ما" عبارت دے د شی نه او که ته وائے چه بیا به کښې حروف عامله او معنیٰ مقتضی د اعراب به کښې داخلیږی، ځکه چه په دوی سره خو هم آخر د معرب مختلف کیږی، نو زه وایم چه وروستو "به" کښې با سببیه ده او مراد په سبب سره سبب قریبه

دے، نه بعید، لکه جاءنی زیدٌ کښې جاء سبب بعیده دے او مقتضی د اعراب چه هغه فاعلیت دے، هغه سبب متوسط دے او اعراب دا سبب قریب دے۔ **سوال**۔ غرض او مقصود د تعریف د شی نه هغه جمعیت او منعیت وی، لهٰذا په تعریف د اعراب کښې په ما اختلف آخره جمعیت او منعیت وی۔ پس لیدل ته ضرورت او حاجت پاتې نه شو۔ **جواب**۔ په جزئیت د لیدل کښې د تعریف نه اختلاف دے، په مابین د فاضل هندی او د شارح جامی کښې په دے شان سره، چه فاضل هندی وائی، چه لیدل دا جزء د تعریف نه نه دے۔ شارح جامی وائی چه دا جزء دے د تعریف نه، دلائل د فاضل هندی، په باره د عدم جزئیت باندې دوه دی، یو دلیل عقلی دے او بل دلیل نقلی دے۔ دلیل عقلی دا دے۔ په مقصد او غرض د تعریف نه هغه جمعیت او منعیت دے، لهٰذا په تعریف د اعراب کښې هغه حاصل شوے دے، په "ما اختلف آخره به" سره، لهٰذا اوس د لیدل ضرورت پاتې نه شو۔ دلیل نقلی دا دے چه مصنفؒ په خپله په شرح د کافیې کښې وئیلی دی، چه "وهٰذا لیس من تمام الحد بل الحد تم قبله۔ **سوال**۔ چه هرکله دا د تعریف نه جزء نه شو لهٰذا مصنفؒ ولې دا په تعریف کښې راوړے دے؟ **جواب**۔ دا جمله مستانفه ده، گویا دا په جواب د سوال کښې واقع ده، چه "لم وضع الاعراب"، لهٰذا په جواب کښې دا جمله واقع چه "انما وضع الاعراب، لیدل علی المعانی المعتورة"، او شارح جامی وائی، چه لیدل جزء دے، د تعریف نه او د فاضل هندی نه د هغه د دلیل عقلی نه جواب ورکوی، چه دا نه منم، چه قیودات په تعریفاتو کښې راځی، د باره د جمعیت او د منعیت، بلکه بعض قیودات د نورو فوائدو د پاره هم راځی، چه مقصود ترینه مزید وضاحت وی، لکه صاحب زنجانی وائی چه "التصریف فی اللغة، التغییر، وفی اصطلاح تحویل الاصل الواحد الی امثلة متعددة لمعان مقصودة"، لهٰذا دلته کښې لمعان مقصودة دے دے لره دخل نشته، په جمعیت منعیت کښې، بلکه دا مزید وضاحت له راغلی دے، لهٰذا هم دغه شان لیدل د مزید وضاحت د پاره راغلی دے او د دلیل نقلی نه دلته جواب ورکوی، چه دا صحیح ده چه "وهٰذا لیس من تمام الحد یعنی دا (عبارت د لیدل) د حد نه دے، یعنی د لره دخل نشته دے، په جمعیت یا منعیت د تعریف کښې، بلکه دا داخل دے په تعریف کښې د پاره د مزید وضاحت۔ **سوال**۔ لیدل جار او مجرور دی، دے د پاره متعلق څه شی دے؟ **جواب**۔ دوے په متعلق کښې هم اختلاف دے، په مابین د فاضل هندی او د شارح

ل دا اعتراض په فاضل هندی باندې وارد دے او هغه ترینه جواب کړے دے۔ (م۔ س)

کښې، چونکه دَ فاضل هندی په نزد دا داخل نه دے، په تعریف کښې، نو دَ دے دَپاره به متعلق ظرف مستقر را اوباسو، چه هغه وضع دے اَوْ دا معلومیږی، دَ نحوی اَوْ دَ سیاق اَوْ دَ سباق دَ کلام نه اَوْ په نزد دَ شارح جامی، دا چونکه داخل دے، په تعریف کښې، نو دَ دے دَپاره به متعلق ظرف لغو وی، چه هغه اختلف دے اَوْ هغه والیٔ چه هر کله دَ ظرف لغو اَوْ دَ ظرف مستقر په مابین کښې مقابله راشی، نو ترجیح ورکولے کیږی، ظرف لغو ته ځکه چه دا مذکور وی، بنا په دے اختلاف موږ په ترجمه کښې هم دَ دے دواړو متعلقینو خیال اوساته اَوْ دا موا دوشیل چه دا اختلاف دَ اعراب یا وضع دَ اعراب دلالت اکوی الخ.

فائده: - دلته کښې موږ اوویل چه لیدل جار مجرور دی اَوْ دَ دے دَپاره متعلق پکار دے که ځوک لو والیٔ چه یدل دا خو فعل دے اَوْ په فعل حرف جر نه واقع کیږی، نو جواب دا دے چه دا لام په معنیٰ دَ کے سره دے اَوْ دَ دے نه پس اَن مقدره دے اَوْ دا اَن مصدریه دے چه په فعل راشی، نو په تاویل دَ مصدر سره یې کرځوی اَوْ مصدر اسم دے.

درس نمبر ۴

المعانی[۱]

المعانیؔ جمع دَ معنیٰ ده اَوْ دَ معنیٰ دَپاره درے معنے دی، یو په معنیٰ دَ ترجمے سره راځی، بَل په معنیٰ دَ صفت قائم بالشئ سره راځی اَوْ دریم په معنیٰ دَ سبب سره راځی په نزد دَ فقهاء باندے، نو دلته ترجمه نه دا دریمه معنیٰ مراد ده، نو مطلب دَ معانیٰ نه هغه معانیٰ دی، چه مقتضی دَ اعراب دی، چه هغه فاعلیت اَوْ مفعولیت اَوْ اضافت دے په المعتوره علیه باندے **سوال**. وارد یږی، هغه دا چه معتوره دَ اعتوار نه ماخوذ دے اَوْ اعتوار فعل متعدی دے. دے خپل مفعول ته متعدی کیږی، بنفسه بے دَ واسطے دَ حرف جر نه نو راوړل دَ علیٰ په علیه کښې زائد شو. **جواب**. دلته کښې اعتوار متضمن دے، معنیٰ دَ ورود لره اَوْ ورود فعل لازمی دے چه دے مفعول ته بنفسه نه متعدی کیږی، بلکه مفعول ته متعدی کیږی، په واسطے دَ حرف جر سره. دلته په دے مقام کښې لابدی ده، دَ معرفت دَ امور اربعه نه چه هغه تضمین، متضمِن، متضمَن اَوْ قرینه دَ تضمین دی. پس تضمین په **لغت** کښې چیزے دربغل گرفتن ته والیٔ[۱] اَوْ په **اصطلاح** کښې لحاظ اَوْ اعتبار دَ یو فعل یا شبهه فعل دے،

---

[۱]. چیزے دربغل گرفتن یعنی څه شی په ترخ کښې نیولو ته والیٔ. پس دَ دے معنیٰ سره دَ فارسیٔ یو څو خوندور اشعار مناسب دی، هغه دا دی، لکه دَ جان محمد قدسی دا شعر:

روز محشر هر کسی در دست گیرد نامه ــ من نیز حاضر میشوم تصویر جانان دربغل
(مخدوم بلال ترخ)...

په فعل یا شبهه فعل آخر کښې، متضمن په کسره د ضاد سره هغه ته وائي، چې په ځاکښې اعتبار د فعل یا شبهه فعل آخر شوی وی او متضمّن په صیغه د اسم مفعول سره، دا ویلې شی، هغه فعل یا شبهه فعل ته چې د هغه اعتبار په بل کښې شوے وی او قرینه د تضمین هغه علامې ملے ته وائي چې دلالت کوی، په دغه اعتبار او لحاظ باندې د مثال په طور، لکه لعتوار متضمن دے او ورود متضمّن دے او علا یا علیه قرینه د تضمین ده، لو قرینه د تضمین عموماً صله وی، اوس تحقیق په دے مقام کښې دا دے، چې المعتورة دا صیغه د اسم فاعل ده، که د اسم مفعول ده. لو په دے کښې اختلاف دے، په مابین د فاضل هندی او د شارح جامی کښې. فاضل هندی وائي چې دا صیغه د اسم مفعول ده او د هغه د پاره دوه دلائل دی، یو دلیل دا دے چې اعتوار په معنیٰ د اخذ سره دے. پس هر کله چې معتورة صیغه د اسم مفعول شی، نو دا به په معنیٰ د مأخوذ ئې اوګرځی. په دغه وخت کښې به مطابقت راشی، په مابین د موصوف او د صفت کښې ځکه چې معانی هم مأخوذ دی، نو مأخوذ به صفت شی د پاره د معانی او که چرته دا صیغه د اسم فاعل شی، نو بیا مطابقت نه راځی، په مابین د موصوف او د صفت کښې، ځکه چې اعتوار کله په معنیٰ د اخذ شی او معتورة دا صیغه د اسم فاعل شی، نو د اخذ نه صیغه د اسم فاعل به اخذ شی، نو مطابقت رانغی، په مابین د موصوف او د صفت کښې، ځکه چې آخذ به د معانی صفت اوګرځی حالانکه معانی مأخوذ دی، اخذ نه دی او دویم دلیل دا دے د فاضل هندی، چې المعتورة صیغه د اسم مفعول ده او ضمیر چې مستتر دے، چې راجع دے الف لام ونه، هغه یې مفعول مالم یسم فاعله دے او په علیه کښې "ه" چې راجع دے معرب ته، هغه به یې معقول ثانی اوګرځی په واسطې د حرف جر سره او که چرے دا صیغه د اسم فاعل شی، نو په المعتورة کښې چې کوم ضمیر مستتر دے او راجع دے، الف لام ونه، هغه به ورلره فاعل شی او "ه" ضمیر چې راجع دے

پاڼه د بل مخ نه)... بیا د دے شعر په مقابله کښې شاه عبدالقادر صاحب بن شاه ولی الله چې کله تفسیر د قرآن ولیکلو نو دوی فرمائیل:-

روز محشر هر کسی در دست گیرد نامه من نیز حاضر میشوم تفسیر قرآن در بغل

نو هر کله چې مولانا محمد خوشتوی صاحب په جیل کښې بندی شو، نو دا شعر یې اووے چې:-

روز محشر هر کسی در دست گیرد نامه من نیز حاضر میشوم زنجیر زندان در بغل

بیا نو زمونږ استاد محمد ابراهیم صاحب فانی وفرمائیل، چې زه په یو محفل کښې ناست وم، خپل دیوان مې په ترتیب کښې نیولے وو، نو دا شعر مې اووے چې:-

روز محشر هر کسی در دست گیرد نامه من نیز حاضر میشوم تحریر دیوان در بغل

معرب وته صفه به ورله مفعول شي أو على حرف جر به زائد اوګرځي، ځکه چه اعتوار د فعل متعدي دے او دے خپل مفعول ته بغير د واسطے نه متعدي کيږي- پس لازم شو زيادت د حرف جر په تقدير د اسم فاعل د المعتورة- شارح جامي فرمائي چه، المعتورة د صيغه د اسم فاعل ده، ځکه چه هر کله- - - - معارضه راشي په مابين د اسم فاعل او د اسم مفعول کښے، نو ترجيح ورکولے کيږي اسم فاعل ته، ځکه چه اصل په اسناد د فعل يا د شبهه فعل کښے اسناد دے الٰی الفاعل وته او بل دا چه المعتورة صيغه د اسم فاعل شي، نو د وعد نه صيغه د اسم فاعل واحد راغلے او س مطابقت راغے، په مابين د موصوف او د صفت کښے، ځکه چه معاني وارد دے دي په معرب باندې او هر کله چه اعتوار متضمن اوګرځيدو، ځکه چه ورود فعل لازمي دے او فعل لازمي مفعول تبنفسه نه متعدي کيږي، بلکه په واسطے د حرف جر سره متعدي کيږي- پس نه عدم مطابقت لازم شو په مابين د موصوف او د صفت کښے او نه زيادت د حرف جر لازم شو.

سوال. تعدد د اعراب دالغو دے، په معرب باندې ځکه چه جائز ده د داخيره چه اعراب واحد دِ دا - - - اوګرځي، په معاني متعدده باندې- **جواب.** هغه معاني چه عارضے دي معرب وته دا متعاقب او غير مجتمع دي، ځکه چه په دوئ کښے د بعضو د بعضو سره تضاد دے[1]، نو مناسب دا چه هرے معنٰے له دے جدا اعراب ورکړے شي- **سوال.** په اسم کښے خو درے محله دي، اوّل، وسط او آخر، نو آخر د معرب ولے متعين کړے شو، د بله د اعراب؟

جواب. اسم دال دے په نفس مسمٰی باندې او اعراب دال دے په صفت د مسمٰی باندې او صفت مؤخر وي د موصوف نه[2]، په دے وجه باندې آخر د اسم دا متعين کړے شو د بله د اعراب- بل يو عمومي **سوال** وارديږي، چه تاسو ولے تعريف د اعراب مقدم کړو په عامل باندې- پکار داده چه تا اول تعريف د عامل کړے وے ځکه عامل متقدم دے، په اعراب باندې او وجه د تقديم ئے داده چه عامل مؤثر دے او اعراب اثر دے او مؤثر مقدم وي په اثر باندې.

جواب. دلته مصنف لحاظ د تقدم او د تأخر نه دے کړے، بلکه مصنف دلته لحاظ او اعتبار د قرب او د بعد کړے دے- اعراب چونکه سبب قريب دے او عامل سبب بعيد دے په دے وجه ئے تعريف د اعراب مقدم کړو په عامل باندې.

---

[1] په دے شان چه په مقام کښے معنٰی د فاعليت وي، نو دا معنٰی د مفعوليت نه شي ګرځيدلے. ۱۲ (م-س).

[2] يعني نفس مسمٰی د اسم ذات دے او وصف مسمٰی د اسم صفت دے او ذات متقدم وي په صفت باندې يعني صفت مؤخر وي د ذات نه. ۱۲ (م-س).

درس نمبر ۵۴

والانواعه رفع ونصب وجر

ترجمه:- او انواع د اعراب د اسم هغه رفع نصب او جر دے، یا دا چه انواع د اعراب د اسم درے دی، یو رفع دے، دویم نصب دے او دریم جر دے - هرکله چه فارغ شو مصنف د بیان د امور ثلاثه نه، په امور خمسو کښے لګ شروع یے اوکړه، په امر رابع کښے چه هغه انواع د اعراب د اسم دی لو وئے فرمائیل وَالانواعه الخ، یعنی هرکله چه مدلول (چه هغه معنی مقتضی د اعراب ده چه هغه فاعلیت، مفعولیت او اضافت دی) په دریه قسمه وګرځیدو، نو په کار دا ده چه دال به هغه مدخول باندے چه اعراب دے، هغه دهم په درے قسمه باندے اوګرځی، نو په دے وجه باندے انواع د اعراب درے ذکر کړل، وجه د حصر د انواع د اعراب په دریو کښے دا ده، چه دا اعراب به خالی نه وی، یا به دال وی په عمده باندے او یا به دال وی په فضله باندے، که چرے دال وی په عمده باندے، نو هغه رفع دے او که چرے دال وی په فضله باندے نو بیا به خالی نه وی، یا به بلا واسطه نه وی او یا به سره د واسطے نه وی، که چرے بے د واسطے نه وی، هغه نصب او که چرته سره د واسطے نه وی، هغه جر شو۔

وجه تسمیه:- رفع ته رفع په دے وجه وائی چه 'لارتفاع الشفة السفلی عند التلفظ به' یعنی په وخت د تلفظ کښے په دے باندے لاندینۍ شونډه اوچتیږی، یا دا چه د دے مرتبه پورته او اوچته ده، نوځکه دا مهم او خپل بنده چه ځکه چه فاعل د دے دپاره د هغه چه هغه عمده په کلام کښے واقع کیږی، چه فاعل دے او نصب ته نصب په دے وجه وائی چه 'لانتصاب الشفتین علی حالهما عند التلفظ به' او یا د دے وجه نه چه دے اودروی فضله لره په کلام کښے په دے شان سره چه، هغه ته د کلام ضرورت نه وی، مګر بیا یے هم په کلام کښے سره یو ځائے کوی، لکه 'ضرب زیدٌ عمروا' کښے عمروا چه دے فضله دے په کلام کښے[1] او جر ته جر په دے وجه باندے وائی 'لان الشفة السفلی ینجر الی الاسفل عند التلفظ به' او یا دا چه عامل د دے راخکی فعل لره اسم ته۔

سوال. الانواعه مبتداء ده او رفع ونصب وجر دلره خبر دے او خبر محمول وی په مبتداء باندے او دا حمل نه صحیح کیږی، ځکه چه دلته حمل د امور متعدد ده متباینه راځی، په شی واحد باندے۔

جواب. دلته کښے عطف مقدم دے، په ربط باندے، نو معنی به دا شی چه انواع د اعراب هغه رفع نصب او جر دی او یا دا چه د الانواعه دپاره خبر محذوف دے، چه هغه ثلاثة دی۔

---

[1] یعنی دا فعل جزء نه وی، د کلام نه او دا نصب ده لره قائموی په کلام کښے - سره د دے نه چه دغه فضله ته ضرورت نه وی، د کلام په تلفظ والی د کلام کښے۔ ۱۲ (م-س)۔

یعنی الانواع ثلاث اَوْ رفعٌ نصبٌ جرٌّ دَ باره مبتدا کالی محذوفی دی، چه هغه احدها رفع، وثانیها نصبٌ، وثالثها جرٌّ دے۔ **سوال**. حصر ستا دَ انواعو په ثلاثو کښې باطل دے، ځکه چه یو بل اعراب هم شته دے، چه هغه جزم دے۔ **جواب**. خبره اَوْ بحث زمونږ په اعراب دَ اِسم کښې دے اَوْ جزم خو اعراب دَ فعل دے۔ **سوال**. مصنف ولے تعبیر اوکړو دَ حرکات اعرابیه نه په رفع اَوْ نصب اَوْ جر سره دا سے به یې ویلی وو چه ضمةٌ وفتحةٌ وکسرةٌ؟ **جواب**. دا خاص دی په حرکاتِ اعرابیه اَوْ حروفِ اعرابیه دواړو پورے اَوْ اطلاق یې نه کیږی په حرکات بنائیه باندِ اصلاً اَوْ هرچه دے ضمة وفتحة وکسرة، نو دَ دے غالب اِستعمال په حرکات بنائیه کښې اَوْ قلیل استعمال یې په حرکاتِ اعرابیه کښې دے اَوْ هرچه دے ضم، فتح اَوْ کسر بغیر التاء دا خاص دی په حرکات بنائیه پورے۔

فالرفع علم الفاعلیة

ترجمه:- پس رفع چه دے، برابره خبره ده که حرفاً وی که حرکةً وی، لفظاً وی که تقدیراً اَوْ که محلاً وی.

با علامه ده دَ کون دَ شیٔ فاعل حقیقةً وی که حکماً وی، دلته دا فاء تفسیریه ده اَوْ الف لام په الرفع کښې عهدی دی اَوْ معهود په دے سره هغه رفع ده چه کومه مخکښې والانواع رفع ونصبٌ وجرٌّ کښې ذکر ده۔ 'عَلَمٌ' په څلورو معانیو سره استعمالیږی، یو په معنیٰ دَ جنډے سره، دوئم په معنیٰ دَ جبل (غر) سره، دریم په معنیٰ دَ اِسم مخصے سره راځی. اَوْ څلورم په معنیٰ دَ نښے (نشانی) سره راځی اَوْ دلته ترے دا څلورمه معنیٰ مُراد ده، په الفاعلیة کښې یا اَوْ تا دَ مصدر دَ باره داخلی دی۔ په دے وجه باندِ مونږ ده دا معنیٰ کوو چه 'کون الشیٔ فاعلاً' یعنی کیدل دَ شی فاعل حقیقةً وی که حکماً دی۔ **سوال**. نه منو دا خبره چه رفع علامه دَ فاعل ده، ځکه چه رفع څنګه راځی په فاعل کښې، نو دغه شان په نورو اسماؤ کښې هم راځی، لکه مسند اَوْ خبر وغیره شو۔ **جواب**. مُراد په فاعل سره عام دے حقیقةً وی که حکماً۔ حقیقةً خو ظاهر دے اَوْ حکماً هغه ته وائی چه موجودیږی په هغه کښې خصلت دَ فاعل، چه هغه کیدل دَ هغه دی مسند الیه یا جزء ثانی دَ کلام ته، نو مبتداء خو مسند الیه ده، خصلت دَ فاعل په کښې موجود شو اَوْ خبر مسند دے، چه جزء ثانی دے دَ کلام نه، نو دا هم خصلت دَ فاعل دے، چه څنګه فاعل عام دے، حقیقتاً وی که حکماً، نو دغه شان رفع هم عامه ده۔ حرفاً وی که حرکةً، لفظاً وی که تقدیراً اَوْ که محلاً وی۔

والنصب علم المفعولية

اَوْ نصب عام دَ دے نه چه حرفاً وی که حرکةً، لفظاً دی که تقدیراً اَوْ که محلاً دی، دا علامه ده

کېږلو دَ شي مفعول یعنیٰ کون الشيئ مفعولاً اَوْ مفعول حقیقتاً وي که حُکماً وي۔ **سوال**. نهٔ منم دا خبره چه نصب علامه دهٔ دَ مفعول، حُکه چه نصب ځنګه موجود بېږي - - - - - - - - - - په مفعول کښې، نو دغه رنګې - - - - - - په نورو اسماوُ کښې هُم، چه هغه مفاعیل خمسه دي اَوْ دَ دے نه علاوه چه نوره اسماء کښې موجود بېږي لکه تمیز شو، حال شو، استثناء شوه۔ **جواب**. مُراد په مفعول سره عام دے، حقیقتاً وي اَوْ که حُکماً۔ حقیقتاً خو ظاهر دے اَوْ هَر چه دے حکماً، نو دا هغه دے، چه په دهٔ پورے تعلق دَ فعل راغلے وي. پس دا تمام دَ دهٔ نه په فاعل باندې چه ځنګه مفعول عام دے، نو دغه شان نصب هُم عام دے، حرفاً وي که حرکةً، لفظاً وي که تقدیراً یا محلاً۔

والجرُّ علم الاضافة

اَوْ جر عام دے نه، چه حرفاً وي که حرکتاً، لفظاً وي که تقدیراً اَوْ که محلاً وي، دا علامه وي دَ کېږلو دَ شيئ مضاف الیه اَوْ مضاف الیه عام دے، حقیقتاً وي که حکماً وي۔ **سوال**. نهٔ منم دا خبره چه جر علامه دهٔ دَ مضاف الیه، حُکه چه جر ځنګه په مضاف الیه کښې راځي، نو دغه شان راځي، په هغه مجرور کښې، چه هغه مجرور په حرفِ جر سره وي؛ لکه مررت بزیدٍ۔ **جواب**. مضاف، مضاف الیه عام دے، حقیقتاً وي که حکماً۔ حقیقتاً خو ظاهر دے اَوْ حکماً لکه جار مجرور شُو په مررت بزیدٍ کښې۔ **سوال**. څهٔ وجه دهٔ چه مصنفؒ په الفاعلیة اَوْ په المفعولیة کښې یا اَوْ تا مصدري اوکړل اَوْ په الاضافة کښې یے یا اَوْ تا رانهٔ وړل۔ **جواب**. الاضافة بنفسه مصدر دے، نو دَ یا اَوْ دَ تا لګولو ضرورت نشته اَوْ یا فاعل یا مفعول دا بنفسه مصدر نه دے، نو په دے وجهٔ ورسره یا اَوْ تا مصدریه کېښودل - - - - **سوال**. رفع یے ولے خاص کړو، په فاعل پورے اَوْ نصب یے ولے خاص کړو، په مفعول پورے اَوْ جر یے ولے کړو، په مضاف الیه پورے اَوْ عکس یے ولے ونهٔ کړو؟ **جواب**. فاعل قلیل دے اَوْ رفع ثقیل دهٔ، نو قلیل له مونږ ثقیل ورکړو، دَ پاره دَ تعادل[1] دغه شان مفعول کثیر دے اَوْ نصب خفیف دے، نو کثیر له مونږ خفیف ورکړو دَ پاره دَ تعادل اَوْ مضاف الیه دَ پاره جر متعین شو۔[2]

درس نمبر ۴۶

والعامل ما به یتقوم المعنی المقتضی للاعراب.

اَوْ عامل دَ اِسم چه مؤثر وي هسے عامل چه لفظي وي که معنوي وي؛ دا هغه شے دے چه په سبب بعید

---

[1] ځکه چه کثرة تقاضا دَ خفت کوي اَوْ خفیف په حرکاتو کښې نهٔ دے مګر نصب۔ ۱۲ (م۔ س)۔

[2] ځکه چه مضاف الیه متوسط دے اَوْ جر هُم متوسط دے۔ ۱۲ (م۔ س)۔

دَ دۀ سره حاصلیږی معنیٰ، هغه معنیٰ چه واردیږی په معرب باندې په سبب دَ بدلیت سره هغه معنیٰ چه هغه مقتضی دی دَ اِعراب، چه فاعلیت، مفعولیت اَوْ اضافت دی۔ هرکله چه فارغ شو، مصنفؒ دَ بیان دَ اسوں (اِیعه نه په امور خمسه کښې، نو وُسے وئیل چه "والعامل" یعنی شروع ئې اوکړو په اَمر خامس کښې، چه عامل دے۔ ځکه چه په الاعراب سره مصنفؒ سبب قریبه ذکر کړے وو، اُوس ـــــ دلته په والعامل سره سبب بعیده بیانوی۔ دغه شان دَ تعریف دَ والعامل دَ ذکر کولو دَ پاره څو وجوهات دی۔ اَوّله وجه دا ده چه ځکه په تعریف دَ اعراب کښې لفظ دَ اختلاف راغلے دے اَوْ لختلاف دَ پاره یو سبب قریبه دے اَوْ بل سبب بعیده دے۔ پس په الاعراب سره ئې سبب قریبه ته اشاره اوکړه اَوْ په والعامل سره سبب بعیده ذکر کوی ـــــ دوئمه وجه دا ده، چه ځکه مصنفؒ مخکې دَ معرب ذکر کړے دے اَوْ په هغې کښې ئې عامل ته ضمناً اشاره کړې وه، نو اُوس په تعریف دَ عامل سره ئې صراحةً ذکر کوی ـــــ دریمه وجه دا ده چه مصنفؒ په تعریف ـــــ دَ اِسمِ معرب کښې وئیلی دی چه فالمعرب المرکب الخ، نو په تعریف کښې ئې مرکب راوړے دے اَوْ چه کوم شے مرکب وی، نو دَ هغه دَ پاره دَ څلورو علتونو ضرورت دے۔ یو علت مادی، دوئیم علت صوری، دریم علت فاعلی اَوْ څلورم علت غائی ـــــ پس اسم معرب دا علت مادی دے۔ اعراب دا علت صوری اَوْ العامل دا علت فاعلی اَوْ معانی معتوره دا علت غائی، نو په العامل سره تعریف دَ عامل ذکر کوی، چه هغه علت فاعلی دے۔ په دے وجه باندې ئې اووئیل چه والعامل۔ مثالونه: جآء په دے ترکیب کښې چه جاءنی زیدٌ دا عامل دے، چه حاصله شوی ده په سبب دَ دے سره معنیٰ مقتضی دَ اعراب، چه هغه فاعلیت دے اَوْ علامه ئې رفع ده۔ رأیت په دے ترکیب کښې چه رأیت زیداً دا عامل دے، چه حاصله شوی ده په سبب دَ دے معنیٰ مقتضی دَ اعراب چه هغه مفعولیت دے اَوْ علامه ئې نصب دے۔ بار په مررت بزیدٍ کښې دا عامل دے چه حاصله شوی ده په سبب دَ دے معنیٰ مقتضی دَ اعراب چه هغه اضافت دے اَوْ علامه ئې جر دے۔ **سوال**۔ ستا تعریف دَ عامل دا جامع اُونه کرځېدو خپلو افرادو لره اَوْ خارج شو ترینه عوامل جازمه دَ فعل مضارع۔

جواب۔ دلته په العامل کښې الف لام عهدی دی اَوْ معهود په دے سره عامل دَ اِسم دے، نه مطلق عامل اَوْ عوامل جازمه دا مختص دی په فعل پورے۔ نو ده کوه دا خبره چه عامل په دوه قسمه دے۔ یو مطلق عامل دے، دوئم عامل دَ اِسم دے۔ مطلق عامل، مطلق مشهور نه دالی اَوْ په اِصطلاح کښې "ما یجعل آخر الکلمة علی" وجه مخصوص اَوْ دَ عامل دَ اِسم تعریفِ په خپله باندې مصنفؒ کړے دے۔ دلته لفظ دا "ما" دَ شۀ نه عبارت دے یا بہ...

وي دَ اِسم نه اَوْ يا دَ حرف نه اَوْ يا دَ فعل نه۔ کهٔ چرته "ما" عبارت شي دَ اِسم نه، وله انفعال عامله اَوْ حروف عامله اَوْ دغه شان عامل معنوي ترے نه خارج شو اَوْ کهٔ عبارت شي دَ فعل نه نو انفعال عامله خو په کښې داخل شو وله حروف عامله اَوْ اسمائے عامله اَوْ معنوي ترے نه خارج شو اَوْ کهٔ چرته عبارت شي دَ حرف نه، نو حروف عامله په کښې داخل شو خو اسمائے عامله، انفعال عامله اَوْ عامل معنوي ترے نه خارج شو۔ **جواب**۔ ما عبارت دے دَ شي نه۔ پس عوامل دَ اِسم چه لفظي وي کهٔ معنوي وي، ټول په کښې داخل شو۔ به "به" کښې دا باء سببيه دهٔ، يا دا باء دَ پاره دَ استعانت ده۔ **سوال**۔ "به" ئے ولے مقدم کړو؟ په فعل يتقوم باندې، په تعريف دَ عامل کښې اَوْ په تعريف دَ اعراب کښې ئے مؤخر کړے دے دَ فعل نه۔ په دے کښې څهٔ نکته دهٔ۔ **جواب** دا دے چه دلته کښې مصنفؒ "به" مقدم کړے دے، په فعل باندې دَ پاره دَ فائدے څکه چه تقديم دَ ماحقه التاخير فائده کوي حصر اَوْ اختصاص لره، نو دلته کښې غرض دَ مصنفؒ حصر اَوْ اختصاص دے، په دے وجه ئے "به" مقدم کړو په يتقوم باندې۔ **سوال** وارديږي، چه معنی دَ اِعراب دا خو قائمه ده، په معرب پورے نه په عامل پورے نو تعريف دَ عامل په مابه يتقوم المعنى المقتضي للاعراب سره صحيح نهٔ شو۔ **جواب**۔ دلته کښې يتقوم ---- به معنی دَ يحصل سره دے۔ **سوال**۔ دَ يتقوم نسبت عامل ته نهٔ صحيح کيږي، څکه چه قيام په ذوي الروح کښې راځي اَوْ عامل دَ ذوي الروح نه نهٔ دے۔ **جواب** دا دے چه دلته کښې يتقوم په معنی دَ يحصل سره دے، يعني چه حاصليږي۔

درس نمبر ۲۷

فالمفرد المنصرف والجمع المكسر المنصرف بالضمة رفعاً والفتحة نصباً والكسرة جراً

ترجمه:- پس اِسم مفرد اِسم چه مفرد وي لفظاً اَوْ معناً۔ هغه مفرد چه منصرف دے، صحيح نحوي حقيقتاً وي کهٔ حکماً اَوْ جمع هغه جمع چه مکسر وي، بنا دَ مفرد دَ هغې اَوْ هغه جمع چه منصرفه وي۔ دا دواړه اسماء به معرب کيږي، په ضمے سره په حالت رفعي کښې او معرب کيږي به په فتحے سره په حالت نصبي کښې اَوْ معرب کيږي به په کسرې سره په حالت جري کښې، يا دا چه معرب کيږي به په اعراب دَ رفع سره په ضمے باندې اَوْ معرب کيږي به په اعراب دَ نصب سره په فتحے باندې اَوْ معرب کيږي به اعراب دَ جر سره په کسرې باندې، مصنف رحمة الله عليه په دے عبارت سره اوَس اصناف دَ اعراب ذکر کوي، څکه چه مخکښې ئے تعريف دَ معرب نکرهٔ معرب ذکر کړل۔ بيا ئے تعريف دَ اعراب اَوْ انواع دَ اعراب وروسته ئے عامل۔

ذکر کړل، نو اوس اصناف د اعراب او انواع د اعراب ذکر کوي[1]. د حالت رفعي د پاره څلور قسمه دي، چه په ضمې سره وي او که په واؤ سره وي، که په الف سره وي. د حالت نصبي د پاره څلور قسمه دي، چه په فتحې سره وي، که په الف سره وي او که په یا سره وي، که په کسرې سره وي. د حالت جري د پاره هم څلور قسمه دي، چه په کسرې سره وي، که په یا سره وي، او که په الف سره وي او که په فتحې سره وي، نو د دې ټولو اعرابالو د پاره مقامات او محلونه پېژندل ضروري دي. په دې وجه باندې مصنف رح فالمفرد المنصرف اووې. فوائد د قیودو دادي[2]، چه په مفرد سره تثنیه او جمع خارج شو، په لفظاً او معناً سره پرې نه اسمائے ستة مکبره خارج شو، په منصرف سره ترې نه غیر منصرف خارج شو او په صحیح سره ترې نه غیر صحیح خارج شو، په نحوي سره ترې نه صرفي خارج شو او تحقیقاً مثال لکه زید شو او د حکماً مثال لکه د دلو او ظبي شو او په جمع مکسر سره ترې نه جمع سالمه خارجه شوله او په منصرف سره ترې نه جمع مکسره غیر منصرفه خارج شو. د بالضمة رفعاً بالفتحة نصباً او د بالکسرة جراً د پاره متعلق مقدر دے چه یعرب دے. **سوال**. مفرد به یا په مقابله د تثنیې او د جمع کښې اخلې او یا به یې په مقابله د مضاف او د شبهه مضاف کښې اخلې. که چرې په مقابله د تثنیې او د جمع کښې یې اخلې، نو داخل شو به کښې اسمائے ستة مکبره، ځکه چه دوئ مفرد په دې معنی سره دي، خو معرب به دې اعراب سره نه دي او که چرې په مقابله د مضاف او د شبهه مضاف کښې یې اخلې، نو خارج شو ترې نه غلام به دې ترکیب کښې چه غلام زید، ځکه چه دے معرب دے، په دې اعراب سره، ولې مفرد نه دے په دې معنی سره؟

جواب. مراد په مفرد سره هغه مفرد دے، چه په مقابله د تثنیې او د جمع کښې داخل وي او که ته وائې چه اسمائے ستة به کښې داخلیږي، نو نه وایو چه دا به کښې نه داخلیږي، ځکه چه مراد په مفرد سره مفرد لفظاً او معناً دواړه دے او اسمائے ستة اګرچه مفرد دي لفظاً لیکن دا معناً مفرد نه دي، ځکه چه معنی د دے منسوب ده[3]، د تعدد نه..... **سوال**. توصیف ستا د جمع په مکسر سره نه صحیح کیږي...... ځکه چه کسر خو صفت دے، د پاره د مفرد نه د جمع. **جواب** دا صفت بحال متعلقه دے، یعنی صفت په دوه قسمه دے، اول صفت بحاله دے او دویم صفت بحال متعلقه.

---

[1] حالتونه د اعراب درې دي، حالت رفعي، حالت نصبي او حالت جري. بیا د هر واحد د پاره څلور څلور قسمه دي.

[2] یعنی په معنی په کښې چه کوم قیودات ذکر دي.

[3] یعنی د دوئ په معنی کښې تعدد پروت دے. (م. س)

صفت[۱] بحاله، لکه زید عالم شو اَوْ صفت بحال متعلقه، لکه زیدٌ عالم ابوه، لو دلته کښې هم صفت بحال متعلقه دے۔ عبارت به داسې شی "والجمع المکسر بناء مفرده"، یا الجمع المکسر مفرده"۔

سوال۔ بناء د مترلو په اختصار وی، لو مصنف ولې اکتفا اونه کړه؟ صرف به ذکر د بالضمة والفتحة والکسرة باندې بغیر د رفعاً، نصباً اَوْ جراً نه۔ **جواب**۔ مصنف[۲] اکتفاء اونه کړه، په ذکر د ضمة، فتحه اَوْ کسرة باندې، بلکه رفعاً، نصباً اَوْ جراً ئې هم ورسره ذکر کړو، د پاره د رفعه د توهم، چه بیا به دا وهم پیدا کیدو، چې کنې دا دواړه اسماء مبنی وی، ځکه چه ضمه، فتحه اَوْ کسره، د دې غالب استعمال په حرکاتو بنائیه وُ کښې دے۔ **سوال**۔ بیا خو صرف یرفع ینصب اَوْ ینجر به ئې ذکر کړے وو، یعنی ضمه، فتحه اَوْ کسره به ئې نه وه ذکر کړی۔

جواب دا دے چه مصنف[۲] صرف په رفع نصب اَوْ جر اکتفاء اونه کړه، ځکه چه رفع نصب اَوْ جر دا چه څنګه په حرکات اعرابیه کښې راځی، لو دغه شان په حروف اعرابیه کښې هم راځی۔ بیا به دا وهم پیدا کیدو چه د دې اسماء اعراب بالحروف دے، حالانکه دا خو بالحرکت دے۔

سوال۔ دا رفعاً، نصباً اَوْ جراً ولې منصوب دی؟[۳]۔ **جواب** دا دے چه دا بناء بر ظرفیة یا بنا بر مفعول مطلق، که دوئ منصوب اوګرځی بنا بر ظرفیة، لو **سوال** دا واردیږی چه ظرفیة د رفع نصب اَوْ د جر نه صحیح کیږی، ځکه چه دوئ نه ظرف زمان دی اَوْ نه ظرف مکان دی۔ **جواب**۔ دلته مضاف مقدر دے، چه هغه حالت دے۔ پس تقدیر د عبارت به داسې شی چه "یعربان بالضمة، حالة الرفع والفتحة حالة النصب، والکسرة حالة الجر"۔ اَوْ که چیرته منصوب اوګرځی بنا بر مفعول مطلق، لو بیا بیرے دا **سوال** واردیږی چه رفعاً، نصباً اَوْ جراً منصوب بنا بر مفعول مطلق نه صحیح کیږی، ځکه چه مفعول مطلق هغه تحوالی چه فعل مشتمل وی، په هغه باندې د قبیلې د اشتمال د کل په جزء باندې اَوْ دلته کښې فعل چه یعربان مقدر دے۔ دا خو مشتمل نه دے په رفع نصب اَوْ جر باندې۔

جواب۔ دلته کښې هم تقدیر د مضاف دے، چه هغه اعراب دے، لو اصل عبارت به داسې شی، چه یعربان بالضمة اعراب رفع، بالفتحه اعراب نصب، بالکسرة اعراب جر۔

درس نمبر ۴۸:- اَوْ دریمه وجه د دې د نصب د پاره دا ده چه دا منصوب

---

[۱] صفت بحاله هغه ته وائی چه د لو موصوف د پاره صفت بنفسه ثابت شی اَوْ صفت بحال متعلقه هغه ته وائی چه متعلقاتو د موصوف د پاره ثابت وی، لکه زیدٌ عالم ابوه ۱۲۔ [۲]۔ چه څه کله مترجم دا وهم کولو، لو پکار ده چه رفعاً نصباً اَوْ جراً ئې نه ذکر کړے وے ۱۲۔

[۳]۔ ځکه چه د نصب د پاره درې طرق ذکر شوی دی۔ (م۔ س)۔

دے، بنا بر حالیت یعنی د رفعاً، نصباً اَوْ جراً حال واقع شوی دی، دَ ضمیرِ دَ یعربان فعل مقدر نه.... ... چه دا رفعاً، نصباً اَوْ جراً دا حال واقع شی، دَ ضمیرِ دَ یعربان نه چه هغه فعل مقدر دے خو به دِ ے باندِ **سوال** وارد یږی هغه دا چه، حال محمول وی په ذوالحال باندِ، نو دلته کښے دا حمل نَ صحیح کیږی، ځکه چه دلته کښے حمل دَ صرف وصف راځی په ذات باندِ، ځکه چه رفعاً، نصباً اَوْ جراً دا مصادر دی اَوْ ضمیر ذات دے. **جواب**. په دے کښے مونږ تاویل کوو، چه مرفوعاً، منصوباً اَوْ مجروراً دے، په صیغو دَ اسم مفعول سره. **سوال**. دا قسم اعراب ئے ولے خاص کړو، په دا قسم دَ اسم پورے؟ **جواب**. دا قسم اعراب اصل دے اَوْ دا قسم دَ اسم هم اصل دے، نو اصل ئے اصل ته ورکړو، رعایتاً للتعادل. دا قسم اعراب ځکه اصل دے، چه دا اعراب بالحرکت دے اَوْ اعراب بالحرکت اصل دی، په نسبت سره اعراب بالحروف وُته، ځکه چه اصل په اعراب کښے تبعیت دے اَوْ کوم لوړ چه ذمنی وی، په خپله معنیٰ کښے، نو دا اصل وی اَوْ اعراب بالحرکت کامل دے، په تبعیت کښے، په دے وجه باندِ اصل اوګرځیدو اَوْ دا قسم دَ اسم اَصل دے، ځکه چه مفرد اصل دے، په نسبت سره تثنیے اَوْ جمع ته اَوْ منصرف اصل دے، په نسبت سره غیرمنصرف ته ځکه چه معرب دے، په احوال ثلاثه کښے په حرکات ثلاثه سره، یا اعرابات ثلاثه سره اَوْ دا اصل دے، دَ هغه نه چه هغه معرب نه وی په احوال ثلاثه کښے په اعرابات ثلاثه سره اَوْ جمع مکسر دا اصل ده، په مقابله دَ جمع سالم کښے، ځکه چه لپکار دا ده چه دَ مفرد اَوْ دَ جمع په مابین کښے دِ فرق اَوْ اختلاف وی. لفظاً اَوْ معناً، نو په جمع مکسر کښے اختلاف دے په مابین دَ مفرد اَوْ دَ جمع کښے لفظاً اَوْ معناً، په دِ ے وجه باندِ دا قسم دَ اسم اَصل اوګرځیدو. پس اصل له مونږ اصل ورکړو. مثالونه:- لکه جاءنی رجلٌ، رأیتُ رجلاً، مررتُ برجلٍ او جاءنی رجالٌ، رأیتُ رجالاً، مررتُ برجالٍ اَوْ مثال دَ مفرد منصرف صحیح حکمی، لکه جاءنی دلوٌ وظبیٌ الخ.

والجمع المؤنث السالم بالضمة والکسرة

ترجمه:- اَوْ جمع مؤنث هغه جمع مؤنث چه سالمه وی، بنا دَ مفرد دَ هغه چه جمع شوے وی، په الف اَوْ په تا سره. برابره خبره ده چه مفرد ئے مذکر وی اَوْ که مؤنث اَوْ دا جمع سالمه مؤنثه عامه ده، چه فی الحال وی اَوْ که فی الاصل وی، دا به معربه کیږی، په ضمے سره په حالت رفعی کښے اَوْ دا معربه کیږی، په کسرے سره په حالة نصبی اَوْ په جری کښے، دلته حالة نصبی تابع کړے شوے دے، دَ حالةِ جری. دا اوس هغه اعراب ذکر کوی، چه حالت نصبی په کښے تابع دَ حالتِ جری، په السالم باندِ هم هغه اعتراض وارد یږی، چه کوم په المکسر باندِ راغلو، جواب ئے هم هغه دے، یعنی مصنف بحال متعلقه دے اَوْ مطلب به ئے دا شی، چه السالم بنا دَ مفرد یا السالم مفرده دَ بالضمة والکسرة دِ پاره متعلق مقدر دے چه تعرب دے، نو تقدیر به ئے دا شی، چه تعرب بالضمة رفعاً والکسرة

نصب او جراً او په نصب د رفع، نصب او د جر کښې هغه احتمالات دی چې مخکښې ذکر شوی دی۔
سوال۔ دا قسم اعراب ولې خاص کړے شو په دا قسم د اسم پورے۔ **جواب**۔ جمع مونثه سالمه دا فرع ده، د جمع مذکر سالم او په هغه کښې حالت نصبی تابع د حالت جری وو په دې وجه هم تابع شو د پارا د دې، چې مزیت او فوقیت د فرع زائد شی په اصل باندې۔ **سوال**۔ مزیت او فوقیت د فرع خو په اصل راغلے دے، ځکه چې فرع له تا اعراب بالحرکت ورکړو چې هغه اصل دے او اصل له دې اعراب بالحروف ورکړو چې هغه فرع ده۔ **جواب**۔ دلته کښې مونږ اعراب بالحرکة ورکړو د وجه د ضرورت نه ځکه چې موجود نه وو لپو حروف د پاره د اعراب د جمع مؤنثِ سالمے، یا دا چې دلته کښې مزیت د فرع په اصل نه دے راغلے ځکه چې اعراب بالحرکة مطلق اصل نه دے بلکه اصل دے په مفرد کښې او اصل په تثنیه او په جمع کښې اعراب بالحروف نو یا مزیت د فرع اصل زائد ملو۔ **سوال**۔ تاسو دلیل چې دا قسم اعراب خاص دے په جمع مؤنث سالمے پورے ځکه چې دویے جمعه وی، چې جمع مؤنث سالمے به نه وی او معرب به وی په دې اعراب باندې یعنی هغه به منکر وی او معرب وی په دې اعراب باندې لکه مرفوعات، منصوبات او مجرورات، چې مفرد د دوی مذکر دے، چې هغه مرفوعٌ، منصوبٌ او مجرورٌ دی او دغه رنگ جمع مؤنث سالمه به وی او معرب به نه وی په دې قسم سره لکه ارضون، سنون او قلون، چې دا جمع د ارضٌ سنته او قلة چې دا مؤنث دی۔ پکار دا ده چې دا هم معرب کړے شوے وے، په دې قسم اعراب سره۔ **جواب**۔ مراد په جمع مؤنث سالم معنی اصطلاحی ده چې جمع یې دا غلی وی په الف او په تا سره، او دی بوابه ځنې ده چې مفرد د هغه مذکر وی او که مؤنث، لو خارج شو ترے نه ارضون او سنون وغیره۔ **سوال**۔ ته به درته او ښایم چې یو اسم به وی جمع مؤنث سالم به نه وی او معرب به وی په دې اعراب سره یا دا ښے چې یو اسم به وی هغه به مفرد وی او معرب به وی په دې اعراب سره لکه عرفات شو چې دا خو یو اسم مفرد دے او معرب دے په دې قسم د اعراب سره۔ **جواب**۔ مونږ په معنی کښې دا خبره کړې ده چې جمع مؤنث سالمه عامه ده، فی الحال وی او که فی الاصل وی لو دلته اګرکه عرفات فی الحال مفرد دے او علم دے، د یو خاص میدان، لیکن فی الاصل دا جمع د عرفة ده او جمع یې راغله په الف او په تا سره۔

درس نمبر ۴۹

غیر المنصرف بالضمة والفتحة

مصنفؒ په دې عبارت سره اعراب د غیر منصرف بیانوی او دے وئیل چې غیر المنصرف الخ یعنی غیر منصرف معرب وی لکه جمع مکسر، دا به معرب وی په ضمه سره په حالت رفعي کښې او معرب به وی، په حالت نصبی او جری کښې، په فتحه سره دلته کښې حالت جری تابع د حالة نصبی دے۔

کړه دا غیر چه اسم په دے قسم دے، یو هغه دے چه مشابهه وی، دَ فعل سره په معنی مطابقی کښے۔ دویم هغه دے چه مشابهه وی، دَ فعل سره په معنی تضمنی کښے۔ دریم هغه دے چه مشابهه وی، دَ فعل سره په ادنیٰ مشابهت سره۔ پس حکم دَ اوّل دا دے چه دے به عمل کوی، په شان دَ عمل دَ فعل او مبنی به وی، په شان دَ بناء دَ فعل، لکه اسمائے افعال او حکم دَ ثانی دا دے چه دے به عمل کوی په شان دَ عمل دَ فعل او مبنی به نه وی، په شان دَ بناء دَ فعل، لکه اسم فاعل شو او حکم دَ دریم دا دے چه دے به عمل نه کوی په شان دَ عمل دَ فعل او مبنی به نه وی په شان دَ بناء دَ فعل، بلکه دے منع کوی، هغه اعراب چه کوم مختص دے په اسم پورے، لکه غیر منصرف شو۔

سوال۔ غیر منصرف له وجے دا اعراب دے، یعنی جر په کښے تابع دَ نصب دے؟

جواب۔ دا غیر منصرف مشابهه دے، دَ فعل سره په وجود دَ فرعیتینو کښے، لکه چه څنګه فعل محتاج دے، مشتق منه او فاعل ته۔ دغه شان غیر منصرف هم محتاج دے، وجو دِ سببینو ته۔

سوال۔ چه څنګه په جمع مؤنث سالم کښے حالت نصبی تابع دَ حالت جری دے او دلته کښے جری تابع، دَ حالة نصبی دے، او هغه دِ وجے مقدم کړو، په دهٔ باندِ؟ **جواب**۔ جر اصل دے په نسبت سره نصب ته، او هغه صورت مقدم شهٔ، چه کوم تابع دَ جری دی۔

> **اَبُوكَ وَ اَخُوكَ وَهَنُوكَ وَحَمُوكِ وَفُوكَ وَذُومَالٍ مُضَافَةً اِلٰى غَيْرِ يَاءِ الْمُتَكَلِّمِ بِالْوَاوِ وَالْاَلِفِ وَالْيَاءِ**

هر کله چه مصنف فارغ شو دَ بیان اعراب بالحرکة نه، نو شروع یے او کړه، په بیان دَ اعراب بالحروف کښے، او فرمائیل چه اَبُوكَ الخ مراد په دے سره هغه اسمائے ستة دی چه هغه موحده دی، تثنیه او جمع نه دی مکبره دی، مصغره نه دی او په حال دَ کون دَ دے اسماء کښے چه هغه مضاف وی، غیر دَ یاء دَ متکلم ته، نو دوی اعراب به په حالت رفعی کښے واو سره وی په حالت نصبی کښے په الف سره او په حالة جری کښے په یاء سره، یعنی دغه اسمائے به په احوال ثلاثه کښے معرب وی، په حروف ثلاثه سره۔ اَبٌ په اصل کښے اَبَوٌ ناقص واوی دے او دغه شان اَخٌ په اصل کښے اَخَوٌ دے او هَنٌ په اصل کښے هَنَوٌ دے او حَمٌ په اصل کښے حَمَوٌ دے، دا حَلَوٌ ناقص واوی دی او فُوكَ یعنی فَمٌ په اصل کښے فَوَهٌ وو، اجوف واوی، په دلیل دَ اَفْوَاه سره، ځکه چه دا جمع دَ اَفْوَاهٌ ده، او هر یو شے چه جمع ته رد کړے شی، نو اصل یے معلوم شی، دَ فوه نه ها حذف کړے شوه، خلاف القیاس بیا فو پاتے شو، نو واو په میم مبدل کړے شو۔ او ذُو په اصل کښے ذَوَوٌ وو

ځکه چه ﴿و﴾ او ﴿م﴾ قریب المخرج دی۔ ۲۰ (م۔س)۔

لفیف مقرون - دَ دۀ واوُنه یو حالت جمع شول، نو یو واو ترینه حذف شهٔ - **سوال**. ناقص یې ولې مقدم کړو، په اجوف اَوْ په لفیف باندې - **جواب** دا کثیر دی اَوْ العزة للتکاثر -
سوال. ولې مخالفت اوکړو؟ مصنف په ضمیر دَ مخاطب دَ حمولتِ دَ لوړو نه، ځکه چه په هغوئ کښې یې ضمیر دَ مخاطب دَ مذکر راوړے دے اَوْ دلته کښې ضمیر دَ مخاطب مؤنث دے -
جواب. دَ حمولتِ نسبت ښځې ته کیږي، ځکه ځم، لیوړ ته والی اَوْ دا دَ ښځې دَ پاره وی -
سوال. ولې مخالفت اوکړو؟ مصنف په اضافت دَ ذو کښې دَ دے لوړی نه، په دے شان سره چه دَ ذو اضافت یې اِسم ظاهر ته کړے دے اَوْ دَ لوړو یې ضمیر ته کړے دے -
جواب. ذوَ وضع شوے دے، دَ پاره دَ توصیف دَ شی په اِسم جنس سره اَوْ ضمیر اِسم جنس نه شی راتلے، ځکه چه دا حاصلیږی، په اِسم ظاهر سره، نه په ضمیر سره - **سوال**. اسمائے ستة دا خو مفرد دی اَوْ دَ مفرد اعراب په حرکت سره دے، نه په حروف سره، نو دَ دوئ اعراب یې ولې په حرف سره راوړے دے - **جواب**. دا دَ پاره دَ دفع دَ تنافی لوَ منافرت، ځکه چه هَر مفرد له معنی په اعراب بالحرکت ورکولو او تثنیې اَوْ جمع له اعراب بالحرف، نو بیا خو به دَ دوئ په مابین کښې بعد اَوْ تنافی راتلی، نو دَ پاره دَ دفع دَ دغه تنافی دوئ له اعراب بالحرکت ورکړے شو، لکه څنګه چه جمع سالمه مؤنث کښې، سره دَ دے نه چه جمع ده، هغې له اعراب بالحرکت ورکړے شو - **سوال**. دَ دفع دَ تنافی دَ پاره خو یو اِسم کافی وو، نو شپږو اسماؤ ته څهٔ ضرورت وو؟ **جواب**. هَر واحد دَ تثنیې اَوْ جمع نه هغې له دَ دے دَ څه حالت دی، لنو مجموعه شپږ شو، نو هَر واحد له موتن ورکړو اِسم علیحده -

درس نمبر ۵۰:- سوال. دغه اسماء ولې مقدم کړے شو، دَ پاره دَ دفع دَ دغه منافرت، یعنی نور هم اسماء لوه چه یې دا اعراب ورکړے وو؟ **جواب** . دا ځکه چه دَ دے اسماء مشابهت وو، دَ تثنیالو اَوْ دَ جموعو سره لفظاً اَوْ معناً په دے وجه باندې یې دا اعراب خاص کړل - هَر چه دے لفظاً، نو هغه دا ځکه چه څنګه دَ تثنیې (اَوْ دَ جمع) په آخر کښې حرف صالح دَ پاره دَ اعراب شته، نو دغه شان دَ دے اسماؤ په آخر کښې هَم حرف صالح دَ پاره دَ اعراب شته اَوْ معناً دا چه څنګه دَ تثنیې اَوْ دَ جمع په معنیٰ کښې تعدد دے، نو دغه شان دَ دے اسماؤ معانی هَم مبنی دی، دَ تعدد نه، لکه اب شو، دا هغه ته والی چه هغه لره ابن وغیره وی، وعلی هذا القیاس. **سوال**. دا خو لوړ هُم اسماء شته، چه دَ هغوئ په آخر کښې حرف صالح دَ پاره دَ اعراب شته، نو هغه دَ هُم معرب اوګرځولے شی په دے قِسم اعراب سره، لکه یدٌ اَوْ دمٌ چه دا په شان دَ اب اَوْ اخ دی، ځکه چه یدٌ په اصل کښې یدوٌ اَوْ دمٌ په اصل کښې دموٌ دے - **جواب**. دا موقوف

دے په سماع باندې د عربانو، ځکه چه عرب اعاده د محذوفاتو کوي، په دے اسماؤ کښې نه په نورو کښې. هلته چه معنی کښې موږ وئیلی وو چه اسمائے ستة، هغه اسمائے ستة چه هغه موحده وي او مکبره وي. دا قیودات معنی لکولی وو، د پاره د دفع د اعتراض. **سوال**. تا خو اووئے چه د دے اسماؤ اعراب به په دے قسم سره وي او زه نه منم دا خبره چه د دے اسماؤ اعراب په دے قسم سره دے، ځکه په حالت د تثنیې او د جمع کښې د دے اعراب په دا شان نه دے، بلکه د نورو تثنیالو او د جموعو په شان دے او دغه رنګ په حالت د تصغیر کښې د دے اعراب داسے نه دے، بلکه په حرکت سره دے، لو تا ځنګه حکم په طریقه د عمومیت سره راوړو، چه د دے اسماؤ اعراب به په دا قسم وي.

جواب. دلته ورسره قید د موحده او مکبره ملحوظ دے. **سوال**. دا قیودات به ئے ورسره ذکر کړی وو. **جواب**. دا ئے ورسره ذکر نه کړل او اکتفاء ئے وکړه، په مثالونو باندې[1].

سوال. په حالت د اضافت کښې به ئے هُوَ اکتفاء په مثال کړي وه، لکه دا وائي چه مضافةً الی غیر یاء المتکلم، نو دلته کښې به دِ هُوَ اکتفاء په مثال کړي وه. **جواب**. دلته کښې مصنف اکتفاء په مثال باندې اونه کړه، ځکه چه بیا به دا وهم پیدا کیدو، چه کیدی شرط په دے اسماؤ کښې دا دے چه د دے اضافت راشي ضمیر د مخاطب ته هله به ورباندې دا قسم اعراب راځي، حالانکه داسے نه ده، ځکه چه هر کله ضمیر د مخاطب ته د دے اضافت اوشي، نو دا اعراب ئے دے او که ضمیر د غائب یا اِسم ظاهر ته د دے اضافت اوشي، نو هُوَ ئے دغه اعراب دے، لکه جاءنی ابوه، یا جاءنی ابوزیدٍ. **سوال**. ابوكَ او اخوكَ دا اسماء مشتمل دي، په لغو او په استعمال باندې لغو په جانب د واؤ کښې ده[2]. او استعمال په جانب د الف او د یا کښې ده[3]. **جواب**. مراد په ابوك وغیره سره اسمائے ستة دي او دې حمله داسے اوشي چه ذکر د لو فرد معین وي او مراد ترے نه نوع وي، ته ئے اووائې چه زیدٌ ضاحكٌ بالطبع، نو دلته کښې خو ذکر د زید دے، چه یو فرد معین دے، لیکن مراد ترے نه اِنسان دے، چه نوعه ده.

درس نمبر ۱۵:- دلته په اسمائے ستة کښې یو ضابطه ده، هغه دا چه دا اسمائے

---

[1] ځکه چه دغه مثالونه مفرد دي، تثنیه او جمع نه دي او مکبر دي او مصغر نه دي. ۱۲ (م. س).

[2] لغویت په جانب د واؤ کښې په دے معنی سره دے، چه یو ولاړ ئے خپل دے او ته وائے چه حالت رفعي ئے په واؤ سره دے، نو داسے نه ده، مګر جمع د واؤ پښو ده او دا لغو ده. ۱۲ (م. س).

[3] یعنی په جانب د الف او د یا کښې ئے استعمال راځي، په دے معنی سره چه ته وائے چه حالت نصبي ئے په الف سره ئے او حالت جري ئے په یاء سره دے، لحوق د الف او د یاء په واؤ باندې محال دے. (م. س).

ستہ پہ خالی نہ وی یا بہ موحد وی اَوْ یا بہ تثنیہ وی۔ کہ چرے تثنیہ وی، نو اعراب دَ دوئ دَ نورو تثنیاتو پہ شان دے لکہ چرے موحد وی، نو بیا بہ خالی نہ وی، یا بہ مضمر وی یا بہ مکبر وی۔ کہ چرے مضمر وی، نو اعراب دَ دوئ بالحرکۃ دے اَوْ کہ مکبر وی، نو بیا بہ خالی نہ وی یا بہ مضاف وی یا دَ متکلم وُتہ، یا بہ مضاف وی غیر دَ یا دَ متکلم وُتہ۔ کہ چرے مضاف وی، یا دَ متکلم وتہ، نو اعراب دَ دوئ بالحرکۃ دے اَوْ کہ غیر دَ یا دَ متکلم تہ ئے اضافت راغلے وی، نو بیا بہ ئے اعراب پہ احوالو ثلثہ کبنے پہ حروف ثلاثہ سرہ وی۔

المثنیٰ وكلا مضافاً الى مضمرٍ واثنان واثنتان بالالف والياءِ

هَر کلہ چہ فارغ شو مصنفؒ دَ بیان دَ اعراب دَ هغہ اسماؤ نہ چہ پہ احوال ثلاثہ کبنے پہ حروف ثلاثہ سرہ وی، نو اوس ئے شروع اوکڑہ پہ اعراب هغہ اسماؤ کبنے چہ پہ احوال ثلثہ کبنے معرب وی، پہ حرفینو سرہ، نو وئیل چہ المثنیٰ یعنی مثنیٰ لکہ ملحقات دَ مثنیٰ چہ کلا اَوْ کلتا دی، پہ حال دَ کون دَ دے کلا اَوْ کلتا کبنے چہ اضافت ئے راغلے وی، ضمیر تہ اَوْ دغہ شان ملحقات دَ مثنی چہ اثنان اَوْ اثنتان دے۔ دَ دوئ اعراب پہ الفسرہ وی، پہ حالت رفعی کبنے اَوْ پہ یا سرہ بہ وی، پہ حالت نصبی اَوْ جری کبنے، نو دلتہ کبنے حالت نصبی تابع دَ حالت جری دے۔ **سوال**. ذکر دَ کلا اَوْ دَ کلتا اَوْ دَ اثنان دا مستدرک دے۔ پس دَ ذکر دَ مثنیٰ نہ، ځکہ چہ دا دَ افرادو دَ مثنیٰ نہ نہ دی۔ **جواب**. دا دَ افرادو دَ مثنیٰ نہ نہ دی، بلکہ دَ ملحقاتو دَ مثنیٰ نہ دی، ځکہ چہ ملحقات دَ مثنیٰ هغہ تہ وائی چہ یا خو لفظاً اَوْ معناً دوارہ تثنیہ وی یا فقط معناً تثنیہ وی اَوْ مفرد وی لہٰ من لفظہ نہ وی۔ **سوال**. چہ ځنګہ کلا دَ ملحقاتو دَ مثنیٰ نہ دے، نو دغہ رنګے کلتا هم دَ ملحقاتو دَ مثنیٰ نہ دے، نو مصنفؒ کلتا ولے ذکر نہ کڑو؟ **جواب**. کلا اصل دے اَوْ کلتا فرع دہ، نو دلتہ کبنے مصنفؒ اکتفا اوکڑہ پہ اصل باندے۔ **سوال**. چہ ځنګہ کلتا فرع دہ اَوْ اکتفا پہ اصل باندے شوی دہ، نو لیکل دادہ چہ پہ اثنان کبنے هم اکتفا پہ اصل اوکڑے شی اَوْ اثنتان دِ ذکر نہ کڑے شی۔ **جواب**. نکتہ دا راوړہ وی، قاعدہ نہ وی اَوْ دویم **جواب** دا دے چہ حکم دَ اعدادو پہ تذکیر اَوْ پہ تانیث کبنے مختلف کیږی۔

سوال. چہ حال ذکر شی۔ پس دَ معطوف علیہ نہ اَوْ دَ معطوف نہ، نو هغہ قید وی، دَ پارہ دَ دوارہو، نو دلتہ کبنے مضافاً الی مضمرٍ دا دِ قید اوګرځی، دَ پارہ دَ مثنیٰ اَوْ کلا دوارہو۔ حالانکہ دا خو قید دَ پارہ دَ کلا دے، فقط نہ دَ مثنیٰ۔ **جواب**. دا قاعدہ اکثریہ دہ اَوْ کلیہ نہ دہ۔

سوال. کلا ئے ولے مقید اوګرځولو پہ قید دَ مضافاً الی مضمرٍ سرہ۔ **جواب**. دَ کلا دَ پارہ دوہ حیثیتہ دی، یو حیثیت دَ لفظ دے، نو دَ حیثیتہ دَ لفظ نہ دا مفرد دے، نو لیکل دادہ چہ دَ لہ

اعراب بالحرکة ورکړے شی اؤ تحتیم حیثیت دَ معنی دے، لوړ دَ حیثیته دَ معنی نه دا تثنیه ده۔ یکار دا وه چه ددے له اعراب بالحرف ورکړے شی، لو لحاظ دَ دواړو حیثیتونو اوکړے شو۔ چه کله اضافت دَ دے اُو شی مظهر ته، لو دے له اعراب بالحرکة ورکړے شو، ځکه چه اعراب بالحرکة ګم اصل دے اؤ مظهر هم اصل دے اؤ چه کله اضافت ئې او شی مضمر ته، لو دغه وخت کښې اعراب بالحرف ورکړے شو ځکه چه مضمر هم فرع دے اؤ اعراب بالحرف هم فرع دے۔ پس عبارت به داسے شی چه المثنی وملحقاته من کلا وکلتا مضافاً الی مضمر واثنان واثنتان تعرب بالالف رفعاً وبالیاء نصباً وجراً المفتوحة ماقبلها۔

درس نمبر ۵۲

والجمع المذکر السالم واولو وعشرون واخواتها بالواو والیاء

ترجمه:۔ اؤ جمع مذکر، هسے جمع مذکر چه سالم وی بناء دَ مفرد دَ هغې اؤ هغه جمع مذکر سالم چه جمع شوی وی، په واؤ اؤ په نون سره، په حالت رفعی کښې اؤ په یا اؤ نون سره، په حالت نصبی اؤ جری کښې۔ برابره خبره ده چه مفرد ئې مذکر وی که مؤنث اؤ دغه شان ملحقات دَ جمع مذکر سالم چه اولو اؤ عشرون اؤ دغه نور اخوات چه هغه عقود ثمانیه دی (دَ عشرون نه تر تسعون پورے)، معرب کیږی به په حالت رفعی کښې په واؤ سره اؤ په حالت نصبی اؤ جری کښې په یاء سره، لو دلته کښې حالت نصبی تابع دے دَ حالت جری۔ **سوال**. نه منم دا خبره چه دا قسم اعراب راځی، په جمع مذکر سالم کښې ځکه چه جمع دَ مؤنث هم په دے اعراب راغلی ده، لکه ارضون، سنون، قلون۔ چه دا جموع دَ ارضة سنة قلة دی اؤ دا اسماء خو مؤنث دی۔ **جواب**. دلته کښې مراد دَ جمع مذکر سالم نه جمع اصطلاحی ده، یعنی هغه جمع مذکر سالم چه جمع شوی وی، په واؤ اؤ په نون سره اؤ یا په یا اؤ نون سره۔ برابره خبره ده، چه مفرد ئې مذکر وی که مؤنث۔ **سوال**. ذکر دَ اولو اؤ دَ عشرون پس دَ جمع مذکر سالم نه لغو اؤ مستدرک دے، ځکه چه دا افراد دَ جمع مذکر سالم دی۔ **جواب**. دا افراد دَ جمع مذکر سالم نه دی، ځکه دوی له مفرد من لفظه نشته، بلکه دا دَ ملحقاتو دَ جمع مذکر نه دی، چه صیغه ئې یا معنا ئې دَ جمع وی، خو مفرد ورله من لفظه نه وی۔ **سوال**. ستا خبره خو صحیح ده په اولو کښې، چه دے له مفرد من لفظه نشته، ولے په عشرون کښې نه ده صحیح، ځکه چه دے له مفرد من لفظه شته دے، چه هغه عشرة دے۔ **جواب**. دَ عشرون دَ پاره عشرة مفرد نه شی کیدے ځکه چه اقل دَ جمع ثلاثة دی، لو چه هر کله معنی عشرة درے ځله جمع کړو، لو عشرون معنی به ثلثون شی۔ **سوال** هر اقسم

اعراب یې مُلې دیته قسم د اسم له ورکړو۔ لیکن دا د چه اعراب بالحرکت یې دوئی له ورکړے دے، ځکه چه دا اصل دے۔ **جواب**۔ دا جمع ده او جمع فرع ده د مفرد او اعراب بالحرکة اصل دے، په لپت سره اعراب بالحرف وُنه، نو اصل چه مفرد دے، هغه ته مونږ اصل ورکوو چه اعراب بالحرکة دے او فرع چه جمع ده، هغې ته مونږ اعراب بالحروف ورکوو، د پاره د رعایت د عدل۔ **سوال**۔ چه هر کله جمع فرع د مفرد ده، نو بیا دِ ولے په جمع مؤنث کښې اعراب بالحرکة ورکړے شو۔ **جواب**۔ په جمع مؤنث سالم کښې مونږ اعراب بالحرکة ورکړو، د وجه د مجبورئ او ضرورت نه، ځکه چه نه وو ځای صالح د پاره د اعراب په آخر د جمع مؤنث سالم کښې۔ **سوال**۔ په مثنیٰ کښې حالت رفعی په الف سره دے او حالت نصبی، جری په یا سره دے، نو قیاس دا تقاضا کوله چه په جمع مذکر کښې حالت رفعی په واؤ سره شی او حالت نصبی او جری و په الف سره شی۔ **جواب**۔ حروف د اعراب درے دی، (واؤ، الف او یاء) او هر واحد د تثنیے او جمع له درے حالتونه دی، نو که لومړی حروف د اعراب تثنیے له ورکړو، نو جمع بے اعرابه پاتې او که دوارو له ورکړو، نو التباس لازمیږی، په دے وجه باندِ مونږ تقسیم اوکړو، یعنی تثنیے ته په حالة رفعی کښې مونږ الف ورکړو، ځکه چه دا ضمیر د فاعل دے په افعالو د تثنیو کښې، لکه ضَرَبَا شو یا یضربان شو او په جمع مذکر سالم کښې مونږ په حالت رفعی کښې واؤ ورکړو، ځکه چه دا ضمیر د فاعل دے، په جمعو د افعالو کښې، لکه یضربون شو یا ضربوا شو، او "یا" مشترکه ده په مابین د دوارو کښې په حالة جری کښې۔ **سوال**۔ حالت نصبی خو بلا اعراب پاتے شو۔ **جواب**۔ دا تابع دے د حالت جری۔ **سوال**۔ حالتِ نصبی دِ تابع اوګرځی، د حالتِ رفعی۔ **جواب**۔ حالتِ رفعی عمده دے او حالت نصبی او جری فضله دی، لو د دوئی په مابین کښې مناسبت دے، نو دا دوارو د یو بل تابع ګرځیدے شی۔

درس نمبر ۵۳:- اوس دا **سوال** وارد یږی، چه هر کله یا مشترکه شوه په تثنیه او په جمع کښې، نو دا خو التباس راغے، په دوارو کښې۔ **جواب**۔ دا التباس مدفوع دے، په حرکة د ما قبل د یا سره، په دے شان سره چه په تثنیه کښې د یا نه ماقبل فتح ده او دا ځکه چه تثنیه کثیره ده او فتح اخف الحرکات دے، نو کثیر له مو فتح ورکړو، ځکه چه کثرة تقاضا د خفت کوی او ما قبل د یا نه په جمع کښې کسره ورکړے شوه، ځکه چه جمع قلیله ده او کسره ثقیله ده، نو که قلیل له ثقیل ورکړے شی، په دے کښې څه مضائقه نشته۔ هر کله چه فارغ شو، مصنف د بیان د اعراب بالحرکة او د بیان د اعراب بالحروف نه، نو شروع یې اوکړه، په اعراب تقدیری کښې، د اعراب بالحرکة درے صورتونه دی او دا اعراب بالحروف څلور صورتونه دی، د اعراب بالحرکة درے صورتونه دا دی، چه کله اسم معرب دے، په احوال ثلثه کښې په حرکاتِ ثلاثه سره۔ دویم دا چه حالتِ نصبی۔

شوے دی په هغه کښې ظهور دَ اعراب لفظاً، لکه قاضي شو اَؤ مراد په قاضٍ سره هر هغه اسم متمکن دے چه
په آخر دَ هغه کښې یا وی اَؤ ما قبل ترے نه کسره وی - برابره خبره ده چه یا ثابته وی، که ساقطه وی
په التقاء دَ تنوین سره دا اعراب به تقدیری وی، دَ وجه دَ استثقال نه په حالت رفعي اَؤ جري کښې، ځکه
چه "یا" ضعیفه ده اَؤ ضمه اَؤ کسره ثقیل دی، نو ضعیف حمل دَ ثقیل نه شی کولے اَؤ په حالت نصبي
کښې ئې اعراب لفظی دے ځکه چه فتحه اخف الحرکات دے اَؤ ضعیف حمل دَ خفیف کولے شی،
اَؤ دغه رنګ اعراب تقدیری دے، دَ وجه دَ استثقال نه په مثل دَ مسلميّ کښې مراد په دے سره جمع
مذکر سالم ده، چه اضافت ئې شوے وی "ی" دَ متکلم ته، په حالت رفعي کښې به ئې اعراب تقدیري
وی ځکه چه په ابدال اَؤ قلب سره شئ دَ حقیقت نه نه اَوځي، مسلميّ په حالت رفعي کښې مسلموی
وه - دلته کښې مسلمون جمع ده، چه هر کله اضافت یا دَ متکلم ته راغے، نو دا نون په اضافت سره
ساقط شو، مسلموی شو - پس دَ هغے نه وړاندې یا جمع شو، دَ صرف دَ قاعدے مطابق واؤ
په یا سره بدل شو، بیا دَ دوه حروفو دَ یو جنسه راغلو - ادغام به کښې اوشو اَؤ "یا" ماتقاضا کوی
چه زما نه ما قبل دِ کسره وی، نو میم له کسره ورکړے شوه، نو په حالت رفعي کښې اعراب تقدیری
دے اَؤ په حالت نصبي اَؤ جري کښې صرف ادغام شوے دے اَؤ په ادغام سره یو شئ دَ حقیقت
نه نه اَوځي، لهذا په حالت نصبي اَؤ جري کښې به اعراب لفظی وی - **سوال** - تقدیر دَ اعراب دَ وجه
دَ تعذر نه په عصا کښې اَؤ تقدیر دَ اعراب دَ وجه دَ ثقل نه په قاضي کښې دا به خالی نه وی یا به قبل
الاعلال وی اَؤ یا به بعد الاعلال وی، که چرے قبل الاعلال وی، نو بیا خو به دا دواړه کښې یعنې
په عصا اَؤ په قاضي کښې اعراب تقدیری دَ وجه دَ تعذر نه یکان دے، نو ولے تا په عصا کښې حکم په
تعذر سره اوکړو اَؤ په قاضی کښې استثقال سره - **جواب** - په عصا کښې اعراب تقدیری دے،
دَ وجه دَ تعذر نه قبل الاعلال اَؤ بعد الاعلال دواړو - قبل الاعلال، ځکه چه په عصا کښې
الف ساکن وضعي دے اَؤ په ده اعراب لفظاً نه راځي لو بعد الاعلال، ځکه چه دا محذوف په منزله دَ
ملفوظ باندِ راغلے دے اَؤ په قاضي کښې اعراب تقدیری دے، دَ وجه استثقال نه قبل الاعلال
اَؤ بعد الاعلال دواړو، ځکه چه قبل الاعلال به دے کښې "یا" ده اَؤ یاء خفیفه، ضمه اَؤ کسره
ثقیل دی اَؤ خفیف حمل دَ ثقیل نه شی کولے اَؤ بعد الاعلال ځکه چه محذوف کالملفوظ دے۔
مخو مسلمی کښې په هغو باندِ دَ تعے واړه اعرابات راتلے شی - **سوال** - دا خو که عطف شی په عصا باندِ
نو بیا اجتماع دَ دوه ادوالو دَ تشبیه راځي، لو دا خو به مستدرک اوګرځي، **جواب** - دا عطف

۱.. ځکه چه برګ تشبیه ده اَؤ خوځم دَ تشبیه دَ پاره ده، نو لازم شو تکرار دَ ادوالو دَ تشبیه اَؤ دا باطل دے - ۱۲ (ر ۰ س)

تابع د حالت جری وی ۔ دریم دا چه حالت جری تابع د حالت نصبی وی او اعراب بالحروف کښې د دے صورتونه دا مذکوریدی او څلورم دا چه حالت رفعی په الف سره وی، نو اوس مصنف بیان د اعراب تقدیری کوی، نو وئے ویل چه:-

التقدیر فیما تعذر کعصا و غلامی مطلقا ترجمه:- اعراب تقدیری دا ثابت دے، په هغه اسم معرب کښې چه ممتنع وی، ظهور د اعراب لفظاً په دغه اسم معرب باندې، لکه عصا شو، نو دلته کښې مراد د عصا نه هر هغه اسم معرب دے، چه په آخر د هغه کښې الف راغلې وی۔ برابره خبره ده چه ثابت وی او که ساقط شوی وی، د وجه د التقاء د تنوین نه۔ او یا لکه غلامی شو، مراد په غلامی سره هر هغه اسم دے، چه اضافت ئے راغلې وی یا د متکلم ته سوا د جمع مذکر سالم نه او د مطلقاً معنیٰ دا ده، چه په دا قسم اسم کښې به اعراب تقدیری وی، په احوال ثلاثه کښې۔

تفصیل په التقدیر کښې الف لام عهدی دے او معهود په دے سره اعراب دے۔ **سوال**. دلته کښې بحث د اعراب دے او تابیان د تقدیر شروع کړو، دا خو نه دے، مګر خروج د بحث نه او دویم دا چه، ته وائے چه تقدیر به ثابت وی، په هغه ځائے کښې چه هلته ظهور ممتنع وی، حالانکه دا صحیح نه ده، په واسئل القریة کښې اهل مقدر دے، یعنی واسئل اهل القریة او دغه رنګ په سال المیزاب کښې ماء مقدر دے، یعنی سال ماء المیزاب او دا دے ممتنع نه دے، ظهور د دے، یعنی موږ چه تلفظ او کړو د ے سره او ظاهر هم کیږی شو۔ **جواب** د دے دواړه سوالونو دا دے، چه دلته کښې په التقدیر کښې الف لام عهدی دے او معهود په دے سره اعراب دے، نو مطلب به دا شی، چه اعراب تقدیری نه مطلق تقدیر او ستا سوال بنا دے، په مطلق تقدیر باندې، په فیما کښې "ما" عبارت دے، د اسم معرب نه۔ **سوال**. تعذر د اعراب خو په فعل ماضی امر حاضر او حروف کښې هم دے، سره د دے نه هلته اعراب مقدر نه دے۔

جواب: ما عبارت دے، د اسم معرب نه او دا تا چه ذکر کړل، دا اسماء نه دی۔

سوال: په تعذر کښې چه کوم ضمیر دے، دا به یا راجع کوے اعراب ته او یا "ما" ته، چه عبارت دے د اسم نه او دواړه نه صحیح کیږی، ځکه که چیرے راجع کوے ئې اعراب ته، نو موصول چه "ما" دے، هغه بے عائده پاتے کیږی او که راجع کړے "ما" ته، نو معنیٰ نه صحیح کیږی، ځکه چه معنیٰ به په دغه صورت .... کښې دا شی چه تقدیر د اعراب ثابت دے په هغه اسم

ل: لکه العصا، په الف لام سره۔ ۱۲ (م۔س)۔ ۲: لکه عصاً په تنوین سره۔ ۱۲ (م۔س)۔

معرب کښې چه متعذر وي اسم معرب الخ. **جواب**. دلته دا ضمير راجع دے اعراب ته او که نه واخلے په موصول بے عائد پاتے کيږي، لو نه وايو چه دلته کښې عائد محذوف دے چه فيه دے، لو تقدير د عبارت به دا شي چه التقدير فيما تعذر فيه. **سوال**. تعذر خو دے ته وائي چه ممکن الحصول وي خو په کلفت او په مشقت سره، لو دلته کښې په دے اسماؤ او په مثل د دوے باندې اعراب لفظي راتلے شي، خو په کلفت او مشقت سره او حال دا دے چه په دے اعراب لفظي نه شي راتلے. **جواب**. دلته کښې تعذر په معنیٰ د امتناع سره دے، يعني چه ممتنع وي ظهور د اعراب په دغه باندې. **سوال**. چه په دوئ باندې هرکله ظهور د اعراب ممتنع شو لو دا خو په مبني کښې داخل شي. **جواب**. مراد په امتناع سره دا دے چه ممتنع وي ظهور د اعراب په دغه باندې لفظاً او په مبني باندې خو اعراب لفظاً نه راځي او نه تقديراً، يعني په مبني باندې ممتنع دے لفظاً او تقديراً دواړه. تطبيق د مثال د ممثل سره، په عصا کښې اعراب تقديري حکم دے، چه د دے په آخر کښې الف دے او الف ساکن وضعي دے، قابل نه دے د بدلې د اعراب لفظاً او په غلامي او په مثل د دے کښې حکم اعراب تقديري دے چه د دے په آخر کښې ياء ده او ياء دا تقاضا کوي چه زما نه ماقبل دې کسره وي. مطلقاً: دا يا حال دے، او يا مفعول مطلق دے، يعني اطلق اطلاقاً، لو د مطلقاً دا مطلب شو چه په درے واړو حالتونو کښې به ئے اعراب تقديري وي، په مطلقاً سره بيا غرض د مصنف رحمه الله رد دے په بعضو مذاهبو باندې، ځکه چه په دے کښې درے مذهبه دي. يو مذهب دا دے، چه په احوال ثلثه کښې د دے اسماؤ اعراب تقديري دے. (يعني د غلامي) دويم مذهب دا دے، چه حالت نصبي او رفعي کښې د غلامي اعراب تقديري دے او په حالت جري کښې لفظي دے، چه څوک وائي چه په حالت جري کښې په دے کښې اعراب لفظي دے، لو هغوی وائي چه دا کسره د اعراب لفظي ده، ولے مصنف رحمه الله په دے د واړو مذهبو باندې، چه څوک وائي چه په دے کښې اعراب لفظي دے، په صورت د کسرې کښې، لو ځکه چه دا کسره خو د اعراب نه ده، بلکه دا تياء د موافقت د وجه نه راغلې ده او بيا دا اعراب د پاره به بله راوړلے کيږي او بل دا مذهب چه مبني دے په دوئ باندې ئے رد لوګوو او ئے وئيل چه مطلقاً، په درے واړو احوالو کښې به په دے کښې اعراب تقديري وي.

درس نمبر ۵۲

او استثقل کقاضٍ رفعاً وجراً ونحو مسلميّ رفعاً

ترجمه: ـ او اعراب تقديري دا ثابت دے، په هغه اسم معرب کښې چه ثقيل ګرځولے

سره په کقاضي باندې اؤ په قاضي باندې هُم عطف صحیح کیږی لکه ته وایې چې دلته کښې بیا ادوات د تشبیه جمع کیږی، لکه کفو- جواب دا دے چې دلته کښې حقیقتاً تکرار د ادواتو د تشبیه نه راځی، ځکه چې تشبیه اوله په استقلال کښې ده اؤ دویمه په کېدلو د لفظ کښې ده. (جمع سالمه چې په واؤ اؤ په نون سره مضاف وی، یا د متکلم ته سوال۔ دلته کښې راوړلو د نحوة ضرورت نشته، صرف لوکاف تشبیهی صالح دے- جواب دا دے چې په راوړلو د نحو کښې اشاره ده، دے خبرے ته چې اعراب تقدیری د وجې د ثقل نه بالحرکة راځی، نو د دغه شان اعراب تقدیری د وجې د ثقل نه بالحرف هُم راځی، نو په کاف سره اشاره نوشوه بالحرکة کته اؤ په نحوه سره اشاره اوشوه بالحرف کته، بخلاف د تعذر نه چې هلته کښې اعراب تقدیری بالحرکة راځی لکه بالحرف نه راځی، ځکه یې هلته کښې حرف کاف راوړے دے، لکه ویلی دی چې کعصا:

والـلـفظی فیما عَدَاهُ | اؤ اعراب لفظی دا ثابت سره، په هغه اسم معرب کښې چې تجاوز یې کړے وی، د دے مذکورنه یعنی

واحد د دے دواړو نه چې هغه تعذر اؤ ثقل سره، دلته کښې په اللفظی کښې یالسبتیه ده، لو دا صفت اوګرځیدو اؤ د هر صفت د پاره لابدی ده، د موصوف نه، نو د دے د پاره موصوف الاعراب ده، نو مطلب به دا شی، چې الاعراب اللفظی- سوال۔ په عداه کښې ضمیر راجع سره، تعذر او ثقل دواړو ته، نو پکار دا ده چې عداهما یې ویلی وے اؤ دلته تثنیه ته ضمیر د مفرد راجع شوے دے[1]۔ جواب دا مؤل سره، په تاویل د مذکور سره اؤ مذکور مفرد دے، اؤ یا دا چې دا په اعتبار د لفظ واحد شوے دے۔

درس نمبر ۵۵:- غیر منصرف

غیر المنصرف ما فیه علتان من تسع او واحدة تقوم مقامهما. | هر کله چې مصنف ذکر کړی وو په تفصیل د معرب کښې منصرف اؤ غیر منصرف، اؤ غیر منصرف اقل وجوداً وو، د منصرف نه لکه په معرفت

د غیر منصرف سره، معرفت د منصرف هُم راتلو، ځکه چې دا دواړه د یو بل ضد دی، لو چې کله په دوؤ ضدینو کښې د یو تعریف اوشی، لو د بل ضد تعریف ورسره په خپله معلوم شی، ځکه چې الاشیاء تعرف باضدادها لو چې هر کله یې تعریف د غیر منصرف اوکړو، لو د منصرف تعریف هُم ورسره معلوم شو- ترجمه د متن دا ده:- غیر منصرف، دا هغه اسم معرب دے چې ثابت

---

[1] ط. مطابقت نه راځی، په مابین د راجع او د مرجع کښې- ۲ (م-س)

وی، په دغه اسم معرب کښې دوه علتونه مؤثرتیږي سره د استجماع د ټولو شرائطونه، د علل تسعه نه، او یا ثابت وی، په دغه اسم معرب کښې یو علت چه هغه په تاثیر کښې قائم مقام د دوه علتونو وی.

سوال. غیر المنصرف مبتدا ده او ابتدائیت د غیر نه صحیح کیږي، ځکه چه دا نکره ده، الکلمه دلته کښې اضافت راغلی دے، نو دلته کښې فائده د اضافت چه هغه تعریف تخصیص او یا التعریف دے، هغه نه ده حاصله شوې. **جواب**. دا اعتراض ستا هلته وارد دیږي، چه کله په مقابله د غیر کښې اضدا د کثیره وی، نو ابتدائیت یې نه دے صحیح او چه کله صرف یو ضد وی، نو بیا صحیح دے او دلته کښې د ده په مقابله کښې صرف منصرف دے او یا جواب دا دے چه، ابن مالک نحوی وائي چه مراد په مبتدا سره فائده او استفاده ده، برابره خبره ده، چه مبتدا نکره وی، که معرفه وی.

سوال. ستا دا تعریف د غیر منصرف مانع نه شو د دخول د غیر نه او داخل شو، په کښې ضَرَبْتُ، ځکه چه په دے کښې یو سبب تانیث دے او بل وزن فعل۔ لیکن دا ده چه دا غیر منصرف شی۔

جواب. دا ما عبارته دے، د اسمونه او دا صیغه د ضَرَبْتُ خو فعل دے۔ **سوال**. ستا دا تعریف مانع اونه ګرځیده. د دخول د غیر نه او داخل شو، په کښې حضارِ او نمارِ، چه په دے کښې یو سبب تانیث دے او دویم علمیت دے۔ **جواب**. دلته مراد په اسم سره اسم معرب دے او دا دواړه اسماء د مبنیاتو نه دی۔ **سوال**. حبلٰی او مصابیح چه کله علمین اوګرځي، د پاره د دوی تشخیصونو لیکن دا ده، چه دا د تیلی د قسم اول نه اوګرځي، ځکه چه یو سبب به په حبلٰی کښې علمیت شی او دویم تانیث او په مصابیح کښې به یو علمیت شی او دویم جمعیت سره، د دے نه په دوی کښې یو علت تام مقام د دوه علتونو دے۔ **جواب**. مراد په علتونو سره مؤثرتیږي دی او په دے اسماؤ کښې علمیت مؤثر نه دۓ[۱]۔ **سوال**. ستا التعریف جامع اونه ګرځیده، خپلو افرادو نه او خارج شو ترے نه نوح، ځکه سره په ده کښې علتونه موجود دی، چه یو علمیت دے او دویم عجمه ده او بیا هم منصرف دے۔ **جواب**. مراد په علتونو سره هغه علتونه دی، چه مؤثر وی، سره د استجماع د جمیعو شرائطو د تاثیرونه او دلته کښې شرائط د تاثیرونه دی موجود، ځکه چه په نوح کښې عجمه ده او په هغه کښې شرط متحرک د اوسط دے او دا ساکن الاوسط دے۔

سوال. د تقوم نسبت علت ته نه صحیح کیږي، ځکه چه د قیام نسبت ذوی الارواح او ذوی الاجسام ته کیږي او علت د دوی نه نه دے۔ **جواب**. مراد په قیام سره تاثیر دے، یعنی تاثیر کوی، په شان د دوه علتونو۔

---

[۱] یعنی په حبلٰی کښې علمیت د تانیث سره مؤثر نه دے او په مصابیح کښې علمیت مؤثر د جمعیت سره نه دے۔ ۱۲ (م حد ۱)

درس نمبر ۵۶

سوال:- تاسو ویلی چه غیر منصرف هغه ته وائي چه په دې کښې دوه علتونه وي، او دلته خو لانور شو، نو اورد د علتونو په معمول واحد باندې او دا باطل دے۔

جواب دا دے، چه توارد د علتونو په معمول واحد باندې او دا به هغه وخت کښې باطل دے، چه دواړه مستقلې وي او دلته خو علتونه باجتماعهما مؤثر دي[1]۔ **سوال** دا وارد یږي چه قائم مقام خو هغه ته وائي، چه یو شي نه وي او دویم د هغه په ځائے باندې اودریږي، نو دلته به دا مطلب شي، چه دوه علته نه وي او د هغوي په ځائے باندې لو اودریږي او حال دا دے، چه امر خو داسې نه دے۔

جواب۔ دلته د قائم مقام نه معنیٰ مصطلح نه ده مراد، بلکه دلته د نائم دا معنیٰ ده، چه یو علت به تلیو کښې برابر د دوو علتونو وي. علت[2] مؤثر او عارض ته وائي، دلته د علت نه مراد هغه امر دے، چه داخل شي، په اسم معرب باندې، نو منع کوي، په هغه باندې دخول د کسرې او د تنوین: وهي تسع:-

عدل و وصف و تانیث ومعرفة ... وعجمة ثم جمع ثم ترکیب!

والنون زائدة من قبلها الف ... ووزن فعل وهذا القول تقریب

وهي ضمیر راجع دے علل تسعه وته۔ **سوال**. چه هر کله هي عبارت او کړځیدو د علل تسعه نه. دا مبتداء ده او عدل ووصف الخ ورله اخبار دي، نو حمل د واحد راغے په متعدد باندې او دا باطل دے۔ **جواب**. دا حمل لازمیږي، چه ربط مقدم شي، په عطف باندې او دلته کښې عطف مقدم دے، په ربط باندې۔ دا اشعار چه کوم دے ذکر کړل، دا د یو مشهور نحوي ابوسعید الانباري دي او اول شعر د دے ما دے، چه:-

موانع الصرف تسع کلما اجتمعت ... ثنتان منها فما للصرف تصویب!

او س دلته **سوال** واردیږي چه مصنف؟ ولے دا شعر ذکر نه کړو؟ **جواب**. په تعریف د غیر منصرف سره د دے شعر مفهوم ته اشاره راغله۔ لس د دے ذکر ته ضرورت پاتے نه شو، ځکه چه بنا د متون په اختصار ده۔ **سوال** په دے شعر کښې ثم جمع ثم ترکیب راغلے دے او د دے نه ځکه په دے پنځو علتو کښې یے ثم نه دے ذکر کړے او ثم راځي، د پاره د تراخي د امر، نو مطلب به دا شي چه، د دے پنځو علتونو علتیت مقدم دے، په جمع او په ترکیب باندې ولا مر لیس کذالك؟ **جواب**. دلته ثم د مطلق عطف او د پاره د مجرد محافظت د وزن شعر

---

[1]. نه دا چه هر واحد مؤثر دے، بلکه دا دواړه مجموع شي، نو جمله به مؤثر وي، په عدم انصراف کښې۔ ۱۲ (م-س).

[2]. علت په لغت کښې دے ته وائي، عارض غیر طبعي یسندعي حالة غیر طبعیة او په اصطلاح کښې دے ته وائي مالیس بمعنی الموجب بل بمعنی ماینبغي ان یختار المتکلم عند حصوله امرا یناسبه. ۱۲ (م-س).

راغلی دے، په النون زائدة باندې **سوال** واردیږي چه دا زائدة به یا مرفوع وائي، چه د هٔ صفت شي، د پاره د النون، نو دا نهٔ صحیح کیږي، ځکه چه النون معرفه دهٔ او زائدة نکره دهٔ او په مابین د موصوف او صفت کښې مطابقت ضروري دے او که منصوب یې وائي، بنا بر حالیت نو هم نهٔ صحیح کیږي، ځکه چه حال واقع کیږي، د فاعل نه او یا د مفعول نه او النون نه فاعل دے او نه مفعول دے۔

جواب: دا دواړه صحیح کیږي، چه مرفوع شي دا صفت، دے د پاره د النون، ځو الف لام په النون کښې زائد دی۔ پس مطابقت راغے، په مابین د موصوف او د صفت کښې، یعني دواړه نکره شو او که منصوب شي، نو دا به حال شي د النون نه او النون دا فاعل دے، د فعل محذوف، چه معنه تمنع دے۔ پس تقدیر د عبارت به دا سے شي، وتمنع النون الصرف زائدة۔

من قبلها الف په دے کښې توجیهات ثلاثه دی، یو توجیهه دا ده چه، الف فاعل مجرور دے د پاره د جار مجرور د متعلق چه ثابت دے، نو معنی به دا شي چه نون په حال د کون د دهٔ کښې چه زائد وي، او ما قبل د دهٔ نه ثابت وي الف، نو په دے سره خو زیادت د نون ثابت شو او د الف ثبوت راغے فقط، لیکن زیادت یې معلوم نهٔ شو او حال دا دے، چه الف او نون دواړه مزیدتین دی او دویم توجیهه دا ده چه الف مبتدأ مؤخر شي او من قبلها خبر مقدم شي، لیکن په دے سره هم زیادت د نون راځي او وجود د الف ثابتیږي، حالانکه الف او نون دواړه مزیدتین دی۔

درس نمبر ۵۷:- دریم توجیهه دا ده چه من قبلها الف، دا الف فاعل دے د زائدة او من قبلها دا متعلق دے، په زائدة پورے او الف مقدم دے، په نون باندې۔ پس بنا په دے توجیهه باندې زیادت د الف ثابت شو۔ صراحةً او زیادت د نون معلوم دے بنا په دے قاعده باندې، چه یو شي حال واقع شي، د یو اسم نه او فاعل د حال مغایر وي د ذو الحال نه، نو دا فائده کوي اشتراک د ذو الحال د فاعل د حال سره په تعلق د معنی وصفي کښې۔ پس یو لره زیادت ثابت شو صراحةً او بل لره زیادت ثابت شو، بنا په دغه قاعده باندې لکه په دے قول کښې چه جاءني زید راکباً من قبله اخوه، دلته کښې راکباً حال دے، د زید نه او زید ذو الحال دے او فاعل د حال اخوه دے، نو د دے دواړو په مابین کښې مغایرة دے۔ پس دے فائده کوي اشتراک د ذو الحال چه زید دے، د فاعل د ذو الحال سره چه اخوه دے تعلق په معنی وصفي کښې چه رکوب دے، بعینه دغه حالت په النون زائدة من قبلها الف کښې دے۔

وهذا القول لتقریب په دے کښې درے توجیهات دی۔ اول توجیهه دا ده چه دا قول قریب دے، حفظ ته، لها تقریب الی الحفظ، ځکه چه دا نظم دے او نظم اسهل وي، په حفظ کښې په نسبت سره نثر ته ــــ دویم توجیهه: دا قول

قریب دے حق اَوْ صواب ته، لِهَا التقریب الی الحق. په دے شان سره چه بعض نحاة وائی چه اسباب دَ منع صرف دَوَهْ دی، چه یو حکایت[1] دے اَوْ دویم ترکیب دے اَوْ بعض نحاة وائی چه یولس[11] دی، نو شاعر اُوۡکے چه، مَا کوم نهه[9] علل ذکر کړی، دا قول قریب دے حق وَته --- دَ رَشیمے توجیهه: دا قول قریبی اَوْ مجازی دے، تحقیقی نه دے، یعنی دا خبره چه هَر واحد دَ دیے نهه علت مجازی دے، ځکه چه مؤثر خو علتین دی، علت واحدهٔ نهٔ دے۔

مثل عمر واحمد وطلحة وزينب وابراهيم ومساجد ومعديكرب وعمران واحمد

هَر کله چه مصنف[رح] فارغ شو د بیان دَ تعریف اَوْ دَ اسبابو دَ غیر منصرف نه، نو اُوس په دے عبارت سره امثله ذکر کوی دَ پاره دَ هَر واحد، دَ دیے عللو تِسعو، عمر مثال دَ عدل اَوْ دَ علمیت دَے، په احمد کښے، وزن فعل اَوْ وصف دے، په طلحة کښے تانیث لفظی اَوْ علمیت دے، په زینب کښے، تانیث معنوی اَوْ علمیت دے، په ابراهیم کښے، عجمه اَوْ علمیت دے، په مساجد کښے، جمع منتهی الجموع دی چه دا قائم مقام دَ دوؤ دے، په معدیکرب کښے، ترکیب اَوْ علمیت دے، په عمران کښے، الف نون زائدتان اَوْ علمیت دے اَوْ په احمد کښے، وزن فعل اَوْ علمیت دے۔ **سوال**. بیا دَ متونو په اختصار ده، نو پکار دا وو مصنف[رح] له چه د تانیث دَ پاره یو مثال ذکر کړے وے اَوْ دَ دوؤ مثالونو راوړل، یو طلحة اَوْ دویم[2] زینب۔ **جواب**. په ذکر دَ مثالونو دَ تانیث کښے اشاره ده، قسمین دَ تانیث وَته، چه یو لفظی اَوْ دویم[2] معنوی دے[2]

درس نمبر ۵۸:- لطیفه: شیخ رضی دَ علم نحو لوے امام گڼړلے شی، لیکن دا متعصب شیعه دے، دهٔ ویلی دی، چه عمر مثال دَ عدل اَوْ علمیت نهٔ صحیح کیږی، ځکه چه په عمر کښے عدل نهٔ وو (نعوذ بالله)۔

وحكمه ان لا كسرة ولا تنوين

ترجمه:- اَوْ اثر مرتبه دَ غیر منصرف، دَ دیے حیثیت نه چه دے مشتمل دے په علتونو باندِ اَوْ یا په یو

---

[1] حکایته دے ولی چه النقل من الفعلیة الی الاسمیة کشَمَّر وَضُرِبَ، چه دا اسماء دَ شخصینو دی دے نو حکایته په دے وجه ملاؤ چه دا اسماء غیر منصرف دی. بعد النقل اَوْ کسره اَوْ تنوین پرے منع کوی لکه څنګه چه منع وو، په موږ باندو چرا دَ نقل لا دَ حکایته نه. ۲ (م.س).

[2]. فائده:- مصنف[رح] چونکه مثال دَ معرفی ذکر نه کړو. وجه یے دا ده چه دَ دیے دَ پاره ضابطه ده، هغه دا چه په کوم مثال کښے علمیت نه هغه دَ معرفه مثال ګرځیدے شی ځکه علم معرفه وی. (۳-س).

علت چه هغه په تاثیر کښې قائم مقام د دوؤ علتونو وي ـ چه دغه چه نه موجود یوې، په ده کښې کسره او تنوین تمکن ـ **سوال**. اضافت د حکم غیر منصرف ته نه صحیح کیږي، ځکه چه اضافت مؤثر ته کیږي او دلته کښې غیر منصرف مؤثر نه دے، بلکه مؤثر خو علتین دے یا یو علت چه قائم مقام د دوؤ وي ـ **جواب**. دلته اضافت د حکم غیر منصرف ته د وجه د مناسبت او د ملابست نه دے، ځکه چه دا غیر منصرف مشتمل دے په علتین یا په یو علت باندې چه قائم مقام د دوؤ دے ـ **سوال**. اضافت د حکم غیر منصرف ته نه صحیح کیږي، ځکه چه د حکم معنیٰ داده؛ اسناد امر الیٰ آخر ایجاباً او سلباً او دا معنیٰ راځي په مرکب کښې او غیر منصرف قسم دے، د معرب نه، او معرب قسم دے، د اسم او اسم قسم د کلمے نه دے او د کلمے په مفهوم کښې افراد ماخوذ دے او په د حکم معنیٰ هغه شی چه کومه فقهاء کوي ده، چه خطاب الله الی المکلفین، لو په دے معنیٰ سره هم اضافت نه صحیح کیږي ـ **جواب** دا دے چه دلته کښې حکم په معنیٰ لغوي سره دے، چه هغه اثر مرتبه دے ـ **سوال** حکمه مضاف، مضاف الیه مبتداء ده او ان لا کسرة ولا تنوین دا جمله خبر دے، او قاعده داده چه خبر کله جمله واقع شی لو لابدي وي، په کښې د عائد نه، چه راجع وي، مبتداء ته، او دلته په خبر کښې عائد نشته ـ **جواب**. دلته عائد محذوف دے تقدیر د عبارت به دا ییے شی وحکمه ان لا کسرة موجودة فیه ولا تنوین موجود فیه ـ پس په فیه کښې دا ضمیر راجع دے، مبتدا ته دلته په ان لا کسرة ولا تنوین کښې لا دا لائے نفي جنس ده او کسرة ورله اسم دے او خبر یے موجودة فیه محذوف دے او تنوین اسم د لائے نفي جنس دے او خبر یے محذوف دے چه موجود فیه دے ـ **سوال**. کسره او تنوین ولے نه راځي، په غیر منصرف کښې؟ **جواب**. غیر منصرف مشابهه دے د فعل سره په وجود د فرعیتونو کښې، لکه چه څنګه فعل محتاج دے، مشتق منه (مصدر) او فاعل ته، لو دغه رنګے غیر منصرف هم محتاج دے، سببونو ته، ځکه چه په دے کښې هر یو علت لو فرعیة ثابت دے، لکه عدل فرع د معدول عنه ده، وصف فرع د موصوف ده، تانیث فرع د تذکیر ده، معرفه فرع د نکرے ده، عجمة فرع د عربیة ده، جمع او ترکیب فرع د مفرد دي ـ الف او نون مزید تین فرع د غیر مزید فیه دي او وزن فعل فرع د وزن اسم ده او چونکه په فعل باندې کسره او تنوین نه راځي لو په دوي هم کسره او تنوین نه راځي ـ **سوال**. قول ستا په فرعیة د فعل صحیح کیږي، په مذهب د بصریانو چه هغوي وائي چه، اصل په اشتقاق کښې مصدر دے او فعل د مصدر نه مشتق دے، خو په نزد د کوفیانو نه صحیح کیږي ځکه چه هغوي په نزد اصل په اشتقاق کښې فعل دے، لو دا فرع او نه ګرځیدو ـ **جواب**. مذهب د کوفیانو (رغالو) مردود دے او دوهم جواب دا دے چه هغوي په نزد فعل په اعلال کښې فرع ده د مصدر ـ **سوال**. کسره یے ولے مقدم کړه په

تنوین بانډې او د تقدیم خوځ اسبابو د ترجیح نه دے ، فاهو الوجه ههنا؛ جواب . کله متبوع د اُو تنوین تابع دے او متبوع مقدم وی' په تابع بانډې ئی

درس نمبر ۵۹

ویجوز صرفه للضرورة اوللتناسب

ترجمه :۔ او جائز دی ګرځول د غیرمنصرف په حکم د منصرف کښې' په ادخال د کسرے او د تنوین سره ، د وجه د ضرورۃ شعری نه' چه وزن شعر دے او رعایت د قافیے دے' په دے شان سره چه هغه ترک د انکسار د انزحاف او ترک د رعایت د قافیے دے ، او یا جائز دے ګرځول د غیرمنصرف نه حکم د منصرف کښې د پاره د تناسب ځکه چه تناسب په مابین د کلماتو کښې لوامي مهم دے' په دے عبارت سره چه ویجوز دے' غرض د مصنف دفع د سوال ده۔ **سوال** دا دے چه' نه واځ چه په غیرمنصرف بانډې کسره او تنوین نه راځی نو به دعته او بنایم چه غیرمنصرف به وی او کسره او تنوین به پرے راغلې وی' لکه په دے قول د حضرت فاطمة الزهریٰ رضی الله تعالیٰ عنها کښې چه په مرثیه د پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم کښې فرمائی :۔

؎ صُبَّتْ عَلَیَّ مَصَائِبٌ لَوْ اَنَّهَا	صُبَّتْ عَلَى الْاَیَّامِ صِرْنَ لَیَالِیَا
ماذا علی من شمّ تربة احمدٍ	ان لا یشم مدالزمان غوالیا

په دے پورته شعر کښې مصائب چه غیرمنصرف دے' تنوین ورباندې راغلې دے۔ دا غیرمنصرف دے' چه جمع منتهی الجموع ده او دغه شان په دے شعر د حضرت امام شافعی کښې چه فرمائی' په مدح د حضرت امام ابوحنیفہؒ کښې :۔

؎ لقد ذکی نعمانٌ لنا	ان ذکره هو المسک ما کرره یتضوع

دلته کښې نعمان غیرمنصرف دے ځکه چه الف او نون مزیدتین په کښې راغلې دی' سره د علمیت نه او بیا هم ورباندې تنوین داخل شوے دے ، هم دا رنګ په دے اشعارو کښې چه په مدح د نبی کریم ﷺ ویلې دی :۔

؎ سَلَامٌ عَلٰی خَیْرِ الْاَنَامِ وَسَیِّدٍ	حَبِیْبِ اِلٰهِ الْعٰلَمِیْنَ مُحَمَّدٍ
شَفِیْعٌ نَذِیْرٌ هَاشِمِیٌّ مُکَرَّمٌ	عَطُوْفٌ رَؤُفٌ مِنْ یُّسَمّٰی بِاَحْمَدٍ

دلته کښې احمدٌ[۱] غیرمنصرف دے او بیا هم ورباندې کسره داخله شوی ده' نو مصنف جواب اوکړو چه ویجوز صرفه الخ یعنی جائز دی ګرځول د غیرمنصرف په حکم د منصرف

۱۔ په احمد کښې یو سبب وزن فعل دے او بل په کښې ---- علمیة دے ۔ ۱۲ (م ۔ س) ۔

کښې د وجې د ضرورت شعري نه چې هغه وزن شعر دے او رعایت د قافیې دے او ځان پرې کول دي د انکسار نه، انکسار قطع ثلاثیه ته والي او په اصطلاح د شعراء کښې خروج د وزن دے، د هغه اوزانو نه چې کوم معتبر دي، په نزد د شعراء او د علماء د علم عروض باندې، نو دلته که چرې په مصاب باندې تنوین رانه شي، نو لازمیږي انکسار او د هغه شان ځان پرې کول دي، د ازاحاف نه ازحاف قطع ثلثیه ته والي او په اصطلاح د علماء علم عروض کښې دې ته والي چې خروج د وزن دے، د سلاست نو په نقصان کښې که چرته تنوین رانه شي، نو لازمیږي ازحاف - که څوک اووائي چې ازحاف دے جائز شي، ځکه چې په ده سره خو خروج د وزن نه نه راځي - **جواب** دا دے چې علماء د علم عروض دا هم ناجائز کړلې دي، ځکه چې په ده سره په سلاست او روانۍ د شعر کښې فرق راځي او د هغه شان په شعر کښې د رعایت د قافیې خیال ساتل، قافیه د شعر آخري حروف ته والي چې په هغه سره د بیتونو آخري حروفونه برابر وي، چې دې ته حرف روي والي - د هغې د حرکت لحاظ به ساتلے، نو په آخري شعرونو کښې چې من یشتی باحمد راغلے دے، په دے کښې حرف دال او په دے باندې حرکت د کسرے دے، او س که چرته په دے باندې کسره رانه شي، نو مخالفت به راشي، د رعایت د قافیې د حرکت نه ځکه چې په نورو بیتونو کښې دا حرف روي، چې دال دے، مکسور دے او په دے کښې به مفتوح شي -

سوال چې هر کله یو اسم غیر منصرف شو، نو هغه منصرف کیږي بیانه، نو ته ځنګه وائے چې ویجوز صرفه - **جواب** دلته د منصرف نه مراد کیدل د غیر منصرف دي، په حکم د منصرف کښې، په هغه ادخال د کسرے او د تنوین دے، نه حقیقتاً منصرف -

درس نمبر ۶: - سوال

د ضرورت شعري د وجې نه خو د غیر منصرف انصراف واجب دے او د تناسب د وجې نه جائز دے، نو تاسو ځنګه حکم اوکړو، په دواړو باندې د جواز او اودرولے چې ویجوز الخ - **جواب** د یجوز دوه معنې دي، اول دا چې جائز دے، انصراف او غیر انصراف او دوېمه معنیٰ دا ده چې غیر انصراف یې واجب نه دے او انصراف عام دے، چې واجب وي، لکه په صورت د ضرورت شعري کښې او یا جائز وي، لکه په صورت د تناسب کښې، یعنې دلته کښې یجوز په معنیٰ د امکان عام سره دے، چې مقید دے په قید د وجود سره یعنې چې مقید وي، په جانب د وجود کښې، ځکه چې امکان عام په دوه قسمه دے، اول مقید په جانب د وجود او دوېم مقید په جانب د عدم - امکان عام په اصطلاح د منطقیانو کښې وئیلے کیږي، سلب د ضرورت د جانب مخالفه د محمول، لکه ته وائے چې الانسان کاتب بالامکان العام - دلته کښې دا کاتب چې محمول دے، د دے

ا. سلاست په معنا د روانۍ سره دے - یعنې ازحاف دې ته والي چې خروج د وزن کے، د روانۍ نه په اشعارو کښې - ۲.

جانب مخالف چه لیس بکاتب دے، په صورت دَ امکان عام کښې به معنیٰ دا شی چه، عدم کتابت انسان له ضروری نهٔ دے اَوْ یا لکه اُوَوَئیلے شی چه الانسان لیس بکاتب بالامکان العام، نو دا لیس بکاتب جانب مخالف کاتب دے، په صورت دَ امکان عام کښې به دا معنیٰ شی چه کتابت انسان لره ضروری دے، نو اوس که چرے مقید وی، په جانب دَ وجود.... نو عدم به سلب وی او که مقید وی، په جانب دَ عدم، نو وجود به سلب وی، پس دلته په یجوز صرفهٔ کښې امکان عام مقید په جانب دَ وجود دے، یعنی نهٔ دی منع صرف والے دَ دهٔ ضروری اَوْ انصراف ئې واجب وی اَوْ که نهٔ وی واجب، اَوْ امکان خاص سلب دَ ضرورت دَ جانبینو والی، یعنی عدم اَوْ وجود ئې نهٔ وی ضروری اَوْ بعضو دا جواب کړے دے چه یجوز صرفهٔ، دَ صرف معنیٰ انصراف نهٔ دے، بلکه تغیر دے، نو معنیٰ به دا شی چه جائز دے تغیر دَ منصرف، لیکن دا جواب ضعیف دے، ځکه چه دلته کښې دَ معنیٰ متبادر نه اعراض کړے شوے دے، غیر معنیٰ متبادر ته.[1]

للضرورة اَوْ للتناسب :- دا مفعول له واقع شوے دے، مفعول له په دوه قسمه دے، یو وجودی او دوئم حصولی۔ وجودی هغه ته وائی چه دَ هغهٔ دَ وجود دَ وجه نه صدور دَ فعل اُوشی لکه ما قول چه قعدت من الحرب جبناً۔ حصولی هغه ته وائی، چه دَ هغه دَ حصول دَ پاره صدور دَ فعل شوے وی، لکه ته وائے چه ضربتهٔ للتادیب اَوْ دَ تناسب دَ وجه نه غیر منصرف ځکه منصرف کیږی چه په کلام دَ عربو کښې حصول دَ تناسب په مابین دَ کلمتینو کښې امر مهم دے۔

مثل : سَلَاسِلًا وَ اَغْلَالًا

دا مثال دے دَ پاره دَ تناسب، دلته کښې دَ اغلالًا دَ وجه نه په منصرف دے، سلاسلًا چه غیر منصرف دے، منصرف کړے شوے دے، سلاسل جمع دَ سلسلة ده، زنځیر ته وائی اَوْ اغلال جمع دَ غل ده، هتکړے ته وائی۔ **سوال**. صرف سلاسلًا به ئې ذکر کړے وو اَوْ اغلالًا به ئې نهٔ وو ذکر کړے؟[2]- **جواب**. دا دوارهٔ مثالونه صحیح کیدے شی، ځکه چه تناسب راځی په دوه.... کلمتینو کښې اَوْ په دے سره وضاحت هم دَ مثل راځی۔ **سوال**. چه اغلالًا به ئې دَ سلاسلًا دَ وجه نه غیر منصرف کړے وو؟[3] **جواب**. منصرف اصل دے اَوْ غیر منصرف فرع ده، نو فرع تابع دَ اصل وی اَوْ اصل تابع دَ فرع نهٔ وی۔ **سوال**. مصنف ولے مثال دَ تناسب ذکر کړو اَوْ مثال ئې دَ ضرورة شعری ذکر نه کړو۔ **جواب**. ځکه چه دَ ضرورة شعری کثیر دے

---

[1]. معنیٰ متبادر هغے ته وائی چه ذهن هغے ته سبقت کوی۔ (م۔س)۔

[2]. ځکه چه بناء دَ متوقف په اختصار ده۔ (م۔س)۔ [3]. یعنی عکس به ئې کړے وو۔ (م۔س)۔

اؤ مشهور دی، په خلاف د مثالونو د تناسب نه، چه قليل اؤ غیر مشهور دی، لو د دے د کثرت اؤ د شهرت نه، مصنف﷫ مثالونه د ضرورت شعری ذکر نه کړل۔

درس نمبر ٦١

وما يقوم مقامهما الجمع والفا التانيث

ترجمه:- اؤ هغه علت چه قائم مقام دے، په تاثیر کښے د دوؤ علتونو

چه لۀ جمع منتهی الجموع ده اؤ داسے چه په دے کښے لۀ جمعيت دے اؤ دويم تكرار د جمع دے اؤ دا تکرار حقيقتاً دی، که حکماً۔ د حقیقتاً مثال خو دا دے، لکه اكاليب، چه جمع دۀ د اكلب اؤ اكلب جمع دۀ د كلب، لو په دے کښے خو حقيقتاً تكرار د جمع راغلے دے، لو په دے تكرار د جمع بانو دا په منزله د مستقل علت دے لو حكماً په هغه کښے خو حقيقتاً تكرار د جمع نه وی، لکه مساجد اؤ مصابيح شو چه دا دواړه د مسجد اؤ مصباح جمع دی اؤ دغه رنګ قائم مقام د علتونو دوه الفین د تانيث دی، چه لۀ الف مقصوره، لکه حبلی دے اؤ دويم الف ممدوده، لکه حمراء دے اؤ داسے قائم مقام د دوؤ سببونو دی، چه په دے کښے لۀ تانيث دے اؤ دويم په کښے لزوم د تانيث اؤ يا لزوم دے، د دے الفینو د اسم نو محکمه په تعریف د غیر منصرف کښے اجمالاً تقسیم د غیر منصرف قسمونو ته ذکر شوے وو، په هغه کښے د قسم اتلم په هغه کښے دوه سبب موجود دی، د هغه تفصیل یے ذکر کړو اؤ اوس په مايقوم مقامهما سره د دويم قسم چه په هغه کښے لو علت قائم مقام د دوؤ سببونو وی، هغه ذکر کوی، دلته کښے ما موصوله هم صحیح کیږی اؤ موصوفه هم۔ ما عبارت دے د علت نه۔ **سوال**۔ په يقوم کښے ضمير د مذكر دے، چه راجع دے ما ته اؤ هر کله چه ما عبارت اؤ کوم چه د علت نه، لو موافقت رالغ، په مابين د راجع اؤ د مرجع کښے۔ **جواب** تذکیر د ضمیر په اعتبار د تعبير سره دے، چه هغه لفظ د ما دے۔ **سوال**۔ مايقوم مقامهما دا مبتداء ده اؤ الجمع او الفا التانيث ورله خبر دے، لو معنیٰ به دا شی، چه هغه علت چه هغه قائم مقام د دوؤ علتونو دے، په تاثیر کښے هغه جمع اؤ الفین د تانيث دی، والامر ليس كذلك؟ **جواب**۔ دلته کښے د الجمع لۀ د الفا التانيث د پاره مبتدا كانے محذوف دی۔ د الجمع د پاره مبتدا احدهما ده اؤ د الفا التانيث د پاره ثانيهما ده۔

سوال۔ الفین د تانیث دا دواړه چه لو ځائے شی، لو لو علت دے، چه قائم مقام دے، د علتونو۔ حالانکه داسے نه ده، ځکه چه هر واحد د دوی نه علت مستقله دے، چه قائم وی په مقام د تاثیر کښے د دوؤ علتونو۔ **جواب** دا دے چه دلته کښے کل واحد محذوف دے، یعنی کل واحد من الفی التانیث۔

سوال۔ اضافت د الف تانيث ته نه صحيح کیږی، ځکه چه دلته کښے خو همزه دے، د پاره د تانیث۔ **جواب**۔ دلته مجازاً اطلاق په همزه د الف شوے دے۔ **سوال**۔ چه هر کله په الفینو د تانيث کښے

یو جب قائم مقام د سبینو دے، په یو په کښې تانیث شو او بل لزوم، لو په طلحة کښې دوېم دفعه یو تانیث قائم مقام د هغښتو اوګرځي۔ جواب. لزوم په الفښو کښې لازمي وضعي دے او په "تاء" د طلحة کښې عارضي دے۔

درس نمبر ۶۲

فالعدل خروجه عن صيغته الاصلية

ترجمه:- پس معدولیت د اِسم دا مخرجیت د اِسم دے، د مادے د هیئت اصلي خپل نه، بل هیئت وته، بے د قاعدے صرفیه نه یا معدولیت د اِسم مخرجیت د اِسم دے، د هیئت د اِسم نه، چه هغه صورت تقاضا کوي، د اصل او د قاعدے چه دا اِسم دے، په هغه باندِ بنا وي۔ هر کله چه مصنفؒ فارغ شو، د بیان د اجمال د اسبابو د منع صرف نه، لو شروع یے اوکړو په تفصیل کښې۔ دلته دا فا تفسیریه او تفصیلیه ده او الف لام په العدل کښې عهدي دی او معهود په دے سره هغه عدل دے، چه کوم مخکښې په اجمال کښې ذکر شوے دے۔

سوال. عدل یے ولے مقدم کړو په نورو اسبابو د منع صرف باندِ؟ **جواب**. دا مقدم وو په اجمال کښې۔ په دے وجه یے مقدم کړو په تفصیل کښې، چه موافقت راشي، په مابین د اجمال او د تفصیل کښې، او لف نشر مرتب جوړ شي۔ **سوال**. په اجمال کښې یے ولے مقدم کړو؟

جواب. شرائط او قیودات په عدل کښې تقریباً نشته، په خلاف د نورو اسبابو د منع صرف نه، چه په هغوي کښې قیودات او شرائط ډېر دي، لو په دے وجه په منزله د مفرد اوګرځېدو او هغه نور په منزله د مرکب دی او مفرد مقدم وي په مرکب باندِ یا دا چه عدل مطلق دے او دا نور مقید دی او مطلق مقدم وي، په مقید باندِ۔ **سوال**. مصنفؒ ولے تعریف د عدل اوکړو؟ او د نورو اسبابو د منع صرف یے اونه کړو؟ **جواب**. په عدل کښې خفه ووله اختلاف وو او په نورو اسبابو کښې خفا او اختلاف نه وو او د هغوي ذکر هم ضمناً حلے په حاشه راغلي دے، لو د وجه د خفا او اختلاف او عدم ذکر نه د دغه نورو د تعریف ته دومره ضرورت پېښ نه شو۔ اوس مصنفؒ کوم تعریف چه د عدل کړے دے، دا اصطلاحي تعریف دے او د عدل لغوي تعریف به مونږ کوو۔ پس عدل په لغت کښې په اعتبار د صلے سره په پنځو معانیو باندِ راځي، په معنیٰ د مساوات سره چه کله یے صله بین راشي، لکه عدل بین زید وعمرو أي ساوى بينهما۔ په معنیٰ د اعراض سره چه کله صله د ده عن راشي، لکه عدل عنه أي اعرض عنه۔ په معنیٰ د میلان سره چه کله صله د دے الی راشي، لکه عدل الیه أي مال الیه۔ په معنیٰ د بعد سره چه کله صله د دے من راشي، لکه عدل منه أي بعد منه۔ په معنیٰ د تغیر سره چه صله د دے فی راشي، لکه عدل فیه أي تغیر فیه۔ پس په هره معنیٰ اصطلاحي کښې لحاظ د معنیٰ لغوي

ساتلے شی، یعنی دَ معنیٰ اصطلاحی اَوْ لغوی په مابین کښې مناسبت وی۔ اوس دلته کښې به مابین دَ معنیٰ لغوی اَوْ اصطلاحی کښې به څنګه مناسبت وی، ځکه چه معنیٰ لغوی خو به پنځو معنیٰ راغلی ده، نو به کومه معنیٰ کښې ورسره دَ معنیٰ لغوی مناسبت دے، نو دلته په آخری معنیٰ یعنی دَ تغیّر په معنیٰ کښې ورسره مناسبت راغلے دے، په دے وجه باندې دَ هدایة النحو والا دَ عدل په تعریف کښې تغیّر راوړے دے۔ **سوال**: عدل خو صیغه دَ صفت مشبه ده، ځکه چه دا په وزن دَ فعل دے، اَوْ دا دَ اوزانو دَ صفت مشبه نه دے اَوْ صفت مشبه خو دلالت کوی په ذات مع الوصف باندې، نو شمول دَ عدل دَ اسبابو دَ منع صرف نه نه دے صحیح، ځکه چه اسباب دَ منع صرف دا اوصاف دی۔

جواب: دا صیغه دَ صفت مشبه نه ده، بلکه دا صیغه دَ مصدر ده۔ **سوال**: چه هر کله دا صیغه دَ مصدر اوګرځېده، نو بیا به خالی نه وی یا به مصدر په معنیٰ دَ اِسم فاعل وی۔ یا به مصدر په معنیٰ دَ اِسم مفعول وی، که مصدر په معنیٰ دَ اِسم فاعل شی، نو دا به اوګرځیږی عادل اَوْ عادل صفت دَ متکلم سره اَوْ عدل خو صفت دَ لفظ دے اَوْ بل دا چه عادل صیغه دَ اِسم فاعل په ذات مع الوصف باندې دلالت کوی اَوْ اسباب دَ منع صرف دَ قبیلے دَ اوصافو نه دی اَوْ که چرته کښې صیغه دَ اِسم مفعول شی، نو دا به په معنیٰ دَ معدول اوګرځی، نو دا هم ذات مع الوصف دے اَوْ بل دا چه معدول خو په خپله باندې لفظ دے، اَوْ اسباب دَ منع صرف داخو الفاظ نه دی۔ **جواب**: دا مصدر مبنی للمفعول دے، په مصدر مبنی للمفعول اَوْ مصدر په معنیٰ دَ مفعول کښې دا فرق دے، چه مصدر په معنیٰ دَ مفعول کښې مجاز لغوی دے اَوْ په مصدر مبنی للمفعول کښې مجاز نشته۔ دوېم دا چه مصدر په معنیٰ دَ مفعول دلالت کوی په ذات مع الوصف باندې اَوْ مصدر مبنی للمفعول صرف وصف دے اَوْ دَ مصدر مبنی للمفعول نه تعبیر په درے طریقو سره کیږی، اَوَّل دا چه، دا صیغه دَ مفعول شی اَوْ خبر واقع شی دَ باء دَ کون، نو دلته به دا شی، دکون الاسم معدولاً، اَوْ دغه تعریف کړے دے، شرح جامی ——

دوېم: دَ صیغے دَ اِسم مفعول سره "یا" اَوْ "تا" مصدریه اولګوے، لکه معدولیت —— درېم: دَ هغه فعل نه صیغه دَ فعل مضارع مجهول جوړه کړے اَوْ ورسره به ان مصدریه اولګوے، لکه په دے مقام کښې اُمسے ان یعدل۔ دلته په خو وجه باندې **سوال** واردیږی چه دا ضمیر به خالی نه وی، یا به ئے راجع ماته عدل ته وی، یا به ئے راجع دائے اِسم ته اَوْ دواړه نه صحیح کیږی، ځکه چه که چرے عدل ته راجع شی، نو بیا اخذ دَ محدود راځی، په حد کښې اَوْ دا ناجائز دے اَوْ که چرته اِسم ته راجع شی، نو لازمیږی اضمار قبل الذکر۔ **جواب**: دلته دا ضمیر راجع دے اِسم ته او که ته وائے لازمیږی اضمار قبل الذکر، نو اضمار قبل الذکر نه لازمیږی، ځکه چه ذکر عام دے، حقیقتاً وی اَوْ که حکماً، دلته کښې اګر که اِسم حقیقتاً نه دے، ذکر وے حکماً ذکر دے ځکه چه دا بحث دَ اِسم دے۔ **سوال**: العدل مبتداء ده اَوْ خو حیثیت

دے، لو دلته کښے دا حمل نۀ صحیح کیږی، حکه چه دَ العدل نه (خروج) تعبیر په معدولة سره اوکړو، دا متعدی دے اَؤ خروج کښے خروج مصدر دَ فعل لازمی دے، لو حمل دَ لازمی راغے په متعدی باندے اَؤ دا نۀ دے صحیح. **جواب.** دلته کښے مصدر دَ فعل لازمی بدل کړے شوے دے په مصدر دَ فعل متعدی چه هغه باب افعال دے، یعنی اخراج اَؤ بیا دا دَ عدل په شان مبنی للمفعول گرځولے شوے دے، لو حکه سره دا معنیٰ اوکړو، چه معدولیت دَ اسم مخرجیت دَ هغه دے. الخ۔

درس نمبر ۶۳:-

صیغه په لغت کښے زر در بوته اندا اختن ته وائی اَؤ په اصطلاح کښے هغه هیئت ته وائی چه حاصل وی حروفو ته، په اعتبار دَ تقدیم اَؤ دَ تاخیر اَؤ دَ حرکاتو، سکنات او سره۔

سوال. تا اُووے چه، عدل خروج دَ اسم دے، دَ صیغے نه، لو اسم عبارت دے، دَ مادے اَؤ دَ هیئت نه اَؤ دغه شان صیغه هم عبارت دے، دَ مادے اَؤ دَ هیئت نه، لو دا خو خروج دَ شی دَ خپل نفس یا خروج الکل عن الکل لازم شو اَؤ دا باطل دے اَؤ دغه شان مثال مطابق نۀ دے، دَ ممثل سره. حکه چه په مثالونو کښے خروج دَ هیئت نه راغلے دے۔ **جواب.** دلته کښے مراد دَ صیغے نه هیئت دے. **سوال.** په دغه صورت کښے خروج دَکل دَ جزء نه راغے اَؤ دا باطل دے۔ **جواب.** مراد په اسم سره مادۀ دے۔ **سوال.** په دغه وخت کښے خروج دَ جزء، دَ جزء نه راغے اَؤ دا هم باطل دے۔ 1

جواب. خروج دَ جزء، دَ جزء نه په هغه وخت کښے باطل دے، چه یو جزء مشتمل نۀ وی په بل باندے اَؤ دلته کښے خو مادہ مشتمله ده په صیغت باندے۔ **سوال.** تعریف دَ عدل مانع اُونۀ گرځید د، دَ دخول دَ غیرنه اَؤ داخل شو په کښے مشتقات، لکه ضَرَبَ شئ چه دا دَ ضربا نه مشتق دے یا نور مشتقات چه هغه اسماء دی۔ **جواب.** په عدل کښے شرط دا دے، چه معدول اَؤ معدول عنه به متحد المعنیٰ نۀ وی۔

سوال. ستا دا تعریف مانع اُونۀ گرځید وکه دخول دَ غیرنه اَؤ داخل شو په کښے اسماء محذوفة الاعجاز۔ اسماء محذوفة الاعجاز هغه اسماؤ ته وائی چه آخری حروف دَ هغے حذف شوے وی، لکه یَدٌ اَؤ دَمٌ شو، چه یَدٌ په اصل کښے یدیٌ وو اَؤ دَمٌ په اصل کښے دَموٌ دے، لو یدٌ اَؤ دمٌ خروج دَ دو اسماؤ نه شوے دے۔ نو دا دواړه دے چه دوئ ته عدل او ویلے شی۔ **جواب.** په عدل کښے شرط دا دے چه په معدول اَؤ معدول عنه کښے دِ بقاء دَ مادے وی اَؤ دلته کښے بقاء دَ مادے نشته۔ **سوال.** چه هرکله په عدل کښے بقا دَ مادے شرط دے، لو بیا ستا تعریف دَ عدل جامع نۀ شو، خپلو افرادو لره اَؤ خارج شو ترینه ثُلٰث اَؤ مَثلث، حکه چه دوئ معدول دی دَ ثلاثه، ثلاثه نه په معدول عنه کښے "تا" شته اَؤ په معدول

لے. اُستاذ صاحب به مثیل چه پښوا به طالبانو په عدل کښے داتپه کوله چه۔ (م۔ س)۔

لے بعد چه په عدل کښے سبق شو بل دَ جانان دَ لوری پښتو مثل مسلامونه

کښې تا نشته، نو بقاء د مادے راغله. **جواب.** مراد په مادے سره بقاء د مادے اصلي ده او دلته کښې تازه ده، په مادہ اصلي کښې نه ده داخله. **سوال.** ستا تعریف مانع نه شو د دخول د غیرو او داخل شو به کښې مغیرات قیاسیه[1]، لکه مرمیٌ چه دلته بقاء د مادے او اتحاد د معنیٰ دواړه موجود دی، حکم چه دا د مرمويٌ نه معدول دے. **جواب.** ماده چه مونږ په معنیٰ کښې ویلې ده په د قاعدے صرفیه نه او دلته کښې دا د قاعدے صرفیه او د قیاس موافق مرمیٌ د مرمويٌ نه ماخوذ شوے دے، یعنی اعلال په کښې شوے دے.

درس نمبر ۶۴

سوال. ستا دا تعریف مانع او نه ګرځیدو، د دخول د غیرو نه او داخل شو به کښې جمع شاذه. اَنیُبٌ او اقوس چه د اجمع د ناب او د قوس دی، دا دواړه اجوف دی او قاعده په اسماؤ د اجوف کښې داده، چه د دوی جمع په وزن د افعال راځي، لکه د قوم جمع اقوام، د ثوب جمع اثواب د موت جمع اموات، نو دا اسماء اول د خپلې قاعدے موافق جمع شوی دی، په وزن د افعال یعنی انیاب او اقواس او بیا خلاف القیاس د دغې جمع اقوس او انیب راغلی دی، نو په دوی باندې تعریف د عدل صادق دے، چه د انیب او د اقوس خروج راغلے دے، د انیاب او د اقواس نه په خروج غیر قیاسي سره. **جواب.** دا جمع دی د قوس او ناب. دا یے نه چه اول یے جمع انیابٌ او اقواس راغلی ده او پس د هغې نه بیا جمع یے انیب او اقوس راغلی ده، که څه هم د قاعدے موافق وی، نو بیا یے سره جمع شاذه او مغایرات شاذه وے ویل او دویمه صیغه ماده چه معتبره په عدل کښې ده هغه خپله دی، یو وجود د اصل او بل اعتبار د هغه اسم، د هغه اصل نه. که په دوی کښې یو هم منتفي او ګرځیدو، نو بیا به عدل نه وی، دلته کښې دا خبره متیقنه نه ده چه انیب او اقوس د دوی خروج د انیاب او اقواس نه شوے دے او دا د دوی د پاره اصل دے. **سوال.** ستا دا تعریف د عدل مانع او نه ګرځیدو، د دخول د غیرو نه او داخل شو به کښې لغات، لکه کتْف چه دا لغت دے په کتِف کښې، نو دلته کښې کتْف ماخوذ دے د کتِف نه. د دواړو معنیٰ یوه ده او بقاء د مادے هم په کښې شته، نو دا داخل شو په تعریف د عدل کښې. **جواب.** شرط په عدل کښې دا دے، چه مخرج عنه دې مشهور وی او مخرج دې مشهور وی او دلته دا دواړه مشهور دی.

ضابطه په عدل کښې


زده کړه دا خبره چه دلته کښې یوه ضابطه ده، چه په هغې سره د ډیرو اعتراضاتو جوابونه معلومیږی. هغه دا ده چه دا مخرج او مخرج عنه به خالي نه وی یا به متحد المعنیٰ وی یا به نه وی، که چرته متحد المعنیٰ نه وو، نو هغه مشتقات او که چرته متحد المعنیٰ وو، نو بیا به خالي نه وی یا به سره د بقاء د مادے اصلي نه وی او یا به نه وی، که چرته نه وو، نو

---

[1] مغیراتِ قیاسیه هغه ته وائی چه اعلال بالغیر په کښې راغلے وی، موافق د قاعدے صرفیه سره. (م - س).

دا اسماء محذوفة الاعجاز اوکۀ سره د بقاء د مادے نه وی، لو بیا به خالی نه وی یا به سره د قاعدے نه وی یا به بے د قاعدے نه وی، کۀ چرته سره د قاعدے نه وی، لو بیا به خالی نه وی یا به موافق وی د قاعدے سره یا به نه وی کۀ نه وی لو دا مغائراتِ شاذه اوکۀ موافق وی، لو مغیرات قیاسیه اوکۀ چرته کۀ بے د قاعدے نه وی، لو بیا به خالی نه وی، یا به مخرج اؤ مخرج عنه دواړۀ مشهور وی اؤ یا به مخرج عنه مشهور نه وی اؤ مخرج به مشهور وی، کۀ چرته اول[1] وو، لو دا لغات شۀ اوکۀ دویم[2] وو، لو دا عدل شۀ۔

معدول عنه معدول



سوال: دومره تکلفاتو ته څۀ ضرورت وو، ځکه چه د عدل تمیز د نورو اسبابو د منع صرف نه حاصل شو په تعریف سره۔ **جواب**: دا دے چه په تعریف کښے دوه مذهبه دی، یو[1] مذهب د متقدمینو دے اؤ دویم[2] مذهب د متاخرین دے۔ متقدمین وائی چه غرض د تعریف نه تمیز عن بعض ماعدا دے[1] اؤ په نیز د متاخرینو غرض د تعریف نه تمیز عن جمیع ماعدا دے[2] اؤ مصنف[رح] په مذهب د متاخرینو باندِ دے۔

درس نمبر ۶۵

تحقیقاً کثلث ومثلث

دا تحقیقاً صفت واقع شوے دے، د پاره د مفعول مطلق مقدر چه هغه خروج دے "ای خروجاً محققاً"۔ **سوال**: مفعول مطلق خو واقع کیږی د فعل نه اؤ دلته فے خروج چه هغه محقق وی لکه ثلث اؤ مثلث شو دلته

---

[1]. لکه د انسان تعریف فقط په حیوان ناطق سره۔ (م۔س)۔ [2]. لکه د انسان تعریف په حیوان ناطق سره۔ (م۔س)۔

کښې واقع شوے دے، دَ مصدر نه چه خروج دے۔ **جواب**. مصدر چه ين دَ عدل کښې دے مؤول وی، په تاويل دَ فعل سره دَ ان مصدريه نه، نو خروج به تاويل دَ ان تخرجه سره شے، په دے قول سره چه تحقيقاً مصنف[۲] قسمين دَ عدل بيانوی، چه عدل په دوه قسمه دے، [۱]تحقيقی هم دے او دوېم[۲] تقديری دے۔ اوس دلته اختلاف په تعريفونو دَ دواړو کښې په مابين دَ مشهورينو او محققينو کښې۔ مشهورين والی چه عدل تحقيقی دا خروج تحقيقی دے، دَ اصل محقق نه او عدل تقديری دا خروج اعتباری دے، دَ اصل اعتباری نه او محققين والی چه عدل تحقيقی دا خروج اعتباری دے، دَ اصل محقق دے او عدل تقديری دا خروج اعتباری دے، دَ اصل اعتباری نه۔ پس محل دَ نزاع په مابين دَ دوی کښې عدل تحقيقی دے، مشهورين په خپله دعوی باندے درے[۳] دلائل نيولی دی، ۱: تحقيقاً او تقديراً ما صفات واقع شوی دی، دَ باره دَ خروج، نو مطلب دا شو چه په عدل تحقيقی کښې خروج تحقيقی دے او په عدل تقديری کښې خروج تقديری او اعتباری دے۔ ۲: که چرے په دواړو کښې خروج اعتباری شی، نو بيا به مقابله جوړه نه شی، په مابين دَ عدلِ تحقيقی او تقديری کښې۔ ۳: عدل تحقيقی دے نه والی چه په هغې کښې دليل موجود وی، په وجود دَ اصل باندے او دليل په وجود دَ اصل باندے۔ دا بعينه دليل دے په وجود دَ فرع باندے او دليل په وجود دَ فرع باندے، دا دليل دے په خروج باندے، نو به عدل تحقيقی کښې خروج تحقيقی دے۔ دَ محققينو دَ پاره [۱]يو دليل دے، فقط او بيا مشهورينو دَ درے[۳] واړو نه جوابونه کوی۔ محققين والی چه په عدل تحقيقی کښې خروج اعتباری دے، دَ اصل محقق نه ځکه چه عدل دَ اسبابو نحويه اعتباريه نه دے، په دے شان سره چه عِلم په عِلت باندے روستو دے، دَ علم نه په حُکم باندے، نو که چرے په عدل تحقيقی کښې خروج تحقيقی شی، نو بيا به دا اونه کړی، دَ اسباب ضروريه اعتباريه نه۔ اوس جواب ورکوی، مشهورينو دَ دليل اوّل نه، چه تاسو والی چه، تحقيقاً او تقديراً دا صفات دی دَ باره دَ خروج۔ پس په عدل تحقيقی کښې خروج تحقيقی دے او په تقديری کښې اعتباری دے، نو دَ دے جواب دا دے چه تحقيقاً او تقديراً دا صفات بحال متعلق دی، يعنی تحقيقاً اصله او تقديراً اصله[۲] ـــــ دَ دوېم[۲] دليل نه جواب ورکوی، چه تاسو والی، که چرے په دواړو کښې خروج اعتباری شی، نو مقابله به رانه شی، په مابين دَ عدل تحقيقی او تقديری کښې، نو مونږ والو چه، فرق به کښې شته

---

[۲] پوهه شه چه [۱]يو صفت بحاله دے او دوېم[۲] صفت بحال متعلقه۔ صفت بحاله دے ته والی چه بالذات دَ موصوف دَ پاره صفت واقع شی، لکه زيدٌ عالم او صفت بحال متعلقه دے ته والی چه صفت دَ موصوف دَ متعلقاتو دَ پاره واقع شوے وی، لکه زيدٌ عالم ابوه يا لکه دا معروف پښتو استاذ صاحب دَ خوش طبعئ په طور ويلی دی چه:-

بقيه

~ جانان مې جنګ کښې نتوړه او کښه ځکه هغوئ راته کوټه سوينه

پہ اعتبار دَ اَصل سره چه عدل تحقیقی کښے اصل محقق دے اَؤ پہ تقدیری کښے اَصل اِعتباری دے ——— دَدے دلیل نہ جواب ورکوی چہ منو داخبره چه عدل تحقیقی کښے دلیل شته پہ وجود اصل باندِ اَؤ دلیل پہ وجود دَ اَصل دا یعنیه دلیل دے پہ وجود دَ فرع باندِ ولے دا نہ منو چه دلیل پہ وجود دَ فرع باندِ دا دلیل دے، پہ وجود دَ خروج باندِ، ځکه چه پہ ہرکرته اَصل اَؤ فرعہ موجود وی، لیکن بیا هُم خروج نہ وی، لکه پہ جموع شاذه کښے، چه اَنیبٌ اَؤ اقوس دی۔

کثلث ومثلث دا مثال دَ عدل تحقیقی دے، هَرکله چه موجود شو، دا دواړه اسماً پہ کلام عرب کښے غیر منصرف اَؤ پہ غیر منصرف کښے لابُدی دہ دَ وجود دَ سببینو^[1]، نو معنی متوجه شو، دے خبرے وته، چه پہ دواړو کښے سببین کوم دی۔ پس پہ دواړو کښے خو یو سبب موجود شو چه هغه وصفیة دے۔ ولے وصفیت یوا ځے کافی نہ وو دَ پاره دَ منع صرف۔ پس نحاة مجبور شول، اعتبار دَ سبب آخرته اَؤ سبب آخر صالح نہ وو پہ دواړو کښے دَ پاره دَ منع صرف سِوا دَ عدل تحقیقی نہ، ځکه چه عدل تحقیقی هغه ته وائی چه دلیل موجود وی پہ وجود دَ اَصل باندِ یے دَ منع صرف نہ، پہ دے شان سره چه کله معنیٰ متوجه شو دَ دے معنی ته، نو په معنیٰ دَ دواړو کښے تکرار وو، اَؤ تکرار دَ معنی دلالت کوی پہ تکرار دَ لفظ باندِ اَؤ دلته کښے تکرار دَ لفظ نہ وو، نو موږه حکم اوکړو چه دا معدول دی دَ ثلثة ثلثة نہ۔ **سوال**۔ معتبر پہ منع صرف کښے وصف وضعی اصلی دے، نہ وصف عارضی اعتباری اَؤ دلته خو وصف اعتباری دے۔

جواب۔ پہ معدول عنه کښے چه هغه ثلاثة ثلاثة دے، وصف اعتباری دے، خو چه کله پہ دے کښے عدل راغے اَؤ ثلث اَؤ مثلث ترے نہ معدول شو، نو اوس پہ معدول کښے وصف وضعی راغے، ځکه چه عدل پہ کښے وضع ثانی اوکړے شوه۔

درس نمبر ۶۶

واُخر دا بل مثال دَ عدل تحقیقی دے، هَرکله چه موجود شو اُخَر پہ کلام دَ عرب کښے غیر منصرف اَؤ پہ غیر منصرف کښے لابُدی ده، دَ وجود دَ سببینو نہ یا دَ یو سبب نہ، چه قائم وی پہ مقام دَ سببینو اَؤ موجود نہ وو پہ دے کښے سببین سِوا دَ وصفیت نہ اَؤ وصفیت یواځے کافی نہ وو دَ پاره دَ منع صرف، نو مجبور شو نحاة اعتبار دَ سبب آخرته اَؤ سبب آخر صالح نہ وو دَ پاره دَ منع صرف سِوا دَ عدل تحقیقی نہ اَؤ عدل تحقیقی دے ته وائی، چه دلیل موجود وی پہ اصل باندِ سِوا دَ منع صرف نہ، نو دلته کښے عدل تحقیقی پہ دے شان سره دے، چه اُخَر جمع دَ اُخریٰ ده اَؤ اُخریٰ مؤنث دَ

---

[1] یا دَ یو سبب نہ چه هغه قائم مقام دَ سببینو وی۔ ۱۲ (م۔س)۔

آخَرُ دے او آخَرُ صیغهٔ اسم تفضیل ده او په اسم تفضیل کښې قاعده دا ده، چې دا به مستعمل وي په طرق ثلاثه سره، چې یا به مستعمل وي په مِن سره یا به مستعمل وي په الف لام سره او یا به مستعمل وي په اضافت سره. هر کله چې دوی اوکتل چې دا نه دے مستعمل په یو د طرق ثلاثه سره. پس نحاةٌ اوویل چې دا معدول دے، د الآخَرُ یا د آخر من نه او د ذهاب نه دے کړے، ځکه اضافت ورته، ځکه چې په وخت د انقطاع د اضافت کښې دغه وجه دی. لکه څنګه چې دا به مبني وي په ضمه باندې، لکه تَیْمُ تَیْمُ عدی.

سوال. د أُخَر عدول د الآخر، یعنی د هغه اسم تفضیل نه چې مستعمل وي په الف لام سره نه صحیح کیږي، ځکه چې الآخر معرفه ده او أُخَر نکره ده، دلیل په دے دا قول د باری تعالیٰ دے چې "فعدة من ایام اُخر" ځکه ما صفت واقع شوے دے د یاره د نکرے، نو پته ولګیده چې دا نکره ده. **جواب.** خبره زموږ په اصل کښې ده او تعریف یا تنکیر دا عوارض دي او العوارض لا تعتبر. **سوال.** نه منو دا خبره چې أُخَر صیغه د اسم تفضیل ده، ځکه چې اسم تفضیل خو هغه ته وائي چې معنی مصدري په هغه کښې په نسبت سره د غیر نه زیاته وي او دلته کښې خو د آخر دا معنی نه ده، بلکه دا مستعملیږي په معنی د غیر سره. **جواب.** آخر په معنی د اشدُّ تأخراً سره دے او دا معنی د اسم تفضیل ده او هر چې دے اوس د دې معنی د تفضیل نه غیر ته، نو دا د وجه د عارض نه دے او العوارض لا تعتبر.

وَجُمَعُ دا بل مثال د عدل تحقیقي دے، هر کله چې موجود شو په کلام د عرب کښې جمع غیر منصرف او په غیر منصرف کښې لابدي ده د سببونو نه یا د یو سبب په قائم مقام وي د سببونو او موجود نه وو په دے کښې سببونه سیوا د یو سبب نه، چې هغه وصفیت دے او وصفیت یوازې کافي نه وو د یاره د غیر انصراف. پس نحاة مجبور شو اعتبار د سبب آخر ته او سبب آخر صالح نه وو .... د یاره د غیر انصراف سیوا د عدل نه، پس معتبر کړو نحاة په دے کښې عدل تحقیقي. عدل تحقیقي ځکه دے ته وائي چې موجود وي دلیل په وجود د اصل باندې سیوا د منع صرف نه، نو دلته دلیل په وجود د اصل باندې په دے شان سره دے چې جُمَعُ جمع د جمعاء ده او قاعده په افعل فعلاء کښې دا ده، که چرے دا وصفي وي، نو جمع به یې په وزن د فُعل راځي، لکه جمع د حمراء راځي حُمْرٌ، او که چرته اسمي وي نو جمع د دې راځي په وزن د فعالی یا فعلاوات، لکه جمع د صحراء راځي صحاری یا صحراوات. او هر کله چې جُمَعُ په یو هم د دې اوزانو نه نه وو. پس فالتو حکم او کړو چې دا معدول دے، د جُمْعٌ نه او یا د جماعی او جمعاوات نه. **سوال.** نه منو دا خبره چې دا صیغه د اسم تفضیل ده، ځکه چې اجمع خو تابع راځي او په مابین د تابع او د صفت کښې منافات دے. **جواب.** په اصل کښې وضع دے د یاره د صفت او استعمال د دې په تابع کښې د وجه د عارض نه دے او العوارض لا تعتبر.

سوال. جُمَعُ که چرته دا فعل فعلاء صفتي د جمع نه معدول شي، خو دا صحیح ده، ولې که افعل فعلاء

لسمي دَ جمع نه ماخوذ شي، نو بیا یې نه منو ـ **جواب** دا دے چه دلته کښې اسمي حمل دَے په صفتي باندې.

اوتقدیراً کعُمَرَ اَوْ یا خروج تقدیري اَوْ اعتباري وي، په دے سره مصنفؒ دَ عدل دویم قسم بیانوی، چه هغه عدل تقدیري دے ـ عدل تقدیري یے ته وائي چه دلیل په وجود دَ اصل باندې نه وي سِوا دَ منع صرف نه، لکه عُمَرُ شو ـ هرکله چه موجود شو په کلام دَ عربو کښې عمو غیر منصرف اَوْ په غیر منصرف کښې لابُدی ده دَ سببونه اَوْ یا دَ یو سبب نه چه قائم مقام وی دَ دوؤ سببونو اَوْ موجود نه وو، په دهٔ کښې مگر علمیت اَوْ علمیت وحده کافي نه وو دَ پاره دَ منع صرف ـ پس نحاة مجبوره شو، اعتبار دَ بل سبب ته اَوْ بل سبب په دے کښې صالح نه وو دَ پاره دَ اعتبار دَ منع صرف ـ پس نحاتو معتبر کړو، په دے کښې عدل تقدیري اَوْ عدل تقدیري دے ته وائي، چه دلیل په وجود دَ اصل باندې نه وي، سِوا دَ منع صرف[1]، لهٰذا معدول دے دَ عامِر نه ـ پس یو سبب په کښې علمیت شو اَوْ بل په کښې عدل شو ـ

درس نمبر ۶۷

وباب قطامِ فی تمیم دلته کښې قطامه معدول دے، دَ قطامة نه ـ په بعض نسخو کښې ومثل قطام دے اَوْ په اکثرو نسخو کښې وباب قطامه دے، لو چه ومثل قطامه شي، په دے کښې به اشاره راشي دے خبرے ته، چه په عمر کښې هم عدل تقدیري دَے، اَوْ په قطام کښې هم عدل تقدیري دے، خو په دواړو کښې فرق دے اَوْ دا به په دے صورت کښې مستقل مثال شي، دَ پاره دَ عدل تقدیري اَوْ چه باب قطام شي، لو په دے کښې به اشاره راشي، قاعدے کلیے ته چه مراد په باب قطامه سره دا دے، چه یو اسم راشي، په وزن دَ فعال اَوْ هغه علم وي، دَ پاره دَ اعیان مؤنثه اَوْ نه وي ذوات الراء، لو په دے کښې به عدل تقدیري وي، دَ پاره دَ حمل په ذوات الراء[2] باندې ـ لو شو، چه وزن دَ فعال په څلورو معانیو سره راځي، اول دَ پاره دَ امر لکه نزال امزاك، نزال په معنیٰ دَ انزل بلندِ اَوْ تراكِ په معنیٰ دَ اترك باندې، دویم په معنیٰ دَ وصف راځي، لکه فجارِ اَوْ فساق، دریم په معنیٰ دَ مصدریة راځي، دا درے واړه مبني دي بالاتفاق په نزد دَ حجازیانو اَوْ په نزد دَ بني تمیمو اَوْ څلورم په معنیٰ علمي باندې راځي، بیا دا په دوه قسمه دے، یو ذوات الراء اَوْ بل غیر ذوات الراء ـ ذوات الراء په نزد دَ حجازیانو اَوْ دَ اکثرو بني تمیمو مبني دے اَوْ که په غیر ذوات الراء کښې

---

[1] یعني دا یقیني دَ څه دلیل نه غیر منصرف ثابت دے، په کلام دَ عربو کښې په دے وجه باندې په دهٔ کښې فرضیت دَ سبب آخر کولے شي، دَ پاره دَ محافظت دَ قانون نحوي ـ ۱۲ (م، س) ـ

[2] ذوات الراء هر هغه اسم ته وائي چه په آخر کښې یې را راوړی، په حال دَ کون دَ دهٔ کښې چه دے علم وي، په وزن دَ فعالِ (نوید بړانګ):

اِختلاف دے، دَ اهل حجاز په نیز باندې مبني دے اَؤ دَ بني تمیم مبني بلکې معرب غیر منصرف دے، نو ځکه موږ دا خبره اوکړه چه هر کله دا مثل قطام شي نو دا به مثال شي دَ پاره دَ عدل تقدیري ته په مستقل طریقه سره۔ پس هر کله چه اوموندے شو ذوات الراء په کلام دَ عربو کښې مبني اَؤ معجوده وو، په دوی کښې دوه سببه اَؤ ذوه سببه کافي نه وو دَ پاره دَ بناء، نو معتبر کړے شو په دوی کښې عدل تقدیري اَؤ غیر ذوات الراء حمل کړے شو په ذوات الراء باندې اَؤ په خپلو نظائرو باندې۔ **سوال**۔ چه هر کله په نظائرو اسبابو سره یو اسم مبني کړئ، نو بیا کار دا دے چه په کوم اسم کښې دَ درېو نه زیات اسباب موجود شي، نو هغه دې په طریقه اولیٰ سره مبني اوکړئ، لکه آذربائجان چه په ده کښې پنځه اسباب جمع دي، یو عجمه، دویم علمیت، دریم تانیث، څلورم ترکیب اَؤ پنځم الف اَؤ نون مزید تېن دي اَؤ بیا هم دا مبني نه دے۔ **جواب**۔ په ذوات الراء کښې عدل تقدیري معتبر کړے شو دَ پاره دَ دې چه دا د مشابهه راجح دَ مبني اصل سره اَؤ چه مشابهة باشي دَ مبني اصل سره، هغه مبني کوئ اَؤ هر چه دے آذربائجان، نو دا خو مشابهه نه دے دَ مبني الاصل سره۔ **سوال**۔ کثیر دَ اسماؤنه په وزن دَ فعال دي اَؤ هغه بیا هم مبني دي، لکه حضار او طمار وغیره۔ **جواب**۔ خبره زمونږ په غیر ذوات الراء کښې دا اَؤ ته دَ ذوات الراء خبره کوې۔ **سوال**۔ شروع ستا په بحث دَ باب قطام باندې دا خوږ دے، دَ بحث نه ځکه چه بحث زمونږ په هغه غیر منصرف کښې دے چه په هغه کښې عدل معتبر کړے شوے وي، دَ پاره دَ سببیت دَ منع صرف اَؤ ملته په باب دَ قطام کښې عدل راغلے دے، دَ پاره دَ حمل۔ **جواب**۔ خبره زمونږ په مطلق عدل کښې دا۔ برابره خبره دا چه هغه حاصل وي دَ پاره دَ سببیت دَ منع صرف اَؤ یا دَ پاره دَ حمل۔

درس نمبر ٦٨

الوصف شرطه ان یکون في الاصل

ترجمه:- بل سبب دَ هغه اسبابونه چه معتبر اَؤ مؤثر دے په سببیت دَ منع صرف کښې هغه وصفیت دَ وصف دے اَؤ وصفیت په دوه قسمه دے، یو وصفیت اصلي وضعي اَؤ بل وصفیت عارضي۔ دلته کښې مصنف[1] تعریف دَ وصف او نه کړو دَ وجې دَ ظهور اَؤ دَ وجې دَ عدم خفاء نه، وصف عرض اَؤ قائم بالغیر ته وائي ځکه چه اشیاء په دوه قسمه دي، یو هغه وي چه قائم بالذات وي، هغه ته جواهر وائي اَؤ بل هغه دے چه قائم بالغیر وي، هغه ته اعراض وائي اَؤ اِصطلاح کښې وصف دا هغه اسم دے چه دلالت کوي په ذاتِ مبهمه باندې چه ملحوظ وي سره دَ بعض صفاتو نه۔ **سوال**۔ شمول ستا دَ وصف لره دَ اسبابو دَ منع صرف نه نه صحیح کیږي ځکه چه وصف ذات دے اَؤ اسباب دَ منع صرف دَ قبیلې دَ اعراضو نه دي۔ **جواب**۔ مراد په وصف سره وصفیت دَ وصف دے اَؤ وصفیت وصف یو عرض دے چه دلالت نه کوي په ذات باندې اَؤ دا چه مراد په وصف سره کون دَ اسم دے چه دلالت کوي په ذات مبهمه باندې اَؤ ښه

---

[1] (بل نسخه کښې)... لکه حضارِ او طمارِ وغیره۔ (م۔ س)۔

دَ وصفیة دَ وصف په تاثیر دَ منع صرف کښې هغه کمزوره دَ دیے وصفیة دی: اصلی وضعی (ځکه چه اصل په اسما کښې انصراف دے او غیر انصراف غیر اصل دے)۔ پس دَ پاره دَ اخراج دَ یو شی دَ اصل نه غیر اصل ته دَ دیے دَ پاره دَ سبب قوی او دَ مخرج قوی ضرورت دے، په دیے وجه بانډې وصفیت اصلی معتبر کړے شو۔

سوال مونږه اصل کله په مقابله دَ صفت کښې راشی، لو مراد ترینه نه موصوف وی، لو لیکار دا دَه چه وصفیت عارضی دِ هُم په سببیت دَ منع صرف کښې معتبر کیږے شی۔ **جواب**۔ دلته کښې دَ اصل نه مراد وضع دَه یعنی وصفیت وضعی۔ **سوال**۔ فی راغے، دَ پاره دَ ظرفیة او دلته کښې دا داخل شوے دے په وضع بانډې او وضع خو نه ظرف زمان دے او نه ظرف مکان۔ **جواب**۔ فی په معنیٰ دَ عند بانډې دے، ای شرط ان یکون عند الوضع۔

فلا تضره الغلبة

پس نه رسوی ضرر، دے وصف وته غلبه دَ اسمیت په دَه بانډې ځکه کښې دا فساد جزائیه دَه او شرط دَ دیے دَ پاره مقدر دے، یعنی اذا کان الامر کذالك فلا تضره الغلبة۔ **سوال**۔ غلبه دَ اسمیة وصفیة ته ولے ضرر رسوی، ځکه چه په هر کوم ته غلبه دَ اسمیة راشی، لو وصفیة زائله شی؟ **جواب**۔ مراد په عدم ضرر سره خروج دَ دَهٔ دے دَ سببیة دَ منع صرف نه او بله دا چه وصف په دوه قسمه دے، ①یو هغه دے چه ځکښې دَ راتلو دَ علمیة نه مشهور وی او ②دویم هغه چه ځکښې دَ راتلو دَ علمیة نه غیر مشهور وی۔ پس هغه وصف چه غیر مشهور وی، ځکښې دَ راتلو دَ اسمیة نه هغه ته غلبه دَ اسمیة ضرر رسوی او هغه وصف چه مشهور وی، ځکښې دَ راتلو دَ اسمیت نه، لو غلبه دَ اسمیة هغه ته ضرر نه رسوی او دلته کښې دا ②دویم مراد دے۔

درس نمبر ۶۹:۔ سوال۔ چه هر کله غلبه دَ اسمیة وصفیة ته ضرر نه رسوی، لو لیکار دا دَه چه کله اسود علم اوګرځی، دَ پاره دَ رجل ابیض، لو دا دِ غیر منصرف اوګرځی، دَ وجه دَ وصفیة او دَ وزن فعل نه۔ حالانکه دا خو غیر منصرف دے، دَ وجه دَ علمیة او دَ وزن فعل نه۔ **جواب**۔ دلته مراد په غلبے سره اختصاص دَ اسم دے، په خپلو بعضو افرادو پورے او دلته کښې ابیض (رجل) دَ افرادو دَ اسود نه نهٔ دے۔ **سوال**۔ بیا خو لیکار دا دَه، چه کله اسود علم اوګرځی دَ پاره دَ رجل اسود، لو دا دِ غیر منصرف اوګرځی دَ وجه دَ وصفیت اصلی او وزن فعل نه، حالانکه دا خو غیر منصرف دے، دَ وجه دَ علمیة او وزن فعل نه۔ **جواب**۔ مراد په اختصاص دَ اسم سره په خپلو بعضو افرادو پورے په دیے شان سره دے، چه دے محتاج نهٔ وی په دلالت کښې الفعاً دَ ضمیمے یا قرینے وته او دلته دا محتاج دے، قرینے او ضمیمے ته، چه هغه رجل اسود یا القرا۔۔۔ سره موصوفات دی۔

فلذالك صرف اربع فی مررت بنسوة اربع

پس دَ وجه دَ دیے مذکوره

هغه اصالت د وصفیت دے اؤ عدم مضرت د غلبې د اسمیت دے، منصرف کوځولے شوے دے، اربع به دے ترکیب کښې، چه مررت بنسوة اربعٍ - **سوال**. ذالك اسم اشاره مفرد دے اؤ مخکښې دوه څیزونه ذکر شوی دی، چه یو اصالت د وصفیت دے او بل عدم مضرت د غلبې د اسمیت دے۔ پس مشار الیه دوه دی او اسم اشاره مفرد راوړلے شوی دہ **جواب**. مشار الیه په تاویل د مذکور سره دے او دلته کښې اربع حکه منصرف دے، چه په ده کښې وصفیت اصلی نشته، حکه چه دا په اصل کښې اسم دے، د پاره د عدد مخصوص، چه مافوق د ثلثه او ما تحت د خمسه دے او دلته کښې د وجې د عارض نه صفت واقع شوے دے، چه هغه بنسوةٍ دی، نسوة موصوف او اربع صفت۔

وامتنع اسود وارقم للحیة وادهم للقید اؤ غیر منصرف دے اسود اؤ ارقم چه د اسمین دی، د پاره د مار اؤ ادهم چه دا اسم دے، د پاره د زنځیر اؤ هتکړئ اؤ دا حکه غیر منصرف دی، چه دلته غلبې د اسمیت وصفیت ته ضرر نه دے رسولے، یعنی د وجې د عدم مضرة د غلبې د اسمیت دا غیر منصرف دی - اسود په معنیٰ د تور اؤ ارقم په معنیٰ د برگ اؤ ادهم هم په معنیٰ د تور سره راځی، په دے اسماء کښې وصفیت اصلی دے۔

وضعف منع افعی للحیه واجدل للصقر واخیل للطائر اؤ باطل دے غیر انصراف د افعیٰ چا لوهم کړے دے، چه افعیٰ مشتق دے د خبث نه۔ پس د هغه نه دا علم کوځولے شوے دے، د پاره د مار لؤ باطل دے غیر انصراف د اجدل چا لوهم کړے دے، چه اجدل مشتق دے، د جدل نه لؤ جدل قوة ته وائی - پس د هغه نه علم دے، د پاره د شکرے (باز) اؤ د هغه شان چا لوهم کړے دے، اخیل مشتق دے د خال نه لؤ خال داغ اؤ نقطے ته وائی۔ پس د هغه نه علم اوکوځولو، د پاره د مارغه د وجې د عدم قطع نه، په کون د دوئ باندې اوصاف اصلیه۔ اوس **سوال** دا راځی چه څنګه عدم قطع اؤ عدم جزم دے، په کون د دے باندې اوصاف اصلیه، لؤ دغه شان عدم قطع ده، په کون د دوئ باندې عدم اوصاف اصلیه، لؤ تا ولے ترجیح ورکړه؟ انصراف لره په عدم انصراف باندې - **جواب** دا دے چه دلته کښې مرجح موجود دے اؤ هغه دا چه اصل په اسماء کښې انصراف دے، په دے وجه باندې ترجیح ورکړے شوه انصراف ته په عدم انصراف باندې۔

درس نمبر۷

التانیث بالتاء شرطه العلمیة بل سبب د هغه اسبابو نه چه هغه معتبر دے د پاره د سببیت د منع صرف هغه تانیث دے، چه هغه حاصل وی، په تاء سره۔ مراد د تا نه هغه تا دہ چه مدوّره وی اؤ بدلیږی په حالت د وقف کښې په

ھادمرہ۔ **سوال**۔ مقابلہ ستا د تانیث لفظی د معنوی سرہ نہ صحیح کیږی، ځکہ چہ پہ دواړو کښے تا راغلی دہ۔ **جواب**۔ مراد پہ تانیث سرہ ھغہ تانیث لفظی دے چہ تا پہ کښے لفظی وی۔ شرط د تانیث پہ تاثیر د سببیت د منع صرف کښے ھغہ کېدل د دیے مؤنث دی علما (کون المؤنث علما) د پارہ د دیے چہ علمیت لازم اوګرځی، د کلمے سرہ، ځکہ چہ اعلام محفوظ دی، د تصرف نہ بقدر الامکان۔

والمعنوی کذالک اؤ تانیث معنوی پہ اشتراط د علمیت کښے پہ شان د تانیث لفظی دے اؤ تانیث معنوی ھغہ تہ وائی چہ تا پہ کښے مقدرہ وی۔ پہ تانیث لفظی کښے علمیۃ شرط د وجوب دے اؤ پہ تانیث معنوی کښے علمیت شرط د جواز دے۔ دلتہ کښے المعنوی صفتہ دہ، اؤ موصوف ورلہ التانیث دے۔ **سوال**۔ تشبیہ ستا د تانیث لفظی سرہ د تانیث معنوی نہ نہ صحیح کیږی، ځکہ چہ پہ تانیث لفظی کښے تا لفظاً دہ اؤ پہ تانیث معنوی کښے تا مقدرہ دہ۔ **جواب**۔ دلتہ کښے تشبیہ پہ اشتراط د علمیت کښے دہ، نہ پہ "ۃ" کښے۔ **سوال**۔ دا تشبیہ ستا نہ صحیح کیږی، ځکہ چہ پہ تانیث لفظی کښے علمیت شرط د وجوب دے اؤ پہ تانیث معنوی کښے شرط د جواز دے۔ **جواب**۔ تشبیہ صرف پہ مطلق اشتراط د علمیت کښے دہ۔ پاتے خبرہ دہ کہ اشتراط د پارہ د وجوب وی اؤ کہ د پارہ د جواز وی۔

وشرط تحتم تاثیرہ الزیادۃ علی الثلثۃ پہ دے عبارت سرہ مصنفؒ بیان د ھغہ شروطو کوی چہ ھغہ خاص دی پہ تانیث معنوی پورے۔ پس دا شرطونہ د وجوب د تاثیر دی۔ پس وائی چہ شرط د وجوب د تاثیر د تانیث معنوی پہ منع صرف کښے ھغہ یو د دے امورو ثلاثہ نہ دے، چہ ھغہ یو زیادۃ دے پہ ثلثہ حروف باندے، یعنی احدھا الزیادۃ علی ثلثۃ احرف (الف لام بدل د مضاف الیہ نہ دے پہ الزیادۃ کښے)۔

او تحرک الاوسط او العجمۃ اؤ بل شرط ھغہ تحرک د حرف اوسط دے، دلتہ کښے الاوسط دا صفت دے، د پارہ د الحرف اؤ دریم شرط عجمہ دے، یعنی کېدل د دغہ اسم پہ لغت عجمی کښے، د پارہ د دیے چہ پیدا شی پہ دغہ اسم کښے ثقل اؤ دا دریم شروط پہ دیے وجہ باندے کښېنودے شول، ځکہ چہ کلہ چہ زیادۃ پہ ثلاثۃ احرف رانہ شی، نو دا بہ اوګرځی ثلاثی اؤ کلہ چہ تحرک د اوسط رانہ شی، نو دا بہ اوګرځی ساکن الاوسط اؤ کلہ چہ عجمی اونہ ګرځی، نو شی بہ دا عربی اؤ دیے دریے واړو سرہ پیدا کیږی خفت، چہ ھغہ منافی دے د ثقل د یو د سببونو سرہ۔

درس نمبر ۱۷

فھند یجوز صرفہ دلتہ دا فا تفریعیہ دہ یا دا فا جزائیہ دہ اؤ شرط ورلہ محذوف مقدر دے چہ اذا کان الامر کذالک فھندٌ یجوز صرفہ، ځکہ چہ پہ دیے کښے انتفا

ط راغلی دہ، زیادۃ پہ ثلثہ، تحرک د حرف اوسط اؤ عجمہ دا دریے واړہ پہ کښے نشتہ

پس انصراف ئې جائز دے۔ **سوال**۔ مصنف رح يجوز صرفه اُووے اَوْ يجب صرفه ئې ولے اُونهٔ وے؟
جواب۔ انصراف دَدے واجب حکم نه دے چه سببونه په کښې موجود دی چه يو تانيث دے اَوْ بل علميت، نو وجود دَ سببونو تقاضا دَ عدم انصراف کوی اَوْ انتفاء دَ شروطو ئې تقاضا دَ انصراف کوی۔ پس روا اوګرځيد انصراف دَدے۔

وزينب وسقر وماه وجور ممتنع اَوْ دَ وجه دَ وجود دَ شروطو ثلثه نه زينب، سقر، ماه اَوْ جور غير منصرف اوګرځيدل، يعنی ممتنع صرف کل واحد منها، حُکه چه په دوئ کښې تانيث اَوْ علميت دے۔ زينب نوم اَوْ علم دے دَ ښځې دَ مؤنث اَوْ زيادة رابع دے، په دريم حروفو باندې۔ نو اول شرط په کښې موجود شه۔ اَوْ سقر دا علم دے، دَ باره دَ يو طبقې دَ طبقاتو دَ جهنم اَوْ متحرک الاوسط دے، نو دويم شرط په کښې موجود شه۔ ماه اَوْ جور دا اعلام دی دَ ښارونو دَ عجم اَوْ عجمی اسماء دی، نو دريم شرط په کښې موجود شه۔[1]

فان سمی به مذکر فشرطه الزيادة علی الثلثة اَوْ که چرته کښې مسمیٰ کړے شو په دے تانيث معنوی سره يو مذکر، نو شرط دَدے تانيث معنوی دَ باره دَ منع صرف هغه زيادة دے، په دريمے حروفو باندې په الثلثة کښې الف لام بدل ئې دی دَ مضاف اليه نه، يعنی ثلثه احرف اَوْ دا شروط وړلو حُکه دی چه هر کله نا کله شو تانيث دَ دے په سبب دَ تسميے دَ دے سره دَ باره دَ مذکر، نو په دے کښې نقصان پيدا شو۔ پس دَ ازالے دَ نقصان دَ باره لابدی شوه دَ جبيرے نه اَوْ هغه جبيره زيادت دَ حرف رابع دے۔[2]

فقدم منصرف دا تفريع ده، په دے شرط مذکور۔ قدم منصرف دے، حُکه چه په دے کښې فوات دَ شرط راغلے دے، حُکه چه په دے کښې تانيث لفظاً نشته دے لکه نه په کښې حکماً علامه دَ تانيث شته اَوْ تانيث دَدے زائله شوے، په سبب دَ تسميے، دَدے سره دَ باره دَ مذکر اَوْ زيادة په کښې نه دے راغلے دَ حرف زائد دَ باره دَ جبيرے دَ نقصان چه هغه ازاله دَ تانيث ده۔

وعقرب ممتنع اَوْ عقرب غير منصرف دے، يعنی عقرب ممتنع صرفه اَوْ دا په دے وجه غير منصرف دے، چه په دے کښې شرط موجود دے، حُکه چه هر کله په دے کښې ازاله دَ تانيث راغله په سبب دَ علم دَ دے سره دَ باره دَ مذکر، نو په دے کښې نقصان پيدا شو اَوْ دَ دغه نقصان جبيره په حرف زائده سره اوشوه۔

---

[1] پس دا اسماء غير منصرف دی اَوْ ممتنع دے انصراف دَ دوئ دَ وجه دَ وجود دَ شروطو ثلثه نه۔ ۲ (م۔ س)۔
[2] اَوْ هغه حرف رابع په دے کښې قائم مقام دَ تانيث اوګرځيد۔ (م۔ س)۔

درس نمبر ۲۷

المعرفة شرطها ان تکون علمیةً

بل سبب د هغه اسبابو نه چه هغه معتبر دے، د پاره د سببیت د منع صرف' هغه تعریف د معرفے دے. معرفه مصدر میمی دے، په معنیٰ د معلومولو (شناختن) او پیژندلو باندې راځي او په اصطلاح کښې هغه اسم دے، چه وضع شوے وي د پاره د ذات معین یا ما وضع لشیئ معین. سوال. شمېل ستا معرفے لو د اسبابو د منع صرف نه نه صحیح کیږي ځکه چه معرفه دلالت کوي په ذات باندې او اسباب د منع صرف د قبیلې د اعراضو نه دي. جواب. مراد دلته کښې په معرفه سره تعریف د معرفے دے - دغه سوال په بله طریقه - چه د معرفے نه به یا معنیٰ لغوي مراد اخلې او یا معنیٰ اصطلاحي - که معنیٰ لغوي مراد لخلې نو دا نه صحیح کیږي ځکه چه په لغت کښې معرفه معلومولو ته وایي او دا صفت د متکلم دے او متکلم ذات مع الوصف دے او اسباب د منع صرف اعراض دي، نو شمېل ستا معرفې لو د اسبابو د منع صرف نه نه صحیح کیږي او که چرته معنیٰ اصطلاحي مراد شي، نو هم نه صحیح کیږي، ځکه چه دا بعینه لفظ دے او اسباب د منع صرف الفاظ نه دي. جواب:- دلته کښې اصطلاحي معنیٰ مراد ده او په دے معنیٰ کښې بیا مجاز دے او مجاز یا مجاز لغوي دے یا مجاز بالحذف دے. مجاز لغوي دا چه ذکر د معرفے دے او مراد ترے نه تعریف دے او که مجاز بالحذف شي نو دلته کښې به عبارة په حذف د مضاف سره شي، یعني تعریف المعرفة. شرط د تاثیر د معرفے په سببیت د منع صرف کښې علمو یا شرط د تاثیر د معرفے په سببیة د منع صرف کښې علمیة دے او علمیت ځکه شرط دے، چه دا الاثر او کوځي د کلي سره ځکه اعلام محفوظ دي د تصرف نه بقدر الامکان. سوال. دلته په شرطها ان تکون علمیةً کښې تکرار د کون راځي - لیو خو دا دے چه په تکون فعل باندې ان مصدریه داخل شوے دے او ان مصدریه چه داخل شي په فعل باندې نو هغه په تاویل د مصدر سره کوځي، نو ان تکون په تاویل د مصدر سره اوکرځېدو او بل دا چه په علمیت کښې یا او تا مصدریه دي. دا هم مستلزم دي کون لو، نو تقدیر به دا سے شي - شرط کونها کونها علماً - جواب. مراد په علمیة سره نفس د جنس تعریف نه او یا دا چه دلته په علمیة کښې دا یاد نسبتیه ده - پس هیڅ اشکال نشته په دے کښې.

سوال. معرفه[1] په دے ولے خاص کړه د سببیت د منع صرف او علمیت ئې ولے شرط کړه په دے کښې؟

جواب. معارف ټول شپږ دي. اسماء اشارات، موصولات، مضمرات، معرف باللام او معرف بالاضافة او اعلام - پس دا اول درے په دے کښې مبني دي او څلورم چه دے معرف باللام او معرف بالاضافة، نو دا غیر منصرف، منصرف کوي. پس پاتے شو معرفه او علم او علمیة په کښې شرط

---

[1] صورت د سوال دا دے چه معرفه ولے خاص کړے شو په تمامو معارفو کښې د پاره د سببیت د منع صرف او علمیة په کښې ولے شرط کړے.

ځکه دے چه اعلام محفوظ دی د تصرف نه بقدر الامکان۔ **سوال**۔ علمیت به ئے سبب ګرځولے وو او معرفه به ئے ورله شرط کړے وو لکه څنګه چه صاحب د مفصل دا سے کړی دی **جواب**۔ نوعیت اظهر دے په معرفه کښے د علمیت نه، ځکه چه معرفه نوعه د نکرې ده۔ **سوال**۔ ددے متن والی چه ومانیه علمیة مؤثرة اذا نکر صرف، نو د دے نه معلومیږی چه مؤثر په سببیت د منع صرف کښے علمیت دے نه معرفه۔ **اول جواب** دا دے چه عبارت د ماتن مبنی دے په مذهب د جمهورو باندې او د جمهورو په نزد باندې علمیت مؤثر دے۔ **دویم جواب** دا دے چه هلته علمیت بالواسطه مؤثر دے او په معرفه کښے علمیت بالذات مؤثر دے نو یا دا چه دا اطلاق مجازا دے۔

درس نمبر ۳۷ :۔

سوال۔ اشتراط د علمیت د پاره د معرفے دا خو اشتراط د شی دے د پاره د خپل نفس او دا باطل دے ځکه چه معرفه علمیت له شامله ده۔ **جواب**۔ دلته اشتراط د خاص رانغلے دے د پاره د عام او دا جائز دے لکه الحیوان ضاحك بشرط الانسان، معارف عام دے لکه په دے شعر کښے دی چه:۔

۱؎ معارف این همه پنج اندزین نه بیش نه کم مضاف ومضمر وذواللام مبهمات وعلم

هلته موږ ویلی دی چه معارف شپږ دی او دلته کښے په دے شعر کښے پنځه راغلی دی وجه دا ده چه په اسمائے اشارات او موصولات باندې اطلاق د مبهمات کیږی او دے ته مبهمات ځکه وائی چه اسم اشاره بغیر د مشار الیه او اسم موصول بغیر د صلے نه مبهم دی۔

درس نمبر ۳۸

العجمة شرطها ان تکون علمیة فی العجمیة بل د عجمه اسبابونه چه معتبر دی په سببیت د منع صرف کښے، عجمه کون د لفظ دے چه وضع کړی وی، عجم لره غیر عربو یعنی مجموع شرط د دے په تاثیر د سببیت د منع صرف کښے عجمه کیدل د دے، منسوب علم ته، په لغت عجمی کښے۔ برابره خبره ده چه دا علم حقیقتا وی او که حکما۔ عجمه په لغت کښے لکنت او د ژبے انبتلوبه والی او په اصطلاح کښے ماوضعه غیر العرب ته وائی۔

سوال۔ دلته به د عجمی نه یا معنی لغوی مراد اخلے یا معنی اصطلاحی۔ که معنی لغوی مراد اخلے نو لکنت خو صفت د متکلم دے او متکلم ذات مع الوصف دے او اسباب د منع صرف د قبیلے د اعراضو نه دی او که معنی اصطلاحی اخلے نو هم نه صحیح کیږی ځکه چه اصطلاحی معنی د عجمی عجمه ماوضعه غیر العرب

۱؎۔ ماده معارف شپږ په نمبر او شمیره، اشارات او کړه، موصول ئے بیا مضمر او شمیره د اضافت سره بل نوم د تعریف وایه، علم ورلوه آخر کښے خپل دلبر او شمیره۔ ۱۲۔ (م۔س)۔

والی آؤ دانه دے، مگر لفظ لؤ اسباب د منع اعراض دی، یعنی اوصاف دی اؤ بعینه الفاظ نه دی۔
جواب. د لته کښے معنیٰ اصطلاحی مراد ده اؤ دلته په معنیٰ اصطلاحی کښے موږ تاویل کوؤ چه مراد دے کون اللفظ موضوعاً بغیر وضع العرب اؤ کون مصدر دے، نو بیا اعتراض نه وارد یږی، لو عمومی
سوال وارد یږی چه ابتداءً نو د دیے اسبابو د منع صرف نه دا ہیے تعبیر کړے وے چه په هیڅ کښے تاویل ته ضرورت نه وے۔ حالانکه په عجمه په معرفه په وصف وغیره کښے موږ تاویل ته محتاج شو۔
جواب. دا تعبیرات مصنف چه ملکنے په شعر کښے یؤ هم دا تعبیر کړے وو، لوکه جوته په تفصیل کښے بل قسم تعبیر کړے وے، لو بیا به مخالفت راتلو په مابین د اجمال اؤ د تفصیل کښے۔ **سوال.** ان تکون مستلزم دے کون لو اؤ په علمیت کښے بیا اولتا مصدری راغلی دی، د دیے نه هم کون مستفاد دے لو دلته کښے تکرار د کون راغے، چه دا به فائده دے (ركاكت)۔ **جواب.** مگر دلته کښے تکرار د کون نشته، ځکه چه په علمیت کښے ما یا اولتا مصدری نه دی، ځکه که چرے مصدری شی، لو اؤ به کوځی، علمیت لوع د عجمه نه، حالانکه علمیت د لوع د عجمه نه دے، بلکه دا یا اولتا نسبتیه دی، لو معنیٰ به دا شی چه شرطها ان تکون منسوبة الی العلم فی اللغة العجمیة، اؤ دا علمیة ځکه شرط کړے شو، چه ما لازم او کوځی، د کلے سره، ځکه چه اعلام محفوظ دی، د تغیر نه بقدر الامکان۔ **سوال.** تا اؤ دلیل چه شرط په عجمه کښے دا دے، چه دا به علم وی، په لغت عجمی کښے، لو زه تاته ښایم چه یو لفظ به وی، هغه په لغت عجمی کښے علم نه وی اؤ منتقل شوے به وی لغت عربی ته بغیر د تصرف نو اؤ بیا به هم غیر منصرف وی، لکه قالون، ځکه دا په لغت عجمی کښے مطلق جیّد ته وائی۔ بیا منتقل شو لغت عربی ته اؤ علم او کرځیدو د یو د قالون اؤ په لغت عجمی کښے دا علم نه دے۔ **جواب.** د عجمی علمیت عام دے حقیقتاً وی، یا حکماً، حقیقتاً لکه ابراهیم شو اؤ حکماً لکه قالون، ځکه چه دے هر کله منتقل شو، د لغت عجمی نه عربی ته، بغیر د تصرف نه اؤ علم واقع شو په لغت عربی کښے، نو گویا کښے دے حکماً علم دے په لغت عجمی کښے۔

درس نمبر ۷۵

بتحرك الاوسط او الزيادة على الثلثة اؤ بل شرط د پاره د عجمی په سببیت د منع صرف کښے هغه تحرك د حروف اوسط دے، ځکه چه دا تحرک حرف اوسط په مثل د حرف رابع دے اؤ یا زیادة دے، په ثلثة احرف باندې، د پاره د دیے چه په دیے کښے ثقل پیدا شی یعنی بل شرط په عجمه کښے د پاره د سببیت د منع صرف هغه یو د دوے امرین مذکورینو نه دے، ځکه که چرے متحرک الاوسط کښی، لو ساکن الاوسط به شی اؤ که چرته زیاده په ثلاثة باندې رانه شی، لو ثلاثی به شی اؤ دا به پیدا کوی خفت لو چه دا منافی دے، د ثقل د یو سببیتو سره۔

فنوح منصرف پس نوح منصرف دے، د وجه د انتفاء د شرط ثانی نه چه هغه تحرک د اوسط دے یا زیادة دے، په ثلثه باندې، دلته په فنوح سره مصنف تفریع بیانوی په شرط

ثالث بانـدې. **سوال:** پکار دا چه مصنفؒ به اوّل دا دوه تعریفین بیان کړی وو، په شرط اوّل باندې لکه چه ځنګه هدایة النحو مُلا ذکر کړي دی، چه فلیجاوز منصرف او بیا یې تعریعین بیان کړی وو وجوداً او عدماً.

جواب: ---- مصنفؒ په نوح سره تفریع نه بیانوی، بلکه دا تشبیهه ده په "ما نحن فیه" باندې ځکه چه بعض نحاة وائي، چه نوحؑ غیر منصرف دے، نو ځکه په هغوئ رد اوکړو او وئیل چه نوح منصرف. که چرته غرض د مصنفؒ تفریع وه، نو بیا پکار دا، چه د وجودی مثال یې ځکه ذکر کړے وے، د عدمی نه، ځکه چه نوح مثال د عدمی دے. **سوال:** حال د عجمی په عدم ظهور د علامې کښې په شان د حال د تانیث معنوی دے، نو پکار دا ده چه د هند په شان نو په نوح کښې هم انصراف او عدم انصراف جائز شی.

جواب: فرق دے په مابین د تانیث معنوی او د عجمی کښې ځکه چه په تانیث معنوی کښې په بعض مواضع کښې علامه د تانیث ظاهریږی، لکه په ارض کښې چه په صورت د تصغیر کښې علامه د تانیث ظاهره شی، لکه اریضة شی او په عجمه کښې په هیڅ ماده کښې علامه د عجمی نه ظاهریږی. **سوال:** په ماه وجور کښې عجمه معتبر کړے شوې ده، سره د سکون د اوسط نه او دا دِ غیر منصرف کړے شی. **جواب:** په ماه وجور کښې عجمه معتبر کړے شوې ده، د پاره د تقویت د سببینو، ځکه چه په هغه کښې ځکه سببین موجود دی چه یو علمیت او بل تانیث دے.

وشتر وابراهیم ممتنع: دا مثال د هغه دے چه شرط ثالث په کښې موجود وی. پس په شتر کښې حرکت د اوسط دے، دا علم دے، د یو قلعه چه په دیاربکر کښې ده او په ابراهیم کښې زیادة د ثلثه احرف باندې. پس دا دواړه غیر منصرف دی، یعنی وشتر وابراهیم ممتنع صرفهما او دا مثال وجودی دے.

فائده: علماء د نحوې فرمائي، چه د د غه مذکوره اسمائو د انبیاء نه علاوه چه ذکر شوی دی، په دے شعر کښې د نورو ټولو انبیاؤ اسماء مبارکه غیر منصرف دی، هغه شعر دا دے:

گر تو می خواهی که دانی نام هر پیغمبری ... تا که دانست اے برادر نزد نحوی منصرف

صالحؑ و هودؑ و محمدؐ با شعیبؑ و نوحؑ و لوطؑ ... این همه دانو دیگر باقی همه لاینصرف

سوال: شیثؑ او عزیرؑ خو هم منصرف دی، نو هغه یې ولے ذکر نه کړل؟ **جواب:** مراد په دے انبیاء سره هغه انبیاء دی، چه د هغوئ ذکر په قرآن پاک کښې راغلے، په نبوت یا په رسالت سره او د شیثؑ خو د سره نوم نشته په قرآن پاک کښې او عزیرؑ نوم خو راغلے دے، لکه "وقالت الیهود عزیر ابن الله" لیکن متصف نه دے، په صفت د نبوت یا د رسالت سره.

درس نمبر ۷

الجمع شرطه صیغة منتهی الجموع: بل سبب د هغه اسبابو نه چه معتبر دے د سببیة د منع صرف هغه جمعیت د جمع دے او دا قائم

مقام دنے، د سببونو چې لو په خپله جمعیت دے او بل په کښې لزوم د جمعیة دے او ما لزوم د جمعیة په منزله د سبب آخر دے. پوهه شه چې جمع په لغت کښې انضمام ته وائي او په اصطلاح کښې ما دل علی احاد مقصودة بالفاظ مفردة ته وائي. **سوال**. د جمع نه مراد معنیٰ لغوی ده که معنیٰ اصطلاحی ـ که معنیٰ لغوی آخلے نو انضمام صفت د متکلم دے او متکلم ذات مع الوصف دے او اسباب د منع صرف اعراض دی، او که چیرے معنیٰ اصطلاحی آخلے لو ما دل علی احاد الخ ـ دا خو بعینه لفظ دے او اسباب د منع صرف خو الفاظ نه دی، بلکه اعراض دی ـ **جواب**. دلته معنیٰ اصطلاحی مراد ده، خو دا محمول ده په تاویل سره، هغه دا چې دلته مضاف حذف دے، ای جمعیة الجمع ـ **سوال**. زه به تاته امثال پیش کړم چې جمع به وی او غیر منصرف به نه وی لکه رجال شے او مسلمون وغیره. **جواب**. مراد په جمع سره جمع منتهی الجموع ده او دا مذکور دا سے نه دی، شرطه صیغة الخ ـ شرط د جمعیت د جمع په سببیت او په تاثیر د منع صرف کښې، هغه دا دے، چې دا به صیغه د منتهی الجموع وی، د پاره د دے چې دا محفوظ او مکرر شی، د تغیر نه بقدر الامکان ځکه چې صیغه د منتهی الجموع دا جمع کیږی په جمع تکثیر سره لغوی ـ منتهی مصدر میمی دے، په معنیٰ د انتها باندې یعنی انتها الجموع ـ **سوال**. جموع جمع د جمع ده او اقل د جمع درے دی، نو مطلب دا شو چې درے ځله تلو ځله د یو اسم جمع راشی، نو دغه به هغه غیر منصرف کرځی ـ حالانکه دا سے نه دی، ځکه چې مساجد خو لو ځل جمع راغلے دے او بیا هم صیغه د منتهی الجموع ده.

جواب. دلته کښې مراد د جمع نه ما فوق الواحد دے لیکن دا جواب ضعیف دے، ځکه چې د دے مطلب به دا شو چې په دوه ځل چې جمع شی، نو بیا به صیغه د منتهی الجموع وی ـ حالانکه دا سے نه ده ـ پس حق په جواب کښې دا دے، چې مراد په صیغه د منتهی الجمع سره اصطلاحی معنیٰ مراد ده، چې هغه دا ده چې صیغه د منتهی الجموع هغه ته وائي چې اول حرف ئې مفتوح وی او دریم حرف الف او د الف نه روستو دوه حرفه وی، حقیقتاً وی یا حکماً او یا درے حرفه وی خو ساکن الاوسط وی او د الف نه پس چې کوم حرف وی، هغه به مکسور وی ـ مثال د اول چې پس د الف نه دوه حرفه حقیقتاً وی، لکمساجد او چې پس د الف نه حکماً حرفین وی، لکه دوابّ دلته کښې د الف نه روستو اګر که یو حرف دے، خو دا در حقیقتاً دوه حرفه دی، ځکه چې دلته کښې ادغام شوے دے، چې دا په اصل کښې دوابب وو، یا لکه جوارٍ شو، دلته کښې د الف نه پس یو حرف دے، لیکن دا په اصل کښې جواری دے او مثال د دریم، لکه مصابیح شو، د الف نه پس درے حرفه دی او ساکن الاوسط دی ـ

وجه د تسمیه صیغه د منتهی الجموع ته منتهی الجموع ځکه وائي، لکه ګویا دا جمع شوی ده مرتین ـ حقیقتاً او که تقدیراً ـ حقیقتاً لکه اکالب چې جمع د اکلب ده او اکلب جمع د کلب ده او تقدیراً مثال لکه مساجد او نور امثله وغیره شو ـ

بغیر هاءٍ په حال د کون د دے صیغه د منتهی الجموع کښې چې دا متلبس نه وی په تاء تانیث سره، هے تا چې مدوره او بدلیږی په حالت د وقف کښې په هاء او دا ځکه چې کله چیرے دا سره د تاء نه

او کړي، نو دا به په وزن د مفردات سره شي، نو د دې په جمعیت کښې به نقصان او خلل راشي، لکه طواعیة او کراهیة شو. **سوال**: پکار دا ده چې فوارهٔ دې منصرف او کړي، ځکه چې د دې په آخر کښې هاء راغلې ده او فرازنهٔ دې غیر منصرف شي، ځکه چې په دې کښې هاء نه ده راغلې. **جواب**: مراد په هاء سره هغه تاء ده، چې بدلیږي په حالت د وقف کښې او دریم جواب دا دے چې په فواره کښې هاء اصلي ده لا. **سوال**: د بغیرها سره به بې بغیر یاالنسبة هم وتلې وه، د پاره د دې چې په مثل د مدائني ریږي نه خارج شي. **جواب**: د دې د اخراج د پاره قید ته ضرورت نشته، ځکه چې دا سره د یاء نه مفرد محض دے.

کمساجد و مصابیح مساجد مثال د هغه منتهی الجموع دے، چې په هغه کښې پس د الف نه دوه حرفه راغلي وي حقیقتاً. دا جمع د مسجد ده او مصابیح مثال د هغه جمع دے چې پس د الف نه درے حرفه وي او ساکن الاوسط وي. مصابیح جمع د مصباح ده او مصباح چراغ ته وائي.

واما فرازنة فمنصرف او هر چې دے په مثل د فرازنة، نو دا منصرف دے یادا فرازنهٔ منصرف دے، د وجه د فوات د شرط نه، ځکه چې سوئی وتلې وه چې دا صیغه د منتهی الجموع به متلبس نه وي، په تاء سره چې بدلیږي په حالت د وقف کښې په هاء سره او دلته کښې دا متلبس ده. په تاء سره چې بدلیږي، په هاء باندې فرازنهٔ جمع د فرزون ده. دا یو مهره او کټه ده، د کیتو د شطرنج نه او دې ته وزیر هم وائي. **سوال**: اما به یا استینافیه وائي او یا به تفصیلیه وائي، که استینافیه وائي، نو مخکښې ترې نه سوال نشته او که تفصیلیه شي، نو مخکښې اجمال نشته. **جواب**: دا تفصیلیه دے کله ته وائي چې مخکښې اجمال نشته، نو مونږ وائو چې اجمال شته، ځکه چې مخکښې ده او دے چې بغیرها او دلته کښې د هغه تفصیل بیانوي په اما فرازنة سره. **سوال**: فرازنة مبتداء ده او منصرف ورله خبر دے. فرازنة مونث دے او منصرف مذکر دے، نو مطابقت راغلې، په مابین د مبتداء او د خبر کښې. **جواب**: دلته لفظ د نوع مقدر دے چې مضاف دے، فرازنة ته، نو مبتداء نوع ده او مذکر دے یا دویم[2] جواب دا دے چې مطابقة په مابین د مبتداء او د خبر کښې مشروط دے په شروط ثمانیه سره چې یو د هغه نه دا دے چې خبر دې مشتق وي، هله مطابقة ضروري دے او دلته کښې خبر مشتق نه دے، چې منصرف دے، که څوک او وائي چې منصرف خو مشتق دے، د انصراف نه لاوته ځکه وائي چې دا مشتق نه دے. جواب دا دے چې دا علم دے او علم په منزله د جامد کښې دے.

درس نمبر ۷۷

وحضاجر علماً للضبع غیر منصرف او حضاجر په حال د کون د ده کښې چې دے علم دے، د پاره د حیوان مخصوص چې هغه ته کوبړ وائي.

ل او مراد زمونږه هغه تا ما چې هغه حاصلیږي ملق نه، په صورت د ها سره په مخته د ادائیگی د وقف کښې. (م.س).

دا غیر منصرف دے، بهرحال په دے عبارت سره مصنف رح دفع د اعتراض کوی۔ **اعتراض** دا وارد یږی چه معتبر او مؤثر په سببیت د منع صرف کښے هغه جمعیة د جمع ده او وزن د صیغه د منتهی الجموع ورلره شرط دے، نو لپکار دا ده چه حضاجر منصرف اوګرځی، ځکه چه په ده کښے جمعیة نشته دے، نو **جواب** اوکړو مصنف رح د دے اعتراض نه چه دا لفظ ((حضاجر)) دے، په حال د کون د دے کښے چه دا علم دے د پاره د حیوان مخصوص، نو دا غیر منصرف دے، ځکه چه دے منقول دے د جمع نه، یعنی دے په اصل کښے جمع دے۔

لكونه منقولاً عن الجمع حاصل د جواب د مصنف رح دا دے چه جمعیت د جمع په دوه قسمه دے، یو جمعیت اصلی دے او بل جمعیت حالی، نو په حضاجر کښے اګر که حالا جمعیة نشته دے، لیکن په اصل کښے په کښے جمعیة شته، ځکه چه دا په اصل کښے جمع د حضجر ده او حضجر عظیم البطن ته وائی، بیا مسمیٰ کړے شو هر یو فرد د دغه جنس نه په حضاجر سره، د وجه د عظیم د بطن نه۔

سوال۔ نشته دے ضرورت په دے اعتبار د جمعیت ته، ځکه چه په دے کښے سببین موجود دی چه یو علمیة دے او بل تانیث دے۔ **جواب**۔ علمیة په دے کښے غیر متقرر دے، ځکه چه هر کله د ده تنکیر راشی نو به کار دا نه چه دے منصرف شی، خو مره د دے نه دا غیر منصرف دے او هر چه دے تانیث، نو هر کله چه دے علم او ګرځیدے د پاره د جنس ضبع، نو د جنس اطلاق په مذکر او په مؤنث دواړو باندے کیږی۔ **سوال**۔ تا چه جمعیة د جمع کښے تقسیم اوکړو په حالی او په اصلی سره، نو لپکار دا ده چه تا دلیل وے چه الجمع شطمان یکون فی الاصل لکه چه ځکه په وصف کښے دلیل شوی دی **جواب**۔ بیا به نو هم دا کیدی لکه چه ځکه په وصف کښے یو اصلی دے او بل عارضی دے، نو دغه شان په جمع کښے هم یو اصلی جمعیت وی او بل عارضی، حالانکه په جمعیت کښے عارضی نشته۔

سوال۔ په حضاجر کښے اګر چه جمعیة حالی نشته، خو اصلی شته، په دے وجه غیر منصرف دے۔ نو به دے نه او بنایم چه نه په کښے جمعیة اصلی وی او نه حالی، بیا به هم غیر منصرف وی، لکه لفظ د سراویل، چه نه په کښے جمعیت حالا شته، نه اصلا۔ **جواب**۔ اوکړو مصنف رح په دے قول سره چه ((وسراویل اذا لم یصرف فهو الاكثر)) او سراویل په هغه صورت کښے چه دا غیر منصرف شو او دا مذهب اکثر د علماؤ دے یا دا چه د غیر منصرف اطلاق په کلام د عربو کښے اکثر او عام دے۔

فقد قيل عجمي حمل على موازنه پس وئیلی شوی دی چه دا لفظ عجمی دے او غیر منصرف ګرځولے شوے دے د وجه د حمل نه په اوزانو د جمع د عربی چه هغه اناعیم مصابیح تنادیل دی۔ پس حاصل د جواب دا دے چه جمعیة د جمع عام دے حقیقتاً وی که حکماً۔ د حقیقتاً مثال خو لکه مصابیح وغیره شو او حکماً هغه چه حقیقتاً خو جمع نه وی، خو د وجه د وزن نه هغه حمل شوے وی په لوړو اوزانو د جمع باندے، لکه سراویل چه حقیقتاً خو جمع نه دے، خو وزن ئے د عربی جموعو په شان دے۔

سوال [1]. پکار دا ده چه اسباب د منع صرف دے لس اوګرځی، یو به په کښے جمعیت د جمع شی او بل حمل په اوزانو د جمع

---

[1] ... تدبیر د سوال مذکور دا دے چه هر کله جمع په دوه قسمه سره ده حقیقتاً او بل حکماً، نو پکار ده د نوره په بل ترتیب،

باندې مستقل اثر لري. **جواب.** اسباب د منع صرف په نحو باندې نه زیاتیږي، ځکه چه دلته کیږي په جمعیت د جمع کښې تعمیم شوې دے، چه دا عام دے، حقیقتاً وي، که حکماً. یعني هر حقیقت دا یو سبب دے، البته تعمیم په کښې وشو.

سوال. نقد قیل اعجمي، اعجمي دا مقوله د قول ده او مقوله د قول جمله وي او دلته مفرد ده. **جواب.** اعجمي دا خبر دے او مبتداء یې محذوفه ده، چه هُوَ دے، یعني هُوَ اعجمي یا هذا اللفظ اعجمي.

وقیل عربي جمع سروالة تقدیراً

دا بله وجه د غیر انصراف د سراویل ذکر کوي، چه بعضې وائي چه دا لفظ د سراویل عربي دے او په دے کښې جمع تقدیري ده، چه دا جمع د سِروالة ده او سِروالة د پرتوګ ټوټې ته وائي. او حاصل د جواب دا دے چه جمعیت د جمع عام دے، حقیقتاً وي که تقدیراً او که اعتباراً، نو سراویل اګرکه جمع حقیقي نه ده، لیکن تقدیراً او اعتباراً جمع ده، ځکه چه هرکله دا لفظ موجود شي په کلام د عربو کښې غیر منصرف او په دے کښې یو سبب موجود نه وو، د اسبابو د منع صرف سوا د جمعیت نه او وزن د جمع بغیر د جمعیة منصرف نه ګرځي، غیر منصرف، نو لپس مقدر شو، په دے کښې جمع تقدیري، چه دا جمع د سروالة ده. وقیل عربي هغه اعتراض مذکور وارد کیږي او هغه یې جواب دے، قیل هُوَ عربيٌ یا هذا اللفظ عربيٌ.

واذا صرف فلا اشکال

او په هغه وخت کښې چه دا سراویل منصرف او لوستلې شي، بیا خو اشکال نشته، ځکه چه دا تعمیمات مونږ په جمع کښې لوګولي، چه عام ده، حقیقتاً وي، که حکماً او تقدیراً. دا خو بیا د ده د پاره او شول، چه سراویل غیر منصرف واقع شوے دے او چه کله دا منصرف شي، بیا په دے خو اشکال نشته[1]. **سوال.** فلا اشکال کښې لا لنفي الجنس دے، او دا تقاضا کوي د نفي د جنس اشکال، حالانکه دلته کښې اشکال وارد دے، هغه دا چه هرکله سراویل منصرف شي، او دے خو په وزن د قنادیل او مصابیح وغیره باندې صادق دے، او هغه د هر منصرف او ګرځي، ځکه چه جمع د سببیت د منع صرف نه او ځي، په سبب د وزن د مفرد سره. **جواب** دا دے چه دلته کښې د لا اشکال نه مراد مطلق اشکال نه دے، بلکه خاص اشکال ترے نه مراد دے، هغه دا چه جمع د سببیة د منع صرف نه په هغه وخت کښې او ځي چه هغه په وزن د اوزانو عربیه باندې راشي، چه هغه مفرد وي او سراویل دا مفرد عربي نه دے، بلکه دا مفرد عجمي دے.

درس نمبر ۷۸

ونحو جوارٍ رفعاً و جراً کقاضٍ

او حکم د مثل د جوارٍ په حالت رفعي او جري کښې په شان د قاضٍ دے، په حالت نصبي کښې خو بالاتفاق غیر

وهلته د بل نسخه ... چه اسباب د منع صرف دو لس اګرکه بعضې جمع حقیقي شي، بل به جمع حکمي شي. ۱۲ (م - س).

[1] اقل استعمال په لفظ د سراویل کښې د انصراف دے، لهٰذا اشکال او اکثر یې کښې د عدم انصراف دے، سره د اشکال نه (م س).

منصرف دے، مراد په مثل د جوارٍ سره هر هغه اسم منقوص دے چه هغه په وزن د فواعل سره وی، لکه جوابی وغیره. چه یائی وی که واوی وی، لکه جوارٍ او دواعٍ شو، چه جوارٍ په اصل کښې جواری وو او دواعٍ په اصل کښې دواعو وو. **سوال**: مصنف رحمه الله مثال د یائی ذکر کړے دے، چه جوارٍ دے او مثال د واوی یې ذکر نه کړو څه وجه ده؟ **جواب**: وجه دا ده چه واوی پس د اعلال نه په شان د یائی جوړیږی، په دے وجه یې واوی ذکر نه کړو. **سوال**: تشبیه د مصنف رحمه الله د جوار د قاضی سره نه ده صحیح، ځکه چه جوارٍ جمع ده او قاضی مفرد دے. **جواب**: دلته تشبیه د جوارٍ د قاضی سره په حکم کښې ده. **سوال**: په حکم کښې هم تشبیه نه صحیح کیږی، ځکه چه حکم په قاضی کښې اتفاقاً دے او په جوارٍ کښې اختلافاً دے. **جواب**: دا تشبیه په صورت کښې ده په دے جاب بیا **سوال** واردیږی، چه تشبیه په صورت کښې هم نه صحیح کیږی، ځکه چه جوارٍ په وزن د فواعل دے او قاضی په وزن د فاعل دے، ځکه چه قاضی په اصل کښې قاضیٌ دے، نو په صورت کښې به څنګ سره تشبیه اشو؟ **جواب**: دلته کښې تشبیه په سقوط د یاء او په ادخال د تنوین کښې ده، په دواړو کښې په آخر کښې یا ساقطه شوی ده او ادخال د تنوین په کښې راغلے دے. په جوارٍ کښې په حالتِ نصبی کښې څه اختلاف نشته، خو په حالتِ رفعی کښې یې درې مذهبه دی، یو مذهب د سیبویه دے، هغه وائی چه جوارٍ منصرف دے په حالتِ رفعی کښې قبل الاعلال او بعد الاعلال دواړو. هرچه دے قبل الاعلال، هغه په دے وجه چه اعلال متعلق په جوهر د کلمې پورے دے او مقدم دے په منع صرف باندې، چه د عوارضو د کلمې نه دے، یعنی د اعلال تعلق په ذات د کلمې پورے دے او د منع صرف تعلق په صفت د کلمې پورے نه دے، بلکه دا په عوارضو پورے دے او ذات مقدم وی په عرض باندې، او هرچه بعد الاعلال دے منصرف دے، نو د وجه د عدم بقا د صیغې د منتهی الجموع نه. پس دا په دواړو صورتونو کښې منصرف او ګرځید ——— دویم مذهب دا دے، چه دا په دواړو صورتونو کښې یعنی قبل الاعلال او بعد الاعلال غیر منصرف دے. هرچه دے قبل الاعلال هغه د وجه د بقا د صیغې د منتهی الجموع نه او هرچه دے بعد الاعلال د دے وجه نه چه المحذوف کالملفوظ، په دے مذهب باندې **سوال** واردیږی چه کله دا غیر منصرف دے، نو تنوین ورباندې ولې راغلے دے؟ حالانکه په غیر منصرف تنوین نه راځی. **جواب**: دا دے چه دا تنوین د اعراب نه دے، بلکه دا تنوین عوضی دے ——— دریم مذهب دا دے، چه قبل الاعلال منصرف دے او بعد الاعلال غیر منصرف دے، هرچه دے انصرف د ده قبل الاعلال هغه په دې وجه چه اعلال متعلق په جوهر د کلمې پورے دے او مقدم دے په منع صرف باندې، چه د عوارضو د کلمې نه دے، او هرچه دے عدم انصراف د ده بعد الاعلال هغه په دې وجه چه المحذوف کالملفوظ. په دے مذهب باندې **سوال** واردیږی چه قبل الاعلال تا دا ولې غیر منصرف نه کړو، په حال کښې چه حقیقتاً صیغه د منتهی الجموع باقی ده او بعد الاعلال دې غیر منصرف او ګرځوو چه حقیقتاً

ل یعنی په ذات د کلمې پورے دا متعلق دے الخ (م-س).

په کښې صیغه د منتهی الجموع باقي نه ده، د اخو ګویا تاحقیقت ترکیب کړو او څ مجازنه د صیرورة اکړو- **جواب** . دا دے قبل الاعلال په هغه کښې مانع موجود و، چه هغه اعلال لکه ابدال وو او بعد الاعلال مانع نه وو موجود لو هغه مجاز، چه بغیر د مانع نه دی بهتر دے، د هغه حقیقت نه چه سره د مانع نه وی۔

الترکیب ربل سبب د هغه اسبابو نه چه معتبر دے، د پاره د سببیت د منع صرف هغه ترکیب دے، ترکیب په **لغت** کښې نوم دے یو ځائے کولو ته وائی او په **اصطلاح** کښې جعل الکلمتین او الکثر کلمة واحدة من غیر حرفیة جزء، یعنی ګرځول د دوؤ کلمتینو یا د زیاتو کلمه واحده، بغیر د حرفیة د جزو نه- **سوال**. زه به تاته او بنایم چه لږ اسم به وی، ترکیب به په کښې وی، سره د علمیة نه او هغه به غیر منصرف وی، لکه النجم شو به یو په کښې علمیة دے او بل ترکیب ځکه چه الف لام څان له کلمه ده- **جواب** . معلومه دیګی دی چه مراد په ترکیب سره جعل الکلمتین او الکثر کلمة واحدة من غیر حرفیة جزء او دلته به دے کښې حرفیة د جزو داخلے دے۔

شرطه العلمیة شرط د پاره د تاثیر د ترکیب په سببیت د منع صرف کښې هغه علمیة دے، د پاره د دے چه دا لازم او کرځی د دوئ سره ځکه چه اعلام محفوظ دی، د تغیر نه بقدر الامکان۔

وان لایکون باضافة او بل شرط دا دے ورلوه چه دا مرکب اضافی نه وی، ځکه چه اضافت منافی دے، د منع صرف سره، ځکه چه دے غیر منصرف لره منصرف کوی ـ

سوال. لکه چه ځنګه شرط په ترکیب کښې دا دے، چه دا دے مرکب اضافی نه وی، لو دغه شان مرکب توصیفی به هم نه وی، لو تا ولے مرکب اضافی ذکر کړو او توصیفی دې ذکر نه کړو؟ **جواب** دا دے چه مرکب توصیفی دې ذکر نه کړو د وجه د اکتفاء نه په مرکب اضافی باندې، ځکه چه دا دواړه اقسام د مرکب تقییدی دی او د مرکب تقییدی هغه ته وائی چه جزء ثانی قید وی د پاره د جزء اول یعنی بخواد د ماقبل د جزء ثانی نه، په جزء اول کښې عموم وی، خو چه کله ورسره جزء ثانی راشی لو بیا په کښې خصوص پیدا کیږی۔ پس که د دے دواړو جزئینو په مابین کښې نسبت د اضافت وو، لو مرکب اضافی بوی، لکه غلام زید او که نسبت د صفت وو، لو مرکب توصیفی به وی۔

ولا اسناد او بل شرط (عدمی) ورلوه دا دے چه په دے کښې به اسناد نه وی، ځکه چه اعلام مشتمله په اسناد باندې دا د قبیلے د مبنیاتو نه دی او د انصراف او عدم انصراف دا د اقسام معرب نه دی **سوال** . چه ځنګه شرط په ترکیب کښې دا دے چه په دے کښې دا اسناد نه وی، یعنی ان لایکون اسنادیا لو ما خو هم په کښې شرط دے چه مرکب صوتی او مرکب تعدادی دې هم نه وی، لو تا ولے دا لیونه کړو؟

جواب . دلته کښې مصنف اکتفاء او کړه په مرکب اسنادی باندې، ځکه چه مرکب تعدادی او صوتی د مبنیاتو نه دی۔ پس د دے نه زده کړه دا خبره چه مرکب په شپږ قسمه دے، مرکب[1] توصیفی، مرکب[2] اضافی، مرکب[3] اسنادی، مرکب[4] صوتی، مرکب[5] تعدادی او مرکب[6] امتزاجی او معتبر په موږ کښې د پاره د تاثیر په سببیت د منع صرف کښې هغه مرکب امتزاجی دے او دا لو ځکه نه دی، چه مرکب اضافی غیر منصرف، منصرف ګرځوی او مرکب توصیفی


داخل دے په مرکب اضافی کښې ځکه چه ما موارد اقسام د مرکب تقییدی دی او مرکب اسنادی د تعلیل د مبنیا تو نه دے او منصرف او غیر منصرف د اقسام د معرب نه دی او مرکب تعدادی او صوتی داخل دی په اسناد کښې۔ پس معتبر کړے شو مرکب امتزاجی لہ۔

مثل بَعْلَبَكَّ یعنی مثال د ترکیب په مثل د بعلبک دے، مثل مضاف دے او بَعْلَبَكَّ مضاف الیه دے، مضاف سره د مضاف الیه نه خبر د مبتدا محذوف دے، ای هو مثل بَعْلَبَكَّ۔ بعل د بت او د صنم نوم دے او بَكَّ د صاحب بت یعنی د سړی نوم دے۔ پس د څه نه دا علم او ګرځولے شو د پاره د بلد مخصوص په شام کښې نو په دے کښې دوه سببه موجود شو، یو علمیة او بل ترکیب نو حکم په دے د غیر منصرف جاری کړے شو۔

درس نمبر ۲۹

الالف والنون بل سبب د هغه اسبابو نه چه معتبر دے، د پاره د سببیت د منع صرف هغه الف او نون چه زیات کړے شوی دی په آخر د اسم کښې او یا د دوی تشبیه را غلی ده د الفین د تانیث سره په عدم قبولیة د تا د تانیث کښې۔ سوال. اسباب د منع صرف خو ټول فروع دی۔ پس الف او نون د چا د پاره فرع دی۔

لہ یعنی شه ماده۔



جواب: په فرعیة د دې کښې اختلاف دے، بعض علماؤ وائي چه مانوع د منونٌ علیه دی او بعض وائي چه د دې مشابهت د الف نون د تانیث سره راغلے دے، په عدم قبولیة د تاء کښې، نو دا مشبه او ګرځیدل او مشبه فرع د مشبه به دی۔ **سوال:** اسباب د منع صرف د تبدیل کولو صلاحیت نه دی او دا الف او نون خو ذات دی، نو شمول د دوئ د اسبابو د منع صرف نه صحیح اوښه ګرځیدل۔ **جواب:** په شمول د الف او نون مزیدتین د اسبابو د منع صرف نه د وجه زیادت او د وجه د مشابهت نه دی لکه ذات او مشابهت د تبدیل د ارصلاحیت دی۔

ان کانتا فی اسم

که چرته دا دواړه راغلی وی په اسم کښې۔ **سوال:** مقابله ستا د اسم د صفت سره (په دې دوسته ولي او فی صفة) نه صحیح کیږي، ځکه چه اسم هُم مادل علی معنیً ته وائي او صفت هُم مادل علی معنیً ته وائي۔ **جواب:** د اسم د پاره یو معنیٰ عامه ده چه مقابل د حرف او د فعل دے، او بله معنیٰ خاصه ده چه مقابل د صفت دے، نو چه کله دے په مقابله د صفت کښې راشي، نو معنیٰ خاصه به ترې مُراد وي، نو علته کښې مراد د اسم نه اسم ذاتي غیرصفتي دے او د صفت نه مراد اسم صفتي مشتقي دے۔ پس معنیٰ دا شوه که چرته دا دواړه راغلي وی په اسم ذاتي کښې، نو اسم په دریو معنو سره راځي یو مقابل د فعل او حرف؛ دویم مقابل د لقب او کنیت؛ دریم په مقابله د مهمل کښې او څلورم په مقابله د صفت کښې۔

فشرطه العلمیة کعمران

پس شرط د هغه اسم چه مشتمل دے په الف او نون مزیدتینو باندې هغه علمیت دے یا شرط دے، د سبب په تاثیر د منع صرف کښې هغه ګډول د دغه دی علم، د پاره د دې چه دے لازم او ګرځي د کلمې سره ځکه چه اعلام محفوظ وي د تغیرونه بقدر الامکان۔ **سوال:** مخکښې تا الف او نون ذکر کړي دی او په شرطه کښې دو ضمیر د مفرد راجع کړے دے، نو مطابقت رانغے په مابین د راجع او د مرجع کښې۔ **جواب:** دا ضمیر راجع دے اسم ته چه مشتمل دے په الف او نون مزیدتین باندې او یا دا چه دا ضمیر راجع دے سبب ته، ځکه چه دا دواړه یو سبب دے۔

سوال: پکار دا ده چه په کانتا کښې هُم ضمیر د مفرد راوړے وے او په ځائے د کانتا دو کانَ ویلے وے، نو خلاصه د سوال دا شوه چه یا به دې په دواړو کښې ضمیر د تثنیه معتبر کړے وے او داسې ویلې به وو، چه "ان کانتا فی اسم فشرطهما الخ" او یا به دې په دواړو کښې مفرد ضمیر راوړے وو او داسې ویلی به دې وو، چه "ان کانَ فی اسم فشرطه الخ"۔ **جواب:** الف او نون مزیدتین دوه اعتباره دی، یو اعتبار د ذات دے او بل اعتبار د سببیت دے، په اعتبار د ذات سره خو تثنیه دی او په اعتبار د سببیت سره سبب واحد دے، نو مصنف د دواړو اعتبارونو لحاظ اوساتلو، لکه عمرانَ شو۔ دا مثال د هغه اسم ذاتي دے چه الف او نون په کښې مزیدتین دی۔ عمرانَ آبادیٔ ته وائي، بیا دا علم راغلے دے، د پاره د پلار د موسیٰ او د پلار د مریم، لکه په قرآن کښې راغلی دی، " واذ قالت امرأة عمران رب انی نذرت لک ما فی بطنی"۔

او صفة فانتفاء فعلانة

او که چرته دا الف او نون مزیدتین راغلی وی په اسم صفتي

کښې نو بیا شرط د منع صرف ورلوه دا دے چې مؤنث د دهٔ به په وزن د فعلانة نهٔ راځي۔ مُراد فعلانة نا دے، چې مؤنث د دهٔ به قابل د پاره د تاء منوی، ځکه چې هر کله مشابهت د دوئ راغلے دے د الفینو د تانیث سره په عدم قبول د تاء کښې نو په مؤنث د دوئ کښې به تاء د تانیث نهٔ راځي۔ پس دا شرط به حاصلیږي په انتفاء د فعلانة سره (دا شرط ورلوه عدمي دے)۔ **سوال**۔ نا انتفاء فعلانة دا ورلوه جزاء ده، ځکه چې فاء په کښې جزائیه دَ او شرط ورلوه الکانتا الخ دے، نو قائلون دا دے چې جزاء خو جمله وي او دلته جزاء مفرد ده، ځکه چې انتفاء مضاف او فعلانة مضاف الیه دے، مضاف سره د مضاف الیه نه مفرد دے۔ **جواب**۔ دا جُمله ده او مبتدأ ورلوه مقدره ده، چې نو شرطه انتفاء فعلانة۔ **سوال**۔ فعلانة به یا په فتح د فاء سره وائے او یا په ضم د فاء سره، که په فتح د فاء سره وائے، نو پکار دا ده چې عریانا دِ غیر منصرف شي، ځکه چې مؤنث د دهٔ عریانة دے، په ضم د فاء سره او که په ضم د فاء سره وائے، نو پکار دا ده چې ندمان غیر منصرف شي، ځکه چې مؤنث د دهٔ ندمانة دے، په فتح د فاء سره۔ **جواب**۔ مُراد په فعلانة[1] سره نا دے، چې په هغه کښې به تاء د تانیث منوی وي برابره خبره ده، چې فاء په کښې مفتوح وي، که مضموم وي۔

وقیل وجود فعلیٰ الاجا ویلي دي چې شرط په تاثیر د منع صرف کښې د الف او نون مزید تېنو په اسم صفتي کښې هغه نا دے، چې مؤنث د دهٔ به په وزن د فعلیٰ وي، نو د دوئ په نزد بانډِ دا شرط وجودي دي ځکه چې الف او نون مزید تېن مشابهت راغلے دے، د الفینو د تانیث سره په عدم قبول د تاء تانیث کښې او چې هر کله په دے کښې وجود د فعلیٰ شرط شو، نو دا یقیني خبره شوه، چې انتفاء د فعلانة یعنی عدم د تانیث په کښې راغلو۔

ومن ثم اختلف في رحمٰن دون سکران وندمان او د دے د وجود د اِختلاف نه په شرط کښې اِختلاف واقع شوے دے، په انصراف او عدم انصراف د رحمٰن کښې (یعنی په لفظ د رحمٰن کښې) بناء په منهب اوّل بانډِ غیر منصرف دے، ځکه چې شرط په کښې موجود دے، چې هغه انتفاء د فعلانة دے، یعنی مؤنث د دهٔ به په وزن د فعلانة نه وي او دلته کښې خو دا صفت خاصه دے، د ذات د باري تعالیٰ او نو لئ مسٹی کړے هغه ذات په تذکیر او په تانیث سره، نو د هغه د پاره مؤنث نِشته او په نزد د قیل بانډِ دا منصرف دے، د وجه د انتفاء د شرط د عدم انصراف نه، ځکه چې د هغوی په نزد شرط دا دے چې وي به مؤنث د دهٔ په وزن د فعلیٰ بانډِ او د دے لفظ د پاره د سره مؤنث نِشته، نو منصرف شو او اِختلاف نه دے کړے شوے، په لفظ د سکران کښې په عدم انصراف د دهٔ کښې په مذهبینو کښې۔ بنا په منهب اوّل په کښې شرط د عدم انصراف موجود دے، چې هغه انتفاء فعلانة دے او بنا په

---

[1] مراد په فعلی سره فعلیٰ صفتي دے۔ (م۔س)۔

مذهب ثاني په کښې هم شرط د عدم انصراف موجود دے، چې هغه وجود د فعلیٰ دے ځکه چې مؤنث د دهٔ سکریٰ راځي، په وزن د فعلیٰ باندې، ځکه چې هر کله مؤنث د دهٔ په وزن د فعلیٰ راغې - پس انتفاء د فعلانة په کښې به خپله راغله او دغه شان اختلاف نه دے کړے شوے په انصراف د ندمانٍ کښې، دا بالاتفاق منصرف دے، هر چې دے بنا په مذهب اول هغه د دې وجې نه چې د دې مؤنث فعلانة راغلے دے چې ندمانة دے او شرط په کښې موجود نه شو چې هغه انتفاء د فعلانة دے او هر چې دے مذهب ثاني د هغوئ په نزد په کښې هم شرط د عدم انصراف نه دے موجود، چې هغه وجود د فعلیٰ دے، یعنی هغوئ وائي چې مؤنث د دهٔ په وزن د فعلیٰ راځي، او دلته مؤنث د دهٔ په وزن د فعلانة راغلے دے، نه په وزن د فعلیٰ باندې -

فائده: - زده کړه دا خبره چې د ندمان دوه[۲] معنې دي، یو د منادمت نه دے چې معنیٰ یې ندیم ده او ندیم خاص هغه دوست ته وائي چې هغه د شرابو ملګرے وي، نو په دې معنیٰ سره دے منصرف دے ځکه چې مؤنث د دهٔ په تا سره راځي، چې ندمانة دے او بل ندمان د ندم نه دے، چې معنیٰ یې پښېماني ده او مؤنث د دهٔ په الف سره راځي او په تا سره نه راځي، نو په دې معنې سره دے غیر منصرف دے او د دې فرق ته اشاره کړې ده، شاعر په لاندې شعر کښې ویلې دي چې

ندمان منصرف که بود از منادمت ... تانیث او بتا بود و معنیش ندیم!
ور از ندم بود به الف دان مؤنثش ... قائل به انصراف شدن غیر مستقیم.

درس نمبر ۸۰

وزن الفعل شرطه ان یختص[۱] به کشمر وضرب

بل سبب د هغه اسبابو نه چې معتبر دے د پاره د سببیت د منع صرف هغه کېدل د اسم دي، موزون په هغه وزن باندې چې هغه شمېرلے کیږي د اوزانو د فعل نه، چې مخصوص په فعل کښې ابتداءً موجود وي او په اسم کښې پس د نقل نه. **سوال**: شمېرل ستا وزن فعل لره د اسبابو د منع صرف نه نه صحیح کیږي، ځکه چې منصرف او غیر منصرف د اقسامو د معرب نه دي او معرب قسم دے د اسم نه، نو څنګه به وزن فعل تاثیر اوکړي په اسم کښې؟ **جواب**: مراد په وزن فعل سره کېدل د اسم دي موزون په هغه وزن چې هغه شمېرلے کیږي د اوزانو د فعل نه. **سوال**: په وزن الفعل کښې ساتل لامحاله دے چې دا فائده کړي اختصاص. پس روستو د وزن الفعل ذکر د یختص نه بې فائدې او مستدرک دے. **جواب** دا دے چې دلته اضافت د وزن فعل لامیه ده د پاره د مجرد نسبت او تعلق دے. **سوال**: دا وزن د فعل به یا په

---

۱ - ان یختص به کشمر وضرب یعنی شرط د وزن فعل په تاثیر د سببیت د منع صرف کښې هغه دا دے چې د وزن به خاص

[illegible]

اِسم کښې موجود وی آو یا به نه وی - که موږ بیا دا د خواصو د فعل نه نه شو ځکه چې خاصه وائی چه مَایوجد فیه ولا یوجدُ فی غیرہٖ ته لو دلته کښې خو دا موجود شو په غیر کښې چه هغه اِسم دے او که چرے موجود ئے نه وائی نو شمول د ده د اَسبابو د منع صرف نه نه صحیح کیږی - **جواب** . دلته دا وزن د فعل به یا په اِسم کښې موجود وی یا به نقل شوے وی د فعلیة نه اسمیة ته - **سوال** . نه منو دا خبره چه دا وزن به ابتداءً په فعل کښې وی یا به نقل شوے وی اِسم ته لکه بعض اوزان شلم چه دا اوزان د فعل دی او ابتداءً موجود هم وی په اسمو کښې .
جواب . دلته مراد په اختصاص سره اختصاص دے په وزن عربی په لغت عربی کښې او دا اسماء د لغت عجمی دی - مثال ئے لکه شَمَّرَ او ضُرِبَ چه دا علمین لوګی د چا د پاره . شَمَّرَ دا لوم دے د نوس د حجاج بن یوسف او بعضو شان چه ضوب هو علم او ګرځی -

او یکون فی اوّله زیادة کزیادته — او که چرته کښې اختصاص د دے وزن د فعل سره نه وی راغلے نو بیا دِ وی په اوّل د ما یکون علی وزن الفعل کښې زیادة د یو د حروف اَتین نه په شان د زیادة په فعل کښې - **سوال** بیا اوله کښې ضمیر خاته راجع دے ځکه که چرے وزن فعل ته راجع شی نو دا وزن فعل خو یو معنیٰ مصدری ده ، د هغې د پاره اوّل آخر نشته - **جواب** . دا ضمیر راجع دے ما یکون علی وزن الفعل وته ، لو مجاز دے (او دلته کښې صنعت استخدام دے اوّله کښې ضمیر ما یکون علی وزن الفعل ته راجع دے او په کزیادته کښې نعل ته) -

غیر قابل للتاء — په حال د کون د دے وزن فعل کښې چه دا به قابل نه وی د پاره د تاء ما مسمی اصلی یعنی چه عارضی نه وی او مراد په تاء سره هغه تاء مدوره ده چه بدلیږی په حالت د وقف کښې په هاء سره ځکه چه تاء متحرکه د خواصو د اِسم نه ده او دا ځکه که چرے تاء په کښې راشی نو دا قوی کوی جهت د مشابهت د اِسم او ضعیف کوی جهت د مشابهت د فعل چه دا نقصان سره کوی سبب د وزن فعل ته - **سوال** . نه به درته اَربَعَاتُم چه غیر منصرف به وی او تاء به په کښې راغلی وی یعنی وزن فعل به وی لکه ارْبعٌ شو په حین د علمیت کښې په دے کښې تاء راځی ، لکه اربعة شو - **جواب** . مراد په تاء سره تاء قیاسی ده او دا تاء غیر قیاسی ده - **سوال** . اسودة غیر منصرف دے یعنی په کښې وزن فعل دے او یو وصف دے او سود و دے نه قابل د تاء دے - **جواب** . مُراد په غیر قابل التاء سره هغه تاء ده چه هغه اصلی وی او دا تاء عارضی ده او دلته کښې اسود د جهت د وصفیت اصلی نه غیر منصرف دے او په وصفیت اصلی کښې په دے کښې تاء نشته ځکه چه مؤنث د ده سوداء راځی په هغې کښې تاء نشته -

ومن ثم امتنع احمر وانصرف یعمل — او د وجه د اشتراط د عدم قبولیة د تاء نه ممتنع کړے شوے دے - انصراف صرف د اَحْمَرَ ځکه چه په دے کښې یو زیادت راغلے دے په شان د فعل او بل عدم قبولیت د تاء دے چه مؤنث د دے په راځی د

فعلاء حمراء راشي او د وجه د فوات د شرط نه منصرف دے، لعمل ځکه چه دے قابل دے، د پاره د "تاء" مؤنث د دے یعملة راشي، لکه عرب وائي، ناقة یعملة۔

فائده :- زده کړه دا خبره چه بعض اوزان مشترک دي، په مابین د فعل او اسم کښې، لکه ماضي د ثلاثي مجرد واحد مذکر غائب، لکه فعل مد ے په وزن د اسم دے، شجر او حجر ــــ دریم مضارع د ثلاثي مجرد واحد مذکر غائب، لکه یزید دا اسم هم دے او دا مضارع هم ده ــــ څلورم د باب افعال دے په وزن اسم، لکه اکرم- احمد وغیره او د رباعي مجرد ماضي، لکه دحرج د دے په وزن بانډ، لکه جعفر اسم دے۔

درس نمبر ۱۸

ومافیه علمیةٌ مؤثرةٌ اذا نکّر صرف

هرکله چه مصنف فارغ شو د بیان د اسبابو د منع صرف نه، نو شروع یے اوکړه په دے خبره کښې، چه غیر منصرف څنګے منصرف کیږي- پس دے وئیل چه وما الخ۔

قاعده :- هغه اسم یا هغه غیر منصرف چه ثابت وي، په هغه کښې علمیت هے علمیة چه مؤثر وي، د جهة یا په طریق د سببیة نه یا مؤثر وي د جهة د شرطیة نه، علمیة چه مؤثر وي د جهة د سببیة نه. هغه ته وائي چه علمیة په کښې مؤثر بنفسه وي او شرط نه وي، د پاره د تاثیر د سبب آخر، لکه په عدل او وزن فعل کښې او علمیة چه مؤثر وي د جهة د شرطیة نه دے نه وائي چه علمیة مؤثر بنفسه وي او شرط وي د پاره د تاثیر د سبب آخر، لکه د تانیث په الفنون او د جمع نه علاوه په باقي نورو اسبابو کښې. او س زده کړه دا خبره چه علمیة به خالي نه وي یا به مؤثر وي په سببیت د منع صرف او یا به نه وي، که مؤثر نه وي، په سببیة د منع صرف کښې، لکه په الفنون د تانیث کښې او په جمع کښې ځکه چه مالي سبب قائم مقام د سببونو دے، او که چرته مؤثر وي، نو بیا به خالي نه وي یا به مؤثر په طریقة د سببیة سره وي، چه علمیة په کښې مؤثر بنفسه وي او شرط نه وي، د پاره د تاثیر د سبب آخر، لکه په عدل او وزن فعل کښې او یا به مؤثر وي، په طریقة د شرطیة سره، چه علمیة په کښې مؤثر بنفسه وي او دے شرط وي، د پاره د تاثیر د سبب آخر، لکه په باقي اسبابو کښې۔

اذا نکر صرف

چه علمیة د هغه زائل شي، په وخت د تنکیر کښې، نو دا به منصرف کیږي، تنکیر د اعلامو به خلور طریقو سره راځي، چه ذکر د علم او شي او مراد ترے نه صرف مسمّٰی وي یا مراد ترے نه جماعتونه وي، لکه جاءني زیدٌ ورأیتُ زیداً آخر او یا لکه لفظ د فلان، چه د جماعة په هر فرد د دے اطلاق کیږي ــــ دریم دا چه ذکر د علم اوشي او مراد ترے نه وصف مشهور د علم وي، لکه لکلِّ فرعون موسیٰ۔ دلته کښې ذکر د فرعون او د موسیٰ دے چه دا اعلام دي، لیکن مراد ترے نه هغه صفات مشهوره د دوی دي، چه فرعون په صفت د ابطال د حق مشهور دے او موسیٰ په صفت د احقاق د حق مشهور دے. په دے وجه د دے مطلب دا دے چه لکلِّ مبطل محقٌ ــــ دریم دا چه د علم تثنیه یا جمعیة راشي، لکه جاءني زیدان جاءني زیدون ــــ څلورم دا چه په معرفة بانډ الف لام داخل شي ــــ

لما تبیّن من انها لا تجامع موثرة الا ماهی الخ

دَ دې دَ هغه نه چه ظاهر شرے دے په دلیل التزامی سره، چه هغه دا دے چه په تحقیق سره دا علمیت نه جمع کیږی دَ یو سبب دَ اسبابو سره په حال دَ دې علمیت کښې چه موثر وی، مګر هغه چه دا علمیت په کښې شرط وی۔ مطلب دا چه دا علمیت په کښې ثابت وی او موثر وی په طریقه دَ شرطیت سره چه دے شرط وی دَ بل دَ تاثیر دَ سبب لخ۔

شرط فیه الا العدل ووزن الفعل

او نه جمع کیږی، دا علمیت په حال دَ ګرزیدو دَ ده کښې چه دا موثر وی غیر دَ هغه نه چه شرط وی، په دې کښې مراد دَ عدل او وزن فعل نه۔ مطلب دا چه دا علمیت موثر بنفسه خو وی ولې دے شرط نه وی، دَ پاره دَ تاثیر دَ سبب آخر، لکه په عدل او وزن فعل کښې یعنی دا......علمیت جمع کیږی، دَ هغه اسبابو سره، چه په چا کښې موثر وی شرطاً او موثر وی سبباً، په دغه عبارت کښې من انها کښې من بیانیه دے، دَ پاره دَ "ما"۔ **سوال**۔ په دې عبارت کښې مستثنیٰ منه واحد دے او مستثنیٰ متعدد ده او دَ مستثنیٰ منه واحد نه مستثنیٰ متعدد نه بغیر دَ حرف عاطفه نه راغلی ده او دا ناجائز ده، ځکه چه په دې عبارت کښې الا متعدد شو راغلے دے او حرف عاطفه په کښې نشته۔ **جواب**۔ دا استثناء دَ دوو نه راغلی ده او مستثنیٰ هم دوه دی۔ پس تقدیر دَ عبارت به داسې شی چه "من انها لا تجامع سببا من الاسباب حال کونها موثرة الاسباً هی ای العلمیة" او دغه شان دَ الّا دَ پاره مستثنیٰ منه په الا العدل کښې هغه مقدره ده، تقدیر داسې دے چه "ولا تجامع موثرة غیرها هی شرط فیه الا العدل الخ۔

وهما متضادان الخ

او دا دواړه یعنی عدل او وزن فعل دَ یو بل ضد دی، یعنی دواړه په یو اسم کښې نه جمع کیږی۔ په دې عبارت سره مصنف دفع دَ سوال کوی۔

سوال دا وایی چه په یو اسم کښې علمیت عدل او وزن فعل دی او په کار دا دی چه کله علمیت ترې هم زائل شی نو دا وغیر منصرف او ګرځی، ځکه چه دا سببه عدل او وزن فعل موجود دی، په دې کښې او مصنف **جواب** او کړو چه هما متضادان، چه دا دواړه په یو اسم کښې نه جمع کیږی، ځکه دا دَ یو بل ضد دے او اجتماع دَ نقیض محال ده او دا په وجه متضادین دی، چه اوزان دَ عدل غیر قیاسی او محدود دی او اوزان دَ وزن فعل قیاسی او استقرائی دی، ځکه چه اوزان دَ عدل هغه شپږ دی، لکه شاعر وائی چه:۔

> اوزان عدل را بتمامی تو شش شمر مَفْعَلُ فُعَلُ مثالها مثلث عمر
> فعل است مثل اُمس وفعال است چون ثلث مثل فعال دان تو قطام وفعل سحر

له بلکه ډ پښتو معنی:۔

> مَفْعَلُ لکه مثلث فَعَلِ اَمْسِ دوهم فُعَلُ وایه ثالث ورله مثال راوړه عمر
> رابع فُعَال ثلث خامس فَعَالِ قطام فَعَلُ وایه سادس ورله مثال راوړه سَحَرُ

درس نمبر ۸۲

فلا یکون معها الا احدهما

پس نه به وی، هغه سبب چه مشروط وی سره د علمیت لیعنی نه به وی هغه سبب چه علمیت په کښے شرط نه دے، سره د علمیة نه مګر یو د دے دواړو نه چه عدل دے او وزن فعل دے. دلته دا فا تفریعیه ده، یعنی چه هر کله عدل او وزن فعل د لوبل نقیض او مخالف دی نو د علمیة سره به نه جمع کیږی مګر یو په دوی کښے چه یا به علمیت او عدل لری یا به علمیة او وزن فعل وی او په دے دواړو اسبابو کښے علمیت شرط نه دے. **سوال**. منفی په لایکون سره به یا سبب مطلقه وی او یا به دا اسباب مذکوره (چه عدل او وزن فعل دی) وی. که سبب مطلقه وی، نو دا کذب دے صریحاً. معنی به داشی چه یو سبب به هم د علمیت سره نه جمع کیږی، سوا د دے دواړو نه او که اسباب مذکوره وی، نو لازمیږی نفی د شئ د تخیل نفس نه او دا باطل دے. **جواب**. دلته منفی نه مطلق سبب مطلقه دے او نه اسباب مذکوره دی، بلکه منفی دلته کښے هغه سبب دے چه علمیت په کښے غیر مشروط دے.

فاذا نکر بقی بلا سبب او علی سبب واحد

هر کله چه منکر کړے شی، هغه اسم چه علمیة په کښے مؤثر دے، نو پاتے به شی، دا غیر منصرف بغیر د سبب نه که چرته علمیة په کښے مؤثر وی په طریقه د شرطیه سره، حکمه چه دا علمیة لوګی شے دے، شرط د بله د تاثیر د سبب آخر نو هغه سبب به هله مؤثر وی، چه علمیة ورسره وی، هر کله چه علمیة ترے زائل شی نو دے باقی پاتے شو بلا سببه، حکه چه په انتفاء د شرط سره انتفاء د مشروط راځی او یا به باقی پاتے شی، سره د سبب واحد نه. که چرته دا علمیة په کښے مؤثر وی، په طریقه د سببیت سره. پس هر کله چه علمیة ترے زائل شو، نو یو سبب پاتے شو او یو سبب کافی نه دے، د پاره د منع الصراف. **سوال**. علمیة شرط دے په تانیث د طلحة کښے، حالانکه تانیث ترے نه نه زائلیږی، په زوال د علمیة سره. **جواب**. مراد په زوال سره زوال د وصف د سبب دے، نه د ذات د سبب او وصف د سبب زائلیږی، په زوال د علمیة سره.

وخالف سیبویه الاخفش فی مثل احمر علما

او مخالفت کړے دے سیبویه د اخفش نه په مثل د احمر کښے. مراد د احمر نه هر هغه اسم دے چه وصفیة په ده کښے ظاهر وی، مخکښے د علمیة نه برابره خبره ده چه په وزن دا فعل وی لکه احمر او یا په وزن د فعلان وی لکه سکران. پس هغه خلک اختلاف په احمر کښے دے په مابین د سیبویه او د اخفش کښے دغه شان اختلاف د دوی ثابت دے په سکران کښے په حال د کون د دے احمر کښے چه دے علم واقع شوے وی. اخفش دا لقب دے او مشهور نوی چه دا شاګردان د سیبویه. اخافش درے دی. یو استاذ د سیبویه دے، دویم شاګرد د سیبویه او دریم معاصر د سیبویه، چه هغه نه د سیبویه استاذ وو او نه شاګرد. دلته کښے د وینا اخفش نه مراد شاګرد د سیبویه مراد دے. **سوال**. په خالف سیبویه الاخفش کښے نسبت د مخالفت ... دے، د ...

اؤ د اسود ادب اؤ غیر مستحسن دے۔ **جواب**. دلته شاګرد د قاعدے موافق روان دے اؤ استاذ د قاعدے موافق نه دے روان، په دے وجه ورته نسبت د مخالفت اوکړے شو۔ اخفش والی وائی چه مثل د احمر کښے چه کله علمیت زائل شی په تنکیر سره، نو دا به منصرف اوګرځی اؤ سیبویه ...... وائی چه په احمر کښے کله علمیت زائل شو په تنکیر سره، نو نشته دے یو مانع د اعتبار د وصفیت اصلی نه، نو پس دا به غیر منصرف شی، لکه په احمر کښے چه کله علمیت زائل شو، نو یو په کښے وصفیت اصلیه ده اؤ بل په کښے وزن فعل دے۔ پس دا غیر منصرف شو بناء په مذهب د سیبویه۔ **سوال** وارد یږی چه کوم شان مانع نشته په اعتبار د وصفیت اصلی باندے، نو هغه شان باعث نشته په اعتبار د وصفیت اصلی باندے، ځکه چه اصل په اسماء کښے انصراف دے، نو ته ولے دا غیر منصرف ګرځوے؟ **جواب**. باعث شته دے په اعتبار د وصفیت اصلی باندے، چه هغه قیاس دے په اسود اؤ ارقم باندے، چه په هغوی کښے وصفیت اصلیه معتبر کړے شوے ده، نو په دے کښے هم معتبر کړے شی بنا په مذهب تحقیق باندے فی مثل احمر ګویا دا استشاره د ماقبل طالبطی نه چه ده وئیلی دی چه وما فیه علمیة مؤثرة اذا نکر صرف الا فی مثل احمر الخ۔

اذا نکر اعتبارا للصفة الاصلیة بعد التنکیر

(په حال د کون د دے احمر کښے چه دے علم وی) په هغه وخت کښے چه زائل شی علمیت د ده په تنکیر سره۔ پس دا غیر منصرف دے په نزد د سیبویه باندے۔ د وجے د اعتبار د سیبویه نه وصفیت اصلیه لره۔ پس د تنکیر د ده نه، اګرکه علمیت زائله شو خو بیا هم په کښے سببین موجود دی، چه یو وصفیت اصلیه دے اؤ بل وزن فعل دے۔ **سوال**. اخفش مرفوع اووایه اؤ دا به فاعل شی د پاره د خالف اؤ سیبویه به منصوب شی بناء بر مفعولیة، نو استاد د مخالفت به استادنه راننه شی اؤ تقدیر د سیبویه به په اخفش باندے اوکړی (په مفعول دے) د وجه د لحترام نه شی۔ **جواب**. اعتبارا مفعول له دے اؤ په تقدیر د للام سره دے، چه ماکله منصوب شی، نو دا به مشروط وی په شروط ثلاثة سره، یو شرط په کښے دا دے چه فاعل د مفعول له اؤ فعل د مفعول له به واحد وی، نو دلته د اعتبارا د پاره فاعل خو سیبویه دے اؤ کله چه د خالف فعل لره فاعل اخفش شی، نو دا به مخالفت راشی، په مابین د فاعل د مفعول له اؤ د فاعل د فعل کښے اؤ مونږ خو وئیلی دی چه د دواړو فاعل به یو وی۔

ولا یلزمه باب حاتم لما یلزم من اعتبار المتضادین فی حکم واحد.

اؤ نه لازمیږی په سیبویه د اعتبار د وصفیت اصلیه نه په احمر کښے اعتبار د وصفیت په باب د حاتم کښے د وجے د اعتبار د متضادینو نه (یعنی د دواړو وصفینو متضادینو) په یو اِسم غیر منصرف کښے، چه هغه یو وصفیت دے اؤ بل علمیت دے اؤ دا ځکه متضادین دی، چه وصف دلالت کوی په ذات مبهمه باندے اؤ علمیت دلالت کوی په ذات معینه باندے اؤ دا دواړه د یو بل ضد دی اؤ په یو اسم کښے اجتماع د

نقيضين لرانه ده. مراد په باب د حاتم سره هغه علم دے، چه هغه په اصل کښې وصف وی سره د بقاء د علميت نه، حاتم واصفت دے د پاره د شهور سخي، په حاتم طائی دے. وَلَا يَلْزَمُهُ دا اعتراض دے، د جانبه د اخفش نه په سيبويه باندے چه هر کله تا اعتبار د وصفيت اصلي اوکړو په احمر کښې. پس د نامله کيدو د علميت نه، لويکار دا چه دا اعتبار ته په حاتم کښې هم اوکړے. پس جواب اوکړو مصنف؟ د جانبه د سيبويه نه، چه ما نه لازمېږی ځکه چه علميت او وصفيت نه جمع کيږی، په يو اسم غير منصرف کښې (د حاتم طائی اصلی نوم عبد الله بن سعد الطائی دے).

سوال. علميت تحقق د استقاد دے، د وصفيت حقيقه سره نه د وصفيت اعتباريه سره. او دلته خو وصفيت اعتباريه دے.

جواب. وصفيت اعتباريه دا قياس کښے شريک دے په وصفيت حقيقه باندے.

درس نمبر ۸۳

وَجَمِيعُ الْبَابِ بِاللَّامِ أَوْ بِالْإِضَافَةِ يَنْجَرُّ بِالْكَسْرِ او ټول باب د غير منصرف په سبب د دخول د لام تعريفي سره او په اضافت سره، د غير منصرف دا به مجرور وی، په صورت د کسرے سره، برابره خبره ده چه کسره لفظاً وی که تقديراً وی.

سوال. دلته ما با سببيه ده او لام ذات دے، نو دا به څنګه سبب شی.

جواب. دلته مدخول د با محذوف دے چه دخول دے نو تقدير به داسې چه "وجميع الباب بدخول اللام" او په الباب کښې دا الف لام بدل دا غلي دی، د مضاف اليه نه، چه هغه غير منصرف دے، نو اصلي عبارت به داسې چه وجميع باب غير المنصرف.

سوال. زه به درته اوښايم چه په غير منصرف به لام داخل وی او بيا به هم مجرور په کسره سره نه وی، لکه غلام لاحمد بالمال لاحمد.

جواب. مراد په لام سره لام تعريفي دے نه لام جاره او په لاحمد کښې لام جاره دے.

سوال. غير منصرف به وی او اضافت به په کښې راغلے وی، بيا به هم مجرور نه وی او نه مخ ولے چه په اضافت سره به هغه مجرور وی په کسره سره لکه غلام احمد. دلته کښې احمد مضاف اليه واقع شوے دے او بيا هم مکسور نه دے.

جواب. مراد په اضافت سره اضافت د هغه غير منصرف دے، غيرو ته نه اضافت د غير و د ته.

سوال. زه به تاته اوښايم چه د غير منصرف اضافت به غير ته راغلے وی او بيا به ورباندې الف لام داخل وی او بيا به هم کسره ورباندې نه وی داخله شوی (په سبب د عامل جار سره) لکه حبلی مررت بالحبلی او يا مررت بحبلکم.

جواب. کسره عامه ده برابره ده چه لفظاً وی که تقديراً. دلته اګر که لفظاً نشته خو تقديراً شته.

سوال. ستا داعبارت مشتمل دے، په استدراک باندے ځکه چه د ينجر نه پس د بالکسر ضرورت او فائده نشته.

جواب. دا ځکه د پوکړه به لو اسم مجرور وی خو په کسره سره به نه وی. په دے وجه بالکسر ئې سره اوکړے.

سوال. ينجر به نه دے وئيلې بلکه صرف ينکسر به ئې وئيلې وو.

جواب. د کسرے اطلاق په حرکات بنائيه باندې کيږی او مراد زمونږ حرکات اعرابيه دی.

سوال. چه بالکسر ئې اووئيل، نو کسره خو خاص دے په حرکات بنائيه پورے او خبره خو زمونږ په حرکات اعرابيه کښې ده.

جواب داد ے چه دلته کښې تقدیر دَ عبارت دے، هغه دا دے چه ینجر بصورة الکسر. **سوال.** لکه دا ده چه ـ یٔ ینجر وئیلی وے اؤ نه ینکسر بلکه دا به یٔ وئیلی وو چه ینصرف، یعنی جمیع الباب باللام والاضافة ینصرف نو ینجر به نه شوی وو؟ **جواب.** په دغه حالت کښې په انصراف اؤ عدم انصراف دَ نحویانو کښې خلاف دے. بعض والی چه منصرف دے ـ برابره خبره ده چه سببین باقی وی سره دَ لام اؤ اضافت نه یا نه وی باقی، که سببان نحوی باقی نو ظاهره ده چه دا منصرف دے اؤ که باقی وی، نو لام اؤ اضافة دَ خواصو معظمه مکبره دَ اِسم نه دی نو قوی کیږی پېه سره جهة دَ اسمیة اؤ ضعیف کیږی به مشابهت دَ فعل سره اؤ بعض والی چه غیر منصرف مطلقاً برابره خبره ده چه سببین باقی وی اؤ که نه وی، که سببین باقی وی، نو غیر منصرف شو ظاهراً اؤ که نه وی باقی، نو زوال عارضی لره اعتبار نشته. دریم مذهب دا دے چه په وخت دَ بقاء دَ سببین کښې غیر منصرف دے اؤ په وخت دَ عدم دَ بقاء کښې منصرف دے. **سوال.** چه هر کله دا غیر منصرف شو، نو بیا څنګه دپاره دَ تنوین نه راځی، نو کسره دے باندې مقرر شی. **جواب.** ممتنع په غیر منصرف باندې اصلاً تنوین دے اؤ کسره په تبعیة دَ تنوین کښې دپاره منع ده. پس هر کله چه ضعیف شو مشابهت دَ ده په سبب دَ دخول دَ لام اؤ اضافت دَ فعل سره، نو اثر یٔ اوکړو په سقوط دَ تنوین کښې چه متبوع دے نه په تابع کښې چه کسره ده.

درس نمبر ۸ ، المرفوعات

هر کله چه مصنف رح فارغ شو دَ بیان دَ مقدمی نه، نو شروع یٔ اوکړه په مقاصدو کښې او ویل چه المرفوعات. دلته احتمالات اربعه دی، یو دا چه دَ المرفوعات خبر مضاف الیه دے اؤ مضاف او مبتدا محذوف دی، نو اصل عبارت به داسې شی چه هذا بحث المرفوعات ـ دریم دا چه المرفوعات مبتدا مضاف الیه ده اؤ مضاف او خبریٔ محذوف دی، نو تقدیری دَ عبارت به داسې شی چه بحث المرفوعات هذا ـ دریم دا چه المرفوعات ساکن دے، دَ دے دَ پاره عامل نشته دے اؤ دا واقع شوی دے دَ پاره دَ فصل په مابین دَ بحثونو کښې اؤ ـ څلورم دا چه دَ المرفوعات مبتدا ده اؤ خبر یٔ هو ما اشتمل الخ دے. **سوال.** المرفوعات یٔ دے مقدم کړل په منصوباتو اؤ مجروراتو باندې؟ **جواب.** دَ دے اعتراض دوه جوابه دی یو دا چه مرفوعات قلیل دی اؤ منصوبات اؤ مجرورات کثیر دی. پس قلیل په منزله دَ بسیط دے او کثیر په منزله دَ مرکب اؤ بسیط مقدم وی په مرکب باندې، دویم جواب دا دے چه مرفوعات مشتمل دی په عمده باندې چه هغه رفعه ده اؤ منصوبات اؤ مجرورات فضله دی اؤ عمده مقدم وی په فضله باندې.

فائده:- بسیط په دوه معنو سره راځی، یو په معنی دَ عدیم الاجزاء چه اجزاء دیلو نه وی اؤ بل په معنی دَ قلیل الاجزاء، چه یو شے وی اؤ د هغه اجزاء قلیل وی، په نسبت سره غیرته، نو دلته نه هم بسیط والی اؤ دلته دا دویمه معنی مراد ده.

المرفوعات هو ما اشتمل علی علم الفاعلیة


مرفوعات یا دا جنس مرفوع دَ هغه اِسم


دے چې مشتمل دے، د قبیله د اشتمال د موصوف نه په صفت باندې، په علامی د کوټ د اِسم باندې نلعل أو علامه عاٰمه، په لفظاً وی که تقدیراً وی که محلاً او د ضمه ده په مفرد الو په جمع مکسر منصرفه او په جمع مؤنث سالمه کې لکه جاءنی زید ورجال ومسلمات او الف دے په تثنیه کې لکه جاءنی رجلان او واو دے په اسماء سته مکبره او په جمع مذکر سالم کې لکه جاءنی ابوك او جاءنی مسلمون۔

وجه د حصر

مرفوعات تول ثمانیه دی، وجه د حصر یے دا ده چې عامل به خالی نه وی یا به لفظی وی یا به معنوی وی، که معنوی وی، نو بیا به خالی نه وی یا به مسند الیه وی یا مسند به وی، که مسند الیه وی، نو دا مبتدا د قسم اول، او که مسند به وی، نو بیا به خالی نه وی، یا به رافع وی اسم ظاهر لره، یا به نه وی، که وی، هغه قسم ثانی د مبتدا دے او که نه وی، نو دا خبر دے او که لفظی وی، نو بیا به دا خالی نه وی، یا به فعل او شبه فعل وی او یا به حرف وی که فعل او شبه فعل وی، نو بیا به خالی نه وی یا به قائم وی په اسم پورے او یا به واقع وی، په اِسم باندې۔ که اول وی نو فاعل او که دویم ثانی وی نو مفعول، مالم یسم فاعله دے او که حرف وی، نو بیا به خالی نه وی یا به مسند الیه وی، یا به مسند وی، که مسند الیه وی، نو بیا به خالی نه وی یا به په کلام موجب کښے وی او یا به په کلام غیر موجب کښے وی۔ که چرے په کلام موجب کښے وی، لکه اسم د افعال ناقصه نو دا ملیس نه او که په کلام غیر موجب کښے وی، نو دا اسم شو ملیس او د ما او لا مشبهتین بلیس او که چرته مسند وی، نو بیا به خالی نه وی، یا به په کلام موجب کښے وی، یا به په غیر موجب کښے وی، که په کلام موجب کښے وی، لکه خبر د حروفو مشبه بالفعل او که په کلام غیر موجب کښے وی، لکه خبر د لائے نفی جنس شو پس ما اول ثمانیه اقسام شو۔

عامل





سوال: مرفوعات به یا جمع دَ مرفوع وائی اَوْ یا به جمع دَ مرفوعة، که جمع دَ مرفوع وائے، نو دا نه صحیح کیږی، ځکه چه مرفوع مذکر دے لَوْ دَ دے جمع په الف اَوْ په تاسره نه راځی، بلکه په الف اَوْ تا سره جمع دَ مؤنث راځی اَوْ که جمع ئے دَ مرفوعة وائے، نو دا خو صفت دے دَ پاره دَ اِسم اَوْ اسم مذکر دے اَوْ مطابقت ضروری دے په مابین دَ موصوف اَوْ دَ صفت کښے، نو دلته کښے مطابقت نِشته۔ **جواب.** دا جمع دَ مرفوعة دہ اَوْ که ته وائے چه مطابقت نه راځی په مابین دَ موصوف اَوْ صفت کښے، نو زهٔ وایم چه دا صفت واقع دے دَ پاره دَ الکلمة، یعنی الکلمة المرفوعة، نو مطابقت راغلے، په مابین دَ موصوف اَوْ صفت کښے، یا دا چه دا جمع دَ مرفوع دہ، که ته وائے چه الف اَوْ تا سره خو جمع دَ مؤنث راځی اَوْ دا خو مذکر دے، نو جواب دا دے چه ما بنا دے دَ نحالو په قاعده باندے چه ما مرفوع صفت دَ دَ اِسم اَوْ هغه مذکر غیر عاقل دے اَوْ صفت دَ مذکر غیر عاقل راځی په مؤنث سره، لکه ایام خالیات۔

سوال. دا هو ضمیر به خالی نه وائے یا به ئے راجع کرے المرفوعات ته، نو مطابقت نه راځی په مابین دَ راجع اَوْ دَ مرجع کښے اَوْ یا به ئے راجع کرے مرفوع ته، نو اضمار قبل الذکر لازمیږی۔ **جواب.** دا ضمیر راجع دے مرفوعات ته اَوْ که ته وائے چه مطابقت نِشته، نو زهٔ وایم، چه دا بنا دے دَ نحالو په قاعده باندے، چه ضمیر کله دا ئر شی په مابین دَ مبتداء اَوْ دَ خبر کښے، نو رعایت دَ خبر اولیٰ دے، ځکه چه دے مفید دے دَ فائدے۔

درس نمبر ۸۵:-

لیکن دا جواب ضعیف دے، ځکه چه په دے سره لازمیږی تعریف دَ افرادو اَوْ تعریف دَ افرادو نه کیږی، بلکه تعریف دَ جنس کیږی، نو بل جواب دا دے، چه دا ضمیر راجع دے مرفوع ته اَوْ دلالت په دے باندے، مرفوعات کوی، چه جمع دَ مرفوع دہ، نو دا اول جمله، دَ قبیلے دَ دلالت دَ جمع نه په مفرد باندے، خو دا جواب هم ضعیف دے، ځکه چه په دے کښے هم تعریف دَ افرادو لازمیږی، بلکه تعریف دَ جنس کیږی۔ پس حقه په جواب کښے دا دے، چه دا ضمیر راجع دے، جنس مرفوع ته اَوْ دلالت کوی، په دے باندے مرفوعات دَ قبیلے دَ دلالت دَ جمع نه په جنس باندے اَوْ دا جواب محقق اَوْ صحیح دے۔

سوال. جنس خو نه جمع کیږي، ځکه چه د جنس اطلاق په جمع اَوْ په مفرد په توګه برابر دے، نو مرفوعات جمع ولے راوړله؟ جواب. جنس کله جمع کیږي په اعتبار د کثرت د انواعو سره، لکه په فقه کښې راځي چه کتاب البیوع، نو د بیع جمع بیوع راغلې ده اَوْ بیع خو جنس دے، نو دا جمعیت یې په اعتبار د کثرت انواع سره دے. سوال. ظاهر ستبادر د اشتمال نه اشتمال د کل دے په جزو باندې، نو که چرته دا مراد شي، نو بیا به مرفوع بالحرکة د تعریف نه خارج شي، ځکه چه دا جزو د کلمې نه نه دے. جواب. مراد د اشتمال نه اشتمال د موصوف دے په صفت باندې، نه اشتمال د کل په جزو باندې. سوال. چه هرکله مراد په اشتمال سره اشتمال د موصوف د صفت باندې نو بیا خو مرفوع بالحرکة داخل شو په تعریف کښې، لیکن مرفوع بالحروف ترے نه خارج شو ځکه چه دا صفت د کلمې نه دے.

جواب. اعراب بالحرکة اصل دے اَوْ اعراب بالحروف فرع ده، نو بیا چه کله اطلاق په اعراب بالحرکة د صفت اُوشو نو په تبع د دې کښې په اعراب بالحروف هم اطلاق د صفت اوکړے شو یا دا چه صفت عام دے، حقیقتاً وي که حکماً، حقیقتاً لکه اعراب بالحرکة اَوْ حکماً لکه اعراب بالحروف. سوال. اطلاق د علم دي په حروفو اَوْ حرکاتو نه صحیح کیږي، ځکه چه علم اسم دے اَوْ حروف اَوْ حرکات اسماء نه دي بلکه اوصاف دي. جواب. مراد په علم سره علامه ده په مشتمل وي په علامې د فاعلیت باندې. سوال. نو معلومه شوه چه رفع علامه د فاعل ده، ځکه چه علامه د شي د حقیقت نه جدا کیږي اَوْ رفع جدا کیږي د ذات د فاعل نه. جواب. مراد په دے سره دا دے چه رفع علامه ده د کون د شي د فاعل، نه علامه د ذات د فاعل. سوال. تعریف د مرفوع دې جامع نه شو افرادو خپلو ته، ځکه چه خارج شو ترے نه جاءني موسیٰ او جاءني هؤلاء، چه دا دواړه مشتمل دي په علامې د کون د شي باندې فاعل اَوْ بیا دغو باندې رفعه لګیدلې. جواب. علامه د فاعل عامه ده که لفظاً وي لکه جاءني زیدٌ اَوْ که تقدیراً وي لکه جاءني موسیٰ اَوْ محلاً وي لکه جاءني هؤلاء.

درس نمبر ۸۶

فمنه الفاعل

پس بعض د جنس مرفوع نه هغه فاعل دے یا بعض د جنس د ما اشتمل نه هغه فاعل دے. زده کړه دا خبره چه دلته اختلاف دے په مابین د جمهورو نحاتو اَوْ د محققین کښې چه اصل په مرفوعاتو کښې فاعل دے که مبتدا. پس د جمهورو په نزد باندې اصل فاعل دے بنا په دلائلو اربعه باندې. ۱:- فاعل اصل دے په مرفوعاتو کښې ځکه چه دا جزء واقع کیږي د جملے فعلیے نه اَوْ جمله فعلیه اصل ده په نسبت سره نورو جملو ته، ځکه چه دا موافق ده د غرض د متکلم سره په اخبار اَوْ استفسار اَوْ په حدث د واقع کیدو د ازمنو ثلاثه کښې. پس چه جمله فعلیه اصل شوه، نو جزو یې هم اصل شو. ۲:- عامل د عامل لفظي دے اَوْ عامل د مبتدا معنوي دے اَوْ عامل لفظي اقوی دے د عامل معنوي نه. پس معمول د دے هم اصل شو. ۳:- فاعل عام دے په مرکب تام اَوْ ناقص دواړو کښې راځي، په خلاف د مبتدا چه په مرکب تام کښې راځي اَوْ ناقص کښې نه راځي. ۴:- عامل د فاعل محسوس دے اَوْ عامل د مبتدا غیر محسوس دے اَوْ محسوس

اولیٰ او اقوی وی، د خبر مخصوص نه. محققین وائی چه مبتداء اصل دی په مرفوعاتو کښې، د هغوئ د پاره دوه[2] دلائل دی. ۱:- مبتداء قائمه او باقی ده، په ما هو الاصل باندې چه هغه تقدیم دے، ځکه چه اصل په محکوم علیه تقدیم دے، په خلاف د فاعل نه، چه هغه مؤخر دے. ۲:- مبتداء محکوم علیه ده په حکم عامه سره، ځکه چه دا جامد او مشتق د دواړو نه محکوم علیه واقع کیږی، په خلاف د فاعل نه چه دے صرف د مشتق نه واقع کیږی او د جامد نه نه واقع کیږی. محققینو نه د جمهورو د طرف جواب، جمهور محققینو ته جواب ورکوی، د اول دلیل نه، چه فاعل هم په ما هو الاصل باندې قائم او باقی دے، ځکه چه اصل په فاعل کښې تاخیر دے، د فعل نه، لکه د کافیې صاحب وائی چه والاصل ان یلی الفعل او یا دا چه په فاعل کښې هم تقدیم دے، لیکن تاخیر د ده د صیغې د عارض نه راغلی دے، والعوارض لا تعتبر او د هغوئ د دویم دلیل نه جواب دا دے چه څنګه مبتداء محکوم علیه ده، په حکم عامه سره دغه رنګې فاعل هم محکوم علیه دے، په حکم عامه سره، لکه فاعل د انعال مدح او ذم چه هغه جامد دے او بیا ترې نه هم فاعل واقع کیږی. پس مذهب د جمهورو مثبت د پاره د خپلې مدعی و نکو څه او په مذهب د محققینو سره صرف اولویت د تقدیم د مبتداء معلومیږی. **سوال**. په منه کښې ضمیر چا ته راجع دے.

جواب. دا دے چه دا ضمیر یا راجع دے مرفوع ته او یا ما اشتمل ته او دواړو ته یې ارجاع صحیح کیږی، که مرفوع ته راجع شی، نو هم په کښې دوه[2] حسنې او دوه قبحې دی او که راجع شی ما اشتمل ته، نو هم دوه حسنې او دوه قبحې دی، چه راجع شی مرفوع ته، نو دوه[2] قبحې دا دی، چه یو به مرجع صریحی نه شی، او بل دا چه مرجع به قریب نه شی او دوه[2] حسنې دا دی، چه یو به ارجاع د ضمیر ما هو المقصود ته راشی او بل حسن دا چه انتشار د ضمائرو به رانه شی او چه ما اشتمل ته راجع شی، نو دوه[2] قبحې دا دی چه ارجاع د ضمیر به ما هو المقصود ته رانه شی، ځکه چه په محدود او په حد کښې مقصود محدود وی، نو چه ارجاع د ضمیر محدود ته اوشی نو دا مقصود دے او بله قبح دا ده چه انتشار د ضمائرو به راشی او دوه[2] حسنې دا دی، چه مرجع به صریحی شی او بل دا چه مرجع به قریبه شی.

| وهو ما اسند اليه الفعل او شبهه |

او دا فاعل چه دے، دا هغه اسم دے، اسم عام دے، صراحتًا وی که تاویلًا، حقیقتًا وی که حکمًا، چه اسناد شوے وی د ده اسناد اصالتًا نه اسناد بالتبع، په قرینې د ذکر د توابع سره په مابعد کښې او اسناد عام دے، تام وی که ناقص وی، خبری وی که انشائی وی، مثبت وی که منفی، محقق وی که مفقود وی د فعل او یا د شبه فعل او مراد فعل نه فعل اصطلاحی دے. **سوال**. ستا دا تعریف د فاعل مانع او نه وګرځید، د مخول د غیرونه او داخل شو په کښې فعل

---

[2] ... مصرحت کښې چه کوم دوه حسنې دی هغه په دویم صورت کښې قبحې دی، د دارنګې صورتونه د یو بل عکس دی. (م-س).

په دے ترتیب کښې چه اعجبني ان ضربت زیداً. دلته کښې ان ضربتَ دا فاعل دے، دَ پاره دَ اعجبني اَؤ سره دَدے نه دافعل دے اَؤ فاعل خو قسم دَ مرفوع دے اَؤ دا قسم دَ اِسم دے. **جواب**. فاعل عام دے، صراحتًا وی که تاویلًا وی. دلته ان ضربتَ الی که صراحتًا فاعل نه دے، لیکن تاویلًا فاعل دے، ځکه چه دا په تاویل دَ مصدر سره فاعل دے. هر کله چه ان مصدری په فعل داخل شی، نو دا کوځی په تاویل دَ مصدر سره، نو تقدیری په عبارت به داسے شی چه "اعجبني ضربك زیداً". **سوال**. ستا دا تعریف مانع اونه ګرځید، دَ دخول دَ غیرونه اَؤ داخل شو په کښې معطوف، په دے قول کښې چه جاءني زیدٌ وعمروٌ. دلته کښې عمرو فاعل دے اَؤ دا معطوف دے. **جواب**. مراد په اسناد سره اسناد بالاصالة دے اَؤ دلته په عمرو کښې اسناد بالتبع دے. **سوال**. په تعریف کښې اسناد مطلق ذکر دے اَؤ تا مقید کړو، په قید دَ اصالتًا سره اَؤ دا خو نه دے، نو مجاز اَؤ ارتکاب دَ مجاز په تعریفاتو کښې ناروا دے. **جواب**. ارتکاب دَ مجاز په تعریفاتو کښې په هغه وخت کښې ناجائز دے، چه قرینه داله نه وی اَؤ دلته کښې قرینه شته، ځکه چه روستو ذکر دَ توابع راغلے. **سوال**. راوړل دَ لفظ دَ "اَؤ" ستا نه صحیح کیږی، په تعریف کښې ځکه چه لفظ راځی دَ پاره دَ تشکیك لو تعریف راځی، دَ پاره دَ ایضاح اَؤ دَ یقین، اَؤ دا منافی دے تشکیك سره. **جواب**. اَؤ دَ پاره دَ تشکیك نه دے، بلکه دَ پاره دَ تنویع اَؤ دَ تقسیم راغلے دے.[1]

درس نمبر ۸

وقدم علیه علی جهة قیامه به اَؤ حال دا دے چه دا فعل یا شبهه فعل دا به مقدم کړے شوے وی، په دے فاعل باندِ په تقدیم وجوبی نو معنی سره، هغه اسناد چه واقع وی په طریقے دَ قیام سره دَ فعل یا دَ شبهه فعل په فاعل پورے. برابره خبره ده چه دا فعل یا شبهه فعل دَدے فاعل نه صادر وی اَؤ یا تا ثر وی، په ده پورے یعنی نسبت دَ فعل یا دَ شبهه فعل دے فاعل ته شوے وی اَؤ دا صیغه دَ فعل معلوم وی. وقدم علیه دا حال واقع شوے دے اَؤ جمله فعلیه چه کله حال واقع شی اَؤ فعل په کښې دَ ماضی وی، نو په هغے باندِ به قد داخلیږی، نو عبارت به داسے شی "وقد قدم علیه". **سوال**. په قدم کښې ضمیر راجع دے، فعل اَؤ شبهه فعل ته اَؤ دا خو دوه څیزه دی، نو مطابقت راغلے، په مابین دَ راجع اَؤ دَ مرجع کښې. **جواب**. دا ضمیر راجع دے کل واحد ته اَؤ بل دا

---

[1] په دے مقام کښې اُستاذ صیب دَ مستفید ینو دَ خوشطبعئ دَ پاره یو لطیفه دَ درس په دوران کښې ذکر کړې وه هغه دا ده چه یو ملك وو، هغه دَ نیك ګیرو مبارکه سړے وه اَؤ نوم یے شاه ګل وه، نو دوی یو کلی ته لاړل، چه هلته یو بل سړی ګیرے سپینے وی، نو یو ملك ورته چه بابا هغه دے شاه ګل دے، نو نیك سړے ته اُوویے چه هر سړی ګیرے خو شاه ګل نه وی، نو هغه یو کم اَؤ دَ پاره دَ تشکیك نه وی، بیا لکه دا شعر:

[2] ما کل بیضاء شحمة   وما کل سوداء تمرة

په دې نه لفظ د "أوْ" راوړے شوے دے چه "أوْ شبهه الخ دے او مراد په دې سره احد الامرین دے۔

سوال وارديږي چه ستاد التعريف مانع اُونه گرځيدو د دخول د غیرنه او داخل شو په کښې مبتدا په دې ترکیب کښې چه کي يُسن يكرمك دلته مَن اِسم دے او صفت چه کريم دے هغه ترې نه مقدم دے او اسناد يې هُم دغه من ته شوے دے، نو تعريف د فاعل ورباندې صادقیږي او بیا هُم فاعل نه دے، بلکه مبتدا دہ۔ **جواب**. مُراد په تقدير سره تقديم وجوبي دے او دلته تقديم د خبر په مبتدا باندې لغلي دے، دا جوازي دے۔ **سوال**. تعريف د فاعل مانع نه شو د دخول د غیرنه او داخل شو په کښې رَجُلٌ په دې ترکیب کښې چه في الدار رجلٌ، ځکه چه رجلٌ مبتداء دہ او دلته خو تقديم وجوبي دے، نو پکار دا ده چه دا دې فاعل شي، ځکه چه د في الدار د پاره متعلق، فعل دے یا شبهه فعل دے او هغه مقدم دے په رجلٌ باندې په تقديم وجوبي سره او نسبت يې شوے دے رجلٌ ته، نو تعريف د فاعل په دے رجلٌ چه مبتداء ده صادقیږي۔ **جواب**. مراد په تقديم سره تقديم مجولي لزومي دے، نه تقديم وجودي لزومي او دلته تقديم د خبر چه رابطي دے د الواعي نه دے، بلکه لزومي دے (يعني د يو لزوم تقديم رابطي دے)۔ **سوال**. علی جهة قيامه به داجار مجرور دے او د دې د پاره اعراب محلي دے، نو د دې اعراب څه دے؟ **جواب**. د دې اعراب د نصب دے بنا بر مفعول مطلق، چه دا مفعول مطلق واقع شي د اسند فعل نه۔ **سوال**. مفعول مطلق هغه ته وائي چه فعل مشتمل وي په هغه باندې د تيبې د اشتمال د کل نه په جزء باندې او دلته کښې اسند خو مشتمل نه دے په علی جهة قيامه باندې۔ **جواب**. دلته مفعول مطلق محذوف دے او هغه اسناداً دے او د هغې په ځائے باندې علی جهة قيامه صفت او درولے شوے دے۔

سوال دا واردیږي چه علی جهة الخ جار مجرور متعلق غواړي او متعلق د دې که اسند شي، نو تقديم د صفت راځي په موصوف باندې او دا ناجائز دے، ځکه چه صفت مؤخر وي او مؤخر ځکه وي چه دے تابع دے او موصوف مقدم وي ځکه چه دے متبوع دے او که متعلق د دې اسنادا شي، نو اتصاف د شي راځي په خپل نفس پورې او دا هُم ناجائز دے۔ **جواب**. دلته کښې متعلق د علی جهة الخ محذوف دے چه واقعاً دے، نو تقدير به داسې شي "وقدم عليه اسناداً واقعاً على جهة قيامه به"۔

سوال. ظاهر متبادر د قيام نه حدوث او صدور دے يعني ما فعل يا شبهه فعل به صادر او حادث وي د فاعل نه، نو بنا په دې معنی نسبت د مات په مات زيد کښې او نسبت د طال په طال عمر کښې نه صحيح کيږي۔ **جواب**. مُراد په قيام سره د فعل يا د شبهه فعل هغه نسبت د فعل يا د شبهه فعل دے فاعل ته برابره خبره ده چه صادر وي د ده نه او که نه وي صادر او نسبت د فعل معلوم وربته شوے وي۔

سوال. صاحب د مفصل خو په تعريف کښې علی جهة قيامه به قيد نه دے ذکر کړے، تا ولے دا قيد راعمل کړو مخالفت دې اُوکړو د اصل نه، ځکه چه کافيه ماخوذ ده د مفصل نه او مفصل اصل دے؟

جواب. صاحب د منفصل مفعول مالم یسم فاعله هم ذکر دے په فاعل کښے اؤ ابن حاجب نه دے داخل کړے، لو په دې تپه سره ابن حاجب ترے نه مفعول مالم یسم فاعله خارج کړو اؤ هغه یې مستقل قسم اوګرځو۔

مثل قام زید وزید قائم ابوه | اؤلنئ مثال د هغه دے، چه نسبت د فعل راغلے وی ورتا وته او دویم مثال د هغه دے چه نسبت د شبهه فعل شوے وی ورتا وته۔ **سوال**. مثال دِ نه دے مطابق د ممثل سره، ځکه چه ته مثال د فاعل ذکر کړے اؤ فاعل خو مفرد دے اؤ تا په مثالونو کښے جمله ذکر کړه۔ **جواب**. دلته تقدیر د عبارت دے، چه مثل زید فی قام زید اؤ مثل ابوه فی زید قائم ابوه۔ په اؤلنی مثال کښے فاعل زید دے اؤ نسبت ورته د قام شوے دے اؤ په دویم مثال کښے فاعل ابوه دے اؤ نسبت ورته د شبهه فعل شوے دے، چه قائم دے۔

درس نمبر ۸۸

والاصل ان یلی الفعل | اؤ راجح اؤ ماینبغی خبره په فاعل کښے دا ده چه نزدیکت د فاعل به راغلے وی، د فعل سره په وخت د عدم د مانع کښے په دې شان سره چه په مابین د فعل اؤ د فاعل کښے معمول نه وی راتع شوی د معمولاتو د فعل نه، ځکه چه فاعل دا جزو دے، د فعل نه معناً اؤ لفظاً۔ هر چه دے معناً هغه په دې وجه بانډو چه اتمام د فعل بغیر د فاعل نه راځی، اؤ هر چه دے لفظاً، لکه په ضربتُ کښے چه دلته دا تا ضمیر د فاعل دے اؤ دے جزو واقع شوے دے د فعل نه، په دې وجه بانډو لام کلمه (با) دا ساکن کړې شوی ده د باره د دې چه لازم نه شی توالی د اربع حرکاتو۔ پس که چرے دا جزو نه وے، لو بیا هیڅ ضرورت نه و د لام کلمه متحرکه کړے وے، لکه په ضربکَ کښے، لیکن دا چونکه جزو دے د کلمه نه (یعنی د فعل نه)، په دې وجه یې متحرکه نه کړه لام کلمه لام، اؤ په ضربکَ کښے (ک) ضمیر د مفعول دے، په دې وجه دے جزو د کلمه نه (یعنی د فعل نه) نه دے، لو توالی د اربع حرکاتو په کښے راغلی دی۔ **سوال** اصل په معنیٰ د قانون اؤ د قاعدے دے، نو معنیٰ به دا شی چه قانون په فاعل کښے دا دے چه نزدے به وی، د فعل سره اؤ نه به وی دریته اوښایم چه فاعل به فعل سره نزدے نه وی، لکه په دې ترکیب کښے چه ضربکَ زیدٌ۔ دلته زیدٌ د فعل سره نزدے نه دے اؤ سره د دې نه چه فاعل دے، اؤ حال دا دے چه مخالفت د قانون نه په قوت د خطا کښے وی۔ **جواب**. اصل په معنیٰ د ماینبغی اؤ اولیٰ سره دے، نه په معنیٰ د قانون سره۔ **سوال**. فصل به واقع شوے وی په مابین د فعل اؤ د فاعل کښے یعنی فاعل به د خپل فعل سره یلی نه وی، لکه جاء الرجل۔ دلته جاء فعل دے اؤ رجل فاعل دے اؤ په مابین د دوی کښے الف لام راغلے دے اؤ ته وائے ان یلی الفعل؟ **جواب**. مراد په یلی سره دا دے چه په دوی کښے به فصل په معمول د دے فعل سره نه وی واقع شوے اؤ دلته دا الف لام معمول د دې

فعل نه دے. **سوال** : ستا خو دا خبره چې اصل دا دے چې فاعل به د فعل سره نزدے وی. دا خبره ستا نه ده صحیح، ځکه چې په ما ضرب زیدٌ الّا عمروٌ کښې خو ممتنع دی چې دلته د فاعل د فعل سره، حالانکه عمرو فاعل دے.

جواب : مراد په یلی کیدو د فاعل د فعل سره دا په وخت د عدم د مانع کښې دے او دلته کښې مانع موجود دے چې حرف استثناء دے، یعنی واقع کیدل د فاعل دی. پس د حرف استثناء نه.

درس نمبر ۸۹

فلذلك جاز ضرب غلامَهٗ زیدٌ فا په کښې دا فا تفریعیه ده او لام تعلیلیه دے. پس د دې وجې د دې خبرې نه چې اصل په فاعل کښې یلی کیدل دی د فعل سره جائز دے، دا ترکیب چې ضرب غلامَهٗ زیدٌ دے. مراد په دې ترکیب سره دا دے چې فعل وی او د فعل سره نزدے مفعول وی او د مفعول سره نزدے ضمیر وی چې راجع وی وروستو ذکر شوی فاعل ته، نو دلته کښې په غلامه کښې دا ضمیر راجع دے وروستو زید ته چې فاعل دے او دلته اضمار قبل الذکر اګرکه لفظاً راغلے دے لیکن رتبتاً نه دے راغلے، ځکه چې فاعل په رتبه کښې مقدم دے په مفعول باندې. پس اضمار قبل الذکر لازم نه شو.

وامتنع ضرب غلامُهٗ زیداً او ممتنع دے دا ترکیب چې ضرب غلامه زیداً. مراد په دې ترکیب سره دا دے چې د فعل سره فاعل یلی وی او په دے کښې ضمیر چې راجع وی وروستو مفعول ته، نو په غلامُهٗ کښې ضمیر راجع دے زیداً ته چې مفعول دے نو دا ترکیب ځکه ناجائز دے چې دلته لازمیږی اضمار قبل الذکر لفظاً او رتبتاً دواړه، ځکه چې دا مفعول دے او مفعول فضله دے او په فضله کښې اضمار قبل الذکر ناجائز دے. **سوال** : تا خو دلته تفریع کړے په اصل باندې چې اصل په فاعل کښې دا دے چې دے به یلی وی د فعل سره او تا چې کوم مثال ذکر کړو نو په اول مثال کښې خو د فعل سره فاعل یلی نه دے، بلکه مفعول یلی دے او تا دے ته جائز اوویے او په دویم مثال کښې خو فاعل یلی دے او تا دے ته ممتنع اوویے. دا څه وجه ده؟ **جواب** : دا تفریع په اصل نه ده، بلکه دا تفریع ده په هغه قانون باندې چې مستفاد دے د دغه اصل نه چې فاعل به مقدم وی په مفعول باندې. اوس دغه کړو دا خبره چې دلته کښې اختلاف دے په مابین د جمهورو نحاتو کښې او په مابین د ابن جنی او د اخفش کښې په دې ترکیب کښې چې ضرب غلامه زیداً دے. جمهور وائی چې دا ترکیب ممتنع دے ځکه چې په دغه وخت کښې لازمیږی اضمار قبل الذکر په فضله کښې او دا ناروا دے او ابن جنی نحوی اخفش وائی چې دا ترکیب جائز دے ځکه چې څنګه اضمار قبل الذکر په عمده او په فاعل کښې جائز دے، نو دارنګه په فضله کښې هم روا دے. دا ابن جنی او د اخفش دلیله دوه دلیله دی، یو دلیل نقلی دے او بل د دې نه عقلی دے. دلیل عقلی دا دے چې څنګه معنی د فعل لازمی موقوف ده په فاعل پورې، نو دغه شان معنی د فعل متعدی موقوف ده په مفعول پورې، نو چې څرنګه اضمار قبل الذکر په فاعل کښې روا دے، نو دغه شان په فضله کښې هم روا دے او دلیل نقلی

دا دے، په دلته کښې په دے مصرعه کښې اضمار قبل الذکر د عمده راغلې. ع جزی ربه عنی عدی ابن حاتم، په دے مصرع کښې عدی ابن حاتم مفعول دے او د ربه ضمیر ورته راجع دے، دا اضمار قبل الذکر په عمده کښې نه دے، بلکه په فضله دے. **جواب** دا دے د دلیل عقلی نه، چه ستاسو په دلیل سره خو افضلیة د مفعول ثابت نه شو، د فاعل نه او نه ورسره مساوات ثابت شو، بلکه افضلیة د مفعول ثابت شو په نسبت سره غیر د فاعل نه او د دلیل نقلی نه جواب دا دے چه دا شعر دے او دلته اضمار قبل الذکر په فضله کښې د ضرورت شعری د وجے نه راغلے دے او د دویم جواب دا دے، چه دلته ضمیر عدی ابن حاتم "مفعول" ته نه دے راجع، بلکه دا راجع دے جزاء ته، چه دلالت ورباندې کوی جزی فعل.

درس نمبر ٩٠

واذا انتفى الاعراب فيهما لفظا والقرينة

او په هغه وخت کښې چه منتفی شی هغه امر چه دال دے، په تعین د فاعلیة د فاعل او په مفعولیة د مفعول باندې بالوضع په فاعل او په مفعول کښې په لفظ کښې او منتفی شی، هغه امر چه دال دے، په تعین د فاعلیة د فاعل او د مفعولیة د مفعول باندې بلا وضع، قرینه په لغت کښې علامې ته وائی او په اصطلاح کښې امر دال علی تعین الشئ ته وائی. او دا عامه ده که لفظیه وی که غیر لفظیه وی، یعنی که قرینه مقالیه وی یا حالیه وی، او لکه په ضرب عمروا ن یحیٰ کښې اعراب د زید او عمرو دال دے په فاعلیة د زید او په مفعولیة د عمرو. د هغه شان په ضربت موسیٰ حبلیٰ کښې قرینه لفظیه موجود ده، چه هغه فاعلیة د حبلیٰ دے، د وجه د ضربت فعل نه ځکه چه مطابقت په مابین د فاعل او فعل کښې ضروری دے، په تذکیر او په تانیث کښې، نو چه هر کله فعل مؤنث وی، نو پته اولګی چه د دے فاعل هم مونث دے، چه حبلیٰ دے او په اکل الکمثریٰ یحییٰ کښې قرینه حالیه او غیر لفظیه ده، ځکه چه کمثریٰ (APPLE) ماکول واقع کیږی، نو پته اولګیدا چه دلته مفعول کمثریٰ دے او په ضرب موسیٰ عیسیٰ کښې نه اعراب شته، چه هغه دال او لګرځی په تعین د فاعل یا د مفعول او نه قرینه شته، نه لفظیه او نه غیر لفظیه، چه دال او ګرځی په تعین د فاعل یا د مفعول باندې. **سوال**. ذکر د قرینې پس د اعراب نه مستدرک دے، ځکه چه قرینه هم امر دال ته وائی. **جواب**. اعراب امر دال ته وائی بالوضع او قرینه امر دال ته وائی بغیر الوضع. **سوال**. تا خو فیهما العبعه په عبارت کښې او دے سره لازمیږی اضمار قبل الذکر، ځکه چه دا راجع دے، فاعل او مفعول ته. نو دلته کښې خو ذکر د فاعل راغلے دے او ذکر د مفعول نشته. **جواب**. ذکر عام دے، صراحةً وی که تقدیراً، دلته کښې اګرچه ذکر د مفعول صراحتاً نشته، لیکن تقدیراً شته، ځکه چه هغه مثالونو کښې چه ضرب غلامه زید، او ضرب غلامه زیداً ذکر د مفعول راغلے دے.

او كان مضمراً متصلا او وقع مفعوله بعد الا او معناها

او یا وی دا ضمیر د فاعل ضمیر مرفوع متصل برابره خبره ده، چه مفعول اسم ظاهر وی، لکه ...... ضربت زیداً

اَوْ یا مفعول مضمر منفصل وی، لکه ماضربتُ الا ایاك اَوْ یا مفعول مضمر متصل وی، لکه ضربتك اَوْ یا واقع شوے وی مفعول دَ دِیے فاعل۔ پس دَ الّا نه، لکه انما ضرب زیدٌ عمرواً (الّا او انما دواړه معنٰی دَ حصر فائده کوی)۔

وجب تقدیمه دا جزا دهٔ دَ پاره دَ اذا په اذا انتفی کښے، یعنی چه کله منتفی اُوګرځی، اعراب اَوْ یا قرینه یا فاعل ضمیر مرفوع متصل اَوْ یا واقع شوے وی مفعول دَ دِیے فاعل پس دَ الّا نه اَوْ یا دَ معنٰی دَ الا نه چه انما دے، نو په دِیے ټولو صورتونو کښے تقدیم دَ فاعل په مفعول باندِ واجب دے۔

سوال۔ ته به دومره اوښایم چه په ضمیر مرفوع متصل باندِ به تقدیم دَ مفعول راځلے وی، لکه زیدٌ ضربتُ۔ ولے کښے "تُ" ضمیر مرفوع متصل دے اَوْ تقدیم دَ مفعول ورباندِ راغلے دے چه زیداً دے۔ **جواب**۔ تقدیم دَ مفعول په فاعل باندِ په دغه صورت کښے جائز دے، ځکه چه دلته خو تقدیم دَ مفعول په فعل اَوْ فاعل دواړو راغلے دے، اَوْ خبره صرف په تقدیم دَ مفعول کښے ده، په فاعل باندِ چه ضمیر مرفوع متصل دے، فقط۔

وجوهات په صورت دَ انتفاء کښے په دِیے وجه باندِ تقدیم دَ فاعل واجب دے، په مفعول باندِ چه التباس راته شی په مابین دَ فاعل اَوْ دَ مفعول کښے اَوْ په صورت دَ ضمیر متصل کښے په دِیے وجه باندِ واجب دے، چه منافات دے، په مابین دَ اتصال اَوْ انفصال کښے اَوْ په صورت دَ الا اَوْ دَ معنٰی دَ الّا کښے په دِیے وجه باندِ واجب دے چه فوت نه شی هغه حصر مطلوب اَوْ چه منقلب اُونه ګرځی، هغه حصر مقصود، ځکه چه کله موږ دا اُووایو چه "ما ضرب زیداً الّا عمرواً" نو مقصود زموږ دا دے چه، انحصار دَ ضاربیت دَ زید په عمرو کښے دے، اګرچه دَ عمرو دَ پاره نور هم ضاربین شته اَوْ دے دَ زید نه علاوه دَ غیرو یا هُم مضروب واقع شوے دے، خو چه کله موږ دا اُووایو چه ما ضرب عمرواً الّا زیدٌ، چه ظاهر لره سِوا دَ زید نه بل چا نه دے وهلے، نو هغه حصر منقلب اُوګرځیدو[1]۔

واذا اتصل به ضمير مفعول او وقع بعد الّا او معناها، او اتصل به مفعوله وهو غير متصل وجب تاخيره.

اَوْ په هغه وخت کښے چه متصل شی په دِیے فاعل پورے ضمیر دَ مفعول، یعنی داسے ضمیر چه راجع وی مفعول ته، لکه په دِیے قول دَ باری تعالٰی کښے "واذ ابتلی ابراهیم ربّه"، یا واقع شی دا فاعل پس دَ الّا نه اَوْ یا واقع شی پس دَ معنٰی دَ الّا نه چه انما دے، لکه ما ضرب عمرواً الّا زیدٌ یا انما ضرب عمرواً زیدٌ اَوْ یا متصل شی دَ فعل سره مفعول دَ دِیے فعل اَوْ حال دا دے، چه دا فاعل دَ دِیے فعل

---

[1] لطیفه:- اُستاذ صاحب مونږ ته ایل چه زموږ په کلی کښے دَ ابوها کان ونه یو ترکانړی وو اَوْ بل ضعیف العمره، نو دوی به په یو بل ورپسے، نو هغه ترکانړی یے راوډه په زوله، خلقو ترینه دا ضعیف بوډا راغوښته کوله، نو هغه لوګے ما په یو بل وهو، چه ته یے دا وهلے کړه ده، دا هم ته را وهلے شوی دے۔ ۱۲ (م-س)۔

متصل نه وی د فعل سره نو واجب دے تاخیر د فاعل د مفعول نه، په دے دواړو صورتونو کښے. هغه چه دے په أول صورت کښے د باره د دے چه اضمار قبل الذکر په فضله کښے رانه شی او هغه چه دے په دویم صورت کښے چه حصر منقلب نه شی، چه مضروبیت د عمرو منحصر دے په زید پورے او په صورت د اتصال کښے منافات دے په مابین د اتصال او انفصال کښے۔

درس نمبر ۹۱

وقد يحذف الفعل لقيام قرينة جوازًا

او کله کله حذف کیږی عامل رافع د فاعل په وخت د وجود د قرینې کښے. "بوابو خبره ده" چه قرینه تحقق وی لکه "مقدره وی" په حذف جوازی سره. قد چه کله داخل شی په مضارع باندې په معنیٰ د تقلیل باندې راځی، اګرچه په معنیٰ د تحقیق هم راځی، نو د دے نه داخبره معلومه شوه چه اصل په فاعل کښے دا دے چه فعل د هغه به مذکور وی، لیکن کله کله په وخت د وجود د قرینې کښے حذف کیږی هم شی۔

سوال - چه څنګه فعل حذف کیږی په وخت د وجود د قرینې، نو همدغه شان شبهه فعل هم حذفیږی، تاولے ذکر د فعل اوکړو او د شبهه فعل دې او نه کړو! **جواب** - دلته مراد د فعل نه عامل رافع د فاعل دے. برابره خبره ده چه فعل وی او که شبهه فعل وی! **سوال** - فعل دې وله په ذکر سره خاص کړو **جواب** - فعل اصل دے په عمل کښے! **سوال** - بحث زمونږ په فاعل کښے دے لو تا شروع په بحث د فعل کښے اوکړو! داخو نه دے مګر خروج د بحث نه. **جواب** - بحث د متعلقاتو د شی نه خروج د بحث نه نه دے ځکه چه فعل عامل رافع دے د پاره د فاعل! **سوال** - په لقیام کښے د لام نه ظاهر متبادر لام تعلیلیه مراد دے چه هر کله لام تعلیلیه شی په وخت د وجود د علت کښے وجود د معلول وجوبًا لازم دے، یعنی وجود د علت مستلزم دے وجود د معلول لره وجوبًا، نو چه کله په حذف باندې قرینه موجوده شوه، دا علت شو د پاره د حذف. پس حذف وجوبًا لازم شو او تاسو وائی چه جوازًا؟ نو دلته کښے حذف وجوبي بکار دے نه جوازی. **جواب** - دلته کښے دا لام تعلیلیه نه دے، بلکه لام د توقیت دے، لکه قرآن پاک کښے راغلی دی چه "أقم الصلوة لدلوك الشمس" لپاره د وقت د دلوک الشمس! او یا دا چه دلته لام تعلیلیه دے او مراد په علت سره علت جوازی دے نه علت وجوبي.

دلته کښے مراد د قیام نه وجود دے او قیام نسبت قرینې ته نه صحیح کیږی، ځکه چه قیام په ذوی الاجسام کښے راځی او قرینه په دغه قسم نه ده، بلکه حقیقه ده، هغه په دے مقام کښے دا ده، چه سوال د سائل مذکور وی او د دغه مقدر وی چه سوال د سائل مذکور نه وی بلکه مقدر وی. **سوال** - جوازًا مفعول مطلق دے په دے وجه منصوب دے لیکن دا نه دے صحیح ځکه چه مفعول مطلق هغه ته وائی چه فعل په هغه باندې مشتمل وی، په قبیل د اشتمال د کل نه په جزء باندې او دلته خو یحذف فعل نه دے، مشتمل په جوازًا باندې. **جواب** - دلته مفعول

مطلق حذفاً دے او جوازاً صفت دے د باب د مفعول مطلق، تقدیر به داسې شي، لقیام قرینة حذفاً جوازاً۔
سوال۔ صفت خو حمل وي په خپل موصوف باندې او دلته جوازاً موصوف وصف دے، حمل د دې نه صحیح
کیږي **جواب۔** دلته جوازاً مصدر مبني للفاعل دے، یعنې په تاویل د جائزاً سره دے، تقدیر به
داسې شي یحذف الفعل لقیام قرینة حذفاً جائزاً۔

فی مثل زید لمن قال من قام

په مثل د مقولې د زیدٌ کښې چې جواب اعرابیه چه مَنْ
قَامَ، نو په جواب کښې دلته اووایې چې زیدٌ، چې دا په اصل کښې قام زیدٌ
دے۔ دا مثال د قرینې لفظیه دے، ځکه چې دلته سوال چې مَنْ قَامَ دے، هغه مذکور دے او دلته حذف
جوازي دے او قرینه په حذف باندې موجوده ده، چې هغه سوال د سائل دے او سوال کښې فعل مذکور دے،
نو المذکور فی السوال کالمعاد فی الجواب د قاعدې د لاندې په جواب کښې حذف د فعل راغلے دے، اوس
زه کوم دا خبره چې دلته اختلاف دے په مابین د شیخ رضي او د ماتن کښې، چې دا زیدٌ چې کوم په جواب د سوال
کښې راغلے دے، دا مبتداء دے، په نزد د شیخ رضي باندې او خبر یې محذوف دے او په نزد د ابن حاجب باندې
دا فاعل دے او فعل یې محذوف دے۔ د شیخ رضي د پاره دوه دلیلونه دي، یو دلیل عقلي دے او بل
دلیل نقلي دے۔ دلیل عقلي دا دے چې مَنْ قَامَ دا سوالیه جمله اسمیه ده۔ پکار دا ده چې جواب هم ورته
جمله اسمیه راشي او دلیل نقلي دا دے چې په قرآن پاک کښې په جمله اسمیه سره سوال شوے دے، لکه قُلْ
مَنْ یُنَجِّیْکُمْ مِّنْ ظُلُمٰتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ الآیة او جواب یې هم په جمله اسمیه سره راغلے دے، لکه قُلِ اللّٰهُ یُنَجِّیْکُمْ
نو مطابقت د جواب د سوال سره راغلے دے، په جمله اسمیه کښې او د ابن حاجب د پاره دوه دلیلونه عقلي
دي او دوه دلیلونه نقلي دي۔ اوّل دلیل عقلي دا دے چې د سائل شک په قیام کښې نه دے ځکه چې مَنْ قَامَ
کښې بلکه شک یې په فاعل کښې دے، نو پکار دا ده چې زید دې فاعل شي مبتدا دې نه شي۔ دوّیم دلیل عقلي
دا دے چې، د حذف ضرورت کښې، تکثیر لاتحریک په حذف کښې، ځکه چې دلته فعل حذف شي او بل ځلې
ضمیر او چې فاعل زید شي، نو حذف به صرف د فعل راشي او تقلیل د حذف اولی دے، د تکثیر د حذف
نه۔ اوّل دلیل نقلي دا دے چې په قرآن پاک کښې جمله اسمیه سوالیه راغلې ده او په جواب کښې یې جمله فعلیه
راغلې ده، لکه مَنْ یُّحْیِ الْعِظَامَ جمله اسمیه ده او په جواب کښې یُحْیِیْهَا الَّذِیْٓ اَنْشَاَهَا جمله فعلیه راغلې
ده۔ دوّیم دلیل نقلي دا دے چې مَنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ، دا جمله اسمیه ده او د دې په جواب کښې
خَلَقَهُنَّ الْعَزِیْزُ الْعَلِیْمُ جمله فعلیه راغلې ده۔ او جواب د شیخ رضي د دلیل عقلي نه دا دے، چې دلته کښې او
که په ظاهر کښې سوال جمله اسمیه ده، لیکن د حقیقت دا فعلیه ده، ځکه چې په اصل کښې مَنْ قَامَ داسې وو
هل قَامَ زیدٌ وهل قام بکرٌ وهل قام عمروٌ، نو د دې نه پټولو نه تعبیر په من قام سره او شولو جواب
د شیخ رضي د دلیل عقلي نه دا دے چې اَللّٰهُ یُنَجِّیْکُمْ مِنْهَا دا بظاهر جمله اسمیه ده، لیکن په اصل کښې جمله

فعلیه ده. ځکه چه دا یی دے "ینجیکم الله". لیکن دلته تقدیم د الله په فعل باندې ر انغه د پاره د دې چه تقدیم د ماحقهٔ التاخیر فائده کوی حصر او اختصاص لره، نو اعتبار اصل لره اوشو اصلیت کښې دا جمله فعلیه ده نو مذهب د مصنف قوی دے۔

درس نمبر ۹۴

شعر: لیبك یزید ضارع لخصومة
ومختبطٌ مما تطیح الطوائح!

معنی د شعر:- ژړا دې اوکړے شی په یزید باندې "خوک دې اوژاړی" هغه څوک دې اوژاړی چه کمزورے اوضعیف دے په وخت د جنګ کښې ځکه چه دے یزید بن نهشل به د کمزورو او ضعفاؤ فریاد رسی او امداد کولو په وخت د جنګ د دوئ کښې چه به ورباندې ظلم کولو او ژړا دې اوکړے شی په یزید باندې۔ څوک دې اوژاړی هغه کس چه هغه سائل بلا وسیله دے، د وجه د هلاکت د حوادثو نه۔ ځکه چه په یوې ورسه سړی به مصیبتونه راغلل، نو دا یزید به د هغه د پاره سهارا وه، اوس چه دے مړ شی نو دا سائل بلا وسیله به د حوادثو د لاسه هلاک شی)۔

تشریح اللغات:- ضارع په معنی د کمزوری او ضعیف، مختبط سائل بلا وسیله ته وائی، تطیح په معنی د تهلکه سره دے، الطوائح جمع د مطیحة ده خلاف القیاس، حوادث او مصیبتونه ترے نه مراد دی۔

دا دویم مثال دے چه حذف په کښې جائز وی، په وخت د وجود د قرینه کښې۔ خو په دې کښې قرینه منفیه ده او په پومبنی مثال کښې قرینه محققه ده۔ دلته قرینه مقدره دا ده چه سوال د سائل په ظاهر کښې مذکور نه دے، بلکه مقدر دے ځکه چه دے وائی "لیبك یزید"۔ ژړا دې اوکړے شی په یزید باند، نو سوال پیدا کیږی چه مَنْ یبکیه۔ پس دا ضارع جواب دے، د دې سوال مقدر چه ژړا دې هغه اوکړی هغه کمزورے او ضعیف په وخت د جنګ کښې۔ سوال. نه خوا چه دلته سوال مقدر دے، په دې سوال مقدره باندې څه قرینه ده؟ جواب. قرینه په دې سوال مقدر باندې صیغه د مجهول ده چه "لیبك" ده، ځکه چه صیغه د مجهول پیدا کوی تردد او ابهام او د پاره د دفع د تردد او د ابهام ضرورة پیښیږی سوال ته۔

سوال. لخصومة جار مجرور دی، که چرے دا په لیبك پورې متعلق شی، نو معنی نه صحیح کیږی، چه ژړا دې اوکړے شی د وجه د خصومة نه۔ حالانکه دا خو نه ده، ځکه چه دلته کښې ژړا په مرګ د یزید باندې لګیا ده او که ضارع سره متعلق شی نو دا هم نه دے صحیح ځکه ضارع صیغه د اسم فاعل ده او دے به عمل کوی چه اعتماد یې راغلے وی په یو د امورو سته پورې، چه یا ترې نه مخکښې استفهام وی یا موصوف وی او یا موصول وی وغیره، چه تفصیل یې مونږ ستاسو د وړاندې بیان کړے دے او دلته کښې خو هیڅ یو امر هم نشته، چه ضارع ورباندې اعتماد کړے وی۔ جواب. لخصومة متعلق دے په ضارع پورې او که واقعے چه لیکن... نه دے راغلے په یو د امور سته پورې، نو جواب دا دے چه "لخصومة" دا ظرف دے او ظرف لره... د عمل دپاره... یعنی یو کمزورے عامل هم به ده کښې عمل کولے شی او دویم جواب دا دے

چې مونږ اعتماد کړے دے، په معروف محذوفه باندې، چې هغه مشخص نه دے ذکر شوے او یا د لحاظ د متن سره صحیح دی، ځکه چې مقصد په اولے مصرعه سره حاصل شوے دے او بیا د متن په اختصار دے، لهذا دغه ذکر کول ئې ته ضرور نشته. لـه.

درس نمبر ۹۳

وَوجوباً فِي مثل وان احد من المشركين استجارك

او حذف د عامل رافع د فاعل په حذف وجوبي سره په وخت د وجود د

قرینې او تفسیر سره کیږي په مثل د دے ترکیب کښې چې آیت کریمه دے. مراد په دے سره هغه ترکیب دے چې حذف شوے وي عامل رافع د فاعل، بیا د هغه تفسیر راغلے وي، د پاره د رفع د ابهام، چې دا ابهام ناشي وي د حذف د وجه نه د نکارت نه. او دلته کښې حذف وجوبي دے، ځکه چې قرینه او سد مسد په دے ترکیب کښې موجود دي. هرچه دا قرینه، هغه دخول د ان شرطیه دے په اسم باندې او ان شرطیه په اسم باندې نه داخلیږي، بلکه په فعل داخلیږي او دلته چې په اسم داخل شوے دے، لو معلومه شوه چې فعل حذف دے او هرچه سد مسد هغه قیام د مفسر دے، په ځائے د مفسر باندې. پس تقدیر د آیت دا شان دے چې "وان استجارك احد من المشركين استجارك" او دلته کښې حذف په دے وجه باندې واجب دے چې جمع راتلي په مابین د مفسَّر او مفسِّر کښې. پس حذف شو اول استجارك او ثاني تلفظ شو په مقابله د اول باندې او دلته دا وجوباً عطف دے په جوازاً باندې او جوازاً صفت دے، د پاره د مفعول مطلق محذوفه چې حذفاً دے، لو دلته کښې. او دا صفت دے، د پاره د حذفاً او دلته کښې تاویل شوے وي، په جوازاً کښې او په معنیٰ د جائز سره کړے شوے وي، لو دلته به هم دا په معنیٰ د واجب سره شي. سوال. ته وائے چې جمع په مابین د مفسَّر او مفسِّر کښې راتله (تفسیر کښې) نه شي راتلے او حالانکه په دے آیت کښې جمع راغلي دا، په مابین د مفسر او تفسیر کښې. لکه "اني رأيت احد عشر كوكباً والشمس والقمر رأيتهم لي ساجدين". دلته کښې رأيتهم د اول رأيت د پاره تفسیر واقع شوے دے. جواب. راتله د جمع په مابین د تفسیر او مفسر کښې هلته چې دا تفسیر د پاره د مجرد تفسیر وي او دلته کښې د پاره د مجرد تفسیر نه دے، بلکه د پاره د اتصال د جملے اولے دے. سوال. ته خو وائے چې جمع ناروا ده، په مابین د مفسَّر او د تفسیر کښې، حالانکه په جاءني رجل اے زيد کښې جمع راغلې ده، چې دلته کښې رجل مفسَّر دے او زيد مفسِّر دے. جواب. ځکه مفسِّر وئیلي دي، په معنیٰ د عبارت کښې چې ما

لـه. د مونږ مقصد چونکه په اوله مصرعه کښې حاصل شو او هغه په دویمه مصرعه ثاني، لو دا اگرچه د مقام د توضیح سره مناسبه نه ده، لیکن شارح جامي صاحب حصول الفضل کړے دے. لو غرض د دے نه تشریح د لغاتو ده او بل غرض په کښې متن او قرینه د مثال هم دے. (م.س).

تفسیر واقع دے، د پاره د رفع د ابهام چه نشتی وی، د حذف نه نه د نکارت نه او دلته کښې دا التفسیر چه ای زیداً
دا ناشی دے د نکارت نه، نه د حذف نه۔ پس دا قسم ترکیب روا دے۔

وقد یحذفان معاً فی مثل نعم لمن قال اقام زیدٌ او کله کله دا فعل او فاعل دواړه حذف کیدے شی په وخت د وجود د قرینې کښې، په حذف جوازی سره، په مثل د نعم مقوله
نعم کښې۔ دلته فعل او فاعل دواړه حذف دی، یعنی نعم قام زیدٌ په
دې کښې حذف جوازی دے او حذف وجوبی نه دے، ځکه چه حذف وجوبی هلته کښې وی چه قرینه او سد مسد
دواړه وی او دلته قرینه خو شته، مګر سد مسد نشته۔ پس دا حذف جوازی شو او حذف وجوبی نه شو۔
قرینه دلته کښې سوال د سائل دے، چه اقام زیدٌ۔ دلته کښې فعل او فاعل دواړه مذکور دی په سوال کښې،
او المذکور فی السوال کالمعاد فی الجواب۔ **سوال**۔ دلته خو حذف وجوبی شی او نعم قائم مقام دے په
مقام د فعل او فاعل دواړه باندې۔ **جواب**۔ نعم حرف دے غیر مستقل دے او فعل او فاعل دواړه
مستقل دی او غیر مستقل قائم مقام د مستقل نه شی واقع کیدے۔ **سوال**۔ دا قاعده منتقضه شوه په یا حرف
ندا باندې، ځکه چه یا حرف دے او قائم مقام دے د فعل چه ادعو دے، په یا زید کښې، نو غیر مستقل قائم
مقام د مستقل (چه فعل دے) واقع شوے دے۔ **جواب**: یا قائم مقام د فعل دے، دا قاعده سماعی
ده او په سماع باندې بل شی نه شی قیاس کیدلے۔

درس نمبر ۹۲

واذا تنازع الفعلان ظاهراً بعدهما او هغه وخت کښې چه شتنت د تقاضا او کړی
دواړه عاملین د معمولیت د اسم ظاهر چه هغه واقع وی، روستو
د دې فعلینو نه په دې شان سره چه یو عامل تقاضا کوی چه دا د زما معمول او ګرځی او بل تقاضا کوی چه دا
د زما معمول او ګرځی او دا معمول هم صلاحیت د دې خبرې لری چه دے د معمول واقع شی، د هر واحد
پاره په سبیل د بدلیت سره۔ دا مشهوره مسئله د علم نحو ده چه دې ته تنازع د فعلین وائی۔
سوال۔ تنازع چه څنګه په دوؤ فعلینو کښې راځی، نو دغه شان په د ټکر شبهه فعلین کښې هم راځی، نو ولے
خاص کړو په ذکر سره فعلین؟ **جواب**۔ ذکر د فعلین دے او مراد ترے نه عاملین دے۔
سوال۔ بیکاره چه بیا عاملین ذکر کړے وے۔ **جواب**۔ ذکر د فعلین د وجه د اصالت نه دے
چه اصل او قوی په عاملو کښې فعل دے۔ **سوال**۔ تنازع چه څنګه په دوؤ فعلینو کښې راځی، نو دغه شان
په ډیرو کښې هم راځی، لکه کما صلّیت وسلمت وبارکت ورحمت وترحمت علی ابراهیم۔ پس ولے مصنف
دوؤ فعلینو ته نسبت او کړو؟ **جواب**۔ دوه فعلین د پاره د حصر نه دی، بلکه اقله مرتبه د تنازع یې
ذکر کړه چه هغه دوه دی، کما ازکره او زیات چه هر څومره وی۔ **سوال**۔ نسبت د تنازع ستا فعلین ته

نه، صحیح کیږي نګ چه تنازع په نحوی الروح اؤ حیوانا تو کښې راځي اؤ فعلین خو غیر ذوي الروح دي. **جواب**. د تنازع په معنیٰ لغوي ده چه هغه "بایک دیګر نزاع ساختن" یعنې یو بل سره جګړه کول دي اؤ بله معنیٰ اصطلاحي ده، هغه دا ده چه په شفقت سره تقاضا کول دي، د دوو عاملینو د معمولیت د اِسم، چه پس د دوي نه وي اؤ دا اِسم هم صلاحیت د دې خبرې لري، چه د دواړو د پاره معمول واقع شي په طریقه د بدلیت سره. **سوال**. دلته ظاهراً دا صفت دے اؤ د هر صفت د پاره لابدي ده د موصوف نه، نو د دې د پاره موصوف څه دے؟

جواب. د دې د پاره موصوف اِسم دے اؤ دا ظاهراً منصوب دے بنا بر مفعولیة. **سوال**. تنازع خو باب تفاعل دے اؤ باب تفاعل، لازمي دے اؤ د لازمي د پاره مفعول نه راځي. **جواب**. باب تفاعل دا منقول دے د باب مفاعله نه اؤ باب مفاعله په دوه قسمه دے، یو هغه دے چه متعدي وي د دوو مفعولینو نه اؤ بل هغه دے چه متعدي وي یو مفعول ته. دلته کښې مراد اَوّل دے، چه متعدي وي دوو مفعولینو ته، خو چه کله یې باب تفاعل ته واړولو نو یو مفعول ته یې متعدي کړه. زه کوم دا خبره چه باب تفاعل کښې اؤ مفاعله کښې دا فرق دے، چه په مفاعله کښې معنیٰ د غلبې پرته ده اؤ د دواړو دوه جانبین (د دوه څیزه) غواړي، خو په باب مُفاعله کښې یو ته نسبت د مفعول کیږي اؤ بل ته د فاعل، مګر په دوي کښې کوم یو مغلوب وي نسبتاً نو هغه ته نسبت د مفعول اوشي، لکه ضَارَبَ زیدٌ عمروًا اؤ په باب تفاعل کښې یو ته هم نسبت د مفعول نه کیږي، ځکه چه معنیٰ معلومه برابر دي، په غلبه کښې په دې وجه ځي شي، چه تَضَارَبَ زیدٌ عمروٌ په ظاهراً سره لفتراز راغله. د اِسم ضمیر نه. برابره خبره ده چه متصل وي که منفصل وي، که ضمیر متصل وي، خو بیا متعین دے اعمال د ثاني، ځکه چه دا ضمیر کالجزء اوګرځېدو د هغه فعل نه اؤ نه شي ترې بیلولی عمل ورکول، یو دا فعلین ته په جزء د فعل آخر کښې، لکه ضربتُ واکرمتهٗ. دلته کښې په اکرمته کښې دا ضمیر د مفعول متعین دے، د پاره د اعمال د فعل ثاني چه اکرمت دے، ځکه چه دے کالجزء دے، د دې نه اؤ د دې مفعول د پاره د فعل اول چه ضربتُ دے هم اوکلے واقع شوے دے اؤ که ضمیر منفصل وي، لکه ما ضربت واکرم الاّ أنا، په دې کښې اګر چه تنازع شته دے، لیکن صورت د قطع د تنازع په کښې نه دے ممکن چه اعمال فعل ثاني لو دے، په نزد د بصریینو اؤ اضمار دے په اول کښې ځکه چه په دغه صورت کښې یا لازمیږي اضمار د حرف اؤ یا دا چه هر کله ضمیر متصل کښې تنازع نه وه، نو حمل کړے شو اؤ قیاس کړے شو، ضمیر منفصل په دې باندې.

درس نمبر ۹۵

لبعدهما لے واقعاً لبعد الفعلین، چه دا اِسم ظاهر واقع شوے وي پس د دے فعلینو نه، لبعدهما د پاره متعلق محذوف دے، چه واقعاً دے اؤ دا ځکه به وي، پس د فعلینو نه، که چرے په اوّل یا په وسط کښې، نو تنازع نشته، ځکه چه په دغه وخت کښې به متعین وي اوّل.

فقد یکون فی الفاعلیة مثل ضربني واکرمني زیدٌ دلته کښې دا فاجزائیه ده لوے جواب ده.

محذوف دے، چه اذا کان الامر کذالک فقد یکون، اَوْ یا دا فا تفریعیه، یعنی تفریع دَ چه ماقبل باندې اَوْ دا ترکیب راج دے، ځکه چه په دغه صورت کښې، تقدیر دَ عبارت ته ضرورت نشته۔ پس کله وی دا تنازع دَ دوه فعلین په کوت دَ دوه اِسم ظاهر کښې فاعل یعنی هر یو دَ دے فعلین نه دا تقاضا کوی، چه دا اِسم ظاهر دے زما دَ پاره فاعل وی، لکه ضربنی واکرمنی زیدٌ دے، دوی تقاضا دَ فاعلیة دَ زید کوی۔

وفي المفعولیه مثل ضَرَبْتُ واکرمتُ زیداً

اَوْ کله دا تنازع دَ دوه فعلین راځی په کوت دَ اِسم ظاهر کښې مفعول، یعنی هر یو فعلین نه دا تقاضا کوی، چه دا اِسم ظاهر دې زما دَ پاره مفعول، لکه په مثل دَ ضربتُ واکرمتُ زیداً، چه هر یو فعل تقاضا کوی چه زیداً به زما دَ پاره مفعول شی۔

اوفي الفاعلیة والمفعولیة مختلفین

اَوْ یا وی دا تنازع دَ فعلین متنازعین پاره فاعلیة اَوْ یا مفعولیة دَ اِسم ظاهر کښې په حال دَ کون دَ دوه فعلین کښې چه مختلفین وی.

دَ حیثیت دَ اقتضاء نه په دے شان سره چه یو تقاضا دَ فاعلیة دَ اِسم ظاهر کوی اَوْ تقاضا دَ مفعولیة دَ اِسم ظاهر کوی۔ دلته دا مختلفین حال صحیح کیږی دَ فعلین نه۔ پس معنیٰ به داشی چه، په حال دَ کون دَ دے فعلین کښې چه مختلفین وی اَوْ یا داخبره ده، دَ پاره دَ کان۔ پس تکمیه به داسے شی، ان کان الفعلان مختلفین۔ مصنف فعلین مقید کړی په قید دَ مختلفین سره دَ پاره دَ دفع دَ توهم چه ضرب ضرب زیدٌ اَوْ ضَرَبْتُ ضَرَبْتُ زیداً خو هم دَ دے تبیل نه دے، لو دا توهم دفع شو په دے قید سره، چه دلته کښې فعلین مختلفین نه دی، ځکه چه دلته کښې ثانی فعل تاکید دے دَ پاره دَ اَوَّل، په مختلفین باندې ۔ **سوال** وارد یږی، چه ذکر دَ مختلفین دے۔ پس دَ فاعلیة اَوْ مفعولیة نه مستدرک دے، ځکه چه دَ مفعولیة په اقتضاء کښې خو اختلاف ظاهر دے ۔ **جواب**. تنازع په فعلین کښې په فاعلیة اَوْ مفعولیة کښې په دَوه قسمه، یو دا دَ چه اتحاد وی په تقاضا کښې اَوْ متنازع فیه متعدد وی، لکه ضربنی واهان نیدٌ عمروا، دلته کښې اتحاد په تقاضا کښې دے، هر یو فعل وائی چه زیدٌ اَوْ عمرو دواړه معمولین اَوْ دَ دویم قسم هغه دے چه اختلاف وی، په تقاضا کښې اَوْ متنازع فیه واحد وی لکه ضربنی واکرمتُ زیداً په دے کښې یو فعل تقاضا کوی، چه زید زما دَ پاره فاعل شی اَوْ بل دَ فعل تقاضا دَ مفعولیة دَ زید ده، لو دلته کښې دا دویم قسم مراد دے۔ **سوال** لو بیا خو حصر دَ تنازع په درے اقسام کښې باطل شو، ځکه چه څلورم قسم هم په کښې موجود شو۔ **جواب**. اَوَّل قسم مندرج دے، په قسمین اَوَّلین کښې۔ **سوال**. تا خو دَ اَوَّلنو قسمونو مثالونه ذکر کړل اَوْ دَ دویم قسم مثال دے ذکر نه کړه؟ **جواب**. ذکر عام دے، صراحتاً وی که ضمناً۔ دلته کښې اگر که مثال صراحتاً ذکر نه دے خو ضمناً ذکر دے، ځکه چه یو فعل دَ اَوَّل قسم نه را واخله اَوْ بل فعل دَ دویم قسم نه را واخله، لو قسم ثالث به ترے نه جوړ شی، لکه اَوَّل دا چه ضربنی واکرمت زیداً یا اکرمت وضربنی زیدٌ۔

یختار البصریون اعمال الثانی والکوفیون الاول

ما فا جزائیه ده، دَ پاره دا

شرطیه بالتوزیع ده، په جواز باندِ چه متفق کون دے، یا جواز دے، د شرط مقدر، د بصریینو نه مراد ... د بعضي دی او په بصریون کښې دا ولو او نون نسبتی دی او په بصره کښې د با کسره ده۔ زړه کړه دا خبره چه دلته کښې اختلاف دے، د غالو د بصره کښې او په مابین د غالو د کوفه کښې۔ نحات د بصرے والی چه په صورت د تنازع کښې په عمل ورکولے شی، فعل ثانی لره، یعنی عمل ثانی لره اولیٰ دے، سره د جواز د عمل د فعل اول نه او دا حکم چه اسم ظاهر قریب دے، فعل ثانی نه او الحق للقریب ثم للبعید او نحات د کوفے والی چه، اعمال ورکول فعل اول لره اولیٰ دے، سره د جواز د عمل د فعل ثانی نه، حکمه چه حقوق والی دا فعل اول متقدم دے او الفضل للمتقدم لکه السابقون السابقون۔ پس د مصنف په نزد باندِ مذهب د بصریانو اولیٰ دے او د قربت نه علاوه بله وجه د محکومیت داده، چه په صورت د عمل ورکولو کښې فعل اول ته نه فصل راځی، په اجنبی سره، په مابین د عامل او د معمول کښې او دا خلاف الاصل دے، حکمه چه اصل په معمول کښې دا دے، چه متصل وی، د عامل سره۔ بل دا چه اعمال ورکول فعل ثانی لره، په قرآن پاک کښې راغلی دی، لکه هَاؤُمُ اقْرَءُوْا كِتَابِيَهْ، لکه اٰتُوْنِیْٓ اُفْرِغْ عَلَيْهِ قِطْرًا او هم دغه شان په کلام د فصحاؤ د عربو کښې اعمال راغلے دے، فعل ثانی لره

فان اعملت الثانی اضمرت الفاعل فی الاول

دلته دا فا تفصیلیه ده، الثانی صفت واقع شوے دے، د موصوف محذوف لپاره، چه هغه الفعل دے او هم دغه شان الاول هم صفت دے، د پاره د الفعل۔ پس کله چه ته عمل ورکړے فعل ثانی لره چه دا اسم ظاهر په معمول اوګرځی، د پاره د فعل ثانی، لکه چه څنګه مذهب د بصریانو دے، نو ضمیر د فاعل به راوړے په فعل اول کښې، ځکه چه دا دواړه فعلونه تقاضا د فاعلیت د اسم ظاهر کوله، ځکه چه د پاره د رفع د تنازع طریق څلور دی، یا اظهار دے، یا حذف دے او یا اضمار دے، که دلته کښې اظهار کړو، نو تکرار لازمیږی او تکرار شنیع دے او که حذف کړو، نو حذف د عمده لازمیږی، په ضرورت سره سره نه او دا ناجائز دے۔ پس متعین شو اضمار او اضمار قبل الذکر نه لازمیږی، ځکه چه دا عمده دے او په عمده کښې اضمار قبل الذکر روا دے، په شرط د تفسیر په مابعد کښې۔ پوهه شه چه دلته یو ضابطه ده، په اضمار کښې، هغه دا چه دا اضمار به خالی نه وی، یا به په عمده کښې وی یا به په فضله کښې وی، که چرے په عمده کښې وی، بیا به یا به شرط د تفسیر محض وی او یا به په شرط د تفسیر ما وی، په شرط د تفسیر محض، لکه هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ او په شرط د تفسیر ما، مثال نه وړاندې چه معلوم وی او تفسیر محض وی، لکه جاء لی واکرمت زیدا او چه نه په شرط د تفسیر محض وی او نه په شرط د تفسیر ما وی، دا ناجائز دے او که چرته دا اضمار په فضله کښې وی، نو دا هم د هغه شان په دے طریقه سره دے، البته په شرط د تفسیر محض، او په شرط د تفسیر ما او یو بل د یے دوارونه، نو که چرته په شرط د تفسیر محض وی، نو جائز دے او دا نور د دوه صورتونه ناجائز دی۔

———٭———

درس نمبر ۹۶

دون الحذف نه حذف یعنی په فعل اول کښې به اضمار د ضمیر کیږي او حذف نه شي کیدے ځکه چه حذف د عمده لازمیږي او دا ناجائز دے، ځکه چه فعل موقوف دے په فاعل باندې۔

خلافاً للکسائي خلافاً مفعول مطلق دے د فعل محذوف نه، چه خالف دے یا یخالف دے،

یعني یخالف القول بالاضمار دون الحذف خلافاً للکسائي، هغه وائي چه په دغه صورت کښې به فاعل حذف کولے شي ځکه چه د پاره د رفع د تنازع طرق ثلاثة دي، یو اضمار دے، یو حذف دے، یو اظهار دے، دلته کښې اضمار کوو لکه چه څنګه بصریانو کړے دے، نو لازمیږي اضمار قبل الذکر او د هغه په نزد باندې اضمار قبل الذکر په عمده او په فضله دواړو کښې صحیح نه دے او که اظهار کوو نو لازمیږي تکرار، پس حذف متعین شو، خو په کسائي باندې سوال وارديږي چه دلته کښې خو حذف د عمده راغلې او دا ناجائز دے۔

جواب حذف د عمده په هغه ځائے کښې ناجائز دے چه چرته کښې سد مسد او مقام نه وي او دلته کښې فرق حذف د فاعل راغلې دے او س چه په مذهب د بصریانو باندې اعمال د فعل ثاني اوشي او اضمار په فعل اول کښې راشي او دواړه تقاضا د فاعلیة د اسم ظاهر کوي، نو دا به شي، ضربني واکرمني زیدٌ۔ دلته کښې په ضربني کښې ضمیر دے چه هغه راجع دے زید ته او زید فاعل د اکرمني دے، ضرباني واکرمني الزیدان۔ دلته کښې د ضرباني د پاره فاعل هغه ضمیر د تثنیه دے او د اکرمني الزیدان فاعل دے، په ضرباني کښې ضمیر موافق د اسم ظاهر راغلې دے، ضربوني واکرمني الزیدون د ضربوني فاعل هغه ضمیر د جمع راجع دے الزیدون ته، او د دے په موافق کښې ضمیر د جمع راوړے شوے دے۔

وجاز خلافاً للفراء دلته کښې دا جمله معترضه ده او جائز دے اعمال د فعل ثاني په وخت د اقتضاء د فعل اول کښې د فاعلیة د اسم ظاهر او د دے قول نه خلاف کړے دے فراء نحوي، د هغه په نزد باندې ناجائز دے ځکه چه هغه وائي چه یو نقصان په دے د دوه خبرو کښې لازمیږي یعني احد المحذورین لازمیږي یا اضمار قبل الذکر او یا حذف د فاعل او دا دواړه نه جائز دي د ده په نزد په حذف د فاعل باندې قائل دے کسائي او په اضمار باندې قائل دي جمهور نحاة۔

وحذفت المفعول ان استغنی عنه او نه به حذف کړے مفعول که چرے بے پرواهي راغلې وي د دے مفعول نه په دے شان سره چه دا فعل د افعال قلوب نه نه وي ځکه چه د پاره د رفع د تنازع طرق ثلاثة دي یا اظهار دے یا اضمار دے یا حذف۔ دلته که اظهار کوو، نو لازمیږي تکرار او که اضمار کوو، نو لازمیږي اضمار قبل الذکر په فضله کښې او دا ناجائز دے۔ پس متعین شو حذف۔

والا اظهرت او که چرته بے پرواهي نه وي راغلې نو بیا به اظهار د مفعول کیږي په دے شان

سره جمع نه دی فعل د افعالِ قلوبو، ځکه چه د پاره د رفع د تنازع طرق ثلاثه دی، اظهار دے او اضمار دے، حذف دے، که حذف کوو، نو لازمیږی حذف د یو د مفعولینو د افعالِ قلوبو او دا ناجائز دے، ځکه چه افعال قلوب د مفعولینو مضمون یو دے په دے شان سره چه دویم مفعول مصدر را واخله او مضاف الیه مفعول ته یئے مضاف کړی، نو دا به مضاف مضاف الیه شی په کښے شدت اتصال دے، حذف د یو په کښے نه راځی او یا دا چه بعض حضراتو کښے دا مبتدا او خبر دی، او په مبتداء او خبر کښے حذف د یو نا روا دے، لکه حسبنی وحسبتُ زیداً منطلقاً۔ دلته کښے حسبنی دا تقاضا کوی چه منطلقاً دې زما د پاره مفعول ثانی شی او حسبتُ دا تقاضا کوی، چه دا دې زما د پاره مفعول ثانی شی۔ دلته کښے حذف نه شی کیدے، ځکه چه مضمون د مفعولینو یو دے، چه هغه انطلاق زید دے، نو مصدر د منطلقاً مضاف شو زید ته، نو په دے کښے حذف نه شی کیدے، ځکه چه د دوئ په مابین کښے شدت اتصال دے او نه اضمار کیدے شی، ځکه چه لازمیږی اضمار قبل الذکر۔ پس متعین شو اظهار، نو د حسبنی د پاره منطلقاً مستقل راوړے شو۔ پس تقدیر د عبارت به دا سے شی چه حسبنی منطلقاً وحسبتُ زیداً منطلقاً۔

درس نمبر ۹۷

وان اُعملتَ الاولُ اضمرتَ الفاعلَ فی الثانی او که چرته ته اعمال اوکړے په فعل اوّل کښے یعنی عمل ورکړے فعل اوّل لره، لکه څنګه مذهب د کوفیانو دے او تقاضا کوله فعل ثانی د فاعلیت د اسم ظاهر، نو ضمیر د فاعل به راوړے په فعل ثانی کښے ځکه چه د پاره د رفع د تنازع طرق ثلاثه دی، اظهار دے، اضمار دے او حذف دے، که چرته اظهار کوو، نو لازمیږی تکرار او تکرار شنیع دے او که چرته حذف کوو، لازمیږی حذف د عمده په غیر د سد مسد نه او دا ناجائز دے۔ پس متعین شو اضمار لکه ضربتُ واکرمنی زیداً۔ دلته کښے الاول او الثانی دا صفتونه دی او موصوف د هغوی الفعل دے۔

والمفعول علی المختار ضمیر به راوړے د پاره د مفعول که چرته دے، فعل ثانی تقاضا کوله د مفعولیت د اسم ظاهر، بنا په مذهب مختار باندې (او عمل ورکړے شو فعل اوّل لره چه کوم مذهب د کوفیانو دے)، د پاره د دے چه متوهم تعقید او نه کړی، چه مفعول د فعل ثانی مغایر دے د مذکور نه او حذف کولے به شی بنا په مذهب غیر مختار باندې، ځکه چه د پاره د رفع د تنازع طرق ثلاثه دی، افضل یے اظهار دے، حذف دے، که دا اضمار کوو، نو لازمیږی اضمار قبل الذکر په فضله کښے او دا ناجائز دے، او که چرته اظهار کوو، نو لازمیږی تکرار۔ پس متعین شو حذف، ځکه چه دا فضله دے او حذف د فضلے جائز دے۔

الّا ان یمنع مانع فتظهر مگر په هغه وخت کښے چه مانع پیدا شی د اضمار نه، لکه چه مذهب مختار دے او مانع پیدا شی د حذف نه، لکه مذهب غیر مختار دے نو بیا به اظهار متحقق کیږی، په دے شان سره چه دا دواړه فعلین متنازعین د افعال قلوبو نه دی ځکه چه د یو

دَرفع دَ تنازع طرق ثلاثه دي، اضمار دے حذف دے او اظهار دے. که چرته حذف کړے شي نو لازميږي حذف دَيو دَ مفعولين دَ افعال قلوب او دا ناجائز دے، ځکه چه مفاد دَ دواړو يو دي (ځکه چه مبتدا او خبر دي) او که چرته اضمار کړو، نو هم نه صحيح کيږي. لکه په دے قول کښے حسبني و حسبتهما الزيدان منطلقاً. دلته کښے حسبني دا تقاضا کوي چه، دا منطلقاً دَ زمادَ پاره مفعول ثالث شي او حسبتهما دا هم غواړي چه، دا دَ زمادَ پاره مفعول ثالث شي او الزيدان دا فاعل دے. دلته کښے مونږ عمل فعل اوّل له ورکړے دے. او س که دلته اضمار کړو، نو يا به ضمير مفرد راوړو او يا تثنيه، که چرته ضمير مفرد راوړو او داسے اووايو چه، حسبني حسبتهما اياه الزيدان منطلقاً، نو په مابين دَ مفعولين دَ افعال قلوب کښے مطابقت نه راځي ځکه چه يو مفعول تثنيه دے او بل مفرد دے او که چرته ضمير دَ تثنيه راوړو، نو مطابقت نه راځي په مابين دَ راجع او دَ مرجع، لکه چه اووايو حسبني وحسبتهما اياهما الزيدان منطلقاً، نو مطابقت رانغے په مابين دَ راجع او دَ مرجع کښے، ځکه چه مرجع مفرد دے او ضمير دَ تثنيه دے. پس هر کله حذف هم نه صحيح کيږي او اضمار هم نه صحيح کيږي، نو متعين شو اظهار. پس تقدير به داسے شي، حسبني وحسبتهما منطلقين الزيدان منطلقاً. سوال. دلته خو دَ سره تنازع متحقق نه ده، ځکه چه يو فعل تقاضا کوي، دَ مفعول مفرد او بل تقاضا کوي، دَ مفعول دَ تثنيه او دلته دا مفعول مفرد دے. پس متعين دے دَ پاره دَ فعل اوّل، ځکه چه هغه مفعول غواړي. جواب. دلته تنازع په هغه اسم کښے ده چه هغه متصف دے په صفت دَ انطلاق سره، يعني ذات من له الانطلاق. برابره خبره ده چه هغه مفرد وي او که تثنيه وي.

وقول امرءِ القيس ع كفاني ولم اطلب قليل من المال

په دے عبارت سره مصنف جواب ورکوي، دَ جانب دَ بصريونو، کوفيانو ته او رد دے په کوفيانو باندے، په دے شان سره چه، امرء القيس افصح دَ شعرائو دَ عربو دے او جاهلي دے. دَ ده په شعر کښے تنازع متحقق شوي ده او ده عمل ورکړے دے، فعل اوّل له، نو دَ دے نه معلوميږي چه، زمونږ يعني دَ کوفيانو مذهب اولیٰ دے، هغه مصرعه دَ امرءُ القيس دا ده چه، كفاني ولم اطلب قليل من المال. دلته کښے تنازع په قليل من المال کښے راغلي ده، كفاني تقاضا کوي چه دے دِ زمادَ پاره فاعل اوګرځي او لم اطلب تقاضا کوي چه، دے دِ زمادَ پاره مفعول شي او دلته کښے دے مرفوع دے چه فاعل واقع شوے دے، دَ يا دَ کفاني فعل اوّل، نو امرء القيس اعمال ورکړے دے، فعل اوّل له. مصنف په دے عبارت رد اوکړو او دَ کوفيانو چه ستاسو په استدلال کښے راوړل دے مصرعه دَ امرء القيس له په اولويت دَ مذهب دَ کوفيانو نه دے صحيح.

ليس منه لفسادِ المعنى

دا دليل او دا مصرعه دَ باب دَ تنازع دَ فعلين نه نه ده، دَ وجه دَ فساد دَ معنیٰ نه، په صورت دَ تنازع کښے چه هغه اجتماع دَ نقيضين ده. تفصيل دَ دے دا دے، چه دَ دے مصرعے اوّله مصرعه هغه مقدّمه ده، په لوړ سره نه په تو کښے دَ ده منديٰ

بنه . یو دا چه لَو راشی د پاره د انتفاء د ثالث د وجه، د انتفاء د اوّل نه او بله دا چه لَو کله داخل شی په مثبت باندې منفی کوی او چه داخل شی په منفی هغه بیا مثبت کوی او معطوف په حکم د معطوف علیه کښې کوی یعنی په هغه کښې چه څنګه عمل کوی هغه عمل به په معطوف کښې هم کوی . که چرته په شرط دا خل شی هغه که مثبت وی نو منفی کوی او که منفی وی مثبت کوی او په جزاء کښې هم د هغه شان عمل کوی .

ولو انما اسعی لادنیٰ معیشة. کفانی ولم اطلب قلیل من المال دلته کښې لَو داخل شوے دے په انما اسعی باندې او دا مثبت دے . پس بنا په دې مقدمه باندې دا منفی کوځی په دے لَو سره نو معنیٰ دا شوه چه ز؛ مرته کښې عدم سعی دے نما د پاره د ادنیٰ معیشة ، دغه شان کفانی مثبت دے ، د لَو په وجه به مونږ معنیٰ د نفی او کړو چه عدم کفایت دے او لم اطلب د صیغه د نفی ده . د لَو په وجه به د د معنیٰ د مثبت او کوځی . پس په صورت د تنازع کښې به معنیٰ داشی چه زه کافی نه یم ، مالو قلیل مال او زه طلب کوم قلیل مال ، حیکله ده لو نه کافی کیږی قلیل مال . نو دے طلب نه شو د قلیل مال او به اولی چه نه طلب کوم قلیل مال دا نه ده ، مګر اجتماع د نقیضین او اجتماع د نقیضین باطل ده . په دے وجه باندې دا د باب د تنازع د فعلین نه نه دے او دلته کښې قلیل من المال دا متعین دے فاعل د اوّل د پاره او د دوئم فعل مفعول مقدر دے ، چه هغه مجد او عزت دے ، یعنی لم اطلب المجد والعز او دلیل په دے باندې بل بیت دے چه ولکنما اسعی لمجد مؤثل ، وقد یدرک المجد المؤثل امثالی لیکن زه کوشش کوم د پاره د حصول د بزرګی

درس نمبر ۹۸

مفعول مالم یسم فاعله هرکله چه مصنف فارغ شو د بیان د قسم اوّل د مرفوعاتو نه نو شروع یې او کړه په قسم ثانی د مرفوعاتو کښې . پس اوّل مثیل چه مفعول مالم یسم فاعله .

سوال . مصنف وے دا مفعول مالم یسم فاعله مندرج نه کړو په منها سره ، لکه چه څنګه یې ویلی دی په فاعل کښې فمنه الفاعل او په مبتدا کښې وائی ومنها المبتدا والخبر ، نو دلته کښې به ویلی وو چه منها المفعول مالم یسم فاعله ؟ **جواب** . دا د وجه د شدت اتصال د مفعول مالم یسم فاعله نه د فعل سره دلته یې فصل رانه وړو ، تر دے چه بعض نحاة وائی چه مفعول مالم یسم فاعله عین فاعل دے .

سوال . دا ما د خه نه عبارت وائی یا به یې عبارت رائی د فعل نه او یا شبه فعل نه او یا د دواړو نه ، که د فعل نه یې عبارت وائی ، نو مفعول مالم یسم فاعله چه د فعل نه راشی ، دغه خو د شبه فعل نه هم راځی او که عبارت یې وائی د شبه فعل نه نو هم نه صحیح کیږی ځکه چه مفعول مالم یسم فاعله د شبه فعل نه راځی داسے د فعل نه هم راځی او که چرے د دواړو نه یې عبارت وائی نو لازمیږی عموم د مشترک او دا ناجائز دے . **جواب** . دا عبارت دے د فعل نه او عبارت په حذف د مضاف او په حذف د معطوف علیه سره دے ، تقدیر به داسے شی چه مفعول الفعل او شبهه لم یسم فاعله .

سوال. ذکر د فعل یې ولې خاص کړو؟ چه مفعول الفعل یې اوویل؟ **جواب.** دا وجه د اصالت نه ځکه چه فعل اصل دے. **سوال.** په عبارت د مصنف کښې تضاد دے، ځکه چه د تعریف نه معلومیږي چه د کوم فاعل نه وي موجود او روستو په تعریف کښې وائي چه حذف فاعله، چه فاعل د ده حذف وي، ددے نه معلومیږي چه فاعل یې موجود دے، خو حذف کړے شوے دے، دا خو نو دے مګر تضاد. **جواب.** لم یسم په معنیٰ د لم یذکر سره دے. **سوال.** نسبت د فاعل خو فعل ته کیږي او تا مفعول ته اوکړو، په فاعله کښې.

جواب. نسبت د فاعل مفعول ته د وجه د ادنیٰ ملابست نه دے ځکه چه مفعول هم د متعلقاتو د فعل نه دے.

كل مفعول حذف فاعله واقيم هو مقامه | دا هر هغه مفعول دے چه حذف کړے شوے وي، فاعل د ده او اودرولے شوے وي، مفعول په ځائے د فاعل باندې یعني اسناد د فعل یا د شبهه فعل مفعول ته شوے وي.

سوال. تعریف خو د ماهیة او د حقیقت کیږي او تعریف د افرادو نه کیږي. دلته کل راغلے دے او کل راځي د پاره د احاطې د افرادو لوراوړل د کل ستا دلته په تعریف کښې نه صحیح کیږي. **جواب.** دلته کل د پاره د احاطې د افرادو نه دے راغلے بلکه د پاره د جمعیت او منعیة راغلے دے. **سوال.** مفعول به خنګه قائم مقام د فاعل شي، ځکه چه فاعل هغه ته وائي چه فعل د ده نه صادر شوے وي یا حادث وي، نعل د ده نه او مفعول هغه ته وائي چه واقع وي نعل د فاعل په ده باندې، نو په مابین د دوئ کښې خو منافات دے. **جواب.** مراد د اقامة د مفعول نه په مقام د فاعل باندې، اسناد د فعل دے یا د شبهه فعل د ده ته. **سوال.** ستا تعریف مانع نه شو د دخول د غیرو نه او داخل شو په کښې ربیع په دے ترکیب کښې چه انبت الربیع البقل (سپرلي سبزه راټوکوله)، ځکه چه انبات خو حقیقتاً الله تعالیٰ کوي. هغه فاعل حقیقي دے. دلته کښې هغه حذف کړے شو او د هغه په ځائے ربیع راوستلے شو، نو په ده خو هم تعریف د مفعول ما لم یسم فاعله صادقیږي. **جواب.** خبره زمونږ په فاعل نحوي کښې ده، نه په فاعل حقیقي کښې.

قاعده: حذف د فاعل کله د وجه د شهرت نه کیږي او کله د وجه د عظمت د فاعل نه کیږي او کله د وجه د خساست د فاعل نه کیږي او کله د وجه د جهالت د فاعل نه کیږي (یعني فاعل معلوم نه وي).[1]

درس نمبر ۹۹

شرطه ان تغير صيغة الفعل الى فُعِلَ او يُفْعَلُ | او شرط د پاره د حذف د فاعل او د

---

[1] مثال د هغه چه د وجه د شهرت او د وجه د عظمت نه حذف شوے وي لکه خلق الانسان ضعيفا او مثال د هغه چه د وجه د جهالت نه حذف شوے وي لکه شتم الامير او مثال د هغه چه د وجه د خساست نه حذف شوے وي لکه ضرب اللص. ۱۲ ب. ح. س.

په اقامت د مفعول ثاني په ځای د فاعل باندې داده چې متغير کيږي به صيغه د فعل. وزن د فُعِلَ او يا يُفْعَلُ نه مراد په فعل سره فعل ماضي مجهول دی او يُفْعَلُ سره فعل مضارع مجهول دی. بل ابوه خبره دا چې دا دواړه د ثلاثي مجرد وي، که مزيد وي او رباعي وغيره وي، ځکه چې په فعل مجهول کښې نسبت د فعل په ځای د فاعل باندې مفعول ته کيږي او دا يو امر غريب دے (او معنیٰ غريبه دی). پس محتاج شو نحاة د دې د پاره يو وزن غريب ته پس دا وزن وټاکه شو د پاره د دې چې غرابت د وزن دلالت اوکړي په غرابت د معنیٰ باندې.

سوال. تاسو اووئيل چې د مفعول ما لم يسم فاعله د پاره شرط دا دے چې تغير د فعل به راځي وي، نو فعل يا يفعل ته، او په شبه فعل کښې خو تغير نه وي راغلے فُعِلَ يا يُفْعَلُ ته او مفعول ما لم يسم فاعله چې څنګه په فعل کښې راځي، همدغسې په شبه فعل کښې هم راځي. **جواب.** ذکر د فعل د وجې د اصالت نه دے چې دُوَيلي وي ان تغير صيغة الفعل او په شبه فعل کښې به تغير د صيغې راغلے وي، مفعول ته. **سوال.** فعل او يفعل خو شامل دي صرف ثلاثي مجرد ولره، نو د دې نه ثلاثي مزيد او رباعي وغيره خارج شو.

جواب. حلته کښې ذکر د ماضي او د مضارع ثلاثي مجرد دے، ليکن مراد ترې نه مطلق ماضي مجهول او مضارع مجهول دي، لکه مفتعل يا استفعل يا فوعل تفوعل الخ او يا يستفعل يضارب يتفعل الخ دي.

سوال. د غرابة د وزن د پاره صيغه د فِعُلَ (مكسور الفاء مضموم العين) ډيره مناسبه وه، دا به دې راوړي وه ځکه چې ما غريب هم دے او ثقل هم دے. **جواب.** د مونږ مقصد په فُعِلَ سره حاصل شوے دے چې ثقيل دے. پس دا وړلو دا ثقل ته ضرورت نشته.[1]

ولا يقع المفعول الثاني من باب علمت والثالث

او نه به واقع کيږي مفعول ثاني په ځای د فاعل باندې د باب د علمت ....

نه. مراد په علمت سره هغه فعل دے چې هغه دوه مفعولونو ته متعدي کيږي، لکه علمت زيداً فاضلاً، ځکه چې مفعول ثاني د باب د علمت د دې اسناد راغلے دے مفعول اول ته په اسناد تام سره، ځکه چې دے په حقيقت کښې خبر دے، نو که چيرته دے مونږ فاعل واقع کړو، نو لازم به شي چې يو شے هم مسند اليه او هم مسند اوګرځي، او دا باطل دے، ځکه چې فاعل خو مسند اليه وي، فقط. **سوال.** ته به درته اوښايم چې يو اسم به هم مسند اليه وي او هم مسند، لکه اعجبني ضربُ زيدٍ. دلته کښې ضرب هم مسند اليه دے، ځکه چې دے فاعل دے د يا د اعجبني او د اسناد هم شوے دے، زيد ته، نو دا مسند واقع شوے دے، نو يو اسم هم مسند دے او هم مسند اليه. **جواب.** مراد په اسناد سره اسناد تام دے او دلته په اعجبني ضربُ زيدٍ کښې د ضرب اسناد زيد ته اسناد تام نه دے، ځکه چې دا مضاف او مضاف اليه دي، په مضاف، مضاف اليه کښې اسناد تام

---

[1] د لطيفې په شکل يوه مقوله ده چې په کوره مړي، نو ځوروته ته حاجت وي. ۱۲ م س.

نه وي۔

درس نمبر ۱۰۰

والثالث من باب اعلمت والمفعول له والمفعول معه كذالك.

او مفعول ثالث د باب اعلمت لکه اعلمت زیدًا عمروًا فاضلاً او مفعول له او مفعول معه هم په شان د مفعول ثالث د باب د اعلمت دي، يعني لکه څنګه مفعول ثالث د باب د اعلمت په ځائے د فاعل نه شي واقع کيدے، نو همغه شان مفعول ثالث د باب د اعلمت او مفعول له او مفعول معه هم په ځائے د فاعل نه شي واقع کيدے۔ هرچه دے مفعول ثالث د باب اعلمت د دې اسناد تام راغلے دے، مفعول ثاني ته۔ او کس که يوته دے موږ په ځائے د فاعل راولو نو دے به مسند اليه شي۔ پس لازم به شي يو شے هم مسند او هم مسند اليه او دا باطل دے او هرچه دے مفعول له، نو دے ځکه نه شي واقع کيدے په ځائے د فاعل باندې ځکه چه په دې کښې به يا نصب ولے او يا به نه ولے، که نه وي ولے، نو بيا خو علامه د مفعول له نه او علامه نه حذف کيږي او که وائے، نو مفعول مالم يسم فاعله خو منصوب نه وي، بلکه مرفوع وي۔ **سوال.** نو مونږ درته او ښايو چه مفعول له به وي او دے به مفعول مالم يسم فاعله واقع شوے وي، لکه ضرب للتاديب۔ **جواب.** دلته کښې مفعول له نه هغه مفعول له مراد دے چه بغير د لام نه وي او دا خو مع د لام نه دے او هرچه دے مفعول معه، نو دے خو ځکه مفعول مالم يسم فاعله نه واقع کيږي، چه دے به يا سره د واؤ نه قائم مقام د فاعل وي او يا بغير د واؤ نه، که سره د واؤ نه وي، نو بيا نه صحيح کيږي ځکه چه واؤ راځي د پاره د انفصال او په مابين د فعل او د فاعل کښې شدت اتصال دے، حتٰی کښې دے کالجزء د، د فعل نه او که بغير د واو نه يئے راوړو، نو واو خو علامه د مفعول معه ده، بيا حذف د علامې راځي او والعلامة قد تحذف۔ **سوال.** لکه دا ده چه ظرف دے هم قائم مقام د فاعل واقع نه شي، ځکه چه نصب د دې هم علامه د مفعوليت ده۔ **جواب.** ظرفيت د دې کوته د نفس صيغې نه معلوميږي، په دے وجه يئے ذکر نه کړو۔

واذا وجد المفعول به تعين له ---

او په هغه صورت کښې چه موجود کيږي شي مفعول به په کلام کښې سره د نورو مفاعيلو نه، چه صحيح وي اقامت د مفعول به مقام د فاعل باندې، نو متعين کيږي به، دا مفعول به په ځائے د فاعل اخستو د وجه د شدت مشابهت د دې نه د فاعل سره په توقف او په تعقل کښې يعني چه څنګه فعل متعدي محتاج وي فاعل ته، نو همغه شان محتاج وي مفعول به ته (لکه چه څنګه ضرب بغير د ضارب نه نه راځي، نو دا شان د مضروب نه هم نه راځي)۔

فائده:- د فعل د پاره درے وجوده دي، اول وجود خارجي، دويم وجود ذهني او دريم وجود لفظي. په وجود خارجي کښې فعل محتاج دے فاعل ته، مفعول ته، ظرف ته، آلے ته او په وجود ذهني کښې محتاج دے فاعل ته او مفعول ته او په وجود لفظي کښې محتاج دے صرف فاعل ته. دلته به زيږے نه مراد وجود ذهني

دے۔ **سوال**۔ اذا وجد الخ شرط دے او جزاء یے تعیّن له دے، نو دلته خو شرط او جزاء دواړه یو دی، چه مفعول به دے، حالانکه په شرط او جزاء کښې تغایر ضروری وی۔ **جواب**۔ دلته په عبارت کښې تقدیر دے یعنی اذا وجد المفعول به مع سائر المفاعیل تعیّن له۔ **سوال**۔ دلته دا تعین مستدرک دے، ځکه چه مفعول به بغیر جمیع شی د مفعول له سره او مفعول معه سره، نو مفعول به خپله بخپله متعین دے، ځکه چه مفعول له او مفعول معه د فاعل قائم مقام نه شی کیدے۔ **جواب**۔ مراد د مفاعیل نه هغه مفاعیل دی، چه صحیح وی اقامت د هغوی په ځائے د فاعل بانداو د مفعول له او معه اقامت په ځائے د فاعل نه صحیح کیږی

تقول ضرب زید یوم الجمعة امام الامیر ضربا شدیداً فی داره فتعین زید۔

په دے عبارت کښې زید مفعول به دے او دے کښې نور مفاعیل سره په دے ترکیب کښې لفظ دے یوم الجمعة ظرف زمان امام الامیر ظرف مکان، ضرباً مفعول مطلق دے د پاره د نوع په اعتبار د صفت سره او شدیداً دا صفت او قید دے، د پاره د ضرباً او داره داخو مفعول به دے، په واسطے د جر سره، اصل عبارت داسے دے چه ضرب عمرو زیداً۔ پس عمرو چه فاعل دے، حذف کړے شو او د ده په ځائے باندے زید چه مفعول به دے قائم کړے شو او ترجیح ئے لره ورکړے شوه په نورو مفاعیلو باندے، چونکه ضرباً مقید کړے شو، په شدیداً سره، ځکه چه مفعول مطلق بغیر د قید د تخصیص نه قائم مقام د فاعل نه واقع کیږی، ځکه چه فائده په کښې نشته، چه فعل هم د هغه نه مشتمل دے، په دے باندے زید کو داخبره چه دلته اختلاف دے په مابین د کوفیانو او بصریانو کښې۔ بصریان وائی چه په دے صورت کښې قیام د مفعول به په ځائے د فاعل باندے واجب دے۔ کوفیان وائی چه اولیٰ دے نه واجب۔

فان لم یکن فالجمیع سواء

که چرے مفعول به نه وی موجود۔ پس نور مفاعیل چه هغوی اقامت صحیح وی، په ځائے د مفعول باندے برابر دے اقامة د هغوی په مقام د مفعول باندے به د ترجیح نه۔ فان لم یکن دا شرط دے، یعنی فان لم یوجد المفعول به، فالجمیع سواء جزاء ده۔

والاوّل من باب اعطیت اولیٰ من الثانی

الاوّل صفت دے او د هغه صفت د پاره لابدی وی د موصوف نه، نو دے د پاره موصوف المفعول دے، یعنی المفعول الاول هغه شان د الثانی د پاره موصوف هم المفعول دے، یعنی المفعول الثانی۔ پس معنی د عبارت به داشی او اقامة د مفعول اوّل د باب د اعطیتُ (د باب د اعطیت نه مراد هر هغه فعل دے، چه متعدی وی، دوو مفعولینو ته) په مقام د فاعل باندے اولیٰ راجح دے، د اقامت د مفعول ثانی د باب اعطیت نه په مقام د فاعل، لیکن دا اولویت په هغه وخت کښې دے، چه کله په دوی کښې التباس نه وی، که چرته التباس وی، نو بیا واجب دے، لکه اعطیت زیداً درهماً، چه کله مجهول جوړے نو بیا هم اول والی به چه اعطی زیدٌ درهماً:

زید مفعول اول او درهماً مفعول ثانی۔ پس دلته مفعول اول چه زید دے اقامة د دهٔ په ځائے د فاعل اولیٰ دے، د ثانی نه چه درهماً دے او که چرته درهماً واقع کړے، نو دا هم صحیح دے، ځکه چه دلته التباس نهٔ راځی، زید به هر حال کښې آخذ دے او درهم به هر حال کښې مأخوذ دے او دا ترکیب چه اعطیت زیداً درهماً دے، چه هر کله ئے مجهول کړے، نو داسے به وائے، اعطی زیدٌ درهماً او اقامت د مفعول اول چه زید دے، دا واجب دهٔ په مقام د فاعل باندې، ځکه چه دلته التباس راځی چه هر واحد د دے دواړو نه آخذ او مأخوذ صحیح کیږی۔

درس نمبر ۱۰۱

فمنها المبتدأ والخبر فالمبتدأ هو الاسم پس د بعض د مرفوعاتو نه مبتدأ او خبر دی۔ پس مبتدأ چه دهٔ دا هغه اسم دے، برابره خبره ده چه صراحتاً وی که تاویلاً وی او چه تاویلاً وی نو بیا برابره خبره ده چه ان په کښې ملفوظ وی که مقدر وی۔

فائده:- په بعضو نسخو کښې د فمنه په ځائے فمنها راغلے دے، چه منه شی، نو ضمیر به راجع شی مرفوع ته او په دغه وخت کښې به مرجع ضمنی ذکر شی او که منها شی، نو ضمیر به راجع شی مرفوعات ته او په دغه وخت کښې به مرجع صریحی شی او چونکه صریحی اولیٰ وی، د ضمنی نه، په دے وجه باندې هغه نسخه چه کومے کښې منها سره راغلی ده، اولیٰ ده د منه نه۔ **سوال.** مبتدأ او خبر خو د دوه علیحده قسمونه دی، د مرفوعاتو نه، نو لکاره داده چه دا دواړه ئے په جدا جدا منها سره ذکر کړے وے، فمنها المبتدأ ومنها الخبر به ئے وئیلی وو. **جواب.** دا د وجه د اشتراک نه په عامل معنوی کښې، چه د دواړو عامل یو دے چه معنوی دے، په دے وجه ئے په یو منها کښې راوړل او دوئم جواب دا دے، چه د دے دواړو په مابین کښې شدت تلازم دے، نو ځکه ئے په یو منها کښې راوړل، یعنی مبتدأ بغیر د خبر نه نهٔ وی او خبر بغیر د مبتدأ نه نهٔ وی په دے جواب باندې **سوال** واردیږی چه یو مبتدأ شته او هغه بغیر د خبر نه راځی، لکه قسم ثانی د مبتدأ. **جواب.** خبره زمونږ په مبتدأ اصلی کښې ده، چه هغه قسم اوّل د مبتدأ دے۔ **سوال.** تا خو وائے چه مبتدأ دا یو اسم دے، نو زهٔ درته اوښایم چه مبتدأ به وی او اسم به نه وی، لکه ان تصوموا خیرٌ لکم، دلته ان تصوموا مبتدأ ده او اسم نه دے، بلکه فعل دے۔ **جواب.** اسم عام دے، صراحتاً وی که تاویلاً وی۔ دلته کښې ان تصوموا اگر که اسم صریحی نه دے، لیکن مؤول دے، په تاویل د اسم سره، ځکه چه ان په فعل مضارع داخل شی، نو دا به تاویل د اسم سره وی، چه ان تصوموا به په تاویل د صیامکم سره شی، نو د ان تصوموا خیر لکم تاویل به دا شی، چه صیامکم خیر لکم۔ **سوال.** زهٔ به درته اوښایم چه مبتدأ به وی او نه به صراحتاً اسم وی او نه به ورباندې ان داخل شوے وی، چه مؤول او کړو شی په تاویل د اسم سره، لکه په دے مصرع کښې:-

ع تسمعُ بالمعیدی خیرٌ من ان تراه۔ دلته دا تسمع مبتدأ ده او سره د دے نه چه فعل دے او ان ورباندې هم نه دے داخل شوے۔ **جواب.** ان عام دے ملفوظ وی که مقدر۔ دلته اگر که لفظاً ان ... ذکر نه دے، تقدیراً ان

ان موجود دے، لو تقدیر به ئے ملحوظ شی، چه ان تسمع '. اوس دا به په تاویل د اِسم سره اوګرځی۔ سوال. د تقدیر د ان د پاره خو خاص مواضع دی، چه لن به مقدر وی، پس د حتی. که، لام جحد، فا، واو او او نو دلته په تسمع کښې خو یو هم د دے مذکورو نشته دے، لو ته څنګه وائے چه دلته ان مقدر دے۔

جواب. دا شپږ ځایونه د پاره د تقدیر د ان په سبب د شهرت سره دی او د دے نه علاوه په نورو ځایونو کښې هم ان مقدر کیږی، په سبب د عدم شهرت سره۔

المجرد عن العوامل اللفظية مسند اليه

هغه اسم چه نه موجود وی په دغه کښې د جنس عوامل لفظیه نه (یو عامل) هغه عامل لفظی چه هغه لره تاثیر وی، په معنی کښې په حال د کون د دغه اسم کښې چه اسناد کړے شوے وی هغه ته۔

سوال. المجرد خو هغه ته وائی چه خالی کړے شوے وی، لو مطلب به دا شی په دے مثال کښې چه په مبتدا کښې خو عامل لفظی وو، وروسته ترے مجرد کړے شوے وی د هغه عامل لفظی نه او حال دا دے، چه په مبتدا کښې خو د سره عامل لفظی نشته. جواب. دلته المجرد په معنی د لم یوجد سره دے، یعنی چه نه وی موجود په دا کښې عامل لفظی. سوال. العوامل جمع ده، د عامل لږ اقل د جمع درے دی، لو مطلب به دا شی چه نه وی موجود په دے کښې مثلاً یا زیات د درے عوامل لفظیه نه او که چرے کم د درے نه وی، لو موجود به په کښې. حالانکه په دے کښې خو د سره عامل لفظی نشته. جواب. دلته په العوامل کښې الف لام جنسی دے او الف لام جنسی چه په جمع داخل شی، لو باطلیږی جمعیة او را اوګرځوی شی په هغے سره جنس. پس دلته جنس عامل لفظی مراد دے. سوال. ته خو وائے چه عامل لفظی په مبتدا کښې به نه وی او زه به درته امثال چه مبتدا به وی او عامل لفظی به په کښې موجود وی، لکه بحسبك درهمٌ. دلته بحسب درهم کښې بحسب مبتدا ده لو با دے باندے داخل ده، حالانکه دا خو حرف جار دے او حرف جار عامل لفظی دے۔

جواب. مونږ په معنی کښې دا خبره کړی ده، چه هغه عامل لفظی چه هغه لره تاثیر وی، په معنی کښې او دلته کښې با زائده ده، هغه لره تاثیر په معنی کښې نشته. اوس زه کوم دا خبره چه دلته اختلاف دے په عامل د مبتدا او د خبر کښې. جمهور وائی چه په مبتدا او په خبر کښې عامل معنوی دے او بعض وائی چه په مبتدا کښې عامل معنوی دے او په خبر کښې عامل لفظی دے، چه هغه مبتدا ده او بعض نحاة وائی چه، په دواړو کښې عامل لفظی دے. په مبتدا کښې عامل خبر او په خبر کښې عامل مبتدا ده. پس د دے نه پوهه شه، چه په هر یو تعریف کښې لا ګیږی ده، د جنس او د فصل نه. لو په تعریف د مبتدا کښې اِسمٌ دا جنس دے، قول اسماء به کښې داخل شو او د المجرد عن العوامل اللفظية دا یو فصل دے په دے سره به نه خارج شو هغه اسماء چه په هغوی کښې عامل لفظی وی او په مسند اليه سره به نه خارج شو خبر.

درس نمبر ۱۰۲

أَوْ الصفة الواقعة بعد حرف النفي أَوْ ألف الاستفهام

او یا دا مبتدا واقع شوې وي، صفت او صفت علم ...
حقیقتاً صفت وي که مجاري مجرى د صفت وي، هغه خو صفت چه واقع شوې
وي - پس د حرف نفی او د حرف استفهام نه، ځکه چه د عمل د صفت د پاره
خو شرط دا دی، چه اعتماد یې کړې وي په شپږ شیزونو باندې، ۱ مبتدا لره، ۲ مقدم موصول، ۳ مقدم موصوف، ۴ ذوالحال
۵ پنځم حرف نفي او ۶ شپږم حرف استفهام دے - دلته کښې غرض د مصنف ؒ مبتدا قسم ثاني بیانول دي۔
سوال . او دلته د پاره د تشکیک او دلته خو د وه متعارف شک مناسب دے او نه د مصنف ؒ سره
مناسب دے، نو ولې دلته حرف د او راوړے دے؟ **جواب**. دلته او د پاره د تشکیک نه دے،
بلکه د تنویع د پاره دے - **سوال** ستا دا تعریف مانع نه شو د دخول د غیرو او داخل شو په کښې دا ترکیب
چه 'اقرشيٌّ انت'. دلته قرشيٌّ صفت نه دے او بیا هم مبتدا قسم ثاني دے **جواب**. صفت عام دے،
حقیقتاً صفت وي یا جاري مجرى د صفت وي او دلته کښې قرشيٌّ اګر چه صفت نه دے خو جاري مجرى د صفت
دے، ځکه چه په دے کښې یاء نسبتیه راغلې ده او یاء نسبتیه شی په حکم د مفعول (مشتق) کرځوي - پس دلته
کښې د عبارت تقدیر به داسې شي 'أمنسوبٌ الى قريشٍ انت'۔ **سوال**. صفت خو هله عمل کوي، چه کله اعتماد
کړې وي په شپږ شیزونو باندې چه مبتدا ده. موصوف، موصول، ذوالحال، حرف نفي او حرف استفهام
دے، او مصنف ؒ صرف دا دوه (چه حرف نفي او حرف استفهام دے) ولې ذکر کړل خاصةً، دا نور څلور
یې ولې ذکر نه کړل؟ **جواب**. په دے څلور کښې چه په دا یې هم اعتماد اوکړي نو مبتدا قسم ثاني نه
حاصلیږي، ځکه که چیرې په مبتدا اعتماد اوکړي، نو دا به خبر شي، د هغه د پاره او که په موصول اوکړي، دا به
صله شي، او که په موصوف اوکړي نو دے به صفت شي او که په ذوالحال اوکړي نو دے به حال شي - پس
متعین شو دا دواړه - **سوال** . صفت خو اعتماد کوي په حرف استفهام، نو تا ولې الف استفهام اوویل -
جواب . دلته کښې د الف استفهام نه مراد حرف استفهام دے - پس دا الف یې د وجې د اصالت نه ذکر
کړو او ګنې الف نه مراد همزه دے - زمونږ کوره دا خبره چه په عمل د اسم صفت کښې اختلاف دے په مابین د جمهورو
سیبویه او اخفش کښې - جمهور وائي چه اسم صفت به هله عمل کوي، چه اعتماد یې په هغه امورو سته مذکوره
باندې وي او سیبویه او اخفش وائي چه بې د اعتماد نه هم عمل کوي، خو بیا د سیبویه او اخفش په مابین
کښې اختلاف دے - سیبویه وائي چه سره د قبح نه اسم صفت عمل کوي او اخفش وائي چه بغیر د قبح نه دلیل د
دوی دا دے چه 'فخیرٌ نحن عند الناس منکم'. دلته خیراً اسم صفت دے او بې د اعتماد نه یې عمل کړے دے،
یعنې مبتدا قسم ثاني واقع شوې ده - په دے دلیل دا سوال وارد یږي چه کیدے شي دا خیرٌ خبر د نحن
مقدم او ګرځي او نحن به مبتدا مؤخره شي - پس دا نه شو مبتدا قسم ثاني او استدلال هم په ...

شي. جواب. دا نه شو کېدے چه خبرٌ دِ خبر مقدم شي او عنّي دِ مبتدا مؤخر شي، ځکه چه خبر خبر متقدم شي او هله خو فاصل شه په عند الناس منکم کښې، لو فصل به راشي، په مابين د عامل او معمول کښې په اجنبي سره. د جمهورو طرف نه دَوَه دليل جواب راشي، چه دلته کښې د ضرورت شعري د وجه نه خبرٌ عمل کړے شوے، بغير د اعتماد نه او ملحق دے. دويم جواب دا دے، چه دلته خبر مبتدا نه دے، بلکه عني مبتدا دے او د خبر نه پس چه کوم عني راغلے دے، دا ئې تفسير شو يا په خبرٌ کښې ضمير دے، چه راجع شوے عني ته، چه د خبرٌ نه مخکښې متقدم شوے او دا مجرور او مذکور عني د دے د پاره تاکيد شوے. پس دا قسم قسم ثالث هم نه شو او دلته کښې اسم صفت اعتماد او کړو په مبتدا باندې، تقدير به دا شي چه عني خبرٌ الخ.

رافعةً لظاهرٍ په حال د کون د دے صفت کښې چه دے به رفع ورکوونکے وي اسم ظاهر لره، (اسم ظاهر عام دے، حقيقتاً وي که حکماً د ظاهر صفت شه د پاره د اسم).

سوال. اسم ظاهر لره په رفع ورکوونکے وي، نو دے دغه ارغبٌ انتَ يا ابراهيم چه رفع ئې ورکړي دے ضمير لره، لکه ارغبٌ انت عن آلهتي يا ابراهيم. دلته راغب صفت دے او رفع ئې ورکړي ده انت ضمير لره. **جواب.** اسم ظاهر عام دے، حقيقتاً وي که حکماً، انت ضمير منفصل په حکم د اسم ظاهر کښې دے.

مثل زيدٌ قائمٌ وما قائمٌ الزيدان وأقائمٌ الزيدان زيدٌ قائمٌ دا مثال د مبتدا قسم اول دے، زيدٌ مبتدا دے، او قائمٌ خبر دے. وما قائم الزيدان، دا مثال د مبتدا قسم ثاني دے، چه صفت واقع وي، پس د حرف نفي نه او الزيدان فاعل دے، د صفت او سد مسد دے د خبر. اقائمٌ الزيدان، دا مثال هم د مبتدا قسم ثاني دے، چه صفت ملحق دے، پس د همزه د استفهام او دلته هم الزيدان فاعل دے د صفت او سد مسد د خبر دے.

درس نمبر ۱۰۳

فان طابقت مفرداً جاز الامران که چرته مطابقت کولو صفه صفت واقع پس د حرف نفي او استفهام نه د برابر خبره ده، چه رافع وي اسم ظاهر لره (او که نه وي). د مفرد اسم سره په افراد کښې. پس جائز دي په دغه صورت کښې دوه امرونه کېدل د دے مبتدا قسم ثاني، چه دا صفت مبتدا واقع شي او اسم ظاهر فاعل د صفت او سد مسد د خبر او کېدل د دے مبتدا قسم اول، چه اسم ظاهر مبتدا مؤخره شي او صفت ورله خبر مقدم شي، لکه أقائمٌ زيدٌ. دلته کښې صفت قائم د لحاظ هم مفرد دے او اسم ظاهر چه زيد دے، هغه هم مفرد دے، په دے کښې دواړه مجبورې دي، چه قائم مبتدا او ګرځي او زيد اسم ظاهر فاعل د صفت او سد مسد د خبر شي او دا خبره هم جائزه ده، چه زيد مبتدا مؤخره شي او قائم خبر مقدم شي.

ضابطه زمونږ کښې داخبره چه صفت به نا مطابق وي، د اسم ظاهر سره او يا به مطابق وي.

موافق دی، نو بیا به خالی نه وی یا به موافق وی په افراد کښې او یا به موافق وی په تثنیه او په جمع کښې. که چرې موافق وی په افراد کښې "جاء الامران کما هی" او که چرته موافق وی په تثنیه او په جمع کښې نو بیا مبتدا د قسم اول صحیح کیږي یعنې اسم ظاهر به مبتداء مؤخر شي او صفت به خبر مقدم شي ځکه چه حال د اسم صفت په تقاضا د فاعل کښې په شان د فعل دے، او په فعل کښې خو دا قاعده ده چه فاعل اسم ظاهر وي "وَحِّدِ الفعل ابداً" دلته کښې فاعل اسم ظاهر دے نو فعل (اسم صفت) لکار دے، چه مفرد وی او دلته خو مفرد نه دے - پس متعین شوه دا خبره چه اسم ظاهر مبتدا مؤخر شي او صفت ورله خبر مقدم شي، لکه "اقائمان الزیدان یا اقائمون الزیدون" - دلته کښې زیدان او زیدون مبتدا مؤخر دی او قائمون یا قائمان ماخبر مقدم دی. که چرته مبتداء قسم ثاني معتبر دا اوګرځو، نو قائمان یا قائمون دا به الزیدان یا الزیدون فاعل اوګرځی او دا نه ده صحیح، ځکه چه حال د اسم صفت په شان د فعل دے او چه کله فاعل د فعل اسم ظاهر وی، نو فعل به همیشه مفرد وی او دلته خو فاعل اسم ظاهر دے او (اسم صفت) فعل تثنیه او جمع دے، په دے وجه بالاجماع به مبتداء مؤخر او خبر مقدم د قسم نه شي او که چرته دا صفت مطابق نه وی د اسم ظاهر سره په دے شان سره چه اسم صفت مفرد وی او اسم ظاهر تثنیه یا جمع وی، نو په دے صورت کښې به مبتداء قسم ثاني وی او قسم اول به نه وی ځکه چه مطابقت شرط دے، په مابین د مبتداء او د خبر کښې او دلته مطابقت لیشته دے، په دوهم کښې، لکه "اقائم الزیدان" یا "اقائم الزیدون" نو پس دلته کښې مبتداء قسم ثاني متعین ده - څلورم احتمال دا دے چه اسم صفت تثنیه وی او یا جمع وی او اسم ظاهر مفرد وی، دا صرف احتمال عقلی دے، وجود ورله په خارج کښې نشته - سوال: په مطابقت کښې به ضمیر یا مطلق صفت ته راجع کوے او یا صفت مذکوره ته، که مطلق صفت ته یې راجع کوے نو جاء الامران حکم نه صحیح کیږي، بلکه لیواس صحیح کیږي، چه هغه مبتدا د قسم اول ده، لکه "قائم زیدٌ" زیدٌ مبتداء مؤخر او قائم خبر مقدم - که چرے ضمیر راجع کړے صفت مذکوره ته، یعنې صفت چه واقع وی پس د حرف استفهام او حرف نفی نه، چه رافع وی اسم ظاهر لره نو بیا "العلة لظاهر" نه صحیح کیږي، ځکه چه دے کله رفع ورکړې اسم ظاهر لره، نو بیا څو لیوالي جاری دے، جاء الامران نه صحیح کیږي. - جواب: په مطابقت کښې ضمیر راجع دے، صفت مذکوره ته، قطع نظر وے خبره نه چه رفع ورکوی، اسم ظاهر لره او که نه ورکوی.

درس نمبر ۱۰۴

والخبر هو المجرد المسند به المغایر للصفة المذکورة | او خبر دا هغه اسم دے چه تش وی مجرد په ده کښې جنس عامل لفظی د عوامل لفظیو نه - هغه عامل لفظی چه هغه لره تاثیر وی په معنی کښې، چه واقع وی، اسناد په ده سره چه مغایر وی، د صفت مذکوره سره، چه هغه کښې په مبتداء کښې ذکر شوے دے، چه هغه صفت واقع شوے وی، پس د حرف استفهام نه او د حرف نفی نه، چه رافع وی اسم ظاهر لره، په دې عبارت سره مصنف تعریف د خبر کړی، ځکه یې مبتداء او خبر یو تعریف

سره ذکر کړي وو، چه په معنی کښې شدت نه لري ـ او چونکه د دواړو مفهوم جدا جدا دے، په دې وجه ئې د دواړو تعریف ئې جدا جدا ذکر کړو، هو المجرد سره به نه خارج شي خبر د کان یا خبر د ان وغیره، په المسند به سره به نه خارج شي مبتداء قسم اوّل لره په المغائر للصفة المذکورة سره به نه مبتداء قسم ثاني خارج شوه ـ **سوال** . په مبتداء کښې خو عامل ابتداء ده، ولې په خبر کښې عامل څنګه ابتداء ده؟ **جواب** . مراد په ابتداء سره عامل معنوي دے ـ **سوال** . عامل خو هغه شیز دے او هغه شي په څنګه معنوي شي ـ **جواب** . مونږ په حقیقت کښې متکلم دے او عوامل خو به ما امارات د تاثیر د متکلم دي ـ **سوال** . هر کله چه مبتداء عامل شوه، په خبر کښې او خبر عامل او ګرځیده، په مبتداء کښې، نو بیا دا قول به څنګه صحیح شي، چه "هما اسمان مجردان عن العوامل اللفظیة" **جواب** . مخکښې مونږ ویلي دي چه په مبتداء کښې اختلاف دے او دغه شان په خبر کښې هم دے، چه عامل په دواړو کښې لفظي دے، که معنوي دے ـ جمهور بصریان وائي چه، په دواړو کښې عامل معنوي دے او بعض نحاة وائي چه، په مبتداء کښې عامل معنوي دے او په خبر کښې عامل مبتداء ده، نو په دواړو کښې عامل لفظي شو ـ پس مذهب د مصنفؒ بنا دے په مذهب د بصریانو باندې ـ **سوال** . ستا دا تعریف مانع نه شو، د دخول د غیر نه او داخل شوه په کښې مثل مضارع په دې ترکیب چه یضرب زیدٌ، ځکه چه یضرب خالي دے، د عامل لفظي نه او اسناد ئې راغلے دے، زید ته او مغائر دے، د صفت مذکوره نه ـ **جواب** . دلته مراد په مجرد سره اسم مجرد دے، ځکه چه بحث نحویانو په مرفوعاتو د اسم کښې دے ـ **سوال** . ستا دا تعریف جامع نه شو خپلو افرادو لره او خارج شو ترې نه یضرب په دې قول کښې چه زید یضرب، ځکه چه دا خو خبر دے او فعل دے لکه ته وایئ چه مراد په المجرد سره اسم مجرد دے ـ **جواب** . دا به خبر کښې داخل دے، ځکه چه مصنفؒ به مستثنی کړي چه والخبر قد یکون جملة په المسند به کښې درې توجیهات دي، یو توجیه د شارح جامیؒ ده، هغه وائي چه، المسند دا صیغه د اسم مفعول ده او ضمیر په کښې مستتر دے، چه هغه راجع دے مبتداء ته او هغه د اسم مفعول د پاره نائب فاعل دے او دویم ئې یا جار مجرور دے او یا محلاً رانلګ دي او یا بازائده "د" فقط او "ه" ضمیر تاکید دے د پاره د هغه ضمیر مستتر چه المسند کښې دے، په دې سره مبتداء قسم اوّل خارج شو ـ **سوال** . اسناد خو متعدي کیږي مفعول ته بنفسه، نو راوړلو د باء په کښې ضرورت نشته ـ **جواب** . اسناد متضمن دے، معنی د وقوع لره او وقوع فعل لازمي دے، نو ځکه د باء د تعدیة راوړلو ـ پس تقدیر د عبارت به دا شي چه "ما یوقع به الاسناد او الی المبتداء" ـــ دوهمه توجیه دا ده چه المسند دا صیغه د اسم مفعول ده او به ورلوه نائب فاعل دے ـــ دریمه توجیه دا ده، چه دلته باء په معنی د الی سره ده یعنی المسند الیه ـــ خو په دې درې واړو توجیهات کښې توجیه د شارح جامیؒ بهتره ده، ځکه چه المجرد په منزله د جنس شي چه مبتداء او خبر دواړه په کښې داخل دي، خو چه ما یئ او ورته المسند به په دې سره احتراز راغے د قسم اوّل د مبتداء نه او په المغائر للصفة المذکورة سره احتراز راغے، د مبتداء قسم ثاني نه ـ پس په کلام د شارح جامیؒ کښې تسامح

دے او تاسیس اولیٰ دے د تاکید نه ځکه چه تاسیس مفید دے د پاره د فائدے جدیدے، بخلاف د تاکید نه
چه په هغې کښې فائده جدیده نشته او بنا په دے لو د لو توجیهون سره الغائنی للصفة المذکورة ما قبلها مستدرک شی،
ځکه چه قسم ثالث د مبتدا په المسند به سره خارجه شوی دے، خو صفوی والی چه دلته کښې الغائنی للصفة المذکورة
د پاره د تاکید دے۔

درس نمبر ۱۰۵

واصل المبتدا التقدیم (په دے عبارت سره مصنفؒ د مبتدا خاص احکام بیانوی)
اولیٰ ماینبغی او راجح په مبتدا کښې تقدیم د مبتدا دے په خبر باندے په وخت
د عدم د مانع کښې، ځکه چه مبتدا دال دے په ذات باندے او خبر دال دے په صفت باندے او ذات مقدم دی په صفت
باندے۔ **سوال.** دا دلیل خو واجیوی، تقدیم د فاعل په فعل باندے، ځکه چه فاعل دلالت کوی په ذات
باندے او فعل دلالت کوی په صفت باندے۔ حالانکه د فاعل په باره کښې دا وائی چه "والاصل ان یلی الفعل"۔
جواب. اصل په فاعل کښې تاخیر په دے وجه دے چه التباس د دهٔ رانهٔ شی د مبتدا سره۔
سوال. عکس به یے کړے وو؟ **جواب.** که چرے تقدیم د فاعل او کړو په عامل باندے (یعنی دا خبر
په کښې اصل او ګرځو) نو په دغه صورت کښې تقدیم د معمول راشی په عامل باندے او په مبتدا او په خبر کښې
که چرته تقدیم د خبر راشی نو دا خبر دے، دا ځکه چه مبتدا په خبر کښې عامل نه دے۔ او دس د تقدیم د مبتدا
د پاره په خبر باندے څو وجوهات دی ـــ اوّله وجه:۔ مبتدا دال دے په ذات باندے او خبر دال دے په
وصف باندے او ذات مقدم دی په وصف باندے ـــ دوهمه وجه:۔ مبتدا محکوم علیه دے او خبر محکوم به دے
او محکوم علیه مقدم وی په محکوم به باندے ـــ دریمه وجه:۔ مبتدا مثبت له دے او خبر مثبت دے او
مثبت له اصل دے او مثبت فرعه دے (یعنی مثبت نوع د مثبت له دے) او اصل مقدم وی په فرع باندے ـــ
څلورمه وجه:۔ مبتدا په منزله د موصوف دے او خبر په منزله د صفت دے او موصوف مقدم وی په صفت
باندے ـــ **سوال.** د اصل نه ظاهر متبادر معنیٰ دا ده چه په معنیٰ د قانون او د قاعدے سره راځی
چه هر کله دا په معنیٰ د قانون او د قاعدے شی نو بیا دا ده چه د قانون مخالفت نو اوګه کړے شی۔
حالانکه په بعض ځایونو کښې مبتدا مؤخره دے او خبر مقدم دے لکه په دے قول کښې چه "فی الدار زید"۔
دلته کښې زید مبتدا مؤخره دے۔ **جواب.** اصل په معنیٰ د راجح ماینبغی او اولیٰ سره دے۔
سوال. ته مونږ وائے چه ماینبغی او اولیٰ په مبتدا کښې تقدیم دے، نو بیا په دے ترکیب کښې "فی الدار رجل"
ولے تقدیم د مبتدا ممتنع دے۔ **جواب.** مونږ ویلی دی چه اصل په مبتدا کښې تقدیم دے، په وخت
د عدم د مانع کښې او دلته کښې مانع موجود دے، ځکه چه که چرته مونږ تقدیم د رجل راوړو نو
لازمیږی نکارت د مبتدا او دا ناجائز دے، ځکه چه په مبتدا کښې شرط دا دے چه دا به معرفه وی...

ومن ثَمَّ جاز فی داره زید وامتنع صاحبها فی الدار

او د دې د وجې نه اصلاً نه چې راجع لو ماينبغی په مبتدا کښې تقديم دې په خبر باندې جائز شو، دا ترکيب چې فی داره زيدٌ، دلته زيد مبتدا مؤخر ده او ضمير د "ه" دلته راجع دې، لو دلته لو که اضمار قبل الذکر لازم دې لفظاً خو رتبتاً نه دې لازم، ځکه چې مرتبه د مبتدا مقدم ده په خبر باندې او ممتنع دې، دا ترکيب چې صاحبها فی الدار ځکه چې دلته اضمار قبل الذکر لازم دې، لفظاً او رتبتاً دواړه. د صاحبها ضمير راجع دې الدار ته چې دا مؤخر دې لفظاً خبر دې او مرتبه د خبر مؤخر ده، د مبتدا نه. پس دلته کښې اضمار قبل الذکر لازم، لفظاً او رتبتاً دواړه. پس د دې نه دا قاعده معلومه شوه چې الحاق د ضمير د مبتدا په خبر پورې جائز دې او الحاق د ضمير د خبر په مبتدا پورې نه دې جائز. **سوال.** ومن ثم سره مصنف تفريع کړې په اصل منکور باندې، لیکن دا تفريع نه ده صحيح، ځکه چې په اصل مذکور کښې دا خبره ده چې مبتدا بمقتدمه وي په خبر باندې او دا چې کوم مثال ذکر کړې دې، په هغه کښې مبتدا مؤخره ده او حکم يې د جواز کړې دې او چې کوم مثال کښې مبتدا مقدمه ده، په هغه کښې يې حکم د امتناع کړې دې، نو دا تفريع په دې اصل نه کيږي، بلکه په عکس يې کړې وه. **جواب.** دا تفريع په دې نه ده چې واصل المبتدأ التقديم، بلکه دا تفريع ده په مفهوم باندې کوم چې مستفاد ده د دې نه، هغه دا چې مرتبه د مبتدا مقدمه ده د مرتبې د خبر نه.

وقد يكون المبتدأ نكرة اذا تخصصت لوجه مّا.

او کله کله به وي مبتدا نکره، اګر چه اصل په مبتدا کښې تعريف دې ځکه امور د امورو په کلام د عربو کښې هغه حکم دې په امور معلومه معينه باندې، خو په هغه صورت کښې چې تخصيص اوښي د نکرې په يو وجه د وجوهو د تخصيص سره، او نزدې صحيح دې ابتدائيت د دې، ځکه چې په تخصيص سره دا نکره قريبه کيږي معرفې ته او نکره د قريب د شي لره حکم د هغې شي وي.

درس نمبر ۱۰۶

فائده :- بعضې کښې دا تنوين د پاره د عموم دې او دا "ما" د پاره د تاکيد راغلې دې يا دا ما صفت دې د پاره د وجه يعنی بوجه مّا، لوجهٍ اي وجهٍ من الوجوه، يعنی په کوم يو شي سره تخصيص د مبتدا راشي، نو د دې نه دا خبره هم معلومه شوه چې ماتن کوم حالونه ذکر کړې دي، په دې کښې حصر نشته، بلکه د دې نه علاوه نور هم حالونه شته چې په هغه سره تخصيص د نکرې راځي، مثلاً کله کله په جار مجرور سره تخصيص د نکرې راځي او بيا ابتدائيت د هغوی صحيح کيږي، لکه په دې ترکيب کښې چې قتال فيه کبيرٌ، دلته قتال مبتدا ده او تخصيص يې راغلې دې په فيه جار مجرور سره يا لکه وسبغة د للخير خيرٌ، په دې کښې هم جار مجرور سره تخصيص د نکرې راغلې دې.

مثل ولعبد مؤمن خير من مشرك

په دې مثال کښې عبد نکره ده او تخصيص يې راغلې دې په صفت سره، ځکه چې عبد مطلق غلام ته

وېلې شي که مومن وي آو که کافر وي، خو چه هرکله توصيف د دې رالغه، په مومن سره، نو په دې کښې تخصيص پيدا شو، يعنې قلت د شرکاء په کښې راغله. پس دا قريب شو معرفه وته، نو ځکه حکم د عين معرفه دے آو ابتدائيت د دې صحيح دے.

ارجل في الدار ام امرءة

په دے مثال کښې رجل هم مبتداء ده آو نکره ده آو امرءة هم مبتداء ده آو نکره ده، خو تخصيص يې راغلے دے، په علم د متکلم سره، په دے شان سره چه متکلم عالم دے، په دے خبره باندې چه په دار کښې لحدهما د رجل آو د امرءة نه موجود دے، خو تپوس کوي، د تعين. سوال. مبتداء خو ليا مر لفظي دے آو علم د متکلم امر ذهني دے، نو ځکه دا به صحيح ---- شي تخصيص د امر لفظي په امر ذهني سره آو دوېم سوال دا دے چه علم د متکلم فقط متکلم ته دے، نو په نسبت سره متکلم ته تخصيص راغے آو مخاطب ته خو تخصيص حاصل نه شو.

جواب. د دواړو سوالونو جواب دا دے چه دلته امر ذهني مؤول دے، په تاويل د لفظي سره يعني اى من الامرين معلومين الذين في الدار.

وما احدٌ خيرٌ منك

دا بل مثال دے، د نکرے تخصيص. دلته احدٌ مبتداء ده آو دا نکره ده، خو تخصيص يې شوے دے، په دے چه نکره هرکله واقع شي، په سياق د نفې کښې نو فائده کوي عموم آو نکره من حيث نکره وضع شوې ده، د پاره د فرد مبهم آو د پاره د فرد منتشر غير معين. آو دلته تخصيص په تعميم سره شوے دے، خو سوال وارديږي، چه په مابين د تخصيص آو د تعميم کښې منافات دے، نو په تعميم سره څنګه تخصيص راغے. جواب. تخصيص په دوه معنو باندې راځي، يو قلة شرکاء آو قطع شرکت آو بل په معنیٰ د رفع د ابهام آو دلته تخصيص په معنیٰ د رفع د ابهام سره دے آو په مابين د رفع د ابهام آو د تعميم کښې څه منافات نشته. سوال. نکره به کوم وي مبد اربۀ واقع شوے وي آو په سياق د نفې کښې به نه وي، لکه دا قول د حضرت عمر رضي الله تعالیٰ عنه، چه تمرة خيرٌ من جرادة. جواب. عموم آو نکره عامه ده، چه په اداة سره وي آو که په مجاز آو قصد سره وي. دلته کښې اګر که په اداة سره نه ده، ليکن په قصد آو مجاز سره ده، يعني دا عموم په طريقې د قصد سره حاصل شوے دے آو نکره چه واقع شي په مقابله د نکرے کښې، نو عموم پيدا کوي. سوال. نکره چه واقع شي، په سياق د نفې کښې، نو ولے عموم پيدا کوي؟ جواب. نکره چه کله واقع شي په سياق د نفې کښې، نو اراده کولے شي، په دے سره نفې د مفهوم، آو نفې د مفهوم راځي، په انتفاء ---- آو نفې د هر فرد سره. سوال. نکره چه کله واقع شي، په سياق د اثبات کښې، نو ولے پيدا کوي تخصيص. جواب. ځکه چه نکره کله واقع شي، په سياق د اثبات کښې، نو اراده کولے شي په دے سره اثبات د مفهوم آو اثبات د مفهوم راځي، په وجود د يو فرد سره. ؎

؎ نکره چه واقع شي په سياق د اثبات کښې، نو اراده کولے شي، په دے سره اثبات د مفهوم لکه مثلاً الانسان يوم نوعه په مل لرئ

درس نمبر ۱۰۷:- په دے حصه کښې یو ضابطه ده، هغه دا چه دا نکره به خالی نه وی، یا به واقع شوے وی په سیاق د نفی او یا به واقع وی په سیاق د اثبات کښې، که چرے واقع وی په سیاق د نفی، نو بیا به خالی نه وی یا به په کښې قصد د عموم وی او که یا به نه وی، که چرته قصد وی، او که نه وی، په دواړو صورتونو کښې د دے ابتدائیت صحیح دے او که چرته واقع شوے وی په سیاق د اثبات کښې، نو بیا به خالی نه وی، یا به په کښې قصد د عموم وی او یا به نه وی، که چرته قصد د عموم په کښې وی، خو ابتدائیت ئې صحیح دے او که چرته قصد د عموم په کښې نه وی، نو بیا به خالی نه وی یا به مخاطب ته فائده تامه حدید مصححه ورکوی یا نه، که چرته مخاطب ته فائده تامه جدید مصححه ورکوی، خو ابتدائیت ئې صحیح دے او که نه ورکوی، نو نه دے صحیح۔

شرٌّ اهرّ ذاناب

دا بل مثال دے د پاره د مبتداء چه نکره وی او تخصیص ئې راغلے وی۔ ځکه شرٌّ مبتداء ده او نکره ده، تخصیص ئې راغلے دے، په صفت مقدره سره چه هغه مستفاد دے د تنوین نه، چه تنوین دلته کښې د پاره د تعظیم راغلے دے۔ تنوین چه څنګه د پاره د تنکیر راځی نو هم شان د پاره د تعظیم هم راځی، لکه په قرآن پاک کښې فرمائی ﴿ کِتَابٌ اَنْزَلْنَاهُ ﴾ دلته ما تنوین د پاره د تعظیم دے یعنی کتاب عظیم، نو په شرٌّ کښې هم تنوین د پاره د تعظیم دے، تقدیر ئې داشی چه شرٌّ عظیم اهرّ ذاناب، ما ئې وجه شوه، دویمه د تخصیص په طریقه سره ځکه دا شرٌّ فاعل معنوی دے، ځکه چه دے بدل راغلے دے، د اهرّ د ضمیر نه چه هغه فاعل معنوی دے، پس دا ترکیب چه شرٌّ اهرّ ذاناب دے، دا په معنی د ما اهرّ ذاناب الا شرٌّ دے۔ **سوال**۔ په ما اهرّ ذاناب الا شرٌّ کښې خو دلت د حصر او تخصیص موجود دی، دلته په شرٌّ اهرّ ذاناب کښې خو دلت د حصر او تخصیص نه دی موجود؟ پس دلته تخصیص نه دے حاصل شوے **جواب**۔ دلته کښې تقدیم د ما حقه التاخیر راغلے دے او تقدیم ما حقه التاخیر پیدا کوی حصر او اختصاص لره، ځکه چه شرٌّ اهرّ ذاناب په اصل کښې اهرّ ذاناب شرٌّ وو، نو شرٌّ ما مؤخر وو، خو چه تقدیم ئې راغلو، او س دے حصر او اختصاص پیدا کړو۔ پس دلته شرٌّ دا بدل دے، او مبدل منه هغه ضمیر د فاعل دے په اهرّ کښې۔ **سوال**۔ شرٌّ بدل او فاعل معنوی څه له وائے، بلکه فاعل ئې لفظی او ګرځوه، نقد۔ **جواب**۔ په دے صورت کښې لازمیږی تقدیم د فاعل په فعل باندې او دا ناجائز دے۔

سوال۔ په دے جواب باندې دا دے، چه بیا خو تقدیم د بدل هم په مبدل منه باندې ناجائز دے، نو دا بدل ولې مقدم کړے دے، بلکه دلته خو بل نقصان هم دے، هغه دا دے چه تقدیم د بدل په عامل د مبدل منه راغلی

(حاشیة د بل مخ نه) ـــ ماهیت دے، چه کله یو فرد انسانی موجود شی، په نفس الامر کښې، نو اراده کولے شی په هغه سره مفهوم چه انسان دے او نکره چه کله واقع شی، په سیاق د نفی کښې، نو اراده کولے شی په دے سره نفی د مفهوم او نفی د مفهوم راځی، یلنتزم جمیع افرادو سره، لکه بالعرض والمعال په جمیع ارض باندې تمام افراد انسانی ختم شی، نو دا نفی د مفهوم راغله چه الذی دے پس تعبیر ئې د معلوم نه مات اوکړے شی، چه ثبوت د کلی راځی په ثبوت د یو فرد سره، او انتفاء د کلی راځی، په انتفاء د جمیع افرادو سره۔ (ح۔ز۔ج ۲۔ص ۱)۔

ت۔ **جواب**۔ بدل مبتوره د بدلیت نه قطع کړے سه، لکه څنګه چې مبدل او مبدل منه پاتے نه شول۔

سوال۔ دغه شان شیء هم رته فاعل او مَنَه او بیا یې قطع کړه، د فاعلیة نه۔ **جواب**۔ مبدل منه بغیره بدل نه راتلے شي لکه فعل بغیر د فاعل نه نه شي راتلے۔ زه کړه دا خبره چې بناح په دوه قسمه دے، یعنی اعراب کله په بناح معتاد سره وي او کله په بناح غیر معتاد سره وي۔ بناح معتاد په دوه[2] قسمه دے، یو خیر دے او دویم شر دے او بناح غیر معتاد صرف یو قسم دے، چې هغه بناح شر دے۔ **سوال**۔ تخصیص ستا په بناح معتاد کښې صحیح کیږي، ځکه چې هلته دوه[2] قسمه دي، لکه یو قسم چې په دوؤ[2] قسمونو کښې خاص شي۔ دا صحیح دے، مګر تخصیص ستا په بناح غیر معتاد کښې نه صحیح کیږي، ځکه هلته کښې صرف یو قسم دے، لکه په یو قسم کښې به څنګه تخصیص اوشي۔ **جواب**۔ دلته کښې تخصیص په بناح غیر معتاد کښې هم صحیح دے، ځکه چې شر یو عظیم دے بل حقیر دے، لکه د شر تخصیص راغلے دے په شر عظیم کښې نه چې په حقیر کښې۔ پس عبارت به داسې شي، چې "شرٌّ عظیمٌ لا حقیرٌ اهر ذا ناب"۔

درس نمبر ۱۰۸

وفی الدار رجلٌ دا بل مثال دے، د هغه نکره، چې مبتدا واقع شوې وي او تخصیص یې راغلے وي، دلته رجلٌ مبتدا ده او تخصیص راغلے دے ځکه چې تقدیم د ما حقه التاخیر فائده کوي، حصر او اختصاص لره۔ هر کله چې فی الدار او وړاندې شو، لکه دې نه دا معلومه شوه، چې هر وخت نه پس تحقیقه شي ذکر کیږي، چې صحیح وي، کون د هغه محکوم علیه او صحیح وي استقرار د هغه په دار کښې۔ پس چې کله یې رجلٌ ذکر کړو، لکه صحیح دے، استقرار د ده په دار کښې، ګویا دا رجل موصوف دے په صفت د حکم په ده باندې په استقرار فی الدار کښې۔

وسلامٌ علیك دا بل مثال دے چې نکره مبتدا واقع شوې وي او تخصیص یې راغلے وي۔ دلته د دې نکرې تخصیص راغلے دے، په علم د متکلم سره۔ دا ترکیب په اصل کښې دا وو، چې "سلمت سلاماً علیك"، دا سلاماً مفعول مطلق دے لکه تاکید دے د پاره د اول سلام او د مؤکد او مؤکد حکم یو وي۔ پس فعل فاعل (سلمت) حذف کړے شو۔ پس پاتے شو سلاماً علیك بیا معمول او کړے شو د نصب نه رفع ته، د پاره د قصد د دوام او استمرار، لکه د سلاماً علیك په ځائے باندې سلامٌ علیك پاتے شو۔

---

[1] ۔ دا چې دلته چې کوم تحقیق د بدل او مبدل منه اوشو، دا مذهب د امام سکاکیؒ دے او په نزد د شیخ عبدالقاهر جرجانیؒ ته دغه بحث ضرورت نشته۔ هغه وائي چې دلته کښې بغیر د دې تکلفاتو نه هم تخصیص راغلے دے، ځکه چې تقدیم د مسند الیه په مسند فعلي باندې مفید د حصر او اختصاص دے۔ دلته کښې تقدیم د شر په مسند فعلي چې اهرّ دے، راغلے دے۔ پس د ده په نزد باندې تخصیص موجود شو۔ ۱۲ (فضائل)

سوال. جمله اسميه به دې دوام او استمرار به په کښې نه وي، لکه زيدٌ قائمٌ، لو نه ځنګه وائے چه عدول وکړے شو د جملے فعليے نه طرف د اسميے ته، د پاره د دوام او استمرار. **جواب.** مطلق جمله اسميه ..... دلالت نه کوي په دوام او استمرار باندې، بلکه هغه جمله اسميه دلالت کوي چه هغه معدوله شوې وي د جملے فعليے نه. **سوال.** جمله اسميه به دې او دلالت به کوي په دوام او استمرار باندې او حالانکه دا به معدولة شوې نه وي د جملے فعليے نه، لکه الله ربّنا، محمّد نبيا و آدم ابونا. **جواب.** مراد په جملے اسميے نه چه معدوله وي د جملے فعليے نه دا دے چه بغير د تعين د شارع نه وي لو دلته په دې کښې سوه د تعين د شارع نه دوام او استمرار راغلے دے. **سوال.** جمله اسميه به وي، دلالت به کوي په دوام او استمرار باندې نه به په کښې عدول وي د جملے فعليے نه او نه به په کښې د شارع نه تعين د دوام او استمرار موجود وي، لکه الارض تحتنا السماء فوقنا وغيره. **جواب.** شارع عام دے، حقيقتاً وي که حکماً. دلته کښې اګرکه حقيقتاً نه دے، ليکن حکماً دے، ځکه چه دا زمونږ مشاهده ده چه الارض تحتنا و السماء فوقنا دے. دلته کښې يوه ظاهراً او قاعده اکثريه ده، هغه دا چه د کومے جملے اسميے مبتدا او جزء اوّل مصدر وي، لو هغه به معدوله وي د جملے فعليے نه. **سوال.** په دې مقام کښې ډېر تکلفات بعيده ته څه ضرورت دے، بلکه دا سے به ئے ووئيلی وو چه دا بيعلار د صحت د ابتدائيت په افاده باندې دے، چه يو شے مخاطب ته فائده ورکوي، لو د هغې ابتدائيت صحيح دے او که مخاطب ته فائده نه ورکوي، لو نه دے صحيح. **جواب.** دا تکلفات بعيده نه دي، بلکه تحقيقات او تدقيقات دي، تحقيق د ے ته وائي، چه د يو مدعیٰ د پاره دلائل راوړي او تدقيق دے ته وائي، چه د دلائلو د پاره دلائل راوړے شي.

درس نمبر ۱۰۹:

سوال. خبر خو اسم مجرد دے د عوامل لفظيه ونه، لو ليکار دا ده چه خبر د جمله هم نه وي. پس مصنف **جواب** اوکړو او ئے ووئيل چه:-

والخبر قد يكون جملة او خبر کله کله جمله واقع کيږي او جمله عامه ده، جمله اسميه وي او که جمله فعليه وي، ځکه چه جمله من حيث هي ما مستقله بنفسها ده او مرتبطه نه ده د غير سره، ځکه چه حکم ځنګه په مبتدا باندې په مفرد سره کيږي، د غه شان په جملے سره هم کيږي او اثر چه ځنګه په مفرد سره حاصليږي، د غه شان په جملے سره هم حاصليږي. بعض علماء وائي چه جمله انشائيه خبر نه واقع کيږي، ځکه چه د دې په نزد انشائيه په خپله نه ده ثابته، لو بل شے به ځنګه ثابت کړي، خو بيا به دوی **سوال** وارديږي چه زيدٌ اضربه مادے. دلته کښې اضربه خبر دے او جمله انشائيه ده. **جواب** دا دے چه دلته په دې کښې تاويل شوے دے، يعنې زيدٌ مقول في حقه اضربه. دلته کښې مصنف قد يكون ووئيلی دي او قد چه کله په فعل مضارع داخل شي، لو فائده کوي د تقليل. د دې نه دا معلومه شوه چه اصل په خبر کښې افراد دے او فصل په خبر کښې افراد لو د دے وجه نه دے چه مطابقت راشي په

د رکنیتُ د جمله کښې، چه هغه مبتداء او خبر دے۔ دوئیمه وجه دا ده، چه خبر قسم دے، د مرفوع نه او مرفوع قسم دے، د اِسم نه، اسم قسم دے، د کلمې نه او د کلمې په مفهوم کښې افراد مأخوذ دے، په دې وجه باندې اصل په خبر کښې افراد دے۔ دریمه وجه دا ده چه خبر که جُمله وی نو لابدی وی په کښې د عائد نه او احتیاج ئې وی عائد ته په خلاف د دې نه چه خبر مفرد وی، په هغه کښې بیا احتیاج عائد ته نشته، نو عدم احتیاج اولیٰ دے د احتیاج نه

مثل زید ابوه قائم وزید قام ابوه

دا اوله مثال د هغې جملې دے، چه ما جُمله اِسمیه وی او خبر واقع شوې وی، ځکه چه زید مبتداء، ابوه مضاف او مضاف الیه مبتداء ثانی او قائمٌ خبر، مبتداء سره د خبر نه ما جمله اسمیه خبر شو، د پاره د مبتداء اوّل چه زید دے، مبتداء سره د خبر نه جمله اِسمیه شوه۔ دا بل مثال د هغې جملې دے، چه دا جمله فعلیه وی او خبر واقع شوې وی، د پاره د مبتداء دلته زیدٌ مبتداء، قام فعل، ابوه مضاف او مضاف الیه دا فاعل شو د پاره د فعل۔ فعل سره د فاعل نه دا جمله فعلیه خبر شو، د پاره د زید چه مبتداء دے۔ مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه شوه۔

فلا بد من عائد

دلته کښې دا فاء جزائیه ده او شرط مقدر دے، تقدیر د عبارت به داسې شي چه اذا كان الخبر جملةً والجملة من حيث هي مستقلة بنفسها غير مربوطة بغيرها فلا بدّ من عائد، یعنی چه هر کله خبر جمله واقع شی او جمله من حیث هی دا مستقله بنفسها ده او رابطه ئې د بل سره نه وی او د خبر رابطه خو د مبتداء سره وی، نو لابدی شو، په کښې د یو عائد نه، چه هغه رابطه پیدا کړی، د دې خبر د مبتداء سره او عائد په څلور قسمه دے، یو ضمیر دے، لکه په دې پورته دواړو مثالونو کښې چه ذکر شو زیدٌ قام ابوهُ یا زیدٌ ابوهُ قائمٌ۔ دا "ه" ضمیر عائد دے۔ دوئیم وضع د اِسم ظاهر ده په ځائے د ضمیر باندې، لکه الحاقة ما الحاقة، دلته دا دوئیم الحاقة پکار ده چه هي ذکر شوې وې، یعنی الحاقة ما هي، ځکه چه یو شے ذکر شی اوّل اِسم ظاهر نو بیا دوباره ارجاع د ضمیر کیږی۔ دریم الف لام عائد واقع کیږی لکه نعم الرجل زیدٌ، څلورم چه دا عائد تفسیر وی، د پاره د مبتداء، لکه قُل هو الله احد۔

وقد یحذف

او کله کله دا عائد حذف کیږی په وخت د وجود د قرینه کښې، په دې عبارت سره مصنف دفع د توهم کوی۔ **سوال**۔ تا خو واٴئے چه خبر کله جمله واقع شوې وی، نو لابدی ده، په کښې د عائد نه۔ زه به درته او ښایم چه خبر به جُمله وی او عائد به په کښې نه وی، لکه البرّ الکرّ بستین درهما، یا السمن منوان بدرهمٍ، نو دلته کښې خبر جُمله واقع ده او په دې کښې عائد نشته۔ پس مصنف **جواب** او کړو چه وقد یحذف، یعنی کله کله دا عائد حذف کیږی په وخت د وجود د قرینه کښې، نو دلته عائد حذف دے په دواړو کښې۔ پس تقدیر به داسې شی، چه البرّ الکرّ منه بستین درهماً او السمن منوان منه بدرهم؛ او [illegible] قرینه [illegible] بیع او مشتری خبرے دی۔

درس نمبر ۱۱۰

وما وقع ظرفا فالاكثر على انه مقدر بجملة.

اَو هغه واقع شي خبر هغه شے چه هغه محتاج وي متعلق ته، برابره خبره ده چه ظرفِ زمان وي كه ظرفِ مكان وي اَو كه جار مجرور وي۔ پس اكثر نحاة چه بصريان دي، په دے مذهب باندې دي چه دا به مؤول وي، په فعل سره يعني متعلق دَ دے ظرف به فعل وي۔ بيا ځكه چه مخكښې ذكر دَ هغه خبر وو، چه هغه يا مفرد وو، يقيناً الله باجله وه، يقيناً اَو ما دَ هغه خبر بيان سے، چه مبهم وي، يعني يقيناً ما خبره نه وي معلومه، چه خبر څوك دے اَو كه جمله ده۔ دلته دَ ظرف نه موږ تعبير اوكړو په هغه شي سره چه هغه محتاج وي، دَ پاره دَ دفع دَ اعتراض — **سوال** . دَ ظرف نه به يا ظرفِ زمان اَخلے اَو يا ظرفِ مكان اَو يا جار مجرور، كه ظرفِ مكان اَخلے نو خارج شو ترے نه ظرفِ زمان اَو جار مجرور، اَو كه چرته جار مجرور اَخلے، نو خارج شو ترے نه ظرفِ زمان اَو ظرفِ مكان اَو كه چرے مثنے وايه اَخلے نو لازميږي عموم دَ مشترك اَو دا باطل دے۔ — **جواب** . معنى دَ ظرف نه مراد هغه شے اَخلو چه هغه محتاج وي متعلق ونه۔ برابره خبره ده چه ظرفِ مكان وي كه ظرفِ زمان وي اَو كه جار مجرور وي، دَ فالاكثر نه مراد بصريان دي، نو **سوال** وارديږي چه بصريين خو قليل دي اَو دَ هغوي نسبت تعبير په فالاكثر سره ولے اوكړو؟ **جواب** . په دے كښې اشاره ده، قوت دَ مذهب دَ بصريانو ته، چه دا مذهب قوي او اكثر دے۔ **سوال** . خبر خو مقدر نه وي ملفوظ وي، نو تاولے دا اووئيل فالاكثر على انه مقدر بجملة اَو بل سوال دا وارديږي چه دَ مقدر دَ پاره خو صله نه راځي، نو دغه محلے دا سے اوويل چه بجملة؟ **جواب** . دَ دواړو سوالونو نه دا دے، چه جملة متعلق مؤول دے، په تاويل دَ مجعول شوې۔ پس اعتراض وارد نه شو اَو دَ تاويل دَ پاره صله هم راځي۔ **سوال** . دَ بصريانو په نزد خو متعلق دَ ظرف فعل دے، جمله نه ده، نو بيا تاولے دا اووئيل چه مقدر بجملة؟ **جواب** . دلته كښې ذكر دَ جملے مستلزم اَو مراد ترے نه فعل دَ قبيلے دَ ذكر دَ كل دے اَو مراد ترے نه جزء دے، ځكه چه فعل محتاج دے، فاعل ته لوي نو دا وايه چه فعل خو يو كلمه شي، نو جمله ترے نه جوړيږي۔ ذكر دا خبره چه په متعلق دَ ظرف كښې اختلاف دے، په مابين دَ بصريانو اَو دَ كوفيانو كښې۔ بصريان وائي چه متعلق دَ ظرف فعل دے، ځكه چه فعل اصل دے په عمل كښې، دَ دوئ دوه دليلونه دي، يو دليل نقلي دے اَو دويم دليل عقلي دي، دليل نقلي دا دے چه فعل وضع شوے دے دَ پاره دَ عمل۔ پس دے اصل وګرځيدو په عمل كښې۔ دليل عقلي دا دے چه فعل دوه محتاج دے اَو چه كوم يو شے دوه محتاج نه وي، نو هغه دوه مؤثر وي، نو فعل دوه مؤثر شو اَو چه دوه مؤثر شو نو اصل شو په عمل كښې۔ دويم دليل عقلي دا دے چه په فعل كښې نسبت دے اَو نسبت فاعل غواړي اَو فاعل محتاج دے علامه ته اَو علامه دَ عمل دَ فعل دے۔ كوفيان وائي چه متعلق دَ ظرف اسم دے، ځكه چه دا جار مجرور په اعتبار دَ متعلق سره واقع دے، په مقام دَ خبر كښې اَو اصل خبر كښې افراد دے اَو دا نه حاصليږي، مګر په اسم سره، هم كله چه متعلق دَ ظرف په نزد دَ بصريانو باندې فعل دے، نو دا فعل به عام وي يعني دَ افعال عامه څخه وي اَو افعال عامه دا څلور دي چه شاعر په دے شعر كښې ذكر كړي دي:

سے افعال عامہ نزد ارباب عقول   کون است و ثبوت است و وجود است و حصول

د دیے نه علاوه افعال خاصه پیښه هم تعلق لرلے شی، خو هغه به په قرینے د مقام سره وی- پس په هر کله بعضیان متعلق فعل را اوباسی، نو بیا به ئے په کان پورے متعلق کوے یا په وجد پورے یا ثبت او حصل پورے او کونیان به متعلق کوی، نو یا کائن پورے یا موجود پورے او یا ثابت او حاصل پورے-

درس نمبر ۱۱۱

اذا كان المبتدأ مشتملا على ماله صدر الكلام په هغه وخت کښے چه وی مبتدأ مشتمله د قبیلے د اشتمال د دال نه په مدلول باندِ، په هغه معنیٰ باندِ چه ثابت وی هغه لره په اعتبار د معنیٰ مطابقی سره صدارت د کلام، مثلکښے دا خبره معلومه شوه چه اصل په مبتداء کښے تقدیم دے- اوس به دے عبارت سره موجبات د تقدیم د مبتداء او د تاخیر د مبتداء یا الزی، لفظ د ما عبارت دے د معنے نه- صدارت د کلام ربه څیزونو لره واجب دے، ۱ استفهام، ۲ قسم، ۳ نفی، ۴ تمنی، ۵ ترجی، ۶ ضمیر شان، ۷ لام ابتدائیه، ۸ شرط او ۹ تعجب دے- دوی صدارت د کلام غواړی، د پاره د دیے چه د اول وهله نه د کلام د نوعیت پته اولګی او که چرته دوی موخر کړے شو نو بیا به ذهن د مخاطب مشوش شی-

مثل من ابوك لکه من ابوك دلته کښے تقدیم د مبتداء په خبر باندِ واجب دے ځکه کچرے تقدیم واجب نه شی، د مبتدا په خبر باندِ لو فوت به شی صدارت، ځکه چه من صدارت د کلام غواړی- **سوال** ستاسو دا خو دا ئے چه په هغه وخت کښے چه مشتمله وی مبتداء په هغه معنیٰ باندِ چه هغه لره ثابت وی صدارت د کلام لو دلته خو من مشتمل نه دے په صدارت د کلام باندِ، بلکه دے خو بیخپله صدر د کلام دے- **جواب**- مراد د اشتمال نه اشتمال د قبیلے د دال دے په مدلول باندِ یا دلته مراد د دلالت نه دلالت مطابقی دے- پوهه شه چه دلته په من ابوك کښے اختلاف دے، په مابین د جمهورو او په مابین د سیبویه کښے. جمهور وائی چه، ابوك مبتداء موخره ده او من خبر مقدم دے، ځکه چه ابوك معرفه ده او اصل په مبتداء کښے تعریف دے او من نکره ده، نو دا خبر مقدم دے، ځکه چه اصل په خبر کښے تنکیر دے او اصل په خبر کښے تنکیر په دیے وجه باندِ دے چه په مبتداء او په خبر کښے درے څیزونه وی، یو مبتداء، دویم خبر او دریم نسبت دے په مابین د مبتداء او د خبر کښے- پس چه کله خبر هم معلوم وی او نسبت هم معلوم وی، نو مخاطب ته فائده نه ورکوی او چه نسبت معلوم وی او خبر نه وی معلوم، نو مخاطب ته فائده ورکوی، په دیے وجه جمهور وائی چه ابوك مبتداء موخره او من ورلره خبر مقدم دے، خو جمهورو په مذهب باندِ، دا مثال مطابق نه دے د ممثل سره- سیبویه وائی چه من مبتداء ده او ابوك خبر دے، هغه وائی چه من هم معرفه ده، ځکه چه د دیے تعبیر داغه دے، د زيد ابوك ام عمرو ام بكر نه- پس د دیے لفظونه تعبیر اکثر په من سره او دا خو لوړ اعلام دی، نو من هم معرفه او

علماو اکر حمد، جمهور جواب ورکوی، سیبویه ته چه، ابوك بطبعه تاویل نه معرفه ده آو تا په کښې تاویل کړے مے آؤ په تاویل کښې تکلف ته ضرورت وی۔ لیس چه په کوم ځای کښې تکلف آؤ تاویل نه وی، هغه اولیٰ دے، د هغه نه چه، په کښې تکلف وی، خو سیبویه جواب کوی، چه دلته ما بل لپاره اصل سره معارض کرځی، هغه ما چه صدارت په بیا فوت شی، چونکه مصنف په مذهب سیبویه بانډی دے، په دے وجه ئے ما مثال ذکر کړو۔

أو كانا معرفتين

آؤ یا به دواړه، مبتدا آؤ خبر معرفے په دے شان سره چه نه وی، قرینه په کوم د احدهما بانډی مبتدا آؤ په آخر بانډی خبر۔ ما بل ځائے دے، د تقدیم د مبتداء په خبر بانډی وجوباً۔ د قرینه قید سره سره ځکه کښیښودو چه اعتراض وارد نه شی، په ابوحنیفهؒ ابو یوسفؒ ما په بنونا بنو ابنائنا بانډی۔ دلته ابوحنیفهؒ آؤ ابو یوسفؒ مبتداء او خبر دی آؤ ما دواړه معرفه دی، لیکن دلته کښې ابو یوسفؒ مبتداء مؤخر دے او ابوحنیفهؒ خبر مقدم دے، ځکه چه قرینه موجوده ده چه صفت تشبیه د آعلیٰ د آدنیٰ سره آؤ لاندے مقصد دے۔ آؤ دلته تقدیم واجب دے، د مبتداء په خبر بانډی، د دے وجے نه چه التباس د مبتداء رانه شی د خبر سره۔

أو متساويين نحو أفضل منك أفضل مني

آؤ یا وی مبتداء آؤ خبر مساوی په نفس تخصیص کښې نه په قدر آؤ مقدار د تخصیص کښې۔ د نفس تخصیص قید ضمرے سره کښیښودو د پاره د دفع د اعتراض۔ **سوال۔** غلام رجل صالح افضل منك۔ دلته غلام رجل صالح مبتداء ده، تخصیص ئے دوه ځله شوے دے آؤ افضل منك خبر دے، تخصیص ئے یو ځل راغلے دے، نو د دے چه په مقدار د تخصیص کښې سره مساوی نه دی آؤ دلته کښې تقدیم د مبتداء په خبر بانډی واجب دے۔ **جواب۔** چه مساوی وی، دا دواړه مبتداء آؤ خبر په نفس تخصیص کښې، نه په مقدار د تخصیص کښې۔ لکه افضل منك افضل منی دا برابر دی، په نفس تخصیص کښې، ځکه چه جانب د مبتداء کښې هم صیغه د اسم تفضیل ده آؤ په جانب د خبر کښې هم، آؤ دلته تقدیم د خبر په مبتداء په دے وجه بانډی واجب دے چه التباس رانه شی، د مبتداء د خبر سره۔

درس نمبر ۱۱۲

أو كان الخبر فعلا له مثل زيد قام وجب تقديمه

آؤ یا وی دا خبر فعل د پاره د مبتداء، یعنی خبر فعل واقع شوے وی، په دے صورت کښې تقدیم د مبتداء واجب دے، په خبر بانډی د پاره د دے چه التباس رانشی د مبتداء د فاعل سره۔ مثلاً په دے ترکیب کښې چه زیدٌ قامَ، زید مبتداء ده آؤ قام خبر دے۔ اوس که چرے موږ اووایو چه قامَ زیدٌ آؤ ترکیب ئے اوکړو چه زید مبتداء مؤخر شی آؤ قام خبر مقدم شی، نو التباس راځی د مبتداء د فاعل ... ترکیب ... ځکه چه قام فعل دے آؤ فاعل ئے زید دے۔ **سوال۔** التباس د مبتداء د فاعل سره په صورت د مضمر کښې نه راځی،

او په صورت د تثنیې او د جمع کې خو نه راځي، لو لیکار داده چه په صورت د تثنیې او د جمع کښې واجب نه شي تقدیم د مبتدا په خبر باندې لکه "قاما الزیدان" ـ دلته خو التباس نه راځي، ځکه چه فاعل کله اسم ظاهر وي، نو فعل به همېشه مفرد وي، نو داخو معلومه خبره ده چه الزیدان فاعل نشي کېدے، ځکه چه فاعل د "قاما" ضمیر دے، په دې کښې که چرې الزیدان وبله فاعل وائي نو بیا خو فعل مفرد لیکل کېدو۔ پس معلومه شوه، چه الزیدان مبتدا مؤخره او "قاما" دا جمله خبر مقدم دے ـ **جواب**. دلته اګر که التباس د مبتدا د فاعل سره نه دے راغلے لیکن داچه دلته په بعض لغاتو کښې (یعنی د بعض باندې) التباس د عین فاعل سره راغلے دے، (په بعضو د عرب چا باندې چه هغوی به تثنیه کښې الف او په جمع کښې واو اسماء او فاعل نه وائي)۔ **سوال**. د مبتدا د تقدیم وجوب په خبر باندې شپږم صورت نه دے ذکر شوے، دا مذکوره په متن کښې او دې لوډي، چه بو "انما" نه پس مبتداء واقع شوې وي لکه شپږم دا دے چه خبر د "ما الا" نه پس وي، نو په دې کښې هم تقدیم د مبتداء واجب دے په خبر باندې نو مصنف ولې دا ذکر کړل او دا لوډي شپږم یې بیان نه دی؟ **جواب**: مصنف دا قیاس کړے دے په فاعل باندې یعنی په فاعل کښې د دوی ذکر شوے دے او یا دا دواړه شامل کړي دي، په "ماله صدر الکلام" کښې۔

وَإِذَا تَضَمَّنَ الْخَبَرُ الْمُفْرَدُ مَالَهُ صَدْرُ الْكَلَامِ

او په هغه وخت کښې چه متضمن وي خبر، هسې خبر چه هغه مفرد وي صورتاً او جمله وي معناً، په هغه معنی چه ثابت وي، هغه لره صدارت د کلام په اعتبار د معنی مطابقي سره په دې عبارت سره مصنف هغه مواضع بیانوي چه هلته کښې تقدیم د خبر په مبتداء باندې واجب وي او هغه څلور حالونه دي ـ دلته تضمن په معنی د اشتمال سره دے ـ ځکه په مبتداء کښې مصنف ولې وئیلي وو چه "اذا کان المبتداء مشتملا الخ" نو دلته یې په ځائے د مشتملا باندې تضمن راوړو، دې ته وائي "تَفَنُّنٌ فِي الْعِبَارَةِ" دا راځي د پاره د تنشیط اذهانو د طالبانو ـ مصنف خبر مقید او ګرځولو په قید د مفرد سره، په دې سره احتراز راغے، د جملې نه ځکه که چرې خبر جمله وي او دا متضمنه وي، په هغه شي باندې چه هغه متقضي وي، د پاره د صدارت د کلام لو په هغه وخت کښې تقدیم د خبر واجب نه دے، په مبتداء باندې لکه په دې مثال کښې چه "زیدٌ من ابوه" لو په دې صورت کښې تقدیم د خبر ځکه واجب دے، په مبتداء باندې چه صدارت فوت نه کړي۔

مِثْلُ أَيْنَ زَيْدٌ

این خبر مقدم دے او زیدٌ مبتداء مؤخره او دلته کښې تقدیم واجب دے د خبر د پاره د دې چه فوت نه شي صدارت د هغه شي، چه مقتضي وي، د صدارت د کلام۔

سوال ـ "اینَ" خو ظرف دے او ظرف متعلق غواړي، لو چه هرکله په دې له مونږ متعلق را اوباسو، هغه فعل دے، نو انو دا خو په اعتبار د متعلق سره خبر مفرد نه شو، بلکه دا خو جمله ده، لو تقید ستاسو خبر لره په قید د مفرد سره صحیح نه شو ـ **جواب** ـ مونږ په معنی د دې عبارت کښې وئیلي دي، چه مفرد وي صورتاً او جمله وي معناً، نو دلته مقدره جمله ده، صورتاً او جمله ده معناً۔

درس نمبر ۱۱۳

او كان مصححاله مثل فی الدار رجلٌ

او یا وی دا خبر مصحح او تصحیح کوونکے د پاره د مبتدا، په دے شان سره چه د دهٔ ابتدائیت پرے صحیح کیږی، لکه په دے مثال کښے رجلٌ مبتدا دے او فی الدار خبر مقدم دے، نو دلته واجب دے تقدیم د خبر په مبتدا باندې، د پاره د دې وجه چه لا تصحیح شی نکارت د مبتدا، چونکه رجلٌ نکره ده، خو په تقدیم د ما حقه التأخیر سره به کښے تخصیص پیدا شی.

او لمتعلقه ضمیر فی المبتدا

او یا ثابت وی د پاره د متعلق د خبر ضمیر په مبتدا کښے چه هغه راجع وی، دلته متعلق ورته او مراد په متعلق سره جزء او سد مسد دے چه هغه تابع وی د خبر او منتج وی، تقدیم د دهٔ په خبر باندې لکه:—

علی التمرة مثلها زبدًا

علی جار التمرة مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په ثابت شوے خبر مقدم شو او مثلها کښے مثل مضاف او ها مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه ممیز او زبدًا تمیز ممیز سره د تمیز نه دا مبتدا مؤخر ده. دلته تقدیم د خبر په مبتدا باندې واجب دے د پاره د دې وجه چه اضمار قبل الذکر لازم نه شی لفظًا او رتبةً او اضمار قبل الذکر لفظًا او رتبةً باطل دے. دلته ها کښے ضمیر راجع دے تمرة ته. **سوال.** د دے ترکیب په شان خو دا ترکیب هم دے، علی الله عبده متوکل، علی الله جار مجرور متعلق دے په خبر پورے چه متوکل، نو دلته خو تقدیم د خبر په مبتدا نه دے راغلے. پکار دا وه چه دلته هم تقدیم مجرور وے، د خبر په مبتدا باندې. **جواب.** مونږ وئیلی دی چه مراد په متعلق سره جزء او سد مسد دے چه هغه تابع وی د خبر په لحاظ طبیعت سره چه منتج وی تقدیم د دهٔ په خبر باندې لو په دے ترکیب کښے چه علی الله عبده متوکل دے، تقدیم د متعلق په خبر باندې جائز دے.

او كان خبرًا عن انّ مثل عندی انک قائم

او یا وی خبر د مبتدا، خبر د انّ یعنی انّ سره د اسم او د خبر نه مبتدا واقع شوے وی، نو په دے صورت کښے تقدیم د خبر په مبتدا باندې واجب دے، لکه عندی انک قائمٌ، دلته کښے عندی خبر مقدم دے او انک قائمٌ، انّ سره د اسم او خبر نه با مبتدا مؤخر ده. **سوال.** تا او وئیل چه او کان خبرًا عن انّ، نو دا انّ مبتدا واقع شوے دی لو اسم د هغه به خبر وی، نو دا نه صحیح کیږی، ځکه چه انّ حرف دے او حرف مبتدا نه واقع کیږی او که چرته انّ سره د اسم نه خبر اخلے نو خروج د بحث نه بلازمی، ځکه چه بحث خو په مبتدا او په خبر کښے دے. **جواب.** دلته مراد په او کان خبرًا عن انّ سره دا دے چه انّ سره د اسم او سره د خبر نه مبتدا واقع شوے وی، په دے مقام کښے تقدیم د خبر په مبتدا باندې واجب دے، د پاره د دې چه التباس رانه شی د انّ، د إنّ سره، ځکه چه انّ حیلے مفتوحه په تاویل د مفرد

نه کوځوي، (پس د عندي انك قائم نه موږ دا ايسې تعبير کولے شو عندي تحقق قيامك) او دويم وجه د تقدم د خبر په مبتدا باندې په دې ځائے کښې دا دے، چه په ابتداء کښې متکلم په ردو خبره د مخاطب سره کوي او مخاطب هم متوجه نه دی نو التباس راځي د اَنَّ د اِنَّ سره لکه چه هرکله متکلم عندي انك قائم اُوواي، نو مخاطب هم متوجه شو وي، او متکلم هم په دغه خبره شروع کړې وي۔

وجب تقديمه

دلته وجب تقديمه جزاء ده، د پاره د شرط چه مخکښې مصنف ويلی دي چه "اذا تضمن الخبر الخ" يعني واجب دے په دغه مواضع مذکوره کښې تقديم د خبر په مبتدا باندې او وجوهات د تقديم موږ ذکر کړل۔ **سوال.** د دې څلورو حالاتو نه علاوه نور هم دوه حالتونه داسې دي چه هلته کښې تقديم د خبر واجب دے، په مبتدا باندې چه يو خبر واقع وي. پس د اِنّما او يا مانع شوے وي، خبر پس د الا او ما نه، يعني ما قائم الا زيد، نو دا ولے دا بقيه دوه ذکر نه کړل۔ **جواب.** مصنف يا دا قياس کړے دے، په فاعل باندې يعني په ذکر د فاعل کښې د دوی ذکر راغلے دے او يا داخل دي په ماله صدر الکلام کښې متقدم

وقد يتعدد الخبر مثل زيد عالم عاقل.

او کله کله خبر متعدد وي، اګرچه مخبر عنه واحد وي ځکه چه خبر محکوم دے او کله حکم کولے شي په يو شي باندې د احکام متعدده سره چه هغه لو صفات متعدده وي۔ دلته قد داخل دے په فعل مضارع باندې نو دا فائده کوي د تقليل لره، يعني اصل په خبر کښې هغه وحدت دے، او تعدد د خبر هر کله کله راځي۔ **سوال.** تعدد د خبر خو اقل نه دے، ځکه چه مبتدا موږ هلته په خبرونو نه شکه وائي چه اقل دے تعدد د خبر۔

جواب. مراد په تعدد د خبر سره دا دے چه مخبر عنه يو واحد وي او خبر په متعدد وي۔ تعدد د خبر په دوه قسمه دے، چه لفظاً او معناً دواړه تعدد وي او بل هغه دے چه لفظاً وي او معناً نه وي، چه تعدد لفظاً وي او معناً نه وي، لکه "هذا حلوٌ حامضٌ"۔ دلته اګرکه لفظاً تعدد دے خو معناً نه دے، ځکه چه حلوٌ دا تعبير دے، د "هذا مزٌّ" نه، يعني دا مرتبه ده، مابين د حموضت او حلاوة کښې او چه چيرته تعدد لفظاً وي او معناً نه وي نو هلته ترك د حرف عاطفه اولى دے او چه چيرته لفظاً او معناً دواړه تعدد وي نو هلته جواز د امرين دے يعني ترك هم او اثبات هم، ليکن راوړل د حرف عطف اولى دے، د ترك نه۔ **سوال.** چه هرکله تعدد د خبر لفظاً او معناً دواړه وي نو حرف عطف راوړلے کيږي او ترك يې هم جائز دے، نو مصنف هغه مثال يې ذکر نه کړو چه په کوم کښې حرف عطف راغلے شي، بلکه هغه مثال يې اوړے دے چه ترك د حرف په کښې دي۔

جواب. مثال د وله چه په هغه کښې حرف عاطفه موجود دي، هغه ظاهر وو او چه کوم کښې حرف عطف نه وي، په هغه کښې خفا وه، په دې وجه يې دا مثال راوړو۔ دوئم جواب دا دے چه خبر کله په حرف عطف سره راشي نو دا تابع اګرځيدو، پس دا خبر نه شو۔ دريم جواب دا دے چه مصنف دا مثال د پاره د دے نسخې ذکر کړو متوهم په دا اوهم کولو چه مبتدا کله متعدده وي نو هلته حرف عطف راوړل واجب دي۔

کنی چې چیرته خبر متعدد وي، نو هلته به هم دا رنګه 'و' حرف عطف واجب وي. پس مصنف رح د پاره د دفع د دغه توهم دا مثال راوړو، چې په کښې حرف عطف نه دی راغلی، چې معلومه شي دا خبره، چې په دې کښې شان د خبر په شان د مبتدا نه دے.

درس نمبر ۱۱

وقد يتضمن المبتدأ معنى الشرط فيصح دخول الفاء في الخبر

او کله کله مبتدا متضمن وي معنی د شرط لره. پس صحیح دے دخول د فا په خبر کښې، ځکه چې مبتدا په منزله د شرط شو او خبر په منزله د جزا رشو، نو په جزا کښې فا راوړلے کیږي، نو هلته به هم په خبر کښې فا راوړلے شي، د دې نه معلومه شوه چې مصنف رح کوم احکام د مبتدا او د خبر ذکر کول، په هغه کښې مبتدا مبني لیس زائد او خبر په حرف زائد نه وو مشتمل او لیس هغه ځایونه ذکر کوي، چې مبتدا مشتمل وي په لیس زائد او خبر مشتمل وي په حرف زائد باندې. پس ده مثال چې وقد یتضمن المبتدا معنی الشرط. د معنی الشرط اضافة بیانیة ده. اضافت بیاني ته وایي، چې مضاف الیه بیان راغلی وي د پاره د مضاف. د معنی الشرط معنی په نزد د ابن حاجب شارح جامي رح دا ده چې 'کون الاول سببا للثاني' یعني اول جزء چې سبب وي د پاره د ثاني، خو په دې باندې سوال وارديږي چې 'وما بکم من نعمة فمن الله'. دلته خو جزء اول سبب د پاره د ثاني نه دے او بل دا چې مبتدا متضمنه معنی د شرط لره نه ده او بلوجود د دې نه په خبر کښې چې فمن الله دے فا راغلې ده. جواب. کون الاول سببا للثاني عام دے چې اول سبب وي د پاره د ثاني او که حکم د اول سبب وي د پاره د حکم د ثاني، نو دلته هم حکم د اول سبب دے د پاره د حکم د ثاني او شیخ رضي والی چې د معنی الشرط معنی دا ده چې کون الثاني لازما للاول. برابره خبره ده چې اول سبب وي د پاره د ثاني لکه 'ان کانت الشمس طالعة فالنهار موجود' او که ثاني سبب وي، د پاره د اول لکه 'ان کان النهار موجودا فالشمس طالعة' او که دا دواړه معلولین د بل علت د پاره وي، لکه 'ان کان النهار موجودا فالعالم مضيء'. دلته دا دواړه معلولین دي د پاره د طلوع د شمس. سوال. متکلم چې یا قصد د معنی د شرط کړے وي په مبتدا کښې نو یا به یې نه وي کړے. که چیرته قصد یې کړے وي، بیا خو راوړل د فا واجب دي او که نه وي کړے نو بیا راوړل د فا ممتنع دي. جواب. خبره مونږ په نفس تضمن د مبتدا کښې د معنی د شرط لره. قطع نظر د قصد د متکلم نه چې متکلم قصد کړے وي او که نه یې وي کړے.

وذلك الاسم الموصول بفعل او ظرف

دا مبتدا چې متضمنه وي معنی د شرط لره چې دا اسم وي، هغه اسم چې هغه موصول وي په فعل سره یا په ظرف سره، یعني صله د دغه اسم یا فعل راغلې وي او یا ظرف راغلی وي او یا دا مبتدا چې متضمنه وي معنی د شرط لره اسم وي، هغه اسم چې هغه موصوف وي په موصول سره. او س په هغه صورت کښې چې مبتدا متضمنه

وی معنیٰ د شرط لره، هغه اسم وی، هغه اسم چه هغه موصول وی، په فعل یا په ظرف سره - برابره خبره ده چه دا موصول صریحی وی اَوْ که تقدیری مثال لکه "الزانية والزاني، فاجلدوا كل واحد منهما" دلته الف لام په معنیٰ د موصول دی یعنی "الزانية اللتى تزنى، والزانى والذى يزنى".

مثل الذی یاتینی اوفی الدار فله درهم

دا مثال د هغه دے چه موصول صریحی وی او صله یې فعل وی - دلته الذی موصول یاتینی - فعل ضمیر په کښے مستتر هغه یې فاعل - ن وقایه، ی منعول به - فعل سره د فاعل اَوْ مفعول به نه دا جمله فعلیه صله شوه، د پاره د موصول، موصول سره د صلے نه مبتداء، فلهٔ دا خبر مقدم اَوْ درهم دا مبتداء موخره - مبتدا موخره سره د خبر مقدم نه دا جمله اسمیه خبر شو، د پاره د مبتداء، مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه شوه - دلته الذی موصول دے اَوْ صله یې یاتینی فعل راغلے دے، دا متضمن دے معنیٰ د شرط لره اَوْ "الذی فی الدار فله درهم" دا مثال د هغه دے چه صله ظرف راغلے وی، الذی موصول، فی جار، الدار مجرور - جار سره د مجرور نه دا متعلق شو په ثبت پورے - ثبت فعل ضمیر په کښے مستتر هغه فاعل فعل سره د فاعل اَوْ د متعلق نه دا جمله فعلیه صله شوه، د پاره د الذی، موصول سره د صلے نه مبتداء اَوْ فله درهم جمله اسمیه دا خبر شو.

سوال. زه به درته او وښایم چه مبتداء به وی متضمن به وی معنیٰ د شرط لره اَوْ په خبر کښے به دخول د فاء وی اَوْ سره د دے نه به مبتداء اسم موصول نه وی، چه صله یې یا فعل راغلے وی اَوْ یا ظرف، لکه "ان الموت الذی تفرون منه فانه ملاقیکم" - دلته الموت مبتداء ده اَوْ موصول په فعل یا ظرف سره نه ده - **جواب**. علت د مصنف په تقدیر د معطوف سره دے، تقدیر د عبارت به داسے شی چه یا وی دا مبتداء چه متضمن وی معنیٰ د شرط لره - اسم دا سے اسم چه موصوف وی په موصول سره - پس دلته کښے الموت دا مبتداء ده اَوْ اسم دے چه صفت یې په الذی موصول سره راغلے دے، ترکیب به داسے شی، الموت موصوف، الذی موصول، تفرون فعل ضمیر په کښے مستتر دے چه انتم دے، هغه یې فاعل منه جار مجرور، جار سره د مجرور نه دا متعلق شو په فعل تفرون پورے، فعل سره د فاعل اَوْ متعلق نه دا صله شو، د پاره د موصول، موصول سره د صلے نه دا صفت شو د پاره د موصوف، موصوف سره د صفت نه دا مبتدا اَوْ فانه ملاقیکم دا جمله اسمیه خبر، مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه اَوْ دلته اشتراط په وصل یا په وصف سره د دے د پاره نه دے، چه مشابهت د شرط سره ستاکد کړی قوی اوګرځی.

درس نمبر ۱۱۵

اوالنكرة الموصوفة بهما

اَوْ یا وی دا مبتداء چه متضمن وی معنیٰ د شرط لره اسم چه هغه نکره وی اَوْ صفت یې راغلے وی په فعل سره یا په ظرف سره.

سوال. ستا دا قاعده منتقضه شوه په دے ترکیب باندے چه کل غلام رجل یاتینی فله درهم، یا کل غلام

رجلٍ فی الدار فله درهم ۔ دلته غلام مبتداء دۀ او موصوف نه دۀ، په فعل یا په ظرف سره او باوجود دے نه یې په خبر کښې فاء راغلې ده۔ جواب: دلته معطوف حذف دے او تقدیری عبارت به داسې شي چه "او النکرة الموصوفة بهما او الاسم المضاف الی النکرة الموصوفة بهما" چه یا خو اسم وی، چه اضافت یې راغلې وی، نکرے ته او یا دې نکرے صفت فعل یا ظرف ته راغلې وی۔

مثل کل رجل یاتینی او فی الدار فله درهم

دا دواړه مثالونه د هغه دی چه مبتدا نکره وی او صفت یې راغلې وی، په فعل سره یا په ظرف سره، او دلته "کل رجل یاتینی فله درهم" رجل مبتدا ده او نکره ده او صفت یې راغلې دے، په فعل سره۔ د هغه مثال "کل رجل فی الدار فله درهم"، رجل موصوف دے او فی الدار ورله صفت دے۔ موصوف سره د صفت نه مبتدا، فله درهم ورله خبر شو، مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه شوه۔ زه کوم دا خبره چه دلته ټول اته صورتونه جوړیږي، څلور به اول قسم کښې، او څلور به دویم قسم کښې۔ د اول قسم سره موږ معطوف مقدر کړے دے او د دویم قسم سره هم معطوف مقدر دے۔ اول صورت دا دے چه مبتدا اسم موصول او صله یې فعل وی، لکه "الذی یاتینی فله درهم"، دویم صورت دا دے چه مبتدا اسم موصول وی او صله یې ظرف وی، لکه "الذی یاتینی فله درهم"۔ دریم صورت دا دے چه مبتدا موصوف وی، په موصول سره او د دے موصول د پاره صله فعل وی، لکه "الرجل الذی یاتینی فله درهم"۔ څلورم صورت دا دے، چه مبتدا موصوف وی، په موصول سره او د دے موصول د پاره صله ظرف وی، لکه "الرجل الذی فی الدار فله درهم"۔ دا څلور صورتونه د اول قسم شو او په دویم قسم کښې اول صورت دا دے چه مبتدا نکره وی او موصوف وی، په فعل سره لکه "کل رجل یاتینی فله درهم"۔ دویم صورت دا دے، چه مبتدا نکره وی او موصوف وی په ظرف سره، لکه "کل رجل فی الدار فله درهم"۔ دریم صورت دا دے چه مبتدا اسم وی او مضاف وی، نکرے ته، چه هغه نکره بیا موصوف وی، په فعل سره، لکه "کل غلام رجل یاتینی فله درهم"۔ څلورم صورت دا دے، چه مبتدا اسم وی او مضاف وی، نکرے ته او دا نکره موصوفه وی، په ظرف سره، لکه "کل غلام رجل فی الدار فله درهم"۔

ولیت ولعل مانعان بالاتفاق

او لیت او لعل چه دا دواړه حرفونه دی، د حروف مشبهه بالفعل نه، دوی منع کوی، د دخول د فاء لره، په خبر باندې په اتفاق د نحویانو سره۔ په دے عبارت سره مصنف دفع د سوال کوی۔ سوال دا دے، چه تاسو خو وایئ چه مبتدا متضمن او کړی، معنیٰ د شرط لره، نو بیا دخول د فاء صحیح دے، په خبر کښې او دلته په دے ترکیب کښې چه "لیت الذی یاتینی له درهم" یا "لعل الذی یاتینی له درهم"، دلته خو فاء نه ده راغلې۔ مصنف جواب ورکوی په دے عبارت سره په "لیت ولعل مانعان"، ځکه چه لیت او لعل نا اُمید کوی، مشابهت د مبتداء او خبر د شرط او د جزا سره، ځکه چه دوی راځی د پاره د انشاء او شرط جزاء (جمله شرطیه) دا راځی، د پاره د خبر او په مابین د انشاء او د خبر کښې منافات دے، په دوی منع بلکه بالاتفاق

د دخول دَ فَا په دَ لیت لوٓ دَ لعل کښې ممتنع دے۔ **سوال**. باب دَ علمت أو کان هم مانعان دی لو څهٔ وجه، چه مصنفؒ خاص کړهٔ په ذکر سره لیت او لعل۔ **جواب**. مصنفؒ لیت او لعل خاص کړل په ذکر سره په نسبت سره لدے حروف مشبه بالفعل نه او باب دَ علمت او کان خو حروف مشبه بالفعل نه نهٔ دی۔

وألحق بعضهم ان بهما مراد دَ بعض نه سیبویه دے او ملحق کړے دے بعض علمائو ان لعل او لیت پورے ان، لکه چه څنګه لیت او لعل مانعان دی، دغه شان ان هم مانع دے، دَ دخول دَ فَا نه په خبر کښې۔ دلته اختلاف دے په مابین دَ جمهورو او دَ سیبویه کښې۔ سیبویه وائی چه ان هم مانع دے، دَ دخول دَ فَا نه په خبر کښې او جمهور وائی چه ان مانع نه دے دَ دخول دَ فَا نه په خبر کښې۔ دَ سیبویه دَ پاره دوه دلیله دی یو دلیل عقلی دے او دویم دلیل نقلی دے، دلیل عقلی دا دے چه ان واجب دَ پاره دَ تحقق او جمله شرطیه شتمله ده، په تردد باندې او په مابین دَ تحقق او دَ تردد کښې منافات دے او دلیل نقلی دا دے چه په قرآن پاک کښې راغلی دی، چه "ان الذین امنوا وعملوا الصالحات کانت لهم جنت الفردوس"۔ دلته دَ ان په خبر (چه کانت دے) فَا نه ده راغلی۔ دَ جمهورو دَ طرف نه سیبویه ته جواب دَ دلیل عقلی نه دا دے چه ان اګر څه دَ پاره دَ تحقق، لکه چه په شرط کښې تردد وی، لو هغه محکم کوی او که چرته په جزا کښې تردد وی، نو هغه محکم کوی او دلیل نقلی نه جواب دا دے چه دلته دا قاعده وجوبی نه ده، بلکه جوازی ده او جمهور په خپل دلیل کښې وائی چه "ان الموت الذی تفرون منه فانه ملاقیکم"۔ دلته دَ ان په خبر کښې فَا راغلی ده۔ سیبویه جواب ورکوی چه دلته خبر دَ ان فانه ملاقیکم نه دے، بلکه هغه مقدر دے، چه هغه لاینفعکم الفرار دے، یعنی ان الموت الذی تفرون منه لاینفعکم الفرار فانه ملاقیکم۔ جمهور ورته وائی چه دا تکلف دے، بیا ورته په دلیل کښې جمهور وائی چه ان الذین آمنوا وعملوا الصلحت فلهم اجرهم۔ دلته دَ ان دَ پاره خبر فلهم دے او فَا ورباندې راغلی ده۔ **سوال**. بعض نحویانو ان هم ملحق کړے دے، په لیت او په لعل پورے، نو هغه ولے ذکر نه کړهٔ؟ **جواب**. قائل دَ ان هغه سیبویه دے او هغه چونکه امام دَ علم نحو دے، په دے وجه باندې دَ هغهٔ قول قوی دے او دَ هغه دَ قول اعتبار شته دے او دَ ان قائل ضعیف دے او دَ هغه قول له اعتبار نشته، خو که مذهب دَ سیبویه دے او یا دَ بعضو نحویانو مذهب هغه دَ نصیح لغت سره موافقت نه خوری، دَ ان مثال هغه خو نیشته او هغه چه دے، ان چه فَا راغلی په خبر کښې، لکه "واعلموا انما غنمتم من شیء فان لله خمسه" دلته په فان باندې فَا راغلی ده۔

درس نمبر ۱۱۶

وقد یحذف المبتدا لقیام قرینة جوازا او کله کله حذف کولے شی مبتدا په خاطر دَ وجود دَ قرینې کښې (برابره خبره ده چه دا قرینه لفظیه وی که عقلیه وی، حالیه وی که مقالیه وی) په حذف جوازی سره، په دے مقام کښې په حذف دَ مبتدا کښې دوهٔ مذهبه دی، یو مذهب ضعیف دے او بل مذهب قوی دے۔ مذهب ضعیف دا دے چه دَ مبتدا حذف بالکل جائز دے،

لہٰ قرینہ وی او کہ نہ وی، ځکہ چہ مبتدا رکن اصیل او رکن رکین دے، یعنی مبتدا مقصود بالذات دے او خبر مقصود بالذات نہ دے، پہ دے وجہ د هغه د مبتدا حذف جائز دے، چہ هغه رکن اصیل نہ دے، هُم دغه وجه ده چہ مبتدا نه وی او خبر به مؤخر وی او مذهب قوی دا دے چہ حذف د مبتدا جائز دے، ځکہ چہ کلام د عرب په دے باندے شاهد دے۔ علت چونکہ په فعل مضارع باندے قد داخل شوے دے، دا فائده کوی تقلیل۔ د دے نه ماخوذ معلومه شوه چہ اصل په مبتدا کښے هغه ذکر دے، په قیام کښے په لام باندے دا سوال وارد یږی چہ ظاهر متبادر د لام نه ملحوظ لام تعلیلیه دے، هر کله چہ تعلیلیه شو لو بیا وجود د علت مستلزم دے وجود د معلول لره، وجوباً نو پکار ده چہ په وخت د وجود د قرینه کښے حذف وجوباً شی او نه خو وائی چہ جوازاً۔ جواب۔ دلته دا لام تعلیلیه نه دے بلکه لام وقتیه دے، لکه په دے قول د باری تعالیٰ کښے دے 'اقم الصلوٰة لدلوك الشمس' الآیة۔ او یا دوئم جواب دا دے چہ دلته دا لام تعلیلیه دے، خو علت په دوه قسمه دے، یو علت د جواز دے او دوئم علت د وجوب دے۔ دلته د علت نه مراد علت جواز دے نه علت د وجوب۔ د قیام نه مراد وجود دے یعنی په وخت د وجود د قرینے کښے۔ قرینه والیٰ، امر دال علی تعین الشئ ته۔ برابره خبره ده چہ حالیه وی که مقالیه وی، لفظیه وی که عقلیه وی جوازاً۔ دا مفعول مطلق دے، یعنی دا صفت واقع شوے دے، د پاره د موصوف محذوف چہ هغه مفعول مطلق دے۔ سوال۔ چہ جوازاً مفعول مطلق شی، نو مفعول مطلق هغه ته وائی، چہ فعل په هغه باندے مشتمل وی۔ د قبیلے د لشتمال د کل نه په جز باندے او دلته خو فعل چہ یحذف دے، دا مشتمل نه دے په جوازاً باندے۔ جواب۔ جوازاً دا صفت واقع شوے دے، د پاره د مفعول مطلق محذوف چہ هغه حذفاً دے او حذفاً مفعول مطلق بیا حذف شوے دے او د ده په ځائے جوازاً او حذفاً شوے دے۔ سوال۔ صفت خو محمول وی په موصوف باندے او چہ هر کله جوازاً حمل شی په حذفاً باندے، نو لازم شو حمل د صرف وصف راځی په ذات باندے۔ جواب۔ جوازاً مصدر مبنی للفاعل دے، دا به الکوځی په تاویل د جائزاً سره، ای حذفا جائزاً او حمل د صرف وصف خو په ذات مع الوصف باندے روا دے۔

درس نمبر ۱۱۷

كقول المستهل الهلال والله

لکه دا مقوله د لیدونکی د هلال شوه، چہ هغه رفع د صوت لکوی په دے باندے چہ الهلال والله۔ دلته غرض د مستهل تعین د شی دے، لکل په اشاره سره او بیا وروسته حکم دے په هلالیة۔ د هغه شی سره مستهل په اصل کښے هغه کس ته وائی، چہ هغه پیدا شی لو چہ پیدا کیدو سره چغه لګوی او دلته ترے نه مراد هلال لیدونکے دے او د قول نه مراد ملفوظ۔ او س دلته په دے مقوله کښے مبتدا حذف ده، چہ هغه هذا ده لو قرینه وه باندے حالیه ده۔

سوال۔ دلته څه قرینه ده چہ مبتدا محذوف ده، بلکه دا هم کیدے شی چہ خبر حذف وی، لکه الهلال والله هذا۔ جواب۔ قرینه دا ده چہ دلته غرض د مستهل تعین د شی دے، اولاً په اسم اشاره سره لو۔ بیا حکم دے، په

هلالیت د شی باندې نه اولاً حکم مه، په هلالیت سره او بیا اشاره ده تعین د شی نه ـ **سوال**. اتمام د سرالخ په الهلال باندې ولې، لو والله قسم نه څه ضرورت وو ـ **جواب**. عادت د مستهلینو دا دے چه هغوی والله ذکر کوی او یا دا چه والله یې د پاره د تعین د رفع ذکر کړو، ځکه چه که چرته والله یې نه ذکر کولو، نو بیا خو دا مفرد وو او په وسه به یې وقف کولو او په حالت د توقف کښې بیا نه لګیده چه دا مرفوع دے که منصوب دے، ځکه چه د نصب احتمال هم په کښې شته، چه دا مفعول اوګرځي د پاره د رأیت، یعنی رأیتُ الهلال ـ پس والله یې ورسره ذکر کړو د پاره د تعین د رفع ـ **سوال**. د مبتدا حذف خو په دوه قسمه دے، یو وجوباً دے او دویم جوازاً دے، نو مصنف ولې یو قسم (چه جوازاً دے) ذکر کړو او وجوباً یې ذکر نه کړو ـ **جواب**. حذف د مبتدا وجوباً قلیل او نادر دے، نادر کالعدم دے، په دے وجه یې ذکر نه کړو، ځکه چه مبتدا په دوه ځایونو کښې وجوباً حذف کیږي، یو په افعال مدح کښې او بل په هغه ځائے کښې چه نعت د نعتیت نه قطع شوے وی ـ

مثل خَرَجتُ فاذا السبعُ دلته کښې خبر د السبع د پاره حذف شوے دے، په حذف جواز سره ځکه چه دلته کښې قرینه موجوده ده، هغه دا ده چه اذا مفاجاتی دے او دا غالباً داخلیږي په جُمله اسمیه باندې او حال دا دے چه دلته مدخول د اذا جمله نه ده بلکه مفرد دے، نو پته اولګیده چه دلته کښې خبر د اذا مفاجاتی محذوف دے، چه هغه موجودٌ یا واقف دے یا دا چه اذا مفاجاتی دلالت کوي په وجود باندې او که خبر دلته ذکر نه وو، نو معلومه شوه چه هغه حذف دے ـ **سوال**. خرجت فاذا السبع کښې خرجت دا معطوف علیه فا حرف عاطفه او اذا معطوف دے او معطوف حمل وی په معطوف علیه باندې او دلته دا حمل نه صحیح کیږي، ځکه چه خرجت جُمله فعلیه ده او معطوف حرف دے ـ **جواب**. دلته معطوف هغه فاجئتُ دے کوم چه مستفاد دے د اذا مفاجاتی نه، یعنی خرجت ففاجئتُ السبع او یا دلته دا فا زائده ده ـ

وَ وجوباً فیما التزم فی موضعه غیره دا عطف دے په جوازاً باندې ـ تقدیری عبارت به داسے شی چه وقد یحذف الخبر لقیام قرینة وجوباً یعنی کله کله حذف کیږي خبر د مبتدا په حذف وجوبي سره، د وجه د وجود د قرینے او د سد مسد نه، په هغه ترکیب کښې چه په هغے کښې التزام کړے شوے وی، په ځائے د خبر د غیر د خبر، یعنی په ځائے د خبر غیر د خبر راوړے شوے وی او دا خلوه ځائے نه دی، کما سیجیئ اِنشاء الله تعالیٰ ـ **سوال**. په فیما کښې دا ما د څه نه عبارت دے؟ که د خبر نه عبارت وانګی، نو ظرفیة د شی لحاظ د پاره د نفس خپل او دا باطل دے او که عبارت یې وانګی د ترکیب نه، نو ما موصوله دے او موصول محتاج وی عائد ته، په خبر کښې او دلته په صله کښې عائد نشته، نو دا هم نه صحیح کیږي ـ پس خلاصه دا شوه چه ما که سوچه عبارت وانګی د خبر نه، نو هم نه صحیح کیږي او که د ترکیب نه یې لګلی، نو هم نه دے صحیح، خو دلته بل توضیح **سوال** ولدیږی چه په فی موضعه غیره کښې دا ضمیر منفرد غلی دی، نو تپه شکه ولے چه په صله کښې ضمیر نشته؟ **جواب** دا دے چه دا ضمیر راجع نه دے، ما موصول

وته، بلکه دا راجع دی خبر ته۔ پس دا اصل اعتراض نه۔ **جواب** دا دے چه دلته دا ما عبارت دے، د ترکیب نه لوګ که شو لکه چه ما موصوله دے او ضمیر په صله کښے نشته، نو معنیٰ والی چه دلته عبارت په تقدیر سره دے۔ اصل به داسے شی چه "فیما التزم فیه فی موضعه غیره" یا دلته ما موصوفه هم صحیح کیږی او ما مصدریه حینیه هم صحیح کیږی، یعنی فی وقت التزم غیر الخبر فی موضع الخبر۔

درس نمبر ۱۱۸

مثل لولا زید لکان کذا (دا هغه خلوت ځائونه کیږی) دا اوله ځائے دے، مراد د دے نه هغه ترکیب دے چه لولا داخل شوے وی په مبتدا باندے او په جمله تمیم باندے جواب د لولا راغلے وی، نو دلته کښے حذف د خبر واجب دے، د وجه د قرینے نه او د سد مسد نه۔ قرینه دلته لولا دے، ځکه چه لولا لپاره د انتفاء د ثانی د وجه د وجود د اول نه، لکه "لولا علیٌّ لهلك عمرُ"۔ دلته عدم هلاکت د عمرؓ د وجه د وجود د علیؓ نه دے، نو قرینه وجود د لولا دے او سد مسد دلته قیام د جواب د لولا دے په ځائے د خبر باندے۔ دا مذهب د بصریانو دے، چه د زید د پاره خبر محذوف دے۔ فراء والی چه دلته کښے زید مرفوع دے بنابر فاعلیت او فعل د ده حذف دے، ځکه چه لو داخلیږی په فعل۔ هر کله چه دلته فعل موجود نه وی نو معلومه شو چه فعل محذوف دے، هغه وجد دے، یعنی لولا وجد زیدٌ۔ نو د بصریانو د طرف نه جواب دا دے چه، که چرته دلته کښے فعل حذف وی نو پکار دا وه چه تفسیر ئے وروستو راغلے وے، ځکه چه چرته فعل حذف وی، نو د هغه تفسیر وروستو راغلے وی، لکه "وان احدٌ من المشرکین استجارك"۔ دلته استجارك دا تفسیر راغلے دے، د هغه استجارك نه چه کوم د ان نه وروستو حذف کړے شوے دے او دلته خو تفسیر د فعل محذوف نه دے راغلے او اخفش والی چه دلته لولا مستند دے ځکه چه د دے نه فهم کیږی معنیٰ د وجود او زیدٌ مسند الیه دے، خو بصریان دوی ته جواب ورکوی چه لولا حرف دے او حرف خو مسند نه واقع کیږی۔ **سوال**۔ ته خو وائے چه لولا په کومه مبتدا داخل شی، نو د هغه خبر به وجوباً حذف شوی، نو په دے قول د امام شافعیؒ کښے چه "ولولا الشعر بالعلماء یزری، لکنت الیوم اشعر من لبید"۔ د لولا د مبتدا خبر محذوف نه دے، بلکه ذکر دے۔ **جواب**۔ دا حذف د خبر په هغه ځائے کښے دے چه چرته کښے خبر د افعال عامه نه وی، لکه وجود شو، کون شو، حصول شو او یا ثبوت او دلته خبر د افعال عامه نه نه دے، بلکه د افعال خاصه نه دے، پوره قطعه دا ده:

ولولا الشعر بالعلماء یزری ... لکنت الیوم اشعر من لبید
ولولا خشیة الرحمٰن عندی ... جعلت الناس کلهم عبیدی

ومثل ضربی زیدا قائماً دا دویم ځائے دے، د مواضع اربع نه چه چرته حذف د خبر واجب دے۔ مراد د دے نه هم هغه ترکیب دے

مبتدا مصدر وي - برابره خبره ده که تاویلاً مضاف وي، فاعل ته یا مفعول ته لکه یا دواړو ته اَوْ د هغې نه وروستو حال راغلې وي، که د فاعل نه وي که د مفعول نه وي، که د دواړو نه وي اَوْ یا دا مبتدا اِسم تفضیل وي چه نسبت یې راغلې وي، مصدریه صراحتاً وي که تاویلاً اَوْ دا مصدر مضاف وي، فاعل ته یا مفعول ته اَوْ یا دواړو ته اَوْ بیا وروستو د دې نه حال واقع شوې وي یا د فاعل نه یا د مفعول نه یا د دواړو نه. مثال د هغې چه مبتدا مصدر صریحي وي اَوْ اضافت یې راغلې وي، فاعل ته اَوْ وروستو حال راغلې وي، د فاعل نه، لکه ذهابي راجلاً - دلته کښې ذهاب مصدر دے، اضافت یې یاء د متکلم ته راغلې وي، چه هغه فاعل دے اَوْ راجلاً د دې فاعل نه حال واقع شوې دے - مثال د هغې چه مبتدا مصدر صریحي وي، اضافت یې مفعول ته راغلې وي اَوْ وروستو حال د دې مفعول نه واقع شوې وي، لکه ضربُ زیدٍ قائماً. دلته مصدر اضافت راغلې دے، مفعول ته اَوْ قائماً حال واقع شوې دے د مفعول نه. مثال د هغې چه مبتدا مصدر صریحي وي اَوْ اضافت یې فاعل اَوْ مفعول ته راغلې وي اَوْ وروستو د هغې نه حال راغلې وي، یا د فاعل اَوْ یا د مفعول نه، لکه ضربي زیداً قائماً. دلته قائماً یا حال دے، د یاء د متکلم نه چه فاعل دے اَوْ یا د زیداً نه چه مفعول دے. مثال د هغې چه مبتدا مصدر صریحي وي اَوْ اضافت یې فاعل اَوْ مفعول دواړو ته راغلې وي اَوْ وروستو حال د دواړو نه واقع شوې وي، لکه ضربي زیداً قائمین. دلته کښې قائمین د فاعل اَوْ د مفعول د دواړو نه حال واقع شوې دے.

درس نمبر ۱۱۹:- مثال د هغې چه مبتدا مصدر تاویلي وي اَوْ نسبت یې راغلې وي، فاعل ته اَوْ وروستو د فاعل نه حال واقع شوې وي، لکه اَنْ ذهبتُ راجلاً. دلته راجلاً حال واقع دے، د فاعل نه اَوْ مبتدا مصدر تاویلي ده. مثال د هغې چه مبتدا مصدر تاویلي وي اَوْ نسبت یې راغلې وي، مفعول ته اَوْ وروستو حال راغلې وي، د مفعول نه، لکه اَنْ ضرب زیداً قائماً. دلته قائماً حال دے، د زیداً نه اَوْ مبتدا مصدر تاویلي ده. مثال د هغې چه مبتدا مصدر تاویلي وي اَوْ نسبت یې فاعل اَوْ مفعول دواړو ته راغلې وي اَوْ وروستو حال واقع شوې وي، یا د فاعل نه اَوْ یا د مفعول نه، لکه اَنْ ضربتُ زیداً قائماً. دلته قائماً حال واقع دے یا د فاعل نه چه "تُ" دے اَوْ یا د مفعول نه چه زید دے اَوْ مبتدا مصدر تاویلي ده. مثال د هغې چه مبتدا مصدر تاویلي وي اَوْ نسبت یې راغلې وي، فاعل اَوْ مفعول دواړو ته اَوْ وروستو حال د دواړو نه راغلې وي، لکه اَنْ ضربتُ زیداً قائمین. دلته قائمین حال د فاعل اَوْ د مفعول د دواړو نه راغلې دے اَوْ مبتدا مصدر تاویلي ده. مثال د هغې چه مبتدا مصدر صریحي وي اَوْ اضافت ورته د اِسم تفضیل راغلې وي اَوْ د مبتدا نسبت فاعل ته شوې وي اَوْ وروستو حال واقع شوې وي، د فاعل نه، لکه اکثرُ ذهابي راجلاً. دلته کښې اکثر اِسم تفضیل دے اَوْ اضافت یې راغلې دے، مبتدا ته، چه مصدر صریحي دے اَوْ د مصدر نسبت فاعل ته راغلې دے اَوْ وروستو راجلاً حال واقع شوې دے، د فاعل نه. مثال د هغې چه مبتدا مصدر صریحي وي اَوْ اضافت ورته د اِسم تفضیل راغلې وي اَوْ د مبتدا نسبت مفعول ته شوې وي اَوْ حال واقع شوې وي، د مفعول نه، لکه اکثرُ ضربِ زیدٍ قائماً. دلته د اکثر اِسم تفضیل نسبت

او لنډه ترکيب ئې دے، مبتدا ده، چه مصدر صريحي دے او د مبتدا نسبت راغلے دے، مفعول ته او وروستو قائماً حال دے، د مفعول نه. مثال د هغه چه مبتدا مصدر صريحي وي او اضافت وته د اسم تفضيل راغلے وي او د مبتدا نسبت فاعل او مفعول دواړو ته شوے وي او وروستو حال راغلے وي، يا د فاعل نه يا د مفعول نه، لکه "اکثر ضربي زيداً قائماً". دلته د اکثر اسم تفضيل نسبت راغلے دے، مبتدا ته، چه مصدر صريحي دے او بيا د مبتدا نسبت راغلے دے، فاعل او مفعول دواړو ته او وروستو قائماً حال واقع شوے دے، يا د فاعل نه يا د مفعول نه. مثال د هغه چه مبتدا مصدر صريحي وي او نسبت او اضافت وته د اسم تفضيل راغلے وي او د مبتدا مضاف وي فاعل او مفعول دواړو ته او وروستو حال راغلے وي، د فاعل او مفعول دواړو نه، لکه "اکثر ضربي زيداً قائمين". دلته د اکثر اسم تفضيل نسبت راغلے دے، مبتدا ته، چه مصدر صريحي هم دے او د مبتدا اضافت راغلے دے، فاعل او مفعول دواړو ته او وروستو قائمين حال واقع شوے دے، د دواړو نه. مثال د هغه چه مبتدا مصدر تاويلي وي او اضافت وته د اسم تفضيل راغلے وي او بيا د دے مبتدا نسبت فاعل ته شوے وي او وروستو حال راغلے وي، د فاعل نه، لکه "اکثر ان ذهبتُ راجلاً". دلته د اکثر اسم تفضيل نسبت راغلے دے، مبتدا مصدر تاويلي ته او د هغه بيا اضافت راغلے دے، فاعل ته او وروستو د فاعل نه حال واقع شوے دے، چه راجلاً دے. مثال د هغه چه مبتدا مصدر تاويلي وي او نسبت او اضافت ورته د اسم تفضيل شوے وه او بيا د دے مبتدا، چه مصدر تاويلي دے، نسبت ئې راغلے وي، مفعول ته او وروستو حال راغلے وي، د مفعول نه، لکه "اکثر ان ضُرِبَ زيداً قائماً". دلته کښې د اکثر اسم تفضيل نسبت راغلے دے، مبتدا مصدر تاويلي ته او د مبتدا نسبت راغلے دے، مفعول ته او وروستو د مفعول نه قائماً حال واقع شوے دے.

مثال د هغه چه مبتدا مصدر تاويلي وي او نسبت ورته د اسم تفضيل شوے وي او د دے مبتدا چه مصدر تاويلي دے، نسبت ئې راغلے وي، فاعل او مفعول دواړو ته او وروستو حال راغلے وي يا د فاعل نه او يا د مفعول نه، لکه "اکثر ان ضربتُ زيداً قائماً". دلته د اکثر اسم تفضيل نسبت راغلے دے، مبتدا ته، چه مصدر تاويلي دے او د دے مبتدا نسبت فاعل او مفعول دواړو ته راغلے دے او وروستو حال يا د فاعل نه راغلے دے او يا د مفعول نه. مثال د هغه چه مبتدا مصدر تاويلي وي او نسبت وته د اسم تفضيل شوے وي او د مبتدا نسبت راغلے وي، فاعل او مفعول دواړو ته او وروستو حال واقع شوے وي، د دواړو نه، لکه "اکثر ان ضربتُ زيداً قائمين". دلته د اکثر چه اسم تفضيل دے، نسبت راغلے دے، مبتدا ته، چه مصدر تاويلي دے او د هغے نسبت بيا فاعل او مفعول دواړو ته راغلے دے او وروستو قائمين حال واقع شوے دے، د فاعل او مفعول دواړو نه. او کله دلته په "ضربي زيداً قائماً" کښې حذف د خبر دے وجوباً، د وجه د وجود د قرينے او د سد مسد نه، هغه چه دے ز وجود د قرينے، نو هغه دا چه دلته مبتدا راغلې ده او خبر ورله نشته او مبتدا بغير د خبر نه نه راځي او هغه چه دے سد مسد هغه اقامت د حال دے، په مقام د خبر

باندې - زده کړه داخبره چې دلته د ضربي زيداً قائماً په ترکيب کښې اختلاف دے - بصريان وائي چې دا په اصل کښې داسې وو ضربي زيداً حاصل اذا کان قائماً - حاصل خبر دے او اذا کان ظرف متعلق دے په حاصل پورې او قائماً حال دے - پس دلته متعلق د ظرف چې حاصل دے هغه حذف شو نو باقي پاتې شو ضربي زيداً اذا کان قائماً - پس د صيغې نه ظرف چې اذا کان دے هغه هم حذف شو نو قائماً حال په ځائې د خبر اودريدو نو ضربي زيد اً قائماً شو په وجه د ترکيب باندې **سوال** وارديږي چې اے بصريانو! تاسو د خپل مذهب نه خلاف اوکړو، ځکه چې ستاسو په نزد خو متعلق د ظرف فعل دے او دلته خو متعلق د ظرف هم هغه حاصل دے اسم دے، داخو نه دے، مګر مذهب د کوفيانو **حواب** . بعض محاليونه داسې دي چې هلته د بصريانو او د کوفيانو په نزد بالاتفاق متعلق د ظرف اسم دے او په هغه ځايونو کښې يو ځائې دا دے او دويم جواب دا دے، چې د بصريانو په نزد اولي دا دے چې متعلق د ظرف به فعل وي، سره د جواز د تعلق نه په اسم پورې - د بصريانو په دې ترکيب باندې شيخ رضي **اعتراض** کړے دے، هغه دا دے چې بصريانو دلته د درې تکلفاتو ارتکاب کړے دے، يو تکلف خو دا دے، چې حرف شرط او فعل شرط يې دواړه حذف کړي دي، چې اذا کان دے او بل دا چې دلته يې کان تامه آخستے دے او اصل په کان کښې کان ناقصه دے، نه تامه - **حواب** . د اوّلنی تکلف نه دا دے چې حذف د حرف شرط سره د فعل شرط نه دا کثيراو شائع دے، لکه څنګه چې موږ وئيلي دي، فلا بدّ من عائد او دلته مونږ وئيلي وو چې دلجزاء د دا تشرط محذوف او شرط يې دا دے چې اذا کان الامر کذالك، نو دلته حرف شرط او فعل شرط دواړه حذف شوي دي او د دويم تکلف نه جواب دا دے، چې داخبره نه منو چې اصل په کان ناقصه او کان تامه کښې کان ناقصه دے، بلکه دواړه برابر دي، يا دا چې کان تامه اصل دے، په نسبت سره کان ناقصه ته ځکه چې کان تامه محتاج نه دے خبر ته او کان ناقصه محتاج دے، او غير محتاج اصل وي، په نسبت سره محتاج ته او يا دا چې په کان ناقصه کښې اختلاف دے - نحاة وائي چې فعل دے، او منطقيان وائي چې حرف دے، نو کان تامه اصل او ګرځيدو په نسبت سره کان ناقصه ته - ع " ہیں الزام ان کو دیتا تھا قصور اپنا نکل آیا " - او د شيخ رضي په نزد باندې اصل د ضربي زيداً قائماً دا دے چې ضربي زيداً يلابسني قائماً، که چرته قائماً حال واقع شوے وي، د فاعل متکلم او که چرته قائماً حال واقع شوے وي، د زيداً نه، نو تقدير به داسې شي چې ضربي زيداً يلابسه قائماً - دلته کښې خبر يلابس دے او ضمير د متکلم يا زيداً دا ذوالحال دے او قائماً حال دے، نو ذوالحال حذف شو ځکه چې حذف د ذوالحال جائز او واقع دے نو پاتې شو ضربي زيداً يلابس قائماً بيا وروسته فعل يلابس چې عامل دے، هغه حذف شو او حذف د عامل د ذوالحال هم واقع دے - پس داسې شو عبارت چې ضربي زيداً قائماً، خو په دې باندې دا اعتراض وارديږي، چې په دغه صورت کښې حذف د افعال خاصه راځي، حالانکه افعال خاصه نه حذف کيږي، بلکه افعال عامه حذف کيږي -

درس نمبر ۱۲۰ :-

او د کوفيانو په نزد باندې - اصل د ضربي زيداً قائماً هغه دا دے چې ضربي زيداً قائماً حاصل دے - دلته کښې قائماً د متعلقاتو د مبتدا نه دے او حاصل خبر دے، بيا خبر حذف شو، خو په دغې

بانو اعتراض راځي، چه ولې کښې مبتدا بې خبره پاتې شو لکه د متعلق د مبتدا شان په شان د مبتدا دے او دوېم داچه ولې کښې تقييد د مبتدا راغلے دے، چه قائماً د متعلقاتو د مبتدا نه او ګرځي نو مبتدا هغه معموم ختم شو نو سد مسد په جمله د خبر وګرځيده، د اخفش په نزد بانو اصل د ضربي زيداً قائماً: هغه دا دے چه ضربي نه بدل ضربه قائماً دے، قائماً دا حال واقع شوے دے، د ضربه د ضمير نه او ضربه خبر دے بيا دا حذف شو، ځکه چه حذف د هغه شي چه هغه د جنس د مذکور نه وي، هغه اولی دے، خو په دے دا اعتراض وارد ميږي چه ولې حذف د عامل ضعيف راغلے دے، سره د بقاء معمول نه، ځکه چه ضرب مصدر دے او د عامل ضعيف دے، چه ذو الحال کولے شي او چه حذف وي نو عمل نشي کولے ولے کښې حذف شو او معمول يې قائماً بعد باقي دے او د بعض مذاهب دا دے چه ضربي زيداً قائماً دا مبتدا دا او خبر يې الغلط دے۔ ولې دا مذهب بديهي البطلان دے، ځکه چه مبتدا بغير د خبر نه نه راځي۔

وكل رجل وضيعته

ضيعت صنعت حرفة او کسب ته وائي۔ دا دوېم جمله دے، د هغه حالو نه چه کوم کښې حذف د خبر وجوباً راغلے وي، مراد په دے ترکيب سره هغه مبتدا ده چه مشتمل وي، عبر د هغه په معنی د مقارنت باندې او په دے باندې عطف د يو شي راغلے وي په واو سره او هغه واو په معنی د مع سره وي او د معطوف اقامة راغلے وي په ځائے د خبر باندې نو تقدير د عبارت داسے دے چه كل رجل مقرون مع ضيعته۔ ولې کښې حذف د خبر واجب دے، د ځه د وجوب د قرينه او د سد مسد نه۔ هغه چه د وجود د قرينه، هغه واو په معنی د مع سره دے، ځکه چه دا دلالت کوي په معنی د مقارنت باندې او چه سد مسد، هغه اقامت د معطوف دے په ځائے د خبر باندې۔ سوال۔ ضيعته به يا عطف ولے په مبتدا باندې او يا به يے عطف واے په هغه ضمير باندې چه کوم په خبر کښې دے که عطف يے واے په مبتدا باندې نو ضيعته مقدم شو نو قائما پس مه د متعلقاتو د مبتدا نه او ګرځيدو او اقامت د مبتدا په ځائے د خبر باندې نه شي راتلے او که چرے عطف يے واے په ضمير د خبر باندې، نو دا ځکه نه صحيح کيږي چه عطف په ضمير مرفوع متصل باندې هله صحيح کيږي چه تاکيد يې اوشي په ضمير منفصل سره او دلته خو تاکيد نه دے راغلے۔ جواب۔ دا عطف دے په مبتدا باندې او که ته ووايې چه تقدم د ضيعته راغلے رتبتاً، نو جواب دا دے، دلته اګر که تقدم رتبتاً راغلے دے لېکن ذکراً موخر دے۔ پس اقامت د ده په ځائے د خبر باندې صحيح شو او يا دا عطف دے په ضمير د خبر باندې او که ته وايې چه دلته کښې تاکيد د ضمير مرفوع متصل په منفصل سره نه دے راغلے، نو جواب دا دے چه دلته تاکيد راغلے په ضمير منفصل سره اصل عبارت دا دے چه كل رجل مقرون هو وضيعته۔ بيا موکد حذف شوے دے، نو ورسره تاکيد هو حذف شو۔

سوال۔ دا ضمير په ضيعته کښې يا به يے راجع واے کل ته چه مضاف دے او يا به يے راجع واے رجل ته چه مضاف اليه دے که راجع يے واے کل ته، نو فساد په معنی کښې راځي چه هر سړے د هر سړي په کار پورے مقرون دے او که راجع کړے يې رجل ته، نو دا خو مضاف اليه دے او مقصود بالغرض په مضاف او مضاف اليه کښې مضاف وي، نه مضاف اليه۔ جواب۔ دلته دا ضمير راجع دے مضاف ته چه كل دے او په معنی کښې اګر چه په

ظاهره فساد راغلے دے لیکن په حقیقت کښې په کښې فساد نشته، یعنې هر یو سره به خپل هغه کار لوبے سره پیوست او مقرون دے۔

لعمرك لافعلن كذا داخلو هم ځائے دے، د هغه مواضعو نه چې په کښې حذف د خبر واجب وي، د وجه د وجود د قرینې او د سد مسد نه۔ هغه چې دے، وجود د قرینې هغه وجود د قسم دے او هغه چې دے سد مسد هغه اقامت د جواب د قسم دے په ځائے د خبر باندې، مراد په دې ترکیب سره هغه ترکیب دے، چې مبتدا مقسم به وي او جواب د قسم په ځائے د خبر راغلے وي، نو اصل عبارت داسې دے، 'لعمرك قسمي لافعلن كذا'، نو 'لافعلن كذا' داجواب د قسم دے او راغلے دے په ځائے د خبر باندې۔ دلته کښې د عمر نه مراد ژوندے او د عمر داعادت وو، چې په عمر باندې به ئې قسم کولو۔ (مقابل د زید او عمرو نه دے)۔

درس نمبر ۱۲۱

خبر انّ واخواتها بعض د جنس مرفوع یا د مرفوعاتو نه هغه خبر د انّ او د هغې د اشباهو د امثالو دے، چې انّ کانّ لکنّ لیت اولعلّ دي، چې دې ته حروف مشبه بالفعل وائي۔ اصل عبارت داسې دے، چې منه یا منها خبر انّ واخواتها۔ **سوال**۔ اخوات خو په ذوي العقل کښې راځي او انّ یا انّ وغیره خو ذوي العقول نه دي، نو دوئ ته څنګه نسبت د اخوت شوے دے؟ **جواب**۔ دلته مراد د اخواتو نه اشباه او امثال دي۔ **سوال**۔ بیا ولې چې خبر انّ ولمثالها ئې نه دي لیکلے، یا خبر انّ واشباهها ئې ولې نه دے؟ **جواب**۔ چې څنګه په اخواتو کښې مشابهت وي، نو هغه رنګ د دې حروفو په مابین کښې هم مشابهت دے، په عمل کښې په دې وجه وسبا نه اطلاق د اخواتو اوشو۔

هوالمسند بعد دخول هذه الحروف دا خبر به مسند وي شي کتوته۔ پس د دخول د لیوه دوے حروفو نه، مراد په دخول سره ایراد د دوئ دے د پاره د ایراث د اثر د دوئ په اسم او په خبر کښې۔ برابره خبره ده، چې اثر لفظاً وي، که تقدیراً که محلاً وي۔ په خبر د حروف مشبه بالفعل کښې دوه مذهبه دي، اول مذهب د کوفیانو دے او بل مذهب د جمهورو مخالفو کوفیانو والو، چې عامل د خبر د حروف مشبه بالفعل هغه معنوي دے، حروف مشبه بالفعل عمل صرف په اسم خپل کښې کړے دے او په خبر کښې نه شي کولے، ځکه چې دا حروف دي او عمل د حرف ضعیف دے۔ دوئ صرف په یو شي کښې عمل کولے شي او په دوه کښې نه شي کولے او جمهورو نحاة وائي دوئ په اسم او په خبر خپل دواړو کښې عمل کولے شي او کوي ئې، ځکه چې د دوئ مشابهت د فعل سره لفظاً او معناً دواړه دے او فعل خو عامل قوي دے، نو دوئ هم قوي عامل اوګرځیدل، لفظاً مشابهت ئې د فعل سره دے، چې څنګه په فعل کښې ثلاثیه او رباعیه دے۔ دوئ هم ثلاثي او رباعي دي او هم څنګه په فعل کښې ادغام کېږي او د سره الحاق د کاف خطابي او د لنون وقایه کېږي، نو دغه شان په دوئ کښې هم ادغام شوے دے۔

ورسره الحاق د کاف خطابي او د نون وقایه کیږي او صحیح دے، معنا مشابهت، لوهغه داده چه د إنَّ او أنَّ معنیٰ تحقق او حقیقت - دغه شان د کأنَّ معنیٰ تشبیه او تشبیه او د لیت معنیٰ ده التمنی وغیره - زده کړه دا خبره چه د فعل د پاره دوه عمله دي، یو عمل اصلي دے او دویم عمل فرعي دے - عمل اصلي داده چه مرفوع به متکبه وي او منصوب به وروسته وي ـــ عمل فرعي داده چه منصوب به مخکښې وي او مرفوع به وروسته وي، لو چونکه دا حروف مشبه بالفعل دے نو فرع دي د فعل لو دي لره هم عمل فرعي ورکړے شو - سوال - ستا تعریف جامع او نه کړو جډ د خپلو افرادو او مانع خارج شو ځکه چه نه یقوم دے ترکیب کښې چه ان زید القوم ابوه، په دے شان دی، چه یقوم مسند دے او خبره د انّ نه دے خبره د ان صرف یقوم نه دے بلکه دا قول یقوم ابوه دے، دویم سوال دا دے چه کله په ان یا ان مخې باندې ماکان داخل شي نو مخکښې خبر لره منع ته ورکوي اسره ده چه هغه مسند د دوي وي ـــ دریم سوال دا دے چه انّ یا أنَّ چه مخفف او کړے شي د مثقل نه نو هغه منسوخ کول جائز دي - جواب. مراد په مسند سره هغه اسماء دي چه هغه مسند وي، دوي نه، خو دا جواب ضعیف دے ځکه چه لا زمیږي استعمال د یه قول چه بعد هذه الحروف دے ـــ دویم جواب دا دے چه مراد په مسند سره اسم مسند دے، ولے دا جواب هم ضعیف دے ځکه چه په مضمونیت کله چه خبر جمله واقع شو، لو بیا احتیاج دے هغې طرف د تاویل ته د اسم او خبر نو کله جمله راځي او کله مفرد - پس اولیٰ په جواب کښې دا دے، چه مراد په دخول سره ایراد د دوي دے، د پاره د اثبات د اثر د دوي په اسم کښې او خبر کښې - برابره خبره ده چه لفظاً وي که تقدیراً وي، که محلاً وي او مثلاً کښې په ان زیداً یقوم ابوه کښې، اثبات د اثر لفظي دے محلاً او په دے نوعه دوه صورتونو کښې دوي اثر نه دے کړے، په دے مخه هغه د دوي خبر نه دي - سوال هو المسند بعد دخول هذه الحروف د دے نه دا معلومیږي چه یا اول حروف مشبه بالفعل به داخلیږي په جمله باندې لو بیا به بیا اسم کرځي او بل به بیا خبر شي، حالانکه اجتماع د دے تولو حروف مشبه بالفعل خو په جمله باندې محال ده - جواب دا دے چه ملا جامي کښې عبارت کښې تقدیر دے، هغه دا چه، اصل عبارت داسې دے "هو المسند بعد دخول احد هذه الحروف"۔

| مثل ان زیداً قائمٌ | ملا جامي کښې ان حرف دے، د حروف مشبه بالفعل نه، زیداً یې اسم دے او منصوب دے او قائمٌ یې خبر دے، چه مرفوع دے، لکه یو شاعر په دے قطعه

کښې حروف مشبه بالفعل راجمع کړي دي (مرتب)

انَّ بانَّ کانَّ لیت لکنَّ لعلَّ ناصب اسم اند ورافع در خبر ضد ما ولا

سوال - قائم خو مخکښې د داخلو د ان نه خبر وه او مسند وه، لو ته خو دا ګڼې چه هو المسند بعد دخول هذه الحروف، داخو نه شو، ځکه اسناد د مسند او اسناد د مسند باطل دے - جواب - د ملا جامي د اسناد نه مراد اسناد جدیده دے۔

| وامره کامر خبر المبتدأ | لو حکم او شان د خبر د انّ او اخواتو د دوي په شان د حکم د خبر

نمبتدا ده دے لپه اقسامو به احکامو او په شرائطو کښے. په اقسامو کښے داسے چه څنګه خبرد مبتدا مفرد او جمله واقع کیږی نو د شان خبر د حروف مشبه بالفعل هم مفرد او جمله واقع کیږی یا نکره او معرفه راځی، دغه شان خبر د دے حروفو هم معرفه او نکره راځی او په احکامو کښے داسے چه څنګه خبرد مبتدا موحد یا متعدد راځی یا مذکر او مؤنث یا مذکور او محذوف وی، دغه شان خبر د دے حروفو هم. راځی او په شرائطو کښے داشان چه خبر د مبتدا کله جمله وی، نو لابدی وی په کښ د عائد نه، دغه شان په خبر د دے کښے هم.

درس نمبر ۱۲۲ :-

دلته کښے افراد او جمله یا التعریف او تنکیره اقسامو د خبرونه او حکمونه چه په دے سره مستقل نوع حاصلیږی او په واحد والی یا تثنیت او جمعیت دغه سره مستقل نوعه نه حاصلیږی نو داځکه په دے وجه د اقسامو د خبرنه اوګرځول. **سوال**. ته خو وائے چه امره کامر خبر المبتدا، نو د خبر د مبتدا مخو بعض دا احکام هم وی، چه تقدیم د خبر په مبتدا باندے واجب دے، لکه "این زید" این خبر مقدم دے، او زید مبتدا مؤخر دے. اوس که په دے باندے ان داخل شی او تقدیم د خبر په دے کښے راشی، نو داخو نه دے صحیح. **جواب**. امر د خبر د ان په شان د خبر د مبتدا دے، ولے په وخت د عدم د مانع کښے او دلته کښے مانع موجود دے، هغه دا چه ان د پاره د تحقیق او د یقین راځی او این د پاره د استفهام راځی، چه هغه مفید د شک دے، نو په دغه صورت کښے اجتماع د نقیضینو راځی او دویم جواب دا دے، چه امر د خبر د ان په شان د خبر د مبتدا دے. پس د تقرر د هغه نه چه دا خبر د ان دے نو دلته این د ان خبر نه دے.

الا فی تقدیمه خو امر د خبر د ان په شان د خبر د مبتدا نه دے، په تقدیم د خبر د ان کښے په اسم باندے، ځکه چه په دغه صورت کښے باطلیږی، عمل فرعی د دے حروفو، په دغه وخت کښے به مرفوع مقدم شی او منصوب به مؤخر شی، داخو عمل اصلی د فعل دے او د دے حروفو نو لره خو عمل فرعی ورکړے دے.

الا اذا کان ظرفاً یعنی لا یجوز تقدیمه فی جمیع الاحوال الا اذا کان ظرفاً تعلیق نه دے، تقدیم د خبر د ان په اسم د ان باندے، مګر په هغه وخت کښے چه دا خبر ظرف وی، نو په هغه وخت کښے تقدیم د خبر د ان په اسم باندے جائز دے، ځکه چه بنا د ظروفو په توسع باندے ده، جائز دی په دے کښے هغه چه جائز نه دی، په غیر کښے او یا مثال د ظروفو په شان د محارم دے.

سوال. دلته مستثنیٰ منه واحد دے او مستثنیٰ دوه راغلی دی، بغیر د حرف عاطفه نه او دا نا جائز دے. **جواب**. د الا اذا کان ظرفاً د پاره مستثنیٰ منه هغه مقدر دے. اصل عبارت به داسے شی، چه "لا یجوز تقدیمه فی جمیع الاحوال الا اذا کان ظرفاً". اوس که چرته اسم د ان معرفه وی او خبر ظرف وی، نو تقدیم د خبر په اسم د ان باندے جائز دے، لکه "ان الینا ایابهم"، نو دلته کښے ایابهم دا اسم د ان

دے اگر معرفه وه او الینا ظرف دے او خبر دے، نو دلته کښے تقدیم جائز دے او که چرته اسم د اِنّ نکره وے او خبر ظرف وی، نو تقدیم د خبر په اسم باندے واجب دے، لکه "ان من الشعر لحکمة" و "ان من البیان لسحرا"۔ دلته لحکمة او لسحرا دا اسماء د اِنّ دی او معرفے نه دی، بلکه نکرے دی او من الشعر او من البیان دا خبرونه دی د اِنّ او ظروف دی۔ په هر یو تعریف کښے لا بدی وی د جنس د فصل نو په تعریف د خبر د اِنّ واخواتها کښے هو المسند دا په منزله د جنس دے، تمام مسندات په کښے داخل دی، خو مراد په مسند سره مسند بالذات دے، چه توابع پرے نه خارج شی او بعد دخول هذه الحروف دا په منزله د فصل دے، خارج شو پرے نور مسندات سوا د خبر د اِنّ وغیره نه۔

درس نمبر ۱۲۳

خبر لا التی لنفی الجنس

بعض د مرفوع الوّ نه یا بعض د جنس مرفوع نه، هغه خبر د لا دے، چه استعمالوی هغے لره عرب په خپلو محاوراتو کښے، چه هغه کائن دے، د پاره د نفی د صفت د جنس، نفی د صفت د جنس عام دے، که بالذات وی او که په واسطے سره وی، چه مستلزم وی، نفی د صفت د جنس لره۔ **سوال۔** خبر د لا لنفی الجنس ولے مرفوع او گرځیدو؟ **جواب۔** یا خو د لا مشابهت راغلے دے، د فعل منفی سره، لکه چه څنګه فعل منفی په نفی دلالت کوی، نو دا شان دے هم دلالت کوی په نفی باندے، نو مرفوع او گرځیدو، د پاره د فعل، نو د له نه خالق عمل فرعی ورکوو، د فعل او یا دا چه، د د مشابهت راغلے دے د اِنّ سره لفظاً او معناً هم۔ لفظاً دا دے چه د لا اول حرف مفتوح دے، نو د اِنّ هم اول حرف مفتوح دے او معنوی مشابهت دا دے، چه اِنّ راځی د پاره د تاکید د اثبات او لا راځی د پاره د تاکید د نفی، نو دا لا حمل کړے شو په اِنّ باندے د وجه د علاقے د تضاد او د وجه د حمل د نقیض نه په بل نقیض باندے او علاقه د تضاد هم لږ نسبت دے، پس لا له هم عمل د اِنّ ورکړے شو، د التی د پاره به صله دا راشی، چه "استعملوها العرب فی المحاورات"۔ لا لنفی الجنس به متعلق شی، په کائن پورے۔ **سوال۔** "لا رجل قائم" کښے خو نفی د جنس نه ده راغلے، بلکه نفی د صفت د قیام راغلے ده او ته خو وائے چه دا راځی، د پاره د نفی د جنس۔ **جواب۔** دلته په عبارت کښے حذف دے، اصل عبارت دا دے، چه "لا التی لنفی الجنس"۔ **سوال۔** په لا رجل موجود کښے خو نفی د صفت نه ده راغلے، بلکه د عین جنس راغلے ده۔ **جواب۔** نفی د صفت د جنس عام دے، چه بالذات وی که بالواسطه وی (چه مستلزم وی، نفی د صفت د جنس لره)۔ دلته کښے اگر چه نفی بالذات د صفت خو نه ده راغلے، ولے بالواسطه راغلے ده۔

وهو المسند بعد دخولها

او دا خبر د لا التی لنفی الجنس د دے اسناد به راغلے وی، شی آخر ته، پس د دخول د دے نه او مراد په دخول سره ایراد د دے ...

پر اسم آؤ په خبر باندِ د پاره د ایراث د اثر د مهٔ په اسم آؤ په خبر کښې۔ هو المسند په منزله د جنس دے اؤ داخل شو په کښې تمام مسندات اؤ بعد دخولها دا فصل دے، په دے سره تمام مسندات بیرته نه خارج شو سوا د خبر د لانه اؤ مراد په مسند سره مسند بالذات دے، د پاره د دے چې خارج شی بیرته نه لو ایلج۔ دلته کښې سوال پیدا کیږی، چې ستا دا التعریف جامع نه شو، ځکه افراد ولړه اؤ خارج شو بیرته نه یقوم په دے ترکیب چې لا رجل یقوم ابوهٔ، ځکه چې دلته کښې د یقوم اسناد را غلی دے اؤ خبر نه دے، بلکه خبر خو دلته کښې یقوم ابوهٔ ټول دے، جواب دا دے، چې دلته کښې مراد په مسند سره اِسم مسند دے اؤ یقوم خو فعل دے، وَلِي دا جواب ضعیف دے اؤ بل جواب دا دے، چې مراد په دخول سره ایراد د مهٔ دے۔ پر اسم اؤ په خبر د ده باندِ د پاره د ایراث د اثر د مهٔ پر اسم اؤ په خبر کښې اؤ دلته کښې اثر د مهٔ را غلی دے، په یقوم کښې، بیا سوال وارد یږی، چې خبر د لا خو ممکن د را نه وړ لانه هو مسند وی، نو دلته کښې خو لازمیږی اسناد د مسند اؤ دا باطل دے۔ جواب دا دے، چې دلته کښې مراد د اسناد نه اسنادِ جدیده دے۔

درس نمبر ۱۲۴

مثل لا غلامَ رجلٍ ظریفٌ فیها دلته کښې لا د پاره د نفی د جنس دے لا غلامَ مضاف رجلٍ مضاف الیه۔ مضاف سره د مضاف الیه ملا اسم د لا شو۔ ظریفٌ دا اول خبر شو اؤ فیها دویم خبر یعنی خبر بعد خبر دے۔ **سوال**۔ فیها را وړلو ته څه ضرورت وو؟ مثال خو به لا غلامَ رجلٍ ظریفٌ باندِ هم پوره کیدو۔ **جواب**۔ فیها ئې د دے وجه نه را وړلو چې لازم نه شی کذب په نفی د ظرافت کښې د جنس غلام د رجل نه اؤ تعمیم جواب دا دے چې فیها کښې اشاره ده خبر هم ته چې خبر د لا ځکه غیر ظرف را ځی، لو دغه شان ظرف هم را ځی۔ مثال د هغه چې خبر غیر ظرف وی لکه لا رجل قائمٌ اؤ مثال د هغه چې خبر ظرف وی لکه لا رجل فی الدار۔ **سوال**۔ مصنف وَلِي عدول اوکړو؟ د مثال مشهور نه، چې لا رجل فی الدار دے۔ **جواب**۔ مصنف عدول اوکړو د مثال مشهور نه، ځکه چې په مثال مشهور کښې توهم د خبر اؤ د نعت اؤ د صفت سره، ځکه چې دا پته نه لګیږی چې فی الدار صفت دے، د اسم د لا چې رجل دے اؤ که خبر د لا دے، ځکه چې اعراب د فی الدار خو محلی دے، نو توهم د التباس وو د خبر د صفت سره۔ **سوال**۔ لا رجل ظریف فیها به ئې ویلی وو، غلام را وړلو ته ضرورت نه وو۔ **جواب**۔ په دے کښې هم توهم د التباس د خبر وو د صفت سره، ځکه به ویل چې ظریفٌ صفت دے، د پاره د رجل اؤ اعرابیه ظریف به اعراب د محل د رجل وی چې هغه رفع ده، نو غلام ئې مونږ ذکر کړو، چې ظریفٌ دا خبر دے اؤ صفت د رجل نه دے اؤ دلته دا فیها خبر بعد خبر دے اؤ صفت یا متعلق د ظریفٌ د پاره نه دے، ځکه چې که چیرته متعلق شی په ظریفٌ پورے، نو لازمیږی تقید د ظریف په دار اؤ عدم وړلو که لو د دا باطل دے۔

ویُحذفُ کثیراً اؤ خبر د لا د نفی جنس هغه حذف کیږی په حذف کثیره سره، خو په هغه وخت

کیږي چې کله خبر د افعالِ عامه نه وي اَو که چیرته د افعالِ خاصه نه وي، نو بیا بغیر د قرینې نه حذف د هغې باطل دے. لا د نفي جنس دلالت کوي په نفي اَو نفي تقاضا د اثبات کوي، نو چې چرته د مدعیٰ خبر منفي، نو معلومه شوه چې خبر د دغې محذوف دے، لکه لا اِلٰهَ اِلّا اللّٰهُ کښې. مثلاً کښې اصل عبارت داسې لا اِلٰهَ موجودٌ لکه اِلّا اللّٰه استثنا لفظ دَ ضمیر دَ موجودٌ نه. اَوس دلته کښې د جمهورو مذهب دا دے چې لا اِلٰهَ اِلّا اللّٰهُ په اصل کښې لا اِلٰهَ موجودٌ اِلّا اللّٰهُ دے اَو په نزد د سکاکي باندې اصل دا وو اَللّٰهُ اِلٰهٌ. پس دا هغه نه المعتدم کړې شو په اَللّٰه باندې ځکه چې تقدیم د ملحقه التاخیر فائده کوي حصر اَو اختصاص لره، بیا وروسته باندې ادولت د حصر لحاظ شو نو لا اِله اِلّا اللّٰهُ ترې جوړ شو.

وبنو تمیم لا یثبتونه

لکه بنو تمیم خبر د لا نه ثابتوي. د دے دوه معنې دي، یوه معنیٰ دا ده چې بنو تمیم خبر د لا خو مني ولے ثابتوي نه، یعنی حذف کوي یې حذف وجوبي سره. نو په دے معنیٰ باندې **سوال** وارد یږي چې حذف د خبر د لا خو وجوبي نه دے، بلکه هغه چې کالو نو کښې ذکر دے، لکه لا رجلٌ قائمٌ. خو بنی تمیم د دے نه **جواب** کوي، چې دلته خبر د لا موجودٌ دے اَو قائم صفت د رجل دے. دوئمه معنیٰ دا ده چې بنو تمیم د سره خبر د لا مني نه، نو په دے باندې **سوال** راځي چې هر کله خبر د لا نشته، نو دا خو به مفید یا شي لکه استعمال د مفرداتو په کلام د عرب کښې مخدوش دے اَو بل دا چې لا اِله اِلّا اللّٰه به جمله تامه نه شي، نو دا به مفیده په باره د واحدنیت اَو نه کوي، خو بنی تمیم د دے نه **جواب** کوي، چغوي وائي چې لا دا اسم فعل دے، اَو موجود د دے نه فاعل راغلي دے، نو دا جمله تامه شوه اَو مفید د فائدے شوه، لیکن د دے نه جواب دا دے چې اسم فعل به هم حال اِسم وي اَو لا خو حرف دے.

درس نمبر ۱۲۵

اِسم ما ولا المشبهتین بلیس

بل قسم د مرفوعاتو نه هغه اِسم د ما اَو لا دے، هغه ما اَو لا چې مشابهه وي په عمل کښې د لیس سره په نفي کښې اَو په دخول د دوئ کښې په اسم باندې. دلته کښې هم منسقدر دے، یعني بعض د جنس مرفوع نه، هغه اِسم د ما اَو لا دے. نو دغه کښې دا خبره چې دلته کښې اختلاف دے په مابین د بنو تمیم اَو د حجازیینو کښې. بنو تمیم وائي چې ما اَو لا عمل نه کوي، د دوئ د پاره یو دلیل نقلي دے اَو بل دلیل عقلي دے اَو د حجازیینو د پاره هم دوه دلیله دي، یو دلیل نقلي دے اَو بل دلیل عقلي دے چې هغوی وائي چې ما اَو لا عمل کوي. د بنو تمیم دلیل نقلي دا دے، یو شاعر وائي چې:-

ومهفهف كالغصن قلت له انتسب — فاجاب ما قتل المحب حرامُ

مثله محه د استدلال په دے طریقه سره دے چې ما قتل المحبُ حرامٌ یې ویلي دي، که چرته ما عمل کړے وے، نو بیا به قتل المحبِ مضاف، مضاف الیه اسم د ما اَو حراماً به خبر وو، ځکه دلته د حراماً په ځائے باندې حرامٌ شاعر ویلي دي، نو معلومه شوه چې ما عمل نه کوي. د شعر معنیٰ دا ده چې ونیکله یو معشوقه چې هغه نازک

په شان د شاعر ما هغه ته او ویل چې خپل نسب بیان کړه، نو هغه ماته په جواب کښې او ویل چې قتل د عاشق حرام نه دے، چې محبوب خپل عاشق لره قتلوی، نو دا حرام نه دی ۔ په دے شعر کښې یو سوآل صریحی دے او نعیم لا ضمنی دے، د غه شان یو جواب صریحی دے او متیم جواب ضمنی دے ۔ سوآل صریحی دا دے چې عاشق ته محبوب ته والله چې ماته خپل نسب بیان کړه او سوآل ضمنی دا دے چې که چرته تا ماته خپل نسب بیان نه کړو نو زه به مړ شم ۔ جواب صریحی دا دے چې 'ماقتل المحب حرام' ۔ او جواب ضمنی دا دے چې زما تعلق او نسبت د قبیلې د بنی تمیم سره دے ۔ دلته کښې د سوال صریحی جواب ضمنی راغلے دے او د سوال ضمنی جواب صریحی راغلے دے د بنی تمیم دلیل عقلی دا دے، چې ما او لا حروف دی او دوئ به هله عمل کوی، چې اختصاص د دوئ یو نوع سره راشی او د دوئ اختصاص د یو نوع سره نشته دے، په دے وجه دوئ عمل نه کوی ۔ د حجازیین دلیل نقلی دا دے، چې په قرآن پاک کښې راغلی دی 'ماهذا بشراً او ما هن امهاتهم' ۔ دا دے په دے دواړو آیتونو کښې ما عمل کړے دے ۔ بشراً او امهاتهم منصوب دی، چې د اخبر واقع شوی دی، د پاره د ما امهاتهم دا جمع مؤنث ده او دا په حالت د نصب کښې تابع ده، د حالت جری او دلیل عقلی د حجازیینو دا دے، چې د دوئ مشابهت راغلے دے، د لیس سره، چې لیس فعل دے او د نفی د پاره راځی، دغه شان ما هم د پاره د نفی راځی، په دے وجه باندې یعنی د مشابهت د وجه نه دوئ عمل کوی خو په دے دلیل باندې **سوال** وارد یږی، چې حروف مشبه بالفعل هم د وجه د مشابهت د فعل سره عمل کوی، نو هغوئ له عمل فرعی ورکړے شو، او دلته دوئ ته عمل اصلی ورکړے شو، دا ولے؟ **جواب** دا دے چې د حروف مشبه بالفعل مشابهت د فعل سره قوی دے، یعنی لفظاً او معناً دواړه دی او فعل خو عامل قوی دے، په مرتب او غیر مرتب دواړو کښې عمل کوی، نو دوئ هم د مشابهت د وجه نه په غیر مرتب کښې عمل کوی، ځکه چې د دوئ مشابهت د فعل سره قوی دے او کوما او لا مشابهت صرف د یو فعل سره دے ۔ هغه فعل هم ضعیف دے، ځکه چې هغه فعل لیس دے، د هغه نه گردان د ماضی مضارع اسم فاعل او اسم مفعول نه کیږی، او دا مشابهت هم ضعیف دے ۔ ځکه چې معنوی مشابهت نشته دے، چې لیس هم د نفی د پاره راځی او ما او لا هم، لیکن لفظی مشابهت نشته دے، د دے وجه نه دوئ له عمل اصلی ورکړے شو، چې دوئ به مرتب کښې عمل کوے شی او په غیر مرتب کښې نه شی کولے او حجازیین بنو تمیم ته جواب ورکوی، چې ستاسو دلیل نقلی نه دے صحیح، ځکه چې دا شعر خو ستاسو د بنی تمیم د شاعر دے، نو دا نه دا، مګر مصادره علی المطلوب او مونږ خو تاسو ته دلیل د قرآن پاک نه پیش کړے دے، هغه هم خبره قرأت شاذه نه دے، بلکه قرأت متواتره دے او حجازیین د بنی تمیم د دلیل عقلی نه جواب ورکوی، چې اختصاص د دوئ په یو نوع پورې راغلے دے، چې هغه اسم دے، نو لیس هم عمل کوی او که تاسو وایئ چې دا خو په فعل هم داخلیږی، لکه په فعل مضارع یجنی، نو جواب دا دے، چې کوم ما او لا په مضارع یا په فعل داخلیږی، هغه مشابه د لیس سره نه دی ۔

درس نمبر ۱۲۶

وهو المسند اليه بعد دخولهما اَوْ دا اِسم د مَا اَوْ لَا المشبهتين بليس، دا هغه اسم دے چه اسناد ورته شوے وی بعد د دخول د دے دوو نه. نو دا داخلیږی د مسند اليه په ډول، يعنی په ماننده د جنس شو، دا اختلاف شو په کوم تمام مسند اليه اَو مراد په مسند اليه سره مسند اليه بالذات دے اَو په بعد دخولهما سره پوره نه خارج شو تمام مسند اليه، سیوا د مسند اليه د مَا اَوْ د لَا نه۔

سوال۔ مَا اَوْ لَا خو چه په کومه جمله باندے داخليږی، نو په هغه کښے خو د مخکښے نه مسند اليه موجود وی، کم په مبتدا اسناد د مسند اليه اَو دا باطل دے۔ **جواب**۔ مراد دلته په اسناد سره اسناد جديد دے۔

مثل ما زيد قائماً ولا رجل افضل منك دلته دا مَا مشبه بليس دے، اِسم مرفوع خبر منصوب غواړی۔ زيد يے اِسم دے اَو قائماً يے خبر دے، همدغه شان لَا مشبه بليس رَجُلٌ يے اِسم اَو افضل منك دا يے خبر شو۔ دلته د لَا د پاره اِسم نکره راغلی ده، حکمه چه لَا عمل نه کوی، مگر په نکره کښے، حکمه چه مشابهت د لَا د ليس سره ضعيف دے اَو ليس راځی د پاره د نفی حالی اَو لَا راځی د پاره د نفی مطلق اَو د مَا د پاره اِسم معرفه راغلی دے، حکمه چه دا عمل په معرفه اَو نکره دواړو کښے کوی، د دے مشابهت د ليس سره قوی دے، حکمه چه ليس راځی د پاره د نفی حالی اَو مَا هم راځی د پاره د نفی حالی۔

وهو فى لا شاذ اَو عمل د ليس په لَا کښے شاذ اَو قليل دے، حکمه چه مونږ مخکښے اُووئيل چه ليس راځی د پاره د نفی حالی، نو دے په معرفه اَو نکره دواړو کښے عمل کوی اَو لَا صرف نکره کښے عمل کوی اَو په معرفه کښے نه کوی، لکه په دے شعر کښے چه:-

چه ليس راځی د پاره د نفی حالی، نو دے په معرفه اَو نکره دواړو کښے عمل کوی اَو لَا صرف نکره کښے عمل کوی اَو په معرفه کښے نه کوی، لکه په دے شعر کښے چه:-

شعر: من صد عن نيرانها   فانا ابن قيس لا براح[1]

ترجمه:- که څوک اعراض کوی، د اور د حرب نه نو زه ځوی د قيس يم ما لره تحال نشته۔

(وهو فى لا شاذ) يعنی عمل د ليس په لَا کښے شاذ دے، د دے نه معلومه شوه چه داسے راځی چه ليس په لَا کښے عمل کوی خو قليل، حالانکه نيشته خو په لَا کښے عمل نه کوی۔ **جواب**۔ اصل معنیٰ دا ده چه الحاق د لَا په ليس کښے په عمل کښے قليل دے، يا دويم جواب دا دے چه هو ضمير راجع دے مشابهت ته، يعنی مشابهت د لَا د ليس سره قليل دے۔ (اَوْ فى په معنیٰ د مع سره شی)۔ پس معنیٰ د عبارت به داسے شی چه ما الشبيه د ليس سره د لَا نه شاذ دے۔

---

[1] لا براح ای لا براح لی ولا يجوز ان تكون لنفی الجنس لانه اذا كانت لنفی الجنس لا يجوز فيما بعدها الرفع مالو يتكرر (شرح جامی بل ...)

اَلْمَنْصُوْبَاتُ

درس نمبر ۱۲۷: سوال: کله چه مصنف فارغ شو د بیان د مرفوعاتو نه، نو شروع ئې اوکړه په بیان د منصوباتو کښې. **سوال:** مصنف ولې مقدم کړو بحث د منصوباتو په مجروراتو باندې. **جواب:** منصوبات کثیر دي په نسبت سره مجروراتو ته، "والعزة للتکاثر" او یا دا چه منصوبات مشتمل دي په نصب باندې او مجرورات مشتمل دي په جر باندې او نصب خفیف دے، په نسبت سره جر ته، نو د وجه د خفت نه ئې منصوبات مقدم کړل او یا دا چه منصوبات قریب دي مرفوعاتو ته، ځکه چه اول فعل وي بیا فاعل او بیا مفعول راځي، نو یا د وجه د کثرت یا د خفت او یا د قربت نه ئې مقدم کړل. ددٰه کلام ماخبر چه دلته درې بحثونه دي، اول بحث په اعراب د المنصوبات کښې دے ——— دوئم بحث په الف لام کښې ——— دریم بحث په صیغه د المنصوبات کښې دے ——— پس اول بحث په اعراب د المنصوبات کښې دے، نو دا بحث یا معرب وائي یا مبني، که څوک مبني وائي، نو لیکار دا ده چه دے به مبني اوګرځي په سکون سره، ځکه چه اصل په بناء کښې سکون دے او دا مبني په دے وجه وائي چه په ده باندې عامل نه دے راغلے او که څوک معرب ئې وائي، نو رفع په کښې هم جائز ده په دے شان سره چه دا مبتدا اوګرځي او خبر ئې محذوف شي، تقدیر به داسې شي "المنصوبات هذه" او یا دا خبر دے او مبتدا ئې محذوفه ده، تقدیر به داسې شي "هذه المنصوبات" او نصب ئې هم جائز دے، چه دا به مفعول واقع شي، تقدیر به داسې شي "لما فرغنا من المرفوعات فلنشرع المنصوبات"، او دلته نصب تقدیري دے، ځکه جمع په الف او په تاء سره په حالت نصبي کښې تابع د حالت جري وي او یا دا چه دلته جر هم صحیح دے، تقدیر به داسې شي چه "بحث المنصوبات هذا" نو دلته مضاف او خبر هم حذف شوي دي. یا دا چه "هذا بحث المنصوبات"، چه دلته کښې مبتداء او مضاف د المنصوبات حذف دي. دوئم بحث په الف لام د المنصوباتُ

(ملتقط [illegible]) ... ولا تکرار في البيت کما قال عبد الرحمن جامي - (م-سلا) -

کښې مے، نو دا الف لام حرفي دی، اِسمي نه دی۔ **سوال**۔ الف لام چه کله داخل شي په اِسم فاعل یا اِسم مفعول باندې نو دا په معنیٰ دَ "الذی یا التی" موصول سره وي او موصول قسم دے دَ اِسم نه، نو بیا دا ده چه دا الف لام اِسمي او کرځي، چه دا داخل شي په مفعول باندې، چه منصوبات دے۔ **جواب**۔ الف لام په معنیٰ دَ الذی یا التی سره هله وي چه اِسم فاعل یا اِسم مفعول په معنیٰ دَ حال یا استقبال سره وي او مُخْبِر داچه غلبه دَ اسمیت نه وي راغلے، په وصفیت باندې او دلته دا دواړه شرطونه مفقود دی، ځکه چه دلته اِسم مفعول نه په معنیٰ دَ حال سره او نه په معنیٰ دَ استقبال دے او غلبه دَ اسمیت هم په وصفیت راغلې ده، ځکه چه منصوبات اوس دَ یو خاص نوع نوم دے۔ پس دا الف لام اِسمي نه شو بلکه دا حرفي دی او الف لام حرفي خو په څلور قسمه دی، جنسي، استغراقي، عهد خارجي او عهد ذهني، نو دلته الف لام عهدي هم صحیح کیږي او معهود په دے سره هغه منصوب دے چه دَ مخکښې ویلې دی "والنوع رفع ونصب وجرٌّ" او یا داچه دلته که الف لام جنسي دی۔ **سوال**۔ الف لام جنسي خو په جنس داخلیږي او په جنس کښې مفرد او جمع توله برابره دهٔ وله جمع راوړه؟ **جواب**۔ چه کله الف لام جنسي داخل شي په جمع باندې نو باطلوي جمعیة او مُراد ترې هغه سره جنس وي، دلته یې جمع په دے وجه راوړه چه اشاره راشي کثرت دَ انواعُ منصوباتو ته۔ دَ دَیم بحث په صیغه دَ منصوبات کښې دے۔ **سوال**۔ منصوبات به یا جمع دَ منصوبة وي یا دَ منصوبٌ، که جمع یې دَ منصوبةٌ وي نو دا خو صحیح دے، ولې دلته دَ منصوباتو دَ پاره موصوف اِسم دے او اِسم خو مذکر دے، نو مطابقت راغلے په مابین دَ موصوف او دَ صفت کښې او که چرے دا جمع دَ منصوبٌ وي، نو منصوب خو مذکر دے او جمع دَ مذکر به الف او تا سره نه راځي او حال دا دے، چه دلته یې جمع په الف او تا سره راغلې ده؟ **جواب**۔ دا جمع دَ منصوبةٌ ده که ته وائې چه مطابقت نه راځي په مابین دَ موصوف او دَ صفت کښې، نو موږ وایو چه دلته موصوف اِسم نه دے، بلکه کلمه ده او کلمه خو مؤنث ده او یا دا جمع دَ منصوبٌ ده او ته وائې چه دَ منصوب جمع خو په الف او په تا سره نه راځي، نو مونږ وایو، دا جمع خلاف القیاس ده او یا داچه منصوب مذکر لا یعقل دے او مذکر لا یعقل مشابه دے، دَ مؤنث سره، نو دَ مؤنث جمع خو په الف او تا سره راځي، نو دَ دے جمع هم په الف او تا سره راغله۔

درس نمبر ۱۲۸

هو ما اشتمل علی علم المفعولیة [۱] دا جنس منصوب چه دلالت کوي په هغه باندې جمع دَ یې دَ دلالت دَ جمع نه په جنس باندې دا ضمیر اِسم دے، نو چه مشتمل وي، دَ قید دَ مشتمل موصوف نه په صفت باندې په علامه دَ کېدلو دَ شي باندې مفعول۔ **سوال**۔ هو ضمیر چه ته راجع دے یا به یې راجع وائې منصوبات ته، نو مطابقت نه راځي په مابین دَ راجع او مرجع کښې او یا به یې راجع کوے منصوب ته، نو لازمیږي "اضمار قبل الذکر"۔ **جواب**۔ هو ضمیر راجع دے منصوب ته او که ته وائې چه اضمار قبل الذکر لازمیږي، نو مونږ وایو

---

[۱]۔ ای علامة کون الاسم مفعولاً حقیقتاً او حکماً وهي اربع الفتحة والکسرة والالف والیاء کما قال الشارح جامی ۱۲۰ (م ـ س)

چې اضمار قبل الذکر نه لازمیږي ځکه چې ما قبیلے ډ دلالت د جمع نه دے په مفرد باندې. **سوال** په دې صورت کښې لازمیږي چې تعریف د فرد او تعریف خو د افرادو نه کیږي، بلکه تعریف د ماهیت کیږي. **جواب**. ما د قبیلے د دلالت د جمع نه دے په جنس باندې او جمع په جنس باندې هم دلالت کوي یا دا چې هو ضمیر راجع دے منصوبات ته او کوم ځای وائے چې مطابقت راشي په مابین د ضمیر او مرجع کښې نو هغه وایو چې ما تلعه ډ چې ضمیر کله ما ته شي په ملحوظ د خبر او د مرجع کښې، نو رعایت د خبر اولی دے، نو هغه دلته رعایت کړے شوے دے په هغه معنی منکر دے. ما عبارت دے د اسم نه په دې سره دا **سوال** دفع شو چې ضرورت نه و کښې دال مشتمل دے په علامے د مفعولیت باندې او نه اسم مفعول نه دے نو هغه. **جواب** او کړو چې ما عبارت دے د اسم نه او دال خو حرف دے. زه کړو ما خبره اشتمال په څلور قسمه دے، اول اشتمال د کل دے په جزو باندې. دویم اشتمال د موصوف دے په صفت باندې. دریم اشتمال د محل دے په حال باندې او څلورم اشتمال د ظرف دے په مظروف باندې. **سوال**. ظاهره متبادره د اشتمال نه اشتمال د کل دے په جزو باندې، نو کله چې دلته مونږ دا معنی واخلو، نو اعراب بالحرکة به ترې نه خارج شي.

جواب. مراد د اشتمال نه اشتمال د موصوف دے په صفت باندې (علم په معنی د علامی باندې دے).

سوال. مصنف دلے وَلے اُونه وئیل چې هو ما اشتمل علی علم المفعول، نو دا به متن سره مناسب وو ځکه چې بناء د متونو په اختصار باندې وي. **جواب**. نصب علامه د ذات د مفعول نه ده، بلکه علامه د وصف د مفعول ده، په دې وجه یې مفعولیة اُوئیے. **سوال**. نو بیا به یې دا سے وئیلي وو چې هو ما اشتمل علی علم النصب.

جواب. په دې صورت کښې لازمیږي دور، ځکه چې دے تعریف د منصوب کوي او منصوب د نصب نه اخوځي دے، په دې وجه باندې دور لازمیږي.

درس نمبر ۱۲۹

فمنه المفعول المطلق | پس یو جزء د جنس ما اشتمل نه مفعول مطلق دے. هر کله چې مصنف فارغ شو د تعریف نه نو شروع یې اوکړه په تفصیل کښې. پس ویئیل چې فمنه المفعول الخ. **سوال**. دا ضمیر به یا راجع کوے حدت او یا به راجع کوے محدود ته، که راجع کوے یې حدة ته نو په دې صورت کښې دوه قبح او دوه حسنونه دي اوکه بیرته محدود ته یې راجع کوے، نو هغه په کښې دوه قبح او دوه حسنونه دي چې محدود ته یې راجع کړو نو دوه قبح دا دي چې مرجع به بعید شي او دویم قبح دا دے چې مرجع به ضمنی اکوري او یو حسن دا دے چې ضمیر به راجع شي ما هو المقصود ته او دویم حسن دا دے، چې انتشار د ضمائرو به نه راځي او چې راجع شي حدة ته، نو یو قبح دا ده چې ضمیر به ما هو المقصود ته راجع نه شي او بله قبح دا ده چې انتشار د ضمائرو راځي او لیو حسن په کښې دا دے چې مرجع به قریب اکوري او دویم حسن دا دے چې مرجع به صریحي شو. پس اجماع د ضمیر دواړو ته صحیح ده او مونږ په معنی کښې ضمیر حدة ته راجع کړے دے یا دلته من رابطه دے او

نه خفي دي نه وي. دا خبره چې د قسم تفصیل په اوائلو د مرفوعاتو کښې ذکر شوے دے او دلته بیا ذکر ز نو په تبل کړي.

مِن ابتدائیه په دوه قسمه ده، یو من ابتدائیه اتصالیه ده او بل من ابتدائیه غیر اتصالیه ده، من ابتدائیه اتصالیه هغه ده چې په مقابله کې یې الیٰ راغلې وي، لکه سِرْتُ مِنَ البصرة الی الکوفة، او من ابتدائیه غیر اتصالیه هغه ده چې په مقابله کې یې الیٰ نه وي راغلې۔ پس دلته دا من ابتدائیه غیر اتصالیه ده، یا دا من تبعیضیه ده۔

سوال. مفعول مطلق یې ولې مقدم کړو په نورو مفاعیلو باندې؟ **جواب.** مفعول مطلق مقید نه دے، په قید کښې د له، د معه یا د فیه سره، نو دے په منزله د مفرد او ګرځېدو او نور مفاعیل په منزله د مرکب شو او مفرد مقدم وي په مرکب باندې او د تقدیم جواب دا دے چې دے اصل دے، په نسبت سره نورو مفاعیلو ته او دا نور مفاعیل فرع دي او اصل مقدم وي په فرع باندې او دویم اصل په دې وجه باندې دے چې دے عام دے، د فعل لازمي او متعدي دواړو نه راځي۔

سوال. مفعول مطلق خو هم مقید دے، په قید د اطلاق سره، نو ته څنګه وایې چې دے مقید نه دے۔

جواب. دا قید کَلَا قید دے، ځکه چې په ده څه فائده نه ده مرتب۔

وهو اسم ما فعله فاعل فعلٍ مذكورٍ بمعناه	او دا مفعول مطلق اسم د هغه حدث دے، حدث عام دے حقیقتاً وي که حکماً، چې کړے وي، یعنې حدث لره فاعل د فعل مذکور، یعنې چې د هغه حدث قائم وي په فاعل پورې، چې صحیح وي اسناد د دے فعل فاعل ته او اسناد عام

دے، ایجاباً وي که سلباً او مذکور عام دے، مطالبةً وي که په ضمن د فعل کې وي۔ فعل عام دے لفظاً وي که تقدیراً، که حقیقتاً وي که شبه فعل وي، هغه فعل مذکور چې مشتمل وي په معنیٰ د مفعول مطلق باندې د قبیلې د اشتمال د کل په جزء باندې، داسې نه چې اتحاد به یې وي او په معنیٰ کې، په بمعناه سره احتراز راغې د مفعول له نه، ځکه چې ما فعله فاعل فعل مذکور دے، لیکن بمعناه نه دے ځکه چې مشتمل نه دے په معنیٰ د فعل مذکور باندې، بلکه ضربته تأدیباً۔ دلته په تأدیباً باندې ضرب فعل مشتمل نه دے، او پس دلته مونږ تعمیم اوکړو په حدث کې چې حدث عام دے حقیقتاً وي که حکماً، دا د پاره د دفع د اعتراض۔ اعتراض دا وارد یږي چې ترباً او جندلاً دا سره د دې نه چې مفعول مطلق واقع کیږي، لیکن حدث نه دے، ځکه چې معنیٰ د دوئ تراب او حجر دي، نو جواب دا دے چې دا حدث دے حکماً، نو حدث عام شو حقیقتاً وي او که حکماً، ځکه چې دا کلمات په هلاکت سره، نو دا په منزله د دې قول شو او ګرځېدو د هلکت هلاکاً "التراب والحجر"۔

درس نمبر ۱۳۰:- مونږ چې کوم تعمیمات کړي دي، د هغې فوائد بیانیږي په شکل د سوالونو جوابونو کې۔ **سوال** دا وارد یږي چې ستا دا تعریف جامع نه شو، څلور افراد ولره او خارج پرېږده نه مفعول مطلق په دې تکیبونو کښې چې مَلُتَ موتاً، شرف شرفاً او جسم جسامةً، ځکه چې فاعل د دې د افعالو نه دا فعل نه دے صادر شوے د دې قبیلې د ما فعله فاعل فعل مذکور نه دي۔ **جواب.** مراد په قیام د فعل سره دا دے چې قیام د فعل په فاعل وي، فاعل پورې، او دلته خو قیام د مات، شرف او جسم په فاعل پورې راغلے دے، نو دا داخل دي په تعریف کې۔ **سوال.** ستا دا تعریف جامع نه شو څلور افراد ولره او

---

(۱) او بل رخ نه۔ شو لیکن دا مال نه دے په تکرار باندې ځکه چې دا لوتضیح د عمل د منصوبات او هغه ځکه لو تضیح د عمل د مرفوعاتو وه۔ سرم۔ س،۔

خارج شو ترے نه مفعول مطلق په دے ترکیب کښے چه ماضربتُ ضرباً ځکه چه دلته تیاره د فعل په فاعل ... بوسه نه دے راغلے بلکه نفی شوے دے ـ **جواب.** مراد په قیام سره صحت د اسناد دے ـ برابره خبره ده چه ایجاباً وی او که سلباً وی ـ

سوال. ستا تعریف مانع نه شو خپلو اغیارو لره او خارج شو ترے نه مفعول مطلق د دے ترکیب چه ضُرِبَ په صیغه د مجهول سره ځکه چه دلته د قبیلے د ما فعله فاعل مذکور نه دے ـ **جواب.** فاعل عام دے حقیقتاً وی او که حکماً ـ دلته کښے اگر که فاعل حقیقتاً نه دے خو حکماً په دے شان سره چه دا مفعول مالم یسم فاعله حکماً فاعل دے ـ **سوال.** بنا رد متولفه اختصاره ده لوړو اسم زیات کړے شو یعنی ماتن او وے چه هو اسم بنو د اسم نه شو هم معنی صحیح کیده ـ **جواب.** اسم یے ځکه را نه وړے چه بلابله په معنیٰ باندے هم اطلاق د مفعول مطلق کیدلو او د مفعول مطلق خو د قبیلے د الفاظ نه دے، نه د قبیلے د معنی نه ـ **سوال.** ظاهر متبادر د فعل نه مراد معنی اصطلاحی ده چه حدث دے نسبت دے او زمانه ده او زمانه او نسبت خو قابل د ذکر نه دی نو په دغه وائے فاعل فعل مذکور ـ **جواب.** مراد په فعل سره معنیٰ لغوی ده چه حدث دے فقط ـ

سوال. ستا د التعریف جامع نه شو خپلو افرادو لره او خارج شو ترے نه مفعول مطلق په دے ترکیب کښے چه ضربتُ ضرباً ځکه چه حدث دلته نه دے مذکور ـ **جواب.** مذکور عام دے مطابقتاً وی که تضمناً، نو دلته په ضمن د فعل کښے دے ـ **سوال.** تعریف د مفعول مطلق و جامع او نه کړځیده د خپلو افرادو لره او خارج شو ترے نه نضرب الرقاب ځکه چه دا مفعول مطلق دے او فعل یے نه دے ذکر شوے ـ

جواب. فعل عام دے لفظاً وی که تقدیراً، دلته اگر که لفظاً نه دے ذکر لیکن تقدیراً ذکر دے، تقدیر اعبارت په شان شی چه فاضربوا ضرب الرقاب ـ **سوال.** ستا دا تعریف جامع نه شو خپلو افرادو لره او خارج شو ترے نه مفعول مطلق په دے ترکیب کښے چه انا ضاربٌ ضرباً ځکه چه دلته فعل نه لفظاً ذکر دے او نه تقدیراً ـ

جواب. فعل عام دے حقیقتاً وی که شبه فعل وی ـ دلته ضاربٌ صفت دے، دا شبه فعل دے لرے

درس نمبر ۱۳۱

په بمعناه باندے **سوال** وارد یږی چه ظاهر متبادر خو دا ده چه دا بمعنا متعلق دے په فعل پورے، نو بیا معنا به دا شی چه دا مفعول مطلق به یا په معنیٰ د فعل سره وی او کیا به په معنیٰ د مفعول مطلق سره وی او دا معنیٰ صحیح نه ده، ځکه چه د فعل او د مفعول په ما بین کښے تغایر دے په دے شان سره چه فعل کل دے او دا مفعول مطلق ورله جزء دے ـ **جواب.** دا بمعناه متعلق دے په مشتمل پورے چه فعل مشتمل وی په مفعول مطلق باندے د قبیلے د اشتمال د کل نه په جزء باندے، نو کوم ... په مابین کښے اتحاد رالغ، بلکه تغایر په کښے متحقق شو ـ **سوال.** ستا دا تعریف د مفعول مطلق مانع نه شو د دخول د غیرونه او داخل شو په کښے مفعول به، په دے ترکیب کښے چه کرهت کراهتی ـ دلته کراهتی مفعول به دے او ... دے په تعریف د مفعول

ئے په تعریف د مفعول مطلق کښے چه غیرونه نتائج منتوض دی، دغه کوله ترکیب تمام داخل دی په تعریف د ظلامه مابین فتنبه ۱۲ (م ـ س) ـ

مفعول فیه۔ **جواب**: د دې ترکیب د پاره دوه اعتبارونه دي، یو اعتبار د مفعول به دې او بل اعتبار د مفعول مطلق دې، نو په اعتبار د مفعول مطلق سره دا مانع اوګرځېده او د مفعول به کیدلو لپاره مانع نه شو۔

سوال: ستاسو وینا ده چې د مفعول مطلق نه مخکې به فعل راځي او دلته مخکې مرة او مرتین دي چې د مفعول مطلق نه به مخکې فعل نشوي ذکر بلکه مصدر به وي، لکه ضربه ضرباً۔ **جواب**: مصدر په حین د عمل کښې متوالي وي، په فعل سره او سره د ان مقدرې، نو تقدیر به داسې شي چې ان ضربت ضرباً۔

وقد یکون للتاکید والنوع والعدد

او کله کله راځي مفعول مطلق د پاره د تاکید او د پاره د نوع او د پاره د عدد، نو دا مفعول مطلق په درې قسمه شو، مفعول مطلق تاکیدي، نوعي او عددي، وجه د حصر دا په دې دلیل کښې داده، چې دا مفعول مطلق به خالي نه وي یا به په مفهوم د ده کښې زیادت وي په مفهوم د فعل باندې او یا به نه وي، که نه وي نو دا مفعول مطلق تاکیدي او که وي نو بیا به خالي نه وي یا به دا زیادت د پاره د نوع وي، یا د پاره د عدد وي، که چرته د نوع د پاره وي نو مفعول مطلق نوعي او که چرته د عدد د پاره وي نو مفعول مطلق عددي، مثالونه د درې واړو د پاره ماتن ذکر کړي۔

نحو جلست جلوساً وجلسة وجلسة

نو جلست جلوساً مثال د مفعول مطلق نوعي دې یعنې جلست نوعاً من الجلوس، او جلست جلسة: دا مثال د مفعول مطلق عددي دې، یعنې جلست مرة واحدة، په فتح د جیم سره دا د پاره د مرت راځي، لکه شاعر وائي: الفعلة للمرة والفِعلة للحالة۔

فالاول لایثنی ولایجمع بخلاف اخویه

پس اول قسم چې مفعول مطلق تاکیدي دې نه تثنیه کیږي او نه یې جمع راځي، ځکه چې دې دلالت کوي په محض ماهیت باندې، چې محض معرّا وي، د دلالت نه په تعدد باندې او تثنیه او جمعیت چونکه دلالت کوي په تعدد باندې، پس د دوی په مابین کښې منافات دې، په خلاف د دې نورو دواړو قسمونو نه، ځکه چې دوی دلالت نه کوي په محض ماهیت باندې چې معرّا وي د تعدد نه۔

وقد یکون بغیر لفظه نحو قعدت جلوساً

او کله راځي دا مفعول مطلق مغایر د فعل خپل نه لفظاً، وقد یکون نه دا معلومه شوه چې د دوی په مابین کښې په اکثرو لوګو کښې مغایرت نه وي، دا مغایرت به یا په حسب د مادې سره وي لکه یا به په حسب د باب سره وي، مغایرت په اعتبار د مادې سره دې ته وائي چې مفعول مطلق د یو مادې نه راغلی وي او فعل یې د بلې مادې نه راغلی وي، لکه قعدت جلوساً، جلوساً مفعول مطلق دې۔ د ده ماده جیم، لام او سین ده او فعل یې قعدت دې، په مادې یې قاف، عین او دال ده او مغایرت په اعتبار د باب سره دې ته وائي چې د مفعول مطلق باب جدا وي، د باب فعل نه، لکه انبته الله نباتاً۔ دلته کښې نباتاً مفعول مطلق دې او باب یې ثلاثي مجرد دې او فعل یې انبت دې چې د ثلاثي

مجرد دے او فعل یې انبت دے چه د ثلاثي مزید فیه دے (یعني دا د باب افعال نه دے)۔ **سوال**: ظاهر متبادر د ضمیر د لفظه نه فعل مراد دے، یعني راجع دے فعل ته، چه فعل ته راجع شي، نو معنی نه صحیح کیږي، معنی به داشي چه کله وي دا مفعول مطلق بغیر د فعل نه او دا خو منافي دے د استاد محترم قول سره چه تاسو ویلي دي چه مفعول مطلق نه مخکښې به فعل وي، نو د معلومېږي به مابین کښې منافات شو۔ **جواب**: غیره په معنی د مغایرت سره دے، نو معنی به داشي چه کله راځي دا مفعول مطلق مغایر د فعل خپل نه لفظاً۔ زه به کوم دا خبره چه په دے مقام کښې اختلاف دے په مابین د سیبویه او د جمهورو علماؤ کښې۔ سیبویه وائي چه مفعول مطلق مغایر د فعل خپل نه نه راځي ځکه چه هغه په نزد باندې مطابقت شرط دے په مابین د مفعول مطلق او د فعل د هغه کښې او چه کوم ځائے کښې مغایرت راغلې دے، نو هغه به کښې تاویل کوي، نو د قعدت جلوساً دا به کوي چه قعدت وجلست جلوساً، نو دا جلوساً مفعول واقع شوے دے د جلست نه او انبته الله نباتاً کښې دا به تقدیر راوباسي چه انبته الله انبت نباتاً۔ او س دا دواړه مجرد دي او دلیل د سیبویه دا دے چه مفعول مطلق هغه ته وائي چه فعل مشتمل وي په هغه باندې د قبیلې د اشتمال د کل نه په جزو باندې او چه کله مغایر شي، نو اشتمال د فعل به رانه شي په دے باندې۔ جمهور نحاة وائي چه مذهب د سیبویه ضعیف دے، عقلاً او نقلاً دواړه، عقلاً خو به دې وجه نه ضعیف دے چه په دے کښې تقدیر راغلے دے او تقدیر خلاف الاصل دے او نقلاً خو به دې وجه ضعیف دے چه دوهم ځائے کښې فعل او مفعول مغایر وي او دا سے ځائے نشته چه په کښې تاویل نه شي کېدے، لکه ولا تضروه شیئاً یا حلفت یمیناً، نو شیئاً او یمیناً مفعول مطلق واقع شوي دي او مغایر دي د فعل نه او تقدیر او تاویل هم په کښې نه کیږي، ځکه چه دا جامد وي او جمهور جواب کوي د دلیل د سیبویه نه چه اشتمال د فعل په مفعول مطلق باندې عام دے لفظاً وي که معناً او لفظاً یا عام دے، بالذات وي که بالواسطه۔ د معناً مثال خو لکه قعدت جلوساً شو چه د دواړو معنی یو ده او په انبته نباتاً کښې اشتمال لفظي دے خو بالواسطه دے، ځکه چه انبت مشتمل دے په خپل مصدر باندې چه انباتاً دے او انباتاً مشتمل دے په نباتاً باندې۔ سیبویه[1] په ولا تضروه شیئاً کښې تاویل کوي په دے شان سره چه شیئاً په معنی د قلیلاً سره دے او دا صفت دے د یو موصوف محذوف چه ضراراً دے، نو تقدیر به دا سے شي چه ولا تضروه ضراراً قلیلاً۔ پس د ضراراً مفعول مطلق شو او مغایرت[2] د فعل خپل نه سو۔

---

[1] سیبویه چونکه د نحو یو امام دے او د تاویل د رولو نه خو کلاوے دي نو به ترو کوم با هغو ترکیب چه متعذر دے، تاویل به هغه به عند النحو دا مول دے په دے شان سره کما ذکره استاذي المحترم الثنا او مراد په جمهورو سره هم هغه نحو علماو او کتاب کوهګي د ما دي چه قتنی یې ملا کړے دے، بیا امام سیبویه باندې په حاشیه د شرح جامي کښې په دے قول د باري تعالی سره چه ولا یضرونه شیئاً دا په تاویل د نصراً قلیلاً سره درست نه دے، ځکه چه ان الاصل عدم التقدیر وان التقدیر لا یجري في مثل قوله تعالی ولا یضرونه شیئاً او نصراً قلیلاً۔ (م رضی)

[2] اقول لا یخفی علیك ان التقدیر في قوله تعالی خلاف الاصل ولکن المعناه حینئذ تصح باعتبار الموصوف المقدر فالحاجة الی النقض علی سیبویه ۔ (م - س)

—٭—

درس نمبر ۱۳۲

وقد یحذف الفعل لقیام قرینة جوازاً لو کله حذف کیږي شي نحل د مفعول مطلق په وخت د قیام او د وجود د قرینې کښې۔ جوابونه خبره ده چه قرینه حالیه وی لو کله مقالیه وی، په حذف جوازی سره، په الفعل کښې الف لام عهدی دی او معهود په دې سره مفعول مطلق دے لو د اجوازاً صفت دے د پلوا د مفعول مطلق محذوف لپاره حذفاً دے، او جوازاً په تاویل د مجاز اسره دے او مکمل تفصیل یې خوځایه تیر شوے دے 'فلا نعیدها'۔

کقولك لمن قدم خیر مقدم لکه دا قول ستا د پاره د هغه چا چه راشي د سفر نه او ستا ته اووائے چه 'خیر مقدم'۔ دلته کښې حذف د فعل د مفعول مطلق راغلے دے، په حذف جوازی سره د وجې د موجود د قرینې نه، چه هغه حال د قادم دے۔ **سوال**۔ مفعول مطلق خو هغه ته وائی چه فعل مشتمل وی، په هغه باندې د تیبلے د اشتمال د کل نه په جزء باندې او دلته خو فعل نه دے مشتمل چه هغه قدمت دے په خیر باندې او د خیر خبره دا ده چه مفعول مطلق خو مصدر وی او دلته خو خو مصدر نه دے، بلکه صیغه د اسم تفضیل ده، نو په دوئی تقدیر ولځ سره مفعول مطلق نه صحیح کیږی۔ **جواب**۔ په ده باندې اطلاق د مفعول مطلق شوے دے، مجازاً په اعتبار د موصوف محذوف سره یا په اعتبار د مضاف الیه سره، چه موصوف یې حذف شي، نو تقدیر به داشي چه قدمت قدوماً خیر مقدم، لو چه په اعتبار د مضاف الیه سره شي نو مضاف الیه د دے خو مقدم مصدر میمی دے۔

وجوباً سماعاً دا عبارت عطف دے لځکې په جوازاً باندې، یعنی 'وقد یحذف الفعل حذفاً واجباً سماعیاً' یا 'حذفاً واجباً سماعیاً'۔ یو حذف وجوبی سماعی دے او بل حذف وجوبی قیاسی دے، حذف وجوبی سماعی دې ته وائی چه د یو قاعدے او ضابطې ماتحت نه وی، بلکه د عربو نه سماع باندې موقوف وی او حذف وجوبی قیاسی دې ته وائی چه، په هغې کښې یو قاعده او قانون لره داخل وی۔ پس کله کله حذف کیږی عامل ناصب د مفعول مطلق چه فعل دے، په حذف وجوبی سماعی سره۔

مثل سقیاً ورعیاً وخیبةً وجدعاً وحمداً وشکراً وعجباً لکه سقیاً ته د دې عامل ناصب چه فعل دے هغه حذف دے، په حذف وجوبی سره، چه سماع یې د عربو نه راغلی ده، چه هغوی دا مفعول مطلق بغیر د فعل نه ذکر کوی۔ پس تقدیر د عبارت داسې دے چه 'سقاك الله سقیاً'، او دغه شان رعیاً په اصل کښې 'رعاك الله رعیاً' دے او خیبةً د په معنیٰ د تاوانی کیدو، بلنذری، دا په اصل کښې 'وخاب خیبةً' او جدعاً (پوزه یا غوږ او شونډے وغیره پریکولو والی)۔ په اصل کښې 'وجدعه جدعاً' او حمداً په اصل کښې حمدت حمداً۔ شکراً په اصل کښې 'شکرت شکراً' او عجباً کښې 'عجبت عجباً' دے۔

سوال منشغولوا چه د مونځ سره خپل افعال نه ذکر کیږی او نه به دوئ او منا یم چه، دې سره به افعال خپل ذکر وی، لکه 'شکرت شکراً' او 'حمدت حمداً'۔ **جواب**۔ په دے کښې حذف وجوبی د افعال په کلام د فصحاؤ کښې شوے

اَوْ ذکر دَ افعال دَ دې سره په کلام دَ غیر نصاب کیږي دے اَوْ دَویم جواب دا دے چه دَ دې دَ افعال وجوب دَ حذف په هغه وخت کښې دے چه سره دَ لام نه وي اَوْ بلاته خو ورسره لام نشته، په دې وجه باندې ذکر دَ فعل خپل ورسره راغلے دے۔ **سوال**۔ ستا دا مثال مطابق نه دے، دَ ممثل سره، ځکه چه کوم تا مثالونه ذکر کړي دي، دا ټول خو ټول بغیر دَ لام نه دي۔ **جواب**۔ اللّٰہ اکبر که دلته کښې ذکر نه دے، خو مراد دَ دې نه مذهب دَ متقدمینو دے، اَوْ په متاخرینو کښې دَ شیخ رحمہ اللّٰہ مذهب دلته کښې لره ضابطه ده، هغه دا ده چه، هر هغه مفعول مطلق چه ذکر شوی پس دَ فعل نه اَوْ هغه مفعول مطلق دَ پاره دَ نوع اَوْ دَ بیان دَ عدد نه وي اَوْ مضاف وي، فاعل یا مفعول ته۔ برابره ده که دَ لام سره وي که بغیر دَ لام سره وي، نو په هغه صورت کښې حذف دَ فعل واجب دے اَوْ دا قید چه مفعول مطلق دَ پاره دَ عدد یا دَ نوع نه وي، دَ پاره دَ دې دے چه خارج شي ترې نه دا ترکیب "وقد مکوا مکرهم" اَوْ "وسعی لها سعیها"، نو دَ شیخ رحمہ اللّٰہ په نزد باندې هم قیاس او کړے شو اَوْ دلته حذف واجب دے، دَ وجه دَ وجود دَ قرینې اَوْ دَ سد مسد نه قرینه په کښې نصب دَ معمول دے اَوْ سد مسد قیام دَ معمول دے په ځائے دَ عامل باندې۔

وقیاساً	داعطف دے په سماعاً باندې یعني کله کله حذف دَ عامل ناصبه دَ مفعول مطلق راځي، په حذف وجوبي قیاسي سره، یعني چه دغه حذف وجوبي دَ یو قاعدے دَ لاندې وي۔

فی مواضع	په څو ځایونو کښې چه هغه ځایونه مشهور دي اَوْ کثیر الاستعمال دي، دا مطلب نه دے چه ګني حصر راغلے دے په دې مواضع مذکوره کښې، دا معنیٰ دَ پاره دَ دفع دَ سوال اووے۔

سوال۔ مصنف رحمہ اللّٰہ چه کوم ځایونه ذکر کړي دي، په دې کښې خو حصر نه دے صحیح، ځکه چه دَ دې نه علاوه په نورو ځایونو کښې هم حذف وجوبي قیاسي راغلے دے، لکه په توبیخ کښې، په دې ترکیب کښې چه "انت قعوداً والناس قیاماً"۔ دلته دَ قعوداً دَ پاره فعل حذف دے چه قعدتَ دے، نو دا دَ دې مذکوره مواضعو نه علاوه دے۔ پس مونږ او وئیل **جواب** کښې چه حصر په دې مواضع کښې نه دے مقصود، بلکه دا اکثر الاستعمال دے۔

منها ما وقع مثبتا بعد نفي او معنى نفي داخل علی اسم لا یکون خبراً عنه.	بعض دَ هغه مواضع نه موضع دَ هغه مفعول مطلق دے، چه واقع شوے وي مثبت پس دَ نفي یا دَ معنیٰ دَ نفي نه، هسې نفي یا معنیٰ دَ نفي چه داخله وي په اسم باندې، چه نه وي خبر دَ هغه نه۔ **سوال**۔ ما به یا عبارت وائے، دَ مفعول مطلق نه اَوْ یا به يې عبارت وائے دَ موضع نه اَوْ په

دواړو تقدیرونو سره معنیٰ نه صحیح کیږي، ځکه چه که چرے عبارت شي، دَ مفعول مطلق نه، نو حمل يې په منها نه صحیح کیږي، ځکه چه معنیٰ به دا شي چه، بعض دَ هغو مواضعو نه مفعول مطلق دے، نو مفعول مطلق خو موضع نه دے اَوْ که عبارت شي، دَ موضع نه، نو بیا ورباندې حمل دَ مثبتاً نه صحیح کیږي، ځکه چه موضع خو مثبت نه واقع کیږي۔ **جواب**۔ ما عبارت دے دَ مفعول مطلق نه اَوْ عبارت په حذف سره دے "منها موضع ما وقع"۔ **سوال**۔ ستا دا قول مشتمل دے په تناقض باندې، ځکه چه ته وائې چه مفعول

مطلق به مثبت وی او بیا فائده چه پس د نفی یا د معنی د نفی نه وی، نو دا خو نه دے، مکو تنا قص، ځکه چه پس د نفی مثبت نه شی پاتے کیدے، بلکه منفی به وی۔ جواب۔ د مثبت د پاره لږ دوه معنے دی، یو مثبت دا چه منفی نه وی او دویم په دے معنی چه ما ارید اثباته او دلته کښے تیصنه ما دویمه معنی مراد ده۔

درس نمبر ۱۳۳

:- د مثبت معنی موجب دا اوکړی چه ما ارید اثباته، او په دے معنی سره مطابقت هم راغے په مابین د مثال او د ممثل کښے۔ دلته مصنف اووے چه داخل علی اسم په دے سره احتراز راغے، د هغه نه چه داخل وی په فعل باندے، ځکه چه ...... په دغه صورت کښے عامل ناصب نه حذف کیږی او چه لا یکون خبراً عنه ئے اووئیل نو په دے سره احتراز راغے د خبر نه، د پاره د دے، که چرے خبر شی نو بیا به دے موضوع وی او بیا حذف د فعل د به واجب نه دے او بل دا چه که چرته دا خبر شی، نو لازم به شی حمل د مصدر حمل په ذات باندے۔ سوال۔ د لا یکون خبراً عنه قید راوړلو ته څه ضرورت نشته، ځکه چه مفعول مطلق شو نو خبر نه شی کیدے۔ جواب۔ دا په نسبت سره نیت د متکلم ته دے، ځکه چه په دے کښے احتمال د خبر هم دے، نو دا قید ئے په دے وجه اوکړلو چه مفعول مطلق خبر نه وی۔

او وقع مکرراً یا به وی دا مفعول مطلق مکرر واقع شوے، نو په دغه وخت کښے حذف د فعل د ده به وجوباً قیاساً راځی۔ سوال۔ نو دا به دے اونه وایئ چه مفعول مطلق به مکرر راغلے وی او سره د دے نه به حذف د فعل د ده نه وی راغلے، لکه قول د باری تعالی دے چه کلا اذا دکت الارض دکاً دکاً۔ دلته مفعول مطلق چه دکا دے، مکرر راغلے دے او حذف د فعل ئے نه دے راغلے۔ جواب۔ مراد په مفعول مطلق سره هغه دے چه واقع شوے وی په موضع د خبر کښے او خبر نه وی۔ پس دلته حذف د فعل راغلے دے، د وجه د موجود د قرینے او د سد مسد نه هر چه د تردید هغه نسب د معمول دے او هر چه دهه سد مسد هغه تکرار د مفعول دے یا اقامت د مفعول مقام په ځائے د تخبر باندے۔

نحو ما انت الا سیراً وما انت الا سیر البرید دلته کښے سیراً واقع شوے دے، پس د نفی نه او حذف د عامل د هغه فعل د تسیر دے راغلے، او اصل د تقدیر عبارت به دا سے شی چه ما انت الا تسیر سیراً او ما انت الا سیر البرید کښے اصل عبارت به دا سے شی چه ما انت الا تسیر سیراً کسیر البرید۔ سوال۔ مثال د مطابق نه دے د ممثل سره، ځکه چه مثال د استثناء راغلے دے او ممثل د مفعول مطلق سره۔ جواب۔ دا استثناء نه ده، ځکه چه په استثناء کښے عموماً مستثنی د جنس د مستثنی منه نه وی او دلته کښے سیراً د جنس د انت نه نه دے۔ سوال۔ د پاره د توضیح د ممثل خو یو مثال هم کافی دے نو تا دوه مثالونه ولے راوړل؟ جواب۔ دلته کښے دا یو مثال د نکره دے او بل مثال د معرفه دے، یا دا یو مثال د مفرد دے او دا بل مثال د مضاف دے۔ دلته په ما انت الا سیر

سیراً کسیر البرید" کښې قرینه نصب د مفعول مطلق دے او سد مسد اقامت د معمول دے، په ځائے د عامل بانذ.

وانما انت سیراً و زید سیراً سیراً ما مثال د هغے دے چې مفعول مطلق واقع شوے وي پس د معنی د نفی نه، ځکه چې انما په معنی د ما او د الا سره دے تقدیر د عبارت به داسې شي چې "انما انت تسیر سیراً". دلته کښې قرینه هُم نصب د مفعول مطلق دے او سد مسد قیام د معمول دے، په ځائے د عامل بانذ "زید سیراً". ما مثال د ما وقع مکرراً دے، په اصل کښې داسې دے "زید یسیر سیراً سیراً". دلته کښې قرینه نصب د مفعول مطلق دے او سد مسد تکرار د مفعول مطلق دے، یا اقامت د معمول دے، په ځائے د عامل بانذ. **سوال.** "منها ما وقع"، دا یو ضابطه او قانون دے، نو پکار داوه چې دا دواړه په یو ځائے منها کالو سره ذکر کړے وې، نو تا ولے په یو منها کښې راوړلے؟ **جواب.** په دے دواړو کښې یو خبره مشترکه وه، هغه دا ده چې په دواړو کښې مفعول واقع شوے دے، په موضع د خبر کښې، خو خبر نه دے.

درس نمبر ۱۳۴

منها ما وقع تفصیلا لاثر مضمون جملة متقدمة بعض د هغه مواضع نه چې حذف د مفعول مطلق د عامل په کښې راځي هغه موضع دے، د مفعول مطلق چې واقع شوے وي تفصیل د پاره د اثر د مضمون د هغے جمله، چې هغه متقدمه وي، په مفعول مطلق بانذ، نو په دے ځائے کښې به حذف د نعل د مفعول مطلق راځي په حذف وجوبي قیاسي سره. دلته دا ما عبارت دے، د مفعول مطلق نه او موضع به دے ته راځي، مراد په تفصیل سره بیان د انواعو محتمله دے او مراد په اثر سره غرض مطلوب دے، مراد په مضمون د جملے سره هغه مصدر دے چې مضاف وي یا فاعل ورته او یا مفعول ته مضاف، په دغه قسم کښې ماده، چې ذکر شوي یو جمله استفهامیه لکه خبریه، چې متضمنه وي مصدر لره چې مطلوب وي، په هغې سره څه فوائد او اغراض په الفاظو د مصادرو سره چې هغه مفعول مطلق واقع شوي وي، وروستو د دغه جملے نه پس واجب دے حذف د افعال ناصبو د دے په حذف وجوبي قیاسي سره. چې "تفصیلا لاثر مضمون" ئې اووے، په دے سره احتراز راغے د هغه نه، چې تفصیل د مضمون د جملے وي او اثر نه وي، لکه "زید یسافر سفرا، قریبا او بعیدا"، او چې جملة ئې اووے، په دے سره احتراز راغے د مفرد نه، لکه "لزید سفر فاما یصح صحة واما یغتنم اعتناما"، او متقدمة ئې په دے وجه اوکړلو چې ضروري دے تقدم د تفصیل د شي په شي بانذ.

مثل فشدوا الوثاق فاما منا بعد واما فداءً. دلته کښې "شدوا الوثاق" ما جمله ده لکه مضمون جملے هغه "شد الوثاق" دے، یعنی اضافت د مصدر راغلے دے مفعول ته، غرض مطلوب د شد الوثاق نه هغه یا احسان دے یا فدیه ده، لو الله تعالی دلته بیان د اکثر د انواعو محتمله اوکړو. پس دلته منا مصدر مفعول مطلق دے او دغه شان فداءً هُم مفعول مطلق دے، د دوئ عامل حذف دے، ځکه چې ځکښې د دے نه جمله ذکر شوي ده چې هغه دال ده په مصدر بانذ. دلته

که حذف واجب دے، د وجے د وجود د قرینے او د سد مسد نه. قرینه نصب د معمول دے او سد مسد اقامت د جملے دے یا اقامت د معمول دے په ځائے د عامل باندې. ایس تقدیر د عبارت داسے شی چه فشدوا الوثاق فاما تمنون منّا واما تفدون فداءً.

ومنها ماوقع للتشبيه علاجًا بعد جملة مشتملة على اسمٍ بمعناه وصاحبه

او بعض د هغه موضع نه چه حذف د فعل او د عامل د مفعول مطلق په کښے راځی په حذف وجوبی قیاسی سره، هغه موضع د هغه مفعول مطلق دے چه واقع شوے وی، دا مفعول مطلق مشبه به په حال د کولو د هغه مفعول مطلق کښے چه حال وی په دغه فعل باندې، چه هغه د افعال جوارح نه وی، یعنی دے مفعول مطلق واقع شوے وی، د یو فعل د افعال جوارح نه[1] چه واقع وی دا مفعول مطلق پس د جملے نه، هسے جمله چه مشتمله وی په اسم باندې هسے اسم چه کائن وی په معنی د دے مفعول مطلق باندې چه مشتمله وی، دا جمله په صاحب د دے مفعول مطلق باندې، نو دلته کښے به حذف د فعل راځی، په حذف وجوبی قیاسی سره، للتشبيه سره احتراز راغے، د دے ترکیب نه چه مررت به فاذا له صوتٌ صوتٌ حسنٌ، ځکه چه دلته کښے صوت ثانی دا مفعول مطلق نه دے، بلکه بدل دے د اول نه په علاجًا سره احتراز راغے، د دے ترکیب نه مررت به فاذا له علمٌ علم الفقهاء یا داچه فاذا له زهدٌ زهدًا، دا مشبه دے لیکن د افعال جوارحو نه نه دے، په بعد جملة سره احتراز د ترکیب نه راغے چه صوتُ زیدٍ صوتُ حمارٍ، ځکه چه دلته کښے ترے نه مخکښے جمله نشته په بمعناه سره احتراز راغے، د دے ترکیب نه چه مررت بزیدٍ فاذا له صفت صوتِ حمارٍ ځکه چه صفت په معنی د صوت سره نه دے، په صاحبه سره احتراز راغے، د دے ترکیب نه چه مررت بالبلد فاذا له صوتٌ صوتَ حمارٍ ځکه چه صاحب د صوت بلد نه دے.

درس نمبر ۱۳۵

نحو مررت فاذا له صوت صوت حمار

دلته صوت حمار مفعول مطلق واقع شوے دے مشبه به او دا مفعول مطلق دے، د افعال جوارحو نه، پس د جملے نه، چه فاذا له صوتٌ دے او دا مشتمله ده په صاحب د صوت باندې، چه له دے. دلته حذف د فعل واجب دے، یعنی

---

[1] اعلم ان الافعال على ضربين فالاول يسمى بالقلوب كالظن والشك واليقين وغيرها والثانى بالجوارح كصوت وغيره لا يقال بالاعضاء مطلقا لعدم المكدر الاصلت منهم والجوارح من الجراحة والوش الصوت الصادر منهم فى الطلب كالترنيخ والتبشير وغيرها وان كان يظهر اثره فى الجوارح فهو فى قطعة ١٢ ا

په ظاهره که ږم ستل حمایه نرخمی کے ..... دا احسان دے، عذاب نه دے
که د امیلیشتریه بم د بی خبیه ..... دا عذاب دے، عذاب نه دے

حذف وجوبي قياسي شو، وجه د وجود د قرينې او سد مسد نه علاوه چې دې، وجود د قرينې هغه نصب د معمول دی، او علاوه چې دی، هغه اقامت د جملې دی یا اقامت د معمول دی، پځای د عامل بانندې. پس تقدیر به داسې شي چې مررت به فاذا له صوتٌ يصوت صوت حمار. **سوال**: نه منم دا خبره چې صوت حمار دا مفعول مطلق دی ځکه چې شرط په مفعول مطلق کښې دا دی چې فعل به په معنی بانندې مشتمل وي، د قبيلې د اشتمال د کل نه په جزء بانندې او دلته کښې خو يصوت مشتمل دی په صوت د زيد بانندې مثلاً نه په صوت د حمار بانندې. **جواب**: دا مفعول مطلق دی مجازاً، اصل عبارت به داسې چې مررت به فاذا له صوت يصوت صوتاً مثل صوت حمار.

وصراخ صراخ الثكلى ثكلى بورې ښځې ته وائي يعني چې ما شوم يې مړ شوی وي او صراخ چغو ته وائي. دا بل مثال دی يعني مررت به فاذا له صراخٌ يصرخ صراخ الثكلى. دلته کښې صراخ الثكلى دا مفعول مطلق دی او فعل د دې يصرخ دی چې حذف دی په حذف وجوبي قياسي سره، او دا يې هم تقدير داسې دی: فاذا له يصرخ صراخاً مثل صراخ الثكلى. **سوال**: د وضاحت د مثل د پاره خو يو مثال کافي دی، لو تاسو دوه ولې ذکر کړل؟ **جواب**: دا يو مثال د هغې دی چې مضاف اليه نکره وي او دويم د هغې دی چې مضاف اليه معرفه وي، لو به اول مثال کښې حمار نکره ده او په دويم مثال کښې الثكلى معرفه ده.

ومنها ما وقع مضمون جملة لا محتمل لها غيره او بعضې د هغه مواضعو چې حذف به کېږي، د عامل ناصب د مفعول مطلق په حذف وجوبي قياسي سره موضع د هغه مفعول مطلق دی چې واقع وي، دا مفعول مطلق مدلول د جملې وي، هغه جمله چې نه وي محتمل د دې جملې د پاره غير د مفعول مطلق نه یا دې د پاره سيوا د مفعول مطلق نه بل محتمل نه وي.

مثل له علي الف درهم اعترافاً په دې کښې دوه ترکيبه جائز دي، اول دا چې له خبر مقدم شي او علي دې له پورې متعلق شي او دويم دا چې علي خبر مقدم شي او له دې ورپورې متعلق شي او په دواړو صورتونو کښې الف درهم دا مبتدا مؤخر ده، خو په دې دواړو صورتونو کښې او ترکيبونو کښې اول ترکيب بهتر دی ځکه چې په دې کښې تقدير د متعلق زيات دی، په متعلق باندې او يا دا ترکيب چې له خبر مقدم علي حال، يعني واجباً يا ثابتاً علي او الف مضاف، درهم مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه نه دا مبتدا مؤخر او اعترافاً مفعول مطلق د فعل محذوف نه دی، چې اعترفت دی. اصل عبارت دا دی له علي الف درهم اعترفت اعترافاً، اعترافاً مفعول مطلق دی او مضمون د جملې دی، په دې بانندې **سوال** وارديږي، چې مضمون د جملې خو هغه ته وائي چې مصدر د مشتق غير مشتق ته مضاف شي، لو دلته کښې خو چې کله دا اوشي، لو د ثابت يا د واجب د پاره مصدر ثبوت او يا وجوب دی او د دې اضافت به الف ته اوشي، لو دا به شي وجوب يا ثبوت الف، لو اعترافاً خو مضمون او مدلول د جملې او نه ګرځيده. **جواب**. مضمون د جملې په دوه قسمه دی، يو صراحتاً او دويم ضمناً. دلته کښې اګرکه صراحتاً نه دی، لېکن ضمناً خو شته دی،

ځکه چې د علیّ نه اعتراف او لزوم ثابت شو، علیّ په اصطلاح د فقهاء کښې نص دے په لزوم کښې۔ **سوال**: ته وائې چې احتمال د غیر په کښې نشته حالانکه په دے کښې احتمال د غیر شته دے، ځکه چې دا جمله خبریه ده او په جمله خبریه کښې احتمال د صدق او د کذب د دواړو شته دے۔ **جواب**: دا جمله خبریه نه ده، بلکه جمله انشائیه ده او جمله انشائیه شوے ده، ځکه چې په شروع کښې د ماضی صیغه د باب النشاء راغلې، لکه بعت اشتریت، ...... او جمله خبریه په حالت د جملے انشائیه راغلې او دویم جواب دا دے چې دا جمله خبریه ده ولے په دے کښې احتمال د کذب نشته، ځکه چې لهٔ علیّ الف دره‌م په دے کښې اعتراف د لزوم د الف دے او المرء یؤخذ باقراره۔ دلته کښې حذف د فعل لفظ دے، په حذف وجوبي قیاسي سره د وجه د وجود د قرینے او د سد مسد نه، هر چه ده قرینه دغه نصب د معمول دے او هر چه دے سد مسد، دغه قیام د معمول دے په ځائے د عامل باندې یا قیام د جملے دے الخ۔

ولیمی تاکیدا لنفسه

او دے ته تاکید لنفسه وائی۔ **سوال**: تاکید خو هغه ته وائی چې مخکښې ترے نه مؤکد موجود وی او دلته کښې خو مؤکد نشته۔

جواب: مؤکد عام دے، صریحی وی او که ضمنی۔ دلته کښې اګرکه مؤکد صریحی نه دے، لیکن ضمنی دے۔

منها ما وقع مضمون جملة لها محتمل غیره

لعض د هغه مواضعو نه چې حذف د فعل د مفعول مطلق په کښې کیږی په حذف وجوبي قیاسي سره، موضع د هغه مفعول مطلق دے، چې واقع شوے وی، مدلول او مضمون د جملے چې په هغه جمله کښې احتمال د غیر وی، یعنی چې په هغے کښې احتمال د غیر مفعول مطلق وی۔

نحو زید قائم حقاً

دا حقاً مفعول مطلق دے او واقع شوے دے مدلول او مضمون د جملے د دے جملے د پاره احتمال د غیر د مفعول مطلق شته دے ځکه چې دا جمله خبریه ده او جمله خبریه احتمال د صدق او د کذب لری، یعنی چې ځنګه په کښې دا احتمال دے چې دا صادقه او حقه ده، دغه شان دا احتمال هم په کښې شته چې دا کاذبه او باطله وی۔ صدق هغے ته وائی چې مخبر عنه مطابق وی د خبر سره او که خبر مطابق وی د مخبر عنه سره نو هغے ته حق وائی لا که صحیح فرق دا دے، چې شائع استعمال د صدق په اقوال کښې کیږی او د حق استعمال په افعالو کښې شائع دے۔

ولیمی تاکیدا لغیره

او دے ته تاکید لغیره وائی۔ **سوال**: تاکید خو د غیر د پاره نه وی، بلکه د نفس د پاره وی، ځکه چې تاکید وائی تلفظ په واحد باندې مرتین، د دے دوه جوابه دی، اول جواب دا دے چې غیر په معنی د مغایر سره دے او د مغایرت نه مراد مغایرت اعتباری دے، یعنی دے ته تاکید مغایر وائی په مغایرت اعتباری سره۔ دویم جواب دا دے چې لغیره کښې دا لام د پاره د تعلیل او علتیه دے، او نبا به تقدیر دا دے شی ولیمی تاکیدا لمعنی لدفع غیره۔

سوال. نو په یستی تاکیداً لنفسه کښې د هُوَ لام علیه مُراد کړے شي، نو بیا به تقدیر داسے شي: ولیستي تاکیداً دنفسه او دا خو صحیح نه دے. جواب. علته به تقدیر د عبارت داسے شي: ولیستي تاکیداً لتقرر نفسه فاندفع ما یرد علینا. دلته کښې حذف وجوبي قیاسي دے، ځکه چه قرینه دلته کښې نصب د معمول دے او سد مسد ملته کښې اقامت د معمول دے، په ځائے د عامل باندې یا اقامت د جُملے متقدمي دے. الخ.

درس نمبر ١٣٦

منها ماوقع مثنی مثل لبیك وسعدیك

او بعض د هغه مواضعو نه چه حذف د فعل د مفعول مطلق په کښې راځي، په حذف وجوبي قیاسي سره.

هغه ځائے د هغه مفعول مطلق دے چه واقع شوے وي، دا مفعول مطلق تثنیه صورتاً نه حقیقتاً د پاره د مجوزنګو تکثیرو چه مضاف وي، فاعل ومته. سوال. مفعول مطلق به حقیقتاً تثنیه وي او سره د دیے نه حذف د فعل به نه وي راغلے، لکه ضربت ضربتین. جواب. مراد په تثنیے سره صورتاً تثنیه ده نه حقیقتاً او دلته ضربتین حقیقتاً تثنیه ده. سوال. نه به مونږ او منلو چه صورتاً به تثنیه وي او سره د دیے حذف د دیے به نه وي راغلے، لکه ثم ارجع البصر کرتین. جواب. مراد په تثنیے سره صورتاً هغه تثنیه ده چه اضافت یې یا فاعل ته راغلے وي او یا مفعول ته او دلته خو اضافت د دیے فاعل یا مفعول ته نه دے راغلے. سوال. چه هر کله ورسره اضافت فاعل یا مفعول ته مُراد وو نو لکار دا وه چه دا قید یې ورسره ذکر کړے وے؟ جواب. دا دے چه دا یې ذکر نه کړو او اکتفاء یې وکړه، ځکه چه مثال کښې یې اضافت راغلے دے. سوال. مثال راځي د پاره د توضیح د ممثل پس دا تمام د ممثل نه او دلته خو اتمام د ممثل په مثال سره راغلے دے او دا نه دے مګر تکلیف دے.

جواب: دا تکلیف نه دے، بلکه دا تفنن دے او په دیے کښې اشارت دے، مقصودیت او اهمیت د مثال ومته، لکه لبیك وسعدیك. سوال. دا لبیك او سعدیك به خالي نه وي، یا به یې مصدر مجرد وي یا مصدر د مزید. که چرے مصدر د مجرد یې وائې نو صحیح دا، لیکن دلالت نه کوي په تکریر او تکثیر باندې چه مقصود دے او که چرته مصدر یې وائې، د مزید نو دا کذب دے حماً، ځکه چه په دیے کښې یو حرف هم مزید نشته.

جواب. دا مصدر دے د مزید او اضافه او زیاده په کښې د حرف شته، ځکه چه دا په اصل کښې دے الب لك البابین، بیا تر یے نه فعل چه الب دے حذف کړے شو او مصدر راغے په مقام د فعل باندې او لك د البابین نه وروستو پاتے شو. پس البابین لك شو، بیا تر یے نه حذف کړے شو لام (جار) د لك نه، بیا تر یے نه ساقط کړے شو نون د وجه د اضافت نه، نو البابیك شو. پس دا مصدر بیا د مزید نه منتقل کړے شو مجرد ته او با موږ په با کښې مدغمه کړو، ځکه چه دوه حرفونه د یو جنس نه راغلي وو، نو لبیك تر یے نه جوړ شو.

او دغه رقم سعدیك په اصل کښې اسعدك اسعادین وو، نو اسعد فعل تر یے نه حذف شو، او د هغې په ځائے دا مصدر راغے، نو اسعادیك شو او اضافت یې لك ته راغے، نون په اضافت سره حذف شو او د مصدر

دَ مزیدُنه مونږ، مصدر دَ مجرّدٌ نه راوړولو، نو سعدیك شو، دلته کښې حذف وجوبي قیاسي دے، دَ وجه دَ وجود دَ قرینې اَؤ سد مسد نه۔ هَرچه دَ قرینه، هغه نصب دَ معمول دے اَؤ هَرچه دے سد مسد، هغه اقامت دَ معمول دے، په مقام دَ عامل باندې۔ دَ لبیك معنیٰ دا ده چه زهٔ ستا تابعداریم اَؤ دَ سعدیك معنیٰ دا ده، چه زهٔ ستا احسان منديم۔

درس نمبر ۱۳۷

المفعول به هو ما وقع علیه فعل الفاعل.

مفعول به، دا مفعول به اِسم دَ هغه شی دے، چه متعلق وی، په مدلول دَ هٔ پورے بالذات فعل دَ فاعل هغے فعل چه معتبر وی، اسناد دَ دِے فعل فاعل ته، فاعل عام دے حقیقتاً وی اَؤ که حکماً۔ هَرکله چه فارغ شو مصنفؒ دَ بیان دَ مفعول مطلق نه، نو شروع یې اوکړو په بیان دَ مفعول بِه کښے۔ پس وَئے وئیل چه المفعول به۔ **سوال**۔ ستا دا تعریف جامع اَونهٔ کو چه دَ خپلو افرادو لره اَؤ خارج شو ترے نه مفعول به په دِے ترکیب کښے، چه "ایاك نعبد" سره دَ دِے نه، چه "ایاك" مفعول به دے اَؤ بیا هُم واقع نهٔ دے، په دُ باندې فعل دَ فاعل۔ **جواب**۔ مراد په وقوع سره تعلق دے، یعنی چه متعلق وی، په مدلول دَ دهٔ پورے فعل دَ فاعل۔ **سوال**۔ ستا تعریف دَ مفعول بِه مانع نهٔ شو دَ دخول دَ غیرنه اَؤ داخل شو، په کښے جار مجرور په دِے ترکیب کښے، چه "مررت بزید"، حکه چه تعلق یې شته اَؤ سره دَ دِے نه مفعول بِه نه دے۔ **جواب**۔ مُراد په تعلق سره تعلق دے بالذات نه بالواسطه اَؤ دا خو بالواسطه دے۔ **سوال**۔ ستا دا تعریف دَ مفعول بِه مانع نهٔ شو، دَ دخول دَ غیرنه اَؤ داخل شو په کښے مفعول مالم یسم فاعله، په دِے ترکیب کښے، چه "ضُرِبَ زیدٌ" سره دَ دِے نه، چه تعلق ورپورے بالذات دَ فعل راغلے دے، بیا هُم مفعول بِه نهٔ دے۔ **جواب** دا دے، چه مراد په فعل سره، هغه فعل دے، چه اسناد یې راغلے وی، فاعل ته اَؤ دغه اسناد یې فاعل ته معتبر وی اَؤ دلته کښې دا اسناد نهٔ دے معتبر۔ **سوال**۔ ستا دا تعریف دَ مفعول بِه جامع اونهٔ کو چه دَ خپلو افرادو لره اَؤ خارج شو ترے نه مفعول به په دِے ترکیب کښے، چه "اعطیٰ زیدٌ درهماً" حکه چه په دے کښے نهٔ دے معتبر اسناد دَ فعل فاعل ته۔ **جواب**۔ فاعل عام دے، حقیقتاً وی که حکماً، دلته اګر که اسناد یې فاعل حقیقی ته نهٔ دے راغلے، لیکن اسناد یې راغلے دے فاعل حکمی ته۔

نحو ضربت زیداً.

زیداً دا مفعول بِه دے اَؤ متعلق دے، ورپورے، فعل دَ فاعل بالذات اَؤ فعل دَ فاعل ضربت دے۔

وقد یتقدم علی الفعل نحو زیداً ضربت

اَؤ کله کله متقدم کولے شی، دا مفعول بِه په عامل ناصب باندې، په وخت دَ عدم دَ مانع کښے اَؤ دا تقدم کله وجوبي وی اَؤ کله جوازی وی۔ وجوبي په هغه وخت کښے چه دا مفعول بِه مشتمل وی، په معنیٰ دَ اِستفهام یا په معنیٰ دَ شرط باندې، لکه "من ضربت" اَؤ دا تقدم په دِے وجه باندې دَ مفعول بِه راځی، په فعل باندې، حکمچه فعل په عمل

کښې قوي دے، په مقدم او مؤخر او مرتب او غیر مرتب ټولو کښې عمل کولے شي. **سوال**: دا قاعده ستا منقوضه شو، په دے ترکیب باندې چه 'اعجبنی ان ضربت زیداً' یا 'من البران تکف لسانك'. په دے شان سره چه زیداً او لسانك دا په دے ترکیبونو کښې مفعول به واقع شوي دي او سره د دے نه تقدیم د دوئي په افعالو خپلو باندې نه دے. **جواب**: جائز دے، تقدیم د مفعول به په فعل باندې په وخت د عدم د مانع کښې دے، دلته خو مانع موجود دے، ځکه چه ان دلته کښې موصول حرفي دے او د دے نه وروستو صله راځي او تقدیم د صلې په موصول باندې ناجائز دے، نو معمول د صلې خو به په طریق اولی سره تقدیم د هغې ناجائز وي، لکه په دے ترکیب کښې مثلاً 'اعجبنی ان ضربت زیداً'. دلته کښې اَنْ موصول حرفي دے، د ده صله ضربتُ دے او زیداً چه مفعول به دے، دا معمول د ضربتُ دے، نو چه هر کله تقدیم د ضربت دلته په ان باندې ناجائز شو، نو معمول خو به په طریقه اولی سره ناجائز او ګرځېدو، ځکه چه موصول حرفي مشابهه دے د موصول اسمي سره، نو چه هر کله په موصول اسمي باندې تقدیم د صلې او د معمول د صلې ناجائز دے، لو موصول حرفي حکم به هم هغه باندې قیاس شو او دغه شان معمول د مصدر یعنی چه کوم یو اسم مفعول به د مصدر نه واقع شوے وي د هغې تقدیم هم په مصدر باندې ناجائز دے، ځکه چه مصدر په حین د عمل کښې مؤول وي په تاویل د فعل سره د اَنْ نه، ځکه چه دلته کښې جواباً تقدیم د معمول د صلې راځي په موصول باندې.

درس نمبر ۱۳۸

وقد یحذف الفعل لقیام قرینة جوازاً او کله حذف کیږي عامل ناصب د مفعول به په وخت د موجود د قرینې کښې قرینه عامه ده، حالیه وي که لفظیه وي، په حذف جوازي سره. دلته کښې په الفعل کښې الف لام عهدي دي، مراد او معهود په دے سره مفعول به دے او لقیام کښې دا لام یا وقتیه دے او یا تعلیلیه دے، په علت جوازي سره او جوازاً دا صفت دے د موصوف چه هغه مفعول مطلق واقع شوے دے، هغه حذفاً دے او جوازاً به په تاویل د جائزاً سره شي، د پاره د دے چه حمل د موصوف وصف په ذات راتلے شي. مثال د قرینې حالیه، لکه یو سړے ملکے ته روان دے او ته ورته اووائي چه 'مَكَّةَ' 'مَكَّةَ'، نو دلته کښې حذف د عامل ناصبه د مفعول به راغلے دے، د وجه د موجود د قرینې حالیه نه، چه هغه ترید ده یعنی ترید مَكَّةَ او مثال د قرینې لفظي مصنف ذکر کړے دے.

کقولك زیداً لمن قال من اضرب په مثل د قول ستا چه دلته زیداً مفعول به دے او حذف د عامل ناصب د دے راغلے دے، د وجه د موجود د قرینې نه چه هغه سوال د سائل دے. دلته کښې عامل ناصب د مفعول به په سوال کښې موجود دے، په دے وجه باندې په جواب کښې راوړلو ته ضرورت نشته، ځکه چه 'المذکور فی السوال کالمعاد فی الجواب'، لنو

تقدیریہ با اوګوځی، چہ اضرب زیداً۔

ووجوباً فی اربعة مواضع

وجوباً دا عطف دے پہ جوازاً، یعنی ویحذف الفعل حذفاً واجباً او حذف کیږی عامل ناصب د مفعول بہ پہ حذف وجوبی سرہ پہ دے مواضعو اربعہ کښے پہ طریقہ د کثرت سرہ او ما سیوا د دے مواضعو نہ پہ طریقہ د قلت سرہ۔ پس حصر پہ دے څلورو مواضعو کښے بانفے۔ **سوال**۔ حصر ستا د حذف وجوبی پہ دے څلورو مواضعو کښے باطل دے، ځکہ چہ پہ دے څلورو مواضعو کښے حذف راځی، لو بغہ شان نور ځائونہ هم دی، لکہ پہ صورت د اغراء کښے، مثلاً "اخاكَ اخاكَ"، دا مفعول بہ دے او حذف د عامل ناصب د دے راغلے دے، پہ اصل کښے دا دے "اُنصُر اخاكَ" یا "الزم اخاكَ" یا پہ صورت د مدح کښے، مثلاً "الحمد لله الحمیدَ"۔ دلته الحمیدَ منصوب او مفعول بہ دے، د دے عامل حذف شوے دے، چہ هغہ اعنی دے یا پہ صورت د ذم کښے، مثلاً "اعوذُ بالله من الشیطٰن الرجیمِ"۔ دلته الرجیم منصوب او مفعول بہ دے او حذف د عامل ئے راغلے دے یا پہ صورت د ترحم کښے، مثلاً "مررت بزیدٍ المسکینَ"۔ دلته المسکینَ منصوب مفعول بہ دے او حذف د عامل ئے راغلے دے، چہ اعنی دے، لو دا د دے څلورو ځائونو نہ علاوہ دا صورتونہ هم موجود دی۔ پس حصر ستا باطل دے پہ مواضع اربعہ کښے۔ **جواب** دا دے چہ دا اربع مواضع د وجہ د کثرت نہ دی، نہ د وجہ د حصر نہ۔

الاول سماعیٌ نحو امرأً ونفسہ وانتہوا خیراً لکم

الاول دا صفت دے او موصوف ئے حذف دے لکہ "الموضع"، سماعیٌ منسوب بسوی سماع، یعنی د عربو نہ سماع د دے دا سے داخلی دا چہ قیاس لرہ پہ دے کښے دخل نشته او بحث د سماعی ئے مقدم کړو پہ قیاسی باندے، ځکہ چہ دا اقل دی د قیاسی نہ او قلیل مقدم وی پہ کثیر باندے۔ پہ نحو امرأً ونفسہ کښے امرأً مفعول بہ دے او عامل ناصب د دے حذف شوے دے، پہ حذف سماعی سرہ۔ اصل عبارت دا دے چہ "اُتْرُك امرأً ونفسَہ"۔ **سوال**۔ ونفسہ یا تاکید دی د پارہ د امرأً لہ یا بہ دا عطف وی پہ ضمیر باندے د اترك، کہ چرته کښے دا تاکید شی، نو نہ صحیح کیږی، ځکہ چہ فصل راځی پہ مابین د مؤکِّد او د مؤکَّد کښے او کہ چرته عطف شی، نو هم نہ صحیح کیږی، ځکہ چہ پہ ضمیر مرفوع متصل باندے عطف هلته روا دے چہ کلہ د هغہ تاکید پہ ضمیر مرفوع منفصل سرہ راغلے وی او دلته کښے تاکید ئے نہ دے راغلے پہ ضمیر مرفوع منفصل سرہ۔ **جواب**۔ دا تاکید دے، د پارہ د امرأً او کہ ته وائے چہ فصل راځی پہ مابین د مؤکِّد او د مؤکَّد کښے، نو زہ وایم چہ دا واؤ پہ معنیٰ د مع سرہ دے، نو تقدیر بہ دا سے شی چہ "اترك امرأً مع نفسہ" او یا دا چہ فصل پہ مابین د مؤکِّد او مؤکَّد کښے راغلے دے، لکہ پہ قرآن پاک کښے الله تعالیٰ فرمائی چہ "کلا سوف تعلمون ثم کلا سوف تعلمون" او یا دا چہ، دا عطف دے پہ ضمیر د اترك باندے او تاکید د ضمیر مرفوع متصل راغلے دے، پہ ضمیر مرفوع منفصل سرہ تقدیراً، نو اصل عبارت بہ دا رنګ شی چہ "اترك امرأً هو

نفسه وانتهوا خيرًا لكم ". دا بل مثال دے، دلته کښې خيرًا مفعول به دے او حذف د عامل ناصب د دے را غلے دے چه "اقصدوا" دے، يعنې "واقصدوا خيرًا لکم". **سوال**. نه منو مونږ چه د خيرًا د پاره عامل ناصب حذف دے، بلکه عامل د دے خو ذکر دے چه هغه "وانتهوا" دے. **جواب**. "وانتهوا" عامل ناصب د خيرًا د پاره نه صحيح کيږي، ځکه چه په دغه صورت کښې فساد لازميږي، په معنیٰ کښې. معنیٰ به داسے شي چه ځان منع کړئ تاسو د خير نه، چه هغه توحيد د الله تعالیٰ دے او الله تعالیٰ خو د خير نه څوک منع کوي نه، نو معلومه شوه چه د دے د پاره عامل ناصب "واقصدوا" دے، "انتهوا يا معشر النصارىٰ عن التثليث (حيث قلتم ان الله ثالث ثلاثة) واقصدوا خيرًا لکم وهو التوحيد".

درس نمبر ۱۳۹

اهلاً وسهلاً اهلاً مفعول به دے او د دے عامل ناصب چه فعل دے، هغه حذف شوے دے. په حذف وجوبي سماعي سره، ځکه چه عرب د دے سره فعل نه ذکر کوي، اهلاً په اصل کښې "اتيتَ اهلاً" دے، د اهلاً د پاره دوه معنے دي. يو به معنیٰ د قربت او اقارب سره راځي او بل په معنیٰ د تعبير آله د عمارت سره راځي، چه په معنیٰ د قربت سره شي، نو مفعول به کېدل يې صحيح دي. يعنې "اتيتَ الاقاربَ لا الاجانبَ" او چه کله په معنیٰ د تعبير سره شي، نو مفعول به کېدل يې ترې نه صحيح کيږي، او دا به مفعول به صحيح شي چه دا مبنى للمفعول اوګرځي او يا دا صفت واقع شي، د پاره د موصوف محذوفه. پس تقدير به داسے شي چه "اتيتَ مکانًا ماهولاً او سهلاً". نو سهل هغه ځمکے ته وائي، چه هواره وي، د دے په مقابله کښې حزنًا دے، چه هغه سخته ځمکه ته وائي، د دوهم د پاره عامل ناصب هغه وطئتَ دے، يعنې "وطئتَ سهلاً". زده کړه دا خبره چه د "اهلاً وسهلاً" الفاظ ابدي او داسې ته کور به وائي.

الثاني المنادىٰ وهو المطلوب اقباله بل موضع د هغه مواضع اربعه نه، چه حذف د عامل ناصب په کښې د مفعول به راځي، هغه منادىٰ دے او منادىٰ هغه اسم دے، چه مطلوب وي توجه د منسمي د ده، توجه عامه ده، بقلبه وي که بوجهه وي، که حقيقتًا وي که حکمًا او که مسؤل بالاجابة وي. هر کله چه فارغ شو مصنف د حذف د عامل ناصب د مفعول به نه وجوبًا سماعًا، نو اوس يې شروع اوکړه په هغه کښې چه حذف د عامل ناصب د مفعول به راغلے وي وجوبًا قياسًا، لفظ دے دليل چه "الثاني". دا صفت دے او د هر صفت د پاره لابدي ده، د موصوف نه، د دے د پاره موصوف الموضع سته يا الباب دے، "نداء" آواز کولو ته وائي. منادِي آواز کوونکي ته وائي، منادىٰ آواز کړے شوي ته وائي. منادىٰ به هغه چا ته وائي، چه په هغې سره بل څوک رابللے کيږي. منادىٰ په **لغت** کښې نداء کړے شده ته وائي او په **اصطلاح** کښې "وهو المطلوب اقباله" ته وائي. **سوال**. ستا دا تعريف د منادىٰ جامع نه دے، ځکه چه افراد وتلو او خارج شو ترے نه هغه منادىٰ، چه حاکم وي، په مابين د منادىٰ.

او منادیٰ کیږی - **جواب.** توجه عامه دهٔ بقلب وی که بوجهه وی. **سوال.** تعریف د منادیٰ دِ جامع نه شو خپلو افرادو لره او خارج شو ترینه منادیٰ په دې ترکیب کښې چې یا جبال، یا سماء، یا ارض، ځکه چې دا منادیٰ نهٔ بقلبه ده او نهٔ بوجهه. **جواب.** بوجهه او بقلبه عام دے حقیقتاً وی که حکماً. دلته کښې اګر که حقیقتاً نهٔ ده لیکن حکماً خو ده، ځکه چې دے نازل شوے دے په منزله د هغه چاچې په هغه کښې صلاحیت د نداء وی.

سوال. ستا دا تعریف د منادیٰ جامع نهٔ شو خپلو افرادو لره او خارج شو ترینه یا الله، ځکه چې دا نهٔ منادیٰ بوجهه ده او نهٔ بقلبه ده، ځکه چې الله تعالیٰ لوئ وجه او قلب نشته دے او دا نهٔ حقیقتاً او نهٔ حکماً ده. **جواب.** مراد په طلب د توجهه سره مسئول الاجابة دے. **سوال.** ستا دا تعریف د منادیٰ مانع اوه کو حُبدو د دخول د غیر نه او داخل شو په کښې مندوب. نُدبه په **لغت** کښې ژړا ته وائی او په **اصطلاح** کښې مندوب هغه مِهی ته وائی چې په هغه باندې ژړا کیږی او په هغه باندې واه داخل شوے وی، لو حکماً دے هغو داخل شو په منادیٰ کښې، ځکه چې دے هغو نازل دے په منزله د "من له صلاحیة النداء" باندې. **جواب.** مندوب نهٔ دے داخل، ځکه چې د مندوب توجهه نه وجهاً مقصود وی او نهٔ قلباً، بلکه په هغه باندې چې "وا" داخلیږی، د پاره د اظهار د غم او د حزن وی او مل جواب دا دے چې کهٔ چرے دا منادیٰ وے، نو په ده به واه نهٔ داخلیدلے، ځکه چې واه د حرف نداء نه نهٔ دے.

درس نمبر ۱۴۰

بحرف نائب مناب ادعو | په داسے حرف سره چې قائم وی په مقام د ادعو باندې.

سوال. منادیٰ منصوب دهٔ په وجه د حرف نداء سره، نو دا خو د قبیل "فمن فیه" د تنبیل نه نهٔ شو ځکه چې عامل د دے محذوف نه شو بلکه موجود شو. **جواب.** په دے کښې درے مذهبه دی، اول د سیبویه مذهب دے، دوئم د مبرد او دریم مذهب د ابوعلی فارسی. د سیبویه په نزد باندې فعل حذف دے او حرف نداء د هغې قائم مقام دے او عمل حرف کړے دے او د ابوعلی فارسی په نزد باندې عمل حرفِ نداء کړیدے او عامل محذوف نهٔ دے او دا حرفِ نداء اسم فعل دے او اسم فعل عمل کوی، فرق په مابین د مذهب د سیبویه او د مبرد کښې دا دے چې په نزد د سیبویه باندې عامل محذوف دے، چې فعل دے او د مبرد په نزد باندې فعل محذوف دے او عامل حرفِ نداء دے او د ابوعلی په نزد باندې هغه عامل محذوف نه دے او نه دلته فعل محذوف دے او په نزد د مصنف باندې مختار مذهب د سیبویه دے.

لفظاً او تقدیراً | په حال د کون د دے منادیٰ کښې، چې لفظاً وی که تقدیراً وی.

سوال. نصب د لفظاً او تقدیراً به خالی نهٔ وی، یا به منصوب وی، بنا بر مفعول مطلق د مطلوب نه یا د نائب نه او یا به حال وی، د اقباله د ضمیر نه او په دے کښې یو هم نهٔ دے صحیح،

هر چې دے اوّل چې دا منعول مطلق واقع شی د مطلوب نه، لو منعول مطلق خو دے ته وائی چې فعل مشتمل وی پهغه باندې د قبیلې د اشتمال د کُل نه په جزء باندې او دلته خو مطلوب په لفظاً یا تقدیراً باندې نه دے مشتمل بلکه مشتمل دے په طلباً باندې او هر چې دے دویم چې دے منعول مطلق واقع شی د نائبئنه، لو دا هم نه دے صحیح، ځکه منعول مطلق دے ته وائی چې فعل مشتمل وی په هغه باندې د قبیلې د اشتمال د کُل نه په جزء باندې او دلته خو نائب مشتمل نه دے په لفظاً او تقدیراً باندې بلکه نائب مشتمل دے په نیابتاً باندې او هر چې دے حال، لو حال خو هغه دے چې حمل کیږی په ذوالحال باندې او دلته حمل نه دے صحیح، ځکه چې لازمیږی حمل د صرف وصف په ذات باندې او دا باطل دے۔ جواب. دا منعول مطلق واقع شوے دے د مطلوب نه او که ته وائے چې منعول هغه ته وائی چې مشتمل وی فعل په هغه باندې د قبیلې د اشتمال د کُل نه په جزء باندې او دا نه دے مشتمل په لفظاً او تقدیراً باندې، لو مونږ وایو چې دا منعول مطلق دے مجازاً او دا صفت واقع شوے دے د پاره د منعول مطلق محذوفه چې هغه طلباً دے او لفظاً او تقدیراً۔ دا بیا په تاویل د لفظیاً او تقدیریاً سره کړے شوی دی، د پاره د دے چې حمل د صرف وصف را نه شی، یا په تاویل د ملفوظاً او مقدراً سره کړے شوی دی او یا وایو په جواب کښې چې دا منعول مطلق واقع شوے دے د نائب نه او که ته وائے چې منعول مطلق خو هغې ته وائی چې فعل په هغې باندې مشتمل وی د قبیلې د اشتمال د کُل نه په جزء باندې او دلته کښې خو نائب مشتمل نه دے په لفظاً او تقدیراً باندې، لو نو که وایو چې دا منعول مطلق دے مجازاً، ځکه چې دا صفت واقع شوے دے د پاره د منعول مطلق محذوفه، چې هغه نیابتاً دے بیا لفظاً او تقدیراً په تاویل د لفظیاً او تقدیریاً سره کړے شوی دی د پاره د دے چې حمل صحیح شی یا دا مؤول دے په تاویل د ملفوظاً او مقدراً سره، یا نیابت به مضاف کړو لفظی او تقدیری ته۔ سوال. طلب خو یو امر معنوی دے چې هغه نسبت دے په مابین د طالب او د مطلوب کښې، لو د دے تقسیم څنګه صحیح کیږی لفظی او تقدیری ته؟ جواب. توصیف د طلب په لفظی او تقدیری سره دا صفت بحاله نه دے بلکه صفت متعلقه دے چې هغه له د طلب ده۔ سوال. توصیف د نیابت په لفظی او تقدیری سره نه صحیح کیږی، ځکه چې نیابت خو نسبت دے په مابین د نائب او د منوب کښې او نسب امر معنوی دے، لو تقسیم د دے لفظی او معنوی ته نه صحیح کیږی. جواب. توصیف د نیابت په لفظی او تقدیری سره دا صفت بحاله نه دے، بلکه صفت بحال متعلقه دے، چې دا صفت د پاره د آلے د نیابت دی، بیا جواب د اصل سوال نه دا دے چې دا حال واقع شوے دے د ضمیر د اقباله نه او که ته وائے چې حمل نه صحیح کیږی، لو مونږ وایو چې دا مؤول دے په تاویل د ملفوظاً او مقدراً سره۔ پس تقدیر به دا سے شی چې هو المطلوب اقباله بحرف نائب مناب ادعو ملفوظاً او مقدراً۔ سوال. حال خو بیانوی هیئت د فاعل او یا د منعول او د اقباله ضمیر خو نه فاعل دے او نه منعول دے۔ جواب. دا بناء دے په یو قانون باندې هغه دا چې، کوم یو مضاف الیه قائمقام کړے شی د

شی لوصحیح دی واقع کیدل دَ حال دَ هغه. اوس مثال دَ هغې چې منادیٰ ملفوظه وی، لکه 'یا زید' نَدَ منادیٰ مقدر سره مثال، لکه 'الا یا اسجدوا' یعنی 'الا یا قوم اسجدوا'. مثال دَ حرف نداء ملفوظ، لکه 'یا داؤد انا جعلناك' او مثال دَ حرف نداء مقدر سره، لکه 'یوسف اعرض عن هذا' ای یا یوسف اعرض عن هذا.

وبنيٰ على ما يرفع به او مبنی کولے به شی، د امنا دیٰ پس دَ دخول دَ حرف نداء نه په هغه حرف او حرکة باندې چې مونږ کولے شی په دغه حرف او حرکة سره دَ مناد لکنې دَ دخول کوحرف نداء نه. هرکله چې مصنف فارغ شو دَ بیان دَ حقیقت دَ منادیٰ نه، لو شروع یې اوکړه په بیان دَ حکم دَ منادیٰ کښې. زده کړه واخبره چې منادیٰ په څلور قسمه دی، حکه چې دامنادیٰ به خالی نه وی یا به معرب وی یا به مبنی وی مکه مبنی وی، او بیا به خالی نه وی یا به مبنی وی په فتحې سره یا به مبنی وی په ضمه باندې. که مبنی وی په فتحې سره دا قسم اول دَ منادیٰ دے، که مبنی وی په ضمې سره، او دا قسم ثالث دَ منادیٰ شو او که معرب وی، او بیا به خالی نه وی یا به مجرور وی یا به منصوب وی، که مجرور وی، او دا قسم ثانی دَ منادیٰ شو که منصوب وی، او دا قسم رابع دَ منادیٰ دے. سوال. ضمیر په یبنیٰ کښې راجع دے منادیٰ ته او په یرفع کښې هم راجع دے منادیٰ ته، او لازم یې شی واحد هم معرب هم مبنی[1]. جواب. په یبنیٰ کښې ضمیر راجع دے منادیٰ ته او په یرفع کښې ضمیر راجع دے اسم ته، لیکن دا جواب ضعیف دے، حکه چې دا مخالف دے دَ سیاق دَ کلام نه[2] او بعض شارحین دا جواب کوی چې ضمیر په یبنیٰ کښې راجع دے منادیٰ ته او یرفع مسند دے جار مجرور ته خو دا جواب هم ضعیف[3] دے. پس اولیٰ په جواب کښې دا دے چې په یبنیٰ کښې ضمیر راجع دے منادیٰ ته او په یرفع کښې هم راجع دے منادیٰ ته، لیکن په یرفع کښې مخکښې دَ دخول دَ حرف نداء نه او په یبنیٰ کښې پس دَ دخول دَ حرف نداء نه.

درس نمبر ۱۴

ان کان مفرداً معرفةً سوال. بحث زموږ په منصوبات کښې دے، او لیکن دا ئې چې هغه منادیٰ به یې مقدم کړی وه، کوم چې منصوب وی، حالانکه تا هغه منادیٰ مقدم کړو چې

---

[1] حکه چې صیغه دَ یبنیٰ دال ده په بنائیت دَ منادیٰ باندې او صیغه دَ یرفع دال ده په اعرابیت دَ منادیٰ باندې. پس لازم شو شی واحد هم معرب هم مبنی، او دا نه دے مګر اجتماع النقیضین وهو محال فی کلام العرب-۱۲ (م-س)-

[2] لان السوق لبیان المنادیٰ-۱۲ (م-س)-

[3] لیکون المعنیٰ یبنی المنادیٰ علی الحرکة او الحرف الذی یرفع به ویقع اعراب الرفع به ولا شك فیه الا ارجاع الضمیر الی مطلق الاسم بعید غیر ملائم لسوق الکلام وفی هذا المقام اعتراضات مترددة کما ذکروا بعض الشارحین والاصح فیهما ما ذکره استاذی المحترم محمد ابراهیم فانی-(م-س)-

...مبني دهٔ، په ضمه باندې۔ جواب. دا د وجې د اختصار نه مصنف ذکر کړو، ځکه چه کله چې منصوبات ئې مقدم کولے نو لازمیده تطویل بلا طائل او بلا وجه دهٔ، چه مصنف هغه په مختصر طریقے سره ذکر کړو، چه وینصب ما سواهما۔ دلته کښې مراد په مفرد سره هغه دے چه مقابل وي د مضاف یا د شبه مضاف (او د اضافت نه مراد اضافت لفظي دے نه معنوي) ځکه چه مفرد په مقابله د مرکب کښې هم راځي، په مقابله د جملے کښې هم راځي او په مقابله د تثنیه او جمع کښې هم راځي او معرفه عامه دهٔ، چه مخکښې د دخول د حرف ندا نه وي که پس د دخول د حرف ندا نه وي، نو چه منادیٰ کله مفرد وي، مضاف یا شبه مضاف نه وي او معرفه وي او نکره نه وي، نو دا به مبني وي، په ضمه باندې۔ **سوال.** دا قسم مبني ولے دے؟ او مبني په ضمے سره ولے دے؟ **جواب.** دا قسم مبني دے، د وجه د وقوع، د دے نه په مقام د کاف اسمي خطابي کښې او کاف اسمي خطابي مشابهه دے، د کاف حرف خطابي سره او کاف حرفي خو مبني دے، نو دے هم مبني او گرځیدو او دے مبني دے، په ضمه باندې، ځکه چه کله چرے دے مبني او گرځي، په فتحې سره، نو التباس به پیدا کېږي، د هغه منادیٰ سره چه په آخر کښې ئې الف راغلے وي او بیا هغه الف حذف شوے وي او د هغه په ځائے فتحه اوډرېدلې وي او که چرته دا مبني او گرځي په کسره باندې، نو التباس به پېدا راشي، د هغه منادیٰ سره چه اضافت ئې راغلے وي، یا د متکلم ته او بیا دا یا حذف شوے وي او اقامت د کسرې راغلے وي، په ځائے د یاء باندې۔ پس ضمه متعین کړے شوه۔

نحو یا زیدُ یا رجلُ ویا زیدان یا زیدون

سوال. مثال خو راځي، د پاره د وضاحت د ممثل له، نو د وضاحت د پاره خو یو مثال کافي دے۔ **جواب.** 'یا زیدُ' مثال د هغه منادیٰ دے، چه معرفه وي، مخکښې د دخول د حرف ندا نه او 'یا رجلُ' دا مثال د هغه منادیٰ دے، چه معرفه دے۔ پس د دخول د حرف ندا نه او دا مثالونه د هغه دي چه مبني وي په ضمه باندې، په حرکت سره، او 'یا زیدان یا زیدون' دا مثالونه د هغه دي، چه مبني وي په حرف سره۔ **سوال.** دلته خو اجتماع د معرفتین راغلې ده، چه یو یا دهٔ او بل زید دے۔ **جواب.** اجتماع د معرفتین جائز ده، لیکن اجتماع د الو د تعریف ناجائز دهٔ۔

ویخفض بلام الاستغاثة

او مجرور کولے شي، دا منادیٰ په وخت د دخول د لام د استغاثه کښې۔ هرکله چه فارغ شو مصنف د بیان د بنا منادیٰ نه، نو شروع ئې او کړو، په بیان د هغه حکم کښې چه په هغې باندې منادیٰ معرب کېږي۔ دلته کښې د څو څیزونو پېژندل ضروري دي۔ ۱. استغاثه۔ ۲. مستغاث۔ ۳. مستغیث۔ ۴. مستغاث لهٔ۔ استغاثه ندا کولو ته وائي، د پاره د مدد، مستغیث ندا کوونکي ته وائي، مستغاث، چه د چا د پاره امداد طلب کېږي او مستغاث لهٔ، چه د چا نه طلب شي، لکه په دے قول کښې 'یا لزیدٍ لعمرٍ' دلته زید مستغاث دے او عمرو مستغاث له دے۔

سوال. یخفض صفت دَ یا دَ خانص دے، لو نسبت دَ یے منادیٰ تہ نہ دہ صحیح. جواب. یخفض پہ معنیٰ دَ یجر سرہ دے. سوال. لام یئے ولے خاص کړو دَ پارہ دَ استغاثے پہ مابین دَ نورو حروفو کښے.
جواب. لام استغاثہ پہ اصلیت کښے لام جارہ دے اَؤ لام جارہ دَ پارہ دَ تخصیص وی مستغاث ھم خاص کیږے شوے وی، پہ خپلو اشالو کښے، دَ پارہ دَ دعا، لو دوئ پہ مابین کښے مناسبت راغلو. سوال. لام استغاثہ خو لام جارہ دے اَؤ لام جارہ چہ کلہ داخل شی پہ اسم ظاھر باندے، لو ھغہ خو مکسور وی اَؤ خو مفتوح دے.
جواب. دا لام مفتوح دے، دَ پارہ دَ دے چہ التباس رانہ شی، دَ مستغاث دَ مستغاث لہ سرہ، پہ ھغہ مخ کښے چہ دَ مستغاث لہ اقامت راشی، پہ ځائے دَ مستغاث باندے. سوال. التباس خو رفع کیږی، پہ عکس سرہ ھم، لو عکس و ولے اونکړو؟ جواب. مستغاث واقع کیږی، پہ ځائے دَ کاف خطابی باندے اَؤ کلہ چہ لام جارہ پو ځائے شی، دَ کاف حرفی سرہ، لو ھغہ منصوب وی.

څو یا لزید دلتہ لام دَ پارہ دَ استغاثے دے اَؤ زیدٌ ئے مجرور کړے دے، ځکہ چہ دا پہ اصل کښے لام جارہ دے. سوال. دَلے معرب کیږے شو؟ دا قسم دَ منادیٰ ...... سرہ دَ تحقق دَ علت دَ بنائیت نہ پہ دہ کښے چہ دے واقع دے، پہ ځائے دَ کاف اسمی خطابی باندے اَؤ کاف اسمی خطابی مشابہہ دے، دَ کاف حرفی سرہ اَؤ ھغہ خو مبنی دے، لو لہکار دا دہ چہ دا ھم مبنی وے. جواب. لام استغاثہ داخل لام جارہ دے اَؤ دا مخواص معظمہ مکبرہ دَ اِسم نہ دے، لو قوی شو، پہ دے سرہ جہتہ دَ اسمیتلو ضعیف شو، جہت دَ مشابہت دَ حرف سرہ لرے دے مجرور اوکړے شو، ځکہ چہ لام استغاثہ لام جارہ دے لو جا عمل دَ جر کوی. سوال. چہ څنګہ منادیٰ مجرور کیږی، پہ لام دَ استغاثے سرہ، لو دغہ شان مجرور کیږی، پہ لام دَ تھدید سرہ اَؤ پہ لام دَ تعجب سرہ، لو ھغہ ئے ولے ذکر نہ کړل؟ جواب. دا دواړہ لامونہ داخل دی، پہ لام دَ استغاثے کښے مثال دَ لام تھدید، لکہ یا لزید لاقتلنک اَؤ مثال دَ لام دَ تعجب لکہ یا للماء یا ماتا چہ یا للدواھی، ځکہ چہ مھدد دَ طلب دَ استغاثے کوی، دَ مھدد نہ، دَ پارہ دَ حاضریدلو اَؤ دَ خلاصیدلو دَ غم دَ خصومت نہ، چہ راشہ چہ زہ دے قتل کړم، چہ دَ تکلیف دَ خصومت نہ خلاص شم، اَؤ دغہ شان متعجب طلب دَ استغاثے کوی، دَ متعجب منہ نہ دَ پارہ دَ حاضریدلو اَؤ دَ خلاصیدلو دَ حیرانتیا نہ اَؤ دَ تعجب دَ پارہ دَ ئیم جواب دا دے، چہ منادیٰ پہ مثال دَ دوہ قول کښے چہ یا للماء اَؤ یا للدواھی ھغہ ماء اَؤ دواھی نہ دی، بلکہ منادیٰ دلتہ محذوف دہ، چہ ھغہ قوم دے، یا منادیٰ حذف شو اَؤ اقامت دَ مستغاث لہ راغے، پہ مقام دَ منادیٰ باندے، خو پہ دے جواب باندے سوال واردیږی چہ دلتہ کښے کلہ حذف دَ منادیٰ راغلو اَؤ اقامت دَ مستغاث لہ راغے، پہ ځائے دَ منادیٰ باندے، لو لہکار وہ چہ دا لام دے مکسور وے اَؤ ھر کلہ چہ دا مفتوح وو، لو دَ دے نہ معلومہ شوہ چہ اقامت دَ مستغاث لہ پہ ځائے دَ منادیٰ نہ دے راغلے. جواب. چہ ھر کلہ منادیٰ محذوف اَؤ نسیاً منسیاً اوګرځیدہ لو اقامت دَ مستغاث لہ پہ ځائے دَ مستغاث راغے، لو دغہ کیږے شو،

دغه لره حکم د منادیٰ کلی طور سره۔

ولیفتح لالحاق الفها ولا لام فیه یعنی دا منادیٰ به مبنی وی په فتحه باندې چه کله دې سره الف د استغاثه ملحق شی او چه لام د استغاثه نه وی په کښې، ځکه چه الف دا تقاضا کوی چه زمانه دِ فتحه وی او لام دا تقاضا کوی چه دا مدخول به مجرور وی او په مابین د دوی کښې منافات دے او بل لا زمیږی په دغه صورت کښې اجتماع د مؤثرین نقیضین۔

نحو یا زیداه سوال. ولے مبنی کیږے شو د قسم د منادیٰ؟ ځکه چه اصل په اسماو کښې اعراب دے او بیا مبنی په فتحه سره ولے شو؟ جواب. دا قسم مبنی کیږے شو ځکه چه دے واقع دے په ځائے د کاف اسمی خطابی باندې او کاف اسمی خطابی مشابهه دے د کاف حرفی خطابی سره او هغه مبنی دے، نو دے هم مبنی او گرځیدو او مبنی په فتحه په دې وجه او گرځیدو ځکه چه په آخر د دې کښې الف دے او الف تقاضا د فتحه د ماقبل کوی۔

وینصب ما سواهما او د دې دواړو قسمونو نه علاوه چه هغه منادیٰ مفرد معرفه او منادیٰ مستغاثه ده۔ برابره خبره ده، چه هغه مستغاثه په لام سره او که په الف سره وی، دا به منصوب وی (او یا دا معنیٰ "او منصوب کولے به شی" هغه منادیٰ چه بیرته وی، د منادیٰ مفرد دے، معرفه نه او مستغاثه نه. برابره خبره ده چه لفظاً وی او که تقدیراً.) په شرط د دې سره چه وی معرب ځکه چه د دخول د حرف ندا نه۔ سوال. ځکه چه خو درے اقسام ذکر کړی شوی دی، یو منادیٰ مفرد معرفه، دوهم منادیٰ په لام د استغاثه سره او دریم په الف د استغاثه سره او تا ضمیر د تثنیه راجع کړے دے چه هما دے نو مطابقت راشی په مابین د راجع او د مرجع کښې۔ جواب. ضمیر دلته تثنیه ته راجع دے چه یو منادیٰ مفرد معرفه ده او بل منادیٰ مستغاثه ده مطلقاً۔ برابره خبره ده چه په الف سره وی او که په لام سره وی۔

سوال. ستا دا قاعده منقوضه شوه په یا فتی القوم سره، ځکه چه دا ما سوا د قسمینو مذکورینو ده او منصوب نه ده۔ جواب. نصب عام دے لفظاً وی که تقدیراً دلته اگر که نصب لفظاً نشته، خو تقدیراً دے۔

سوال. دا قاعده منقوضه شوه په یا خمسة عشر سره، ځکه چه دا ما سوا د قسمینو مذکورینو نه ده او بیا هم منصوب نه ده نه لفظاً نه تقدیراً۔ جواب. دا حکم په هغه منادیٰ کښې دے چه معرب وی ځکه د دخول د حرف ندا نه او دا خو معرب نه ده، ځکه د دخول د حرف ندا نه۔ زمونږ دا خبره چه ما سوا د منادیٰ مفرد معرفه نه خلو، قسمونه دی، یو هغه ده چه مضاف وی، دوهم هغه چه شبه مضاف وی، دریم هغه چه نکره وی، څلورم هغه چه نه مضاف او شبه مضاف وی او نه معرفه وی۔

درس نمبر ۱۴۲

نحو یا عبد الله یا طالعاً جبلاً و یا رجلاً لغیر معین مثال د منادیٰ مضاف لکه "یا عبد الله"؟

او مثال د شبه مضاف لکه "یا طالعاً جبلاً" دے. شبه مضاف ځکه نه ولی؟ چه دا اسم سره بل اسم ملحق شی او د اول اسم معنی بغیر د الحاق د بل اسم نه نه پوره کیږی، لکه چه څنګه د مضاف معنی بغیر د مضاف الیه نه نه تمامیږی، بیا جواب خبره ده چه دا دوېم اسم معمول د پاره د اول وی او که نه وی. مثال د هغے چه دا دوېم معمول نه وی، د پاره د اول لکه خمسة عشر، مثال د هغے چه دا دوېم معمول وی د پاره د اول، لکه "طالعاً جبلاً" دلته طالعاً شبه مضاف دے چه د ده معنی بغیر د جبلاً نه نه پوره کیږی او دا جبلاً معمول د پاره د طالعاً دے. سوال. صیغه د اسم فاعل خو هله عمل کوی چه اعتماد یې کړے وی په اشیاء ستة باندې چه هغه مخکښې تیر شوی دی او دلته کښې طالعاً په هغه اشیاء ستة کښې په هیڅ یو هم اعتماد نه دے کړے او دا هم اسم فاعل په معنی د حال او استقبال وی لو دلته خو په معنی د حال او استقبال نه دے. جواب. دا کلام بنا دے په مذهب د هغه چا باندې چه هغوی وائی چه اسم فاعل بغیر د اعتماد نه هم عمل کولے شی، او دوېم جواب دا دے چه دا بنا دے په مذهب د هغه چا باندې چه اسم فاعل کله اعتماد کړے وی په حرف د نداء باندې نو بیا به هم عمل کولے شی. سوال. دا قسم د منادیٰ ولے معرب کړے شو؟ یکار دا ده چه دا مبنی وے، ځکه چه په دے کښې علت د بناء موجود دے چه هغه وقوع ده په ځائے د کاف اسمی خطابی باندې چه هغه مشابهة دے د کاف حرفی خطابی سره او هغه مبنی دے، یکار دا ده چه دا قسم د منادیٰ به هم مبنی کړے شی. جواب. معرب کړے شو دا قسم د منادیٰ، ځکه چه مضاف او شبه مضاف دا د خواص معظمه مکینو د اسم نه دی. پس قوی شو په دے کښې جهت د اسمیت او ضعیف اوګرځید وجهت د مشابهت. سوال. دا قسم منادیٰ ولے منصوب ده؟ جواب. دا منصوب ده په دے وجه چه دا منادیٰ په حقیقت کښې مفعول به ده او مفعول به منصوب وی.

ویا رجلاً لغیر معین دا دریم مثال د نکره دے، دلته د لغیر معین قید د پاره د کشف نه دے، بلکه د پاره د توقیت دے په حال د کون د دے کښې چه دا مقول دی د پاره د غیر معین او دا قسم د منادیٰ معرب ده، ځکه چه دا په ځائے د کاف خطابی باندې نه ده واقع، ځکه چه نکره په ځائے د معرفه نه شی راتلے او منصوب ده، ځکه چه دا په اصل کښې مفعول به ده او مفعول به منصوب وی او مثال د رابع چه نه مفرد وی او نه معرفه وی، لکه "یا حسناً وجهه ظریفاً". سوال. مصنف درے مثالونه ذکر کړل او قسمونه خلور دی، خلورم مثال یې ولے نه دے ذکر کړو؟ جواب. مصنف چه هر کله د انتفاء د هر واحد د قیدینو وضاحت اوکړو، نو په دے سره مثال معلوم شو په خپله د هغے چه په هغه کښې انتفاء د قیدینو راځی. او دا یا دوېم جواب دا دے چه قسم ثالث مثال د پاره د رابع هم جوړیدے شی چه یا طالعاً جبلاً سره به معین اراده کړے شی، نو مثال شو د قسم ثالث او چه غیر معین ترے اراده کړے شی، نو دا مثال شو د پاره د قسم رابع.

درس نمبر ۱۴۳

ولتوابع المنادى المبنى المفردة من التاكيد توابع د منادیٰ هغه منادیٰ چه هغه مبنی وی په ضمه باندې هغه توابع چه هغه مفرد وی مفرد عام دے حقیقتاً وی که حکماً وی، هرکله چه فارغ شو مصنفؒ د بحث د منادیٰ نه، نو شروع یې اوکړه په بحث د توابع کښې پس دے ویل چه "والتوابع الخ". **سوال.** د توابع د پاره خو مستقل بحث موجود دے نو دا یې دلته ولې ذکر کول؟ بیکار دا، چه دلته کښې په بحث د توابع کښې یې توابع د منادیٰ ذکر کړی وے؟
جواب. دا توابع خاص دی او هغه عام دی، دا خاص په دے وجه دی چه په دے کښې جواز د امرینو (یعنی جواز د وجهینو) دے چه هغه حمل دے په لفظ باندې او حمل دے په محل باندې، په خلاف د هغه نورو توابعو نه چه په هغې کښې صرف یوه وجه جلیږي ده، په المبنی کښې الف لام عهدی دی او معهود په دے سره ضمه ده، نو معنی به دا شی، چه توابع د منادیٰ هغه منادیٰ چه مبنی وی په ضمه باندې. هرکله چه منادیٰ یې مقید کړو په قید د مبنی سره، نو په دے سره احتراز اوشو د هغه منادیٰ نه چه هغه معرب وی ځکه چه توابع د معرب توابع د لفظ دی، نو په دے کښې جواز د وجهین نشته او په ضمه سره احتراز راغے، د هغې منادیٰ نه، چه مبنی وی په فتحه باندې، ځکه چه په هغې کښې تعین د نصب دے، لفظاً او محلاً لو دغه شان احتراز راغے، د هغه منادیٰ نه چه مجرور وی په لام د استغاثه سره، ځکه چه هغه معرب ده او په هغې کښې جواز د وجهینو نشته دے او مفرد عام دے حقیقی وی که حکمی وی، مفرد حقیقی هغه دے چه مضاف نه وی او موږ تعمیم اوکړو په مفرد کښې حقیقی او حکمی ته، د پاره د دے چه اعتراض وارد نه شی، په توابع مضافه باندې په اضافت لفظی سره او په شبه مضاف سره، ځکه چه دا دواړه په حکم د مفرد کښې دی اګرکه حقیقتاً مفرد نه دی.

من التاکید یعنی بعض د توابع د منادیٰ نه تاکید دے، دلته ما "من" تبعیضیه دے یا د پاره د بیان دے. **سوال.** دا قاعده ستا منتقضه شوه (یعنی د جواز د وجهین) په دے قول سره چه "یا زید یا زید"، ځکه چه دلته تاکید دے او جواز د وجهین نشته، بلکه تعین د ضمې دے.
جواب. مراد په تاکید سره تاکید معنوی دے، نه لفظی او دا تاکید لفظی دے. **سوال.** چه هرکله مراد په تاکید سره تاکید معنوی دے، نو ولې تا مقید نه کړو په معنوی سره. **جواب.** په تاکید کښې دوه مذهبه دی یو مذهب د سیبویه دے او بل مذهب د نورو نحاتو. د سیبویه په نزد باندې جواز د وجهین په مطلق تاکید کښې دے او د نورو په نزد باندې جواز د وجهین په تاکید معنوی کښې دے او د مصنفؒ په نزد باندې مذهب د سیبویه مختار دے.

من التاکید والصفة وعطف البیان والمعطوف بحرف الممتنع دخول یا علیه یعنی بعض د توابع د منادی نه تاکید دے، صفت دے، عطف بیان دے او معطوف په داسے حرف سره چه ممتنع وی، دخول د یا په هغه باندې (چه هغه معرّف باللام دے) دخول د یا په هغه باندې په دے وجه باندې ممتنع وی، چه اجتماع راشی د آلتین د تعریف)۔ سوال۔ توابع د منادی مفرد معرفه پنځه قسمه دی، نو مصنف ولے بعض ذکر کړل او بعض یې ترک کړل او بعض یې مطلق ذکر کړل او بعض مقید۔ جواب۔ دا حکم جاری کیږي په بعضو کښې او په بعض کښې نه جاری کیږي او په بعض کښې مطلقاً جاری کیږي او په بعض کښې تقییداً جاری کیږي په دے وجه یې په دے طریقه سره ذکر کړل۔

ترفع علی لفظه مرفوع کولے به شی، دا توابع د منادی د وجے د حمل نه په لفظ باندې (یعنی په لفظ د منادی باندې)۔ سوال۔ چه د ترفع د پاره خو صله علی نه راځی، بلکه باء راځی، نو دلته په صله کښې علی ولے راوړلو۔ جواب۔ علی د ترفع د پاره صله نه ده، بلکه دا صله د پاره د محذوف ده، چه حملاً دے، یعنی ترفع حملاً علی لفظه۔ لفظاً چونکه دا منادی مبنی ده په ضمه باندې، نو په تابع د دے باندې به هم ضموی (یعنی مرفوع به وی) او دا منادی مبنی په دے وجه ده، په دے باندې یا داخل شوی ده، اوس دا رفع بعینه ضمه ده او رفع یې حقیقة په دے وجه اوس دے، چه تابع د منادی خو معرب دے او په معرب باندې رفع راځی (او ضمه د پاره د مبنی راځی) او معرب په دے وجه دے، چه یا په دے تابع باندې بالذات نه ده داخله۔ سوال۔ تابع د مبنی، تابع د محل وی۔ پس تا تابع د مبنی تابع د لفظ ولے کړه؟ جواب۔ دا قاعده جاری کیږي، په هغه ځائے کښې چه چرته بنا اصل وی او دلته خو بنا د منادی عارضی ده، چه هر کله ترے نه یا لرے کړے شی، نو معربه ده۔

درس نمبر ۱۴۴

وتنصب علی محله او توابع د منادی هغه منادی چه هغه مبنی وی، په ضمه باندې او هغه توابع چه مفرد وی او دا به منصوب کولے شی، د وجے د حمل نه په محل د منادی باندې ځکه چه محل د دے نصب دے، بنا بر مفعولیة او مفعول خو منصوب وی، نو دا به هم منصوب وی۔ پس په دے کښې جواز د وجهین راغی، یو رفع او بل نصب۔

مثل یا زیدُ العاقلُ والعاقلَ دلته زید منادی مفرده معرفه ده او مبنی ده په ضمه باندې او العاقل ورله صفت دے، که چرته دا حمل شی په لفظ د زید باندې نو مرفوع به وی، ځکه چه په لفظ د زید باندې ضمه ده او که چرته دا العاقل حمل شی په محل د زید باندې نو منصوب به وی، ځکه چه محل د زید دا نصب دے، ځکه چه دے مفعول به دے او مفعول به دا منصوب وی۔

مثال د عطف بیان لکه یا غلام بشرًا او مثال د تاکید لکه یا تمیم اجمعون اجمعین او مثال د معطوف بالحرف چه ممتنع وی دخول د یا په هغې باندې لکه یا زید والحارث الحارث. دلته په دې معطوف باندې دخول د یا حکمه ممتنع دے چه لازمیږی اجتماع د آلتین د تعریف او دا روا نه دے۔ **سوال**. مصنف ولے مثال د صفت ذکر کړو او د لورینئ ذکر نه کړو لکه د تاکید د عطف بیان او د معطوف؟ **جواب**. مصنف مثال د صفت ذکر کړو دا د وجه د شهرت نه، خو په دے جواب **سوال** واردیږی چه د شهرت د وجه نه خو لټرکم نه ذکر۔ **جواب**. د اصل اعتراض نه دا دے چه مصنف مثال د صفت ذکر کړو د پاره د دفع د توهم د دا هم به کیږی چه منادی مفرده معرفه داخو واقع نشوی ده، په ځائے د کاف خطاب اسمی باندې او کاف اسمی خو ضمیر دے او ضمیر موصوف نه واقع کیږی، نو مصنف مثال د صفت راوړلو چه دفع د توهم د متوهم اوشی چه منادی موصوف واقع کیږی۔

والخلیل فی المعطوف یختار الرفع هر کله چه مصنف بیان کړو جوازد د وجهین په توابع د منادی مبنی په ضمه کښې نو شروع یے اوکړو په بیان د اختلاف کښې چه واقع دے په دواړو وجهین کښې۔ پس وے ویل چه والخلیل الخ خلیل ابن احمد نحوی دا استاذ د سیبویه دے او دے چه معطوف منکور کښې چه معطوف وی په حرف سره او ممتنع وی دخول د یا په هغه باندې مختاره کوی رفع لره سره د جواز د نصب نه، ځکه چه دا د هغه په نزد باندې منادی مستقله ده په حقیقت کښې او منادی مفرده معرفه مبنی وی په ضمه باندې او دلته دا لوه رفع ورکړے شوه، ځکه چه ممتنع دے دخول د یا په ده باندې یعنی دا منادی مباشره نه ده په حرف نداء سره۔

وابو عمرو النصب او په دے صورت کښې ابو عمرو نحوی مختاره کوی نصب لره سره د جواز د رفع نه، ځکه چه د هغه په نزد باندې دا منادی مستقله نه ده په حقیقت کښې ځکه چه ممتنع دے دخول د یا په دے باندې، نو دا به شی تابع د محل او محل د منادی مبنی خو نصب دے، ځکه چه دا په حقیقت کښې مفعول به ده، نو دا به هم منصوب وی۔

والبو العباس ان کان کالحسن فکالخلیل ابو العباس دا کنیه ده د مبرد نحوی۔ پس دا محاکمه کړی ده په مابین د خلیل کښې او په مابین د ابو عمرو کښې ابو العباس مبتداء ده او خبر یے محذوف دے چه حاکم بینهما یعنی ابو العباس فیصله په مابین د دوی کښې کړی ده۔ د دے واله که چرته وی دا معطوف مذکوره په شان د هغه علم چه الف لام ورباندې داخل وی او جائز وی انتزاع د الف لام د هغه علم نه په دغه صورت کښې، قول د ده په شان د قول د خلیل دے، په اختیاره رفع کښې سره مجوز د نصب نه، فکالخلیل یعنی فقوله کقول الخلیل، ځکه چه په دے کښې امکان د دے خبرې دے، چه اوګرځی دا منادی مستقله۔

والا فکابی عمرو او که چرته نه وی دا معطوف په شان د هغه علَم چې الف لام ورباندې داخل وی او حالت نحوی انتزاع د الف لام ئې ممکن نه، نو په دغه صورت کښې قول د ده په شان د قول د ابو عمرو دے، په اختیار د نصب کښې شو د جواز د رفع نه، ځکه چې دا منادیٰ مستقل نه دے۔

والمضافة تنصب او توابع د منادیٰ مبنی چې مضاف وی، په اضافت معنوی سره دا به منصوبیږی، ځکه چې توابع مضافه په هغه وخت کښې چې واقع شی عین منادیٰ، نو منصوب کړے شی۔ پس کله واقع شی توابع د بدله د منادیٰ، نو منصوب به وی، په طریقې اولیٰ سره۔ دلته کښې دا المضافة عطف دے په المفردة باندې۔ مثال د صفت مضافه، لکه "یا زیدُ ذا المال" مثال د تاکید مضافه، لکه "یا تمیمُ کلّهم" مثال د عطف بیان مضافه، "یا زیدُ اخا عمرو"۔

درس نمبر ۱۴۵

والبدل والمعطوف غیر ما ذکر حکمه کحکم المستقل مطلقاً او حکم د بدل چې واقع شوے وی د منادیٰ نه، برابره خبره ده چې مبنی وی که معرب او حکم د معطوف په منادیٰ باندې په حال د کون د معطوف کښې چې غیر وی د ما ذکر نه، چې نشوی ممتنع دخول د یا په هغه باندې، په شان چې دا نه وی ذو اللام، نو حکم د هر واحد د دے دواړو هغه حکم د منادیٰ مستقل دے۔ برابره خبره ده که مفرد وی که مضاف وی، شبه مضاف که معرفه وی که نکره وی، ځکه چې بدل په حکم د تکریر د عامل کښې دے او په معطوف کښې حرف عطف قائم مقام د حرف نداء دے۔ **سوال:** دلته خو دوه څیزونه ذکر شوی دی، چې یو بدل دے او بل معطوف دے او تا ورته ضمیر د مفرد راجع کړے دے، په حکمه کښې لیکل دا ما چې تا ویلی وے "حکمهما"۔ **جواب:** افراد د ضمیر په اعتبار د کل واحد سره دے۔ مثال د بدل مضاف، لکه "یا زیدُ اباعبدِ الله" او مثال د بدل شبه مضافه، لکه "یا زیدُ طالعاً جبلاً"۔ مثال د بدل معرفه، لکه "یا زیدُ عمرو" او مثال د بدل نکره، لکه "یا زیدُ رجلاً صالحاً" او د غه شان مثالونه د معطوف دی "علی هذا القیاس"۔ **سوال:** تاسو وئیلی دی چې منادیٰ مفرد معرفه به مبنی وی په ضمه باندې، نو دا قاعده ستا ماتیږی شوه په "یا زیدَ بن عمرو" ځکه چې دا منادیٰ مفرد معرفه دے او سره د دے نه په دے کښې اختیار د فتحې دے، نو مصنف جواب اوکړو په دے سره چې:-

الموصوف بابن وابنة مضافاً الی علم آخر یختار فتحه او هغه علم چې منادیٰ واقع شی، هر علم چې موصوف وی په لفظ د ابن لغیره تا او یا موصوف وی په لفظ د ابنة سره د تا، نو وی چې مضاف وی دا لفظ د ابن یا ابنة بل علم ته، په دے کښې اختیار د فتحې دے ځکه چې دا قسم منادیٰ کثیر الاستعمال دے او کثرت استعمال تقاضا د خفت او د تخفیف کوی او فتحه اخف الحرکات دے۔

واذا نودی معرّف باللام په هغه وخت کښې چې اراده اوکړے شی د نداء د معرف باللام۔

په دې عبارت سره مصنف دفع د اعتراض کوي. **سوال** وارديږي چې دخول د حرفِ نداء ممتنع دے په معرف باللام باندې، ځکه چې لازميږي اجتماع د آلتين د تعريف، نو دا قاعده ستا منقوضه شوله په "يا أيها الرجل ويا هذا الرجل" باندې. نو مصنف **جواب** اوکړو چې "وإذا نودي معرف باللام" چې هغه وخت کښې چې اراده اوکړے شي د نداء د معرف باللام.

قيل يا أيها الرجل يا هذا الرجل يا أيهذا الرجل په توسط د أيها يا هذا يا أيهذا سره. پس خلاصه د جواب دا ده چې دخول د حرفِ نداء په معرف باللام باندې بالذات منع دے، نه بالواسطه. او دلته کښې خو واسطه موجود ده په مابين د حرفِ نداء او د معرف باللام کښې.

درس نمبر ۱۴۶

والتزموا رفع الرجل او نحاتو التزام د رفع د الرجل کړے دے په "يا أيها الرجل" وغيره کښې. په دې عبارت سره مصنف دفع د سوال مقدر کوي. خلاصه د **سوال** دا ده چې "أي" خو منادئ مفرده معرفه ده او منادئ مفرده معرفه خو مبني وي په ضمه باندې او دلته کښې الرجل د دې تابع دے او په تابع د منادئ مفرده معرفه کښې جواز د وجهين دے، نو بيا دا ده چې په الرجل کښې هم جواز د وجهين راشي او سره د دې نه په دې کښې نحاتو التزام کړے دے د رفع د الرجل، نو مصنف **جواب** اوکړو په دې عبارت سره چې "والتزموا رفع الرجل".

لأنه المقصود بالنداء ځکه چې دا رجل مقصود بالنداء دے په "يا أيها الرجل" کښې او أيها خو د پاره د توسط راوړے شوے دے، ځکه دخول د حرفِ نداء په معرف باللام باندې بالذات ممتنع دے.

وتوابعه او نحاتو التزام د رفع کړے دے په توابع د الرجل کښې، په دې عبارت سره هم مصنف دفع د **سوال** مقدر کوي، هغه دا چې هر کله الرجل مقصود بالنداء اوګرځيدو نو دا خو منادئ مفرده معرفه اوګرځيده او په تابع د منادئ مفرده کښې جواز د وجهين دے، نو بيا دا ده چې په تابع د الرجل کښې هم جواز د وجهين وي او امر دا رنګ نه دے، ځکه چې دلته التزام د رفع دے، نو مصنف **جواب** اوکړو چې "وتوابعه"، چې په توابع د الرجل کښې هم التزام د رفع دے.

لأنها توابع معرب ځکه چې دا توابع توابع د معرب دي او توابع د معرب توابع د لفظ وي.

وقالوا يا الله خاصة په دې عبارت سره مصنف دفع دا سوال کوي. **سوال** وارديږي چې تاسو خو وايئ چې حرفِ نداء په معرف باللام باندې بالذات نه داخليږي، نو دا قاعده ستا منقوضه شوه په "يا الله" باندې، چې يا حرف نداء په معرف باللام باندې بالذات داخل دے. پس مصنف **جواب** اوکړو په دې عبارت سره چې "وقالوا يا الله خاصة"، يعنې دا خاص دے په

اَللّٰہ یحمیہ، لکہ چہ بعض نور خصوصیات هَم دي، په لفظ دَ اَللّٰہ کښې، چه حرفِ ندا ورباندې داخلیږي بالذات، په بدل دَ حرفِ نِدا کښې په آخر دَ لفظ دَ اَللّٰہ کښې میم راځي، لکه اَللّٰهُمَّ، دا په بل اسم کښې نه راځي، په خلاف دَ 'یازید زیدَم' نه شي وئیلے، چه حرف جر په باندې داخل شي، اَوْ بیا بیرته حذف شي، نو بیا یې هَم اَثر باقي وي، لکه 'فواللّٰه' نو چه 'واو' بیرته نه حذف شي، نو هَم اَثر یې باقي وي، چه هغه جر دے، لکه 'فاللّٰه' بل خصوصیت دا دے، چه په دے کښې دا الف قطعي گرځیدلے دے، په درج کښې نه ساقطیږي اَوْ پنځم خصوصیت دا دے، چه نزد دَ سیبویه دا موصوف نه واقع کیږي اَوْ چه چرته کښې موصوف واقع شوے دے، نو سیبویه وائي، چه دا بدل واقع دے اَوْ یا چه دخول دَ حرفِ نِدا په هغه الف لام باندې ممتنع دے بالذات، چه کوم الف لام عوضي نه وي اَوْ دلته خو الف لام لازم عوضي نه دي، بیا په دے سوال وارد یږي، چه 'یاالغلامان' کښې خو الف لام لازم عوضي نه دي، نو په دے باندې ولے الف لام داخل دي، نو جواب دا دے، چه دا شاذ دے۔

وَلَكَ فِي مِثْلِ يَا تَيْمُ تَيْمَ عَدِيٍّ الضَّمُّ وَالنَّصْبُ | اَوْ روا دے، ستا دَپاره په مثل دَ یاتیم تیم عدي کښې دا دواړه حرکتونه چه ضمه ده اَوْ نصب دے، په دے عبارت سره مصنفؒ دفع دَ سوال مقدر کوي، هغه دا چه په منادیٰ مضاف کښې خو تعین دَ نصب دے اَوْ دلته ضمه اَوْ نصب دواړه دي اَوْ یا دا چه تا خو وئیلي، چه منادیٰ مفرد معرفه به مبني وي په ضمه باندې، نو ستا دا قاعده منقوضه شوه، په دے ترکیب باندې چه 'یاتیم تیم عدي'، ځکه چه دلته ضمه اَوْ نصب دواړه راغلي دي، نو جواب اوکړو، چه 'ولك في مثل یاتیم تیم عدي الضم والنصب' مراد په دے ترکیب سره هغه ترکیب دے، چه منادیٰ په کښې مکرر وي اَوْ ثاني اسم دِ یلې وي مجرورته، په اضافت سره 'ضمه' په کښې ځکه جائز ده، چه دا منادیٰ مفرده معرفه ده اَوْ منادیٰ مفرد معرفه مبني وي په ضمه باندې اَوْ نصب په دے وجه باندې چه تیم اَوَّل مضاف دے 'عدي' مذکور ته اَوْ ثاني تیم دا تاکید دے دَپاره دَ اَوَّل، چه فصل راغلے دے، په مابین دَ مضاف اَوْ مضاف الیه کښې، لکه دا مذهب دَ سیبویه دے، یا دا چه تیم اَوَّل مضاف دے 'عدي' مقدر ته، په قرینې دَ مذکور سره، لکه چه دا مذهب دَ مبرد دے۔ زده کړه دا چه، تفصیل په دے مقام کښې دا دے، چه منادیٰ ځنې وخت مکرر وي اَوْ مضاف وي، یو بل اسم ته، نو جائز دے، په دے ضمه اَوْ نصب په اَوَّل کښې سره دَ نصب دَ ثاني نه۔ هر چه دَ ضمه دَ اَوَّل، نو دا خو په دې وجه باندې، چه منادیٰ مفرده معرفه مبني وي، په ضمه باندې اَوْ نصب دَ ثاني په دے وجه باندې چه دا منادیٰ یا مضاف دے اَوْ حرف نِدا محذوف دے اَوْ یا تاکید دَ پاره دَ اَوَّل دے هر کله چه دے نصب دَ اَوَّل، نو دا خو یا بنا په دے باندې، چه دا مضاف دے 'عدي' مذکور ته اَوْ تیم ثاني تاکید دے، دَپاره دَ اَوَّل اَوْ یا دا مضاف دے 'عدي' محذوف ته، چه دال دے، په هغې باندې دا مذکور اَوْ دلته مصنفؒ الضم والنصب اووئیلو اَوْ الضم والفتح یې اونه وئیل، ځکه چه دا معرب دے اَوْ په معرب کښې

نصب وي او فتح نه ئي لري.

درس نمبر ۱۴۷

والمضاف الی یاء المتکلم یجوز فیه او هغه منادیٰ چې مضاف وي یاء د متکلم ته نو جائز دي په دې کښې وجوه اربعه، ځکه چې دا قسم د منادیٰ کثیر الاستعمال دے او کثرت استعمال تقاضا د تخفیف کوي، نو تخفیف په کښې پیدا شو په استعمال د وجوه اربعه سره.

یا غلامِيْ ویا غلامِيَ ویا غلامِ ویا غلامَا وبالهاء وقفًا. هغه وجوه اربعه دا دي، دلته د غلام چې منادیٰ ده، نو دې اضافة یاء د متکلم ته راغلې دے، اوّل صورت دا دے چې یاء د متکلم ساکنه شي دویم دا چې دا یاء مفتوحه اووایو. دریم دا چې دا یاء حذف کړو او د میم داکسره دال اوګرځو په حذف د یاء باندې. څلورم وجه دا چې دا یاء په الف بدله شي او میم له د الف د وجې نه فتحه ورکړو او جائز دے الحاق د هاء په دې څلورو واړو صورتونو کښې، لکه 'یا غلامیَه' یا غلامِیَه' یاغلامِهْ' یاغلاماه' د پاره د فرق په مابین د وصل او وقف کښې. **سوال** - دا قاعده ستا منقوضه شوه په یاعدوّيْ باندې چې دا منادیٰ مضاف ده یا د متکلم ته او جائز نه دي په دې کښې وجهین آخرین **جواب.** جواز د وجهینو آخرینو په هغه منادیٰ کښې دے چې مضاف وي یاء د متکلم ته چې مشهوره وي په اضافت سره یاء د متکلم ته چې دلالت اوکړي دا شهرت هغې یاء باندې چې حذف وي په حذف سره یا په قلب سره او په یاعدوّيْ کښې دا اضافت مشهوره نه دے.

وقالوا یا أبي ویا أُمّي ویا أبتِ ویا أُمّتِ فتحًا وکسرًا لکه ویلې دي عربو چې منادیٰ مضاف وي یاء د متکلم ته او دا منادیٰ اب وي، یا ام وي، نو جائز دي په دې کښې دا څلور وجوه چې کومې مخکښې ذکر شوې او د دې نه علاوه نورې وجې هم جائز دي، هغه دا چې دا یاء بدله شي په تاء باندې او دا تاء به مفتوحه وي، ځکه چې دا تا بدل راغلې دے، د یاء مفتوحه نه او تا مکسوره هم ویلې شي ځکه چې کسره مناسب ده د یاء سره چې دلالت اوکړي په دې خبره باندې چې دا تاء بدله راغلې ده د یاء نه.

وبالالف دون الیاء یعني په یا ابتا، او یا امتا کښې بدل د دې یاء نه تاء او الف دواړه راوړل او دا جائز دي، ځکه چې دلته کښې اجتماع په مابین د عوضینو کښې جائز ده په یاء سره یعني بدل د یاء نه تاء او یاء نه شو راوړلے، ځکه چې په دغه صورت کښې اجتماع لازمیږي په مابین د عوض او معوض عنه کښې.

فائده: - او په دا تسا ادیٰ کښې دا وجوه په دې وجه باندې روا دي، چې دا قسم د منادیٰ کثیر الاستعمال دے او کثرت الاستعمال تقاضا د خفت کوي، نو په وجوه کثیره سره په استعمال کښې په دې کښې تخفیف راغلو.

ویا ابن أُمّ ویا ابن عمّ خاصةً مثل باب یا غلامِ په هغه وخت کښې چې منادیٰ ابن وي او مضاف وي ام یا عم ته په حال د کون، د دې ام او عم کښې، چې مضاف نه وي یاء د متکلم

نه جائز دی په دے کښې هغه وجوه اربعه چرته چه په یا غلامی کښې جائز وی او دغه شان په دے کښې هم حذف د ی اوشی او اکتفاء په کسره باندې او شی. د خلاصة مطلب دا دے چه دا حکم په هغه منادی کښې نه دے جاری چه کوم د دے په شان نه وی، برابره خبره ده چه مضاف غیره د ابن نه وی یعنی ابن ابن نه وی یا خو مضاف ابن وی لیکن مضاف الیه ام یا عم نه وی یا وی مضاف او مضاف الیه دواړه د دوی نه علاوه لکه یا غلام اخی.

وقالوا یا ابن امّ ویا ابن عمّ یعنی په یا ابن ام او یا ابن عم کښې دا بله وجه هم جائز ده، چه یاء بدله شی په الف باندې او بیا دا الف هم حذف شی او اکتفاء اوکړے شی په فتحه باندې، د وجه د کثرتِ استعمال، طول د لفظ او د ثقل د تضعیف نه.

درس نمبر ۱۴۸

وترخیم المنادی جائز وفی غیره ضرورة او ترخیم د منادی جائز دے. برابره خبره ده چه د وجه د ضرورت شعری نه وی او که نه وی او په غیر د منادی کښې. د وجه د ضرورت نه ترخیم روا دے او بغیر د ضرورت نه نه دے روا او کثیر الاستعمال دے ترخیم د منادی نه، د غیر حکمه چه مقصود په نداء سره دغه منادی له. پس منادی هغه سرعت کوی په فوات د نداء کښې او شروع اوکړی په مقصود کښې. ترخیم په لغت کښې دم بریدن ته وائی او په اصطلاح کښې هو حذف فی آخره تخفیفا. دا ترخیم حذف دے، په آخر د اسم کښې د پاره د حصول د تخفیف یعنی مقصود پکښې سره مجرد تخفیف دے نه بل څه. سوال. تعریف د ترخیم په جامع نه شو ځکه افراد وله او نه شو تو شته، ترخیم د غیر منادی. جواب. دا تعریف د مطلق ترخیم نه دے، بلکه د خاص ترخیم دے چه هغه ترخیم د منادی دے.

وشرطه أن لا یکون مضافا ولا مستغاثا ولا جملة او شرط د پاره د ترخیم په منادی کښې هغه پنځه دی ځکه په کښې عدم متعین دی او یو وجودی غیر متعین دے، اول شرط عدمی متعین دا دے ـــــ چه دا منادی به مضاف نه وی، ځکه چه که چرے مضاف وی، نو بیا به دا ترخیم خالی نه وی یا به په مضاف کښې ترخیم کیږی او یا په مضاف الیه کښې. که چرے دا ترخیم په مضاف کښې وی، نو لازمیږی ترخیم په وسط کښې او ترخیم خو په آخر کښې کیږی نه په وسط کښې او که چرے دا ترخیم په مضاف الیه کښې وی، نو لازمیږی ترخیم په غیر د منادی کښې، ځکه چه مضاف الیه منادی نه ده، بلکه منادی خو مضاف دے ـــــ دویم شرط عدمی متعین د پاره د ترخیم د منادی دا دے، چه دا منادی به مستغاث نه وی، نه په لام سره او نه په الف سره. هر چه ده په لام سره، نو اوّل د نداء چه هغه نصب دے، دا په دے کښې نه دے ظاهر شوے، نو نه جاری کیږی په دے کښې ترخیم، چه هغه د خواصو د منادی نه دے او هر چه دے مستغاث په الف سره، نو مطلوب په هغې کښې مد د صوت دے او

حذف منافی دے د ندا صوت سره ـــــ دریم شرط عدمي متعین دا دے، چه منادی به جمله نه وی ځکه چه جمله جاری ده په مجری د امثالو باندې او په امثالو کښې تغیر او تبدل نه کیږی بقدر الامکان۔

سوال. مصنف ولې شبه مضاف او مندوب ذکر نه کړل، ځکه چه ماخوذ د شروط عدمیه و نه دے۔

جواب. مصنف ذکر نه کړو شبه مضاف، ځکه چه دے داخل دے په مضاف کښې، نو په ان لا یکون مضافا سره شبه مضاف هم راغلو او مندوب یې ځکه ذکر نه کړو چه دا د ده په نزد باندې منادی نه دی، یعنی په منادی کښې نه دے داخل. سوال. ته خو وائې چه د ترخیم د منادی دپاره دا شرط دے، چه دا به مضاف نه وی، نو دا قاعده ستا منتقضه شوه په یا صاح سره، چه دا مرخم دے، د یا صاحبي نه، چه د صاح اضافت راغلے دے یې د متکلم و ته۔ جواب. دا شاذ دے والشاذ لا یعتبر۔

ویکون اما علما زائدا علی ثلثة احرف

او یا به دا منادی علم وی ځکه چه علم مشهور وی او په حذف یا په ترخیم سره په دیے کښې اشتباه نه راځی، په چا باندې چه زائد وی دا علم په درے حرفو باندې د پاره د دے چه لازم نه شی نقصان په قدر صالح کښې، په دے عبارت سره مصنف شرط وجودی غیر متعین ته اشاره کړی، دا عطف دے په شرطه ان باندې۔

واما بتاء التانیث

او یا به وی دا منادی په تا تانیث سره بیا په دې کښې دا خبره شرط نه ده چه چه علم دې وی او مشتمل دې وی په درے حروفو باند، ځکه چه په دے کښې تاء تانیث راغلې ده او دا د نفس کلمے نه نه ده، نو د حذف دپاره دا متعین شوه، خو شرط په کښې دا دے، چه دا به صفت نه وی، لکه فاسقة د پاره د دے چه التباس په صیغو د مذکر پورے را نه شی۔

فان کان فی آخره زیادتان فی حکم الواحدة

که چرته وی، په آخر د هغه اسم کښې چه د هغه ترخیم کړے شوے وی، زیاتې شوی دوه حرفه د پاره د یو معنی یعنی دا دواړه حرفه د یو معنی د پاره راغلی وی. هر کله چه مصنف فارغ شو د بیان د شرائط د ترخیم نه، نو شروع یې اوکړو په مقدار د محذوف کښې، چه څومره حروف به حذف کیږی. پس دے وئیل چه فان کان دا فی حکم الواحدة متعلق دے په کائنتان پورے، په فی حکم الواحدة سره احتراز راغے، د ارطاة نه، ځکه چه په دے کښې الف او تا خو معاً زیات کړے شوی دی، خو د پاره د معنی واحدی نه دی زیات کړی شوی، ځکه چه اول په دے کښې الف زیات کړے شو د پاره د الحاق او بیا په کښې تاء زیات کړے شو، د پاره د تانیث۔

کاسماء و مروان

لکه اسماء او مروان اسماء وزن د فعلاء دے او په دے کښې زیادت د الف او د همزه راغلے دے، معاً د پاره د معنی واحدے، چه هغه تانیث دے او په مروان

کښې الف اؤ نون معاً زاوړې شوې دي، دَ پاره دَ معنې واحدے، چې هغه تذکیر دے. دَ هغه مثال په زړان کښې الف اؤ نون معاً زیات کړې شوې دي، دَ پاره دَ معنې واحدے اؤ په زهدون کښې واو اؤ نون معاً زیات کړې شوې دي، دَ پاره دَ معنې واحدے اؤ په هندات کښې هم الف اؤ تاء زیات کړې شوې دي، دَ پاره دَ معنې واحدے.

درس نمبر ۱۴۹

او حرف صحیح قبله مدّة وهو اکثر من اربعة احرف اؤ یا وي په آخر دَ هغه اسم کښې، چې دَ هغه دَ تخفیف اراده کړې شوې ده، واتے حرف چې هغه صحیح وي یا حقیقتاً یا حکماً، اؤ مخکښې دَ هغه حرف نه مدّه زائده وي، مده دې ته وائي چې حرف علت ساکن وي اؤ مخکښې دَ هغه نه حرکت موافق دَ حرف علت سره وي، لکه منصور، عمار، ادریس، اشهال وادے چوی، ما اِسم چې په آخر دَ هغه کښې حرف صحیح وي، مخکښې وي دَ هغه مدّه اکثر دَ څلورو حروفونه.

حذفتا دا دواړه حروف نه به په دے دواړو قسمونو کښې حذف کیږي. هر چې دے په قسم اول کښې چې "ان کان فی آخره زیادتان الخ"، دَ دے وجه نه چې رفع دَ وضع سره موافق شي، چې وضع هم دَ دے دواړو حروفو معاً وي اؤ رفع یې هم معاً وي اؤ هر چې ده په دے دوئم صورت کښې چې "او حرفِ صحیح الخ"، دَ دے وجه نه چې دا مثل دَ عربو صحیح نه شي، چې "صُلت علی الاسد وبُلتُ عن النقد"، چې په زمری حمله کوے اؤ دَ گیدړه نه دَ ویرے متیازے کوے، یعنی چې هر کله دِ حرفِ صحیح حذف کړو، نو حرفِ علت به هم ورسره حذف کړو اؤ که چیرے حرفِ صحیح دِ حذف کړو اؤ حرفِ علت دِ پرېږدو، نو دغه مثل به یا دَ عربو لازمیږي، په دغه وخت کښې بنده دَ درس په دوران کښې دا شعر اووے:

هو به چې تخته شي دَ سوبارې به شنه بالکوړې　　زړه چې دِ مښین شو لو بیا سره دو پے دو ماتوه

(یعنی چې حرفِ صحیح دِ حذف کړو، نو حرفِ علت خو به هم حذف کوے) نو به یا اسمار کښې، یا اِسم به یا مروان کښې، یا مروبه یا منصو کښې، یا منص یا عمّار کښې، یا عمّ اؤ یا ادریس کښې یا ادرِ اووایے، به "وهو اکثر من اربعة" سره احتراز اوکړو دَ سعید، دَ ثمود اؤ دَ عماد وغیره نه، ځکه چې دا اکثر دَ څلورو حروفو نه نه دي. سوال: تا خو ویلي دي "حرفٌ صحیحٌ"، نو دا قاعده ستا منقوضه شوه په مدعوٌّ اؤ مرمیٌّ سره، ځکه چې په آخر دَ دے کښې حرفِ صحیح نشته دے اؤ بیا هم دَ دوئ حرف په کښې حذف کیږي. جواب: صحیح عام دے، حقیقتاً وي اؤ که حکماً اؤ په مدعوٌّ کښې حرفِ آخر اګر که صحیح حقیقتاً نه دے ولے حکماً دے. سوال: ستا دا قاعده منقوضه شوه په مختار باندے، ځکه چې په آخر دَ دے کښې حرفِ صحیح دے اؤ ماقبل دَ هغه نه مدّه نه دے، سره دَ دے نه به دے کښې آخري حروفونه نه حذف کیږي. جواب: ملته دَ مدّه نه مراد مدّه زائده دے اؤ دا مدّه اصلیه ده.

وان كان مركباً حذف الاسم الاخير

اَوْ كهٔ چرته وی هغه اسم چه دَ هغهٔ ترخیم غوښتلی شوی وی مرکب، غیر دَ مرکب اضافی اَوْ اسنادی نه، نو په وخت دَ ترخیم کښے به دَ دِے نه اسم اَخیر حذف کیږی، ځکه چه دا اسم اَخیر په منزله دَ تاء تانیث دے په عار عوالی کښے، لکه په بعلبك کښے اوولے یا بعل، اَوْ په خمسة عشر کښے اوولے یا خمسة۔

وان كان غير ذالك فحرف واحد

اَوْ كهٔ چرته وی دا اسم سِوا دَ دِے مذکورو نه، یعنی غیر ما کان فی آخره زیادتان، اَوْ حرف صحیح قبله مدة هو اکثر من اربعة احرف، نو بیا به په وخت دَ ترخیم کښے حذف کیږی یو حرف، یعنی فالمحذوف منه حرف واحد، دَ وجے دَ حصول دَ مقصود نه اَوْ دَ وجے دَ عدم موجب اَوْ سبب دَ حذف دَ زیادت دَ حرف واحد نه، یعنی ملته څهٔ سبب اَوْ موجب نشته، چه دَ یو نه زیات حروف حذف کړو۔

درس نمبر ۱۵۰

وهو فی حکم الثابت علی الاکثر

اَوْ هغه حرف، چه هغه حذف شوے دے دَ آخر دَ منادیٰ نه، دَ پاره دَ ترخیم هغه په حکم دَ موجود اَوْ دَ ثابت کښے دے، بنا په اکثر استعمال باندِ۔ پس دا مابقی به په خپل حال باندِ وی، یعنی چه هر کله حذف دَ آخر دَ منادیٰ رائغی، پس دا المحذوف به نسیاً منسیاً نه وی، بلکه دے به منوی وی اَوْ په حکم دَ موجود کښے به وی۔

فیقال یا حارِ ویا ثمو ویا کرو

دا فاء یا دَ پاره دَ تعلیل دَ، اَوْ یا دا جواب دے دَ پاره دَ شرط محذوف، چه اذا کان الامر کذالك فیقال، اَوْ یا دا دَ پاره دَ عطف راغلی دَ، چه یا حارِ په اصل کښے وو یا حارث۔ پس ثاء تر دے نه حذف کړے شو، دَ پاره دَ ترخیم لیکن دا المحذوف نسیاً منسیاً نه دَ، بلکه دا په حکم دَ ثابت کښے دَ۔ پس مابقی به په خپل حال باندِ پرېښودے شی، نو یا حار به وائی، ځکه چه محکښے دَ محذف دَ ثاء نه په راء باندِ کسره وه اَوْ یا ثمو په اصل کښے یا ثمود وو، دال تر دے نه حذف کړے شو، دَ پاره دَ ترخیم، لیکن محذوف نسیاً منسیاً نه دے، بلکه دا دَ ثابت په حکم دے۔ پس مابقی په خپل حال باندِ پرېښودے شی، کهٔ چرته دا محذوف نسیاً منسیاً وے، نو بیا به بیا واو په ثمو کښے په یا بدلیدو اَوْ میم به مونږ مکسور وئیلو اَوْ ئیلکو۔ په اصل کښے یا کروان وو، الف اَوْ نون تر دے نه معاً حذف شو، دَ پاره دَ ترخیم، لیکن دا محذوف نسیاً اَوْ منسیاً نه دی، بلکه دا په حکم دَ ثابت کښے دی، په دِے وجه مابقی په خپل حال باندِ پرېښودے شو، کهٔ چرته دا محذوف نسیاً منسیاً وو، نو بیا به واو متحرک دَ وجے دَ فتحے دَ ماقبل نه په الف باندِ بدلیدو، اَوْ اوس چونکه دا محذوف په حکم دَ ثابت کښے دے، نو دغه رنګ اعلال په کښے نهٔ شی کیدے، ځکه چه بیا التقاء دَ ساکنین راځی، چه واو په الف بدل شی اَوْ ورسته ضرور پسے الف شی، نو دا دواړه ساکن وضعی دی۔

وقد يجعل اسماً برأسه او كله كله كرځولے شي منادىٰ مرخمه يعنى مابقى بعد الحذف اسم مستقل يعني محذوف نسياً منسيا اوګرځولے شي او جاري كيږي په مابقي باندې احكام د اسم مستقل.

فيقال ياحار ياثمي ياكروا پس ونيلے به شي يا په حارث كښے ياحارُ حكه چه هركله د يے ته ثا حذف كړے شو او يا نسياً منسيا اوګرځيد، نو دا مابقي اسم مستقل شو چونكه دا خو مفرد دے او منادىٰ مفرد معرفه مبني وي په ضمه باندې، نو دا به هم مضموم وي او يا ثمي په اصل كښے ياثمود وو، دال ته نه حذف كړے شو د پاره د ترخيم او دا محذوف نسياً منسياً شو. پس مابقي اسم مستقل شو، چونكه د يے په آخر كښے واو راغلے دے او قاعده چه په آخر د اسم كښے راشي، نو ويے بدليږي په يا باندې. پس واو مونږ په يا باندې بدل كړو او د يا د مناسبت د وجه نه مونږ ضمه كسره وركړه ميم ته، ياثمي شو او ياكروا په اصل كښے ياكروان وو. پس الف او نون دواړه نه حذف شو معاً د پاره د ترخيم پس مابقي اسم مستقل پاتے شو، حكه چه محذوف نسياً منسياً دے، بيا په كښے مونږ اعلال لوكړو، حكه چه مانع د اعلال نه شو موجود چه هغه وقوع د ساكن دے پس د واو نه، نو مونږ واو بدل كړو په الف باندې د وجه د متحرك نه او د فتحه د ماقبل نه، نو ياكروا پاتے شو.

وقد استعملوا صيغة النداء في المندوب او كله كله استعمالوي عرب صيغه د نداء سره د حرف نداء دے چه يا دے، په مندوب كښے، چونكه تصريح يے نه كړے په يا باندې، حكه چه دا مشهوره ده په صيغه د نداء كښے. مندوب "الاسم الذي يندب" سره. مندوب په لغت كښے منديي تعالى چه يوكس په هغه باندې ژړا كوي او شمار د محاسن د هغه كوي، د پاره د دے خبرے چه لوئے خلقو ته معلومه شي، چه موت د دے ميت لويه حادثه عظيمه ده، چه دا ژړا كونكي خلق معذور اوګڼړي، په ژړا كښے لوئي خلق د دوئ سره شريك شي، په ژړا كښے په ژړا د تفجع او تحسر كښے. فرق په مابين د منادىٰ او مندوب كښے دا دے، چه منادىٰ "هو المطلوب اقباله بحرف نائب مناب ادعو لفظاً او تقديراً" ته وائي او مندوب "هو المتفجع عليه" او "بيا" او "وا" ته وائي. پس يا صيغه د نداء ده لو مستعمل كيږي، په مندوب كښے هم د وجه د مشابهت د مندوب د منادىٰ سره د حيثيت د تخصيص نه حكه چه هر واحد د دوئ دواړو نه مخصوص دے، په مابين د خپل قوم كښے ليكن مندوب مختص دے په وا سره، د پاره د دے چه دا نص اوګرځي په ندبه كښے.

المتفجع عليه بيا او وا نو دا مندوب هغه دے، چه غم او حزن كولے كيږي په دے باندې په يا او وا سره. سوال. حكم د مندوب په شان د حكم د منادىٰ مفرد معرفه دے په اعراب او په بناكښے. پس څه وجه ده؟ چه دا نه دے داخل په منادىٰ كښے. جواب. مصنف رحمة الله عليه اوويے چه:

واختص بوا يعني مندوب مختص دے، د منادىٰ نه په وا سره، نو د دے وجه داخل نه شو په منادىٰ كښے.

درس نمبر ۱۵۱

وحکمه فی الاعراب والبناء حکم المنادی. او حکم د مندوب په اعراب او بناء کښې په شان د حکم د منادیٰ دے، څنګه چې منادیٰ مفرد معرفه مبنی وی په ضمه باندې، نو دغه شان مندوب هم دے او چې کله منادیٰ مضاف وی، نو منصوب به وی، دغه شان مندوب هم دے، البته دا خبره ده چې مندوب نکره نه واقع کیږی[1] او نه شبه مضاف او حکم د توابع د مندوب که مفرد وی او که مضاف وی په شان د توابع د منادیٰ دے او حکم د مندوب په شان د حکم د منادیٰ په دے وجه دے چې اعراب او په بناء کښې ځکه چې هر کله په مندوب باندې حرف نداء داخلیږی نو په اعراب او په بناء کښې ورباندې هم حکم د منادیٰ جاری کیږی.

ولك زيادة الالف فی آخره او جائز دے ستا دپاره زیادة د الف یا قائم مقام د الف چې یا او واو دے په آخر د مندوب کښې، ځکه چې مطلوب په دے کښې مد د صوت دے او تطویل دے، خو که چیرته مندوب مضاف وی او یا موصول وی، نو ملحق کیږی به دا الف او یا قائم مقام د دے، نو په مضاف الیه او صله پورے نه په دغه مندوب مضاف پورے[2].

فان خفت اللبس قلت واغلامکیه واغلامکموه که چیرته ته ویریږے په زیادت سره د التباس نه چې التباس به د یو صیغه د بلے سره راشی، نو عدول به او کړے د زیادت د الف نه او د هغے په ځائے به د ماقبل د حرکت مناسب حرف راوړے، لکه واغلامکیه دا واغلامك دے، په صیغه د مؤنث سره. او س که چیرته مونږ دلته الف زیات کړو او واغلامکاه او وایو، نو التباس د مؤنث مخاطبے د مذکر مخاطب سره. پس مونږ د "ك" د حرکت سره مناسب حرف چې یا ده راوړو او واغلامکموه، دا صیغه د جمع مذکر مخاطب ده چې مندوب واقع شوی ده. او س که چیرته دلته زیادت د الف او کړو نو التباس به راشی د جمع مذکر مخاطب د تثنیه د مخاطب سره، لکه چې او وئیلے شی واغلامکماه. او س دلته د میم د حرکت سره موافق واو راوړے شو، ځکه چې په میم باندې ضمه ده.

ولك الهاء فی الوقف او جائز دے ستا دپاره زیادت د ها په حالت د وقف کښې دپاره د بیان د حرف مد (یعنی د حفاظت د حرف مد) لکه واغلامکیه.

ولا یندب الا المعروف او ندبه به نه شی کیدلے مګر په هغه چا باندې چې مشهور وی، یعنی یا علم وی یا غیر علم وی خو چې مشهور وی د پاره د دے چې دا ندبه معذور او ګڼړلے شی په خپله ندبه کښې، ځکه چې هر کله دا مندوب مشهور وی نو نادب څوک په نه به باندې

---

[1] ځکه چې په مابین د مضاف او مضاف الیه کښې شدت اتصال وی، پس که چیرے راوړے شی دغه په مندوب مضاف پورے مندوب موصول کښې، نو ضعیف به شی. اتصال شدید بین المضاف والمضاف الیه ۱۰۰۲۹ ص ۲۰۳

نه ملامته کوی۔

فلا یقال وارجلاه دا تفریع ده په 'لا یندب الا المعروف' باندې او یا دا جزائیه ده، یعنی 'اذا کان الامر کذالك فلا یقال وارجلاه'، ځکه چې رجل معروف نه دے، بلکه نکره ده، غیر معین او غیر معروف دے، لهٰذا مندوب نه شي واقع کېدے۔

وامتنع وازید الطویلاه او ممتنع دے دا ترکیب چې 'وازیدُ الطویلاه'۔ مراد په دې ترکیب سره، هغه ترکیب دے چې الف او ها چې علامه ده، د ندبے، ملحق شوې دي، په صفت پورے، لهٰذا ترکیب ممتنع دے، ځکه چې په مابین د موصوف او د صفت کښې شدت اتصال نشته دے، لکه چې څنګه په مضاف او مضاف الیه کښې دے، یا چې کوم شدت اتصال دے په مابین د موصول او د صلے کښې، لهٰذا مدبه الف، او، ها ملحق کېږي، په موصوف پورے. په محلے د وازیدا الطویلاه، باندې به وایو، وازیداهُ الطویل'۔

خلافاً لیونس مخالفت کړے دے، په دې کښې یونس نحوي هغه والی، چې علامه د ندبے چې الف او ها دي، دا ملحق کېږي، په صفت پورے او د هغه د پاره دوه دلیلونه دي، یو عقلي او دویم نقلي دے۔ هر چې دے عقلي هغه دا دے چې یونس نحوي قیاس د دې په مضاف، مضاف الیه باندې کوي، چې هر کله مضاف الیه باندې علامه د ندبے داخلېږي، سره د دې نه چې په مضاف او مضاف الیه کښې مغایرت دے، بالذات او معناً، نو په صفت باندې خو به په طریق اولیٰ سره علامه د ندبے داخلېږي، ځکه په مابین د دوئ کښې اتحاد بالذات دے، په معنیٰ کښې دے او دلیل نقلي دا دے چې په دې قول د عربو کښې علامه د ندبے ملحق شوې ده، په صفت پورے، لکه 'واجمجمتیي الشامتیناهُ'۔ جواب دلیل عقلي ندا دے چې قیاس ستا په مضاف، مضاف الیه باندې د صفت او د موصوف نه دے صحیح، ځکه چې په مابین د مضاف او د مضاف الیه کښې شدت اتصال دے، په اعتبار د لفظ سره، چې دغه رقم اتصال په مابین د صفت او د موصوف کښې نشته، اګر چې په مابین د مضاف او د مضاف الیه کښې په اعتبار د معنیٰ سره ناقص دے، ولې غرض د نحوي په الفاظو کښې دے او په اعتبار د لفظ سره په مابین د مضاف او مضاف الیه کښې شدت اتصال دے، په نسبت، سره صفت او موصوف وته او جواب د دلیل نقلي نه دا دے، چې دا شاذ دے او 'والشاذ لا اعتبار له'۔

درس نمبر ۱۵۲

ویجوز حذف حرف النداء الا مع اسم الجنس او جائز دے، حذف د حرف نداء د پاره د حصول د تخفیف په وخت د وجود د قرینه کښې، مګر نه دے جائز، حذف د حرفِ نداء، د هغه منادی نه، چې هغه اسم جنس وي، ځکه چې بدل د اسم جنس

قليل الاستعمال دى، په نسبت سره ندا د علم وته، که چرته د يوه نه د وي حرف ندا حذف شي، نو بيا به سبقت نه کوي ذهن يوې خوا ته چې دا منادي ده۔

والاشارة والمستغاث والمندوب

او د دغه شان نه به حذف کيږي حرف ندا د اسم اشاره نه، ځکه چې اسم اشاره په شان د اسم جنس ده په ابهام کښې او د دغه شان د مستغاث او د مندوب نه به هم نه حذف کيږي، ځکه چې مطلوب په دوه حوايو کښې مد د صوت دے او حذف منافي دے د مد د صوت سره۔ پس دغه معارف چې جائز دے په کښې د حرف ندا لرې د حذف نه علم دے۔ بايد خبره ده چې بدل د حرف ندا نه ميم مشدد راغلے دی او که نه موی راغلے لکه په 'يا الله' کښې 'اَللّٰهُمَّ' او ويلے شي، ځکه چې په 'اَللّٰهُمَّ' کښې ميم بدل د يا نه راغلے دے، ولې دا خاص دے، په لفظ د 'الله' پورې او چې بدل نه وی راغلے د حرف ندا نه، لکه 'يوسف اَعرِض عن هذا'۔ په اصل کښې وو 'يا يوسف اعرض'۔ دويم لفظ د 'اَیٌّ' دے چې موصوف وی په معرف باللام سره، لکه 'ايها الرجل' يا لکه 'ايهذا الرجل' دا په اصل کښې 'يا ايها الرجل' او 'يا ايهذا الرجل' دے۔ دريم هغه دے چې مضاف وی مطلق معرفې ته، لکه 'ربنا آتنا' يا لکه 'غلام زيد افعل كذا'۔ دا په اصل کښې وو 'يا ربنا آتنا' او 'يا غلام زيد افعل كذا' وو، او څلورم موصولات دی، لکه 'من لا يزال محسنا احسن الي'۔ دا په اصل کښې 'يا من لا يزال محسنا احسن الي'۔ او هر چې دی مضمرات، نو شاذ ده ندا د هغوي۔

نحو يوسف اعرض عن هذا وايها الرجل

'يوسف اعرض عن هذا'، دا مثال د هغه دے چې منادى علم وى او د وجه د قرينې د مقام نه حذف د حرف ندا راغلى دى، په اصل کښې وو 'يا يوسف او ايها الرجل'۔ دا مثال د هغه دے چې منادى لفظ د اىّ وى، چې دا موصوف وى په معرف باللام سره، نو دلته قرينه لفظيه موجوده نه ده، ځکه چې ايها دا راځي د پاره د توسط په مابين د منادى معرف باللام او د حرف ندا کښې، نو چې دلته کښې هر کله په لفظ کښې حرف ندا موجود نه ده، نو معلومه شوه، چې حرف ندا حذف ده چې دا په اصل کښې 'يا ايها الرجل' دے۔

وشذ اصبح ليل وافتد مخنوق واطرق كرا

او شاذ دى دا مذکوره عبارتونه چې 'اصبح ليل' 'افتد مخنوق واطرق كرا' دى، په دې عبارت سره مصنف دفع د سوال کوى۔ **سوال**. ته خو وائې چې حذف د حرف ندا د اسم جنس نه نه کيږى، نو دلته ستا منقوضه شوه په 'اصبح ليل' 'افتد مخنوق' او 'اطرق كرا' سره، ځکه چې ليل مخنوق او کرا، دا په قول د عرب کښې اسم جنس استعماليږى او سره د دې نه حذف د حرف ندا راغلے دے۔ **جواب**. دا عبارات شاذ دى او په دې باندې به نه شى قياس کېدلے۔ اصبح ليل په اصل کښې وو 'اصبح يا ليل'۔ دا په اصل

کښې قول د هغه ښځې دے چه هغې لره امرء القیس طلاق ورکړے وو د شپې، نو هغې اُوَئیل چه اصبح لیل، که شپې لره صباح شه، یعنی اصبح باللیل او دا وروستو بیا دا ضرب المثل کرځیدلے دے د یاره د شدت د طلب د شي۔ "افتد مخنوق" په اصل کښې دے "افتدِ یا مخنوق"۔ مخنوق هغه کس ته وائی چه د هغه مرۍ هغه کښے شوي وي، په اصلیت کښې یو سړي د بل سړي په مرۍ پسې ایښې وه لهٔ وجه یې اُوَوئے چه "ماله فدیه" یعنی ورلې مالګه لهٔ ځان خلاص کړه۔ "اطرق کرا اِنّه" اصل کښې وو "یا کروان"۔ کروان تنځري ته وائی۔ الف او نون ترې نه حذف شوي دی، د یاره د ترخیم۔ دا لیب د وقوفه مرغۍ ده چه هر وخت یې سر ښکته کړے وي او دا خیال کوي چه خنګ مانه نهٔ ښکاري، د هغه شان زهٔ هم چاته نهٔ ښکارم، "او دا شترمرغ نه په وه ویره کوي، نو چه څوک یې نیسي دا ورته وائی "اطرق کرا اطرق کرا، ان النعامة فی القری" یعنی اے تنځري! سر ښکته کړه، په تحقیق سره شترمرغ په کلي کښې دے، یعنی چا ښکار کړے دے دلوچه که دے سر ښکته کړي، نو ښکاریان یې اونیسي۔ دا هم ضرب المثل دے، چه یو قوي سړے یو ضعیف ته امر اوکړي، په انفراد سره، نو په هغه وخت کښې دا ویلے شي، په کوا کښې دریم شذوذ دی۔ یو دا چه په دے کښې حذف د حرفِ ندا د لفظ سره، دویم د ترخیم په کښې را غلے دے لهٔ دریم د۔ دا مرخم کرځولے شوے دے، اسم بواسطه او په اسم جنس کښې حذف نسیاً منسیاً نه راځي۔

وقد یحذف المنادی لقیام قرینة جوازاً او کله حذف کیږي منادیٰ په وخت په وجود د قرینے کښې۔ برابره خبره ده چه قرینه حالیه وي، که مقالیه وي، په حذف جوازي سره۔ جوازاً صفت دے، د پاره د مفعول مطلق محذوفه، چه حذفاً دے، او بیا جوازاً مؤول دے په تاویل د جائزاً سره، د پاره د دے چه حمل د صوف وصف لازم نهٔ شي، په ما بعد.

مثل الا یا اسجدوا دا مثال د حذف د منادیٰ دے، دلته منادیٰ قوم دے، نو تقدیر به دا شي چه "الا یا قوم اسجدوا" او قرینه په دے باندې دا ده چه یا حرفِ نداء داخله شوې ده په فعل باندې او حال دا دے چه حرفِ نداء په اسم باندې داخلیږي نهٔ په فعل باندې، نو دا قرینه لفظیه ده او الا حرف تنبیه دے او که چرته الّا په تشدید سره او الّا یسجدوا په صیغه د مضارع سره شي، لکه چه دا یو قرأت دے، نو دا به د تنبیه د حذف د منادیٰ نه وَتلے کرځي۔

درس نمبر ۱۵۳

والثالث ما اضمر عامله علی شریطة التفسیر. دریم ځائے د هغه مواضع اربعه نه چه حذف د عامل ناصبه د مفعول به په کښې راځي دے، په حذف وجوبي قیاسي سره، هغه مفعول به دے، چه مقدر کړے شوے وي عامل ناصب د دهٔ په دے شرط سره چه د هغه عامل ناصب به تفسیر راځي وي، په مابعد کښې، د یاره د دے چه اجتماع رانهٔ شي په مابین د مفسَّر او د تفسیر

کیږي - **سوال** . کلمه د ما نه په عبارت والی د مفعول به نه او باد مطلق مفعول نه، که چرته مفعول به نیی والی نو بیا لازمیږي تعریف د مخصوص په عام سره او که چرته مفعول مطلق نیی والی، نو لازمیږي، دا خبره چه تعریف به مانع اونه گرځي. د دخول د غیر نه او داخل به شي په کښې مفعول فیه . **جواب** . کلمه د ما عبارت دے د مفعول به نه د مراد په کل اسم سره مفعول به مجازاً دے، د تبیع د ذکر د عام نه او اراده کړے شوے دے په دے سره خاص او یا دا چه ما عبارت دے، د مطلق مفعول نه او په مطلق مفعول کښې مفعول به هم داخل دے. **سوال** . جمع په مابین د مفسَّر او تفسیر کښې باطله ده، نو څکه به دے ته او نبایلم، چه جمع به دا غلی ده په مابین د مفسر او تفسیر کښې، لکه جاءني رجل اي زید مدلته جمع راغلی ده په دواړو کښې. **جواب** . مُراد په مفسر یعنی تفسیر سره رفع د ابهام ده، چه ناشی وی د محذوف نه او دلته رفع خو د ابهام راغلی ده، د مذکور نه نه د محذوف نه. **سوال** . په آیت کښې جمع په مابین د مفسر او د تفسیر کښې راغلی ده، مثلاً انی رأیت احد عشر کوکباً والشمس والقمر رأیتهم لی ساجدین. دلته اول رأیت مفسَّر دے او دویم رأیت مفسِر دے، نو جمع راغله د دواړو په مابین کښې . **جواب** . دا مفسر نه دے، بلکه دا جمله مستانفه ده او دا جواب واقع شوے دے دپاره د سائل، چه هر کله هغه اووے انی رأیت احد عشر کوکباً والشمس والقمر الآیة، نو سائل توے نه تپوس اوکړو چه په کوم کیفیت دے لیدلی دی، نو ده اووے رأیتهم لی ساجدین، او یا دا چه رأیت کله متعدی کیږي، د دوه مفعولونو ته او کله یو مفعول ته، چه کله متعدی وی یو ته، نو اول دویم رأیت به د دوه دپاره حال وی او که چرته دا متعدی وی د دوه مفعولونو ته، نو دا دویم رأیت به مفعول ثانی وی - **سوال** . شریطه په وزن د فعیلة ده او فعیلة کله په معنیٰ د فاعل راځي او کله په معنیٰ د مفعول راځي لکه دلته خو نه معنیٰ د فاعل صحیح کیږي او نه د مفعول . **جواب** . شریطة په معنیٰ د شرط باندے دے او اضافت یے تفسیریه بیانیه دے یعنی علی شرط هو التفسیر فیما بعده.

وهو کل اسم بعده فعل او شبهه مشتغل عنه بضمیره

او ما أضمر عامله علی شریطة التفسیر، هغه اسم دے (یعنی مفعول به دے) چه وروستو د ده نه فعل وی او یا شبهه فعل وی، په دے شان سره چه هر واحد د دے دواړو نه فارغ وی د عمل نه په دے اسم کښې په سبب د تسلیط د دے دواړو د عمل په هغه ضمیر کښې چه راجع دے، دے اسم ته.

اومتعلقه بحیث لوسلط علیه هو او شبهه او مناسبه

یا متعلق د دغه اسم، یا د دے ضمیر په دے شان سره چه که چرے مسلط کړے شی په معمول، نو د دے اشتغال سره په دغه اسم باندے هغه فعل او یا شبهه فعل او یا هغه چه مناسب وی، د دے فعل سره، په ترادف کښې او په لزوم د نصب کښې.

لنصبه لو دا فعل یا شبه فعل یا مناسب ددے فعل دوئ به نصب ورکوی په اسم ته بنا بر مفعولیت۔ په لعث فعل او شبهه سره احتراز راغلو د زیدٌ ابوك نه، ځکه چه ددے نه وروستو فعل یا شبهه فعل نشته دے او په مشتغل عنه بضمیره سره احتراز راغلو د زیدٌ ضربتُ نه، ځکه چه دلته ضمیر نشته، چه ضربتُ د هغه په عمل مشغول شی، بحیث لو سلط علیه، په دے سره احتراز راغلو د زید ذهب به نه (ځکه چه ذهب نصب نه ورکوی زید لره، ځکه چه دا فعل لازمی دے)۔

سوال۔ ستا دا تعریف جامع او نه کړے شو، ځینی افراد ددے نه خارج شو تر دے نه دا ترکیب چه زیداً عمروٌ ضربه او یا زیداً انت ضاربه، ځکه چه سره د دے چه دا د قبیلے د ما اضمر عامله نه نه دی او دا تعریف ور باندے صادق نه دی، ځکه چه دلته کښے دا فعل او شبهه فعل، پس د اسم نه نه دے بلکه په اول ترکیب کښے اسم پسے وروستو فعل نه دے، بلکه عمرو دے او په دویم ترکیب اسم پسے وروستو ضمیر د انتَ دے۔ **جواب**۔ معنیٰ د بعدیت دا ده، چه دا فعل یا شبهه فعل به پس د دے اسم نه د کلام نه جزء واقع شوے وی، نه دا چه دوئ به یلی وی د اسم سره۔ **سوال**۔ دا مشتغل د پاره چه کله صله عن راشی، نو دا په معنیٰ د اعراض او نا رو غیدو سره راځی او چه کله صله د با راشی، نو بیا به په معنیٰ د تسلیط سره راځی۔ او س که چرته اوله معنیٰ اخلے، نو صله د دے به عن راشی او با به نه وی او که چرے دویمه معنیٰ اخلے، نو صله د دے به با راشی او عن به نه وی او دلته خو د دے صله کښے دواړه حرفونه راغلی دی۔ او س که چرته دواړه مراد کړے شی، نو بیا به لازمیږی عموم د مشترک او دا باطل دے۔ **جواب**۔ دلته په اشتغال هم شته دے چه هغه مقدر دے او د هغه د پاره صله با راغلی ده۔ پس تقدیر به داسے شی چه مشتغل عنه مشتغل بضمیره، اول مشتغل د پاره د فراغت دے او دویم د پاره د تسلیط دے او دویم جواب دا دے چه ابن حاجبؒ په مذهب د امام مالکؒ دے او د هغه په نزد بلا لزوم د مشترک جائز دے او دریم جواب دا دے چه با سببیه ده، یعنی بسبب العمل فی ضمیره۔ **سوال**۔ دا تعریف مانع او نه کړے شو، د دخول د غیر نه او داخل شوه په کښے مبتدا په دے ترکیب کښے چه زید ضربته، ځکه چه تعریف د ما اضمر عامله ور باندے صادقیږی لکه حال دا دے، چه دا د ما اضمر عامله د قبیلے نه نه دے۔ **جواب**۔ شرط په ما اضمر عامله کښے دا دے، چه مانع د عمل د فعل نه په اسم کښے هغه صرف اشتغال دے په ضمیر باندے، که چرته دا فعل یا شبهه فعل د دے ضمیر نه لرے کړے شی، نو دے به عمل کوی په دغه اسم کښے او دلته خو مانع د عمل د ضربته نه په زید کښے مجرد اشتغال په ضمیر سره نه دے، بلکه یو بل امر مهم هم مانع دے، چه هغه ابتدائیت دے، ځکه چه زید مبتدا ده او په مبتدا کښے خو عامل معنوی د مخکښے نه موجود دے۔ او س که چرته فعل هم په کښے عمل وکړی، نو بیا به اجتماع د عاملینو راشی په معلول واحد باندے۔ **سوال**۔ دا تعریف مانع نه شو، د دخول د غیر نه او داخل شو په کښے دا ترکیب چه زیداً کنتُ ایاه۔ دا د قبیلے د ما اضمر عامله نه نه دے او تعریف ور باندے صادقیږی۔ **جواب**۔ مراد په نصب سره نصب دے بنا بر مفعولیت نه بنا بر خبریت او دلته دا بنا بر

ضربت دے نه بنا بر مفعولیت. **سوال**، مثال خو راځي د پاره د وضاحت د ممثل او د توضيح د ممثل راځي نو په مثال واحد سره، نو دلته کښې تعدد د امثله ته څه ضرورت دے؟ **جواب**. تعدد د امثله په اعتبار د تعدد د ممثلاتو سره دے.

نحو زيداً ضربته وزيداً مررت به وزيداً ضربت غلامه دا اول مثال د هغه فعل دے چې دے مشتغل دے په عمل سره په ضمير کښې، چې ممکن دے تسليط د دې په زيد باندې بعينه. دا دويم مثال د هغه فعل دے چې دے مشتغل دے په عمل سره په ضمير کښې، چې ممکن دے تسليط د دې په زيد باندې په اعتبار د مرادف سره، چې هغه جاوزت دے، ځکه چې مررت به مرادف دے جاوزت سره. دريم مثال د هغه فعل دے چې دے مشتغل وي په متعلق د دے اسم باندې، چې ممکن وي تسليط د دې په اعتبار د لازم سره، چې هغه اهنت دے، ځکه چې ضرب د غلام د زيد دا اهانت د زيد دے، نو دلته ضربت عمل کړے دے په متعلق د زيد کښې، چې هغه غلام دے.

وزيداً حبست عليه دا مثال د هغه فعل دے چې مشتغل وي په ضمير باندې په عمل سره، چې ممکن وي تسليط د دې په اعتبار د لازم سره، چې هغه لابست دے، ځکه چې حبس د شي په شي باندې دا مستلزم دے ملابست لره.

وينصب بفعل مضمر يفسره ما بعده په دے مثالونو کښې زيد منصوب دے، په هغه فعل سره چې هغه مقدر دے او تفسير د هغه په مابعد کښې شوے دے چې هغه ضربت جاوزت اهنت او لابست دے. په زيداً ضربته کښې زيد منصوب دے په ضربت سره چې هغه مقدر دے او تفسير د هغه لره مابعد ضربت کړے دے، د هغه شان دا نور مثالونه شو.

درس نمبر ۱۵۴ :-

نو دے کښې دا خبره چې هغه اسم چې واقع دے په مظان د اضمار على شريطة التفسير کښې. هغه په پنځه قسمه باندې دے، اول قسم هغه دے چې مختار په کښې رفع وي سره د جواز د نصب نه. دويم هغه دے چې مختار په کښې نصب دے سره د جواز د رفع. دريم قسم هغه دے چې لازم د رفع وي. څلورم هغه دے چې تعين د نصب وي. پنځم هغه دے چې استواء په کښې د امرينو وي. اوس مصنف د هغه ذکر کوي، نو دے دليل چې :-

ويختار فيه الرفع بالابتداء عند عدم قرينة خلافه او مختاره کړے شوي دي رفع په هغه اسم کښې چې واقع شوے دے په مظان د ما اضمر عامله على شريطة التفسير کښې، بنا بر ابتدائيت يعني په کېدلو د دے سره مبتدا په هغه وخت کښې چې قرينه په خلاف د رفع باندې نه وي موجوده. **سوال**. په وخت د عدم د قرينه په خلاف د

رفع کښې، خو بیا لکار دا دی چه رفع مختاره نه ده، بلکه واجب وه۔ جواب: مُراد په عدم قرینه سره عدم د قرینه مرجحه ده، نه د قرینه مصححه، یعنی قرینه مصححه خو به وارو موجود وي، د رفع د پاره هُم او د نصب د پاره هُم، خو قرینه مرجحه به د رفع د پاره وي او د نصب د پاره به نه وي، لکه "زیدٌ ضربته"۔ دلته کښې قرینه مصححه د پاره د رفع چه هغه تجرد د زید دے کعوامل لفظیه نه او وجود د ماله صلوحیة التفسیر یکې په قرینه مصححه ده، د پاره د پاره نصب، لیکن قرینه مصححه د پاره د رفع، دا مرجحه ده، د نصب نه، چه قرینه مرجحه په رفع کښې هغه سلامتیا ده د حذف نه او د تقدیر نه او په صورت د نصب کښې لازمیږي حذف او تقدیر، چه حذف او تقدیر خلاف الاصل دے۔ حذف او تقدیر په دے شان، چه زیداً ضربته کښې به مونږ وایو چه زیداً منصوب دے او عامل ناصب د دے، چه ضربت دے او هغه حذف دے او مقدر دے۔

اوعند وجود اقوی منها کامّا مع غیر الطلب۔ او یا مختاره ده، رفع په هغه اسم کښې، چه واقع وي په مظان د ما اضمر علی شریطة التفسیر کښې په وخت د وجود د قرینه مرجحه کښې، چه هغه قوي وي سره د هغه قرینه مرجحه نه، چه هغه خلاف وي، د رفع نه، یعنی قرینه مرجحه د رفع قوي وي د قرینه مرجحه د نصب نه، یعنی دلته قرینه مصححه د نصب د پاره هم وي او د رفع د پاره هم وي۔ د غه شان قرینه مرجحه د نصب هُم وي او د رفع هُم، خو قرینه مرجحه د رفع د اقوی وي، د قرینه مرجحه د نصب نه، لکه "امّا" چه کله په امر یا په نهي باندې داخله نه وي۔ مثال ئې دا شي چه قام زیدٌ وامّا عمروٌ فضربته۔ دلته امّا په امر یا په نهي باندې نه دے داخل شوے۔ او س په دے مثال کښې قرینه مصححه د پاره د رفع تجرد د عمرو دے د عوامل لفظیه نه او قرینه مصححه د پاره د نصب هغه وجود د ماله صلوحیة التفسیر دے او قرینه مرجحه د پاره د رفع هغه دخول د امّا دے او قرینه مرجحه د پاره د نصب هغه عطف دے جمله فعلیه باندې۔ ولے دلته کښې قرینه مرجحه د رفع هغه قوي ده، په قرینه مرجحه د نصب باندې، ځکه چه امّا نه داخلیږي، مګر په اسم باندې او بل په دے کښې سلامتیا ده، د حذف او د تقدیر نه او په صورت د عطف کښې خو چه شګه عطف په جمله فعلیه باندې د بیے فعلیه او هي، د غه شان عطف د جمله اسمیه ور باندې هم روا دي او دا امّا ئې مقید کړي په قید د غیر الطلب سره، ځکه چه که چرته دے په امر یا په نهي داخل شي، نو بیا په کښې نصب اولی دے۔

وَاِذَا للمفاجاة یعنی "عند وجود اقوی منها کاذا للمفاجاة"۔ یعنی هغه اسم چه واقع وي په مظان د ما اضمر عامله علی شریطة التفسیر کښې، هغه ذکر وي۔ پس د "اذا" مفاجاتیه نه، نو دلته کښې د هغه صورت په شان یوه قرینه مصححه د رفع ده، بله قرینه مصححه د نصب ده۔ یوه قرینه مرجحه د رفع ده او بله قرینه مرجحه د نصب ده، خو قرینه مرجحه د رفع

اقوىٰ دہ، دَ قرینې دَ مرجحې دَ نصب نه، لکه په دې مثال کښې چه 'خرجتُ فاذا زيدٌ يضربه عمرو'۔ دلته قرینه مصححه دَ پاره دَ رفع هغه تجرد دَ زید دے دَ عوامل دَ لفظیه نه او قرینه مصححه دَ پاره دَ نصب هغه وجود دَ ماله صلاحية التفسير دے۔ قرینه مرجحه دَ پاره دَ رفع هغه دخول دَ اذا دے او قرینه مرجحه دَ پاره دَ نصب هغه عطف دَ جملې فعلیه په جمله فعلیه باندې۔ ولې دلته قرینه مرجحه دَ رفع اقوىٰ دہ دَ قرینې مرجحې دَ نصب نه، ځکه چه دلته دخول دَ اذا دے چه داخلیږي په اسم باندې او بل دا چه دلته سلامتیا ده، دَ حذف او دَ تقدیر نه۔ **سوال**: مصنفؒ په باب دَ ظروف کښې ویلي دي چه پس دَ 'اذا مفاجاتیه' نه مبتدا لازمه ده او دلته کښې والیٰ چه رفع اولیٰ دہ۔ **جواب**: مراد په لزوم دَ مبتدا سره په اعتبار دَ غلبې سره دے، یعنې غلبه دَ واقع کیدو دَ مبتدا پس دَ اذا مفاجاتیه نه۔

ويختار النصبُ بالعطف على جملة فعلية للتناسب او مختاره کړے شوے دے نصب په عطف سره په جمله فعلیه باندې دَ پاره دَ رعایت دَ تناسب، چه عطف دَ جملې فعلیې راشي په جملې فعلیې باندې۔ هرکله چه مصنفؒ فارغ شو دَ بیان دَ اختیار دَ رفع نه، نو شروع یې اوکړه په بیان دَ اختیار دَ نصب کښې۔ پس دے ویلي چه 'ويختار النصبُ'۔

سوال: مصنفؒ ولې مقدم کړو بیان دَ اختیار دَ رفع؟ پکار وو چه بیان دَ اختیار دَ نصب یې مقدم کړے وے، ځکه چه دا بحث دَ منصوباتو دے۔ **جواب**: مواضع دَ اختیار دَ رفع قلیل وو او بل دا چه اختیار دَ رفع ته شرافت حاصل دے، ځکه چه په دې کښې سلامتیا ده، دَ حذف او دَ تقدیر نه، لکه 'خرجت فزيداً لقيته'۔ دلته اختیار دَ نصب دے، دَ پاره دَ دې چه عطف دَ جملې فعلیې راشي په جملې فعلیې باندې، ځکه چه خرجتُ جمله فعلیه ده او زيداً لقيتهُ به هم جمله فعلیه شي، چه دَ زيداً دَ پاره لقيتُ عامل شي۔

وبعد حرف النفي والاستفهام وإذا الشرطية او اختیار دَ نصب دے پس دَ حرف نفي نه، لکه 'ما زيداً ضربتُهُ'۔ دلته مصنفؒ حرف النفي یې اوونه وے، ځکه چه فعل نفي لکه لیس شو، په دې کښې رفع واجب ده بنا بر اسمیة، او دَ حرف استفهام نه پس اختیار دَ نصب دے او پس دَ اذا نه چه منسوب دے شرط ته، لکه دَ استفهام مثال 'أزيداً ضربتَهُ'، او دَ اذا مثال چه منسوب وي شرط ته، لکه 'اذا زيداً ضربتَهُ اضربك'۔ او اذا شرطیه سره احتراز اوشو دَ اذا مفاجاتیه نه، ځکه چه دَ هغه حکم مخکښې تیر شوے دے۔

وحيث وفي الأمر والنهي او پس دَ حیث نه دا عطف دے په 'اذا' باندې، لکه 'حيثُ زيداً اكرمته اكرمك'۔ او په امر او په نهي کښې دا عطف دے په بعد باندې، یعنې چه امر او نهي وروستو دَ دې نه واقع شي، لکه 'زيداً اضربهُ، زيداً لا تضربهُ'۔

اذھی مواضع الفعل حکه چه دا مواضع د فعل دي، لکه نفي شوه یا استفهام شو، داملحق کیږي په فعل پورې، د غه شان 'اذا شرطیه' او 'حیث شرطیه' دا نه داخلیږي مګر په فعل باندې (او چه کوم کله د دوی سره فعل نه وي ذکر، او معلومه شوه چه دلته فعل مقدر دی)۔

درس نمبر ۱۵۵

وعند خوف لبس المفسر بالصفة او مختاره کیږي شرح دی نصب په هغه اسم کښې چه واقع وي په مظان د ما اضمر عامله علی شریطة التفسیر کښې په وخت د خوف د التباس د مفسر کښې د صفت سره۔ **سوال**۔ التباس د صفت د مفسر سره محال دی، حکه چه مفسر خو په حالت د نصب کښې دی او صفت په حالت د رفع کښې دی، او دا دواړه خو نه شي جمع کیدی۔

جواب۔ مراد په مفسر سره خبر دی مجازاً، حکه چه دا خبر په حالت د نصب کښې مفسر دی۔

مثل انا کل شیء خلقناه بقدر مراد په دې ترکیب سره هغه ترکیب دی، کله چه اسم په دې کښې منصوب وي او په فعل مقدر سره، نو دی مفید وي د یاره د معنی صحیح او کله چه هغه اسم چه واقع دی په مظان د ما اضمر عامله علی شریطة التفسیر کښې، دی مرفوع وي، بنا بر ابتدائیت او د دې نه مابعد ورله قول خبر وي، نو بنا په دې تقدیر باندې دی۔ مفید دی د یاره د معنی صحیح لره، او دویم احتمال دا دی، چه دا اسم مرفوع وي، بنا بر ابتدائیت او مابعد د دې نه چه کوم قریب وي هغه صفت وي او وروستو د دې نه خبر وي، نو بنا په دې تقدیر باندې دی، مفید دی د یاره د معنی فاسده، نو په صورت د نصب کښې احتمال د معنی فاسده نشته او په صورت د رفع کښې احتمال د معنی فاسده شته، نو هغه معنی چه محتمل د فساد نه وي، هغه اولی دی، د هغه معنی نه، چه محتمل د فساد وي۔ او س په دې مثال کښې کل شیء واقع دی په مظان د ما اضمر عامله کښې، که چرې دا له موږ نصب ورکړو، نو مفید دی د معنی صحیح او دی به منصوب او ګرځي، په فعل مقدر سره، چه خلقنا دی او وروستو خلقناه ورله مفسر دی او په صورت د رفع کښې، که چرې دی مرفوع شي بنا بر ابتدائیت، نو بیا که چرې وروستو د دې نه دا قول خبر شي، نو دې به مفید او ګرځي د معنی صحیح او تقدیر به دا سې شي چه کل شيء مخلوق لنا بقدر، کل شيء به مبتدا شي، مخلوق لنا بقدر به خبر شي او معنی به د غه وخت کښې صحیح وي او بل صورت د رفع دا دی، چه دا اسم به مرفوع وي بنا بر ابتدائیت او وروستو د دې نه صفت وي او بیا خبر دا خلوی، نو په دې صورت کښې معنی فاسد ورکوي، حکه چه په دغه وخت کښې به تقدیر داسې شي چه کل شيء هو مخلوق لنا کائن بقدر۔ پس دلته به شيء موصوف او هو مخلوق لنا به ورله صفت شي او بقدر به په اعتبار د متعلق سره خبر شي دا وس په دغه صورت کښې التباس د مفسر د صفت سره راغی) او دا معنی فاسده په دې وجه ده، چه په دغه صورت کښې مذهب د معتزله ثابتیږي، حکه چه له سرف دا معنی والخلو نو مطلب به دا شي، چه هر هغه شي چه هغه زموږ

مخلوق دے، نو په دے کښے مخلوق صفت شو د یاره د شی، او صفت قید وی د یاره د موصوف، نو دا به ترے نه معلومه شی چه بعض شیزونه د الله تعالیٰ مخلوق دی او بعض نه دی او دا خو نه دے، مګر مذهب د معتزله دے.

فائده جدیدۀ:- ده کښے دا خبره چه په افعال د عباد کښے اختلاف دے په مابین د معتزلو او د اهل السنت والجماعت کښے. اهل السنت والجماعت والی چه انسان د خپلو افعالو په خپله خالق نه دے، بلکه د دے خالق حقیقی الله پاک (تبارك وتعالیٰ عزوجل) دے او معتزله والی چه انسان د خپلو افعالو په خپله خالق دے، ځکه چه که چرته دے په خپله د خپلو افعالو خالق نه شی، نو بیا به الله تعالیٰ جزا او سزا په څه ورکوی، نو دوی منکر دی د تقدیرنه، مثلاً که یو سړی په تقدیر دالیک دے چه دے به قتل کوی. او س که چرته دے قتل اوکړی، نو دے قاتل شو، او س چه الله تعالیٰ ده له سزا ورکوی، نو دوی والی چه دا خو بعینه ظلم دے، په دے وجه که سزا مستحق به دے هله کیږی، چه دے دا عمل په خپل اختیار اوکړی، نو په دے وجه دوی ځان ته اهل عدل والتوحید والی او بل دلیل د دوی دا دے چه په قرآن کښے الله تعالیٰ فرمائیلی دی چه "فتبارك الله أحسن الخالقين". ملته الله تعالیٰ خالقين راوړے، نو که چرته د الله تعالیٰ نه علاوه بل خالق نه وے، نو بیا الله تعالیٰ له خالقين راوړل څه ویلے نه معلومه شو، چه انسان د خپلو افعالو خالق دے - جواب ورته دا دے، چه ملته کښے خالقين په معنیٰ د "أَحْسَنُ الْمُصَوِّرِيْنَ" دے، نو معتزله والی چه انسان مختار دے او ده ته په خپلو افعالو باندې کامل قدرة حاصل دے، د دوی په مقابله کښے جبریه دی، هغوی والی چه انسان مجبور محض دے، لکه د کڼو په شان، چه څنګه کڼه بے اختیاره ده، دغه شان انسان هم دے.

نکته:- د معتزله (چه دوی ته قدریه هم والی) او جبریه د دواړو د یاره دلیل د قرآن دا آیت دے چه په یوه حصه باندې قدریه استدلال نیسی او په بله حصه باندې جبریه استدلال نیسی، هغه دلیل دا دے، چه "ایاك نعبد وایاك نستعین"، په "ایاك نعبد" باندې قدریه دلیل نیسی. والی چه مونږ په خپلو افعالو باندې اختیار لرو، نو مونږ ستا عبادت کوو، او که جبریه والی چه "وایاك نستعین" اے الله! مونږ مجبور یو او ستا نه طلب د امداد کوو.

حکایت:- مولانا روم دا حکایت په خپل مشهور کتاب "مثنوی" کښے کړے دے، چه یو سړی حضرت علی کرم الله وجهه ته یو سوال راغے، او تپوس ئے ترے نه اوکړو، چه انسان مختار دے، که مجبور دے؟، نو هغوی ورته اوفرمائیل چه "دا یوه پښه اوچته کړه"، هغه والا هم دا او یوه پښه ئے اوچته کړه، بیا ئے ورته اوفرمائیل چه "دا پښه په خپل حالت دغه شان ولاړه پریږده او دا دویمه پښه اوچته کړه"، هغه کوشش اوکړو خو بله پښه ئے اوچته نه کړے شوه. حضرت علی ورته اوفرمائیل، چه "د یوے پښے د اوچتولو اختیار درته شته دے، نو ته مختار ئے او د یوے پښے سره مقابله پښے د اوچتولو اختیار در نشته، نو دومره یو څه مجبور ئے".

لطیفه:- یو جبریه سړے د بل سړی باغ ته د غلا د یاره لاړلو، چه میوو غلا ئے شروع کړه، نو د باغ مالک ورباندې راغے او ورته ئے اووے، چه ته ولے غلا کوے، نو ده ورته اووے، چه نه خو نه دیم خبر، دا

الله ته کوښه رارواڼ کړم، ځکه چه زۀ خو لګیږم د الله د حکم نه لیو. قدم هم نۀ شم پورته کولے او بیا یې سنا باغ طرف ته متوجه کړم او بیا یې ئې راله لاس اوچت کړو او د دوے مېوو د شکولو طاقت یې را پیدا کړه په دے کښې خو زما هیڅ ګناه نشته ـــــ هغه مالک ورته اووے چه "سبه بصبر او کړه" هغه چه کله راواخسته او دے غل له یې راخلاصه کړو نو هغه ضارب ورته اووے چه په دے کښې خو زما اختیار نشته، خدائے پاک زما په لاس کښې طاقت پیدا کړو او لاس یې راله چوکے ته ښکته کړو او بیا یې راله ما چوکه راکړه او بیا یې راله لاس اوچت او کړو او چوکه یې ناله راخلاصه کړه، زما خو خپله څۀ اختیار نشته، نو موږ اهل السنت والجماعت په "وابتغ بین ذالك سبیلا" باندې عمل کوو دے

درس نمبر ۱۵۶

ویستوی الامران فی مثل زید قام وعمروًا اکرمته. او مساوی دی، دواړه امرونه چه رفع ده او نصب دے، یعنی اختیار په کښې د یو نشته، په مثل د دے ترکیب کښې، مراد په دے ترکیب سره، هر هغه ترکیب دے، چه عطف د هغه جملے را غلے وی، چه واقع دے په کښې هغه اسم چه واقع دے په مظان د ما اضمر عامله علی شریطة التفسیر کښې په بله جُمله باندې، چه دے جملے لره دوه جهته دی، یو جهت د اِسمیة په اعتبار د مبتدا سره او بل جهت د فعلیت په اعتبار د خبر سره، مثلاً "زیدٌ قام"، دا اولنۍ جُمله ده، چه دے کل واخستے شی، نو دا کبرىٰ ده او چه جزء یې واخلے، چه قام دے، نو قام فعل دے او ضمیر په کښې مستتر دے، هغه یې فاعل دے، فعل سره د فاعل نه دا جمله فعلیه ده، نو چونکه قام جزء دے، د دے کل نه نو دا صغرىٰ شوه۔ اوس که چرته عطف د دے بلے جملے چه "عمروًا اکرمته" ده، په کبرىٰ باندې راؤلو، نو دا تقاضا د رفع کوی او زید خو مرفوع دے، بنا بر ابتدائیت، عمروٌ به هم مرفوع شی، چه عطف شی په زید باندې او چه عطف د دے په صغرىٰ باندې راؤلو، نو بیا دا تقاضا د نصب کوی، ځکه چه دے به منصوب اکرمتُ په فعل سره او اکرمته به د دے د پاره تفسیر او ګرځی، نو اوس دلته رفع هم جائز ده او نصب هم، او دواړه برابر دی، یعنی یو تهٔ هم ترجیح په بل نه ده حاصله۔ **سوال** ـ عطف په صغرىٰ باندې نۀ صحیح کیږی، ځکه چه صغرىٰ مشتمله ده، په ضمیر باندې چه راجع دے مبتدا وته او دغه شان ضمیر په معطوف کښې نشته۔

جواب ـ ضمیر عام دے لفظاً وی که تقدیراً۔ دلته اګر که لفظاً ضمیر نشته، خو تقدیراً شته، نو تقدیر به داسے شی چه زیدٌ قام وعمروًا اکرمته عنده یا اکرمته فی داره۔ **سوال** ـ مناسب دا ده چه دلته اختیار د رفع وے، ځکه چه په صورت د رفع کښې سلامتیا ده، د حذف او د تقدیر نه، نو دا مرجع پیدا شو۔ **جواب** ـ که په دے کښې سلامتیا ده د حذف نه، نو په صورت د نصب کښې معطوف، معطوف علیه ته قریب دے، نو سلامتیا د حذف نه دا معارض شوه، د قرب د معطوف علیه سره۔ **سوال** ـ تفاوت په صغرىٰ او په کبرىٰ کښې، په قرب او په بعد کښې نشته دے، ځکه چه دواړه جملے غیر مفصولے دی۔ **جواب** ـ عدم تفاوت په مابین د صغرىٰ او کبرىٰ کښې په اعتبار د منتهیٰ د جملتین سره دے او

په اعتبار د مبتدا د جملتين سره صغرئ قريبه ده او کبرئ بعيده ده.

درس نمبر ۱۵۷

وَيَجِبُ النَّصْبُ بَعْدَ حَرْفِ الشَّرْطِ وَحَرْفِ التَّحْضِيْضِ. او واجب دے نصب په هغه اسم کښے، چه واقع وي، په مثال د ما اضمر عامله على شريطة التفسير کښے، چه هغه واقع وي، پس د حرف شرط نه او يا واقع وي، پس د حرف تحضيض نه. د حرف شرط نه، چه وروستو واقع شي. برابره خبره ده، چه دا حرف شرط صراحتاً وي او که ضمناً وي، ځکه چه حرف شرط داخليږي په فعل باندې او داځکه داخليږي په فعل باندې، چه شرط راځي په هغه ځائے کښے، چه په هغه کښے احتمال او ترديد وي، او احتمال او ترديد نه راځي، مګر په فعل کښے. پس حرف شرط داخليږي په فعل باندې. اوس هر کله چه حرف شرط داخل وي په يو ترکيب کښے په اسم باندې، نو هلته به دا خبره معلومه شي، چه دوے داخل دے په فعل باندې، خو هغه حذف شوے دے او دغه شان حروف تحضيض هم دي، چه هغه 'هلا لولا لوما او الا' دي، دا داخليږي په فعل باندې او دا ځکه چه دوي وضع شوي دي، د پاره د لوم او د توبيخ او دغه شان د پاره د تحريض او داخيز ونه نه راځي، مګر په فعل کښے. پس دوي داخليږي په فعل باندې.

مِثْلُ اِنْ زَيْدًا ضَرَبْتَهُ ضَرَبَكَ وَاَلَّا زَيْدًا ضَرَبْتَهُ. 'ان زيداً ضربته ضربك' دا مثال حرف شرط دے، چه داخل دي په اسم، نو دلته واجب دے، نصب د زيد، ځکه چه دے منصوب دے بنا په فعل مقدر او وجه ئے دا ده، چه ان داخليږي په فعل باندې او دلته داخل دے په اسم. پس معلومه شوه دا خبره، چه دلته فعل حذف دے، نو تقدير د عبارت به داسے شي، چه 'ان ضربت زيداً ضربته ضربك' او 'الا زيدا ضربته'. دا مثال د حرف تحضيض دے. دلته حرف تحضيض داخل دے په اسم باندې، نو معلومه شوه، چه دلته فعل حذف دے، ځکه چه حرف تحضيض په فعل داخليږي. پس تقدير د عبارت به داسے شي، چه 'الا ضربت زيداً ضربته'.

وَلَيْسَ اَزَيْدٌ ذُهِبَ بِهِ مِنْهُ فَالرَّفْعُ. په دے عبارت سره مصنف رح دفع د يو سوال کړی، **سوال**. تا خو مخکښے وئيلی دي، چه هغه اسم، چه واقع وي په مثال د ما اضمر عامله على شريطة التفسير کښے، نو چه کله هغه اسم واقع شي، پس د حرف استفهام نه، په هغے کښے اختيار د نصب دے، نو دا قاعده ستا منقوضه شوه، په دے ترکيب سره، چه 'ازيدٌ ذهب به'، ځکه چه دلته زيد واقع دے، پس د حرف استفهام نه او سره د دے نه دلته تعين د رفع دے او اختيار د نصب نشته، نو مصنف رح **جواب** اوکړو، چه دا ترکيب د باب ما اضمر عامله على شريطة التفسير د قبيلې نه نه دے. پس دلته لازمه ده او دا په دے وجه د ما اضمر عامله على شريطة التفسير نه نه دے، چه شرط په ما اضمر عامله کښے دا دے، چه مفسر به ممکن التسليط وي او دلته دا فعل ممکن التسليط نه دے، ځکه چه دا فعل لازم دے، نو

دې اسم لره نصب بنا بر مفعوليت نه شي ورکولې۔ سوال. د ذهب په ځائې دې أذهب فعل متعدي کړے شي، نو دے په ورله نصب ورکړي۔ جواب. أُذهب فعل مجهول دے، د ده نه پس به اسم مرفوع وي، بنا بر مفعول ما لم يسم فاعله۔ سوال. د دے سره بل مناسب فعل راواخله او په دے زيد باندې داخل کړه، چه نصب ورله ورکړي، مثلاً لکه 'يلابس' شو۔ جواب. مراد په مناسب سره هغه دے، چه مرادف وي، د فعل سره او يا لازم وي، د فعل سره، سره د اتحاد نه په مسند اليه کښې او دلته اتحاد په مسند اليه کښې نشته۔

وكذالك كل شيء فعلوه في الزُّبُر

په دے عبارت سره مصنف يو شبه لرے کوي۔

سوال. تاسو ويلي دي، چه هغه اسم چه واقع وي، په مظان د ما اضمر عامله على شريطة التفسير کښې، چه موجود شي په دے کښې دوه قرينے صحيح، چه هغه د جانبين نه وي، نو قرينه د رفع اقوى وي، د قرينے د نصب نه، نو هغے کښې اختيار د رفع دے، نو دا قاعده منقوضه شوه، په دے مشهوره ترکيب سره، چه 'كل شيء فعلوه في الزُّبُر'، ځکه چه دا د دے قبيلے نه نه دے او سره د دے نه په دے کښې اختيار د رفع نه دے، بلکه تعين د رفع دے۔ جواب اوکړو مصنف په دے قول سره، وكذالك كل شيء فعلوه في الزُّبُر، چه دا ترکيب هم د هغه ترکيب په شان د ما اضمر عامله د قبيلے نه نه دے، ځکه چه په ما اضمر عامله على شريطة التفسير کښې شرط دا دے، چه وي به مفسر ممكن التسليط او دلته دا فعل ممكن التسليط نه دے، ځکه چه که چرته دا فعل موخر په اسم باندې داخل کړو، يعني 'فعلوه كل شيء'، او دا به لو معنى کښې فساد لازميږي، ځکه چه زبر محل د افعالو د عبادو نه دے، بلکه دا محل د کراماً کاتبين دے، يعني په دغه صحيفو کښې کتابت کراماً کاتبين کوي، په دليل د دے قول د باري تعالى وكل صغير وكبير مستطر (په هغه ټولو عبارت کښې كل دا هغه اسم دے، چه واقع دے، په مظان د ما اضمر عامله على شريطة التفسير کښې.

ونحو الزانية والزاني فاجلدوا كل واحد منهما

په دے عبارت سره مصنف دفع د سوال کوي۔ سوال دا دے، چه هغه اسم چه واقع وي، په مظان د ما اضمر عامله على شريطة التفسير کښې، چه د هغه نه وروستو امر او يا نهي راشي، نو په هغے کښې اختيار د نصب دے، دا قاعده ستاسو منقوضه شوه، په دے ترکيب سره، چه 'الزانية والزاني فاجلدوا' الآية، ځکه چه دلته 'الزانية والزاني' دا ذکر دي، په مظان د ما اضمر عامله على شريطة التفسير کښې، او د دوي نه وروستو امر راغلے دے، چه 'فاجلدوا' دے، نو بکار دا ده چه په دے کښې هم اختيار د نصب وے، نو جواب اوکړو مصنف په دے عبارت سره چه 'ونحو الزانية الخ'۔ دلته په دے کښې تعين د رفع په دوه وجه باندې دے، چه د قراء سبعه اتفاق په دے باندې دے چه دا مرفوع دي، که په قراءة شاذه کښې دا منصوب راغلے دے۔ پس مخالفت د دے ضابطے نه د استثناء د پاره لا لکه، ځکه که چرته د ضابطے موافق عمل کوو، نو لازميږي مخالفت د قراء سبعه د اتفاق نه پس متعين شو رفع.

الفاء بمعنى الشرط عند المبرد

په فاجلدوا کښې دا فاء په معنى د شرط باندې ده، په نزد

ابوالعباس مبرد، ځکه چې په الزانیة کښې الف لام په معنیٰ د اللتي سره دے 'لُوْ' زانیه به په تاویل د تزنی سره شی، اَوْ دا به مبتدا اوګرځی چې متضمن د معنیٰ د شرط لره اَوْ فاء به جزائیه راشی د غه شان په الزانی کښې هم، نو هرکله چې دا فاء جزائیه شوه، نو دا عمل نه کوی 'یعنی مابعد د دے عمل نه کوی' په ماقبل کښې ـ پس فاجلدوا اما ممکن التسلیط نه شو، ځکه چې د ده دپاره متوسط دے 'د فاء' نه، اَوْ شرط په ما اضمر عامله کښې دا دے چې دا به ممکن التسلیط وی

وَجُملتان عِند سِیبویه اَوْ په نیز د سیبویه باندے [۲] دوه جملے مستقلے دی، په دے شان سره چې الزانیةُ اَوْ الزانی مبتدا سره مضاف حذف دے اَوْ خبر ئې هم حذف دے نو تقدیر به دا دے شی چې حکم الزانیة والزانی فیما سیتلی علیکم، دا یو جمله مستقله شوه اَوْ فاجلدوا کلَّ واحدٍ منهما دا بله جمله شوه، جمله مستقله تفسیر واقع شوی د، د پاره د ماقبل جملے، نو دا فاء د سیبویه په نیز زائده د اَوْ د پاره د تفسیر راغلی د اَوْ یو جمله په بله جمله کښې عمل نه شی کولے، نو ځکه فاجلدوا په ماقبل کښې عمل نه شی کولے نو دا ممکن التسلیط نه شو ـ پس شرط د ما اضمر عامله په کښې موجود نه شو، نو دا د قبیلے د ما اضمر عامله نه ګرځیده

والا فالمختار النصب اَوْ که چرته داسے نه وی، لکه چې ځکه مبرد والا چې دا فاء د پاره د شرط ده اَوْ یا لکه چې ځکه سیبویه والی چې دا دواړه جملے مستقلے دی، نو مختاره نصب دے، ولے دا نه دے صحیح، ځکه چې په دغه وخت کښې لازمیږی، مخالفت د اتفاق د قراء سبعه نه د په دے وجه دا په معنیٰ یا په مذهب د مبرد حمل کولو آیتیا په مذهب سیبویه باندے

درس نمبر ۱۵۸

الرابع التحذیر وهو معمول بتقدیر اتّق: څلورم ځائے د دغه مواضع اربعه نه چې حذف د عامل ناصبه د مفعول به په کښې راځی، د وجه د موجود د قرینے او د سد نه چې حذف وجوبی قیاسی سره، هغه موضع د تحذیر دے ـ قرینه دلته کښې نصب د معمول دے اَوْ سد مسد دلته کښې اقامت د معمول دے، په ځائے د عامل باندے ـ زده کړه ما خوږه چې تحذیر په **لُغت** کښې تخویف عن الشيء وتبعیدا عنه ته وائی اَوْ په **اِصطلاح** د نحاتو کښې 'هو معمولٌ بتقدیر اتّق' دا هغه اِسم دے، چې دے منصوب واقع شوے وی، په اتّق سره، چې هغه مقدر وی ـ **سوال**. معمول صیغه د اِسم مفعول ده لوګا ذات مع الوصف دے اَوْ هو ضمیر راجع دے 'تحذیر' ته، چې هغه مصدر دے اَوْ مصدر صرف وصف دے، نو حمل د ذات مع الوصف راغلے، په صرف وصف باندے اَوْ دا باطل دے ـ **جواب**. مراد په تحذیر سره لغوی تحذیر نه دے، بلکه اصطلاحی دے اَوْ په اصطلاح کښې تحذیر دا اِسم دے 'د ایاک' 'د الزاعو د مفعول به نه ـ

سوال. ستا دا تعریف مانع اَمنه نه دے ځکه چې د دخول د غیر نه اَوْ داخل شو په کښې هغه ضمیر مرفوع چې مستتر دے په اتّق کښې، ځکه چې هغه خو هم معمول د اتّق دے ـ **جواب**. مراد په معمول سره د نصب دے اَوْ ضمیر چې مستتر دے، په اتّق کښې هغه ضمیر د رفع دے ـ **سوال**. تقدیر به ځنګه عمل کوی، ځکه چې دے خو عمل نه

شی کوی۔ جواب۔ دلته په عبارت کښې قلب او تاویل دے۔ قلب داسے چه "وهو معمول بالتق مقدرا" او تقدیر یئے "شیئًا یتقیٰ" په معنیٰ کښې "متقیٰ" دے۔ او معطوف کښې "أتق" ته "فاندفع الاعتراض کما ورد"۔

تحذیراً مما بعده • تحذیراً یا منصوب دے بنا په دے باندې چه دے مفعول مطلق دے، د پاره د فعل مقدر چه "حذّر" دے او یا مفعول له دے، د پاره د فعل محذوف، چه هغه ذکر دے بنا په اول تقدیر به معنیٰ داسے شی چه "حذّر ذلك المعمول تحذیراً مما بعده" او بنا په دویم تقدیر به معنیٰ داشی چه "ذکر ذلك المعمول تحذیراً مما بعده"۔

اوذکر المحذر منه مکرراً او یا ذکر د محذر مکرر وی۔ دا دویم نوعه او قسم د تحذیر دے او دا عطف دے په تحذیراً باند۔ **سوال**۔ عطف د "او ذکر المحذر منه" په "تحذیراً مما بعده" باندې نه صحیح کیږی، ځکه چه تحذیراً مفرد دے او "ذکر المحذر منه" دا جمله ده او عطف د جملې په مفرد باندې غیر صحیح دے۔ جواب۔ دلته دا عطف صحیح دے، ځکه چه په جانب د معطوف علیه کښې "حذر" او "ذکر" فعل مقدر دے، تقدیر به داسے شی چه "حذّر تحذیراً" یا دا چه "ذکر ذلك تحذیراً"۔ **سوال**۔ عطف په حذر او یا په ذکر باندې هم نه دے صحیح، ځکه چه په جانب د معطوف علیه کښې ضمیر راجع دے معمول ته، او په معطوف کښې داسے ضمیر نشته او حالانکه حکم د معطوف او معطوف علیه یو وی۔ جواب۔ دلته ذکر د عائد مقدر دے، هغه به داسے شی چه "او ذکر المحذر منه من نوعه"۔ دویم جواب دا دے چه کله کله حکم د معطوف علیه او د معطوف جدا وی، لکه "رب شاة وسخلتها"، نو دلته دخول د رب ممتنع دے په معطوف باندې۔ دریم جواب دا دے چه دلته ضمیر ته ضرورت نشته، ځکه چه وضع د ظاهر راغلې ده، په ځائے د ضمیر باندې۔ **سوال**۔ په تعریف د تحذیر کښې تالفظ د "او" راوړے دے او دا راغلې د پاره د تشکیک او تشکیک منافی دے د تعریف سره۔ جواب۔ دا د پاره د تشکیک نه دے، بلکه دا د پاره د تنویع دے۔

ضابطه اوس نو که داخبره چه تحذیر کله محذوف وی نو شرط په دے کښې ذکر د محذر منه دے، د پاره د ایقاظ او د تنبیه د مخاطب او چه تحذیر کله محذف منه وی، نو شرط په کښې تکرار د محذر منه دے او چه تحذیر کله محذف وی، نو محذر منه به یا اسم صریحی وی او یا به اسم تاویلی وی، که چرته اسم صریحی وی، نو بیا به دا یا مذکور وی، په واو سره او یا په من سره او که چرته اسم تاویلی وی، نو بیا به دا یا مذکور وی، په واو سره یا په من سره او یا په تقدیر د من سره۔

مثل ایاك والاسد دا په اصل کښې وو "اتق نفسك من الاسد والاسد من نفسك"، نو د جانب د معطوف نه من نفسك حذف کړے شو او اکتفاء اوکړے شو، په هغه باندې چه کوم په جانب د معطوف کښې ذکر دے، بیا تقدیر د عبارت داسے شو چه "اتق نفسك والاسد"، بیا

حذف کړے شي اتق، د وجے د ضیقت د مقام نه، نو باقي پاتے شو "نفسك والاسد". بیا نفس هم حذف کړے شو برائے تخفیف، ځکه چه دا نفس خو راوړے شوے وو د پاره د فصل په مابین د ضمیر د فاعل او د مفعول کښے ځکه چه قاعده ده[۱] په هغه فعل کښے چه هغه د افعال قلوب نه نه وي، نو په هغه کښے چه دواړه ضمیر د فاعل او د مفعول راشي چه هغه راجع وي شئ واحد ته، نو د دواړو په مابین کښے د فصل د پاره نفس راوړلے شي، نو چه هر کله "اتق" حذف کړے شو[۲]، نو نفس هم ورپسے حذف کړے شو او وس پاتے شو "ك والاسد"، نو بیا په ځائے د ضمیر منصوب متصل موږ ضمیر منفصل راوړلو نو "ایاك والاسد" شو۔ دا مثال د هغه دے چه تحذیر په کښے محذور وي او محذر منه اسم صریحي وي او مذکور وي په واؤ سره۔

درس نمبر ۱۵۹

وایاك وان تحذف

دا مثال د هغه دے چه تحذیر په کښے محذور وي او محذر منه اسم تاویلي وي او مذکور وي په واؤ سره۔ دلته کښے دا اسم تاویلي دے، ځکه چه په دے فعل باندې ان داخل دے او دا به په تاویل د مصدر سره کړی شي۔

سوال. محکښې مصنف د تحذیر په تعریف کښے د تحذیر دوه قسمه ذکر کړل، نو بیا دا ده چه دا لو مثال به د اول قسم شي، او دا دوهم مثال به د دوهم قسم شي، حالانکه اول مثال خو د قسم اول د پاره صحیح کیدے شي، خو دا دوهم مثال د دوهم قسم د پاره نه صحیح کیږي[۲]؟

جواب. دا دواړه مثالونه د قسم اول دي، ځکه چه قسم اول په دوه قسمه دے، یو هغه دے چه محذر منه په کښے اسم صریحي وي، او بل هغه دے چه محذر منه په کښے اسم تاویلي وي۔ او س دلته دا دوهم مثال د پاره د تحذیر د دوهم قسم نه شي صحیح کیدے، ځکه چه د تحذیر دوهم قسم دا دے، چه تحذیر په کښے محذر منه وي او تکرار د محذر منه راغلے وي، په دے مثال کښے نه تحذیر د محذر منه دے او نه تکرار د محذر منه راغلے دے۔ **سوال.** د وضاحت د ممثل د پاره خو یو مثال کافي وو، دوه مثالونه ئے ولے راوړل؟ **جواب.** دلته دوه قسمه دي یعنې ممثل دوه دي، نو مثالونه ئے هم دوه راوړل۔ **سوال.** عطف د اسد په ایاك باندې نه صحیح کیږي، ځکه چه تقدیر[۳] په دغه صورت کښے دا دے، چه "ایاك والاسد"، یعنې "اتق نفسك من الاسد والاسد من نفسك (اتق الاسد من نفسك)"

---

۱. په حذف وجوبي قیاسي سره نو د دے په نفس هم حذف کړے شه، لان الفصل بین ضمیر المتصل والمنفصل۔۲ (م۔س)۔

۲. ځکه چه قسم ثاني د تحذیر خو هغه دے چه په هغه کښے تکرار د محذر منه راغلے وي او دلته تکرار نشته او بل دا چه په دے کښے تحذیر محذر منه هم دے۔۲ (م۔س)

۳. قاعده دا ده چه عامل د معطوف په معطوف علیه کښے مقدر وي او تقدیر به داسے شي، کما ذکر استاذي المحترم۔۲ (م۔س)۔

نو اَلقاء دا سد دَ نفس نه متعذره ده. **جواب**. دا اطلاق مبالغتاً دے، لوړ په حقیقت کښے اَلقاء دَ اسد دَ نفس نه، اَلقاء دَ نفس ده، دَ اسد نه (مُراد په نفس سره نفس انسانی دے).

والطریق الطریق دا مثال دَ تحذیر دَ دوئم قسم دے، چه تحذیر به کښے محذر منه وی، او تکرار دَ محذر منه راغلے وی، نو تقدیر به دا سے شی، چه "اتق الطریق".

سوال. تقدیر دَ اتق په اوَلنی قسم دَ تحذیر کښے نه دے صحیح، ځکه چه دا فعل لازمی دے او فعل لازم عمل دَ نصب په مفعولیت سره نه کوی او تقدیر دَ بَعِّد په دوئم قسم دَ تحذیر کښے نه دے صحیح، ځکه چه معنیٰ دَ دوئم مثال ردَ تحذیر دَ قسم ثانی چه الطریق الطریق دے، به دا شی، چه "اتق النفس عن الطریق" دا نه چه "بعِّد الطریق عن النفس". **جواب**. په تعریف دَ تحذیر کښے به مونږه ترمیم اوکړو هغه دا سے، چه "وهو معمول بتقدیر اتق وبعِّد"، نو بَعِّد به لعلو افرادو دَ قسم اوَل دَ تحذیر کښے او په بعض افرادو دَ تحذیر دَ قسم ثانی کښے مقدر کیدے شی، لکه "بعِّد نفسك من الاسد والاسد من نفسك" او لکه "نفسك نفسك" یعنی "بعِّد نفسك"، او مقدر کیږی "اتق" په بعض افرادو دَ دوئم قسم دَ تحذیر کښے لکه "اتق الطریق" (په "الطریق الطریق" کښے). **سوال**. تقدیر دَ اتق په دوئم قسم کښے نه دے صحیح، ځکه چه اتق فعل لازم دے او فعل لازم نصب بنابر مفعولیت نه شی کولے. **جواب**. تقدیر دَ اتق په بعض افرادو دَ دوئم قسم کښے دا دَ باب دَ حذف دَ ایصال نه دے. حذف ایصال دے ته وائی چه یو فعل لازمی، چه هغه هغه متعدی کړے شوے وی، په حرف جر سره لوَ بیا دا حرف جر حذف کړے شی او نصب په خپل حال باندے باقی پاتے شی، نو دے ته حذف ایصال وائی. **سوال** دا راځی، چه تقدیر دَ اتق هم په اوَل قسم دَ تحذیر کښے دَ قبیلے دَ حذف ایصال نه اوګرځی. **جواب**. حذف ایصال دا لوی امر سماعی دے، په دے باندے بل شے نه شی قیاس کیدے. **سوال**. "نفسك نفسك" دا دوئم قسم دَ تحذیر نه دے، ځکه چه دوئم قسم دَ تحذیر خو دا دے، چه تحذیر محذر منه او تکرار دَ محذر به راغلے وی لوَ ملته خو تحذیر محذر دے، نه محذر منه. **جواب**. "نفسك نفسك" په اصل کښے دا دے، چه "بعِّد نفسك مما یؤذیك من العجب والتکبر"، خو په دے جواب باندے **سوال** وارد یږی، چه بنا په دے تقدیر هم نفسك محذر دے. **جواب**. نفسك اګرکه محذر دے، لیکن دے محذر منه دے، په اعتبار دَ لازم سره، ځکه چه عجب او تکبر ورسره لازم دی. **سوال**. "ایاك والاسد" دا دَ تحذیر دَ افرادو نه دے. ولے دے خارج دے دَ دواړو قسمونو دَ تحذیر نه، نو ستاسو تعریف دَ تحذیر جامع نه شو، په اوَل قسم کښے، ځکه چه شرط په اوَل قسم کښے دا دے، چه تحذیر به محذر وی او اسد خو محذر منه دے او په قسم ثانی کښے په دے وجه نه دے داخل، چه شرط په قسم ثانی کښے دا دے، چه تکرار به دَ محذر منه راغلے وی او دلته تکرار دَ محذر منه نه دے راغلے.

جواب : کله چې دا د تعریف د تحذیر نه او ځي، نو په دے کښې څه نقصان نشته دے، ځکه چې دا تابع د تحذیر دے۔

وتقول ایاك من الاسد دا مثال د هغه دے چې تحذیر په کښې محذر وي او محذر منه اسم صریحي وي او مذکور وي، په مَن سره۔

ومن ان تحذف دا مثال د هغه دے چې تحذیر په کښې محذر وي او محذر منه اسم تاویلي وي، په مَن سره، ' ایاك وان تحذف ' دا قول قول د حضرت عمر رضي الله عنه دے فرمائيلي چې ' ایاك وان تحذف الارنب بالعصا '۔ حذف په معنیٰ درولو سره دے۔

وایاك وان تحذف بتقدیر من دا مثال د هغه دے چې تحذیر په کښې محذر وي، او محذر منه اسم تاویلي وي او دے مذکور وي، په تقدیر د من سره۔ دلته من مقدر دے، په دے وجه باندې چې مَن حرف جار دے او حذف د حروف جاره سره د ان وغیره نه دا قیاسي دے، نو ځکه مونږ دا خبره کړې وه، چې محذر منه اسم صریحي وي، په هغه کښې به یا مذکور وي، په واو سره او یا به مذکور وي، په مَن سره او چې کله تاویلي وي، نو یا به مذکور وي، په واو او یا په مَن سره او یا په تقدیر د مَن سره۔

ولا تقول ایاك الاسد لامتناع تقدیر من. او دا سے نه شي ویلے چې ' ایاك الاسد '، چې من مقدر کړے شي، ځکه چې په اسم صریحي کښې تقدیر د من ممتنع دے۔

سوال. صحیح ده دا خبره، ولے کیدے شي چې دلته کښې حرف عطف حذف شوے وي۔ جواب. حذف د حروف جاره سره د اَن وغیره نه خو قیاسي دے لیکن حذف د حرف عطف شاذ دے۔

درس نمبر ۱۶۰

المفعول فیه هو ما فعل فیه فعل مذکور بعض د منصوبالتو نه یا د جنس منصوب نه، هغه مفعول فیه دے۔ دا مفعول فیه هغه اسم دے، چې کړے شوے وي، په دے کښې هغه فعل، چې ذکر وي، ځکه چې د ده نه اخوا مذکور عام دے، مطابقتاً وي که تضمناً، لفظاً وي که تقدیراً او حقیقتاً وي که شبهه فعل وي، دا تعمیمات چې مونږ په تعریف کښې اوکړل، دا د پاره د دفع د اعتراضاتو۔ سوال. ظاهر متبادر د فعل نه فعل اصطلاحي مراد دے، چې لفظ دے او حدث دے او زمانه ده او قابل د پاره د ذکر فقط حدث دے، نو ما قول ستاسو صحیح کیږي، چې ' ما فعل فیه فعل مذکور '۔ جواب. دلته کښې مراد د فعل نه فعل لغوي دے، چې حدث دے۔ سوال. هر کله چې فعل سره مراد فعل لغوي شے، نو ستا دا تعریف مانع و نه کرځیدو،

خپلو افرادو لره اَوْ خارج شوېدے نه دا ترکیب چې "ضربتُ یوم الجمعة"، ځکه چې حدث په دې کښې ذکر نه دے۔ **جواب.** مذکور عام دے، مطابقتاً وی که تضمناً۔ دلته کښې اګر که مطابقتاً نه دے خو تضمناً دے، ځکه چې ضربتُ متضمن دے، معنیٰ د حدث لره چې ضرب دے اَوْ د مطابقة مثال به داشی چې "ضربی یوم الجمعة"۔ **سوال.** ستا دا تعریف جامع نه شو خپلو افرادو لره اَوْ خارج شو ترې نه دا ترکیب چې "یوم الجمعة ضربتُ فیه"، ځکه چې دلته مخکښې فعل نه دے مذکور نه مطابقتاً اَوْ نه تضمناً۔ **جواب.** فعل عام دے لفظاً وی که تقدیراً۔ دلته کښې اګر که لفظاً نه دے، ولې تقدیراً ذکر دے۔ تقدیر د عبارت دا دے چې "ضربت یوم الجمعة ضربت فیه"، اَوْ دا وروستو ضربت دا تفسیر د هغه محذوف واقع شوے دے۔ **سوال.** ستا دا تعریف جامع و نه ګرځېدو خپلو افرادو لره اَوْ خارج شو ترې نه دا ترکیب چې "انا ضاربٌ یوم الجمعة"، ځکه چې دلته فعل نه لفظاً دے اَوْ نه تقدیراً۔ **جواب.** فعل عام دے حقیقتاً وی که شبه فعل وی۔ دلته اګر که حقیقتاً فعل نشته خو شبه فعل موجود دے چې "ضاربٌ" دے۔ **سوال.** ستا دا تعریف مانع او نه ګرځېدو د دخول د غیرو نه اَوْ داخل شو په کښې مفعول به، په دې ترکیب کښې چې "شهدتُ یوم الجمعة"، ځکه چې یوم الجمعة اسم دے، چې فعل فیه فعل مذکور چې شهود دے اَوْ شهود د یوم الجمعة نه دے، بلکې یوم الجمعه د ے۔ **جواب.** قید د حیث په کښې معتبر دے، یعنی مفعول فیه هو ما فعل فیه فعل مذکور، د دے حیث نه چې فعل مذکور په دې کښې شوے دے، نه دا چې ملتبس دے په ده باندې فعل۔ **سوال.** چې هر کله قید د حیث مراد دے، نو بیا ذکر د مذکور ته ضرورت نشته۔ **جواب.** دا ئے راوړو یادو د وضاحت

من زمان اَوْ مکان

دا مِنْ د پاره د بیان د ما راغلے دے، چې هغه ظرف زمان دے اَوْ یا مکان دے۔

وشرط نصبه تقدیر فی

اَوْ شرط د نصب د ده تقدیر د لفظ د فی دے، فی راځي د پاره د ظرفیة اَوْ دا فی به ځکه مقدر وی، که چرته دا لفظاً وی، نو بیا به دا مجرور یکوی اَوْ مصنف دلته کښې شرط نصب اودے اَوْ شرط ئے او نه وئیل، ځکه چې په دې کښې اختلاف دے۔ بعض وائي، چې چرته فی مذکور وی، نو هغه مفعول فیه نه دے، بلکې جار مجرور دی اَوْ بعض وائي، چې که مفعول فیه کښې فی مذکور وی، نو بیا هم هغه مفعول فیه دے، ولې منصوب به نه وی۔

وظروف الزمان کلها تقبل ذالک

اَوْ ظروف زمان برابره خبره ده، چې مبهم وی که محدود دی، معرفه دی اَوْ که نکره وی۔ د دې قبول تقدیر د فی قبلوی، هر چې دے ظرف زمان مبهم چونکه دے جزء دے، د فعل نه، لو دے

مشابهه اوګڼلې شو د مفعول مطلق سره په اتصال د فعل کښې بالذات، لکه دے به هم متصل وي د فعل سره بے د واسطے د في نه او هر چه دے ظرف زمان محدود، نو هغه حمل کړے شوے دے په ظرف زمان مبهم باندې، د وجه د اشتراک نه په ذات کښې چه دا دواړه زماني دي۔

وظروف المكان ان كان مبهمًا قبل ذالك والا فلا.

او ظروف مكان كه چرته مبهم وي، نو هغه قبلوي تقدير د في، ځکه چه دے حمل شوے دے په ظرف زمان مبهم د وجه د اشتراک نه په وصف کښې او که چرته ظرف مکان مبهم نه وي، بلکه محدود وي، نو بیا دا تقدیر د في نه قبلوي، "والا فلا" یعنی "ان لم يكن ظرف المكان مبهمًا فلا يقبل تقدير في"، ځکه چه دے د ظرف زمان سره نه په ذات کښې اشتراک لري او نه په وصف کښې۔

سوال. ظرف مكان محدود دا ته حمل که په ظرف مبهم باندې او تقدیر د في دې په کښې راشي، د وجه د اشتراک د دواړو نه په ذات کښې۔ **جواب.** ظرف مكان محدود په ظرف مكان مبهم باندې نشي حمل کیدے، ځکه چه په دغه صورت کښې لازمیږي استعاره د ستعار نه، ځکه چه ظرف مكان مبهم په خپله د وجه د حمل نه په ظرف زمان مبهم باندې تقدیر د في قبلوي، نو په ده به بل شئ څنګه حمل کړے شي۔

درس نمبر ۱۶۱

وفسر المبهم بالجهات الستّ

په دې عبارت سره مصنف تفسیر د ظرف مكان مبهم ذکر کوي، نو وے وئیل چه "وفسر المبهم" تفسیر د ظرف مکان مبهم کړے شوے دے، په جهات ستة سره، چه هغه یمین دے، شمال دے، قدام دے، خلف دے، فوق دے او تحت دے۔ دلته دا مبهم دا صفت واقع شوے دے د پاره د موصوف محذوف، چه مکان دے، یعنی "فسر المكان المبهم"، قدام یا خلف یا مثلا فوق یا تحت وغیره دا په یو غیر معین مکان دلالت کوي۔

وحمل عليه عند، ولدى وشبههما لابهامهما.

او حمل کړے شوي دي په ظرف مكان مبهم باندې لفظ د عند، دلدى او د دے سره چه کوم الفاظ مشابهه دي، لکه دون شو او یا سوا، د وجه د ابهام نه په دوي کښې یعنی د دوي کښې شراکت راغلو په وصف د ابهام کښې د ظرف مکان مبهم سره، په دې عبارت سره مصنف دفع د سوال کوي۔ **سوال** دا راځي چه تاسو وئیلي دي چه ظرف مکان که چرته مبهم وي، لکه د مبهم تفسیر په جهات ستة سره کړے شوے دے، نو په دے کښې به تقدیر د في وي، نو دا قاعده ستا منتقضه شوه په لفظ د عند او دلدى سره، ځکه چه کوم دا تفسیر په جهات ستة سره نه کیږي او یا عمر

تقدیر دَ فی دے، نو مصنفؒ جواب اوکړو او ذٔ وئے وئیل چه 'وحمل علیه الخ'. چونکه په ظرف مکان کښې ابهام دے، نو په دیے الفاظو کښې هم ابهام دے، نو دَ وجې دَ مشابهت دَ دے ولې نه په ابهام کښې ئې حمل کړے شو، په ظرف مکان مبهم باندې۔

ولفظ مکان لکثرته

او دغه شان حمل کړے شو په ظرف مکان مبهم باندې لفظ دَ مکان دَ وجې دَ کثرت استعمال نه، ځکه چه کثرت استعمال تقاضا دَ خفت کوی لهٰذا نصب هم اخف دے، په دے عبارت سره هم مصنفؒ دفع دَ سوال کوی۔ **سوال** دا دے چه په ظرف مکان مبهم کښې به تقدیر دَ فی وی۔ دا قاعده ستا ماته شوه په لفظ دَ مکان سره ځکه چه دے محدود دے او بیا هم په کښې تقدیر دَ فی دے، نو مصنفؒ **جواب** اوکړو چه لفظ دَ مکان هم حمل کړے شوے دے په ظرف مکان مبهم باندې، دَ وجې دَ کثرت نه ځکه چه په جهاتو ستۀ کښې کثرت استعمال دے)۔

وما بعد دخلت علی الاصح

او ما بعد دَ دخلتُ نه چه کوم اسم راغلے وی هغه به منصوب وی، په تقدیر دَ فی سره، بنا په مذهب اصح باندې نه په غیر اصح سره، په دے عبارت سره مصنفؒ دفع دَ دخل مقدر کوی۔ **سوال** دا دے چه تاسو خو وئیلی چه ظرف مکان مبهم کښې به تقدیر دَ فی وی۔ دا قاعده ستا منقوض شوه په دخلتُ الدار سره، ځکه چه ما بعد دَ دخلتُ نه ظرف مکان محدود دے او بیا هم په کښې تقدیر دَ فی دے، نو **جواب** اوکړو مصنفؒ، په دے قول سره چه ما بعد دخلتُ نه به هغه اسم منصوب وی ځکه چه دے مفعول فیه دے، او په علی الاصح سره مصنفؒ اشاره اوکړه اختلاف ته، په دا قسم اسم کښې چه دیے مذهب اصح دے۔ هغوی وائی چه دا مفعول فیه دے او بل مذهب غیر اصح دے۔ هغوی وائی چه دا مفعول به دے، په تحقیق دَ مذهب اصح باندې چه هر کله دا مفعول فیه اوګرځیدو نو دَ هغوی په نزد با توسع دیے کښې فی مقدر دے او دا منصوب دے، دَ وجې دَ کثرت استعمال نه۔ **سوال**۔ خلاصه دَ مفعول فیه دا ده چه دے به وی مستوٰ دَ فعل نه راځی، چه دَ هغه اتمام شوے وی، په مفعول به باندې او دلته خو اتمام دَ دخلت په دار راغلے دے، په دخلت الدار کښې، نو دَ دیے نه دا خبره معلومه شوه چه دا مفعول به دے او مفعول فیه نه دے۔ **جواب**. دا خبره لازمه په فعل لازمی کښې نه ده، بلکه په فعل متعدی کښې ده او دلته کښې مخول فعل لازمی دے۔ **سوال**۔ بعض دَ خواصو دَ مفعول فیه نه دا ده، چه دَ فعل نسبت مکان خاص ته هم کیږی او مکان عام ته ئے نسبت صحیح دے، لکه لیدو سره وائی چه زهٔ دارالعلوم ته تلے یم، دارالعلوم یو مکان خاص دے او دا هم وئیلی شی چه زهٔ اکوړی ته تلے وم، چه دا یو مکان عام دے، په اکوړی کښې دارالعلوم او غیر دَ دارالعلوم دواړه لو شامل دی او فعل دَ دخول په نسبت سره دار ته دا شان

نه دے نو معلومه شوه، چه دا مفعول به دے او مفعول فیه نه دے ۔ **جواب**: دا حکم په هغه مفعول کښے دے چه نه وی معتبر په مفهوم د هغه کښے نقل د خارج نه داخل ته او د داخل نه خارج ته او دلته معتبر په مفهوم د دخول کښے نقل دے د خارج نه داخل ته ۔

وینصب بعامل مضمر وجوباً شریطة التفسیر او دا مفعول فیه به منصوب وی په فعل مقدر سره برابره خبره ده چه وروستو د هغه عامل مقدره تفسیر راغلے دی که نه وی راغلے لکه "یوم الجمعة" ۔ دا منصوب دے په عامل مقدر سره ځکه چه دے واقع دے په جواب د سوال د متی صمت کښے او دلته تفسیر د دے فعل یا د دے عامل په مابعد کښے نه دے راغلے او دا حذف چه راغلے دے د وجے د قرینے نه، چه هغه سوال د سائل دے، ځکه چه "مذکور فی السوال کالمعاد فی الجواب" وی، یا لکه "یوم الجمعة صمت فیه" ۔ دا مثال د هغه دے چه عامل د مفعول فیه مقدر وی او په مابعد کښے تفسیر راغلے دے، اصل عبارت دا دے چه "صمت یوم الجمعة صمت فیه" ۔

درس نمبر ۱۶۲

المفعول له هو ما فعل لاجله فعل مذکور بعض منصوبات نه مفعول له دے، دا هغه اسم دے چه شے وی د پاره د قصد د تحصیل د ده یا د وجے د وجود د ده نه هغه فعل چه د ده نه مخکښے مذکور وی ۔ مذکور عام دے، مطابقتاً وی که تضمناً، لفظاً وی که تقدیراً وی، حقیقتاً وی که شبه فعل وی ۔ **سوال**: نحو چه کوم احکام ذکرکوی دا خو مدلول احکام دی او مفعول له د قبیلے د منصوبات نه دے او منصوبات خو الفاظ دی چه دال دی ۔ **جواب**: نحاة کله کله احکام د مدلول په دال باندے جاری کوی او یا جواب دا دے چه دلته عبارت په تقدیر سره دے، چه "ما فعل لاجل مدلوله فعل مذکور" ۔ **سوال**: اجله خو په دوه معنو سره راځی، یو معنی حقیقی ده چه هغه علت دے او بله معنی مجازی ده چه معلول دے، نو که چرته اوله معنی اخلو حقیقی، نو دویم مثال نه صحیح کیږی او که چرته دویمه معنی مجازی اخلو، نو اول مثال نه صحیح کیږی او که چرته دواړه اخلو، نو جمع لازمیږی په مابین د حقیقت او د مجاز کښے ۔ **جواب**: دلته اوله معنی حقیقی مراد ده چه علت دے او که ته دا وائے چه دویم مثال نه صحیح کیږی، نو جواب دا دے چه علت په دوه قسمه دے، یو علت غائیه، دویم علت موثره، نو اول مثال د علت غائیه دے، او دویم مثال د علت موثره دے او یا دا چه دلته دواړه معنے مراد دی ۔ که ته وائے چه جمع راځی په مابین د حقیقت او د مجاز کښے یعنی "عموم المجاز" راځی، نو جواب دا دے چه د دے نه مراد امر عام دے ۔

د قیوداتو فوائد **سوال**: نه به درته اوښایم چه مفعول له به وی او مخکښے به ترے

فعل نه وی ذکر لکه په دے قول کښې چه 'تادیباً' په جواب د هغه چا کښې چه او وائی 'لم ضربت زیداً'
هغه او وائی چه 'تادیباً' - جواب. فعل عام دے 'لفظاً وی که تقدیراً' او دلته اګر که لفظاً فعل نه دے
ذکر ولے تقدیراً ذکر دے، ځکه چه 'مذکور فی السوال کالمعاد فی الجواب' - سوال. ځاۀ به دیته او ښیایم
چه مفعول له به وی او ځکښې به ترے فعل نه لفظاً وی او نه تقدیراً، لکه 'انا ضاربٌ زیداً تادیباً' -
جواب. فعل عام دے 'حقیقتاً وی او که شبه فعل وی' دلته کښې اګر که حقیقتاً فعل نشته لیکن
شبه فعل خو شته دے، چه صیغه د اسم فاعل ده، په تعریف د جامعیت او منعیت کښې چه مصنف
فعل مذکور او عیل لوبه کښے سره احتراز دلے د فاعل (مصدر) نه، په دے ترکیب کښې چه 'المجبنی التادیب' ځکه
چه د دے سره فعل نه دے ذکر - سوال. نه منم داخبره چه د دے سره فعل نه دے ذکر بلکه فعل
ورسره 'فی الجملة' راغلے دے - جواب. مراد په مذکور سره مذکور دے معه، یعنی چه د دۀ سره
یعنی دے ورسره په ترکیب کښې واقع وی -

مثل ضربته تادیباً دا مثال د هغه دے چه د پاره د قصد د حصول د دۀ فعل کیږے
شوے وی یعنی واهۀ ضرب د پاره د حصول د تادیب راغلے وی -

قعدت عن الحرب جبناً دا مثال د هغے دے چه د وجے د وجود د هغه نه فعل ظاهر
شوے وی، لکه واخه تعود د منع د وجود د جبن نه راغلے دے -

خلافاً للزجاج فانه عنده مصدر خلاف ثابت دے زجاج لره، ځکه چه دا د هغه په
نزد باندے مصدر دے - سوال. خلافاً لخو مفعول مطلق
دے لۀ واقعده ده، چه مفعول مطلق هغه ته وائی چه فعل په هغه باندے مشتمل وی، د قبیلے د اشتمال د کل
نه په جزء باندے او دلته خو دا سے فعل نشته چه مشتمل وی په خلافاً باندے - جواب. فعل عام
دے، لفظاً وی که تقدیراً او دلته کښې فعل اګر که لفظاً نشته خو تقدیراً یشته، چه هغه یخالف دے -
سوال. مصدر خو هغه ته وائی چه فعل په دۀ باندے مشتمل وی، د قبیلے د اشتمال د کل نه په جزء باندے
او چه هر کله تادیباً مصدر اوګرځی، په دے ترکیب کښې چه 'ضربته تادیباً'، لو ضرب مشتمل نه دے په
تادیب باندے او د غه شان په 'قعدت عن الحرب جبناً' کښې هم قعود مشتمل نه دے په جبن باندے
جواب. اشتمال اعم دے، صریحاً وی که تاویلاً، لو دلته اګر که صریحاً نه دے خو تاویلاً دے، لو د
'ضربته تادیباً' ترکیب او تاویل به دا شی، چه 'ادبته بالضرب تادیباً' او د 'قعدت عن الحرب جبناً'
تاویل به دا شی چه 'جبنت فی القعود عن الحرب جبناً' او یا جواب دا دے چه صحت د تاویل د نوع
په بله نوع باندے دا نه اوکاسی شی لره د حقیقت نه، لکه ضمیح کیږی تاویل د حال په ظرف سره، لو په
دے تاویل سره حال د خپل حقیقت نه نه اوځی -

وشرط نصبه تقدیر اللام اَوْ شرط دَ نصب دَ مفعول له هغه تقدیر د لام دے، ځکه چه کله چرته لفظاً لام ذکر شی، نو په دے سره لازمیږی چې په مفعول له باندې اَوْ که چرته تقدیر دَ لام رانه شی، نو بیا به تر دے نه علیت معلوم نه شی، کوم چې شرط دے، دَ پاره دَ مفعول له۔

درس نمبر ۱۶۳

سوال: چه ځنګه لام راځی، دَ پاره دَ تعلیل، نو داسی خو مِن هُم راځی، دَ پاره دَ تعلیل با هُم دَ پاره دَ تعلیل راځی اَوْ فی هُم راځی، مثال دَ مِن، لکه په دے قول کښې دَ الله تعالیٰ چه "لو انزلنا هٰذا القرآن علی جبل لرأیته خاشعاً متصدعاً مِن خشیة الله"، اَوْ مثال دَ بآء، لکه "فبظلم من الذین هادوا" اَوْ مثال دَ فی، لکه په دے حدیث کښې "انّ امرأة دخلت النار فی هرّة"[1]، نو بیا ولے مصنف خاص کړو، لام دَ پاره دَ تعلیل په ذکر سره۔

جواب: لام غالب الاستعمال دے، په تعلیلاتو دَ افعالو کښې اَوْ تقدیر دَ مِن اَوْ دَ باء اَوْ دَ فی غالب نه دے، په تعلیلاتو دَ افعالو کښې، په دے وجه باندې ئے لام خاص کړو، په ذکر سره۔

وانما یجوز حذفها اذا کان فعلاً لفاعل الفعل اَوْ په تحقیق سره جائز دے حذف دَ لام په هغه وخت کښې چې وی دا مفعول له حدث نه عین دَ پاره دَ فاعل دَ فعل۔

المعلل به هغه فعل چه هغه معلل وی، یعنی تعلیل ئے راغلے وی، په دے سره اَوْ که دا دَ فعل نه حدث دے، عین نه دے۔ پس په دے سره احتراز راغے، دَ دے ترکیب نه چه "جئتك للسمن"۔ دلته کښې دا سمن حدث نه دے، بلکه عین دے اَوْ چه دا ئے اووے چه، "لفاعل الفعل المعلل به"، نو په دے سره احتراز راغے، دَ هغه نه چه دا فعل وی، دَ پاره دَ غیر دَ ځان، لکه دا ترکیب چه "جئتك لمجیئك ایای" اَوْ دَ دے عبارت مصب دا دے، چه فاعل دَ مفعول له اَوْ فاعل دَ هغه فعل، چه کوم عامل دے، هغه به ئے واحد وی۔

ومقارناً له فی الوجود اَوْ دا فعل مذکور به دَ دے مفعول له سره مقارن وی، په وجود کښې یعنی زمانه به دَ دواړو یوه وی، لکه په دے سره احتراز راغے، دَ هغه نه چه زمانه ئے مقارنه نه وی، لکه په دے ترکیب کښې، چه "اکرمتك الیوم لوعدی بذلك امس" اَوْ په مفعول له کښې دا دوه شرائط په دے وجه باندې کیښودے شول، چه په دے شرائطو سره دے مشابهه کړی۔

---

[1] "فی هرّة" - ای لهرّة، په دے حدیث شریف کښې دے واقعے ته اشاره ده، چه یوه ښځه پیشو د ولے نه وژلې ده، نو هغه ښځه په سبب اَوْ علت دَ هلاکت دَ هرّے باندې جهنمی شوه "اللهم لا تجعلنا منها"۔ ۱۲ (م۔س)۔

دَ مصدر سره، نو دے متعلق کیږی یعنی تعلق یئے دَ فعل سره راځی بلا واسطه اَوْ بواسطه دَ فعل زمانه جزء دَ دهٔ دَ زمانے نه. سوال. ته خو وائے چه دَ فعل اَوْ دَ مفعول له فاعل به یو وی، نو په هغه ځائے کښے به تقدیر دَ لام وی، نو دا قاعده ستا منقوضه اوګرځید په دے ترکیب سره چه ان اتاه الله الملك ځکه چه دلته دَ دواړو فاعل یو نه دے، ځکه چه دَ ملك فاعل خو ود دے لو آتاه فاعل الله دے اَوْ په اصل کښے دا داسے وو چه لاجل ان آتاه الله الملك؟ جواب. دا قانون چه کوم موږ ذکر کړو دا په مصدر صریحی کښے دے نه په مصدر تاویلی کښے اَوْ دلته دا مصدر صریحی نه دے بلکه تاویلی دے. سوال. پکار ده چه دَ وانما یجوز حذفها؟ په ځائے تا صرف وانما یجوز وئیلی وے نو په عبارت کښے به خه اختصار هم راغلے وو اَوْ مطلب به یئے هم ادا کړے وو اَوْ په یجوز کښے به ضمیر تقدیر ته راجع ګرځیدلے وو، نو معنیٰ به یئے صحیح وکړی وه. جواب. مصنف صرف په یجوز باندے اکتفاء اونه کړه اَوْ ورسره یئے حذفها هم ذکر کړو ځکه چه تقدیر وئیلے شی حذف اَوْ اسقاطه په لفظ کښے، نه په نیت کښے اَوْ حذف مطلق اسقاط ته وائی. برابره خبره ده چه سره دَ بقاء نه وی په نیت کښے اَوْ که نه وی، نو که چرته صرف یجوز یئے وئیلے وے، نو بیا به متوهم دا وهم کولو چه تقدیر دَ لام دا مطلب دے چه لام خو به حذف وی په لفظ کښے ولے په نیت کښے به مشروط وی اَوْ ملحوظ به نه وی.

درس نمبر ۱۶۴

المفعول معه

بعضے دَ منصوباتو نه مفعول معه دے. دلته خلور امور ذکر کیږی، اول معنیٰ لغوی دَ مفعول معه، دویم معنیٰ اصطلاحی، دریم ترکیب دَ المفعول معه، خلورم فرق په مابین دَ مفعول معه لَوْ دَ معطوف کښے مفعول معه په لغت کښے مصاحبت ته وائی اَوْ په اصطلاح کښے ورله مصنف په خپله تعریف ذکر کړے دے اَوْ ترکیب به یئے دَ سوال اَوْ دَ جواب په شکل اوکړو. سوال. په معه کښے ضمیر چا ته راجع وائے یا به یئے راجع کړے الف لام ته لَوْ یا به یئے راجع کړے مفعول ته، که چرته الف لام ته یئے راجع کړے، نو لازمیږی اضمار دَ حرف نو اَوْ که چرته راجع کړے یئے مفعول ته نو لازمیږی معیت دَ شئے یا نفس خپل اَوْ دا باطل دے. جواب. دا ضمیر راجع دے الف لام ته او که ته وائے چه لازمیږی اضمار دَ حرف، نو موږ وایو چه دا الف لام اسمی دے چه په معنیٰ دَ الذی سره دے، نو تقدیر به داسے شی چه الذی فُعِلَ معه. سوال. دَ فعل دَ پاره مفعول مالم یسم فاعله څه شے دے؟ جواب. دَ دے دَ پاره مفعول مالم یسم فاعله معه دے. سوال. مفعول مالم یسم فاعله خو مرفوع وی لَوْ دا خو منصوب دے. جواب. مع حرف دے اَوْ دے مبنی دے په فتحه باندے، ولے دا جواب ضعیف دے، ځکه چه که چرته دا حرف وی، نو حرف خو مفعول مالم یسم فاعله نه واقع کیږی ځکه چه حرف نه مسند واقع کیږی لَوْ نه مسند الیه. پس صحیح جواب دا دے چه دا دَ قبیلے دَ ظروفو لازم النصب.

نه دے، نو که چرته دے واقع شی، په حالت د رفع باندې، نو هم منصوب وی، لکه په دے آیت کښې "لقد تقطع بینکم"۔ دلته ما بین فاعل دے او "لازم النصب" دے، په دے وجه منصوب دے او حیاو سکلی دا چه دا د قبیلے د "وقد حیل بین العیر والنزوان" نه دے، یعنی مفعول مالم یسم فاعله په دے ترکیب کښې مصدر د فعل مجهول دے، چه د حیل د پاره حیلولة مصدر دے او بین ظرف دے او دلته هم مصدر د فعل مجهول مالم یسم فاعله دے او "معه" مدلول ظرف دے، لیکن دا مخکښې جواب قوی دے، ځکه چه هغه موافق دے د قرآن سره۔ او فرق په مابین د مفعول معه او معطوف کښې دا دے چه د واؤ نه پس چه کوم اسم ذکر شی او د فاعل یا د مفعول نه بعد راغلے وی او د زمانه او د مکان نه متحد وی، نو دا به مفعول معه وی، معطوف به نه وی، ځکه چه په معطوف کښې د زمان یا د مکان اتحاد شرط نه دے، لکه "لو ترك الناقة وفصيلها لرضعها"، یعنی که چرته اوښه او د هغے بچے په خپله پرېښودے شی، نو بچے به ترے نه پئ رواخلی، نو اوس په دے ترکیب کښې "فصيلها" معطوف نه دے، ځکه که چرته دلته اتفاق د زمانے او د مکان رانه شی، نو بیا به ترے نه پئ نه شی اخستلے۔

درس نمبر ۱۶۵

هو مذکور بعد الواو لمصاحبة معمول فعل لفظا

دا مفعول معه هغه دے چه ذکر شوے وی، پس د واؤ نه چه دا واؤ په معنی د "مع" سره وی، د پاره د مصاحبة د معمول د فعل سره۔ برابره خبره ده، چه په صحبت کښې وی، که په وقوع کښې (یعنی برابره خبره ده، چه دا معمول د فعل فاعل وی او که مفعول وی)۔ مثال د صحبت لکه "استوى الماء والخشبة" او مثال د وقوع، لکه "كفاك وزيدا درهم"۔ بعض نحاة وائی، چه مفعول معه به د فاعل سره په مصاحبة کښې راځی او د مفعول سره به نه راځی، خو مصنف په دے مخالفتا باندے رد اوکړو او دے وئیل، چه "لمصاحبة معمول فعل الخ"، یعنی معمول ئې او وئیل۔ معمول عام دے، که فاعل وی که مفعول وی، بعد الهٰ چه مصنف اوروے، نو په دے سره د نورو تولو مفاعیلونه احتراز راغلو لفظا۔ برابره خبره ده، چه دا فعل مذکور وی، په لفظ کښې او یا مقدر وی، یعنی دے په نظم د کلام کښې راغلے وی او معنا یعنی دا فعل نه لفظا ذکر وی او نه تقدیرا، بلکه د نحوی او د مفهوم د کلام نه معلومیږی۔ **سوال**. ستا دا تعریف مانع او نه ګرځیدو

ك. وفی بعض الحواشی ان هذا الوای شریف حیباً الخ لجعل ما هو محط الفائدة قائماً بمقام الفاعل والخلوة عن تکلف ضمیر یرجع الی المصدر قامة المصدر لوکد مقام الفاعل مع ان اکثر النحاة علی انه لا یجوز اصلاً ومن السوانح توجیه الثالث وهو ان معه متعلق بمحذوف هو فاعل والظرف قائم مقامه تقدیره الذی فعل کائن معه ای مع الفعل فی الظرف فاعل مجازاً کما انه خبر مجازاً فی نحو زید فی الدار فتأمل ولا تعتصاه۔ ۱۲ (۲۰۳)۔

دَ دخول دَ غیر نه، ځکه چه داخل شوې کېږي معطوف په مثل دَ دې ترکیب کښې چه "جاءني زيدٌ وعمروٌ" اَوْ "ضربت زيداً وعمرواً"، ځکه چه دا مذکور دے، پس دَ واؤ نه اَوْ مصاحب دے، دَ معمول دَ فعل سره په صدور کښې اَوْ په وقوع کښې سره دَ دې نه چه دا مفعول معه نه دے۔ **جواب** . مُراد په مصاحبت دَ معمول دَ فعل سره اشتراک دَ دهٔ دے، دَ معمول دَ فعل سره په وقوع اَوْ په صدور کښې سره دَ اتحاد دَ زمان اَوْ دَ مکان نه، لکه "سرت وزيداً ولو تركت الناقة وفصيلها لرضعها"۔ **سوال** . شمول دَ مفعول معه دَ معمولات دَ فعل نه نهٔ دے صحیح، بلکه دا منصوب دے په واؤ سره لکه چه څنګه په دې باندې تصریح کړې دهٔ شیخ عبدالقاهر جرجاني۔ **جواب** . کلام دَ مصنفؒ بنا دے په مذهب دَ جمهورو باندې۔ **سوال** . ولې وضع کړے شو واؤ په ځائے دَ مع باندې؟ **جواب** . دوئ کېښود واؤ په ځائے دَ مع باندې ځکه چه دا مختصر دے دَ مع نه۔ **سوال** . چه څنګه واؤ مختصر دے دغے شان فا هم مختصر ده، نو دا دولے په ځائے دَ مع باندې وضع نه کړه؟ **جواب** . اصل دَ دې واؤ، هغه واؤ دَ عطف دے چه په هغې کښې معنیٰ دَ جمعیت ده، چه هغه مناسب ده دَ معیت سره۔

فان كان الفعل لفظاً وجاز العطف فالوجهان. پس که چرته دا فعل ملفوظ وي اَوْ جائز وي عطف نو بیا دوهٔ وجه جائز دي، یعني رفع اَوْ نصب۔ دلته دا فا دَ پاره دَ تفصیل ده لکه دَ فعل نه مُراد هغه فعل دے چه قصد کړے شوے وي په دهٔ سره مصاحبة دَ مفعول معه دَ معمول سره لکه دلته دا کان تامه دے اَوْ ناقصه هم صحیح کېږي، که چرے تامه شي، نو لفظاً به ده دے دَ پاره تمیز شي اَوْ که چرته غیر تامه شي، نو لفظاً به حال شي اَوْ ما به مؤول شي، په تاویل دَ ملفوظاً یا لفظیاً سره، په جاز العطف کښې جواز په معنیٰ دَ امکان خاص سره دے، یعني واجب هم نهٔ دے اَوْ ممتنع هم نهٔ دے

فائده :- امکان خاص اَوْ امکان عام، دا منطقي اصطلاحات دي۔ امکان خاص والي، سلب دَ ضرورت دَ جانبینو نه۔ دَ جانبینو نه مُراد جانب دَ وجود اَوْ جانب دَ عدم دي، یعني نهٔ یې وجود ضروري وي اَوْ نهٔ عدم لکه امکان عام والي سلب دَ ضرورت دَ جانب مخالف دَ حکم نه۔ مثال دَ امکان خاص لکه والي "زيدٌ كاتبٌ بالامكان الخاص" یعني نهٔ ورله کتابت ضروري دے اَوْ نهٔ ورله عدم کتابت ضروري دے اَوْ مثال دَ امکان عام لکه "زيدٌ كاتبٌ بالامكان العام" یعني عدم کتابت دَ زید ضروري نهٔ دے، لکه کتابت ورله ضروري وي که نهٔ وي۔ امکان عام ته امکان عام په دې وجه والي چه دے ممکن ممتنع اَوْ واجب ټولو لوه شامل دے لکه امکان خاص مختص دے په یو نوعه پورې، وجاز العطف اَوْ جائز وي عطف په معمول دَ فعل باندې دَ هغه شي، چه هغه ذکر وي، پس دَ واؤ نه، "فالوجهان" یعني "فالوجهان جائزان" یعني عطف هم جائز دے ځکه چه دلته کښې مانع نشته دَ عطف نه اَوْ نصب هم جائز دے،

چې دے مفعول معه اوګرځي۔

مثل جئت انا و زيدٌ و زيداً زيدٌ مرفوع ويلے شي بنا په دے بانو، چه دے عطف شي په ضمير مرفوع متصل باندې اؤ عطف په ضمير مرفوع متصل باندې جائز دے، چې کله تاکيد ئې راشي په ضمير مرفوع منفصل سره اؤ زيداً منصوب هم جائز دے، چې دا مفعول معه شي۔

والا تعين النصب اي وان لم يجز العطف تعين النصب، ځکه چه په دغه صورت کښې عطف نه صحيح کيږي۔ پس متعين شو نصب بنا بر مفعوليت۔

مثل جئت و زيداً په دے ترکيب کښې نصب جائز اؤ متعين دے اؤ عطف نه شي کيدے ځکه چې تاکيد ئې نه دے راغلے په ضمير مرفوع منفصل سره، نو دلته سيوا د مفعول معه نه بله وجه نشته، چه دغلبه شي هغې ته۔

وان كان معنىً و جاز العطف تعين العطف لوکه چرته دا فعل معنوي وي په دے شان سره چه نه په لفظ کښې موجود وي اؤ نه تقديراً وي بلکه د نحوي لخوا د مفهوم د کلام نه معلوميږي اؤ جائز وي عطف، نو متعين دے عطف۔ جائزوي عطف په دے معنی سره چې لو مانع نه وي موجود، د عطف نه اؤ متعذر وي نصب۔ دلته دا جاز په معنی د امکان عام سره دے۔ سوال۔ چې هر کله تا "تعين النصب" اؤ ويل، نو جاز العطف ته څه ضرورت پاتے نه شو ځکه چه د دے ذکر اؤ عدم دواړه برابر دي۔ جواب۔ په دے کښې اشاره ده، دے خبرے ته چه په معنی د امکان عام سره دے، يعني ممتنع به نه وي اؤ واجب به وي۔

نحو ما لزيدٍ و عمرٍو يعني اي شئ حصل لزيد و عمرو؟ اؤ عطف په دے کښې ځکه متعين دے، چه په دے کښې عامل لفظي دے، چه هغه لام جاره دے، ځکه چه دا په حکم د تکرير د عامل کښې دے، نو پس نشته دے حاجت کرځولو د ده ته معمول د عامل معنوي ځکه چه عمل په عامل ضعيفه باندې په وخت د وجود د عامل قويه کښې ناجائز دے، بغير د ضرورت داعيه نه، اؤ علامه زمخشري ملا، چې دلته عطف مختار دے اؤ متعين نه دے۔

والا تعين النصب يعني که چرته عطف نه وي، نو بيا متعين دے نصب، يعني دا به د مفعول معه په وجه باندې منصوب وي ځکه چې دلته کښې عطف متعذر دے۔

مثل مالك و زيداً و ما شانك و عمراً په دے ترکيبونو کښې عطف ناجائز دے، اؤ متعين دے نصب اؤ عطف په دے وجه ناجائز دے

ځکه چه لا نميږي عطف په مجرور باندې بغير د اعادې د جر نه اؤ دا ناجائز دے په اول ترکيب کښې،

او په دے دویم ترکیب کښے "ماشانك وعمرواً" کښے که چرته عطف کړو په شانك باندې نو لازمیږی خلاف د مقصود د متکلم، ځکه چه مقصود تپوس دے، د شان او د حال د مخاطب او د عمرو نه، نه دا چه تپوس د شان د مخاطب او د ذات د عمرو نه۔

لان المعنی ماتصنع

په دے مثالونو کښے فعل معنوی دے، ځکه چه معنی داده چه "ماتصنع" په دے سره گویا مصنف د دفع د سوال کوی۔ **سوال** دا دے چه، لام خو جار دے او د دے د پاره متعلق پکار دے، نو ده **جواب** اوکړو چه "لان المعنی ماتصنع"۔ **سوال**. دلیل د مصنف دا دلیل دے، په معنویت د فعل باندې او حالانکه مدعی نه ده ذکر شوی۔ **جواب**. دا دلیل دے، د پاره د مدعی مقدر دے، نو تقدیر به دا شی، چه "انما حکمنا بمعنویة الفعل فی هذه الامثلة لان المعنی ماتصنع"۔ **سوال**. دا دلیل خو مطابق نه دے، د مدعی سره، ځکه چه مدعی داده، چه معنویت د فعل په دے ټولو مثالونو کښے دے او دلیل دلالت کوی، په معنویت د فعل په آخری دوه مثالونو کښے فقط۔ **جواب**. عبارت د مصنف په تقدیر د معطوف سره دے، تقدیر به دا شی چه "ماتصنع وما یماثله ای مایصنع"۔

درس نمبر ۱۶۶

الحال ما یبیّن[1] هیئة الفاعل او المفعول به

یا حال هغه لفظ دے، چه بیانوی، هیئه د فاعل یا د مفعول به د دے حیثیت نه چه دا فاعل دے او د دے حیثیت نه چه دا مفعول به دے او دا عام دے، حقیقتاً وی او که حکماً۔ هرکله چه مصنف فارغ شو د بیان د مفاعیلو نه، نو شروع یے اوکړو په بیان د ملحقاتو د مفاعیلو کښے۔ پس وئیلے وئیل چه "الحال ما یبیّن هیئة الفاعل الخ"۔ اول به د حال معنی لغوی ذکر کړو او بیا معنی اصطلاحی، نو په **لغت** کښے حال په څلور معنی باندې راځی، یو معنی د کیفیت او د صفت سره او دا معنی لغوی ده قول او القلاه او په **اصطلاح** کښے په مختلفو اصطلاحاتو سره، د دے مختلف معنی شوی دی۔ په اصطلاح د نحاتو کښے حال په معنی د "ما یبیّن هیئة الفاعل او المفعول به" باندې راځی، په اصطلاح د صرفیانو کښے زمانه حال ته وائی، په اصطلاح د اهل معانی او بلاغت کښے حال هغه امر دے، چه هغه باعث وی په متکلم باندې په ایراد د خصوصیت زائده باندې په کلام کښے، یعنی د مقتضی الحال مطابق خبره کول، لکه یو سړے خالی الذهن دے، یعنی د هغه ذهن کښے نه شک وی او نه انکار، نو د هغه د پاره زیدٌ قائم

---

[1] ورد علیه النقض المشهور ان هذا التعریف لا یصدق علی قائماً فی قولك ضربت زیداً قائماً ابوه لان قائماً یبین هیأة الاب وهو لیس من قبیل الفاعل او المفعول به فاجاب الشارحین بان الحال ما یبیّن هیأة الفاعل او المفعول به او ما هو متعلق بهما۔ ۱۲.

کافی دے، بلکه سړے چې د هغه په ذهن کښې په باره د قیام د زید کښې شک دے، نو د هغه د پاره صرف "زيدٌ قائمٌ" نه دے کافی، بلکه د هغه د شک د ازالے د پاره به ورسره اداة د تحقیق او د تاکید راوړے، لکه ته داسې اُوائې چې "انّ زیداً قائمٌ" او چې یو سړے منکر وی د قیام د زید نه، نو د هغه د پاره به ما سره ادوات راوړے، چې په هغے سره د هغه انکار ازاله او رفع شی، نو داسې به چې "واللّٰه انّ زیداً لقائمٌ" وغیره. او په اصطلاح د منطقیانو کښې حال عبارت دے "د عوارض غیر ذاتیه نه"، په اصطلاح د حکماء کښې حال عبارت دے "د هغه نه چې په محل کښې سرایت کوی"، د متکلمین په اصطلاح کښې هغه ته وائی چې واسطه وی په مابین د موجود او د معدوم کښې، او په اصطلاح د صوفیانو کښې حال عبارت دے "د کیفیت د نفس نه چې تعبیر ترے نه کوی" په قبض او بسط سره. **سوال.** ستاسو تعریف نه دے صحیح، ځکه چې تاسو مونږ ته اوښایل، چې حال به وی او هیئت به بیانوی د فاعل یا د مفعول نو دی بیان کړے، لکه په دے ترکیب کښې "آیتک والشمس طالعة"، په دے ترکیب طالعة حال واقع شوے دے، د الشمس نه او حال داسې چې دا نه فاعل دے او نه مفعول دے. **جواب.** خبره صحیح ده، په حال مفرده کښې ده، نه په مرکبه کښې، نو پوهه شه، پس د دے نه حال په دوه قسمه دے، یو حال مرکبه او دویم حال مفرده. حال مرکبه هغه ته وائی چې حال په کښې جمله واقع شوے وی، برابره خبره ده، چې جمله فعلیه وی که جمله اسمیه وی او حال مفرده په لوئې قسمه دے، حال محققه، مقدره، مترادفه، متداخله، موطئه، منتقله او مؤکده. حال محققه هغه ته وائی، چې فی الحال ثابت وی، د پاره د فعل الحال، مثلاً "جاءنی زیدٌ راکباً"، مقدره دے ته وائی، چې حال د ذوالحال د پاره فی الحال ثابت نه وی، بلکه په فرض د فارض سره وی[1]، لکه په دے آیت کښې "فادخلوها خالدین"، نو دلته کښې خالدین دا حال واقع دے د مسکن خلود د دخول. په حال کښې نه دے، بلکه په بعد کښې به وی او دا یے فرض کړے شی. حال مترادفه دے ته وائی، چې ذوالحال یو وی او احوال ترے نه متعدد راغلی وی، لکه "جاءنی زیدٌ راکباً عاقلاً آکلاً ضاحکاً متبسماً جمیلاً نهلوة حجراً". حال متداخله دے ته وائی، چې "ذو الحال" هم متعدد وی، لکه د یو ذوالحال د پاره حال راغلے وی، په هغه کښې ضمیر وی، هغه ذوالحال واقع شوی وی او د هغه د پاره بیا حال راغلے وی، لکه "سر راشداً مهدیاً متلالاً". حال موطئه دے ته وائی، چې دے په خپله مقصود نه وی او توطئه او تمهید وی د پاره د بل، لکه "انزلناه قرآناً عربیاً"، نو قرآن حال دے او د

---

[1]. یا په اعتبار د معتبر سره وی، کما فی قوله تعالیٰ فادخلوها خالدین فان خلودهم الجنة لیس فی حال دخولهم بل فی حال تقدیر الخلود لهم-۱۳۰ (م-ح-و) -

ثم لکم ان الحال تنقسم الی ثمانیة اقسام فهذ التقسیم باعتبار الهیأة الفاعل او المفعول لان الهیأة لعمّ من ان یکون هیئة نفسه نحو جاءنی زیدٌ راکباً او متعلقة نحو جاءنی زیدٌ راکباً ابوه ولعمّ من ان یکون محققة فمثاله کمثل الاول ومقدرة فمثاله کالخلود فی قوله تعالیٰ: واَعَمّ من ان یکون دائمة او غیر دائمة فالاول المؤکدة والثانی المنتقلة، واعمّ من ان یکون نفس (نور په بل مخ)...

پاره دَ توطئې اَوْ دَ تمهید راغلې دے، دَ عربیاً اَوْ حال مؤکده وي ته وائي، چه نه منتقل کیږي، دا حال دَ ذوالحال نه، لکه "جاءني زيد عطوفاً" حال منتقله هغې ته وائي چه دے منتقل کیږي، دَ ذوالحال نه، لکه "جاءني زيد راكباً" مصنف اووے په تعریف دَحال کښې، چه "مايبين هيئة الفاعل"، لو په دے سره احتراز راغے دَ تمیز نه، ځکه چه تمیز هیئت دَ فاعل نه بیانوي، بلکه دَ ذات دَ فاعل یا دَ مفعول به نه بحث کوي اَوْ چه اضافت دَ هیئت راغے فاعل یا مفعول به ته، لو په دے سره احتراز راغے، دَ صفت دَ مبتدأ نه، په مثل دَ دے ترکیب کښې، چه "زيد ن العالم اخوك"، ځکه چه دے بیانوي هیئت دَ غیر فاعل اَوْ مفعول به۔ **سوال**۔ تعریف دَ حال مانع اوګرځیدو، دَ دخول دَ غیر نه اَوْ داخل شو په کښې صفت دَ فاعل یا دَ مفعول په مثل دَ دے ترکیب کښې، چه "جاءني زيدٌ راكبٌ" یا "رأيت زيداً راكباً"، ځکه چه دا هم بیانوي هیئت دَ فاعل اَوْ دَ مفعول به۔ **جواب**۔ قید دَ حیثیت مراد دے، په تعریف کښې، یعنی حال بیانوي هیئت دَ فاعل یا دَ مفعول به۔ دَ دے حیثیت نه چه فاعل، فاعل دے اَوْ مفعول به، مفعول به دے اَوْ شک نشته، چه صفت خو بیانوي، هیئت دَ فاعل یا دَ مفعول به ولې دَ دے حیثیت نه نه چه، دا فاعل دے اَوْ یا مفعول به دے۔ **سوال**۔ ستا دا تعریف دَحال جامع نه شو، خپلو افرادو له، ځکه چه خارج شو ترے نه هغه حال چه واقع شوے وي، دَ مفعول مطلق نه، لکه "ضربت الضرب شديداً" اَوْ دغه شان خارج شو ترې نه حال دَ مفعول معه نه په دے ترکیب کښې، چه "جئت وزيداً راكبين" اَوْ خارج شو ترے نه حال دَ مضاف اليه نه، لکه په دے ترکیب کښې "بل نتبع ابراهيم حنيفاً" یا "ايحب احدكم ان يأكل لحم اخيه ميتاً"، په دے ټولو ترکیبونو کښې حال راغلې دے، ولې هیئت دَ فاعل یا دَ مفعول به نه بیانوي اَوْ نه خو ولے، چه حال بیانوي هیئت دَ فاعل یا دَ مفعول به۔ **جواب**۔ مراد په فاعل اَوْ مفعول به سره عام دے، حقیقتاً وي اَوْ که حکماً۔ پس داخل شو په کښې حال دَ مفعول مطلق نه، ځکه چه دے مؤول دے، په تاویل دَ "حدیث الضرب شديداً" سره اَوْ دغه شان داخل شو په کښې هغه حال چه راغلې وي دَ مفعول معه نه، ځکه چه دا مفعول معه په خالي نه وي، یا به مصاحب وي، دَ معمول دَ فعل سره، په صدور کښې اَوْ یا به مصاحب وي، دَ معمول دَ فعل سره په وقوع کښې، که اول وي نو فاعل شو اَوْ که دویم وي، نو مفعول شو اَوْ دغه شان داخل شو په کښې حال دَ مضاف اليه نه، ځکه چه مضاف به یا فاعل وي اَوْ یا به مفعول وي، چه کله مضاف حذف کړے شي اَوْ اقامت دَ مضاف اليه دَ هغه په ځائے باندې راشي، لکه په دے ترکیب کښې، چه "بل ملة ابراهيم حنيفاً" ابراهيم، مضاف اليه دے اَوْ حنيفاً، دَ دهٔ حال واقع دے۔ اوس چه کله معنیٰ ملة حذف کړو اَوْ دَ دهٔ په ځائے باندې ابراهيم قائم کړو، نو هم معنیٰ صحیح ده اَوْ چونکه ملة مفعول وو، نو دا به هم مفعول شي، یا ما بل ترکیب دے، چه "ايحب احدكم ان يأكل لحم اخيه ميتاً"، نو لحم مضاف اليه دے اَوْ ميتاً دَ دهٔ نه حال واقع دے۔ اوس چه دے په ځائے دَ مضاف، چه هغه لحم دے

(حاشیة ...) ... الهيأة التركيبية، نحو جاءني زيدٌ والشمس طالعة فان الهيأة الحالية تدل على مقارنة الفاعل بطلوع الشمس او مع جوهر الكلمة، نحو التركيب في مثال الاول فتأمل وتدبر - (م-س)۔

کېښودے شی لو هغه معنیٰ صحیح کیږی اؤ بل جواب داچا کړے دے، چه دلته کښې یبیّن صیغهٔ د مجهول ده اؤ هیئتهٔ ورلره مفعول مالم یسم فاعله دے اؤ به متعلق دے، په یبیّن پورے، لو تعلواماخل به کښې داخل شو لو تخصیص ئے په مفعول به پورے راغلی، ولے داجواب ضعیف دے، د دوئیو وجونه اوّله وجه داده، چه بعید راغلے دے، په مابین د متعلق اؤ د متعلّق کښې۔ دوئمه وجه داده چه، داعبارت مخالف دے، د مشهورې عبارت اؤ نسخې نه، ځکه چه مشهوره عبارت خو یبینُ صیغه د معلوم ده اؤ دریمه وجه داده چه، په دے تاویل سره خو به د مفعول معه اؤ د مفعول مطلق د حال تاویل او شی، ولے د مضاف الیه د حال تاویل نه کیږی۔ **سوال**۔ تعریف د حال ستا جامع نه شو، خپلو افرادو لره اؤ خارج شو تر دے نه هغه حال، چه واقع وی، د فاعل اؤ مفعول به دواړو نه، لکه ضرب زیدٌ عمروًا راکبین، اؤ نه خو دائے چه، حال به یا د فاعل نه واقع وی اؤ یا د مفعول به نه۔ **جواب**۔ اؤ د پاره د مانعة الخلو دے اؤ د مانعة الجمع د پاره نه دے۔

درس نمبر ۱۶۷:

سوال۔ تاسو خو وئیلی دی، چه مضاف فاعل وی اؤ یا مفعول وی او صحیح وی، حذف د مضاف اؤ اقامت د مضاف الیه په ځائے کښې د هغه باندې، لو د هغه نه حال واقع کیږے شی، لو دا قاعده منقوضه شوه، په دے ترکیب سره، چه اِنَّ دابِرَ هؤلاء مقطوعٌ مصبحین، ځکه چه مصبحین حال واقع شوے دے۔ د هؤلاءِ نه چه مضاف دے، سره د دے نه دلته کښې صحیح نه دے حذف، د مضاف اؤ اقامت د مضاف الیه په ځائے د مضاف باندې۔ **جواب**۔ دلته کښې اګر که حذف د مضاف نه دے صحیح، ولے مضاف جزء دے، د مضاف الیه نه، لو دا په منزله د شئ واحد او ګرځېدل۔ پس حال واقع کېدل د مضاف الیه نه بعینه حال واقع کېدل دی، د مضاف نه۔

سوال۔ حال خو یا واقع کیږی، د فاعل نه اؤ یا د مفعول به نه اؤ "دابر" خو نه فاعل دے اؤ نه مفعول، بلکه دا اسم د انّ دے۔ **جواب**۔ "دابر" په دے ترکیب کښې مفعول مالم یسم فاعله دے، په اعتبار د هغه ضمیر سره چه مستتر دے، په مقطوع کښې اؤ هغه مفعول مالم یسم فاعله دے اؤ دابر د هغه د پاره مرجع دے۔

لفظاً او معناً دا فاعل به یا لفظی وی اؤ یا به معنوی وی اؤ د غه شان دا مفعول به یا لفظی وی اؤ یا به معنوی وی۔ فاعل لفظی اؤ مفعول لفظی د دے ته وائی، چه فاعلیه د فاعل اؤ مفعولیه د مفعول به په اعتبار د لفظ اؤ د منطوق د کلام سره وی اؤ بیا دا ملفوظ عام دے، حقیقتاً وی اؤ که حکماً وی اؤ فاعل معنوی یا مفعول معنوی هغه ته وائی، چه مستفاد وی، د فحوٰی د کلام نه اؤ په نظم د کلام کښې دے، نه، لفظاً وی اؤ نه تقدیراً۔

مثل ضربت زیداً قائماً دا مثال د لفظی دے، چه ملفوظ حقیقی وی۔ دلته کښې فاعلیه د "تا" اؤ مفعولیه د "زیدا" دا په لفظ اؤ منطوق د کلام کښې

دی۔ دلته یزید ته حال واقع شوے دے، دَ "تا" نه ځکه صحیح کیږی او دَ زید نه هُم۔

زید فی الدار قائماً دا مثال دَ لفظی دے، چه ملفوظ حکمی وی، دلته قائماً حال واقع شوے دے، دَ هغه ضمیر نه چه هغه مستتر دے، په ظرف کښے او ضمیر مستتر دا ملفوظ دے حکماً، نو دلته قائماً حال دَ زیدٌ نه نه دے واقع شوے، ځکه چه زیداً خو مبتدا دے، بلکه دَ هغه ضمیر نه دا حال واقع شوے دے، چه کوم چه متعلق دَ فی الدار کښے دے، یعنی په حصل یا ثابت کښے، چه کوم ضمیر دے، دا قائماً دَ هغے نه حال واقع شوے دے۔

وهذا زیدٌ قائماً دا مثال دَ معنوی دے، ځکه چه مفعولیة دَ زید په اعتبار دَ هغه معنیٰ سره دے، چه هغه مستفاد دے، نحوی دَ کلام نه، چه هغه ته اشاره نه دَ لفظی په نظم دَ کلام کښے چه هغه اشیر دے او اُنبّه دے، په هذا کښے، ها په معنیٰ دَ انبه شو او ذا په معنیٰ دَ اشیر شو۔

وعاملها الفعل او شبهه او معناه او عامل دَ وے حال به یا فعل وی، ځکه چه دے اصل دے په عمل کښے، لکه ضربت زیداً قائماً، او یا به شبه فعل وی۔ شبه فعل هغه ته وائی چه دے عمل کوی په شان دَ فعل، لکه اسم فاعل، اسم مفعول، صفة مشبّه، اسم تفضیل او مصدر شو، لکه زید ذاهب راکباً، زید مضروب قائماً، زید حسن ضاحکاً، او ضربی زیداً قائماً، وغیره شو۔ نَدَه کړه دا خبره چه په فعل معنوی کښے اختلاف دے په مابین دَ مصنف او په مابین دَ شارح کښے۔ مذهب دَ مصنف دا دے، چه عامل معنوی هغه دے، چه هغه لفظ حصه وی په لفظ کښے۔ بر ابره خبره ده چه مقدر وی، په نظم دَ کلام کښے او که یا مستفاد وی، دَ نحوی دَ کلام نه، او مذهب دَ شارح دا دے، چه عامل معنوی هغه ته وائی چه، مستفاد وی، دَ نحوی دَ کلام نه بغیر دَ تقدیر او دَ تصریح نه په دے بلندِ په نظم دَ کلام کښے۔ او س په "زید فی الدار قائماً" کښے تراع دے، په نزد دَ مصنف په دے کښے عامل معنوی دے او په نزد دَ شارح په دے کښے عامل لفظی دے۔

ان تکون نکرة وصاحبها معرفة غالباً او شرط دَ پاره دَ حال دا دے، چه دے به وی نکره، ځکه چه مقصود دَ حال نه هغه تقید دے، دَ هغه حدث چه منسوب دے، ذو الحال ته۔ پس دا حاصلیږی، په نکره سره، پس حاجت نشته دے معرفه ته او یا دا چه حال په منزلے دَ خبر دے او اصل په خبر کښے تنکیر دے او ذو الحال به معرفه وی، ځکه چه دا محکوم علیه دے او اصل په محکوم علیه کښے تعریف دے غالباً، یعنی په غالب استعمال کښے به ذو الحال معرفه وی، یا په غالب او قالو کښے به ذو الحال معرفه وی۔ سوال۔ په کلام دَ مصنف کښے تضاد دے، ځکه چه شرط هغه ته وائی، چه تخلف دَ هغے نه نه وی جائز، یعنی شرط بتقاضا دَ عدم تخلف او غالباً تقاضا دَ جواز دَ تخلف کوی، نو په کلام دَ مصنف کښے منافات راغلو۔ جواب۔ غالباً قید دے

دَ باره دَ شرط نه دے، بلکه دا قید دے دَ باره دَ اشتراط، یعنی په اکثرو مواضعو دَ حال کښې به ذوالحال معرفه وی، سیوا دَ دے ځایونو نه۔ یو هغه چې ذوالحال په کښې نکره موصوفه وی، لکه "جاءنی رجل من بنی تمیم فارساً"، او یا مُغنی وی دَ تعریف نه په شان دَ اغناء دَ معرفې دَ وجې دَ استغراق دَ دے نه، لکه دَ قول دَ الله تعالی "فیها یفرق کل امرحکیم امراً من عندنا" دلته امراً حال واقع شوے دے دَ کل امر نه او یا واقع وی دا ذوالحال په حیز دَ استفهام کښې، یعنی دَ استفهام نه روستو راغلے وی، لکه "هل اتاك رجل راکباً"، یا تقدیم دَ حال راغلے وی په ذوالحال باندې، لکه "جاءنی راکباً رجل" او یا واقع وی حال پس دَ الا نه، لکه "ماجاءنی رجل الا راکباً"، نو په دے ځایونو کښې به ذوالحال معرفه نه وی او دَ دے نه علاوه په نورو ځایونو کښې معرفه وی۔

درس نمبر ۱۶۸

وَاَرسلها العراكَ ومررت به وحدهٗ ونحوه مُتَاَوَّلٌ.

په دے عبارت سره مصنف رح دفع دَ سوال مقدر کوی، سوال۔ ته خو وائے چې "شرطها ان تکون نکرة"، یعنی حال به نکره وی، نو ستا دا قاعده منتقضه شوه په دے ترکیب سره چې "ارسلها العراك"، حکه چې دلته العراك حال واقع شوے دے، سره دَ دے نه دا معرفه ده او دغه شان په دے ترکیب کښې چې "مررت به وحده"۔ دلته وحده حال دے سره دَ دے نه چې معرفه ده، حکه چې اضافت ئے راغلے دے او په مثل دَ دے، لکه "فعلت جهدك"، حکه چې جهدك حال واقع دے او معرفه ده په اضافت سره، نو مصنف رح جواب اوکړو چې دا ترکیبونه متاول دی، یعنی په دوی کښې تاویل راغلے دے په دوه طریقو سره، اول خو دا چې دا مصادر راغلی دی دَ باره دَ افعال محذوفه، نو تقدیر به دا شی چې "ارسلها تعترك العراك او مررت به ینفرد وحده او فعلت تجهد جهدك"۔ پس دا افعال سره دَ خپلو مصادرو جُملے اوګرځیدلے او جمله من حیث الجملة دا په قوت دَ نکرے کښې وی او دوهم تاویل دا دے چې دا ظاهر کښې اګرکه معرفه دی، لیکن په حقیقت او معنیٰ کښې نکرے دی، نو تاویل به دا شی چې "ارسلها معترکة مررت به منفرداً او فعلت مجتهداً وارسلها العراك"۔ دا په اصل کښې دَ لبید شعر دے او په دے کښې شاعر دَ حمار وحشی صفت بیانوی او قول شعر دا دے:۔

وَارسلها العراكَ ولم یذدها ولم یشفق علی نغص الدخال

په اصل کښې ضمیر راجع دے، حمار وحشی ته او دَ ها نه مراد ماده دَ حمار ده، چې په عربۍ کښې "اتان" ورته وائی او جمع ئے اُتُن راځی او عراك په معنیٰ دَ ازدحام اوګڼه ګوڼه سره راځی۔ عراك په اصل کښې دَ اوښو جنګ ته وائی (او په اردو ژبه کښې ورته "کندهوں کا جګڑا" وائی) او په هجوم او ازدحام کښې هم او دے جنګیږی، لم یذدها په معنیٰ دَ نه منع کولو سره دے او نغص چې پوره تنده ماته نه کړی، یعنی

اُوبۀ ونهٔ څښی اؤ دِخال وِے نه ولی ځکه چې اوښن لرے اُوبۀ اڅښی اؤ بیا د اُوښو نه ښکته وشړلے شی اؤ بیا اُوښو له راوستے شی، چې دې څخه کښې دوۀ قسمه تېری اوښان موجود وی اؤ اوبۀ پرے نه څښوي مُښي- دَ شعر پوره معنیٰ دا ده چې اَوۀ اولېږه حمار وحشی خپلو مادو لره په دِے حال کښې، چې څه کښې دے اَو دغۀ لره منع نه کړے اَؤ دے وَنه ویریدو په نه څښلو دَ اُوښو باندِ دَ دوئ۔

سوال. ارسال خو په ذوی العقول کښې متعمل کیږي، لو دَ حمار وحشی نه به څنګه ارسال متصور شی.

جواب. ارسال په معنیٰ دَ بعث باندِ دے۔ سوال. ظاهره معنیٰ دَ بعث دا ده چې حیات بعد الموت؟

جواب. بعث په معنیٰ دَ تخلیه باندِ دے۔ سوال. دِخال خو په اونبانو کښې متعمل کیږي، لو دَ حمار وحشی دَ پاره دا لفظ څنګه استعمالیږی-جواب. مُراد په دِخال سره معنیٰ لغوی ده، چې هغه دخول دَ بعض سره په بعض باندِ، یا دا چې دلته حذف دَ مضاف راغلی دے، هغه به دا سے شی، چې لم یشفق علی نغص مثل نغص الدخالِ۔

فان کان صاحبها نکرة وجب تقدیمها

اَو که چرته ذوالحال نکره وی، نو واجب دے، تقدیم دَ حال په ذوالحال باندِ، ځکه چې حال اَو ذوالحال معنا په اصل کښې مبتدا اَو خبر دی اَو مبتدا چې کله نکره وی، نو واجب دے، تقدیم دَ خبر په مبتداء باندِ اَو دویم دا چې دَ حال التباس راته شی، دَ صفت سره په حالت نصبی کښې، لکه ضربت رجلاً مجرداً عن ثیابه- اوس دلته دا نه معلومیږی، چې دا حال دے اَو که صفت دے، بیا دَ حالت نصبی نه غیر چې حالت رفعی دے یا جری دے په دِے کښې اکر که التباس نشته، خو دَ الطرداً للباب په حالت نصبی باندِ حمل شو۔ سوال. ستا دا قاعده منتقضه شوه په جاءنی رجل من بنی تمیم فارساً باندِ ځکه چې دلته رجلٌ حال دے اَو نکره ده، سره دَ دِے نه تقدیم دَ حال په دِے باندِ نه دے راغلے۔

جواب. مراد په نکره سره نکره محضه ده، نه نکره مخصصه اَو تا چې کوم مثال ذکر کړے دے، دا دَ نکره مخصصه مثال دے -سوال. ستا قاعده منتقضه شوه په دِے ترکیب باندِ چې جاءنی رجلٌ وزیدٌ راکبین، چې ذوالحال په کښې نکره محضه ده اَو بیا هم وړاندِ تقدیم دَ حال نه دے راغلے-جواب. دا حکم په هغه ځائے کښې دے، چې چرته حال مشترک نه وی، په مابین دَ معرفه اَو دَ نکره کښې اَو دلته حال مشترک دے په مابین دَ معرفی اَو نکره کښې.

ولا یتقدم علی العامل المعنوی

اَو نه به متقدم کیږي، دا حال په عامل معنوی باندِ ځکه چې عامل معنوی ضعیف دے اَو دے په مؤخر کښې عمل کولے شی اَو په متقدم کښې نه شی کولے - سوال. ستا دا قاعده منتقضه شوه په دِے ترکیب باندِ چې زیدٌ قائماً کعمرو قاعداً، ځکه چې قائماً حال دے دَ زید نه اَو عامل په دِے کښې معنوی دے، چې مستفاد دے دَ کاف تشبیه نه لو تقدیم دَ حال په دَ باندِ راغلی دے۔ جواب. دا بنا دے په دِے قاعده باندِ اَو هغه دا چې واقع شی دَ دوه حالو

دَ ذُوالحال سره. دَ دغه شیئین نه په اعتبار دَ مختلفین سره، نو لحجه دا ده چې دَ تو حال به یو وی او دَ ذوالحال سره.

درس نمبر ۱۶۹

بخلاف الظرف په خلاف دَ ظرف نه. **سوال**. بخلاف الظرف په چا پورې متعلق دے؟ یا متعلق وی په هغه ضمیر پورې چې مستتر دے، په تتقدم کښې او راجع دے حال ته او یا متعلق وی په العامل المعنوی پورې، نو که چرته متعلق شی په هغه پورې چې مستتر دے په تتقدم کښې، نو معنیٰ به دا شی چې "ولاتتقدم علی العامل المعنوی بخلاف الظرف فان الظرف یتقدم علیه"، ځکه چې بناء دَ ظرف په توسع باندې ده او دا جائز دی په دے کښې هغه چې جائز نه وی په غیر کښې. او س چې کله دے متعلق شی په ضمیر پورې، نو بیا به دا ظرف خالی نه وی، یا به داخل وی په العامل المعنوی کښې او یا به نه وی، که چرته مندرج وی په العامل المعنوی کښې بیا لازمیږی تقدم دَ شی په خپل نفس باندې او که نه وی مندرج، نو بیا لازمیږی خروج دَ بحث نه، ځکه چې بحث زمونږه په حال کښې دے نه په ظرف کښې او که چرته بخلاف الظرف متعلق شی په العامل المعنوی پورې، نو معنیٰ به دا شی چې "ولاتتقدم الحال علی العامل المعنوی بخلاف الظرف لان الحال تتقدم علیه". او س په دغه صورت کښې دا ظرف به خالی نه وی، یا به داخل وی په العامل المعنوی کښې، او یا به نه وی مندرج، که چرته مندرج وی، نو ښکاره ده، چې مصنف دا سے عبارت راوړے وے، چې "الا الظرف"، دَ پاره دَ اختصار او که نه وی مندرج، نو بیا خو تخصیص دَ ظرف نه دے صحیح، ځکه چې حال ځنګه متقدم کیږی په ظرف باندې، دغه شان په فعل او شبه فعل هم مقدم کیږی. **جواب**. بخلاف الظرف متعلق دے په العامل المعنوی پورې او ظرف مندرج نه دے په عامل معنوی کښې او باوجود په معنیٰ دَ مع سره مه او خلاف په معنیٰ دَ اختلاف سره دے، نو تقدیر به دا شی چې "ولا تتقدم الحال علی العامل المعنوی بالاتفاق مع اختلاف فی الظرف"، ځکه چې په ظرف کښې اختلاف دے، په مابین دَ سیبویه او دَ اخفش کښې سیبویه والی چې جائز نه دے، تقدیم دَ حال په ظرف باندې، ځکه چې ظرف ضعیف العمل دے، په متقدم کښې عمل نه کوی او په مؤخر کښې عمل کوی او مذهب دَ اخفش دا دے، چې ظرف که چرته اعتماد نه کړے وی په مبتدا باندې، نو بیا دے عمل په معمول متاخر او متقدم دواړو کښې کولے شی، ځکه چې په دَ کښې یو قسم له قوت پیدا شی په دغه اعتماد سره او که چرته اعتماد یې نه وی کړے، نو بیا نه کوی عمل په معمول متقدم کښې او دَ یا جواز دا دے، په اختیار دَ شق اول سره چې بخلاف الظرف متعلق دے په تتقدم کښې چې ضمیر دے دَ هغه سره او ظرف مندرج نه دے په عامل معنوی کښې. **سوال**. بیا خو لازمیږی خروج دَ بحث نه. **جواب**. نه لازمیږی خروج دَ بحث نه، ځکه چې حال مشابهه دے دَ ظرف سره، نو چې هر کله مشابهه او کړے شو دَ ظرف سره او حال خو مقدم کیږی نه په عامل معنوی، نو بیا به متوهم دا وهم کولو چې دَ ظرف تقدیم به هم ناجائز وی په عامل معنوی باندې، نو جواب ورکړو مصنف په دے قول سره چې "بخلاف

"الظرف"، ځکه چې بناء د ظروفو په توسع باندې ده او دا په منزله د مجهالو باندې دي۔

ولا على المجرور على الاصح

او نه به متقدم کیږي، په هغه ذوالحال باندې چې هغه مجرور وي- بیا پوهه شوه دا، چې مجروروالی، په اضافت سره او که مجرور وي، په حرف جار سره، که چرته مجرور وي، په اضافت سره، نو نه به متقدم کیږي حال په ده باندې بالاتفاق، ځکه چې حال فرع ده، د ذوالحال او چې ذوالحال هرکله مضاف الیه واقع شوی وي، نو تقدیم د مضاف الیه په مضاف باندې ممتنع دی، نو تابع د مضاف الیه خو به په طریق اولی سره ممتنع وي[1] او چې ذوالحال کله مجرور وي، په حرف جار سره، نو په دیکښې دوه[2] مذهبه دي، یو مذهب اصح دی، بل غیر اصح دی۔ مذهب اصح دا دی، چې تقدیم د حال په هغه ذوالحال باندې چې مجرور وي، په حرف جار سره ممتنع دی، ځکه چې حال تابع د ذوالحال دی او ذوالحال خو دلته مجرور دی او تقدیم د مجرور په حرف جار باندې ممتنع دی، نو د هغه شان تابع د ده په طریق اولی سره ممتنع شو او مذهب غیر اصح دا دی، چې تقدیم د حال په هغه ذوالحال باندې چې مجرور وي، په حرف جار سره جائز دی، ځکه چې حرف جار د معدات د فعل لازم څخه دی، یعنې په دوی سره فعل لازم متعدي کیږي، نو دیته په منزله د جزء د فعل اوګرځیدو او د تقدیم د حال خو په فعل باندې جائز دی، نو په ده هم جائز اوګرځید (دا دلیل عقلي دی) او بل دلیل نقلي دا دی، چې په قرآن پاک کښې هم د حال تقدیم راغلی دی، په هغه ذوالحال باندې چې هغه مجرور دی، لکه "وما ارسلناك الا كافة للناس"، په دې شان سره چې کافة حال واقع شوی دی، د للناس نه، دا جار او مجرور دی او تقدیم د حال ورباندې راغلی دی۔ جواب: وجه دا ده، چې کافة حال د للناس نه نه دی واقع شوی بلکه دا حال د "ارسلناك" د کاف خطابي نه او یا دا صفت دی، د پاره د موصوف محذوف، چې "وما ارسلناك الا رسالة كافة"، او یا دا مفعول مطلق دی، د پاره د فعل محذوف چې "وما ارسلنا الا ان تكف كافة للناس"۔

په دغه جواب سوال واردیږي، چې کافة د کاف خطابي نه حال واقع شي، نو دا ځکه نه صحیح کیږي، چې کاف خطابي مذکر دی او کافة مؤنث دی۔ جواب دا دی، چې په کافة کښې دا تاء د پاره د مبالغې ده او که د تانیث د پاره نه ده او دلیل عقلي نه جواب دا دی، چې دلته مدعی عامه ده او دلیل خاص دی، ځکه چې فعل لازم خو په باء سره متعدي کیږي۔



[1] یعنې ذوالحال خو مضاف الیه نه دی، لیکن د متعلقاتو د مضاف الیه نه دی او ځکه چې تقدیم د مضاف الیه په مضاف ممتنع دی، نو دغه شان تقدیم د متعلقاتو د مضاف الیه هم ممتنع دی، لکه مجارتنی مجردا عن الثیاب ضاربة زید۔ (م-س)

درس نمبر ۱۷

وكل مادل على هيئة صح ان يقع حالا اؤ هر هغه لفظ چه دلالت كوي په بيان د هيئت د فاعل يا د مفعول باندې. بو ابن خبره ده چه مشتق وي اؤ كه جامد وي، صحيح ده چه هغه حال واقع شي ځكه چه غرض د حال نه هغه بيان د هيئة د فاعل اؤ يا د مفعول دے، نو دا چه څنګه اسم مشتق واقع كيږي، دغسې اسم جامد هم واقع كيږي، په دے عبارت سره مصنف رد اوكړو په هغه خلقو چه هغوي وائي چه اسم جامد حال نه واقع كيږي بلكه اسم مشتق حال واقع كيږي اؤ كه چرته اسم جامد حال واقع شوے دے، نو هغه مؤل كړے شوے دے[1].

مثل هذا بسرا اطيب منه رطبا په دے تركيب كښې بسرا اؤ رطبا دواړه حال واقع شوي دي، سره د دے نه چه دواړه مشتق نه دي بلكه اسمين جامدين دي، بسر هغه كجورے ته وائي چه لا پوره پخه نه وي اؤ ترش والے په كښې وي اؤ رطبا هغه كجورے ته وائي چه پخه وي. دلته په رطبا كښې په اتفاق د نحاتو سره عامل اطيب دے اؤ په بسرا كښې اختلاف دے په مابين د محققين كښې اؤ د عامو نحاتو كښې. محققين وائي چه په بسرا كښې هم اطيب عامل دے بيا په هغوي باندې سوال وارديږي چه اطيب صيغه د اسم تفضيل ده اؤ اسم تفضيل عامل ضعيفه دے، نو دے په مؤخر كښې عمل كولے شي اؤ په مقدم كښې نه شي كولے. جواب دا دے چه دا تقديم بنا دے په يو قاعده باندې هغه دا چه هر كله د يو شي نه د دوه حاله واقع شي په اعتبار د مختلفين سره، نو واجبه ده چه هر يو حال ؤ يلي وي د ذوالحال سره، نو بسرا حال واقع شوبه دے، د هذا نه په دے اعتبار سره چه دے مفضل دے اؤ دا بسرا يلي دے هذا ته اؤ رطبا حال دے د مشار اليه نه په دے اعتبار سره چه دے مفضل عليه دے په دے وجه رطبا يلي دے د منه ضمير ته. سوال. هذا مفضل نه دے، بلكه مفضل هغه ضمير دے چه مستتر دے په اطيب كښې، نو ليكن دا ده چه بسرا د دروستو د اطيب نه راشي. جواب. ضمير په مقابله د اسم ظاهر كښې كالعدم دے، چه كله مقابله راشي د اسم ظاهر اؤ د ضمير، نو ترجيح به اسم ظاهر ته وركولے شي، نو د هذا په مقابله كښې د ضمير حيثيت نشته اؤ مذهب د عامو نحاتو دا دے چه عامل په بسرا كښې اشاره اؤ تنبيه ده چه مستفاد ده د هذا نه، ليكن مذهب د دوئ ضعيف دے، د دوه وجونه يو وجه دا ده چه حال خو قيد وي د پاره د عامل د ذوالحال اؤ دلته خو ثبوت قيد د پاره د اشارے اؤ د تنبيه نه دے اؤ دوېمه وجه د ضعف دا ده چه جائز ده دا خبره چه واقع شي په ځائے د اسم اشارے باندې اسم صريح اؤ صحيح نه وي واقع كيدل، لكه ثمرة نخلي بسرا اطيب

---

[1] لكه په مثال د متن كښې دوه د بسرا نه په مبسرا اؤ د رطبا نه په رطبية سره تاويل كوي-۱۲ (م-س).

منه رطبًا، ولته تمرة مبتداء دٔ او جامد دٔ او دا عمل نهٔ شی کولے۔

وقد تکون جملةً خبریةً او کله کله واقع کیږی دا حال جمله خبریه نه جمله انشائیه، ځکه چه غرض د حال نهٔ بیان د هیئت د فاعل او یا د مفعول به دے او دغه چیرته حاصلیږی په مفرد سره، دغه شان حاصلیږی په جملے سره او واقع کیږی به جمله خبریه نه انشائیه، ځکه چه حال مربوط وی د ذو الحال سره او په جمله انشائیه کښے ربط نه وی۔

فالاسمیة بالواو والضمیر او بالواو پس جمله اسمیه چه کله حال واقع شی، نو مُلتبسه وی په واؤ سره او په ضمیر سره، ځکه چه جمله اسمیه موکده ده په استقلال کښے، نو لابدی دهٔ، په دے کښے د رابطه قوی نه او رابطه قوی واؤ او ضمیر دواړه دی، لکه جاءنی زیدٌ وهو راکبٌ او یا متلبسه وی په واؤ سره، ځکه چه واقع کیږی په اول د کلام کښے وجوبًا، نو دے دلالت کوی په ربط باندے د اول وهلته نه، لکه چه په دے حدیث کښے، چه وکنت نبیًا وآدم بین الماء والطین۔

درس نمبر ۱۷۱

او بالضمیر علی ضعفٍ او یا به دا جمله متلبسه وی په ضمیر سره لیکن سره د ضعف نه ځکه چه ضمیر نهٔ واقع کیږی په اول کلام کښے وجوبًا، نو پس دے دلالت نهٔ کوی په ربط باندے د اول وهلته نه۔

والمضارع المثبت بالضمیر وحده او هر کله چه مضارع مثبت حال واقع شی، نو دا به متلبسه وی یواځے په ضمیر سره او واؤ به ورسره نه وی، ځکه چه مضارع مشابهه ده د اسم فاعل سره لفظًا او معنًا او هغه خو یواځے په ضمیر سره دے، نو دا به هم دغه شان متلبس وی په ضمیر سره، لکه جاءنی زیدٌ یسرع ای جاءنی زیدٌ مسرعًا۔

وما سواهما بالواو والضمیر او باحدهما او ماسیوا د دے دواړو نه، چه جمله اسمیه او یا مضارع مثبته دهٔ چه هغه ماسیوا د مضارع منفی دهٔ او یا ماضی منفی او مثبته دهٔ، دا به یا متلبس وی په واؤ او په ضمیر دواړو سره او یا به په یو سره وی، بغیر د ضعف نه او چا دا هم ویلی دی، چه په دے دواړو کښے یو هم نه وی، نو هم صحیح دهٔ او دا په دے وجه باندے چه جمله فعلیه موکده نهٔ دهٔ په استقلال کښے۔ مثال د هغے چه حال جمله وی او فعل مضارع منفی وی او سره د ضمیر او د واؤ نه وی، لکه جاءنی زیدٌ وما یتکلم غلامه۔ مثال د هغے چه حال جمله وی او فعل مضارع منفی وی او سره د ضمیر نه وی او واؤ په کښے نه وی، لکه جاءنی زیدٌ ما یتکلم غلامه، او مثال د هغے چه حال جمله وی او فعل مضارع منفی وی، چه واؤ په کښے وی او ضمیر په کښے نه وی، لکه جاءنی زیدٌ وما یتکلم عمروٌ۔ مثال د هغه دے چه حال ماضی مثبته وی او

سره، د واؤ او د ضمیر نه وی، لکه "جاءنی زیدٌ وَقد خرج غلامُهُ". مثال د هغې چې حال ماضی مثبته وی، او سره د ضمیر نه وی او واؤ په کښې نۀ وی، لکه "جاءنی زیدٌ قدخرج غلامه". مثال د هغې چې حال ماضی مثبته وی او سره د واؤ نه وی او ضمیر په کښې نه وی، لکه "جاءنی زید وقد خرج عمرو". مثال د هغې چې حال ماضی منفی وی او سره د واؤ او د ضمیر نه وی، لکه "جاءنی زیدٌ وما خرج غلامه". مثال د هغې چې حال ماضی منفی وی او سره د ضمیر نه وی او واؤ په کښې نۀ وی، لکه "جاءنی زیدٌ ما خرج غلامُهٗ". مثال د هغې چې حال ماضی منفی وی او سره د واؤ نۀ وی او ضمیر په کښې نۀ وی، لکه "جاءنی زیدٌ وما خرج عمرو".

درس نمبر ۱۷۲

وَلَابُدَّ فِی الْمَاضِی الْمُثْبَتِ مِنْ قَدْ ظَاهِرَةً اَوْ مُقَدَّرَةً

او لابدی ده په فعل ماضی مثبته کښې، چې هغه حال واقع شی، د لفظ د قد نه. برابره خبره ده چې دے په لفظ کښې ذکر وی، او که مقدر وی، مثال د ملفوظ، لکه "جاءنی زیدٌ قد رکب" او چې قد مقدر وی، لکه "او جاءوکم حصرت صدورهم". دلته قد مقدر دے، "ای وقد حصرت صدورهم"، او لابدیت د قد نه په دے وجه ده، چې قد په اصل وضع کښې واضع وضع کړے دے، د پاره د تقریب د زمانے د ماضی د حال سره. او س چې هر کله ماضی حال واقع شوه، نو لابدی ده په دے کښې د قد نه، چې تقریب د زمانے د ماضی راشی زمانے د حال[1] ته.

وَيَجُوْزُ حَذْفُ الْعَامِلِ كَقَوْلِكَ لِلْمُسَافِرِ رَاشِدًا مَهْدِيًّا.

او جائز دے، حذف د عامل د حال په وخت د موجود د قرینے کښې. برابره خبره ده، چې قرینه حالیه وی او که مقالیه وی، مثال د قرینے حالیه، لکه "راشداً مهدیاً"، یعنی "اذهب راشداً مهدیاً"، یا "سِرْتُ راشداً مهدیاً" او قرینه دلته کښې حال د مسافر دے او مثال د قرینے مقالیے، لکه "بلٰی قادرین علیٰ ان نسوّیَ بنانه"، دلته کښې "قادرین" حال واقع شوے دے او حذف د عامل د وجه متحقق شوے دے، چې هغه نجمع دے، حکه چې دلته کښې مخکښې ذکر شوے دے، یعنی "ایحسب الانسان ان لن نجمع عظامه"، نو تقدیر به داسې شی، چې "بلٰی نجمعها قادرین".

وَيَجِبُ فِی الْمُؤَكَّدَةِ مِثْلُ زَيْدٌ اَبُوْكَ عَطُوْفًا

او واجب دے، حذف د عامل د حال

---

[1] واعلم اذا وقع الماضی المثبت حالاً فلا بد فیه من دخول لفظة "قد" سواء کان مکتوباً او مقدراً لیدل بها علی قرب زمان الحال الی زمان صدور الفعل من ذی الحال فاعلاً او على قرب زمانه الی زمان وقوع الفعل عن ذی الحال مفعولاً تجوزاً ان نقوله علیه لجاری لاحقیقی فافهم ۱۲ (م-س).

مؤکده - حال مؤکده دې ته وائي، چه دے نه منتقل کیږي او نه جدا کیږي، د خپل ذوالحال نه او بل حال منتقله ده. حال منتقله دې ته وائي، چه د خپل ذوالحال نه جدا کیږي. سوال. دا قاعده ستا منقوض شوه په دې باندې، چه ﴿شهد الله انه لا اله الا هو والملئکة واولوا العلم قائما بالقسط﴾ ځکه چه قائما بالقسط دا حال مؤکده ده او د دې د عامل یې نه دے حذف شوے.
جواب. مراد په حال سره بعض احوال دي، لکه په دې مثال کښې، چه زید ابوك عطوفا، حال مؤکده ده، ځکه چه عطوفت د لهٔ نه نه جدا کیږي[1].

ای احقه

دلته کښې عامل د پاره د عطوفا احقه دے او احقه په معنی د اثبته سره ده، د پاره د دې، چه دا سوال وارد نه شي، چه کله چرته دا په فتح د همزه سره شي، نو دا به صیغه د واحد متکلم شي، د ثلاثي مجرد ونه، چه هغه دلالت په مبالغه باندې نه کوي، او چرته په ضمه د همزے شي، نو دا به باب انفعال شي او دا به دلالت اوکړي په احقاق او په تحقیق باندې، نو مونږ والیو چه دا په معنی د اثبته سره ده (او دا صیغه د باب افعال ده).

وشرطها ان تکون مقررة لمضمون جملة اسمیة

او شرط د پاره د حذف وجوبي د حال مؤکده د عامل هغه دا دے، چه دا حال به مؤکده وي، منتقله به نه وي، د پاره د مدلول او د مفهوم د جملے، هسے جمله، چه هغه اسمیه وي، فعلیه به نه وي او مراد د جملے اسمیے نه هغه جمله اسمیه ده، چه هغه مرکبه نه وي، د داسے اجزاؤ نه چه هغه صالح وي، د پاره د عمل، چه مضمون د جملے یے اودے، نو په دې سره احتراز اولو، د جزء د جملے نه، یعنی د هغه حال نه، چه هغه تاکید کوي، د بعض اجزاء د جملے، لکه ﴿انا ارسلنك للناس رسولا﴾ دلته کښې رسولا دا حال مؤکده دے، خو دا تاکید کوي، د جزء د جملے چه هغه ارسلنا دے او چه جمله اسمیه یے اوویل، نو په دے سره احتراز اوشو، د جملے فعلیے نه، یعنی چه یو حال مؤکده راوي او هغه تاکید کوي، د مضمون د جملے فعلیے، لکه ﴿شهد الله قائما بالقسط﴾، دلته قائما حال مؤکده واقع شوے ده او عامل یے نه دے حذف شوے، نو جواب دا دے، چه دا جمله فعلیه ده او خبر د مخبر په جملے اسمیه کښې ده او چه مونږ دا اووے، چه هسے جمله اسمیه چه هغه مرکبه نه وي، د داسے اجزاؤ نه، چه هغه صالح دي، د پاره د عمل، نو په دې سره دفع د دې سوال اوشو. سوال دا واردیږي، چه ﴿الله شاهد قائما بالقسط﴾، دلته کښې قائما حال مؤکده د جملے د اسمیے نه راغلے دے او سره د دې نه عامل یے نه دے حذف شوے. جواب دا دے، چه مراد په جملے اسمیے سره، هغه جمله اسمیه ده، چه صالح

---

[1] خلاصه جواب دا شو چه واجب دے حذف د عامل د حال مؤکده په اکثر او غالب کښې پس قاعده متوریه شوله نه کلیه (۱۱۲) مجید

نو دغه اجزاء د معنی د پاره د عمل او دلته کښې جزء د دې چې شاهدٌ دے صالح د پاره د عمل دے دلته کښې حذف واجب دے په حذف وجوبي سره د وجه د وجود د قرینې او د سد مسد نه. هم چې د قرینه هغه نصب د معمول دے او هم چه دے سد مسد هغه اقامت د معمول دے په ځائے ما اَنَا

درس نمبر ۱۷۳

التميز ما يرفع الابهام المستقر عن ذات ای من ملحقات بالمفعول التميز یعنی بعض د ملحقاتو د مفعول نه تميز دے تميز په **لغت** کښې جُدا والي ته وائي او په **اصطلاح** کښې دا هغه اِسم دے چې دے رفع د ابهام کوی د هغه معنی موضوع له نه چې ثابت وی په دې کښې د دې حیثیت نه چې دا موضوع له دے چې ما یرفع الابهام سره اوویل نو دا په منزله د جنس بانديِ شو په دې کښې تمیز صفت او حال ټول داخل شو. **سوال.** ستا دا تعریف مانع اونه ګرځېدو د دخول د غیر نه او داخل شو په کښې مات په دې ترکیب کښې چې قطع رزقه ای مات، دلته کښې مات رفع د ابهام کړې ده د معنی موضوع له نه لو سره د دې نه دا تميز نه دے. **جواب.** دلته کلمه د ما عبارت دے د اِسم نه او مات خو فعل دے.

سوال. مستقر په اعتبار د لغت سره ثابت ته وائي مطلقا او تاسو تیر شو نه ابهام وضعی معنی واخستله او دا خو نه دے، مګر ضرورة دے د معنی حقیقی نه معنی مجازی ته، نو دلته قرینه څه ده، حکه چې په مجاز کښې لابُدی ده د قرینې نه. **جواب.** دا بنا دے په دې قاعده باندې چې شو ذکر شی مطلق، نو صرف سې کیږی فرد کامل ته او فرد کامل په دے مقام کښې ابهام وضعی دے.

سوال. ستا دا تعریف مانع اونه ګرځېدو د دخول د غیر نه او داخل شو په کښې قرینه د مشترکاتو لکه جاریة په دې ترکیب کښې چې رأیت عینا جاریةً، دلته عین لفظ مشترک دے او په جاریة سره یې تعین د معنی مراد راغے، نو په دې سره هم رفع د ابهام راغله. پس دا په تعریف د تمیز کښې داخل شو، دغه شان داخل شو په کښې اوصاف د مبهماتو، لکه هذا الرجل، دلته په هذا کښې ابهام وو په الرجل سره یې تمیز راغے. یکار دا دے چې دا دې هم په تمیز کښې داخل شی او عطف بیان هم په کښې داخل شی، لکه ابوحفص عمر، حکه چې دا رفع د ابهام دے د معنی موضوع له نه، نو دا ټول داخل شو په تمیز کښې، خو په حقیقت کښې دا تمیزونه نه دی. **جواب.** مراد په ابهام سره هغه دے چې ثابت وی په معنی موضوع له کښې، د دې حیثیت نه چې دا موضوع له دے او دلته کښې رفع د ابهام راغلی ده دا د دې حیثیت نه نه ده، بلکه دا پیدا شوی ده، د وجه د تعدد د وضع نه، لکه په قرینه د مشترک کښې او یا د تعدد د مستعمل فیه نه، لکه په اوصافو د مبهماتو کښې ده او یا د وجه د عدم شهرت نه، لکه په عطف بیان کښې.

عن ذات مذکورة او مقدرة پہ دے سرہ احتراز راغلے د حال نہ، ځکہ چہ دے رفع د ابهام کوی، خو د ذات نہ نہ کوی او د غہ شان احتراز راغے د نعت[1] نہ او مذکورة او مقدرة دا صفتونہ دی، د پارہ د ذات او پہ دے کبنے اشارة ده قسمونو د تمیز تہ، یعنی یو هغہ تمیز دے چہ رفع د ابهام کوی د ذات مذکورہ نہ، لکہ "رطلٌ زیتاً"، دلتہ پہ رطل کبنے ابهام دے، نو پہ زیتاً سرہ رفع د ابهام راغلہ او دویم قسم هغہ دے چہ رفع د ابهام کوی د ذات مقدرہ نہ، لکہ "طاب زیدٌ نفساً"۔ دا پہ حکم او پہ قوة د دے قول کبنے دے چہ "طاب شیءٌ منسوب الیٰ زیدٍ نفساً" نو دلتہ نفساً رفع د ابهام کری دہ د ذات مقدرہ نہ چہ هغہ شیءٌ دے۔

فالاول عن مفرد مقدار غالباً پس قسم اول چہ هغہ رفع د ابهام کوی د ذات مذکورہ نہ او رفع د ابهام کوی د مفرد مقدار نہ پہ غالب استعمال کبنے (او دا مفرد بہ یا تام وی پہ تنوین سرہ، یا پہ نون د تثنیہ سرہ او یا پہ اضافت سرہ یا هغہ نون چہ مشابہ وی د نون د جمع سرہ، لکہ عشرون شو) پہ مفرد سرہ احتراز راغے د جملے او د شبہ جملے نہ او د اضافت نہ او پہ مقدار سرہ احتراز راغے د غیر مقدار نہ۔ مقدار هغہ ته وائی، چہ هغہ سرہ د اشیاؤ مقدار معلومیږی او دا پہ پنځہ قسمہ دے، وزن دے کیل (پیمانہ) دے، عدد دے مساحت دے او مقیاس دے۔

امّا عدد نحو عشرون درهماً وسیاتی یعنی هغہ چہ رفع د ابهام کوی د ذات مذکورہ نہ چہ مفرد وی هسے مفرد چہ هغہ کامل وی پہ عدد کبنے، لکہ عشرون درهماً، دلتہ درهماً تمیز دے چہ دہ رفع ابهام کری دہ د معدود نہ چہ هغہ مقدار دے، د عدد او بیان د عدد او د هغے د تمیز ذکر وروستو را روان دے)۔

واما فی غیرہ نحو رطلٌ زیتاً ومنوان سمناً وقفیزان برّاً او یا بہ دا تمیز رفع د ابهام کوی د غیر د عدد نہ سرہ د دے نہ چہ دا مقدار وی، لکہ رطل زیتاً، دا مثال د هغہ دے چہ وزن وی او دے تمام وی پہ تنوین سرہ نو پہ رطل کبنے ابهام دے او پہ زیتاً سرہ رفع د ابهام راغلی دہ۔ "منوان سمناً"، دا مثال د هغہ دے چہ موزون وی او ابهام وی پہ کبنے، پہ سمناً سرہ رفع د ابهام راغلی دہ او دا تام شوے دے پہ نون د تثنیہ سرہ۔ "وقفیزان براً"، دا مثال د مکیل دے او رفع د ابهام کبنے راغلی دہ پہ براً سرہ، دا هم تام شوے دے پہ نون د تثنیہ سرہ۔

---

[1] او دغہ رنگے پہ دے سرہ احتراز راغے د نعت نہ هم ځکہ چہ حال او نعت دواړہ رفع د ابهام کوی د صفت نہ د ذات نہ۔ (م- س)

درس نمبر ۱۷۴

وعلى التمرة مثلها زبدا دا مثال دَ مقیاس دے، چه تامر دے، په اضافت سره لیږ مثلها مبتدا دہ او "علی التمرة" ورله خبر دے، چه واجب التقدیم دے.

سوال. تمیز خو رفع دَ ابهام کوی، دَ ذات نه او په دے مقادیرو کښے خو دَ سره ابهام نشته.
جواب. مراد په مقادیرو سره مقدرات دی. **سوال**. تمیز خو رفع دَ ابهام کوی، دَ معنیٰ موضوع له نه او مقدرات خو معنیٰ موضوع له نه دہ. **جواب**. موضوع له عام دے، چه موضوع له په وضع شخصی سره وی او که په وضع نوعی سره وی. دلته اګرکه وضع شخصی نه دہ، لیکن وضع نوعی دہ.
سوال. مقادیر خو پنځه دی، نو څه وجه دہ، چه مصنف بعض ذکر کړل او بعضے نه او بعض ئے مکرر ذکر کړل؟ **جواب**. غرض دَ مصنف بیان دَ مقادیرو نه دے، بلکه بیان دَ هغه دے، چه په هغے باندے مفرد مقدار تمامیږی، دَ پاره دَ دے، چه علت دَ نصب موجود شی، بنا په تمیز باندے، نو مفرد مثلاً مشابهه دے، دَ فعل سره او متمم دَ دے مشابهه دے، دَ فاعل سره او تمیز ئے مشابهه دے دَ مفعول سره. **سوال**. مفرد مقدار چه څنګه تمامیږی، په تنوین باندے یا په نون دَ تثنیے سره او یا په جمع سره او یا په اضافت سره، نو هغه شان په الف لام سره هم تمامیږی، نو هغه دَ ولے ذکر نه کړو، لکه "عندی الراقود خلّاً"؟ او مراد دا دے، په تمامیدو سره چه بیا محل وی، اضافت دَ دہ، ځکه چه دَ معرف باللام اضافت ممتنع دے. **جواب**. مراد په متمم سره مطلق متمم نه دے، بلکه هغه متمم دے، چه هغه مشابهه وی، دَ فاعل سره او الف لام نه دے مشابهه دَ فاعل سره، ځکه چه فاعل دَ فعل نه وروستو وی او لام مقدم دے، په اسم باندے.

فیفرد ان کان جنسا پس دا تمیز به مفرد وی، که چرته دے جنس وی، ځکه چه دَ جنس اطلاق په قلیل او په کثیر دواړو باندے برابر دے، ځکه چه مقصود دَ تثنیت او جمعیت نه دلالت دے، په کثرت دَ افرادو باندے او دَ جنس اطلاق په قلیل او کثیر دواړو برابر دے او دَ جنس اجزاء متشابهه دی دَ یو بل سره، لکه "عندی رطل زیتاً".

الا ان یقصد الانواع مګر نه به وی مفرد په هغه وخت کښے، چه قصد دَ انواعو او کړے شی او مراد په انواع سره ما فوق دے دَ واحد نه، یعنی "یفرد فی جمیع الاوقات الا وقت قصد الانواع المختلفة"، بیا به ولے، چه "عندی رطل زیتین او رطل زیوتاً"؟ او دا ځکه چه جنس اګرکه دلالت کوی، په کثرت دَ افرادو باندے، ولے دے دلالت نه کوی، په کثرت دَ انواعو باندے، نو لابدی شو، په دے کښے دَ تثنیت او دَ جمعیت نه. **سوال**. تمیز چه څنګه تثنیه او جمع کیږی، دَ پاره دَ قصد دَ انواعو، نو هغه شان تثنیه او جمع کیږی، دَ پاره دَ قصد دَ اعداد و هم، نو څه وجه ده،

چې مصنف؟ قصد د الواعو ذکر کړو او قصد د اعداد یې ذکر نه کړو؟ **جواب.** مراد په الواعو سره حصص د جنس دی۔ برابره خبره ده، چې په خصوصیات سره وی او که په شخصیات سره وی۔

ویجمع فی غیره

او په غیر د جنس کښې جمع کیږی او تثنیه کیږی، چې هر کله یې جمع اوروے، نو تثنیه به کښې هم داخله شوه او یا مراد د جمع نه مافوق الواحد دے او جمع کیږی، بیا په دے وجه باندې چې موافقت راشی، په مابین د تمیز او د ممیز کښې۔

ثم ان کان بتنوین او بنون التثنیة جازت الاضافة

پس د هغه نه که چرے دا مقدار مفرد، چې تام وی، په تنوین سره او یا په نون د تثنیې سره او چې ضمیر په کان کښې راجع شی، تمیز ته، نو معنیٰ به دا شی، چې کچرے تمیز چې متلبس وی، اِسم د هغه چې تام وی، په تنوین سره یا په نون د تثنیې سره، نو جائز دے اضافت، ځکه چې مقصود د تمیز نه رفع د ابهام ده او هغه حاصلیږی په اضافت سره، سره د تخفیف نه۔

والا فلا

یعنی وان لم یکن بتنوین او بنون التثنیة فلا یجوز الاضافة، که چرته نه وی تمامیږی اِسم د هغه په تنوین سره یا په نون د تثنیې سره، بلکه تمام شوے وی په جمع جمع سره، او یا په اضافت سره، نو بیا جائز نه دے اضافت، ځکه چې په صورت د جمع کښې (یعنی په نون د جمع کښې) جائز دے، اضافت د دے غیر د تمیز ته۔ او س که چرته دے مضاف او ګرځی تمیز ته، نو التباس اوشی۔ او په صورت د اضافت کښې لازمیږی اضافت د مضاف، لان المضاف لایضاف ثانیاً، او په عشرون درهماً کښې اضافت متعذر دے۔

وعن غیر مقدار مثل خاتم حدیداً

او کله رفع د ابهام راځی د غیر مقدار نه لکه خاتم حدیداً، ځکه چې دلته په خاتم کښې ابهام وو ځکه چې خاتم د حدید هم وی، د سپینو زرو هم وی، د تانبې هم وی۔ پس په خاتم کښې ابهام دے، سره د دے نه چې دا غیر مقدار دے، نو حدیداً د دے د پاره تمیز واقع شو۔

والخفض اکثر

او جر په تمیز د غیر مقدار کښې اکثر دے، یعنی کثیر الاستعمال دے، ځکه چې غرض د تمیز نه رفع د ابهام وه او دا څنګه حاصلیږی په نصب سره، دغه شان حاصلیږی په اضافت سره او سره د مزید فائدے نه چې هغه تخفیف دے۔

درس نمبر ۱۷۵

والثانی عن نسبة او ما ضاهاها

او قسم ثانی د تمیز چې هغه رفع د ابهام کوی، د نسبت نه چې واقع وی په جمله کښې او په هغه کښې ابهام وی او یا نسبت واقع وی په شبه جمله کښې او مراد د جملے نه جمله فعلیه ده۔ مضاهاة، په معنیٰ د مشابهت

سره راځي، شبهه جمله، لکه اسم فاعل شي. مثال یې دا یې دے، لکه "الحوض ممتلئٌ ماءً" او یا اسم مفعول، لکه "الارض مفجرة عیوناً" او یا صفت مشبه وي، لکه "زیدٌ حسنٌ وجهاً" او یا اسم تفضیل وي، لکه "زیدٌ افضل اباً" او دا جمله چه څنګه فعل فاعل غواړي، نو دغه شان دوی هم فاعل غواړي، ځکه چه دوی مشابهه دي د فعل سره. **سوال**. دا خو مخالفت راغے، په مابین د اجمال او د تفصیل کښې، ځکه چه اجمال دا دے، چه قسم ثاني هغه دے، چه رفع د ابهام کوي، د نسبة نه، په جمله کښې او یا په شبه جمله کښې. **جواب**. ابهام په طرف د نسبة کښې مستلزم دے ابهام لره، په نفس نسبت کښې، او رفع د ابهام په نسبت کښې مستلزم ده، رفع د ابهام لره په طرف د نسبت کښې او مصنف دلته اختصار اوکړو، په نسبت باندې د پاره د تنبیه، په دے خبره باندې، چه مقابله په مابین د قسمین د تمیز کښې نشته، په اعتبار د ذات مقدر یا مذکور سره بلکه په اعتبار د ذات او د نسبت سره ده، که چرته تمیز رافع د ابهام وي، د ذات نه، نو هغه قسم اول دے. برابره خبره ده، چه ذات مذکور وي او که مقدر وي او که چرته تمیز رافع د ابهام وي، د نسبت نه، نو هغه قسم ثاني دے. برابره خبره ده، چه ذات مذکور وي او که مقدر وي.

ضابطه

زده کړه دا خبره چه تمیز د نسبت نه په څلور قسمه دے. وجه د حصر یې دا ده، چه دا تمیز به خالي نه وي، یا به عین وي او یا به عرض وي (عین قایم بالذات ته وایي، او عرض قایم بالغیر ته وایي) او هر یو به د دے نه خالي نه وي، یا به په مفهوم د دے کښې اضافت وي او یا به نه وي (یعني غیریت به پکښې لسبت وي او یا به نه وي)، نو دا څلور قسمه شول، عین اضافي، عین غیر اضافي، عرض اضافي، عرض غیر اضافي. عین اضافي، لکه اب شو، ځکه چه دے قایم بالذات دے، او مفهوم د ده کښې اضافت معتبر دے، غیریت. عین غیر اضافي، لکه مال شو، ځکه چه دے قایم بالذات دے او په مفهوم د دے کښې اضافت نه دے معتبر غیریت. عرض اضافي، لکه الابوة شو، ځکه چه دے قایم بالغیر دے او په مفهوم د ده کښې اضافت معتبر دے، غیریت. عرض غیر اضافي، لکه علم شو، ځکه چه دا قایم بالغیر دے او په مفهوم د ده کښې اضافت غیریت نه دے معتبر. بیا دا تمیز په اعتبار د منتصب عنه سره په درې قسمه دے، یو هغه دے، چه خاص دے په منتصب عنه پورې، دویم هغه دے، چه خاص دے په متعلق د منتصب پورې. دریم هغه دے، چه په دواړو پورې صلاحیت د تعلق لري. منتصب عنه، لکه زید شو په طاب زید نفساً کښې، ځکه چه د ده په وجه باندې تمیز منصوب دے.

مثل طاب زید نفساً

دا مثال د جملې دے، او دا وړے په نسبت کښې ابهام وو، نو په نفساً سره رفع د ابهام راغلې ده، تمیز په دے کښې عین غیر اضافي دے او خاص دے، په منتصب عنه پورې.

وزید طیب اباً دا مثال د شبهې جملې دے، تمیز په دے کښې عین اضافي دے او خاص نه کوے، په منتصب عنه پورې، بلکه د دواړو سره د دے تعلق راتلے شي یعنی زید نبه دے، د حیثیت د پلار والی نه، چه دے په خپله پلار دے او یا دا چه د زید پلار ښه دے۔

والوة ودارا وعلما سوال۔ د باره د وضاحت خو یو مثال کافي وو، دومره مثالونه ته ضرورت دے؟ جواب۔ کثرت د مثالونو په اعتبار د کثرت د تمثلا سره دے، ځکه چه یو تمیز هغه دے چه عین اضافي وي، بل هغه چه عین غیر اضافي وي، بل هغه چه عوض اضافي وي او بل هغه چه عوض غیر اضافي وي او هر یو د دے اربعونه به یا خاص وي په منتصب عنه پورې یا په متعلق د منتصب عنه پورې او یا صالح وي د دواړو د باره۔

اوفی اضافه مثل یعجبنی طیبه ابا والوة ودارا. دا عطف دے په جمله باندې، او تقدیر د عبارت به داسې شي چه والثاني عن نسبة في اضافة۔ دلته په طیبه کښې اضافت دے او په دے قسم کښې تمیز له ابهام دے، او په اباً الوة او داراً سره ترے نه رفع د ابهام راغلو۔ یو مثال د هغه دے چه تمیز عین اضافي وي، او س اباً مثال د عین اضافي دے او صالح دے د دواړو د باره، الوة عوض اضافي دے، دار عین غیر اضافي دے۔

وعلما! علم مثال د عوض غیر اضافي دے، په دے کښې د ابا نه علاوه دا نور ټول صالح وي، چه دوی خاص او کړی، په منتصب عنه پورې۔

ولله دره فارسا در په اصل کښې لبن ته والي او عرب دا لفظ د باره د خیر کثیر استعمالوي او معنی به داسې شي چه لله خیره فارسا۔ دلته فارسا تمیز واقع شوے دے۔
سوال۔ مثال خو د باره د وضاحت د تمثیل راځي، او د وضاحت د باره خو یو مثال کافي وو، او دومره مثالونه ولې ذکر کړل؟ جواب۔ په دے کښې تنبیه ده، په دے خبره باندې چه تمیز څنګه جامد واقع کیږي، او دغه شان مشتق هم واقع کیږي۔ فوارسة یا په فتح د فارس سره په معنی د شهسوارۍ سره راځي او په کوم هوښیار ته والي۔ سوال۔ څه وجه ده چه بعض غالو دا مثال د باره د قسم اول راوړے دے او مصنف دا مثال د باره د قسم ثالث ذکر کړو؟ جواب۔ په درة کښې دا ضمیر که چرے معلوم وي، او دا مثال د قسم ثالث دے او که مجهول وي، او دا مثال د قسم اول دے، او د مصنف په نزد دا معلوم وو، په دے وجه یې مثال د باره د قسم ثالث راوړلو۔

ثم ان کان اسما لیصح جعله لما انتصب عنه جاز ان یکون له او لمتعلقه پس د هغه نه که چرے وي، دا تمیز اسم ذاتي نه اسم صفتي، هسے اسم چه صحیح

وي کوځول د هغه د پاره د منتصب عنه (راهغه دے چه ده ته نسبت د عامل د تمیز نه شوے وي) او جائز ده داخبره چه داتمیز د منتصب عنه د پاره راشي او یا د هغه د متعلق د پاره، لکه "طاب زید اباً"، نو دا اباً تمیز واقع کیدے شي د منتصب عنه هم چه زید دے، نو معنی به دا شي چه زید پلار دے، د دې حیثیت نه چه پلار دے او که دے تمیز واقع شي متعلق د منتصب عنه نه، نو معنی به دا شي چه زید ښه دے چه د ده پلار ښه دے۔ **سوال**. دا قاعده ستا منقوضه شوه، په "طاب زید نفساً" باندې، ځکه چه نفساً اسم ذاتي دے او سره د دې نه جائز نه دی چه دے صالح او ګرځي د پاره د منتصب عنه او د متعلق د منتصب عنه، بلکه دے خاص دے فقط په منتصب عنه پورے۔ **جواب**. مراد په اسم ذاتي سره هغه دے چه صحیح وي کوځول د هغه د پاره د منتصب عنه او دے نص نه وي په منتصب عنه کښې او نفساً خو نص دے په منتصب عنه کښې۔

درس نمبر ۱۷۶

والا فهو لمتعلقه فهو لیطابق فیهما ما قصد

او که چرته صحیح نه وي ګرځول د ده د پاره د منتصب عنه، نو بیا به داتمیز واقع شوے وي د متعلق د منتصب عنه نه۔ پس داتمیز به مطابق وي د مقصود سره په افراد، تثنیه او جمع کښې او په مذکر مونث کښې۔ "فیطابق فیهما"، پس مطابق وي داتمیز په دواړو صورتونو کښې د هغه سره چه کوم قصد کړے شوے وي، د افراد او د تثنیه او د جمع نه، چه او وائې "طاب زید اباً، طاب الزیدان ابوین، طاب الزیدون آباءً، لکه یا او وائې، چه "طاب زید اباً، طاب زید ابوین" (چه پلار او نیکه دواړه مراد شي)، او "طاب زید آباءً" (چه پلار، نیکه او لږ نیکونه هم ورسره مراد شي)۔

الا ان کان جنساً

یعني مطابق وي په جمیع اوقاتو کښې، مګر مطابقت به نه وي په وخت د کیدلو د دې تمیز کښې جنس، ځکه چه د جنس اطلاق په قلیل او په کثیر باندې برابر دے، نو په دې وجه د دې تثنیه او جمعیت ته ضرورت نشته، لکه چه او وائې "طاب زید علماً"۔

الا ان یقصد الانواع

دا مستثنیٰ مفرغ ده، یعني تمیز به مفرد راوړلے شي، چه کله دے جنس وي په جمیع اوقاتو کښې، مګر نه به وي دے جنس چه کله قصد د انواعو او شي، ځکه چه جنس دلالت کوي په کثرت د انواعو، لیکن دلالت کښې په کثرت د انواعو دلالت نه کوي۔ پس په دغه صورت کښې تر وافق د انواعو یا د نوعین راځي، لکه "طاب زید علمین یا علوماً"۔

وان کانت صفة کانت له وطبقه

او که چرته داتمیز اسم صفتي وي، یعني اسم فاعل، اسم مفعول، صفت مشبه او یا اسم تفضیل وي، نو

دا تمیز به صفت گرځي، دا پاره د منتصب عنه، ځکه چه صفت تقاضا کوي د موصوف، لو منتصب عنه به د دې دپاره موصوف او گرځي، لکه طاب زید والداً، دلته والداً اسم صفتي سره اگر تمیز دے، لو دے به صفت وي، د پاره د نه دے۔ **سوال**۔ تمیز خو رفع د ابهام کوي د ذات نه، لو دے به څنګه رفع د ابهام اوکوي د صفت نه، چه ته وائے وان کانت صفة الخ۔ **جواب**۔ مراد په صفت سره اسم مشتق دے۔

سوال۔ دا قاعده ستا منتقض شوه، په دې قول سره چه کفیٰ زید رجلاً، ځکه چه رجلاً اسم صفتي نه دے او سره د دې نه خاص دے په منتصب عنه پورے۔ **جواب**۔ اسم صفتي عام دے، صریح وي او که تاویلاً۔ دلته اګر که دا رجلاً صریح نه دے لیکن په تاویل سره اسم صفتي دے، تقدیر به دا دے شي چه کفیٰ زیدٌ کاملاً في الرجلیة، او مطابق به وي دا تمیز د منتصب عنه سره په افراد تثنیه او جمعیت کښې او د غه شان په تذکیر او په تانیث کښې، ځکه چه دے حامل دے د ضمیر د منتصب عنه۔

سوال۔ وطبقه عطف دے په خبر د کان باندې او خبر د کان محمول وي په اسم د کان باندې، لو دلته کښې دا حمل نه صحیح کیږي، ځکه چه حمل د صرف وصف لازمیږي۔ **جواب**۔ واؤ په معنیٰ د مع سره دے، یعنی مع طبقه او یا دا چه دلته په مصدر کښې معنیٰ د تاویل کوو، یعني مطابقة له او واؤ به د پاره د عطف شي۔

واحتملت الحال لوټا صفت مذکوره احتمال د حال لري، د وجه د معنیٰ د استقامت نه د حال، یعنی معنیٰ د حال په دې کښې هم صحیح کیږي۔ **سوال**۔ چه هر کله معنیٰ د تمیز او د حال په دې کښې برابر ده، لو بیا حال نے ولے په احتمال سره ذکر کړو۔

جواب۔ جهت د تمیز په دې کښې قوي دے، د جهت د حال نه، ځکه چه معنیٰ د مثال طاب زیدٌ فارساً، لو فارساً تمیز شي یعني نیه بیده دے، د دې حیثیت نه چه فارس دے اګر چه حال شي لو دا به مدح او ګرځي د پاره د دلیل شي، په حال د فروسیة کښې او مقصود نعمت د فروسیة د نیه دے، لو د تمیز معنیٰ موافق او لائق ده، د مقصود سره۔

ولا یتقدم علی عامله او دا تمیز نه مقدم کیږي، په خپل عامل باندې، که عامل د دې اسم تام وي، لو اسم جامد ضعیف العمل دے، په موخر کښې عمل کولے شي لیکن په مقدم کښې نه شي کولے، که چرته عامل د ده فعل وي، لو دے به په منزله د فاعل او ګرځي، لکه فاعل موخر وي، د فعل نه۔

والاصح ان لا یتقدم علی الفعل او اصح په مذاهب کښې دا دے، چه دے نه مقدم کیږي، په فعل باندې او وجه یې صحیح او ثقیله ځکه چه دے مشابهه دے، د فاعل سره لو فاعل موخر وي د فعل نه، لکه طاب زید نفساً، دا په

دې تاویل سره شي چې "طاب نفس زید". **سوال.** ته وایئ چې تمیز په منزله د فاعل دے، نو دا قاعده ستا منتقضه شوه په دې ترکیب سره چې "فجرنا الارض عیونا". دلته عیونا تمیز دے او سره د دې نه دا صحیح نه ده چې دے فاعل واقع شي او دغه شان "امتلأ الاناء ماءً". دلته کښې ماءً تمیز دے، د نسبت نه او بیا هم فاعل واقع کېدل د دې نه دي صحیح. **جواب.** فجرنا کښې باب تفعیل په معنیٰ د باب انفعال سره دے، نو تقدیر به دا شي "انفجرت عیون الارض" او په امتلأ الاناء ماءً کښې باب افتعال چې امتلاء دے، په معنیٰ د مجرد سره دے، نو معنیٰ به دا شي چې "ملأ الماء".

خلافاً للمازني والمبرد خلاف ثابت په دې قول کښې ابوعثمان مازني نحوي لره او امام د نحو مبرد لره نحوي ولې چې جائز دے، تقدیم د تمیز په فعل باندې ځکه چې فعل عامل قوي دے، په مقدم او په موخر دواړو کښې عمل کوي او د دغوی دلیل دا دے، چې "وما کاد نفساً بالفراق تطیب". دلته کښې نفساً تمیز واقع شوے او متقدم دے په عامل باندې چې هغه فعل تطیب دے، او قول شعر دا دے چې:

أتهجر سلمیٰ بالفراق حبیبها ۔ وما کاد نفساً بالفراق تطیب!

پس د دې نه جواب دا دے، چې په دې شعر کښې یو روایت په نفس سره دے، او بل جواب دا دے چې دا د قبیلې د ما اضمر عامله علی شریطة التفسیر نه دے، یعنې د تطیب نه نفساً حال واقع شوے دے، خو هغه د نفساً نه مقدم دے او دا وروستو تطیب تفسیر دے، د پاره د هغه او کلمې تطیب.

درس نمبر ۱۷۷

المستثنیٰ متصل ومنقطع بل د ملحقاتو د منصوباتو نه مستثنیٰ دے، مستثنیٰ په **لغت** کښې جدا کړے شوي ته وائی او په **اصطلاح** کښې تعریف اعتباري دا دے چې دا هغه اسم دے، چې ذکر کړے شوے وي پس د حرف استثناء نه.

سوال. تقسیم فرع د تعریف ده، نو پکار دا ده چې اول یې تعریف د مستثنیٰ کړے وے او بیا یې تقسیم کړے وے. **جواب.** دلته د مستثنیٰ د پاره یو جامع مانع تعریف نه وو چې هغه دې دواړو قسمونو له شامل شي، په دې وجه یې تعریف او نه کړو. **سوال.** دا خو لازمیږي، تقسیم د مجهول او تقسیم د مجهول باطل دے. **جواب.** تعریف په دوه قسمه دے، یو تعریف حقیقي او بل تعریف اعتباري. دلته اګر که تعریف حقیقي نشته، خو تعریف اعتباري شته چې هغه موږ ذکر کړو، چې ذکر وي پس د حرف استثناء نه او د دومره تعریف کافي دے، د پاره د تقسیم. **سوال.** د دې قسمونو تعریف یې ولې او کړه؟ **جواب.** د هر یو قسم د پاره خاص احکام دي، په دې وجه یې ول

تعريف نه کړل، ما مستثنیٰ په دوه قسمه ده، يو متصل ده او بل منقطع ده، وجه د حصر يې دا ده چه دا مستثنیٰ به خالي نه وي يا به داخل وي په مستثنیٰ منه کښې قطعاً مخکښې د استثناء نه او يا به خارجه وي، د مستثنیٰ منه نه قطعاً مخکښې د استثناء نه، که چرته اوّله وي، نو مستثنیٰ متصله ده او که دوهمه وي، نو مستثنیٰ منقطعه۔

فالمتصل هو المخرج عن متعدد لفظاً او تقديراً

پس مستثنیٰ متصل هغه ده چه د هغې اخراج شوے وي، د متعدد نه۔ برابره خبره ده چه دا متعدد ملفوظ وي او که مقدر وي۔ **سوال**. اخراج خو هميشه د متعدد نه کيږي نو ذکر د متعدد پس د مخرج نه زائد دے۔ **جواب**. دا د پاره د بيان د تفصيل د لفظاً او تقديراً راغلے دے۔ دلته دا لفظاً په معنیٰ د ملفوظ يا لفظياً او تقديراً په معنیٰ د مقدر يا تقديرياً سره معنیٰ "فانه دفع الاعتراض المقدر حتی تفصيله فيما مضی"۔ مثال د هغې چه متعدد لفظي وي، لکه جاءني القوم الا زيداً، او مثال د متعدد چه مقدر وي، لکه ما جاءني الا زيدٌ۔

بالا واخواتها

دا استثناء به راغلي وي په الا سره او يا د هغې په اشباه او نظائرو سره، چه سویٰ حاشا خلا او عدا او غيره دي۔ په الا او اخواتها سره احتراز راغلے د هغه نه چه په الا يا په اخوات د الا سره نه وي ذکر، بلکه په لفظ د استثناء سره ذکر وي لکه جاءني القوم مستثنیٰ منهم زيدٌ۔

والمنقطع المذكور بعدها غير مخرج

او مستثنیٰ منقطع هغه اسم دے چه ذکر کړے شوے وي، پس د الا او د نظائرو نه، چه هغه غير صفتي وي، په حال د کون د دے کښې چه دا مخرج نه وي، د متعدد نه، يعنی غير مخرج عن متعدد دے۔ **سوال**. د مستثنیٰ منقطع په تعريف کښې دِ هو ذکر نه کړو او په متصل کښې د هو را وړو ما صلے؟ **جواب**. دلته يې هو ذکر نه کړو او مراد دے، په قرينه د ذکر د ده سره په مستثنیٰ متصل کښې۔ مثال د مستثنیٰ منقطع، لکه جاءني القوم الا حماراً۔ زيه کړو دا خبره چه دلته اختلاف دے په مابين د علماو نحاتو کښې او د محققين کښې په تفسير د مستثنیٰ متصل او منقطع کښې۔ عام نحات والي چه مستثنیٰ متصله هغه ده والي چه مستثنیٰ داخله وي په مستثنیٰ منه کښې او منقطعه هغه ده والي چه مستثنیٰ په مستثنیٰ منه کښې داخله نه وي، لکه يا به د جنس د مستثنیٰ منه نه وي او يا به نه وي، که د جنس د مستثنیٰ منه نه وي، نو دا متصله ده او که نه وي نو دا منقطعه او مذهب د محققينو دا دے، چه مستثنیٰ داخله وي په مستثنیٰ منه کښې قطعاً قبل الاستثناء، نو دا مستثنیٰ متصله ده او که خارجه وي، مستثنیٰ د مستثنیٰ منه نه قطعاً دا منقطعه ده او په دواړو صورتونو کښې برابره ده۔

خبره دا چه مستثنیٰ د جنس د مستثنیٰ منه نه وی اوکه نه وی [1]۔

وهو منصوب اذا كان بعد الا غير الصفة. او دا مستثنیٰ به منصوب وی وجوباً، چه کله دا واقع شی، پس د اِلّا نه هغه اِلّا چه هغه غیر صفتی وی، ځکه چه کله چه صفتی شی، نو دے به بیا په اعراب کښے تابع وی، تخیل موصوف، لکه "لوكان فيهما الهة الا الله لفسدتا"۔ او س چه هرکله مصنف بیان د تمیز د مستثنیٰ اوکړو، نو شروع ئے اوکړه په بیان د دے خبرے کښے، چه مستثنیٰ به کله واجب النصب وی او کله به نصب جائز وی او کله به مجرور وی، نو په دے عبارت سره مواضع د وجوب د نصب د مستثنیٰ بیانوی، نو وائی چه کله مستثنیٰ واقع شی، پس د اِلّا نه چه غیر صفتی وی۔

فى كلام موجب کلام موجب هغه ته وائی چه په کښے نفی نهی استفهام نه وی، لکه "جاءنى القوم الا زيدا"۔ دلته نصب واجب دے بنابر استثنائیت ځکه چه محل د پاره د نصب د مستثنیٰ بنابر استثنائیت هغه یا رفع دے یا نصب دے او یا جر دے بنا بر بدلیت، و لے دلته بدلیت نه صحیح کیږی، ځکه چه بدل په حکم د تکرار د عامل کښے دے، نو که چرے دلته کښے مونږ تکرار د عامل راوړلو، لکه په "جاءنى القوم الا زيدا" کښے، نو فساد په معنیٰ کښے راځی او که نه راوړلو نو بدل نه صحیح کیږی [2]۔

پس متعین شو نصب بنابر استثنائیت۔ **سوال**۔ لا نه ردی، په مصنف چه یو بل قید ذکر کړی، د پاره د اخراج د دے ترکیب، چه "قرأت الا يوما"، ځکه چه مستثنیٰ په دے کښے منصوب دے خو بنا بر ظرفیت دے نه بنا بر استثناء۔ **جواب**۔ قید ته ضرورت نشته، ځکه چه کلام زمونږ په نصب د مستثنیٰ کښے دے مطلقاً نه، په نصب د مستثنیٰ کښے دے بنا بر استثنائیت۔ **سوال**۔ مصنف له پکار وو چه یو بل قید ئے ذکر کړے وے د پاره د اخراج د دے ترکیب، چه "قرأ الا يوم كذا"، ځکه چه په دے کښے استثناء مرفوع دے نه منصوب۔ **جواب**۔ دلته کښے بل قید ذکر کولو ته ضرورت نشته، ځکه چه دا مستثنیٰ مفرغ دے او د هغے حکم راروان دے۔

او مقدما على المستثنىٰ منه دا بل حالت د وجوب د نصب د مستثنیٰ بیانوی، چه کله مستثنیٰ مقدم وی په مستثنیٰ منه باندے، لکه "ماجاءنى

---

[1] اعلم قد ذهب المصنف الى هذا الرأى ولم يشم رائحة المشهورة كما ذهب النحاة العامة فى المتصل من جنسه والمنقطع من غير جنسه لان الاعتبار فى المستثنىٰ على دخول وخروج من قبله ۱۲۰ (م - س)۔

[2] ځکه چه بدل مدمن المبدل منه نه واقع کیږی۔ ۱۲ (م - س)۔

"الا زیدٌ احدٌ"، نو دلته نصب واجب دے، ځکه چه محل د پاره د نصب بنا بر استثنائیت مانع ده، یا نصب دے لکه یا جر دے بنا بر بدلیت او دلته کښے بدل نه صحیح کیږی، ځکه چه کله چرے دا بدل واقع شی نو لازمیږی تقدیم د بدل په مبدل منه باندې او دا ناجائز دے او که صفت یے واقع کړی نو ځو تقدیم د صفت راځی په موصوف باندې۔

او منقطعاً! ما بل حالت د وجوب د نصب د مستثنیٰ ذکر کوی چه کله مستثنیٰ منقطع وی، نو نصب واجب دے، لکه "جاءنی القوم الا حماراً"، ځکه چه محل د پاره د نصب مستثنیٰ بنا بر استثنائیت، هغه بدل دے یعنی هغه رفع یا نصب یا جر دے، بنا بر بدلیت او دلته دا سیوا د بدل غلط نه بل احتمال نه لری، لیکن دلته بدل غلط هم ممتنع دے، ځکه چه بدل غلط کښے سهو وی او بنا د مستثنیٰ په سهو باندې نه ده۔

فی الاکثر یعنی عند الاکثرین یا فی اکثر الاستعمالات، په دے کښے دوه مذهبه دی، یو مذهب د حجازیین دے او بل مذهب د بنو تمیم دے۔ حجازیین دا منصوب وائی او په نزد د بنو تمیم باندې مستثنیٰ منقطعه په دوه قسمه ده، یو هغه ده چه صحیح وی حذف د مستثنیٰ منه او اقامت د مستثنیٰ په ځائے د مستثنیٰ منه، نو په اول کښے جواز د بدلیت دے او په دویم کښے تعین د نصب دے بنا بر استثنائیت، لکه "لا عاصم الیوم من امر الله الا من رحم"۔

او کان بعد خلا وعدا فی الاکثر دا بل حالت دے د وجوب د نصب د مستثنیٰ چه دا مستثنیٰ واقع شی پس د خلا او یا د عدا نه په اکثر استعمال کښے یا په نزد د اکثرو نحاتو، ځکه چه خلا او عدا افعال دی او د دوی د پاره فاعل مقدر دے چه هغه ضمیر دے او د دے نه وروستو چه کوم اسم دے، هغه مفعول دے، نو هغه به منصوب وی بنا بر مفعولیت۔ **سوال.** عدا خو صحیح ده چه د دے نه وروستو به مفعول وی ځکه چه دا فعل متعدی دے، مګر خلا خو فعل لازمی دے، نو د دے نه وروستو به څنګه مفعول راشی؟ **جواب.** خلا په معنیٰ د جاوز سره دے او جاوز فعل متعدی دے۔ **سوال.** خلا او عدا خو افعال دی او د دے نه وروستو چه مستثنیٰ واقع شوی ده هغه مفعول به ده، نو فعل سره د فاعل او د مفعول به نه جمله فعلیه ده او په جمله کښے لابدی ده د اعراب نه، نو د دے اعراب څه دے؟ **جواب.** د دے اعراب نصب دے بنا بر حالیت۔ **سوال.** جمله فعلیه چه ماضی وی او حال واقع شی نو لابدی ده په کښے د قد نه او دلته کښے خو قد نشته۔ **جواب** دا دے چه لفظ د قد دلته مقدر دے۔

فی الاکثر! ما بعد منصوب وی په نزد د اکثرو نحاتو باندې، ځکه چه دا مفعول دے او منه،

منصوب وی اؤ بعض نحات وائی چه خلا اؤ عدا حروف جر دی، لوَ دیے نه وروسته به مجرور وی۔

درس نمبر ۱۷۸

وماخلا وماعدا ولیس ولایکون پنځم ځائے دَ هغه مواضعونه چه نصب دَ مستثنٰی په کښے واجب دے هغه، هغه مستثنٰی دَه چه دَ ما خلا اؤ دَ ماعدا اؤ دَ لیس اؤ دَ لایکون نه وی، لکه جاءنی القوم ما خلا زیداً وما عدا زیداً اؤ دا ځکه چه دلته ما مصدریه دے اؤ دا نو داخلیږی، مګر په فعل باندې۔ پس فاعل دَ دیے افعالو به ضمیر اوګرځی اؤ دے نه وروسته چه کوم اسم راشی هغه به منصوب وی، بنا بر مفعولیت۔ اوس دا ما خلا اؤ ما عدا دا په محل دَ نصب کښے دی بنا بر ظرفیة اؤ یا بنا بر حالیة۔ **سوال**۔ نصب دَ دوئ بنا بر ظرفیة نه صحیح، ځکه چه ظرف په دوه قسمه دے اؤ دا نه ظرف زمان دی اؤ نه ظرف مکان دی۔ **جواب**۔ ظرفیة دَ دوئ بنا بر مجاز دے، ځکه چه ما مصدریه کله په فعل داخل شی، نو دا به تاویل سره مصدر وی، سره دَ تقدیر دَ وقت نه، نو دَ ماجاءنی القوم ما خلا زیداً معنٰی به دا شی، چه جاء القوم وقت خلو مجیئتهم زیداً اؤ دَ ماجاءنی القوم وقت عدم مجیئتهم زیداً۔ **سوال**۔ نصب دَ ما خلا اؤ دَ ما عدا بنا بر حالیة نه صحیح کیږی، ځکه چه حال محمول وی په ذوالحال باندې اؤ دلته حمل دَ صرف وصف راځی په ذات باندې **جواب**۔ دا مؤول دے په تاویل دَ فاعل سره، چه جاءنی القوم خالیاً مجیئتهم زیداً، اؤ دَ لیس اؤ دَ لایکون نه وروسته به هم منصوب وی، ځکه چه دا افعال ناقصه دی، نو په دوئ کښے به ضمیر اسم شی اؤ دا به ورله خبر شی۔ **سوال**۔ لیس اؤ لایکون افعال ناقصه دی، دوئ اسم اؤ خبر غواړی، نو دَ دوئ نه چه کوم اسم وروسته ذکر شی هغه خو اسم شی، دَ دوئ دَ پاره، نو خبر به ورله څه شی؟ **جواب**۔ اسم دَ دوئ مستتر دے، چه هغه دَ دوئ ضمیر دے، اوس چه هر کله دا افعال په ځائے دَ حرف استثناء اوګرځیدل، نو په دیے کښے تصرف اؤ تغیر نه کیږی۔

ویجوز فیه النصب ویختار البدل فیما وقع بعد الا فی کلام غیر موجب اؤ جائز دے، په مستثنٰی کښے نصب بنا بر استثناء اؤ مختار دے، بدل په هغه ځائے کښے چه واقع شی، مستثنٰی په کلام غیر موجب کښے چه په هغه کښے نفی نهی اؤ استفهام وی، په دیے عبارت سره مصنف مواضع دَ جواز دَ نصب اؤ دَ اختیار دَ بدل ذکر کړی اؤ مراد په دیے بدل سره بدل بعض دے، نه بدل کل، ځکه چه دَ الا نه پس بدل بعض وی اؤ چه کلام غیر موجب یے اووے، په دیے سره احتراز راغلے دَ کلام موجب نه چه دَ هغه حکم مخکښے تیر شوے دے۔

وذکر المستثنی منه نحو ما فعلوه الا قلیل والا قلیلا اؤ چه مستثنٰی منه

ذکر کړے شوے دے ځکه چې دوے سره احتیاز اوشو د مثل د دے قول نه چې "ما ضربت الا نهیدٌ" په دے کښې جائز نه دے بدل اؤ دلته اختیار د بدل دے، وجه دا ده چې کله چرته حمل شي ما بعد د الا نه په بدل باندې، نو د دے اعراب به بالاصالة وي اؤ که حمل شي په استثناء باندې نو د دے اعراب به بالواسطه شي اؤ استحقاق د اعراب بالاصالة ما اولیٰ دے د اعراب بالواسطه نه. **سوال**. بدل خو په حکم د تکرير د عامل کښې دے اؤ دا به خالي نه وي يا به تکرير د عامل راځي اؤ يا به نه راځي، که چرته تکرير د عامل راشي، نو معنیٰ نه صحيح کيږي اؤ که چرته تکرير د عامل نه راځي، نو بيا بدل نه صحيح کيږي. **جواب**. دلته تکرير د عامل لفظ دے خو بغير د حرف نه. **سوال**. ته څنګه وائے چې دلته په بدل کښې اعراب بالاصالة دے، ځکه چې بدل تابع دے اؤ د تابع اعراب بالتبع وي **جواب**. مُراد په اصالة سره نظر د مقصود د متکلم دے، ځکه چې بدل په نسبت سره متکلم ته مقصود وي، اؤ مستثنیٰ غیر مقصود وي، نو "ما فعلوه الا قليلٌ" کښې مرفوع وي، نو دا به بدل شي د ضمير د فعلوا نه اؤ چې نصب اووايې نو دا به د مستثنیٰ په وجه باندې منصوب وي.

ويعرب على حسب العوامل اذا كان المستثنى منه غير مذكور	اؤ دا مستثنیٰ به په حسب د اقتضاء د عوامل باندې معرب وي، چې هر کله مستثنیٰ منه غیر مذکور وي، کله چرته د مستثنیٰ نه مخکښې عامل تقاضا

د رفع کوي نو دے به هم مرفوع وي، اؤ که تقاضا د نصب کوي، نو منصوب به وي، لکه "ما جاءني الا زيدٌ" يا "ما ضربتُ الا زيداً" يا "ما ضربتُهُ الا ضربةٌ"، اؤ چې کله يے مستثنیٰ منه ذکر نه کړي نو دے ته مستثنیٰ مفرغ وائي، چې عامل د دے فارغ وي د پاره د عمل په مستثنیٰ کښې. **سوال**. دے ته مفرغ له اووائي. **جواب**. دے ته مستثنیٰ مفرغ ، اگر که اوائي، لیکن مراد ترے نه مستثنیٰ مفرغ له دے.

وهو في غير الموجب ليفيد	اؤ حال دا دے چې دا مستثنیٰ واقع وي، په کلام غیر

---

۱. فان قيل چې عوامل صيغه د جمع ده اؤ د جمع اطلاق کم نه کم په درې باندې کيږي، نو مطلب به دا شي چې دا مستثنیٰ به معرب کولي په حسب د اقتضاء د عوامل ثلاثو نو سره اؤ دا معنا په قوة د غلط کښې ده، اقول. الف لام په العوامل کښې جنس دے اؤ دا چې کله داخل شي په جمع باندې اؤ معهود مقصود نه وي، نو باطله وي جمعيت لره اؤ اراده کولے شي په دے سره جنس. فان قيل چې عکس دے لکه دے شي يعني جمعيت له خوله دوئي اؤ جنسيت لره و باطل کړي. فاقول عکس نه شي کيدلے ځکه چې ناسخ سابق کرځي، نه لاحق اؤ دلته هم راسي دا دے، چې سابق جمعيت دے، نو هغه منسوخ شوه. اللهم اغفر لي ثبهما. (م-س).

موجب کښې د باره د دې چې فائده تامه ورکړي، چه هغه صحت د حکم دے۔

مثل ماضربني الا زيدٌ يعنې "ماضربني احدٌ الا زيدٌ"۔ **سوال**۔ ستا دا قول منقوض شو په دې ترکيب سره چه "قرأت الّا يوم كذا"، ځکه چه دا مستثنیٰ مفرغ دے او په کلام موجب کښې دے، نو مصنف جواب اوکړو چه:-

الا ان يستقيم المعنى مثل قرأت الا يوم كذا. که چرته معنیٰ مستقيمه وي، نو بيا په کلام موجب کښې هم عدم ذکر د مستثنیٰ منه کېدے شي، ځکه چه دلته کښې مراد د اَيَّام نه اَيَّام د سبوع يا د شهر يا د کال دي۔ **سوال**۔ چه ځنګه قيد د استقامت د معنیٰ رافلے دے په کلام موجب کښې، نو دغه شان قيد د استقامت اولګوه، په کلام غير موجب کښې هم، لکه "ماماتت الّا زيدٌ"، نو پکار ده، چه په دواړو کښې دِ قيد د استقامت د معنیٰ اولګوے جواب۔ اعتبار غالب لره دے او غالب په غير موجب کښې استقامت د معنیٰ دے۔ **سوال**۔ چه ځنګه صحيح دے "قرأت الّا يوم كذا"، چه کله په ايام سره ايّام د هفتې يا د مياشت يا د کال وي، نو پکار ده، چه دا ترکيب هم جائز شي، لکه ضربني الّا زيدٌ، چه مراد په دې سره يو خاص جماعت شي، په واسطے د قرينې سره۔ **جواب**۔ فرق په مابين د دواړو مثالونو کښې په اعتبار د وجود د قرينې او د عدم د قرينې سره دے ملګ قرينه په "قرأت الّا يوماً كذا" کښې بالفعل موجوده ده او په "ضربني الّا زيدٌ" کښې نه ده موجوده۔

ومن ثم لم يجز ما زال الا عالماً او د دې وجه نه چه نه دے جائز عدم ذکر د مستثنیٰ منه په کلام موجب کښې نه دے جائز دا ترکيب چه "ما زال زيدٌ الّا عالماً"، ځکه چه زال النفي دے او ما هم نفي ده او نفي چه په نفي داخله شي، فائده کوي اثبات لره، نو معنیٰ به دا شي چه "ثبت زيدٌ الّا عالماً" او دا ناجائز دے۔

درس نمبر ۱۷۹

سوال۔ مناسب ده، چه حمل شي صفات د زيد په هغه صفاتو باندې چه ممکن وي، جمع د هغې په شخص واحد کښې او بيا تر سره نه نفي د صفت د علم راغله وي۔ **جواب**۔ په دې باندې چا قول نه دے کړے۔ **سوال**۔ تا سو خو مخکښې ويلي دي چه "ويجوز النصب ويختار البدل الخ" چه مستثنیٰ منه ذکر وي او کلام غير موجب وي، نو دا خبره ستا منقوضه شوه په دې مثالونو چه "ماجاءني من احد الّا زيدٌ يا لا احد فيها الّا عمرٌو" "وما زيد شيئاً الّا شيئاً لا يعبأ به"، په دې کښې مستثنیٰ منه ذکر ده او کلام هم غير موجب دے سره د دې نه په دې کښې اختيار د بدل نشته، نو مصنف جواب

اَنکر ورکړے دے

وإذا تعذر البدل على اللفظ فعلى الموضع

یعنی چه کوم وخت کښې متعذر شي حمل د مستثنیٰ په لفظ د مستثنیٰ منه باندې بیا به دا حمل کیږي په محل د مستثنیٰ منه باندې د پاره د دې چه عمل راشي په معنیٰ باندې بقدر الامکان۔

مثل ما جاءني من أحد إلا زيد ولا أحد فيها إلا عمرو وما زيد شيئا إلا شيء لا يعبأ به.

په اوّل مثال کښې زید حمل دے په موضع د من احد باندې، په دویم مثال کښې عمرو محمول دے، په محل د اِسم د لا باندې، "لا یعبأ به" دا صفت دے، د پاره د شي او دا یې متصف کړلې دے حتیٰ چه استثناء د شي د خپل نفس نه لازم نه شي۔

لأن من لا تزاد بعد الإثبات

حکه چه من وضع کړے شوے، واضع د پاره د استغراق د نفی او کلام پس د الّا نه موجب دے۔ او من دا من زیاتیږي نه، پس د اثبات نه، نو که په اوّل مثال کښې زید بدل واقع شي، نو لازم به شي زیادة د من، پس د اثبات نه، حکه چه بدل په حکم د تکرير د عامل کښې دے، نو هلته خو من لفظاً دے، بیا دلته به هم من راشي او دغه شان په نورو مثالونو کښې۔

وما ولا لا تقدران عاملتين بعده

او ما او لا نه مقدر کیږي، یعنی نه فرض کیږي، په حال د کون د دوئ کښې، چه عمل کونکي وي پس د اثبات نه۔

لأنهما عملتا للنفي وقد انتقض النفي بإلا.

حکه چه ما او لا دواړه عمل د نفی کوي او په تحقیق سره دا نفی منتقض شوه په اثبات سره، یعنی ما او لا عمل کوي د وجې د نفی نو که په الّا سره معنیٰ د نفی ختمه شوه۔ سوال. تاسو د پاره چه دے مثال کښې "ما جاءني من احد الخ" "لا احد الخ"، نو که عمله دي، یو محل قریب د اعراب شه، چه هغه نصب دے او بل محل بعید دے، چه هغه رفع دے، نو حمل یې ولې په محل د محل قریب، په محل بعید اوکړو۔ جواب. په محل بعید کښې عمل د لا لوه دخل نشته او په محل قریب کښې عمل د لا شته، ولې هغه منتقض دے په اعراب سره، یعنی په الّا سره۔

درس نمبر ۱۸

بخلاف ليس زيد شيئا إلا شيئا

په دې عبارت سره مصنف رح دفع د سوال کوي، سوال دا دے، چه په دې ترکیب کښې نفی منتقض شوې ده په الّا سره، سره د دې نه چه دا محمول ده په بدل سره۔ جواب. مصنف رح اوایې

چه "بخلاف لیس زیدٌ شیئًا الّا شیئًا" دا ترکیب روا دے، ځکه چه دلته نفی په الّا سره نه ده منقوضه شوی.

لانها عملت للفعلیة ځکه چه دا لیس عمل کوی، د وجه د فعلیة نه نه، د وجه د نفی نه.

فلا اثر فیها لنقض معنی النفی پس نشته دے تاثیر په لیس کښے د پاره د نقض د معنیٰ د نفی.

لبقاء الامر العاملة هی لاجله د پاره د بقاء د امر، هغه امر چه عمل کړے دے لیس د هغه د وجه نه چه هغه فعلیة دے.

دلته کښے لبقاء الامر العاملة هی لاجله، د قبیلے د هند نجح ضاربه هی نه دے.

ومن ثمّ جاز لیس زید الّا قائمًا وامتنع ما زید الا قائمًا. او د وجه د دے خبرے نه چه لیس عمل کړی د وجه د فعلیة نه او اثر د پاره د نقض د معنیٰ د نفی د دے نشته، یعنی د دے نه معنیٰ د نفی نه لوے کیږی، په الّا سره لو جائز دے، دا ترکیب چه "لیس زیدٌ الّا قائمًا" په نصب سره بناء په دے باندے چه دے خبر د لیس دے، سره د کیدلو د دے مثبت او مصدر په الّا سره او جائز نه دے، دا ترکیب چه "ما زیدٌ الّا قائمًا"، ځکه چه دلته په الّا سره هغه معنیٰ د نفی زائله شوی ده.

ومخفوضٌ بعد غیر وسوی وسواء وبعد حاشا فی الاکثر. په دے عبارت سره مصنف هغه ځایونه بیانوی چه چرته مستثنیٰ مجرور وی، نو مجرور به وی مستثنیٰ پس د لفظ د غیر نه او د سوا او د سواء نه، ځکه چه دا مضاف کیږی او د دوئ نه وروستو به مضاف الیه وی او مضاف الیه مجرور وی او د هغه شان د حاشا نه وروستو به هم مجرور وی په اکثر استعمال کښے، یا په نزد د اکثرو نحاتو باندے، ځکه چه دے حرف جر دے او د حرف جر نه وروستو مجرور وی او بعض وائی چه د دهٔ نه وروستو به منصوب وی، ځکه چه دے فعل دے او ضمیر په کښے مستتر دے، هغه به فاعل وی او وروستو به ئے نه منصوب وی، ځکه چه مفعول به واقع وی.

واعراب غیر فیه کاعراب المستثنیٰ بالّا علی التفصیل. کلمه د غیر په استثناء کښے داخله ده او دا اسم متمکن دے، نو د دهٔ به هم اعراب وی، پس مصنف لوے چه اعراب د غیر په استثناء کښے په شان د اعراب د مستثنیٰ دے په الّا سره بنا په تفصیل مذکوره سره، چه واجب وی نصب د مستثنیٰ په هغه پنځو مواضعو کښے، نو دغسے به منصوب

---

۱. خفض مختص بالحرکة وی او جر عام وی حرکة او حرف ته. (۲-۱۵)

رفع جوړیږی، اَوْ چه چرته جواز د نصب اَوْ اختیار د بدل وی، نو دے به هم هغه جائز کیږی وایسی وی، اَوْ چه چرته کښے اعراب د مستثنیٰ په حسب د عواملو وی، د دۀ به هم وی وغیره۔

وغیر صفة حملت علی الا فی الاستثناء کما حملت الا علیها فی الصفة اَوْ لفظ د غیر چه دے کله صفت وی، یعنی چه کله په معنیٰ د صفت وی، نو دے به په معنیٰ د مغایر سره وی [۱]، لکه مررت برجل غیر زید، یعنی مررت برجل مغایر لزید، دا به حمل کیږی په الا باندې په حال د کوں د دے کښے چه دا استثناء ده، لکه چه څنګه حمل کیږی الا په غیر باندې په صفت کښے، نو مطلب دا دے چه کله حمل د الا په غیر کیږی، نو کله د غیر په الا کیږی۔

اذا کانت تابعة لجمع منکور غیر محصور په هغه وخت کښے، چه دا جمع صفت تابع وی د جمع منکور یعنی دا صفت واقع شوے وی، پس د جمع نه چه هغه غیر معرف باللام وی اَوْ محصوره اَوْ معدوده نه وی، چه جمع منکوره یې اووے، په دے سره قید نه احتراز راغے، د هغه جمع نه چه معرف باللام وی، ځکه چه کله جمع معرف باللام وی، نو دا لام به خالی نه وی، یا به د استغراق د پاره وی اَوْ یا به د عهد د پاره وی۔ او س که چرته استغراقی وی، نو مستثنیٰ داخل ده په مستثنیٰ منه کښے قطعاً اَوْ که چرے عهدی وی، نو بیا مستثنیٰ که چرته په مستثنیٰ منه کښے جزماً داخل نه وی، نو مستثنیٰ منقطع شو، پس دا استثناء متعذره نه شو اَوْ شرط د ماڼ الا چه په معنیٰ د غیر وی، هغه تعذر د استثناء دے اَوْ چه غیر محصور یې اووے، نو په دے سره احتراز راغے، د دے قول نه چه لفلان علیّ ماۃ الا واحداً، ځکه چه دلته کښے استثناء متعذر نه ده ګو چه غیر محصور وی، په دے شان سره چه معلومه نه وی، دا خبره، چه مستثنیٰ په مستثنیٰ کښے داخل ده که نه ده۔

لتعذر الاستثناء حالت کښے تعذر د استثناء دے یعنی الا په معنیٰ د استثناء نه دے، بلکه په معنیٰ د غیر سره دے۔

مثل لو کان فیهما الهة الا الله لفسدتا په دے مثال کښے مستثنیٰ منه الهة

---

[۱] یعنی چه هر کله لفظ د غیر په معنیٰ صفتی سره وی، معنیٰ صفتی یې دا ده، چه دے به دلالت کوی په ذات مبهم باندې ماخوذ وی، سره د بعض صفاتو نه اَوْ دا مغایر به مقابل د هغه اسم شی، چه کوم مقابل د فعل اَوْ د حرف دے، لیکن چه کله دے حمل کړے شی په الا باندې یا الاصل کړے شی، په دۀ باندې په صفت کښے، پس دا به خلاف الاصل وی، ځکه چه د غیر خپله معنیٰ به په دے صورت کښے ماخوذه نه شی بلکه په معنیٰ د استثناء سره به ملکوحه، چه مغایرت دے اَوْ برابر خبره ده، چه دا سبالذات وی اَوْ که بحسب الصفة وی اَوْ خلاف تا دے۔ شیخ رح لره، هغه والا چه استعمال د غیر په اعتبار تالی سره مجاز دے (۲۔ س)۔

جمع منکور اؤ غیر محصور وي، نو استثناء متعذر شو، په دې وجه باندې إلّا په معنیٰ د غیر دے اؤ لفسدتا معنیٰ داده، چه "لخرجتا عن النظام"، اؤ دلته که چیرې إلّا په معنیٰ د استثناء سره واخلو نو معنیٰ به بلحاظ د ترکیب سره هم نه صحیح کیږي، ځکه چه الّا به معنیٰ د استثناء سره شي، نو معنیٰ به داسې شي، که چیرته وے به زمکه په آسمان کښې ډیر آلهة، چه مستثنیٰ دے د هغې نه "الله"، نو بیا به فساد په دواړو کښې پیدا شوے وو، یعنې چه ډیر خدایان سره خدائے پاک مل نه شي نو فساد به نه وي، اؤ که چیرته هغه ورسره شریک شي، نو بیا به فساد پیدا شي، نو په دې سره اثبات د واحدانیت نه راځي اؤ نه مونږ. والد صاحب حضرت صدر صاحب مولانا عبدالحلیم رحمة الله علیه به فرمائیل، چه فساد خو مستلزم دے اوّل خو به دا ولو خو بیا په کښې نقصان پیدا شي، ولې حال خو دا دے، چه که چیرته ډیر آلهة وے، نو بیا به د سره نظام نه وو جوړ، د دُنیا، نو معنیٰ د لفسدتا داده، چه "لم تکونا"، یعنې د سره به تکون د کائنات نه وو.

وَضُعِّفَ فِي غَيْرِهِ اؤ ضعیف دے حمل د إلّا په معنیٰ د غیر په جمع منکور اؤ غیر محصور کښې د وجه د استقامت اؤ عدم تعذر د استثناء نه.

وَإِعْرَابُ سِوَىٰ وَسَوَاءٍ النَّصْبُ عَلَى الظَّرْفِيَّةِ عَلَى الْأَصَحِّ. ځکه چه دا دواړه په معنیٰ د مکان سره دي، لکه چه او وئیلې شي، چه "جَاءَنِي الْقَوْمُ سِوَىٰ زَيْدٍ"، نو د دې معنیٰ به دا شي، چه "جَاءَنِي الْقَوْمُ مَكَانَ زَيْدٍ" او "عَلَى الْأَصَحِّ"، ئې په دې وجه باندې اوئے، چه په دې سره احتراز راغے، د غیر اصح نه، چه هغوئ وائي، چه دا به منصوب نه وي بنا بر ظرفیة، بلکه په دے کښې تصرّف کوي اؤ دلیل ئې دا شعر دے، چه:-

ـ فلو یبقیٰ سوی العدوان دناهم کما دانو، دلته کښې سوی مرفوع دے۔

درس نمبر ۱۸

خَبَرُ كَانَ وَأَخَوَاتِهَا هُوَ الْمُسْنَدُ بَعْدَ دُخُولِهَا بعض د ملحقاتو د منصوباتو نه خبر د کان اؤ د هغې د اشباه اؤ د نظائرو دے یعنې خبر د افعال ناقصه، چه هغه کان او صار اصبح اضحیٰ وغیره دي، "هو المسند" دا په منزله د جنس دے، په دې قول کښې مسندات داخل شو که خبر د مبتدا دے، خبر د انّ دے اؤ خبر د ما اؤ د لا دے، خو چه "بعد دخولها" ئې اوئے، نو په دې ټولو سره نور ټول خارج شو سیوا د خبر د کان نه۔ **سوال** . په خبر د کان کښې د اوّل نه اسناد موجود وو، نو دا خو کلازمیں ... اسناد د مسند. **جواب** . مراد په مسند اؤ اسناد سره اسناد جدید دے۔ **سوال** . تا خو او وئیل، چه "هو المسند بعد دخولها"، نو د دې مطلب دا شو چه دا به مسند وي، پس د دخلیجو د دې لپاره نه حالانکه امر خو داسې نه دے۔ **جواب** . دلته تقدیری عبارت په حذف د مضاف سره دے، یعنې "هو المسند بعد دخول احدهما"، اؤ د هغه شان د "خبر کان واخواتها" نه مراد "احدی اخواتها" دے۔

مثل كان زيد قائما

دلته دا قائما خبر دے د پاره د كان ـ

امره كامر خبر المبتداء

او حكم او شان د خبر د كان په شان د خبر د مبتدا دے، په جواز د واقع كيدو د دے كښے مفرد يا جمله ـ برابره خبره ده، چه جمله اسميه وي كه فعليه وي او په جواز د تقديم د خبر په اسم باندے او دغه شان په نورو احكامو او اقسامو او شرائطو كښے ـ **سوال** ـ امر د خبر د كان په شان د امر د خبر د مبتدا دے، په اقسامو، په احكامو او په شرائطو كښے، او حال دا دے، چه خبر د مبتدا چه كله معرفه وي، نو جائز نه دے تقديم د هغے په مبتدا باندے، نو لازم دا ده، چه خبر د كان چه كله معرفه وي، نو جائز دے نه وي تقديم د خبر د كان په اسم د كان باندے، نو مصنف جواب اوكړو چه :ـ

وتقدم معرفة

يعني متقدم كيږي، خبر د كان په اسم د كان باندے په حال د كون د هغه كښے چه خبر معرفه وي، ولے په وخت د عدم د التباس كښے يعني چه اعراب ئے ظاهر وي، اوس په كان موسىٰ عيسىٰ كښے، چه موسىٰ خبر اوګرځي او تقديم ئے راشي په اسم دا ممتنع دے، ځكه چه دلته كښے التباس راغلے دے، په مابين د خبر او د اسم كښے ـ

وقد يحذف عامله

او كله حذف كيږي عامل د خبر د كان، چه په خپله باندے كان دے نه د نورو افعال ناقصه په وخت د قيام د قرينے كښے، ځكه چه كان كثير الاستعمال دے، په نسبت سره نورو اخواتو نه، نو ذهن دے ته سبقت كوي ـ

فى النّاس مجزيون باعمالهم ان خيرًا فخير وان شرًّا فشرٌّ

مراد په دے تركيب سره هرهغه تركيب دے چه ذكر شي ان او بيا ورپسے ذكر شي اسم او بيا فاء جزائيه او بيا اسم، نو تقدير به داسے شي، چه ان كان عملهم خيرًا فجزاءهم خيرًا وان كان عملهم شرًّا فجزاءهم شرٌّ، نو حذف شو دلته كان او ورسره اسم هم حذف شو، او دلته قرينه دا ده، چه ان حرف شرط داخل دے، په اسم باندے او حالانكه ان داخليږي په فعل باندے او په جانب د جزاء كښے مبتداء حذف شوي ده ـ

ويجوز فى مثلها اربعة اوجه

او جائز دي، په مثل د دا سے صورت كښے څلور وجوهات ، اوّلنۍ وجه دا ده چه نصب د اوّل او د ثاني وي، چه كان په دواړو مواضعو كښے مقدر وي، سره د اسم نه، نو تقدير به داسے شي چه ان كان عملهم خيرًا فيكون جزاءهم خيرًا، وان كان عملهم شرًّا فيكون جزاءهم شرًّا ـ دوېمه وجه دا ده، چه رفع وي، په دواړو كښے چه تقدير د كان سره د خبر نه په اوّل كښے وي او تقدير د مبتدا په دوېم كښے وي، لكه ان كان فى عملهم خيرٌ فجزاءهم خيرٌ وان كان فى عملهم شرٌّ فجزاءهم شرٌّ ـ دريمه وجه دا ده، چه نصب د اوّل دي او رفع

دَ ثالی ری یعنی "ان کان عملهم خیراً فجزاءهم خیرٌ" - خلو دَ دې وجه دا ده چه اوّل مرفوع وی، او دویم منصوب وی، لکه "ان کان فی عملهم خیرٌ فیکون جزاءهم خیراً"۔

ویجب الحذف فی مثل اما انت منطلقاً انطلقت ای لان کنت منطلقاً او واجب دے حذف دَ کان په وخت دَ موجود دَ قرینه او دَ سد مسد کیدو۔ دلته کینے "امّا انت منطلقاً" په اصل کینے وو "لان کنت منطلقاً"، بیا لام خیاره حذف کړے شو دَ پاره دَ تخفیف او حذف کړے شو کان دَ پاره دَ اختصار او په عوض دَ هغه کینے ما زیاره کړے شو، بیا دَ ضمیر متصل په ځائے باندې ضمیر منفصل راوړے شو۔ پس "ان ما انت منطلقاً" شو بیا مابه نون کینے مدغم کړے شو نو "امّا انت منطلقاً" جوړ شو او دلته حذف واجب دے، دَ وجه دَ وجود دَ قرینه او دَ سد مسد نه، هرچه قرینه حقه نصب دَ معمول دے او هرچه دے سد مسد نو اقامت دَ معمول دے په ځائے دَ عامل باندې۔

اسم ان واخواتها هو المسند الیه بعد دخولها مثل ان زیداً قائم بعض دَ ملحقاتو دَ منصوباتو نه هغه اسم دَ انّ او دَ هغې دَ اشباهو او نظائرو دے۔ اسم دَ انّ او دَ هغې دَ اخواتو په حکم منصوب وی چه دا مشابهه دے، دَ مفعول سره او مفعول خو منصوب وی او مراد دَ انّ نه حروف مشبه بالفعل دی۔ دلته چه مصنف "هو المسند الیه" اووے، په دے کینے قول "مسند الیه" داخل شو که مبتدا وی او که فاعل وی او که خو نور مسند الیه وی او په "بعد دخولها" سره بهر نه نور مسند الیه خارج شول۔ **سوال**۔ دلته خو اسناد دَ مسند۔ **جواب**۔ دلته مراد دَ اسناد نه اسناد جدید دے۔ **سوال**۔ هٰا ضمیر خو جمع ته راجع دے، یعنی چه "تول حروف مشبه بالفعل راشی" لو هله به اسم دَ دوی منصوب وی او اُمرخو داسے نه دے۔ **جواب**۔ دلته تقدیر دَ عبارت دے یعنی "بعد دخول احدها"۔

مثل ان زیداً قائم زیداً اسم دَ انّ دے، حروف مشبه بالفعل دا دی، چه شاعر وائی چه:

انّ باانّ کانّ لیتَ لکنّ لعلّ ناصب اسمند رافع در خبر ضد مَا ولا

المنصوب بلا التی لنفی الجنس بل قسم دَ منصوباتو نه منصوب دے په لا دَ نفی دَ جنس سره، یعنی چه زاغو لا دَ پاره دَ نفی دَ حکم دَ جنس نه۔ **سوال**۔ دا سے بحث دے دشیل وو چه اسم دَ لا لکه چه څنګه په موے لاندو کینے یو ابو شیل، چه خبر کان یا اسم انّ۔ **جواب**۔ اسم دَ لا په نفی طور سره منصوب نه وی او اسم دَ دے علی الاطلاق دَ منصوباتو نه دے

دے بلکه مبنی هم وی[1]۔

هو المسند بعد دخولها مفهوم اسم د لا به مسند الیه وی، پس د دخول د لا نه اخوا مراد په اسناد سره اسناد جدیده دے، هو المسند الیه په منزله د جنس دے، دے، خو چه کله یئے ورسره د خولها اووے، نو تمام مسند الیه ترے نه خارج شول۔

یلیها نکرة مضافاً او مشبهاً به په دے سره شروط بیانوی، چه درے شرطونه دی، نه نکره وی او مضاف به وی یا به مشابهه وی د مضاف سره او مراد د مشابهه نه دا دے چه په ده سره به اتمام د معنی راغلے وی چه د هغه تعلق د ده سره وی۔ او دلته درے شرطه دی، یو ولا، دویم نکره او دریم اضافت۔ هوچه دے شرط د ولا هغه په دے وجه لاضعیف العمل دے، په متصل کیدے عمل کولے شی او په منفصل کیدے نه شی کولے او هم چه دے نکره نو هغه په دے وجه چه لا لنفی الجنس تقاضا د کثرت کوی او په نکره کیدے کثرت دے او هم چه دے اضافت او یا مشابهه د مضاف، نو هغه په دے وجه چه اضافت د خواصو معظمه مکبو د اسم نه دے، نو په دوے سره به کیدے قوی کیدے، جهت د اسمیة او ضعیف کیدے، جهت د مشابهت د حرف سره۔

مثل لا غلام رجل ظریف فیها دا مثال د مضاف دے او دلته کیدے فیها خبر بعد خبر دے او اکتفا او نه کره، صرف په یو خبر باندے د پاره د دے، چه لازم نه شی کذب په نفی د ظرافة د هر یو غلام د رجل نه۔

ولا عشرین درهماً لك دا مثال د شبهه مضاف سره۔

فان کان مفرداً فهو مبنی علی ما ینصب به که چرته وی، دا اسم د لا لنفی الجنس مفرد، یعنی مضاف یا شبهه مضاف نه وی۔ مطلب دا دے، چه شرط ثالث په کیدے مفقود وی۔ پس دے به مبنی وی، په هغه حرف یا حرکت سره چه په هغه باندے دے، ځکه چه د دخول د لا نه منصوب وی، چه هغه یا فتحه ده، یا الف دے، یا یا ده، هو چه دے کیدل د دے مبنی، نو دے متضمن دے، من حرف لره او حرف مبنی دے نو دے به هم مبنی وی او دے متضمن دے من لره، ځکه چه دے واقع دے، په جواب د سوال د سائل کیدے، چه هغه مشتمل دے، په من باندے او المذکور فی السوال کالمعاد فی الجواب او مبنی دے، په فتح باندے، ځکه چه دا حرکت بنائیه موافق شی د حرکت اعرابیه سره۔

---

[1] بعض وخت تو اسم د لا لنفی الجنس مرفوع وی، ولکن لا یبعد ان یقال اسم لا هو المنصوب بها لفظاً کالمضاف وشبهه او محلاً کما هو مبنی منه علی الفتح واما هو مرفوع فلیس اسماً لها لعدم عملها فیه کما قال الشارح ـ (م۔س)۔

وان معرفة او مفصولا بينه و بين لاوجب الرفع والتكرير.

اوکه چرته وی اِسم دَلا معرفه اَو یا منفصل واقع شوے وی په مابین دَ اِسم اَو لا کښے نو بیا واجب ده، رفع اَو تکرير دَ لا، په دے عبارت سره مصنف دَ حکم بیانوی دَ اِسم دَ لا کوم کله چه کښے انتفاء دَ شرط اَوّل اَو شرط ثانی راغلے وی، یعنی نکره نه وی اَو یا دَ لا نه جدا وی ۔ هرچه دے رفع، نو هغه په دے وجه بائد چه هر کله اثر دَ لا ظاهر نه شو په معرفه کښے، نو واجب شو رفع بنا بر ابتدائیت، لکه "لا زید فی الدار ولا عمرو" اَو هرچه دے په منفصل کښے، نو هغه په دے وجه چه لا ضعیف العمل دے په متصل کښے عمل کوی اَو په منفصل کښے عمل نه کوی اَو هرچه دے تکرير دَ لا هغه په دے وجه چه په صورت اَوّل کښے چه جبیره دَ منافات لرې کړی ځکه چه دا کلمه معرفه شوه، نو قلت په کښے موجود شو، اَوس دَ دے جبیره پکار ده اَو هرچه دے په صورت ثانی کښے، نو دا به مطابق اوګرځی دَ سوال دَ سائل سره، چه "افی الدار رجل ام امرءة" نو په جواب کښے به ادوات دَ نفی، چه "لا فی الدار رجل ولا امرءة" وی ۔

درس نمبر ۱۸۲

ومثل قضية ولا ابا حسن لها متاول

په دے عبارت سره مصنف دَ دفع دَ سوال کوی ۔ **سوال** . تا منلے وو چه اِسم دَ لا کله معرفه وی، نو واجب ده، رفع اَو تکرير دَ لا، نو دا قاعده ستا منقوضه شوه، په دے قول چه "قضية ولا ابا حسن لها"، په دے شان سره، چه ابا حسن دا معرفه ده ځکه چه دا کنیه ده، دَ حضرت علی رضی الله عنه، نو دلته اِسم دَ لا معرفه ده اَو دلته نه رفع ده اَو نه تکرير دَ لا، نو مصنف جواب اوکړو چه دا قسم قضیه مؤوله ده، په تاویل سره اَو په دے کښے په دوه قسمه تاویل دے، یو دا دے چه "قضية ولامثل ابی الحسن لها" دا په معنیٰ دَ نکرے سره دے، ځکه چه مثل دَ وجے دَ توغل نه دَ ابهام، په اضافت سره نه معرفه کیږی اَو یا دا چه ابوالحسن کنایه ده، دَ وصف مشهور دَ صاحب دَ علم نه، ځکه چه حضرت علی رضی الله عنه مشهور وو، په فیصلے سره اَو د هرے مغلقے فیصلے به یے زر کولے، لکه چه نو ماتلی "واقضاکم علی رضی الله عنه"، نو تقدیر به دا سے شی، چه "قضية ولا فيصل لها" لکه موږ وایو، چه "لكل فرعون موسیٰ" یعنی "لكل مبطل محق" ۔

وفی مثل لا حول ولا قوة الا بالله خمسة اوجه.

مراد په مثل دَ دے ترکیب سره، هر هغه ترکیب دے، چه لا په کښے مکرر وی، په سبیلے دَ عطف سره اَو ورستو دَ هر یو لا نه نکره مفرده وی، بغیر دَ فاصل نه، دَ دے ترکیب اصل دا دے، چه "لا حول من معصية الله الا بعصمته ولا قوة على طاعة الله الا بعونه"

حول په معنیٰ د رجوع باندې دے، یعنیٰ "لا رجوع لنا الخ" او قوة په معنیٰ د طاقت باندې، یعنیٰ "ولا طاقة لنا"، هغه پنځه وجې دا دی.

فتحهما! یعنی فتح د دواړه اسمونو، بنا په دے باندې، چه لا په دواړو ځایونو کښے د پاره د نفی د جنس شی او اسم د دے به نکره مفرده او یلی او کوم چه اسم د لا، چه کله مفرده نکره او یلی وی، نو هغه مبنی وی، په فتح باندې.

وفتح الاول ونصب الثاني دوېمه وجه دا ده، چه فتح د اول وی او نصب د ثانی بنا، په دے، چه لا په اول موضع کښے د پاره د نفی د جنس شی او دا ئے وله اسم شی او اسم د لا، چه مفرده نکره او یلی وی، نو هغه مبنی وی، په فتح سره او نصب د ثانی بنا په دے چه لا ملغاة زائده دے او تاکید د نفی د پاره دے او اسم د دے عطف دے، په محل قریب د اول باندې او محل قریب د اول نصب دے، نو د دے هم منصوب وی.

ورفعه دریمه وجه دا ده، چه فتح د اول او رفع د ثانی. فتح د اول، چه لا په اول کښے د پاره د نفی د جنس شی او رفع د ثانی په دے، چه لا ملغاة زائده دے، د پاره د تاکید د نفی دے او عطف دے، په محل بعید د اول باندې، ځکه چه محل بعید د اول رفع ده، بنابر ابتدائیت.

ورفعهما او څلورمه وجه دا ده، چه رفع د دواړه وی، یعنی لا په دواړو کښے د پاره د نفی د جنس نه شی، بلکه دا به مطابق د سوال سره شی، چه څوک په سوال کښے اوائی "احول لنا ام قوة؟"، نو په جواب کښے اووائی "لا حول ولا قوة". دا لا په کښے داخیره یا به سالبه، چه عطف د جملے راشی، په جملے باندې او یا عطف د مفرد راشی، په مفرد باندې، یعنی "لا حول لنا من معصية الله موجود الا بالله" او "لا قوة لنا على طاعة موجودة الا بالله"، او یا دا چه "لا حول ولا قوة لنا موجودة الا بالله".

ورفع الاول على ضعف وفتح الثاني دا پنځمه وجه ده، هغه دا چه رفع د اول هغه بنا په دے، چه لا په معنیٰ د لیس شی او اسم د لا، چه په معنیٰ د لیس شی، هغه مرفوع وی او دا وجه ضعیفه په دے وجه ده، چه عمل د لا په معنیٰ د لیس باندې ضعیف دے او قلیل دے او مرجح دے، فتح د ثانی هغه په دے وجه، چه لا د پاره د نفی د جنس شی او اسم د لا د نفی د جنس، چه مفرد نکره او یلی وی، هغه مبنی وی په فتحه باندې، په دے وجه کښے عطف د جملے په جملے راځی او عطف د مفرد په مفرد نه شی راتلے، ځکه چه بیا لازمیږی، کیدل د یو اسم هم مرفوع او هم منصوب او دا محال دے.

وإذا دخلت الهمزة لم يتغير العمل

او هغه وخت کښې چه داخل شي همزه په لا د نفي جنس باندې، نو نه متغیر کوي عمل د لا۔

ومعناها الاستفهام

او دا لا په معنی د استفهام سره وي، لکه أَلَا رجلَ في الدار؟ او مراد دلته په عمل سره معنی لغوي دی، نه اصطلاحي، ځکه چه عمل خو عموماً په معربانو کښې استعمالیږي، او أَلَا رجلَ في الدار کښې رجل مبني دے۔ سوال۔ دا قاعده ستا منقوضه شوه په دے قول سره چه أَلَا رَجُلًا جزاه الله خيرًا، ځکه چه دلته کښې عمل ئے په رجل کښې کړے دے او د مبني نه ئے معرب کړے دے۔ جواب۔ دلته همزه د استفهام نه ده، بلکه د الا تحضيض ده۔ سوال۔ الا خو داخلیږي په فعل باندې۔ جواب۔ دلته فعل مقدر دے، اصل عبارت دا دے چه أَلَا ترونني رجلًا، یا دا چه په ضرورت شعري باندې۔

والعرض والتمني

یعنی چه هر کله همزه پورے داخل شي، نو بیا به په معنی د استفهام وي، لکه أَلَا رجلَ في الدار؟ او یا به عرض وي، لکه أَلَا نزول لك بنا فتحسن اليك[1] او یا به تمني وي، لکه أَلَا ايمان منك فتبشرنا؟

ولنعت المبني الأول

او صفت د اسم د لا چه مبني وي، په فتح باندې هغه صفت چه هغه اول وي۔

مفرد يليه مبني ومعرب رفعا ونصبا الخ.

په حال د کون د دے صفت کښې، چه دے مفرد وي او یلیه وي، د مبني سره، نو دے به مبني وي، د دے وجه نه چه دے حمل شي په موصوف باندې، ځکه چه د دوئي په مابین کښې اتحاد دے او د وجه د اتصال نه په مابین د دواړو کښې او بله وجه دا ده چه حرف نفي خو درحقیقت متوجه دی صفت ته او دلته مراد په مبني سره مبني بالاصالة دے، نه بالتبع او معرب به وي ځکه چه اصل په توابع کښې تبعیت دے، د خپلو متبوعاتو سره په اعراب کښې، نه په بنا کښې، نو دے به معرب وي په رفع سره، چه حمل د ده په محل بعيد او شي، چه هغه رفع ده او منصوب به وي چه حمل د ده په محل قريب او شي، چه هغه لفظ دے او لفظ د دے مفتوح دے، نو دے به هم منصوب وي ځکه چه دے معرب دے۔

مثل لا رجل ظريفَ وظريفٌ وظريفًا

چه ظريف مفتوح شي، نو دے به مبني

---

[1] بابا د شاه منصور مولانا فضل الهی صاحب تعریف د عرض داسے کړے دے، چه عرض طلب د حصول د شي دے، په طریقه د لجبت سره، خو سره د جزم نه په عدم حصول د دغه شي باندې ۱۲۰ (رم س).

وی، په فتح باندې او موضع شي، نو دغه به منصوب او محل به يې په محل بعيد راغلى وي او ده منصوب شي، نو دې ته محل شوى وي، په محل قريب باندې چه لفظ دے.

والا فالاعراب | او که چيرته داسې نه وي، يعنى لفت د معرب وي او يا غير اکل وي او يا مضاف او يا شبه مضاف وي او يا يلى نه وي، نو بيا اعراب لازم دے، رفعاً او نصباً، د وجه د عدم علت د بنا نه، لکه لا غلام رجل ظريف في الدار يا لا رجل ظريف كريم فيها ولا رجل راكبٌ فرس عندى ولا رجل خير منك في البلد ولا رجل في الدار كريم.

درس نمبر ۱۸۳

والعطف على اللفظ وعلى المحل جائز في مثل لا اب وابنا و ابن. | او عطف په لفظ باندې او په محل باندې جائز دے، په مثل د دې تركيب كښې مراد په تركيب سره هغه تركيب دے

چه معطوف په كښې نكره وي او تكرار د لا په كښې نه وي راغلے - هر كله چه فارغ شو مصنف د بيان د حكم د لفت د مبنى نه، نو شروع يې اوكړه په بيان د عطف كښې، نو وويل چه عطف په اسم د لا او په محل د اسم د لا باندې جائز دے او بنا په كښې نه ده جائز، ځكه چه فصل راغلے دے په مابين د معطوف او معطوف عليه په اعتبار د ذات سره - **سوال**. ستا دا قاعده منتوضه شوه په دې تركيب سره چه لا غلام لك والفرس، ځكه چه الفرس معطوف دے په اسم د لا باندې سره د دې نه تعين د رفع دے، په دې كښې نه جواز د رفع او د نصب. **جواب**. مراد په معطوف سره هغه معطوف دے چه نكره وي او دا معطوف معرفه ده - **سوال**. ستا دا قاعده منتوضه شوه په مثل د "لا حول ولا قوة الا بالله" سره، چه په دې كښې پنځه وجوهات جائز دي - **جواب**. مراد په معطوف سره هغه دے چه نكره وي بغير د تكرير د لا نه او دلته لا مكرر راغلے دے - اوس په وړه مثال كښې چه "لا اب وابنا وابن" - ابنا چه معطوف دے په لفظ باندې او لفظ د دې د نصب دے او د هغه شان ابنٌ مرفوع هم جائز دے، چه عطف شي په محل باندې چه هغه رفع ده بنا پر ابتدائيت -

ومثل لا اباله ولا غلامى له جائز | په دې عبارت سره مصنف دفع د سوال كوي، سوال دا دے، چه تا خو وائے چه اسم د لا په هغه كښې چه هغه يلى او نكره وي، نو هغه به مبنى وي په فتح باندې، نو دا قاعده ستا منتوضه شوه په "لا اباله ولا غلامى له"، ځكه چه دلته په "لا اباله" كښې منصوب دے او اثبات د الف دے په كښې او په "لا غلامى له" كښې هم اسم د لا منصوب دے، نو مصنف جواب اوكړو چه "ومثل لا اباله ولا غلامى

له جائز" چه دا ترکیب جائز دے او مراد په دې ترکیب سره، هغه ترکیب دے چه واقع شوے وی، پس د اسم د لا نه لام د اضافت او جاری شوی وی په هغه باندې احکام د مضاف چه هغه اثبات د الف دے په اول او حذف د نون دے په دویم کښې۔

لتشبيهه بالمضاف د پاره د تشبیه د دې د مضاف سره۔

لمشاركته فى اصل معناه د وجې د مشارکة د اسم د لا نه په دې دواړو ترکیبونو کښې د مضاف سره په اصل معنیٰ کښې چه هغه اختصاص دے۔

ومن ثم لم يجز لا ابا فيها او د وجې د جواز د دې دواړو ترکیبونو چه د دوی تشبیه د اضافت سره راغلې ده نه دے جائز دا ترکیب چه "لَا اَبًا فِيهَا" د وجې د عدم مشارکت نه د دې د مضاف سره په اصل معنا کښې، ځکه چه دلته اختصاص د اَب د الوة په وجه دے په بل څیز سره نه دے، لو په "لَا اَبًا فِيهَا" کښې اختصاص د اب په دار سره نه دے راغلے۔

وليس بمضاف لفساد المعنى په دې عبارت سره مصنف دفع د سوال کوی، **سوال** دا دے چه تاسو وئیلی چه "لَا اَبَا لَه او لا غلامی لَهٗ" د دوی تشبیه د مضاف سره راغلی ده، لو دوی عین مضاف ولې نه دی؟ نو مصنف د جواب ورکوی چه "ولیس بمضاف الخ" یعنی "لا اباله او لا غلامی له" دوی عین مضاف نه دی، د وجې د فساد د معنی نه، ځکه چه که اضافت د اب "ه" ضمیر ته راشی او د غلامی ضمیر ته اضافت راشی نو دوی خو به اسم وګرځی، د لا د پاره، لو خبر د دوی به مباحثه وی او بل به خبر د لا په معارف کښې راشی۔

خلافا لسيبويه مخالفت کړے دے د دې خبرې نه سیبویه، ځکه چه هغه والی چه "لا اباله" کښې د اب اضافت "ه" ضمیر ته صحیح دے او دلته دا لام زائد دے، د تاکید د اضافت د پاره راغلے دے او هغه والی چه دا په دې وجه په دې کښې اضافت دے چه د اضافت مفاد تخصیص او اختصاص دے او هغه دلته حاصل دے۔

ويحذف كثيرا او حذف د اسم د لا کثیر دے، یعنی چه کله قرینه موجوده وی، لو حذف د اسم هلته کثیر دے۔

فى مثل لا عليك اى لا باس عليك. مراد په دې ترکیب سره هغه ترکیب دے چه خبر د لا مذکور وی، ځکه که چرته خبر د لا محذوف اوګرځی، لو بیا خو نه دے جائز حذف د اسم، لو دلته کښې قرینه موجوده ده چه هغه ... د خبر دے او لا خو اسم او خبر دواړه غواړی، لو چه هر کله د دهٔ خبر ذکر شو، لو معلومه شو

چه د دې اسم هو شته دے، خو هغه حذف شوے دے، چه "لا باس علیك" دے۔ **سوال.** د ترکیب "لکن زید" دِ صحیح نه شی، ځکه چه کاف خو نه اسم واقع کیدے شی او نه خبر، ځکه چه دا حرف دے۔
جواب. دا کاف اسمیه دے، په معنیٰ د مثل سره، نو دا به یا اسم شی او خبر به محذوف شی، چه "لا مثل زید موجود"، او یا به خبر شی او اسم به ئے حذف شی، چه "لا احد کزید"۔

خبر ما ولا المشبهتین بلیس

یعنی د جنس منصوب نه هغه خبر د ما او د لا دے، چه ما او لا چه مشابه دی د لیس سره په نفی کنے او په دخول د دے کنے، په جمله اسمیه باندې۔

هو المسند بعد دخولها

یعنی دا خبر د ما او لا دا به مسند وی، پس د دخول د یو د دے دواړو نه، یعنی "بعد دخول احدهما"، او چه مسند ئے او وے، په دې سره، په کنے تول مسندات داخل شو او په "بعد دخولها" سره به تول خارج شو۔

وهی لغة حجازیة

او دا نصب ورکول د خبر د ما او لا دا لغت د حجازیینو دے، یعنی د حجازیینو په نزد باندې دا عمل کوونکی دی او بنو تمیم دے له عمل نه ورکوی، هغوئ وائی، چه دوئ په اسم او فعل دواړو داخلیږی۔

وان زیدت ان مع ما او انتقض النفی بالا او تقدم الخبر بطل العمل.

او په هغه وخت کنے چه زیات کړے شی "ان" سره د ما نه، لکه ته او وئیلے شی "ما ان زید قائم"، او یا دا نفی ختم کړے شی په سبب د دخول د الا سره او یا مقدم او کړے شی په اسم د دوے باندې، نو باطل شی عمل د ما او لا، په دې عبارت سره مصنف[2] اشاره کوی، دې خبرے ته، چه د ما او د لا عمل په څو ځایونو باندې ختمیږی، لو لومړے په "ان" سره، چه کله دا فاصل شی، ځکه چه دوئ عمل په متصل کنے کوی او په منفصل کنے نه کوی، بل دا چه معنیٰ د نفی منتقضه شی، په الا سره، ځکه چه دوئ عمل د وجه د مشابهت نه د لیس سره کوی، چه هغه د باره د نفی راځی، نو چه هر کله په الا سره معنیٰ د نفی پاتے نه شوه، بلکه اثبات شو، نو عمل به نه کوی۔ بل ځائے د ابطال د عمل هغه تقدیم د خبر دے، په اسم د دوئ باندې، ځکه چه دوئ خو عمل کوی، په مرتب کنے نه په غیر مرتب کنے او دا په دې وجه چه دوئ ضعیف العمل دی۔

واذا عطف علیه بموجب فالرفع

او هغه وخت کنے چه عطف او کړے شی، په خبر د ما او د لا باندې، په دا سے

عاطف سره چې هغه مفید د ایجاب وي، لکه "بَلْ" شو یا "لٰکِنْ" شو نو بیا په هغه صورت کښې رفعه واجب ده. یعني حکم د معطوف رفعه دی، د وجه د عمل نه په محل د خبر د "ما" او د "لا"، ځکه چې دا په اصل کښې خبر د مبتدا وو، نو دلته به شي، چې "ما زیدٌ قائماً بل قاعدٌ" یا "لکن قاعدٌ" او که چیرې کله عطف راشي په غیر موجب سره نو ځکه به چې "ما زید قائماً ولا قاعداً" یعني حکم د ده به کیدلو د ده نو دلته معطوفاتو دی۔

تمّتِ الْمَنْصُوْبَاتُ بِعَوْنِ الْمَلِكِ الْعَزِيْزِ الْوَهَّابِ۔

اللّٰهم اغفر لكاتبه ولمن سعىٰ فيه والجميع المؤمنين آمين يارب العلمين - ۲ -



درس نمبر ۱۸۴

المجرورات

هر کله چه مصنف نارغ شو، د بیان د منصوباتو نه، نو شروع یې اوکړه په بیان د مجروراتو کښې، پس وئې وئیل چه المجرورات، یعنی هذا بحث المجرورات یا بحث المجرورات هذا، او په دے کښې هم هغه تحقیق دے، چه کوم مخکښې په المرفوعات یا المنصوبات کښې ذکر شوے دے، البته دلته یو مشهور سوال راځي، چه مجرورات جمع راوړل ستا نه صحیح کیږي، ځکه چه مجرور خو صرف یو قسم دے، چه مضاف الیه دے (او مرفوعات یا منصوبات یې په دے وجه باندې جمع راوړي دي، چه د هغوي اقسام ډیر دي)۔ جواب دا دے چه مصنف جمع راوړې طرداً للباب، یعنی مرفوعات او منصوبات یې جمع راوړي دي، نو دلته یې هم جمع ذکر کړله او یا دا چه مجرور یو نه دے، بلکه دوه دي، یو هغه چه مضاف وي، په اضافت لفظي سره او بل هغه چه مضاف وي، په اضافت معنوي سره او دریم هغه چه حرف جر په کښې اصلي وي او څلورم هغه چه حرف جار په کښې زائد وي۔

هو ما اشتمل علی علم المضاف الیه

دا جنس مجرور چه دلالت کوي، په ده جمع د قبیلې نه دلالت د جمع نه په جنس باندې، دا هغه اسم دے، چه مشتمل وي، په قبیله د اشتمال د موصوف نه په صفت باندې، نه د قبیلې د اشتمال د کل نه په جزء باندې په علامے د کیدلو د شي سره مضاف الیه، چه هغه کسره ده، په مفرداتو کښې او فتحه ده، په غیر منصرف کښې او یاء ده، په اسمائے ستة مکبره کښې او په تثنیات کښې او جمع مذکر سالم کښې۔

والمضاف الیه کل اسم نسب الیه شی

او مضاف الیه هر هغه اسم دے چه نسبت ده ته د یو شي کړے شوے وي۔

سوال۔ بنا د متون په اختصار دے او بله دا خبره چه کله ورله مرجع یو شے ظاهراً ذکر شي، نو بیا ورته ضمیر راجع کیږي، لو لپکار داوه چه مصنف ویلے وے، "وهو کل اسم الخ"، ځکه چه مخکښې یې مضاف الیه ذکر کړے دے جواب۔ دا به هله صحیح وو، چه په مابین د مضاف الیه او د مجرور کښې ترادف وے او دے نه مجرور عام دے او مضاف الیه خاص او یا دا چه په

"ما اشتمل علی علم المضاف الیه" کښې، چه کوم مضاف الیه ذکر دے، دا هغه مضاف الیه نه دے، چه کوم وروستو "المضاف الیه" ذکر کړې، مصنف دلته کښې شئ او دلیل او اسم یې اونه وئیلو، ځکه چه مضاف کله اسم راځي، لکه "غلام زید" او کله فعل راځي، لکه "مررت بزید". سوال. ستاسو تعریف جامع اونه ګرځیدو ځکه خپلو افرادو لره او خارج شو ترې نه دا ترکیب، چه "یوم ینفع الصادقین" دلته یوم مضاف دے او مضاف الیه ینفع فعل دے او نه خو وائې چه مضاف الیه به اسم وي.
جواب. اسم عام دے حقیقتاً وي که حکماً وي او که تاویلاً وي، دلته کښې اګر که صریحاً او حقیقتاً ینفع اسم نه دے، لیکن دے مؤول دے، په تاویل د اسم سره، ځکه چه دلته "ان" مصدریه مقدره دے، لو دا به په تاویل د مصدر سره شي، "ای یوم نفع الصادقین". سوال. وایه دیري چه تقدیر د "ان" خو مختص دے په خاص مواضعو پورې، چه په هغې کښې داخل نه دے شمار.
جواب. هغه کوم مواضع چه ذکر دي په هغې کښې حصر نه دے، بلکه هغه مشهور ځایونه دي، د هغې ځایونو نه علاوه هم په بعض ځایونو کښې تقدیر د "ان" راغلې دے، لکه په دې قول کښې "تسمع بالمعیدي خیر من أن تراه"، دلته د تسمع نه مخکښې "ان" مقدر دے.

درس نمبر ۱۸۵:

سوال. مصنف په تعریف کښې داسې ولې ونه وئیل چه "هو ما اشتمل علی علم الجر"؟ - جواب. "علی علم الجر" یې ځکه ونه وئیل چه بیا دور لازمیږي. اوس په دې عبارت سره مصنف تعریف د مضاف الیه کړې، ځکه چه دغه مخکښې لوړې چه "هو ما اشتمل علی علم المضاف الیه". علامه عام ده، لفظاً وي، که تقدیراً وي او که محلاً وي "أي ما نسب الیه شئ" چه یې اوسے، دا ځکه چه مضاف کله اسم وي او کله غیر اسم وي. سوال. په واسطې د حرف جر دې ولې اووې؟ جواب. په دې سره احتراز راغلې، د هغه نه چه نسبت خو په کښې وي، ولې په واسطې د حرف جر نه وي، لکه نسبت د فعل فاعل ته او یا مفعول ته بغیر د واسطې نه. لفظاً او تقدیراً، دا دواړه خبر دي، دپاره د کان، یعني "سواء کان لفظاً او تقدیراً، یا ملفوظاً کان او مقدراً". مثال د هغې چه حرف جر په کښې لفظي وي، لکه "مررت بزید". مثال د هغې چه حرف جر په کښې تقدیري وي، لکه "غلام زید". سوال. ستاسو تعریف جامع ونه ګرځید، ځکه خپلو افرادو لره او خارج شو ترې مضاف الیه په اضافت لفظي سره په مذهب د هغه چا بانډې چه هغوئ وائي، چه اضافت لفظي په تقدیر د حرف جر سره نه وي. جواب. د مصنف په نزد بانډې چه کوم اضافت منقسم دے لفظي او معنوي ته، دا هغه اضافت دے، چه په تقدیر د حرف جر سره دي.
سوال. تعریف ستاسو مانع اونه ګرځید، د دخول د غیر نه او داخل شو په کښې مفعول فیه په دې صورت کښې چه "صمت یوم الجمعة"، ځکه چه یوم اسم دے او نسبت ورته اوشو د لو

شی' چه په واسطے د حرفِ جر سره دے اؤ اصل عبارت داسے دے 'چه 'صمت فی یوم الجمعة'، نو مصنفؒ جواب اوکړو چه :-

مراداً په حال د کون د دے حرفِ جر کښے' چه دے به مراد وی' په البقاء د ښخیل سره اؤ په مفعول فیه کښے حرفِ جر مُراد نه وی -

فالتقدير شرطه أن يكون المضاف اسما دلته دا فاء د پاره د تفصیل اؤ د تفسیر ده اؤ الف لام بدل د مضاف الیه نه دے، نو تقدیر به داسے شی' "فتقدير حرف الجر شرط یے دا دے' چه مضاف به اسم وی' فعل به نه وی، ځکه چه د اضافت لوازم خاص دی' په اسم پورے' چه هغه تخصیص تعریف اؤ تخفیف دے اؤ که چرته مضاف فعل شی' نو بیا لازم دے تلفظ' په حرف بانډ' د پاره د دے' چه په واسطے د ده سره ایصال د فعل اوشی ، مفعول ته -

مجردا تنوينه لاجلها خالی کړے شوے به وی' دا اسم د تنوین اؤ یا قائم مقام د تنوین نه' چه نون د تثنیے اؤ یا نون د جمع دے "لاجلها" د وجے د اضافت نه، ځکه چه په مابین د مضاف اؤ مضاف الیه کښے شدت اتصال دے اؤ تنوین وغیره راځی' د پاره د انفصال اؤ په مابین د اتصال اؤ انفصال کښے منافات دے' دا تنوین به په هغه صورت کښے لرے کیږی' که چرته موجود وی' په کښے، لکه "غلام زیدٍ" یا ضاربُ عمروٍ یا حسن الوجه' یا ضاربا زیدٍ او ضاربو زیدٍ" - اوس دا ترکیب جائز نه دے' چه "الغلام زیدٍ" ځکه چه د الغلام نه تنوین په اضافت سره نه دے ساقط شوے، بلکه د وجے د الف لام نه ساقط شوے دے -

وهي معنوية ولفظية اؤ دا اضافت په تقدیر د حرفِ جر سره' په دوه قسمه دے ، وجه د حصر یے دا ده چه دا مضاف به خالی نه وی یا به صفت وی' چه عمل به کوی' په مضاف الیه کښے مخکښے د اضافت نه اؤ یا به نه وی - پس اوله یے اضافت لفظی دے اؤ دوهم اضافت معنوی دے اؤ دا اضافت معنوی ورته په دے وجه بانډ وائی' چه دے فائده کوی' معنیٰ په مضاف کښے' چه هغه تعریف دے اؤ یا تخصیص دے -

فالمعنوية أن يكون المضاف غير صفة مضافة الى معمولها پس اضافت معنوی کښ دل د مضاف دی غیر صفت - هسے صفت' چه مضاف وی' معمول وته یعنی مضاف به صفت نه وی، لکه 'غلام زیدٍ'، په دے سره احتراز دے، د 'ضارب زیدٍ او حسن الوجهِ' نه اؤ یا خو دی صفت خو عامل نه وی' په مضاف الیه کښے، لکه 'کریم مصرٍ' - سوال . المعنوية، خو مبتدا ده اؤ ان یکون په تاویل د مصدر سره به خبر

نی خبر نو حمل ری په مبتدا ربانډ اوُ دلته حمل د صِرف وصف راځي، په ذات باندِ اوُ دانا جائز دے۔ جواب. دلته خبر د مبتدا محذوف دے، چه هغه علامتها دے۔

وهي أما بمعنى اللام في ما عدا جنس المضاف وظرفه

اوُ اضافتِ معنویه به یا په معنیٰ د لام وي، په هغه ځائے کښې چه مضاف الیه د جنس د مضاف نه وي. اوُ نه ظرف وي د پاره د مضاف۔

وأما بمعنى من في جنس المضاف

اوُ یا به په معنیٰ د من سره وي، کله چرته مضاف الیه د جنس د مضاف نه وي، یعنی مضاف الیه جنس وي د پاره د مضاف، لکه "علمو الفقه وغیره"۔

أو بمعنى في في ظرفه

اوُ یا به وي په معنیٰ د في باندِ، چه هغه مضاف الیه ظرف د پاره د مضاف وي۔ برابره خبره ده چه ظرفِ زمان وي، که ظرف مکان وي، لکه "ضرب الیوم او قتیل کربلا"۔ یعنی دا اضافت په درے طریقو سره استعمالیږي، یا به په لام سره، یا به په مِن سره وي اوُ یا به په فی سره وي اوُ وجه د حصر دا ده، چه دا مضاف الیه به خالی نه وي یا به ظرف وي د پاره د مضاف اوُ یا به نه وي، که چرته اوّل وي، نو دا په معنیٰ د فی سره دے، لکه "ضرب الیوم" اوُ که چرته مضاف الیه ظرف د پاره د مضاف نه وي، نو بیا به خالی نه وي، یا به په مابین د مضاف او مضاف الیه کښې نسبت د تباین وي، یا به نسبت د مساوات وي، یا به نسبت د عموم خصوص مطلق وي اوُ یا به نسبت د عموم خصوص من وجه وي، که چرته نسبت د تباین وي، نو هغه اضافت په معنیٰ د لام سره دے، لکه "غلام زید" اوُ که نسبت د مساوات وي، نو دا ترکیب ممتنع دے ځکه په دے کښې هیڅ فائده نه ده مرتبه، لکه "لیث او اسد" اوُ که چرته نسبت د عموم خصوص مطلق وي، نو بیا به خالی نه وي، یا به اضافت د عام واقع وي خاص ته اوُ یا به اضافت د خاص واقع وي عام ته، که چرته اوّل وي، نو دا هم په معنیٰ د لام سره دے، لکه "یوم الاحد" اوُ که چرته دویم وي، نو دا ترکیب ممتنع دے ځکه چه په دے کښې هیڅ فائده نشته، لکه "احد الیوم"، که چرته عموم خصوص من وجه وي، نو بیا به خالی نه وي یا به مضاف اصل وي په نسبت سره مضاف الیه ته اوُ یا به مضاف الیه اصل وي په نسبت سره مضاف ته، که اوّل وي، نو دا اضافت په معنیٰ د لام سره دے اوُ که دویم وي، نو دا اضافت په معنیٰ د مِن سره دے۔

وهو قليل

اوُ دغه اضافت، چه کوم په معنیٰ د فی باندِ دے، دا قلیل الاستعمال دے۔

مثل غلام زيد وخاتم فضة وضرب اليوم

"غلام زید"، دا مثال د هغه

دے چہ اضافت په معنیٰ د لام سره وی اؤ "خاتم فضة"، دا مثال د هغه دے چہ اضافت په معنیٰ د من سره وی اؤ "ضرب الیوم"، مثال د هغه چہ اضافت په معنیٰ د فی سره دے۔

وتفید تعریفا مع المعرفة وتخصیصا مع النکرة.

اؤ فائده کوی دا اضافت معنوی تعریف د مضاف سره، د مضاف الیہ معرفه نه اؤ فائده کوی تخصیص د مضاف سره د مضاف الیہ نکرے نه، لکه "غلام رجل" اؤ یا "غلام امرءة"، په دے سره قلت د شرکاء پیدا کوی۔ **سوال**. دا قاعده ستا منتقضه شوه په "غلام زید" سره، چہ اشتراک په کښے شوے وی غیر معین نه، حکه چہ دلته کښے اضافت معنوی دے اؤ اضافت ئے معرفے ته راغلے دے، سره د دے نه په کښے تعریف د مضاف نه دے راغلے۔ **جواب**. حال دا اضافت په شان د لام دے، په اصل وضع کښے دا واضع وضع کړے دے، د پاره د تعین۔

درس نمبر ۱۸۶:-

سوال. ستا دا قاعده منتقضه شوه په مثل زید یا "غیر زید" سره، حکه چہ دلته اضافت معنوی دے اؤ مضاف الیہ معرفه ده، سره د دے نه تعریف ئے نه دے فائده کړے، حکه چہ په مثل اؤ غیر کښے ابهام دے اؤ دا متوغل دی، په ابهام کښے۔ **جواب**. دا حکم علاوه د غیر اؤ مثل نه دے حکه چہ دوئ متوغل دی په ابهام کښے۔

وشرطها تجرید المضاف من التعریف

اؤ شرط د اضافت معنوی دا دے چہ تجرید به وی د مضاف د تعریف نه حکه چہ اضافت خو راځی د پاره د حصول د تعریف، نو که چرته مضاف معرفه وی، نو لازمیږی تحصیل د حاصل اؤ که مضاف الیہ نکره وی اؤ مضاف معرفه وی، نو لازمیږی طلب د ادنیٰ سره تحصیل د اقویٰ نه اؤ دلته تجرید په معنیٰ د تجرد اؤ د خلو سره دے۔ **سوال**. ته خو وائے چہ شرط د اضافت معنوی دا دے، چہ مضاف به خالی نه وی د تعریف نه، نو دا قاعده ستا منتقضه شوه، په "الثلاثة الاثواب" سره، یا "الخمسة الدراهم" اؤ "المائة الدینار" سره، چہ دلته خو مضاف معرف باللام دے، نو مصنفؒ **جواب** اوکړو چہ:-

وما اجازه الکوفیون من الثلاثة الاثواب وشبهه من العدد ضعیف

اؤ کوفیانو چہ دا ترکیب جائز کړے دے "الثلاثة الاثواب" اؤ د دے په مثل نور ترکیبونه لکه "الخمسة الدراهم" نو دا ضعیف دی، حکه چہ دا ترکیبونه فصحاؤ نه دی استعمال کړی بلکه د فصحاؤ په نزد باندے "ثلثة الاثواب" استعمالیږی نه "الثلاثة الاثواب" اؤ دا د قیاس نه هم مخالف دے، حکه چہ لازمیږی تحصیل د حاصل۔
سوال. ستا دا قاعده منتقضه شوه، په بعضے ترکیب سره، چہ په حدیث کښے راغلی دی، الاله.

الدينار ځکه چه مضاف دلته معرف باللام دے۔ **جواب**۔ دا د تبيلي د مضاف او مضاف اليه نه نه دی، بلکه دا بدل او مبدل منه دی۔

واللفظية ان يكون المضاف صفة مضافة الى معمولها.

او اضافت لفظيه علامه ئي دا ده، چه مضاف به صفت وی او اضافت به ئي خپل معمول ته راغلې وی، چه هر کله ئي دا اورے، چه مضاف به صفت وی، په دے سره احتراز راغلو، د هغه نه، چه مضاف صفت نه وی، لکه "غلام زيد" او مضاف به صفت وی، يعنی يا به اسم فاعل وی، يا به مفعول وی، يا به اسم تفضيل وی او يا صفت مشبه وی، او په "مضافة الى معمولها" سره احتراز راغے، د هغه نه، چه مضاف وی، غير معمول ته، لکه "مصارع مصر" يا "كريم العصر" وغيره۔

مثل ضارب زيد وحسن الوجه

اول مثال د هغه دے، چه اضافت د اسم فاعل راغلې وی، مفعول خپل ته او دلته مضاف صفت دے، چه صيغه د اسم فاعل ده او دا دويم مثال د هغه دے، چه اضافت د صفت مشبه راغلې وی، فاعل ځان ته۔

ولا تفيد الا تخفيفا فى اللفظ

او دا اضافت لفظيه فائده دا ده، چه دے تخفيف به لفظ کښے پيدا کوی، نه تعريف يا تخصيص۔ برابره خبره ده، چه دا تخفيف په جانب د مضاف کښے وی او يا په جانب د مضاف اليه کښے وی۔ هر چه دے، تخفيف په جانب د مضاف کښے، نو هغه حذف د تنوين دے او يا قائم مقام د تنوين، چه هغه نون د تثنيه او يا نون د جمع دے او هر چه دے، په جانب د مضاف اليه کښے، هغه حذف د ضمير دے او استتار دے، په صفت کښے۔ **سوال**۔ دلته کښے مصنف لفظا ولے ذکر کړو۔ **جواب**۔ په دے کښے اشاره ده، وجے د تسميے ته او يا د پاره د تقابل، چه د معنی په مقابله کښے لفظ راغلې۔ **سوال**۔ څه وجه ده؟ چه اضافت معنوی فائده لفظی او معنوی دواړه ورکوی او اضافت لفظی صرف لفظی فائده ورکوی۔ **جواب**۔ په اضافت معنوی کښے انفصال دے، په مابين د مضاف او مضاف اليه کښے لفظا او معنا۔ پس هر کله چه ئي اضافت راغلو، نو حاصل شو اتصال په لفظ کښے او په معنی کښے او په اضافت لفظی کښے انفصال دے لفظا نه معنا، نو چه هر کله ئي اضافت راغے، نو اتصال په لفظ کښے پيدا شو، نو صرف فائده لفظيه په کښے متحقق شوله۔

ومن ثم جاز مررت برجل حسن الوجه

او د دے وجه نه چه اضافت لفظی صرف تخفيف به لفظ کښے پيدا کوی او تخصيص يا تعريف نه پيدا کوی۔ جائز دے،

دا ترکیب "چه مررت برجل حسن الوجه"، ځکه چه دلته مطابقة راغلې ده، په مابین د موصوف او د صفت کښې، رجل موصوف نکره ده او حسن الوجه هم نکره ده، ځکه چه دا اضافتِ لفظی ده، او اضافتِ لفظی مفید د تعریف نه ده، که چرته ده مفید د تعریف وے، نو بیا به دا ترکیب نا جائز وو، ځکه چه مطابقة به نه وو، په مابین د موصوف او د صفت کښې، موصوف به نکره وه او صفت به معرفه وه

وامتنع مررت بزید حسن الوجه

او دا ترکیب ممتنع دے، ځکه چه مطابقت نه راځی، په مابین د موصوف او د صفت کښې، ځکه چه زید موصوف معرفه ده او "حسن الوجه" دا اضافت مفید د تعریف نه دے، ځکه چه دا اضافتِ لفظیه ده او اضافتِ لفظی تعریف نه پیدا کوی، بلکه صرف مفید د تخفیف فی اللفظ وی، فقط۔

فائده:- غرض د مصنف رح په دے عبارت سره "چه ولا تفید الخ" بیان د حکم د اضافتِ لفظیه ده، د دے دوه حکمه دی، یو صریحی دے او دویم ضمنی دے۔ حکم صریحی دا دے، چه اضافتِ لفظیه به لفظ کښې تخفیف پیدا کوی، بیا د دے تخفیف دوه صورتونه دی، یو دا چه تنوین یا د جمع قائم مقام حذف کوی، او دویم صورت دا دے، چه د جانب د مضاف الیه نه ضمیر حذف کړی او په جانب د صفت کښې استتار کوی۔ دا فائده لفظی او صریحی ده او حکم ضمنی دا دے، چه اضافتِ لفظیه تخصیص او تعریف نه فائده کوی۔ لوس په "ومن ثم جاز الخ" سره مصنف تفریع کوی، په دواړو حکمونو باندې وجوداً او عدماً، نو اول یې تفریع اوکړه، په حکم ضمنی باندې او امثال د وجودی دے، ځکه چه وجود مقدم دے، په عدم باندې، "وامتنع مررت بزید"، دا مثال د عدمی دے او حکم ضمنی دے۔ سوال۔ پکار دا وه، چه حکم صریحی یې مقدم کړے وے، یعنی په حکم صریحی یې تفریع مقدم کړے وے او په حکم ضمنی به یې تفریع مؤخر کړی وه، ځکه چه حکم صریحی اصل او حکم ضمنی نوع ده او اصل مقدم وی، په نوع باندې، بله وجه دا ده، چه حکم صریحی یو حکم دے، دا به منزله د مفرد کښې دے او حکم ضمنی کثیر دی، نو دا به منزله د مرکب شو او مفرد مقدم وی، په مرکب باندې، پس حکم صریحی مقدم کول پکار وو، په حکم ضمنی باندې۔
جواب۔ حکم ضمنی قلیل وو، او حکم صریحی کثیر وو، یعنی په هغے کښې بحث ډیر وو، او قلیل مقدم وی، په کثیر باندې۔

درس نمبر ۱۸۷

وجاز الضارب زید والضارب زید

دا تفریع ده، په حکم صریحی باندې وجوداً

چه دا دواړه ترکیبونه جائز دي ځکه چه په دې کښې تخفیف راغلے دے لفظاً، په اول ترکیب کښې نون د تثنیه حذف شوے دے او په بل ترکیب کښې نون د جمع۔

وامتنع الضارب زید دا تفریع ده په حکم صریحي باندې عدماً۔ دا ترکیب ممتنع دے، د وجې د عدم حصول د تخفیف نه په دې اضافت سره، ځکه چه تنوین حذف شوے دے د وجې د الف لام نه، نو په دې اضافت سره تخفیف حاصل نه شو، دغه شان دا ترکیبونه هم ممتنع دي چه "الحسن وجهه" او "الحسن وجه"۔

خلافا للفراء خلاف ثابت دے امام فراء لره، ځکه چه د هغه په نزد باندې دا ترکیب جائز دے، د هغه د پاره دوه دلیله دي، یو خارجي او یو نقلي دے۔ دلیل خارجي دا دے، چه دلته کښې حذف د تنوین د وجې د اضافت نه راغلے دے، ځکه چه اضافت مقدم دے په الف لام باندې، نو دا تنوین حذف شوے دے د وجې د اضافت نه نه د وجې د الف لام نه پس فائده د اضافت لفظیه حاصله شوه، نو دا ترکیب جائز شو۔ جمهور نحات د امام فراء د دې دلیل نه دا جواب ورکوي، چه ستا دا دلیل صحیح نه دے، ځکه چه الف لام حساً مقدم دے په اضافت باندې او ستا دا قول چه الف لام وروستو راغلي دي، دا خلاف دے د حس نه او بله وجه دا ده، چه اضافت راځي د پاره د تحقیق د لي عوارض د عوارضو د اسم او الف لام راځي د پاره د تحقیق د ذات د اسم او تحقیق د ذات دا مقدم دے په تحقیق د صفاتو باندې۔

وضعف الواهب المائة الهجان وعبدها په دې عبارت سره مصنف رد کوي په استدلال د امام فراء باندې۔ د امام فراء د پاره دلیل نقلي دا دے، په خپله مدعی باندې۔ هغه وائي چه "الضارب زید" ترکیب صحیح دے، ځکه چه د دې ترکیب په مثل په دې مصرع د شاعر کښې راغلے دے، لکه "الواهب المائة الهجان وعبدها"، په دې شان سره چه الواهب معرف باللام دے او دا مضاف دے "المائة" ته او په "المائة" باندې "عبدها" عطف دے۔ پس دا ترکیب داسې شو چه "الواهب عبدها"، دا په مثل د "الضارب زید" او که چرته "الضارب زید" ترکیب ممتنع اوګڼئ، نو بیا دا شعر هم نه دے صحیح، نو سوال متوجه داسې شو، چه تاسو وائي چه "الضارب زید" ترکیب نه دے، نو په دې شعر کښې خو دغه شان ترکیب راغلے دے، پس مصنف جواب اوکړو چه "وضعف الخ"، یعنې استدلال په دې ترکیب سره ضعیف دے، ځکه چه فائده د اضافت لفظیه چه هغه تخفیف دے په لفظ کښې، هغه نه دے حاصل شوے، ځکه چه تنوین ساقط شوے دے په الف لام سره، لیکن دا جواب ضعیف دے، ځکه چه دا خو د فصیح عرب جاهلي شاعر شعر دے او د فصیح جاهلي شاعر شعر باندې استدلال نیولے کیدے شي، نو ځکه په دې باندې

حکم دَ ضعف لګوے، بلکه وجه دا ده چه لا نمیزی مصادرهٔ علی المطلوب او مصادرهٔ علی المطلوب دې ته والئ چه دلیل موقوف وی په مدعی باندې او مدعی موقوف وی په دلیل باندې او دَ دے څلور قسمونه دی، اول دا چه مدعی عین دلیل وی ـ دویم دا چه جزء دَ دلیل وی ـ دریم دا چه دلیل موقوف وی په کل مدعی باندې ـ څلورم دا چه دلیل موقوف وی په جزء دَ مدعی او دا اول صورتونه باطل دی، ځکه چه دا مستلزم دی دَ دور لره او دور باطل دے، نو مصادرهٔ علی المطلوب هم باطله ده او په دے حاشیه کښے مصادرهٔ علی المطلوب په دے طریقه سره راځی چه مدعی چه "الضاربُ زیدٍ" ده دَ دے امتناع موقوف ده په ضعف دَ دلیل باندې چه "الواهب المائة الخ" دے او دَ دلیل ضعف موقوف دے په مدعی باندې چه هغه "الضارب زیدٍ" دے، نو دَ ضعف صحیح توجیه دا ده چه دَ شاعر په دے مصرعه باندې دلیل نیول صحیح نه دی، ځکه چه دلته کښے په عبدها باندې دَ جر تصریح نشته بلکه جائز ده دا خبره چه عبدها منصوب اوګرځی او دا دِ عطف اوکړے شی په محل دَ المائة باندې او المائة خو محلاً منصوب دے، ځکه چه دا مفعول دے دَ الواهب دَ پاره او یا دا مفعول معه دے او بله دا چه هم کونه یو شے جائز وی په معطوف کښے او په معطوف علیه کښے ناجائز وی، لکه "رب شاة وسخلتها"، دلته کښے رُبّ راغلے دے، دلے داخلیږی په نکره باندې او په سخلتها باندې نه شی داخلیدے ځکه چه دا نکره نه ده بلکه معرفه ده، شعر دا دے چه:

الواهب المائة الهجان وعبدها ! . عوذاً یزجی خلفها اطفالها

یعنی زما ممدوح هغه کوونکے دے، سل سپینو اوښانو لره، سره دَ غلامانو نه ـ **سوال** ـ اضافت دَ عبد هجان ته نه دے صحیح، ځکه دَ عبدها اضافت خپل مالک ته کیږی ـ **جواب** ـ دلته کښے دَ عبد نه مجازی معنیٰ مراد ده، چه هغه راعی دے او یا دا چه دلته کښے عبد نه مراد معنیٰ حقیقی ده، لیکن اضافت دَ عبد هجان ته دَ وجے دَ ادنیٰ ملابست لره مناسبة نه دے، لکه چه څنګه عبد دَ خپل مولیٰ په خدمت کښے مشغول وی، هغه شان راعی هم په خدمت دَ دے اوښانو کښے لګیا وی ـ

وانما جاز الضارب الرجل حملا علی المختار فی الحسن الوجه

په دے عبارت سره مصنف رح دفع دَ دخلِ مقدر کوی او دا دَ امام فراء دَ پاره دلیل هم دے، دخلِ مقدر دا دے، چه هرکله تاسو والئ "الضارب زیدٍ" ترکیب ممتنع دے، نو پکار دا وه، چه "الضاربُ الرجلِ" ترکیب هم جائز نه شی او هم په دے ترکیب سره امام فراء هم دلیل نیولے دے، هغه والی چه هرکله "الضارب الرجل" ترکیب جائز دے، نو "الضارب زیدٍ" ترکیب هم جائز شی ـ پس مصنف رح دَ دے دخلِ مقدر جواب اوکړو چه په تحقیق سره جائز دے، دا ترکیب چه "الضارب الرجل حملاً علی المختار" دَ وجے دَ حمل نه په وجه مختار یا

په منصوب مشابهت باندې په "الحسن الوجهِ" باندې، په کسره سره، یعني "الحسن الوجهِ". د "الضارب الرجل" مشابهت د "الحسن الوجه" سره راغلی دے، په دې شان سره چې په دې دواړو ترکیبونو کښې مضاف صفت دے او معرف باللام دے، په دغه شان په دې دواړو ترکیبونو کښې مضاف الیه هم معرف باللام دے، په خلاف د "الضارب زیدٍ" نه، ځکه چې په دے کښې، اګر که مضاف صفت معرف باللام دے، لیکن مضاف الیه معرف باللام نه دے، په "الحسن الوجه" کښې درے وجوهات جائز دي، فتح سره، کسره سره او رفع سره، خو بحث وړاندې شوی دی۔

والضاربك وشبهه فيمن قال انه مضاف حملا على ضاربك

په دې عبارت سره مصنف رح دفع د دخل مقدر کوي او دا د امام فراء د پاره دلیل هم دے، دخل مقدر دا دے، چې هرکله تاسو والئ چې "الضارب زیدٍ" ترکیب ممتنع دے، لو لیکار داده چې "الضاربك" ترکیب دے هم ممتنع او ګرځي ځکه چې دلته کښې عدم تخفیف د اضافت په وجه راغلی هم چه دے، سقوط د تنوین، لو هغه د وجه د الف لام نه دے، نه د اضافت نه او د امام فراء د پاره دے دلیل ګرځي چې هغو والئ چې تاسو ځنګه وایئ چې "الضارب زیدٍ" ترکیب ممتنع دے، که چرته دا ترکیب ممتنع وي، لو لیکار داده چې "الضاربك" ترکیب دے هم ممتنع وي، حالانکه چې "الضاربك" ترکیب جائز دے، لو "الضارب زیدٍ" ترکیب هم جائز شو، لو مصنف رح جواب اوکړو چې "الضاربك وشبهه" چې "الضاربك" یا د دے په شان نور ترکیبونه دا جائز دي، د وجه د حمل نه، په ضاربك باندې، ځکه چې قاعده داده، چې کله اراده غایت د اتصال د اسم فاعل یا د اسم مفعول چې مجرور وي، د الف لام نه، اوکړي، د خپلو معمولاتو سره لو حال دا دے چې دا معمولات ضمائر دي. پس فائده په دے کښې التزام د اضافت کړے دے لو دے ته ئې نه دی کتلی، چې فائده حاصله شوی ده او که نه، هرکله چې جائز شو، دا ترکیب پس "الضاربك" ئې هم باندې حمل کړو او کومه مناسبت په کښې داده، چې دلته کښې په دې دواړو ترکیبونو کښې مضاف صفت دے او مضاف الیه ضمیر دے۔

درس نمبر ۱۸۸

سوال. په دې خبره باندې څه دلیل دے؟ چې په "ضاربك" کښې تنوین ساقط شوے دے، ځکه چې د اضافت نه، نه د وجے د اضافت نه. **جواب** داده، چې که چرته په ضاربك کښې تنوین په اضافت سره ساقط شي، لو اول به تصور د ضاربك لا نمبره اوکړه چې ځنګه تصور د "ضاربٌ زیداً" اول لازم دے، حالانکه تصور اول د ضاربك نه دے راغلے. پس معلومه شوه چې تنوین په ضاربك کښې ساقط شوے دے، ځکه چې د اضافت نه. **سوال.** جائزه ده دا خبره، چې "ضاربك" په اصل کښې "ضاربٌ ایاك" وو بیا

تنوین ساقط شوے دے، په اضافت سره، یا ضمیر منفصل په ضمیر متصل بدل شو، په دې صورت کښې تخفیف په جانب د مضاف او مضاف الیه دواړو کښې موجود شو. **جواب** دا دے، چه دا یې د عربو نه مسموع نه دے او بله وجه دا ده، چه ضمیر منفصل په هغه وخت کښې راوړلے شي، چه کوم ځائے کښې ضمیر متصل متعذر وي او هغه خاص ځایونه دي. دریمه وجه دا ده، چه د اضافت لفظیه صرف دوه فائدے دي، چه یو تخفیف دے په جانب د مضاف کښې او د هغه شان تخفیف دے، په جانب د مضاف الیه کښې په جانب د مضاف کښې حذف د تنوین یا قائم مقام د تنوین دے او په جانب د مضاف الیه کښې حذف د ضمیر دے او استتار د ضمیر، په صفت کښې او هو چه دے، ابدال د منفصل په متصل سره، نو دا د اضافت لفظیه د تخفیف د اقسامونه نه دے. پس "الضاربک" دا ترکیب صحیح او ګرځیدو د وجه د حمل نه په ضاربک باندې۔

ولا يضاف موصوف الى صفته

په دې عبارت سره ماتن یو قاعدے ته اشاره کوي، چه موصوف صفت ته نه شي مضاف کېدے

او د غه شان:—

ولا صفة الى موصوف

او نه اضافت د موصوف صفت ته راتلے شي، وجه دا ده چه، په دغه صورت کښې اجتماع د ضدین راځي او دلته کښې اقامت د یو په ځائے د بل نه شي راتلے، ځکه چه د ترکیب اضافي ځان له حکم دے او د ترکیب توصیفي ځان له حکم دے، بنا د ترکیب اضافي په مغایرت ده، په مابین د مضاف او مضاف الیه کښې او بنا د ترکیب توصیفي په اتحاد ده، په مابین د موصوف او صفت کښې، بله وجه دا ده چه صفت تابع دے او په اضافت کښې تبعیت نشته، او بله وجه دا ده، چه موصوف اخص یا مساوي کېدے شي او مضاف اخص یا مساوي نه شو کېدے:

ومثل مسجد الجامع وجانب الغربي وصلوة الاولى وبقلة الحمقاء متاول—

په دې عبارت سره مصنف د دفع د دخل مقدر کوي. **سوال**، تا خو اوویل، چه "لا يضاف موصوف الى صفته" نو دا قاعده:

قاعده ستا منقوضه شوه، په دې ترکیبونو سره، لکه "مسجد الجامع"، دلته کښې مسجد موصوف دے او الجامع صفت دے نو په دې کښې اضافت د موصوف راغلے دے صفت ته، د غه شان په دې ترکیبونو کښې، "جانب الغربي"، جانب موصوف دے او الغربي صفت دے، په "صلوة الاولى" کښې، صلوة موصوف او الاولى صفت دے او "بقلة الحمقاء" کښې، بقلة موصوف دے او حمقاء صفت دے، په دې ټولو ترکیبونو کښې اضافت د موصوف صفت ته راغلے دے، نو مصنف **جواب** اوکړو، چه متاول یعني دلته کښې په دې ترکیبونو کښې تاویل کړے شوے دے، په دې شان سره، چه د دې صفتونو موصوفات

مقدر دی، لکه د "مسجد الجامع" اصل تقدیر دا دے "مسجد الوقت الجامع" او د "جانب الغربي" تقدیر دا دے "جانب المکان الغربي" او د "صلوٰة الاولیٰ" تقدیر دا چې "صلوٰة الساعة الاولیٰ" او د "بقلة الحمقاء" تاویل دا دے "بقلة الحبة الحمقاء"۔

ومثل جرد قطيفة و اخلاق ثياب متاول.

په دے عبارت مصنف دفع د سوال کوی۔

سوال ۔ تاسو اووئيل چې "لا يضاف صفة الى موصوفها"، نو دا قاعده ستا منقوضه شوه، په دے ترکیبو سره چې "جرد قطيفة" او "اخلاق ثياب"، ځکه چې جرد صفت دے د پاره د قطيفة او اضافت ئې راغلے دے موصوف ته او دغه شان اخلاق صفت د پاره د ثیاب دے او اضافت ئې راغلے دے موصوف ته۔ پس مصنف جواب او کړو چې متاول، یعنی دلته په دے ترکیبو کښې تاویل کړے شوے دے، په دے شان سره چې هر کله خالق حذف کړو قطیفة د دے قول نه، چې "قطيفة جرد"۔ پس صفت بغیر د موصوف نه پاتے شو. او استعمال د صفت بغیر د موصوف نه جائز نه دے، پس صفت او ویستلو د صفتیت نه او داخل کړو اجناسو په شان ئې لوګو لو بیانیه اضافت راغے، د پاره د ابهام، دغه شان ترکیب په اخلاق کښې دے، او س دلته کښې دا اضافت بیانی دے، په معنیٰ د مِنْ سره دے۔

درس نمبر ۱۸۹

ولا يضاف اسم مماثل للمضاف اليه في العموم والخصوص كليث وأسد و حبس ومنع لعدم الفائدة.

په دے عبارت سره مصنف یوه قاعده ذکر کوی، چې اضافت د هغه اسم نه راځی، دا سے اسم نه، چې هغه د ده سره مساوی او مماثل وی، په عموم او په خصوص کښے برابر وی، په مترادفین وی، لکه انسان او ناطق۔ دلته کښې د انسان اضافت ناطق ته نه شی کیدے او د ناطق انسان ته لکه مترادفین وی، لکه لیث او اسد شو۔ مصنف د لیث او اسد مثال راوړلو، دا د هغه مثال دے، چې مماثل وی په ذات کښې او حبس او منع مثال د هغه دے، چې مماثل وی په معنیٰ کښې او دا اضافت په دے وجه باندې ناجائز دے، چې په دے کښې څه فائده نشته دے۔

بخلاف كل الدراهم وعين الشيء

په دے عبارت سره مصنف دفع د اعتراض کوی، منشاء د ماقبل قاعده ده، چې مصنف اووئيل، چې "ولا يضاف اسم مماثل الخ"، نو **سوال** دا دے چې ستا دا قاعده منقوضه شوه، په دے ترکیب سره چې "كل الدراهم"، په دے کښې اضافت د یو مماثل بل ته راغلے

دے او د دغه شان په عین الشئ کښې، چه مضاف او مضاف الیه مماثل دی۔ پس مصنف ؒ جواب اوکړو، چه:

فانه یختص به

یعنی په دے ترکیبونو کښې اضافت د عام راغلی دے، خاص ته، "فان المضاف یختص بسبب المضاف الیه" یعنی مضاف کښې عموم وو، د کل اطلاق په درهم او په غیر درهم دواړو باندې کېدو۔ پس چه کله یئے ورسره درهم او کړو، نو تخصیص یئے راغے، دغه شان عین الشئ کښې، عین عام دو، موجود او معدوم دواړو له شامل وو، چه کله ورسره شئ او لګېدلو، نو خصوص په کښې پیدا شو۔ او س داد قبیلے د اضافت د یو متماثلینو نه او نه ګڼلے شو۔

وقولهم سعید کرز ونحوه متأول

په دے عبارت سره غرض د مصنف ؒ دفع د دخل مقدر دے۔ **سوال** دا دے، چه تا خو او وئیل، چه اضافت د یو د متساوین بانده ناجائز دے، نو دا قاعده ستا منتوضه شوه په دے ترکیب سره، چه "سعید کرز"، ځکه چه دا دواړه مصداقاً متماثلین دی او اضافت په کښې راغلے دے۔ پس مصنف ؒ **جواب** اوکړو، چه متأول، یعنی په دے کښې تاویل راغلے دے، په دے شان سره، چه مراد په مضاف سره مسمیٰ او مدلول دے او په مضاف الیه سره اسم او لفظ دے، چه کله اوس مطلب شی، چه "جاءنی سعید کرز" دا به داسے شی، چه "جاءنی مدلول هذا اللفظ ومسمّاه"۔ **سوال**۔ عکس دے او شی۔ **جواب**۔ اسناد د مجیئة لفظ ته ممتنع دے لکه اضافت د لقب اسم ته نه کیږی۔ پس داسے نه شی وئیلے، چه "کرز سعید"۔

واذا اضیف الاسم الصحیح او الملحق به یاء المتکلم کسر آخره۔

او هر کله چه اضافت د اسم صحیح یا د هغه چه ملحق وی په اسم صحیح پورے او کړے شی، یاء د متکلم وته، نو د هغه آخر به مکسور کړے شی۔ صحیح په اصطلاح د نحاتو کښې هغه ته وائی، چه د هغه په آخر کښې واؤ یا یاء نه وی راغلی، یعنی "مالایکون فی آخره حرف علة"، او ملحق بالصحیح ته جار مجرا د صحیح هم وائی، یعنی په آخر د هغه کښې واؤ او یا یاء وی او ملحق بالصحیح ترے نه ساکن وی، لکه "ظبی" یا "دلو" او دے ته ملحق بالصحیح په دے وجه وائی، ځکه چه حرف علت پس د سکون نه حرکت په هغه باندې ثقیل نه وی او سبب وجه داده چه حرف علت نه ماقبل، چه په حرف سکون راشی، نو ژبے او لسان ته استراحت حاصل شی، بیا په حرف علت باندې حرکت ثقیل او نه ګرځی، نو په دے صورت کښې به آخر د دغه اسم مکسور وی، د وجه د موافقت د یاء نه، لکه "غلامی دلوی وظبی"۔

والیاء مفتوحة او ساکنة

او دغه یاء به یا مفتوحه وی، ځکه چه اصل په هغه کلمه کښې، چه هغه په یو حرف باندې مشتمله وی۔ حرکت دے د یاء ده دے، چه "لانه لا یمکن الابتداء بالسکون" حقیقتاً یا حکماً او اصل په مبنی علی الحرکة کښې فتحه ده، د د ه

دَ خفت نه اَوْ یائې دا یاء ساکن والی، دَ یاء دَ تخفیف ـ

درس نمبر ۱۹۰

فان کان فی آخرہ الف تثبت کۀ چرته کښې هغه اِسم، چې دَ هغه اضافت راغلے دے، یا صحیح نۀ وی اَوْ نۀ ملحق بالصحیح وی، بیا ئې حالی نۀ وی، یا ئې په آخر دَ هغه کښې الف وی، نو دے به ثابت پرېښودے شی، په لغت فصیحه کښې، دَ تثنیې دَ یاء وجه ما الف کۀ نۀ وی، لکه "سلمای" یا "فتای"، مغه شان عصای اَوْ رحای، دَ وجې دَ عدم موجب دَ انقلاب نه ـ

وهذیل تقلبها لغیر التثنیة اَوْ قبیله دَ هذیل دغه الف په حال دَ کون دَ دغه الف کښې، چې دَ غیرِ دَ تثنیې دَ یاء وی، بیا ئې بدلوی په یاء باندې، لکه په عصای کښې عصیّ اَوْ په رحای کښې رحیّ اَوْ کۀ چرته دَ تثنیې دَ یاء وی، بیا په کښې تغیر نۀ کوی ـ

وان کان یاء ادغمت اَوْ کۀ چرته هغه اِسم، چې دَ هغه اضافت راغلے دے، یا دَ متکلم ته اَوْ دَ هغه په آخر کښې یاء وه، نو دَ دے ادغام به اُوشی، ځکه چې دُوه حروف دَ یو جنس نه راغلل، لکه مسلمیّ شو یا لکه مسلمیّ، یا لکه قاضیّ ـ

وان کانت واواً قلبت یاءً وادغمت اَوْ کۀ چرته دَ هغه اِسم په آخر کښې واو وی اَوْ اضافت ئې راغلے وی، یا دَ متکلم ته، نو بیا به په دے کښې دُوه عمله کیږی، قلب اَوْ ادغام، یعنی دا واو به په یاء بدل شی اَوْ بیا به یاء په یاء کښې مدغم شی، ځکه چې دُوه حرفه دَ یو جنس نه راجمع شول اَوْ دا واو په یاء باندې ځکه بدلیږی، چې دا قاعده دَ صرفیانو ده، چې کوم ځائے کښې چې واو اَوْ یاء جمع شی، نو واو به په یاء بدل شی اَوْ یاء به په یاء کښې مدغم شی، لکه مرمی، چې دا په اصل کښې مرموی وه، واو اَوْ یاء جمع شو، واو په یاء بدل شو اَوْ په یاء کښې مدغم شو، بیا دَ یاء دَ وجې نه میم له کسره ورکړے شوه ـ (دَ مرمی دا مثال دا دَ قاعدې صرفي مثال دے) ـ

وفتحت الیاء للساکنین اَوْ په تولو صورتونو کښې یاء به ساکنه وی ـ بیا به فتحه ورکړے شی، چې په آخر دَ اِسم کښې الف وی کۀ یاء وی اَوْ کۀ واو وی، کۀ ساکنه به نۀ وی، دَ یاء دَ وجې، چې التقاء ساکنین لازم نۀ شی ـ

واما الاسماء الستة فاخی وابی په دے عبارت سره مصنف بیان دَ دے خبرے کوی، چې هر کله دَ اسماء ستة سره لحوق دَ یاء دَ متکلم اُوشی، دَ دے څۀ حکم دے، پس مصنف فرمائیل، چې واما الاسماء الستة تر آخر باب

سره، چه کله لحوق د یاء او شي، نو دغه ګڼلے شي، چه "اخي وابي"، بغیر د رد د لام کلمے نه.

وأجاز المبرد أخيّ وأبيّ او جائز ګرځولے دے "مبرد" نحوي په دے ترکیب کښے "ابيّ" و "اخيّ" په تشدید د یاء سره، چه هغه لام کلمه رد او واپس راوړی نو بیا د لام کلمے ادغام کړے شوے دے، په یاء کښے او دلیل د هغه د شاعر د شعر دا مصرعه ده. چه "وأبيّ" "مالك ذوالمجاز بدار" او اخ، دا محمول او ګرځیدو، په اب باندے "موبن ورتها لیک"، چه داشان دے او د استعمال د فصحاء نه بعید دے او بل احتمال په کښے دا دے، چه ابي جمع د اب ده، په اصل کښے ابین وو، بیا نون تر یے نه ساقط شو، په اضافت سره او یاء په یاء کښے مدغم شوه، پس ابي تر یے نه جوړ شو، لکه په دے شعر د شاعر کښے:-

~ فلمّا تبيّن اصواتنا بكين وفديننا بالأبينا!

"وتقول حمي وهني" بغیر د رد د لام کلمے نه او هغه به مخفف لسیاً منسیاً او ګرځی.

ويقال فيّ في الأكثر یعنی چه کله فم سره یاء د متکلم ملحقه شي، نو په دے کښے به دغه عمله کیږی، رد او قلب او ادغام.

وفمي او په بعض استعمالاتو کښے فمي ویلے شي.

درس نمبر ۱۹۱

وإذا قطعت أخ وأب وحم وهن وفم په فم کښے، په فا باندے درے واړه حرکات صحیح کیږی ضمه، فتحه او کسره، چه کله دغه اسماء منقطع او ګرځی، د اضافت نه، لوبیا به "اخ و اب الخ" ویلے شي.

وفتح الفاء أفصح منها په فم کښے فتحه، کسره، ضمه درے واړه لغات دی، خو فتحه د دے دا افصح دے، په نسبت سره د دے دوؤ واړو ته، یعنی کسرے او ضمی ته، ځکه چه فتحه اخف الحرکات دے.

وجاء حم مثل يد وخبء ودلو وعصا مطلقاً. یعنی حکم د حم په شان د حکم د یدٌ دے، په حذف د لام کښے، او په ګرځولو د اعراب کښے په عین کلمه باندے، و خبءٌ په کیدلو د ده کښے مهموز معرب په حرکات ثلاثه سره، و دلوٍ په کیدلو د آخر د ده کښے واؤ، و عصاً په کیدلو د آخر د ده کښے مقصور معرب په اعرابات تقدیریه سره، مطلقاً، دا متعلق دے، په دے ټولو پورے، یعنی په حالت د افراد او د اضافت کښے، په دلو کښے رد دے فقط او په خبء کښے رد دے او قلب دے، په همزه باندے او په عصا کښے رد او قلب په الف سره راغلے دے.

وجاء حمٌ مثل یدٍ مطلقاً اؤ حمو دَ حمٌ په شان دَ حمو دَ یدٌ دے ایعنی زید دَ محذوف نه اؤ مطلقاً معنیٰ دا چه برابره خبره ده چه مفرد وی، که مضاف وی۔

وذو لا یضاف الی مضمرٍ په اصل دستهٔ کښې ذو دَ ده اضافت ضمیر ته نه راځی، ځکه چه ضمیر واضع وضع کړے دے، دَ پاره دَ توصل دَ شی په اسم جنس سره اؤ ضمیر اسم جنس نه شی واقع کیدے۔ **سوال.** لکه چه څنګه اضافت دَ ذو ضمیر ته نه شی راتلے، دغه شان اسم اشاره علَم موصول ته هُم نه شی کیدے۔ پس لکار دا وه چه مصنف دا سے وئیلے وے چه وذو لا یضاف الی غیر اسم الجنس، بیا مصنف ولے ضمیر خاص کړو؟ په ذکر سره۔ **جواب** دا دے چه مصنف خاص کړو ضمیر په ذکر سره، ځکه چه دَ دے اسماء خمسه دَ پاره احکام دی په صحت دَ اضافت دَ دوی کښے یاء دَ متکلم وته۔ پس مصنف نفی اوکړه دَ اضافت دَ ذو ضمیر ته، دَ پاره دَ انتفاء دَ دغه احکام خاصه۔ **سوال.** ته خو وائے چه دَ ذو اضافت ضمیر ته نه راځی۔ ستا دا قاعده منقوضه شوه، په دے قول دَ شاعر سره چه "انما یعرف ذا الفضل من الناس ذووه" یا لکه دا قول "اللهم صل علیٰ محمد وذویه" په دے کښے اضافت دَ ذو ضمیر ته راغلے دے۔ **جواب** دا دے چه دا شاذ دے۔

ولا یقطع یعنی ذو دَ اضافت نه قطع کیدے نه شی، دے لازمة الاضافة دے ځکه چه وضع دَ ده راغلی ده دَ پاره دَ توصل دَ توصیف دَ شی په اسم جنس سره، اؤ دا معنیٰ نه شی حاصلیدے بغیر دَ اضافت نه۔



التوابع

هر کله چې فارغ شو مصنف رحمه الله د بیان د هغه اسماؤ نه چې په هغوی کښې راځي اعراب بالاصالة راځي، اوس یې شروع اوکړه په هغه باب چې په هغه باندې اعراب بالواسطه راځي. پس مصنف رحمه الله اووئیل چې: التوابع - ترجمه یې داسې ده چې: توابع په پنځه قسمه دی، نعت، عطف بیان، تاکید، بدل او معطوف. وجه د حصر په پنځو کښې دا ده چې مقصود بالنسبة به خالي نه وي یا به تابع وي، یا به متبوع وي او یا به دواړه، که چرته اول وي، هغه بدل او که دویم وي، نو بیا به خالي نه وي یا غرض د راوړلو د تابع نه دلالة وي په هغې معنی باندې چې ثابته وي په متبوع کښې او یا به راوړل شوې وي د پاره د تقرر د هغه معنی چې په متبوع کښې ده، او یا به راوړل شوې وي د پاره د توضیح د هغه معنی چې په متبوع کښې ده، که اول وي، هغه نعت دے، که دویم وي تاکید او که دریم وي عطف بیان او که مقصود دواړه وي، نو هغه معطوف به التوابع کښې د المرفوعات، المنصوبات او المجرورات په شان اعراب نه دے یعنی چې د خبر اوګرځي د پاره د مبتدا محذوف او مقدر، یعنی که د مضاف هم حذف دے او مبتدا یې هم حذف ده. معنی شان چې مبتدا شي او خبر یې حذف شي، یعنی د دوی مضاف حذف دے او خبر یې هم حذف دے.

کل ثان باعراب سابقه من جهة واحدة

ما هر هغه ثاني دے چې دے معرب وي په اعراب د سابق سره د جهة واحدة نه، یعنی معرب به وي په جنس اعراب د سابق سره، د جهة واحدة شخصیه نه.

سوال: ملته کښې بعض علماؤ په معرف کښې نقصان دے، ځکه چې التوابع جمع دا او جمع په افرادو باندې دلالت کوي، نو ملته کښې لازمیږي تعریف د افرادو او حالانکه تعریف د ماهیت کیږي نه د افرادو. بلکه بیا هم داسې دے چې په تعریف کښې لفظ د کل راغلے دے چې دا راځي د پاره د احاطه د افرادو، بیا هم تعریف د افرادو راغي. **جواب** دا دے چې التوابع کښې الف لام داخل دي او دا د جنس د پاره دي او قانون دا دے چې کله په جمع باندې الف لام جنسي داخل شي، نو جمعیت باطل شي او ماهیت ترې نه مراد وي او دلته کښې لفظ د کل په تعریف کښې نه دے داخل. **سوال**: توابع جمع د تابع ده او تابع وزن د فاعل دے او فاعل په وزن فواعل نه جمع کیږي. **جواب** دا دے چې وزن د فاعل په دوه قسمه دے، یو صفتي او دویم اسمي،

دے، صفتی نه جمع کیږی لکه اِسمی جمع کیږی او تابع فاعل اِسمی دے۔ زده کړه دا خبره چه فاعل صفتی په دوه قسمه دے، یو صفت د عاقل دے او بل غیرعاقل دے، صفت د عاقل به په دے وزن نه جمع کیږی او صفت د غیرعاقل به په دے وزن جمع کیدے شی، لکه شواهق او طوالع، لفظ د کل لره دخل نشته په تعریف کښے، بلکه تعریف د مدخول د کل نه شروع شوے دے۔

سوال۔ بیا ولې د لفظ د کل ته څه ضرورت وو؟ **جواب** دا دے چه لفظ د کل یے راوړے دے، د پاره د تصریح په اطراد د تعریف باندے۔

درس نمبر ۱۹۲ :-

سوال۔ دا تعریف جامع او نه کوځکه د خپلو افرادو لره، ځکه چه خارج شو د دے نه تابع فعلی او تابع حرفی، لکه "انّ انّ" او ضرب ضرب؟ ځکه چه ثانی معرب نه دے په اعراب د خپل سابق باندے۔ **جواب** دا دے چه خبره موږ په تابع د مرفوعاتو، منصوباتو او مجروراتو کښے ده، چه هغه د اقسامو د اسم نه دی، کله چه دا خارج شو د دے نه تابع فعلی یا تابع حرفی، نو په دے کښے څه نقصان نشته دے۔ بهرحال موږ په معنی کښے ما او میل چه دا هغه متأخر دے، یعنی د ثانی نه مونږ تعبیر په مؤخر سره اوکړو، په دے سره غرض زمونږ دفع د اعتراض ده۔ **سوال**۔ دا تعریف جامع او نه کوځکه د خپلو افرادو لره او خارج شو ترے نه تابع ثانی، ثالث او رابع وغیره هم، ځکه چه دا تابع دے سره د دے نه ثانی نه دے۔ **جواب** دا دے چه مراد په ثانی سره متأخر دے۔ **سوال**۔ هر کله چه ثانی معرب اوگرځیدو په اعراب د سابق سره نو سابق بلا اعراب پاتے شو۔ **جواب** دا دے، چه مراد په اعراب د سابق سره جنس اعراب د سابق دے، نه عین اعراب د سابق په معنی کښے مونږ جهتِ واحدهٔ نه مراد جهتِ واحدهٔ والحق په دے معنی سره مونږ دفع د اعتراض اوکړه۔ **سوال**۔ ستا دا تعریف د تابع مانع او نه گرځیدو د دخول د غیرنه داخل شو، په کښے مفعول ثانی د باب د ظننت او اعطیت، ځکه چه دا هم ثانی دے او معرب دے، په اعراب د سابق سره د جهتِ واحدهٔ نه چه هغه مفعولیت دے۔

جواب دا دے، چه مراد په جهتِ واحدهٔ سره جهتِ واحدهٔ شخصیه دے، نه نوعیه او که په باب د ظننت او اعطیت کښے جهتِ واحدهٔ نوعیه دے، نه شخصیه۔ **سوال**۔ ستا دا تعریف جامع او نه گرځیدو د خپلو افرادو لره او خارج شو ترے نه، هغه تابع، چه اعراب په محلو کښے یا په کښے تقدیری وی، یا محلی وی، ځکه چه ثانی معرب په اعراب د سابق سره نه دے۔ **جواب** دا دے، چه هغه اعراب، چه کوم معتبر دے، په دے تعریف کښے، په نسبت سره، سابق ته دے او لا عام د دے نه، چه هغه تقدیری وی، که لفظی وی او که محلی وی۔

په دے عبارت سره مصنف د | **النعت تابع يدل على معنىً في متبوعه مطلقاً**

نعت تعریف کوی او نعت یې مقدم کړی، په تقدیر د تابع و بانډې، ځکه چې دغه اکثر استعمالاً دے او اولو متابعة دے، یعنی دے د خپل متبوع په شان څیزونو کښې تابع دے، پس دغه اولو متابعة اوکي ځې وائي وبیره اعظم فائدة هغه، په هغه ایو تعریف کښې لاندې دي، د جنس او د فصل نه۔ هر کلمه چې مصنف اوخوائيل "تابع" دا په منزله د جنس شو، تمام توابع په دې کښې شامل شو او "یدل على معنى فی متبوعه"، دا فصل دے، په دې سره پرته نه نور توابع خارج شو او مطلقاً مطلب دا دے، چې دې مقید نه دے، په حال د نسبت سره۔

وفائدته تخصیص او توضیح

فائده د نعت هغه تخصیص د منعوت دے، او یا التوضیح د هغه دی، تخصیص چې دی هغه خالق بانډې دے، د تقلیل د شیوع او د ابهام نه، په نکارت کښې، لکه "رجل"۔ دا څکه دے او شامل دے، ټولو افرادو د رجل لره، خو چې کله موږ د دې صفت عالم اووئیل، نو هغه شیوع او احتمال او ابهام پرې نه زائل شو او توضیح عبارت دے، د رفع د احتمال نه په معارفو کښې، لکه "زید التاجر"، چه "زید التاجر عندنا"، په زید کښې احتمال د تاجر او د عدم تاجر وو، خو چې هر کله تا صفت د تاجر ورسره ذکر کړو، نو رفع د احتمال یې راغله۔

وقد یکون لمجرد الثناء او الذم او التوکید

او کله دا نعت راځي، د پاره د مجرد ثناء او د ذم نه د پاره د تخصیص یا د توضیح، لکه "بسم الله الرحمن الرحیم"، د ذم مثال، لکه "اعوذ بالله من الشیطان الرجیم"، او یا د پاره د تاکید نحو نفخة واحدة۔ دلته کښې واحدة د پاره د تاکید راغلے دے، ځکه چې وحدة فهو کیږي، د تامه په نفخة کښې، ځکه چې په دې کښې تاء د پاره د وحدة راغلې ده۔

سوال. څه وجه ده، چې مصنف د تاکید د پاره مثال راوړو، او د مدح او د ذم مثال یې نه دے راوړے۔ **جواب.** د ثناء او د ذم مثالونه واضح او مشهور وو، نو د دې وجه د وضاحت او د شهرت نه یې د هغوی د مثالونه ذکر نه کړل او د تاکید په حقه کښې لږ خفاء وه، په دې وجه یې د هغه مثال ذکر کړو او د هغه شان کله راځي، دا نعت د پاره د کشف د حقیقت او ماهیت، لکه "الجسم الطویل العریض العمیق"۔

درس نمبر ۱۹۳

ولا فصل بین ان یکون مشتقا او غیره

او نشته دے، فرق په دې کښې، چې نعت مشتق وي او که جامد، ځکه چې غرض د نعت نه، هغه دلالت دے په معنی بانډې، هغه معنی، چې ثابته وي په منعوت کښې او که هغه چې څنګه

حاصلیږي' په مشتقاتو سره نه بلکې حاصلیږي' په جوامدو سره- په دې عبارت سره مصنف'' دفع دَ توهم کوي، بعضي نحاتو داتوهم کړے دے' چه اکثر مواد دَ نعت' چونکه مشتقات دي، نو هغوئ دَ نعت دَ پاره اشتقاق شرط کړے دے' اوچه کومو ترکیبو کښې نعت غیرمشتق راغلے دے، دوئ دَ هغه تاویل کړے دے' په غیرمشتق سره- پس مصنف'' په دې عبارت سره دفع دَ توهم اوکړو-

اذ کان وضعه لغرض المعنیٰ عموما ما علت تید دے' دَ پاره دَ غیرمشتق هغه وخت کښې' چه وي وضع دَ دې غیرمشتق دَ پاره دَ غرض دَ دلالت په معنیٰ باندې چه واقع وي' په متبوع کښې' په جمیع استعمالاتو کښې-

نحو تمیمي وذي مال مُراد په دې عبارت سره منصوب دے اَو ذو چه' مضاف وي اِسم جنس ته، حکم چه دوئ په جمیع مواضع کښې موصوف غواړي' یا په لفظا وي یا تقدیرا- دَ عموما نه مراد یا دلالت عامه دے یا وضع عامه ده' تمیمي دلالت کوي دا په هغه ذات باندې چه منسوب وي' دې قبیلې ته اَو ذومال دلالت کوي' همیشه په ذات دَ صاحب دَ مال اَو خصوصا، یعني دلالت خاصه یا وضعا خاصا اَو مُراد په دې سره بعض استعمالات دي-

مثل مررت برجل ای رجل یعني رجل کامل، ایّ په موضع دَ مدح کښې صفت واقع کیږي، دَ پاره دَ نکرے اَو ای رجل، په دې ترکیب کښې دلالت کوي' په هغه معنیٰ باندې چه ثابته ده' په متبوع کښې اَو هغه معنیٰ کمال ده' په جملیه کښې اَو ما ترکیب چه ایّ رجلٍ عندك ما دلالت نه کوي' په هغه معنیٰ باندې چه ثابته ده' په متبوع کښې، نو صحیح نه دي واقع کېدل' دَ دې نعت-

ومررت بهذا الرجل په دې ترکیب کښې هذا اِسم اِشاره ده' چه دلالت کوي' په ذات مبهمه باندې اَو الرجل دلالت کوي' په تعین ذات مبهمه باندې اَو هغه تعین معنیٰ ثابته ده' په ذات مبهمه کښې، پس صحیح دے' واقع کېدل دَ دې نعت اَو دَ دې خصوصی دَ وجه نه الرجل' په دې ترکیب کښې چه جاءني الرجل دلالت نه کوي' په هغه معنیٰ باندې چه ثابته وي' په ذات مبهمه کښې)- پس صحیح نه دي واقع کېدل دَ دې نعت- خلاصه دا شوه' چه اِسم جنس واقع کیږي' صفت دَ پاره دَ مبهم-

ونبزید هذا شکه چه اِسم اشاره نه واقع کیږي' مګر صفت دَ پاره دَ علم یا دَ پاره دَ مضاف دَ علم ته یا چه مضاف وي' مضمر ته' په دې ترکیب کښې هذا اسم اشاره دلالت کوي' په هغه معنیٰ باندې چه ثابت وي' په زید کښې اَو هغه معنیٰ کېدل' دَ زید دې' مشار الیه په اشاره

سره سره، نو صحیح او کړېدل، واقع کېدل، د دې نعت د پاره د زید۔

درس نمبر ۱۹۴

وتوصف النکرة بالجملة الخبریة دا بله یوه کلیه ذکر کوي، چه د نکرې توصیف په جملې خبریې سره کېدے شي، دلته کښې متوهٔ خبریه دي،

یوه دا چه جمله صفت واقع کېدے شي۔ دوېمه دا چه، جمله خبریه صفت واقع کېدے شي، او انشائیه نهٔ شي واقع کېدے، دلیل د دې خبرې چه، جمله صفت واقع کېدے شي، دا دے چه، غرض د نعت او د صفت نه، هغه دلالت دے، په هغه معنٰی باندې چه په متبوع کښې ده، دا چه څنګه حاصلیږي په مفرد سره، دغه رنګې حاصلیږي، په جملې سره او دلیل د دې خبرې، چه جمله خبریه صفت واقع کیږي او انشائیه نهٔ شي واقع کېدے، هغه دا دے چه، جملې انشائیې لره ثبوت فی نفسها نشته دے لکه اثبات د شي د پاره د بل شي هغه فرع د ثبوت د دې ده فی نفسه، په دې وجه باندې جمله انشائیه نه صفت واقع کېدے شي، نهٔ خبر نه صله او نهٔ حال او کله وجه دا ده چه، نعت مربوط وي، په خپل منعوت پورې او انشاء ربط نهٔ قبلوي، مګر په تاویل بعید سره۔

ویلزم الضمیر او هر کله چه جمله خبریه نعت واقع شي، نو لابدي ده، په کښې د ضمیر د پاره د ربط، ځکه چه جمله خبریه مستقله بنفسها ده او نعت مربوط وي، خپل منعوت پورې، نو لابدي شوه، د ربط نه او رابط نهٔ راځي، بغیر د عائد نه، نو توصیف د نکرې په جملې خبریې سره کېدے شي، ځکه چه جمله من حیث الجمله په قوت د نکرې کښې ده، نو نکره به صفت د نکرې واقع شي۔ پس مطابقت به راشي، په مابین د نعت او د منعوت کښې۔

ویوصف بحال الموصوف وبحال متعلقه په دې عبارت سره غرض د مصنفؒ هغه تقسیم د حال نه د قسمونو

ته، چه یوصفه بحاله دے، بل صفت بحال متعلقه دے۔ بحال جار مجرور مفعول مالم یسم فاعله دے، یعنی یوصف بحالة قائمة بالموصوف۔ صفت بحاله دې ته وائي، چه صفت بالذات د پاره د موصوف واقع شوے وي او صفت بحال متعلقه دې ته وائي، چه صفت بالذات د موصوف د پاره نه وي، بلکه د هغې متعلقاتو نه وي، لکه یو مثال اوړاندې، چه مررت برجل حسن۔ دلته کښې حسن بالذات د رجل د پاره صفت واقع شوے دے او د صفت بحال متعلقه مثال دا دے، چه مررت برجل حسن غلامه۔ دلته کښې حسن صفت د رجل د غلام دے، چه هغه د متعلقاتو د رجل نه دے۔ زیده که خبره، چه متعلق د موصوف هغه دے، چه علاقه وي په مابین د موصوف او د صفت کښې، دا علاقه عامه ده، قریبه وي او که بعیده وي۔ قریبه په درې قسمه ده، یوه علاقه

نسب دہ، لکہ مررت برجل قائمٍ ابوہٗ۔ دریمہ علاقہ دَ ملك دہ، لکہ مررت برجل حسن غلامہٗ۔ ٥
څلورمہ علاقہ دَ مخالطت دہ، لکہ مررت برجل طویلٍ ثوبہٗ۔ دَ علاقې بعیدې مثال لکہ مررت برجلٍ قائمٍ غلام ابیہٖ۔

نحو مررت برجل حسنٍ غلامہٗ

دا مثال دَ صفت بحال متعلقہ دے۔ دلته

کښې **سوال** وارد یږي، چې مصنف اولنۍ دوه قسمه ذکر کړي دي او مثال یې صرف دَ یو قسم ذکر کړو۔ **جواب** دا دے چې، دَ صفت بحاله مثال ظاهر او واضح وو، په خلاف دَ صفت بحال متعلقہ نه، چې هغه کښې لږ خفا وه، په دې وجه یې دَ هغې مثال ذکر کړو۔

فالاول یتبعه فی الاعراب والتعریف والتنکیر والافراد والتثنیة والجمع والتذکیر والتانیث۔

او اولنۍ قسم چې هغه بحاله دے۔ دا به دَ خپل متبوع سره مطابق وي، په لسو امورو

کښې، دریمه قسمه په اعراب کښې دي، یعنې که چرته متبوع مرفوع وي، دا به هم مرفوع وي، که متبوع مجرور یا منصوب وي، نو دا به هم مجرور یا منصوب وي۔ دغه شان که چرته متبوع معرفه وي دا به هم معرفه وي او دغه په افراد تثنیه، جمعیت او تذکیر او په تانیث کښې مطابقت ضروري دے، خو په دې لسو امورو کښې صرف څلور موجود یدے شي، دَ وجې دَ منافات دَ بعضو امورو دَ بعضو سره، مثلاً په اعراب کښې به یا رفع وي یا نصب وي یا به جر وي، په تعریف او تنکیر کښې به یا تعریف وي یا به تنکیر وي، په تذکیر او په تانیث کښې به یو وي۔ دغه شان په افراد تثنیه او جمع کښې به یو وي۔ **سوال**: ستا قاعده منقوضه شوه په دې ترکیبونو سره، چې رجل صبور، امرأة صبور، رجل جریح، امرأة جریح، رجل علامة، امرأة علامة، حکه چې په دې ترکیبونو کښې مطابقت نشته دے په مابین دَ موصوف او دَ صفت کښې په تذکیر او په تانیث کښې؟۔ **جواب** دا دے چې، دا حکم په هغه صفت کښې دے، چې په هغې کښې مذکر او مؤنث برابر نه وي او نه دِ صفت دَ مؤنث جاري وي، په مذکر باندې۔

درس نمبر ۱۹۵

والثانی یتبعه فی الخمسة الاول

او دویم نعت بحال متعلقہ دے۔ دا به مطابق وي، دَ خپل متبوع سره، په اولنو پنځو امورو کښې، یعنې په اعراب کښې، چې رفع دہ، نصب دہ، جر دہ او په تعریف او تنکیر کښې، لیکن په دې کښې صرف دوه موجود یږي، حکه چې دَ بعض امورو دَ بعض سره منافات دے، په اعراب کښې، په دوئ کښې

بیلو وی او په تعریف او تنکیر کښے په دواړو کښے به یو وی۔

وفی الباقی کالفعل او د دے نورو ذکر شوو امورو نه علاوه، چه هغه افراد تثنیه، جمع، تذکیر او تانیث دے، په شان د فعل دے، ځکه چه نعت په دغه قسم کښے مشابه دے د فعل سره، لکه چه څنګه فعل ځلې مابعد ته مسند وی نو دغه شان ځلې مابعد ته مسند دے، د قاعدے مطابق چه فاعل د فعل مذکر وی، نو فعل به هم مذکر وی لوکه چرته فاعل مونث حقیقی وی، نو فعل به هم مونث راوړلے کیږی او چه فاعل کله اسم ظاهر وی، نو فعل به مفرد راوړلے کیږی۔ دغه شان نعت دے، لکه مررت برجل قائمة جاریته، مررت بامرءة قائم غلامها، مررت برجلین قائم ابوهما، مررت برجال ذاهب غلامهم۔

ومن ثم او د وجه د دے خبرے نه چه نعت په باقی امورو کښے په شان د فعل دے۔

حسن قام رجل قاعدٌ غلمانه ښه دے، دا ترکیب، چه قام رجل قاعد غلمانه، ځکه چه نعت کله په شان د فعل اوګرځید او په فعل کښے دا قاعده وه، چه فاعل د فعل کله اسم ظاهر وی، نو فعل به مفرد راوړلے شی، دلته په دے ترکیب کښے قاعدٌ نعت دے، دے په منزله د یقعد شو او غلمان جمع د غلام ده، فاعل اسم ظاهر دے، نو اګرچه غلمان جمع ده مګر د دے نه فعل مفرد راوړلے شوے دے، ځکه چه فاعل اسم ظاهر دے۔

وضعف قاعدون غلمانه او ضعیف دے، دا ترکیب، چه قاعدون غلمانه یعنی قام رجل قاعدون غلمانه، ځکه چه قاعدون په منزله د یقعدون دے او د فعل فاعل، چه کله اسم ظاهر وی، نو فعل به مفرد وی لوکه دلته کښے سره د دے نه، چه فاعل اسم ظاهر دے، فعل جمع راوړلے شوے دے، په دے وجه، دا ترکیب ضعیف دے۔ **سوال**۔ مصنف ولے په دے ترکیب باندې د ضعف اطلاق اوکړو۔ پکار واؤ چه په دے ترکیب کښے د امتناع حکم لګولے وے۔ **جواب** ورکوی، چه په دے ترکیب کښے بدل احتمال ګرځیدلے، هغه دا دے، چه دا اسم ظاهر به بدل واقع شی، د هغه فاعل نه، چه کوم ضمیر دے، یعنی په قاعدون کښے ضمیر هغه فاعل مبدل منه دے او غلمان به د هغه نه بدل واقع شی۔ **سوال**۔ ستاسو قاعده منقوضه شوه، په دے ترکیب باندې چه قام رجل قعود غلمانه، ځکه چه سره د دے نه، چه فاعل په دے کښے اسم ظاهر دے او نعت جمع راوړے شوے دے او دا ترکیب جید دے، پکار وو، چه دا ترکیب دے ناجائز وګرځی، نو مصنف جواب اوکړو، چه:-

ويجوز قعود غلمانه اَوْ دا ترکیب په دیے وجه باندې جائز دے، ځکه چه نعوجمع تکسیر ده اَوْ جمع په حکم دَ مفرد کښې ده، ګوياکښې لم يجمع.

والمضمر لا يوصف ولا يوصف به په دے عبارت سره غرض دَ مصنفؒ بيان دَ يو بل قاعدے دے، چه ضمير نه موصوف واقع کيږی اَوْ نه صفت، ضمير په دَرے قسمه دے، يو ضمير دَ متکلم دے، دويم دَ مخاطب دے، دريم دَ غائب دے، ضمير دَ متکلم اَوْ دَ مخاطب دا اعرف المعارف دی، نو دَ دے توضيح ته ضرورت نشته اَوْ هرچه دے ضمير دَ غائب، هغه حمل کيږے شو په دے، نو ځکه دولره باندې اَوْ ضمير صفت نه شی واقع کيدے، ځکه چه صفت "موضح و مبين دی" دا يو تابع دے چه دلالت کوی، په هغه يو معنی باندې چه ثابته وی، په متبوع کښې اَوْ ضمير وال دے، په ذات باندې فقط نه په معنی باندې.

والموصوف اخص او مساو اَوْ موصوف ګڼل دا ده چه دے دِ اخص يا دِ مساوی وی، دَ صفت سره دَ پاره دَ دِ دے، چه لازم نه شی متبوعه دَ فرع په اصل باندې، خو دا خصوصيت يا مساوات دا په اعتبار اَوْ حيثيت دَ مفهوم سره دے، نه په اعتبار دَ خارج سره. **سوال.** تا خو دا اوفرمائيل چه والموصوف اخص او مساو. بنا په دے باندې ګڼاب دا ده، چه جائز دِ اونه کوځی، تو صيف دَ حيوان په ناطق سره، ځکه چه موصوف دلته کښې نه اخص دے، نه مساوی دے، بلکه اعم دے. **جواب** دا دے چه، مراد په خصوصيت اَوْ مساوات سره، خصوصيت اَوْ مساوات دے، په تعريف اَوْ معلوميت کښې نه په مصداق کښې.

درس نمبر ۱۹۶

ومن ثم اَوْ دَ وجه دَ دے خبرے نه، چه شرط په موصوف کښې دا دے، چه دے به اخص وی يا به مساوی وی.

لم يوصف ذو اللام الا بمثله نو معرف باللام تو صيف به راځی، په معرف باللام سره، لکه قام الرجل العالم.

او بالمضاف الى مثله يا په مضاف سره خپل مثل ته، چه هغه معرف باللام دے اَوْ که واسطے سره وی، لکه مررت بالرجل صاحب لجام الفرس.

سوال. تا دا اووئيل، چه شرط په موصوف کښې دا دے، چه دے به اخص وی يا به مساوی وی. بنا په دے باندې ګڼاب دا ده، دا خبره چه جائز اوکوځی، تو صيف دَ اسم اشاره، په بل اسم اشاره سره، ځکه چه دَ دوئ په مابين کښې مساوات دے، سره دَ دے نه نحاتو التزام دَ دے خبرے کړے دے، چه تو صيف دَ اسم اشارے راځی، په معرف باللام سره، نه په اسم اشارے سره،

دَ مصنفؒ جواب اوکړو، چې:-

وانما التزم وصف باب هذا بذی اللام للابهام

په تحقیق سره التزام اوکړے شو دَ وصف دَ اسم اِشارے، په معرف باللام سره دَ وجه دَ ابهام د نه، ځکه چې صفت راځي، دَ پاره دَ رفع دَ ابهام اَوْ دَ پاره دَ کشف دَ جز ،،

لو خلاصه دَ جواب داده، چې په دغه باب کښې ابهام واقع دے، په اعتبار دَ اصل وضع سره، چې دا مقتضی دے، دَ پاره دَ بیان دَ جنس - پس چې کله اِراده اوکړے شي، دَ رفع دَ ابهام دَ جنس نو دَ دے شي صورتونه دي، یا به رفع دَ ابهام راځي، په مضاف سره، یا په اِسم اِشارے سره، یا په معرف باللام سره - بنا پر اَوَّل باندې چې رفع دَ ابهام راشي، په مضاف سره لازمیږي اِستعاره دَ مستعیر نه اَوْ بنا په دَوَیم باندې نه مقصود رفع دَ ابهام دَ غیر نه، ځکه چې اِسم اِشاره مبهمه ده في نفسه، نو دا به څنګه رفع دَ ابهام دَ غیر اوکړي - پس متعین شو دَ معرف باللام نو تعین الکوکب للبازل -

ومن ثم ضعف مررت بهذ الابیض

اَوْ دَ وجه دَ دے نه، چې مقصود دَ صفت نه بیان دَ ذات اَوْ کشف دَ جنس دے، ضعیف دے

دا ترکیب چې "مررت بهذا الابیض"، ځکه چې دَ بیاض اختصاص په یو جنس پورے نشته دے، بیا هم څنګه په حیوان کښې دے - دغه شان په غیر حیوان کښې هم دے نو دلته صفت اګر چې معرف باللام دے، لیکن په دے سره بیان دَ جنس نه راځي، په دے وجه باندې دا ترکیب ضعیف دے -

وحسن بهذا العالم

اَوْ ښه دے دا ترکیب چې "مررت بهذا العالم"، ځکه چې صفت دلته کښې معرف باللام دے اَوْ دَ ده اختصاص په یو جنس پورے راغلے دے - پس په دے سره بیان دَ جنس راغے، علم خاص دے، په انسان پورے -

العطف

یَل قسم دَ توابعو نه هغه عطف دے - عطف په لغت کښې میلان ته وائي اَوْ عطفِ اصطلاحي نه عطف په دے وجه وائي، چې دے معطوف مائل کوي معطوف علیه ته، یعني معطوف په حکم دَ معطوف علیه کښې کوځی، اِصطلاحي تعریف دَ عطف مصنفؒ ذکر کوي، چې:-

تابع مقصود بالنسبة مع متبوعه

یعني دے یو تابع دے، چې مقصود بالنسبة وي، سره دَ خپل متبوع نه - په ټول تعریف کښې لابدي دے، دَ جنس اَوْ دَ فصل نه - پس تابع دا په منزله دَ جنس دے، شامل شو تمامو توابعو ته اَوْ مقصود بالنسبة، دا یو فصل دے، په دے سره بیرته نه لوی توابع خارج شول، سِوا دَ بدل نه، ځکه چې نعت تاکید اَوْ عطف بیان مقصود بالنسبة نه دي، مع متبوعه، دا بل فصل دے

په دې سره ترېنه بدل خارج شو۔ **سوال**۔ العطف مبتداء ده او تابع د خبر دې او خبر محمول وي نو په مبتداء باندې او دلته کښې دا حمل نه دې صحیح، ځکه چه لازمیږي حمل د ذات په صفت وصف باندې او دا ناجائز دې۔ **جواب** دا دې چه دلته دا مصدر مبني للمفعول دې، یعني ذکر د معطوف دې او مراد ترېنه معطوف دې۔ **سوال**۔ ستاسو تعریف جامع نه دې ځکه چه خپل افرادو لره او خارج شو ترېنه معطوف په لا او بل لکن او أم سره، ځکه چه مقصود په دغه حروفو سره احد الامرین دې، یعني یا تابع دې یا متبوع دې، دواړه نه دي۔ **جواب** دا دې چه مراد په کېدلو د متبوع سره مقصود دا دې چه دې به وسیله نه وي، ذکر د تابع نه او مراد په کېدلو د تابع سره مقصود دا دې چه دې متبوع په مقصود باندې نه وي او معطوف علیه او معطوف په دې حروفو سره دواړه مقصود دي۔

درس نمبر ۱۹۷

ویتوسط بینه وبین متبوعه احد الحروف العشرة وسیاتی۔

او متوسط کیږي په مابین د ده (تابع) کښې او په مابین د متبوع د ده کښې یو د لسو حروفو (عاطفه) نه، چه د هغوی تفصیل په بحث د حروف کښې راروان دې۔ **سوال**۔ بناء متولو په اختصار ده۔ لکه دا ده چه مصنف ؒ ویتوسط نه وې ذکر کړې، ځکه چه تعریف حاصل شوې وه په ماسبق سره۔ **جواب** دا دې چه مصنف ؒ ویتوسط ذکر کړو، د پاره د مزید توضیح۔ **سوال**۔ مقصود د تعریف نه منعیة او جمعیت دې او هغه حاصل شو په دې قول د مصنف ؒ سره العطف تابع یتوسط بینه وبین متبوعه آه او حاجت نه وو دې خبرې ته، چه تابع مقصود بالنسبة مع متبوعه۔ **جواب** دا دې که چرته مصنف ؒ صرف په دې باندې اکتفاء کړې وې، نو بیا به تعریف مانع نه وې ځکه چه داخل د غیر نه، بیا به په کښې داخلیږي هغه صفات چه متوسط وي په مابین د دوي کښې او په مابین د متبوع د دوي کښې یو د دې حروف عاطفه نه لکه جاءني زید العالم والشاعر والکاتب۔

مثل قام زید وعمرو

په دې ترکیب کښې عمرو تابع دې، چه مقصود دې په نسبت د قیام سره د زید نه۔

واذا عطف علی المرفوع المتصل اکد بمنفصل

هرکله چه اراده اوکړې شي، د عطف په ضمیر مرفوع متصل باندې، نو تاکید به د هغه راوړلې شي په ضمیر منفصل سره ځکه چه ضمیر متصل کالجزء دې، د کلمې نو لفظاً او معناً نو عطف په دې باندې بغیر د تاکید نه په منفصل سره، داګویا عطف دې په جزء د کلمې باندې او عطف په جزء د کلمې باندې باطل دې۔ **سوال**۔ هرکله چه د ضمیر متصل تاکید راشي په منفصل سره او بیا وروسته باندې عطف کړو، نو دا به

خالی نه وي، یا به عطف وي، په مؤکد باندې یا به عطف وي، په مؤکد باندې که عطف وي په مؤکد باندې نو لازمیږي، عطف په جزء د کلمې باندې لکه چې عطف وي، په مؤکد باندې نو له خو تاکید او کړې شو او که عطف نه شي۔

جواب دا دے چې، دا عطف دے په مؤکد باندې او دغه اعتراض نه واردیږي، ځکه چې هر کله د ده تاکید راغے په ضمیر منفصل سره، نو دغه اتصال د ده ختم شو په سبب د تاکید سره۔

هو ضربت انا وزید دلته په دے ترکیب کښې د زید عطف راغلے دے، په ضمیر متصل باندې چې ضربت کښې دے، نو د دغه تاکید په انا ضمیر منفصل سره راغلے دے مصنف دلته کښې ضمیر مرفوع متصل اووئیل، ځکه که چرته منفصل وے، نو بغیر د تاکید نه په ده باندې عطف جائز دے لکه "انا وزید"، او که ضمیر مرفوع یې ذکر کړو، ځکه چې که چرته منصوب یا مجرور وی، بیا هم جائز دے، عطف بغیر د تاکید نه، لکه "ضربتك وزیداً او مررت بك وبزید"۔

الا ان یقع فصل مگر په دغه حالت کښې چې فصل واقع شي، په مابین د ضمیر کښې او د معطوف کښې۔ برابره خبره ده، چې دا فصل مخکښې د حرف عاطف نه وي، لکه "ضربت الیوم وزید"، او که یا بعد د حرف عاطف نه وي، لکه "ما اشرکنا ولا اباؤنا"۔

ویجوز ترکه بیا جائز دے، ترك د تاکید، ځکه چې په فصل سره په کلام کښې طوالت راغلے دے اوس که چرته تاکید یې راوړو، نو بیا به په کښې نور هم طوالت راشي او طوالت تقاضا د اختصار کوي۔ پس اختصار یې موږ ته اوښودلو په ترك د تاکید سره چې یجوز ترکه کښې مصنف یو فائده ته اشاره کړې ده۔ هغه دا چې سره د دے فصل نه تاکید راشي، نو هم جائز دے، لکه په دے قول د باری تعالی کښې: "فکبکبوا فیها هم والغاوون"، دلته کښې فصل راغلے دے، په فیها او باوجود د دے په هم سره شوے، یا لکه په دے آیت کریمه کښې "ما عبدنا هم من شيءٍ نحن ولا اباؤنا"۔

درس نمبر ۱۹۸

واذا عطف الضمیر المجرور اعید الخافض په دغه مقام کښې، چې عطف او کړے شي په ضمیر د مجرور باندې نو اعاده د حرف جار به کیږي، په معطوف کښې، خافض نه مراد حرف جار دے او دا اعاده د حرف جار واجب ده، د پاره د دے چې لازم نه شي، جزء د کلمې باندې، ځکه چې ضمیر مجرور په شان د جزء دے، د جار د وجې د شدت اتصال نه په جار پورې یې شان سره چې د جار نه بالکل نه جدا کیږي۔ اوس که چرته او شي بغیر د اعادې د جار نه بیا لازم به شي عطف په جزء د کلمې باندې۔

سوال مکرر دا شي چې اول د دے تاکید په منفصل سره او شي، بیا د دے په باندې عطف او شي۔ **جواب**۔ په مجرور کښې ضمیر منفصل نشته دے۔ **سوال**۔ چې هر کله اعاده د خافض په معطوف کښې او شي، نو لازمیږي به شي، عطف د مرکب باندې او دا باطل دے جواب چې معطوف په حقیقت کښې مجرور دے، فقط او اعاده

د خافض دا تکریر د عامل دے۔

والمعطوف فی حکم المعطوف علیه اؤ حکم د معطوف په شان د حکم د معطوف علیه دے، په جواز اؤ په امتناع اؤ په وجوب کښې، مګر نه به وی معطوف په حکم د معطوف علیه کښې د وجے د عارض نه۔ **سوال.** دا خبره نه منو چه معطوف په حکم د معطوف علیه کښې دے، ځکه چه ډیر کرته معطوف مبنی وی اؤ معطوف علیه معربوي یا په عکس د دے وی اؤ کله معطوف معرفه وی اؤ معطوف علیه نکره وی یا په عکس د دے وی، حالانکه د دواړو احکام جدا دی۔ **جواب** دا دے چه احوال په دوه قسمه دی، یو هغه احوال دی چه عارض وی معطوف علیه ته، عما تقبله عامل؟۔ دوېم قسم هغه دے چه عارض وی معطوف علیه ته من حیث نفسه۔ دلته کښې د هغه احوال د قبیلې د قسم ثانی نه دی۔ **سوال.** ستاسو قاعده منتقوضه شوه په "یارجل والحارث" سره، ځکه چه دلته کښې معطوف علیه غیر معرف باللام دے اؤ معطوف معرف باللام دے۔ **جواب** دا دے چه معطوف په حکم د معطوف علیه کښې دے، په دے شرط سره چه مقتضی د هغه منتفی نه وی، په معطوف کښې اؤ دلته کښې مقتضی منتفی ده، ځکه چه معطوف معرف باللام دے په دے باندے حرف نداء نه شی داخلیدے، بیا به لازم شی اجتماع د علامتونو د تعریف۔ **سوال.** ستاسو قاعده منتقوضه شوه په "رب شاة وسخلتها" سره، ځکه چه سخلتها معطوف دے په شاة اؤ په حکم د هغے کښې نه دے، ځکه چه رب داخلیږی په نکره باندے اؤ سخلتها معرفه ګرځیدلې ده په سبب د اضافت سره۔ **جواب** دا دے چه سخلتها مؤول دے په تاویل د نکرے سره د وجے د قصد د عدم تعین نه، یعنی "رب شاة شاة وسخلة لها"۔ **سوال.** ستاسو قاعده چه معطوف په حکم د معطوف علیه کښې دے، منتقوضه شوه په "یا زید وعمرو" سره، ځکه چه عمرو عطف دے په زید باندے اؤ په دے حکم د زید کښې چه بنا د هغه په ضمه باندے ده اؤ بناء د احوال ثلثیه نه ده د احوال عارضه نه۔ **جواب** دا دے چه معطوف علیه په حکم د معطوف کښې دے په احوال عارضه کښې نه په احوال ذاتیه کښې، مګر په هغه وخت کښې چه معطوف په شان د معطوف علیه وی اؤ چه کله معطوف په شان د معطوف علیه وی په مطلق احوال کښې اؤ دلته په دے ترکیب کښې معطوف په شان د معطوف علیه دے، په مطلق احوال کښې په دے شان سره چه هر واحد د دے دواړو نه مفرد معرفه دے۔

ومن ثم اؤ د وجے د دے خبرے نه، چه معطوف په حکم د معطوف علیه کښې دے "نفیا او اثباتا جوازا او امتناعا"۔

لم یجز فی مازید بقائم او قائما ولا ذاهب عمرو الا الرفع. نه دے جائز، په دے ترکیب کښې سوا د رفع نه بل اعراب، یعنی په "لا ذاهب عمرو" کښې په ذاهب به رفع متعین شی، په دغه صورت کښې به دے خبر لوګی د

باره د صمير او ذاهب منصوب یا مجرور نه شو وئیلے، ځکه چه په معطوف علیه کښې ضمیر شته، چه راجع دے اسم د ما ته او معطوف خالی دے، د ضمیر نه او په دے وجه دا، چه په دغه صورت کښې (یعنی په نصب او جر کښې لازمیږی، عمل د ما په خبر مقدم کښې او ممتنع دے، عمل د ما په خبر مقدم کښې۔ **سوال**۔ بناپه دے باندې لکار دا، چه دا ترکیب "الذی یطیر فیغضب زید الذباب" دا هم ممتنع او ګرځی، ځکه چه معطوف علیه یطیر دے، په یطیر کښې ضمیر شته، چه راجع دے موصول ته او یطیر ورله صله ده او معطوف، چه فیغضب زید دے، په دے کښې ضمیر نشته دے۔ لهکار داده، چه دا ترکیب هم ممتنع شی، سره د دے نه دا ترکیب جائز دے، نو مصنف جواب اوکړو او وئیل، چه:۔

وانما جاز الذی یطیر فیغضب زید الذباب لانها فاء السببیة. یعنی دا ترکیب جائز دے، د دے وجه نه چه دا فاء په فیغضب کښې سببیه ده، عاطفه نه ده او که بل جواب دا دے، ملته کښې فاء د پاره د عطف ده، هله ضمیر په معطوف کښې مقدر دے او اصل عبارت دا شان دے، "الذی یطیر فیغضب زید بطیرانه الذباب"۔

درس نمبر ۱۹۹

واذا عطف علی عاملین مختلفین او په هغه وخت کښې، چه عطف اوکړے شی، په معمولین د عاملین مختلفین باندې۔

لم یجز دا جائز نه دے، هیڅ صورت کښې، ځکه چه واو حرف ضعیف دے، لو سره تمام د معمولو عاملین مختلفین نه شی ګرځیدلے او دلته کښې په عبارت کښې تقدیر دے، اصل عبارت دا شان دے، چه "واذا عطف علی معمولی عاملین مختلفین لم یجز"۔

خلافا للفراء خلاف ثابت دے، فراء نحوی لره، د هغه په نزد باندې دا عطف جائز دے، او هغه قیاس کوی، په معمولین د عامل واحد باندې، د فراء د پاره دلیل دا دے، "ما کل سوداء تمرة وبیضاء شحمة" او بل دلیل یې دا شعر دے، چه:۔

اکل امرء تحسبین امرء ❊ ونار توقد باللیل نارا

جواب دا دے، چه دا دلیلونه موقوف دی، په سماع باندې او په سماع باندې قیاس نه شی کیدے۔

الا فی نحو فی الدار زید والحجرة عمرو مراد په دے ترکیب سره هغه ترکیب دے، چه مجرور په کښې مقدم وی، په مرفوع او یا په منصوب باندې، په معطوف او معطوف علیه دواړو کښې او دا عطف جائز دے، ځکه چه دا مسموع دے، د عربو نه۔

خلافا لسیبویه د سیبویه نزد باندې دا عطف نا جائز دے، هغه چه، آه، حرف

ضعیف العمل، لو دے پہ مقام د عاملینو مختلفینو نہ شی راتلے۔

التاکید دریم قسم د توابع نہ، هغه تاکید دے، هر کله چہ مصنف فارغ شو د بیان د عطف د هغے د احکامو او د متعلقاتو نه، نو شروع یے اوکړه په تاکید کښے، تاکید په **لغت** کښے مضبوطیا ته وائی او تاکید اصطلاحی ته په دے وجه تاکید وائی، ځکه دے هم مضبوطیا راولی د مؤکد، تاکید **اصطلاحی** تعریف مصنف په خپله ذکر کړے۔

تابع یقرر امر المتبوع فی النسبة او الشمول په هر تعریف لا بدی دی د جنس د فصل نه، تابع په منزله د جنس دے، 'یقرر امر المتبوع'، دا یو فصل دے په دے سره خارج شو عطف بالحرف او بدل او 'فی النسبة'، دا بل فصل دے په دے سره تورے نه خارج شو نعت او عطف بیان ځکه چه دوی دواړه که چرے تقریر د شان د متبوع کوی لیکن په نسبت کښے نه کوی، تاکید دا هغه تابع دے چه تقریر د شان د متبوع مضبوطوی په نسبت کښے.

فی النسبة په کښے لو د دے کښے منسوب یا منسوب الیه۔

او الشمول یا په شمول د متبوع کښے خپلو افرادو لره، یعنی په شمول د نسبت د فعل کښے متبوع ته۔ د تکید فائده داده چه، دا یا راځی د پاره د دفع د غفلت د سامع، یا راځی د پاره د دفع د ظن د غلط په متکلم باندے، یا راځی د پاره د دفع د مجاز د متکلم نه او په صورت د شمول کښے دفع د ظن د تخصیص ده۔

وهو لفظی ومعنوی او دا تاکید په دوه قسمه دے لفظی دے او دویم معنوی دے، وجه د حصر یے داده، چه دا تاکید به خالی نه وی یا به تکرار د لفظ اول وی، لفظاً او معناً دواړه او یا به معنیٰ وی فقط، که اول وی، نو هغه تکید لفظی او که دویم وی، نو معنوی۔

فاللفظی پس تکید لفظی چه دے، دلته کښے سوال واردیږی چه اللفظی دا خو صفت دے، دده د پاره موصوف څه شے دے؟ جواب دا دے چه، د دے د پاره موصوف التاکید دے۔

تکریر لفظ الاول تکریر د لفظ اول دے او یا دا چه، تاکید لفظی وے ته وائی چه په هغه سره تکریر د لفظ راشی۔

نحو جاءنی زید زید دلته په دے ترکیب کښے زید ثانی، دا تاکید راغلے دے د پاره اول

درس نمبر ۲۰

ویجری فی الالفاظ کلها او دا تاکید لفظی، چه په معنیٰ د تکرار دے، مطلقاً جاری کیږی، په ټولو الفاظو کښے۔ برابره خبره ده چه اسماء وی که

افعال دی او که حروف وی که جملے وی او که مرکبات تقیدیه وی، که غیر تقیدیه وی۔ **سوال.** په یوی کښے ضمیر چا ته راجع دے، یا به یے راجع کوی، تاکید اصطلاحی ته یا تاکید لغوی ته، که چرته اصطلاحی ته یے راجع کوی، نو داخو منحصر دے، صرف په اسماؤ کښے او که چرے تاکید لغوی ته یے راجع کوی، نو خروج د بحث نه لازمیږی۔ **جواب** دا دے چه، ضمیر راجع دے تاکید اصطلاحی ته او مراد الفاظ نه اسماء دی: یعنی ذکر د عام دے، مراد تربے نه خاص دے، یا دا چه ضمیر راجع دے، تاکید لغوی ته، چه حقه تکریر دے مطلقاً او خروج د بحث نه نه لازمیږی، ځکه چه منصوص تاکید اصطلاحی دے او لغوی تبعاً ذکر شوے دے، د اسم، مثال لکه "جاءنی زید زید"، د فعل مثال، لکه "ضرب ضرب زید"، د حرف مثال، لکه "ان ان زیداً قائم"، د مرکب مثال، لکه "جاءنی زید جاءنی زید"۔

والمعنوی بالفاظ محصورة او تاکید معنوی کائن دے، په الفاظ معدوده محصوره کښے۔

وهی نفسه وعینه وکلاهما وکله واجمع واکتع وابتع وابصع. په اکتع، ابتع او ابصع کښے اختلاف دے۔ بعض علماء والی، چه دا دے الفاظ خه معنی نلری، په حال د افراد کښے او چه هر کله د جمع سره ذکر شی، نو بیا به معنی د اجمع دی او بعض علماء والی، چه په حال د افراد کښے هم دوی معنی شته دے، ځکه چه "اکتع" د "حول کتیع" نه راغلے دے، په معنی د تام سره لحق او "ابصع" د "بصع العرق" نه راغلے دے، په معنی د "سال" (یعنی توئیدلو ته والی) او "ابتع" د "بتع" نه دے، چه طول د عنق ته والی (یعنی اوږد والے د غاړے ته والی)۔

فالاول یعمان باختلاف صیغتهما وضمیرهما پس دا اول دوه عام دی، په اختلاف د صیغے او د ضمیر سره، یعنی اطلاق د دواړو په مفرد او تثنیه او جمع په مذکر او مؤنث په ټولو باندے کیږی او صیغه او ضمیر د دواړو به ورسره بدلیږی، په مذکر مفرد کښے به "نفسه" او "عینه" ویلے شی او په مؤنث مفرد کښے به "نفسها" او "عینها" ویلے شی او تثنیه مذکر او مؤنث کښے دغه شان په جمع مذکر او مؤنث کښے به صیغه او ضمیر دواړه بدلیږی، لکه په تثنیه کښے "الرجلان والمرءتان انفسهما واعینهما"۔

تقول نفسه ونفسها وانفسهما وانفسهم وانفسهن د مفرد مذکر، د مفرد مؤنث، د تثنیه مذکر، د تثنیه مؤنث او د جمع مذکر او مؤنث د پاره به په ترتیب سره صیغے راوړلے شی۔

والثاني للمثنى او قسم ثاني كلاهما د پاره د تثنيې شو. دلته په ترتيب كښې كلاهما، اگر چه دويم نمبر دے، ولې هغه كله چې نفسه وعينه يو قسم اوگرځيد، نو كلاهما دويم قسم شو او د مذكر تثنيې د پاره كلاهما او د مؤنث تثنيې د پاره كلتاهما، لكه "ما جاءني الرجلان كلاهما او جاءتني المرأتان كلتاهما".

تقول كلاهما وكلتاهما والباقي لغير المثنى باختلاف الضمير في كله وكلها وكلهم وكلهن. او د دے نه علاوه د پاره د غير تثنيې راځي چې هغه كله اجمع اكتع وغيره دي، نو په كله كښې به صرف ضمير بدليږي، لكه اووايه چې "اشتريت العبد كله، جاءني القوم كلهم، اشتريت الجارية كلها، جاءني النساء كلهن".

والصيغ في البواقي او په اختلاف د صيغو سره نه، د ضمير سره به باقيو كښې.

تقول اجمع وجمعاء واجمعون وجمع مثلاً ته اووايه چې "اشتريت العبد كله اجمع اكتع ابتع"، چونكه عبد مذكر دے، د دے موافق صيغه او ضمير راوړے، "جاءني القوم كلهم اجمعون ابتعون ابصعون اكتعون"، چونكه قوم جمع مذكر دے، د دے موافق صيغه او ضمير راوړے، "اشتريت الجارية كلها جمعاء كتعاء بصعاء". دلته كښې جاريه مؤنث ده، د دے موافق ضمير او صيغه راوړے شوه، "جاءتني النسوة كلهن جمع كتع بصع بتع". دلته كښې نسوة جمع مؤنث دے، نو د هغې موافق ضمير او صيغه راوړے شوه.

درس نمبر ۲۰۱

ولا يؤكد بكل واجمع الا ذو اجزاء په كل او په اجمع سره تاكيد د هغه شي راځي چې هغه لره اجزاء وي، مراد په اجزاء سره امور متعدده دي. پس دا شامل شو افرادو لره هم، ځكه چې كل دلالت كوي په كليت باندې او اجمع دلالت كوي په جمعيت باندې او دا نه متحقق كيږي مگر په ذوي الاجزاء كښې. دلته كښې موږ دا اووئيل چې مراد په اجزاء سره امور متعدده دي، دا معنى موږ د پاره د دفع د سوال اوكړه.

سوال: دا ولے وائي چې څرنگه په دے سره ذو اجزاء مؤكد كيږي، نو هغه شان ذو افراد هم مؤكد كيږي، نو مناسب داوه چې مصنف مثلي ووئيل چې "ذو اجزاء او ذو افراد". **جواب:** دلته مراد په ذو اجزاء سره امور متعدده دي او امور متعدده عام دي، كه ذو اجزاء وي كه افراد
وي.

يصح افتراقها حساً او حكماً

چه صحيح كيږي، افتراق ددے اجزاء حساً يا حكماً، دَ پاره ددے چه، تاكيد په كل او په اجمع سره مفيد دَ پاره دَ فائدے اوكرځي، چه افتراق په كښے حساً راځي، لكه جاء القوم. قوم شو او چه حكماً راځي، لكه عبد شو "بالنسبة الى بعض الافعال كالشراء والبيع".

مثل اكرمت القوم كلهم و اشتريت العبد كله.

"اكرمت القوم" دا مثال دَ هغه دے چه صحيح دی، افتراق په كښے حكماً، ځكه چه ممكن دے، شراء دَ نصف عبد يا دَ ثلث يا دَ ربع.

واذا اكد الضمير المرفوع المتصل بالنفس والعين اكد بمنفصل.

او په هغه وخت كښے، چه اراده اوكړے شی دَ تاكيد دَ ضمير مرفوع متصل په نفس او په عين سره، نو اول به تاكيد دَ هغے راځی، په منفصل سره، ځكه كه چرته تاكيد يے راوړے شی، په منفصل سره، نو بيا لازم شی التباس دَ تاكيد دَ فاعل سره، په بعضو صورتونو كښے، نو هغه صورتونه، چه په كوم كښے التباس منع راځی، هغه طرداً للباب حمل كړے شو، لكه "زيد اكرمني هو نفسه". دلته كښے مقيد كړے شو ضمير مرفوع په منفصل سره، ځكه چه جائز دے، تاكيد دَ ضمير مرفوع منفصل په نفس او په عين سره بغير دَ تاكيد نه په بل منفصل سره.

مثل ضربت انت نفسك

دلته كښے دَ ضمير مرفوع متصل تاكيد راغلے دے، په نفس سره، نو اول يے تاكيد راغلے دے، په منفصل سره او دلته كښے مصنف اومثيل چه "بالنفس والعين" او دا نور الفاظ يے ذكر نه كړل، ځكه چه جائز ده تاكيد دَ مرفوع متصل په كل سره او اجمعين سره بغير دَ تاكيد نه په منفصل سره.

واكتع واخواته اتباع لاجمع

او اكتع او دَ دے نظائر چه، ابتع او ابصع دی دا دَ اجمع تابع دی، يعنی چه كله اجمع ذكر شی، دوی به هم ذكر كيږی.

فلا تتقدم عليه

چه هر كله دَ اجمع تابع دا باقی الفاظ اوګرځيدل، نو دوی به نه مقدم كيږی، په اجمع باندے، ځكه چه لازميږی تقدم دَ تابع په متبوع باندے. **لطيفه** :- دَ نحوے په دے مسئلے سره دَ فقهے دا مسئله هم معلومه شوه چه دَ مقتدی نوخ نه صحيح كيږی، كله چرته دے دَ امام نه مخكښے شوے وی، ځكه چه دے تابع دے او تابع په خپل متبوع باندے نه مقدم كيږی. او س دَ اجمع نه وروستو كوم يو لفظ راځی. بعض وائی چه اكتع به راځی، يا ابتع او دَ نحويانو دا مشهور ده البصع وی او بعض نحاة وائی چه البصع مقدم دے.

په اتبع باندې اوکړ بعضو په نیزه باندې ځکه تعین نشته هر یو چې مقدم کړې یا مؤخر کړې.

وذکرها دونه ضعیف او د دوئ ذکر بغیر د جمع نه ضعیف دے، د دې د عدم ظهور د دلالت د دوئ په معنی د جمع باندې او بله وجه دا ده، چې لازمیږي، ذکر د تابع بغیر د ذکر د متبوع نه او دا باطل دے.

درس نمبر ۲۰۲

البدل تابع مقصود بما نسب الی متبوعه دونه یو قسم د توابعو نه هغه بدل دے، بدل دا یو تابع دے چې دے مقصود وي، په نسبت سره نه متبوع، یعنی مقصود بالنسبة تابع وي او متبوع نه وي، په هر یو تعریف کښې لابدي وي، د جنس او فصل نه، نو په دے تعریف کښې تابع په منزله د جنس دے او "مقصود بالنسب الی متبوعه"، دا یو فصل دے په دے سره بهر نه خارج شو عطف بالحروف. دلته کښې متبوع نه، چې کوم نسبت شوے دے، هغه توطیه او تمهید دے، د پاره د نسبت تابع نه. **سوال**. دا تعریف مانع اومنه کړے شو، د دخول د غیر نه او داخل شو، په کښې "معطوف" په بل سره، ځکه چې په ده باندې تعریف د بدل صادقیږي. **جواب** دا دے چې، متبوع د ده مقصود دے ابتداءً، لیکن اعراض د دے نه اوشو، د وجه د ظهور د غلط نه او یا قصد د معطوف اوکړے شو، نو په دے معنی سره دواړه مقصود اوګرځیدل. **سوال**. ستا دا تعریف جامع اومنه کړے شو، خپلو افرادو نه او خارج شو ترے نه، هغه بدل، چې کوم پس د الا نه وي، لکه "ما قام احد الا زید"، ځکه چې دے مقصود نه دے، په نسبت سره خپل متبوع وته. **جواب** دا دے، چې "ما نسب الی المتبوع"، دلته کښې قیام دے او نسبت د قیام بعینه مقصود الی التابع دے، لیکن په اول کښې سلبي دے او په دویم کښې ایجابي دے او هغه نسبت، چې کوم په تعریف د بدل کښې دے، هغه عام دے، چې سلبي وي که ایجابي.

وهو ا یعنی بدل په څلور قسمه دے.

بدل الکل والبعض والاشتمال والغلط. وجه د حصر په څلور قسم کښې دا ده، چې بدل له مبدل منه به خالي نه وي یا به په مابین د دوئ کښې ملا بسته وي یا به نه، که چرے دویم وي، نو بدل غلط او که چرے اول وي، نو به خالي نه وي، یا به بدل کل د مبدل منه وي یا به جزء د مبدل منه وي او یا به یو په دوئ کښې مشتمل وي په بل باندې، که چرته اول وي بدل کل، که چرته دویم وي، نو بدل بعض او که دریم وي نو بدل اشتمال.

فالاول مدلوله مدلول الاول یعنی مصداق د مدلول به یو وي، اول

عبارت دے د مبدل منه۔ سوال. بنا په دے باندې خو بیا فرق حاصل نه شو په مابین د بدل کل او عطف بیان کښے، ځکه چه مدلول د ثانی په عطف بیان کښے مدلول د اول دے۔
جواب دا دے چه په مابین د دواړو کښے فرق دے، ځکه که چرته مقصود په حکم سره اول وی او ثانی د پاره د ایضاح د اول وی، نو دا عطف بیان دے او که چرته مقصود په حکم سره ثانی وی او اول توطیه د پاره د ثانی وی، نو دا بدل کل دے۔

واذا كان النكرة من معرفة

هغه وخت کښے چه بدل نکره واقع شوی وی، د معرفه نه، یعنی مبدل منه معرفه وی او بدل نکره وی، په دغه صورت کښے واجب دے، نعت د نکرے ځکه چه بدل مقصود بالنسبة دے، په نسبت سره مبدل منه کښے د پاره د دے، چه لازم نه شی، القصیة د مقصود د غیر مقصود نه۔

مثل بالناصية ناصية كاذبة

لکه په دے ترکیب کښے چه دا قول د باری تعالی دے۔ دلته کښے الناصیة مبدل منه دے، چه معرفه ده، او ناصیة د هغه نه بدل واقع دے، چه نکره ده، نو توصیف یې راغلے، په کاذبة سره۔

ويكونان ظاهرين ومضمرين ومختلفين..

او دا بدل او مبدل منه په اقسام اربعه کښے کله دواړه اسماء ظاهره وی، په دے کښے څلور صورتونه جوړیږی، "زید اخوك، زید رأسه، زید علمه، زید حمار"، چه دواړه ضمائر وی، لکه "زید ضربته ایاه، ید زید قطعته ایاها، جهل الزیدین کرهتهما ایاه، حمار الزیدین کرهتهما ایاه"۔ مثال د هغه، چه دواړه مختلف وی، بدل ضمیر وی او مبدل منه اسم ظاهر وی، لکه "ضربت زیدا ایاه، ید زید قطعت زیدا ایاه، جهل زید کرهت زیدا ایاه، حمار زید کرهت زیدا ایاه"۔ مثال د هغه چه مبدل منه ضمیر وی او بدل اسم ظاهر، "زید ضربته اخاك، زید قطعته یده، زید کرهته جهله، زید کرهته حماره"۔

ولا يبدل ظاهر من مضمر بدل الكل الا من الغائب.

او اسم ظاهر د ضمیر نه بدل کل نه شی واقع کیدے، د پاره د دے چه مقصود اخص او ګرځی، د غیر مقصود نه، ځکه چه ضمیر د متکلم او مخاطب اقوی دے او اخص دے په اعتبار د دلالت سره د ظاهر نه۔ لیس لهٰذا نه شی صحیح کیدے "مررت بی المسکین وبك زید"، په خلاف د غائب او د غیر د بدل کل نه، د هغه د عدم د، لکه "ضربته زیدا"۔ دلته کښے مبدل منه ضمیر غائب دے او بدل زید اسم ظاهر دے۔ سوال. نه منو چه مبدل منه مقصود نه دے، ځکه دے او که

مقصود اصالةً نه دے، لیکن مقصود دے تو طیۃً۔ **جواب** دا دے، چه مراد په مقصود سره مقصود اصلي دے۔

والثاني جزءه یعنی په بدل بعض کښې بدل د مبدل منه جزء وي۔

درس نمبر ۲۰۳

والثالث بینه وبین الاول ملابسة لغیرهما. او دریم قسم هغه دے، چه وي په مابین د بدل او د مبدل منه کښې ملابست بغیر د کلیت او د جزئیت نه، مراد په ملابست سره تعلق دے، لکه ته او وایې چه اعجبني زید علمه، یا سلب زید ثوبه۔ **سوال.** ستا دا تعریف مانع الاغیار نه دے، ځکه چه د دخول د غیر نه او داخل شو به کښې بدل غلط، په مثال د دے ترکیب چه ضربت زیدا حماره، ځکه چه په دے ترکیبونو کښې په مابین د دواړو کښې ملابست او تعلق دے بغیر د کلیت د جزئیت نه، چه هغه مالکیت او مملوکیت دے۔ **جواب** دا دے، چه مراد په ملابست سره هغه ملابست دے، چه واجب وي نسبت د متبوع نسبت تابع ته، اجمالا او تبعا دواړه۔

والرابع ان تقصد الیه بعد ان غلطت بغیره. او څلورم قسم، چه بدل غلط دے، دا هغه دے، چه ته قصد او کړے دے بدل ته، پس د غلطیدو نه پس په غیر د دے بدل سره، بغیره کښې ضمیر بدل ته راجع دے۔

ویکونان معرفتین و نکرتین و مختلفتین. او دا بدل او مبدل منه کله دواړه معرفتین وي کله دواړه نکرتین وي، کله مختلفتین وي، یعنی بدل معرفه وي او مبدل منه نکره وي یا بالعکس وي۔ دا ټول شپاړس صورتونه جوړیږي، چه حاصلیږي د ضرب د څلورو نه په څلورو کښې۔ مثال د هغې چه بدل او مبدل منه دواړه معرفه وي، لکه جاءني زید اخوك زید رأسه زید علمه، زید الحمار۔ مثال د هغې چه دواړه نکرتین وي، لکه رجل غلام لزید، رجل رأس له رجل علم له رجل حمار له۔ مثال د هغې چه مبدل منه نکره او بدل معرفه وي، لکه رجل غلام زید، رجل رأسه، رجل علمه، رجل حماره۔ مثال د هغې چه مبدل منه معرفه وي او بدل نکره وي، لکه زید غلام زید له، زید رأس له، زید علم له، زید حمار له۔

عطف البیان بل قسم د توابعو نه هغه عطف بیان دے، دا آخري تابع دے۔

تابع غیر صفة یوضح متبوعه تابع په منزله د جنس دے، غیر صفة دا اول فصل دے، په دے سره احتراز د نعت او د صفت نه راغے، یوضح

متبوعه، ما بل صفت دے، په دے سره احتراز راغلو، د دے لورو نو البعونه چه بدل دے عطف وے او تاکید دے۔

مثل اقسم بالله ابوحفص عمر په دے مصرعه کښے عمر دا عطف بیان دے او دا د پاره د بیان د ابوحفص راوړے شوے دے، چه دا کنیه د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه ده، بټول شعر دا دے۔

اقسم بالله ابوحفص عمر، ما مسها من نقب ولا دبر، اعغزله اللهم ان کان فجر۔

وفصله من البدل لفظا فرق په مابین د عطف بیان او د بدل کښے په اعتبار د لفظ سره دا دے، دلته کښے مصنف فرق بیانوی، په مابین د عطف بیان او د بدل کښے، ځکه چه په بعضو صورتونو کښے لفظی طور سره التباس راتلو، د دواړو په مابین کښے۔ مصنف لفظاً قید راوړلو، ځکه چه د بدل او د عطف بیان په مابین کښے خو معنوی طور سره فرق ظاهر دے، چه د تعریف نه معلومیږی، ځکه چه په بدل کښے مقصود بالنسبة بدل وی او ذکر د مبدل منه د پاره د توطئې او د تمهید دے او په عطف بیان کښے مقصود بالنسبة متبوع دے او ذکر د تابع د پاره د ایضاح د متبوع وی۔

فی مثل ! یعنی فرق په دواړو کښے واقع دے، په مثل د دے ترکیب کښے:۔

انا بن التارك البكری بشر مراد په دے ترکیب سره، هر هغه ترکیب دے، چه عطف بیان واقع شوے وی، د معروف باللام نه، چه هغه ته اضافت د صفت معرف باللام راغلے وی۔ پس دلته کښے عطف بیان جائز دے او بدل ناجائز دے، په دے مصرعه کښے بشر عطف بیان دے، د پاره د "البكری"، چه اضافت ورته د صفت د "التارك" راغلے دے۔ "بشر" په دے ترکیب کښے عطف بیان صحیح کیدے شی او بدل نه صحیح کیږی، ځکه چه بدل په حکم د تکرار د عامل کښے وی، نو معنیٰ به دا سے شی، چه "التارك بشر" دا به لګیږی، په شان د "الضارب زید" او دا ترکیب خو نه دے صحیح۔ پس واقع کیدل د دے بدل ګرځی نه دے صحیح او مکمل شعر دا سے دے چه:۔

انا ابن التارك البكری بشر   علیه الطیر ترقبه وقوعاً

فلله الحمد اولاً و آخراً۔

نېټه اختتام:۔ ۲۲ اپریل ۱۹۹۷ء ، ورځ د شپږمې (بدهه)۔

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

النحو في الكلام كالملح في الطعام

د دروس الكافيه دويمه حصه مسمّى په

العيون الصافيه

شرح

مبنى الكافيه (پښتو)

لفادات: حضرت مولانا حافظ محمد ابراهيم فاني صاحب مدظله
مدرس دارالعلوم حقانيه اکوړه خټک

ترتيب او تدوين: مولاداد همدرد افغاني

ټول حقوق په حق د مؤلف کښې محفوظ دی

د کتاب نوم :- العین الصافیة شرح مبنی الکافیة (د دروس الکافیه دویمه حصه)

افادات د :- مولانا حافظ محمد ابراهیم فانی صاحب مدظله
مدرس دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک

ترتیب او تدوین :- مولا داد محمد رد افغانی

کتابت :- مولانا فضل هادی حقانی

شمیر :- ۱۱ سوه (یوولس سوه)

د چاپ کال :- فروری ۲۰۰۷

څلورم ځل :- محرم ۱۴۲۸

بسم الله الرحمن الرحيم

فهرست

د مضامينو د العيون الصافيه شرح مبنى الكافيه

تقریظ

فضیلة الشیخ أستاذ العلماء امیر المجاهدین الادیب اللبیب جامع المنقول والمعقول العلامة الفهامه شیخ التفسیر والحدیث **الدکتور السید شیر علی شاه المدنی مدظلهٗ** وعم فیوضه (الدکتوراه بمرتبة الشرف الدولی) من الجامعة الاسلامیة بالمدینة المنورة، و مبعوثها استاذ الحدیث بجامعة دار العلوم الحقانیه اکوره ختک باکستان

الحمد لله وکفی وسلام علی عباده الذین اصطفی . أما بعد فقد سرحت النظر فی کتاب **العیون الصافیه شرح مبنی الکافیه** ۔ لأوحد المدرسین المحققین و نخبة الافاضل المتقنین فضیلة الشیخ **مولانا محمد ابراهیم الفانی** المحترم الاستاذ بجامعة دار العلوم الحقانیة فوجدته شرحًا وافیا یشرح الصدور و یورث السرور فتح به المؤلف الموقر اقفال العبارات المغلقة واوضح به مسائل النحو المشکلة ۔ و منّ علی الذین یتکلمون باللغة الافغانیة حیث سهل لهم الاستفادة من کتاب الکافیه بعبارات فصیحة بلیغة و اصناف من اللطائف والظرائف ۔

وقد شرح المؤلف الموصوف قبل القسم المعرب لکتاب الکافیة شرحًا نافعا قد نال شرف القبول فی المعاهد العلمیة بین الدارسین والمدرسین ۔ واکمل بهٰذا المؤلف الثانی هٰذا الشرح الوافی فأتم احسانه علی روّاد الکافیه ۔ تقبل الله جهوده العلمیة المبارکة و لاسیما هٰذا الجهد الطیب فی علم النحو فانه خدمة عظیمة للقرآن الکریم و السنة النبویة علی صاحبها الف الف سلام و تحیة ۔ وکان السلف الصالحون یهتمون بذالک وکانوا یقولون : اعربوا الکلام لتعرفوا القرآن ولاریب ان الذی یتقن القواعد النحویة ویراعی فی قرائته للقرآن والسنة قوانین الاعراب والبناء یصیر ماهرًا فی تلاوت الکتاب و السنة والعلوم العربیة و یتشرف ببشارة النبی المصطفیٰ صلی الله علیه وسلم الماهر بالقرآن مع السفرة الکرام البررة

نفع اللہ بہٰذا الشرح المنیف طلاب العلوم الدینیہ وجعل ھٰذہٖ الجھود الطیبۃ فی میزان حسنات المؤلف والمرتب المتعلم **مولا داد ھمدرد** حفظہُ اللہ وھو ولی التوفیق وصلی اللہ تعالٰی علی اشرف رسلہ وخاتم انبیائہٖ وعلی آلہٖ واصحابہٖ اجمعین۔

(حضرت مولانا) شیر علی شاہ عفی عنہ (مدظلہ العالی)
۱۷/ ۱۰ / ۱۴۲۲ھ

خزان رسید و گلستان بآں جمال نماند
سماع بلبل شوریدہ رفت و حال نماند
نشان لالہ آں باغ از کہ مے پرسی
برو کہ آنچہ تو دیدی بجز خیال نماند

چہ می پرسی ز درد ما بیا مارا ببیں روزے
اگر خواہی کہ بینی در جہاں درد مجسم را
(چلاسی بابا)

رائے گرامی

دجامع المعقول والمنقول حاوی الفروع والاصول زبدۃ الاتقیاء قدوۃ الصلحاء
مفسر شہیر محدث کبیر حضرت العلامہ مولانا **مغفور اللہ** صاحب مدظلہ العالی
استاذ الحدیث دار العلوم حقانیہ اکوڑہ خٹک (سرحد) پاکستان

باسمہ تعالیٰ

الحمد للہ رب العالمین والصلوۃ والسلام علی سید الانبیاء والمرسلین وعلی آلہ واصحابہ الطیبین الطاہرین اما بعد فہذہ تعلیقات علی الکافیۃ الحصۃ الاخیرۃ مسماۃ بالعیون الصافیۃ باللغۃ العجمیۃ الافغانیۃ لغرض التسہیل لطلبۃ ہذہ الاقلیم للاخ فی اللہ الزکی المتوقد والفطن المتیقظ الحافظ الفاضل البارع المحقق المدقق صاحب الملکات الفاضلۃ محمد ابراہیم الشہیر بالفانی ابن العلامۃ جامع المعقول والمنقول اجل العلماء شیخ الحدیث وصدر المدرسین بجامعۃ "حقانیۃ" اکوڑہ خٹک عبد الحلیم زروبوی قدس سرہ العزیز المتوفی ۱۴۰۳ھ تعلیقات نفیسۃ قیمۃ نافعۃ لطلبۃ علم النحو عموماً ولتعلم کتاب الکافیۃ خصوصاً وبعد فراغہ من التعلیقات علی الحصۃ الاولیٰ المسماۃ بدروس الکافیہ اعتنی واہتم لجمع ہذہ التعلیقات وتالیفہا وتہذیبہا وبذل جہدہ فیہا فاجاد واحسن واللہ المسئول ان یجعل مؤلفہ نافعاً للمعلمین والمتعلمین ومشہوراً متقبولاً فیما بینہم وان یجعل جہدہ وسعی مرتبہ المتعلم مولاداد حمد رد مشکوراً وذخراً لہما الیوم الدین آمین ویرحم اللہ عبداً امینا۔

وانا العبد الاحقر مغفور اللہ استاذ الحدیث
فی الجامعۃ الحقانیہ اکوڑہ خٹک
۲۸ شوال المکرم ۱۴۲۲ھ

تأثرات

د مقرر شعله بیان ادیب لبیب خطیب لاثانی حضرت مولانا عبدالقیوم صاحب حقانی مدظله
بانی و مهتمم جامعه ابوهریرهؓ، خالق آباد، نوښهره، و مدیر ماهنامه "القاسم"

الحمد لله وحده والصلوٰة والسلام علی من لا نبی بعده. مخدوم مکرم حضرت **مولانا حافظ محمد ابراهیم فانی** یو جید عالم دین کامیاب مدرس محقق مصنف ادیب صاحب قلم د مختلفو کتابو شاعر او د اونو شارح دے. **العیون الصافیه شرح مبنی الکافیه** د دوی د تازه ترین وقیع او عظیم علمی او تحقیقی کاوش او محنت دے. په درسی حلقو کښی د موصوف مشهوره شرح دروس الکافیه د حلقو کښی نه مقبوله محبوبه او متداوله را روانه ده. د طلباؤ او د درسی حلقو شدید اصرار او پرزوره مطالبه وه. چه د کافیه د دے شرح تکمیل وشی. او د معرب حصے پشان د مبنی حصه هم د غسے مشرح کړے شی. چنانچه د فانی صاحب افادات او تعریبات د هغوی یو قابل او لائق شاګرد **مولاداد همدرد** دیر په محنت او کوشش سره مرتب او مدون کړل. الله دې ورله اجر جزیل ورکړی.

الحمدلله "العیون الصافیه" منتظرینو مشتاقینو او طالبانو علوم عربیه له یو ګران قدر سوغات او وقیع علمی تحفه ده. یقیناً اهل علم به د دې قدر کوی. اساتذه او طلبا به د دې نه پوره پوره استفاده اوکړی. زمونږ دعا ده چه الله کریم د حضرت فانی صاحب دا علمی نقوش او درسی افادات عام لطلبه نافع اوګرځوی. دا یو عظیمه صدقه جاریه ده او ان شاء الله دا به همیشه د پاره قائمه او دائمه وی.

(مولانا) عبدالقیوم حقانی صاحب مدظله
۱۳، شوال ۱۴۲۲ھ
جامعه ابوهریره خالق آباد نوښار

باسمه تعالی

تأثرات

د زبدة الافاضل فخر الاماثل مولانا فضل علی صاحب حقانی
زید مجده وعم فیوضه - زړه وړی ضلع صوابی

د مصنفینو او مولفینو په تصنیفاتو او تالیفاتو تقریظات او تأثرات لیکل د اکابرینو او ماهرینو علماؤ کار دے. ځکه اکابر اهل د جرح او تعدیل وی. ما غوندے بے بضاعة او طفل مکتب به د یو عالم فاضل ادیب په تالیف څه او لیکی. لیکن حضرت مولانا محمد ابراهیم فانی صاحب ځمونږ د مشفق استاد او مربی حضرت مولانا عبد الحلیم صاحب نور الله مرقده فرزند ارجمند ځمونږ مخدوم او د مشرکی تو ردبے نو د هغوی حکم تا بول مناسب نه وو. او په د تالیف څو خبرے طالب علمانو ته رسول دے وجه نه لیکم چه ځه هم لکه د خس پیدارو د یوسف علیه السلام په درے سعادت کښی برخه واخلم.

د دروس الکافیه دوېمه حصه "العیون الصافیة" د یو لوئے انتظار نه وروستو منظر عام ته راغله. لکه د اولے حصے دویمه حصه هم د علم نحو یو لوئے خزانه ده. کافیه د ابن حاجبؒ علم نحو کښی یو مغلق متن دے. لیکن هم عربی ژبه زده کونکے د دے کتاب نه صرف نظر نشی کولے. د فرو جه ده چه په هر دور کښی علماء دا کتاب د علوم نحویه د بحث جولانګاه ګرځولے دے. او په مختلفو ژبو کښی ئے شرحے لیکلی شویدی. لیکن په پښتو ژبه کښی دومره جامعه شرحه ځما د نظر نه، نه ده تیره شوے. د دروس الکافیه د انداز نه معلومه ده چه فانی صاحب په ډیر مؤثر عام فهم او سلیس انداز کښی بغیر د حشو او تطویل او ایجاز مخل نه قواعد د نحوے مخاطب ته او مغز د کتاب د طالب علم په ذهن کښی د اچولو کوشش کړی. چونکه مؤلف موصوف په نوی عمر کښی یو بهترین مؤلف ادیب او په مختلفو ژبو عبور لرونکے شاعر هم دے. او مشهوره ده چه شاعران لطیف مزاج او حساس ذهن لری. نو د هغه خوږ جهلک ځائے په ځائے په دے تالیف کښی هم ښکاره ګ

د دوی مختلف شاهکار تالیفات د دوی د خداداد قابلیت او ذهانت یو بین ثبوت دے۔ الله تعالیٰ د دروس الکافیه اولے حصے ته زبردست مقبولیت ورکړو او څو کرته باره باره چهاپ شوه او د دغے شرحے مرتب او مدون مولوی **مولا داد محمد زرد** دیر د قدر وړ دے۔ چه په دیر محنت او کوشش سره ئے دا کتاب مرتب کړو۔ الله دوی له اجر ورکړی۔

څمونږ دا دعا ده چه الله تعالیٰ دے دویئے حصے ته هم هغه قبولیت او شرف ورکړی چه د علماء طلباء د پاره هر زمان او مفید ه اوگرځی۔ او الله تعالیٰ دِ دفاقی صاحب په علم وعمل کښی نور هم برکة واچوی۔

وما ذالك على الله بعزيز

العبد الاحقر

(مولانا) فضل علی حقانی عفی عنه

۲/۱/۲۰۰۲

حسن خویش از روئے خوباں آشکارا کردہ ای
باز بچشم عاشقاں خود را تماشا کردہ ای
پا ز تو حسنت نگنجد در زمین و آسماں
در حریم سینہ حیرانم کہ چوں جا کردہ ای

دکتاب لوستونه مخکښ

الحمد لحضرة الجلالة والصلوٰة والسلام علی خاتم الرسالة وعلی آله واصحابه الذین هم نجوم الهدیٰ واعلام التقیٰ۔ امابعد !

د نن نه شپږ کاله اګاهو په سن ۱۹۹۵ء کښې دروس الکافیه چه هغه د علم نحو د مشهور کتاب کافیه ابن حاجبؒ د پښتو شرح ده او په حقیقت کښې دا هغه درسونه دی چه مولوی محمد سلیم سواتي ځما نه په دوران د درس کښې لیکلي وو۔ او د یوې مجموعې حیثیت ئې ورله ورکړے وو۔ د بعضو مخلصو دوستانو او د شاګردانو په خواهش هغه تقریر او درسونه د "دروس الکافیه" په نوم باندې چاپ شول۔ د تحدیث نعمت په توګه ځما داوهم او ګمان هم نه وو۔ چه دے معمولي کوشش ته به الله تعالیٰ دومره مقبولیت ورکوي۔ چه په ډیر لږ وخت کښې د هغې څو ایډیشنونه اووتل۔ د کوسټه د دیني کتابونو تاجر مکتبه قاسمیه والاهم بغیر ځما د اجازت نه په غلط باندې دا کتاب په کوټه شمیر کښې چاپ کړیدے او مدرسه لے خپله پته هم ورکړیده چه دلاور است" چه کله "دروس الکافیه" مارکیټ ته راووتو۔ نو د ملک د مختلف حصو نه نیکو نه ماته راغلل۔ او په هغې کښې راغو سپنتنه او مطالبه وه۔ چه کچیرته د دے کتاب اردو ترجمه اوشي نو فایده به ئې عامه شي۔ د هغوئي خواهش په احترام کښې د کتاب په اردو ترجمه باندې کار روان دے۔ د دې نه علاوه یو کښې شمیر ملګرو او احبابو دا تقاضا اوکړه۔ چه دا څو صرف یلو جزئش ۶ ده۔ چه هغه "معرب" حصه ده۔ دویمه حصه چه مبنی ده۔ د هغې هم د غسې تشریح پکار ده چه د مکمل کتاب پښتو شرح راشي۔ د بعضې بزرګانو مشرانو او ځما د محترمو استاذانو ارشاداتو هم حکم اوشو۔ چه په هغه عظیمو شخصیاتو کښې ځما ډیر ګران او محترم استاذ استاذ العلماء امیرالمجاهدین شیخ التفسیر والحدیث علامه ډاکټر سید شیر علی شاه صاحب مدني مدظله العالی او بل ځما ډیر مهربان او با شیما شخصیت المجاهد فی سبیل الله شیخ الحدیث مولانا ډاکټر مفتي نظام الدین صاحب شامزي مدظله شیخ الحدیث جامعة العلوم الاسلامیه علامه بنوري ټاؤن کراچۍ د ذکر ور حضرات دی۔ چه د دوی د حکم مطابق ما په دې

باندې ډېر په سست رفتارئ سره کار شروع کړو اګر چه زه پخپله ځان کښې دې اهلیت نه وینم اؤ د
مختلفو شروحو نه مې استفاده اوکړه. چه وخت اؤ موقعه به راته میسر کیده. نو کیف ما اتفق
ځائے په ځائے به مې لیکله. بیا مې دغه بے ترتیبه مسوده خپل شاګرد **مولوی مولا داد
همدرد** ته حواله کړه. ځما په ذهن کښې هغه د دے کار سرته رسولو پوره پوره اهلیت لرلو
ځکه چه هغه د قلم مضمون نګارئ تصنیف اؤ تالیف سره بے کچه مینه لری. الله ورته بهر رسا
ذهن اؤ قوی حافظه هم ورکړیده. اؤ ما شاء الله د علمی مستقبل ستورے ئې روښانه
اؤ ځلنده ښکاری. دغے چه څه حصه مرتبه شوه هغه به کاتب ته حواله کیده. دغه دوران کښې
بعضے داسے مشاغل پیدا شو. چه هغے سره دې په لیکلو کښې تاخیر راغلو د دوی راته بیا توجه راکړه. چه د
شرحے کار نیمګړے پاتے دے. دغه شان به ورو ورو اؤ مزه مزه باندې کافی کار پکښې اوشو. ولے د
بد قسمتئ نه **یولسم ستمبر ۲۰۰۱ء** نه پس عالمی حالات بدل شو اؤ د ټولے دنیا اؤ د ټولے نړئ په
نقشه باندې پورے کمزورے طبقے چه "**طالبان**" ورته وائی. هغوئ ماسلام د نظام اجراء په افغانستان
کښې کړے وو. چه هغے سره د ټولے دنیا د مخلصو مسلمانانو په زړونو کښې نوے جذبے پیدا شوے اؤ د عالم
اسلام عوامو دے امارت اسلامیه ته ډېر په قدر اؤ د احترام په سترګه اوکتل. ظاهره ده چه دا خبره کفری
ملتونو کله زغملے شوه. نو د دهشت ګردئ اؤ ترهګرئ د خاتمے په اساس اؤ د اسامه بن لادن په
باندې امریکے برطانیے اؤ د نورو ټولو کفری طاقتونو په سرپرستئ کښې په امارت اسلامیه باندې حملے سره
د صلیبی جنګ آغاز اوشو. خو د بده مرغه د ټولے اسلامی نړئ حکمرانان د کفارو سره اوږه په اوږه
زړه په زړه او خله په خله ولاړ وو فیا اسفا.

ـــه بهتر په ځان مې سراس اولیدو -:- چه مې رقیب سره د لبو اولیدو.
ځما د یار کے عینے قتل ــــ پسے -:- دیز نیدیانو مې لبنګی اولیدو.
ـــه بمثل هٰذا یذوب القلب والکمد -:- ان کان فی القلب اسلامٌ و ایمانٌ.

بیا هم دے وړوکی ټولی فئة قلیلة طالبانو ښیر په شان مقابله اوکړه. اؤ په تاریخ کښې ئې خپل
ځان له یو لوړ اؤ جوت مقام پیدا کړو.

ـــه تاریخ میرے نام کی تعظیم کرے گی -:- تاریخ کے اوراق میں تابندہ رہوں گا.

نتیجه ظاهره ده. په افغانستان کښې د امارت اسلامیه خاتمه اوشوه. اؤ په زرګونو مسلمانان
د کفر اؤ د اسلام په دے معرکه کښې شهیدان شو. اؤ د کوم مرکز نه چه ثمر هیله اؤ طمع پیدا شوے
وه. هغه مرکز تاخت و تاراج شو. ع وه شاخ هی نه رهی جس په آشیانه تها.

ے چمن چمن گلی گلی یہاں لہو وہاں لہو ۔۔ میں کیا کہوں یہ حادثہ کہاں کہاں گزر گیا

د سقوط کابل دا حادثه دومره عظیمه ده چه هغې د خلافت عباسیه د سقوط بغداد هغه خونی واقعه تازه کړه. د سقوط اندلس په زخمونو نمک پاشی اوکړه. د خلافت عثمانیه د نیست ونابود کېدو د هغه داستان خونچکان د ذهن په پرده باندې ډیر په کرب او په درد سره منبکاره شو. او بیا په تېره تېره د سقوط ډهاکه (مشرقي پاکستان) چه دا څمونږ د سترګو په وړاندې شوې وو. د هغې د وحشت ناکه څرکې په زړه کښې اوچتې بشوې. نکه وائی. الحزن الجدید یقوی الحزن القدیم. په افغانستان کښې دا امارة اسلامیه د کفری ملتونو او اتحادی ظلم او بربریت؛ د لوسر تسلسل کېدل دا هم د دغې پرله پسې دردونو د لړۍ دلخراشه او جګر پاشه سلسله ده. او ورسره په فلسطین بوسنیا چیچنیا کشمیر او نورو اسلامي هیوادونو کښې دا ورا او دیا رو دیو خون آشام باران وریږي.

ع آسمان را حق بود گر خون ببارد بر زمین.

کومے کومے تو لوم به لو یه خدایه ۔۔ ځائے ځائے م د جګر ټوټې خورې دي.
یم حیران د هر تونو قتل عام ته ۔۔ کوم په کوم دار ماتونو هدیرے دي.
ژاړه ژاړه ن په چغوفانی ژړا به ۔۔ په قسمت کښې چه لیکلې د تیرې دي.
ع داو بو نه ردي ارزانه ځما وینې ۔۔ په مصداق د مسلمان وینه داسې ویریا شوه.

بهرحال دا یو زړه خیرونکې داستان دی رو دے. په دے باندې ډیر لیکل شوي دي. او آئنده به هم په دے موضوع مستقل کتابونه اولیکلې شي. که ژوند وفا اوکړه نو موږ به هم د دې په باره کښې د تاریخ جولئ ته خپله برخه اوسپارو.

بخښنه غواړم خبره اوږده شوه. ولې په پس منظر کښې د دے خونی حادثې او واقعې ذکر ضروری وو. د دے جنګ د شروع کېدو نه مخکښې د دې شپې څه لږه حصه باقي وه. او په دغه دوران کښې څمونږ تعطیلات هم قریب وو. ځما خیال وو چه د فرصت په دغه لمحو کښې به په اطمینان سره دا کتاب پوره او مکمل کړم ولې دغه پوره ذکر شوی واقعات مینځ ته راغلل د هغې په وجه په ذهن او دماغ باندې د داسې حادثاتو او آفاقي نوازلو رد عمل طبعي او فطري وو. د دې وجې نه هغه توجه ورنکړې شوه. چه د کومې دا شرح متقاضي وه. مګر نور تاخیر پکښې بیا باعث د نقصان ګرځېدو. د خپلو معروضاتو د ختمولو نه مخکښې د خپلو ګرانو دوستانو طالبانو نه ماهیله ده چه راقم الحروف او مرتب به په خپلو دعاګانو کښې یاد ساتي.

ے خاطر مسلسل است پریشان چوں زلف یار.
عیبم مکن کہ در شب ھجران نوشتہ ایم

اللھم استعملنا فی طاعتك وطاعۃ رسولك وارزقنا حبك وحب رسولك واجرنا من خزی الدنیا وعذاب الاخرۃ برحمتك یا ارحم الراحمین.

العبد الجانی
محمد ابراھیم فانی کان اللہ لہٗ
خادم العلوم بدار العلوم الحقانیہ
۲۵ ر رمضان المبارك ۱۴۲۲ھ

گردشِ دوراں کہ ما را تیشۂ فرہاد داد
تحفۂ آہ و بکا و توشۂ فریاد داد
اے کہ می پرسی زفانی حالِ این ذوقِ سخن
این ہنر ما را خدا بے پیر و بے استاد داد
فانی

بجہان دردمنداں تو بگو چہ کار داری
تب و تاب ما شناسی دلِ بیقرار داری
چہ بگویمت ز جانے کہ نفس نفس شمارد
دمِ مستعار داری غمِ روزگار داری
(اقبالؒ)

عرض مرتب

سریزه او ابتدائیه

الحمد لله رب العلمین والصلوٰة والسلام علی خاتم النبیین محمد وعلی آله واصحابه اجمعین الطیبین الطاهرین ومن تبعهم باحسان الی یوم الدین. اما بعد! دا څما د پاره ډیر د ویاړ او فخر مقام دے چه د خپل استاذ محترم **مولانا حافظ محمد ابراهیم فانی صاحب** مدظله دا فادات او د تحریراتو ته ډیر ادنیٰ طالب علم ترتیب او تدوین کولو سعادت حاصل وم. او دا د هغوی نیک بینه بانډ حسن ظن دے چه زۀ ئې د دے د ترتیب او د تدوین اهل اوګڼلم او څما انتخاب ئې اوکړو خدائے دِ اوکړي چه زۀ د دوی د دے حسن ظن مطابق اوګرځیږم. اګرچه زما نمونه العلم د پاره دا یو لوئے نرس حل او مشکل تجربه ده ولے د خپل مشفق استاذ پر تشجیع او په دعاګانې زۀ الله جل شانه د دے قابل کړم چه د دے شرح تدوین او ترتیب اوکړم. الحمد لله د الله تعالیٰ فضل او احسان او د استاد محترم شفقت او رهنمائي څما شامل حال وه. او زۀ د دے جوګه او قابل شوم چه ستاسو په وړاندې دا علمي سوغات پیش کړم.

د دے شرحے یو څو **امتیازی خصوصیات** ذکر کوم د پاره د دے خبرے چه د دے افادیت او اهمیت د طالبانو په نظر کښې ځائے کیږي او ځاګزین شي.

(۱) :- دا شرح د کافیے یو مکمله متوسطه د طالبانو د ذهانو مطابق ده. چه په پښتو ژبه کښې څما په نظر کښې د دے پشان بله شرح نشته.

(۲) :- د کتاب د متن ترجمه په پښتو ژبه کښې په داسے انداز سره شوے ده. چه هغه تعبیر ډیر جامع او مانع دے. چه په یو طالب کښې هم زړه راځي او په یادولو کښې هم آسان دے.

(۳) چه چرته کښې متن سهل دے یعنی د ډیرے شرحے محتاج نه دے. نو هلته کښې استاذ محترم د اختصار نه کار اخستے دے. چه په هغے سره څه د شوارۍ یا نیمګړتیا نه محسوسیږي. او چه چرته کښې عبارت مغلق او ډیر تشریح طلب دے نو هغه ځائے په پوره تفصیل سره حل کړے شوے

د پاره دی چه طالب علم ته د تشنګئ احساس او نه کړی.

(۴) :- د مقام په مناسبت که څه بل فائده یا نکته ده نو هغه هم د درس نه د مخ یدے فائدے د پاره ذکر کړیده. د پاره د دے خبرے چه په شرح کښ تنوع پیدا شی.

(۵) :- د دے شرح په مطالعه سره د شرح جامی مبنی حصه هم طالب علم په ښه طریقے سره ضبطولے شی.

(۶) . د دے نه علاوه نور هم پکښ داسے نحوی عجائب او غرائب موجود دی چه هغے سره به ذهن کښ نشاط پیدا کیږی. ګویا دا شرح باعث د تنشیط دا ذهان ده.

هیله ده چه طالبعلمان د و نړه به د دے نه په پوره او کامل توګه استفاده اوکړی.

په آخر کښ زه د خپل هغه درد اظهار هم ضروری ګنړم چه کوم ذکر حضرت الاستاذ په خپل ابتدائی کلام کښ کړیدے چه په افغانستان کښ د امارت اسلامیه سقوط دے د د نه امارة اسلامیه په **سقوط** باندِ ن هر د مند مسلمان خفه او زهیر دے د ه شان زه هم د دے درد نه انتهائی متاثره او دلګیر شوم . د طالبانو جرم صرف دا و و چه هغوی په ملک کښ د اسلام د نظام احیاء کړے وه په دے وجه ټوله کفری نړئ سره د اسلامی دنیا و د ته په مقابل کښ اودریده.

خونے نه کرده ایم وکسے را نه کشته ایم
جرم است این که عاشق روئے تو ګشته ایم

نو زه یو ځل بیا د خپل استاذ محترم شکریه اداکوم چه هغوئ په ما د شفقت په بنیاد باندے اظهار داعتماد اوکړو. او زه ځکه دے " ماموریه " لائق اوګنړلم او بیا د خپلو ټولو طالبانو ورونړو نه دا امید لرم چه ما به په خپلو دعاګانو کښ نه هیر وی . الله جل شانه د خونه ټول کاوشونه د خپل پاک دین په خدمت کښ مصرف کړی . امین .

وما توفیقی الا بالله علیه توکلت والیه انیب ط

اخوکم فی الله

مولا داد حیدر د افغانی
دار العلوم حقانیه اکوړه خټک
یکم جنوری ۲۰۰۲ء

بسم الله الرحمٰن الرحیم

المبني | هرکله چه مصنف رحمه الله فارغ شو د بیان د اسم معرب د هغه اقسامو احکامو او متعلقاتو نه نو شروع ئې اوکړه په دویم قسم د اسم کښې چه هغه مبني دے نو وے وئیل چه المبني. په المبني کښې دا الف لام عهدي خارجي دے او معهود په دے سره اسم مبني دے په دے سره دفع د سوال هم راغله سوال دا وارد یږي چه المبني دا خو صفت دے او د هر صفت د پاره لا بدي ده د موصوف نه ددے د پاره موصوف څه شے دے؟ جواب دا دے چه دکے د پاره موصوف اسم دے یعني الاسم المبني دے. ځکه چه په المبني کښې الف لام عهدي خارجي دے او معهود په دے سره اسم دے.

ما ناسب المبني الاصل | اسم مبني دا هغه اسم دے چه د دۀ مناسبة راغلے وي هغه مناسبت چه مؤثر وي په منع د اعراب کښې په یو د مناسبات ستة سره د مبني سره هغه مبني چه اصل وي په بنا کښې چه هغه ماضي ده امر حاضر دے او حروف دي بالاتفاق او په نزد د صاحب د مفصل باندې جمله من حیث هي هم په مبني اصل کښې داخله ده دلته کښې ما عبارة دے د اسم نه او په دے سره دفع د اعتراض راغله سوال دا دے چه تعریف د مبني مانع نه شو د دخول د غیر نه او داخله شوه پکښې مضارع ځکه چه مضارع هم مشابه ده د ماضي سره چه مبني اصل ده په واقعه کیدو د واړو کښې صفت د پاره د نکرے. جواب کله د ما عبارة دے د اسم نه او مضارع فعل دے بیا سوال وارد یږي چه تعریف د اسم مبني مانع نه شو د دخول د غیر نه او داخل شو پکښې غیر منصرف ځکه د ده مشابهت هم راغلے دے د ماضي سره چه مبني اصل ده په وجود د فرعیتینو کښې. جواب مراد په مناسبت سره مناسبت دے هغه مناسبت چه مؤثر دے په منع د اعراب کښې. او د دوئ مناسبت دا سے نه دے سوال دا وارد یږي چه ستا دا تعریف مستلزم دے دور له او دور باطل دے دور په دے شان لازمیږي چه په جانب د معرّف کښې هم

تا مبنی ځاوړے دے اؤ په جانب د معرّف کښې هم مبنی دے جوآب دا دے چه دا تعریف د اسم مبنی دے د مطلق مبنی نه دے حتی چه دور لازم شی سوآل دادے چه مراد په مناسبت سره به یا مطلق مناسبت اخلے او یا مناسبت خاصه. کهٔ ته مناسبت مطلقه اخلے. نو پورته ذکر شوے. سوآل وارد یږی چه بیا پکښې غیر منصرف داخلیږی او کهٔ ته کښې مناسبت خاصه ترمراد وی نو لازم میږی تعریف په مجهول سره جوآب دادے چه مراد په مناسبت سره مطلق مناسبت دے ولے چه هرکله مناسبت مطلقا په اصطلاح د نحاتو کښې په بحث د مبنیاتو کښې ذکر شی نو مراد ترینه مناسبت خاصه دے لکه چه څنګه په دے باندې تصریح کړیده صاحب د مفصل. اؤ دا مناسبت په شپږ قسمه دے اؤ هغه په دے شان سره چه دا مناسبت به کله متحقق کیږی په سبب د تضمن دا اسم سره معنی د حرف لره لکه تضمن د اسماء د استفهام اؤ د شرط شو معنی د حرفِ استفهام اؤ د شرط لره اؤ یا به متحقق کیږی په سبب د مشابهت دده د مبنی اصل سره لکه مشابهت د اسماء اشاراتو موصولاتو اؤ مضمراتو د حرف سره په احتیاج کښې یعنی لکه چه څنګه حرف محتاج دے دغه شان دا اسماء هم محتاج دی اؤ حرف خو مبنی اصل دے نو دغه شان دا اسماء هم د مشابهت د وجے نه مبنی شول اؤ یا به دا مناسبت متحقق کیږی په سبب د وقوع دده په موقع د مبنی اصل باندې لکه نزالِ اؤ تراك چه واقع دی په موقع د انزل اؤ د اترك باندې. چه دا صیغے د امر حاضر دی اؤ یا به دا مناسبت متحقق کیږی په سبب د مشابهت دده د هغه شی سره چه هغه واقع وی په موقع د مبنی اصل باندې لکه حضار اؤ طمار شو. چه مشابه دی عدلًا اؤ وزنًا و تراك اؤ نزال سره چه هغه واقع دی په ځائے د اترك اؤ د انزل. اؤ یا به دا مناسبت کیږی په سبب د وقوع دده سره په موقع د هغه شی باندې چه هغه مشابه وی د مبنی اصل سره لکه منادیٰ مفرده معرفه مثلاً یا زید چه واقع دے په موقع د کافِ اسمی کښې اؤ کاف اسمی مشابه دے د کافِ حرفی خطابی سره اؤ یا به دا مناسبت متحقق کیږی په سبب د اضافت دده مبنی اصل ته لکه ظروفِ مضافه شو جملے وته لکه یوم ینفع الصادقین صدقهم -

او وقع غير مركب مع غيره

اؤ يا دا اسم مبني منه اسم دے چه مركب نه وي سره د غير نه برابره خبره ده لچه دا غير په دغه كښې عامل وي كه نه وي اؤ دے به واقع شو يوى غير مركب سره دغير نه په داسے وجه سره چه متحقق وي ده سره عامل. زده كړه داخبره چه اسم به خالى نه وي يا به مضموم مع الغير وي يا به نه وي كه چرته نه وي نو هغه مبني لكه اسماء معدوده مثلا واحد اثنان ثلثه الى آخرهم. يا الف با تاء يا زيد، عمرو بكر. اؤ كچرته اول وي نو بيا به خالى نه وي يا به مشابهه وي د مبني اصل سره يا به نه وي كچرته اول وي نو هغه مبني اؤكچرته ثاني وي نو بيا به خالى نه وي يا به ودسره عامل متحقق وي. او يا به نه وي قسم ثاني مبني لكه غلام زيد اؤ قسم اول معرب. اؤ دلته كښې مراد په مركب سره مركب لغوي دے چه مضموم مع الغير دے اؤ قرينه دے خبره باندې داده چه اسم مركب اصطلاحي نه وي.

سوآل وارديږي چه مصنف په تعريف د مبني كښې حرف داؤ راؤړے دے اؤدا راځي د پاره د تشكيك ولے دا مناسب ددے مقام سره نه دے ځكه چه تعريف راځي د پاره د حصول د يقين اؤ تشكيك منافي دے د يقين سره جوآب دادے چه اؤ ځنكه راځي د پاره د تشكيك نو دغه شان د پاره د تنويع هم راځي يعني په دے كښې دوه قسمين د مبني ته اشاره ده يو قسم د مبني هغه دے چه مبني وي د وجے د وجود د موجب داعراب نه چه هغه تركيب دے. اؤبل قسم هغه دے چه هغه مبني وي د وجے د وجود د مانع د اعراب نه سره ددے نه چه موجب د اعراب وي. نو په اؤ سره دے دواړو قسمونو ته اشاره راغله. خلاصه داچه كله داؤ مانعة الخلو د پاره ده دلته كښې نه د پاره د مانعة الجمع. سوآل وارديږي چه هر كله "او" په دے دوؤ معنو باندې دلالت كوي اؤ تا ترنه معنى د تنويع واخسته په دے باندې څه قرينه ده جوآب دادے چه قرينه هغه مقابله ده په مابين د معرب اؤ د مبني كښې ځكه چه معتبر په مفهوم د معرب كښې تركيب اؤعدم مشابهت نو معتبر په مفهوم د مبني كښې انتفاء د امرينو ده يا انتفاء د احدهما سوآل دادے چه مبني اؤ معرب متقابلين دي. اؤ قاعده داده

چه اعتبار دیر قید وجودا په یو د متقا بلینو کبن دا مستلزم دے اعتبار دهغه قید لره عدما په متقابل آخر کبن بنا په دے قاعده پکار داده چه په تعریف د معرب کبن ئے عدم مشابهت معتبر کړیدے نو په تعریف د مبنی کبن به ئے مشابهت اغستے وو. حالانکه دلته په تعریف د مبنی کبن ئے مناسبت معتبر کړیدے جواب دادے چه مراد په عدم مشابهت سره په تعریف د معرب کبن هغه هم دغه مناسبت دے. سوال وارد یږی چه تعریف د مبنی مانع او نه گرځیدو د دخول د غیرنه اوٌ داخله شوه پکښ مبتداء اوٌخبر ځکه چه متبادر د ترکیب نه هغه ترکیب مع العامل دے اوٌ مبتداء اوٌ خبر دا مرکب نه دی سره د عامل خپل نه ځکه چه عامل په دوی کښ معنوی دے اوٌ ترکیب د معنوی سره د لفظی نه محال دے. جوآب دادے چه مراد په ترکیب سره ترکیب دے سره د غیر نه برابره خبره ده چه دا غیر په دهٔ کبن عامل وی اوٌ که نه وی اوٌ په دے خبره کښ شک نشته چه هر واحد د مبتداء اوٌ د خبر نه مرکب دے سره د صاحب خپل نه. سوآل دادے چه دا تعریف جامع نه شو خپلو افرادو لره ځکه چه دے نه غلام زید خارج شو ځکه چه دے هم مرکب دے سره د غیر نه جوآب دادے چه مراد په ترکیب سره هغه ترکیب دے چه متحقق وی په دے کبن عامل د دغه اسم. سوآل دا وارد یږی څه وجه ده چه مصنفؒ په تعریف د معرب اوٌ د مبنی کبن ترتیب بدل کړو. په دے شان سره چه په تعریف د معرب کبن ئے ترکیب مقدم کړو اوٌ په تعریف د مبنی کبن ئے ترکیب مؤخر کړو. بیا په تعریف د معرب کبن ئے عدم مشابهت مؤخر کړو اوٌ تعریف د مبنی کبن ئے مناسبت مقدم کړو. جوآب دادے چه اعتبار وجودی لره دے د وجے د شرف نه. په تعریف د معرب کبن ترکیب وجودی وو اوٌ په تعریف د مبنی کبن مناسبت وجودی دے نو د شرافت د وجود نه ئے تقدیم اوٌ تاخیر اوکړو.

فائده اصل په اسماء کبن اعراب دے اوٌ اصل په افعال اوٌ حروفو کبن بناء ده. ځکه چه اسماء محل د معانی معتوره دی هغه تقاضا د علاماتو کوی د پاره د دے چه التباس د بعض د بعض سره رانشی. اوٌ دغه علامات اعراب ته

افعال اؤحروف محل د معاني معتبرو نه دی نو دا محتاج نه دی اعراب وته.
بله وجه داده چه فعل ثقیل دے ځکه چه دے موضوع دے دپاره د نسبت حدث اؤزمان نو مناسب دۀ سره خفت دے او بنا خفیفه ده په نسبت سره اعراب ته ځکه چه سلوك په بوره لاره باندے دا اسان دے په نسبت سره سلوك وته په طُرق متعدده باندِ اؤ د اسم موضوع له غیر متعدد ده. نو دے خفیف اوګرځیدو اس که په ده باندِ اعراب را شی نو دے ثقل نه پیدا کوی اؤکله چه کښی په فعل باندے اعراب راشی نو دے به ثقل پیدا کړی فوق الثقل. لان الفعل ثقیل والاعراب ایضا ثقیل.

دلته کښی سوال راځی چه ثقل معتبر دے په ژبه باندے اؤ اسم اؤفعل خو برابر دی په تلفظ لساني کښی جواب ثقل په ذهن کښی مستلزم دے ثقل لره په ژبه ځکه چه ذهن کله مشوش وی نو تردد په ژبه کښی راځی.

سوال دادے چه ماضی کله واقع کیږی موضع الخبر لکه ضرب شو په دے ترکیب کښی چه زید ضرب دا واقع دے په ځائے د زید ضارب نو پکار داده چه دے له هم محل د اعراب وی نو دا معرب اوګرځی جواب دادے چه موږ ته دا سنه منو چه ماضی په ځائے د خبر دا غلے ده بلکه په ځائے د خبر باندِ جمله راغلے ده بیا سوال راځی چه بنا په دے باند پکار ده چه ماضی د هم معربه کړے شی ځکه چه دا واقع ده په ځائے د اسم فاعل باندِ لکه زید ضرب واقع دے په ځائے د زید ضارب. جواب دادے چه د مضارع مشابهت د اسم فاعل سره راغلے دے مکمل یعنی په عدد د حروفو حرکاتو اؤسکناتو کښی اؤ ماضی دا شان نه ده هرکله چه د مضارع مشابهت راغلے وو د اسم فاعل سره کامل نو ثابت شو دے لره عین اعراب اؤ د ماضی مشابهت چه ناقص وو نو ثابت شو ورله هغه چه مشابه دے دا عراب سره اؤهغه حرکت دے. سوال دادے چه بیا خو امرِ حاضرهم معرب کول پکار دی ځکه چه ددۀ مشابهت هم دفاعل سره دے په حرکاتو په سکناتو کښی. جواب دادے چه همزه د وصل لره هیڅ اعتبار نشته ځکه چه دے ساقطیږی په درج کښی هرکله چه دده مشابهت نه وو نه تام اؤ نه ناقص. نو نه ورله اعراب

ثابت شو اؤ نه بنا په حرکت سره۔
والقابه ضمٌ و فتحٌ وکسرٌ ووقفٌ اؤ القاب د حرکاتو د بنا یا د حرکاتو د حرف آخر د اسم مبنی او سکون د آخر ضمه فتحه اؤکسره دی د پاره د حرکاتو اؤ وقف دے د پاره د سکون په نزد د بصریانو باندے **سوال** دا دے چه ضمیر د القابه چه راجع شی بناء ته نو دا لازمیږی اضمار قبل الذکر ځکه چه مخکښ خو بناء نه دہ ذکر بلکه مبنی ذکر دہ۔ **جواب** دا دے چه ذکر عام دے صراحتًا وی که ضمنًا. دلته کښ اګر که صراحةً نه دے ذکر د بناء ولے ضمنًا ذکر دہ۔ ځکه چه مبنی مشتق دے او په دے کښ بناء موجود دہ۔
سوال دا دے چه اضافت د القابو مبنی ته نه صحیح کیږی ځکه چه دا القاب خود عارض د مبنی دی چه هغه حرکات او سکون دی۔ **جواب** دا دے چه دا صفت بحال متعلقه دے **سوال** دا دے چه دا القاب القاب د حرکاتو د مبنی نه دی بلکه دا چه ځنګه استعمالیږی په حرکاتو بنائیه کښ دغه رنګے استعمالیږی په حرکاتِ اعرابیه کښ لکه چه ځنګه مصنفؒ وئیلی دی بالضمة رفعا والفتحة نصبا والکسرة جرا۔ **جواب** دا دے چه لقب په دوه معنیین سره راځی لقب په معنی خاص اؤ لقب په معنی عام. لقب په معنی خاص هغه ته وائی چه خصوص د جانبینو نه وی اؤ لقب په معنی عام هغه ته وائی چه خصوص د جانب معتبر نه وی. دلته کښ لقب په دویمه معنی باندے معتبر دے یعنی حرکاتِ بنائیه تعبیر ددے نه نه کیږی. مګر په دے القابو سره اؤ دا القاب چه ددے ځنګه تعبیر په حرکاتِ بنائیه کښ کیږی دغه رنګے په حرکاتِ اعرابیه کښ هم کیږی۔ **سوال** دا دے چه څه وجه ده چه مصنفؒ په معرب کښ د انواعه او وئیلی اؤ دلته کښ ئے والقابه او وے۔ **جواب** دا دے چه انواع د اعراب حقیقتًا مختلف دی ځکه چه په دے کښ هر یو دلالت کوی په معنی باندے بخلاف د القابو د بنا نه۔ ځکه چه مراد د هغه نه نه دی مګر الفاظ۔
وحکمه ان لا یختلف آخره لاختلاف العوامل | او دا تر مرتبه په بنا د مبنی باندے دا دے چه نه به مختلف کیږی حرف آخر د مبنی ذاتًا یا صفتًا حقیقةً یا حکمًا لفظًا

یا تقدیرا په سبب د اختلاف د جنس عامل سره به دوه بانډه په عمل کښې اګر
که مختلف کیږی په غیر د اختلاف د عواملو یعنی که هرقسمه عامل په دوه بانډې راشی
ولے په دوی کښې به تغیر نه راځی اؤ د رحمان بابا ددے شعر مصداق به وی.

لکه ؤ نه مستقیم په خپل مقام یم
که خزان را سبا نډ را شی که بهار

وَهِیَ الْمُضْمَرَاتُ الخ| اؤ دا اسم مبنی منقسم دے اقسام ثمانیه ته وجه دحصر
ئے په اتو کښې داده چه علت داتصاف د بناء د مبنی دا به خالی نه وی یا
به عدم ترکیب وی یا به مناسبت وی د مبنی اصل سره که اول وو نو اصوات
اؤ هغه چه مناسب وی د دوئ سره (لکه هغه چه مرکب وی ولے حکایةً) اؤ که چرته
کښې مناسبت وی نو بیا به خالی نه وی یا به غیرحرف سره وی یا به حرف سره
وی که چرته د غیرحرف سره وی نو اسماء افعال اؤ که د حرف سره وی نو بیا به خالی
نه وی یا به صورةً وی یا معنیً که صورةً وی نو کنایات اؤ هغه چه مناسب وی
دوی سره اؤ که معنیً وی بیا به خالی نه وی یا به په تضمن کښې وی یا به په احتیاج
کښې که په تضمن کښې وی نو مرکبات اؤ هغه چه مناسب وی ددے سره
اؤ که په احتیاج کښې وی نو بیا به خالی نه وی یا به په لفظ کښې وی یا به په
غیر لفظ کښې که لفظ کښې وی بیا به خالی نه وی یا به جمله وی یا به غیرد
که جمله وی نو موصولات اؤ که غیر جمله وی نو ظروف مقطوع الاضافة اؤ که غیر
لفظ وی نو بیا به خالی نه وی یا به په اشارتِ حسی سره وی یا به په قرینے د تکلم
سره اؤ په قرینے د خطاب او په قرینے د غیبة سره که اول وو نو اسماء اشارات
اؤ که ثانی وو نو مضمرات.

وهی المضمرات واسماء الاشارة والموصولات والکنایات واسماء الافعال
والاصوات وبعض الظروف دلته کښې سوال راځی چه مبنی مذکور دے اؤ تا
هی ضمیر د مؤنث راؤړلو جواب داسے چه تانیث د ضمیر په اعتبار د خبر سره
لکه کښې قاعده تیره شویده چه رعایة د خبر اولیٰ دے سوال چه څنګه
جمیع ظروف د مبنیاتو نه نه دی دغه شان ټول اسماء اشارات هم د مبنیاتو نه
نه دی ځکه چه ذان اؤ ذین معربات دی په نزد بعض نحاتو بانډې نو یکاردا وه.

چه دا ئے هم مقید کړی وو په قید د بعض سره جوآب اعتبار د بعضُ اختلاف لره نشته یا دا چه په اسماء اشارا تو کښ اکثر مبنی دی. سوآل دادے چه څنګه جمیع ظروف د مبنیا تو نه نهٔ دی دغه شان جمیع موصولات هم د مبنیا تو نه نهٔ دی ځکه چه اَیّ اوُ ایّةَ په اتفاق سره معرب دی بکار داده چه دویٔ ئے هم مقید کړی وو په قید د بعض سره. جوآب دادے چه اعراب د دے دوارو مختص دے په بعض احوالو پورے اُنَس دلته کښ په مبنی کښ ذکر ئے څیزِ ومنه بکار دی. یو علت د بناء علت د بنا په حرکت علت د بنا په حرکة مخصوصه

المضمرما وضع لمتکلم | مضمر دا هغه اسم دے چه وضع کړے شوے وی د پاره د هغه ذات چه هغه حکایت کوونکے وی د خپل نفس په دا سے د وضع سره چه مقید وی په وخت د حکایت پورے (په دے عبارة سره اُس مصنف رح تفصیل د دغه مبنیا تو کوی)

او لمخاطب | یا وضع کړے شوے وی د پاره د هغه ذات چه توجه د خطاب کیږی د ه وته هسے وضع چه مقید وی په وخت د توجه پورے.

او غائب | یا وضع کړے شوے وی د پاره د هغه ذات چه هغه غائب اوٗ غیر حاضر وی. سوآل دادے چه تعریف د مضمر متکلم اوٗ مخاطب مانع او نه ګرځیدو د دخل د غیر نه او داخل شو په کښ لفظ د متکلم یا علَم د متکلم اوٗ دغه شان داخل شو په کښ لفظ د مخاطب او یا علَم د مخاطَب. جوآب دادے چه قید حیثیة معتبر دے په تعریف کښ یعنی ضمیر د متکلم د دے حیثیت نه چه متکلم دے اوٗ دے حاکی دے د خپل نفس نه اوٗ ضمیر د مخاطب د دے حیثیة نه چه ضمیر د مخاطب دے او متوجه دے دهٔ وته خطاب.

تقدم ذکره لفظا اوٗ معنیً اوٗ حکماً | چه متقدم وی ذکر د مرجع د ده لفظاً یا معنیً اوٗ یا حکما. لفظا یعنی د حیثیة د لفظ نه چه مقدم مذکور من حیث اللفظ وی یعنی ملفوظ وی حقیقتًا لکه ضرب زید غلامَه. په دے مثال کښ مرجع مقدم دے حقیقةً. اوٗ یا مقدم حکماً. لکه ضرب غلامَه زید. دلته کښ مرجع مقدم دے حکماً اګر که لفظا مؤخر دے تقدم معنوی دیته وائی چه مقد: مذکور من حیث اللفظ نه وی بلکه من حیث المعنی وی برابره خبره ده.

چه مفهوم وی د لفظ نه بعینه. لکه اعدلوا هو اقرب للتقوی. دلته کښې هو ضمیر راجع دے عدل ته چه مفهوم دے د لفظ د اعدلوا نه یا مفهوم وی د سیاق د کلام نه لکه ولابویه لکل واحد منهما السدس او تقدم حکمي دیته وائي چه مقدم مذکور وی نه لفظا او نه معنیٰ بلکه مفروض وی تعظیما للقصة لکه قل هو الله احد.

وهو متصل ومنفصل | او دا ضمیر په دوه قسمه دے په اعتبار د ماقبل سره یو متصل دے او بل منفصل وجه د حصر ئې په دے دوو قسمونو کښې دادۀ چه دا ضمیر به خالي نه وی یا به محتاج وی ضم د کلمې اُخرئ سره او یا به نهٔ وی که اول وو نو متصل او که دویم وی نو منفصل.

فالمنفصل هو المستقل بنفسه | منفصل هغه ضمیر دے چه دے مستقل بنفسه وی او ضم د کلمې اُخرئ ته محتاج نه وی دے په منزله د اسم ظاهر دے منفصل ئې په مقام د تفصیل کښې مقدم کړو په متصل باندے ځکه چه مفهوم د منفصل وجودی دے. او وجودی اشرف وی د عدمی نه. دلته کښې د ضمیر تقسیم دوه ځله راغے ولے جهتونه ئې مختلف دی. تقسیم اول د ضمیر په اعتبار د مرجع سره وو. او دویم په اعتبار د ماقبل سره.

والمتصل غیر المستقل بنفسه | او ضمیر متصل هغه دے چه دے غیر مستقل بنفسه وی یعنی دے محتاج وی په تلفظ کښې بلے کلمې ته چه هغه عامل دے. سوال دا دے چه عدم استقلال د منافاتو د حروفو نه دے. جواب غیر مستقل په دوه قسمه دے غیر مستقل په تلفظ کښې او مستقل په معنیٰ کښې او حرف غیر مستقل دے په معنیٰ کښې دے نه دا خبره معلومه شوه چه حرف غیر مستقل دے په دلالت کښې نه په تلفظ کښې او په دے تفصیل سره دا اعتراض هم دفع شو. چه ضمیر متصل کله غیر مستقل دے نو په حروفو کښې ئې شامل کړه.

وهو | او دا ضمیر په اعتبار د اعراب (او مراد په اعراب سره اعراب محلي دے) سره په درے قسمه دے.

مرفوع و منصوب و مجرور | ځکه چه دے قائمودے په مقام دظاهر باندے اؤاسم ظاهر منقسم دے دے دریو اقسامو ته خو په اسم ظاهرکښې اعراب لفظی دے اؤ یا اعراب تقدیری دے سوال داده چه داخو تقسیم دضمیر دے پس د تقسیم نه جواب دا تقسیم په نظر سره اعراب ته دے او بلے تقسیم سره اعتبار د مرجع سره او هغه پسے دوئلو تقسیم په نظر سره ما قبل ته دے نو دا ضمیر په اعراب د محلی سره منقسم دے اقسام ثلاثه ته وته چه مرفوع اؤ منصوب اؤ مجرور دے سوال داده چه تقسیم د ضمیر مرفوع منصوب اؤ مجرور ته نه صحیح کیږی ځکه چه دا اقسام د اسم معرب دی اؤ ضمیر مبنی دے . جواب دا دے چه تقسیم دے اقسامو ته د وجے د قیام د دے نه په مقام د اسم ظاهر چه هغه منقسم دے دے اقسام ثلاثه ته .

فالاولان | پس اولنی یعنی مرفوع اؤ منصوب دا په دو قسمه دی .

متصل و منفصل | یعنی هر واحد د دے دواړو نه یو متصل دے اؤ بل منفصل .

والثالث متصل فقط | اؤ دریم چه مجرور دے دے متصل دے فقط نه منفصل ځکه چه مجرور د جار نه منفصل نه موجود یږی . په کلام د عربو کښې قیاس خو دا تقاضا کوی چه هر واحد د ضمیر د متکلم د مخاطب اؤ د غائب نه دا د په شپږ قسمه اوګرځی نو مجموعه د نونښی الفاظ شی چه دال په نونښی معانیو باندے ولے مخاتو د متکلم د پاره دوه لفظه راوړل چه دا دال دی په شپږو معانیو باندے . اود مخاطب د پاره ئے پنځه الفاظ راوړل چه دال دی په شپږو معانیو باندے . اود غائب د پاره ئے پنځه الفاظ راوړل چه دال دی په شپږو معانیو باندے ځکه چه تثنیه په دے کښې مشترکه ده پس نو مجموعه شپیته الفاظ شو چه دال دی په نونښی معانیو باندے .

فذالك خمسة انواع | پس دا ضمیر په پنځه قسمه شو . په نظر سره اتصال اؤ انفصال ته .

فالاول ضربت وضربت الی ضربن و ضربن | نوعه اول د انواعو د مضمر نه چه هغه ضمیر د مرفوع متصل دے ضمیر په ماضی معلوم اؤ

په ماضی مجهول کښې. لکه ضَرَبْتُ ضَرَبْنَا. ضَرَبْتَ ضَرَبْتُمَا ضَرَبْتُمْ ضَرَبْتِ ضَرَبْتُمَا ضَرَبْتُنَّ ضَرَبَ ضَرَبَا ضَرَبُوْا ضَرَبَتْ ضَرَبَتَا ضَرَبْنَ. ضُرِبْتُ ضُرِبْنَا الخ

سوال دا دے چه مصنفؒ ولے مخالفت کړیدے د اصطلاح د صرفیانو نه ځکه چه هغوئ د غائب نه شروع کوی. او دهٔ د متکلم نه شروع اوکړه. جواب دا دے چه صرفیان بحث د صیغے نه کوی او صیغه د غائب اصل دهٔ په نسبت سره متکلم او مخاطب ته. ځکه چه په صیغه د غائب کښې زوائد نشته او نظر د نحوی هغه بحث دے د ضمیر نه او ضمیر د متکلم اصل دے په نسبت سره مخاطب او غائب ته سوال واردیږی چه الاول مبتداء دهٔ او ضربت خبر دے خبر چونکه محمول وی په مبتداء باندې نو دا حمل نه دے صحیح ځکه چه اول عبارة دے د ضمیر نه او ضربت خو ضمیر نه دے. جواب دا دے چه دلته په عبارة کښې تقدیر دے. اصل عبارة دا دے چه الاول ضمیر ضربتُ.

الثانی انا الی هن | نوع ثانی د انواع خمسه د اعراب نه هغه ضمیر مرفوع منفصل دے. لکه انا نحن الخ.

الثالث ضربنی الی ضربهنَّ | دریم قسم چه منصوب متصل دے دا په دوهٔ قسمه دے یو هغه دے چه متصل وی په فعل پورے. لکه ضربنی نه تر ضربهن پورے او دویم هغه چه متصل وی په حرف پورے. لکه اننی تر انهن پورے.

والرابع ایای الی ایاهن | او څلورم قسم د انواعو د مضمر نه هغه منصوب منفصل دے. چه ابتداء ئے په ایای دهٔ او انتهاء ئے په ایاهن دهٔ. او دے نوعے ته منصوب وائی په دے وجه چه دا واقع دے. په مقام د اسماء منصوبه باندې او منفصل په دے وجه چه دا د خپل عامل نه منفصل دی.

الخامس | پنځم قسم چه هغه مجرور متصل دے دا په دوهٔ قسمه دے یو هغه دے چه دے متصل وی د اسم سره او دویم هغه دے چه متصل وی د حرف سره چه متصل وی د اسم سره لکه غلامی نه تر غلامهن

پورے اؤ چه منفصل وی د حرف سرہ لکه لی اؤ لهن په دے تو لوکښې تر نه د غه ضمائر مراد دی۔ زد ه کړه دا خبره چه په ایای کښې اختلاف دے په مابین د نحاتو کښې۔ خو مختاره مذهب د سیبویه دے هغه وائی چه ضمیر هغه ایا دے اؤ لواحق دے په آخر کښې دپاره د دلالت په مرجع راغلی دی چه هغه متکلم مخاطب اؤ غائب اؤ افراد اؤ تثنیه جمع مذکر اؤ مؤنث دی۔

فالمرفوع المتصل خاصة یستتر پس ضمیر مرفوع نه مجرور یا منصوب متصل نه مرفوع منفصل دا به مستتر کیږی بالخصوص

حکه چه ضمیر مرفوع متصل کا لجزء دے د فعل نه لفظاً او معنیً۔ هرچه دے لفظاً هغه په دے شان سره چه هرکله اتصال د ضمیر بارزه او شی د فعل سره نو لام کلمه ساکنه کرځولے شی۔ دپاره ددے چه توالی د اربع کلماتو رالشی فیما هو کالکلمة الواحدة اوهرچه دے معنیً هغه په دے وجه چه فعل موقوف دے په ده باندې۔ په دے وجه باندې جائز دے په دے کښې استتار حکه چه دے اخصر دے اؤ هرچه دے ضمیر مرفوع منفصل یا منصوب اؤ مجرور نو دوئ کا لجزء نه دی د فعل نه۔ ولے دا استتار په ټولو صیغو کښې نه دے بلکه د فعل ماضی په دوو صیغو کښې۔ لکه چه مصنف رحمه الله وائی۔

فی الماضی للغائب والغائبة یعنی په صیغه د فعل ماضی واحد مذکر غائب اؤ په صیغه د واحده مؤنثه غائبه کښې په حال دکون ددوی کښې چه مسند نه وی اسم ظاهر ته۔ اؤ په پنځو صیغو کښې دفعل مضارع به مستتر وی لکه چه فرمائی۔

وفی المضارع للمتکلم مطلقاً یعنی په فعل مضارع کښې په حال دکون ددے کښې چه دا کا ئنه وی دپاره د متکلم برابره خبره ده چه واحد متکلم وی که جمع متکلم وی۔ مذکر وی که مؤنث وی۔

والمخاطب په صیغه د واحد مذکر مخاطب۔

والغائب والغائبة اؤ د غه شان استتار د ضمیر به راغلی وی په صیغه د واحد مذکر غائب اؤ په صیغه د واحده مؤنثه

د فعل مضارع کېږي.

وفي الصفة مطلقا | اؤ دغه شان استتار د ضمير به راغلی وی په صفت کېږي مطلقًا برابره خبره ده چه اسم فاعل وی یا اسم مفعول وی صفت مشبه وی که اسم تفضيل کر صيغه د مفرد وی یاد تثنيه وی یاد جمع وی مذکر وی که مؤنث وی په حال دکون د دوی کېږي اسناد ته نه وی راغلے اسم ظاهر ته. سوال واردېږي چه په يضربان او يضربون باندې د ضاربان اؤضاربون قياس شي اؤ د الف اؤ واؤ د ضميرېږي شي جواب دا دے چه دوی ضمير نه وی که ضمير بي وو نو بيا به نه بدليدل سبب اختلاف د عواملو سره اؤ د وی مختلف کيږي. سوال واردېږي چه ضمير خو نه مختلف کيږي. هو نن دکورو چه هر په ما باندې بد ليږي لکه انه مرېبۀ يا داعه نوذ ضمائر چه تېه يلې پکښ راغلي وی. جواب دا دے چه عدم تغير په وخت د علم د تغير د عامل کېږي. بيا سوال راځي چه کله تغير د عامل راغلے وی لکه جاء في الضاربات رأيت الضاربين مررت بالضاربين جواب دا دے چه په دے مثالونو کېږي تغير د عامل د عامل د ضمير راغلے دے اؤ هر چه دے عامل د ضمير هغه په خپل حالت باندې قائم دے ځکه چه اسناد ئے راغلے دے ضمير ته اؤ ضمير په خپل حال دے. چه هغه رفع ده بنا بر فاعليت برابره خبره ده چه صفت مرفوع وی که منصوب وی اؤ که مجرور وی. زده کړه دا خبره چه مراد په عدم اختلاف سره په مبني کېږي عدم اختلاف د وصف دے چه هغه حرکت اؤ سکون دے اؤ هر چه دے ذات نو هغه مختلف کيږي. اصل مطلب اؤ مقصد د ضمائرو نه هغه ايجاز اؤ اختصار دے. اؤ ضمير متصل اخصر دے د منفصل نه نو تر څو پورے چه امکان د متصل وی نو منفصل ته به ضرورت نه کيږي ځکه مصنف اوفرمائيل چه!

ولا يسوغ المنفصل | جائز نه دے راوړل د ضمير منفصل برابره خبره ده چه مرفوع وی که منصوب د لتر کېږي سوغ په معنی د جواز باندې دے.

الا لتعذر المنفصل | مګر روادی راوړل د ضمير منفصل چه کله متعذر

اوګرزی ضمیر متصل اوُ ما تعذر متحقق کیږی به امور ستّة وُ کښ ـ یعنی په دے ځایونوکښ به ضمیر متصل نه شی راوړ لے کیدے۔

ذالك بالتقديم على عامله یو په دے کښ تقدیم د ضمیر دے په خپل عامل باندې ۔ ځکه چه اتّصال راځی په آخر د عامل پورے نه اول پورے۔

او بالفصل لغرض یا تعذر د اتّصال راغلے وی د وجے د فصل نه په مابین د عامل اوُ د ضمیر کښ د پاره د یو غرض چه دا غرض نه حاصلیږی بغیر د فصل نه اوُ منافات دے په مابین د انفصال اوُ اتّصال کښ۔ اس کجرته دلته کښ اتّصال اوشی نوهغه غرض به فوت شی۔

او بالحذف یا په حذف د عامل د ضمیر سره دلته کښ الف لام بدل د مضاف الیه نه دی ۔ یعنی بحذف عامل الضمیر ۔ دلته کښ به ضمیر منفصل راوړ لے شی ۔ ځکه چه ما یتصل به الضمیر المتصل معدوم دے۔

او بكون العامل معنويا یا وی عامل د ضمیر معنوی نو هلته به ضمیر منفصل راوړلے شی ځکه چه اتّصال د ضمیر متّصل عامل معنوی پورے محال دے۔

او بكون عامله حرفا یا دا عامل د ضمیر حرف وی۔

والضمير مرفوع اوُ ضمیر چه معمول دے دا مرفوع وی نو دلته کښ ضمیر مرفوع متّصل متعذر دے اتّصال لہٰ د حرف سره ۔ ځکه چه دا خلاف دے د وضع د عرب نه ۔ ځکه چه په دغه صورت کښ اتّصال دقوی راغلے دےپه ضعیف پورے اوُ دا باطل دے بخلاف د منصوب نه چه هغه جائز دے لكه انك او انني

اَوْ مسندا اليه یا اسناد را غلےوی دے ضمیر ته۔

صفة جرت على غير من هي له د صفت هغه صفت چه جاری وی په غیر د خپل موصوف نه په دے صورت کښ چه کجرے موږ نه

انفصال اونکړو نو بیا به التباس راشی په بعضو صورتونو کښې د بعضوسره لکه زید عمرو ضاربه هو او پس د انفصال نه التباس نه لازمیږی او صورت د عدم التباس ورباندې حمل شو طردًا للباب دلته کښې سوال واردیږی چه د انفصال په صورت کښې هم التباس راځی لکه زید عمرو ضاربه هو کښې. هو چه څنګه صالح دے د پاره د زید د غه رنګ صالح دے د پاره د لعمرو جواب دادے چه د انفصال په صورت کښې التباس نه لازمیږی ځکه چه کله انفصال راغے. خلاف القیاس د ضمیر. نو معلومه شوه چه مرجع به ئے هم خلاف القیاس وی. او هغه مرجع بعید ۲ دے. دلته په دے عبارت کښې اګرچه مَن راوړے شوے دے چه دا راځی د ذوی العقولو د پاره. لیکن دلته کښې دا غیر ذوی العقولو له هم شامل دے. او مَن ئے د وجے د شرافت نه ذکر کړے دے.

مثل ایاک ضربت | دا مثال د تقدیم د ضمیر دے په عامل باندې.

ما ضربک الا انا | مثال د هغه دے چه فصل راغلے وی د پاره د غرض هغه تخصیص دے.

ایاک والشر | مثال د حذف د عامل دے اصل عبارت دادے چه اتق نفسک والشر.

انا زید | مثال د هغے دے چه عامل پکښې معنوی وی.

ما انت قائم | مثال د هغے دے چه عامل پکښې حرف وی.

هند زید ضاربته هی | دا مثال د هغه ضمیر دے چه اسناد ورته د صفت راغلے وی جرت علی غیر من هی له په دے مثال کښې هند مبتداء دے زید مبتداء ثانی ضاربته خبر د مبتداء ثانی هی فاعل د ضاربته. او د ضاربته اسناد هی ته راغلے دے او هی جاری دے علی غیر من هی له باندې ځکه چه ضاربته خبر د زید او فاعل ئے هند دے او دا جمله په محل د رفع کښې ده ځکه چه دا خبر د مبتداء اول دے.

سوال دادے چه دا مثال خو به هله صحیح کیږی چه هی فاعل د پاره د صفت

شي اؤحال دادے چه جائز دا داخبره چه دا دِ تاكيد شي دپاره د هغه ضمير چه مستتر دے په صفت كښې. لكه عرب وائي نحن الزيدون ضاربوهم نحن. **جواب** دا دے چه علامه زمخشري په مثال كښې دا سے وائي چه ضاربهم نحن دے نه معلومه شوه چه دا فاعل دے تاكيد نه دے. **سوال** دا دے چه څه وجه ده چه مصنف صورت دعدم التباس ذكر كړو. **جواب** دپاره د دے چه صورت د التباس كښې حكم به طريق اولىٰ سره ثابت شي.

واذا اجتمع الضميران ليس احدهما مرفوعا اؤ په هغه كښې چه اجتماع د دوو ضميرونو راشي اؤ يو په هغوي كښې مرفوع نه وي ځكه چه كه چرے يو مرفوع وي نو بيا لازم دے اتصال د ضمير ثاني په فعل پورے ځكه چه ضمير ثاني كالجزء دے د فعل نه يا فعل نه دے متحقق شوے په فعل اؤ په ضمير ثاني كښې. په دے احتراز راغے د اكرمتك نه ځكه چه په دے كښې يو ضمير مرفوع راغلے دے.

فان كان احدهما اعرف كه چرته په دے كښې يو اعرف وي. په دے سره احتراز دے د هغه نه چه متساويين وي لكه اعطاها اياها. په دے كښې واجب دے انفصال على الاصح دپاره د دے چه لازمه نه شي ترجيح بلامرجحه.

وقدمته فلك الخيار في الثاني په دے سره احتراز راغے د هغه نه چه اعرف مؤخر وي لكه اعطيته اياك په دے صورت كښې هم انفصال واجب دے

نحو اعطيتكه واعطيتك اياه دا مثال د خيار دے كه انفصال كوے كه اتصال كوے اتصال د دے وجے نه چه نظر اوكړے لفظ د اول وته. اؤ انفصال د دے وجے نه چه نظر اوكړے معنى د اول وته.

وضربيك وضربي اياك په اعطيتكه كښې ك ضمير د مخاطب دے چه دا اعرف دے اؤ روستو ورپسے ضمير د غائب دے په ضربيك وضربي اياك. ضمير د متكلم اؤ د مخاطب دے په دوئ كښې ضمير د متكلم اعرف دے. والا اؤ كه چرته په دوئ كښې يو اعرف نه وو يا

اعرف خو موجود وو ولې تامقدم کړې نه وو.

فهو منفصل نو په دغه صورة کښې به انفصال وی. په اول صورة کښې په دې وجه چه لازمېږي ترجيح ديعدم مثلينو په کلمه واحده کښې حکمًا او په دې دويم صورت کښې په دې وجه چه لازم نه شي تقديم د اضعف په اقوی په کلمه واحده کښې حکمًا. لکه اعطيته اياه يا اعطيته اياك.

والمختار في خبر باب كان الانفصال مختار په خبر د باب کان کښې انفصال د ضمير دې لکه ته اووائې زيدٌ قائمٌ وكنت اياه ماځکه چه خبر د کان په اصل کښې خبر د مبتداء دې او خبر د مبتداء چه کله ضمير وی واجب دې انفصال ئې ځکه چه عامل ئې معنوی دې او پس د دخول د کان نه دې مشابهه اوګرځيدو د مفعول سره په واقع کيدو د دې کښې پس د مرفوع متصل نه او ضمير د منصوب پس د ضمير د مرفوع نه واجب الاتصال دې نو په مشابهة کښې د دې سره اګرکه اتصال واجب نه دې ولې جائز خو دې ليکن مختار په دې کښې انفصال دې ځکه چه رعايت د اصل اولی دې د مشابهت نه

والاكثر لولا انت الى آخرها پس د لولا نه چه کوم ضمير راشي په هغې کښې انفصال دې په اکثر استعمال کښې. ځکه چه ما بعد د لولا نه مبتدا محذوف الخبر دې او مبتدا چه کله ضمير وی نو دا واجب الانفصال وی. په دې وجه ئې روستو د لولا نه انت ضمير منفصل راوړلو. او د عسی نه روستو ضمير متصل راوړې شي. ځکه چه د عسی نه روستو فاعل راځي او ضمير مرفوع فاعل واجب الاتصال وی ځکه ئې

وعسيت اووئيل. د دې کښې سوال وارديږی چه مصنف له پکار وه چه دا ئې وئيلی وو لولا انت وعيت الى آخرها لکه چه ځنګه روستو وائي لولاك وعساك الى آخرها. جواب دا دې چه دلته کښې تغاير د ضميرونو راغلي دې په اتصال او په انفصال کښې او په مابعد کښې اتحاد دې په اتصال کښې هلته کښې ئې ځکه غايه يو راوړې دې.

وقد جاء لولاك وعساك الى آخرها لولاک او په عساک کښې دوه مذهبه دی يو مذهب د اخفش دې او بل

مذهب د سیبویه دے په نزد د اخفش باندې ما بعد د لولا نه ضمیر مجرور واقع دے په مقام د مرفوع کښې. ځکه چه ضمائر د یو بل په ځائے باندې واقع کیږي او د سیبویه په نزد لولا په دے مقام کښې حرف جر دے او ما بعد د دے مجرور په خپل ځائے باندې واقع دے. او ما بعد د عسیٰ نه ضمیر منصوب دے په نزد د اخفش چه واقع دے په موقع د مرفوع او عسیٰ محمول دے په لعلّ باندې ځکه چه دواړه په معنیٰ د اُمید کښې متقارب دي. په نزد سیبویه باندې او ما بعد د دے نه ضمیر منصوب دے چه واقع دے په خپل مقام کښې. خلاصه د اختلاف دا ده چه اخفش تصرف په معمول کښې کوي او سیبویه تصرف په عامل کښې.

په ضمائرو کښې یو یاء هم ده چه دا راځي د پاره د واحد متکلم او د دے الحاق د آخر د فعل پورے کیږي. د دے خاصه دا ده چه د دے نه مخکښې نون وقایه راځي. د پاره د دے چه آخر حرکت د هغه فعل ملحق به هغه محفوظ شي. لکه مثلاً ضرب پورے یٓ ملحق کړے شي بغیر د نون وقایه نه. نو ضَرَبِيْ به او کړي د باحرکت د یاء د وجې نه په کسرے بدل شي او چه هر کله ورسره نٓ وقایه ملحق شي نو د باء حرکت د فتحې به محفوظ شي او بله وجه دا ده چه کېږي نه و یاء د وجې نه ورباندې کسره راشي. نو کسره داخو خاص ده په اسم پورے. ځکه مصنف اووئیل

ونون الوقاية مع الياء لازمة في الماضي	د نون اضافت وقایه ته دا د قبیلے د اضافت د سبب نه مسبب ته دے. وقایه په معنیٰ د حفاظت سره راځي
وفي المضارع عريا من نون الاعراب	او په آخر د مضارع پورے هم الحاق د دغه نون وقایه راځي ولے په حال د کون د دے مضارع کښې

چه خالي وي د نون اعرابي نه. د پاره د دے چه آخر د فعل مضارع دا محفوظ اوکړي د کسرے نه چه دا خاص ده په اسم پورے. او په تضربین کښې چه کوم کسره راغلے ده دا په وسط کښې راغلے ده ځکه چه په دے کښې یاء ضمیر د فاعل دے. او دا کالجزء دے د کلمے نه. سوال دا دے چه لم یکن الذین کفروا کښې لم یکن فعل دے او په آخر کښې ئے کسره راغلے دے. جواب دا دے چه دا عارضي ده او د عوارضو اعتبار نشته. ځکه دا د قبیلے د الساکن اذا حرک حرك بالکسر نه ده.

سوال دا دے چه کسرہ د ما قبل د یاء د متکلم نه هم عارضی دہ پکار دادہ چه په دے باندې نون د وقایه را نشی۔ جواب دا دے چه عروض په دوہ قسمه دے یو د جهته د ممتنع نه دے او هغه التقاء د ساکنینو دہ او بل د جهته د امر منا سب نه او هغه اقتضاء د یاء دہ کسرے د ما قبل لرہ پس اولنی عروض معتبر دے لکه په لم یکن الذین کفروا کښې او ثانی غیر معتبر دے لکه په ماضی کښې۔

وانت مع النون الاعرابية فيه ولدن وانّ واخواتها مخيّر	او تاته اختیار دے په لحوق د نون وقایه کښې د هغه صیغو سرہ چه په هغې کښې نون اعرابی دے۔

او د هغه شان په لدن او د حروف مشبهه بالفعل پورے الحاق د نون وقایه کښې اختیار دے د پارہ د حفاظت د حرکت بنائی سوا د لدن نه۔ او که لحوق د نون وقایه نه کوے لو هم اختیار دے د پارہ د دے چه اجتماع د نونا تو لازم نشی اګر که حکما وی لکه په لعل کښې۔ ځکه د لعل په آخر کښې خو نّ نشته ولے لام قریب دے نون وته په مخرج کښې سوال دا دے چه په لعل کښې خو لام قریب المخرج دے نون سرہ ولے لیت کښې خو نّ نشته بلکه تاء دہ چه دا قریب المخرج نه دہ۔ نون وته پکار دادہ چه الحاق د نون د ورسرہ او شی۔ جواب دا دے چه د لیت حمول کړے شوے دے۔ په خپلو اخواتو باندې

ويختار في ليت ومن وعن وقد و قط	او مختار دے لحوق د نون وقایه په لیت کښې ځکه چه څه مانع نشته دے او حمل په اخواتو باندې خلاف الاصل دے او په من عن قط او قد کښې هم مختار دہ

لحوق د نون دے د پارہ د محافظت د سکون چه هغه اصل دے په بناء کښې۔

وعكسها لعل	او د دے په عکس باندې لعل دے۔ د وجے د ثقل د تضعیف او د

کثرة حروفو د وجے نه ترک د نونانو چه ځکه مختار دہ په لعل کښې دے د هغه شان په کانّ او لکنّ کښې هم دے لیکن مصنفؒ هغه ذکر نه کړہ۔ او اکتفاء ئے او کړہ په لعل باندې۔ ځکه چه په لعل کښې هر کله اختیار د ترک دے۔ سرہ د دے نه چه په دیکښې تضعیف حکما دے۔ نو په کانّ کښې خو په طریقه اولی ترک پکار دے ځکه چه هلته کښې تضعیف حقیقتا دے قرآن پاک کښې ارشاد دے۔ یلیتنی مت قبل هذا

یٰلیتنی لم اوت کتابیه . لعلی اعمل صالحا الآیة.

ویتوسط بین المبتداء والخبر قبل العوامل و بعدھا

او د مبتداء او خبر په ما بین کښې مخکښې د عواملو او روستو د عواملو نه متوسط کیږی.

صیغة مرفوع منفصل مطابق للمبتداء

ضمیر د مرفوع منفصل چه هغه به موافق وی د مبتداء سره په افراد تثنیه او جمع کښې دغه شان په تذکیر په تکلم په تخاطب او په غیبة کښې د پاره د دے چه مطابقت راشی په ما بین د راجع او مرجع کښې. سوال دادے چه د مص" په عبارت کښې استدراك دے. ځکه چه توسط خو په بین بانډې دلالت کوی نو د بین راوړلو ضرورت نه وو جواب دادے چه دلته کښې د توسط په معنی کښې مونږ تجرید کړیدے. او دا به په معنی د وقوع داخلو او یا دا بین ئے د پاره د تاکید د توسط ذکر کړیدے پیا سوال واردیږی چه اطلاق د مبتدا او د خبر مخکښې د عواملو لفظیه نه حقیقت دے ولے پس د داخلید و د عواملو لفظیه نه مجاز دے او دایه په اعتبار د ماکان وی پس لازمیږی جمع په مابین د حقیقت او د مجاز کښې. جواب دادے چه داجمع په اعتبار د عموم مجاز ده چه د مبتداء نه مراد مسند الیه دے او د خبر نه مراد مسند دے یا دا چه مص" مالکی المذهب دے. د هغوی په نز بانډې جمع بین الحقیقة والمجاز کښې جائز ده. سوال دادے چه مص" صیغه مرفوع اوے او ضمیر د مرفوع ئے او نه ویل جواب دادے چه په ضمیر دے کښې اختلاف دے. او دلته کښې فصل مپاته صورت د ضمیر اختیارکړے شو. د پاره د دے چه په دے گمان د صفت اونکړے شی. ځکه چه ضمیر نه صفت واقع کیږی او نه موصوف او ضمیر د مرفوع ئے راوړو ځکه چه دده مناسبت شته دے د طرفینو سره او منفصل ځکه چه دده اتصال نشته دے د عامل سره.

ویسمی فصلا لیفصل بین کونه نعتا وخبرا

د پاره د دے چه فرق راشی په ما بین د خبر او د نعت کښې که چرته په هغوی کښې صلاحیة وی لکه زید هوالقائم یا لکه کنت انت الرقیب علیهم والله هو الغفور الرحیم. علمت زیدا هوالقائم. ما زید هوالکریم. او په هغه ځایونوکښې

چرته چه التباس نه وی نو هلته هم دا ضمیر راوړ لے شی.

وشرطه ان یکون الخبر معرفة اؤ شرط د دے فصل دا دے چه خبر معرفه وی ځکه چه په صورت د تعریف د خبر کښې التباس راځی د صفت سره.

اوافعل من کذا یا دا خبر اسم تفضیل وی چه مستعمل وی په من سره ځکه چه دے ملحق دے د معرفے سره په امتناع د دخول الف ولام کښې په دے باندې اؤ هغه اسم تفضیل چه په لام سره وی یا په اضافت سره وی نو دا داخل دی په معرفه کښې اؤ ذکر د تعریف د مبتداء نے اونکړو. سره د دے چه دا هم شرط دے دا په دے وجه چه دا دے پته د خبر نه لګی چه هرکله خبر معرفه وی نو لا بدی ده د تعریف د مبتداء نه.

مثل کان زید هو افضل من عمرو دلته کښې ئے صرف یو مثال ذکرکړو چه هغه اسم تفضیل مستعمل دے په من سره چه پس د دخول د عواملو نه وی اؤ د نورو مثالو نه ئے ذکر نه کړل ځکه چه د هغے مثالونه واضح اؤ ښکاره دی. اؤ دا چه مصنف مثال د هغه ذکرکړو چه په هغے کښې التباس نشته نو په صورت د التباس کښې به په طریقه اولیٰ سره دا ضمیر راوړ لے شی.

ولا موضع له عند الخلیل د دے د پاره محل د اعراب نشته په نزد خلیل نحوی باندې ځکه چه دا حرف دے اؤ د حرف د پاره محل د اعراب نشته.

وبعض العرب یجعله مبتداء ومابعده خبر اؤ بعض غاړه دے لره ګرځوی مبتداء اؤ مابعد د دے خبر ګرځوی نو مرفوع وی اؤ کچرته منصوب وی بیا ضمیر د فصل به وی.

ویتقدم قبل الجملة او راوړ لے کیږی مخکښې د جملے نه. دلته کښې سوال راځی چه ذکر د قبل پس د یتقدم نه زائد دے ځکه چه یتقدم په قبلیت دلالت کوی.

جواب دا دے چه معنیٰ د یتقدم کښې مونږ تجرید کړو اؤ یا دا قبل د پاره دتاکید راغلے دے. اؤ دلته کښې تاکید نه په دے وجه ضرورت راغے ځکه چه تقدیم د ضمیر په مرجع یو ناآشنا امر دے نو ضرورت پکښې راغے تاکید ته. اؤ یا دا چه معنیٰ د یتقدم دا ده چه واقع کیږی به مقدم په مرجع باندې اؤ دا په اعتبار د مفهوم سره

اعم دے چه قبل الجملة وی که بعد الجمله وی یا قبل المفرد وی او یا بعد المفرد نو دے و ئیل چه قبل الجملة.

ضمیرغائب یسمّی ضمیرالشان ضمیر د غائب چه هغے ته ضمیر شان وائی. او دا به مذکر وی. او په هغه وخت کښې به مذکر وی چه کله په کلام کښې یا په جمله کښې مذکر وی یا په جمله کښې بیان د مذکر وی.

والقصة او دے ته ضمیر قصه هم وائی چه کله ضمیر مؤنث وی. او دا به په هغه وخت کښې وی چه کله په جمله کښې عمده مؤنث وی یا په جمله کښې بیان د مؤنث وی. حاصل د خبرے دادے چه د ضمیر نه روستو چه کومه جمله ذکر کیږی دا به خالی نه وی یا به پکښې بیان د حال د مذکر وی فقط او یا به د مؤنث وی فقط. او یا به د دواړو وی کېږته اول وی هغے ته ضمیر شان وائی او که دویم وی هغه ته ضمیر قصه وائی لکه هو زید قائم. او هی هند قائمة. او کېږته دریم قسم وی نو بیا به خالی نه وی یا به عمده پکښې مذکر وی او یا به مؤنث وی که اول وو نو ضمیر شان او که دوئم وی نو ضمیر قصه لکه هو ضرب زید هندًا. او کېږته دویم وو نو ضمیر قصه لکه هی ضربت هندٌ زیدًا. سوال دادے چه یسمّی ضمیر الشان والقصة دا صفت دے دپاره د غائب. او اصل په صفاتو کښې احتراز دے نو پکار دا ده چه دا قید دے داخل شی په بیان د دے قاعدے کښې. جواب دادے چه یسمّی ضمیر الشان والقصة دا جمله معترضه ده راوړے شوے ده دپاره د بیان د واقعے. او په بیان د قاعدے کښې داخله نه ده ځکه چه دا حکم ثابت دے مطلقا برابره خبره ده چه دا تسمیه ئے وی او که نه وی. او د غه مثان لازمیږی استدراك د دے قول چه یفسر بالجملة بعده ځکه چه دارا غلے دے دپاره د خروج د ما عدا د ضمیر الشان دپاره. سوال دادے چه دا قاعده منقوضه شوه په دے قول چه الشان هو زید قائم ځکه چه دا ضمیر د غائب دے چه واقع شوے دے مخکښې د جملے نه او مفسّر دے په جملے سره او حالانکه دا ضمیر شان نه دے. جواب دادے دا پکښې نه دے داخل ځکه چه دے راجع دے شان ته او حالانکه د دے ضمیر دپاره مرجع نه وی. زده کړه دا خبره چه دپاره د ایراد د ضمیر شان څو شرطونه دی. اول دا دے چه دے به په هغه جمله کښې

راځئ چه حکم پکښې معظم وی. دد ے شرط فائده دا ده چه هو زید قائمٌ نه شي وئیلے کیدے. چه کله قیام د زید حکم عظیم نه وی. او دا شرط ځکه راوړے شو چه هر کله په دے کښې حکم عظیم وی. نو لابدی ده پکښې د ایراد د دے ضمیرنه چه دلالت اوکړی په تعظم د حکم باندِ په ذکر د هغه سره مرتین یو ځل به اجمالي شي او په دویم ځل په تفسیر شي. دویم شرط دا دے چه دے به متقدم وی په جملے باندِ ځکه چه دے راځئ د پاره د تعظیم د حکم او حکم په جمله کښې وی په مفرد کښې نه وی. دریم شرط دا دے چه دا به ضمیر د غائب وی ځکه چه متکلم او مخاطب دا مبهم نه وی. څلورم شرط دا دے چه د دهٔ تفسیر په جملے سره وی د وجے د ابهام نه.

ویکون متصلا ومنفصلا مستترا وبارزا علی حسب العوامل او دے به متصل وی او منفصل مستتر به وی او بارز په حسب د تقاضا د عواملو مختلفه سره ځکه چه عامل د دے به یا صالح د پاره د اتصال وی یا نه. که نه وی نو منفصل او که چرته صالح وی د پاره د اتصال نو بیا به یا قابل د استتار وی یا به نه وی که ثاني وو نو بارز او که اول وو نو مستتر.

مثل هو زید قائم مثال د پاره د منفصل.

او کان زید قائم مثال د پاره د متصل مستتر.

انه زید قائم مثال د متصل بارز.

وحذفه او حذف د ضمیر شان سره د بقاء د ده نه په نیت کښې.

منصوبا ضعیف چه منصوب وی مرفوع نه وی ضعیف دے یعنی جائز دے سره د ضعف نه هرچه سره جواز هغه په دے وجه چه دے واقع شوے دے په صورت د فضلے باندے. او هرچه دے ضعف هغه په دے وجه چه دلته کښې حذف د هغه ضمیر راغلے دے. چه هغه مراد دے بے له دلیل نه.

سوال: دا دے چه دلیل په دے باندِ خبر دے ځکه چه خبر بغیر د مبتدا نه نه راځئ
جواب: دا دے چه خبر کلام مستقل دے. دے دا تقاضا نه کوی چه د ده ارتباط راغلے

وی په غیر پورے۔ مثال ئے لکه دا قول د شاعر شو۔ چه ان من یدخل الکنیسة یوما یلق فیها جارزا وظباء۔ دلته کښې حذف را غلے دے دوجے د وجود د قرینے نه چه هغه دخول د انّ دے په شرط باندې ځکه چه انّ نه دا خلیږی په شرط باندې۔ نو معلومه شوه چه اسم ددهٔ محذوف دے چه هغه ضمیر شان مقدر دے الّا مع ان جائز دے په جمیع اوقاتو کښې مکسوره دانّ نه۔

اذا خففت چه کله مخفف کړے شی۔

فانه لازم په دغه وخت کښې لازم دے جائز نه دے۔ لکه وآخر دعواهم ان الحمد لله رب العلمین۔ ځکه چه اعمال دانّ المذکورة دا موجود دے په کلام دعربو کښې۔ ځکه چه په انّ کښې تخفیف کولے شی۔ دوجے د ثقل د تضعیف نه لکه په دے قول دباری تعالی کښې و ان کلّا لما لیوفینهم۔ اؤ اعمال دانّ مفتوحه نه دے موندلے شوے په کلام د عربو کښې نو فرض کړے شو عمل ددهٔ په ضمیر شان مقدر کښې دپاره ددے چه زیادت دفرعے را نشی په اصل باندې۔ ځکه انّ مفتوحه اصل دے اؤ مکسوره فرع ده۔ سوآل دادے چه مزیة وفرع په اصل باندې راغلے دے په دے شان سره چه ان مکسوره په ظاهر کښې عمل کوی۔ اؤ مفتوحه په مقدر کښې۔ اؤ عمل په مقدر کښې دا اسهل دے د عمل نه چه ظاهر کښې جوآب دا دے چه ان مفتوحه عامل دے په مقدر کښې دوامًا او لزومًا اؤ ان مکسوره عامل دے په ملفوظ کښې احیانا وجوازًا۔ اؤ عمل په مقدر کښې دوامًا لزومًا اولی دے د عمل نه په ملفوظ کښې احیانًا جوازًا۔

اسماء الاشارة ما وضع لمشار الیه دا هغه اسم دے چه وضع شوے وی دپاره د معنی هغه معنی چه مشار الیه وی په اشاره حسیه سره په اعضاء اؤ جوارحو سره وی حقیقة وی که حکمًا۔ سوآل وارد یږی چه ستا دا تعریف جامع نه دے خپلو افرادو له اؤ مانع نه دے د دخول د غیر نه هر چه دے عدم جمعیة هغه په دے چه خارج شو دینه اسم اشاره ځکه چه دے دا افرادو د محدودنږی خو داخل نه دے په محدود کښې ځکه چه دے غیر موضوع دے دپاره د معنی مشار الیه او هر چه دے عدم منعیة هغه په دے چه داخل شو په کښې لفظ د مشار الیه ځکه چه دے وضع شو یدے د پاره د مشار الیه سره

دد يئه داد محد ود نه دے. جواب داد ے چه مراد په اسماد اشارة سرہ هغه دي چه
هغه شيبے کيږي په مبنيا ترکيب. نو دد ے په خروج باندې څه نقصان نه راځي.
سوال داد ے چه ستا دا تعريف مستلزم د ے دور لره. او د غه شان تعريف د اسم اشارے
په مشار اليه سره دا تعريف بنفسه د ے. د تعريف بنفسه وجه داده چه معرفة د محدود
موقوف د ے په معرفه د جميع اجزاء د حد باندې او بعض د هغې نه مشار اليه د ے
او مشار اليه دا مشتق د ے دا اشارے نه. او معنی د مبادو ملحوظ وی په مشتقاتو
کښې. نو تعريف د اشارے راغے په اشارے سره. او هرچه دور دا خبره چه دا تعريف
مستلزم د ے دور لره هغه په د ے وجه چه معرفة د اسم اشارے موقوف د ے
په مشار اليه باندې او معرفت د مشار اليه موقوف د ے په اسم اشارے باندې.
جواب داد ے چه اشارے نه مراد په جانب د محدود کښې اصطلاحی او په حد کښې
لغوی معنی مراد ده. پس جهتونه بدل شو. نو دور لازم نه شو. سوال داد ے چه
ما نه څه نه عبارت د ے کوم نه عبارت شي دا سم نه صحيح د ے ارجاع د ضمير د وضع
ده ته. ولے صحيح شو د ے حمل په اسماد باندې ځکه چه لوزمين ي حمل د واحد په جمع
او کوم ته کښې د ے نه مراد اسماء شي نو حمل خو به صحيح شي ليکن صحيح نه د ے ارجاع
د ضمير د واحد متعدد ته. جواب داد ے چه کلمه د ما عبارة د ے د اسماد نه. او افراد
د ضمير د وضع په اعتبار د ما تاويل سره د ے او تاويل به شي د کل واحد منهما او يا دا
چه کلمه د ما عبارة د ے د جنس اسم نه.

لمشار اليه يعنی د پاره د معنی د مشار اليه چه هغه مدلول خارجي د ے نه لفظ. د
مشار اليه په اشارے حسيه سره نه ذهنيه سره مشار اليه حقيقة وی
او که حکماً. هرکله چه مونږ اشارة معتبره کړه په قيد د حسيه سره نو نقض او اعتراض
وارد نه شو په ضمير د غائب سره او په لام د ذهنی سره ځکه چه ما وضع شوے وی. د
پاره د مشار اليه ذهنی. او هرکله چه اشارة حسيه کښې مونږه تعميم اوکړو چه حقيقيه
وی او که حکميه د پاره د د ے چه اعتراض وارد نه شي په مثل د د ے قول د باری تعالی
سره ذالکم الله ربکم. ځکه چه دا د وجه د زيا د ة تمکن نه کرځولے شوے د ے په منزله د محسوس.

وهي ذا للمذکر سوال داد ے چه جار او مجرور چه کله واقع شي په نيو
کلام کښې نو لابدی ده پکښې د اعراب نه. نو د د ے ... ۲۷

اعراب ئحه دے. جواب دادے چه دهٔ ے اعراب د نصب دے بنا بر حالیت. چه دا حال واقع شوے دے د ذآ نه. اعتراض وارد یږی چه حال یاد فاعل نه راځی یا د مفعول نه ذآ خو نه فاعل دے اؤ نه مفعول. جواب دادے چه ذآ منعول مالم یسم فاعله دے دپاره د نعل معنوی چه فهم کیږی د نسبت د خبر نه مبتداء وته نو تقدیر د عبارت به داسے شی یُنسَبُ ذاالی اسماء الاشارة حال کونها کا نُنا للمذکر۔

وللمثناة ذان وذین اؤ د تثنیه د مذکر دپاره ذان اؤ ذین راځی. سوال دا دے چه ذان اؤ ذین معطوف دی په ذا باندې اؤ لمثناة حال دے ددے نه نو په دغه وخت کښې لازمیږی تقدیم د حال په عامل معنوی باندې اؤ دا باطل دے. جواب دادے چه حال ئے مقدم کړو د پارہ ددے چه ضمیر خپل مرجع ته قریب شی. اؤ دا په نزد د اخفش باندې جائز دے. لکه دا مسئله په بخلاف الظرف کښې تیره شوے ده. اؤ دلته کښې تقدیم د معطوف غلط دے په ربط باندې پس لازم نه شو حمل د واحد په متعدد باندې.

وللمؤنث تا وذی سوال دا راځی. چه ددے دپاره خو نور هم لغات دی نو مصنفؒ ولے دا دوارہ مقدم کړل په نورو باندې.

جواب دادے چه دادوارہ متفق علیه دی اؤ دا اصل دی هرچه دے اصالة د دې نه دے تثنیه د تاآن راځی اؤ هر چه دے اصالة د ذی نو د هغه په دے وجه باندې چه دا په مقابله د ذآ کښې دے چه هغه راځی مذکر. وتی وته وذه وذهی وتهی الخ یعنی تنسب الی اسماء الاشارة هذه اللغات حال کونها کا ئنة للمؤنث.

وللمثناة تان وتین یعنی تنسب تان وتین حال کونها کا ئنتین لمثناة اؤ حال ئے مقدم کړو د پاره ددے چه ضمیر مرجع ته قریب شی. دلته

سوال وارد یږی چه اختلاف د ذان اؤ ذین اؤ د تان اؤ تین په اختلاف د عواملو سره څرګندو ښکاره شو بتیږی دا خبره چه دوئ معرب دی اؤ حالانکه دا مبنی ده. جواب دادے چه دا اختلاف په سبب دا ختلاف د عواملو نه دے بلکه ذان اؤ تان موضوع دی د تثنیه د مرفوع اؤ ذین اؤ تین د تثنیه د منصوب اؤ د مجرور دپاره دی. اؤ هرچه دے واقع کیدل ددوئ په صورت د معرب کښې دا اتفاقی دی. دقصد د اعراب دپاره نه دی ځکه چه علت د بنا په دوئ کښې موجود دے لکه چه څنګه په نورو

ممکن دے۔

ولجمعهما اولاء یعنی ینسب الی اسماء الاشارة اولاء حال کونه کائنا لجمعهما اؤ وجه د تقدیم د حال مخکښ ذکر شوے دہ۔

مدا وقصرا په حال د کون دد ے چه ممدود وی اؤ یا مقصور روی دلته کښ به مدا په معنی د ممدودًا اخلو اؤ قصرا به په معنی د مقصورا۔ د پاره د د ے چه لازم نه شی حمل د مرف وصف په ذات باندې ځکه چه حال دا محمول وی په ذوالحال باندې۔

ویلحقهما اؤ داخلیږی په سبیلے د لحوق اؤ د عروض سره په اوّل د اسمائے اشاره کښ په اعتبار د اصالت سره دلته کښ سوال وارد یږی چه الحاق خو په آخر د شی پورے راځی اؤ حرف تنبیهه خو به اوّل پورے ملحق کیږی دد ے اسماؤ. نو تاځکه اوویل چه ویلحقهما الخ جواب دادے چه دلته کښ ذکر د خاص اؤ مراد ترنه عام یعنی ذکر د لحوق اؤ مراد ترنه دخول بیا په سوال راځی چه ابتداءً به د دخول ذکر کړے وو چه ویدخلها جواب دادے چه دخول په سبیلے د لحوق اؤ عروض سره دا نه معلومیږی د لفظ د دخول نه۔

حرف التنبیه د پاره د تنبیهه په مشارالیه باندې مخکښ د تلفظ نه په هغه باندې۔

ویتصل بها حرف الخطاب الخ اؤ متصل کیږی په آخر دد ے پورے حرف خطابی چه هغه کاف خطابی دے د پاره د تنبیهه په حال د مخاطب باندې چه مفرد دے که تثنیه دہ که جمع دہ، مذکر دے که مؤنث دے دلته کښ حرف خطاب ئے اووے او ضمیر د مخاطب ئے اؤ نه وے ځکه چه اسم ظاهر دده په ځائے باندې نه واقع کیږی. دلته کښ سوال راځی چه عدم واقع کیدل د اسم ظاهر په ځائے دیوشی باندې دا تقاضا د حرفیة د هغه نه کوی۔ مثلا د فعل د ضمیر په ځائے اسم ظاهر نه راځی د غه شان د لاتفعل په ځائے باندې۔ جواب دادے چه عدم واقع کیدل د اسم ظاهر په ځائے د مظهر باندې تقاضا د حرفیة کوی په هغه وخت کښ چه بله علامه نه وی په اسمیة باندې. او دلته کښ قرینه موجوده ده چه هغه اسناد دے ده ته۔

وهی خمسة فی خمسة چه هغه پنځو له په پنځو کښ ضرب ورکړے یعنی پنځو ضمیرونو له په پنځو انواعو کښ ضرب ورکړے. قیاس خو دا تقاضا۔

کوله چه شپږ ولره دے په پنځو کښې ضرب ورکړے شی. ولے تثنیه مشترکه ده په مابین دمذکر اؤ دمؤنث کښې په دے وجه باندے د دوو صیغو د پاره یو صیغه راغله.

فیکون خمسة وعشرین | نو حاصل د ضرب به پنځویشت راځی.

وهی | یعنی دا مجموعه چه مشتمله ده په پنځو صورتونو باندې مفرد مذکر چه ملحق شویدے ورپورے حرف خطاب چه ابتدا ئے د واحد مذکر شوے ده اؤ انتهاء ئے په جمع مؤنث مخاطبے باندې راغلے ده.

من ذاك الی ذاکن | چه ذا پورے دا ضمائر ملحق کړے شی.

وذانك الی ذانکن | چه ذان پورے الحاق ددے ضمائرو راشی اؤ دغه شان دا نور.

ویقال ذا للقریب | ځکه چه قلت د حروفو دلالت کوی په قلت د مسافت باندې.

وذالك للبعید | ځکه چه کثرت د حروفو دلالت کوی په کثرت د مسافت باند

وذاك للمتوسط | ځکه چه حروف ددے متوسط دی په مابین د ذا اؤ ذالك کښې. دلته کښې سوال راځی چه ذاك به وروستو د ذا نه ذکر کړے وو د پاره ددے چه موافقت راشی په مابین د وضع اؤ د طبع کښې جواب دادے چه دا وسط مرتبے تعین پس د تصور د طرفینو نه کیږی. سوال دادے چه "مصنف" ولے او وئیل چه ویقال یعنی صیغه د مجهول ئے ذکر کړه. جواب دادے چه هرکله "مصنف" اولیدو کثرت استعمال ددغے کلماتو چه دوئ د یو بل په ځائے استعمالیږی په دے وجه ئے حواله په غیر ورکړه.

وتلك وتانك وذانك مشددتین | یعنی تانك ذانك په تشدید د نون سره.

واولالك مثل ذالك | په افاده د بعد کښې اؤ تالك اؤ تانك اؤ ذانك چه خفیفتین دی. دلته په تشدید د نون کښې اختلاف دے

په نزد مبرد نحوی باندې نون بدل د لام نه راغلے دے ځکه چه اصل ددے تانلك اؤ ذانلك دے. نو دوه قریب المخرج حروف جمع شول. لام په نون باندې بدل شو اؤ بیا اجتماع ددوو حرفو د لو. جنس نه راغله پس ادغام یکښې اوکړے شو. دلته کښې

سوال راځي چه دا ادغام خو مخالف د قاعدې دے ځکه چه هغه قلب د اول دے ثاني وته او د دلته کښې عکس او شو. جواب دا دے چه دا مخالفت په وجه د یو نکتې نه او شو هغه بقاء د نون دے چه دال ئې په تثنیه باندې.

او د مبرد نه علاوه د نورو نحاتو په نز باندې تشدید بدل دے د الف محذوفه نه په واحد کښې ځکه چه الف د ذانك الف د تثنیه دے او الف د واحد محذوف دے د وجه د التقاء د ساکنین نه. او د هغې په عوض کښې نون راوړلے شو او نون په نون کښې مدغم کړے شو.

واما ثمّ وهنا وهنّا فللمکان خاصه دا الفاظ راځي د پاره د مکان خاصه او د زمان د پاره استعمالیږي مجازا. لکه په دے قول د باری تعالیٰ کښې. هنالك الولایة لله الحق. سوال دا دے چه دا اسمائے ولے په تعداد د اسمائے اشاراتو کښې ذکر نه کړل. باوجود د دے نه چه دا هم اسمائے اشاراتو کښې داخل دي. جواب دا دے چه په دے سره مکان ته اشاره کیږي. او نور اسمائے اشارات عام دي. مکان او غیر مکان دواړو ته پرے اشاره کیږي.

فائده کله استعاره د زمان راځي د پاره د تعبیر د مکان او کله استعاره د مکان راځي د پاره د تعبیر د زمان. د تعبیر د مکان د پاره لکه قول د فقهاء کښې مواقیت الاحرام. یعنی مواضع الاحرام. دلته کښې سوال راځي چه مصنف دلته کښې دا حکم په اما سره ولے ذکر کړو. جواب دا دے چه په دے کښې اشاره ده دے طرفته چه دا حکم متفق علیه دے.

الموصول دا اسمائے اشاراتو د تفصیل نه پس مصنف د موصولاتو بیان کوي دلته کښې سوال راځي چه مصنف ولے مخالفت اوکړو د اجمال نه په دے شان سره چه په اجمال کښې ئې موصولات جمع ذکر کړے وے او دلته کښې ئې مفرد صیغه راوړله. جواب دا دے چه دا مقام د تعریف دے او تعریف د جنس کیږي او په اجمال کښې ئې صیغه د جمع راوړے ده. دا په اعتبار د کثرت د انواعو ده.

مالایتم جزءا الا بصلة وعائد دے جزء نه واقع کیږي د جملې نه مگر هله چه د دے سره صله ذکر شي او ضمیر به وي په صله کښې. چه دا جمع به وي موصول ته سوال وارد یږي چه دلته کښې تعریف کښې دور لازمیږي او اخذ د محدود راځي په حد کښې. ځکه چه د موصول د پاره ئې مبداء او منصدر صله ده. او

تا په تعریف کښې هم صله ذکر وو. داخو نه دے مګر اخذ د محدود په حد کښې. یا لازم شو دور. او دور باطل دے. جواب دادے صله چه کومه ماخوذ ده په محدود کښې د هغې نه مراد اصطلاحي صله ده. لهٰذا دور لازم نه شو. سوال دادے چه عبارت د مصنفؒ سره مقصود نه اداکیږي. ځکه چه مقصود ځموږ نفی د تمام ده د جزئیت نه او د مصنفؒ د عبارت نه معلومیږي. نفی د جزئیت د تمام والي نه. دا ځکه چه جزء منصوب اوګرځې بنا بر حالیت ځکه چه حال قید دے د پاره د عامل د ذوالحال او نفی چه متوجه شي یو شي ته چه هغه شے مقید وي په یو قید سره. نو په نفی سره مقصود قید وي. جواب دادے چه جزءًا منصوب دے بنا بر تمیز. او دا موصوف دے په صفة مقدره سره چه هغه تامًا. او یا داچه لا یتم په معنی د لا یصیر سره دے یعنی د افعال ناقصه نه دے. او جزء به ورله خبر شي چه موصوف دے په صفت مقدره سره. تقدیر د عبارة به داسے شي. چه الموصول ما لا یصیر جزءًا تامًا إلا بصلة وعائد او مراد په جزء تام سره دادے چه دے محتاج نه وي. په کیدلو د دوه کښې جزء اول انضمام د یوام آخرته برابره خبره ده چه عمده وي که که فضله. په دے سره غرض او مقصود رد دے په شارح رضي باندې چه هغه وائي چه مراد په جزء تام سره هغه دے چه هغه رکن وي د کلام نه لکه مسند او مسند الیه شوکے نه علاوه نور فضله نه دي. سوال دادے چه جزء تام دے واغستلو او جزء مطلق دِ او نه ونیل. یعنی نفی د جزء تام د اوکړله او د مطلق دِ او نه کړله. جواب دادے چه موصول سره د صلے نه داجزء تام دے د مرکب نه او موصول تنها جزء د جزء دے. او جزء د شي اګر که جزء تام نه دے لیکن جزء ناقص دے. سوال دادے چه معرفة د صلے دا موقوف دے په معرفت د موصول باندې او معرفة د موصول دا موقوف دے په معرفت د صلے باندې دے سره خو لازمیږي دور او دور باطل دے. یا سوال په دے طریقے سره دے چه مراد یا په صلے سره معنی لغوی ده او یا معنی اصطلاحي. که چرته اوله معنی اخلې نو دا حقیقة مجبوره دے او حقیقة مهجوره دا مشابهه ده د مجاز سره او په مجاز کښې لابدي ده د قرینے نه نو د لته کښې څه قرینه ده په معنی لغوی باندې. او که چرته معنی اصطلاحي اخلې. نو بیا به خالي نه وي یا به اخذ د موصول په تعریف د صلے کښې کیږي په دے طور سره چه صله جمله ده چه ذکر کیږي پس د موصول نه. او یا به پکښې اخذ د موصول نه کیږي په دے شان سره چه ته اووائے چه صله جمله خبریه ده. اس که چرته اخذ د موصول پکښې

کوے نو لاز میږی دور اوکه نه کوے نو بیا خو لاز میږی دا خبره چه هره جمله خبرۍ صله ده. جواب دادے چه مراد په صلے سره معنی لغوی ده او دا صفه جمله ده چه ذکر کیږی پس د شی نه چه د صفے شی اتمام بغیر د دغه جملے نه نه راځی په دغه صورت کښ با صفه توے جملے پس د اذ، اذا. او د حیث نه راځی. صفه یکښ دا خلے شوے. ځکه چه مرادوے نه نه تماميږی مګر په دغه جمله بانډ. نو د دے اعتراض د دفعیه داغله په وعائد سره. ځکه چه صفه محتاجه نه دی عائد ته او قرینه په مراد کولو د معنی لغوی باندې دادے چه مصنف وعائد ذکر کړے دے. او کچرته معنی اصطلاحی مراد وے نو بیا به ذکر د عائد مستدرك او زائد وو. او یا دا چه دلته کښ مراد معنی اصطلاحی ده او دور نه لاز میږی ځکه چه تعریف د صلے به په داسے طریقه سره او کړو چه الصلة جملة متصلة باسم لایتم جزءاً الا مع هٰذه الجملة مشتملة علیٰ عائد الیه. او په دغه صورت کښ به ذکر د عائد تصریح بما علم ضمنا او ګرځیږی. او دا به مبالغه شی په احتراز کښ دا ذاو د حیث نه.

هر کله چه صله په اعتبار د دواړو معنیو سره عامه وه مفهوما چه صفه جمله انشائیه وی که خبریه او مراد دلته کښ جمله خبریه ده. او عائد عام دے چه ضمیر وی او که غیر ضمیر وی لیکن واقعة به ضمیر وی. او ضمیر عام دے چه راجع وی موصول ته که غیر ته خو واقعة به موصول ته راجع وی. نو اشاره اوکړه مصنف تعین د دے امورو ته او اوئے ویل چه.

وصلته | او صله د دے موصول به.

جملة خبرية | جمله خبریه وی هر چه ده جمله صفه په دے وجه چه صله راځی د پاره د بیان د موصول او بیان نه حاصلیږی مګر په جملے سره. او هر چه ده خبریه صفه په دے وجه چه صله مربوطه وی د موصول سره او جمله انشائیه نه وی مربوطه او بله وجه دا ده چه د جملے خبریے نه علاوه موضح نه دی د پاره د موصولاتو او صله کښ شرط دادے چه دا به موضحه وی د پاره د موصول.

والعائد ضمير له | د پاره د ربط په مابین د موصول او د صلے کښ او بله وجه دا ده چه ضمیر په لما مو عوائدو کښ اظهر دے.

وصلة الالف واللام اسم الفاعل والمفعول | او د الف لام چه اسمی موصولی دی د دوی صله به اسم فاعل یا اسم مفعول راځی. ځکه چه لام اسمی دا مشابهه دے د

لام حرفی سره . نو صله ددے دپاره دا سے پکار ده چه جمله وی معنًا او صورةً مفرد وی چه عمل راشی په مشبهه او په حقیقة.

وهی	او موصولات
الذی	دپاره دمفرد مذکر.
والتی	دپاره دمفرد ے مؤنث.
واللذان	دپاره د تثنیه مذکر
واللتان	دپاره د تثنیه مؤنث
بالالف	په حالت رفعی کښې.
والیاء	په حالت نصبی او جری کښې.
والاولی	دپاره دجمع مذکر او مؤنث دواړو.
والذین	دپاره د جمع مذکر.

واللائی واللاء واللائی | دا راځی دپاره دجمع مذکر او مؤنث دواړو ولے استعمال ئے مشهور په جمع مؤنث کښې مشهور دے د لته کښې وصل جاری شویدے په مجری وقف باندې. او التقاء د ساکنینو په وقف کښې جائز دی ځکه چه امتداد صوت دا قائم دے په مقام د حرکت باندې.

واللاتی واللواتی | دا راځی دپاره دجمع مؤنث خاصةً په اللاتی کښې یو لغت اللاتِ هم دے او په اللواتی کښې اللوا هم راغلی دے په حذف دتاء او دیاء سره او ما په معنی د الذی سره دپاره د غیر ذوی العقول غالبًا خو کله کله په ذوی العقول کښې استعمالیږی. لکه والسماء وما بنٰها. او مَن په معنی د الذی دپاره د ذوی العقول غالبًا. او په دے کښې مذکر او مؤنث دواړه برابر دی. او کله کله غیر ذوی العقولو کښې هم راځی لکه ومنهم من یمشی علی بطنه.

وایة | په معنی د الذی.

وذوالطائیة | او ذو چه منسوب دے بنو طے قبیلے ته. یو معنه ذو دے. چه معنه د

اسمائے ستّه مکبره نه دے اؤ بل دا چه په معنی د الذی یا التی راغلے دے. دوارو کښې فرق دا دے چه ذو چه اسمائے ستّه کښې استعمالیږی هغه به اسم جنس ته همیشه مضاف وی. اؤ معرب دے. او د ذو الطائیه نه روستو به جمله راځی اؤ هغه به صله وی. اؤ ضمیر به پکښې موجود وی یا لفظاً یا تقدیرًا. لکه په دے قول د شاعر کښې. فان الماء ماء ابی وجدی . و بیری ذو حفرت وذو طویت. یعنی التی حفرتها والتی طویتها. اؤ د لته کښې عائد محذوف مقدر دے. اؤ

ذا بعد ما للاستفهام | اؤ ذا هم د موصولاتو نه دے چه کله دے واقع شی. پس د ما نه هغه کا ئن وی د پاره د استفهام لکه ماذا صنعت یا وَ ما تلك بیمینك یاموسٰی.

والالف واللام | چه په معنی د الذی یا التی یا الذان یا التان اؤ یا الذین یا د اللاتی بنا په اختلاف د صفت سره چه هغه صله ده.

والعائد المفعول یجوز حذفه | چونکه دا عائد مفعول دے اؤ مفعول فضله دے اؤ د فضله حذف جائز دے. لکه الله یبسط الرزق لمن یشاء. ای لمن یشاءه. سوال وارد یږی. چه په سمع الله لمن حمده کښې خو دا ضمیر د مفعول دے. اؤ حذف ئے نه دے جائز. جواب دا دے چه مراد په عائد سره هغه دے چه راجع وی موصول ته اؤ د لته کښې دا موصول ته نه دے راجع. سوال دا راځی. چه ستا دا قاعده منقوضه شوه په دے ترکیب سره چه الذی ضربته فی داره ځکه چه عائد په دیکښې مفعول دے اؤ راجع دے موصول ته خو حذف ئے جائز نه دے. جواب دا دے چه د لته کښې و د سره اعتبار د قید شته دے. اؤ هغه دا چه په وخت د عدم د مانع کښې اؤ د لته کښې مانع موجود دے چه هغه اجتماع د ضمیرونو دے.

د لته کښې نحاتو یو باب وضع کړیدے چه هغې ته و ئیلے شی. اخبار په الذی سره اؤ غرض د دے نه تمرین او مشق د متعلمینو دے په مسائلو د دے فن کښې. مصنف اشاره اوکړه دے باب ته نو اوئے وئیل.

واذا اخبرت | اؤ په هغه وخت کښې چه ته خبر ورکړے د جزء د جملے نه.

بالذی | په الذی سره. نو الذی دا به آله د اخبار وی. دا سے نه چه مخبر به ده

صدرتها | واقع به کړے کلمه د الذی په صدر د جمله ثانیه کښ.

وجعلت موضع المخبرعنه | او به کرځوے په ځائے مخبر عنه په الذی سره او مراد په موضع د الذی سره هغه دے چه په اولیٰ جمله کښ دے.

ضمیرلها | ضمیر ددے دپاره.

واخرته | او مؤخر به ئے کړے په حال دکون دده کښ خبرا عنه چه خبر وی د الذی. اُس ئے ورته مثال ذکرکوی دپاره د وضاحت.

فاذا اخبرت عن زید | پس په هغه وخت کښ چه ته خبر ورکوے د زید نه

من | په دے جمله کښ چه.

ضربت زیدا قلت الذی ضربته زید | په ځائے د مخبر عنه به ضمیر راوړے.

وکذالك الالف واللام | او د الذی په شان الف لام هم دی ځکه چه صله د الف لام نه وی مګر اسم فاعل یا اسم مفعول او ممکن نه دے اخذ ددے مګر د جملے فعلیے نه. د لته کښ سوال واردیږی چه دا ستا قاعده منقوضه شوه په دے ترکیب سره چه لیس زید قائما چه دا جمله فعلیه ده او صحیح نه دے اخبارددے نه په الف لام سره. جواب دادے چه مراد په جمله فعلیه سره هغه دے چه فعل پکښ متصرف وی. او لیس فعل جامددے. سوال دادے چه ستا دا قاعده منقوضه شوه په سیقوم زید یا سوف یقوم زید ځکه چه دا جملے فعلیے دی. او فعل پکښ هم متصرف دے او صحیح نه دے اخبارددے نه په الف لام سره. جواب دادے چه مراد په جملے فعلیے سره هغه دے چه فعل پکښ متصرف وی او ددے مصدر نه وی په داسے حرف سره چه د هغه معنی د اسم فاعل یا د اسم مفعول نه نه مستفادکیږی. او د لته کښ داپه داسے حرف مشتمل دے.

فان تعذرامرمنها | کچرته متعذر او کرزی یو امر په دے امورو ثلاثه کښ چه هغه تصدر د موصول دے. وضع د ضمیر ده په ځائے د مخبر عنه یا نه. او تاخیر د دغه اسم.

تعذر الاخبار | بیا داسے قسم اخبار متعذر دے. ځکه چه داسے قسم اخبار مشروط دے په دے شروط ثلثه.

ومن ثم اؤ د دے وجے چه یو امر د دے امور و ثلاثه نه معدوم شی متعذر دے دا قسم اخبار ۔ ۱

امتنع ممتنع دے اخبار په الذی سره۔

فی ضمیر الشان په ضمیر شان کښ د وجے د فوت کید لو د دؤو شرطونو نه په دیکښ ۔ یو امتناع د تصدیر د الذی اؤ دو ئم تاخیر د ضمیر ځکه چه ضمیر شان مقدم وی په جمله باندې وجوبًا۔

والموصوف اؤ په موصوف کښ بغیر د صفت نه۔

والصفة بغیر د موصوف نه په صفت کښ لکه په دے ترکیب کښ چه ضربت زید العاقل په دیکښ داسے نشی وئیلے چه الذی ضربته العاقل زید یا الذی ضربت زیدا ایاه عاقل . په دے کښ شرط ثانی فوت شوے دے. چه هغه وضع د ضمیر دہ په ځائے د مخبر عنه باندې اؤ کېږته داسے او شی. نو په اول صورت کښ به ضمیر موصوف شی۔ اؤ په ثانی صورت کښ به صفت شی ۔ اؤ ضمیر نه صفت واقع کیږی اؤ نه موصوف۔

والمصدر العامل اؤ د غه اخبار په الذی سره نه صحیح کیږی د هغه مصدر نه چه هغه عامل وی۔ اؤ معمول ورسره نه وی۔ نو په دے ترکیب کښ چه عجبت من دق القصار الثوب په دے کښ داسے نه شی وئیلے چه الذی عجبت منه الثوب دق القصار۔ ځکه چه په دغه وخت کښ اعمال د ضمیر لازمیږی اؤ ضمیر عامل نه واقع کیږی ۔ اؤ کېږته مصدر اؤ معمول د واړه دی۔ نو دا ترکیب جائز دے الذی عجبت منه دق القصار الثوب. اؤ چه مصدر غیر عامل وی نو هم جائز دے لکه او ائے چه عجبت من ضربك په دے کښ چه اخبار په الذی سره ورکړے. لکه الذی عجبت منه ضربك۔

والحال اؤ د غه شان د حال نه هم اخبار په الذی سره نه شی واقع کیدے ځکه چه حال واجب التنکیر دے اؤ ضمیر معرفه دہ۔

والضمیر المستحق لغیرها اؤ هغه ضمیر چه رجوع ئے واجبه وی غیر د الذی نه په دے کښ هم اولنے شرط اؤ دریم شرط مفقود دے. چه هغه تصدیر د الذی دے۔ ځکه چه په دغه صورت کښ لازمیږی ۔ رجوع د ضمیر

موصول ته نو بیا غیر بلا عائد ۲ پاتے کیږی اؤ که غیر ته ئے راجع کوو نو بیا لازمیږی موصول بلا عائد ۲

و الاسم المشتمل علیها | یا هغه اسم چه مشتمل دده غیر وی لکه زید ضربت غلامه په دے ترکیب کښې دا سے نشی و ئیلے چه الذی زید ضربته غلامه. که ضمیر په ضربته کښې راجع کوو مبتدا ته نو موصول بلا عائد پاتے کیږی او که موصول ته ئے راجع کوو نو مبتدا بے عائده پاتے کیږی اؤ دا دواړه صورتونه باطل دی.

وما الاسمیة | اؤ بل د موصولاتونه ما اسمیه دے نه حرفیه موصولة لکه عرفت ما اشتریته

و استفهامیة | او ما استفهامیه لکه ما عندک. اؤ شرطیة اؤ ما شرطیه لکه ماتصنع اصنع.

و موصوفة | اؤ یا موصوفه برابره خبره ده چه موصوف په مفرد سره وی لکه مررت بما معجب لک یا په جملے سره لکه په دے شعر د شاعر کښې.

ربما تکره النفوس من الامر + له فرجة کحل العقال.

وتامة بمعنی شیء منکر | اؤ ما تامه چه په معنی د شیء سره وی په نزد ابوعلی نحوی لکه نعما هی په نزد ابوعلی نحوی باندې نعم شیئا

خکه دا ما تمیز واقع شوے دے د نسبة د نعم نه چه راغلے دے ضمیر ته. اؤ تمیز نکره وی همیشه. اؤ په نزد سیبویه باندې دا معرفه دے خکه چه ما په نعما کښې دا فاعل دے د نعم د پاره چه هغه خالی دے د ضمیر نه اؤ فاعل د فعل مدح نه وی مگر معرفه نو تقدیر به بنا په دے مذهب دا سے شی. نعم الشیء.

وصفة | اؤ یا دا ما صفت واقع شوے وی لکه مثلاً ما یعنی ای مثال کتابا ما یا ضربا ما.

ومن کذالک | اؤ من هم پشان د ما دے په دے ټولو مذکوره صورتونو د ما کښې موصوله هم راځی لکه من جاءک استفهامیة لکه من غلامک شرطیه لکه من تضرب اضرب اؤ موصوفه چه په مفرد سره وی یا په جملے سره چه په مفرد سره وی لکه په دے شعر کښې.

کفی بنا من غیرنا . حب النبی محمد ایانا.

الا فی التامة و الصفة | مگر ما چه خکه تامه اؤ صفتیه راځی من به نه راځی.

وایّ وایّةً لمن او بل د موصولاتو نه ای او ایّة دی پشان د مَن په دغه امورا ربعه کښې . او په استفاء د تامه او صفتیه کښې . مثال د موصوله لکه اضرب ایهم لقیت، مثال د استفهامیه لکه ایهم اخوك مثال د شرطیه ایا ما تدعوا فله الاسماء الحسنیٰ موصوفه لکه یا ایها الرجل . سوال دا راځی چه تشبیه د ایّ د مَن سره نه صحیح کیږی ځکه چه ایّ راځی صفت اتفاقا لکه مررت برجل ای رجل یعنی رجل کامل فی الرجولیة او کلمه د مَن صفت نه واقع کیږی اتفاقا جواب دادے چه ای باندے ترکیب کښې استفهامیه دے په اصل کښې ځکه چه معنی د مررت برجل ای رجل، رجل اعظم دے او عظمت منشاء د سوال دے ځکه چه دا هرچاته نه دی معلوم . او سوال په استفهام باندې دلالت کوی بیا دا منتقل شو د استفهام نه صفت ته .

وهی یعنی هر واحد د ایّ او ایّة نه معرب دی بالاتفاق. وحدها علاوه د نور و موصولاتو نه خو په تثنیه د دے کښې اختلاف دے . او د غه شان ذو په نزد بنی طے ځکه چه ایّ لازم الاضافة دے مفرد ته او اضافة مفرد ته دا د خواص د اسم نه دے . او اصل په اسماء کښې اعراب دے .

الا اذا حذف صدر صلتها مگر په هغه وخت کښې چه صدر د صلے ئے حذف کړے شی لکه په دے آیت کښې ثم لننزعن من کل شیعة ایهم اشد علی الرحمن عتیا . یعنی هو اشد ځکه چه دده مشابهت د حرف سره متاکد دے اول په دے چه دے محتاج دے نفس صلے ته او بیا دا چه دے محتاج دے صدر د صلے ته . او مبنی او گرځولے شو په ضمه باندې ځکه چه ددهٔ تشبیه راغلے ده د غایاتو سره . سوال دادے چه ایّ موصوفه خو هم مبنی ده نو د صفے د بنا استثناء ولے او نه کړے شوه . جواب دادے چه د هغے بنا په باب د منادیٰ کښې ذکر ده . نو دوباره په دے ځائے کښې د هغے د ذکر ضرورت نشته .

وفی ماذا صنعت وجهان او په دے ترکیب کښې چه ماذا صنعت دوه وجهے دی مراد په دے سره هر هغه ترکیب دے چه ذا واقع شوے دی پس د ما نه او روستو ترینه فعل مخاطب وی . چه مشتمل نه وی په ضمیر باندې .

احدهما ما الذی یو دا دے چه ما په معنی د ای شیٔ سره شی او ذا په معنی د الذی سره شی . او ما بعد د دے نه صله شی موصول سره د صلے نه . ما به یا خبر شی یا مبتداء په دغه صورت کښې سوال به جمله اسمیه شی .

وجوابه رفع جواب به ئے په دغه وخت کښې رفع وی. چه موافقت په مابین د سوال او جواب کښې راشی لکه الذی صنعته هو الاکرام.

والاخرای شئ بله وجه داچه ما په معنی د ای شئ سره شی او ذا زائد او گرځی نا په دے جواب سوال جمله فعلیه او جواب نصب چه موافقت راشی په مابین د سوال او د جواب کښې لکه صنعت الاکرام په اول صورت کښې نصب او په دو ئم صورت رفع هم صحیح کیږی ولے موافقت نشته په دغه صورت کښې په مابین د سوال او د جواب کښې.

أَسْمَاءُ الْاَفْعَالُ

هر کله چه اصل په اسماء کښې اعراب وو. خو چه کله انتقال د اسماء افعال راغے معنی د ماضی او امر ته. نو دے لره محل د اعراب باقی نه شو.

ماهیت د هغه اسم چه مسمی کولے شی. په اسم فعل سره په اصطلاح د نحاتو کښې

ماکان بمعنی الأمر والماضی هغه دے چه وی په معنی د امر یا د ماضی سره.

سوال وارد یږی چه ستا دا تعریف جامع نه شو خپلو افراد ولره الخارج شو ترینه اُف چه په معنی د اتضجر یا او چه په معنی د اتوجع دے دا په معنی د مضارع باندی دی او سره ددے نه چه دا اسماء افعال دی. جواب دا دے چه اُف په اصل کښې تضجرت او او په اصل کښې توجعت وو لیکن تعبیر ددوی نه په مضارع حالی سره او شو ځکه چه معنی ددوی بنا ده په انشاء باندی او انشاء سره حال انسب دے. اسماء افعال سماعی په نهه قسمه دی. شپږ په معنی د امر او دریے په معنی د ماضی. او قیاسی یکښې هغه دی چه په وزن د فعالِ دی او په معنی د امر دی.

مثل روید زیدًا ای امهله و هیهات ذاک ای بعُد او مثال د هغه چه په معنی د امر وی لکه روید شو چه په معنی د امهله دے. او مثال د ماضی لکه هیهات چه په معنی د بعُد دے.

سوال دادے چه مثال داسم فعل چه په معنی د امردے داۓ ولے مقدم کړه په هغه باند چه هغه په معنی دماضی دے۔ جواب دادے چه اسماء افعال چه هغه په معنی د امردی داکثیردی (چه هغه شپږ دی) او کوم چه په معنی د ماضی دی هغه قلیل دی او العزة للتکاثر۔ سوال دادے چه هر کله اسماء افعال په معنی دامر او دماضی دی۔ نو ولے ئے دوئ مسمیٰ کړو په اسماء سره او د افعالو د قبیلے نه ئے او نه کړځول. جواب دادے چه صیغے ددے مخالف دی د صیغو د افعالو نه او تصرف په دے کښے کیږی پشان د تصرف د اسماء او تصرف په دے کښے پشان د افعالو نه کیږی سوال واردیږی چه ستا دا تعریف مانع او نه کرځیدو دد خول د غیرنه او داخل شو ضارب په دے ترکیب کښے چه زید ضارب ابوه ځکه چه دے دلالت کوی په معنی دماضی باندے نو پکار دا دی چه دا د اسم فعل او ګرځی. جواب دادے چه مراد په دلالت سره دلالت دے په اعتبار د اصل وضع سره او د لته ترکیب کښے دلالت په عارض سره دے او العوارض لا تعتبر۔

وفعال او موزون په وزن د فعال چه کائن وی۔

بمعنی الامر المشتق من الثلاثی المجرد قیاس په معنی د امر سره چه مشتق وی د ثلاثی مجرد نه قیاسی دے۔ په دے عبارت سره مصنف داسماء افعال دوئم قسم ذکر کوی۔ چه هغه اسماء افعال قیاسی دی۔ سماعی هغه دی چه موزون نه وی په وزن د فعال سره او قیاسی هغه دے چه موزون وی په وزن د فعال باندے قیاسی په تاویل د قیاسی یا په تاویل د ذو قیاس سره دپاره ددے چه حمل د صرف وصف را نه شی۔

کنزال بمعنی انزل لکه نزال په وزن د فعال دے دا په معنی د انزل دے۔

وفعال مصدرا معرفة کفجار او هر هغه اسم چه په وزن د فعال باندے موزون وی په حال دکون دد غه اسم کښی چه کائن وی په معنی د مصدر معرفه باند لکه فجار شو چه کائن دے په معنی د الفجور باندے۔

وصفة یا کائن وی په معنی د صفت باندے دپاره د مؤنث لکه یا فساق چه په معنی د فاسقة باندے دے۔

مبنی فی الحجاز مبنی دے هر واحد دد ے دواړو نه په لغت د حجازیانو کښی۔

ځکه چه دوئ مشابه دی د هغه فعال سره چه په معنی د امر دی په عدل او په وزن کښې هغه مبنی دی نو دوئ به هم مبنی وی. هرچه دے په عدل کښې نو هغه په دے طریقه چه فعال په معنی د امر معدول دے د امر فعلی نه د غه شان فساق معدول دے د فاسقة نه. او فجار معدول دے د الفجرة نه. او هرچه دے وزن نو هغه خو ظاهر دے. سوال دا دے چه اسماء افعال ځنګه معدول دی د الفاظو د فعل نه. ځکه چه عدل تغیر د لفظ دے فقط لو ځرنګه خارج شو فعل په عدل سره د فعلیة نه اسمیة ته. بیا رد او د چه مصنف وئیلی دے لمشابهته له مبالغةً ووزنًا. ځکه چه مبالغه موجوده ده په جمیع اسماء افعالو کښې. جواب دا دے چه مراد په عدل سره اشتقاق دے او په اشتقاق سره شئ د خپل حقیقت نه اوځی.

و فعال علما للعیان | او هغه اسم چه موزون وی په وزن د فعال په حال د کون دد غه اسم کښې چه یو عین وی د اعیانو مونثو نه.

کقطام و غلاب | لکه قطام او غلاب شو د ا مبنی فی الحجاز په لغت د حجازیانو کښې مبنی دی. ځکه چه دا مشابه دی هغه فعال سره چه په معنی د امر دی. په عدل او په وزن کښې.

ومعرب فی تمیم | او په لغت د بنی تمیم کښې معرب دی. ځکه چه اصل په اسمار کښې اعراب دے. او د وجه د عدم قلت دیبانه.

الا ما کان فی آخره راء | مگر معرب به نه وی په هغه وخت کښې چه کله د دے په آخر کښې راء راغلی وی. ځکه چه راء حرف ثقیل دے. د دے وجے نه چه دے کالمکرر واقع کیږی په مخرج کښې. نو دا په دغه وخت کښې مبنی او کرځولے شو دپاره د خفت. ځکه چه سلوک په طریقه واحده باندے دا اسهل دے د سلوک نه په طرق مختلفو باندے.

فائده | فعال علمی په دوه قسمه دے یو هغه دے چه ذوات الراء وی دوئم هغه چه ذوات الراء نه وی. نو بنی تمیم په ذوات کښې موافق دی د حجازئینو سره په بناء کښې او په غیر ذوات الراء کښې مخالف دی د حجاز ئینو سره ځکه چه په دے کښې کمال المشابهة نشته د فعال امری سره. ځکه چه مبالغه نه متصور کیږی په اعلام مود ا عیانو کښې او بنی تمیم نه مراد اکثریت د دوئ دے ځکه چه بعض بنی تمیم هغوئ فرق نه کوی

په ذوات الراء او غیر ذوات الراء کښې

اَلْاَصْوَاتُ

مراد په دے سره هغه الفاظ دی چه جاری دی په لسان د انسان باندا او غیر موضوعه للمعنی دی

کل لفظ حکی به صوت دا هرهغه لفظ دے چه جاری دے په لسان د انسان باند او انسان حکایت کوی په دے سره د صوت د شی آخرنه یا هرهغه لفظ دے چه جاری دے په لسان د انسان باندې دپاره دا دعا د بها ئمو.

فالاول کغاق والثانی کنخ د اول مثال لکه غاق شو چه دے سره حکایت کولے کیږی د صوت د غراب نه او دو ئم مثال لکه نخ شو دپاره داناخت دبعیر (یعنی دپاره د کښینولو داوښ) زده کړو داخبرا چه اصوات په پنځه قسمه دی. وجه دحصرئے داده چه دا اصوات به خالی نه وی یا به منقول وی د صوتیة نه مصدریة ته لکه واها دپاره د تعجب. او یا به د صوتیة نه مصدریة ته او بیا د مصدریة نه منقول شوے وی اسم فعل ته لکه صهٍ مهٍ. د انقل شو د صوتیة نه معنی د سکوت ته او بیا د سکوت نه منتقل شو اسکت ته. او مهٍ نقل شو د صوتیة نه معنی د منع ته او د هغه نه بیا امنع ته او بیا به غیر منقول وی نو دا بیا په درے قسمه دے اول هغه دے چه عارضیږی انسان ته په وخت د عروض د معنی کښې. لکه قول د متندم او د متعجب وی. وخ. د وئم هغه دے چه جاری شی په ژبه دانسان باندصوت د غیر په سببیلے د حکایت سره. دریئم هغه چه انسان به هغه باند ادا او تصویت د بهائموکوی یا د غیر او د لته کښې مصنف صرف دوه قسمه ذکر کړل ځکه چه مراد غیر منقوله دی. هرچه درے قسم اول چه منقول دی هغه داخل دی په مصادرو کښې اوددوئم قسم په اسماء افعالو کښې. او قسم اول د غیر منقول ئے هم ذکر نه کړو. ځکه چه قسمین اخیرین ملحق دی په اسماء مبنیه پورے سره د تعلق د دوئ نه په غیر انسان پورے نو د هغه قسم اول به په طریق اولی سره مبنی کیږی دوجے د عدم تعلق د دو نه په غیر پورے. او اصوات مبنی او کرځیدل ځکه چه ترکیب

په دوئ کښې نشته ـ سوآل داوارديږي چه هر کله علت د بناء د اصواتو عدم ترکيب دے سره دغيں نه بيا پکار دادهٔ چه کله ئے ترکيب د غير سره راشي. داډمعرب اوګرځي لکه مثلاً ته اووائے چه قال زيد عند التعجب وَیُ يا قال زيد غاقِ جواب دادے چه دا په دے وخت کښې هم مبني دے. د دے حيثيت نه چه دا حکايت دے د اصواتو نه سوآل داراځي چه هر کله اصوات د لالت نه کوي په اصل وضع کښې په معنی باندې نو دا اسماء او نه ګرځيدل . چه هر کله اسماء اونګرځيدل نو په اسماء مبنيه کښې ئے ولے ذکر کوي جواب دا دے چه دا چونکه جاري شوي دي په مجراي د اسماء مبنيه په دے وجه د هغې په حکم کښې دي.

المرکبات

کل اسم رکب من الکلمتین لیس بینهما نسبة

داهر هغه اسم دے چه مرکب وي د دوؤ کلمتينُ نه کلمتين عام دي حقيقة وي که حکما اؤ دوئ په مابين کښې څه نسبت نه وي نه قبل العلمية اؤ نه بعد العلمية دا تعريف داسم مرکب دے. سوآل وارديږي چه تعريف د مرکباتو جامع نه شو خکه افراد ولړه اؤ خارج شو ترنه په مثل د سيبويه . ځکه چه دے مرکب دے د کلمے اؤ د صوت نه نه د کلمتين نه جوآب دادے چه کلمتين عام دي حقيقة وي که حکما سوآل دادے چه ظاهر متبادر د کلمتينُ نه هغه دے چه مرکب وي دا سمينُ نه اؤ يا داسم اؤ فعل نه. بنا په دے باندې بيا خارج شو ترنه هغه اسم چه مرکب وي د دوؤ فعلينُ نه يا د دوؤ حرفينو نه اؤ يا مختلفين وي. جوآب دادے چه کلمتين عام دي چه اسمين وي يا حرفين يا فعلين وي اؤ يا مختلفين وي. سوال دا دے چه تعريف د مرکباتو جامع نه شو خپلو افراد ولړه ځکه چه خارج شو ترنه مرکب تعدادي لکه خمسة عشر ځکه چه په مابين د دواړو جزئين کښې نسبت د عطف دے دا سوال دوړه جوآب دي يو جوآب دادے چه مراد په نسبت سره غير نسبت د عطف دے ولے دا جواب ضعيف دے ځکه چه په تعريف کښې ليس بينهما نسبة کښې نسبت نکره ده چه واقعه شوے ده په سياق د نفي کښې. اؤ نکره چه په سياق د نفي کښې

واقع شي نو دا عموم فائده کوي نو په دے ځائے کښې خصوصي نسبة اعتبار سره دقرینے دعموم نه مشکل دے پس اصل جواب دادے چه مراد په نسبت سره هغه نسبت دے چه په فهم کښې راځي د ظاهر هیئة د ترکیب د یو د کلمتین سره د بلے نه. مثلاً د هیئة د ترکیب د عبدالله نه نسبت اضافیه معلومیږي. او د ظاهر هیئة د ترکیب د تأبط شرا نه نسبة د فعل او د مفعول معلومیږي او په خمسة عشر کښې ظاهر ترکیب په دا قسم نسبت د لالت نه کوي.

سوال دادے چه عکښې مونږ ویلي دي چه ترکیب سبب د منع صرف دے او دلته کښې وائے چه ترکیب سبب د بناء دے. نو په دواړو ترکیبونو کښې څه فرق دے جواب دادے چه ترکیب په دوه قسمه دے. یو هغه دے چه په مابین د اجزاؤ د هغے کښې نسبت وي. او دویم هغه دے چه مابین د اجزاء د هغے کښې نسبت نه وي. نو اولنے ترکیب نه بناء فائده کوي او نه عدم انصراف او دویم ترکیب به خالي نه وي یا به جزء ثاني متضمن وي حرف عطف لره او یا به نه وي اولنے موجب د بناء دے په دواړو جزئونو کښې او که چرته متضمن نه وي حروف عطف لره بیا به خالي نه وي یا به مبني وي قبل د ترکیب نه او یا به نه وي که اول وو نو مبني لکه سیبویه او دویم موجب د بناء دے په جزء اول کښې او موجب د منع صرف دے په جزء ثاني کښې. او دا قسم ته مرکب امتزاجي ویلے شي.

| فان تضمن الجزء الثاني حرفا | که چرته جزء ثاني متضمن وي حرف لره حرف عطف وي یا غیر حرف عطف.

بنیا | دا دواړه به مبني وي. هرچه دے اولنے نو دا په دے وجه باندې چه دا واقع شویدے په وسط د کلمے کښې او وسط د کلمے محل د اعراب نه دے او هرچه دے جزء ثاني نو دا په دے وجه چه دے متضمن دے معنی د حرف لره. لکه خمسة عشر او یا حادی عشر وغیره. سوال دادے چه مثال راوړلو د پاره د توضیح د ممثل او داخل حاصلیږي په یو مثال سره نو د دوو مثالونو راوړلو ته څه ضرورت دے. جواب دادے چه دوه مثالونه ئے په دے وجه باندې راوړل چه په دے کښې تنبیه ده په دے خبره چه دا مرکبات ثابت

دی. برابره خبره ده چه یوجزوئے عدد مرکب وی. سره د عشرة او یا صیغه داسم فاعل وی چه مشتق وی ددهٔ نه سوال داسے چه نه منم داخبره چه جزء ثانی په حادی عشر کښی متضمن دے معنی د حرف لره کچرته داسے شی نوفساد به په معنی کښی لازم شی. جواب دادے چه تضمن د معنی حرف عام دے حقیقتاً وی اؤ که حکماً او په حادی عشر کښی اگرکه تضمن د معنی د حرف حقیقتاً نشته لیکن متضمن دے معنی د حرف لره حکماً په اعتبار د مشتق منه سره ځکه چه حادی عشر مشتق دے د احد عشر نه او هغه متضمن دے معنی د حرف لره حقیقتاً

الا اثنی عشر | دا مستثنیٰ دے ددے قاعدے نه اثنی عشر. ځکه چه په دیکښی دواړه جزئین مبنی نه دی. بلکه اول جزء معرب دے ځکه چه دے مشابهه دے د مضاف سره په سقوط د نون اعرابی کښی. او اضافت د خواص معظمه مکبره داسم نه دے. او جزء ثانی مبنی دے ځکه چه دے متضمن دے معنی د حرف لره.

والا | او کچرته کښی جزء ثانی متضمن نه وی معنیٰ د حرف لره.

اعرب الثانی | جزء ثانی به معرب وی د وجے د عدم علة د بناء نه په دے کښی چه هغه تضمن د معنی د حرف دے. کبعلبك لکه بعلبك شو. اؤ اول جزء به مبنی وی ځکه چه اخر ددهٔ په وسط کښی واقع دے.

فی الاصح | بنا په اصح مذهب باندې یا لغت باندې. په دے سره رد راغلو په نورو دوؤ لغتونو باندې. یودا چه دواړه جزئین به معرب وی. په دے شان سره چه جزء اول به مضاف وی ثانی ته او ثانی به غیر منصرف وی دوئم مذهب یا لغت دادے چه دواړه جزئین به معرب وی په دے شان چه جزء اول به مضاف وی ثانی ته او ثانی به منصرف وی.

الکنایات

کنایات جمع د کنایة دہ او دا په لغت کښې په معنی د پټ والی باندې راځی
او په اصطلاح کښې و هغې شی د پاره چه تعبیر او شی د یو شی معین نه
په لفظ غیر صریح سره د پاره د یو غرض د اغراض نه. لکه ابهام شی په
سامعینو باندې. مثلاً جاء نی فلان او ته په فلان سره اراده کوے زید
چه یو شخص معین دے. دلته کښې سوال وارد یږی چه الکنایات جمع د
کنایة دہ. او دا یو معنی مصدری دہ او مبنیات د قبیلې د الفاظو نه دی.
نو شمیرل ستا کنایاتو لره د مبنیاتو نه صحیح نه شولو. او بل دا نقصان راځی
چه حمل به د ذات راشی په صرف وصف باندې. ځکه چه الکنایات مصدر دے
صرف وصف دے او کم وکذا خبر دے. نو لازمیږی حمل د صرف وصف په
ذات باندې جواب دا دے چه مراد په دے سره ما یکنی بہ دہ معنی مصدری
نه دہ. او معبر به د قبیلې د الفاظو او د ذات نه دے.
سوال دا دے چه کله چه کنایاتو سره کل کنایات وی نو بیا خو پکښې فلان
هم داخل دے. او حالانکه دا خو معرب دے مبنی نه دے. جواب دا دے
چه مراد په دے سره بعض دی بیا سوال وارد یږی چه د بعض نه مراد یا بعض
مطلق وی یا بعض معین. کله چه بعض مطلق وی نو فلان پکښې داخل شو. او
که بعض معین وی نو دلته کښې قرینه په دے بعض باندې نشته جواب
دا دے چه مراد په دے سره بعض معین دی. او کله چه ته وائے چه قرینه
نشته نو موږ وایو چه قرینه په دے باندې اصطلاح د نحاتو دہ ځکه چه
نحات کله په مبنیاتو کښې ذکر د کنایاتو کوی نو د هغې نه د بعض معین مراد
دی چه هغه دا شلور دی. سوال دا دے چه بحث د یو شی نه موقوف
دے په معرفت د نفس د هغه باندې. نو پکار دا وہ چه اول به ئے تعریف
کړے وو. بیا به ئے تر ینه بحث کړے وو جواب دا دے چه د دے د

پاره یو مفهوم مشترك پکار دی. او هغه نه وو موجود. یا دا چه تعریف وی د پاره دیو شی چه کله افراد د هغه متعدد او غیر محصور وی او افراد د کنایاتو چه معدود وی د مبنیاتو نه هغه محصور دی. او هغه خلور دی اول په هغې کښې کم دے وجه د بناء دده د وضع ده په موضع دحرف باندې چه هغه ثانی دے. او یا دا چه کم په دوه قسمه دے یو کم استفهامیه دے او بل کم خبریه دے. چونکه کم استفهامیه دے متضمن دے معنی دحرف لره نو کم خبریه په هغې باند حمل کړے شو.

وکذا او بل د کنایاتو نه کذا دے. وجه د بنا د دے داده چه دے مرکب دے د کاف تشبیهی نه او د ذا اسم اشارے نه. بیا دا مجموعه کلمه واحده اوګرځولے شوه. په معنی دکم باندې. او ذا په اصل بناء باندې پر پینبودے شو

وکیت وذیت داکنایه راغلی دی د واقع او د جملے نه وجه د بنا دده دوی په دے چه هر یو واحد دے نه کلمه دلیه واقع ده په موقع د جملے باندې او جمله من حیث الجملہ نه استحقاق د اعراب لری او نه د بناء. پس هر کله چه واقع شی مفرد په ځائے د جملے. نو دلته کښې ترجیح بنا ته ورکړے شوه. ځکه چه بنا اصل ده. په کلما تو کښې قبل الترکیب. بعض د کنایاتو نه کأیّ دے. وجه د بنائے داده. چه دا مرکب دے د کاف تشبیهی او د لفظ دایّ نه دا مجموعه کلمه واحده اوګرځیده. په معنی د کم خبری باندې نوليس دے اوګرځیدو لکه اسم مبنی چه مبنی وی په سکون لکه د کم.

سوال داده چه هر کله کأیّ د کنایاتو نه دے. نو مصنف دا ولے ذکر نه کړو

جواب داده چه مرتبه ددې په بناء کښې داکمه ده د خپلو اخواتو نه. ځکه چه دا مرکب دے. د کاف تشبیهی او د ایّ نه. او ایّ د مرصلاتو نه دے. چه دا معرب دے لیکن هر کله چه دا دواړه کلمه واحده اوګرځیدل. او په معنی د کم خبری شو په دے وجه دا معرب اوګرځیدل په اعتبار د اصل او مبنی اوګرځیدل فی الحال او کذا مبنی دے فی الحال او فی الأصل دواړه.

فکم الاستفهامیة پس کم استفهامیه چه دے متضمن دے معنی د استفهام لره.

مميزها منصوب مفرد | تميز به ئے مفرد وي او منصوب به وي سوال دا راځي. چه اضافت د مميز کم ته نه صحيح کيږي ځکه چه دلته په کم کښې هيڅ قسم څه ابهام نشته نه په صورت کښې او نه په معنی کښې. په صورت کښې پدے طور سره چه داخري حرف کاف دے او بل ميم دے. او نه په معنی کښې په دے طريقه سره چه دا راځي د پاره د عدد. جواب دادے چه دا اضافت د وجه د ادنی ملا بست نه دے. دا به منصوب په دے وجه وي چه دا تميز دے او تميز منصوب وي. او مفرد به وي. ځکه چه دا راځي د پاره د مطلق عدد. نو دا له تميز د عدد اوسط ورکړے شو د پاره د دے چه لازم نه شي ترجيح بلامرجح

وكم الخبرية | او کم خبريه **مميزها مجرور** تميز به ئے مجرور په اضافت سره وي. **مفرد ومجموع** کله به مفرد وي او کله به مجموع هرچه دے افراد هغه په دے وجه چه دا کنايه ده د عدد کثير نه او مميز د عدد مفرد راځي. او هرچه دے جمعية هغه په دے وجه چه عدد په دوه قسمه دے يو صريح دے او بل کنايه. په صريح کښې کثرة د عدد صراحةً موجود وي. او په عدد کنائی کښې تصريح په کثرت د عدد نه وي. پس په دے کښې لا بدي شوه د جمعيةٌ د تميز نه چه دا جبيره اوګرځيږي د پاره د مافات چه صراحت دے.

وقد تدخل من فيهما | او کله کله داخليږي من په تميز د کم استفهاميه کښې او د کم خبريه کښې ځکه چه تميز راځي د پاره د بيان او من هم راځي د پاره د بيان نو دواړو کښې مناسبت موجود شو. دلته کښې سوال وارديږي چه دخول د من په کم خبريه کښې صحيح دے ځکه چه دے موافق دے د اعراب د تميز دده سره. او په تميز د کم استفهاميه کښې نه دے صحيح. ځکه چه دے موافق نه دے د اعراب د تميز د هغه سره. جواب دادے چه کم په دے قول د باری تعالی کښې چه سَلْ بَنِىٓ اِسْرَآءِيْلَ كَمْ اٰتَيْنٰهُمْ مِّنْ اٰيَةٍۭ بَيِّنَةٍ. په دے کښې احتمال د کم استفهاميه هم دے او د کم خبريه هم دے. او په دواړو تقديرونو کښې من داخل دے په تميز کښې.

ولهما صدر الكلام | او د دے دواړو د پاره برابره خبره ده چه کم استفهاميه وي او که کم خبريه وي صدارت د کلام دے. د پاره د دے چه دا اول

وملة نه دلالت اوکړی په نوع دکلام باندې. هرچه دے کم استفهامیه نوځکه متضمن دے معنی د استفهام لره او هغه مقتضی د صدارت دے. او هرچه دے خبریه نو هغه دلالت کوی په انشاء دتکثیر باندې دا هم یو نوع دانواع دکلام نه نو په هغې باندې هم تنبیه بکاردې د اول امرنه د لته کېن سوال واردیږی چه بیه کم خبریه کښې خبر او انشاء څنګه جمع کیدے شی ځکه چه په دوی دواړو کښې منافات دے خبر احتمال د صدق او د کذب لری او انشاء احتمال د صدق او کذب نه لری. جواب دادے چه ددے دواړو په مابین کښې منافات نشته چه کله حیثیتونه او جهتونه مختلف شی.

وكلاهما يقع مرفوعا ومنصوبا ومجرورا | او هر واحد ددے دواړو نوعینونه مرفوع هم واقع کیدے شی کله کله. منصوب هم واقع کیدے شی کله کله، او مجرور هم. ځکه چه دا اسماء دی په شان د نورو اسماء مبنیه او هغه واقع کیږی په محل د رفع کښې نصب کښې او جر کښې نو په شان دا هم واقع کیږی.

فكل ما بعده فعل غير مشتغل عنه بضميره كان منصوبا معمولا على حسبه | پس هر واحد د کم استفهامیه او خبریه چه د هغه روستو فعل وی یا شبهه فعل لفظا وی که تقدیرا غیر مشتغل وی د دهٔ په ضمیر سره یا په متعلق سره دے به منصوب وی او معمول به وی د هغه په حسب د اقتضاء یعنی کچرته فعل مقتضی وی د نصب بنا بر مفعولیة نو دے به منصوب وی بنا بر مفعولیة او کچرته مقتضی وی د نصب بنا بر ظرفیة نو دے به منصوب وی بنا بر ظرفیة او کچرے دے مقتضی وی د نصب بنا بر مصدریة نو دے به منصوب وی بنا بر مصدریة. ولے تعین ددے دواړه د یو منصوبالوقع هغه د تمیز نه معلومیږی. که تمیز ئے مفعول وی نو دے به منصوب وی بنا بر مفعولیة لکه کم رجلاً ضربتَ. او که تمیز ئے ظرف وی نو دے به منصوب وی بنا بر ظرفیة لکه کم یوما سرتَ. او کچرته تمیز ددهٔ مصدر وی نو دے منصوب وی بنا بر مصدریة لکه کم ضربةً ضربتَ.

وكل ما قبله حرف جر او مضاف فمجرور او هر واحد د کم استفهامیه او کم خبریه نه چه ماقبل د هغه نه حرف جر او یا مضاف وی نو هغه به مجروری مثال د حرف جر لکه بکم درهمًا اشتریت او مثال د مضاف غلام کم رجلٍ ضربت. دلته سوال وارد یږی چه هر کله ما مجرور او کرځی په حرف جر سره او یا په إضافت سره نو صدارت د... جواب دادے چه هر کله تقدیر د مجرود په جار با نه ممتنع وو. نو دا کا لکلمة الواحدة او ګرځیدو. او مستحق د صدارت شو.

والاّ یعنی کچرته نه وی پس د د ه نه فعل نه لفظا او نه تقدیرا او نه شبهه فعل او نه مکښی د د ه نه حرف جر او نه مضاف بلکه دے مجرد وی د عوامل لفظیو نه.

فهو مرفوع نو دے به مرفوع وی بنا بر ابتدائیت.

ان لم یکن ظرفًا کچرته کښی دے ظرف نه وی څکه کچرته تمیز د ده ظرف او ګرځی نو ظرف په اعتبار د متعلق سره جمله وی او جمله صلاحیت دابتدائیت نه لری مثال د کم استفهامیه لکم رجلاً اخوتك او د خبریه مثال لکه کم اخوتك. دلته کښی کم مرفوع دے بنا بر ابتدائیت په نیزد سیبویه او په نزد غیر د سیبویه نه دا مرفوع دے بنا بر خبریت.

وخبرا إن کان ظرفًا او کچرته ظرف وی نو بیا به خبر وی. لکه کم یومًا سفرك په دے مثال کښی کم منصوب دے بنا بر ظرفیة څکه چه کائن مقدر په ده کښی عمل کړیدے نو دا سے به تقدیر د عبارت شی کم یومًا کائن سفرك او بیا دا مرفوع او ګرځیدو. څکه چه دے قائمقام او نائب مناب شو د متعلق محذوف او په دے کښی صلاحیت د رفع نشته بنا بر ابتدائیت څکه چه مبتداء خالی وی د عوامل لفظیه نه. **وکذالك** او په مثل د کم وجوه د اعراب کښی په شرائط مذکوره سره.

اسماء الاستفهام والشرط باقی اسماء استفهام او د شرط دی یعنی په نورو اسماء استفهام او د شرط کښی دا وجوه اعراب هم جلیږی او جاری کیږی.

زده کړه دا خبره چه اسماء استفهام او شرط من حیث الذات په درې قسمه دي. یو قسم هغه دے چه مشترک دے په مابین د استفهام او د شرط کښې او هغه شپږ دي. مَنْ، مَا، اَيٌّ، اَيْنَ، اَنّٰی او مَتٰی. دوئم قسم هغه دے چه خاص دے په شرط پورې او هغه اِذا دے. دریم قسم هغه دے چه خاص وي په استفهام پورې او هغه کیف او ایان دے. او د حیثیة د جریان د وجوهِ اربعه نه په دے کښې دا په څلور قسمه دي. وجه د حصرې په دے څلور قسمه کښې دا ده چه دا اسماء به خالي نه وي. یا به ظرف وي او یا به غیر ظرف وي. که چرته ظرف وي نو بیا به خالي نه وي یا به متضمن وي معنی د استفهام لره او یا به متضمن وي معنی د شرط لره. که چرته متضمن وي معنی د استفهام لره نو جاري کیږي به دے کښې وجوهِ ثلثه د وجوه اربعه نه جر بنا بر اضافة نصب بنا بر ظرفیة او رفع بنا بر خبریة. او احتمال د رفع بنا بر ابتدائیة پکښې نشته. ځکه چه رفع بنا بر ابتدائیة دا خاص ده په غیر ظرف پورې. او دا قسم خو ظرف دے. او که چرته کښې متضمن وي معنی د شرط لره. نو جاري کیږي به دے کښې دوه وجهین. جر بنا بر اضافة او نصب بنا بر ظرفیة. او رفع پکښې مطلقاً نه جاري کیږي نه بنا بر ابتدائیة او نه بنا بر خبریة. هرچه دے عدم رفع بنا بر ابتدائیة نو هغه په دے وجه چه رفع علی الابتدائیة مختص ده په غیر ظرف پورې او دا قسم ظرف دے او هرچه ده عدم رفع بنا بر خبریة. نو هغه په دے وجه چه کله دا مرفوع او ګرځي بنا بر خبریة لو ما بعد د دے به مرفوع وي. بنا بر ابتدائیة حالانکه ما بعد د دے نه فعل دے هغه صلاحیت د ابتدائیة نه لري. او که چرته کښې غیر ظرف وي. بیا به خالي نه وي. یا به لازم الاضافت وي یا به نه وي. که چرته وي. نو جاري کیږي په دے کښې وجوه اربعه. جرّ بنا بر اضافت، نصب بنا بر مفعولیة رفع بنا بر ابتدائیة په شرط د دے چه ما بعد د دے نه غیر ظرف وي. رفع بنا بر خبریة په شرط د دے چه ما بعد د دے نه ظرف وي. او که چرته نه وي نو بیا په دے کښې وجوهِ ثلاثه جاري کیږي برابره خبره ده چه متضمن وي معنی د شرط لره یا معنی د استفهام لره. جر بنا بر اضافت، نصب بنا بر مفعولیة، رفع

بنا بر ابتدائیة او احتمال یکښی درفع بنا بر خبریة نشته۔

و فی مثل شعر کم عمة لك یا جریر و خالة

او په مثل ددے مصرعے د شعر کښی چه کم عمة لك یا جریر وخالة ۔ ثلثة او جه درے وجوهات روادی مراد پدے ترکیب سره هر هغه ترکیب دے چه هغه‌کښی دکم استفهامیه لری او دکم خبریه هم او د حذف او د ذکر د ممیز۔

دلته کښی احتمال ددے خبرے هم دے چه دا وجوه ثلاثه وجاری شی په نفس کم کښی. یودا چه رفع وی بنابر ابتدائیة کچرته کښی تمیز ددے مذکور وی په هغه عمة دے. یا ددے پس به دا کم خالی نه وی یا به کم خبریه وی یا به کم استفهامیه وی کچرته کم استفهامیه شی نو بیا به عبارة داسے شی. کم عمة لك یا جریر و خالة او کچرته کم خبریه شی نو عبارة به داسے شی چه کم عمة لك یا جریر وخالة الخ دو ئمه وجه نصب بنا بر ظرفیة کچرته تمیز ددے موئث منصوب او منو چه هغه مرة دے اس چه کله کم استفهامیه شی نو تقدیر به داسے شی. کم عمة لك یا جریر و خالة. قد عاء قد حلبت علی عشاری. نو په دے دو ئمه مصرعه کښی به داسے شی. چه قد عاء کم مرة. دریمه وجه دنصب بنا بر مصدریة کچرته کښی تمیز ددے محذوف وی. چه هغه حلبة دے. نو کچرته کښی کم استفهامیه وی نو تقدیر وعبارة به داسے شی کم عمة لك یا جریر وخالة. فدعاء کم حلبة قد حلبت علی عشاری. او که چرته کښی کم خبریه شی نو معنی به داسے شی چه کم حلبة قد حلبت علی عشاری او دا وجوه ثلثه په تمیز د کم کښی هم جاری کیدلے شی یو رفع دے بنا بر ابتدائیت کچرته تمیز د کم محذوف وی چه هغه مرة یا حلبة دی نو معنی به داسے شی بنا پدے تقدیر عمة لك یا جریر وخالة قدعاء کم مرة کچرته کم استفهامیه شی او کم مرة به شی کچرته کم خبریه شی. دو ئمه وجه نصب د عمة کچرته تمیز د کم استفهامیه وو نو معنی به داسے شی چه کم عمة لك یا جریر الا او دریمه وجه جر د عمة هلا کچرته تمیز د کم خبریه شی نو معنی به داسے شی چه کم عمة لك یا جریر وخالة. ولے اول توجیه الیقه ده دما سبق سره. ځکه چه بحث په وجوه د اعراب د کم کښی دے. په خلاف د توجیه ثانی کښی ځکه چه بناء د بحث په حذف د تمیز او په ذکر ده. او هغه ځکښی ذکر نه دے

په دے شعر کښ شاعر فرزدق د جریر هجواؤ مذمت بیانوی. دلته کښ فدعاء دا صفت دے د پاره د عمة او د خالة په معنی د کوږ والی د لاسو د مروند او د پښتو. دلته کښ **سوال** راځی چه مقصود د شاعر هغه مذمت دے. او هغه نه حاصلیږی په فدعاء سره. ځکه چه کیدے شی چه دا عیب په دوی کښ د وجه د کثرت عبادت نه راغلی وی **جواب** دادے چه مراد د شاعر دا دے چه دوی کښ دا عیب د وجه د کثرت خدمت نه پیدا شوے دے یا شاعر دوی ته نسبت د سوء الخلقة کوی. **سوال** دادے چه علی خو صله د پاره د حلبت نه راځی په دغه وخت کښ بیا معنی کښ فساد راځی. **جواب** دادے چه علی ئے راوړے دے په تضمن د دے سره معنی ثقلت لره. او دلته کښی خدمت د مواشؤ دا ابلغ دے په مذمت کښی. **سوال** دادے چه ذم خو حاصلیږی په ذکر د عماتو سره نو ذکر د خالاتو ته څه ضرورت دے. **جواب** دادے چه دے کښی اشاره د رزالة د دوی ته په طرفینو کښی یعنی د جانبه د آب او د جانبه د اُم نه په دے کښی رزالة موجود دے **اعتراض** واردیږی چه ذم خو په تقدیر د کم خبریه صحیح کیږی ولے په تقدیر د کم استفهامیه سره نه صحیح کیږی. **جواب** دادے چه ذم په تقدیر د کم خبریه علی سبیل التحقیق دے او په تقدیر د کم استفهامیه علی سبیل التحکم والسخریه دے.

وقد یحذف | او کله کله حذف کیږی تمیز د کم استفهامیه یا د کم خبریه

فی مثل کم مالك وکم ضربت | مراد په دے سره هغه ترکیب دے چه په هغے کښ قرینه موجوده وی په حذف د تمیز باندے

او په دے دواړو مثالونو کښ قرینه موجوده ده په حذف د تمیز باندے چه هغه قرینه حالیه ده. قرینه په کم مالك دا سوال دے د مقدار او د کمیة د مال نه یا اخبار دے په کثرت د مال باندے عرفاً. او بیان د مقدار د مال نه یا اخبار د کثرت د مال نه دا په دراهم او په دنانیرو سره کیږی عرفاً. نو معلومه شوه دا خبره چه دلته کښ تمیز یا درهما او درهم یا دینارا او دینار دے او قرینه په کم ضربت کښ داده چه دا سوال دے د مقدار او د کمیة د ضرباتو نه او یا اخبار دے د کثرت د ضرباتو نه او بیان د مقدار د ضرباتو او یا اخبار

دکثرت د ضربانو ما کولے شی عرفا په ضربا تو او په مرا تو سره. پس معلومه شوه چه تمیز یا ضربةً دے یا ضربۃٍ دے. یا مرّۃً یا مرۃٍ.

الظروف

بل قسم د مبنیا تو نه صفه ظروف دی. سوآل وارد یږی چه د لته کښی مخالفت راغلے دے په مابین د اجمال اؤ د تفصیل کښی په دے شان سره چه هلته په اجمال کښی ډِ او یَیل. چه بعض الظروف اؤ دلته کښی الظروف او وئیل جوآب دادے چه دلته کښی الف لام په الظروف کښی عهدی دی. اؤ معهود په دے سره ظروفِ مبنیه دی. یا دا الف لام د پاره د مقصد د بعضو ظروفو لغلی دی. اؤ مراد په ظروفو سره اسم زمان اؤ مکان دی برابره خبره ده چه د هغے ظرفیة معتبر کړے شوے وی اؤکه نه وی. سوآل وارد یږی چه شمیرل د کیف د ظروفو نه نه صحیح کیږی ځکه چه دا اسم د صفة دے اؤ یا حال دے نه اسم زمان یا مکان جوآب دادے چه ظروف عام دی حقیقتًا وی یا حکمًا اؤ کیف ظرف دے حکمًا ځکه چه دے محتاج دے متعلق ته لکه ظرف حقیقی. زده کړه خبره چه ظروف جا ئز البناء لکه قبل اؤ بعد شو دا به خالی نه وی. یا به دے سره مضاف الیه ذکروی یا به نه وی که چرته مضاف الیه ور سره ذکر وی نو دا معرب دے اؤکه نه وی ذکر بلکه حذف وی. نو بیا به خالی نه وی یا به نسیا منسیا وی یا به منوی وی دنسیا منسیا مطلب دا دے چه دا حذف به په لفظ اؤ په نیت دواړو کښی وی. اؤ منوی مطلب دادے چه په لفظ کښی به نه وی ولے په نیت کښی به مراد وی. که نسیا منسیا وی نو معرب په شان د نورو اسماء معربه اؤ که منوی نو بیا به خالی نه وی یا به ور سره د عوض نه وی اؤ یا به بغیر د عوض نه وی که اول وو نو معرب اؤ که ثانی وو نو مبنی.

منها | بعض د دغه ظروفو نه ما هغه ظرف دے. قطع عن الاضافة چه قطع کړے شوے وی د اضافت نه چه مضاف الیه حذف کړے شوے وی

په لفظ کښې نه په نیت کښې. کله چه مضاف الیه حذف وی په دواړو کښې نو بیا
به معرب وی سره د تنوین نه لکه په دے مصرعه کښې.

ع رُبَّ بعدٍ کان خیرا من قبل. او ظروف مقطوعه عن الاضافة ته غایات هم ویلے
شی. ځکه چه دا غایة د کلام او ګرځیدو پس د حذف د مضاف الیه نه. او دا
به مبنی وی په ضمه باندې. هرچه د بناء دده نو هغه په دے وجه چه ددے
مشابهت راغلے دے د حرف سره په احتیاج کښې او هرچه د بناء ددے په ضمه
باندې نو هغه په دے وجه چه هرکله ددے نه مضاف الیه حذف شو نو په دے
کښې ډیر لوئے نقصان راغے. او د پاره دد غه قوی نقصان د جبیرے ضرورت
دے. او اقوی په حرکاتو کښې ضمه ده. په دے وجه دے مبنی په ضمه
اوګرځیدو.

کقبلُ و بعدُ | لکه قبل او بعد شو. لکه په دے قول د باری تعالی کښې لله الامر
من قبلُ و من بعدُ او جائزدے په دغه ظروفو کښې علی سبیل
القلة تنوین عوض د مضاف الیه نه لکه په دے شعر د شاعر کښې.

فساغ لی الشراب وکنتُ قبلاً . اکاداعض بالماء الفرات.

واجری مجراها لاغیر ولیس غیر | او جاری کړے شویدے په مجری د ظروف
مقطوعة عن الاضافة لاغیر او لیس غیر په
حذف د مضاف الیه کښې او په بناء علی الضم کښې د وجے د مشابهت د دوی
نه په غایاتو پورے هرچه دے پس د لا او د لیس نه هغه په دے چه د لا
او د لیس نه بعد غیر کثیرالاستعمال دے. او کثرة استعمال تقاضا د خفت کوی
نو تخفیف حاصل کړو شاتو په حذف د مضاف الیه سره.

وحسبُ | او دغه شان جاری کړے شوے دے په مجری د ظروف مقطوع
الاضافة باندې حسبُ د وجے د مشابهت ددے نه د غیر سره په کثرت استعمال
کښې. او په ابهام کښې.

ومنها حیث | او بعض د ظروفو نه حیث دے. چه دا راځی د پاره د مکان.

ولا یضاف الا الی الجملة | او د دے اضافت نه راځی مګر جمله ته. او دا مبنی کړے

شر په منه بانڈ پشانے د غایاتو حُکه چه دے غالب الاضافة دے جملے ته اؤ اضافة الی الجملہ کلا اضافة دے. حُکه چه مضاف جملے ته دا په حقیقت کښ مضاف وی مضمون دجملے ته. اؤ مضمون د جملے خو د لته کښ ذکر نه دے. اؤ اضافة تُمنسَن جملے ته پشان د قطع د اضافت دے. اؤ په وخت د قطع د اضافت کښ ظروف کرځی مبنی.

فی الاکثر یعنی په اکثر استعمالاتو کښ اؤ په استعمال اقل کښ د دۀ اضافت مفرد ته راتلے شی. لکه په دے قول د شاعر کښ ځے. اما ترٰی حیث سهیل طالعا. چه کله اضافت د دۀ مفرد ته اوشی نو پدے قول کښ بیا اختلاف دے. بعض وائی چه په دغه صورت کښ هم مبنی د وجے د حمل د اقل نه په اکثر بانڈ اؤ بعض خاۃ وائی چه معرب دے حُکه چه اصل په اسماء کښ اعراب دے اؤ بله وجه داده چه په دغه وخت کښ په دهٔ کښ علة د بنا نشته.

ومنها اذا بعض د ظروف مبنیه نه اذا دے. برابره خبره ده چه زمانی وی که مکانی وی. وجه د بنائے په حیث کښ ذکر ده یعنی د حیث پشان دهٔ. اؤ داراځی د پاره د مستقبل اګرچه داخل وی په فعل ماضی بانڈ. حُکه چه دا استقبال د پاره د زمانے دا زمنه د مستقبل نه چه قطعی وی د قوع د حدث په هغه کښ په نز د اعتقاد د متکلم. اؤ استعمال دا دلیل د وضع دے. اؤ د دے وجه نه غالب ده وقوع د دهٔ په کلام د باری تعالٰی کښ چه علام الغیوب دے حُکه چه هغه په امور آتیه بانڈ قطعی طور سره خبردار دے. لکه اذا الشمس کورت. اؤ مراد په استعمال سره استعمال دے علی سبیل الکثرة.

وفیها معنی الشرط اؤ کامُنه وی په دے اذا کښ معنی د شرط. چه هغه ترتب د مضمون د جملے دے په مضمون د جملے اُخریٰ بانڈ دا ئے زبیل علت د بنا اوګرځیدو. چه دے متضمن دے معنی د حرف شرط لره.

ولذالك اؤ د دے وجه نه چه موجود بیزی په دے کښ معنی د شرط.

اختیر بعدها الفعل مختار ګرځے شی پسے بعد د دے نه فعل. حُکه چه د فعل مناسبت د شرط سره شته دے. اؤ بنا په وجه غیر مختار ده بانڈ اسم د دے نه بعد راتلے شی. د وجه د عدم اصالة نه په شرط کښ.

وقد تكون للمفاجاة اؤ كله كله راځي د پاره د مفاجاة او مفاجات ملاقات د يو شي دے بل شي سره بغير د شعور نه يعني ناڅاپه ملاويدل.

فيلزم المبتدا بعدها پس لازمه ده مبتدا پس د دے نه د پاره د فرق په مابين د اذا مفاجاتيه كښې او د شرط كښې. او مراد په لزوم د مبتدا سره غلبه د وقوع د مبتدا ده. زده كړه دا خبره چه په اذا كښې څلور مذهبه دى. يودا چه اذا ظرف د مكان د وقوف د سبع دے. يا ظرف د زمان د وقوف د سبع دے. يا ظرف د پاره د خبر محذوفه او عامل پدے كښې محذوف دے. يا دا ظرف زمان دے چه مضاف دے مابعد ته چه هغه جمله محذوفة الخبر ده. سوال مارا ځي. چه كلمه د اذا هر كله مضافه شوه مابعد ته پدے كښې به خبر محذوف عمل نه كوى. ځكه چه دا خبر د مضاف اليه دے. او دا به په مضاف كښې عمل نه كوى. او نه به خرجت كښې د وجه د وجود د فاصل نه چه هغه فا ده. نو دا بلا عامله پاتے شو. جواب دادے چه عامل په دے كښې معنى د مفاجات ده چه هغه فهم كيږى د اذا مفاجاة نه. نو تقدير د عبارة به داسے شي چه خرجت ففاجئت زمان وقوع السبع. سوال دادے چه خرجت فاذا السبع واقف د لته كښې عطف د جملے اسميے راغلے دے. په جملے فعليے باندې. جواب دادے چه ما فا جزائيه ده عاطفه نه ده.

ومنها اذ للماضي او بعض د ظروف مبنيه نه هغه اذ دے. چه كائن دے د پاره د ماضي په غالب استعمال كښې يعني چه موضوع دے د پاره د زمانے د ماضي. او دا مبني دے د هغه وجه نه چه مونږ چه حيث كښې ذكر كړيده او يا دا چه د ضع د ده پشان د حرف ده. په ثنائيت كښې. د لته كښې سوال وارديږى چه اذ څنګه راځي د پاره د ماضي، د غه شان د پاره د مضارع هم راځي لكه په دے قول د بارى تعالىٰ كښې فسوف يعلمون اذ الاغلال الآية. جواب دادے چه اذ راځي د پاره د ماضي په اعتبار د غالب استعمال سره.

وقد يقع بعدها جملتان او كله كله واقع كيږى پس د دے نه دوه جملے. يعني جمله اسميه او جمله فعليه د وجه د عدم اشتمال د دے نه په معنى د شرط باندې چه مقتضى دے د پاره د اختصاص په جملے فعليه پورے او كله كله راځي د پاره د مفاجات. خو دا ډير قليل دے.

ومنها این وانی للمکان استفهاما وشرطا | او بعض د ظروف مبنیه نه این او انی دے چه کار ئی دی دپاره د مکان په حال د کون ددے کښې چه استفهام وی او که شرط وی.

ومتی للزمان فیهما | او متیٰ راځی دپاره د زمان په استفهام او په شرط کښې.

وایان للزمان استفهاما | او ایان راځی دپاره د استفهام د زمانے نه.

وکیف للحال استفهاما | او کیف راځی دپاره د استفهام د حال نه او بناد دغه ظروفو د وجه د تضمن ددے نه معنی د حرف شرط او استفهام لره. د لته کښې سوال راځی چه کیف کله راځی د پاره د حال نو شمیرل ددی د ظروفو نه دی صحیح. ځکه چه ظرف خو یا زمان دے یا مکان دے. او کیف راځی د پاره د حال د شی او یا د صفت د شی. جواب دا دے چه دا جاری کړے په مجری د ظروفو بانډې ځکه چه دے مؤول دے په تاویل د جار مجرور سره نکه چه څنګه ظرف مؤول دے په جار مجرور سره.

ومنها مذ ومنذ | او بعض د ظروف مبنیه نه مذ او منذ دی وجه د بنا ددوی دا ده چه دا موافق دی دهغه مذ او منذ سره چه کوم د حروف جاره نه دی. او یا دا چه هر واحد ددے دواړو نه متضمن دے معنی د حرف د اضافة لره ځکه چه مذ یوم الجمعة په تاویل د اضافة سره په دا سے شی چه اول مدة زمان الفعل السابق یوم الجمعة او فرق په ما بین د مذ او منذ کښې چه اسمین دی یا حرفین دی ثابت دے لفظاً او معنی دواړه. هرچه دے لفظاً نو هغه دا چه پس د مذ او منذ چه اسمین وی مرفوع وی او د مذ او منذ چه حرفین دی مجرور. او معنوی فرق دا دے چه دا کله اسمین وی. نو په معنی د اول المدة یا په معنی د جمیع المدة او دا دواړه معنین اسمی دی. او چه کله حرفین وی نو په معنی د مِن به وی په ماضی کښې چه هغه ابتداء الشئ الخاص من الشئ الخاص. او یا به په معنی د فی سره په حاضر زمانه او حال کښې. او هغه ظرفیة الشئ الخاص للشئ الخاص. او هر واحد ددے دواړو نه که ابتداء ده. او که ظرفیة ده معنی حرفی ده.

بمعنی اول المدة یعنی دی کله کله دا مذ او منذ په معنی د اولے مدے یعنی اول مدة زمان الفعل المتقدم علیهما لکه او ئیلے شی ما رأیته مذ یوم الجمعة ای اول مدة زمان عدم رؤیتی ایاه یوم الجمعة چه کله دا صالح وی د پارہ د جواب د متیٰ۔

فیلیهما نو پس راځی به ددے دواړو نه روستو بغیر د فاصل نه۔

المفرد مفرد حقیقتاً وی که حکمًا د حقیقة مثال لکه یوم شو په مثال مذکور کښې او د حکما مثال لکه یومان شو. یا ایام شو. دلته کښې یومان او ایام اگرکه مفرد نه دی حقیقتاً لیکن حکمًا مفرد دی ځکه چه څکښې به دا ملاحظه کړے شی امر واحد بیا به ورباندې حکم داولیة د مدة لګولے شی ځکه چه اولیة د مدة عبارة دے د امر واحد نه۔

المعرفة او معرفه به وی او معرفه هم عامه ده حقیقتاً وی که حکمًا معرفه به ځکه وی. ددے وجه نه چه نشته دے فائده په کرځولو د وخت کښې مجهول د فعل متقدم مه د معرفے حقیقی مثال لکه یوم الجمعة په مثال مذکوره کښې او د معرفے حکمی مثال لکه چه روستو ددے نه نکره مخصصه ذکر شی دا معرفه حکمی ده۔

وبمعنی جمیع المدة او کله کله وی په معنی د جمیع المدة یعنی جمیع مدة د زمانے د فعل چه صالح وی د پارہ د جواب د کم۔

فیلیهما المقصود نو ددے نه روستو به مقصود راځی یعنی هغه زمانه چه قصد د بیان د هغې کړے شوے دی۔

بالعدد په حال دکون د دغې زمانے کښې چه متلبسه وی په عدد سره۔ [illegible] عدد چه مستغرق وی جمیع اجزاء د فعل متقدم مه لره. دپاره ددے چه مطابقت راشی په مابین د سوال او د جواب کښې او دلته کښې مقصود صفت بحال متعلق مے او بالعدد جار مجرور متعلق دے په متلبسا پورے۔

وقد یقع بعدهما المصدر او کله کله بعد ددے دواړو نه مصدر واقع کیږی لکه ته اووائے ما خرجت مذ ذهابك۔

او الفعل یا فعل لکه ما خرجت مذ ذهبت۔ **او انّ** یا انّ برابره خبره ده چه مخففه وی که مشقله وی. لکه ما خرجت من انك ذاهب یا ما خرجت مذ ان ذهبته

فیقدر پس مقدر کولے بہ شی پس د دے دوارو نه.

زمان لفظ د زمان **مضاف** چه مضاف به وی یو د دغه اشیاء ته دپاره د دے چه صحیح شی حمل د ما بعد په دے باندِ. تقدیر به داسے شی. ماخرجتُ من ذ هابك. یعنی ما خرجت مذ زمان ذ هابك او تقدیر د ماخرجت مذ ذهبت داسے شی چه ماخرجت مذ زمان ذهبت. اضافت به په دے صورت کښې حیلے ته راشی.

وهو او هر واحد د دے دوارو نه **مبتدا** مبتداء ده ځکه چه دا دواړه اگرچه نکرتین وی صورةً لیکن د دوی معرفتین دی معنیٰ د وجے د وجود د اضافت په معنیٰ د دوی کښې ځکه چه دا راځی په معنیٰ د اول المدة.

وخبره ما بعده او ما بعد د دے به خبر دی. **خلافا للزجاج**. خلاف ثابت دے زجاج لره ځکه چه د هغه په نزد باندِ عکس د دے قول دے، یعنی دا دواړه خبر دی او مابعد د دوی نه مبتداء ده. ځکه چه مابعد د دے نه معرفه ده صورةً ولے د ده قول ضعیف دے. ځکه چه لازمه نه ده دا خبره چه د ده نه دو ستو معرفه وی نکه مذ یومان کښې سوال دادے چه هرکله هر واحد د مذ او د منذ نه مبتداء ده یا خبر بنا برا ختلاف. نو بیا شمیرل د دوی د ظروفو نه صحیح کیږی. ځکه چه مبتدا او خبر عمده دی او ظروف فضله دی. جواب دادے چه اطلاق د ظرف په دوی باندِ مجازاً دے. په اعتبار د دے سره چه اسمین دی د پاره د زمان یا د مکان.

ومنها لدیٰ ولدن وقد جاء لَدن ولِدن ولُد ولَد دا مختلف لغات په دے کښې راغلی دی او وجه د بنا د دے داده چه په دے کښې وضع د بعض په ځائے د بعض حروفو راغلے ده او باقی په هغے باندِ حمل کړی شوی دی او دا لفظ په معنیٰ د عند باندِ دی او فرق په مابین د دوی کښې دادے چه عند په هغه وخت کښې استعمالیږی چه مال حاضر وی او که په خزانه کښې وی. او لدیٰ په هغه ځائے کښې استعمالیږی چه مال مثلاً حاضر وی.

ومنها قَطْ قَطُّ قُطُّ قَطِ قَطَّ په دے کښې پنځه لغات دی او دا توقیت للماضی المنفی دپاره د فعل ماضی منفی دی. سوال دادے چه موصوف د ماضی دا به خالی نه دی یا به زمان وی یا به فعل وی. یعنی للزمان الماضی او الفعل الماضی

کچرته موصوف ئے فعل وی. نو مطلب به دا شی چه فقط د اسماء افعال نه دے اؤ په دے باندے څوک هم قائل نه دے. اؤ کچرته اول شی یعنی زمان ماضی نو صحیح نه دے توصیف د دے په منفی سره. جواب دا دے چه موصوف د دے فعل دے لیکن دلته کښې جار مجرور دا متعلق دی په یستعمل پورے نه په یوضع پورے نو تقدیر د عبارة به داسے شی چه کلها یستعمل لاجل ظرفیة الفعل الماضی المنفی. اؤ یا موصوف د دے زمان دے اؤ جار مجرور یعنی ظرف متعلق دے په موضوع پورے. ولے منفی نعت دے د زمان د پاره په اعتبار د متعلق سره نو تقدیر د عبارة به داسے شی چه کلها موضوعة للزمان الماضی المنفی وقوع حدث فیه. اؤ وجه د بناء دا ده چه په دے کښې بعض وضع دی په وضع د حرف سره. اؤ باقی په هغے باندے محمول دی.

ومنها عوض | اؤ بعض د هغے نه عوض دے په فتح د عین اؤ ضمے د ضاد سره. د اپه دے کښې مشهور د لغاتو نه دے.

للمستقبل المنفی | دا مستعملیږی د پاره د ظرفیة د فعل مستقبل اؤ یا موضوع دے د پاره د زمان مستقبل چه منفی دے وقوع د حدث په ده کښې. وجه د بناء دا ده چه دے د ظروف مقطوعه نه دے لکه قبلُ اؤ بعدُ شو. اؤ هغه مبنی دی نو دے هم مبنی اوګرځیدو. اؤ غرض د دے نه استغراق د نفی د جمیع ازمنه آتیه دے. لکه لا اراه عوض یعنی لا اراه فی شئ من الازمنة الآتیة.

والظروف المضافة الی الجملة | اؤ هغه ظروف چه مضاف وی جملے ته. هرکله چه مصنف فارغ شو د بیان د هغه ظروفو نه چه واجب ده بناء د هغوئ نو شروع ئے اوکړه په بیان د هغه ظروفو کښې چه جائز ده بنا د هغوئ نو وے وئیل چه والظروف المضافة الخ هغه ظروف چه مضاف دی جملے ته بغیر د واسطے د اذ یا سره د واسطے د اذ نه.

یجوز بناء ها | جائز ده بنا د دوئ. ځکه چه د دوئ اکتساب د بنا کړی د جملے نه هغے جمله چه هغے ته د دوئ اضافة شوے وی. اؤ جائز ده دا خبره چه دوئ معرب اوګرځی ځکه چه دا اسماء مستحق د اعراب دی. اؤ اکتساب د بناء د مضاف الیه نه لازم نه دی اؤ جائز ده بنا د دوئ په فتح باندے ځکه چه فتحه اخف الحرکات دے

وكذالك مثل وغير مع ما وأن وأنّ | او پشان د ظروفو مضافه جمله ته کلمه د مثل او د غير ده چه مستعمل دي سره د مآ او د اَنْ او د انّ نه. چه مخفف وي که مثقل. ځکه چه دوئ مشابهه دي د ظروف مضافه سره په کثرت استعمال او د ابهام کښې لکه قيامي مثل ما قام زيد قيامي مثل ان تقوم قيامي مثل انك تقوم. مثال د غير لکه قيامي غير ما قام زيد قيامي غير ان تقوم يا قيامي غير انك تقوم.

المعرفة والنكرة

دا خبر دے د مبتدا محذوف او د لته کښې دوه مضافه مقدر دي نو تقدير د عبارة به داسے شي. چه هٰذا باب بيان المعرفة والنكرة.

المعرفة ما | معرفه دا هغه اسم دے. د لته کښې د "ما" نه تعبير په اسم سره او شو نه په لفظ يا په شي يا په کلمه سره ځکه چه معتبر په تعريفاتو کښې جنس قريب دے او جنس قريب د پاره د معرفے هغه اسم دے. او فصل ترنه خارج شو لکه ضرب چه دا وضع دے د معنى معين چه هغه حدث خاص دے لکن دا داخل نه دے په جنس کښې په دے وجه ددے د اخراج د پاره د قيد راوړلو ضرورت نشته.

وضع | چه وضع کړے شوے وي برابره خبره ده، چه وضع کلي وي يا جزئي.

لشئ بعينه | د پاره د يو شي چه هغه متلبس وي په تعين سره چه ملحوظ وي په لحاظ د معلوميت او معهوديت سره په ما بين د متکلم او د مخاطب کښې نه په خارج کښې.

وضع په دوه قسمه ده يو خاصه ده او بله عامه ده وضع خاصه اول چه ده يا به ئے تعلق د لفظ وي په امر واحد پورے برابره خبره ده چه موضوع له شخصي وي لکه په اعلام شخصيه کښې. يا امر کلي وي لکه په اسماء اجناس کښې يا اعلام جنسيه کښې. لکه أسد او أسامه چه دا دوا ړه موضوع دي د پاره د مفهوم کلي چه هغه حيوان مفترس دے نو وضع په دے دواړو کښې خاص ده چه تعلق ئے په امر واحد پورے د لفظ دے چه هغه مفهوم کلي دے او موضوع له عامه ده. ځکه

چه دا مفهوم کلی صادق دے په افرادِ کثیره باندِ. دویم هغه چه تعلق ئے په امور متعدده پورے راغلے وی. برابره خبره ده چه موضوع له امرِجزئی وی لکه په مضمراتو، اسمائے اشاراتو او موصولاتو کښ یا امر کلی وی لکه په مشتقاتو کښ، نو عمومیة او خصوصیة د وضع په اعتبار د تعلق ددے په امر واحد پورے یا امور متعدده پورے او عمومیة د موضوع له یا خصوصیة د هغه ما په اعتبار د کیدلو ده ملحوظ په عموم او په خصوص سره. نو دلته کښ څلور قسمه موجود شول. وضع خاص موضوع له خاص. وضع عام موضوع له عام وضع خاص موضوع له عام او وضع عام موضوع له

وهی | یعنی دا معرفه په استقراء سره په شپږ قسمه ده. **المضمرات** اول قسم مضمرات دی. او دائے مقدم کړل په ټولو معارفو باندِ ځکه چه مضمرات اعرف المعارف دی. وضع په دے کښ عامه ده ځکه چه د دے تعلق په امور متعدده پورے راغلے دے. او موضوع له خاص دے.

والاعلام | دویم قسم د معارفونه اعلام دی. برابره خبره ده چه علم شخصی وی او که علم جنسی وی. علم شخصی لکه مونږ تصور د مفهوم د زید او کړو چه هغه حیوان ناطق دے مع التشخص او وضع د لفظ د زید په مقابله د مفهوم د زید کښ او شوه د حیثیته د معلومیة او معهودیة نه په مابین د متکلم او د مخاطب کښ. او علم جنسی لکه تصور د مفهوم د اسد او شو چه هغه حیوان مفترس دے او لفظ د اسامه په مقابله ددغه مفهوم کښ وضع کړے شی چه دا معلوم دے په مابین د متکلم او د مخاطب کښ په خارج کښ.

فرق په مابین د اسم جنس او د علم جنس کښ دا دے. چه اسم جنس هغه دے چه وضع شوے وی په مقابله د مفهوم کلی کښ بغیر د معهودیة نه په مابین د متکلم او د مخاطب کښ. لکه لفظ د اسد دے چه وضع شویدے په مقابله د اسد کښ. او په علم جنس کښ معهودیة شرط دے په مابین د متکلم او د مخاطب کښ لکه اسامه شو په اسم جنس باندِ احکام د نکرے جاری کیږی. او په علم جنس باندِ احکام د معرفے. په دے وجه باندِ نه داخلیږی الف لام په اسامه باندے.

والمبهمات | او دریم قسم د معارفو نه هغه مبهمات دی. او هغه اسمائے اشارات

او موصولات دي دوئ ته مبهمات وائي. ځکه چه اسم اشاره بغیر د مشار الیه نه مبهم دے. او د غه شان موصول بغیر د صلے نه مبهم دے. دلته کښې موضوع له خاص دے او وضع عامه ده.

وماعرف باللام | څلورم قسم هغه دے چه معرفه وي په الف لام سره. برابره خبره ده چه الف لام جنسي وي که استغراقي وي او که عهدي وي سوال دا دے چه مصنف" دا سے ولے او نه وئیل. چه و ما دخلت علیه اللام. جواب دا دے چه بیا به کښې الف لام زائد هم داخلیدل. چه هغه راځي د پاره د تحسین د لفظ.

والنداء | او یا معرف وي په نداء سره لکه یارجل شو چه مراد په دے سره معین وي. دے موضوع مے په وضع کلي سره.

والمضاف الی احدها | چه مضاف وي یو د دے امورو مذکوره ته. معنی یعنی په اضافت معنویه سره نه په اضافت لفظیه سره ځکه چه اضافت لفظیه تعریف نه فائده کوي. سوال دا دے. چه بعض د دے امور مذکوره نه منادی ده او اضافت منادی ته ممتنع دے جواب دا دے چه مراد په احدها سره دا دے چه یمع کونه مضافا الیه او منادی کښې دا صلاحیت نشته. او مضاف الی احدها دا عام دے چه بالذات وي که بالواسطه وي. د بالذات مثال لکه غلام زید او د بالواسطه لکه غلام ابیك.

سوال دا دے چه د مثل او د غیر اضافت چه راشي نو هم تعریف نه فائده کوي. جواب دا دے چه دا حکم سیوا د مثل او د غیر نه دے. ځکه چه په دوئ کښې د وجے د توغل فی الابهام نه په اضافت سره هم تعریف نه راځي.

العلم ما وضع لشئ بعینه | علم سره د ټولو قسمو چه لقب دے کنیة دے او اسم محضه دے هغه دے چه وضع کړے شوے وي د پاره د یو شئ معین یعني چه ملحوظ وي په لحاظ د معهودیة او معلومیة سره په مابین د متکلم او د مخاطب کښې په خارج کښې.

سوال دا دے چه ستا دا تعریف د علم جامع نه شو خپلو افراد ولره ځکه چه خارج شو ترینه اعلام غالبه ځکه چه تعین په هغې کښې په حسب د غلبے د استعمال سره دے. ځکه چه په هغې کښې خو وضع نشته دے. جواب دا دے چه اعلام غالبه داخل دي په تعریف کښې ځکه چه استعمال د مستعملین په منزله د وضع د واضع دے.

نو خلاصه د جواب دا شو چه وضع عامه ده حقیقي وي که حکمي. د حکمي مثال لکه اعلام غالبه سوال دا دے چه علوئے ولے خاص کړو په تعریف سره په مابین د نورو معارفو کښې. جواب دا دے چه تعریف د مضمراتو موصولاتو اؤ د اسماء اشاراتو هغه خو مخکښې ذکر شوے دے. اؤ معنی د مضاف یو دے اورو ته هغه هم ظاهر ده اؤ معرف باللام اؤ معرف بالنداء دا هم د تعریف نه مستغني دی. نو پاتے شو تعریف د علم په دے وجه بانده دا خاص اوکرځیدو په تعریف سره.

واعرفها المضمر المتکلم | اؤ اعرف المعارف په دوي کښې ضمیر د متکلم دے ځکه چه په دے کښې التباس نشته دے.

ثم المخاطب | بیا ورپسے ضمیر د مخاطب دے ځکه چه په بعض احیانو کښې په دے کښې التباس راځي. چه کله تعدد د مخاطبینو راشي. بیا ورپسے په دریم مرتبه کښې ضمیر د غائب دے. اؤ مصنف دا ذکر نه کړو. ځکه چه هر کله د متکلم اؤ مخاطب مرتبه متعینه شوه. نو د دے مرتبه هم معلومه شوه. د لته کښې سوال واردیږي چه څه وجه ده چه مصنف تفاوت بیان کړو. په مابین د اصنافو د مضمراتو کښې. اؤ په نورو معارفو کښې ئے بیان نه کړو. جواب دا دے چه په نورو اصنافو د معارفو کښې تفاوت نشته دے سوا د اصنافو د مضاف نه یو د دوي ته. لیکن تفاوت د هغوي معلومیږي د مضاف الیه.

والنکرة ما وضع لشئ لا بعینه | نکره یو اسم دے چه وضع کړے شوے وي د پاره د یو شي چه نه وي ملحوظ په لحاظ د معلومیة اؤ معهودیة سره په مابین د متکلم اؤ د مخاطب کښې په خارج کښې ما وضع لشئ دا جنس شو نکره اؤ معرفه دواړو پکښې داخل شو. لشئ لا بعینه. دا فصل دے معرفه ترے نه خارجه شوه.

اسماء العدد | بل قسم د مبني نه هغه اسماء عدد دی. سوال واردیږي چه دا اسماء عدد به خالي نه وي یا به معرب وي یا به مبني وي. که معرب وي نو داخل دي په معرب کښې اؤ که مبني وي نو داخل دي په مبني کښې بیا مستقل ذکر کولو ته د دے څه ضرورت وو. جواب دا دے چه د دے څه خاص احکام دي. چه هغه د نورو اسماء د پاره نشته په دے وجه ئے دا خاص ذکره بالذکر

ما وضع لكمية آحاد الاشياء هغه دي چه وضع شريدي د پاره د مقدار د هر واحد دافرادو د معدودواتو نه. آحاد عبارة دے د هر واحد نه. اؤ كمية د آحادو داعبارة دے د هغه مرتبې نه چه واقع دي په جواب د سوال د سائل كښې په كم سره. اؤ هغه الفاظ چه دال دي په دغه كمياتو بانديں دے ته اسماء عدد دو ئيلے شي. سوال وارديږي چه ستا دا تعريف مانع اونه گرځيد و د دخول د غير نه اؤ ما خل شو پكښې رجل اؤ رجلان. منٌ، منّان، ذراعٌ، ذراعان. ځكه چه دا خو هم دلالت كوي په كمية د آحادو د اشيارٌ باندې حالانكه دا خو اسماء عدد نه دي. جواب دا دے چه موضوع لهٗ د پاره د اسماء عدد كميتِ د آحادو د اشياء دے فقط بغير د دلالت نه په جنسية باندې اؤ دا الفاظ دلالت كوي په كمية باندې سره د دلالت نه په جنسية.

اصولها يعنى اصول د اسماء عدد چه د هغې نه باقي مشتق كيږي. يا په الحاق د علامے د تانيث سره يا په اسقاط د هغې سره يا په تثنيه اؤ په جمع سره يا په تركيب اضافي سره يا په تركيب امتزاجي سره. يا په عطف سره.

اثنا عشرة كلمة. دولس كلمے دي. واحد ة الى عشرة د واحدة نه تر عشرة پورے **وماة والف**. ماة اؤ الف. **تقول** واحد اثنان په مذكر كښې واحدة اثنتان يا ثنتان. په مؤنث كښې دا به قيا سًا وي يعنى په مذكر كښې به بغير د تاء نه وي. اؤ په مؤنث كښې سره د تاء نه. **وثلثة الى عشرة** اؤ د ثلثه نه تر عشرة پورے. د پاره د مذكر به په تا سره اؤ د پاره د مؤنث به بغير د تاء نه وي يعنى خلاف القياس به وي.

لطيفه يو ځل به طالبانو د يو بل نه سوال كولو چه هغه كوم ځائے دے چه سړي په كښې پروني اؤ برقع اچوي. اؤ ښځے بے پروني اؤ بے برقعو گرځي لو جواب به ئے وركولو. چه هغه دا اسماء عدد دي د ثلثه نه تر عشرة پورے. چه مذكر د پاره بالتاء دي اؤ د مونث د پاره عدد بغير التاء وي.

وثلاث الى عشر بغير د تاء نه د پاره د فرق په مابين د مذكر اؤ د مؤنث كښې اؤ د ثلثه كښې د مذكر اعتبار اوكړے شو. د وجه د سبقيت نه

احد عشر واثنى عشر يعنى د پاره د جزئين به مذكر وي د پاره د مذكر هر چه دے تذكير د جزء اول هغه پدے چه مركبات فرع د مفرداتو ده. اؤ جزء اول په

مفرداتو کښې قیاسي دے نو دغه شان دلته به هم د غسے وي او هرچه د تذکیر د جزء ثاني معنه د پاره د موافقت د جزء ثاني سره په ټولو مرکباتو کښې

واحدى عشرة واثنتا عشرة وثنتا عشرة دا د پاره د مؤنث راځي. په تأنیث د جزئین سره. هرچه د تأنیث د جزء اول معنه په دے وجه چه مرکبات فرع د مفرداتو دی. او جزء اول سره په مفرداتو کښې قیاسي دے. نو دغه شان دلته هم دے. او هرچه د تانیث د جزء ثاني نو د پاره د موافقت د جزء ثاني سره په ټولو مرکباتو کښې.

ثلثة عشر الى تسعة عشر دا د پاره د مذکر دی په تانیث د جزء اول سره. او په تذکیر د جزء ثاني سره هرچه د تانیث د جزء اول معنه په دے وجه چه مرکبات فرع د مفرداتو دی او اول د دے په مفرداتو کښې خلاف القیاس دے. نو دغه شان دلته کښې دا سے او ګرځیدو. او هرچه د تذکیر د ثاني معنه په دے وجه چه دوه علامتین د تانیث په هغه کښې راننځي چه هغه کالکلمة الواحدة دے. دلته کښې سوال راځي چه ستا دا قاعده منقوضه شوه په احدى عشرة سره چه په کالکلمة الواحدة کښې دوه علامتین د تانیث راغلي دی. جواب دا دے چه مراد په علامتینو سره هغه دی چه د یو جنس وي او دلته کښې دا نه دی. بیا اعتراض لازمیږي چه ستا دا قاعده منقوضه شوه په ثنتا عشرة سره ځکه چه په دے علامتین د تانیث د جنس واحد نه راغلي دی. جواب دا دے چه مراد په علامتینو سره دا دے. چه دا به د جنس واحد نه وي. او محض د تأنیث د پاره به وي. او دلته کښې دا بدل دے د یاء نه یعني په ثنتا کښې. بیا یو سوال وارد یږي چه په اثنتا عشرة کښې علامتین د تانیث دی او محض د پاره د تانیث وي جواب دا دے چه دا محمول دے په ثنتا عشرة. باندې.

وثلث عشرة الى تسع عشرة للمؤنث په تذکیر د جزء اول او په تأنیث د جزء ثاني سره. هرچه د تذکیر د جزء اول ځکه چه مرکبات فرع د مرکباتو دی او جزء اول په مفرداتو کښې خلاف القیاس دے نو دلته کښې هم خلاف القیاس دے. او هرچه د تانیث د جزء ثاني نو هغه د وجے د عدم د مانع نه چه هغه التباس دے. التباس رفع شویدے په جزء اول سره.

وتميم تكسر الشين فى المؤنث او بنو تميم شين له كسره وركوى د پاره د دے چه توالى د اربع فتحاتو را نشى سره د ثقل د تركيب نه

والحجازيون يسكنونه او حجازيين وړله سكون وركوى په مؤنث كښې. هغوى ثقل د توالى ختموى په سكون سره.

وعشرون واخواتها فيهما للمذكر والمؤنث. او قول كوى نحاة په عشرون او د هغے په نظائرو چه هغه عقود دى په مذكر او په مؤنث كښې بغير د فرق نه. ځكه كه چرته فرق كوے نو علامه به يا قبل النون را وړے او يا بعد النون. بنا په اول بائند لازميږى اراده د علامے په وسط كښې حكما او دا روا نه دى. او كچرته بعد النون ئے راوړے نو لازميږى اراده د علامے په كلمه اخرى كښې حقيقتا او دا صورت هم ناجائز دے. ځكه چه دا نون مشابهه دے د نون د جمع سره او هغه كلمه اخرى ده.

احد وعشرون دا راځى د پاره د مذكر په واحد كښې به تغير او شى احد ته.

احدى وعشرون د پاره د مؤنث د واحدة نه تغير او شى احدى ته د پاره د تخفيف

ثم بالعطف بلفظ ما تقدم پس له هغے به ته وائے او قول به كوے دا سے قول چه متلبس وى د عطف د عقودو سره په مازاد بائند. په حال د كون د مازاد كښې چه كائن وى په صورت د ما تقدم سره يعنى په دے زوائدو كښې به تغير نه كوى.

الى تسعة وتسعين ومأة والف ومأتان والفان فيهما يعنى د تسعة نه تر تسعين پورے او په مأة او په الف بائند او د غه شان د دے په تثنيا تو بائند په مذكر او مؤنث كښې بغير د فرق نه په مابين د مذكر او د مؤنث كښې. هرچه د دے مأة كښې الحاق د علامے د تانيث. نو په هغے كښې حركتيں نه تا موجوده ده. اس چه بله "تا" ورسره ملحقه كړو. نو دا مستكره ښكارى او دا باقى وربائند محمول دى. طردا للباب.

ثم بالعطف بيا چه كله عدد زيات شى په مأة او الف بائند او په تثنيه د دے بائند په عطف سره يعنى كه دا زائد ور بائند عطف كوے او كه په زائد بائند ئے عطف كوے او په دے كښې دا دواړه وجے جائز دى ځكه چه عدد كثير ثقيل دے

من حیث المعنیٰ نو جائز شو یکښې دوه استعماله (دوه طریقې د استعمال) د پاره د حصول د خفت متکلو ته یکښې اختیار دے چه کومه یو طریقه اختیار روی.

علی صورة ماتقدم په حال د کون د ما زاد کښې چه کاڼو ګیه صورة د ماتقدم سره بغیر د تغیر نه.

وفی ثمانی عشرة فتح الیاء ثمانی عشر چه د پاره د مؤنث راځی په دے کښې مختلف اقوال دی فتحه د یاء ځکه چه دا اصل دے په بنا د صدور د اعداد مرکبه کښې. لکه ثلاثة عشر دویم قول د سکون د یاء دے لکه چه دا فرمائیلی دی مصنفؒ.

وجاز اسکانها او جائز دے سکون د یاء. ځکه چه دا عدد مرکب دے په دے سبب یکښې ثقل پیدا شویدے. دریم قول د حذف دے یعنی چه یاء حذف شی او نون له سکون ورکړے شی لکه چه څنګه فرمائیلی دی مصنفؒ.

وشذ حذفها بفتح النون او شاذ دے حذف د یاء سره د فتح د نون. وجه د شذوذ ئے دا ده چه دا حذف دے بلا دلیل. او څلورم قول دا دے چه حذف د یاء راشی سره د کسرے د نون نه د پاره د دلالت په حذف د یاء باندې. وجه اوله اصل ده. دریمه وجه شاذ ده. دویمه او څلورمه په مرتبه متوسط کښې ده یعنی نه شاذ ده او نه اصل.

ومميز الثلاثة الی عشرة مخفوض مجموع لفظاً په دے عبارة سره مصنفؒ بیان د تمیز د عدد کوی. نو وے فرمائیل چه ممیز د ثلاثه نه وا خله تر عشرة پورے دا به مجرور وی. او جمع به وی لفظاً وی که معناً د لفظاً مثال لکه ثلاثة رجال. او د معناً مثال لکه ثلثة رهط. او دا ممیز د دا سے عدد به مخفوض او مجموع په دے وجه باندې وی ځکه چه دا عدد اقل دے او ما کثیر الاستعمال دے او کثرت استعمال تقاضا د خفت کوی. نو په اضافت سره په دے کښې تخفیف اوکړے شو. د پاره د دے چه تنوین تر نه حذف کړے شی او دا چه هر کله مضاف الیه اوګرځیدو. او مضاف الیه مجرور وی نو دا به هم مجرور وی او هر چه دے کیدل د دے مجموع د پاره د دے چه د معدود مطابقت راشی د عدد سره.

الا فی ثلثمائة الی تسعمائة مګر خو مجموع به نه وی تمیز د عدد اقل په صفه وخت

کېږي چه تمیز د دې لفظ د مأة وي **وکان قیاسها مأت اومئین** قیاس خو دا تقاضا کوله چه تمیز د دې د جمع راشي په مأت یا په مئین سره د لته کېږي په حقیقت کېږي ما د فع د سوال د ه سوال راځي چه ستا دا قاعده منقوضه شوه په ثلثمأة سره. ځکه چه دا عدد اقل دے. او تمیز ئے مخفوض مجموع نه دے نو مصنف جواب اوکړو چه إلّا في ثلثمأة الخ ځکه چه د مأة دپاره دوه جمع راځي یو په صورت د جمع مذکر سالم کېږي او بله په صورت د جمع مؤنث سالم کېږي. اس کېږته تمیز د دے په جمع مذکر سالم سره راولو نو لازمیږي اجتماع د علامتینو تذکیر او د تانیث په هغه ځائے کېږي چه هغه کالکلمة الواحدة دے. او دا ناجائز دے او کېږته تمیز ورله جمع مؤنث سالمه راولو نو دا اگرکه تمیز دے لیکن دا هم عدد دے او دے بل تمیز غواړي او دا مستکره دے. ځکه چه تمیز د عدد یو ځلے دے په وقوع سره پس د هغه اعدادونه چه په صورت د جمع مذکر سالم کېږي دي. نو مستکره شو وقوع د ده پس د هغه اعدادونه چه په صورت د جمع مؤنث سالم کېږي وي.

ومميز احد عشر الى تسعة وتسعين منصوب مفردًا هرکله چه مصنف فارغ شو د بیان د

تمیز د عدد اقل نه نو شروع ئے اوکړه په تمیز د عدد اوسط کېږي نو وے وئیل چه ومميز احد عشر الخ او تمیز د احد عشر نه واخله تر تسعة وتسعين پورې منصوب به وي او مفرد به وي هرچه دے نصب هغه په دے وجه چه نصب بنابر تمیز ته محل هغه جر دے بنابر اضافت او هغه د لته کېږي مفقود دے. هرچه دے په مفقود و کېږي هغه په دے وجه چه کېږته ته اضافت کوے نو دا نون به یا ساقط کېږي ی دا ضافت د وجه نه او یا به نه ساقطیږي که ساقطیږي نو دا باطل دے ځکه په دا خو نون د جمع مذکر سالم نه دے چه ساقط شي په اضافت سره

او که نه ئے ساقطوی نو دا نون خو په صورت د جمع مذکر سالم کښے دے بکار داده چه ساقط شی. نو اضافت بالکلیه ممتنع شو. او هرچه دے په مرکباتو کښې د پاره ددے چه لازم نه شی جعل د کلماتو ثلثه کلمه واحده او هرچه دے افراد هغه په دے وجه چه هرکله دے منصوب او ګرځیدو نو دے فضله شو او اصل په فضله کښې قلت دے. او قلیل نه وی مگر مفرد.

ومميز مأة وألف وتثنيتهما | او تمیز د عدد اکثر چه مأة او الف دے او تثنیه ددے دواړو.

وجمعه | او جمع د الف اُس دلته کښې سوال وارد یږی چه جمعها ئے ولے او نه وئیل لکه چه څنګه ئے او وئیل و تثنیتهما. جواب دے چه جمع د مأة و دا متروک دہ په اعدادو کښې

مخفوض مفرد | مجرور او مفرد به وی، هرچه دے مجرور د وجه د اضافت د عدد نه تمیز ته. او هر چه دے مفرد د پاره د رعایت د تعادل د عدد اکثر د عدد اقل سره.

واذا كان المعدود مؤنثا | هغه وخت کښې چه معدود مؤنث وی او هغه لفظ چه دال وی په هغې باندې هغه مذکر وی

او بالعکس | یعنی معدود مذکر وی او تعبیر تر نه په لفظ د مؤنث سره کاؤشی

فوجهان | نو په عدد کښې دوه وجې جائز دی. مثال د اول چه معدود مؤنث وی او تعبیر په لفظ د مذکر سره اوشی. لکه ثلاثة اشخص من النساء دلته کښې نساء مؤنث دے او تعبیر تر نه په اشخص سره شوے دے. نو تانیث د عدد په نظر سره تذکیر د لفظ معبر به ته او تذکیر د عدد دے په نظر سره تانیث د معنی معدود ته او مثال د ثانی لکه ثلاثة انفس من الرجال تذکیر د عدد دے په نظر سره تانیث د لفظ معبر به ته

او ثانیث د عدد دے په نظر سره تذکیر د معنی معدود ته -

ولا یمیز واحد واثنان | او واحد او اثنان سره تمیز نشی ذکرکولے او عدد پرے پیښېدے شی.

استغناء بلفظ التمیز عنهما | د وجے د استغناء نه په لفظ د تمیز سره د واحد او د اثنین ولنه سوال واردیږی چه په عبارة د مص" کښې تضاد دے ځکه چه دا قول د مص" ولا یمیز واحد واثنان د دلالت کوی په دے خبره چه د دوئ د پاره تمیز نشته - او استغناء بلفظ التمیز نه معلومیږی چه دوئ د پاره تمیز شته دے - جواب دا دے چه دوئ د پاره تمیز موجود دے او د لا یمیز واحد واثنان معنی دا ده چه لا یذکر الواحد والاثنان مع ممیزهما - یا دا چه مراد په تمیز سره صالح وی د پاره د تمیز په تقدیر د ذکر د تمیز دے د واړو سره چه هغه مفرد دے په واحد کښې او مثنیٰ دے په اثنین کښې. مثل رجل و رجلان ځکه چه د صیغې د رجل نه وحدة او جنسیة فهم کیږی او د صیغې د رجلان نه تثنیة او جنسیة فهم کیږی نو ذکر د واحد یا د اثنین ته ضرورت نشته.

لافادته النص المقصود بالعدد | د وجے د افادے د لفظ د تمیز نه تصریح لره په عدد باندې چه هغه مقصود دے

پس حاجت نشته دے ذکر د عدد ته ثانیا ځکه چه مقصود په عدد سره هغه دلالت دے په وحدة په تثنیه باندے هغه حاصل شویدے په ذکر د تمیز سره سره د تعین د جنسیت نه - زده کړه دا خبره چه صیغه داسم فاعل د اسماء عدد نه داستعمل ده په دوه معنو سره یو په معنی د تصییر او بل په معنی د حال. اول چه په معنی د مصیّر دے یعنی دے مصیر دے عدد ا نقص لره دمشتق منه نه ازید په یو مرتبے سره او ابتداء به د دے کیږی د اثنین نه نه د واحد نه ځکه چه د واحد نه تحت عدد نشته حتی چه د واحد د پاره • صیر واحد

اوکرځیږی. او دغه شان اضافت به ئے راځی اقل ته نه مساوی او یا اکثر او اعلیٰ ته. ځکه چه معنی د دے جعل او تصییر دے او دا راځی په اقل کښې نه په اکثر او په مساوی کښې او نه به راځی په ما فوق د عشرة کښې ځکه چه اسم فاعل د دے نه نه راځی. لکه اوو ثالث اثنین. یعنی مصیر الاثنین ثلثة. په انضمام د دغه مصیر سره. او دوئم قسم د لالت کوی په واحد بانډې هغه واحد چه واقع دے په مرتبه کښې هغه مرتبه چه واقع ده پس د عدد نه په هغه عدد بانډې چه هغه مشتق وی د دے اسم فاعل نه او علامه ئے داده چه ابتداء به اوکړی د واحد نه ځکه چه د دے دلالت کوی په مرتبے بانډې او د واحد د پاره هم مرتبه شته. او اضافت د دے مساوی او ما فوق ته هم راځی. او ادنیٰ ته نه راځی، د پاره د دے چه لازم نه شی کذب او په دغه دوئم صورت کښې تجاوز په عشرة بانډې هم جائز دے چه بیان د مرتبے خاص نه دے په ما دون د دے پورے.

وتقول فی المفرد من المتعدد باعتبار تصییرہ الثانی الثانیة الی العاشر والعاشرة لاغیر	او ته به وائے په وخت د اراده د واحد کښې د متعدد

نه په اعتبار د تصییر سره یعنی چه عدد نه صیغه د اسم فاعل راغلے وی او هغه په معنی د تصییر سره وی او ابتداء د هغے د ثانی نه کیږی په مذکر کښې به وائے چه الثانی او په مؤنث کښې به وائے الثانیة تر العاشر او العاشرة پورے. لا غیر یعنی متجاوز به نه وی د عشرو نه.

المذكر والمؤنث

چونکه په اسماء اعدادو کښې ذکر د مذکر اؤ د مونث راغلے دے په دے وجه بانډ مصنفؒ اس مستقل بحث د مذکر اؤ د مؤنث کوی دلته کښې په اجمال کښې ئے مذکر مقدم کړو ځکه چه دے اصل دے . اؤ په تفصيل کښې ئے مؤنث مقدم کړو ځکه چه تعريف د مذکر عدمی دے اؤ د مؤنث وجودی دے اؤ وجودی اشرف دے د عدمی نه.

المؤنث ما فيه | المؤنث دا هغه اسم دے چه ثابت وی په دے کښې

علامة التانيث | علامه د تانيث لفظًا اؤ تقديرًا دغه علامه ملفوظه وی که مقدره . چه ملفوظه وی نو عامه ده حقيقةً وی که حکما دحقيقتًا مثال لکه امرءة اؤ ناقة شو اؤ دحکما مثال لکه عقرب شو ځکه چه حرف رابع په مؤنثاتو سماعيه کښې په منزله د تاء د تانيث دے ددے وجے نه اظهار د تاء د تانيث په دے کښې نه کيږی . په وخت د تصغير کښې د پاره ددے چه اجتماع د نائب اؤد منوب رانشی تقديرا علامه د تانيث هغه ته وائی چه په لفظ کښې ظاهره نه وی لکه دار شو نار شو قدم اؤ نعل وغيره

والمذکر ما بخلافه | اؤ مذکر هغه اسم دے چه هغه متلبس وی بخلاف ددے باندې يعنی علامه د تانيث په دے کښې نه لفظا وی اؤ نه تقديرا .

وعلامته | اؤ علامه د تانيث التاء هغه تاء مدوره ده چه بدليږی په حالت د وقف کښې په هاء سره اؤ ما قبل به ددے نه مفتوح وی په دے سره تر نه تاء د اخت اؤ تاء د بنت اؤ تاء د مسلمات وغيره خارج شول .

والألف مقصورة او الف په حال د کون د دې چه مقصوره وي. چه اسم وي لکه سلمٰی چه صفت وي لکه حُبلیٰ او **ممدودة** یا په حال د کون د دے الف کښې چه ممدوده وي چه اسم وي لکه صحراء او چه صفت وي لکه حمراء **سوال** دا وارد یږي چه ستا دا قاعده منقوضه شوه په عصٰی رُحی او ارطی او قبعثری سره حُکه چه په آخر د دے کښې الف مقصوره دے او مؤنثات نه دي. د دغه شان منقوضه شوه په ردار په کساء او په علباء سره حُکه چه آخر د دے کښې الف ممدوده دے او سره د دے نه د مؤنثا تو نه نه دي. **جواب** دا دے چه مطلق الفِ مقصوره علامه د تانيث نه ده بلکه هغه دے چه زيادت د هغې راغلے وي د پاره د غير الحاق او د پاره د غير تکثير دا بنيه و. نو په د دے قيد سره ترنه عصٰی او رحی او وتل حُکه چه الف د دوي زائد نه دے بلکه منقلب دے د لام د كلمے نه. او الف د ارطی ترنه خارج شو حُکه چه زيادة د الف د ده را غلے دے د پاره د الحاق په حبلیٰ پورے. او د غه شان خارج شو الف د قبعثری حُکه چه دا راغلے دے، د پاره د تکثير د حما سی. او هم د غه شان الف ممدوده مطلقا د پاره د تانيث نه دے راغلے بلکه هغه دے چه پس د هغه نه همزه زائده د پاره د غير الحاق راغلے وي لو کساء او رداء ترنه خارج شو حُکه چه همزه په د دے کښې بدل د واو نه او د يا نه راغلے دے چه هغه لام د كلمے دے او الف د علباء ترنه خارج شو حُکه چه همزه په دے کښې د پاره د الحاق ده په قرطاس پورے.

وهو او دا اسم مؤنث په دوه قسمه دے يو مؤنث حقيقي بل مؤنث **لفظي فالحقيقي ما** مؤنث حقيقي دا هغه اسم دے **بازائه** چه په مقابله د مدلول د هغه کښې **ذكر من الحيوان** يو مذكر وي د جنس حيوان نه **كامرءة** لکه امرءة شوه **في مقابلة رجل** په مقابله د رجل کښې وناقة او ناقه شوه په مقابله د جمل کښې دا يو مثال د انسان شو او دا بل مثال د لا انسان

نه علاوه د بل حیوان شو سؤال وارد یږی چه مصنفؒ داسے ولے او نه ویل چه ان المؤنث الحقیقی ماله فرج. جواب دادے چه په لفظ کښې کراهیة محسوسه ده په وجه داده چه خنثیٰ مشکل مذکر دے چه کله علامات د تذکیر پکښې غالب وی سره ددے نه دے صاحب فرج دے.

واللفظی بخلافه یعنی مؤنث لفظی مقلبس دے په خلاف ددے با نو چه په مقابله ددے کښې به مذکر حیوان نه وی بلکه تانیث دده منسوب دے لفظ ته د وجے دوجود د علامے د تانیث نه په لفظ دده کښې حقیقة یاحکمًا یاتقدیرا. **کظلمة** د حقیقت مثال لکه ظلمت شو د تقدیر مثال لکه **وعین** شو حُکه چه علامه د تانیث په دے کښې مقدره ده دلیل وجود د تاء دے په تصغیر دده کښې حُکه چه تصغیر د دے عیینة دے او د حکمًا مثال لکه عقرب شو. او دا مثال مصنفؒ ذکر نه کړو. حُکه چه دا قلیل دے.

واذا اسند الیه الفعل فبالتاء او هغه وخت کښې چه اسناد د فعل یا د شبه فعل اوکړے شی دے مؤنث حقیقی ته بالاصالة نه بالواسطة نو په فعل کښې به تا راوړلے کیږی دپاره ددے چه د اول وهلة نه معلومة شی چه فاعل مؤنث دے. سؤال دادے چه ستا دا خبره منتقضه شوه په دے ترکیب سره چه ضرب الیوم امرأة په دے شان سره امرأة مؤنث دے او سره ددے نه فعل نے مؤنث نه دے راوړے. جواب دادے چه مراد په اسناد سره اسناد بالاصالة دے بیا سؤال راځی چه ستا دا قاعده منتقضه شوه په دے ترکیب سره چه طلع الشمس په دے شان سره چه دلته کښې اسناد بالاصالة مؤنث ته راغلے دے او سره ددے نه فعل مؤنث نه دے. جواب دادے چه مراد په مؤنث سره مؤنث حقیقی دے او دلته کښې شمس مؤنث غیر حقیقی دے.

دلته په مرجع د ضمیر د الیه کښې اختلاف دے په ما بین د شارح هندی او شارح جامی کښې . شارح هندی وائي چه دا ضمیر راجع دے مؤنث حقیقی ته یا ضمیر د مؤنث ته ځکه که چرته دا راجع شي مطلق مؤنث ته نو لازمیږی تناقض په عبارت د مصنفؒ کښې چه فبا التاء وجوبًا او بالخیار . او مذهب د شارح جامی دا دے چه دا ضمیر راجع دے مطلق مؤنث ته ځکه چه بحث په مطلق مؤنث کښې دے او تعریف هم د مطلق مؤنث دے . او بیا عبارة د مصنفؒ بنا په دے تقدیر باندے مشتمل دے په تفصیل باندې بعد الإجمال . او کچیرته ته وائے چه تناقض لازمیږی نو زه وایم چه نه لازمیږی ځکه چه وانت فی ظاهر الخ په منزله د استثناء دے د دے قاعدے نه ځکه چه مصنفؒ کله ذکرکړه یو قاعده کلیه بیا ئے بعض افراد د هغې نه مخالف ذکر کړل نو دا په منزله د استثناء او کرځیدل د دے قاعدے کلیے نه او بله وجه دا ده چه کله خاص په مقابله د عام کښې راشي . نو مراد په دغه عام سره ما سوئ د دغه خاص د افرادو نه وی .

وانت فی ظاهر غیر الحقیقی بالخیار په تذکیر او په تانیث کښې تا ته اختیار دے چه کله مؤنث غیرحقیقی فاعل واقع شوی وی طلع الشمس هم وئیلے شي او طلعت الشمس هم وئیلے شي . او چه کله ئے ظاهر اووے . نو په دے سره احتراز راغے د اسناد د فعل نه ضمیر د مؤنث غیرحقیقی ته

وحکم ظاهر الجمع یعنی حکم د فعل په تذکیر او په تانیث کښې چه کله اسناد ئے او شي ظاهر د جمع ته په دے سره احتراز راغے د ضمیر د جمع نه غیر الجمع المذکر السالم سیراد جمع مذکر سالم نه ځکه کچیرته دا جمع مذکر سالم وی نو بیا جائز نه دے تانیث د فعل ځکه چه دا اشرف الجموع دے پس جائز نه دے تاویل دے په مؤنث سره . چه هغه تاویل د جماعة دے . مطلقًا برابره خبره ده چه جمع سالمه مؤنثه

وی یا جمع مذکر مکسره وی لکه مؤمنات یا رجال

حكم ظاهر غير الحقيقي دے حکم د مؤنث غیرحقیقی دے چه ظاهر وی په جواز د تذکیر اؤ د تانیث کښی اؤ بله خبره داچه جمع په تاویل د جماعة سره مؤنث ده۔

وضمير العاقلين غير المذكر السالم اؤ ضمیر د جمع مذکر عاقلین سوا د جمع مذکر سالم نه **فعلت وفعلوا** مرجع دے فعلت نو هغه په دے وجه چه جمع په تاویل د جماعة سره مؤنث دے اؤ مرجع دے فعلوا نو هغه په دے وجه چه واو موضوع دے د دے قسم نوع د جمع دپاره۔

والنساء والايام فعلت وفعلن اؤ هغه ضمیر چه هغه ته اسناد د فعل شوے وی اؤ دا ضمیر راجع وی جمع مؤنثے ته برابره خبره ده چه سالمه وی اؤ که مکسره وی۔ **والايام** اؤ دغه شان هغه ضمیر چه هغه ته اسناد د فعل شوے وی اؤ دغه ضمیر راجع وی جمع د ذکور د غیر عقلاء ته فعلت وفعلن مرجع دے فعلت په نساء کښی حکه چه جمع په تاویل د جماعة سره مؤنث دے مرجع دے فعلن نو نون موضوع دے د دغه نوع د جمع نه اؤ ایام داحمول دی په نساء باندِ۔ په دیکښی حمل د غیر العقل راغلے دے په ناقص العقل باندِ اؤ بل حمل د ناقص العقل راغلے دے په عدیم العقل باندِ۔

المُثَنّٰی

المثنی ما لحق آخره مثنیٰ دا هغه اسم دے چه ملحق وی په آخر د مفرد ددهٔ
لپاره دے د دے حیثیت نه چه دا آخر د مفرد د مثنیٰ دے
دلته کښې **سوال** وارد یږی چه د آخره ضمیر چه کوم په تعریف کښې دے دا راجع دے
مثنیٰ ته نو دا خو لازمیږی اخذ د محدود په حد کښې یا لازمیږی دور او دور باطل
دے **جواب** دا دے چه کوم مثنیٰ په جانب د معرف کښې دے د هغے نه مراد اصطلاحی
دے او کوم چه په جانب د تعریف کښې دے د هغے نه مراد لغوی دے او مثنیٰ په لغت
کښې دوه کړدونو ته وئیلے شی او اصطلاحی تعریف ئے مصنف پخپله کړیدے او دلته موږه
په عبارة کښې تقدیر راویستو د پاره د دفع د اعتراض **اعتراض** دا وارد یږی چه ستا
دا تعریف مانع نه شو د دخول د غیر نه او داخل شو پکښې مفرد حکه چه دا اسم دے چه
ملحق کیږی په آخر د هغه کښې الف یا یاء او نون یعنی لحوق د زوائد و په آخر د مفرد پورے
کیږی **جواب** دا دے چه دلته په عبارت کښې تقدیر دے. یعنی ما لحق آخر مفرده یا لحق
په معنی د یکون دے یعنی ما یکون آخره الخ او یا دا چه المثنی اسم لحق آخره الف او یاء و نون
مع لواحقه او اسمیة د مفرد بغیر د لواحقو نه دے او یا دا چه لحق په معنی د یکون دے.

الف الف به وی په حالت رفعی کښې او **او یاء مفتوح ما قبلها** او یا یاء وی په حالت
نصبی او جری کښې ما قبل به د هغے نه مفتوح وی. د پاره د فرق په مابین د تثنیه او د
جمع کښې دلته کښې **سوال** راځی چه دا فرق خو په عکس سره هم راتلو. نو عکس ئے ولے ونه
کړو **جواب** دا دے چه تثنیه کثیره ده او فتحه اخف الحرکات ده او کثرت تقاضا د خفت
کوی. **ونون** او نون به وی دا به په عوض د حرکة کښې وی یا د تنوین کښې هرځ
دے نفس عوض د هغے رجه دا ده چه هغه اسم چه کوم لوعاری وی د بنا نه جائز نه
دے خالی کیدل د حرکة یا د تنوین نه. اُس د دے په آخر کښې خو الف دے الف
ساکن وضعی دے نه حرکة قبلوی نه تنوین اُس د بعضو په نز با نون دا عوض، دے

د حرکة نه. نهٔ د تنوین نه ځکه چه حرکة ثابت دے سره د الف لام اؤ تنوین سره د الف لام نه نهٔ دے ثابت. اؤ بعضې نحاة وائي چه دا عوض دے د تنوین نه ځکه چه ......دا ساقطیږی په وخت د اضافت کښې کیږی ته دا عوض وو د حرکة نه نو بیا به نه ساقطیدو اؤ بعض نحاة وائي چه دا عوض دے د دواړو نه. ځکه چه تثنیه دا فرع د واحد ده اؤ حرکة اؤ تنوین دا دواړه په واحد کښې راځي نو په تثنیه کښې به هم راځي سوال دا دے چه عرضیة خو په الف کښې مسلم دے ځکه چه دے حرکة اؤ تنوین نه قبلوی اؤ په یا کښې نه دے مسلم ځکه چه یا خو حرکة اؤ تنوین قبلوی جواب دا دے چه یا په تثنیه کښې حرف اعرابی دے اؤ دے ساکن وی ابداً۔

مکسورة دا نون به مکسور وی دپاره د دے چه لازم نه شی توالی د اربع فتحاتو په صورة اؤ په حالت رفعی کښې. ځکه چه د الف نه ماقبل فتحه ده اؤ الف قائمقام د فتحتین دے اؤ چه فتحه د نون شی نو دا به خلور فتحات اوګرځي اؤ حالت نصبی اؤ جری لهٰذا للباب حمل کړے شو په حالت رفعی باندې

لیدل دپاره د دے چه دلالت اوکړی دا لحوق یعنی الحاق د دے امورو. سوال دا دے چه لیدل کښې ضمیر د مفرد دے. اؤ مرجع الف، یاء اؤ نون دی نو داخو مطابقت نشته په مابین د راجع اؤ د مرجع کښې جواب دا دے چه ضمیر راجع دے لحوق یا الحاق ته.

علی ان معه مثله من جنسه په دے خبره چه سره د دے مفرد نه په مثل ده دے په وحدة کښې اؤ د جنسه د ده نه سوال دا دے چه لیدل ضمیر کله راجع شو لحوق ته. اؤ لحوق خو مشتمل دے په لحوق د نون هم اؤ دے خو دلالت نه کوی علی ان معه مثله من جنسه جواب دا دے چه دے هم په دے دلالت کوی اؤ کیږی ته دا خبره اومنو چه دے په دے دلالت نه کوی نو بیا دا نسبة تغلیبا دے. ځکه چه هر کله په دے امورو کښې دوه امرین دلالت کوی په یو شی باندې نو نسبة د هغه دلالت د دریم ته تغلیبا دے. سوال دا دے چه مناسب ده داخبره چه مراد و په مثل سره مثل په وحدة اؤ په جنسیة کښې وی نو ذکر د من جنسه مستدرک دے جواب دا دے چه مراد په مثل سره دا به خالی نه وی یا به مثل وی په وحدة کښې فقط یا په جنسیة کښې فقط یا په دواړو کښې که په دواړو کښې اراده

دیر اوکړو نوبل خارجیږی او کله چې ته دواړو الاده کړو نو لازمیږی عموم د مشترک نو لازم شو ذکر د من جنبه او معنی د مجانسة داده چه وی به دا دواړه داخل په حقیقة مشترکه کښ. د دغی وجې نه جائز نه دی تثنیه د اسم په اعتبار د معنیین مختلفینو لکه داجائز نه دی چه قرءان او معنی ترینه د حیض او د طهر وا خستے شی سوال داده چه ستا قاعده منقوضه شوه په ابوین او قمرین سره ځکه چه دا تثنیه د اسم ده په اعتبار د معنیینو مختلفینو سره حالانکه دا جائز ده جواب دا دے چه دا تثنیه د باب د تغلیب نه ده او معنی د تغلیب داده چه ام مسمی کړے شی په اسم داب سره مجازًا د وجې د قوة د تناسب نه په مابین د دواړو کښ ځکه چه دا دواړه والدین دو لدی او بیا مؤول کړے شی اب په مسمی بالاب سره چه حاصل شی مفهوم مشترک په دواړو کښ چه مفر شرط دے په تثنیه کښ نو دا دواړه په مفهوم کښ متجانس او ګرځیدل مختلفین نه دی ځکه چه معنی د دے مسمیان بالاب شوه

فالمقصور پس هغه اسم چه د هغه په آخر کښ الف مقصوره راغلے وی.

ان کان الفه عن الواو دا الف به خالی نه وی یا به بدل راغلے وی د واؤ نه بیا داواؤ عام دے حقیقة وی که حکما. حقیقة لکه عصا شو چه الف د دے بدل دے د واؤ نه او د حکما چه مجهول الاصل ممثال لکه الی او هغه ثلاثی وی.

قلبت واوًا نو دا الف د دے به بدلیږی په واؤ باندی د پاره د رعایت د اصل حقیقة وی که حکما. **والا** او که چرته بدل د واؤ نه نه وی راغلے بلکه د یاء نه راغلے وی حقیقة وی که حکما حقیقة لکه رحی دا په اصل کښ یاء وه بیا په الف بدله شوه او حکما هغه ته وائی چه هغه مجهول الاصل وی لکه متی او یا زیات وی په درے حروفو باندې او چه الف ممدوده وی نو بیا به خالی نه وی یا به همزه د هغه اصلی وی یعنی نه زائده وی او نه منقلب د اصلی وی او نه د زائد نه دا به په خپل حالت باندې وی د وجې د اصالت نه لکه قراء.

وان کانت للتانیث قلبت واوا او که چرته الف ممدوده د پاره د تانیث وی بیا به په واؤ باندې بدلیږی. ځکه چه همزه حرف ثقیل دے د جنس د الف نه نو مستکره دے واقع کیدل د دے په مابین د الفین کښ او واؤ اقرب دے همزې ته د یاء نه.

والا او که چرته همزه نه اصلیه وی او نه د یاره د تانیث وی بلکه د یاره د الحاق وی لکه علباء، یا منقلب وی د واو او د یاء اصلین نه لکه په کساء او په رداء کښې. **فالوجهان** نو په دے کښې دوه وجې روادی یعنی ثبوت د همزه یا قلب د دے چه واؤ دے یعنی ثبوت د همزه ځکه چه دے په مکان د اصلي کښې دے د وجې د الحاق د دے نه په منه پورے او قلب دده ځکه چه دے مشابه دے د همزه د تانیث سره په عدم کون دده کښې اصلیه.

ویحذف نونه للاضافة او حذف کیږی نون د مثنیٰ د وجې د اضافة نه ځکه چه تقاضا د اتصال کوی او دا نون د یاره د انفصال راځي. او د دا رو په ما بین کښې تبائن دے.

وحذفت تاء التانیث فی خصیان و الیان او حذف کوے شی تاء د تانیث په خصیة او په الیة کښې یعنی چه کله د دے الفاظو تثنیه مقصود وی. نو دا تاء به تر حذف کیږی او د دے علاوه به نورو اسماو کښې به نه حذف کیږی. **لشدة اتصالها بالکلمة** او په دے کښې ځکه حذف کیږی چه د وجې د اتصال نه د ایه منزله د مفرد دی په دے عبارة سره مصنف دفع د اعتراض کوی سوال دا دے چه هذا اسم چه متلبس وی په تاء د تانیث سره په وخت د تثنیه کښې د هغې تاء نه حذف کیږی. دا قاعده ستا منقوضه شوه په خصیان او په الیان سره نو مصنف جواب او کړو چه د حذفت الخ سوال دا دے چه کافیه متن دے او بناء د متن په اختصار ده پکار دا وه چه مصنف ویلي وو ویحذف نونه بالاضافة وتاء التانیث الخ جواب دا دے چه حذف د نون قاعده مستمره ده او حذف د تاء دا خلاف القیاس دے.

المجموع ما دل علی احاد مقصودة بحروف مفردة بتغیر ما دا هغه اسم دے چه دلالت کوی په آحاد مقصوده باندې په حروف د مفرد او سره په یو نوعه تغیر سره برابره خبره ده چه دا تغیر به زیادة سره وی او که په نقصان سره او که په اختلاف د حرکاتو او سکناتو سره وی مثال د زیادة لکه رجال مثال د نقصان لکه طلبة او اختلاف د حرکاتو او سکناتو عام دے حقیقة وی لکه اُسدٌ او حکما لکه فلکٌ ځکه چه ضمه د دے کله فرض کړے شی پشان

د ضمے د قُفل ۔ نو دا به مفرد وی ۔ او په هغه وخت کښې چه فرض کړے شي پيشان د ضمے د اُسد نو دا به جمع وی ۔ دلته کښې ما عبارة دے دا اسم نه او به دے کښې اشاره ده دے خبرے ته چه تثنيه او جمعية خاص وی په اسم پورے ۔ او په فعل کښې تثنيه او جمعية په اعتبار د فاعل سره دے ۔ او فاعل اسم دے **سوال** دا دے چه تعريف د جمع دا مانع او نه گرځيدو د دخول د غيرنه او داخل شو پکښې اسم مستغرق لکه ان الانسان لفی خسر لانه دل علی احاد ۔ **جواب** دا دے چه مراد په دلالت سره دلالت دے په جمله آحادو او په اسم مستغرق کښې دلالت په سبيلے د انفراد سره دے ۔ او د غه شان دلالت په كل الناس او په كل القوم كښې حاصل دے د مضاف اليه نه نه د نفس اسم نه ۔

په هر يو تعريف كښې لابدى ده ذ جنس او د فصل نه په تعريف د مجموع كښې مادل على آحاد دا جنس دے جمع اسم جمع اسم عدد او اسم جنس ټولو ته شامل دے ۔ اسم جنس اگرچه په آحادو باندې وضعا دلالت نه کوی ليكن استعمالا دلالت کوی بيا دا اسم جنس به خالی نه وی يا به مقصود په هغے سره ماهيت وی او يا به افراد وی كچيرته مقصود ماهيت وی نو دا خارج شو په مقصود ة سره او كچيرته مقصود افراد وی نو هغه خارج وی بحروف مفرد ة سره او د غه شان اسم جمع او اسم عدد ته نه خارج شو ځکه چه د هغے دپاره مفرد نشته ۔ دے نه معلومه شوه چه تمرٌ او ركبٌ جمع نه دی په صحيح قول باندې بلكه اسم جنس دی او ثانی اسم جمع دے ۔ او فرق په دواړو کښې دا دے چه دا اسم جنس اطلاق په واحد او په اثنين باندې وضعًا واقع كيږى او دا اسم جمع اطلاق دا سے نه دے وضعًا **سوال** دا دے چه ستا دا قاعده منقوضه شوه په لفظ د كلم باندې ځکه چه دا اسم جنس دے ۔ ولے بيا هم د دے اطلاق په كلمه او يا كلمتين باندې نه كيږى ۔ **جواب** دا دے چه دلالت نه مراد دلالت په اعتبار د اصل وضع سره دے ۔ او په اعتبار دا صل وضع سره دوئ دلالت په دے کوی او په اعتبار د استعمال سره دوئ دلالت په دے نه کوی ولے استعمال له ه اعتبار نشته ۔

وهو صحيح ومكسر | او دا جمع په دوه قسمه ده يو صحيح ده او بل په مكسر ه وجه د حصر نے دا ده ۔ چه دا جمع به خالی نه وی يا به بنا د مفرد پکښې سالمه وی او يا به نه وی ۔ که سالمه وی نو جمع صحيح او که نه وی نو مكسر ه انكار عام دے حقيقة وی که حکما د حكما مثال لكه فلك

فالصحیح لمذکر ولمؤنث | جمع صحیح د مذکر ته هم راځي او د مؤنث ته هم راځي لکه جمع مؤنث سالمه جمع مذکر سالمه.

فالصحیح المذکر | پس جمع سالمه د پاره د مذکر

مالحق آخره واو مضموم ما قبلها او یاء مکسور ما قبلها ونون مفتوحة

داهغه اسم دے چه ملحق شوې وي آخر د مفرد د دهٔ پورے واؤ چه ماقبل ترنه مضموم وي په حالت رفعي کښې یا یاء وي چه ما قبل ترنه مکسور وي (په حالت نصبي کښې او په حالت جري کښې) او ورو ستو به ترنه نون مفتوحه وي د پاره د تعادل.

لیدل د پاره د دے چه دالحوق د یاء او د واؤ دلالت اوکړي په دے

علی ان معه اکثر منه | چه دے اسم سره نور هم دي د جنس د دهٔ نه سوال دا دے چه اکثر صیغه د اسم تفضیل ده او دا ثابتوي ثبوت د اصل فعل په مفضل علیه کښې او دلته کښې په واحد کښې کثرة نشته دے. جواب دا دے چه ثبوت د اصل فعل عام دے چه حقیقة وي او که اعتبارًا او دلته کښې اګر که حقیقة نشته دے لیکن اعتبارًا شته دے. لکه و یُلے شي فلان افقه من الحمار.

فان کان آخره یاء قبلها کسرة | کچرته په آخر د هغه کښې یاء وي چه د هغې نه ما قبل کسره وي. **حذفت** نو دا کسره به حذف کیږي د وجے د التقاء د ساکنینو نه. چه هغه یاء ده او واو دے **مثل قاضون** دلته کښې په واؤ او په یاء کښې التقاء د ساکنینو راغلے ده.

وان کان آخره | او کچرته په آخر د هغه اسم کښې چه د هغې جمع مقصود وي مقصورًا الف مقصوره وي. **حذفت الالف** نو دا الف به حذف کیږے شي د وجے د التقاء د ساکنینو نه.

وبقی ما قبلها مفتوحًا | او باقي به پاتے شي ماقبل د دے نه مفتوح د پاره د دے چه دلالت اوکړي په دے خبره چه دلته کښې الف حذف شوے دے **مثل مصطفون** د دے مفرد مصطفٰی دے په آخر کښې الف مقصوره دے دلته کښې التقاء د ساکنینو راغلو په مابین د الف او د واؤ کښې الف ترنه حذف کړے شو او په فاء باندې فتحه برحال خود پریخودے شوه چه دلالت اوکړي په حذف

دالف باندي.

وشرطه إن كان اسمًا فمذكر علم يعقل

يعنی شرط هذا النوع من الجموع دا دے چه په دے کښی ذکورتوی علمیة وی او عقل وی. ځکه چه دا نوع د جموعو اشرف انواع الجموع ده. ځکه چه بناء د واحد په دیکښی سالمه ده او مذکر عاقل اشرف دے د غیرنه. نو اشرف له مونږه اشرف ورکړو. دلته کښی سوال واردیږی چه شرطه مبتداء ده او مذکر ورله خبر دے او خبر محمول وی په مبتداء باندے نو دلته کښی لا زمیږی حمل دذات په وصف باندے نو دا حمل نه دے صحیح؟ جواب دادے چه دا موؤل دے په تاویل دکون سره یعنی کونه مذکرًا سوال دادے چه توصیف دعلم په عاقل سره نه صحیح کیږی ځکه چه مدار د توصیف دشی په مشتق باندے قیام دمبداء ددغه مشتق دے په دغه شی پورے او عقل خو قائم نه دے په علم پورے. جواب دادے چه توصیف دعلم په عاقل پورے په اعتبار د مسمّی سره دے او عقل قائم دے په مسمی ددغه علم پورے او مراد په مذکر سره هغه دے چه مجرد وی د تاءنه برابره خبره ده چه ملفوظه وی که مقدره وی او په انکان اسمًا کښی مراد داسم نه اسم ذاتی دے. **وان كان صفة** او هغه اسم چه د هغه د جمعیت اراده کړے شوی وی هغه اسم صفتی دے. **فمذكر يعقل** چه هغه و مذکر عاقل وی ځکه چه جمع مذکر سالمه اشرف الجموع ده او دغه صفت په تعلو صفاتو کښی اشرف دے نو اشرف له مونږه اشرف ورکړو د باره د مناسبت

وان لا يكون افعل فعلاء

او بل عدمی شرط ورله دادے چه دا اسم صفتی داسم تفضیل نه وی هغه چه مؤنث ئے په وزن د فعلاء راځی لکه احمر حمراء ځکه چه افعل فعلاء هغه په دے جمع باندے جمع کیږی لکه افضلون نو که چرته کښی افعل فعلاء هم په دے وزن جمع شی نو التباس به را شی په مابین دافعل کښی چه د باره د تفضیل کښی او په مابین د افعل صفتی کښی. سوال چه التباس خو په عکس سره هم دفع کیدو نو عکس دِ ولے او نکړو. جواب دادے چه افعل تفضیل اصل دے په نسبت سره افعل صفتی ته ځکه چه دا کامل دے په دلالت کښی په معنی وصفی کښی.

ولا فعلان فعلیٰ مثل سکران سکریٰ او بل داچه دادِ وزن د فعلان نه وي چه مؤنث ئے فعلیٰ راځي لکه سکران سکریٰ. ځکه چه فعلان چه مؤنث ئے فعلانة راځي. هغه په دے جمع باندې جمع کیږي نو کچرته دے جمع هم دا راشي نو لازم به شي التباس. **سوال** دا دے چه دا التباس خو دفع کیږي په عکس سره هم **جواب** دا دے چه عکس نه شي کیدے ځکه چه فعلان فعلانة اصل دے په نسبت سره فعلان فعلیٰ ته. ځکه چه فرق په دے کښې پېتا ء سره دے او دا موضوع د ه د پاره د فرق.

ولا مستویا فیه او نه به مستوي وي په دے وصف کښې مذکر مع المؤنث سره د مؤنث نه **مثل جریح وصبور** په دے کښې مذکر او مؤنث برابر دي لکه ویلے شي. رجل صبور امرءة صبور رجل جریح امرءة جریح. اس د دے په جمع کښې مونږ جریحون یا صبورون نه شو ویلے. او نه صبورات او جریحات ویلے شو ځکه چه هرکله دا صیغې خاص نه دي په مذکر پورے او یا په مؤنث پورے نو مناسب نه ده دا خبره چه مونږ ه ئے یو پورے مخصوص کړو.

ویحذف نونه او د دے نون به حذف کیږي د وجے د هغې نه چه مخکښې ئے ذکر شوه دلته کښې **سوال** واردیږي چه ستا دا قاعده منقوضه شوه په دے چه ارضین جمع دارض ده او مؤنث دے او سنین جمع دسنة ده او دا هم مؤنث دے. بیا هم جمع ئے په واو نون او په یا نون سره راځي نو مه" **جواب** اوکړو **وقد شذ نحو سنین وارضین** چه دا شاذ دي لکه چه ځکه جمع د مذکر په الف او په تاسره شاذ ده.

المؤنث ما الحق آخره الف وتاء جمع مؤنث سالمه هغه ده چه د هغې په آخر د مفرد پورے الف او تاء ملحق وي **وشرطه** او شرط د دغه اسم چه هغه جمع کیږي په الف او په تاء سره **ان کان صفة** کچرته دغه اسم صفتي وي **وله مذکر** او حال دا دے چه د ده د پاره مذکر وي. **فان یکون مذکره بالواو والنون** پس وي به مذکر د دے مؤنث یا د دے اسم متلبس په واؤ او په نون سره د پاره د دے چه فرع موافق شي د اصل سره او مزیة د فرع په اصل باندې رانه شي.

وان لم یکن له مذکر اؤ که چرته د دے اسم دپاره مذکر نه وی **فان لا یکون مجردا** نو بیا شرط ورله دا دے چه دے د مجرد عن التاء نه وی ځکه که چرته دا سے قسیم اسم جمع شی په الف او په تا سره نو بیا به ئے التباس راشی د ذی التاء سره **کحائض** لکه حائض چه دا اسم مجرد دے د تاء نه د دے جمع حائضات نه راځی بلکه حوائض راځی. **سوال** دا دے چه عکس اوکړه په دے شان سره چه جمع د حائض حائضات راشی او جمع د حائضة د حوائض راشی - **جواب** دا دے. چه په کوم اسم کښ تاء صراحة موجوده ده هغه د دے خبرے د پاره لائق ده چه په جمع د هغې کښ د تاء راشی -

والا جمع مطلقا او که چرته دا سے نه وی نو بیا به مطلقا جمع کیږی یعنی بغیر د څه شرط نه ځکه چه جمع مؤنث سالمه په اسم د ذات د مؤنث کښ سماعی ده. نو په دے باندی پوهه نه شی قیاس کیدے پس و بیلے شی هندات وغیرها

جمع التکسیر ما تغیر بناء واحده الخ جمع تکسیر یا جمع مکسره هغه اسم دے چه بناء د واحد پکښ متغیره وی. او دا تغیر عام دے حقیقة وی که تقدیرا. حقیقة مثال ظاهر دے او هر چه دے تقدیرا لکه فلک کښ. **سوال** دا دے چه ستا دا تعریف مانع او نه گرځید و د دخول د غیر نه الجمع سالمه پکښ داخله شوه ځکه چه په هغې کښ خو هم بناء د مفرد متغیره شوے وی. **جواب** دا دے چه مراد په تغیر سره تغیر دے په نفس مفرد کښ بیا **سوال** واردیږی چه ستا دا تعریف مانع نه شو د دخول د غیر نه او داخل شو پکښ مثلاً مصطفون یا معلون مثلا ځکه چه د وی کښ تغیر راغلے دے په اعتبار د ذات سره - **جواب** دا دے چه مراد په تغیر سره هغه تغیر دے چه هغه د پاره د حصول د جمعیة وی او په دے اسماؤ کښ تغیر راغلے دے پس د حصول د جمعیة نه. **کرجال وافراس** لکه رجال چه مفرد ئے رجل دے او یا افراس چه جمع د فرس ده. **جمع القلة** په دے مصنف تقسیم د جمع کوی قسمین ته چه یو جمع **قلت ده** او بله جمع کثرت ده. د جمع قلة اطلاق د ثلاثه نه واخلے تر عشره دے. **کافعل** لکه وزن د افعل دے چه په وزن باندے افلس راځی جمع د فلس ده **وافعال** لکه افراس شو چه جمع د فرس ده. **وافعلة** وزن دا فعلة دے لکه ارغفة جمع د رغیف ده (وړے روټئ ته وئیلے شی)-

و فعلة وزن دفعلة دے لکه غلمة شو چه جمع د غلام ده **والصحيح** يعني ابنيه دجمع قلت دا څلور دی او د دے سره جمع سالمه **وما عدا ذلك جمع كثرة** او د دے علاوه بیا نورے صیغے دجمع هغه جمع کثرت ده . جمع کثرة هغه ته وائی چه اطلاق ئے د ثلاثه یا د عشره نه دا خلے تر ما لا نهایة له پورے وی . او کله دا دواړه جمع په ځائے د یو بل استعمالیږی۔

المصدر اسم للحدث الجاري على الفعل مصدر اسم دے د هغه حدث چه جاری وی په فعل باندې مراد په حدث سره هغه دے چه قائم بالغير وی . برابره خبره ده چه صادر وی د غیر نه او یا نه وی چه صادر وی د غیر نه لکه ضرب او اکل شو او چه نه وی لکه طول او قصر شو او جاری وی په فعل باندې مطلب دا دے چه دا به راځی پس داشتقاقه د فعل د دے نه یا ره د تاکید د فعل یا د پاره د بیان د نوع یا د پاره د بیان د عدد سوال . دا دے چه تعلیکبنی خو مفعول مطلق بیان شو یدے نو دلته کښی د مصدر د تعریف د ذکر کولو ضرورت نشته دے ځکه چه مفعول مطلق او مصدر یو شے دے جواب دا دے چه مفعول مطلق او په مصدر کښی فرق دے مصدر هغه ته وائی چه هغه لره به فعل من لفظه وی او په مفعول مطلق کښی دا شرط نشته

وهو من الثلاثي المجرد سماع او د مصدر اوزان د ثلاثی مجرد نه سماعی دی . سماع به یا په تاویل د سماعی سره واخلو یا په تاویل د مسموع سره چه اوزان ئے ۳۳ - یا ۳۴ دی . لکه چه په علم صیغه کښی ذکر دی .

ومن غيره قياس یعنی د ثلاثی مجرد نه علاوه نور اوزان د مصدر هغه قیاسی دی قیاس به تاویل د قیاسی یا د ذو قیاس سره واخلو . لکه افعال تفعيل مفاعله تفاعل یا تفعل وغیره یعنی د مزید مصادر . **ويعمل عمل فعله** او دا مصدر دے عمل کوی پشان د عمل د فعل خپل یعنی کچرته دا مصدر د فعل لازم نه وی . نو دے به صرف عمل د رفع کوی په فاعل کښی او که دا فعل متعدی نه وی نو بیا به عمل د رفع کوی په فاعل کښی او عمل د نصب به کوی په مفعول کښی . لکه اعجبني قيام زيد او اعجبني ضرب زيد عمرًا . **ماضيا وغيره** دا حال واقع شو یدے یعنی حال کښ ماضیا وغیره سره کان بمعنى الماضي لکه اذكر ضربي امس زيدًا او غير الماضي چه یا حال وی او یا استقبال

لکه ضربي زیداً الآن یا ضربي زیداً غداً شدید. ځکه چه عمل د دې د وجه د مناسبت د اشتقاق نه دے نه د وجے د مشابهت نه په دے کښې اشتراط د زمان نشته دے.

اذا لم یکن مفعولاً مطلقاً ولا یتقدم معموله علیه په هغه وخت کښې چه دے مفعول مطلق نه وی واقع شوے چه کله دے مفعول مطلق واقع شی نو په دغه وخت کښې به عمل د فعل کوی ځکه چه فعل قوی دے او مصدر ضعیف دے نو په وخت د وجود د اقوی کښې ضعیف عمل نشی کولے د عدم تقدیم وجه دا ده چه مصدر په حیز د عمل کښې دے مؤول دے په تاویل د فعل سره د أنْ نه. أنْ موصول حرفی دے او مابعد د دے ته صله ده او تقدیم د صلے په موصول باندې ممتنع دے. نو دغه رنګ تقدیم د معمول د صلے په موصول باندې په طریقه اولیٰ سره ممتنع دے. **ولا یضمر فیه** یعنی لا یضمر فاعله ځکه چه که چرته په مفرد کښې اضمار کوو نو بیا به په تثنیه او په مجموع کښې هم اضمار کوو د وجے د قیاس نه په مفرد باندې. بیا به په دغه صورت کښې اجتماع د تثنیتین او د جمعین راځی لوبه به نظر سره مصدر ته نشی او بله به په نظر سره فاعل ته شی او هر چه دے تثنیة او جمعیة په افعالو کښې نو دا په اعتبار د فاعل سره دے ولا یلزم ذکر الفاعل او لازم ته دے د مصدر سره ذکر د فاعل نه مضمراً او نه مظهراً ځکه چه نسبت الی فاعل ما غیر ماخوذ دے په مفهوم د مصدر کښې فلا یتوقف تصور مفهومه علیه. **ویجوز اضافته الی الفاعل** او جائز دے اضافت د مصدر فاعل ته لکه اعجبني دق القصار الثوب لکه چه څنګه اسناد د فعل او شی فاعل ته **وقد یضاف الی المفعول** او کله کله اضافت د مصدر مفعول ته او شی مثلاً ضرب اللص الجلادُ لکه اسناد د فعل چه مفعول ته او شی اسناد د مصدر فاعل ته د حقیقت دے او مفعول ته مجاز دے او حمل د کلام په حقیقة باندې دا اولیٰ دے د حمل د دے نه په مجاز باندې.

واعماله باللام قلیل او اعمال د مصدر هغه مصدر چه معرف باللام وی دا قلیل دے ځکه چه مصدر په حین د عمل کښې دے مؤول دے په تاویل د أن سره د فعل نه او دخول د لام په فعل باندې ممتنع دے سوال دا دے چه هر کله په فعل باندې دخول د لام ممتنع دے. نو په مصدر باندې هم په حین د عمل کښې دخول د لام ممتنع شی او ته خو وائے چه قلیل دے نه ممتنع. جواب دا دے چه هغه

دے په مابین د نفس شی کښې او د عامل بالشئ کښې لکه په دے قول کښې چه لا یحب الله الجهر بالسوء **وان کان مطلقا** او کچرته دا مصدر مفعول مطلق وی او فعل د دهٔ حذف شوے نه وی په حذف وجوبی سره **فالعمل للفعل** نو بیا به عمل د فعل وی د پاره د دے چه لوزم نه شی اعمال د ضعیف سره د وجود د قوی نه **وان کان بدلا منه** او که چرته دا مفعول مطلق بدل راغلے وی د فعل نه یعنی فعل حذف شوے وی په حذف وجوبی سره او مصدر د هغه په ځائے اودریدلے وی **فوجهان** نو په دغه صورت کښې دوه وجهے جائزے دی اعمال د فعل د وجے د اصالة نه او اعمال د مصدر د وجے د نیابت نه او دا دواړه وجے ځکه جائزدی په دے مقام کښې چه مصدر قوی دے من حیث الذکر او ضعیف دے من حیث الفرعیة او فعل قوی دے من حیث الاصالة او ضعیف دے من حیث الحذف . نو دواړه حیثیتونه برابر دی

فائده دلته کښې عمل د مصدر په قسم اول کښې اظهر او اکثر دے .

اسم الفاعل اسم فاعل چه دے **ما** دا هغه اسم دے **اشتق من فعل** چه مشتق وی د فعل نه **لمن قام به** د پاره د هغه ذات چه قائم وی په هغه پورے برابره خبره ده چه صادر وی ترا او که نه وی چه صادر وی لکه ضرب او صادر نه وی لکه طال **بمعنی الحدوث** په معنی د حدوث سره نه په طریقے د ثبوت سره په هر یو تعریف کښې لا بدی دهٔ د جنس او د فصل نه په تعریف د اسم فاعل کښې ما اشتق من فعل جنس دے اسم فاعل اسم مفعول اسم تفضیل او صفت مشبهه ټول پکښې داخل شو . لمن قام به یو فصل دے په دے سره ترینه اسم مفعول خارج شو او دا خو ظاهر دے ځکه چه اسم مفعول لمن وقع علیه د پاره راځی او په دے سره ترینه اسم تفضیل هم خارج شو ځکه چه په هغے کښې من حیث الزیادة قید معتبر دے او چه بمعنی الحدوث ئے اووے په دے سره صفت مشبهه خارج شوه ځکه چه په هغے کښې ثبوت دے حدوث نه دے یعنی معنی مصدری پکښې په طریقے د ثبوت وی نه د حدوث **سوال** دا دے چه ستاسو تعریف جامع نه شو ځکه چه افراد ولړه او خارج شوه ترینه صیغه د مبالغے ځکه چه موضوع لهٔ د صیغے د مبالغے هم لمن قام به مع الزیادة دے **جواب** دا دے چه کچرته صیغه د مبالغے خارجه شوه نو په دے کښې څهٔ نقصان نشته دے ځکه چه مصنف اوزان د اسم فاعل ذکر کړیدی چه هغه محصور دی او صیغے د مبالغے په دے اوزانو

باندې نہ دی . اؤ یا داچہ احکام د مبالغې پہ مثل د احکامو د اسم فاعل دی . اؤ مثل د شئ غیر د شی نہ وی عین نہ وی

وصیغته من الثلاثی علی فاعل الخ اؤ صیغہ د اسم فاعل د ثلاثی مجرد نہ پہ وزن د فاعل دہ . **ومن غیره علی صیغة المضارع بمیم مضمومة وکسر ما قبل الآخر** اؤ د غیر ثلاثی مجرد نہ بہ راځی صیغہ د اسم فاعل پہ صیغہ د مضارع سرہ خو پہ ځائے د حرف مضارعت بہ میم مضمومہ وی . اؤ ما قبل آخر حرف بہ مکسور وی . **نحو مدخل ومستخرج** مدخل صیغہ د اسم فاعل دہ د باب افعال نہ دہ د مضارع یدخل دے . حرف مضارعت پہ ځائے باندې میم مضمومہ راوړے شویدے اؤ دلتہ کښې صرف حرف بدل شویدے او حرکت نہ دے بدل شوے اؤ مستخرج دا د باب استفعال نہ صیغہ د اسم فاعل دہ د یستخرج نہ جوړ شویدے دلتہ کښې حرف هم بدل شویدے . اؤ حرکۃ هم بدل دے ځکہ چہ دے کښې حرف مضارعت مفتوح دے اؤ چہ حرکۃ د ما قبل آخر بدل شوے وی لکہ متقابل ځکہ چہ دا د یتقابل نہ جوړ شوے دے چہ پہ مضارع کښې حرکۃ د ما قبل آخر مفتوح دے اؤ پہ صیغہ د اسم فاعل کښې مکسور دے

ویعمل عمل فعله بشرط معنی الحال والاستقبال او اسم فاعل عمل کوی د فعل خپل چہ د کوم فعل نہ دے مشتق دے لازم وی کہ متعدی مقدم وی کہ مؤخر پہ حال د کون د دہ کښې چہ دے پہ متلبس وی پہ شرط د کون د دہ چہ دے بہ پہ معنی د حال یا د استقبال وی ځکہ چہ عمل د اسم فاعل د وجے د مشابهت نہ دے د مضارع سرہ . اؤ مضارع خو پہ معنی د حال او د استقبال دواړو راځی . نو دے بہ هم هلہ عمل کوی چہ معنی د حال اؤ د استقبال وی . د یا نہ د دے خپلہ مخالفت را نشی دلتہ **سوال** راځی چہ تر څو پورے چہ دے بہ پہ معنی د حال یا د استقبال وی هلہ بہ عمل کوی دا خبرہ ستا منقوضہ شوہ پہ دے ترکیب سرہ چہ وکلبهم باسط ذراعیه بالوصید . ځکہ چہ اسم فاعل پہ دے کښې عامل دے سرہ د دے نہ پہ معنی د حال یا د استقبال نہ دے . بلکہ پہ معنی د ماضی دے . **جواب** دا دے چہ مراد پہ حال اؤ استقبال سرہ عام دے حقیقۃ وی کہ حکایۃ . دلتہ کښې اګر چہ پہ معنی د حال حقیقۃ نہ دے لیکن حکایۃ دے ځکہ چہ دلتہ دا حکایۃ الحال دے . **او الاعتماد علی صاحبه** اؤ بل شرط د پارہ د عمل د اسم فاعل دا دے چہ اعتماد پرے کړے وی پہ ما قبل باندې یعنی یا بہ ترینہ ما قبل مبتدا

وی یا د موصوف وی یاد موصول دی اؤ یا ماقبل یه دے نه ذوالحال وی اؤ دے دې یاخبر وی یا صفت دی یا صله اؤ یا حال واقع شوے وی ځکه چه اصل په عمل کښې فعل دے. اؤ وضع د فعل د پاره د عمل ده اؤ ما سوا د دے نه چه څه عمل کوی هغه د وجے د مشابهت نه اؤ فعل خو اعتما د کړیدے په فاعل باندې نو هغه شی چه هغه صاحب باندکوی. د پاره د دے چه مزیة دفرع په اصل باندې رانشی اؤ الهمزة اوما یا به ئے اعتماد کړے وی په همزهٔ استفها میه باندې اؤ یا په حرف نفی ځکه چه دوئ د واړه نه داخلیږی مګر په فعل باندې غالبًا هرکله چه دوئ داخل شو په اسم فاعل. نو جهت د مشابهت د فعلیکښې قوی شو اس چه اعتماد ئے نه وی کړے په دے مذکوره امورو کښې په یو شی باندې نو بیا جائز نه دے عمل د دے لکه ضارب زیدٌ عمروا. دا په نزد سیبویه اؤ د بصریانو اؤ په نزد د اخفش اؤ د نحا تو د کوفے نو هغوی جائز کړی دے اعمال د اسم فاعل بغیر د اعتماد مذکوره نه د هغوی په نزد باندې نفس مشابهت کافی دے د پاره د اعمال.

وان كان للماضى وجبت الاضافة معنى او کچرته دا اسم په معنی د ماضی وی برابره خبره ده چه عین ماضی دی یا په ضمن د استمرار کښې وی. نو بیا شرط دا دے چه دے به مضاف وی په اضافة معنوی سره. په دے سره احتراز راغے د اضافت لفظیه نه **خلافا للكسائى** خلاف ثابت دے کسائی لره ځکه چه د هغه په نزد باندې اضافة نه دے شرط بلکه مطلق عمل کوی برابره خبره ده چه په معنی د حال وی که د استقبال وی اؤ که د ماضی وی لکه په دے قوله باری تعالی کښې وكلبهم باسط ذراعيه بالوصيد. اؤ د غه شان کسائی ورسره قید د اضافة معنویه هم نه لګوی بلکه اضافة لفظیه ښه وی ځکه چه دا د قبیلے د اضافت د صفت نه دے معمول خپل ته. د لته **سوال** دا دے چه ستا دا خبره منقوضه شوه په دے ترکیب چه زیدٌ معطی عمرو درهما امس ځکه چه معطی صیغه د اسم فاعل ده. اؤ په معنی د ماضی ده اؤ عمل د نصب ئے کړیدے په درهما کښې. نو جواب اوکړو مصنف په دے قول سره چه **فان كان له معمول آخر** کچرته وی د پاره د هغه اسم فاعل چه په معنی د ماضی دے بغیر معمول سوا د هغه نه چه دے ورته مضاف دے چه د دے مشتق وی د داسے فعل نه چه هغه تقاضا د دوؤ مفعولینو کوی. **فبفعل مقدر** نو دے به معمول وی د پاره د فعل مقدر یعنی چه کوم شی یکښې منصوب دے هغه به په دے صیغه د اسم فاعل

د مشابهت د فعل دوه وجه نور معلمکی صفحه به په طریق اولی سره اعتماد په خپل ۱۲

نو وی منصوب لکه زید معطی عمرو درهما امس. د لته کښې درهما منصوب دے په فعل مقدر سره چه هغه اعطاه دے. او دا جمله مستانفه ده لکه چا اوو ئیل چه زید معطي عمرو امس نو سائل تپوس او کړو ما اعطاه چه جواب کښې و ورته او وئیل شو اعطاه درهما

فان دخلت اللام استوى الجميع | که چرته په اسم فاعل باندې الف لام داخل شو. نو بیا به دے کښې ټولے زمانے برابرے دي حکم چه دے فعل دے حقیقة لیکن عدول اوکړے شود فعل نه اسم ته حکم چه الف لام په فعل نه داخلیږي لکه په دے ترکیب کښې مررت بالضارب ابوه زیدا الان اوغدا او امس - **وما وضع منه للمبالغة** او هغه چه وضع شوے د اسم فاعل نه د پاره د مبالغے یعني هغه صیغے چه په فاعل کښې د پاره د مبالغے وضع دي **کضراب وضروب ومضراب وعليم وحذر مثله** پشان د اسم فاعل دي چه په هغے کښې مبالغه نه وي حکم چه په صیغے د مبالغے کښې اگر که مشابهت لفظیه نه دے باقي لیکن زیادة في المعنى قائم دے په مقام د منافات چه هغه مناسبت لفظیه دے **والمثنى والمجموع مثله** او تثنیه د اسم فاعل او جمع د اسم فاعل پشان د مفرد اسم فاعل کښې دي په عمل او په اشتراط کښې حکم چه په صیغے د مفرد کښې خلل نه واقع کیږي په لحوق د زوائد سره. **ويجوز حذف النون مع العمل والتعريف تخفيفا** او جائز دے حذف د نون د تثنیے او د جمع د اسم فاعل نه سره د کیدو د اسم فاعل نه سره د کیدو د اسم فاعل نه عامل بغیر د اضافت نه مفعول ته. او سره د تعریف باللام نه د پاره د حصول د تخفیف د وجے د طول د صلے نه لکه والمقيمي الصلوة په نصب سره یعني په نصب د صلوة سره حکم چه لام موصول دے او صله کښې طول راغلے دے په نصب د مفعول سره نو جائز شو تخفیف په حذف د نون سره لکه چه څنګه حذف د نون راغلے دے د پاره د تخفیف د موصول نه په دے قول کښې و خضتم كالذي خاضوا. د لته کښې كالذي په اصل کښې كالذين وو خلاصه داده چه اسم فاعل دا هغه اسم دے چه مشتق وي د فعل نه او دلالت کوي په هغه ذات باندې چه په هغه پورے قیام د فعل راغلے دي برابره خبره ده چه دا فعل هغه نه صادر وي او که نه وي او معنى مصدري په ده کښې په طریقه د حدوث سره وي

اسم المفعول | اسم مفعول اگر چه په حقیقة کښې مصدر دے لیکن مفعول ورته په دے وجه باندې وائي هو الذي يفعل الفاعل او د لته کښې ورته نه

اسم مفعول به مراد دے الذی فعل به الفعل او وقع علیه الفعل لکه د مثلے شی فعلت به الضرب ای اوقعته علیه بیا حرف جار حذف شو او ضمیر مرفوع پکښې مستتر شو۔ **ما اشتق من فعل** ما په منزله د جنس شوه تمام اسماء پکښې داخل شو برابره خبره ده چه مشتق وی که غیر مشتق چه اشتق ئے اووئیل په دے سره تر نه غیر مشتق خارج شول۔ **لمن وقع علیه** په دے سره ترینه نور اسماء مشتقه خارج شول لکه اسم فاعل، اسم تفضیل وغیره۔ **و صیغته من الثلاثی المجرد علی مفعول** او صیغه د ثلاثی مجرد نه په وزن د مفعول راځی او د ثلاثی مجرد نه علاوه **علی صیغة الفاعل** په وزن د صیغے د اسم فاعل راځی خو فرق دا دے چه په اسم فاعل کښې ما قبل آخر حرف هغه مکسور وی او په اسم مفعول کښې به مفتوح وی **بفتح ما قبل الآخر** ځکه فتحه اخف الحرکات دے او مفعول کثیر دے او کثرة تقاضا د خفت کوی کستخرج لکه د باب استفعال نه مستخرج شو۔ **و امره فی العمل** او شان د اسم مفعول په عمل کښې یعنی په کیدو د دے کښې عامل **و الاشتراط** او په اشتراط کښې **کامر الاسم الفاعل** پشان دامر د اسم فاعل دے یعنی چه څنګه هغه عمل کوی هغه شان به دے هم کوی۔ او د هغه د عمل د پاره چه کوم شرائط دی هغه د ده هم دی په وجوب د اضافت معنوی کښې کچه دے په معنی د ماضی وی لکه زید معطی درهم امس۔ او د اسم فاعل په شان به دے هم عمل کوی چه کله په معنی د حال او د استقبال وی مګر که معرف باللام وی نو بیا پکښې حال او استقبال شرط نه دی او د غه شان اعتماد به ئے کړی وی په امور دسته باندې۔ **زید معطی غلامه درهما** الآن او غدا او امس۔ خلاصه دا ده چه اسم مفعول دا هغه اسم دے چه مشتق وی مفعل نه او دلالت کوی په هغه ذات باندې چه فعل په هغه باندې واقع وی۔

الصفة المشبهة هغه صفت چه مشبهه دے د اسم فاعل سره په افراد تثنیه جمعیه او په تذکیر او په تانیث کښې **ما اشتق** دا هغه اسم دے ما په منزله د جنس شو ټول اسماء لره شامل دے چه مشتق وی په دے سره ترینه غیر مشتق خارج شو۔ **من فعل لازم** د فعل لازمی نه په دے سره احتراز راغے د اسم فاعل او د اسم مفعول نه چه متعدیین دی۔ **لمن قام به علی معنی الثبوت** د پاره د هغه ذات چه قائم وی په هغه پورې فعل په طریقه د ثبوت او د دوام سره په دے سره احتراز راغے د اسم فاعل نه یعنی صفت مشبهه ما هغه اسم دے چه مشتق وی د فعل لازمی نه او دلالت کوی په هغه

ذات باندې چه فعل په هغه پورې قائم وي او معنی مصدری پکښې په طریقه د ثبوت اؤ دوام سره وي دلته کښې سوال وارديږي چه ستا دا تعریف جامع اونه گرځیدو خپلو افرادو لره اؤ خارج شو رحیم د دې نه ځکه چه دې د فعل لازمی نه مشتق نه دې بلکه د فعل متعدی نه دې چه رَحِمَ دې. جواب دا دې چه لازم عام دې ابتداءً دی اؤکه په وخت د اشتقاق کښې وي رحم ابتداء په کسره د عین سره دالازم نه دې خو چه کله رحُمَ ضمه د عین ته منتقل شو. نو اوس دې لازمی اوگرځیدو. سوال دا دې چه ستا ما تعریف مانع اونه گرځید و د دخول د غیر نه اؤ داخل شو پکښې ضامر اؤ طالق ځکه چه دا په معنی د ثبوت دی. جواب دا دې. چه دا په اصل کښې د حدوث د پاره دی. اؤ ثبوت ورته عارض دې او العوارض لا تعتبر.

وصيغتها مخالفة لصيغة الفاعل اؤ صیغه د صفت مشبهه دا مخالفه ده د صیغې د اسم فاعل نه علی حسب السماع په اندازه د سماع ده د واضع نه یعنی اوزان د اسم فاعل جُدا دی د اوزانو د صفة مشبهه نه اؤ یا دا چه صیغې د اسم فاعل قیاسی دی اؤ صیغې د صفت مشبهه هغه سماعی دی د عربو نه. دلته کښې علی حسب السماع یا دا منصوب دې بنا برحالیة د هغه ضمیر نه چه په مخالفة کښې دې اؤ راجع دې صیغې ته. نو معنی به دا سې شي چه حال کون الصيغة كائنة على قدر مسموع غیر متجاوزة عنه. اؤ یا منصوب دې بنا بر مصدریة نو معنی به دا سې شي چه مخالفة كائنة على قدر مسموع الخ سوال دا دې چه صیغه د صفة مشبهه چه ځنګه مخالفه ده د صیغې د اسم فاعل نه نو د غه رنګه مخالفه ده د صیغې د اسم مفعول نه هم نو صیغه د اسم فاعل ئې ولې خاصه کړه په ذکر سره. جواب دا دې چه د صیغې د صفة مشبهه ډیر مشابهت هغه د صیغې د اسم فاعل سره نو ځکه ئې صیغه د اسم فاعل خاص کړه په ذکر سره. كحسن وصعب وشديد لکه حسن اؤ صعب اؤ شدید شو سوال دا دې چه ستا دا حصر په دې درې صیغو کښې باطل دې ځکه چه د دې نه علاوه نورې صیغې هم د مبالغې شته لکه احمر یا سکران جواب دا دې چه غرض دلته کښې استقصاء د تمامو صیغونه ده. حتی چه د حصر اعتراض وارد شي.

وتعمل عمل فعلها مطلقا اؤ صفة مشبهه عمل کوي د خپل فعل چه د کوم نه مشتق وي. مطلقا بغیر د څه شرط اؤ د قید د زمان نه سوال دا دې چه تا او وئیل مطلقا د دې مطلب دا دې چه په دې کښې هیڅ څه قید نشته نو بیا خو یکار دا دې چه دا دې عمل کوي بغیر د اعتماد نه جواب دا دې چه د عدم قید مطلب دا دې چه په دې کښې قید د زمانې

نشته او صحیح دے اشتراط داعتماد نو هغه شته دے. سیوا داعتماد د نه یے لام موصول باندې حُکم چې الف لام موصول داخلیږی یے اسم فاعل او یے اسم مفعول باندې **ولتقسیم مسائلها** . او تقسیم د مسائلو د صفت مشبهه چې هغه ۱۸ قسمه دی دا دے دلته کښې مصنف د صفت مشبهه اقسام جوړوی او د هر قسم علیحده علیحده حکم بیانوی. **ان تکون الصفة باللام او مجردة عنها** چې دا صفت مشبهه به خالی نه وی. یا به معرف باللام وی او یا به معرف باللام نه وی. **و معمولها اما مضاف او باللام او مجرد عنهما** او معمول د صفة مشبهه به خالی نه وی. یا به مضاف وی یا به معرف باللام او یا به مجرد وی د دواړو نه یعنی نه به مضاف وی او نه معرف باللام. **فهذه ستة** نو دا شپږ اقسام شو چې حاصل شو د ضرب دا شپږو نه په ثلاثه کښې **و المعمول فی کل واحد منها مرفوع ومنصوب و مجرور** او معمول د هر واحد د دے شپږو اقسامو یا به مرفوع وی یا به منصوب وی او یا به مجرور. **فصارت ثمانية عشر قسما** نو د دینه اتلس قسمه حاصل شو.

فالرفع على الفاعلية رفع د معمول بنا بر فاعلیة ده. **والنصب على التشبيه بالمفعول في المعرفة وعلى التميز في النكرة** او نصب د معمول د وجې د تشبیهه د صفت مشبه نه په مفعول پورے لکه الحسن الوجه په نصب سره دا مشابهه دے د مفعول به سره او مفعول به بعینه نه دے. ځکه چې فعل د صفت مشبهه غیر متعدی دے. نو معمول منصوب دے مفعول به نشی کیدے لیکن هر کله چې صفت مشبهه مشابهه دے د اسم فاعل سره نو مشابهه اوګرځیدو منصوب دے په مفعول سره او کچیرته معمول د صفت مشبهه نکره وی او منصوب دی نو هغه به منصوب بنا بر تمیز وی لکه الحسن وجهًا **والجر على الاضافة** او که معمول د صفت مشبه مجرور وی نو هغه به بنا بر اضافه وی **و تفصيلها** او مفصل کړل د دغه اقسامو دا دے. **حسن وجهه** چې صفت مشبه غیر معرف باللام او معمول ئے مضاف وی ضمیر ته **ثلاثة** یعنی ذو ثلثة چې مرفوع هم وئیلے شی منصوب هم او مجرور هم **و كذالك حسن الوجه** او پشان د حسن وجهه حسن الوجه دے چې صفت مشبهه غیر معرف باللام وی او معمول معرف باللام وی او غیر مضاف وی. په دیکښې هم درے اعرابه دی رفع، نصب او جر. **حسن وجهٌ** دا مثال د هغه دے چې صفت مشبهه غیر معرف باللام وی او معمول ئے هم غیر معرف باللام وی او غیر مضاف وی. او معمول باندې د دریواړه اعرابات راتلی وی. رفع، نصب او جر.

الحسن وجهه چه صفت مشبهه معرف باللام دی او معمول ئې مضاف وی ضمیرته او غیرمعرف باللام وی په دے کښې هم درے اعرابه دی۔ **الحسن الوجهُ** چه صفت معرف باللام او معمول هم معرف باللام غیرمضاف په دے کښې هم درے اعرابه دی۔ **الحسن وجهٌ** چه صفت یکښې معرف باللام وی او معمول غیرمعرف باللام او غیرمضاف او په دیکښې هم درے اعرابات دی۔ **سوال** دادے چه مصنف وړلے حروفِ عاطفه پریښودل په هغه کښې چه هغه معرف باللام وی۔ **جواب** دادے په دیکښې اشاره ده دے خبرے ته چه دلته کښې شروع په قسم آخر د صفت مشبه کیږی ده ځکښې چه کوم مثالونه دی هغه د هغه قسمونو وو چه مجرد وو د الف لام او دا هغه مقترنه دی چه معرف باللام وی بیا **سوال** داځے چه مصنف وړلے په تفصیل کښې مخالفت د اجمال نه اوکړو په دے شان سره چه کوم صفت معرف باللام دے هغه ئې مقدم کړے دے په هغه باندې چه غیرمعرف باللام دے او په تفصیل کښې ئې مؤخر کړے دے **جواب** دادے د معرف باللام مفهوم وجودی دے او د غیر معرف باللام مفهوم عدمی دے او وجودی اشرف دے د عدمی نه په دے وجه ئې مقدم کړو په اجمال کښې او په تفصیل کښې ئې چه مؤخرکړو هغه په دے وجه باندې چه د غیرمعرف باللام صفت اقسام ټول صحیح وو۔ صرف یو قسم پکښې مختلف فیه وو۔ او د معرف باللام صفت اقسام ټول صحیح نه دی بلکه دوه قسمه پکښې ممتنع دی **اثنان منها ممتنعان** په دے اتلسو وجوهو کښې دوه وجے ممتنع دی۔ **مثل الحسن وجهه** یو هغه دے چه صفت پکښې معرف باللام وی او معمول مضاف وی ضمیرته او دا معمول مجرور وی۔ **الحسن وجهٍ** دویم هغه چه صفت پکښې معرف باللام وی او معمول ئې غیرمضاف وی او مجرور وی۔ وجه د امتناع ئې داده چه فائده د اضافت لفظیه هغه تخفیف دے په جانب د مضاف او یا د مضاف الیه کښې هرچه دے تخفیف په جانب د مضاف کښې هغه حذف د تنوین دے یا قائمقام د تنوین دے چه هغه یا نون د تثنیه دے یا نون د جمع او هرچه دے په جانب د مضاف الیه کښې هغه حذف د ضمیر دے او استتار دے په صفت کښې او دلته کښې یو هم نه دے موجود شوے۔ یعنی نه په جانب د مضاف کښې تخفیف راغلے دے او نه په جانب د مضاف الیه کښې او د الحسن وجهٍ وجه د امتناع داده چه دلته کښې اګرکه تخفیف حاصل شویدے په حذف د ضمیر سره او په استتار سره په صفت کښې لیکن دلته کښې اضافت د معرفے راغلے دے نکرے ته حالانکه اضافت د نکرے معرفے ته کیږی۔ **واختلف فی حسن وجهه**

اؤ اختلاف کې شوې دے په صحة د حسن وجهه کښې يعنې په هغه صورت کښې چې صفت يکښې مجرد وي د الف لام نه چې مضاف وي معمول ته اؤ د هغه اضافة ضمير ته راغلې وي. د بصريانو په نز باندې دا ترکيب جائز دے سره د قبح نه ځکه چې فائده د اضافة لفظيه چې هغه تخفيف دے په جانب د مضاف اؤ د مضاف اليه کښې لؤ په دے صورت کښې تخفيف حاصل شويدے په جانب د مضاف کښې په حذف د تنوين سره اؤ په مضاف اليه کښې تخفيف نه دے راغلې ځکه چې ضمير په هغه کښې حذف شوې نه دے اؤ د کوفيانو په نز باندې دا ترکيب جائز دے بغير د قبح نه ځکه چې د هغوئ په نز باندې فائده د اضافت هغه مطلق تخفيف دے اؤ هغه حاصل شويدے

بعض نحاتو ويلي دي چې دا ترکيب نه دے صحيح ځکه چې دلته کښې لازميږي اضافة د شي نفس ته . اؤ بعض والي چې صحيح دے ځکه چې حسن عام دے د وجه نه . **والبواقي** اؤ باقي اقسام پس د اسقاط د مسئلتينو نه هغه په درے قسمه دي . **ما كان فيه ضمير واحد منها احسن** چې په کوم اقسامو کښې يو ضمير موجود دے هغه احسن دے . ځکه چې دا قسم مشتمل دے په محتاج اليه باندې بغير د زيادة نه اؤ هغه نهه اقسام دي چې تفصيل ئے دا دے الحسن الوجهَ په نصب د معمول اؤ په جر سره او صفت معرف باللام وي . حسنُ الوجهِ په نصب د معمول اؤ د جر سره صفت به يکښې غير معرف باللام وي . الحسن وجهًا معمول يکښې منصوب وي اؤ صفت معرف باللام وي حسن وجهًا په نصب د معمول سره اؤ صفت غير معرف باللام . حسن وجهٍ چې صفت غير معرف باللام وي اؤ معمول مجرور وي . والحسن وجهُه چې معمول يکښې مرفوع وي اؤ صفت معرف باللام وي . حسن وجهُه چې معمول يکښې مرفوع وي اؤ صفت غير معرف باللام وي . **وما كان فيه ضميران حسن** اؤ هغه اقسام چې په هغې کښې دوه ضميره وي نو هغه حسن دي . ځکه چې دا قسم مشتمل دي په محتاج اليه باندې اؤ حسن په دے وجه باندې نه دي ځکه چې په دے کښې زيادة په محتاج اليه باندې راغلې دے . اؤ حسن دوه قسمه وي حسن وجهه په نصب د وجه سره او الحسن وجهه په نصب د وجه سره . **وما لا ضمير فيه قبيح** اؤ هغه قسم چې په هغې کښې ضمير نشته دے قبيح دے د وجے د عدم د ربط نه په ما بين د صفت اؤ د موصوف کښې ځکه چې دا مشتمل نه دے په محتاج اليه باندې اؤ دا څلور قسمه دي . الحسن الوجه حسن الوجه حسن وجه الحسن وجه په رفع د معمول سره **ومتي رفعت بها** اؤ چې کله ته رفع ورکړے په دے صفت سره **فلا ضمير فيها** نو بيا په دے کښې ضمير نه وي د پاره د دے چې لازم نه شي تعدد د

دفاعل چه یو ضمیر وی او یو اسم ظاهر وی او بیا معمول به ئے خالی نه وی یا به پکښې ضمیر وی یا به نه وی که وی خو احسن او که نه وی نو قبیح **فهي کالفعل** نو دا صفت به په شان دفعل وی لکه چه څنګه فاعل چه کله ظاهر وی نو فعل تثنیه یا جمع کیږی نه. **والا** یعنی وان لم یرفع بها **ففیها ضمیر الموصوف** نو بیا په دیکښې ضمیر د موصوف وی دپاره ددے چه هغه فاعل شی بیا معمول به ئے خالی نه وی یا به پکښې ضمیر وی یا به نه وی کچیرته وی نو هغه حسن او که نه وی نو احسن بیا به دا صفت مؤنث هم راځی. تثنیه هم راځی او جمع هم راځی ځکه حال د صفت پشان د حال د فعل دے او د فعل اسناد چه کله ضمیر ته اوشی نو فعل به د هغے موافق راځی. **واسما الفاعل والمفعول غیر المتعدیین مثل الصفة فیما ذکر** او اسم فاعل او اسم مفعول چه غیر متجاوزین د فاعل او د مفعول مالم یسم فاعله نه دا پشان د صفت مشبهه دی په د هغه ۱۸ مسائلو کښې چه کومے ذکر شوے په دے سره احتراز راغے د هغه نه چه تجاوز ئے کړیوی. ځکه چه جائز نه دے اضافت د دوئ هغه ته چه چا ته تجاوز کړیوی او نه ئے جائز دے نصب دپاره ددے چه لازم نه شی التباس ئے د مفعول سره لکه ته او وائے چه زید ضارب اباه یا زید معطی اباه نو دا معلومه نه شوه چه اباه په مثال اول کښې دا مفعول د ضارب دے او یا فاعل دے. خو منصوب دے د وجے د تشبیه نه په مفعول پورے. او په مثال ثانی کښې اباه مفعول ثانی د معطی دے او که مفعول اول دے قائم دے په مقام د فاعل او منصوب دے د وجے د تشبیه نه په مفعول پورے او مفعول ثانی محذوف دے

نقشه د مسائلو د صفت مشبهه په راتلونکے صفحه ده۔

پیش آمد آں دلبر مرا گفتم تنہا کم کن بلا
گفتا برو گر عاشقی بہر دو سر بلا افزوں کنم
گفتم تنہا در پردہ ہا خود را چرا داری نہاں
گفتا کہ گر بیروں شوم سی صد چو تو مجنوں کنم

حضرت شمس تبریزؒ

	قسم معمول	حالت رفعی	حالت نصبی	حالت جری
صفت مشبهه معرف باللام	چه معمول مضاف وی	زید الحسن وجهُهٗ	زید الحسن وجهَهٗ	زید الحسن وجهِهٖ
	چه معمول معرف باللام وی	زید الحسن الوجهُ	زید الحسن الوجهَ	زید الحسن الوجهِ
	چه معمول نه معرف باللام وی نه مضاف	زید الحسن وجهٌ	زید الحسن وجهًا	زید الحسن وجهٍ
صفت مشبهه غیر معرف باللام	چه معمول مضاف وی	زید حسن وجهُهٗ	زید حسن وجهَهٗ	زید حسن وجهِهٖ
	چه معمول معرف باللام وی	زید حسن الوجهُ	زید حسن الوجهَ	زید حسن الوجهِ
	چه معمول نه معرف باللام او نه مضاف	زید حسن وجهٌ	زید حسن وجهًا	زید حسن وجهٍ

اسم التفضيل ما اشتق من فعل لموصوف بزيادة على غيره | ا سم تفضیل دا

صفه اسم دے چه مشتق وی د فعل نه د پاره د موصوف سره د زیادة نه په غیر باندی یعنی

معنی مصدری په دهٔ کښی زیاته وی په نسبت د غیر باندی. او په مبالغه کښی هم زیادة شته

دے ولے صفه په نسبت د غیر سره نه دے. او دلته کښی معړ لموصوف او دیل او لمن

قام یالمن وقع ئے اونه وئیل دپاره ددے چه دادواړو لوزعینولره شامل شی ځکه چه

تفضیل څنګه په فاعل کښی راځی نو دغه شان په مفعول کښی هم راځی. لکه اضرب او اشهر

یو په ضارب کښی او بل په مشهود کښی. په هر یو تعریف کښی لا بدی دهٔ د جنس او د فصل

نه ما اشتق من فعل دا په منزله د جنس دے اسم تفضیل او غیر اسم تفضیل دواړو لره شامل

دے لکه اسم فاعل شو اسم مفعول، آله ظرف او صفت مشبهه و غیره لموصوف دا یو فصل

دے په دے سره تر نه ظرف او اسم آله خارج شول ځکه چه مراد په موصوف سره ذات

مبهمه دے او په ظرف او آله کښی ابهام نشته دے. بزیادة علی غیره دا بل فصل

ئے په دے سره ترنه اسم فاعل اسم مفعول او صفة مشبهه خارج شول. **سوال** دا دے چه ستا

دا تعریف د اسم تفضیل مانع نه شو د دخول د غیر نه او داخل شو پکښی غالب زائد او فاضل

ځکه چه دا مشتق دی د هغه فعل نه چه موضوع دی د پاره د ذات هسے ذات چه هغه

موصوف ئے په زیادة سره په غیر باندی. **جواب** دا دے چه مراد په زیادة سره زیادة ئے

په اصل د دغه فعل کښی او د دغه اسماء دلالت کوی په مطلق زیادة باندی نه په هغه

زیادة باندی چه په اصل د دغه فعل کښی وی. **و هو افعل** او صیغه ددے دپاره د مذکر

د افعل په وزن راځی او دا وزن د افعل عام دے فی الحال وی او که فی الاصل وی نو اعتراض

په خیر او په شر سره وارد نه شو او د مؤنث دپاره په وزن د فعلیٰ راځی. **و شرطه ان يبنى**

من الثلاثي المجرد ليمكن بناء افعل منه الخ او شرط د اسم تفضیل دا دے چه بناء

ددهٔ به د ثلاثی مجرد نه راځی. دپاره ددے چه ممکن او کرځی وزن د افعل. ځکه که چرته دا

صیغه جوړه د مزید نه جوړه وو مثلاً د استخرج نه. نو یا به زائد حروف حذف کوو او

یا نه کچرته زائد حروف نه حذف کوو نو وزن د افعل نه جوړیږی او کچرته حذف کوو ئے

نو بیا فرق نه راځی په ما بین د مزید او د مجرد کښی. **و ليس بلون ولا عيب** او ددے

تعلق به د لون (رنګ) یاد عیب سره نه وی **لان منهما افعل لغيره** ځکه چه د لون

او د عیب نه افعل وزن دپاره د غیر د اسم تفضیل راځی که چرته د دغه وزن ترنه دپاره د تفضیل

راشی

نو بیا به التباس راشی لکه احمر اصفر یا اعمٰی او اعور په دے صیغو کښې چه د لون او د عیب نه دی په دوئ کښې زیادة نشته۔ **سوال** دا دے چه دا قاعده منقوضه ده په اجهل او په ابله باندې ځکه چه دا دواړه مشتق دی د جهل او د بله هم نه او د دے تعلق د عیب سره دے **جواب** دا دے چه مراد په عیب سره عیب ظاهری دے او دا عیوب باطنی دی. **سوال** دا دے چه بیا خو به احمق باندې اطلاق د شد وذ او نه شی **جواب** دا چه مراد په عیب سره ظاهری دے عام دے نه چه حقیقةً وی او که حکماً او دلته کښې اګر که عیب ظاهر حقیقةً نه دے لیکن حکماً ظاهر دے ځکه چه آثار ئے ظاهر دی لکه د ویلے شی احمق من هبنقه **مثل زید افضل الناس** لکه د ویلے شی زید افضل الناس۔ **فان قصد غیره** کچرته کښې قصد کړے شوے وی اداد معنی د تفضیل د غیر د ثلاثی مجرد و نه. **توصل الیه باشد** نو توصل به کیږی تفضیل ته په اشد سره **و نحوه** یا د دے پشان بله صیغه شو ه۔

مثل هو اشد منه استخراجا و بیاضا و عمیا دلته کښې استخراج باب استفعال دے او دا مزید دے په دیکښې تفضیل مطلوب دے نو د مصدر نه مخکښې اشد راوړے شو. او بیاض دالون دے په دیکښې تفضیل مطلوب دے نو او به ویلے شی چه اشد بیاضا. او عمیا عیب دے په دے کښې تفضیل د پاره به او وائے چه اشد عمیا. د غه مصادر به ذکر شی د پاره د تمیز.

و قیاسه للفاعل او اسم تفضیل کښې د قیاس تقاضا دا ده چه اشتقاق د دهٔ د پاره د فاعل وی یعنی تفضیل د په فاعلیة کښې وی نه په مفعولیة کښې ځکه کچرے د دواړو د پاره دا صیغه راشی نو بیا به التباس راشی چونکه په فاعل او په مفعول کښې اشرف هغه فاعل دے په دے وجه باندې اکتفاء په فاعل او کړے شوه **و قد جاء للمفعول** او تفضیل دا صیغه او وزن د پاره د مفعول هم راغلے دے **نحو اعذر والوم و اشغل و اشهر** اعذر تفضیل دے په معذور کښې یعنی اکثر معذوریة. اکثر ملومیة اکثر مشغولیة اکثر مشهوریة. **و یستعمل علی احد ثلثة اوجه** او دا اسم تفضیل مستعملیږی په یو د طرقو ثلاثو باندې **مضافا او بمن او معرفا باللام** دا بدل دے د علی ثلثة اوجهٍ نه د پاره د دے چه مفضل او مفضل علیه مقدم شی او هغه نه حاصلیږی مگر په دے درے امورو سره لکه زید افضل القوم زید افضل من عمرو زید نِ الافضل **فلا یجوز زید الافضل من عمر** دا ترکیب نه دے جائز یعنی جمع په ما بین د امرین کښې نه ده جائز د دے امور ثلاثو نه ځکه چه یو دے کښې یو امر لغو شی۔ **سوال** دا دے چه ستا دا قاعده منقوضه شوه په دے شعر د شاعر

سره ـ ـ لست بالاكثر منهم حصىً ـ ـ وانما العزة للتكاثر ـ
دلته کښې الف لام هم دے او من هم راغلے دے ـ **جواب** دا دے چه دا من د پاره د تبعيض دے نه د پاره د تفضیل **ولا زيد افضل** او نه دا ترکیب جائز دے چه اسم تفضیل بو هم د دے طرق ثلاثه نه نه وی استعمال شوے د پاره چه غرض فوت نه شی چه هغه تفضیل دے په غیر بانذ ـ **سوال** دا دے چه ستا دا قاعده منقوضه شوه په دے ترکیب سره چه الله اکبر ـ دلته کښې اسم تفضیل راغلے او مستعمل نه دے په یو هم د دے طرق ثلاثه سره نو مونږ جواب او کړو ـ **الا ان يعلم** مګر په هغه وخت کښې چه مفضل علیه معلوم وی په یو قرینے سره چه لفظیه وی که عقلیه ـ دلته کښې الا ان یعلم مستثنیٰ مفرغه ده معنی ئے دا ده چه یستعمل مع احد ثلثة اشياء فی جمیع الاوقات الا وقت معلومية المفضل عليه الله اکبر من کل کبیر زید کریم وعمرو اکرم منه ـ او یا دا اسم تفضیل خالی کړے شی د معنی د تفضیل نه بیا په دے صورت کښې ور سره معطوف محذوف به را او باسو او یخرج اسم التفضيل عن معنى التفضيل فيستغنى عن استعماله باحد ثلثة اشياء **فاذا اضيف** په هغه وخت کښې چه اضافت د اسم تفضیل او کړے شی **فله معنيان** نو د ده د پاره بیا دوه معنے دی په وخت د اضافت کښې **احدهما** یو په دے دواړو معنی کښې دا ده **وهو الاكثر** چه دا معنی اکثر ده.
ان تقصد به الزيادة چه قصد کړے شی په دے سره زیادة **على معنى اضيف اليه** چه چا ته دده اضافة کړے شوے وی الیه ضمیر من ته راجع دے عقلاء وی که غیر عقلاء وی تغلیبًا **فيشترط** نو بیا شرط کړے شوے دے په استعمال کښې په دے معنی باندی **ان يكون** چه وی دا موصوف **بعضا منهم** بعض د قوم نه یعنی موصوف دې داخل وی په مضاف الیه کښې په حسب د مفهوم سره او خارج دې وی په حسب د ارادے سره هر چه دے دخول دده ځکه چه غرض د اسم تفضیل نه تفضیل د موصوف دے په هغه چا باندې چه هغه ده سره په عام مفهوم کښې شریک وی او هر چه دے خروج دده په اعتبار د ارادے سره د پاره د دے چه لازم نه شی تفضیل د شی په خپل نفس باندې ـ
مثل زيد افضل الناس دلته کښې زید بعض او جز دے دالناس نه ـ
فلا يجوز يوسف احسن اخوته لخروجه عنهم باضافتهم اليه پس جائز نه دے دا ترکیب چه یوسف احسن اخوته ـ ځکه چه په دغه وخت کښې اجتماع د نقیضینو لازمیږی ځکه چه اضافة د اخوة او شی هغه ضمیر ته چه کوم راجع دے یوسف ته نو بیا یکار ده چه دے د

خارج شی د دوی نه او په تقدیر د دے سره چه شرط په دے اضافت کښې دا دے چه مضاف د مضاف الیه نه وی. نو په دغه صورت کښې هم به داخل شی او هم به خارج شی دا اجتماع د نقیضینو ده. **والثانی** او معنی ثانی دا ده **ان تقصد زیادة مطلقة** چه زیادة مطلقه قصد کړے شی یعنی غیر مقید وی په زیادة سره **علی من اضیف الیه ویضاف للتوضیح** او دلته کښې اضافة د پاره د توضیح راغلے وی نه د پاره د تفضیل پشان د نورو سماعی صفتونو. او دلته کښې معنی توضیح او وئیل او تخصیص نے او نه وئیل ځکه چه لفظ د تخصیص خاص دے په اضافة کښې نکرات ته . نو په دے کښې شرط دا نه دے چه موصوف و داخل وی په مضاف الیه کښې. بلکه مضاف به وی پرے جماعت ته چه دے به داخل وی سره صفه جماعت کښې. لکه محمد صلی الله علیه و سلم افضل القریش یعنی افضل الناس من قریش **فیجوز یوسف احسن اخوته** ځکه چه په دغه وخت کښې اجتماع د نقیضینو نه راځی چه مے داخل نه دے په مضاف الیه کښې. **ویجوز فی الاول** او جائز دے دا اسم تفضیل په اول نوعه کښې یعنی چه مضاف دے په معنی اول سره. **الافراد** افراد په جمیع احوالو کښې ځکه چه دے مشابه دے د صفه اسم تفضیل سره چه مستعمل دے په من سره په صفه کښې افراد دے نو په دے کښې به هم افراد وی لکه زید افضل القوم الزیدان افضل القوم الزیدون افضل القوم. **والمطابقة** او مطابقة **لمن هو له** د صفه سره چه چا سره اسم تفضیل ثابت دے ځکه چه دے مشابه دے د صفه اسم تفضیل سره چه صفه معرف باللام دے او په صفه کښې خو مطابقة دے نو په دے کښې به هم وی لکه زید افضل القوم، الزیدان افضلا القوم، الزیدون افضلوا القوم.

واما الثانی او هر چه دا دو یمه نوعه دا اسم تفضیل چه په اضافت سره مقصود زیادة مطلقة دے. **والمعرف باللام** او صفه چه معرف باللام دے **فلا بد من المطابقة** نو په صفه کښې لابدی ده د مطابقة نه یعنی د موصوف سره مطابقة راغلے وی په افراد تثنیة او جمعیة کښې او په تذکیر او په تانیث کښې ځکه چه اصل صفه مطابقة دے په ما بین د موصوف او د صفت کښې په وخت د علم مانع کښې **والذی بمن** او صفه اسم تفضیل چه مستعمل دے په من سره **مفرد مذکر** صفه به مفرد مذکر وی **لاغیر** یعنی د دے دواړو نه علاوه بل به نه وی ځکه چه کچرته مطابقة راولے نو علامه به یا مخکښې د من راولے او یا وروستو د من نه. که مخکښې د من نه راولے نو لازمیږی

اجزاء د علامے په وسط کښی د کلمے حکمًا اوُدا ناجائز دی. اوُ که درو ستو د مَن نه لرے اول نو لازمیږی اجزاء د علامے په کلمے اُخری باندِ حقیقتًا اوُ دا خبره هم باطله ده **ولا يعمل الرفع** اوُ اسم تفضیل عمل د رفع نه کوی بنا بر فاعلیة **فی مظهر** په اسم ظاهر کښی.

اسم تفضیل په دوه قسمه عمل کوی یو عمل د نصب اوُ بل عمل د رفع دے عمل د نصب عام دے چه بنا بر مفعولیة ئے کوی یا بنا بر ظرفیة اوُ حالیة یا تمیز ئے کوی. هر چه عمل د نصب بنا بر مفعولیة نو دا سره نه واقع نه دے ځکه چه مفعول د اسم تفضیل نه دے مگر مفضل علیه اوُ مفضل علیه چه کله مذکور وی نو هغه به مجرور وی ځو په دے باندِ سوال وارد یږی. سوال دا دے چه ستا دا قاعده منقوضه شوه په دے قول د باری تعالیٰ هو اعلم من یضل. ځکه چه اعلم صیغه د اسم تفضیل ده اوُ من له ئے نصب ورکړے دے **جواب** دا دے چه مَن د لته کښی مفعول د فعل محذوف دے چه هغه یعلم دے تقدیر د عبارة به دا سے شی هو اعلم من کل احد یعلم من الخ اوُ هر چه دے عمل د نصب بنا بر ظرفیة یا حالیة یا تمیز نو هغه واقع دے بلا شرطه ځکه د عمل بنا بر ظرفیة یا حالیة دپاره ادنیٰ رائحه د فعل یکار ده. اوُ په اسم تفضیل کښی معنیٰ د فعل موجود ده لکه زید احسن منك الیوم راکبا اوُ هر چه دے تمیز نو تمیز منصوب کړی ځوله شی په هغه شی سره چه هغه خالی وی د معنیٰ د فعل نه اوُ په اسم تفضیل کښی معنیٰ د فعل موجود ده لکه زید افضل ابًا.

اوُ عمل د رفع هم په دوه قسمه دے یو عمل د رفع دے په ضمیر کښی اوُ بل عمل د رفع دے په اسم ظاهر کښی. عمل د رفع په ضمیر کښی واقع دے بلا شرطه. ځکه چه عمل په ضمیر کښی عمل دے په مقدر کښی اوُ هغه اسهل دے قوة د عامل ته محتاج نه دے اوُ هر چه دے عمل د اسم تفضیل په ظاهر کښی نو دا مشروط دے په شروط ثلاثه سره ځکه چه اصل په عمل کښی هغه فعل دے ځکه چه فعل واضع وضع کړے دے دپاره د عمل اوُ ما سوا د فعل نه چه کوم شے عمل کوی نو هغه د وجے د مشابهت نه د فعل سره اوُ اسم تفضیل مشابه نه دے د فعل سره. ځکه چه ده دپاره دا سے فعل نشته دے چه هغه د دے په معنیٰ باندِ وی په زیادة کښی لیعمل عمله.

سوال دا دے چه مناسب دا ده چه اسم تفضیل د عمل اوکړی د رفع بنا بر فاعلیة په اسم ظاهر کښی ځکه چه دے مشابه دے د فاعل سره په افراد تثنیة اوُ جمعیة کښی. اوُ په

تذکیر او په تانیث کښې لکه د صفت مشبهه. **جواب** دا دے چه دا سے نه شی کیدے ځکه چه اصل په اسم تفضیل کښې هغه دے چه مستعمل دے په مِنْ سره. او هغه مفرد مذکر وی ابدًا. او دد ے نورو دوارو قسمونو اعتبار نشته دے. **بیا سوال** واردیږی چه اسم تفضیل د عمل د رفع اوکړی بنا بر فاعلیة ځکه چه د ه کښې اګرکه مشابهة لفظیه د فعل سره قوت شوے دے لیکن دا زیادة په معنی کښې دا د قائمقام اوګرځی د هغے لکه په صیغو د مبالغے کښې **جواب** زیادة په اسم تفضیل کښې زیادة مضافه دے او اضافت د خواصو د اسم نه دے نو جهت د اسمیة پکښې قوی دے او جهت د مشابهت د فعل پکښې ضعیف شو. او په صیغو د مبالغے کښې مطلق زیادة دے **الا اذا کان صفة** مګر عمل به کوی اسم تفضیل د رفع په اسم ظاهر کښې چه دے په لفظ کښې صفة د یو شی وی یعنی یا لغت وی یا خبر وی یا حال وی دپاره د دے چه دے په هغه باندې اعتماد اوکړی **و هو فی المعنی لمسبب** او دے په معنی کښې صفت د شی آخر وی دپاره د مسبب د د غه شی دپاره د دے چه د ه لره اسم ظاهر پیدا شی او دے پکښې عمل اوکړی. **مفضل باعتبار الاول** مفضل وی په اعتبار د تعلق د د ه په شی اول پورے **علی نفسه باعتبار غیره** او مفضل علیه وی په اعتبار د تعلق د د ه په غیر د موصوف اول نه معنی یعنی مفضل او مفضل علیه متحدان بالذات وی او متغایرین بالاعتبار دپاره د دے چه ضعیف اوګرځی زیادة تفضیلیه چه هغه مقتضی دے دپاره د مغایرت په مابین د مفضل او مفضل علیه کښې. **منفیا** او اسم تفضیل به منفی وی په حرف نفی سره دپاره د دے چه دا زیادة تفضیلیه زائل اوګرځی په حرف نفی سره او اصل فعل باقی پاتے شی.

خلاصه دا د ه چه عمل د اسم تفضیل په اسم ظاهر کښې مشروط دے په شروط ثلاثه سره اول دا چه دے د په لفظ کښې صفت د یو شی وی او په معنی کښې دِ صفة د بل شی وی دویم دا دے چه مفضل او مفضل علیه دِ متحدین بالذات او متغائر بالاعتبار وی. دریم دا چه منفی دِ وی او وجوهاتو ته د دے شروطو ته مونږ ه اشاره اوکړه. اول شرط په دے چه موجود شی د ده لره معتمد علیه. ثانی دپاره د دے چه ضعف په معنی تفضیلی کښې راشی او ثالث په دے چه نفی چه متوجه شی قید او مقید ته نو مقصود په دے سره نفی د قید وی.

مثل ما رأیت رجلا احسن فی عینه الکحل منه فی عین زید لکه دا ترکیب شو دلته په دے ترکیب کښې احسن صیغه د اسم تفضیل د ه. او دا په لفظ کښې صفة د رجل دے ځکه چه دا جاری دے په رجل باندې او معرب دے په اعتبار د رجل او په معنی کښې صفت

دکحل دے ځکه چه د دے اسناد کحل ته شوید ے او کحل مفضل دے په اعتبار دعین د رجل مفضل علیه دے په اعتبار دعین د زید او اسم تفضیل، منفی دے په حرف ما سره. دلته سوال چه دا خبره نه منم چه کحل مفضل دے په اعتبار دعین د رجل سره او مفضل علیه دے په اعتبار دعین د زید سره بلکه امر بالعکس دے. ځکه چه مقصود د مدح د کحل دعین د زید دے نه مدح د کحل دعین د رجل. جواب دا چه مفضل او مفضل علیه په دوه قسمه دی مفضل او مفضل علیه په اعتبار د لفظ سره او مفضل مفضل علیه په اعتبار دقصد سره کحل مفضل په اعتبار دعین د رجل سره او مفضل علیه په اعتبار د عین د زید سره دا په اعتبار د لفظ دی او په اعتبار دقصد او اراده سره امر بالعکس دے. **لانه بمعنی حسن** دلته کښ زیادة تفضیلیه دا زائله شوے دے په حرف نفی سره او دا په معنی د حسن په دے وجه باندِ دے ځکه چه د احسن معنی ده زیادة په حسن کښ چه کله په دے باندِ ما داخل شی نو دا متوجه شی قید ته ځکه چه نفی کله متوجه شی یو کلام ته او په هغے کښ قید وی نو نفی د هغه قید کوی نو نفی به د اسے شی چه لیس حسن کحل عین رجل زائد علی حسن کحل زید. اُس چه هر کله د احسن نه زیادة نفی شو نو باقی پاتے شو مساواة او د نوة نو بیا زائله شی مساواة په قرینه د عرف سره ځکه چه مساواة آئی د مقام د مدح نه نو د نوة پاتے شو نو په دے وجه باندِ احسن په معنی د حسن او ګرځیدو **سوال** دا دے چه یکار دا ده چه احسن دِ مرفوع او ګرځی په خبریة سره او کحل د مرفوع شی په ابتدائیت سره نو په دے صورت کښ لاِزِ مېږی نه عمل د اسم تفضیل د رفع په فاعلیة سره په اسم ظاهر کښ نو مع" **جواب** او ګرځو چه **مع انهم لو رفعوا لفصلو بینه وبین معموله باجنبی وهو الکحل** کچرته رفع ورکړے شی احسن له بناء په دے چه دے خبر شی او کحل مبتداء شی نو لازم به شی فصل په اجنبی سره چه هغه کحل دے په مابین د عامل او د معمول کښ چه هغه مابعد دکحل نه دے چونکه په احسن کښ معنی د فعلیة پرته ده په دے وجه به دے عامل شی او معمول ئے منه دے. **سوال** دا دے چه احسن دِ مرفوع شی بنا بر ابتدائیت او فصل په اجنبی سره نه راځی ځکه چه په نز د بعض نحاتو باندِ خبر عامل دے په مبتداء کښ. **جواب** دا دے چه مراد په معمول سره مطلق معمول نه دے بلکه معمول د اسم تفضیل دے د دے حیثیت نه چه دا معمول د اسم تفضیل دے چه په هغے کښ معنی د فعل ده. او خبر عامل په مبتداء کښ د دے

حیثیت نه نهٔ دے **سوال** دا دے چه احسن د مرفوع شی بنا بر خبریت اؤ کحل د مرفوع شی بنا برابتدائیت اؤ فصل دِ را نشی په اجنبی سره ځکه چه مبتدا اؤ خبر معمولین د عامل معنوی دی **جواب** دا دے که عامل په د واړو کښ معنوی هم شی نو دوئ دا جنبیت نه نهٔ اوځی . بیا **سوال** دا دے چه احسن د مرفوع شی بنا بر خبریت اؤ کحل د مرفوع شی بنا برابتدائیت اؤ منه فی عین زید دا دِ مقدم شی په کحل باندِ. نو فصل به را نرشی په اجنبی سره **جواب** دا دے چه په دے صورت کښ اګر چه فصل نه راځی په اجنبی سره ولے لازمیږی تعقید په کلام کښ من حیث اللفظ هم چه ضمیر اضمار قبل الذکر دے اؤ رکاکة لازمیږی من حیث المعنی چه ضمیر قصر د صفت دے قبل د تمام والی نه ځکه چه تمام والے د صفت خوراځی په مسند الیه سره اؤ ضمیر لا نه دے مذکور اؤ دغه معنی د دے له په مختصر و الفاظو سره هم ادا کیدے شی لکه مصنف فرمائی . **ولك ان تقول ما رایت رجلا احسن فی عینه الکحل من عین زید** دا عبارة قصیره دے د ماقبل عبارة نه ځکه په دے کښ ضمیر مجرور هم نشته دے اؤ فی یکښ هم نشته دے. اؤ که احسن حذف شی نو هم په کلام کښ خه نقص نه راځی ځکه چه معنی مقصود یکښ ظاهر دهٔ **سوال** دا دے چه مقصود حسن د کحل د عین د رجل دے په حسن د کحل د عین د زید باندِ نه تفضیل د حسن د عین د رجل دے په ذات د زید باندِ . **جواب** دا دے چه معنی مقصود دلته کښ ظاهره دهٔ ځکه چه مفضل اؤ مفضل علیه د جنس واحد نه دی . **فان قدمت ذکر العین** کچیرته ذکر د عین په اسم تفضیل باندِ مقدم کړے په طریقه د تشبیه سره چه په دے کښ کحل مفضل علیه وی **قلت ما رایت کعین زید احسن فیها الکحل** د دے ترکیب دا دے چه ما رایت عینا احسن فیها الکحل منه فی عین زید. بیا هر کله چه په اسم تفضیل باندِ ذکر د عین مقدم شو په سبیلِ د تشبیه سره ځکه چه کحل په دے کښ مفضل علیه دے حاجت نشته دوباره ذکر د عین ته نو تقدیر به دا سے شی چه ما رایت کعین زید احسن فیها الکحل . خو په دے صورت کښ سوال وارد یږی چه بنا په دے تقدیر باندِ لازمیږی مساواة د شی په شی پورے په وصف کښ اؤ تفضیل د شی په شی باندِ په دغه وصف کښ دا خو نه دے مګر منافاة. **جواب** دا دے چه مساواة په تکحل کښ دے اؤ زیادة په صفت د حسن کښ دے نو بیا به تقدیر دا سے شی چه ما رایت عینا مماثلة لعین زید فی اصل التکحل احسن فیها الکحل .

مثل ولادارىٔ فى قطعة | د نه تعبيرات ثلاثه چه څنګه جارى كيږى په ما رائيت كښ لودغه شان دا تعبيرات ثلاثه جارى كيږى په مثل د دے تركيب كښ چه په قطعه د شعر كښې دے. مررت على وادى السباع ولاارىٰ

كوادى السباع حين يظلم واديا

اقل به ركب اتوه تأيـة

واخوف الا ماوقى الله ساريا

يعنى لاارى كوادى السباع حين يظلم واديا اقل به ركب. داپو عبارة دے. عبارة طويله دا دے مررت على وادى السباع ولاارىٰ واديا اقل به ركب منهم فى وادى السباع اتوه تأية و اخوف الا ماوقى الله ساريا. او عبارة قصيره دا دے. مررت على وادى السباع ولاارى واديا اقل به ركبٌ من وادى السباع اتوه تأيةً اخوف الا ماوقى الله ساريا. او عبارة تامه دا دے ولاارىٰ كوادى السباع حين يظلم واديا اقل به ركب اتوه تأيةً واخوف الا ماوقى الله ساريا. **سوال** دا دے چه مصنفؒ ولے موصوف دا حسن په مثال مشهوره كښ پريښودو. او دې قول د شاعر كښې ئے ذكر كړو سره د دے نه چه كمال مماثلة په ذكر د موصوف كښې دے **جواب** دا دے چه مصنفؒ اول په مقام د بيان د اختصار كښې دے او ثانيا ذكر د تنبيه كړى

معنى د شعر دغه دا ده. چه تلل او مرور م اوكړو په يوه كنده با ندې چه په هغې كښې درنده حيوانان وو او حال دا دے چه ما اوليدل په شان د هغه كنده دے چه پكښې درندګان پاتے كيدل په هغه وخت كښې چه تيارے په هغې باندې احاطه كړے وى يوكنده هسے كنده چه لږ وى په دے سوارو اتوه چه راتلل مے كندے ته د پاره د توقف او د دے او ډيره خوفناكه مګر چه حفاظت اوكړى الله د يو تلونكى او د مسافر د شپے يعنى دے كندے ته څوك نه راځى او نه پكښې د مه كوى ډيرے نه مګر هغه څوك چه د هغه حفاظت الله اوكړى

الفعل

هر کله چه مصنف فارغ شو د تقسیم اول د کلمې نه چه هغه اسم دے او د هغه د متعلقاتو نه نو شروع ئے او کړه په قسم ثانی د کلمې کښې چه هغه فصل دے نو وے وئیل چه الفعل په الفعل کښې الف لام عهدی دی او معهود په دے سره هغه فعل دے چه کوم ئے په تقسیم کښې ذکر کړے دے.

مادل علی معنی فی نفسه | ماهغه کلمه ده چه دلالت کوی په معنی باندې هسې معنی چه حاصله او ثابته وی په ذات د دے کلمې کښې هغه معنی چه مقترن نه وی په یو د ازمنهٔ ثلثه خصوصه پورے. په اعتبار د اصل وضع سره

په کلمې د ما کښې هم هغه تحقیق دے چه کوم په تعریف د اسم کښې بیان کړے شوے او په دل کښې تذکیر د ضمیر په اعتبار د لفظ سره دے دلته کښې **سوال** وارد یږی چه مبتدا او خبر کله دواړه معرفه وی نو لابدی ده چه کښې د ضمیر فصل نه لیکار وړاندې چه مصنف وئیلی وو الفعل هو ما دل. **جواب** دا دے چه دا اعتراض به هله وارد یدو کله چه دلته کښې ما موصوله وے او دلته کښې ما موصوفه ده **سوال** دا دے چه ضمیر د فی نفسه به خالی نه وائی یا به راجع وی کلمې ته او یا معنی ته او دواړه صورتونه نه دی صحیح هر چه دے عدم صحة کلمې ته هغه په دے وجه چه دلته کښې فی داخل دے. او دا راځی دپاره د ظرفیة او کلمه خو نه ظرف زمان دے او نه ظرف مکان او د هغه شان مطابقة هم نه راځی په مابین د راجع او د مرجع کښې او کله چه ته معنی ته ئے راجع کوو. نو لازمیږی ظرف د شی دپاره د خپل نفس او د هغه شان لازمیږی مخالفة په مابین د اجمال او د تفصیل کښې. **جواب** دا دے چه دلته کښې ضمیر راجع دے کلمې ته او دلته کښې کلمه د فی دپاره د ظرفیة نه ده بلکه دپاره د اعتبار ده لکه والی الدار فی نفسها حکمها کذا او تذکیر د ضمیر په اعتبار د تعبیر سره دے او یا جواب دا دے چه دلته کښې ضمیر راجع دے معنی ته او ظرفیة د شی نه راځی د خپل نفس دپاره. ځکه چه فی دپاره د ظرفیة نه ده. او مخالفة نشته دے په مابین د اجمال او د تفصیل کښې ځکه چه کینونة د معنی په نفس کلمه کښې او یا کینونة د کلمې په نفس کلمه کښې دا امر واحد دے

چه هغه استقلال بالمفهومية دے **سوال** مادے چه د معنی نه به مراد یا معنی مطابقی اخلی یا تضمنی اخلی او یا التزامی او یا مطلق معنی او په هم نه صحیح کیږی معنی مطابقی خو ځکه نه صحیح کیږی ځکه چه په دے کښی نسبة دے او هغه غیر مستقل دے او مرکب د مستقل او غیر مستقل نه هغه غیر مستقل وی او که معنی تضمنی اخلے نو بیا به ترینه نسبة اخلے یا حدث او یا زمان که نسبة اخلے نو هغه غیر مستقل او که زمان اخلے نو بیا لازمیږی اقتران د زمانے په زمانے پورے او حدث اګر که مستقل دے او مقترن دے په یو دانړ منه پورے لیکن لازمیږی ترجیح بلا مرجح او اخذ د معنی التزامی مهجور دے په تعریفاتو کښی او د مطلق خو وجود بغیر د مقید نه نشته. هغه اعتراضات چه کوم په مقید وارد یږی هغه په مطلق هم واردیږی **جواب** مادے چه مراد په معنی سره مطلق معنی ده او فصل په اعتبار د معنی تضمنی سره چه هغه حدث دے مستقل بالمفهومية دے او دلته کښی خبر تضمون په اراده کښی ده نه په وجود کښی او د مطلق اراده کیدے شی بغیر د مقید نه او مراد په اقتران سره اقتران دے په اعتبار د اصل وضع سره نه په اعتبار د استعمال سره په دے سره تعریف د فعل جامع او مانع او ګرځیدو۔

په هر تعریف کښی لابدی ده د جنس او د فصل نه نو په تعریف د فعل کښی مادل په منزله د جنس دے د کلمے تولو اقسامو له شامل دے او فی نفسه دا یو فصل دے په دے سره ترینه حرف خارج شو او مقترن باحد الازمنة الثلثة دا بل فصل دے دے سره ترینه اسم خارج شو او چه مونږ ورسره قید د بحسب اصل الوضع او لګو نو هغه نور نقوض وارد نه شو

ومن خواصه او بعض د خواصو د فعل نه هغه د خول **قد** دا خلیدل د قد دی لکه قد خرج قد یخرج ځکه چه دا قد وضع دے د پاره د تحقیق د فعل یا د تقلیل یا د تقریب د ماضی حال ته او دا مختص دی په فعل پورے. نو هغه لفظ چه کوم دال دے په دے باندے هغه هم مختص دے په فعل پورے دلته کښی قد مؤول دے په تاویل د لفظ سره نو مضاف الیه واقع کیدلے صحیح دی

والسین وسوف او سین او سوف داخلیدل هم د خواصو د فعل نه دی ځکه چه سین دال دے په استقبال قریب باندے او سوف دال دے په استقبال بعید

بانډ او استقبال قريب يا بعيد خاص دي په فعل پورې نو هغه لفظ چه دال دې په دې بانډ هغه هم خاص دې په فعل پورې لكه سيخرج او سوف يخرج. دلته كښې استقبال نه مراد استقبال وضعي دې. سوال دا دې چه السين ئې معرف باللام راوړې او سوف ئې غير معرف راوړې د دې څه وجه ده جواب دا دې چه دا الف لام عهدي دى او معهود په دې سره سين دا ستقبال دې نه سين د استفعال دې او نه سين د تحقيق يا سين د كسكسه. لكه استغفر، يا ساطلب يا اكرمتكس، او سين د استقبال قريب دپاره راځي ځكه ئې دا مقدم كړو په سوف باندې. والجوازم او د دخول د جوازمو دا م د خاصود فعل نه دى لكه ــــــ

ان ولم لما و لام امر ولاء نهى نيز — پنج حرف جازم فعلند هر يك بے دغا

ځكه دې كښې بعض د نفي د فعل دپاره دى. لكه لم او لما. او بعض د پاره د طلب د فعل دى لكه لام د امر شو او يا د نهى د فعل دپاره دى لكه لا د نهى يا دپاره د تعليق د شى دى په فعل پورې او ما تول امور او معاني موجدېږى په فعل كښې لكه لم يضرب يا لا تضرب وغيره. ولحوق تاء التانيث او لحوق د تاء تانيث دلته دا عبارة عطف دې په دخول باندې نه په قد. ځكه چه اضافت د دخول لحوق ته نه صحيح كيږى او دا لحوق د تاء تانيث په فعل پورې خاص دې ځكه چه دا دلالت كوى په تانيث د فاعل باندې او فاعل وى دپاره د فعل او صفاتو سره د دغې تاء د لګولو ضرورت نشته. ساكنة. په حال د كون د دې تاء كښې چه دا به ساكنه وى په دې سره احتراز راغلو د تاء متحركه نه ځكه چه هغه خاص ده په اسم پورې ځكه چه اسم ضعيف دې او تاء متحركه ثقيله ده نو خفيف لره ثقيل ور كړې شو دپاره د تعادل. او فعل ثقيل دې نو هغه تاء ساكنه وركړې شوه او په ضربتا كښې چه تاء متحركه راغلې ده د احركت د دې عارضي ده. ونحو تاء فعلت مراد په دې سره هغه ضمائر متصله بارزه دى چه متحركه او مرفوعه دى. او دا خاص په فعل پورې په دې وجه ده. چه دا تاء ضمير د فاعل دې او فاعل نه وى مګر د فعل سوال دا دې چه فاعل څنګه دپاره د فعل وى نو د دغه نشان دپاره د فروعاتو د فعل هم وى نو پكار دا دې چه هغه پورې د هم ملحق شى دا ضمير جواب دا دې چه په دغه صورت كښې بيا د فرع او د اصل په مابين كښې تسا وى راشى سوال دا دې. چه تسا دى څو په دې سره هم د فعه كيږى چه ضمير مستتر به ئې پكښې نه و راوړې

ضمیر مستکن اخف اؤ اخصر دے نو هغه اولیٰ دے په تعمیم سره په دے وجه ئے ضمیر بارز خاص کړو په منع سره.

الماضي ما دلّ علیٰ زمان قبل زمانك هرکله چه مصنف فارغ شو د بیان د تعریف دفعل نه اؤ د هغې د خواصو نه. نو شروع ئے اوکړه په اقسامو کښې اؤ وې ویل چه الماضي اؤ ماضي ئے مقدم کړو په مضارع باندې ځکه چه په طبع کښې ماضي مقدم ده په مضارع باندې نو وضعًا ئے هم مقدم کړو د پاره د دے چه موافقت راشي په مابین د وضع اؤ د طبع کښې. ماضي دا هغه فعل دے چه دلالت کوي په هغه زمانه باندې چه هغه مخکښې ده ستا د تکلم یا قبل زمانٍ انت فیه اؤ مراد په دلالت سره په اعتبار د اصل وضع سره دے په دے قید سره دفع د سوال راغله سوآل دا دے چه ستا دا تعریف جامع اؤ مانع نه دے. جامع په دے وجه نه دے چه دے نه خارجه شوه هغه ماضي چه هغې باندې ادوات د شرط لکه ان ضربتَ ضربتُ. اؤ هرچه دے عدم د دے مانع د دخول د غیر نه هغه په دے طریقه چه په دے کښې فعل مضارع چه مجزوم ده په لم سره هغه پکښې داخله شوه ځکه چه هغه په معنیٰ د ماضي ده جوآب دا دے چه مراد په دلالت سره دلالت دے په اعتبار د اصل وضع سره نه په اعتبار د عارض سره. اؤ په مذکوره صورتونو دا دلالت عارضي ده والعوارض لاتعتبر. اعتراض دا وارد یږي چه تا او ویل مادل علیٰ زمان قبل زمانك اؤ متبادر د قبلیة نه قبلیة زماني دے نو په دغه صورت کښې لازم میږي د زمانے د پاره زمانه. جوآب دا دے چه دلته کښې د قبلیة سره مراد قبلیة ذاتي دے. چه هغه په مابین د اجزاء د زمانے کښې دے. ځکه چه تقدم د اجزاء د زمانے د بعضو په بعضو باندې هغه ذاتي دے. نه زماني د پاره د دے چه لازم نه شي د پاره د زمانے زمانه. اؤ مراد په لفظ د ما سره فعل دے. نه لفظ اؤ یا شے د پاره د دے چه اسم پکښې داخل نشي. **مبني علی الفتح** دا به مبني وي په فتح باندې لفظاً وي که تقدیرًا په وخت د عدم د مانع اؤ د عارض کښې. مبني یا خبر دے اؤ مبتداء ئے محذوفه ده چه هو دے یا دا خبر بعد خبر دے هرچه ده بنا د دے هغه په دے وجه چه دے کښې علة د اعراب هغه نشته چه هغه عروض د معاني معتوره دے اؤ یا مشابهة دے د اسم سره مشابهة تامه. اؤ هرچه ده بنا د دے په حرکت سره نه په سکون سره چه هغه اصل دے په بنا کښې هغه په دے وجه چه د دے مشابهة راغلے دے د فعل مضارع

سره اوبل ٿا واقع کیږی په موقع د ضم باندې او هرچه ده بنا د دے په فتح باندې ځکه چه فتح اخف الحرکات دے او فعل ثقیل دے نو د دے سره تخفیف مناسب دے. او فتحه عامه ده لفظا وی که تقدیرًا د پاره د دے چه اعتراض په دعا او په رمیٰ هم ده رانشی

مع غیر الضمیر المرفوع المتحرک مونږ ورسره دا قید اولګوو چه په وخت د عدم د مانع او د عارض کښی هغه مانع دا دے چه د دے سره به د ضمیر مرفوع متحرک لحوق نه وی کچرته وی نو بیا به آخر د دے ساکن وی د پاره د دے چه توالی د اربع حرکاتو متوالیه رانشی په هغه صیغه کښی چه هغه کالکلمة الواحدة ده. دا خبره مونږ په دے وجه اوکړه چه سوال واردیږی چه توالی د اربع حرکاتو په کلمه واحده کښی صحیح نه دے او هر چه په کلمتین کښی نو دا خو جائز دے او دلته کښی خو کلمتین دی. نو مونږه او وئیل فیما هو کالکلمة الواحدة ځکه چه ضمیر مرفوع متصل د وجے د شدة د اتصال د دے د فعل سره په منزله د کلمے واحدے اوګرځیدو.

والواو او دغه شان ماضی به مبنی نه وی په فتحه باندې په وخت د اتصال د واو سره ځکه چه واو دا تقاضا کوی چه ماقبل د ځکښی ضمه وی په دغه وخت کښی به ماضی مبنی وی په ضمه باندې لفظا وی او که تقدیرًا لفظا لکه ضربُوا او تقدیرًا لکه رموا. دلته کښی اګر که په ظاهر کښی فتحه ده لیکن حقیقة کښی ضمه ده ځکه چه دا په اصل کښی رمیوا وو. او په متحرک سره احتراز د ضربا ه نه راغلو.

المضارع مونږ قسم د فعل هغه مضارع ده **ما اشبه الاسم باحد حروف ثابت** دا هغه فعل دے چه مشابه وی د اسم سره په سبب د زیادت د یو د حروف اربعه نه چه مجموعه ئے نأیت ده چه دے ته حروف مضارعت وئیلے شی چه مجموعه ئے نأیت، اتین، نأتی راځی دلته کښی سوال واردیږی چه تا ولے عدول اوکړو د مشهور الطلاق نه چه په اطلاق مشهوره کښی د دے مجموعه اتین ده جواب دا دے چه په اتین کښی یو نقصان دا دے چه تفریق راځی په مابین د حرفینو د متکلم کښی. او تقدیم د حرف خطاب راغلے دے چه تا ده په یار باندې چه هغه د یاء د ه د غیبة راځی. او دا خلاف دے د ترتیب نه ځکه چه ترتیب کښی غائب متوسط دے په مابین د متکلم او د مخاطب کښی او منتهی د کلام په مخاطب باندې راځی لیکن ترکیب د اتین په دے مقام کښی مناسب دے لفظا او معنًا هر چه دے لفظا هغه په دے وجه دے متضمن دے حروف اربعه لره

او هر چه دے معنا نور دے ترکیب کښې ما صلاحیة شته دے چه دے صفة واقع شي دپاره د حروف مذکوره لانها آتیة فی اول المضارع. نو ما ترکیب او ترتیب په دے مقام کښې اجنبي نه دے او نا ٔیت اکرکه مشتمل دے په هغه فوائدو باندې چه مونږ ذکر کړے لیکن دے مقام سره په دے کښې بُعد دے ځکه داد تَأْنِیثٌ نه دے په معنی د بعد سره

لوقوعه مشترکا بین الحال والاستقبال و تخصیصه د وجې د واقع کیدو د دے مضارع نه مشترک که په مابین د حال او د استقبال د زمانے کښې. دلته کښې مصؒ وجه د مشابهة د فعل مضارع د اسم سره بیانوی لکه چه څنګه اسم مشترک واقع کیږی په متعدد و معانی باندې راځی. لکه عین شو د غه شان فعل مضارع هم مشترکه ده په مابین د زمانه حال او استقبال کښې. او چه څنګه تخصیص د اسم مشترک راځی په قرینے سره د پاره د یوے معنی نو د غه شان تخصیص د فعل مضارع راځی د پاره د یوے معنی په سین او په سوف سره. دلته کښې **سوال** واردیږی چه مصؒ ولے مخالفت اوکړو د تعریفا تو مشهوره نه چه د مضارع په تعریف کښې وئیلے شي ما فی اوله احد حروف الزوائد الاربعة یا مادل علی زمان یترقب **جواب** دادے چه مصؒ عدول اوکړو د مشهورو تعریفاتو نه د پاره د یوے فائدے هغه داده چه په دے تعریف سره وجه تسمیه د فعل مضارع ته اشاره اوشوه. مضارع مشتق دی د مضارعة نه او مضارعة په معنی د مشابهة سره راځی او په دے کښې شک نشته چه مضارع مشابه ده د اسم سره ځکه ئے په تعریف کښې اوفرمائیل ما اشبهه.

نکته مضارع مشتق ده د مضارعة نه او د مضارعة د پاره مبدء هغه ضرع ده او ضرع د غوا یا د میښے او د بزے کیے وغیره تو ته و ئیلے شي ګویا دوئ د یو تونه پئ رودلی دی. دا په منزله د رونړو خویندو او ګرځیدل. او په هغوئ کښې مشابهة موجود دے.

فالهمزة للمتکلم په دے عبارة سره مصؒ تفصیل د دے حروفو بیانوی نو وئیل چه فالهمزة للمتکلم مفردا همزه راځی د پاره د واحد متکلم برابره خبره ده چه مذکر وی او که مؤنث وی دا مفردا حال واقع شوید ے همزه د مبدء د مخارجو نه ده او متکلم مبدء د کلام دے. **والنون له** او نون د پاره د د متکلم دے. **مع غیره** سره د غیر نه دا مع غیره حال دے او تقدیر د عبارة به

ما سے شي حال کونه مقروناً مع غیره چه صفه واحد وي که تثنیه وي که جمع وي مذکر وي که مؤنث ځکه دا ماخوذ دی دانا او نحن نه

والتاء للمخاطب مطلقا اؤ تاء راځي دپاره د مطلق مخاطب یعني د جنس مخاطب دپاره برابره خبره ده چه مفرد وي که تثنیه وي که جمع وي که مذکر وي که مؤنث دا تآء په اصل کښې واو وه بیا بدله شوه په تاء باندې دپاره د دے چه اجتماع د واواتو رانشي په هُوَ وُجل کښې په صورت د عطف کښې او بله وجه دا ده چه په ضمائرو د مخاطب کښې تاء راغلے ده.

وللمؤنث والمؤنثین غیبة اؤ د غه شان تا راځي دپاره د واحدے تثنیے مؤنثے په حال دکون د دے کښې چه غائبے وي. سوال دادے چه د مذکر غائب صیغو دپاره ئے یآ ورکړیده نو د مؤنث دے صیغو لره ئے ولے یآ و نکړه جوآب دادے چه بیا التباس راتلو په مابین د مذکر او د مؤنث د غائبو په صیغو کښې په دے صورت کښې خو هم التباس راځي په مابین د غائب مؤنث او د مذکر مخاطب کښې جواب دادے چه دلته چونکه مخاطب محسوس دے په دے وجه التباس مدفوع دے.

سوآل دادے چه غیبةً حال دے د للمؤنث والمؤنثین نه او مابین د حال او د ذوالحال کښې مطابقة پکار دے په افراد تثنیه جمع په تذکیر او په تانیث کښې او دلته کښې مطابقة نشته جوآب دادے چه غیبة مؤول دے په تاویل د غائبات سره په نظر سره معنی د مؤنث او مؤنثین وته یا دلته په عبارة کښې تقدیر دے او دا محمول دے په حذف د مضاف سره چه ذا غیبة.

والیاء للغائب غیرهما او یا راځي د دے دپاره نه (مؤنث او مؤنثین نه) علاوه دپاره. ځکه یا د وسط د مخارجو نه ده او غائب متوسطه دے بین المتکلم والمخاطب غیرهما یا صفة دے دپاره د غائب او یا بدل دے د غائب نه. او د واړه صورتونه نه صحیح کیږي. ځکه چه صفت شي نو الغائب معرفه ده او غیرهما نکره ده. ځکه چه غیر د وجې د توغل نه په ابهام کښې په اضافت سره هم په ده کښې تعریف نه راځي او په مابین د موصوف او د صفت کښې مطابقت پکار دے. او بدل به دے وجه صحیح نه کیږي چه نکره کله بدل د معرفے نه راشي نو د هغے توصیف واجب دے او دلته توصیف ئے نه دے شوے لکه بالناصیة ناصیة کاذبة جوآب دادے چه دا بدل دے

په سبیلے د تسامح سره او په حقیقة کښې دا صفة د پاره د بدل دے او تقدیر د عبارت دا دے چه غائب غیر ها او یا دا چه غیرها اګرچه په اضافت سره معرفه نه ده لیکن اُس د ا محض نکره هم نه ده پاتې. نو دا په توګه د نکرے موصوفے کښې اوګرځیدو. او دا غیرها حال دے او حالیة دا صورت ئے اولی دے چه موافقة راشي د سابق سره لکه مځکښې ئے اوفرمائیل للمتکلم مفرداً. او دا سے ئے اونه وئیل چه للمفرد المتکلم.

وحروف المضارعة مضمومة فی الرباعی او حروف د مضارعة دا به مضموم وی په هغه صیغو کښې چه ماضی یکښې څلور و حرفونو والا وی په دے عبارت سره مع حرکات د دے حروفو ذکر کوی. اصل خو په دے کښې فتحه ده ولے دلته کښې عدول اوکړے شو د فتح نه ضمے ته د پاره د دے چه فرق راشي په ثلاثي او په رباعي کښې. او عکس ئے اونکړو ځکه چه رباعي اقل دی. او چه ماضی څلور حرفونو والا وی عام دے خبرے نه چه اصلی وی لکه دحرج او یا نه وی لکه افعل فعّل او فاعل. هرچه ده ضمه په باب افعال کښې د پاره د دے چه لازم نه شي التباس د مضارع د ثلاثي مجرد سره او نور بابونه په دے باندے حمل کړے شو طرداً للباب. **ومفتوحة فیما سواه** او د دے علاوه به مفتوح وی ځکه چه ماسوا د دے نه کثیر وی من حیث الاستعمال او من حیث الحروف او کثرة تقاضا د تخفیف کوی. دلته کښې سوال وارد یږی چه بیان د مضمومیة د حروف مضارعة یا مفتوحیة دا خو وظیفه د علم صرف ده نه د نحو. نو په نحو کښې ولے تا دا بحث راوړو. جواب دا دے چه دلته کښې دا بحث تبعاً او استطراداً دے.

ولا یعرب من الفعل غیره په افعالو کښې سوا د فعل مضارع نه بل فعل معرب نه دے ځکه چه په نورو کښې علت د اعراب نشته دے. او د فعل مضارع مشابهت راغلے دے د اسم سره نو په دے وجه باندے دا معرب اوګرځیده. **اذا لم یتصل به نون التاکید او نون جمع المؤنث** الخ په هغه وخت کښې چه نون د تاکید خفیفه وی که ثقیله وی نه وی متصل شوے یا نون د جمع مؤنث. ځکه چه کله ورسره نون د تاکید متصل شي. نو دا به مبنی اوګرځي. چرنګه نون تاکید د وجے د شدة اتصال نه په منزله د جز د کلمے اوګرځید د نو ګویا که اعراب د دے مځکښې راشي نو لازمیږی دخول د اعراب په وسط کښې. او که اعراب په دے باندے داخل شي نو لازمیږی اجراء د اعراب په کلمے اجنبي باندے حقیقة. او هرچه دے نون د جمع مؤنث نو هغه په دے وجه چه نون د

جمع مؤنث ماشابهه دے د هغه نون سره چه کوم په جمع مؤنث ماضی کښې دے. نو دا تقاضا کوی چه ماقبل د دے نه ساکن وی لکه چه څنګه په ماضی کښې دے.

دلته په عبارة د مصنف کښې اشکال دے هغه دا چه د دے عبارة نه داخبره معلومیږی چه غیرالمضارع من الفعل لا یعرب اذالم یتصل به النون المذکورة ویعرب اذااتصلت به حالانکه مراد خو دا نه دے. ځکه چه سوا د مضارع نه خود سره فعل معرب نشته جواب دا دے چه دلته کښې اذالم یتصل الخ دا قید د پاره د مذکور نه دے بلکه قید د پاره د مقدر دے. او تقدیر د عبارة به دا سے شی چه ولا یعرب من الفعل غیره بل یعرب المضارع اذالم یتصل نو دا عبارة په قوت د دے کښې شو چه انما یعرب المضارع اذالم یتصل الخ

واعرابه رفع ونصب وجزم | او اعراب د فعل مضارع رفع نصب او جزم دی. دا سم اعراب هم په درے قسمه دے او د فعل هم. جزم

خاص دے په فعل پورے لکه چه جر خاص دے په اسم پورے **فالصحيح المجرد عن ضمير بارز مرفوع** پس صحیح چه په اصطلاح د نحا تو دے ما لایکون فی آخره حرف علة. صحیح چه خالی وی د ضمیر بارزه نه هغه ضمیر بارز چه مرفوع وی. په دے عبارة سره بیان د تفصیل دا صنافو د فعل مضارع دا عراب کوی د پاره د دے چه هر یو قسم ته مستقل اعراب اوړسی. **للتثنية والجمع والمخاطب المؤنث بالضمة والفتحة والسكون** حالت رفعی به ئے په ضمے سره وی. حالت نصبی به ئے په فتحے سره وی او حالت جزمی به ئے په سکون سره وی. **مثل يضرب ولن يضرب ولم يضرب** یضرب حالة رفعی دے. لن یضرب حالت نصبی او لم یضربْ حالة جزمی دے. **والمتصل به ذلك بالنون وحذفها** او اعراب د مضارع چه هغے پورے ضمیر بارز مرفوع متصل وی په حالت رفعی کښې به په ثبوت د نون سره وی او په حالت نصبی او جزمی کښې به په حذف د نون سره وی په دے کښې نصب تابع د جزم دے. لکه چه څنګه نصب تابع د جر دے په اسماء کښې **مثل يضربان و يضربون وتضربين** په حالت رفعی کښې په دے کښې ثبوت د نون دے او په حالت نصبی او جزمی کښې سقوط د نون دے.

والمعتل بالواو والياء بالضمة تقديرًا والفتحة لفظا والحذف. او که چرته دا فعل مضارع معتل واوی یا معتل یائی وی نو هغه په حالت رفعی کښې به په ضمے سره وی تقدیرًا ځکه چه ضمه ثقیله ده په واو او په یاء باندې لکه یدعو او یرمی. او په حالت

نصبي کښې به یکښې لفظاً فتحه وي ځکه چه دا اخف الحرکات ده. لکه لن یدعوَ لن یرمیَ. اُو په حالة جزمي کښې به په حذف دد غه واؤ او یا سره وي. ځکه چه هر کله حرف جازم (عامل جازم) اونه مونده لو حرکت نو ساقط ئې کړو هغه حرف چه کوم مناسب وو د حرکت سره لکه لم یرم اؤ لم یدعُ **والمعتل بالالف بالضمة والفتحة تقدیرا والحذف** اؤ کوم چه دا فعل مضارع معتل وي په الف سره یعنی په آخر کښې ئې الف وي نو په حالة رفعي اؤ نصبي کښې به یکښې ضمه اؤ فتحه تقدیري وي ځکه چه الف ساکن وضعي دے حرکة نه قبلوي اؤ په حالة جزمي کښې به الف ساقطیږي. **و یرتفع اذا تجرد عن الناصب والجازم نحو یقوم زید.** اؤ کله چه عامل ناصبه یا عامل جازمه یکښې نه وي نو بیا به فعل مضارع مرفوعه وي. زده کړه دا خبره چه په عامل د فعل مضارع کښې دوه مذهبه دي یو مذهب د کوفیانو دے اؤ بل مذهب د بصریانو دے. مذهب د کوفیانو دا دے چه هوا التجرد عن الناصب والجازم اؤ مذهب د بصریانو دا دے چه هو وقوعه موقع الاسم یعنی واقع کیدل دي په موقع داسم باندې. ځکه چه دا هر کله واقع شو په موقع داسم باندې نو دا پشان داسم شو نو دے له قوي اعراب داسم ورکړے شو. سوال دا دے چه مضارع ډیر ځله اؤ ډیر کرته واقع کیږي مرفوعه اؤ واقع نه وي په موقع داسم باندې لکه الذي یضرب یا یقوم الزیدان. جواب دا دے چه مضارع دلته کښې واقع ده په موقع داسم باندې ځکه چه الذي یضرب په اصل کښې دے الذي ضارب هو اؤ یقوم الزیدان په اصل کښې قائمان الزیدان. اؤ دغه شان کښې سین په مضارع داخل شي یا سوف نو هم به مضارع واقع وي په مقام داسم باندې

وینصب بان ولن واذن وکے وبان مقدرة بعد حتی ولام کے ولام الجحود	اوس مصنف په دے عبارت سره مواضع د نصب د فعل مضارع ذکر کوي نو وائي ومیل چه وینصب

چه دا فعل مضارع به منصوبه کرځي په سبب د دخول دان الخ سره لکه شاعر وائي.

ے ان و لن پس کے اذن این چار حرف معتبر

نصب مستقبل کند این جمله دائم اقتضاء

اؤ دغه شان فعل مضارع به منصوبه وي په هغه ان سره چه هغه مقدر وي پس د حتی لام کے اؤ د لام جحد نه. دا په دے وجه چه حتی یا لام جحد یا لام کے دا حروف جاره دي اؤ حروف جاره داخلیږي په اسم باندې نو ځکه تو په فعل مضارع باندې ان مقدر کړو د پاره

ددے چه دا په تاویل د مصدر سره اسم اوګرځېږی نو دخول د حروفِ جاره به ورباندِ صحیح شی. والفاء او پس دفاء نه لکه زرنی فاکرمك و الواو لکه لاتاکل السمك وتشرب اللبن حُکه چه دادواړه حروفِ عاطفه دی چه واقع شویدی پس دانشاء نه او عطف د خبر په انشاء بانذ ممتنع دے په دے وجه ان ئے پکښې مقدر کړو چه په تاویل د مفرد سره اوګرځی. واَو او دغه شان پس داؤ هم ان مقدر دے لکه اووائے چه لالزمنك اوتعطینی حقی. یعنی الی ان تعطینی حقی یا الا ان تعطینی. دلته کښې إلّا د ادواتو د استثناء نه دے اوالی د حروفِ جاره نه دے. او د ادواړه خاص دی په اسم پورے

فان مثل ارید ان تحسن الیّ | مصنف شروع اوکړه په تفصیل د دے عواملو کښې نو مے فرمائیل چه ان چه په دے سره فعل مضارع منصوب کړی لکه اووائے ارید ان تحسن الیّ تحسن فعل مضارع دے لره ئے نصب ورکړو ماشال د نصب دے بالفتحه یا ان تصوموا خیر لکم ماشال د نصب دے په حذف د نون سره ملته کښې سوال واردیږی چه ان ناصب دے فعل مضارع لره نو په دے ته اوښایئ چه فعل مضارع به وی سره د دخول د ان نه به مرفوعه وی لکه علم ان سیکون منکم نو جواب اوکړو مصنف والتی تقع بعد العلم یعنی ان چه کله واقع شی پس د باب د علم نه یا هغه چه په معنی د یقین سره وی. هی المخففة من المثقلة ما مخفف دے د مثقل نه. ولیست هذه او هغه دا ان نه دے چه کوم ناصب د فعل مضارع دے. ان مثقله دال دے په تحقیق باندِ نو دے سره علم او یقین مناسب دے او ان ناصبه مصدریه دا دال دے په رجاء او په امید باندِ نو دے سره علم مناسب نه دے. نحو علمت ان سیقوم وان لایقوم دا به مرفوع و تُلے شی.

نده کړه داخبره چه دلته کښې مصنف دوه مثالونه ذکر کړل او په دے کښې ئے لوئے قاعدے ته اشاره کړیده هغه داچه په ما بین د دغه ان مخففه عن المثقلة کښې یا سین راغلے وی لکه په دے پورته مثال کښې یا به سوف وی لکه په دے قول د شاعر کښې ع اعلم فعلم المرء ینفعه ان سوف یأتی کل ما قدر. یا به قد واقع وی. لکه لیعلموا ان قدابلغوا رسالات ربهم. یا به حرفِ نفی وی لکه افلا یرون ان لا یرجع الیهم قولا یا لکه علمت ان لم یقم او دلته کښې د افعل لازم اوګرځیدو. چه دا د محذوف

نه عوض اوګرځي ځکه چه دلته کښې یو لږ حذف شوی دے او بل اسم چه هغه ضمیر شان دے او بله وجه دا ده چه فرق راشي په مابین د دے ان کښې چه مخفف عن المثقل دے. او په مابین دان مصدریه او د فعل په مابین کښې فصل نه راځي په دې وجه ځکه چه دان مصدریه کښې په مابین کښې فصل نه راځي په یو د دے حروفو سره ځکه چه ان مصدریه سره دخیل مدخول نه په تاویل د مصدر دے.

والتی تقع بعد الظن ففیها الوجهان او هغه ان چه واقع شي پس د باب د ظن نه نو په هغې کښې دواړه وجې جائز دي

چه ان مخفف عن المثقل شي په دے اعتبار سره چه په دې کښې دلالت دے په غلبه باندې نو دا مناسب شو دان مخففه عن المثقله سره او چه د دے جهت ته او کورے چه عدم تیقن دے پکښې نو پکار ده چه دا د ان مصدریه او ګرځي **ولن** او د حروف ناصبه نه چه فعل مضارع له نصب ورکوي لن دے.

فائده لن په نزد سیبویه باندې حرف مستقل دے د ده دپاره څه اصل نشته چه د هغې نه ماخوذ شي. د فراء په نزد باندې په اصل کښې لا دے بیا الف په نون باندې بدل شو او د خلیل په نزد باندې د دے اصل لا ان وو بیا الف ترې هم لرے کړے شو او همزه هم د وجې د کثرة استعمال نه لکه ایش شو په ای شئ کښې.

مثل لن ابرح ومعناها نفی المستقبل الخ او معنی د دے دپاره د نفي د مستقبل ده. او دلته کښې د نفي نه مراد نفي مؤکده

ده نه مؤبده. کچرته دا نه شي نو تناقض به لازم شي. په دے قول د باری تعالیٰ کښې لن ابرح الارض حتی یاذن لی ابی ځکه چه لن دپاره د تابید شي او حتی دپاره د انتهاء شي نو بیا خو به په دواړو کښې تناقض راشي. و اذن بل د عوامل ناصبه د فعل مضارع نه اذن دے د سیبویه په نزد باندې دا حرف دے مستقل او بعض نحاة وائي چه اصل د دې اذان دے بیا پکښې تخفیف او شو.

اذا لم یعتمد مابعدها علی ماقبلها هغه وخت کښې چه اعتماد نه وي کړے مابعد د دې په ما قبل باندې نو دلته کښې د عمل دپاره د نصب

داذن دوه شرطونه دي اول دا چه مابعد د دے بر اعتماد وي په ما قبل باندې ځکه چه په دغه وخت کښې لازم مینځ ته راځي د د عاملینو مختلفینو په معمول واحد باندې. چه هغه

يا اذن دے او بل ماقبل د دے **وكان الفعل مستقبلا** او دوئم شرط دا دے چه فعل به مستقبل وی ځکه چه دا جزاء هم ده او جواب هم دے . او دا دواړه په استقبال کښ راځی او دغه شان چه کله مابعد د دے اعتماد په ماقبل کړے وی نو هغه به په حکم د متقدم کښ شی او اذن ضعيف العمل دے په ما بعد کښ عمل کولے شی او په مقدم کښ نه شی کولے مثل اذن تدخل **الجنة** لکه اسلم اذن تدخل الجنة . ځکه چه د دخول د جنت په آخرت کښ دے . او هغه مستقبل کښ دے . اس کښ چه په دے دواړو شرطونو کښ يو هم فوت شو او يا دواړه فوت شول نو بيا به عمل نه شی کولے کقولك لمن يحدثك بشئ اذن اظنك كاذبا . يا انا اذن احسن اليك . يا لکه انا اذن اظنك كاذبا.

واذا وقعت بعد الواو والفاء ففيها الوجهان او په هغه وخت کښ چه واقع شی اذن پس د واو يا د فاء نو په دے کښ دوه وجې جائز دی نصب هم او رفع هم . لکه انا آتيك فاذن اكرمك . يا واذن لا يلبثون خلافك الا قليلا . په دے کښ رفع هم جائز دی ځکه چه اعتماد مابعد په ماقبل باندے کړی دے . او نصب هم جائز دے ځکه چه فعل سره د فاعل نه چه کله مفيد دپاره د مستقبل وی و قطع نظر د حرف عاطف نه نو گويا دے غير معتمد دے په ماقبل باندے.

وكے مثل اسلمت كے ادخل الجنة او بل عامل ناصبه دپاره د فعل مضارع هغه كے دے او ما قبل به سبب دپاره د مابعد وی او د دے نه بعد به منصوب وی په اضمار د ان سره د وجې د داخليدو د لام جاره نه په دے باندے لکه لكيلا يكون على المؤمنين حرج . **و معناها السببية** او معنی د دے سببيت دے لکه سببيت د اسلام دپاره د دخول د جنت **وحتى اذا كان مستقبلا بالنظر الى ماقبلها** د حتى نه وروستو فعل مضارع به منصوب وی . او دلته کښ به ان مقدر وی او دا به مستقبل وی په نظر سره ماقبل ته ځکه چه ان ناصبه دپاره د طمع او د رجاء راځی او دا نه متصوره کيږی مگر په استقبال کښ . يعنی مدخول د حتى به په وخت د تکلم کښ مستقبل وی . برابره خبره ده چه مستقبل په نظر سره زمانے د تکلم ته وی او که نه وی هو برابره خبره ده چه مستقبل عند الاخبار وی او که نه وی او په دے تعميم سره احتراز راغے د هغه نه چه فعل بعد د دے نه حال وی په نظر سره ماقبل ته بيا په دغه صورت کښ مرفوع في ابتداء وی.

بمعنیٰ کے او الی یعنی په معنیٰ د کے یا د الی سره دیاره ددے چه دا نص او گرځی په معنیٰ حتی جاره کېښی او دا باعث او گرځی په تقدیر دان ناصبه معمدّیه

مثل اسلمت حتی ادخل الجنة دا مثال د حتی دے چه په معنیٰ د کے دے او استقبال د مضارع په نظر سره ما قبل ته دے. او په نظر سره زمانے د متکلم ته هم دے. ځکه چه دخول د جنت به په زمانه مستقبل کېږی وی. یعنی دلته مستقبل تحقیقا دے **وکنت سرت حتی ادخل البلد** مثال د حتی دے چه په معنیٰ د کے دے یا په معنیٰ د الی دے او استقبال د مضارع په نظر سره ما قبل ته دے. او چه دے په نظر سره زمانے د تکلم ته، نو په دے کښی احتمال د ماضی هم شته دے د حال هم شته دے او د استقبال هم شته دے. **واسیر حتی تغیب الشمس** دا مثال د حتی دے چه په معنیٰ د کے او یا د اِلیٰ سره دے په معنیٰ د انتهاء د غایئے دے ځکه چه سفر سبب د یاره د غیبوبة د شمس نه دے. او استقبال د مضارع په نظر سره ما قبل ته دے او په نظر سره زمانے د تکلم ته هم دے یعنی ما بعد د دے نه مستقبل تحقیقا دے. **فان اردت الحال تحقیقا او حکایة کانت حرف ابتداء.** که چرته ته اراده د حال لرے، تحقیقًا یا حکایة نو دا حرف ابتداء دے یعنی د دے به د ما قبل سره ارتباط لفظی نه وی من حیث الاعراب او نه به ئے مشارکت راغلے وی په عامل کښی د حیثیة د تعلیق د جار او د مجرور نه په فعل پورے. بلکه دا به پو جمله جدیدہ وی

دلته کښی تحقیقا او حکایة په نزد د شارح جامی باندے تمیز واقع دی د حال نه او په نزد د نورو بعض شارحینو باندے دا حال واقع دی، د حال نه. تقدیر د عبارت به دا سے شی چه ای حال کون الحال محققة او محکیة. حال تحقیقی خو ظاهر دے. او هر چه دے حال حکائی نو هغه دا چه متکلم خپل ځان نداسے فرض کړی چه دے تکلم کوی په دغه حال کښی. یا هغه حال د متکلم د تکلم په وخت کښی وی. **فترفع** نو ما بعد د دے نه به مرفوع وی ځکه چه په دغه وخت کښی به دا حرف جر نه وی. ځکه چه په دغه صورت کښی د دے نه رو ستو ان مقدر کېدے شی نو ان داخلیږی په مستقبل باندے دیاره د طمع او د رجاء او دلته منافاة دے په ما بین د حال او د استقبال کښی. **و تجب السببية** او هر کله چه دا حرف ابتداء شو نو واجب شو سببیة د ما قبل دیاره د ما بعد. دیاره ددے چه اتصال معنوی حاصل شی اگر چه اتصال لفظی نشته دے. **مثل مرض حتی لا یرجونه** مرض دا سبب او گرځېدو دیاره د عدم رجاء د حیاة دا حبابو او د اقاربو۔

ومن ثم امتنع الرفع اؤ دوجے د دے خبرے نه چه حتی په وخت دارادے د حال کښی حرفِ ابتداء دے اؤ جاره نه دے. اؤ چه حتی کله حرفِ ابتداء شی نو ممتنع ده رفع په دے ترکیب کښی چه **كان سيرى حتى ادخلها في الناقصة** په دے ترکیب کښی چه کله کان ناقصه شی نو د حتی نه وروستو رفع ممتنع ده. ځکه چه په دغه صورت کښی به حتی حرفِ ابتداء شی. اؤ په دغه کښی د ما بعد تعلق د ما قبل سره نه وی لنو کان ناقصه به بلاخبره پاتے شی. چه دا موجب دپاره د فساد د معنی دے په في الناقصة کښی حذف د مضافین راغلے دے یعنی وقت تحقق الناقصة. **و اسرت حتى تدخلها** په دے ترکیب کښی به هم حتی نه روستو مرفوع نه شی ویلے کیدے ځکه چه دلته کښی ممکن نه دے سببیة د ما قبل دپاره د ما بعد ځکه چه ما قبل د حتی نه مشکوك الوجود دے. ځکه چه په دغه کښی حرفِ استفهام دے اؤ ما بعد د حتی نه مقطوع الوجود دے بیا په دغه صورت کښی لازمیږی حکم په وقوع د مسبب باندِ سره د شک نه په سبب کښی او دا صورت محال دے.

وجاز في التامة چه کله کان تامه وی نو جائز ده رفع پس د حتی نه لکه كان سيرى حتى ادخلها. ځکه چه کان تامه تقاضا د خبر نه کوی کچرته ما بعد د حتی نه منقطع اوګرځی د ما قبل نه نو څه نقصان په معنی کښی نه راځی. **وايهم سار حتى يدخلها** دلته کښی هم د يدخلها رفع صحیح ده. ځکه چه دلته کښی سیر متحقق دے لیکن شک په تعین د فاعل کښی دے. نو دا پوښتنې استحاله نه لازمیږی.

ولام كي مثل اسلمت لادخل الجنة دلته کښی په فعل مضارع منصوبه وی ځکه چه د لام نه پس ان مقدر دے اؤ دے لام ته لام کے ځکه وائی چه دے په معنی د کے دے. اؤ دے نه روستو فعل به مؤول وی په تاویل د اسم سره

ولام الجحود لام تاكيد بعد النفي لكان او لام جحود دا لام دپاره د تاکید د نفی راځی چه مخه نفی په کان داخله وی اؤ جحد په معنی د انکار راځی دے لام ته لام جحود ځکه وائی چه دا راځی په مقام د انکار کښی. **مثل وما كان الله ليعذبهم** دلته کښی سوال واردیږی چه دلته کښی لازمیږی حمل د مصدر وصف په ذات باندِ ځکه چه دا فعل به په تاویل د مصدر شی. **جواب** دا دے چه دلته کښی حذف د مضاف دے په جانب د اسم کښی ای ما كان صفة الله تعذيبهم. یا مضاف حذف دے په جانب د خبر کښی ای ما كان الله ذا

تعذیبهم . یا مصدر مؤول دے په تاویل د فاعل سره یعنی ماکان الله معذبهم.

والفاء بشرطین احدهما السببیة یعنی د فاء نه روستو چه ان مقدر وی په دوه شرطونو سره وی یو په دے دواړو شرطونو کښ دا دے چه ماقبل به د مابعد د پاره سبب وی ځکه چه عدل د رفع نه نصب ته د پاره د تنصیص دے په سببیة باندې د دے حیثیت نه چه تغیر د لفظ دلالت کوی په تغیر د معنی باندې.

والثانی یکون قبلها امر او نهی او استفهام او نفی او تمنی او عرض او دویم شرط دا دے چه ماقبل د فاء نه یو د دے امور سته نه موجود وی د پاره د دے چه ظاهر او نه شی چه مابعد دا عطف دے په ما قبل باندې لکه زرنی فاکرمك، لا تشتمنی فاضربك، هل عندکم ماء فاشربه، ماتأتینا فتحدثنا لیت لی مالاً فانفقه، الا تنزل بنا فتصیب خیراً.

دلته کښ سوال راځی چه څنګه مضارع منصوب وی پس دا امر او نهی نه پهان مقدر سره نو دغه رنګ پس د دعاهم منصوبه وی لکه اللهم اغفرلی فافوز، لا تؤاخذنی فاهلك جواب دا دے چه دعا مندرج ده په امر او یا په نهی کښ سوال دا دے چه مضارع څنګه منصوبه ده پهان مقدر سره پس د نفی نه نو دغه شان پس د تحضیض نه خو هم منصوبه ده.

لکه لولا انزل علیه ملك فیکون معه نذیراً. جواب دا دے چه تحضیض مندرج دے په نفی کښ ځکه چه دا مستلزم دے نفی د فعل لره. سوال دا دے چه نصب د مضارع خو په ترجی سره هم راځی لکه چه څنګه په تمنی سره راځی . لکه لعلی ابلغ الاسباب . اسباب السموات فاطلع الی اله موسیٰ جواب دا دے چه ترجی په تمنی کښ داخله ده سوال دا دے چه د دے نه علاوه خو هم فصل مضارع منصوبه کرځی لکه په دے شعر کښ. سا ترك منزلی لبنی تمیم والحجاز فاستریحا. جواب دا دے چه دا محمول دے په ضرورة شعری باندې. خلاصه دا شوه چه په امر او په نهی کښ دعا داخله ده تحضیض په نفی کښ او ترجی په تمنی کښ داخله ده۔

والواو بشرطین احدهما الجمعیة او پس د واؤ نه بهان مقدر وی په دوه شرطونو سره الجمعیة یعنی د پاره د مصاحبة د ماقبل د مابعد سره ځکه چه عدول د رفع نه نصب ته د پاره د تنصیص په مصاحبة چه تغیر د لفظ د لالة او کړی په تغیر د معنی باندې. **وان یکون قبلها مثل ذالك** او بل شرط دا دے چه ماقبل د دے نه هم هغه اشیاء سته وی چه کوم په فاء کښ ذکر شو۔

واو بشرط الی ان والاٰن یعنی واؤ نه بعد به ان مقدر وی چه دا په معنی د الی ان وی یا إلا ان وی **سوال** دا دے چه دلته کښې خو تکرار د ان لازمیږی. **جواب** دا دے چه ان د مفهوم د الیٰ ان یا الا ان نه نه دے بلکه مفهوم د الیٰ یا د الا سره هغه ان دے چه مقدر دے پس د دوئ نه لکه لالزمنك او تعطینی حقی. یعنی الی ان تعطینی حقی یا الا ان تعطینی حقی. **والعاطفة** اؤ ان به مقدر وی پس د حروف عاطفه نه اؤ د دے نه روستو چه مضارع راځی هغه به منصوب به وی.

اذا کان المعطوف علیه اسما صریحا په هغه وخت کښې چه معطوف علیه اسم صریح وی دلته کښې **سوال** واردیږی چه د دے عبارت نه ظاهر دا معلومیږی چه مراد په حرف عاطفه سره هغه حروف عاطفه دی چه کوم مخکښې ذکر شویدی حالانکه دا حکم چه څنګه په دے مذکوره حروف عاطفه کښې جاری کیږی د غه شان به نورو حروف عاطفه کښې هم دے. **جواب** دا دے چه دلته مراد تر نه مطلق حروف عاطفه دی برابره خبره ده چه مذکور وی که غیر مذکور وی اؤ چه کله معطوف علیه اسم صریح وی نو ان به ځکه مقدر کوی چه دا په تاویل د مصدر سره اوګرځی ځکه چه عطف د جملے په مفرد باندے جائز نه دے. لکه اعجبنی ضربك زیدًا او تشتم یا فتشتم یا ثم تشتم **سوال** دا دے چه والعاطفة یا به مرفوع وائے په دغه صورت کښې به دے معطوف اوګرځی وحتی اذا کان لازما باندے اؤ یا به مجرور وائے اؤ دے به معطوف شی په ان المقدرة باندے. که اول وی نو بیا مراد په حروف عاطفه سره یا مطلق حروف عاطفه وائے یا مذکوره سابقه. بنابر اول باندے لازمیږی په تفصیل کښې ذکر د هغه شی چه په اجمال کښې نشته دے اؤ بنا په ثانی باندے لازمیږی تخصیص د حکم په بعض باندے اؤ که چرته دا معطوف وی په ان المقدرة باندے نو تکرار دا وه چه دائے دوه ځله ذکر کړے وو مرة فی الاجمال اؤ مرة فی التفصیل لکه د نورو حروف عاطفه. **جواب** دا دے چه دا مرفوع دے اؤ معطوف دے په حتی باندے لکه معهٌ وئیلی دی وحتی اذا کان مستقبلاً. لیکن دا حروف عاطفه به دوه قسمه دی یو هغه دی چه د هغے نه روستو ان مقدر وی خو مشروط دی په شرطین یو شرط مخصوص اؤ بل شرط مشترك په ما بین د دے حروف عاطفه مذکوره کښې اؤ په نورو کښې. اؤ د دے نه علاوه بل قسم چه تقدیر د ان پس د حروف عاطفه مذکوره نه وی منحصر دے په شرطینو سره یو شرط هغه دے چه مخصوص دے په دوئ پورے اؤ بل مفرد

چه مشترک دے په دریو کښې او د دریو نه علاوه په نورو کښې۔ نو مصنف مرتین ذکر او کړو
کل سره د شرط مخصوصه او بیا سره د شرط مشترکه نه۔ او د عبارت تقدیر داد صحیحه
حکم الحروف العاطفة حاصل اذا الخ **و یجوز اظهار ان مع لام کے والعاطفة** او جائز
دے اظهار د ان سره د لام چه په معنی د کے سره دے او د لام زائده نه او سره د حرف
عاطفه نه په اسم باندې۔ ځکه دا ثلثه چه دی دا داخلیږی په اسم صریح باندې نو جائز
دے سره اظهار د هغه چه فعل منقلب کړی اسم صریح ته او هغه مصدر په دے
اتم چه دے لام جحود هغه په اسم صریح باندې نه داخلیږی۔ د هغے نه روستو د ان
دا اظهار ضروره نشته دے۔ او د غه شان حتی هم دے ځکه چه حتی غالب الاستعمال په
معنی د کے سره دے۔ او هغه په دے معنی سره نه داخلیږی په اسم صریح باندې۔ او هغه
چه دے حتی په معنی د الی باندې نو هغه هم محمول دے په اول باندې ځکه چه اول
معنی دا غالبه ده په هغه حتی کښې چه د هغے نه روستو مضارع وی۔ او هر چه دے
واو فاء او او نو د دوی تقاضا د نصب د مابعد کړی د پاره د تنصیص په معنی د سببیة
او جمعیة۔ نو دا په شان د حروف ناصبه۔ او کرځیدل **سوال** دا دے چه مصنف ولے د لته
کښې لام ائد ذکر نه کړو۔ **جواب** دا دے چه دا لام داخل دے په لام کے کښې۔
و یجب مع لا فی اللام علیها او واجب دے اظهار د ان سره د لا نه هغه وخت کښې چه د
هغے نه مخکښې لام کے وی د پاره د دے چه اجتماع د لامین
را نشی چه هغه لام کے دے۔ او لام لا دے لکه په دے قول د باری تعالی کښې لئلا یعلم
اهل الکتاب د لام کے نه روستو حرف نفی راوړو ځکه چه هغه تقاضاء تصدیر او د
صدارت کوی **سوال** دا دے چه څنګه په دے مواضعو کښې ان مقدر دے د دے علاوه
په نورو ځایونو کښې هم دے لکه تسمع بالمعیدی خیر من ان تراه۔ **جواب** دا دے چه
مراد د مصنف تقدیر د ان په د غه مواضعو کښې سره د عمل نه دے او تقدیر د ان په دے
قول د شاعر کښې بغیر د عمل نه دے **سوال** دا دے چه دیر مواضع دی چه په هغے کښې
ان سره د عمل نه مقدر دے او هغه د دے مواضعو نه علاوه دی لکه په دے قول د
شاعر کښې۔ الا ایها اللائمی احضر الوغی **جواب** دا دے چه تقدیر د ان په مثال
کښې سره د عمل نه شاذ دے۔ اعتبار ورله نشته۔
و ینجزم بلم و لما و لام الامر و لا فی النهی و کلم المجازاة۔ او جزم به

كوځي فعل مضارع په لم لما لام امر لاء نهي او په كلم المجازاة سره لكه شاعر وائي چه .

ـه ان ولم ولما ولام امر ولاء نهي نيز ـ پنج حرف جازم فعل اند هريك بے دغا .

د دے اختصاص په فعل پورے راغلے دے لكه په ابتداء د بحث د فعل كښې وئيلې شوي دي .

وهي ان ومهما واذما وحيثما واين ومتى وما ومن واى وانى او كلم المجازاة دا مذكوره كلمات دي كلم المجازاة ورته په دے وائي چه دا شرط او جزاء دي لكه ان تكرمني اكرمك مهما تأتني آتك اذما تأتني اكرمك حيثما تجلس اجلس متى تخرج اخرج من يأتني اكرمك ما تصنع اصنع ايا تضرب اضرب انى تذهب اذهب . دلته كښې سوال راځي چه څنګه مضارع په دے كلماتو سره مجزوم كرځي نو د غه شان كيفما او اذا سره هم كرځي نو هغه د ولے ذكر نه كړل . **جواب** دا دے چه مصنف د دے پخپله جواب اوكړو .

واما مع كيفما واذا شاذ وجه د شذوذ دادہ چه د كيفما معنى دادہ چه مثلا يو سړے او وائي چه كيفما تقرء اقرء يعني چه په كوم كيفيت او حال باندې ته قرارة كوے نو زۀ به هغے قرارة كوم او محال او متعذر دا خبره چه استواء راشي په قراءة كښې د بل قاري سره په ټولو احوالو كښې او هرچه دۀ وجه د شذوذ د اذا هغه په دے وجه چه دا كلمات مضارع له جزم وركوي په دے وجه چه دا مشتمل دي په معنى د ان باندې . او اذا مشتمل نه دے په معنى د ان باندې ځكه چه ان راځي د پاره د ابهام او اذا راځي د پاره د قطع الا په ما بين د ابهام او د قطع كښې منافاة ظاهر دے . **وبان مقدرة** او په ان سره هغه ان چه مقدر وي . يا په حال د كون د ان كښې چه مقدر وي . دا عطف دے په بلم باندې .

فلم لقلب المضارع ماضيا ونفيه په دے عبارت سره مصنف تفصيل شروع كړو نو دے وئيل چه فلم الخ لم په مضارع كښې دوه قسمه عمل كوي لفظا او معنا هم . هرچه دے لفظا هغه خو ظاهر دے چه جزم وركوي او هرچه دے معنا نو هغه مضارع په معنى د ماضي منفي باندې كرځوي نو لم يضرب په معنى د ما ضرب زيد دے دلته كښې اضافت د قلب او د نفي مضارع ته دا د قبيلې د اضافة د مصدر نه دے مفعول ته او ماضيا دا مفعول ثاني دے د پاره د قلب .

ولما مثلها او لما پشان د لم دے په قلب د مضارع كښې ماضي منفي او په جزم كښې ليكن فرق پكښې په استغراق او په توقع كښې دے ځكه مصنف اوفرمائيل .

وتختص بالاستغراق يعني په استغراق د نفي كښې په جميع ازمنه ماضيه پورې

حُکه چه زیادت د حروف دلالت کوی په زیادت د معنی باندې لکه لما یرکب الامیر یعنی انتفی رکوبه من ابتداء زمان عدم الرکوب الی زمان التکلم **و جواز حذف الفعل** ماعطف دے په استغراق باندې یعنی حذف د فعل دلماجائز دے حُکه چه میم زائده په دے کښې قائم دے په مقام د فعل باندې **و لام الامر** اولام امر **المطلوب بها** چه مطلوب وی په استعانة د دے سره فعل المطلوب بها الفعل دلته کښې الفعل مفعول مالم یسم فاعله دپاره د مطلوب دے

فائده دلته په لام دامر کښې لام د دعا لکه لیغفرلنا الله داخل دے . **وهی مکسورة ابدًا** اؤ دالام به همیشه مکسوروی د دوو جهین نه . اوله وجه داده چه التباس رانشی دلام ابتدائیه سره . دویمه وجه داده چه دالام مشابه دے دلام جاره سره په اختصاص کښې اؤ هغه خو مکسوروی نو دا به هم مکسوروی . اؤ دلته کښې عکس دے اونکړو حُکه چه لام ابتدائیه کښې استعمال دے اؤ کثرة استعمال تقاضا د خفت کوی اؤ فتح اخف الحرکات ده

دالام کله کله ساکن هم راځی پس د واو د فاء اؤ د ثم نه لکه و لتأت طائفة لم یصلوا فلیصلوا ثم لیقضوا . اؤ کله کله مفتوح هم راځی و لے اعتراض وارد ین ی چه مصنف اسدا دلیل دی دتا بید باخه معنی جواب دادے چه دتا بید نه مراد شیوع یعنی شائع وائی شئ

ولا النهی المطلوب بها الترك اؤ لا د نهی چه مطلوب په دے سره ترك د فعل وی اؤ دخول دے په مخاطب اؤ په غائب باندې علی السویه دے اؤ په طریقه دقلة سره په متکلم هم داخلیږی **وکلم المجازاة تدخل علی الفعلین** اؤ کلم المجازاة چه هغه تقاضا د جزاء کوی دا داخلیږی په دوو فعلونو باندې **لسببیة الاول** دپاره دافادے د سببیة داول . **ومسببیة الثانی** اؤ د مسببیة د ثانی **سوال** دادے چه سببیة داول نه صحیح کیږی په مثل د دے ترکیب کښې ان تکرمنی الآن فقد اکرمتك امس . یا په دے قول دباری تعالیٰ کښې ان تعذبهم فانهم عبادك وان تغفرلهم فانك انت العزیز الحکیم - **جواب** دادے چه ده لته کښې جزاء مقدره ده اؤ دغه قائمقام د جزاء اؤ د روله شویدے . نو اصل عبارة به داشی چه ان تکرمنی الآن فقد ادیت حقی لانی قد اکرمتك امس . ان تعذبهم فلا تظلم فی شئی لانهم عبادك . **سوال** وارد دیږی چه کلم المجازاة خو ریتی دبل دپاره سبب نه گرځی نو ته څنګه وائی لسببیة الاول و مسببیة الثانی **جواب** دادے چه په نفس الامر اؤ په واقع کښې کلم المجازاة یوشی سبب اؤ بل مسبب نه گرځوی بلکه په دے کښې اعتبار د متکلم لره دخل دے متکلم ملزومیة دیوشی

دبل شي دپاره راوستے شي رابره خبره ده چه شي اول سبب حقيقيه وي د پاره د شي ثاني او
که نه وي لکه ان تشتمني فاکرمتك نو دلته کښي خو شتم سبب حقيقي د پاره د اکرام نه دے بلکه
دلته کښي متکلم اظهار د مکارم اخلاق کوي يعني چه شتم سبب د اهانة دے په نزد خلقو او د
متکلم په نزد اسبب د اکرام دے. **ويسميان شرطاوجزاء** او دے دواړو ته شرط او جزاء
وائي اول ته چه شرط وائي دا په دے وجه چه دا شرط دے د پاره د تحقق د ثاني او ثاني ته
چه جزاء وائي دا په دے وجه چه دے بناء دے په اول باندې لکه بناد شرط په جزاء. **فان
كانا مضارعين اوالاول** کچرته دا دواړه فعل مضارع وي او يا اول فعل مضارع وي
فالجزم يعني فالجزم واجب يا متعين نو بيا جزم لازم دے لکه ان لم تقم اقم دلته کښي
دواړه معرب دي او جازم هم موجود دے او کچرته شرط مضارع وي او جزاء
ماضي وي نو اول به مجزوم وي لکه ان تضرب ضربت ځکه چه اول معرب دے او جازم
موجود دے **وان كان الثاني فالوجهان** او کچرته ثاني فعل مضارع وي يعني شرط ماضي
دی او جزاء مضارع وي نو بيا دوه وجهے جائز دي يعني جزم هم او رفع هم. هرچه دے
جزم هغه په دے وجه چه فعل مضارع معرب ده او جازم هم موجود دے. او هرچه د ه
رفع هغه په دے وجه چه حرف شرط هركله عمل او نکړو په شرط کښي چه هغه قريب دے
ده ته نو په جزاء کښي به په طريقه اولی عمل نه کوي ځکه چه جزاء لرے ده. لکه ان ضربت
اضربُ. **واذا كان الجزاء ماضيا بغيرقد لفظا اومعنیٰ** په هغه وخت کښي چه جزاء
ماضي وي بغير د قد نه په حال د کوم دے ماضي کښي چه ملفوظه وي لکه ان ضربت ضربت
يا معنوي وي لکه ان خرجت لم اخرج. ماضي معنوي ديته وائي چه په فعل مضارع باندې لم
داخل شوے وي **لم يجز الفاء** نو جائز نه دي راوړل د فاء په ده کښي ځکه چه حرف
شرط په دے کښي تاثير کړيدے په معنی کښي چه ماضي ئے په معنی د مضارع کړځولے ده
نو حاجت پاتے نه شو ربط ته په فاء سره. چه بغير قد ئے او وئيل نو پدے سره احتراز
راغے د هغه نه چه متلبسه وي په قد سره ځکه چه بيا په دغه صورت کښي دخول د
فاء په جزاء باندې واجب دے. ځکه چه قد محقق دے د پاره د ماضي په خپله معنی کښي
او منع کوي حرف شرط له د تغير نه نو لا بدي شوه پکښي د ربط آخر نه چه هغه فاء
ده لکه ان يسرق فقد سرق اخ له. **وان كان** او که چرته وي جزاء **مضارعا مثبتا
اومنفيا بلا** مضارع مثبته يا منفي په لا سره. **فالوجهان** يعني فالوجهان جائزان

دواړه وجے جائز دی راوړل دفا او ترک دفا هرچه دی راوړل دفا هغه په دے وجه چه حرفِ شرط اثر نه دے کړے په معنیٰ کښې لکه چه څنګه اثر ئے کړے دی په ماضی کښې مثلاً ان قمت فیقوم دا جز دپاره دمبتدا محذوفے دے چه فهو یقوم او ترک دفاء په دے وجه چه حرف شرط مؤثر دے په معنیٰ کښې په دے شان سره چه معنیٰ ئے خاص کړے ده په استقبال پورے۔ نو من وجه تاثیر پیدا شو. اګرچه ضعیف دے مثال داتیان دفا لکه داقول دباری تعالیٰ ومن عاد فینتقم الله منه او مثال د ترک دفا ان یکن منکم الف یغلبوا الفین. او د ترک دفا په صورت کښې دا خبر دپاره دمبتدا محذوفے نه دے لکه ان قمت یقم ځکه چه دا جواب د شرط دے او چه کله جزا مضارع منفی وی په لا سره. نو په دے کښې هم جائز دو جهینه دے ترک دفا او اتیان په فا سره لکه فمن یؤمن بربه فلا یخاف بخساً ولا رهقاً ځکه چه دالا دپاره د نفی د استقبال شی نو بیانه د حرفِ شرط دپاره تاثیر نه وی ځکه بیا لازم میږی اجتماع د علتین مستقلتین په معمول واحد باندا او دغه شان ترک دفا جائز دے چه کله دالا دپاره د مجرد نفی او ګرځولے شی نو حرف شرط دپاره به تاثیر وی **والا** یعنی ان لم یکن الجزاء ماضیا او دغه چه کوم مذکور شول **فالفاء** نو بیا راوړل د فا لازم دی دپاره د دے چه دواړو په مابین کښې ربط راشی مثلاً چه ماضی مصدره وی په قد سره یا جمله اسمیه وی یا امر یا نهی یا تمنی او یا عرض وی نو په دے ټولو مواضعو کښې د حرف شرط تاثیر نشته نو لا بدی شوه دیو رابطے او هغه فا ده.

ویجئ اذا مع الجملة الاسمیة او اذا مفاجاتی راځی سره د هغے جملے اسمیے نه **موضع الفاء** په ځائے د فا باندے لکه وان تصبهم سیئة بما قدمت ایدیهم اذاهم یقنطون. ځکه چه معنیٰ دا اذا مفاجاتیه دا قریبه ده فا ته اذا مفاجاتیه دا راځی دپاره دتعقیب لکه دفا او بله وجه دا ده چه اذا مفاجاتیه دا تنبیه ورکوی په حدوث دامر پس د امر نه نو د ده مشابهة د جزا سره راغے په دے وجه ده سره فا مقارنه وی لکه خرجت فاذا السبع. **وان مقدرة** او فعل مضارع مجزومه کړی په ان سره چه هغه مقدر وی یا په حال کون د ده کښې چه مقدر وی. **بعد الامر والنهی والاستفهام والتمنی والعرض اذا قصد السببیة**۔ پس د دے اشیا د خمسه نه په هغه وخت کښې چه قصد اوکړے شی د سببیة د ماقبل د مابعد د پاره ځکه چه دا اشیاء داخلیږی په طلب باندے. او طلب غالبا متعلق وی په هغه مطلوب

یورے چه په هغه باندِ فائده مرتبه وی دپاره ددے چه دا مطلوب سبب دپاره د هغه
سببیة او مسببیة باندِ نه دے مکرحرف شرط او حرف شرط چه کله لفظا موجود نه وو نو
موبن ۍ مقدار اومنلو. **نحو اسلم تدخل الجنة** ان تسلم تدخل الجنة ځکه چه اسلام
سبب دپاره د دخول د جنت دے. **ولا تکفر تدخل الجنة** ان لا تکفر تدخل الجنة
ځکه چه نهی قرینه د فعل منفی ده.

وامتنع لا تکفر تدخل النار ځکه چه تقدیر به دا شی لا تکفر ان لا تکفر تدخل النار نو عدم کفر خو سبب د دخول د نار نه دے

خلافا للکسائی خلاف ثابت دے کسائی لره ځکه چه د هغه په نزد دا ترکیب جائز دے
د هغه په نز معنی دا ده ان تکفر تدخل النار. **لان التقدیر الا تکفر** دا دلیل د جمهورو
دے او د کسائی په نزد باندِ دلالة کبنی قرینه عرف دے چه مراد ترنه شرط مثبت دے
سوال دا دے چه دیرکرته د مضارع نه علاوه کبنی امر وی او دا مضارع مجزوم نه وی لکه
فهب لی من لدنك ولیا یرثنی. یا لکه ثم ذرهم فی خوضهم یلعبون او یا لکه په
دے قول د شاعر کبنی چه ے وقال رائدهم ارسوا نزاولها . فکل حتف امرء یجری بمقدار
جواب دا دے چه دا جزم به هله وی چه قصد د سببیة او مسببیة او شی او چه کله قصد
د سببیة نه وی نو بیا واجب دہ رفع یا په د صفیة سره لکه په اولنی مثال کبنی یا په
حال سره لکه په ثانی مثال کبنی او یا په استیناف سره لکه په ثالث مثال کبنی.

الامر

هر کله چه مصنف فارغ شو د بیان د فعل مضارع نه نو شروع ئے اوکړه په بیان د امر حاضر
کبنی پس اوئے وئیل چه

الامر صیغة یطلب بها الفعل من الفاعل المخاطب دا یو صیغه ده چه طلب کړے شی په واسطے او د استعانت د
دے فعل د فاعل مخاطب نه دلته کبنی مراد د امر نه هغه
امر دے چه جمع ئے اوامر راځی نه امور او نه دا
تعریف د مطلق امر دے چه شامل شی امر غائب للمعلوم وی که مجهول یا امر حاضر مجهول یا

فائده ئے لوکړی او ددغه فائده به سببی اوکړی دپاره د هغه مطلوب او دالجم ۔۔

امر متکلم معلوم وي که مجهول. **بحذف حرف المضارعة** په حذف د حرف مضارعة سره چه هغه تا د ه په هر یو تعریف کښ لا بدي ده د جنس او د فصل نه چه صیغة یطلب بها الفعل نے او وے په دے کښ امر تمام اقسام داخل شو من الفاعل المخاطب دا یو فصل دے په دے سره تر نه غائب او متکلم او وتل او دغه شان امر مخاطب مجهول. او چه بحذف حرف المضارعة نے او وئیل نو په دے سره احتراز راغے د دے قراءة شاذه نه چه فبذلك فلتفرحوا. او یا لکه د دے قول نه چه اما تضرب زیداً. **وحکم آخره حکم المجزوم.** او حکم د آخر د بناء د امر حکم د آخر د مجزوم دے لکه په مجزوم کښ که په آخر کښ حرف صحیح وي نو هغه به ساکن وي. او که نون د اعراب وي هغه به ساقطیږي او که حرف علة وي هغه به حذف کیږي. نو په نزد د بصریانو باندې دا مبني دے په سکون باندې او په نزد د کوفیانو دا معرب دے او مجزوم حقیقةً. ځکه چه دے مشابه دے د هغه امر سره چه په هغې کښ لام دے د هغه دغه حکم دے نو د دے امر هم دغه حکم دے.

فائده دا امر حاضر د جوړولو طریقه دا ده چه حرف مضارعة به حذف کړے پس د حذف د حرف مضارعة نه به اوګورے چه ورپسے بل حرف ساکن دے که متحرک دے کچرته ساکن وي نو عین کلمه به یا مفتوحه وي یا مکسوره او یا مضمومه. کچرته مفتوحه او یا مکسوره وي نو همزه د وصل به مکسوره راوړے. او بیا آخر کلمے ته چه لام کلمه ده هغې ته به اوګورے یا به حرف علة وي یا به حرف صحیح وي که حرف علة وي نو ساقط به شي او که چرته حرف صحیح وي نو ساکن به کړے شي. او کچرته عین کلمه مضمومه وي نو همزه د وصل به مضمومه راوړے. او لام کلمه کښ به سابق عمل اوکړے شي. لکه اِعْلَمْ، اِضْرِبْ، اُقْتُلْ، اِخْشَ، اِرْمِ، اُدْعُ.

او کچرته پس د حذف د حرف مضارعة نه متحرک وو. نو بیا لام کلمه یا به حرف صحیح وي یا به حرف علة وي. که حرف صحیح وي. ساکن به کړے شي او که حرف علة وي نو ساقط به کړے شي لکه عِدْ شو او یا قِ.

دلته کښ **سوال** واردیږي چه پس د حذف د حرف مضارعة نه که عین کلمه مضمومه وي نو همزه د وصل مضمومه دے او که مفتوحه یا مکسوره وي نو همزه د وصل مکسوره دے دلته کښ د مفتوح په صورت کښ همزه د وصل مفتوح ولے نه راوړلے کیږي. **جواب** دا دے چه دا د پاره د رفع د التباس. ځکه چه په دغه صورت کښ التباس راځي د صیغے د متکلم سره په حالت د وقف کښ.

فان كان بعده ساكن وليس برباعي كچېرته پس د حذف د حرف مضارعه نه ساكن وي او حال دا دے چه دا فعل محذوف

فيه څلور و حروفو والا نه وي په كسره احتراز راغلے د اكرم نه. **زدت همزة وصل** همزه د وصل به زيات كړے يعني په ابتداء كښ همزه وصلي راوړه ـ كچېرته پس د ساكن نه عين كلمه مضمومه وي. همزه خو به په دے وجه زياتيږي چه ابتداء بالساكن رانشي او مضمومه به په دے وجه وي چه موافقت ئے راشي د عين كلمے سره.

ومكسورة فيما سواه او همزه د وصل به مكسوره وي كچېرته عين كلمه مفتوحه يا مكسوره وي **مثل اقتل واضرب واعلم وان كان رباعيًا** او كچېرته دا فعل محذوف فيه رباعي وي **فمفتوحة مقطوعة** نو همزه د وصل به مفتوح وي او دا به قطعي وي مثلاً په باب افعال كښ په تكرم كښ يكرم و يلے شي حكه چه دا همزه په اصل كښ مفتوح او اصلي وه په باب افعال كښ يكرم په اصل كښ يأكرم وو. په صيغه د واحد متكلم كښ أأكرم راتلو په مے سره اجتماع د همزتينو راتله. نو ددے نه يو همزه حذف كړے شو بيا طرداً للباب د يكرم تكرم او نكرم نه هم همزه حذف كړے شوه.

فعل ما لم يسم فاعله دلته كښ دا موصوله عبارة دے د فعل نه بيا ور باندې سوال وارديږي چه هر كله دا عبارة دے د فعل نه نو اضافة د شي راغلو خپل نفس ته. **جواب** دا دے چه دلته كښ اضافة بيانيه دے او لم يسم په معنى د لم يذكر فاعله سره دے. **هو ما حذف فاعله** دا هغه دے چه فاعل ئے حذف شوے وي او مفعول د هغه په ځائے باندې راوړے شوے وي دلته كښ ئے ورسره دا ذكر نه كړو چه واقيم المفعول مقامه ځكه چه دا ئے مخكښ ذكر كړے دے.

فان كان ماضيًا يعني كچېرته وي هغه فعل چه اراده د حذف د فاعل د هغه شوے وي ماضي. دلته كښ سوال راتلو چه كان كښ ضمير راجع دے هغه فعل ته چه حذف د فاعل ئے راغلے وي نو مطلب دا شو چه ان كان الفعل الذي حذف ماضيًا ضم اوله وكسر ما قبل آخره. نو په دغه صورت كښ مطلب صحيح نه جوړيږي او لازميږي ضرر مضموم **جواب** دا دے چه دلته كښ تقدير دا سے دے چه ان كان الفعل الذي اريد حذف فاعله يعني اراده موږ نه مقدر راوړو او دا ستلو لكه اذا قرأت القرآن اي يعني اذا اردت قراءة القرآن او يا دا چه دلته كښ ضمير په كان كښ راجع دے هغه فعل ته چه

فاعل ئے حذف شو یدے خو پہ طریقے د مجاز سرہ یعنی پہ اعتبار د ما یؤول الیہ لکہ پہ دے حدیث کښ راغلی دی من قتل قتیلا فلہ سلبہ

ضُمَّ اوله وکسر ما قبل آخره اول حرف لہ بہ ورلہ ضمہ ورکړے شی اؤ ماقبل آخر بہ ئے مکسور کړے شی دپارہ ددے چہ

غرابۃ دوزن دلالت اوکړی پہ غرابۃ دمعنی باندے اؤ داوزن څکہ غریب دے چہ دلتہ کښ خروج د ضمے نہ کسرے تہ راغلے دے اؤ دا ثقیل دے وکل ما ھو ثقیل فھو غریب **سوال** داسے چہ وزن دفُعِلُ خو ھم غریب دے نو دا وزن ورلہ ولے ورنکړے شو **جواب** داسے چہ مقصود خو صرف حاصل شو یدے پہ ثقیل سرہ نو را ؤ بہ لو دا ثقل تہ ضرورت نشتہ لکہ ضُرِب۔ اکرِمَ، استخرج الخ دلتہ کښ تغییر پہ صیغہ کښ راوستے شو دپارہ ددے چہ التباس د ماضی مجہول د معروف سرہ رانشی اؤ دلتہ کښ تغییر پہ مجہول کښ راوستے شو څکہ چہ دا فرع دے اؤ فرع اولی بالتغییر دے۔

و بضم الثالث مع همزة الوصل اؤ مضموم بہ کړے شی حرف ثالث پہ حال دکون ددہ کښ چہ مقرون وی سرہ

دھمزہ دوصل نہ پہ ھغہ صیغہ کښ چہ ھغے کښ ھمزہ دوصل وی لکہ اُفتعِلُ اُستفعِل

والثانی مع التاء خوف اللبس اؤ مضموم کړو بہ شی حرف ثانی پہ حال دکون ددہ کښ چہ مقرون وی سرہ د

تاء نہ دپارہ ددے چہ التباس رانشی د باب تفعیل پہ تفعُل کښ اؤ د مضارع د باب مفاعلہ سرہ تفاعل کښ اؤ د مضارع د باب فعللۃ پہ تفعلل کښ۔

ومعتل العين الافصح قيل وبيع اؤ پہ ماضی مجرد کښ چہ کلہ صیغہ د مجہول راغلے وی اؤ ھغہ معتل العین وی

نو د ئے بہ شی بنا پہ قول افصح باندے قِیل اؤ بِیع۔

قِیل پہ اصل کښ قُوِل دے کسرہ پہ واؤ باندے ثقیلہ وہ ھغہ موبنرہ ماقبل قاف تہ ورکړہ کسرہ دا تقاضا کوی چہ ما پسے دے د روستو یا وی ھغہ واؤ موبنرہ پہ یا بدل کړو قِیل شو۔ اؤ دغہ شان بیع پہ اصل بُیِعَ وو۔ کسرہ یا موبنرہ ماقبل تہ ورکړہ بیع شو۔ اؤ دلتہ کښ مراد پہ معتل العین سرہ معتل العین دے فقط یعنی صرف پہ ځائے دعین کلمے بہ حرف علۃ راغلے وی نہ دبلے کلمے۔ پہ دے سرہ دفع د سوال راغلہ

سوال دا دے چه ستا دا قاعده منقوضه شوه په طوی او روی سره حُکه چه دا معتل العین دے او بیا هم په دے کښ الف نه دے بدل شوے. **جواب** دا دے چه مراد په معتل العین سره هغه دے چه عین کلمه ئے فقط حرف علة وی نه چه لام کلمه هم. او دلته کښ ورسره لام کلمه هم حرفِ علة ده حُکه کچرته لام کلمه هم حرفِ علة وی نو بیا به په عین کلمه کښ اعلال نه کیږی دپاره دد دے چه اجتماع د اعلالینو را نشی په مضارع کښ په لو کلمه کښ. **سوال** دا دے چه دلته کښ به دلیل قیلا اضافه هم کړے وه او دُ ښیلی به ئے وو چه ان یکون معتل العین منقلبة عینه الفا دپاره دد دے چه په عُوِرَ او په صید سره په اعتراض وارد نه شی. حُکه چه معتل العین دے فقط او عین کلمه کښ ئے اعلال نه دے شوے **جواب** دا دے چه په معتل العین کښ عین په الف بدلیږی چه ما قبل د هغے نه په حکم د سکون کښ نه وی او په عوِر کښ ما قبل دد دے نه په حکم د سکون کښ دے حُکه چه دا د عیوِر نه دے. او اصل به هغه افعا لو کښ چه د عیوب نه وی هغه مزید دی نه مجرد نو ماقبل د عور په حکم د اعور کښ دے او هم چه دے صید نو دا شاذ دے.

وجاء الاشمام او په قیل او بیع وغیره کښ اشمام هم راغلے دے. دلته کښ اختلاف دے په مفهوم د اشمام کښ. د قراء او د نحاتو په نیز عوان تمیل بکسرة نحو الضمة فتمیل الیاء الساکنة بعدها نحو الواو قلیلا اذ هی تابعة لحرکة ما قبلها. او بعض والی چه هو ضم الشفتین فقط مع کسر الفاء خالصا. او بعض والی چه هو ان تاتی بضمة خاصة بعدها یاء ساکنة. لیکن مراد د اشمام نه په دے حُائے کښ اشمام په معنی اوله با ندے دے. او غرض د اشمام نه دا دے چه خبردارے ورکړے شی په دے خبره چه اصل په اولو دد دے حرفو کښ ضمه دے. **وجاء الواو** او په واو سره هم راغلے دے لکه قُول او بُوع شی. **و مثله** او په مثل د باب د ماضی مجهول د معتل العین د ثلاثی مجرد.

باب اختیر وانقید په دے کښ دا دریواړه راتلے شی اختیر او انقید لکه قیل او بیع اشمام هم پکښ روا دے او واو سره پکښ هم روا دے لکه اختور او انقود. اختیر د باب افتعال نه دے او انقید د باب انفعال نه دے. **دون استخیر و اقیم** ولے دا لغات ثلثه په باب استفعال او افعال کښ چه معتل العین وی نه جاری کیږی حُکه چه اصل د دوی استخیر او اقوم دی او ما قبل د حرف علة نه په دوی کښ ساکن راغلے دے.

وان كان مضارعًا ضم اوله وفتح ما قبل آخره او كه چرته مضارع وى نو اوله حرف به مضموم وى او ماقبل آخر به مفتوح وى په دے سره مصنف بيان د فعل مضارع مجهول كوى. دلته كښې اقتصار په دې باندې اوكړو شو چه يا صرف حرف مضارعة مضموم شى او يا صرف ما قبل آخر مفتوح شى چونكه په ماضى حرف اول مضموم وو نو دلته كښې ئے هم مضموم اوګرځو. مضارع په سبب د حرف مضارع د زيادت سره ثقيله اوګرځيده په دې وجه ماقبل آخر ئے ورله مفتوح كړو ځكه چه اخف الحركات دے. لكه يُضْرَبُ، يُكْرَمُ، يُستخرَج وغيره. **ومعتل العين ينقلب العين فيه الفًا** او مضارع چه كله معتل العين وى برابره خبره ده چه واوى وى كه يائى وى هغه به په الف باندې بدلينږى. لكه يقال شى يا يباع شى ځكه چه اصل د دے يُقْوَلُ او يُبْيَعُ وو. حركة د واو او د ياء ماقبل ته وركړے شو بيا د فتح د ماقبل د وجے نه واو او يا په الف باندې بدل شو.

المتعدى وغير المتعدى دلته كښې متعدى او غير متعدى دا صفات دى او د هر يو صفت دپاره لابدى ده د موصوف نه د دے دپاره موصوف الفعل دے په قرينے د بحث سره. **فالمتعدى ما يتوقف فهمه على متعلق** فعل متعدى هغه ته وائى چه موقوف وى فهم د هغه په متعلق باندې. **كضرب** لكه ضرب شو ځكه چه فهم د ده موقوف دے په هغه شى باندې چه هغه پورے متعلق دے ضرب د ضارب او مراد په متعلق سره غير د فاعل ته دے. **سوال** دا دے چه هر يو فعل اګركه هغه لازمى دے موقوف دے په ظرف چه هغه مفعول فيه دے. او بعض افعال موقوف دى په آله باندې لكه كتابت شو. **جواب** دا دے چه مصنف وئيلے دى ما يتوقف فهمه على متعلق. او توقف د فهم په هغه كښې دے چه داخل وى په مفهوم او په ماهيت كښې او متعدى كښې دا شان دے لكه ضرب شو هغه استعمال د آلے د تاديب دے په هغه محل كښې چه قابل دپاره د ايلام وى نو محل چه هغه مفعول به دے داخل دے په ماهيت كښې او فعل لازم كښې موقوف نه دے فهم د مفهوم او د ماهيت په متعلق باندې او ظرف او آله دا د لوازمو د وجود د فعل نه دى او په جنس د ماهيت كښې او په لازم د وجود كښې ډير فرق دے

و غير المتعدى بخلافه او غير متعدى په خلاف د متعدى نه دے يعنى ما لا يتوقف فهمه على متعلق دلته كښې غير متعدى مبتدا ده ولے صحيح دے ابتدائيت ددے ځكه چه په اضافة سره اګرچه غير اضافه نه راغلے دے چه هغه متوغل دے په ابهام كښې دا نكره محضه پاتے شوه نو ابتدائيت صحيح شو. او بله وجه دا ده چه د متعدى دپاره ضد واحد دے چه هغه

غیر متعدی دے **کقعد** لکه قعد شو دا فعل لازم دے

فائده هر کله چه اراده د لو غیر متعدی فعل د متعدی کولو اوکړے شي نو د هغے د پاره درې طریقے دي یا په همزه سره لکه أذهبته یا باب تفعیل ته واړولے شي لکه فرّحت زیدًا اؤ یا په حرف جر سره لکه ذهبت بزید۔

والمتعدي یکون إلی واحد اؤ فعل متعدی کله متعدی کیږي یو مفعول ته **کضرب** لکه ضرب شو دے یو مفعول غواړي۔ **وإلی اثنین** یعني متعدی الی اثنین دوه مفعوله غواړي **کأعطی** لکه اعطی شو داده مفعوله غواړي **وعلم** اؤ یا لکه علم شو لکه أعطیت زیدًا درهمًا یا علمت زیدًا قائمًا **وإلی ثلثة** یا متعدی وي دریے مفعولو ته **کأعلم** لکه اعلم مثلًا اعلمت زیدًا عمرًا فاضلًا **وأری** یا لکه أری شو مفاعیل ثلثه ته متعدی کیږي په اصل کښ أعلم اؤ أری ځکه چه دوي د دوو مفعولینو ته متعدی کیږي خو چه هر کله ورسره همزه زیات کړے شوه نو د مفعول ثالث یکښ اضافه اوشوه۔

وأنبأ ونبأ وأخبر وخبر وحدث دا افعال هم مفاعیل ثلثه غواړي لیکن بنفسه نه بلکه دوي متضمن دي معنی د علم لره۔ **مفعولها الأول کمفعول باب أعطیت** یعني د دے افعالو مفعول اول پشان د باب اعطیت دے په دے عبارت سره مصنف بیان د احکامو د دغه افعالو کوي۔ په جواز د حذف کښ اؤ د اقتصار په دواړو باندے۔ لکه اعلمت زیدًا یا اعلمت عمرًا منطلقًا **والثاني والثالث کمفعولي علمت** په جواز د ذکر کښ اؤ په حذف کښ معًا۔ یعني کچرے حذف نے کیږي نو دواړه به حذف کیږي اؤ که ذکر نے کیږي نو دواړه به ذکر کیږي اؤ اکتفاء په یو ناجائز دے۔ ځکه چه مفاد د دواړو یو دے چه یا مضاف اؤ مضاف الیه دي اؤ یا مبتدا اؤ خبر دي

افعال القلوب افعال په دوه قسمه دي یو افعال جوارح دي اؤ بل افعال قلوب دي افعال قلوب هغه ته وائي چه د هغوي تعلق د قلب سره وي دے ته افعال الشک والیقین هم ویلے شي ځکه چه بعض په دے کښ د شک د پاره راځي اؤ بعض یقین فائده کوي. **سوال** دا دے چه په دے افعالو کښ خو یو هم د پاره د شک نه دے ځکه چه شک متساوي الطرفین ته وائي. **جواب** دا دے چه دلته کښ مراد د شک نه ظن دے مجازًا اؤ یا دا چه دلته کښ د شک نه منطقي معنی مراد نه ده بلکه لغوي معنی ترے نه مراد ده۔ **ظننت وحسبت وخلت وزعمت وعلمت ورأیت ووجدت** ۔ اؤ افعال قلوب دا اووه افعال دي وے

د لته د خبر ده دیاد ولو قابله ده چه افعال قلوب په دے اوه کښې منحصر نه دی بلکه ددے نه علاوه نور هم دی لکه عرفت اعتقدت ولے دا افعال ئے ځکه دلته کښې ذکر نه کړل چه دوئ متعدی کیږی نه د و مفعولین ته په استعمال کښې او نه په دے باندې احکام د افعال قلوب جاری کیږی. په دے افعالو کښې اولنی درے دپاره د شک راځی او درے دپاره د یقین دی او یو چه زعمت دے هغه مشترک دے په مابین د شک او د یقین کښې. سوال دادے چه افعال شک ئے ولے مقدم کړل جواب دادے چه شک ډیر واقع کیږی او اغلب دے وقوعًا. **تدخل علی الجملة الاسمیة** دا داخلیږی په جمله اسمیه باندې نه په جملے فعلیے باندې ځکه چه جمله باندې دا فعل داخلیږی دپاره د عمل یعنی مقصود دے نه عمل دے په اجزاء کښې او عمل د فعل په جمله فعلیه کښې متعذر دے ځکه چه کله ته د جملے فعلیے په جزاول کښې عمل کوی نو لازمیږی عمل د فعل په فعل کښې او د یو فعل عمل په بل فعل کښې متعذر دے او هرچه دے په جزء ثانی کښې نو جزء ثانی دا خو معمول د جزء اول دے نو لازمیږی تواردد عاملینو مستقلینو په معمول واحد باندې. **لبیان ما هی علیه** دپاره د اظهار د اعتقاد په باره د دغه جمله کښې. یعنی لبیان اعتقاد تلك الجملة صادرة او ناشئة عنه من علم او ظن او حسبان. ترکیب ددے عبارة دادے چه کلمه د ما موصوفه ده چه دا عبارة ده د علم یا د ظن نه هی مبتدا چه دا ضمیر دے او راجع دے جملے اسمیے ته، عنه جار مجرور دا متعلق دے په ناشئة یا صادرة پورے. دا خبر دے دپاره د مبتدا او دا ټوله جمله صفت شو دپاره د ما. دا مضاف الیه دے او مجرور دے علاوه

فتنصب الجزئین دا نصب ورکوی جزئینو لره بنا بر مفعولیت. **و من خصائصها أنه إذا ذکر احدهما ذکر الآخر** او ددے افعال قلوبو د خصائصو نه یو دا خاصیت دے چه مفعولین ددے کښې چه یو ذکر شی نو بل به هم ورسره ذکر کیږی ځکه چه مفعولین ددے هغه مضمون د جملے دے یعنی ددے دواړه مفعولین چه راواخلے نو ددویم مفعول مصدر به اول مفعول ته مضاف کړے نو دا به مضاف الیه اوګرځی. او په مضاف او مضاف الیه کښې شدت اتصال دے. یو یکښې نه شی حذف کیدے لکه علمت زیدًا فاضلًا. دا به په تاویل ددے شی چه علمت فضیلة زید. او بله وجه دادہ چه په دے باب کښې ذکر د مفعول اول دا توطئه ده ذکر د مفعول ثانی ته او مقصود مفعول ثانی دے اس کچرته ثانی ذکر شی نو لازمیږی ذکر د مقصود بغیر د توطئے نه. او کچرته اول ذکر کړے نو لازمیږی ذکر د توطئے او ترک د مقصود. سوال دادے چه ستا دا قول منقوض شو

په دے ترکیب باندِ ولا تحسبن الذین یبخلون بما آتاهم الله من فضله هو خیراً لهم - نو مفعول اول
چه بخلهم دے هغه حذف کړے شوے دے یا لکه په دے شعر د شاعر کښې چه، لا تخلنا عن
عزائك انا - طالما قد وشی بنا الاعداء - نو د لته کښې مفعول ثانی چه جازعین دے حذف
شویدے - **جواب** دا دے چه مراد په عدم جواز حذف سره بلا قرینه دے او کچرته
یو قرینه موجوده وی چه هغه دال وی په مفعول اول او یا په مفعول ثانی نو حذف جائز دے
او په دے دواړو مثالونو کښې قرینه موجوده ده - **بخلاف باب اعطیت** په خلاف د باب
د اعطیت نه - ځکه چه هلته کښې اقتصار په یو مفعول باندِ جائز دے د وجے د عدم د مانع
نه په هغې کښې هر یو مفعول مستقل دے او مفعول چونکه فضله وی او حذف د فضله
جائز دے - **ومنها جواز الالغاء** او بعض د خصوصیاتو نه افعال قلوب نه جواز د الغاء دے
چه دا ملغاة العمل او کړې شی **اذا توسطت** هغه وخت کښې چه دا متوسط واقع شی په مابین
د مفعولینو کښې **او تأخرت** او یا متأخر واقع شی **لاستقلال الجزئین کلاماً** د وجه د استقلال
د جزئینو یعنی مفعولین د دے کلام مستقل دے - د لته کښې کلاماً منصوب دے یا بنا بر حالیة او یا
منصوب دے بنا بر تمیز - د غه افعال بنا بر تقدیر الغاء دا په معنی د ظرف دی نو معنی د زید ظننت
قائم، زید قائم فی ظنی - او جائز دے اعمال د دے افعالو هم ځکه چه دا افعال دی او اصل دی
په عمل کښې د لته کښې د الغاء نه مراد جواز ده - او په بعض صورتونو کښې الغاء د جوباً ده - او دا جواز
الغاء د دے افعالو شائع او کثیر دی **ومنها انها تعلق قبل الاستفهام** او بعض د خصوصیاتو د افعال
قلوب نه دا خبره ده چه دا افعال قلوب معلق وی مخکښې د استفهام **والنفی واللام** او د نفی او لام
ابتداء نه د تعلیق مطلب دا دے چه وجوب د ابطال د عمل دے لفظاً نه معنی په سبب د واقع کیدو د دے
مخکښې د استفهام د نفی او د لام نه **مثل علمت ازید عندك ام عمرو** معنی دا نور د دوه مثالونه
چه پېښیږی بالمقائسه - هغه دا دی چه علمت ما زید فی الدار او علمت لزید قائم ځکه چه دا دے
داره صدارت د کلام غواړی نو کچرته دا افعال قلوب په دوی کښې عمل او کړی لفظاً بیا به د دوی صدارت
باطل شی پس د لته کښې د دواړو رعایت او لحاظ او ساتلے شو من حیث اللفظ دا استفهام د نفی او د لام ابتداء
لحاظ او کړے شو او من حیث المعنی د دے افعالو لحاظ او کړے شو **سوال** دا دے چه ولے معنی دا سے او نه
وئیل چه قبل حرف الاستفهام **جواب** دا دے چه معنی فقط استفهام او وے او حرف استفهام ئے او نه
وے دیاره د دے چه شامل شی اسم له هم لکه لنعلم أی الحزبین الآیة او قبل الاستفهام ئے او وئیل
بعد الاستفهام ئے او نه وئیل ځکه چه کچرته بعد الاستفهام وی بیا دا حکم نه دے لکه الهم علمت زیداً

فائده فرق په ما بین د الغاء او د تعلیق کښ دا دے چه الغاء جائز دے. واجب نه دے او تعلیق واجب دے دویم دا چه الغاء ابطال د عمل دے لفظا او معنا او تعلیق ابطال دے په لفظ کښ نه په معنی کښ

ومنها انها يجوز ان يكون فاعلها ومفعولها ضميرين لشئ واحد بعض د خواصو د افعالو قلوبو نه دا خبره ده چه جائز دي په افعال قلوبو کښ چه فاعل د دے افعالو او مفعول دواړه ضمیره وي او مرجع د دواړو یو وي مراد په ضمیرين سره ضمیرين متصلین دي ځکه کچرته یو پکښ منفصل وي نو بیا دا حکم نه دے **مثل علمتني منطلقا** دلته کښ "ت" او "ي" ضمیرين دي او مرجع ئے یو ده ځکه چه مفعول د دے افعالو په حقیقت کښ دویم دے او اولنے مفعول بطور توطیة او تمهید ذکر کیږي نو دلته کښ حقیقة اتحاد د فاعل او د مفعول نه راغے او د دے نه علاوه په نورو افعالو کښ دا جائز نه دي لکه ضربتني یا شتمتني بلکه دا سے وئیلے شي ضربت نفسي یا شتمت نفسي سوال دا دے چه ضمیرين په ضربت نفسي کښ متفقین دي ځکه چه دواړه ضمیرين متصل دي او نفس عین ضمیر د متکلم دے. **جواب** دا دے چه کله د نفس اضافة ضمیر متکلم ته اوشو نو گویا دا مغائر شو ځکه چه په ما بین د مضاف او مضاف الیه کښ مغائرة وي سوال دا دے چه دا دلیل چه ځکه په غیر افعال قلوبو کښ جاري کیږي دغه رنګ جاري کیږي په افعال قلوبو کښ ځکه چه فاعل او مفعول اول په علمتني منطلقا کښ متحدان دي لفظا او معنا نو لا بدي ده پکښ د مغائرة نه لفظا چه مغائرة حاصل شي بقدر الامکان **جواب** دا دے چه دے تمونږ ه اشاره کړیده چه کښ چه مفعول اول د دے مفعول نه دے په حقیقت کښ بلکه مفعول د دے مضمون د جملے دے او هغه ضمیر نه دے سوال دا دے چه ستا دا قاعده منقوضه شوه په فقدتني او عدمتني سره ځکه چه دا دافعال قلوبو نه نه دي بیا هم پکښ ضمیرين د فاعل او د مفعول د پاره د شي واحد راغلي دي **جواب** دا دے چه دا نقیضین د وجدتني دي نو دلته کښ حمل د نقیض په نقیض راغلے دے بیا **سوال** وارد یږي چه افعال قلوب به نه وي او ضمیرين به پکښي لشئ واحد راغلي وي لکه اني اراني اعصر خمرا او یا دا شعر چه ولقد اراني للرماح دریئة من عن یمیني تارة وامامي بلکه یو کښ رؤیة علمیة دے او بل کښ رؤیة بصریه دے **جواب** دا دے چه دا محمول دي په رؤیة قلبیة باندے **وليعضها معنى آخر** او په دے افعال قلوبو کښ د بعض نور معنی هم دي **يتعدى به الى واحد** چه متعدي کیږي په هغے سره یو مفعول ته **فظننت بمعنى اتهمت** پس ظننت په معنی د اتهمت سره راځي.

وعلمت بمعنى عرفت ورأيت بمعنى ابصرت ووجدت بمعنى اصبت یعني علمت په معنی د عرفت رأیت نه مراد رؤیت بصري شي او وجدت په معنی د اصابت لکه

وجدت الضالة. دلته کښې سوال وارد یږی چه د دے لپاره افعال قلوب د پاره معنی آخره شته دے نو د تخصیص د بعض ضرورت نشته لکه خلت په معنی د صرتُ . اخال حسبت په معنی د صرت ذا حسب او زعمت په معنی د کفلت. جواب دا دے چه مراد په معنی آخرے سره دا دے چه دا معنی آخره بقرینه وی او دا معنی نه چه په هغے کښې دا وهم وی چه گنی دا معنی سره به هم متعدی وی مفعولین ته.

الافعال الناقصة وغير الناقصة | حُکم چه افعال ناقصه خو څو معدود افعال دی او د هغے نه علاوه نور ټول غیر ناقصه دی او دا تقسیم د فعل د ے په اعتبار د تمام والی او نقصان سره. د دے افعالو ته افعال ناقصه په دے وجه وئیلے شی چه دا دلالت نه کوی په حدث باندے او اتمام ئے هم په فاعل سره نه راځی بخلاف د نورو افعالونه **ما وضع لتقرير الفاعل على صفة** دا هغه دی چه وضع شوے وی د پاره د ثبوت د فاعل په یو صفت باندے هسے صفت چه هغه خارجی وی. سوال دا دے چه دا افعال خو مشتمل دی په نورو معانی باندے هم سیوا د تقرینه کله دا ټول په زمان باندے دلالت کوی. او انتقال دوام او استمرار په بعض کښې. جواب دا دے چه تقریر د فاعل په کښې عمده دے ځکه ئے ذکر کړو. سوال دا دے چه ستا دا تعریف مانع او نه ګرځیدو د دخول د غیر نه او افعال تامه په کښې داخل شو ځکه چه هغه خو هم ما وضع لتقرير الفاعل على صفة باندے دلالت کوی. جواب دا دے چه مونږ وایو هسے صفت چه خارجی وی او یا ما چه صفت دلته کښې مقید دے په قید د زائد سره یعنی ما وضع لتقرير الفاعل على صفة غیر مصدر او صفت په افعال تامه کښې عین مصدر دے **وهي كان وصار واصبح وامسى واضحى وظل وبات وآض وعاد وغدا وراح ومازال وما انفك ومافتئ وما برح ومادام وليس** د صار سره نور هم مترادفات شته لکه آل رجع حال استحال تحول انقلب وغیره او چه ځنګه کان تامه هم استعمالیږی نو د غه شان دا مترادفات ئے هم تامه استعمالیدی شی. اصبح د صبح نه ماخوذ دے او امسى د مساء نه اضحى د ضحیٰ نه **وقد جاء ماجاءت حاجتك** او دا افعال ناقصه نه ما جاء هم راځی لکه په دے ترکیب کښې چه ماجاءت حاجتك ما استفهامیه دے او جاءت په معنی د صارت ناقصه دے او په دے کښې چه کوم ضمیر د تانیث دے هغه راجع دے اسم ته یعنی ای شئ صارت حاجتك . او دلته کښې تانیث د ضمیر په اعتبار د خبر سره دے او بعض نحاة وائی چه تانیث د ضمیر په د ے وجه د ے چه ما عبارة دے د حاجة نه یعنی اية حاجة صارت حاجتك

فائده | دا کلمه د خوارجو ده چه کله حضرت علی رضی الله عنه. حضرت عبد الله بن عباس رض د دوئ طرف ته اولیږلو نو دوئ ورته او وے چه ما جاءت حاجتك **وقعدت كانها حربة** د ماجاء په شان دا افعال ناقصه نه قعد هم راځی یعنی په معنی د صار. نو دا هسے به عبارة او کړی چه صارت تلك

بل قسم د افعالو نه مغیر افعال ناقصه دی ای دلیلی هو داسه او د غو نیل هم الافعال....

الشفرة. هر بل ورسره نېزه ته اوچاړه ته راڅئ.

تدخل على الجملة الاسمية وبعطاء الخبر حكم معناها د غه افعال ناقصه داخلېږي په جمله اسمیه باندې پاره د ورکولو د خبر حکم د معنی د دې افعالو چه هغه یا ماضی یا انتقال یا دوام یا توقیت او یا نفی ده کان په ماضی دلالت کوي صار په انتقال یا دوام چه کوم مرادفات دی په دوام باندې مازال مانفک او مابرح دلالت کوي او په نفی باندې لیس دال دې مثلاً په صار زید غنیا چه زید غني باندې صار داخل شو نو دې دلته کښې غني خبر دې نو مطلب دا شو چه غنی زید ته منتقل شوه

فترفع الاول نو اول له به رفع ورکوي ځکه چه دا فاعل دې **وتنصب الثاني** او ثاني له به نصب ورکوي ځکه چه دې مشابه بالمفعول دې په توقف د فعل کښې په ده باندې پس د فاعل نه لکه په فعل متعدي کښې **مثل كان زيد قائما فكان** فکان سره تفصیل بعد الاجمال کوي پس دا کان به ناقصه وي د پاره د ثبوت د خبر د کان د پاره د اسم د هغه برابره خبره ده چه دا ثبوت په زمانه ماضي کښې دائمي دې او که دائمي نه وي بلکه منقطع وي د اول مثال لکه کان الله غفورا رحیما. د دویم مثال چه منقطع وي لکه کان زید غنیا **وبمعنى صار** او په معنی د صار راځي لکه وکان من الکافرین ترکیب د عبارة به داسې شي تکون ناقصه بمعنی صار **ويكون فيها ضمير الشان** او په دې کښې به ضمیر د شان مقدر وي او روستو جمله به د هغې د پاره تفسیر واقع شي لکه کان زید قائم یعنی په دې قول د شاعر کښې. اذا مت کان الناس صنفان شامت ؛ وآخر مثن الذي كنت اصنع. دلته کښې الناس او صنفان دواړه مرفوع دی نو لابدي ده د ضمیر شان نه. **وتكون تامة** او کله د کان تامه هم راځي په هغه وخت کښې دا په معنی د ثبت وي او صرف فاعل به غواړي لکه وان کان ذو عسرة فنظرة الی **وزائدة** کان زائده هم راځي یعنې په سقوط د ده نقصان په معنی کښې نه راځي لکه په دې شعر کښې شاعر وائي چه. جیاد بني بکر تسامی . علی کان المسومة العراب غرض دا دې چه کان ناقصه هم راځي تامه هم او زائده هم.

وصار للانتقال او بل دا افعال ناقصه نه صار دې دا راځي د پاره د انتقال د یو صفت نه بل صفت ته یا د یو حقیقة نه بل حقیقة ته لکه صار زید غنیا او د یو حقیقة نه چه انتقال اخلې وي بل حقیقت ته. لکه صار الطین حجرا **واصبح وامسى واضحى** دا درې واړه افعال ناقصه **لاقتران مضمون الجملة باوقاتها** د پاره د نزدیکت د مضمون د جملې د خپلو وقتونو سره لکه اصبح زید عالما یعني په وخت د صبا کښې زید عالم شو امسی زیدا اسیرا زید په وخت د ماښام کښې اسیر شو. اضحی زید عارفا په وخت د ضحٰی کښې زید عارف شو کله چه

و بمعنى صار او په معنی د صار هم راځي په دغه وخت کښې به په دې کښې لحاظ د دغه اوقاتو نه وي لکه اصبح زيد غنيا اي صار زيد غنيا **و تكون تامة** او کله داسې وي چې افعال تامه هم راځي په دغه وخت کښې دوی خبر ته محتاج نه وي لکه اصبح زيد يعنې زيد صبا کړو.

وظل وبات لاقتران مضمون الجملة بوقتيهما د افعال ناقصه نه ظل دوه افعال راځي د پاره د اقتران د مضمون په دې دواړو وختونو پورې. لکه ظل زيد معلما. لکه زيد تول ورځ تعليم وکړو. او بات زيد مصليا. زيد تول شپه په مونځ کښې تيره کړه **و بمعنى صار** او په معنی د صار باندې هم راځي لکه ظل زيدا اميرا يعنې صار زيدا اميرا.

ومازال ومابرح ومافتئ ومانفك لاستمرار خبرها لفاعلها من قبله يعنې دا څلور افعال چې دي دا راځي د پاره د استمرار د خبر د دې افعالو د فاعل د پاره افعالو له چې د کوم وخت نه ئې خبر قبول کړې لکه مازال زيدا اميرا يعنې زيد چې د کوم وخت نه امارت قبول کړې دې د هغه وخت نه زيد امير دې يعنې په زيد کښې د مالدارئ صفت جاري دې او دلته کښې په دې افعالو کښې معنی د نفي ده او ما هم نافيه دې او نفي چې په نفي داخله شي نو اثبات پيدا کوي او استمرار.

ويلزمها النفي او د دې افعالو سره نفي لازم ده بيا به دا ګويا په معنی د کان او ګرځيږي. نو دا ترکيب جائز نه شو چې مازال زيد الا عالما لکه چې څنګه دا ترکيب ته دې جائز چې کان زيد الا عالما او دا لزوم د نفي عام دې لفظا وي که تقديرا لفظا خو معلوم دې او هغه چې دې تقديرا تالله تفتؤ تذکر يوسف يعنې لا تفتؤ الخ **وما دام لتوقيت امر بمدة ثبوت خبرها لفاعلها** بل افعال ناقصه نه مادام دې دا راځي د پاره د دلالت د توقيت د فعل چې تر څو پورې خبر اسم له ثابت وي يعنې مادام لتوقيت امر الخبر بمدة ثبوت خبر مادام لفاعل مادام لکه اجلس مادام زيد جالسا. يعنې تر څو پورې چې زيد ناست وي تر هغه وخته پورې ته کينه دلته کښې د مخاطب د نا سته توقيت تر هغه وخته پورې شو يعنې چې تر څو پورې زيد ناست وي دلته کښې به ما مصدريه شي او مضاف چې زمان دې هغه به ورله مقدر را او باسو نو تقدير به داسې شي اجلس زمان دوام جلوس زيد **ومن ثم** او د وجه د دې خبره نه چې مادام راځي د پاره د توقيت **احتاج الى كلام** دا محتاج دې کلام او جمله ته د پاره د دې چې تعلق ئې ور سره راشي لکه اجلس شو په دې قول کښې اجلس مادمت جالسا او تنها مادمت جالسا نه شي ويلې کيدې **لانه ظرف** ځکه چې دې ظرف دې او ظرف په افاده کښې مستقل نه وي چې تر څو پورې ئې تعلق چا سره نه وي راغلې او بل دا چې ظرف

معمول دے د دوئیارہ عامل پکار دے دلته کښې دا ما ظرف دے یعنی حینیه دے

ولیس لنفی مضمون الجملة حالاً او بل د افعال ناقصه نه لیس دے دے راځی د پاره د نفی د مضمون د جملے په زمانه حال کښې لکه لیس زید قائما یعنی قیام د زید منتفی دے فی الحال دا مضمون د جمهورو نحاتو دے **و قیل مطلقاً** او بعض نحاة وائی چه د مطلق نفی د پاره راځی عام د دے نه چه نفی په زمانه حال کښې وی او که په زمانه ماضی کښې وی او یا استقبالی کښې وی

ویجوز تقدیم اخبارها کلها علی اسماءها او جائز دے تقدیم د خبرونو د افعال ناقصه په اسماء د دے باندې په وخت د علم د مانع کښې او په وخت د عدم د وجوب د مقتضی د تقدیم او د تاخیر کښې دلته کښې جواز نه مراد امکان خاص دے نو اوس سوال وارد نه شو په کم کان عدوك سره او په صار عدوی صدیقی سره او دا تقدیم په دے وجه جائز دے ځکه چه دا افعال دی او دا عوامل قوی دی په مرتب او غیر مرتب کښې عمل کولے شی ۔ خو په تقدیم د خبر د افعال ناقصه کښې وسعت دے ځکه چه خبر کله معرفه وی د افعال ناقصه او ظاهر الاعراب وی نو بیا هم جائز دے تقدیم په خلاف د خبر د مبتداء نه چه په دے صورت کښې جائز نه دے ځکه چه په دے صورت کښې التباس راځی ۔

وهی فی تقدیمها علیها او دا افعال ناقصه په تقدیم د اخبارو د افعال ناقصه کښې په دوی باندې **علی ثلثة اقسام** په دریے قسمه دی **قسم یجوز** یو هغه قسم دے چه جائز دے تقدیم ۔ **وهو من کان الی راح** او هغه د کان نه وا خله تر راح پورے ځکه چه عامل په دے کښې قوی دے او په مقدم مؤخر مرتب غیر مرتب د وارو کښې عمل کولے شی ۔ **وقسم لایجوز** او بل قسم هغه دے چه جائز نه دے تقدیم د خبر په دے افعالو باندې **وهو ما فی اوله ما** دا هغه افعال دی چه په اول د هغې کښې لفظ د ما دے دا په دے وجه چه د دې صدارت د کلام غواړی لوکچرته مونږ خبر د دوی باندې دا خبر مقدم کړو نو بیا به صدارت د کلام فوت شی ۔ **خلافاً لابن کیسان** خلاف ثابت دے ابن کیسان لره د هغه په نزد باندې په دے کښې تاویل کیدے شی لکه مازال شو دا به په معنی د مثبت شی ما زال زید عالما به په تاویل د کان زید عالما سره شی ۔ **فی غیر ما دام** سیوا د ما دام نه ځکه چه په دے کښې تاویل نشی کیدے ۔ **وقسم مختلف فیه** او دریم قسم مختلف فیه دے د سیبویه په نز حکم د دے پشان د حکم د هغه دے چه په سر کښې ئے ما لفظ وی ۔ او هلته کښې خو جائز نه دے تقدیم نو دلته کښې هم جائز او نه گرځید و او د اکثرو بصریانو په نزد باندې جائز دے ځکه چه حکم د دے پشان د کان دے ځکه چه د دے خو صورة ما نه دے ۔ **وهو لیس** چه هغه لیس دے ۔

افعال المقاربة

نده کړه داخبرچه افعال مقاربه داخوا تو دافعال ناقصه نه دی خو دائے مستقل عنوان سره ذکر کړل ددے وجې نه چه ددے بعض احکام خاص دی دافعال ناقصه نه ، یو خو دا دے چه خبر د دے به فعل مضارع وی او تقدیم د خبر د دے جائز نه دے په افعالو باندې.

ماوضع لدنو الخبر رجاءً اوحصولا اواخذا فیه الخ دا هغه افعال دی چه وضع شوی وی د پاره د نزدیکت او د قربت د خبر خپل فاعل له برابره خبره ده چه . دا نزدیکت په اعتبار د رجاء او د امید وی یا په اعتبار د حصول یا داخذ او د شروع فی حبروی دلته کښې په اعتبار د ترکیب سره پروے کښې حذف د مضاف راغلے دے چه دنو رجاء او دنو حصول او دنو اخذ فیه . لهذ لدنو الخبر حصولاً مطلب به داشی چه للدلالة علی قرب حصوله للفاعل.

فالاول عسیٰ پس قسم اول هغه عسیٰ دے الذی لدنو الخبر رجاءً عسیٰ په اعتبار د امید یعنی چه د خبر د نزدیکت د فاعل سره امید وی هغه د پاره عسیٰ راځی . **وهو غیر متصرف** او دا غیر متصرف دے یعنی ددۀ نه گردان د مضارع د فاعل یا د مفعول و غیره نه کیږی د وجه د حمل ددۀ نه په لعل باندې لتضمنها بمعنی الانشاء او هر واحد د دے دوا ړو نه د پاره د طمع او د امید د حصول راځی هم داوجه ده چه دا په محاوره کښې نه استعمالیږی **تقول عسیٰ زید ان یخرج** په دے ترکیب کښې زید فاعل دے او ان یخرج خبر دے چه مصدر دے په ان سره یعنی قارب زید الخروج عسیٰ ان یخرج زیدٌ یعنی قرب خروج زید په دے صورت کښې عسیٰ تامه دے او فعل مضارع په تاویل د مصدر سره دا فاعل دے د پاره د عسیٰ . **وقد یحذف ان الخ** او کله کله ان حذف کیږی د خبر د عسیٰ نه ځکه چه دے مشابهه دے د کاد سره په مقاربت کښې او د کاد خبر بغیر د ان نه جائز دے

والثانی کاد او قسم ثانی کاد دے یعنی ما وضع لقرب حصول الخبر او په دے کښې معنی د یقین ده نه ده لکه کاد زید یخرج . یعنی حصول د خروج د زید یقینی دے. **تقول کاد زید یجیئ وقد تدخل ان** او کله کله داخلیږی ان په خبر د کاد باندې تشبیهاله بعسیٰ.

واذا دخل النفی علی کاد او په هغه وخت کښې چه حرف نفی داخل شی په کاد باندې **فهو کالافعال علی الاصح** نو دا به هم په شان د نورو افعالو وی چه په هغوی باندې حرف نفی داخل وی نو معنی د هغوی د نفی وی نو ددے معنی به هم د

نفي وي (يعني نفي د خبر) او دا اصح مذهب دے يعني چه کله حرف نفي په کاد اؤ د هغے په مشتقاتو باندے داخل شي نو هغه به نفي فائده کوي **وقيل يكون للاثبات** اؤ بعضو نحاتو ويلي دي چه کاد باندے حرف نفي راشي نو هغه به د پاره د اثبات وي مطلقا برابره خبره ده چه ماضي وي که مضارع

| **وقيل يكون في الماضي للاثبات وفي المستقبل كالافعال** | اؤ بعض نحاتو وائي چه حرف نفي په فعل ماضي باندے داخل شي نو اثبات به فائده کوي اؤ چه په فعل مضارع باندے |

داخل شي نو نفي به فائده کوي لکه د نورو افعالو چه کوم نحاتو وائي چه کاد باندے حرف نفي داخل شي نو دے به د پاره د اثبات وي مطلقا د هغوي دليل دا دے چه فذ بحوها وما كادوا يفعلون د هغوي په نزد معنی دا ده چه بقره هغوي حلاله اؤ ذبح کړه اؤ هغوئ د هغے بقرے ذبح ته نزدے وو اؤ که چرته دلته کښ ما په خپله د نفي په معنی واخلو نو تناقض لازميږي خو دے دليل ته جواب دا دے چه دلته کښ هيڅ قسم څه تناقض نشته دے ځکه چه نفي د قرب د فعل د ذبح ممکښن د زمانے د فعل نه وو نو مطلب دا شو چه هغوئ ذبح د بقرے اوکړه اؤ د ذبح نه مخکښن دوئ ذبح ته نزدے نه وو (بيخ د نا فهمانئ نه) نو زمانه جُدا شوه پس تناقض رانغے:

| **تمسكا بقوله تعالیٰ وما كادوا يفعلون وبقول ذي الرمة** | په حال د کوند د دوي کښ چه دوئ دليل نيولے دي په دے قول د باري تعالیٰ باندے وما كادوا يفعلون |

چه دلته کښ نفي داخله ده په ماضي باندے اؤ معنی ئے د اثبات ده ځکه که چرته د نفي معنی اوکړو. نو لازميږي تناقض (د هغے نه ورته جواب اوکړے شو) اؤ په قول د ذوالرمه شاعر باندے.

اذا غير الهجر المحبين لم يكد ۞ رسيس الهوى من حب ميته يبرح.

دلته په دے شعر کښ يكد لفظ دے چه دا کاد مضارع ده د لم د دخول د وجه نه مجزوم کرځيدلے دے لم د پاره د نفي راځي چونکه دا حرف نفي په فعل مضارع داخل دے نو معنی به ئے پښان دلته وه انعا لووي يعني منفي. په دغه صورت کښ معنی د شعر دا ده چه کله هجران اؤ فراق محبت کونکوله متغير کړي نو نه قريب کيږي هغه محبت چه کوم ثابت دے ميته سره زوال په دے صورت کښ په مذهب اصح باندے هم معنی صحيح ده اؤ د دريم مذهب والا باندے هم معنی صحيح ده اؤ که چرته دا تمسک د پاره د دويم مذهب د خاوندانو اوکرځي نو بيا پکښن تخطيه د شاعر راځي يعني معنی دا ثبات موږ ته اوکړو نکه وئيلي شوي چه کله ذي الرمه دا شعر اوئيلو اؤ په صورت د لم يكد کښي چه کله معنی د دے د اثبات وانيستے شي نو دا معنی خو صحيح نه ده نو هغه لم يكد په لم يجد باندے بدل کړو ولے د اصح مذهب په بنا باندے معنی د نفي صحيح ده اؤ که چرته شاعر خپله غلطي تسليم کړيږي نو هغه لره دا نه دے د و پکار.

والثالث اؤ دريم قسم د هغو ما وضع لقرب الاخذ في الخبر **طفق وكرب وجعل واخذ** هغه طفق كرب جعل اؤ اخذ دى. **وهي مثل كاد** اؤ دغه افعال په استعمال كښې پشان د كاد دي يعني هر واحد په دوئ تقاضا د اسم اؤ د خبر كوي اؤ خبر د دے به مضارع وي بغير د ان نه. لكه د طفقا يخصفان من ورق الجنة **واوشك مثل عسى** اؤ دريم قسم نه بلا اوشك دے اؤ دا پشان د عسى دے **وكاد في الاستعمال** اؤ دغه رنګ په شان د كاد دے په استعمال كښې لكه اوشك زيد ان يخرج ، اوشك ان يخرج زيد يا اوشك زيد يخرج په اوشك زيد ان يخرج زيد اسم دے اؤ ان يخرج فعل مضارع سره د آن نه دا خبر شو اوشك ان يخرج زيد دلته كښې ان يخرج فعل مضارع سره د آن نه د مصدر شو او زيد به يا مضاف اليه شي تقدير د عبارت به دا شي اوشك خروج زيد.

فعل التعجب مراد د دے نه دوه فعلين د تعجب دى چه يو ما افعله اؤ بل افعل به دى تعجب د ظهر شي طاري كيدل د يو كيفيت دى په نفس باندے په وخت د ليدو د امر غريب كښې په اصطلاح د نحاتو كښې تعريف ئے دا دے چه ما وضع لانشاء التعجب چه لانشاء التعجب ئے اوفرمائيل نو په دے سره ترې تعجب يا عجبت اوو تل څكه چه دا د پاره د انشاء نه دى بلكه د پاره د اخبار د تعجب دى دلته كښې د متن نسخے مختلفے دى بعضو كښې فعل التعجب بعضو كښې افعال التعجب اؤ په بعضو كښې فعلا التعجب. تطبيق ئے دا دے چه افراد د فعل په نظر سره جنس ته اؤ جمعية په اعتبار د كثرت د افراد و سره او تثنية په اعتبار سره حقيقت اؤ نوعيت ته دے ليكن په دے ټولو صورتونو كښې تعريف د جنس دے چه مفهوم د دے د تثنيه اؤ جمع نه ما عبارت د دے د فعل نه نه د اسم نه لكه بعض نحاتو چه وائي. **وله صيغتان** اؤ د تعجب د پاره دوه صيغے دى **ما افعله وافعل به** په دے سوال وارديږي چه ما افعله يا افعل به خو جملے دى فعلين نه دى **جواب** دا دے چه دلته كښې اصل عبارت دا دے چه الفعل الواقع في تركيب ما افعله وا فعل به. **وهما غير متصرفين** او ما د دا پاره د فعله غير متصرف دى . يعني د دوئ نه مضارع امر نهي نه راځي اؤ نه تثنيه يا جمع كيږي ځكه چه دا مشابه د ى د حرف سره. **مثل ما احسن زيدا واحسن بزيد** دا مثالونه د دواړو صيغو دى. **ولا يبنيان الا مما يبنى منه افعل التفضيل** اؤ نه جوړيږي دا صيغے د تعجب مګر د هغه نه چه کوم نه صيغه د اسم تفضيل جوړيږي اؤ هغه ثلاثي مجرد دى. چه لون اؤ عيب نه نه دى. اؤ دا په دے وجه چه اسم تفضيل اؤ تعجب د واړه د پاره د مبالغے اؤ د تاكيد راځي. اؤ په افعل التفضيل كښې شرط دا دے چه دا فعل به قابل د پاره د زياتي اؤ د نقصان وي. نو دا شرط به

صیغه د تعجب کښې هم دے. او دغه شان د دے بناء هم د پاره د اسم فاعل ده ځکه چه څنګه په تفضیل کښې بناء د پاره د فاعل ده. سوال دا راځی چه ستا دا قاعده منقوضه شوه په ما اشتهی الطعام او ما امقت الکذب. ځکه چه دا فعل تعجب دے. لیکن په معنی د مفعول بانددے. نه په معنی د فاعل جواب دادے چه دا شاذ دے. او د شاذ د پاره اعتبار نشته. سوال دادے چه د کوم یو شی نه صیغه د تعجب ممتنع وی. نو په هغے کښې به بیا د تعجب اظهار څنګه کیږی. نو مصنف جواب اوکړو **ویتوصل فی الممتنع بمثل ما اشد استخراجه الخ** یعنی مثلا یو صیغه وه چه د هغے نه فعل تعجب ممتنع دے مثل استخراج چه دا باب استفعال دے. نو دلته کښې به د شدة مصدر نه صیغه د تعجب جوړه کړو چه ما اشد یا اشد د به باستخراج. دغه شان د لون او د عیب نه هم. لکه ما اکثر حمرته وما اقبح عوره یا اکثر بحمرته و اقبح بعوره. مصدر د فعل ممتنع به په اول صورت کښې مفعول وی او په ثانی کښې مجرور. **ولا یتصرف فیهما بتقدیم وتاخیر**. او تصرف به په کښې نه کیږی په تقدیم یا په تاخیر سره. ځکه چه هر کله دا منتقل شو صیغے د تعجب نه نو دا جاری شو په مجری د امثالو او امثالو کښې تغییر نه کیږی بقدر الامکان. نو اوس ما احسن زیداً کښې ما زیداً احسن نشی وئیلے کیدے او دغه شان احسن بزید کښې بزید احسن نشی وئیلے. او دلته کښې ذکر د تاخیر د پاره د تاکید دے. نه د پاره د تاسیس. **ولا فصل** د فعل تعجب او د معمول په مابین کښې به فصل هم نه راځی. نو دا نشی وئیلے کیدے چه ما احسن الیوم زیداً یا احسن امس بزید. البته په کان زائده سره فصل جائز دے لکه ما کان احسن زیداً. **واجاز المازنی الفصل بالظروف**. او مازنی نحوی جائز کړے دے فصل په ظروفو سره. ځکه چه بناء د ظروفو په توسع سره ده جائز دی په دے کښې هغه چه په نورو کښې جائز نه وی.. نو ما احسن فی الدار زیداً او احسن الیوم بزید د هغه په نزد بانددے جائز دی.

وما ابتداء نکرة عند سیبویه په دے عبارت سره د دے ترکیب ته مصنف اشاره کوی. چه لفظ د ما په ما احسن زیداً مثلا کښې د پاره د ابتداء دے. او نکره دے په معنی د شی بانددے. **وما بعدها الخبر** او د دے نه ما بعد چه کومه جمله ده دا خبر دے. نو دا سے به شی چه شی احسن زیداً. **وموصولة عند الاخفش والخبر محذوف** او د اخفش په نز باندے دا ما موصوله دے. او خبر ئے محذوف دے. تقدیر به دا سے شی. الذی احسن زیداً شیء الذی موصول احسن زیداً جمله فعلیه صله موصول سره د صلے نه په محل د رفع کښې مبتدا او خبر ئے محذوف دے چه شیء دے. دا به په شان د شر اهر ذا ناب او ګرځی. او په نز د بعض بانددے ما استفهامیه دے. او ما بعد د دے نه خبر دے. یعنی ای شیء احسن زیداً.

وبه فاعل عند سیبویه دا د فعل تعجب د دویم صیغې د ترکیب بیان دے. نو فرمائی چه وبه فاعل عند سیبویه بآ زائده ده او ضمیر فاعل دے د پاره د احسن **فلا ضمیر فی افعل**. بیا په دغه صورت په افعل کښې به ضمیر مستتر نه منو یعنی په احسن کښې. **ومفعول عند الاخفش** او د اخفش په نزد باندې مفعول دے دا ضمیر. **والباء للتعدیة** او باء د پاره د تعدیې راغلے ده بیا په دغه صورت کښې دا همزه به یکښې د پاره د صیرورت شی نه د پاره د تعدیه. لو د احسن به مطلب دا شو چه صیّره ذا حسن **او زائدة** او یا به دا بآ زائده شی. لکه ولا تلقوا بایدکم الی التهلکة **ففیه ضمیر** بیا په دغه صورت کښې په احسن کښې به ضمیر مستتر وی هغه به نے فاعل وی لکه احسن انت بزید.

افعال المدح والذم

دا هغه افعال دی چه په اصطلاح د نحاتو کښې د پاره د مدح او د ذم استعمال کیږی. او دا معنی پرې ځکه او کړه. چه مدحت یا ذممت افعال ترینه خارج شی. ځکه چه دوی ته په اصطلاح د نحاتو کښې افعال مدح یا ذم نشی ویلے کیدے. **ما وضع لانشاء مدح او ذم** دا هغه افعال دی چه وضع کیږی مے لره نحاتو د پاره د انشاء د مدح او د ذم. نو مدحت یا ذممت شرف کرم قبح او دغسے نور په کښې داخل نه شو. ځکه چه معنیٰ د پاره د انشاء د مدح او ذم نه دی بلکه د پاره د اخبار دی.

فمنها نعم و بئس پس بعض د افعال مدح نه نعم دے. او د افعال ذم نه بئس دے سوال دا دے چه دا دوه دی شمیرل په افعالو کښې نه دی صحیح ځکه چه په افعالو کښې دا وزن نشته جواب دا دے چه دا په اصل کښې د فعل په وزن دے بیا کسره د عین منتقله کړے شوه فاء ته. په دے کښې بعض نور لغات هم شته دے. خو غیر مشهور دی. بعض نحاة وائی. چه دا فعلین نه دی بلکه اسمین دی. او د هغوی مستدل دا دے چه یا حرف ندا په دوی باندې داخلیږی لکه یا نعم المولیٰ. جواب دا دے چه دلته کښې منادی اسم دے او هغه محذوف دے چه یا الله نعم المولیٰ. خو دا د مذهب والو مخالفانو سوال واردیږی چه کله ترد اسم شی نو دے په دے الحاق د تا تانیث ساکنه د لے کیږی لکه فنعما ونعمت دا علامه د دوی د فعلیت ده. **وشرطهما ان یکون الفاعل معرفا باللام** او شرط د دے افعالو د تا ثیر د پاره دا دے. چه فاعل د دوی به معرف باللام وی او دا الف لام به الف لام عهد ذهنی وی.

ځکه چه مقصود په دے سره مدح او ذم صفه دی چه هغه معهود دی په ذهن کښې. نو الف لام هم ذهني يکاردی چه مطابقت راشی د ملفوظ د مقصود سره لکه نعم الرجل زيد **او مضافا الى المعرف بها** او يا چه مضاف وی معرف باللام ته برابره خبره ده چه دا اضافت بالواسطه وی که بلا واسطه. د بلا واسطه مثال لکه نعم صاحب الرجل او حبه با لواسطه وی لکه نعم فرس غلام الرجل او نعم وجه فرس غلام الرجل **او مضمرا مميزا بنكرة منصوبة** او دا فاعل به يا مضمر وی او تميز به ئے دا ظاهر وی په نکره سره چه صفه منصوبه وی. لکه نعم رجلا زيد. يعني نعم الرجل رجل زيد. **او بما** او يا به ئے تميز لفظ وی په ما سره. خلاصه دا شوه چه فاعل د دے به به يو د درے طريقو سره وی يا به معرف باللام وی. يا به مضاف وی معرف باللام ته او يا به ضمير وی خو دا ضمير به مبهم وی نو تميز به ئے خالي نه وی. يا به نکره منصوبه وی او يا به ما وی. **مثل فنعما هي** دلته دا په اصل کښې نعم ما هي وو. بيا ميم په ميم کښې مدغم کړے شو. دلته کښې ما نکره ده په معنی د شئ موضع د دے د نصب د دے بناء په تميز نعم الشئ شيئا هي. **وبعد ذالك المخصوص** او پس د دے نه مخصوص بالمدح يا مخصوص بالذم وی. د پاره د بيان د فاعل. دلته کښې د بعد يت نه مراد بعديت مخصوصه دے. د پاره د دے چه سوال وارد نه شي چه مخصوص ځکه مقدم کيږی په فعل باندے. او په دے خبره باندے صاحب د مفتاح تصريح کړيده **وهو مبتداء وما قبله خبره** او دا به مبتداء وی. او ما قبل به د دے نه خبر وی. سوال دا دے چه جمله کله خبر واقع شی نو په هغے کښې لابدی ده د عائد نه. او دلته کښې خو ضمير نشته. **جواب** ما دے چه الف لام د [illegible] کښې قائم مقام د عائد دے. په دے عبارت سره مصنف اعراب د مخصوص ذکر کړی. **او خبر مبتداء محذوف** او يا خبر دے د پاره د مبتداء محذوف. **مثل نعم الرجل زيد**. معنه په دے شان سره چه کله او وئيلے شی چه نعم الرجل. نو سائل گويا سوال اوکړو چه من هو په جواب کښې او وئيلے شو چه زيد. يعني هو زيد. نعم الرجل زيد يو جمله ده او بنا په دے دويمه توجيه دا دوه جملے دی. **وشرطه مطابقة الفاعل** او شرط د مخصوص بالمدح او يا مخصوص بالذم مطابقت د فاعل سره په جنس يا په افراد د تثنية جمع او په تذکير د تانيث کښې لکه نعم الرجل زيد يا نعم الرجلان الزيدان نعم الرجال الزيدون. نعمت المرءة هند او دا مطابقت ځکه ضروری دے ځکه چه دا عبارت دے د فاعل نه معنی. **وبئس مثل القوم الذين كذبوا و شبهه متاول** په دے عبارت سره مصنف دفع د اعتراض کوی. او منشاء د اعتراض هغه دا عکس کليه ده چه ده او وئيل و شرطه مطابقة الفاعل. د سوال توضيح دا ده. چه تا خو مکښې اووئيل چه مطابقت شرط دے په مابين د مخصوص او د فاعل کښې. او دلته کښې ستا دا قاعده منقوضه شو. په دے ترکيب کښې چه بئس مثل القوم الذين كذبوا

په دے شان چه مخصوص الذين كذبوا جمع دے او فاعل مفرد دے چه مثل القوم دے. نو مصنف **جواب** اوکړو چه دا ترکیب یا د دے په شان نور ترکیبونه دا متأول دے او تاویل په دے طریقه سره چه دلته کښې مضاف مقدر دے. چه بئس مثل القوم مثل الذين كذبوا. دالذين نه مخکښې بل مثل مقدر کړے شو. او یا دا چه الذين صفت د پاره د قوم دے او تقدیر د عبارت به داسې شي. بئس مثل القوم الكذبين مثلهم. **وقد يحذف المخصوص** او کله کله مخصوص په وخت د قرینے کښې حذف کیږي. په دے عبارت سره مصنف دفع د اعتراض کوي **سوال** دا دے چه نعم العبد یا فنعم الماهدون دلته کښې مخصوص نشته حالانکه په دا قسم افعالو کښې مخصوص بکار او ضروري دے. نو مصنف **جواب** اوکړو چه وقد يحذف المخصوص. چه په وخت د موجود د قرینے کښې حذف د مخصوص جائز دے. او دلته کښې هم قرینه موجود دے دي. نعم العبد ايوب او قرینه دلته کښې سیاق د آیت دے او په فنعم الماهدون کښې مخصوص هم دے. او قرینه د دے باندې صدر د آیت دے او هغه والارض فرشناها.

وساء مثل بئس او دا فعل ذم نه ساء دے. دا په تولو احکامو او شرائطو کښې په شان د بئس دے دلته کښې مصنف د ساء تشبیه د بئس سره ورکړه. او مثل بئس سره ئے ذکر نه کړو. ځکه چه ساء غالب الاستعمال دے په اخبار کښې. **ومنها حبذا** او بعض د افعال مدح نه حبذا دے. **وفاعله ذا** او فاعل د دے فعل چه حب دے هغه ذا دے. **ولا يتغير** او په دے کښې څه تغیر نه راځي. یعنی نه به تثنیه کیږي نه جمع کیږي شي. او نه مونث کیږے شي. لکه حبذا الزيدان. حبذا الزيدون. حبذا هند. ځکه چه دا اس جاري شویدے په مجرئ د امثالو او په امثالو کښې تغیر نه کیږي بقدر الامکان. دلته په حبذا کښې فعل مدح هغه حب دے. **سوال** دا دے چه مصنف ولے حبذا مستقل ذکر کړو او حبذا ئے رالوړو د نعم او د بئس نه **جواب** دا دے چه د دے څه خپل خاص احکام دي. **وبعده المخصوص** او روستو به د دے نه مخصوص بالمدح وي د پاره د بیان او د تفسیر. او جائز دے دا ترکیب چه حبذا الرجل زيد. حب فعل ماضي ذا فاعل الرجل صفت د پاره د ذا او زيد مخصوص بالمدح.

واعرابه كاعراب مخصوص نعم او اعراب د مخصوص بعد حبذا په شان د اعراب د مخصوص د نعم سره دے. چه څنګه د دے دوه وجهین په اعراب د مخصوص د نعم کښې جائز سے دي. نو دغه رنګه به مخصوص د حبذا کښې هم جائز دے دي. او بعضو ته دغه ویلي دي. چه مخصوص بعد حبذا هغه معطوف بیان دے او بعض ویلي دي. چه ذا زائده دے. او فاعل مخصوص بالمدح دے. **ويجوز ان يقع قبل المخصوص او بعده تميز او حال على وفق مخصوصه**. او جائز دے دا خبره چه واقع شي مخکښې د مخصوص بالمدح او یا روستو د مخصوص بالمدح نه تمیز او یا حال چه هغه به وفق وي د مخصوص بالمدح

سوال: حبذا زید رجلاً یا حبذا رجلاً زید لکه کښې تانیث یا تذکیر او په جمعیت په تثنیه په افراد په باب سره دا دے چه تا او وئیل د یجوز الخ نو یجوز به خالی مبرد و یجیب وئیلی وو. لکه په نعم کښې چه کله فاعل د مضمر وی **جواب** دا دے چه فاعل کله ملفوظ وی مخه ترمیز حاصل دے په مخه باندې چه غیرملفوظ وی. مثال مخه چه حال واقع شوی تمکین دذکر د مخصوص نه چه موافق وی د مخه سره. لکه حبذا راکباً زید او چه روستو راغلی وی. لکه حبذا زید راکباً او حال یا تمیز داخل معمول وی نو عامل د دوئی د پاره حب دے په حبذا کښې او ذوالحال په دے ترکیبونو کښې ذا دے. نو زید نو دے بلکه زید مخصوص بالمدح دے. او مخصوص بالمدح راځی پس د اتمام د مدح نه لفظاً یا تقدیراً. او علت کښې موا فقت پکار دے. په دواړو کښې ځکه چه مصداق د دواړو یو دے **سوال** دا دے چه دلته کښې معمه وله وضع د مظهر په ځائے د مضمر او کړله بلکه وئیلی بہ ئے وو. چه علی وفق. **جواب** دا دے چه دلته کښې معمه وضع د اسم ظاهر او کړه د پاره د منع د توضیح د پاره چه متوهم نوم او نه کړی د رجوع د دے ضمیر غیرمخصوص ته.

زندگی در گردنم افتاد بیدل چاره نیست شاید باید زیستن ناشاد باید زیستن (بیدل)	نه حُسنش غایتے دارد نه سعدی را سخن پایاں بمیرد تشنه مستسقی و دریا ہمچناں باقی (شیخ سعدیؒ)
اے فاختۂ پرواز کناں بر سر کوہے دردِ دلِ مرغانِ گرفتار چہ دانی	اتفاق بلبل و گل بارہا خواہد شدن درمیانِ ما شما و سیرِ بوستاں یا نصیب

الحرف

هر کله چه مصنف" فارغ شو د بیان د قسم ثاني د کلمې نه چه هغه فعل دے نو شروع ئے اوکړه په قسم ثالث کښې چه هغه حرف دے پس اوئے وئیل چه الحرف، حرف په لغت کښې طرف ته وائي او اصطلاحي تعریف ئے بغیر باندے مصنف" کړیدے چه

الحرف ما دل علی معنی فی غیره | یعني حرف دا هغه کلمه ده چه دلالت کوي په معنی باندے معنی چه حاصله وي یعني متعلقه او متصوره وي

په نسبت سره غیر ته او مستقله بالمفهومیة نه وي دلته کښې دا کله د ما عبارة دے د کلمې نه ځکه چه کلمه مقسم ده او په هر قسم کښې خپل مقسم ملحوظ وي. او د دے ستر چه فعل مذکور او ونه شریدے دا په اعتبار د تعبیر سره دے سوال دا دے چه حروف هر کله دلالت نه کوي بغیر معنی باندے نو ځنګه به دلالت کوي علی معنی فی غیره او بله خبره دا ده چه هر کله حرف دال او ګرځیدو په هغه معنی باندے چه هغه ثابته ده په غیر کښې نو دا خود ده معنی نه شره بلکه د غیر شره. جواب دا دے چه دلته کښې عبارة کښې تقدیر دے د لته کښې متعلق حذف دے او یا به داني په معنی د با اوګرځو او یا به باء سببیه شي. نو معنی به دا شي چه علی معنی متعلقه بسبب غیره. سوال وارديږي چه تعریف د حرف ستا مانع او نه ګرځیده د دخول د غیر نه او داخل شو پکښې اسماء متضایفه چه په هغې کښې تعقل د هر واحد موقوف دے په آخر باندے لکه ابوة او بنوة شو ځکه چه معنی د ابوة نه متصور کيږي مګر پس د تصور د بنوة نه سره د دے نه دے تحرف نشي وئیلے. جواب دا دے چه مراد په تعقل سره عدم استقلال بالمفهومیة دے او اسماء متضایفه دا مستقل بالمفهومیة دي بیا سوال وارديږي چه ستا دا تعریف د حرف مانع او نه ګرځیدو د دخول د غیر نه او داخل شو پکښې فعل ځکه چه فعل په اعتبار د معنی مطابقي سره دلالت کوي په هغه معنی باندے چه ثابته وي په غیر کښې اګرکه دلالت کوي په اعتبار د معنی تضمني سره په معنی خپله باندے. جواب دا دے چه قید د فقط ملحوظ دے په معنی د حرف کښې او د دغه شان سوال نه وارديږي په هغه اسماء سره چه هغه متضمن دي معنی د شرط لره یا معنی د استفهام لره چه هغوئ دلالت کوي په اعتبار د معنی مطابقي

سره علی معنی فی غیره او په اعتبار د معنی تضمنی سره دلالت کوی علی معنی فی نفسه چه هر کلمه موجوده قید د فقط اولګولو په معنی د معنی د حرف کښی نو دا اعتراض وارد نه شو ځکه چه فعل او دغه اسماء اګرکه دلالت کوی علی معنی فی غیرها دغه رنګه دلالت کوی علی معنی فی نفسها۔

ومن ثم احتاج فی جزئیته للکلام الی اسم وفعل او دوجے د دے خبرے نه چه حرف دلالت کوی علی معنی فی غیره په جزئیة دکلام کښی دے محتاج دے اسم ته او یا فعل ته برابره خبره ده چه رکن وی او که غیر رکن وی۔ چه رکن وی لکه زید فی الدار او چه غیر رکن وی لکه سرت من البصرة الی الکوفة

فائده:۔ حروف په (۲۲) دوویشت قسمه دی ځکه چه دا حروف به خالی نه وی یا به عامل وی یا به غیر عامل وی که عامله وی بیا به خالی نه وی یا به عامله وی په فعل کښی یا په اسم کښی کچرته عامل وی په فعل کښی بیا به خالی نه وی یا به ناصب وی فعل لره یا به جازم وی کچرته ناصب وی نو دا په څلور قسمه دی لکه شاعر وائی أن ولن الخ او که جازم وی نو هغه پنځه دی لکه ان اولم لما او لام امر او لا د نهی۔

او که عامل وی په اسم کښی نو بیا به خالی نه وی یا به په یو اسم کښی عمل کوی او یا په اسمین کښی۔ که عامل وی په اسم کښی نو بیا به خالی نه وی یا به ناصب وی اسم لره او یا به جاره وی اسم لره که ناصب وی نو هغه شپږ دی۔ لکه په دے شعر د شاعر کښی، واو یا و همزه والا ایا وای هیا۔ ناصب اسم اند الخ او که جاره وی نو هغه اوولس حروف دی نوع اول هغه الخ په اشعارو کښی مخکښی ذکر شوی دی او هرچه دی هغه حروف چه هغه عامل وی اسمین لره، نو هغه به خالی نه وی یا به رافع وی اول لره او ناصب به وی ثانی لره او یا به عکس وی۔ اول ما او لا مشبهتین بلیس او دویم یا به په موجب کښی وی یا غیر موجب کښی که اول وو نو هغه حروف مشبهه بالفعل دی۔ لکه ان باان کان الخ او دویم لا التی لنفی الجنس۔

او هرچه دی حروفِ غیر عامله نو هغه پنځلس دی او وجه د حصر ئے دا ده۔ چه دا حروف به یا د دواخلو د فعل نه وی فقط یا د د واخلو د اسم نه به وی فقط او یا به غیر مختص وی په چا پورے۔ که اول وی نو بیا به خالی نه وی یا به محل د ورود د دے اول د فعل وی یا آخر د فعل که اول د فعل وی نو بیا به خالی نه وی یا به د تحقیق د فعل د پاره وی یا به د تعلیق د پاره وی او یا به د تحضیض د پاره وی که اول وی هغه نه حرف توقع وائی لکه قد که دویم وی هغه ته حروفِ شرط وائی هغه اِن، لو او اما دی دریم حروفِ تحضیض لکه هلا، لولا، اَلا او لوما او کچرته محل د ورود د هغه آخر د فعل وی بیا به خالی نه وی یا به د پاره د تانیث وی او یا د

پاره د تاکید که اول وو نو هغه تاء تانیث او که ثاني وو نو هغه نون تاکید ثقیله یا خفیفه او کرځیدله د داخل د اسم نه وي فقط نو هغه تنوین دے سره د ټولو اقسامو نه سیوا د تنوین ترنم نه او کرځیدلے مختص نه وي په څلورمے نو بیا به خالي نه وي یا به په سقوط دده سره نقصان په معنی کښې نه راځي یا به راځي که نه راځي نو هغے ته حروف زیادة وائي لکه إن أن ما لا من باء لام او کرځیدله د هغے په سقوط سره نقصان په معنی کښې راځي نو هغه به خالي نه وي یا دا حروف دال وي په اشتراک د ما بعد د ماقبل سره یا به نه وي که اول وو نو حروف عاطفه لکه شاعر وائي واو فاء وثم الخ که نه وي نو بیا به خالي نه وي یا به د پاره د الفاظ د مخاطب وي او یا به د پاره د زجر د مخاطب وي یا د پاره د شک د متکلم وي او یا د پاره د ایجاب د ماقبل وي. یا به د پاره د تعیین د مبهم وي او یا به د پاره د تاویل د مرکب وي په مفرد سره که اول وو نو حروف تنبیه چه هغه ها الا او اما دي. دویم حروف الردع چه کلا دے فقط دریم حرفین د استفهام چه هغه همزه او هل دي. څلورم حروف الایجاب چه هغه نعم بلی، أی، أجل، جیر او ان که پنځم وي نو حروف تفسیر لکه أی او أن. که شپږم وي نو حروف مصدر چه هغه ما او أن دي.

| حروف الجر ماوضع للافضاء بالفعل |

هر کله چه مصنف فارغ شو د تعریف د حرف نه نو شروع ئے او کړه په اقسامو د هغه کښې. عامل د اسم اته انواع دي. حروف جر، حروف مشبهه بالفعل، ما او لا مشبهتین بلیس، لا لنفي الجنس، او حروف النداء، الا استثنائیه او واو په معنی د مع سره. او د لته کښې مصنف ذکر نه کړو ما او لا چه مشبهتین دي په لیس پورے او نه لا لنفي الجنس او نه واو په معنی د مع سره او نه الا ځکه چه ددوئ ذکر مخکښې تیر شویدے او عامل د فعل په دوه قسمه دے. یو جازمه دي او بل ناصبه دي. او مصنف ددوئ ذکر هم د لته کښې او نه کړو ځکه چه ددوئ بحث په فعل کښې تیر شویدے. او د لته کښې حروف جاره ئے مقدم کړو په نورو حروفو باندې ځکه چه داکثیر دي او العزة للتکاثر. او بل د دوئ استعمال هم ډیر دے او بیا مصنف تعریف د بعض حروفو او کړو او د بعضو ئے او نکړو. لکه حروف جاره شو ددوئ تعریف مصنف او کړو ځکه چه په دے ټولو حروفو جاره کښې یو مفهوم مشترک وو. دغه شان د تنوینے هم تعریف او کړو ځکه چه ددوئ د پاره هم یو مفهوم مشترک وو. د دے نه علاوه د بعضو حروفو د پاره اصلا مفهوم نه وو. لکه حروف مشبهه بالفعل او د بعضو د پاره مفهوم اصطلاحي نه وو

بلکه مفهوم د هغې معنی لغوی لکه حروف ردع یا حروف تحضیض.

دا حروفِ جاره داهغه حروف دی چه وضع شوې دې هر واحد د دې نه د پاره د ایصال د معنی د فعل یاد معنیٔ د فعل یاد شبه فعل.

الی مایلیه مدخول خپل ته سوال وارد یږی چه هیڅ یو فرد دا فرادو د حروف جاره نه موضوع نه دے د پاره د وصول نو څنګه وائے چه للافضاء جواب دا دے چه انضاء په معنی د وصول دے خو چه هر کله تعدیه د دے راغله په با سره نو معنی د دے ایصال شوه. او مطلب دا لیصال د فعل اسم ته تعلق د معنی د فعل دے په اسم پورے لکه به مررت بزید کښې تعلق د مرور په زید پورے او علامه د ایصال تعدیه د فعل د ده اسم ته. بیا به مجرور مفعول د فعل او ګرځی نو دا به منصوب وی محلاً او فائده به ئے دا راوځی چه په جار او په مجرور باندِ عطف په نصب سره جائز دے لکه په مارجلکم کښې او معنی د فعل نه مراد دا دے چه هر هغه شے چه هغهٔ نه فعل مستنبط دے. لکه اسم فاعل چه اووائے انا مارٌ بزید، یا اسم مفعول لکه او وئیلے شی انا ممرور بزیدٍ. یا صفت مشبه لکه زید شریف بالعلم یا مصدر لکه قرآن پاک کښې راغلی دی وانّا علی ذَهَابٍ بِهِ لَقَادِرُوْنَ. یا ظرف شو او یا جار مجرور لکه ته اووائے نه یدٔعندك لاكرامك یا زید فی دارك لاكرامك او د غه شان "یا" حرف ندا چه تا تمقام د ده دا ادعو لکه یا لزید او ها چه د پاره د تنبیه د ه او اسم اشاره - الی مایلیه برابره خبره ده چه دا مدخول د حروف جاره اسم صریح وی که تاویلی وی. د صریح مثالونه خو د مه چه ذکر شو. او د تاویلی مثال لکه وضاقت علیهم الارض بما رحبت یعنی برحبها. ځکه چه دلته کښې د "ما" مصدریه دے دے هم وفرته چه څنګه حروفِ جاره والیٰ نو د غه شان دیته حروفِ اضافه هم وئیلے شی لانها تضیف الفعل او معناه الی الاسم.

وهی من الخ او هغه ما اتلسَّ حروف دی په ظاهر کښې دا اوګس دی ولے وا وید د کره قسمه دے یو واو په معنی د رُب او بل په معنی د قسم سره او دا تعل حروف په دے شعر کښې شاعر او ناظم راجمع کړیدی.

باؤ تاؤ کاف ولام وواو منذ مذ خلا
رب حاشا من عدا فی عن علی حتیّ الیٰ

دلته کښې ما تن خلا عدا حاشا دا مؤخر راوړی دی ځکه چه په دے کښې جهت د حرفیة

او فعلیة دوا یو دے۔
د احروف جاره په اعتبار د ذات سره په درے قسمه دی. یو هغه چه مختص بالحرفیة وی هغه داولنی لس حروف دی. دویم مشترک دی په حرفیة او په اسمیة کښی. او هغه دلسونه وروستو دا پنځه دی۔ او دریم مشترک دی په ما بین د حرفیة او فعلیة کښی هغه دادرے اخیرنی دی

فمن للابتداء هر کله چه مصنف اجمالا تول حروف جاره ذکر کړل نو اوس ئے د هغے په تفصیل کښی شروع اوکړه او وے فرمائیل چه فمن للابتداء سره شروع ئے اوکړه د من نه حُکه چه داراځی د پاره د ابتداء. نو ابتداء په دے سره اولے شوه۔ للابتداء کښی الف لام بدل د مضاف الیه نه راغلی دی. یعنی لابتداء الغایة۔ دلته کښی سوال راځی چه اضافت د ابتداء غایه ته لانه صحیح کېږی. ځکه چه ابتداء عبارة دے د اول الشئ نه او غایة عبارة دے آخرالشئ نه او د دواړو په مابین کښی تضاد دے. جواب دادے چه مراد په غایة سره مسافة دے یا مراد په غایه سره فعل دے او په فعل باندے اطلاق د غایے اوشوځکه چه غایه غرض او مقصود ته وائی او فعل هم غرض د فاعل دے او علامه ئے دا ده چه د دے په مقابله کښی به الیٰ راځی چه هغه د پاره د انتهاء د غایے دے. یا به هغه شے راځی چه هغه فائده د الیٰ ورکوی لکه اعوذ بالله من الشیطٰن الرجیم. دلته کښی اعوذ په معنی د افرّ او یا په معنی د الیٰ. یعنی افر من الشیطٰن الرجیم الی الله۔

والتبیین او من راځی د پاره د بیان یعنی مدخول د دهٔ به بیان وی د پاره د امر مبهم چه کوم مخکښی د من نه دے او علامه ئے دا ده چه کچرته کښی من حذف شی نو د هغه په ځائے باندے راوړل د الذی صحیح وی لکه په دے قول د باری تعالیٰ کښی چه فاجتنبوا الرجس من الاوثان ای الذی هو الوثن۔

والتبعیض او د هغه شان من راځی د پاره د تبعیض. یعنی بعض مدخول د من هغه مفعول د فعل دے لکه اخذت من الدراهم او علامه ئے دا ده چه په ځائے د من باندے بعض راوړلے شی۔ وزائدة دلته کښی زائدة دا مرفوع دے او په ابتداء باندے عطف نه دے. د زیادة مطلب دادے چه په سقوط د دے سره فرق او نقصان په معنیٰ کښی نه راځی او دا زیادت د دهٔ به په کلام غیر موجب کښی وی

په نز د بصریانو بانذ کلام موجب دېنه والی چه په هغې کښې نفی، نهی او استفهام نه وی الی غیرموجب دېته وائی چه په هغې کښې نفی نهی یا استفهام وی لکه ما جاء نی من احد، هل جاء نی من احد او لا تضرب من احد. دا ټول تر کیبونه کلام غیرموجب دی. او من پکښې زائده دے.

خلافا للکوفیین والاخفش خلاف ثابت دے د کوفیانو او اخفش له چه مفرد والی چه من څنګه په کلام غیرموجب کښې زائده راځی نو په کلام موجب کښې هم راځی. **وقد کان من مطر وشبهه متاول** په دے عبارت سره مصنف جواب کوی د کوفیانو د استدلال نه چه هغوی وائی چه تا سو څنګه قول کوئ چه من زائده راځی په کلام غیر موجب کښې او په کلام موجب کښې نه راځی حالانکه دا ترکیب چه قد کان من مطر دا کلام موجب دے او من پکښې زائده دے یاد دے په شان نور ترکیبونه چه کلام موجب وی او من پکښې زائده وی لکه په دے قول د باری تعالی کښې... یغفرلکم من ذنوبکم. مصنف جواب اوکړو چه متاول یعنی دا ترکیبونه ماولدی دا من یا تبعیضیه دے لکه په آیت کریمه کښې او یا د پاره د تبیین دے لکه په قد کان من مطر کښې. قد کان من مطر یعنی وجد شئ من مطر، یا من مطر کښې من تبعیضیه دے. او یا دا په موافقه د سوال د سائل کښې راغلے دے چه سائل اووئیل هل کان من مطر نو مجیب ورته جواب کښې اووئیل چه قد کان من مطر.

والی للانتهاء او الی راځی د پاره د انتهاء د غایت دلته کښې هم الف لام بدل د مضاف الیه نه راغلے دے. یعنی الی لانتهاء الغایة. په دے باندے سوال راځی چه دلته کښې لازمیږی اضافة د شئ خپل نفس ته. جواب هم هغه حسب سابق دے او دا ګرځوی مدخول خپل لره منتهی الیه مکان وی که زمان وی د پاره د فعل سابق داول مثال لکه سرت من البصرة الی الکوفة. او د دویم مثال لکه ثم اتموا الصیام الی اللیل او علامه ئے دا ده چه د دے په مقابله کښې به من ابتدائیه ذکر کیږی. وبمعنی مع قلیلا او په معنی د مع هم راځی. ولے استعمال ئے قلیل دے یا په زمانه قلیله کښې لکه په دے قول د باری تعالی کښې ولا تاکلوا اموالهم الی اموالکم یعنی مضموما مع اموالکم. یا لکه من انصاری الی الله یعنی من انصاری مع الله **وحتی کذلک** او حتی هم په شان د الی دے په کیدلو د دے کښې د پاره د انتهاء د غایے.

وبمعنی مع کثیرا | او دلته کښې لے اکتفا او نکره په حرف تشبیهه باندې دپاره د فرق په مابین د دوئ دواړو کښې یعنی حکم د ما بعد د ځ په حکم د ما قبل کښې دے لکه اکلت السمکة حتی رأسها یعنی مع رأسها۔

وتختص بالظاهر | او خاص دے دا حتی په اسم ظاهر پورے. په دے عبارة سره معه دوئ دواړو په مابین کښې بل فرق بیانوی. دلته کښې الظاهر دا صفت دے او د هر یو صفت دپاره لا بدی ده د موصوف نه نو دے دپاره موصوف الاسم دے. حتی خاص دے د دخول د ده نه په اسم باندے پدے وجه چه التباس رانه شی د ضمیر مجرور د منصوب سره ځکه چه د ده نه روستو ضمیر مجرور هم راتلے شی او منصوب هم ځکه چه حتی مشترک دے په مابین د جاره کښې او عاطفه کښې.

خلافا للمبرد | خلاف ثابت دے مبرد له او دغه دلیل دا نیسی دے چه په دیکښې حتی په ضمیر باندے داخل دے.

فلا والله لا یبقی اناس ... فتی حتاك یا ابن ابی زیاد.

نو جواب دا دے چه دا شاذ دے او شاذ قابل د استدلال نه دے.

وفی للظرفیة | او فی راځی دپاره د ظرفیة یعنی مدخول خپل ظرف گرځوی دپاره د ماقبل او دا عام دے حقیقة وی که مجازا. د ظرف حقیقی مثال لکه الماء فی الکوز او د مجازا مثال لکه النجاة فی الصدق.

وبمعنی علی قلیلا | او فی په معنی د علی باندې راځی ولے قلیل الاستعمال دے لکه په دے قول د باری تعالی کښې ولاصلبنکم فی جذوع النخل ای علی جذوع النخل.

والباء للالصاق | او بل د حروف جاره نه بآ ده دا راځی دپاره د الصاق د الصاق مطلب دا دے چه شی آخر گرځوی ملصق په مدخول د دے پورے یا په طریقه د مخالطت سره یعنی حقیقی الصاق وی لکه به داء. او یا په مجاورة سره یعنی مجازا لکه مررت بزید التصق مروری بمکان یقرب منه زید - **والاستعانة** او بل راځی دپاره د استعانة او د دے مطلب دا دے چه مدخول د باء معاون وی دپاره د فاعل په صدور د فعل کښې په دے وجه دا داخلیږی په آلاتو. لکه کتبت بالقلم - **والمصاحبة** دا راځی دپاره د مصاحبة یعنی مدخول د دے مصاحب وی د مفعول سره په وقوع د فعل کښې لکه

اشتریت الفرس بسرجه. یعنی مع سرجه او یا په صدور د فعل کښې لکه خرج زید بعشیرته سوال واردیږی چه ذکر د مصاحبة پس د الصاق نه مستدرك دے ځکه چه د دواړو معنی یو ده یعنی اتحاد ئے په معنی کښې دے جواب داسے چه د دوئ په معنی کښې اتحاد نشته بلکه مصاحبة عام دے د الصاق نه. فان المصاحبة لا یستلزم الالصاق بخلاف العکس -

والمقابلة | او بل راځی دا باء د باره د مقابلے یعنی دا مدخول خپل کرځوی عوض او ثمن د پاره د ما قبل لکه اخذت هذا الثوب بدرهم - **والتعدیة** او بل راځی دا باء د باره د تعدیے. یعنی په دے سره یو فعل لازم هغه متعدی کیږی. دلته کښې سوال راځی چه تعدیه خو صرف په باء پورے خاص نه ده بلکه په ټولو حروفو جاره سره تعدیه راځی ځکه چه هر یو حرف جر وضع دے د پاره د افضاء د فعل الی مایلیه ته. او دا معنی د تعدیه ده **جواب** دا دے چه تعدیه په دوه قسمه ده یو تعدیه په معنی عامے سره او بله تعدیه په معنی خاصے سره. تعدیه عام افضاء الفعل و شبهه الی مایلیه. تعدیه خاصه دا هغه ده چه کرځوی فعل لازم لره متضمن د پاره د معنی د جعل او د تصییر. لکه ذهب الله بنورهم اصل کښې وو ذهب نورهم. خو چه هرکله باء په نور داخله شوه او فاعل د ذهب هم ذکر شو چه الله دے. نو معنی ئے دا شوه چه صیر الله نورهم ذاهبا.

وللظرفیة | او راځی دا باء د پاره د ظرفیة دغه وخت کښې باء په معنی د فی وی لکه اطلبوا العلم ولو بالصین. یعنی ولو فی الصین -

وزائدة فی الخبر فی الاستفهام والنفی | او دا باء به زائده راځی په دے شان سره چه د دے په سقوط سره به خلل په معنی کښې نه راځی. دا زیادت د باء به ثابت وی په خبر د کلام استفهامیه کښې په کلمے د هل سره او یا په هغه کلام کښې چه منفی وی په ما سره او یا د لیس سره. **قیاسا** او دا قسم زیادت په دے مقام کښې په طریقے د قیاس سره وی. لکه هل زید بقائم نو دا مثال د استفهام دے په هل سره. یا لیس زید براکب یا ما زید براکب دا مثالونه د نفی دی په لیس او ما سره.

وفی غیره | او په غیر د دغه موضع نه یعنی چه کلام استفهامی او کلام منفی نه وی نو هلته کښې به دا زیادت د باء سماعا وی. برابره خبره ده چه خبر اصلا نه وی دا بیا په دوه قسمه دے. یو مرفوع لکه بحسبك زید، وکفی بالله شهیدا او یا منصوب وی لکه القی بیده او یا خو وی خبر خو په کلام استفهامی یا منفی کښې نه وی لکه حسبك بن زید -

واللام للاختصاص او بل د حروف جاره نه لام دے دا راځی د پاره د اختصاص یعنی دا کرځوی ماقبل دلام نه مختص په مابعد پورے . برابره خبره ده چه دا اختصاص د ملکیة وی او که د غیر ملکیة وی چه اختصاص د ملک وی لکه المال لزید او چه اختصاص د غیر ملک وی نو بیا به خالی نه وی یا به اختصاص د استحقاق وی لکه الجل للفرس یا به اختصاص د نسبت وی لکه فلان ابن له . **والتعليل** او دا لام جاره راځی د پاره د علت یعنی مدخول د دے علة وی د پاره د شئ آخر برابره خبره ده چه سبب غائیة وی لکه ضربته للتاديب او یا سبب باعث وی لکه خرجت لمخافتك ځکه چه مخافة سبب غائیة نه دے . **وبمعنى عن** او دا لام به په معنی د عن وی به حال د کون د دهٔ کښ چه مقارن وی . **مع القول** سره د قول نه ځکه چه لام کله واقع شی پس د قول نه نو پس وی به مدخول د دے مخاطب او مقول له د د غه قائل لکه اوواۓ چه قلت لزید انه لم يفعل الشر یعنی قلت عنه . **وزائدة** او دا لام زائد هم راځی . یعنی د دے په سقوط سره په معنی کښ نقصان نه راځی . لکه قرآن پاک کښ راغلی دی ، ردف لکم .

وبمعنى الواو في القسم للتعجب او لام به په معنی د واو سره وی د پاره د قسم پروخت د تعجب کښ او دا به راځی په امور و عظام کښ لکه لله لا يؤخر الاجل . دلته کښ جواب د قسم چه هغه عدم تاخیر د اجل دے امر عظیم دے نو دا سے نه شی وئیلے کیدے لله لقد طار الزباب . ځکه چه دلته کښ جواب د قسم امر عظیم نه دے .

ورب للتقليل رب راځی د پاره دا انشاء د تقلیل د هغه افرادو چه په چا باندے رب داخل شوے وی وضع اصلی د دے په تقلیل دافرادو کښ ده . ولے استعمال ئے په تکثیر کښ دے . او استعمال ئے د پاره د تکثیر د و مره مشهور شو چه گویا ، دا تکثیر کښ حقیقت دے او تقلیل کښ مجاز دے . **ولها صدر الكلام** او ثابت دے دے د پاره صدارت د کلام . ځکه چه دا حمل کړے شوے دے په کم خبری باندے ځکه چه هغه د رب د پاره ضد دا غلے دے . کم خبری راځی د پاره د انشاء د تکثیر او رب راځی د پاره د انشاء د تقلیل او کم خبری صدارت غواړی . نو رب هم په هغے باندے حمل کړے شو . **مختصة بنكرة** او رب به مختص وی په نکرے پورے د پاره د تحقیق د معنی د تقلیل چه هغه مدلول د رب دے . چونکه نکره مجهوله وی . او په

دے کښې احتمال د تقليل اؤ د تکثير دواړو دے . په خلاف معرفے نه ځکه چه په هغې کښې تعيين د تقليل دے . اؤ يا تعيين د تکثير دے .

موصوفة هسے نکره چه هغه موصوفه وي هم چه دے توصيف د نکرے د پاره د تحقق د معنی د تقليل . ځکه چه موصوف اخص وي د غير موصوف نه .

على الأصح د رُبّ مدخول به نکره موصوفه وي دا بناء دے په مذهب يا نَدِ چه هغه مذهب د ابوعلي نحوي مبرد اؤ د ابن السراج دے . اؤ د فراء اؤ د اخفش په نزباندِ د دے شرط اشتراط نشته دے .

فائده هر کله چه د رب وضع په تقليل کښې اصل دہ اؤ په تکثير کښې غير اصل دہ ليکن په اعتبار د استعمال سره د رب استعمال په تکثير کښې شائع او مشهور دے اؤ په تقليل کښې غير مشهور دے . نو په تکثير کښې استعمال د دے مجاز متعارف دے اؤ په تقليل کښې حقيقت مهجوره دے . په دے وجه په مجاز متعارف کښې قرينے ته ضرورت نشته اؤ په حقيقت مهجوره کښې قرينے ته ضرورت دے **و فعلها ماضٍ** اؤ هغه فعل چه په هغې پورے تعلق د رب راځی هغه به ماضي وي لفظا وي اؤ که معنًی . ځکه چه د راځی د پاره د تقليل محقق اؤ دا نه موجوديږی مګر په ماضي کښې . د ماضي مثال لکه رب رجل کريم لقيته . اؤ چه ماضي معنوی وی لکه رب رجل کريم لم افارقه . **محذوف غالبًا** هسے فعل ماضي چه هغه محذوفه وي په غالب اوقاتو کښې . يا د احذف به غالب وي ځکه چه هغه کلام چه په هغې کښې رب وی هغه راځی په جواب د کلام آخر کښې يا ظاهر اوی اؤ يا مقدر وی لکه تا ته څوك اووائی . چه القيت رجلا ته ورته اووائے چه رب رجل کريم اؤ لقيت حذف کړے . اؤ قرينه دلته کښې سوال د سائل دے ځکه چه و يُبلے شی المذکور فی السؤال کالمعاد فی الجواب .

وقد تدخل على مضمر مبهم اؤ کله داخليږی رب په ضمير باندِ هسے ضمير چه هغه مبهم وی . يعنی د هغه ضمير د پاره څه مرجع نه وی نو دا په حکم د نکرے کښې اوګرځيدو . **مميز** ذ دہ تميز به راځلے وی د پاره د دفع د دغه ابهام . **بنکرة** ځکه چه تميز نکره وی **منصوبة** په دے وجه به منصوب وی ځکه چه دا تميز واقع شويدہ اؤ تميز د منصوبا تو نه دے **والضمير مفرد مذکر** اؤ ضمير به مفرد وی اګرکه مميز مثنی يا جمع وی . اؤ مذکر به وی اګرکه

ضمیر مؤنث وی لکه ربه رجلا، ربه رجلین ربه رجالا ربه امرءة ربه امرءتین ربه نساءً، وجه دافراد دادا ځکه چه اصل په مدخول د دے کښې دا خبره ده چه دا به مبهم وی او دغه ضمیر چه دغه مفرد مذکر وی او غیر مطابق وی د تمیز سره دغه اشد ابهاما وی د غیر نه او ضمیر به راجع وی معهود فی الذهن ته او معهود فی الذهن مفرد مذکر دے. **خلافا للکوفیین فی مطابقة التمیز** خلاف ثابت دے کوفیانو لره په مطابقت د تمیز کښې په افراد په تثنیه او جمع او په تذکیر او په تانیث کښې ځکه چه تمیز بیان د مرجع دے او مطابقت په مابین د راجع او د مرجع کښې شرط دے نو د هغوی په نزد به داسے ویلے شی چه ربه رجلا ربهما رجلین ربهم رجالا ربها امرءة ربهن نسوة خو جواب دا دے چه تذکیر او تانیث یا تثنیة او جمعیة د تمیز دا کافی دے او تثنیة د ضمیر یا جمعیة او دغه شان تذکیر د ضمیر یا تانیث د ضمیر ته ضرورت نشته.

وتلحقها ما الکافة او ملحق کیږی د رب سره ما کافه یعنی چه کله دا ما داخل شی په رب باند نو دغه منع کوی د عمل نه. **فتدخل علی الجمل** نو بیا داخلیږی په جمله باند برابره خبره ده چه جمله اسمیه وی که فعلیه وی لکه ربما زید قائم یا لکه ربما قام زید ځکه چه هر کله عمل د دے ختم شو په سبب د لحوق د ما سره نو اوس ضرورت نشته دے خبرے ته چه دے دِ داخل شی په هغه شی باند چه هغه صالح وی د پاره د عمل ددهٔ چه هغه اسم دے او هر چه دے په ربما ضربة کښې نو دلته کښې دا ما کافه نه دے بلکه دا زید دے. **وواوها تدخل علی نکرة موصوفة** او دغه واو چه په معنی د رب سره دے دا هغه واو دے چه راځی په اول د کلام کښې او په معنی د رب سره وی داخلیږی په نکرے باند چه موصوفه وی بعض نحاتو ویلی دی چه شمیرل د دغه واو د حروف جاره نه مجاز دے ځکه چه جاره هغه خو په حقیقة کښې رب دے چه مقدر دے او دا واو د پاره د عطف دے او دا واو په معنی د رب دے دے نه وروستو به جواب د دے راځی چه هغه یا ملفوظ وی یا محذوف لکه وبلدة یعنی رب بلدة، لیس لها انیس.

وواو القسم انما تکون عند حذف الفعل او واو چه مستعملیږی په قسم کښې دا به راځی د پاره د قسم په وخت د حذف د فعل کښې ځکه چه واو اکثر استعمالیږی په قسم کښې نو په وخت د حذف د فعل کښې د ذهن سبقت کوی دے ته خود دلته کښې سوال دا دے چه باء خو هم د پاره د قسم راځی نو پکار دا ده چه هغے سره به هم حذف د فعل لازم وی حالانکه داسے نه ده باء د پاره د قسم راځی په وخت د حذف د فعل کښې او په وخت د ذکر د فعل کښې **جواب** دا دے چه اصل په قسم کښې باء ده. لیکن واو کثیر الاستعمال دے په قسم کښې په نسبت سره خپل اصل ته.

نو لازم شو واؤ سره حذف د فعل د پاره د دے خبرے چه اشاره راشی تفاوت ته په قلت او په کثرت کښ. او کچرته کښی جائز نشی سره د واو نه ذکر د فعل او حذف د هغه نو لازم به شی مساوات به ما بین د اصل او د فرع کښی په وخت د غیر د سوال کښی. د پاره د دے چه د درجه د فرع چه واؤ دے هغه کم شی د اصل نه چه هغه تخصیص دے دے د غیر سوال پورے. **لغير السؤال** یعنی واؤ راځی د پاره د قسم چه د غیر سوال د پاره وی. نو دا نه شی ویلے کیدے چه والله اجلس یا والله اخبرنی والله لا تخبرنی. **مختصة بالظاهر.** دا واؤ خاص دے په اسم ظاهر پورے د پاره د دے چه انحطاط راشی د فرع د اصل نه. **سوال** دا دے چه کوم لے د فرع د اصل نه خو په دے طریقه سره هم راتله. چه دا نے خاص کړے وو په ضمیر پورے. **جواب** دا دے چه دا نے خاص کړو په اسم ظاهر پورے. ځکه چه ظاهر اصل دے بیا **سوال** وارد ېږی چه با اصل ده او ظاهر هم اصل دے او واؤ فرع ده او ضمیر هم فرع ده. نو اصل له ئے ورکړے وو. او فرع له فرع د رعایة التناسب. **جواب** دا دے چه په دے صورت کښی تناسب دے. او په عکس کښی تعادل دے. او تعادل اولی دے د مناسبت نه. اُس برابره خبره ده چه ما سم ظاهر اسم الله وی او که غیر وی دا اسم د الله ذکر و رب الكعبة.

والتاء مثلها او تا په مثل د واو ده چه راځی د پاره د قسم په حذف د فعل کښی په غیر سوال کښی **مختصة باسم الله تعالى** او دا خاص ده په اسم د الله پورے یعنی تالله ویلے شی. د پاره د دے چه فرق راشی په اصل او په فرع کښی. ځکه چه دے د پاره اصل واو دے. او تخصیص دلته کښی په اسم د الله پورے راغلے دے. ځکه چه اسم الله اصل دے په باب د قسم کښی **والباء اعم منهما** او با عامه ده. د دواړو نه یعنی د واو او د تا نه **في الجميع** په دے ټولو مذکوره صورتونو کښی. یعنی په حذف د فعل کښی وكونها لغير السؤال والدخول على المظهر والدخول على اسم الله تعالى. مثلاً بالله لا فعلن په حذف د فعل سره اقسم بالله لا فعلن په اظهار د فعل سره بالله لا فعلن اسم ظاهر باندے دخول د با د را غلے دے چه هغه الله دے بك لا فعلن په ضمیر باندے دخول د با د بالرحمٰن لا فعلن د لفظ د الله نه علاوه په رحمٰن باندے دخول د با د راغلے دے.

ويتلقى القسم باللام وانّ وحرف النفي او جواب د قسم راځی په لام سره په انّ سره او په حرف نفی سره. ځکه چه جواب د قسم به خالی نه وی. کچرے جمله اسمیه مثبته وی. نو لازم دے په جواب کښی انّ. مثلاً والله ان زیداً قائم او یا لام به راځی والله زید لقائم او کله د مزید تاکید د پاره دواړه راوړے شی. لکه والله ان زیداً لقائم او کچرته جمله منفیه وی. نو بیا به ما او لا راوړے شی لکه والله ما زید بقائم یا والله لا زید في الدار ولا عمرو. او کچرته جواب د قسم جمله فعلیه وی. نو بیا به خالی نه وی یا به ماضیه وی یا به مضارعیه وی کچرته ماضیه وی نو بیا لام او قد به راوړلے شی لکه والله لقد قام زید. او کله تنها قد راوړلے شی لکه قد افلح من زکها. او که چرته جمله فعلیه

مضارعیه وی. نو بیا به لازم سره د نون تاکید نه راوړلے شی لکه والله لا فعلن. او که چرته جمله فعلیه منفیه وی. نو بیا به خالی نه وی یا به ماضویه وی یا به مضارعیه وی. که ماضویه وی نو ما او یا لا به راوړلے شی. لکه والله ما قام زید یا والله لا قام زید. او که مضارعیه وی نو ما او یا لا به راوړلے شی سره د نون تاکید نه یا بغیر د نون تاکید نه. لکه والله لا افعلن، والله لا افعل. او حرف نفی کله حذف کیږی په مضارع کښې په وخت د وجود د قرینے کښې که عقلیه وی که نقلیه وی. لکه تا الله تفتؤا تذکر یوسف، یعنی لا تفتؤ. **وقد یحذف جوابه** او کله کله حذف کیږی جواب د قسم **اذا اعترض** په هغه وخت کښې چه متوسط شی قسم په ما بین د اجزاء د جملے کښې لکه زید والله قائم یا ضرب والله زید یا ان ذهبت والله اذهب **او تقدمه ما یدل علیه** یا مقدم شی په قسم باندے هغه څه په دلالت کوی جواب قسم باندے. لکه زید قائم والله. ځکه چه په دے دواړو صورتونو کښې قسم مستغنی دے د جواب قسم نه. دلته کښې **سوال** وارد یږی چه تا اوئیل ما یدل علیه نو د جمله مثل زید قائم داخر دال په جواب قسم نه دے بلکه بنفسها جواب قسم دے **جواب** دادے چه دے ته دال بالجواب اوئیل په دے معنی سره چه دے کښې علامات د جواب قسم نشته دے.

وعن للمجاوزة او بل د حروف جاره نه عن دے. دا راځی د پاره د مجاوزت لکه رمیت السهم عن القوس. **وعلی للاستعلاء** او بل د حروف جاره نه علی دے او دا راځی د پاره د استعلاء. او طاستعلاء دیو شی په بل شی باندے حقیقتاً وی او که حکماً. د حقیقت مثال لکه زید علی السطح او د حکماً مثال لکه علیّ دین. **ویکونان اسمین** او کله کله دا دواړه یعنی عن او علی په ځائے د اسم استعمالیږی. **بدخول من** چه کله په دوی من داخل شی. ځکه چه مِن حرف جار دے نه داخلیږی مگر په اسم باندے نو چه کله من په علیٰ داخل شی معنی به ئے د فوق وی. لکه غدت من علیه یعنی من فوقه. او چه کله من داخل شی په عن باندے نو په معنی د جانب به وی. لکه جلست من عن یمینه یعنی من جانب یمینه **والکاف للتشبیه**. او د حروف جاره نه کاف دے. دے راځی د پاره د تشبیه. او دے په مشبه به باندے داخلیږی. لکه زید کالاسد **وزائدة** او کاف زائد هم راځی. لکه لیس کمثله شیئ. ځکه چه کچیرے دے مونږ زائد او نه منو. نو بیا په معنی کښې فساد راځی یعنی د الله د مثل مثال نشته. دے نه خو معلومیږی چه نعوذ بالله د الله مثل شته ولے د مثل مثل ئے نشته. او دلته کښې خو مدعی نفی د مثل د باری تعالیٰ دے دلته کښې **سوال** وارد یږی چه تا حکم د زیادت په کاف اوکړو په مثل باندے ولے حکم د زیادت او نه کړو. **جواب** دادے چه دا حرف واحد دے او دے اولی دے په حکم کولو سره په زیادت او بله وجه دا ده چه مقصود نفی د مثل ده نه د مثل مثل. او بعض

خاۃ وائی. چه مثل زائد دے. ځکه چه کله په زیادة د کاف سره قبل الحاجة دے حاجة خربه علم نا بتیږی په کله ذکر د مثل اوشی او بعض والی چه په دے کښې یو هم زائد نه دے. ځکه چه اعمال اولٰی دے. داهمال نه او دلته کښې اگرکه نفی د مثل د مثل را غلے ده لیکن مقصود نفی د مثل ده په طریقے د کنایے سره. او کنایه ابلغ وی د صریح نه **وقد تکون اسما** او کله دے په ځائے د اسم استعمالیږی. چه کله ورباندې حرف جار داخل شی. لکه یضحکن عن کا لبرد المنهم. دلته کښې عن په کاف باندې داخل دے.

ویختص بالظاهر او کاف دا خاص دے په اسم پورے یعنی دے به په اسم ظاهر باندې داخلیږی اسم ظاهر عام دے حقیقةً وی که حکماً نو په ضمیر باندې نو "که" نشی ویلے کیدے. وجه دا ده چه لفظ د مثل په ضمیر داخلیږی. نو مستغنی اوگرځیدو کاف د داخلیدو نه په ضمیر باندې ځکه چه مثل او کاف دواړو د پاره د تشبیه راځی. اُس کمرته دا کاف په ضمیر داخل شی. نو په صورت د ضمیر د مخاطب کښې به اجتماع د کافینو راشی لکه کک او په ضمیر د غائب او متکلم کښې اگر اجتماع دا نشته. لیکن طرداً للباب حمل کړے شو په ضمیر د مخاطب باندې. سوال دا دے چه ته خو وائے چه کاف په ضمیر نه داخلیږی ستا دا قاعده منقوضه ده په دے قول سره لکه مالنا کأنتَ. یا ما انت کأنا. دلته کښې په دے مثالونو کښې کاف په ضمیر داخل شویدے. **جواب** دا دے چه دا ضمیر منفصل دے. او دے په حکم د اسم ظاهر کښې دے.

ومذ ومنذ للزمان للابتداء فی الماضی والظرفیة فی الحاضر او مذ چه مبنی دے په سکون باندې او منذ مبنی دے په ضم باندې دا راځی د پاره د زمانے ماضی یا حاضر. **سوال** دا دے چه هر کله دوی وضع شو د پاره د زمانے. نو دا خو د اسمائے ظروفو نه اوگرځیدل نو ته حکم کوے په حرفیة د دوی باندې بیا څه پکار دا دے چه دوی د اسماؤ نه اوگرځی. **جواب** اوکړو مصنف "للابتداء والظرفیة". نو دا قول ده بدل اشتمال دے د دے قول نه چه للزمان. او مقصود په په کلام کښې ابتداء ده چه هغه یو معنی حرفی ده. خلاصه دا ده چه د دوی مدلول معنی حرفی ده. په دے وجه ورباندې حکم د حرفیة اوشو.

مدخول د دے به نو دوی مگر زمانه بیا دا زمانه به خالی نه وی یا به ماضی وی یا حال کمرته ماضی وی نو معنی د دے ابتدائیه ده او دا زمانه ماضی به مبداء د فعل سابق اوگرځی، مثبت وی که منفی وی. لکه سافرت من البلد مذ سنة یا ما رأیت فلانا مذ سنة چه کله سنه ماضیه وی نو بیا به معنی داشی، چه مبدأ مسافرتی او عدم رؤیتی ابتداء کان هذه السنة الماضیة او امتداد د دے زمانے راغلے دے د زمانے د تکلم پورے. او کمرته معنی د دے حال وی نو دا گرځی زمانه حال سره چه هغه مدخول د دوی دے ظرف د پاره د فعل سابق مثبت وی لکه سافرت مذ شهرنا او یا منفی وی لکه .....

ما رأيته مذ شهرنا ومذ يومنا نو معنى به داشي چه جميع مدة مسافرئ او عدم رؤيتي اياه هذا الشهر الحاضر او اليوم الحاضر. دلته كښې **سوال** وارد يږي چه ما ماړه مثا لونه د ظروف نشي صحيح كيدے. ځكه چه ظرفيت په حاضر كښې وي. او جميع اجزاء د شهر يا د يوم داخو حاضر نه دي په تر د متكلم بلكه بعض اجزاء دي چه هغه زمانه د تكلم ده. **جواب** دادے چه داحاضر بدل او حضور عام دے حقيقةً وي كه حكماً او كما اعتباراً وي. نو دلته كښې اګركه جميع ديوم او ياد شهر حاضر نه دي حقيقةً ليكن داحاضر دي اعتباراً. اګركه بعض اجزاء د دے تيرشوي وي

وحاشا وعدا وخلا للاستثناء او حاشا عدا خلا دا دپاره د استثناء راځي يعني په دے سره استثناء د ما بعد راځي د ما قبل نه كيږته د دے نه روستو منصوب وي بيا دا افعال دي او ضمير به پكښې مستتر شي هغه به ئے فاعل شي. عدا د عدا يعدو نه دے او خلا د خلا يخلو نه دے. دا د باب د نصر نه دي او حاشا په معنى د جانب دے. دلته كښې اصح مذهب دادے چه حاشا د حروف جاره نه دے. او كيږته مجرور وي نو بيا حروف جاره دي.

الحروف المشبهة بالفعل

بل قسم د حروفو نه هغه حروف مشبهه بالفعل دي. او دوئ ته حروف مشبهه بالفعل په دے وجه ويلے شي. چه د دوئ مشابهت د فعل سره راغلے دے لفظاً هم او معنىً هم. هرچه د دے لفظاً. نو لكه چه څنګه فعل ثلاثي رباعي او خماسي راځي. نو دغه شان دوئ هم راځي. چه څنګه په فعل كښې ادغام كيږي په دوئ كښې هم ادغام كيږي. او چه څنګه نون وقايه په فعل كښې راځي نو په دوئ كښې هم راځي. او هرچه د دے معنیٰ هغه په دے طريقه سره چه معنیٰ د دے حروفو ملزومات دي. د پاره د معانئ د افعالو. لكه إنّ او أنّ دپاره د تحقيق جزئي راځي. او د دے تشبيهه د فعل متعدي سره راغلے دے لكه چه څنګه فعل متعدي فاعل او مفعول دواړه غواړي نو دوئ هم اسم او خبر غواړي. او فعل ماضي چه څنګه مبني دے په فتح باندې نو دا هم مبني دي په فتح باندې دلته كښې **سوال** وارد يږي چه پكار دا وه چه حروف جاره ئے مؤخر كړے وے د حروف مشبهه بالفعل نه ځكه چه مرفوع مقدم دے په منصوب او منصوب مقدم دے په مجرور باندې **جواب** دادے چه حروف جاره ئے مقدم كړل ځكه د هغوئ عمل اصالةً دے او عمل د حروف مشبهه بالفعل فرعي دے

یعنې نتیجه د مثبت نه دے ۔ سوال دا دے چه ځکاردا وه مصنف لره چه ذکر وے الاحرف المشبهة بالفعل په صیغه د جمع قلت سره ځکه چه دا خو شپږ حروف دی ۔ او حروف صیغه د جمع کثرت ده ۔ چه د جمع اطلاق په عشره او مافوق د عشره باندې کیږي ۔ جواب دا دے چه په دغه صورت کښې بیا تغیر د اسلوب راتلو دما قبل نه ۔ په حروف جاره کښې او په حروف عاطفه کښې ئے حروف راوړے وے نو دلته کښې ئے هم د موافقت دا سلوب د پاره جمع کثرت راوړلو ۔ او یا دا چه کله دے سره نور فروع او لغات یوځائے کړے شي نو بیا جمع کثرت ته رسي ۔ **وهي اِنَّ وأَنَّ وكأنَّ ولكنَّ وليتَ ولعلَّ** ۔ لکه شاعر وائي ۔

اِنَّ بأنَّ كأنَّ ليتَ لكنَّ لعلَّ ۔ ناصب اسم ند و رافع در خبر ضد ما و لا ۔

لیت او لعل دائے مؤخر کړل د نورو نه ځلورو نه ۔ ځکه چه دا راځي د پاره د انشاء او هغه نور دا خبار د پاره راځي او اخبار اشرف دے د انشاء نه ۔ **ولها صدر الكلام** او د دغے حروفو د پاره ... صدارت د کلام ثابت دے ۔ د پاره د دے چه داول وهله نه په یوخاص نوعه د کلام باندې دلالت او کړي ۔ چه دا کلام یا مشتمل دے په تاکید یا په تشبیه یا په استدراک یا په تمني یا په ترجي ۔ **سوى أنَّ** سوا د انَّ مفتوحه نه ۔ **فهي بعكسها** ۔ دا په عکس د دے نورو حروفو دے ۔ یعنې انَّ لره صدارت د کلام نشته دے ځکه چه دے سره د ما بعد نه معمول دے د پاره د عامل ۔ مثلاً دے سره د خپل مدخول په تاویل د مفرد دے او حق د معمول دا دے چه دے به مؤخر وي د خپل عامل نه سوال دا دے چه تعلق د ده په شي آخر پورے تقاضا نه کوي عدم صدارت ځکه چه جائز ده دا خبره چه دے به مقدم وي خپل متعلق باندې هم جواب دا دے که دے مقدم شي په خپل متعلق باندې نو لازم به شي التباس دان مکسوره سره په کتابت کښې ۔ فلا بد لها من التعلق بشئ آخر لتمام الكلام. دلته کښې سوال وارد یږي چه بعکسها کښې د ها ضمیر راجع دے حروف مشبهه بالفعل ته ۔ او د بعض د حروف مشبهه نه انَّ دے ۔ نو لازم یږي تعکیس د شي د خپل نفس نه جواب دا دے چه دلته کښې عبارت کښې حذف او تقدیر دے اصل عبارت به دا سے شي فهي بعكس باقيها دلته کښې د عکس د پاره دوه طریقے دی ۔ یو طریقه دا ده چه باقي حروف تقاضا د صدارت کوي ۔ او انَّ تقاضا د صدارت نه کوي ۔ او بل طریقه دا ده چه باقي تقاضا د صدارت د کلام کوي ۔ او انَّ تقاضا د عدم د صدارت کوي ۔ نو دلته کښې عکس په دویمه طریقه باندې وا خستے شو ۔ ځکه معنی اوله مستقلاً ده دا ستثنا نه چه سوی دے ۔ او س کچرته عکس هم موندې یدے باندې حمل کړو نو لازم یږي حمل د عبارت په تاکید باندې ۔ او تاسیس اولیٰ دے د تاکید نه ځکه چه تاسیس مشتمل دے په یو فائده

چه يئے بائد. **وتلحقها ما الكافة فتلغي** او ملحق كيږي دے حروفو سره ماكافه نو بيا د دغه صورت كښ به دا ملغاة العمل اوګرځي ځکه چه په مابين د دوئ کښ او د معمول کښ فاصل واقع شو. **على الأفصح** على افصح اللغات چه افصح ئے او وئيل نو په دے سره احتراز راغے د غير افصح نه. ځکه چه عمل وسره باوجود د دے نه عمل ورکوی لکه په بعضو اشعاروکښ راغلی دی. چه عمل ئے نه دے کړے سره د ماکافه نه لکه انما زید قائم. نو یو وجه خو عدم عمل ذکر شوه چه هغه فصل دے او بله وجه دا ده چه په سبب د لحوق د ماکافه بعض وجوه د مشابهت نه دوئ او د تل او هر کله چه ما فاصل په دوئ کښ راغے نو دوئ خو ضعیف العمل دی په متصل کښ عمل کوی او په منفصل کښ نه کوی. او کچرته دا ما په زائده بائد حمل کړے شی نو بیا عمل کوی. **وتدخل حينئذ على الافعال** او چه کله په دوئ بائد ماکافه داخل شی. نو بیا دوئ داخلیږی په افعالو بائد. ځکه ماکافه دوئ خلاص کړل د عمل نه او د لزوم د دخول نه په فعل بائد لکه انما حرم علیکم المیتة. **فان المكسورة لا تغير معنى الجملة** په دے عبارة سره مصنف شروع اوکړه په بیان د احوالو د هر واحد کښ تفصیلا. او اشاره کوی بیا فرق ته په إنّ او په أنّ کښ. پس دے د دلیل چه إنّ مکسورة الهمزة دے تغیر نه راولی په معنی د جملے کښ چه مفرد ترے وا اوړی بلکه په دے سره مزید تاکید د جملے راځی.

وأنّ مع جملتها او أنّ مفتوحة الهمزة سره د خپل مدخول نه چه جمله ده. اس دے ته جمله په اعتبار د ماقبل د دخول د أنّ سره د ویلے شی **في حكم المفرد** په حکم د مفرد کښ دی. په اعتبار د اختلاف د عواملو سره شلا ظننت انک قائم. ظننت قیامک.

ومن ثم وجب الكسر في موضع الجمل او د وجه د دے خبرے نه إنّ مکسورة الهمزة تغیر په معنی د جمله کښ نه راولی. او أنّ تغیر راولی. واجبه ده کسره د همزے په هغه موضع کښ چه هغه تقاضا د جملے کوی. یعنی هغه موضع چه هغه تقاضا د اسناد د تام کوی. **والفتح** یعنی وجب الفتح **في موضع** په هغه ځائے کښ چه هغه تقاضا د اسناد غیر تام کوی. **المفرد** چه هغه مفرد دی **فكسرت ابتداء** نو پس إنّ به مکسوره راوړلے شی برابره خبره ده چه په اول د کلام د متکلم کښ وی لکه ان زیدا قائم یا په وسط د کلام کښ وی خو هغه ابتداء د کلام آخر وی او استیناف وی د کلام د پاره لکه اکرم زیدا انه فاضل دلته انه فاضل علة دے د پاره د ما قبل او کلام مستأنف دے یا لکه په دے قول د باری تعالی ولا یحزنک قولهم إن العزة لله جمیعا. نو په ابتداء د کلام کښ به مکسوره راوړلے شی. برابره خبره ده چه په اول د کلام د متکلم کښ وی. لکه ان زیدا قائم یا په وسط

د کلام کښې وي خو هغه ابتداء د کلام آخر وي او استيناف وي د کلام د پاره لکه اکرم زيداً انه فاضل د لته انه فاضل علت دے د پاره د ما قبل او کلام مستانف دے يا لکه په دے قول د باري تعالیٰ لا يحزنك قولهم انّ العزة لله جميعا. نو په ابتداء د کلام کښې به مکسوره راوړلے شي ځکه چه دا موضع د جملې دے. او تکلم په مفرد اوّل بلند باطل دے که مفتوح او ئيلے شي نو لازميږي تکلم په مفرد باندې.

وبعد القول | او مکسوره به وئيلے شي پس د قول نه يعني چه مشتق وي. د قول نه لکه قال يا يقول شو. لکه يقول زيدان عمرًا قائم. ځکه چه مقوله د قول نه وي مګر جمله

والموصول | يعني د بعد الاسم الموصول ځکه چه صله د موصول نه وي مګر جمله لکه الذي انك ضربته في الدار **وفتحت فاعلة** او انّ به مفتوحة الهمزه وئيلے شي په حال د کون د دې کښې چه د دے سره د خپلې جملې نه فاعل واقع شويدي. ځکه چه فاعل نه وي مګر مفرد. لکه بلغني ان زيدًا قائم **ومفعوله** او په حال د کون د انّ کښې چه د دے سره د جملې نه مفعول وي. ځکه چه مفعول مفرد وي لکه عرفت انك قائم. **ومبتدأ** يا مبتدا وي ځکه چه مبتدا مفرده وي لکه عندي انك فاضل. او د غه رنګے چه کله خبر وي. ځکه چه اصل په خبر کښې افراد دے.

ومضافا اليها | او چه مضاف اليه واقع شويوه. نو هم به مفتوح وي. ځکه چه مضاف اليه مفرد وي. لکه حصل علم انك قائم. د لته کښې سوال وارديږي چه ترخو وائي چه وفتحت فاعلة ومفعولة ومضافا اليها الخ دا نه صحيح کيږي. ځکه چه فاعل يا مفعول يا مضاف اليه هغه خو انّ سره د ما بعد نه دے تنها انّ نه دے **جواب** دا دے چه دا اطلاق مجازًا دے.

وقالوا لولا انك لانه مبتدأ | يعني د لولا نه پس به انّ مفتوحة الهمزه راځي ځکه دا لولا به خالي نه وي يا به تحضيضيه وي يا به امتناعيه وي. که چرته لولا امتناعيه وي نو د هغې نه روستو مبتدا محذوف الخبر وي. او مبتدا خو نه وي مګر مفرده وي لکه لولا انك منطلق انطلقت او که چرته لولا تحضيضيه وي نو ما بعد د هغې نه به يا فاعل وي يا مفعول. ځکه چه دے معمول دے د پاره د فعل چه صاحب واجب دے د خول د لولا تحضيضيه په هغه باندې نو د فعل نه روستو به يا فاعل وي يا مفعول او دا نه وي مګر مفرد. مثال د اول لکه لولا انك ضربني صدر منك. د لته کښې انك ضربتني په تاويل د مفرد سره چه ضربك اياي دے دا فاعل دے د پاره د فعل محذوف چه هغه مدخول د لولا دے. چه هغه صدر دے. او روستو صدر دا تفسير د پاره د محذوف دے. مثال د ثاني لکه لولا انى معاند لك زعمت نو د لته کښې انى معاند لك دا په تاويل د مفرد سره چه معاداتى لك دے، يا معاداتي اياك مفعول دے د پاره د فعل محذوف چه هغه مدخول د لولا دے. او زعمت تفسير د هغه فعل دے

ولوانك او د دغه شان پس د لو نه بہ هم انّ مفتوحة الهمزه وی ـ ځکه چه پس د لو نه فاعل د فعل محذوفه دے ـ او فاعل خو نه وی مگر مفرد ـ لکه لو انك قائم ـ یعنی لو وقع قيامك ـ

وان جاز التقديران جاز الامران کوم ځائے چه موضع وی چه هغه کښ دواړه تقدیره صحیح وی لکه تقدیر د مفرد یا تقدیر د جملے ـ جاز الامران یعنی فتح او کسره ـ انّ او اِنّ ـ فتحه به بنا بر تقدیر د مفرد وی او کسره به بنا په تقدیر د جملے وی ـ یعنی چه اسم او فعل جمله او گرځی ـ **مثل من يكرمنى فانى اكرمه** مراد بہ دے سره هر هغه ترکیب دے چه ان په دے کښ سره د اسم او د خبر نه جمله واقع شویوی جزاء دپاره د شرط ـ نو په مثل د دے ترکیب کښ دواړه تقدیره جائز دی ـ او دا به په فرض د متکلم سره وی ـ کوم متکلم ما بعد د فاء نه جزاء د تام دپاره د شرط فرض کړیوی او احتیاج یکښ نه وی شی آخر ته ـ نو دا موضع د جملے دے او دلته کښ مکسورة الهمزه د ویلے شی ـ او کوم متکلم د فاء نه ما بعد فرض مبتداء محذوف الخبر یا خبر محذوف المبتداء نو بیا به انّ مفتوحة الهمزه وی ـ لکه اکرامی ثابت له ـ دلته کښ مبتداء ملفوظه ده ـ په دے تاویل باندِ ـ او خبر مقدر د راویستلو شی یا فجزاء ه اکرامی ـ په دے تقدیر باندِ خبر دے چه مبتداء ئے محذوفه ده ـ

وع اذا انه عبد القفا واللهازم دا بل مثال د جواز د تقدیرینو دے ـ دلته کښ په اذا انه کښ مفتوحة الهمزه هم ویلے شی ـ او مکسورة الهمزه هم مراد په دے ترکیب سره هغه دے چه انّ واقع شوے وی پس د اذا مفاجائیه نه ـ دا ذکر شوے مثال د فرزدق د شعر پوره مصرعه ده ـ او ټول شعر دا دے ـ کنت ارىٰ زيدا كما قيل سيدا ـ اذا انه عبد القفا واللهازم ـ دلته هم کوم متکلم فرض کړے وی ـ چه انّ سره د اسم او د خبر نه جملة تامة الاجزاء ده چه واقعه پس د اذا مفاجائیه نه ـ نو دا موضع د جملے او گرځیدو ـ ځکه چه بعد د اذا نه جمله وی ـ نو دا به مکسوره وی ـ او کوم متکلم فرض کړیوی ـ چه پس د انه نه اسم او خبر ما به تاویل د مفرد سره مبتداء محذوف الخبر ده ـ نو بیا به مفتوح ویلے شی ـ چه کله جمله اسمیه وی پس د دے نه ـ نو تقدیر به دا سے شی ـ چه فاذا هو عبد القفا واللهازم ـ او چه په تاویل د مفرد وی ـ نو دا به مبتداء وی او خبر به ئے محذوف وی ـ تقدیر به دا سے شی اذا عبوديته للقفا واللهازم ثابت ـ په دے شعر کښ فرزدق د زید هجو بیانوی ـ چه زما خو گمان په زید باندِ د یو سردار وو ـ لکه چه څنگه خلقو ویل ـ ولے هغه یو لئیم او خسیس ښکاره شو ـ و شبهه دا عطف دے په دا اذا انه باندِ ـ او د دغه شان نور مثالونه ـ لکه اول ما اقول انى احمد الله ـ که چرته دلته کښ ما موصوله شی یا موصوفه شی ـ

نو معنی به دا شی چه اول مقولاتی په دغه صورت کښی کسره متعین ده یعنی انّ به و ئیلے شی. ځکه چه مقوله دقول نه وی مګر جمله او کېدې ما مصدر به شی نو معنی به دا شی چه اول اقوالی. نو په دغه صورت کښی فتحه متعین ده. یعنی أنّ به و ئیلے شی. ځکه چه اول الاقوال معنی مصدری ده. چه هغه معنی دانّ مفتوحه ده.

ولذالك جاز العطف على اسم المكسورة لفظا اوحكما بالرفع دون المفتوحة او دوجه ددے خبرے نه چه إنّ مکسورة الهمزه نه متغیر کوی معنی دجملے بلکه تاکید فائده کوی. جائز دے عطف په اسم دانّ مکسوره باندې لفظا وی که حکما. په رفع سره نه په مفتوحه. یعنی أنّ مفتوحة الهمزه. ځکه چه انّ مکسوره تغیر نه راولی په جمله کښی نو دے کالعدم او ګرځیدو. نو اسم ددے منصوب په محل د رفع کښی شو. لکه إنّ زیدًا قائم وعمرو. چه عمرو مرفوع شی. دے به عطف شی په محل د اسم دإنّ. انّ مکسورة الهمزه لفظا ظاهر دے. او هرچه دے حکما نو هغه أنّ دے چه واقع وی پس د علمونه. ځکه چه دا اګرکه ظاهر مفتوحة الهمزه دے. لیکن حکما مکسورة الهمزه دے. ځکه چه دا اګرکه ظاهر مفتوحة الهمزه دے لیکن حکما مکسورة الهمزه دے. ځکه چه دے قائم دے په مقام د جزئین باندې په دے شان سره چه دے قائم دے په مقام د مفعولین دعلمت لکه علمت ان زیدًا قائم وعمرو. **ويشترط مضي الخبر لفظا اوتقديرا.** او په اسم د انّ مکسورة الهمزه باندې په رفع سره عطف کښی شرط دا دے چه ذکر دخبر به مخکښی د معطوف نه را غلے وی. لفظا وی لکه ان زیدًا قائم وعمرو. یا تقدیرًا لکه ان زیدًا وعمرو قائم. دلته کښی قائم مفرد راوړے شویدے. نو دے نه معلوم شوه. چه مخکښی د معطوف نه یو قائم معتبر دے. **سوال** دا دے چه تقدم د خبر ولے شرط کړے شو. **جواب** دا دے چه کچېرته تقدم د خبر په معطوف نه شی. نو بیا به توارد د عاملینو مختلفین را شی. په معمول واحد باندې لکه ان زیدا وعمرو ذاهبان. د ذاهبان نه چه صیغه د تثنیه ده دا خبره معلومه شوه چه د معطوف نه مخکښی خبر نشته دے. نو ددے حیثیت نه چه دا خبر د اول نه دے نو عامل ددے إنّ دے. او ددے حیثیت نه چه دے خبر د ثانی دپاره دے نو عامل یکښی معنوی دے نو لازم شو توارد د عاملینو په معمول واحد باندې. او دا ناجائز دے.

خلافا للكوفيين خلاف ثابت دے اکثر و نحاتو د کوفے لره هغوئ د صحت د عطف دپاره تقدیم د خبر شرط نه دے ګرځولے. د هغوئ دلیل دا دے چه ان عمل نه کوی په خبر کښی بلکه خبر دان مرفوع دے په عامل معنوی سره مخکښی د را تلو د ان نه نو دغه ستو د را تلو د هغه نه نو لازم نه شو توارد د عاملینو. نو إنّ عامل ضعیف دے عمل په قریب کښی کوی او په بعید کښی نه کوی. خو ددے دلیل جواب ورته جمهور نحاتو ورکوی چه هر کله د دوئ مشابهت د فعل سره راځی. لفظا او معنا نو په دوئ کښی قوت پیدا شو پس دوئ عمل په قریب او بعید دواړو کښی کوی. نحاتو د کوفے په استدلال او استشهاد کښی دا شعر لوړے

دے. چه الا فاعلموا انا وانتم بغاة. ما بقينا في شقاق. خو سيبويه دا حمل كړے دے په تقدير د خبر باندې. يا دا محمول دے په ضرورة شعريه باندې.

ولا اثر لكونه مبنيا خلافا للمبرد والكسائي په دے عبارة سره مص رد كوي په كسائي او مبرد باندې. چه هغوي وائي چه اسم د ان مكسورة الهمزة چه كله هغه مبني وي جائز دے عطف په محل د هغه باندې. بغير د تقديم د خبر نه لفظا يا حكما. لكه انك وزيد ذاهبان ملته كښې اسم د ان هغه ضمير دے. چه مبني دے. نو مص په دوي باندې رد اوكړو اووے فرمائيل. ولا اثر او نشته دے څه اثر د دے د بنيه هم سره د ان مبني وي. يعني كه اسم د ان مبني وي او كه معرب وي په دواړه صورتونو كښې تقديم د خبر ضروري دے **في مثل انك وزيد ذاهبان** د هغوي بيا دا دے چه هر كله محل د ان په اسم كښې ظاهر نه شو د وجے د بنا نو د صيغه عمل په خبر كښې هم نه كوي. ځكه چه اعتبار د عمل دده په خبر كښې هله دے چه دے اسم كښې عمل اوكړي. نو بيا دے وجه باندې توارد د عاملينو لازم نه راځي. د جمهورو علماؤ طرف نه ورته جواب دا دے چه عمل عام دے لفظا وي كه محلا دلته اګر كه لفظا نشته عمل خو محلا شته. او يا دا چه كه ورته مونږ ووايو منو چه عمل مختص دے په لفظي پورے. نو عدم د ظهور د عمل كښې دلته كښې په اسم كښې د وجے د بنا نه دے. او په خبر كښې د عمل نه مانع نشته. او هر چه دے د هغوي دا دليل چه انك وزيد ذاهبان مهي د عطف استعمالوي. نو جواب دا دے چه اعتبار استعمال د فصحاء لره دے.

ولكن كذلك او لكن په جواز د عطف كښې په محل د اسم باندې په مثل د ان مكسورة الهمزة دے. دے په معنى د جملے كښې تغير نه راولي. ځكه دے راځي د پاره د استدراك. او استدراك د جملے او ابتداء سره منافي نه دے نو پس دے كالعدم شو. اوس په محل د اسم ددے باندې عطف جائز دے په رفع سره لفظا وي كه حكما. لكه ماخرج زيد لكن بكرا خارج وعمرو. او د دے نه علاوه نور حروف مشبهه بالفعل په هغوي كښې عطف په محل د اسم باندې جائز نه دے. ځكه چه په دخول د هغوي سره په معنى كښې تغير او تبديل راځي. ځكه چه ليت او لعل دا جمله خبريه په انشائيه باندې بدلوي. او كان معنى د جملے كښې تغير راولي مثلا زيد الاسد. چه كان د دے باندې داخل كړو ما سے به شي كان زيدا اسد. كه د دنا يد عين دا منافي دے ذكيد لو د زيد د مثل دا سد سره **ولذالك** او د وجے د دے خبرے نه چه ان مكسورة الهمزة معنى كښې تغير نه راولي او ان مفتوحة الهمزة تغير راولي په تاويل د مفرد كې ګرځي.

دخلت اللام مع المکسورة داخلیږی لام تاکید سره إنّ مکسورة الهمزة نه. چه ان هم دپاره د تاکید راځی **دونها** دون أنّ مفتوحة الهمزة. چه دے په معنی دمفرد دے نو دے سره هغه ادوات نشی جمع کیدے چه هغه دپاره دتاکید د جملے راځی. **علی الخبر**. یعنی لام تاکید دانّ په خبر داخلیږی. لکه ان زیدًا لقائم.

اوالاسم اذا فصل بینه وبینها اؤ یا داخلیږی لام په اسم دانّ باند چه کله فصل راشی په مابین داسم کښی اؤ دانّ کښی. لکه ان فی الدار لزیدًا. یا لکه ان من شیعته لإبراهیم. **اوعلی ما بینهما** اؤ یا داخلیږی دالام په هغه باندې چه هغه واقع وی په مابین داسم اؤ د خبر کښی. لکه ان زیدًا لفی الدار قائمٌ. زده کړه داخبره چه یا به فصل راغلے وی په مابین دان اؤ اسم دهغے کښی یا به نه وی راغلے که نه وی راغلے نو بیا به لام داخلیږی په خبر باندې. اؤ که چرته فصل واقع شوی وی نو بیا به خالی نه وی. یا به فصل خبر وی یا به معمول دخبر وی چه خبر وی لکه ان فی الدار لزیدًا اؤ معمول دخبر لکه ان فی الدار لزید قائمٌ. اؤ که چرته فصل واقع شوے وی په مابین داسم دان اؤ د خبر هغه کښی په معمول د خبر سره لکه ان زیدًا الطعام لٰاکل نو په دغه وخت کښی به لام په معمول مقدم داخلیږی. ددے نه علاوه که چرته فصل نه وی راغلے په مابین داسم دان اؤ دانّ کښی نو بیا که چرته لام داخل کړو نو لوزمیږی توالی دوؤه حرفینو دتاکید. دلته کښی سوال راځی. چه تقدیم دانّ ته ولے ترجیح ورکړے شوه په لام باندې **جواب** دادے چه دلته کښی عامل ته ترجیح ورکړے شوه په غیر عامل باندې. **وفی لکن ضعیف** دخول د دغه لام سره دلکن نه په خبر باند یا په اسم باند چه کله فصل راغلے وی د دوئی په مابین کښی یا فصل راغلے وی داسم اؤ دخبر دده کښی. دا ضعیف دے. ځکه چه لکن اګرچه نه متغیر کوی معنی د جملے لیکن دے مرتبه نه دے دلام سره په معنی دتاکید کښی لکه چه ځکه ان دے. اؤ بله وجه دا ده چه دخول دلام دلالت په اتصال باند. اؤ لکن دلالت کوی په انفصال باند اؤ د دواړو په مابین کښی منافاة دے. په دے عبارت سره مصنف رد کوی په هغه نحاتو د کوفے باند چه هغوی دخول دلام جائز ګرځولے دے، سره دلکن نه. اؤ دلیل ئے دادے چه ولکننی فی حبها لعمید. خو ددے جواب دا دے چه دا شاذ دے.

وتخفف ان المکسورة چه لکه ان مکسورة الهمزة ما تثقیل دے دوجے دتشدید نه اؤ کثیرالاستعمال هم دے. حیرا تقاضاد تخفیف کوی. نو په دے وجه باندې مخفف د مشقل نه راځی. **فیلزمها اللام** نو بیا لام ورسره لازم دے دپاره د دے چه فرق راشی، په مابین دان مخفف عن المشتقل الدان نافیه کښی په صورت دالغاد کښی اؤ هرچه د دے صورت داعمال نو دا حمل دے په صورت دالغاء باند طرداً للباب.

ولے دالزوم دلام مشروط دے په څو شروطو سره . اول دا چه کله خبر مثبت وی منفی به نه وی . ځکه چه لام وضع شویدے دپاره د تاکید دامر مثبت . دویم دادے چه خبر ماضی نه وی چه مجرد وی د قد نه ځکه لام تاکید د هغه شی کوی چه هغه موجود فی الحال وی . او خبر چه ماضی وی هغه دا رنګے نه دے . دریم شرط دادے چه خبر جمله شرطیه نه وی ځکه چه دا مستردد الوجود دے او په لام سره تاکید د هغه شی راځی چه هغه محقق الوجود وی . څلورم دادے چه خبر د جواب د قسم نه وی . چه هغه مصدر وی په لام سره دپاره ددے چه لوزم نه شی توالی دلو مینو . البته کله کله فصل راغلے وی په مابین دان او دلام کی په ما زائده سره لکه وان کلا لمالیوفینهم - **ویجوز الغاؤها** او جائز ده دا خبره چه ان بعد التخفیف ملغاة العمل اوګرځی . ځکه چه دده مشابهت په دغه حین کښی ختم شو لفظا د فعل سره . او جائز دے اعمال دده په اعتبار داصل سره .

ویجوز دخولها علی فعل من افعال المبتداء او جائز دے دخول دان مکسوره بعد التخفیف په هغه افعالو باندی چه هغه د دواخلو د مبتدا او د خبر نه وی . لکه باب د کان شو یا باب د علم شو ځکه چه اصل په ده کښی دادے چه دے به داخلیږی په مبتدا او په خبر باندی . هر کله چه فوت شو دخول دده په مبتدا او په خبر باندی . نو بیا لا بدی ده ددے نه چه دے به داخلیږی په هغه باندی چه هغه د دواخلو د مبتدا او د خبر نه وی دپاره ددے چه د رعایت داصل او شی بقدر الامکان . لکه وان کانت لکبیرة . یا وان نظنک لمن الکاذبین . **خلافا للکوفیین فی التعمیم** خلاف ثابت دے کوفیانو لره په تعمیم او په عموم کښی . ځکه چه هغوی وائی چه دا په مطلق افعالو باندی داخلیږی برابره خبره ده چه د دواخلو د مبتدا او د خبر نه وی او که نه وی د هغوی دلیل دا شعر دے .

باللہ ربک ان قتلت لمسلما ... وجبت علیک عقوبة المتعمد .

جواب د جانب د جمهورو نه داد ے . چه دا شاذ دے . او مخالف دے د قول د فصحاء نه .

وتخفف المفتوحة او ان مفتوحة الهمزه په دے کښی هم تخفیف راځی . لکه چه څنګه مکسورة الهمزه کښی تخفیف راځی . **فتعمل فی ضمیر شان مقدر** نو په دغه وخت کښی به دے عمل کوی په جمله د وجب سره په ضمیر شان کښی چه مقدر وی . ځکه چه مشابهت دان مفتوحه اکثر او قوی دے د فعل سره دان مکسوره نه . او ان مکسوره بعد التخفیف څه عمل کوی . لکه وان کل لما جمیع لدینا محضرون . او وان کلا لما لیوفینهم . او اعمال دان مفتوحة الهمزه بعد التخفیف دانه دے چه موجود ملفوظ کښی . نو لازم کړه شو تو عمل دده په ضمیر شان مقدر کښی دپاره ددے چه لازمه نه شی ترجیح د اضعف په اقوی باندی او مزیت د فرع په اصل باندی . لکه وآخر دعواهم ان الحمد للہ رب العالمین .

دلته کښی سوال راځی چه دلته کښی خو مزیت د فرع په اصل او ترجیح د اضعف په اقوی باندی لازمه ده

ځکه چه إنّ مکسوره به ظاهر کښې دے او د مفتوحة الهمزه به مقدر کښې دے نو إنّ مکسوره ته ترجیح حاصله شوه او نه پرېښودے داخلو. **جواب** دا دے چه ان مفتوحه دے دائم العمل دے به مقدر کښې او ان مکسوره دے به ظاهر کښې احیاناً عمل کوی او دوام د عمل به مقدر کښې ذا اولیٰ دے د عمل نه به ظاهر کښې احیاناً.

فتدخل على الجمل مطلقا نو دا به بیا داخلیږی به جملو باندې برابره خبره ده چه جمله اسمیه وی که فعلیه الا فعل عام دے د دواخلو د مبتدا او د خبر نه وی او کړے نه وی. او دغه جمله به تفسیر شی دپاره د ضمیر شان. **سوال** دا دے چه تا خو دلته کښې جمل مطلق ذکر کړل. او تعمیم دے پکښې اوکړو. حالانکه بعض د جملو نه جمله انشائیه ده. حالانکه هغه خو خبر دان نه شی راتلے. **جواب** دا دے چه به الجمل کښې الف لام عهدی دی. او معهود به دے سره جملے خبریه دی.

وشذ اعمالها فى غيره او شاذ دے اعمال ددے به غیر ضمیر شان کښې. ضمیر وی او که ظاهر وی. د شاذ مثال لکه فلو انک فی یوم الرخاء سألتنی :: فراقک لم ابخل وانت صدیقی. **ویلزمها مع الفعل السين وسوف وقد** او لازم دے دان مفتوحه مخففه سره به وخت د دخول دده کښې به فعل باندې سین او سوف او قد. د پاره دد دے. چه التباس ئے را نه شی دان ناصبه مصدریه سره. د سین مثال لکه علم ان سیکون منکم مرضی (په دے کښې طالبان په ملتیا مغالطه وکړی چه کوره ان د حروف ناصبه نه دے یعنی چه کله به فعل مضارع داخل شی. نو هغه منصوب به کړی. او به علم ان سیکون کښې أنْ داخل دے به مضارع باندې او بیا هم منصوب نه ده مضارع بلکه مرفوع ده. نو **جواب** دا دے چه دا أنْ د حرف ناصبه والا نه دے. بلکه دا مخفف من المثقل دے) او د سوف مثال لکه به دے شعر ع واعلم فعلم المرء ینفعه. ان سوف یاتی کل ما قدرا. او د قد مثال لیعلم ان قد ابلغوا. سین او سوف دا نه شی جمع کیدے دان مصدریه سره ځکه چه سین او سوف راځی دپاره د استقبال او ان هم راځی دپاره د استقبال نو لازم میږی استدراک د یو به دے کښې. او قد هم نه جمع کیږی دان مصدریه سره ځکه چه قد دپاره د تحقیق او ان المصدریه راځی دپاره د طمع او د دوی به مابین کښې منافات دے. او د دغه معانی او د ان مخففه به مابین کښې هم منافات نشته **او حرف النفى** الا با حرف نفی. لکه افلا یرون ان لا یرجع الیهم. دلته کښې **سوال** وارد یږی چه حرف نفی څنګه دان مخففه سره جمع کیږی. نو دغه شان دان مصدریه سره هم جمع کیږی. نو فرق به به مابین د دوی کښې به څنګه اوشی **جواب** دا دے چه زیاتة د حرف نفی دا د پاره د فرق نه دے. بلکه دا به منزله د عوض دے د نون محذوف نه. او فرق به مابین د مخففه او د مصدریه کښې یا د حیثیت دلفظ نه دے. یا د حیثیت د معنی نه دے. هر چه دے د حیثیت دلفظ نه فعل منفی به دے سره راځی ته منصوب وی. نو دا مصدریه

او که نه وی نو مخففه ده. او هر چه دے د حیثیت د معنی نه نو هغه داسے چه کوم ته په دے سره استقبال قصد کړے شوے وی. نو مصدریه دے او که نه وی قصد کړے شوے نو مخففه ده. اعتراض وارد یږی چه ستا دا قاعده منقوضه شوه په دے ترکیبونو چه ان لیس للانسان الا ما سعی. وان عسی ان یکون قد اقترب اجلهم. ځکه چه أنْ په دے دواړو مثالونو کښې مخففه ده حالانکه وروسته ددے نه د فعل نه او په دے کښې یو هم ددے امور مذکوره نه نشته دے موجود. **جواب** دا دے چه لزوم د زیادت ددے امورو وا د هغه فعل سره شرط دے. چه هغه فعل متصرف وی. او دلته کښې چه ان داخل دے په کوم افعالو هغه غیر متصرف دی. نو معلومه شوه چه مع الفعل کښې الف لام عهدی دی او معهود په دے سره فعل متصرف دے. **وكأنّ للتشبيه** بل د حروف مشبهه بالفعل نه كأنَّ دے. دا راځی د پاره د تشبیه د یو شی د بل شی سره لکه کأنَّ زیدًا اسدًا. دلته کښې **سوال** وارد یږی چه ستا دا خبره منقوضه شوه په دے ترکیب سره چه کأنَّ زیدًا قائمٌ یعنی چه خبر پکښې مشتق وی. ځکه چه دلته کښې خبر مشبه به دا اسم نه دے. وجه دا ده چه خبر محمول وی په اسم باندې او متحد بالذات وی دا اسم سره او په مشبه به او مشبه کښې مغایرت وی. بیا دلته کښې لازمیږی تشبیه د شی د خپل نفس سره. **جواب** دا دے چه دلته کښې مشبه به محذوف دے. او خبر مشتق د هغه د پاره صفت دے. نو تقدیر به داشی. چه کأن زیدًا رجلٌ قائمٌ. **وتخفف فتلغى على الافصح** او دا کان کله مخفف کیږی په دغه وخت کښې بیا ملغاة العمل وی بنا په استعمال افصح باندې. ځکه چه بعض مشابهت ددې فوت شو. چه هغه فتحه ده په افصح سره احتراز دے د غیر افصح نه لکه په دے مصرعه کښې. کأنْ ثدیاه حُقّانِ.

ولکن للاستدراك او بل د حروف مشبهه بالفعل نه لکنّ دے. دا راځی د پاره د استدراک یعنی د پاره د دفع د توهم د سامع چه ناشی وی د کلام سابق نه مثلاً تا او ویل چه جاءنی زید نو متوهم دا هم اوکړی چه عمرو به هم راغلے وی. ځکه چه د دوی په مابین کښې الفت او محبت دے نو ته د دفع د دغه توهم اوکړے او اووایه لکن عمرا لم یجیٔ. **تتوسط بین کلامین متغایرین معنی** چه متوسط کیږی په مابین د دوه کلامونو کښې چه هغه متغیر وی ایجابا او سلبا د حیثیت د معنی نه. او ما تغایر به یا لفظی وی یا معنوی. د لفظی مثال خو دغه مذکور دے او د معنوی مثال لکه زید غائب لکن عمرو حاضر یا لکه په دے قول د باری تعالی کښې ولو اراکهم کثیرا لفشلتم ولکن الله سلّم. یعنی لکن الله لم یراکم کثیرا. **وتخفف فتلغى** او لکن مخففه هم کیږی. ددے نورو حروفو په شان بیا د دغه وخت کښې به دے ملغاة العمل هم کیږی. ځکه چه بعض وجه د مشابهت په دغه کښې فوت شول چه هغه فتحه ده. نو دے مشابهه شو. د لکن ما لحق سره لفظا

په صورت کښې او معنیٰ چه د واو د پاره د استدراک نو دے جاری شو په مجری د لکن عاطفه بانډې په عدم د عمل کښې **اعتراض** وارد یږي چه بیا خو پکار دا ده . چه ان مکسوره چه کله مخففه شي نو دے د هم مشابهه شي د ان نافیه سره په عدم عمل کښې او د غه شان اَن مفتوحه مخففه د هم مشابهه شي د اَن تفسیریه سره په عدم عمل کښې . **جواب** دا دے چه د لته کښې مشابهه صرف لفظاً راغلے د ان نافیه او د اَن تفسیریه سره او معنیً مشابهت نشته دے . نو په دے وجه د دیٔ غیر عامل او نه ګرځیدل . **ویجوز معها الواو** او جائز دے سره د لکن نه مشدد دی که مخفف و آو . دا واو به یا د پاره د عطف د جملے په جملے د پاره راغلے وی . لکه وما کفر سلیمان ولکن الشیاطین په قراء د رفع سره . لیکن اکثر نحاة وائی چه واو عاطفه په لکن مخففه باندې نه داخلیږي ځکه چه په دغه صورت لازمیږی اجتماع د حرفینو د عطف . او یا دا واو اعتراضیه دے . لکه چه مختار مذهب د رضی دے ځکه چه مقصود فقط توهم دے . او هغه حاصلیږی په مابعد د واو سره **ولیت للتمنی** او لیت راځی د پاره د تمنی دا بل قسم دے د حروف مشبهه بالفعل نه . دا په ممکن او په ممتنع د واړو داخلیږی . لکه لیت زیداً قائم . او لیت الشباب یعود . په خلاف د ترجی نه چه هغه په ممکن کښې راځی .

واجاز الفراء لیت زیداً قائماً او فراء نحوی جائز ګرځولے دے دا ترکیب چه لیت زیداً قائماً په نصب د جزئین سره . په تقدیر د فعل سره چه هغه اتمنیٰ دے او اتمنی فعل متعدی دے دوه مفعولینو ته . ځکه چه دے په معنی د فعل قلب دے . او د هغه دلیل دا دے چه . ع یالیت ایام الصبا رواجعا . خو جواب د دے دلیل نه دا دے چه رواجعاً منصوب دے بنا بر حالیت . او دا حال واقع دے د هغه ضمیر نه چه مستتر دے په خبر مقدره کښې چه کائنة یعنی یالیت ایام الصبا کائنة حال کونها رواجعا . او په نزد د کسائی باندې نصب د جزء ثانی په تقدیر د کان سره . نو د هغه په نزد باندې تقدیر دا دے یالیت ایام الصبا کانت رواجعاً .

ولعل للترجی او بل د حروف مشبهه بالفعل نه لعل دے . دا راځی د پاره د ترجی دا توقع د وجود دامر ده . خو په شرط د دے چه ممکن الوجود به وی . برابره خبره ده چه محبوب وی او که مکروه مثال د اول لکه لعلکم تفلحون . او د ثانی لکه لعل الساعة قریب . **وشذ الجر بها** او شاذ دے په دے سره جر ورکول د دے مدخول له . په دے عبارة سره مصنف دفع دا اعتراض کوی **سوال** دا دے چه شمیرل د لعل د حروف مشبهه بالفعل نه نه دی صحیح بلکه دا خو د حروف جاره نه دے لکه په دے قول د شاعر کښې ع لعل ابی المغوار منک قریب . نو د ده **جواب** او کړو چه وشذ الجر بها . او هر چه د دے دلیل په مصرع سره . نو یا خو جر په دے کښې په سبیلے د حکایة سره

مے . بل ځائے کښې دا مجرور استعمال شوېدے . نو دے ځائے کښې په طریقه د حکایت ذکرکړے شو او یا دا چه دا رجل مشهور وو په ابي المغول سره . نو په احوالِ ثلثه کښې په یا سره ذکر کیږي . برابره خبره ده که حالت رفعي وي که نصبي وي او که جري .

الحروف العاطفة

یو قسم د حروفو نه حروف عاطفه دي . عاطفه ماخوذ دے د عطف نه . عطف په لغت کښې اماله ته وائي . او دے حروفو ته حروف عاطفه په دے مناسبت سره وائي چه په دے حروفو سره میلان د معطوف معطوف علیه ته راځي . یا دوئ مائل کوي . عامل د معطوف علیه معطوف ته . خو په دے توجیه باندې سوال وارد یږي . چه دا توجیه خو د عطف په مبتدا صورت کښې نه صحیح کیږي . ځکه چه مبتدا کښې عامل معنوي دے او دلته کښې ظاهرًا د عامل نه مراد لفظي دے جواب دا دے چه په وجه د تسمیه کښې اطراد ضروري نه دے . بلکه منجمله مناسبت کافي دے . او حروف عاطفه لس دي . وهي الواو والفاء وثم وحتی واو واما وام وبل ولکن دلته کښې واو ئے مقدم کړو . ځکه چه دے اصل په باب د عطف کښې او بل وجه دا ده چه دے راځي دپاره د مطلق جمع . دلته کښې په دے مقام کښې اختلاف دے په بل کښې بعض نحاة وائي کچرته مابعد د ده نه مفرد وي . نو صفه به بدل غلط وي . عطف به نه وي . او بعض نحاة وائي مفسر هم د حروف عاطفه نه شمیرلے دے خو په نزد اکثرو باندې مابعد د دے نه عطف بیان دے دپاره د ماقبل خپل . فالاربعة الاول پس دا اولنی څلور حروف للجمع دپاره د جمع راځي . برابره خبره ده . چه مطلق جمع وي که سره د ترتیب نه وي او مراد په جمع سره دا دے . چه معطوف علیه او معطوف به په حکم کښې برابر وي . دا نه چه په معنی د مصاحبت به وي . فالواو للجمع مطلقا فاء دپاره د تفصیل ده . او په دے سره فرق بیانوي په مابین د دوي . پس واو دپاره د جمع دے مطلقا برابره خبره ده چه ترتیب پکښې وي که نه وي . او د غه شان بغیر د قید د تراخي او عدم تراخي نه بغیر د قید د تدرج او د عدم تدرج نه . لا ترتیب فیها په دے عبارت سره معنی د اطلاق بیانوي . یعني لا یفهم منه الترتیب لا وجودًا ولا عدمًا . اګر که په نفس الامر کښې پکښې ترتیب وي . والفاء للترتیب او فاء راځي دپاره د ترتیب مع الوصل .

وثم مثلها اؤ ثم په مثل د فا دے په ترتیب کښې **بمهلة** سره د مهلت نه **وحتی مثلها** اؤ حتی په مثل د ثم دے فی الترتیب بمهلة. لیکن زمانه د مهلت د دے اقله ده د زمانے د مهلت د ثم نه. نو حتی گویا ما متوسط دے په مابین د فا او ثم کښې. **ومعطوفها جزء من متبوعه** اؤ معطوف د حتی په اعتبار د اصل وضع سره جزء به وی. د معطوف علیه نه. ځکه چه دے موضوع دے دپاره د عطف د نهم په کل باندې اؤ د غه خبر به یا قوی وی یا ضعیف. برابره خبره ده چه دا خبر حقیقة وی لکه اکلت السمکة حتی راسها. اؤ یا غیر حقیقة وی لکه اعجبنی الجاریة حتی حدیثها. **لیفید قوة اوضعفا** دپاره د دے چه فائده کړی دا عطف قوة په معطوف کښې لکه قدم الجیش حتی الامیر اؤ یا ضعفا لکه قدم الحاج حتی المشاة

فائده غرض د عطف نه په حتی سره شمول د فعل دے معطوف لره. چه هغه جزء قوی دے یا ضعیف دے. معطوف علیه نه خو دغه جزء په شمول د فعل کښې د دے کل سره شریک دے اؤ په اعاده د معطوف کښې حاصلیږی تکرار د شمول د لے سبب دے تکرار د دفع د توهم د عدم شمول د جزء قوی د معطوف علیه نه. لکه مات الناس حتی الانبیاء. ځکه موت چه دے دا لوا مر مکروه دے تناول نه کوی په اعتبار د فعل سره جز قوی د خلقو ته چه انبیاء دی. خلاصه دا ده چه متوهم به دا وهم کوی. چه امر مکروه (یعنی موت دے) دا به رسیږی نه هغه جزء قوی ته چه انبیاء دی. نو دغه وهم ئے دفع کړو په ذکر د دوی سره صراحةً اؤ د غه شان په جزء ضعیف کښې هم د دفع د توهم د ه.

هر کله چه په عطف په حتی سره غرض د شمول دو. اؤ شمول خو راځی په عطف اؤ په تکرېږی سره اؤ عطف تقاضا د تغایر کوی په مابین د معطوف علیه اؤ معطوف کښې اؤ جزء خو مغایر د کل نه نشی کیدے. نو غالق پکښې اشتراط د قوة اؤ د ضعف اوکړو. دپاره د دے چه معطوف اؤ معطوف علیه کښې امتیاز راشی. لو صلاحیة د غیریت به پکښې پیدا شی. د غه شان د عطف اؤ د انتهاء د فعل صلاحیة هم نو دا حتی به مشابه اوګرځی. د حتی جاره سره په معنی د انتهاء کښې. پس حتی جاره دا اصل شو اؤ حتی عاطفه ورله فرع شوه

واو وا ما وام لاحد الامرین مبهما دا درے واړه حروف عاطفه مشترک دی په دے خبره کښې چه دا دلالت کوی په یو د دوه امرونو باندې یا د امورو باندې چه غیر معین وی په نز د متکلم باندې. **سوال** واردیږی چه ستا ما تا عده منقوضه شوه په دے قول د باری تعالی باندې ولاتطع منهم آثما اؤ کفورا. ځکه چه دلته کښې کلمه د او دا حد الامرین د پاره نه صحیح کیږی. **جواب** دا دے چه او په خپله معنی باندې قائم دے اؤ هر چه د عموم هغه مستفاد دے. د واقع کیدو د یو د مبهم نه چه سیاق د نفی کښې نه دو بجه د کلمے د او اؤ یا ام نه.

وام المتصلة لازمة لهمزة الاستفهام ته ده که دا خبره چه ام په څلور قسمه باندې ده

په ام متصله کښې دا صفه ده چه ما بعد د دې مربوط وی د ما قبل سره لکه سواء علیهم استغفرت لهم ام لم تستغفرلهم. دویم ام منقطعه دے. دا صفه دے چه ما بعد مربوط د ما قبل سره نه وی لکه ام هل تستوی الظلمات والنور هل یستوی الاعمی والبصیر. دریم ام زائده لکه افلا تبصرون ام انا خیر. څلورم ام چه د تعریف دپاره راځی لکه د الف لام ځائے لکه لیس من امبر امصیام فی امسفر. ام متصله لازم دے همزے د استفهام سره یعنی بغیر د همزے د استفهام نه به نه راځی. او دیته ام متصله په دے وجه وائی چه ما بعد د دے مربوط او متصل دے د ما قبل سره او ما بعد او ما قبل د دے کلام مستقل نه دی. بلکه مجموعه جزء واحد دے د کلام نه. او په ام منقطعه کښې دغه ارتباط نشته دے په دے وجه ما بعد ما قبل او ما بعد مستقل کلام دی د دلته کښې **ملازمة** نه مراد لزوم لغوی دے نه منطقی لزوم. **یلیها احد المستویین** چه ذکر کیږی به بعد د ام متصله نه یو د مستویینو نه چه صفه معطوف او معطوف علیه دی چه دوی مساوی دی په اعراب او په تعلق د حکم کښې. **والآخر** یعنی مستوی آخر **الهمزة** یلی الهمزة دپاره د دے چه ام سره د همزه نه په تاویل دا دے او کرځی او د ام او همزه نه چه روستو کوم مفردین یا مستویین راځی د دا به په تاویل د مفرد سره مضاف الیه او کرځی دپاره د دے تو تاویل دا ازید عندك ام عمرو به داسے شی ایهما عندك. **بعد ثبوت احدهما لطلب التعیین** پس د ثبوت د علم نه په حصول دیو دا امرینو په نزد د متکلم احدهما نه مراد مستویین دی مثلاً زید او عمرو. دپاره د طلب د تعین د مخاطب لکه یو متکلم تپوس کوی چه ازید فی الدار ام عمرو. نو ده ته علم شته په دے خبره چه په دار کښې لیو کس په دے دوار و کښې موجود دے. خو طلب د تعین کوی د مخاطب نه. **ومن ثم** او د دے وجے د دے خبرے نه چه یو د مستویینو نه به روستو دام نه وی او بل به روستو د همزه نه وی. **لم یجز** جائز نه دے دا ترکیب چه **ارأیت زیدا ام عمرو** ځکه چه یو د مستویینو نه لکه چه یلی دے ام ته. لیکن بل صفه یلی نه دے همزه ته. فصیح او صحیح قول دا دے په دے ترکیب کښې چه ازیدا رأیت ام عمروا او دلته کښې جواز په معنی د لم یجب دے. په دے طریقے سره به د نسخنتینو تعارض ختم شی. **ومن ثم** او د دے وجے د دے خبرے نه چه دا راځی دپاره د تعین **کان جوابها بالتعیین** جواب دام به په تعین سره راځی. **دون نعم اولا** نعم یا لا د ئے به نه راځی. نو چه کله تپوس او شی په دے سره چه ازید فی الدار ام عمرو. نو په جواب کښې به یا زید وائے او یا عمرو. لا یا نعم نه شی ویلے کیدے. ځکه چه دوی تعین نه فائده کوی. او دلته کښې دا حصر اضافی دے په نسبت سره نعم او یا لا ته دے. دا او اما په جواب کښې نعم یا لا ته راتلے شی **وام المنقطعة کبل** او ام منقطعه په شان د بل دے.

والهمزة او پشان د همزه دے. لکه چه څنګه بل د پاره د اضراب راځي. نو دغه شان ام منقطعه هم برابره خبره ده چه کلام خبری وی که انشائی وی. او پشان د همزه دے په شک کښ. **مثل انها لابل ام شاء** دا مثال د اول دے. لکه یو سړی یو شی اولیدو او یقین ئے په راغلو چه دا خو ابل (اوښ) دے. او او ئے وئیل انها لابل. خو چه کله نزدے شو بیا ئے خیال راغے چه دا خو اوښ نه دے ام شاء او شی آخر یعنی په دے سره اعراض راغے د اولنی اخبار نه. او د دویم مثال لکه ازید عندك ام عمرو. دلته کښ **سوال** وارد یږی چه انها لابل جمله خبریه ده او ام شاء دا جمله استفهامیه انشائیه ده. نو عطف د جملے انشائیه راغلے دے په خبریه باندې. او دا خو جائز نه دے. **جواب** داد ے چه دا استفهام استینافی دے نو عطف د انشاء په اخبار باندې راغے. **واما قبل المعطوف علیه لازمة مع اما** او کوم معطوف چه مفعد وی اما باندې نو په معطوف علیه کښ اول د دے اما لازم دی. د پاره د دے چه د اول وهلة نه معلوم شی دا خبره چه کلام بنا د دے په شک باندې **سوال** داد ے چه شمیرل ستا اما لره د حروف عاطفه نه صحیح کېږی. ځکه چه حرف عطف خو داخلیږی په معطوف باندې او دا خو راځی په معطوف علیه باندې هم. او بله خبره داده چه په دے باندې واو هم داخلیږی. که دا هم د پاره د عطف شی نو لازمیږی اجتماع د حرفین د عطف بیا په دے کښ یو لغو بیکار دے. **جواب** داد ے چه کوم یو اما سابق دے په معطوف علیه باندې هغه د عطف د پاره نه دے. بلکه د پاره د تنبیه دے په شک باندې. او د دویم جواب داد ے چه دلته کښ د هر یو خپله خپله فائده ده. واو د پاره د عطف د ما بعد د واو راغلے دے په ما قبل باندې او اما د پاره د عطف د ما بعد د اما راغلے. پس د دوئی په اجتماع کښ څه قباحت نشته لکه جاءنی اما زید واما عمرو **جائزة مع او** جائز دے سره د او نه. ځکه وضع د اما عاطفه د پاره د بناء د اول کلام ده په شک باندې. او هر چه دے او نو جائزه ده دا خبره چه دے پشان د اما او کړځی او جائزه ده دا خبره چه دے دال او کړځی په عوض د شک باندې. ځکه چه لفظ د او کښ دا احتمال نشته دے. چه په وسط د کلام کښ متکلم ته شک پیدا شی. چه اول متکلم اول خبر جزما ورکړو او بیا ئے شک پیدا شو. لکه اول ئے او وئیل علی سبیل الجزم جاءنی زید بیا ئے شک راغے او دے وئیل ام عمرو او یا داچه چه او موکد دے په شک کښ نو.. کدآ خر ته یکښ ضرورت نشته **ولا وبل ولکن لاحدهما معینا** او دا درے حروف چه لا دے بلکن دے او بل دا راځی د پاره د احد الامرین چه معین وی یعنی نسبت د حکم په معطوف علیه او یا معطوف ته معین وی لکه جاءنی زید لا عمرو کلمه د لا د نفی حکم د معطوف نه کوی. او هر چه دے بل نو دے په یا بعد د اثبات نه راغلے وی یا بعد د نفی نه کچهته بعد د اثبات نه راغلے وی نو حکم مثبت به او کرځوی د معطوف علیه نه معطوف ته. او معطوف علیه به حکم د مسکوت عنه کښ وی. نو په دے صورت کښ

به د دے عکس وله شی. او که چرته پس د نفی نه وی نو بیا په دے کښی اختلاف دے. بعض وائی چه ما راځی د پاره د ذکر ځلو د حکم منفی د معطوف علیه نه معطوف ته او معطوف علیه به په حکم د مسکوت عنه کښی وی. او د بعضو په نزد راځی د پاره د اثبات د حکم منفی د معطوف علیه نه د معطوف د پاره او معطوف علیه په حکم د مسکوت عنه کښی. بناء په دے د دے اختلاف معنی د دے قول چه ماجاءنی زید بل عمرو په مذهب اول دا ده چه ما جاءنی عمرو. او دوئم مذهب با ندِ معنی دا ده چه ما جاءنی زید بل عمرو. بل جاءنی عمرو.

ولكن لازمة للنفى او لکن سره نفی لازمه ده. دا به یا راځی د پاره د عطف د مفرد په مفرد او یا به راځی د پاره د عطف په جملے. کچرته د پاره د عطف د مفرد وی نو دا نقیض د لا دے. او کچرته د پاره د عطف د جملے وی. نو دا نظیر د بل دے. پس د نفی او د اثبات دواړو ونه. او بناء په دواړو تقدیرونو لازم دے دوسره نفی. ځکه چه دا معانی نه متصور کیږی مگر سره د حرفِ نفی نه. چه عطف د مفرد را غلے وی د مفرد په مفرد لکه ما قام زید لکن عمرو. او چه عطف د جملے په جملے را غلے وی. لکه ماجاءنی زید لکن عمرو قد جاء. زه لا کړه دا خبره چه لکن سره نفی لازمه ده برابره خبره ده چه دا نفی د لکن نه مخکښی دی که روستو وی.

حروف التنبيه

بل قسم د حروفو نه هغه حروفِ تنبیه دی. او د وئی ته حروف تنبیه په دے وجه ویلے شی. چه دا راځی د پاره د ایقاظ د مخاطب چه مخاطب غافل وی. د هغه ایقاظ را شی. په مضمون د هغه جملے باندے چه په کومه باندے داخل دی. **الا واما وها** دا حروف تنبیه درے دی. یو الا بل اما او دریم ها دے. الا او اما راځی د پاره د تاکید د مضمون د جملے. دا دواړه داخلیږی په جمله باندے برابره خبره ده چه جمله خبریه وی که انشائیه وی. او په مفرد نه داخلیږی. او هر چه ده ها نو دا داخلیږی په مفرد او کښی په اسم اشاره باندے. لکه هذا.

حروف النداء

بل قسم د حروفو نه هغه حروف نداء دی. چه هغه ټول پنځه دی. یا. ایا. هیا ای او همزه. **یا اعمها** یا په ټولو حروفِ نداء کښی عامه ده یعنی د قریب او د بعید دواړو د پاره راځی. **وایا وهیا للبعید** او ایا هیا راځی د پاره د بعید. ځکه چه کثرت د حروفو دلالت کوی په کثرت د مسافت باندے **وای والهمزة للقریب** او ای او همزه راځی د پاره د قریب او مراد په قریب

ماعدا د بعید نه دے د پاره د دے چه متوسط هم پکښ شامل شی. یا چه څنګه په ندا کښ استعمالیږی د غه شان په ندبه او استغاثه کښ هم راځی.

حروف الایجاب | بعضے د حروفو نه هغه حروف ایجاب دی. دلته کښ ایجاب مقابل د سلب نه دے چه هغه شپږ دی. **نعم وبلیٰ وای واجل وجیر**

وان فنعم مقررة لما سبقها | پس نعم د حروف ایجاب کښ دے راځی د پاره د تحقیق د مضمون د جملے سابقے. ایجابا دی که نفیا خبرا دی که استفهاما دی. مثلاً تا په جواب د سوال د سائل کښ چه أقام زید نعم او وئیل معنی دا ده چه قام زید. او چه سائل تپوس اوکړی المریقم زید. تا په جواب کښ نعم او وئیل معنی دا چه لم یقم زید. او د الست بربکم په جواب کښ نعم نه شی راتلے بلکه د اکفر دے ملته کښ مع" دا سے اوفرمائیل چه مقررة لما سبقها او داسے ئے اونه وئیل چه لتصدیق ما سبقها ځکه چه تصدیق د پاره د خبر راځی او نعم خبر او استفهام دواړو لره شامل دے. په نعم کښ څلور لغات دی. فتحتین. فتح النون وکسرالعین. کسرتین، فتح النون وقلب العین بالحاء.

وبلیٰ مختصة بایجاب النفی | او بلیٰ خاص دے په ایجاب د نفی پورے. یعنی نفی سابقه باطل او دے سره ایجاب کرځوی. برابره خبره ده که هغه خبر وی. ا که استفهام وی. لکه الست بربکم قالوا بلیٰ. یعنی لیس کذالک بل انت ربنا.

وای للاثبات بعد الاستفهام | ای راځی د پاره د اثبات پس د استفهام نه. او کله راځی د پاره د تصدیق او په معنی د نعم هم لیکن دا استعمال ئے شاذ دے. په دے وجه مصنف" تعرض او نه کړو.

ویلزمها القسم | او دے سره قسم ذکر کول لازم دی لکه قل ای وربی انه لحق.

واجل وجیر وان لتصدیق المخبر | اجل، جیر، او ان راځی د پاره د تصدیق د مخبر برابره خبره ده چه خبر موجب وی که منفی وی. نو دا به پس د استفهام او یا د هغه نه چه په هغے کښ معنی د طلب وی نه به راځی او کله راځی ان د پاره د تصدیق د دعا لکه په مقوله د ابن الزبیر کښ. ان وراکبها قصه د دے مقولے دا ده چه یو اعرابی عبدالله بن الزبیرؓ ته راغے. هغه نه ئے د څه سوال اوکړو. هغه ورته څه ورنه کړل نو هغه اووئیل. لعن الله ناقة حملتنی الیک نو عبدالله بن الزبیرؓ اوفرمائیل ان وراکبها. او کله پس د استفهام نه هم راځی لکه په دے شعر کښ.

لیت شعری هل للمحب شفاء . من جوی حبهن ان اللقاء.

لیکن تصدیق د دعا او پس د استفهام نه مصنف" تعرض او نه کړو. ځکه چه دا شاذ دی.

حروف الزيادة بعض د حروفونه هغه حروف زيادت دي. ديته حروف زيادة په دے وجه ويلے شي چه دوئ په كومه جمله كښې راغلي وي نو د دوئ په اسقاط سره په معنی كښې خلل يا نقصان نه راځي او فائده د دے حروفو دادہ چه تاكيد د كلام او تحسين د نظم پيدا كړي **سوال** وارديږي چه د دے حروفو دپاره لفظي او معنوي فائده شته دے نو ديته حروف زيادة ولې نه وئيلے كيږي **جواب** دادے چه باوجود دے نه چې دوئ لره فائده شته دے. خو چونكه د دوئ په اسقاط سره اصل معنی كښې نقصان نه راځي. ځكه ورته حروف زيادة او ويلے شي. كم ته دے دپاره نه معنوي فائده وے او نه لفظي نو داخو به بيا عبث وو. او په كلام د فصحاوو كښې عبثيات راوړل جائز نه دي سے ته حروف الصلة هم وائي لانها يتوصل بها الى زيادة الفصاحة. اما قامة وزن سجع.

د اتول اووه حروف دي. لكه چه مصنفؒ وائي. **ان وان وما ولا ومن والباء واللام فان مع ما النافية** پس ان په كسره د همزے سره زيا تولے كيږي سره د ما نه چه د نفي دپاره راځي. لكه په دے قول د حضرت حسان بن ثابتؓ كښې سے ما ان مدحت محمداً بمقالتي. لكن مدحت مقالتي بمحمدؐ.

وقلت مع ما المصدرية او قليل دے زيادة د ان سره د ما مصدريه نه نو دے نه مطومه شوه چه زيادة دان سره د ما نافيه نه كثير دے. لكه انتظر ما ان جلس القاضي يعني انتظر مدة جلوس القاضي. **ولما** داعطف دے په ما المصدريه باندے يعني قلت زيا متها مع لما لكه لما ان قام زيد قمت **وان** او ان بفتح الهمزة **مع لما** زيا تولے كيږي سره د لما نه. لكه فلما ان جاء البشير **وبين لو والقسم** او د غه شان ان زيا تولے كيږي په مابين د لو او د قسم كښې. لكه والله ان لو قام زيد قمت. **وقلت مع الكاف** او قليل مے زيادة دان سره د كاف تشبيهي نه لكه په دے مصرعه كښې چه كان ظبية تعطوا الى ناضر السلم **وما مع اذا ومتى واى واين وان شرطاً** او حرف ما زيا تيږي سره داذا متى اى اين او ان نه په حال د كښې د دوئ كښې چه دپاره د شرط راځي لكه اذا ما تخرج اخرج متى تذهب اذهب اياما تدعو فله الاسماء الحسنى. اينما تجلس اجلس. اما ترين من البشر احداً. د لته كښې شرطاً داحال واقع دے د دے پنځو نه. ځكه چه دا د شرط او غير شرط دواړو دپاره راځي. او يا دا ظرف واقع دے. نو تقدير به داسے شي. چه ذوات الشرط يا ادوات الشرط يا في وقت افادة الشرط او في الشرط.

وبعض حروف الجر او ما زيا تيږي سره د بعض حروف جر نه. خو دا موقوف دي په سماع باندے. لكه فبما رحمة من الله لنت لهم. **وقلت** او قليل دے زيادة د ما. **مع المضاف** سره د مضاف نه لكه لا سيما نه يد.

ولا مع الواو بعد النفی او زیاتیږي لا سره د واو نه چه واقع وي پس د نفی نه برابره خبره ده چه لفظاً وي که معنیً لکه ما جاءني زید ولا عمرو او غیر المغضوب علیهم ولا الضالین۔ دلته کښې غیر په معنی دلا النافیه دے او د غیرشان پس د نهی نه لکه لا تضرب زیدٌ ولا عمروًا **وان المصدریة** دا عطف دے په مع الواو باندې۔ یعنی تزاد لا بعد ان المصدریة. لکه دا قول د باری تعالی ما منعك ان لا تسجد إذ أمرتك. که څوک دا اووائی چه دا د عطف شی په بعد النفی ځکه چه دا قریب دے۔ جواب دا دے چه په دغه صورت کښې به معنی کښې فساد لازمیږي۔ ځکه چه عبارت به دا شی چه په دغه صورت کښې وتزاد لا مع الواو العاطفة بعد ان المصدریة۔ او دا عبارت لغو دے.

وقلت او قلیل دے زیادة د لا۔ **قبل اقسم** مخکښې دا قسم نه لکه لا اقسم بهذا البلد۔ او دا ذکر کولے کیږي دپاره د ظهور د قصے۔ په دے شان سره چه مستغنی ده د قسم نه

وشذت مع المضاف او شاذ دے زیادة د لا سره د مضاف نه۔ لکه په دے مصرعه کښې۔ في بیر لا حور سری وما شعر۔ **ومن والباء واللام تقدم ذکرها** د زیادة د من دباء او د لام بحث او ذکر مخکښې په حروف جاره کښې راغلے دے د هغې اعادے ته ضرورت نشته۔

حرفا التفسیر ای دوه حرفونه چه دپاره د تفسیر د مبهم راځي۔ ای دپاره د تفسیر د مبهم دے۔ برابره خبره ده چه دا مبهم مفرد وي که جمله۔ د مفرد د مثال لکه جاءني رجل ای زید او د جملے مثال لکه قطع رزقه، ای مات۔ **وأن** بل حرف تفسیر هغه ان دے **فان مختصة بما في معنی القول** دا دپاره د تفسیر ده او په دے سره فرق بیانوی په ما بین د ای او ان کښې۔ پس ان دا مختص دے یعنی دے تفسیر کوی د هغه فعل د مفعول چه په معنی د قول وی۔ لکه ونادیناه ان یا ابراهیم۔ نادیناه بلفظ او شئ هو قولنا یا ابراهیم په معنی د قول لکه امر شو ندا او کتابت شو۔ د امر مثال لکه امرته ان اذهب، واوحینا الی ام موسی ان ارضعیه۔ د کتابت مثال لکه کتبت الیه ان قم۔ لیکن دا د دے استعمال غالب دے۔ که په دے سره د مفعول ظاهر تفسیر هم راځي لکه ما قلت لهم الا ما امرتني به ان اعبدوا الله۔ دلته کښې بعضو نحویانو ویلی دی چه دا تفسیر دپاره د قول دے نو تا سره څنګه وایئ چه ان پس د قول نه نه راځي۔ جواب دا دے چه دا تفسیر دپاره د امر دے چه معنی د قول دے نه دپاره د قول۔

حروف المصدر ما وأن وأنّ بعضے د حروفو نه حروف مصدر دی دلته کښې اضافة د حروف مصدریه د وجه د ادنی ملابسة نه ده دے۔ یعنی حروف تجعل الجملة مصدرا۔

فالاولان للفعلیة پس اولنی دوه چه ما او ان دی دا خاص دپاره د کېدو د جملے فعلیه په تاویل

د مصدر. لکه وضاقت علیهم الارض بما رحبت ای برحبها. اعجبنی انك قائم ای قیامك.

وانّ للاسمیة او انّ راځي دپاره دکرځولو د جملې اسمیې په تاویل د مفرد سره لکه اعجبني انك قائم. المعجبني قیامك. او کچرته جمله اسمیه داسې وي چه هلته کښې مصدریت متعذر وي نو بیا به کون مقدر کولې شي. لکه المعجبني أن هذا زید یعنی کونه زیداً.

حروف التحضیض

بعضې د حروفونه هغه حروف دي چه هغه استعمالیږي دپاره د برانګیخته کولو. چه کله دا حروف داخل شي په فعل مستقبل باندې لکه هلا تتوب قبل الموت او چه کله دا حروف داخل شي په فعل ماضي باندې نو فائده کوي تندم او زجر وتوبیخ په مافات باندې لکه هلا قرأت القرآن دا حروف تحضیض ځکه دي. **هلا والا ولولا ولوما لها صدر الکلام** دوی له حاصل دے صدارت دکلام د پاره دے چه دکلام د نوعیت د اول وهلته نه معلوم شي **ویلزمها الفعل لفظاً او تقدیراً** او دوی سره فعل لفظاً وي که تقدیراً ځکه چه تحضیض او حث دا متعلق دي په فعل پورې دلفظاً فعل مثال لکه هلا تضرب زیداً او د تقدیراً مثال لکه هلا زیداً تضربه. او کله کله دے نه روستو جمله اسمیه هم راځي دوجه د ضرورت نه لکه په دے شعر کښې سه یقولون لیلی ارسلت بشفاعة. الی فهلا نفس لیلی شفیعها.

حرف التوقع قد بل د حروفونه حرف توقع دے چه هغه قد دے داد پاره دتقریب، تقلیل او تحقیق راځي او کله د پاره دتکثیر هم راځي. دے ته حرف توقع په دے وجه ویلې شي لانه یخبر بمن یتوقع. دے کله په ماضي داخلیږي کله په مضارع. چه کله په ماضي داخل شي نو هغه د تحقیق او تقریب معنی ورکوي سره د توقع نه. لکه دا میر درکوب امید څوک اولري نو هغه اووائي قد رکب الامیر والله. او کله بغیر د توقع نه وي. لکه قد رکب الامیر. --

وهی فی المضارع للتقلیل او دا قد چه کله داخل شي په فعل مضارع باندې نو دا تقلیل فائده کوي. لکه ان الکذوب قد یصدق او په موضع د مدح کښې د پاره د کثیر راځي. لکه قد یعلم الله دے، حیف توقع ته حرف تقریب هم وائي. لانه انا دخل علی الماضی قربه الی الحال لکه قد قامت الصلوٰة او کله د تحقیق د پاره راځي چه مجرد وي د معنی د تقلیل نه لکه قد نری تقلب وجهك (الآیة).

حرف الاستفهام بعض د حروفونه دوه حرفه د استفهام دي چه دا راځي د پاره د مطلب دفهم الدعلم. **الهمزة وهل** چه او همزه دے او بل هل دے **لهما صدر الکلام** دے دواړو د پاره صدارت دکلام حاصل دے. ځکه چه دا دلالت کوي په تقاص نوعه دکلام سبا نه.

چه هغه استفهام دے . نو په اول او صدر د کلام کښې به راوړې له شي چه دلالت اوکړي د اول وهلته نه په دغه خاص نوعه باندې . دا په جمله اسميه او فعليه دواړو باندې داخلیږي . چه په جمله اسميه داخل وي . **تقول ازيد قائم** او چه په جمله فعليه داخل وي لکه **اقام زيد وكذالك هل** او همدغه شان د همزه هل دے لکه هل زيد قائم . هل قام زيد . **والهمزة اعم تصرفا** او همزه عام دے په اعتبار د تصرف سره د هل نه . ځکه همزه اصل دے په استفهام کښې په نسبت سره د هل نه او هل دا اخصر دے د هل نه . په دے عبارة سره مصنف فرق بيانوي په مابين د همزه او د هل کښې .

فائده زده کړه دا خبره چه همزه داخلیږي په هغه دے يو جملے اسميے باندې برابره خبره ده چه خبر ئے فعل وي که اسم وي او هل داخلیږي په هغه دے يو جملے فعليے باندې چه خبر د هغه اسم وي ځکه چه هل په معنیٰ د قد دے لکه هل اتى على الانسان الخ او قد چونکه دلوازم د فعل نه دے په دے وجه باندې چه کله فعل موجود وي . نو دے به په اسم نه داخلیږي . تقول ازيدا ضربت . هل زيدا ضربت نشے ويلے . ځکه چه وخت د وجود د فعل کښې هل به په فعل داخلیږي او هل زيد قائم ترکيب صحيح دے ځکه چه دلته کښې فعل نشته **واتضرب زيدا وهو اخوك** ځکه چه دا استفهام انكاري دے او دا استفهام انكاري د پاره همزه راځي هل نه راځي . **وازيد عندك ام عمرو** دا ترکيب روا دے او هل زيد عندك ام عمرو نه دے جائز . ځکه چه ام په مقابله د همزه کښې راځي نه د هل کښې **واثم اذا ما وقع** يعني په حروف عاطفه باندې به همزه مقدم وي . ځکه چه هل په استفهام کښې اصل نه دے په شان د همزه . نو د همزه په شان صدارت د کلام نه غواړي په دے وجه هل به د حروف عاطفه نه مؤخر وي . دلته کښې اثم اذا ما وقع لعطف دپاره دے په مقدر باندې . تقدير د عبارت به داسے شي . اذا حان وقت العذاب ووقع اثم اذا ما وقع آمنتم به **وافمن كان** دلته کښې فا حرف عاطفه باندې همزه داخل دے او داسے نه شي ويلے چه هل فمن . دا جمله هم معطوفه ده په مقدر باندې يعني اومن كان مؤمنا كمن هو كافر فمن كان الخ يا لکه **اومن كان** دلته کښې همزه په واو داخليږے شو خو هل نشي داخليدے . دا جمله هم معطوفه ده په مقدر باندې من امن كمن لم يؤمن اومن كان ميتا الخ وجه د عدم دخول د هل په دے مقاماتو کښې ذکر شو يده .

حروف الشرط بعض د هغه حروفو نه حروف شرط دي يعني هغه حروف چه مال دي په تعليق دیو شي په بل شي باندې . شرط په لغت کښې الزام الشئ بالشئ ته وائي . او په اصطلاح کښې تعليق حصول مضمون جملة بحصول مضمون جملة اخرىٰ . **ان ولو واما** چه هغه درے دي لو لما صدارت د کلام ثابت دے . دپاره د دے چه دا اول د کلام **ولها صدر الكلام** دلته معلومه نه شي . **فان للاستقبال وان دخلت على الماضي** دلته

کښې اُس مع" تفصیل شروع کړه. فا د پاره د تفصیل د اجمال ده. اِنْ راځي د پاره د استقبال اګر که په ماضي داخل شي. یعنې معنی به د مضارع ورکړي. **ولو عکسه** او لو عکس د اِنْ دے. یعنې دے به معنی د ماضي ورکړي اګر که په مضارع داخل وي. دا د غالب استعمال دے. ودے نه علاوه لو په معنی د اِنْ باندې هم استعمالیږي لکه ان اعجبکم او کله په معنی د اَنْ ناصبه هم راځي. لکه یود لو یجرم تو یعتقدی به **سوال** دا دے چه شمیل ستا تو لو د حروف شرط نه جا ګرځي. ځکه چه شرط خو د یعني شي تعلیق الشئ بالشئ دے او لو راځي لانتفاء الشئ الثاني لاجل انتفاء الاول لکه په دے قول کښې لو جئتني لاکرمتك دلالت کوي په انتفاء د اکرام باندې د وجه د انتفاء د مجیئت نه **جواب** دا چه دا خبره چه لو راځي د پاره د انتفاء د ثاني د وجه د انتفاء د اول نه دا حقیقي معنی د لو نه ده. بلکه لازمي معنی ده اصل کښې لو وضع دے د پاره د تعلیق د حصول د یو امر په ماضي په حصول د امر آخر سره په دے کښې. بیا **اعتراض** وارد یږي چه لو خو استعمالیږي د پاره د قصد د لزوم د ثاني د پاره د اول سره د انتفاء د لزوم نه لزوم هیڅ سره استدلال نیولے کیږي په انتفاء د لازم باندې لکه په دے قول د باري تعالی کښې لو کان فیهما آلهة الا الله لفسدتا. دا دلالت کوي په لزوم د فساد باندې په وخت د تعدد د الهه کښې او فساد خو منتفي دے. پس دلالت لے او کړو په انتفاء د تعدد د لو هر که چه لو راځي د پاره د انتفاء د اول د وجه د انتفاء د ثاني. نو لو څنګه د حروف شرط نه او ګرځید و..

جواب دا دے چه دا معنی مجازي ده. دے معنی ته قصد کولے شي په وخت د استدلال کښې په انتفاء د لازم معلوم سره په انتفاء د ملزوم مجهول باندې **سوال** دا دے چه لو که راځي د پاره د بیان د استمرار د شي لکه لو اهانني لاکرمته. نو دا څنګه د پاره د شرط بر دا شي **جواب** دا دے چه دلته کښې هم لو د پاره د تعلیق دے. ځکه چه تعلیق د اکرام او اهانت په دے راغلے دے. او استمرار ورسره لازم دے ځکه چه اکرام او اهانت سره لازم شو نو اکرام سره به په طریقه اولی لازم وي. **وتلزمان الفعل** اِنْ او لو لازم د فعل سره یعنې دواړه به په فعل داخلیږي. **لفظا او تقدیرا** یا به دا فعل ملفوظ وي یا به مقدر وي. لفظا مثال ئې مخکښې تیر شو. او د تقدیرا مثال لکه وان احد من المشرکین استجارك او لو انتم تملکون تقدیر ئې ان استجارك احد یا انتم تملکون مرفوع وي. ځکه چه دا فاعلونه دي دا فعلونو مقدر د. او دا دوه د فعل د افعالو نه پس دي د. هغه تفسیر کوي مقدر. نو اصل عبارت به داسے شي وان استجارك احد استجارك او لو تملکون انتم تملکون **سوال** دا دے چه لو انتم تملکون کښې انتم د تاکید شو فاعل نه شي تاکید د ضمیر د جمع شي په تملکون کښې. **جواب** دا دے. چه انتم دا ضمیر دے په اصل کښې په فعل کښې چه کله فعل حذف شو نو دا ضمیر منفصل شو د وجه د عدم د متصل نه. او دا تاکید نه شي کیدے. ځکه چه حذف د فعل او د فاعل معا ابعد من حذف الفعل وحده.

ومن ثم او د دې وجې د دې خبرې نه چه د وئ سره فعل لازم دے **قيل لوانك بالفتح** ويلے شي لوانك بالفتح. يعني د لو نه به وروستو أن مفتوحة الهمزه راځي ځکه چه ان خپل مدخول له ځه هغه اسم او خبر دی په تاویل د مفرد کرځوي. او فاعل مفرد دوی. دا په دے وجه چه د لو نه روستو فعل راځي. او فعل فاعل غواړي. **لونه فاعل** ځکه چه دا فاعل دے دپاره د فعل محذوف چه هغه ثبت دے مثلاً.

والطلقت بالفعل دا عطف دے په لوانك باندې وقيل انطلقت بالفعل يعني أنّ چه كله واقع شي پس د لو نه او د مفرد شرط محذوف دی. نو خبر د انّ به يا مشتق وي يا جامد وي. كه چرته مشتق وي نو واجبه ده دا خبره چه دا به فعل وي ځکه چه فعل مقدر له ره لا بدی ده د مفسر نه او انّ دے دال دے په معنی د تحقیق باندې په دے وجه دے دلالت کوی په ثبت باندې. نو لازم شوه دا خبره چه خبر د انّ به فعل ماضي وي اسم فاعل به نه وي. **موضع منطلق** يعني په ځائے د اسم فاعل په صيغه د ماضي راوړلے شي.

ليكون كالعوض ګويا دا به عوض اوګرځي د فعل مفسر نه لو په ځائے د لوانك منطلق به لوانك انطلقت وائي نو چه فعل سره نه په اسم سره. **سوال** دا دے چه كالعوض ئے ولے او وئيل بعينه عوض به ئے وئيلي وو. **جواب** دا دے چه مونږه عکس دا خبره اوکړه چه انّ دال دے په معنی د تحقیق او ثبوت باندې نو پس دے دلالت کوی په معنی د ثبت باند مقدرا نو دا عوض شو د انّ نه من حيث المعنى. او هغه فعل چه واقع دے خبر د انّ نو هغه عوض دے من المحذوف في اللفظ نو هم په دوئ نه كالعوض شو نه عين عوض. **فان كان جامدًا** او كه چرته دا خبر د انّ اسم جامد وي. **جاز** نو جائز دے واقع كيدل د اسم په خبر كښې. **لتعذره** يعني لتعذر الفعل لکه لوان زيدا رجل يا لکه په دے قول د باری تعالی كښې ولو ان ما في الارض من شجرة اقلام. **سوال** دا دے چه ستا دا قاعده منقوض شوه په دے ترکيب سره. يؤد ولو انهم بادون سره چه خبر اسم جامد نه دے بيا هم په فعل نه دے بدل. **جواب** دا دے چه دلته كښې لو شرطيه دے بلکه دا به معنا د ان مصدريه سره دے. او د بعضو نحاتو په نز باندې لو به د فعل شرط نه دی. اګر که خبر مشتق وي. لکه په دے مصرعه كښې اهلكتهم لو ان ذالك نافع. او بلکه په دے مصرعه كښې. موعودها ولو ان النصح مقبول. نو جواب د دے نه دا دے چه دلته كښې خبر مشتق نه دے بلکه دا صفت دے. د پاره د خبر جامد. اهلكتهم لو ان ذالك امر نافع دلته كښې امر مقدره دے. او د غه شان په دے بله مصرعه كښې موعودها ولو ان النصح امر مقبول. دلته كښې هم امر مقدر دے.

فائده په دے مقام كښې راوړل د خبر فعل چه كله خبر اسم مشتق وي. دا اكثر استعمال دے. او بيا راوړل د ماضي اغلب دی.

واذا تقدم القسم اول الکلام علی الشرط په هغه وخت چه تقدیم د قسم راشي په شرط باندې په اول دکلام کښې ملتزم نه مع هغه احکام بیانوي چه تقدیر د قسم راغلې دي یا په وسط کښې راغلې وي یا په آخر کښې وي . دلته کښې اول الکلام ظ منصوب دے بنا بر ظرفیة یعنی فی اول زمان التکلم . **لزمه الماضی لفظا او معنیً** ما جزاء ده د پاره د اداء لازم دی قسم سره چه هغه فعل شرط چه ده نه رو ستو واقع دے هغه به ماضي وي . د پاره د دے چه ادوات د شرط به دے کښې عمل اونه کړي . معنیً ماضي د ېتره وائي چه په مضارع باندې لم داخل شي . د لفظاً ماضي مثال لکه والله ان اتیتني اتیتك او د معنی مثال لکه والله ان لم تأتني لم اتیك

فیطابق یعنی فیطابق الشرط الجواب نو مطابق وي شرط جواب سره به عدم عمل کښې لفظاً په دواړه کښې

وکان الجواب للقسم لفظا او به لفظ کښې به دا جواب دقسم وي د پاره د دے چه فعل واحد مجزوم او غیر مجزوم واقع نشي او معنیً دا جواب دقسم هم کیدے شي ځکه چه یمین به ده باندې واقع دے . او د شرط د پاره هم کیدے شي . ځکه چه دے مشروط بالشرط دے .

مثل والله ان اتیتني دا مثال د ماضي دے لفظاً او دلته کښې قسم مقدم دے په شرط باندې . **اولم تأتني** دا مثال د ماضي دے معنیً **لا کرمتك** دا جزاء ده **وان توسط القسم** دا بل صورت دے . کوم ته دا قسم متوسط وي . به دے شان سره . **بتقدیم الشرط او غیره** یا شرط ورباندې مقدم وي او یا غیر د شرط نه بېده باندې مقدم وي . **جاز ان یعتبر** جائزه ده چه قسم او شرط دواړه معتبر کړے شي . **وان یلغی** یا ملغی او کړے شي یعنی قسم او اعتبار د شرط او کړے شي یا شرط ملغی شي او د قسم اعتبار او کړے شي . دا دواړه وجهین به دے وجه باندې جائز دي . ځکه چه قسم دا قسم به خالي نه وي یا به په اول کښې وي یا به نه وي که په اول کښې وي نو دے واجب الرعایة دے او کوم ته به اول کښې نه وي نو بیا شرط او قسم برابر دي . **کقولك انا والله ان تأتني اتك** . دا مثال د تقدیم دغیر الشرط دے په قسم باندې . کوم ته دلته کښې اولنئ معنی ته او کورو . نو نشر غیر مرتب دے . او که معنی ثاني ته او کورو . نو بیا تقدیم کښې نشر غیر مرتب دے . او په جواز کښې مرتب دے

وان اتیتني والله لاتینك بناء به معنی اولے باندې دا مثال د تقدیم د شرط دے . او جواز د اعتبار د قسم دے . دلته کښې نشر مرتب دے به نظر سره معنی اولے ته به اعتبار د تقدیم او د جواز سره او به نظر سره معنی ثاني ته به اعتبار د تقدیم سره نشر مرتب دے . او به اعتبار د جواز د الغاء د شرط سره نشر غیر مرتب دے . چونکه په معنی اوله کښې لف نشر مرتب دے به اعتبار ین سره علی سبیل الاجتماع او به معنی ثاني کښې علی وجه التفریق به دے وجه باندې معنی اول له ترجیح ده په ثانیه .

بنا په دے باندِ یکار دہ دا خبرہ چه مثال ثانی ئے مقدم کړے وو په اول باندِ. لیکن دلته کښې ئے مؤخر کړو. چه اتصال د مثال راشی د ممثل سره بقدرالامکان. **وتقدیر القسم کاللفظ** یعنی قسم مقدر په حکم کښې پشان د قسم ملفوظه دے. یعنی په اعتبار او عدم اعتبار کښې. لکه **لئن اخرجوا لا یخرجون** دلته کښې په لئن کښې لام موطئہ للقسم دے او دا لام داخل دے په شرط باندِ او په دے باندِ قسم لفظاً مقدم دے. شرط ماضی دہ او جواب د قسم لا یخرجون غیر مجزوم دے. کمبخته جزاد شرط وو نو بیا به مجزوم وو. وتقدیر القسم باندِ. **سوال** وارد یږی چه دلته کښې لازمیږی تشبیه د وصف سره د ذات مع الوصف نه. **جواب** دادے چه لفظ په دے مقام کښې محمول دے په معنی مصدری باندِ نو عبارت به داسے شی وتقدیر القسم کالتلفظ به. **وان اطعتموهم انکم لمشرکون** دلته کښې شرط ماضی دہ او انکم لمشرکون جواب د قسم دے کمبخته د اجزاء د شرط وو نو بیا فاء راوړل ضروری وو ځکه چه دا جمله اسمیه دہ او جمله اسمیه چه کله جزاء واقع شی. نو فاء راوړل پکښې واجب دی.

واما للتفصیل او بل د حروف شرط نه اما دے دے راځی دپاره د تفصیل د اجمال چه متکلم کړے خبرہ مجمله کړی وی د مخے د تفصیل دپاره راځی. چه هغه اجمال یا به ذکر کښې وی یا به ذهن کښې وی د ذکر مثال لکه جاء اخوتك اما زید فاکرمته واما عمرو فا هنته، واما بکر فاعرضت عنه. مثال د اجمال ذهنی هغه چه معلوم وی مخاطب ته په واسطه سره یا په قرائنو سره. او کله د مجرد استیناف دپارہ راځی بغیر د سبق اجمال نه. لکه امّا چه ذکر کیږی په اوائیلو د خطبو کښې. او چه امّا دپارہ د تفصیل راځی بیا پکښې تکرار لازم دے. ځکه چه مفصل مکرر وی. او کله کله اکتفاء صرف په یو قسم باندِ کیږی هغه وخت کښې مذکور ضد د غیر مذکور وی. ځکه چه په ضد دلالت کوی په بل باندِ. لکه فاما الذین فی قلوبهم زیغ نو دے ضد اما الذین لیس فی قلوبهم زیغ دے. او دلیل په شرطیة دے باندِ هغه دخول د فاء دے په جواب کښې او سببیت د اول دے دپارہ د ثانی.

والتزم حذف فعلها او التزام کړے شویدے د حذف د فعل د دے چه هغه شرط دے د وجے د کثرت استعمال نه. **وعوض بینها و بین فائها** او عوض به راوړے شی په ما بین د اما کښې او په ما بین د فاء د اما کښې. **جزء مما فی حیزها** یعنی جزء مما فی حیز جوابها دپارہ د دے چه توالی را نشی په ما بین د شرط او د جزاء کښې. او س د غه خبر به یا مبتداء وی لکه اما زید فمنطلق. او یا به معمول وی دپارہ د هغه چه واقع وی بعد الفاء لکه اما یوم الجمعة فزید منطلق. دلته کښې یوم الجمعة معمول د منطلق دپارہ دے. **مطلقا** ما صفت دپارہ د زمانا یعنی زمانا مطلقا یعنی برابرہ خبرہ دہ چه مابعد د اما نه هغه شے وی چه منع وی تقدم د هغه فاء باندِ او یا منع نه وی کما اما زید فمنطلق

وقيل هو معمول الشرط المحذوف مطلقا | قائل د دے مبرد نحوی دے. هُو يعني هغه چه واقع دے په مابين د امّا اؤ د فاء کښې. يعني هغه چه ما بعد د امّا نه دے. هغه به معمول د شرط محذوف وی. نه جزء د پاره د جزاء. مطلقًا يعني زمانا مطلقًا غير مقيد دے په حال د منع د تقديم اؤ عدم منع تقديم.

مثل اما يوم الجمعة فزيد منطلق. بناء په مذهب اول تقدير د عبارت به داسے شی مهما يکن شئ يوم الجمعة (سواء کان بزيد ما الانتصاب) فزيد منطلق يوم الجمعة. پس دلته کښې فعل شرط حذف کړے شو. اؤ امّا په ځائے د مهما بانديرے کښې اؤ متوسط کړے شو يوم الجمعة په مابين د امّا اؤ مابين د فاء کښې. د پاره د دے چه تراللے رانشی په مابين دا دوات د شرط اؤ د جزاء کښې. اؤ بنا په مذهب ثاني تقدير د عبارت داد ے چه مهما يکن من شئ يوم الجمعة فزيد منطلق. نو په دے ترکيب کښې يوم الجمعة معمول دے د پاره د فعل شرط محذوف.

وقيل ان کان جائز التقديم فمن الاول والا فمن الثاني | اؤ بعض نحاة توجيه مازنی دے د ګيلی دی. چه کله ما بعد دامّا نه جائز التقديم وی. نو هغه به د قسم اول نه وی. په دے شان سره چه غير د فاء نه بل مانع نه وی. لکه مبتدا شوه په امازيد فمنطلق. اؤ يا معمول د پاره د هغه چه په خبر د جواب د دے کښې وی. لکه اما يوم الجمعة فزيد منطلق. ځکه چه جائز دی دا خبره چه يوم الجمعة کړے اؤ ګرځی معمول د پاره د منطلق اؤ يوم الجمعة مقدم دے په فاء بانديے.

والّا فمن الثاني | يعني ان لم يکن جائز التقديم چه د فاء نه علاوه بل مانع وی. نو هغه به د قسم ثاني وی. يعني هغه به معمول د پاره د شرط محذوف وی. ځکه چه ممتنع ده دا خبره چه دے جزء د جزاء شی. ځکه دلته کښې تقديم ممتنع دے. لکه اما زيد فاني ضارب. ځکه انّ دے خپل ما بعد لره منع کوی د عمل نه په ما قبل کښې. دلته کښې مصنفؒ امثله د جزء منصوب ذکر کړل اؤ د جزء مرفوع ئے ذکر نه کړل ځکه د جزء مرفوع مثالونه کثير اؤ ظاهر دی.

حرف الردع | بعض د حروفو نه حرف ردع دے. ردع په معنی د زجر اؤ د منع راځی. دا کلا د پاره د زجر د مخبر لګيږی سره چا ته اووائی فلان يبغضك نو ته ورته اووائے کلا، يعني ليس الامر کذالك. اؤ يا د پاره د ردع د طالب. لکه رب ارجعون لعلی اعمل صالحا فيما ترکت کلا.

وقد جاء بمعنى حقا | اؤ کلا راځی په معنی د حقا لکه کلا ان الانسان ليطغیٰ اؤ کلا په دوا رو معنيو راځی. لکه ثم يطمع ان ازيد کلا. غرض د دے نه تحقيق د مضمون د جملے دے. چه کلا په معنی د حقا وی. اؤ دغه شان دا به اسم مبنی وی. د وجے د مشابهت د ده نه د کلا حرفيه سره لفظا.

سوال دا دے چه کله کلا اسم دے نو ولے په اسما کښې ئے ذکر کړو. **جواب** دا دے چه دے اسم قوهم ورباندے نحاة حکم د حرفيت کوی. ځکه مقصود د ده نه تحقيق د مضمون د جملے دے. نو د حرفيت نه زړاوځی پښتانه دانه.

تاء التانیث الساکنة بعض د حروفو نه هغه تاء د تانیث ده چه هغه ساکنه ده. دلته کښې الساکنة د تاء د پاره صفت راغلې دے. د تاء اضافت هغه التانیث ته راغلې چه هغه معرف باللام دے. او د مضاف الی معرف باللام هغه له حکم دلام دے. په الساکنة سره احتراز راغلې د متحرکې نه. ځکه چه تاء متحرکه دا خو اصو دا اسم نه ده. **تلحق الفعل الماضی** دا به ملحق وی په فعل ماضی پورے. چه دا دلالت اوکړی په دے خبره چه رو ستو چه کوم مسند الیه ذکر کیږی هغه به مؤنث وی. **لتانیث المسند الیه** دلته کښې لام د پاره د تعلیل دے. د غرض د پاره نه دے. او مسند الیه عام دے فاعل وی. که مفعول مالم یسم فاعله وی. دلته کښې **سوال** وارد یږی چه څه وجه ده. تماتو تاء ساکنه خاص کړه په فعل پورے او متحرکه ئے خاص کړه په اسم پورے. **جواب** دا دے چه اصل په اسم کښې اعراب دے. او اصل په فعل کښې بناء ده. نو تحرک د تاء دا علامه دا عراب دا اسم شوه. او سکون د تاء د علامه د بناء د فعل شو.

فان کان ظاهرًا غیر حقیقی که چرته دا مسند الیه اسم ظاهر وی. او مؤنث غیر حقیقی وی. چه په مقابله کښې د هغه ذکر من الحیوان نه وی. **فمخیر** بیا تا ته اختیار دے. **سوال** دا دے چه دا خو جزاء ده او جزاء نه وی مگر جمله او دا خو مفرد دے. **جواب** دا دے چه دلته کښې مبتداء حذف ده. یعنی فانت مخیر. دلته کښې دا صیغه دا اسم فاعل هم صحیح کیږی. په دغه وخت کښې به دا خبر د پاره د انت شی. او که چرته دا صیغه دا مفعول شی. دا به خبر شی د پاره د هو او دا ضمیر به الحاق ته راجع شی. او دا به د قبیلې د حذف والایصال نه او گرځی. او دلته کښې به فیه مقدر شی یعنی هو فیه مخیر.

واما الحاق علامة التثنیة والجمعین فضعیف په دے عبارت سره غرض د مصنف دفع د اعتراض ده. **سوال** دا دے چه په فعل پورے الحاق د تاء ساکنې کیږی چه دا علامه او گرځی په تانیث د مسند الیه. نو د هغه شان ورسره الحاق د علامې د تثنیې او د جمع هم پکار دے چه دا علامه وی په تثنیت او یا جمعیت د مسند الیه. نو مصنف جواب اوکړو واما یعنی هر چه دے الحاق د علامې د تانیث او د جمعینو یعنی جمع مذکر او جمع مونث چه کله فاعل اسم ظاهر وی نو دا ضعیف دے. ځکه چه په دغه وخت کښې لازمیږی تعدد د فاعل. یو به ضمیر شی او بل به اسم ظاهر شی. او د هغه علاماتو ته احتیاج نشته. دا سے احتیاج لکه چه څنگه علامې د تانیث ته دے. لکه قاما الزیدان، قاموا الزیدون قمن النساء. **سوال** وارد یږی چه مصنف ځائے د ضعیف پکار دا ده چه ممتنع ویلے وے. ځکه چه ضعیف خو دلالت کوی په جواز دا لحاق باندے او حال دا چه دا خو ممنوع دے. ځکه چه په دغه وخت کښې لازمیږی اضمار قبل الذکر بلا فائده او یا تعدد د فاعل. **جواب** دا دے چه په فعل پورے کوم علامه د تثنیت او جمعیت ملحقه ده. دا ضمائر نه دی. بلکه دا حروف دی چه دلالت کوی په احوال

دفاعل بائد ـ اؤ شیخ رضی وائی ـ چه حکم د ضعف په دے لحوق باندِ صحیح نه دے. ځکه چه جائز ده دا خبره چه دا اسم ظاهر دے بدل راغلے وی . د هغه ضمیر نه چه کوم په فعل کښې دے ـ اؤ فائده د دے بدل هغه مبالغه ده فی الاسناد ـ لکه اکلونی البراغیث ـ خو دجامیه د مص" نه شیخ رضی ته جواب وا دے چه دلته کښې بظاهر توهم د تعدد د فاعل راځی ـ اګرکه په واقع کښې نه وی

التنوین بل قسم د حروفو نه هغه تنوین دے لغةً دا مصدر د نونتن دے . په معنیٰ د ادخلت علیه النون ـ بیا نفس تنوین په دے سره مسمّیٰ کړے شو ـ چه دا علامه او کرځی په جمله اُو په عروض د ده ـ اصطلاحی تعریف ئے مصنّف کوی ـ **نون ساکنة** په ساکنه سره احتراز راغے د متحرک نه ـ ځکه چه هغه ته تنوین نشی ویلے اؤ د هغه شان مراد په سکون سره سکون اصلی دے نه عارضی لکه نون ساکن چه هغه متحرک کړے شی ځکه چه د هغه حرکت عارضی دے . **تتبع حرکة الآخر** چه دے تابع وی د حرکت د آخر د کلمے الآخر کښې الف لام عوض د مضاف الیه نه وی یعنی آخر الکلمة په هر یو تعریف کښې لا بدی ده د جنس اؤ د فصل نه ـ نونٌ ساکنة دا جنس دے تمام نون ساکن پکښې داخل شو ـ لکه نون د من اؤ من دلدُن ـ تتبع حرکة الآخر دا فصل دے په دے سره ترنه د هغه قسم نونات خارج شو ځکه چه دا عین آخر د کلمے وی ـ اؤ دلته کښې مص" دا سے اؤ نه ویل چه تتبع الآخر ـ ځکه چه تابع د آخر هغه ته وائی چه ملحق په آخر پورے بلافصل اؤ دلته کښې حرکة فاصله دے په مابین د تنوین اؤ د آخر کښې ـ **سوال** وارد یږی چه دلته کښې ذکر د حرکت مستدرک دے ځکه چه آخر د کلمے خو حرکة وی . **جواب** دا دے چه متبادر د آخر نه حرف آخر دے ـ بیا **سوال** وارد یږی چه آخر الاسم نه دِ وئیلی وو ـ **جواب** دا دے چه آخر الاسم ئے اونه وئیل د پاره د دے چه شامل شی تعریف هغه تنوین ته ترنم لره ـ **سوال** وارد یږی چه ستا دا تعریف جامع نه شو خپلو افراد د لره اؤ خارج شو ترنه تنوین چه کوم په ید یا دم ، اب ، اخ کښې دے ـ ځکه چه دا تابع د آخر د کلمے نه دے بلکه د وسط د کلمے دے ـ **جواب** دا دے چه دا داخل دے په تنوین کښې ـ ځکه چه حرف آخر هغه محذوف نسیًا منسیا دے ـ نو دا وسط په منزله د آخر د کلمے شو ـ **لا لتاکید الفعل** دا فصل دے اؤ خارج شو ترنه نون تاکید خفیفه چه هغه راځی د پاره د تاکید د فعل ـ **سوال** دا وارد یږی چه ستا تعریف مانع نه شو د دخول د غیر نه اؤ داخل شو پکښې نَ د یا رجل انطلق ـ ځکه چه دا خو هم نون دے چه تابع د حرکة د ما قبل دے ـ **جواب** دا دے چه مراد په تبعیة سره دا سے تابع دے چه د هغه وجود موقوف وی په وجود د متبوع باندِ لکه د عارض اؤ د معروض ـ چه معروض د ی خو عارض به وی ـ اؤ دلته نشه دا سے نه دے ـ ځکه چه نون د انطلق تابع د حرکة د لام د رجل نه دے ـ کمې ته کښې دا لام معدوم شی

وهو للتمكن په دے سره مصنف اشاره کوی اقسامو د تنوین ته۔ چه بنو تو تن به بیا هم موجود دی و منه پنځه قسمونه دی. یو تنوین تمکن دے. دے داخلیږی په اسم باندې. او دے دلالت کوی په دے خبره باندې. چه دا اسم معرب منصرف دے. لکه زیدٌ. تمکن ورته ځکه وائی چه دے دلالت کوی په امکنیت د اسم باندے. **والتنکیر** یعنی تنوین تنکیر دے. چه دا اسم په نکره والی دلالت کوی. یعنی دا فارق دے په مابین د معرفے اؤ د نکرے کښی لکه چه څنګه تمکن فارق دے په مابین د منصرف اؤ غیر منصرف کښی. لکه صهٍ و مهٍ یعنی مدخول د دے به غیر معین وی

فائده تنوین تنکیر اؤ تنوین تمکن دا دواړه قسمین دی د پاره د مقسم واحد۔ اؤ په مابین د قسمینو د مقسم واحد کښی تباین وی۔ **والعوض** یعنی تنوین عوضی دے دا هغه دے چه عوض د مضاف الیه نه راغلے وی اؤ یا د یاره نه لکه په جوارٍ. چه عوض د مضاف الیه نه وی لکه یومئذٍ، حینئذٍ. دا په اصل کښی وو یوم اذ کان کذا، حین اذ کان کذا. راځی د پاره د جیرے د نقصان چه حاصل شوی دے په حذف سره.

والمقابلة اؤ یا تنوین د مقابلے دے چه دا راځی په جمع مؤنث کښی په مقابله د نون د جمع مذکر کښی لکه مسلمات. په مسلمات کښی دا تنوین مقابله دے. اؤ تنوین تمکن یا تنوین تنکیر یا تنوین عوضی اؤ تنوین ترنم نه دے. هر چه دے عدم تنوین تمکن نو دا په دے وجه کړے د تنوین تمکن وے بیا پکار دا وه چه کله دا علم اوګرځی۔ (مسلمات) د پاره د یو مرے نو دا به زائل شی. ځکه چه په دغه وخت کښی به دا غیر منصرف اوګرځی۔ اؤ دا د تنکیر د پاره هم نه دے. ځکه چه دے موجود یږی په علم کښی چه عرفات دے. اؤ تنوین عوض هم نه دے ځکه چه مضاف نه دے یو شی ته. اؤ تنوین ترنم هم نه دے. ځکه چه دے موجودیږی په غیر د اواخر د ابیاتو کښی. پس متعین شوه دا خبره چه دا د پاره د مقابلے دے.

والترنم یعنی تنوین ترنم دے چه دے راځی د پاره د تحسین د صوت اؤ د تحسین د انشاد.

فائده تنوین ترنم په دوه قسمه دے. یو هغه دے چه ملحق کیږی قافیه مطلقے پورے. اؤ قافیه مطلقه هغه ده چه حرف روی په هغے کښی متحرک وی. اؤ مشبع وی په اشباع د حرکت د حروف اطلاق (حروف علة) سره دے ته حروف اطلاق وائی۔ لاطلاق الصوت بامتدادها۔ اؤ دغه حروف په آخر د ابیاتو د مصرعو کښی بدلیږی په تنوین سره۔ لکه په دے قول د شاعر کښی. اقلی اللوم عاذل والعتابن وقولی ان اصبت لقد اصابن. دویم قسم هغه دے چه ملحق وی قافیه مقیدے سره اؤ دا هغه ده چه حرف روی پکښی ساکن وی مقیده ورته په دے وجه وائی لتقیید الصوت بها. ځکه د دے کښی دا حرکت نشته چه د هغے په اشباع سره حروف اطلاق پیدا شی لکه وقاتم الاعماق خاوی المخترقن. د دے کښی روی د قافیے هغه قاف ساکن دے. اؤ مد د صوت په هغے کښی ممکن نه دے. نو په هغے د تغنی کښی دے

او یا فتح ورکړې شوې . یا کسره بیا وروپسې نون ملحق کړې شي . **سوال** دا دے چه تشبیه د تنوین مقابله او د تنوین ترنم دا قسام د کلمې نه نه دی صحیح ځکه چه په کلمه کښې وضع د پاره د معنی معتبره ده . او په دے کښې نه وضع د معنی نشته . لکه څنګه وضع د حروف تهجی د پاره د غرض د ترکیب ده **جواب** دا دے عد د دے کلمې نه په اعتبار د باقی اقسام دې . په معنوي کښې وضع معتبره ده . نو تغلیبا په دے کښې هم وضع معتبره کړې شوې . **و یحذف من العلم موصوفا بابن مضافا الی علم آخر** د هغه علم نه چه په لفظ د ابن سره موصوف دے . تنوین به وجوبا حذف کیږی ځکه چه ابن کثیر الاستعمال دے په مابین د علمین کښې او کثرت تقاضا د خفت کوی . نو ځکه تو به دے کښې تخفیف اوکړو . به حذف د تنوین سره د علم نه او په حذف سره د ابن نه . به علم سره د غیر علم نه احتراز او غے . لکه جاءنی رجل ابن عمر او په مضافا الی علم آخر سره احتراز اوشو د هغه نه چه اضافت ئے غیر علم ته راغلے وی لکه جاءنی زید ابن کاتب د وجه د قلت استعمال نه . **سوال** دا دے چه ستا دا قاعده مانع او نه ګرځیده د دخول د غیر نه او داخل شو په کښې فلان . ځکه چه دا علم نه دے او بیا هم ده ته دا حکم مذکور دے . **جواب** دا دے چه فلان حمل کړې شوی دے په علم باندې ځکه چه دا کنایه ده د علم نه . او په ابن باندې ابنة حمل کړې شوې ده . لکه هذه هند ابنة عاصم . خو دا صرف په تنوین کښې نه په حذف د همزه کښې . دلته کښې **سوال** واردیږی چه یکار دا ده چه د جاریة من قیس ابن ثعلبة نه تنوین حذف شوے وے ځکه چه جاریة دا موصوف دے په ابن سره چه مضاف دے علم آخر ته . **جواب** دا دے چه دلته کښې عدم حذف د تنوین د وجه د ضرورت نه دے .

نون التاکید خفیفة ساکنة ومشددة مفتوحة | بعض د حروفو نه هغه نون تاکید دے

چه نون تاکید خفیفه ساکنه دے . او بل نون ثقیله مفتوحه دے . دلته **سوال** واردیږی چه تا نون تاکید خفیفه ولے مقدم کړو په ثقیله باندې . سره د دے نه چه دا فرع دے د نون تاکید ثقیله . **جواب** دا دے چه دا ئے مقدم کړو د وجه د خفت نه . مراد په نون تاکید سره هغه نون دے . چه هغه راوړلے شی د پاره د تاکید . نون تاکید خفیفه دا ساکن دے ځکه چه دے مبنی دے . او اصل په بناء کښې سکون دے . او نون تاکید ثقیله مفتوح دے . او حرکت ورله ورکړې شوی دے . د وجه د التقاء د ساکنین نه . بیا په حرکت کښې فتحه ورکړې شوه ځکه چه نون ثقیل دے او فتح اخف الحرکات دے . لیکن مفتوح به نه وی . **مع غیر الالف** سوا د الف د تثنیه نه لکه اضربان شو یا الف د جمع چه فاصل دے په مابین د نون د جمع مؤنث کښې او نون مشدده کښې لکه اضربنان . په دے صیغو کښې به نون مکسور وی . ځکه چه دے مشابه دے د نون د تثنیه سره او نون د اعراب سره د پاره د تعادل په مابین د ثقل د کسرے کښې . او خفت د الف کښې .

مختص بالفعل المستقبل دا خاص دی په فعل مضارع پورې نه په ماضي یا حال پورې **فی الامر** ما صفت دے دپاره د فعل مستقبل یعنی الکائن فی الامر. لکه اضربن مخففۃ او مثقلة دلته کښې مختص الخ د جملې صفت نه دی. یعنی یختص کل واحد من نونی التاکید. **والنهی** لکه لاتضربن **والاستفهام** لکه هل تضربن **والتمنی** لکه لیتک تضربن **والعرض** لکه الا تنزلن بنا فتصیب خیرًا. **والقسم** واللہ لافعلن کذا **سوال** دا دے چه دا نون ولے خاص دے په دے مذکوره امورو پورې **جواب** دا دے چه دے مذکوره امورو پورې دا نون خاص دے ځکه چه دا امور دال دی په طلب باندې او د طلب تعلق په مستقبل پورې وی چه امر وی یا نهی وی یا استفهام یا تمنی او یا عرض وی. او مطلوب ماضی یا حال یا استقبال چه خبر وی هغه نه شی کیدے بیا **سوال** وارد یږی چه بکار ده چه په جواب قسم کښې دِ دا نون رانه شی. ځکه چه په هغې کښې معنی د طلب نشته **جواب** دا دے چه په جواب قسم کښې دا نون راځی د وجے د تشبیه د دے نه د مطلوب سره په اهتمام د شان کښې. **وقلت فی النفی** او قلیل دے دخول د نون په نفی باندې ځکه چه په دے کښې معنی د طلب نشته او قلیل ور باندې نون داخلیږی د وجے د تشبیه نه په نهی پورې. **ولزمت فی مثبت القسم** او لازم دے داوړل د نون تاکید په جواب د قسم کښې چه مثبت وی ځکه چه قسم محل د تاکید دے. نو پس ښه تو دا خبره خوښه نه کړه چه دوئی مؤکد کړی فعل په دا سے امر سره چه منفصل دے د فعل نه چه هغه قسم دے. بغیر د تاکید نه په دا سے امر سره چه هغه متصل وی په ده پورې چه نون د تاکید دے. او چه لزمت ئے او وئیل په دے کښې اشاره ده دے خبرې ته چه د جواب د قسم مثبت نه علاوه لحوق د نون لازم نه دے. البته جائز دے.

وکثرت فی مثل اما تفعلن یعنی په یو فعل چه حرف شرط ان داخل شو یوی او د هغې تاکید په ما سره راغلے وی نو په دغه صورت کښې د فعل تاکید به په نون سره راځی. ځکه چه هر کله غیر مقصود چه هغه حرف دے د هغې تاکید راغلے دے. نو فعل چه مقصود دے د هغې تاکید خو به په طریق اولیٰ سره راځی. دپاره د دے چه لازم نه شی. انقصیت د مقصود د غیر مقصود نه، لکه په دے قول د باری تعالیٰ کښې فاما ترین من البشر احدًا.

وما قبلها مع ضمیر المذکرین مضموم او ما قبل د نون تاکید ثقیله یا خفیفه سره د ضمیر د مذکر نه مضموم به وی. او هغه ضمیر د مذکر واو دے. دپاره د دے چه دلالت او کړی په واؤ محذوفه باندې **ومع المخاطبة مکسور** او سره د مؤنث نه به مکسور وی دپاره د دے چه دلالت اوکړی په یا محذوفه باندې. دا په دے وجه چه دلته کښې لازمیږی التقاء د ساکنین علی حده او ئیلو وپه

د ثقل د واؤ او د یا نه پس د ضمے او د کسرے نه **وما عداذالك مفتوح** او د دے مذکور نه علاوه به مفتوح وی د پاره د خفت. او ما عدا د مذکور نه صفر واحد مذکر د دے غائب وی که حاضر او مؤنث د غائبه د که مخاطبه او متکلم واحد وی که جمع وی. **سوال** دا دے چه ماعدا المذکور خو تثنیه او جمع هم دی سره د دے نه ماقبل د نون نه مفتوح نه وی بلکه الف دے. **جواب** دا دے چه تثنیه او جمع ماعدا کښې نه دی مراد حکه چه د هغے ذکر مصنف په دے قول سره کوی. **وتقول فی التثنیة والجمع المؤنث اضربان واضربنان** په اثبات د الف سره په تثنیه کښې د پاره د دے چه التباس به نه راشی د واحد سره. او په زیادت د الف سره په جمع کښې پس د نون د جمع نه د پاره د دے چه لازم نه شی توالی د نونانو. او دیته الف فاصل وائی. **ولاتدخلهما الخفیفة** په تثنیه او په جمع مؤنث باندے نون خفیفه نه داخلیږی نو داسے نه شی ویلے کیدے چه اضربانْ او یا اضربنانْ. حکه چه دلته کښې که نون لمحرکت ورکوے نو دا خو دے د وضع خلاف دے حکه چه دا خو نون ساکن دے. او یا لازمیږی التقاء د ساکنینو علی غیر حده. حکه چه ساکن ثانی په دے کښې مدغم نه دے. او چه ساکن ثانی که مدغم وی. نو بیا جائز دے. حکه چه دے کالمتحرک دے.

خلافا لیونس خلاف ثابت دے یونس نحوی لره. د هغه په نز باندے جائز دے التقاء الساکنین علی غیر حده. که په صورت د وقف کښې د هغه په نز باندے امتداد د صوت په وقف کښې په منزله د حرکت دے. نو گویا التقاء د ساکنین رانغله. **وهما فی غیرهما** او نون تاکید ثقیله یا خفیفه په غیر د تثنیے او جمع مؤنث کښې حکه چه د تثنیے او د جمع مؤنث حکم ئے مخکښې بیان کړو. برابره خبره ده چه فعل په هغه کښې صحیح وی. او که معتل. اُس دلته کښې هغه بیانوی چه فعل یکښې معتل الاواخر وی. چه پس د لحوق د نون تاکید نه د هغے څه حکم دے. **مع الضمیر البارز** په حال د کون د دے غیر کښې چه مقارن وی سره د ضمیر بارز نه. چه هغه واؤ د جمع مذکر او یا د مخاطب ده. **کالمنفصل** یعنی کالکلمة المنفصلة داپشان د کلمے منفصلے دے. نو بیا به ضمیر حذف کیږی. لکه اغزُن غزو یا ارمن شو دلته کښې واو حذف شوید ے دلته کښې المنفصل صفت د پاره د لفظ دے لیکن مراد ترې نه کلمة المنفصلة دے **فان لم یکن** که چرته کښې نه وی په دے کښې ضمیر بارز ضمیر مستتر وی. **فکالمتصل** نو بیا نو پشان د کلمے متصلے دے. په ردولام د کلمے کښې. او په فتح د هغے باندے. لکه اغزون ارمین اخشین. **ومن ثم** او د وجه د دے خبرے نه چه لحوق د نون سره د غیر ضمیر بارز نه کالمتصل او سره د ضمیر بارز نه پشان د منفصل. **قیل هل ترَیَنَّ** د ظلے شی هل ترین. دا مثال د الحاق د نون تاکید ثقیله دے. په غیر ضمیر بارز پورے. چه لام کلمه یکښې واپس کړے شوے ده. او مفتوحه ده

ځکه چه نون هر کلمه ملحق شو. په غیر ضمیر بارز پورے نو دے کالکلمة المتصلة دے. نو اُس ما قبل د دے نه متحرک پکار دے. نو هغه محذوف بیا ردکړے شو. او مفتوح اوګرځولے شو. د هغه شان په تثنیه کښې به هم د هغه لام کلمه مفتوح ګرځولے شي. چه کله ورسره الف د تثنیه راغے لکه ترمیان.

وترون په ضمه د واؤ سره ځکه چه دا مده نه دے. حتی چه حذف کړے شي د وجه د التقاء د ساکنینو نه. او نون د جمع چه اعرابي دے حذف کړے شوے دے. دلته کښې اګر که جازم نشته ولے چونکه دا نون د اعراب دے. او نون تاکید تقاضا د بناء کوي دا مثال د الحاق د نون د تاکید دے په ضمیر بارز پورے نو ضمه واؤ له ورکړے شوه. ځکه چه دا نون تقاضا د حرکت د ما قبل کوي چه التقاء د ساکنینو لازم نشي.

وترین مثال د الحاق د نون دے په ضمیر بارز پورے او یا مکسوره ده د وجه د الحاق د نون نه. لکه لم ترى الناس. یا اخشى الله **واغزون** دلته کښې واو واپس راوړے شو. د زوال سکون الآخر فیما یو کالکلمة المتصلة لکه په اغزوا کښې **واغزُن** په حذف د واو سره د وجه د وجود د ضمے نه په ما قبل کښې **واغزِن** په اغزن پورے چه کله الحاق د نون تاکید او شي. نو اغزن وئیلے شي. په کسرے سره او دلته کښې ئے حذف د یا [illegible] د کسرے د ما قبل شوه. سوال دا دے چه معه لره پکار وو چه لحاظ [illegible] مقدم راوړے وو. او بیا بیا ئے مثال [illegible] د ضمیر [illegible] **جواب** دا دے چه د لحاظ د هغه ترتیب [illegible] **والمخففة تحذف** او نون تاکید خفیفه [illegible] **للساکن** [illegible] د وجه د التقاء [illegible] التقاء [illegible] [illegible] **في الوقف** [illegible] **فيرد ما حذف** [illegible] [illegible] **ماقبلها** [illegible] **تقلب الفا** [illegible]

[illegible]

